# تفسیر خیر کثیر

## پښتو ترجمه

# تفسیر ابن کثیر

تصنیف

حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن کثیر الدمشقی

المتوفی ۷۷۴ھ ہجری

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

# تفسیر خیر کثیر

پشتو ترجمه

# تفسیر ابن کثیر

مؤلف: حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن ابن کثیر الدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمین: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، وعبد الکریم صدیقی وقاری امیر نواز

## جلد نمبر ۴

## تسهیلات از شاه فیصل

① د قرآنی آیاتونو ټکی په ټکی او روانه ترجمه

② د احادیثو تخریج

③ د فقهی مسئلو کښې مسلک حنفی وضاحت

④ مناسب عنوانات ورکول

خورونکی

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with Ca

دچهاپ حقوق صرف ناشرسره محفوظ دي

دکتـــاب نـــوم : تفـــسيرخيرکثيرترجمه تفـــسيرابن کثـــير
مؤلف: حافظ عمادالدين اسماعيل بن عمربن ابن کثيرالدمشقي المتوفی ۷۷۴ هجري
خپرونکی : فيصل کتب خانه محله جنگی
موبائيل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د ملاویدو پتې :- د فیصل کتب خانې نه سوا
مکتبه روغانیول جلال آباد
مکتبه رحیمی خوست
نعمت کتب خانه کابل
انتشارات علامه تفتازانی هرات وکابل
صداقت کتب خانه قندهاروکابل
قدرت کتاب فروشی کابل ښار
علمی کتب خانه ګردیز
مکتبه علمیه اکوړه ختك
دینی کتب خانه تیمرګره ره
فلاح کتب خانه جلال اباد
مکتبه فریدیه خوست
دیوبند کتب خانه خوست
جدید رشیدیه کتب خانه کابل
مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
مکتبه نعمانیه غزنی
مکتبه رحمانیه قندهار
امیرحمزه کتب خانه قندهار

Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| ①دعامو كافرانو ارزو | ۲۸ |
| ②د بدر د كافرانو ارزو | ۲۸ |
| ③دمرګ په وخت كښې ارزو | ۲۸ |
| ④د دوزخ په ليدو ارزو | ۲۸ |
| ⑤د ګناهګارانو مسلمانانو د جهنم نه د آزاديدو په وخت د كافرانو ارزو | ۲۹ |
| ⑥ ديوې ذرې برابر ايماندارد جهنم نه د راوتلوپه وخت د كافرانو ارزو | ۲۹ |
| دګناهګاروډپاره د شفاعت اجازت | ۲۹ |
| دكافرانو سركشى ضداو كبر | ۳۰ |
| د ضمير دويمه مرجع | ۳۱ |
| انبياء كرام عليهم السلام پورې دَ ټوقو كولو نتيجه | ۳۲ |
| مجرمان څوک دي؟ | ۳۲ |
| دايمان نه راوړو دپاره مختلفې بهانې كول | ۳۲ |
| دَ آسمانى برجونو نه څه مراد دي ؟ | ۳۳ |
| ددې قول تائيد په يوحديث سره | ۳۳ |
| وړاندې عقلى دليل ذكر دي | ۳۳ |
| هرقسم خزانې الله تعالى سره دي | ۳۴ |
| د باران قطرو سره فرښتې هم راځي | ۳۴ |
| د هواګانو قسمونه | ۳۵ |
| دَ انسان دَ پيدائش ذكر | ۳۷ |
| د پيرى د پيدائش ذكر | ۳۷ |
| دَ فرښتو حضرت آدم ﷺ ته سجده كول اودَ ابليس انكاركول | ۳۷ |
| ابليس دَ الله تعالى دَ دربار نه شړلې شوې دې | ۳۸ |
| دابليس ناپاكه وعده | ۳۹ |
| د يو نبى او ابليس سوال و جواب | ۳۹ |
| په جنت كښې دَ اسلامى رورولئى يوه نظاره | ۴۰ |
| د زړونو خفګانونو به جنت ته تلو نه مخكښې ختم كړې شى | ۴۱ |
| د جنت شان او صفت | ۴۲ |
| حضرت ابراهيم ﷺ ته دَحضرت اسحاق ﷺ زيرې | ۴۳ |
| دَ لوط ﷺ په قوم باندې دَ الله تعالى دَ عذاب نازليدل | ۴۴ |
| دَ فرښتو د هلكانو په شكل كښې راتلل | ۴۴ |
| سفر كښې د كمزورو خيال ساتل | ۴۴ |
| دَ لوط ﷺ دَ قوم غير اخلاقى اوغيرفطرى حالت | ۴۶ |
| دَ قوم لوط دَ تباهئى ذكر | ۴۶ |
| د مخلص مؤمن علامت | ۴۶ |
| دَ قوم شعيب ﷺ انجام | ۴۷ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| د ثمود یانو المناك انجام | ۴۷ |
| په هلاك شوؤ قومونو بآندې په ژړا تیریدل پکار دي | ۴۸ |
| دمشرکانو نه د ستر گو پټولو حکم | ۴۸ |
| داحکم دجهاد دحکم نه مخکښې وو | ۴۸ |
| سبع مثاني نه څه مراد دي | ۴۹ |
| د سبع مثاني متعلق مختلف اقوال | ۵۰ |
| دې کښې بل قول دې چې مراد ترې ټول قرآن پاك دې | ۵۰ |
| د قیامت په ورځ به د انکار کونکونه سوال کولې شي | ۵۱ |
| درسول کریم صلی الله علیه وسلم د هدایت مثال | ۵۲ |
| دینه مراد د قریشو سرداران هم دي او ددوئ مشوره هم | ۵۲ |
| د الله تعالی سوال د بنده نه په قیامت کښې | ۵۲ |
| یوسوال اودهغې جواب | ۵۳ |
| په رسول الله ﷺ د ټوقو کوؤنکو عبرتناك انجام | ۵۴ |
| ددوئ د هلاکت وضاحت | ۵۴ |
| داشراق دمونځ فضیلت | ۵۵ |
| دلته د یقین نه مراد مرګ دې | ۵۵ |
| مونځ د عقل د وجود پورې فرض دې | ۵۵ |
| دګمراهانو سرپرستو نظریه | ۵۵ |
| د قیامت د راتلوتندی مه کوئې | ۵۶ |
| د امرالله مطلب | ۵۶ |
| قیامت ته نزدې د تورې وریځې راتلل | ۵۶ |
| دالله تعالی وحی هم په انبیاءعلیهم السلام باندې کیږي | ۵۷ |
| د انسان خپل پیدائش هیرول او خبرې جوړول | ۵۸ |
| الله ﷻ لره څوك هم عاجز کولې نشي | ۵۸ |
| څاروی د انسان د فائدې د پاره | ۵۹ |
| کشتئ هم د فائدې دپاره دي | ۵۹ |
| اختلاف د اس د حراموالي اوحلال والي مسئله | ۶۰ |
| مسلك حنفي | ۶۱ |
| د دین اودنیا مثالونه | ۶۱ |
| اوبه او میوې د الله تعالی نعمتونه | ۶۲ |
| سپوږمئی نمر اوستوری د الله تعالی د قدرت نښې دي | ۶۴ |
| د سمندرنه د خلقو د پاره فائدې دي | ۶۴ |
| د ټولو مخکښې کشتئ نوح ﷺ جوړه کړې ده او په دې نې سورلی کړې ده | ۶۵ |
| دریاب ته دالله تعالی خطاب | ۶۵ |
| په زمکه د غرونو ایخودلو حکمت | ۶۵ |
| الله تعالی د ټولو خالق او مخلوق بې وسه دې | ۶۵ |

Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| د هريوڅيز خالق الله تعالى دى | ٦٧ |
| صرف هم الله تعالى دَ عبادت لائق دي | ٦٧ |
| دَ قرآن پاك دَ منكرانوتذكره | ٦٧ |
| حق او باطل داعى ته دخپل دعوت اوتابعينو ثواب او گناه ملاويږي | ٦٨ |
| دَ نمرودوغيره انجام | ٦٩ |
| دويم قول ، دي نه مراد بخت نصر دي | ٦٩ |
| دريم قول دا د عام كافرانو مثال دي | ٦٩ |
| قيامت كښي به هر عذاب سره دعذر جهنډا وى | ٦٩ |
| دَ مرگ په وخت كښې دَ ظالمانو كيفيت | ٧١ |
| د كافرانو دپاره خراب مقام | ٧١ |
| دَ نيكانوخلقو بهترين انجام | ٧١ |
| دآخرت كور ددنيا دكور نه ډير زيات بهتر دي | ٧١ |
| مشركان دكوم څيز انتظاركوى | ٧٢ |
| دَ مشركانودَ الله تعالى دَ منشانه غلط استدلال | ٧٤ |
| د كافرانو د استدلال جواب | ٧٤ |
| د نبى په اختيار كښې هدايت نه وى | ٧٤ |
| قيامت قايمول دَ الله تعالى دَ پاره ډير آسان دى | ٧٦ |
| قيامت كښې به هر څه ښكاره شي | ٧٦ |
| الله ﷻ دپاره مړهٔ كول او ژوندى كول يو شان دى | ٧٦ |
| الله ﷻ سره شريك جوړول الله ﷻ ته كنځل كول دى | ٧٦ |
| دَ الله تعالى په لاركښې دَ هجرت كولو فضيلت | ٧٧ |
| دد ايت مبارك د نازليدو سبب | ٧٧ |
| مهاجرينو صفات | ٧٨ |
| دَ رسالت دَ منصب حقدار انسان | ٧٨ |
| داهل ذكر نه څوك مراد دى ؟ | ٧٨ |
| ټول انبياء كرامو په بنى آدم كښې وو | ٧٨ |
| دَ الله تعالى دَ غضب اوغصې بيان | ٨٠ |
| د الله تعالى نه څوك زيات صبار نشته | ٨٠ |
| دَ عرش نه دَ فرش پورې هريوڅيز الله تعالى ته سجده كوى | ٨٢ |
| د هرڅيز سجده دهغه دشان مناسب وى | ٨٢ |
| ټول هرڅه هم الله تعالى وركړى دى | ٨٢ |
| دمكې مشركانو به په سختئ كښې هم الله تعالى ته عاجزى كوله | ٨٢ |
| دَ مشركانو عجيبه دعوى او دَ افسوس قابل رويه | ٨٤ |
| دَ الله تعالى مهربانى ده چه په گناه كولوباندې زر رانيول نه كوى | ٨٥ |
| د عمر زياتول په نيك اولاد سره كيږى | ٨٥ |
| دكافرانو ددروغو دعوى او د هغې جواب | ٨٥ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| د هر یونبی تکذیب شوې | ٨٧ |
| دَ وینې او سوتو د مینځ نه پاك صفا پئی دَ الله تعالی دَ قدرت نښې دی | ٨٧ |
| مسلك حنفی | ٨٧ |
| دَ شاتومچئی دَ قدرت یوه نمونه اوشات دَ شفاقابل دی | ٨٩ |
| د شاتو د شفاء متعلق حدیث | ٨٩ |
| په درې څیزونو کښې شفاء د ه | ٩٠ |
| د دوؤ شفاګانو قدر پکار دې قرآن پاك او شات | ٩٠ |
| دَ بخیلتوب او سخت بوااوالی نه دَ پناه غوښتلوحکم | ٩١ |
| تاسو په خپل حق کښې شریك برداشت کولې نه شئې نو الله تعالی به ولې برداشت کوی | ٩٢ |
| په مالونو په یو بل برتری دالله تعالی دطرفنه آزمیښت وی | ٩٢ |
| دَ الله تعالی یوبل احسان | ٩٣ |
| د حفدة متعلق تفسیرونه | ٩٣ |
| رازق صرف دَ الله تعالی ذات دې | ٩٤ |
| دَ کافر اومومن مثال | ٩٤ |
| دَ بتانومتعلق دَ یومثال ذکر | ٩٥ |
| دَ الله تعالی دَ علم او قدرت کمال | ٩٦ |
| په عبادت سره انسان الله تعالی ته نزدې کیدې شی | ٩٦ |
| غورېسترګې دماغ دالله تعالی نعمت دې ددې شکر پکار دې | ٩٦ |
| دَ راحت او آرام والانعمتونه | ٩٨ |
| د یو اعرابی واقعه | ٩٩ |
| د قیامت په ورځ د کافرانو حالت | ١٠٠ |
| په قیامت کښې ګواهان هم وی | ١٠٢ |
| دَ عدل احسان صله رحمې اوفحشااومنکر مطلب | ١٠٣ |
| دظلم سزا ډیره زر ملاویږی | ١٠٤ |
| داکثم صیفی واقعه | ١٠٤ |
| د عثمان بن مظعون واقعه | ١٠٤ |
| دَ قسمونو عهدوپیمان دَحفاظت حکم | ١٠٧ |
| ددې آیت مبارك په مطلب کښې مختلف توجیهات او اصل مطلب | ١٠٧ |
| دمکې د بوډئی قصه او دهغې سره تمثیل | ١٠٧ |
| هدایت اوګمراهی دَ الله ﷻ په اختیار کښې | ١٠٩ |
| قسمونه وعدې د دهوکې ذریعه نه دی جوړول پکار | ١٠٩ |
| دَ نیکو اعمالو به بهتر بدله ملاویږی | ١١٠ |
| دَ قرآن پاك دَ تلاوت په شروع کښې دَ شیطان دَ شرنه دَ الله تعالی پناه غوښتلو حکمت | ١١١ |
| مسلك حنفی | ١١١ |
| دَ منسوخ کیدوحکمت مشرکان نه پیژنی | ١١٢ |
| دکافرانو یوبهتان اودَ هغې رد | ١١٢ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| د يو نصراني غلام سره درسول كريم صلى الله عليه وسلم د كيناستو واقعه | ۱۱۳ |
| دَ آقائي نامدار سرور كونين دَ صداقت بيان او د مشركانو ضد | ۱۱۴ |
| مجبوراً دَ كفر ارتكاب ناقص ايمان نه دي | ۱۱۵ |
| حالت د جبر كښې كلمه د كفر وئيل بالاجماع جائز دی | ۱۱۵ |
| دَ هجرت او جهادبدله ښښنه ده | ۱۱۸ |
| دَ نعمتونو دَ ناشكرئی نتيجه | ۱۱۸ |
| د بی بی حفصې ارشاد | ۱۱۹ |
| دَ بعضو حرام كړې شوو څيزونو ذكر | ۱۲۰ |
| په دين كښې د خانه حلال وحرام جوړول په الله تعالى دروغ جوړول دی | ۱۲۱ |
| په يهوديانوباندې دَ بعضوحرام كړې شوو څيزونوذكر | ۱۲۲ |
| ابراهيم ﷺ دَ رشد اوهدايت امام وو | ۱۲۳ |
| دَ هرامت دَ پاره دَ هفتې دَبعضو ورځود حرمت بيان | ۱۲۴ |
| په دين موسوی كښې دَ هفتې د ورځې تعظيم وو د اتوار روستو راغلې دي | ۱۲۴ |
| د مسلمانانو دتعظيم دروغ جمعه ده | ۱۲۵ |
| دَ نصيحت او حكمت نه مراد | ۱۲۶ |
| دَ قصاص حاصلولواوصبربيان | ۱۲۶ |
| ددې آيتونو مباركو شان نزول | ۱۲۶ |
| دكافرانو په مصيبتونو ډير غم ندی پكار | ۱۲۷ |
| د سورت بنی اسرائيل فضيلت | ۱۲۹ |
| د معراج د آيت تفسير | ۱۲۹ |
| دمعراج متعلق احاديث | ۱۲۹ |
| آياحضور ﷺ د معراج په شپه الله ﷻ اوكتلو؟ | ۱۳۱ |
| د معراج واقعه اود امام احمد | ۱۳۱ |
| څنګه چې اسرا حق دي دغه شان معراج هم دي | ۱۳۲ |
| د معراج واقعه اود ابوداوُد نقل كړې شوې روايت | ۱۳۲ |
| د ابن جرير روايت | ۱۳۳ |
| د يوبل روايت ذكر | ۱۳۳ |
| د ابن ابی حاتم روايت | ۱۳۴ |
| ابو بكر صديق ﷺ ته دصديق ولې وئيلې كيږی؟ | ۱۳۵ |
| د معراج متعلق بل روايت | ۱۳۵ |
| د يوبل روايت ذكر | ۱۳۶ |
| مشركانود معراج د واقعه تصديق اونه كړو | ۱۳۶ |
| د امام احمد | ۱۳۷ |
| د دلائل النبوت اوادړ روايت | ۱۳۷ |
| د امام ترمذی | ۱۴۰ |
| د يوبل روايت ذكر | ۱۴۲ |

Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| يوبل روايت | ١۴٣ |
| د جزء حسن بن عرفه | ١۴٣ |
| د امام احمد يوبل روايت | ١۴۴ |
| د يواوږد روايت ذکر | ١۴۵ |
| معراج د کوم ځائې نه شروع شوې وو دهغې متعلق روايت د بيهقى روايت | ١۵٠ |
| د ټولو احاديثو نچوړ او خلاصه | ١۵١ |
| د ښيواو شاتو وضاحت | ١۵٢ |
| د حضور ﷺ معراج بدنى وو که روحانى؟ | ١۵٢ |
| د ابونعيم په روايت کښې يوه فائده | ١۵٣ |
| الفضل ما شهرت به الاعداء | ١۵۴ |
| د معراج حديث متواتر دې | ١۵۴ |
| د معراج دواقعه نه پس د موسى ﷺ ذکر | ١۵٦ |
| د بنى اسرائيلو دوه ځل سرکشى | ١۵٧ |
| اوله سرکشى اود هغې انجام | ١۵٧ |
| بيت المقدس باندې قبضه | ١۵٧ |
| دويمه سرکشى او دهغې انجام | ١۵٨ |
| ترغيب الى القران او بشارت | ١۵٩ |
| د انسان د بې صبرئى بيان | ١۵٩ |
| د سپوږمئى باره کښې يوسوال | ١٦٠ |
| هريوبه خپله عمل نامه اووينى | ١٦١ |
| د لفظ طائر معنى | ١٦٢ |
| په حکم مثلوکښې د انسان هم خپله فائده ده | ١٦٢ |
| د کافرانو دماشومانو او د ليونو او کنړو وغيره حکم | ١٦۴ |
| دويم حديث | ١٦۴ |
| دريم حديث | ١٦۴ |
| څلورم حديث | ١٦۴ |
| پنځم حديث | ١٦۵ |
| شپږم حديث | ١٦۵ |
| اووم حديث | ١٦۵ |
| اتم حديث | ١٦٦ |
| دمشرکانود بچوانجام به څه وى؟:- | ١٦٦ |
| نهم حديث | ١٦٦ |
| لسم حديث | ١٦٦ |
| ابن عبدالبراح وائى چې امتحان والاحديث قوى نه دې | ١٦٦ |
| د علامه ابن ابى کثير رحمة الله عليه رائې او د ابن عبدالبر د اولې خبرې جواب | ١٦٧ |
| د ابن عبدالبر د دويمې خبرې جواب | ١٦٧ |

Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| په ذکرشوي مسئله کښې دحافظ ابن کثیر | ۱۲۸ |
| اول قول | ۱۲۸ |
| دویم قول | ۱۲۸ |
| دریم قول | ۱۲۹ |
| د مومنانو مړه شوي بچي به چرته وي؟ | ۱۲۹ |
| د دنیااو داخرت د طالب انجام | ۱۷۲ |
| په آخرت کښې به دخلقو مختلفې درجې وي | ۱۷۲ |
| الله ﷻ وحده لاشریك دې | ۱۷۳ |
| د مورپلارمقام اوهغوی سره د حسن سلوك حکم | ۱۷۳ |
| د مور پلار او یتیم پالونکی به جنتي وي | ۱۷۴ |
| د مور حق | ۱۷۵ |
| توبه کونکود پاره د | ۱۷۵ |
| د صله رحمئ حکم | ۱۷۶ |
| د اسراف او فضول خرچئ نه د بچ کیدلو حکم | ۱۷۷ |
| په خرچ کولوکښې درمیانه لار اختیارکړئ | ۱۷۸ |
| د بخیل او د سخي مثال | ۱۷۸ |
| په خرچ نه کولو وعیدونه | ۱۷۸ |
| د طمع نه بچ شئ | ۱۷۹ |
| غریبي اومالداري د الله ﷻ په لاس کښې ده | ۱۷۹ |
| اې خلقو ستاسو اوستاسو د اولاد رازق | ۱۸۰ |
| د زنا اراده کوؤنکي ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ښکلې نصیحت | ۱۸۰ |
| زناکبیره ګناه ده | ۱۸۰ |
| ناحق قتل حرام دي | ۱۸۱ |
| د حضرت عثمان ﷺ د قاتلانو معامله | ۱۸۱ |
| د یتیم مال مه خورئ | ۱۸۲ |
| په ناپ تول کښې کمې مه کوه | ۱۸۳ |
| بغیردعلم نه ګواهي مه ورکوئ | ۱۸۳ |
| په چا بدګماني کول نه دي پکار | ۱۸۴ |
| تکبرسره تګ کول منع دي | ۱۸۴ |
| د عاجزئ فضیلت | ۱۸۴ |
| د وحي دلیل | ۱۸۵ |
| د الله ﷻ هیڅ اولاد نشته | ۱۸۶ |
| د حق دلائل واضحه دي | ۱۸۶ |
| هریوڅیز د الله | ۱۸۷ |
| د نوح علیه السلام وصیت اود کلمې شان اود تسبیح اهمیت | ۱۸۸ |
| کټ کیدلو اوچیدلو نه مخکښې شنه بوټي تسبیح وائي | ۱۸۸ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| په زړونو باندې د پردې مفهوم | ١٩٠ |
| د قريشو سردارانو به د رسول الله ﷺ قرآن په پټه اوريدلو | ١٩١ |
| د مرګ نه پس راژوندي کيدلو نه د دوئ انکار او د هغې جواب | ١٩٢ |
| کلمه ويونکي باندې به قبر کښې ويره نه وي | ١٩٣ |
| خبرې اترې په طريقه کول پکاردي | ١٩۴ |
| د درجو فرق | ١٩۵ |
| اولوالعزم پيغمبرانو ذکر | ١٩۵ |
| کوم چه خلق معبودان ګڼړي هغوي پخپله د الله ﷻ عبادت کوي | ١٩٦ |
| د وسيلې معنی قرب او نزديکت دې | ١٩٦ |
| د منکرانو آخرې انجام تباهي ده | ١٩٧ |
| د نښو کتلو نه پس ايمان نه راوړل د عذاب وجه ده | ١٩٧ |
| نښې نښانې دخلقو د ويرولو دپاره وي | ١٩٨ |
| د معراج ټولې نظارې حضور ﷺ په خپلو سترګو اوليدلې | ١٩٩ |
| د ابليس د دښمنئ تذکره او د هغه خبره نه منل | ٢٠١ |
| شيطان ته مهلت ورکړې شو | ٢٠١ |
| په مال اولاد کښې د شرکت مفهوم | ٢٠٢ |
| کشتئ د تجارت ذريعه ده | ٢٠٣ |
| په سمندرونو کښې هم کارساز الله ﷻ دې | ٢٠٣ |
| دعکرمه بن ابو جهل د ايمان واقعه | ٢٠۴ |
| په سمندر کښې غرق کونکې په اوچه کښې هم ورخښولې شي | ٢٠۴ |
| په ټولو مخلوقاتو باندې د انسان فضيلت | ٢٠۵ |
| انسان د فرښتو نه هم غوره دې | ٢٠۵ |
| د قيامت په ورځ د امام نه څه مراد دې ؟ | ٢٠٦ |
| د محدثينو فضيلت | ٢٠٦ |
| کافران به د قيامت په ورځ رانده وي | ٢٠٧ |
| هم الله ﷻ پيغمبر ﷺ په دين باندې قايم ساتي | ٢٠٨ |
| کله چه يهوديانو نبی کريم ﷺ ته د شام د تلو مشوره ورکړه | ٢٠٩ |
| په قرآن کښې د پنځو وارو مونځونو ذکر | ٢١٠ |
| پيغمبر ﷺ ته د تهجد د مونځ حکم | ٢١١ |
| مقام محمود او د حضور اکرم ﷺ فضيلت | ٢١١ |
| د شفاعت بيان | ٢١٢ |
| دمقام محمود متعلق نور احاديث | ٢١٢ |
| شفاعت او د حديث او مقام محمود | ٢١٣ |
| بل حديث | ٢١۵ |
| د شفاعت متعلق بل اورد حديث مبارک | ٢١٦ |
| حضور ﷺ ته د هجرت حکم | ٢١٨ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| غلبه د دین په حکم سره ممکن ده | ۲۱۸ |
| حق قایم پاتې کیدونکې او باطل ختمدونکې دې | ۲۱۸ |
| قرآن د مؤمنانود پاره شفاده | ۲۱۹ |
| د انسان خودغرضي | ۲۲۰ |
| کله چه د حضور ﷺ نه د روح باره کښې تپوس اوشو | ۲۲۱ |
| د روح متعلق اقوال | ۲۲۲ |
| د روح حقیقت صرف | ۲۲۲ |
| روح کښې د علماء کرامو اختلاف دې | ۲۲۳ |
| قرآن پاك يقينًا معجزه او د الله | ۲۲۴ |
| دمشرکانو عجيبه غوښتنې او درسول کريم ﷺ جوابونه | ۲۲۵ |
| د مشرکانو داټولې پوښتنې په بغض او عناد منبی وې | ۲۲۷ |
| اکثروخلقو دپيغمبر د بشرکیدو په وجه ايمان راونړلو | ۲۲۹ |
| د پيغمبر بشريت په انسانيت باندې د | ۲۲۹ |
| د پيغمبرانو عليهم السلام دټولونه لوئ ګواه هم | ۲۳۰ |
| هدايت کول او ګمراه کول د الله ﷻ اختيار کښې دی | ۲۳۱ |
| قيامت کښې به خلق درې قسمه وی | ۲۳۲ |
| کافران د بيارا ژوندی کيدو قائل نه وو | ۲۳۲ |
| د حضرت موسى ﷺ نهه معجزې | ۲۳۴ |
| د يهوديانو د ضد اود دروغ وئيلو واقعه اود تسع ايات نه مراد | ۲۳۵ |
| قرآن حق دې | ۲۳۷ |
| د قرآن پاك آوريدو سره د مؤمنانوکيفيت څه وی؟ | ۲۳۷ |
| د الله ﷻ د اسماء حسنى په واسطه سره دعاکوئی | ۲۳۸ |
| د ابوبکرصديق ﷺ اود عمرفاروق ﷺ د قراءت باره کښې د رسول کريم ﷺ هدايت | ۲۳۹ |
| دا آيت د مانځه باره کښې دې اوکه دعاء باره کښې؟ | ۲۳۹ |
| هرمسلمان ته دا آيت زده کول پکاردی | ۲۴۰ |
| د دې سورت دفضيلت بيان خاص کر د اول لسو آياتونو د فضيلت بيان | ۲۴۰ |
| د سورت کهف د فضيلت بيان | ۲۴۱ |
| د سورت کهف شان نزول | ۲۴۳ |
| نبی کريم ﷺ ته تسلی | ۲۴۴ |
| د دنيادا زينتونه ختميدونکی دی | ۲۴۴ |
| د اصحاب کهف پيژندګلو اوقصه | ۲۴۵ |
| د رقيم حقيقت څه شئ دې | ۲۴۶ |
| د اصحاب کهف تفصيلی واقعه | ۲۴۷ |
| د اصحاب کهف زمانه | ۲۴۸ |
| ددې ځوانانو د اايمان واقعه | ۲۴۸ |
| د اصحاب کهف په پشان زمونږ دنبی ﷺ واقعه هم ده | ۲۴۹ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| څه د غار متعلق | ۲۵۰ |
| ددوئ دخوب کیفیت | ۲۵۲ |
| د اصحاب کهف سپې | ۲۵۲ |
| يو څو بې دليله خبرې | ۲۵۲ |
| درې سوا کاله نه پس چه د اصحاب کهف رابيدارشونو؟ | ۲۵۳ |
| د اصحاب کهف واقعه د مرګ نه پس د ژوندی کيدو ښکاره دليل دې | ۲۵۵ |
| کوم سړې چه د خوراك څيزونه راوړوله لاړو هغه څه اوليدل؟ | ۲۵۵ |
| قبرپوخ مه جوړوئی | ۲۵۶ |
| د اصحاب کهف شميراودهغوئ نومونه | ۲۵۷ |
| د هرکارنه وړاندې ان شاء الله وئيل پکاردی | ۲۵۸ |
| په څه کاردقسم اخستو نه پس هم انشاء الله وئيل پکار دی | ۲۵۸ |
| د اصحاب کهف د حصاربدو موده | ۲۵۹ |
| د کمزوروصحابه کرامو | ۲۶۱ |
| د الله ﷻ د ذکر فضيلت | ۲۶۱ |
| د دوزخ خطرناك کيدو ذکر | ۲۶۳ |
| مهل څه ته وائی ؟ | ۲۶۳ |
| د حکم منونکودپاره د جنت نعمتونه | ۲۶۴ |
| د دوباغونوالادسړې واقعه | ۲۶۶ |
| د غريب مالدار ته جواب او نصيحت | ۲۶۷ |
| خپل مال او اولاد خوښ کيدو سره ماشاء الله وئيل پکار دی | ۲۶۸ |
| دکافرانو د باغونو انجام | ۲۶۹ |
| د دنياد زوال مثال | ۲۷۰ |
| د مونځونو فضيلت | ۲۷۱ |
| باقيات صالحات څه څيزدې ؟ | ۲۷۱ |
| د قيامت د تباهواو حساب کتاب ذکر | ۲۷۴ |
| د ګناهونو راجمع کيدلو يو مثال | ۲۷۵ |
| د بد عهدئی سزا | ۲۷۵ |
| قيامت کښې به هريو ته پوراپورا انصاف ملاويږی | ۲۷۵ |
| شيطان د انسان دښمن دې | ۲۷۷ |
| هر څيز خپل اصل ته ګرځی | ۲۷۷ |
| شيطان اول کښې څه وو؟ | ۲۷۷ |
| د محدثينو اصحاب الجرح والتعديل په امت باندې عظيم احسان | ۲۷۸ |
| د قيامت په ورځ به مجرمان چرته تختيدې نه شی | ۲۷۹ |
| خلق دعذاب کتلوغوښتنه کوی اودحق نه انکارکوی | ۲۸۱ |
| لوئ ظالم څوك دې ؟ | ۲۸۲ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| دحضرت موسى ﷺ اوحضرت خضر ﷺ واقعه | ۲۸۴ |
| حقب څومره زمانه ده؟ | ۲۸۴ |
| د بخاري شريف روايت | ۲۸۵ |
| دصحيح بخاري بل روايت | ۲۸۷ |
| بل روايت | ۲۸۷ |
| بل روايت | ۲۸۸ |
| دحضرت موسى ﷺ اوحضرت خضر ﷺ خبرې اترې | ۲۸۹ |
| حضرت خضر ﷺ كشتئى ماته كړه | ۲۹۱ |
| حضرت خضر ﷺ يوماشوم قتل كړو | ۲۹۱ |
| د حضرت موسى ﷺ معذرت | ۲۹۲ |
| دحضرت خضر ﷺ ديوال جوړول | ۲۹۳ |
| كشتئى د يتيمانو ماشومانووه | ۲۹۴ |
| د ماشوم د قتل وجه | ۲۹۴ |
| هر انسان رضا بالقضا پكار ده:- | ۲۹۴ |
| ديوال د دوو ماشومانو يتيمانوو | ۲۹۵ |
| دې آيت كښې خاص الله ﷻ ته د نسبت وجه | ۲۹۶ |
| خضر ﷺ نبي وو كه وو ؟ اووده نوم | ۲۹۶ |
| د خضر ﷺ دحيات متعلق احاديث صحيح نه دي | ۲۹۷ |
| د خضر د نوم وجه | ۲۹۷ |
| د حضرت ذوالقرنين واقعه | ۲۹۸ |
| ذوالقرنين څوك دې ؟ | ۲۹۸ |
| د ذوالقرنين د تسميه وجه | ۲۹۸ |
| د اسرائيلي رواياتو خرابي | ۲۹۹ |
| ذوالقرنين دنمر دډوبيدو ځائې ته اورسيدلو | ۳۰۰ |
| نمر كوم ځائې ډوبيږي | ۳۰۰ |
| ذوالقرنين د نمر دراختلوځائ ته اورسيدلو | ۳۰۲ |
| نمر چرته نه راخيژي؟ | ۳۰۲ |
| ذوالقرنين دوو ديوالونوله اورسيدو | ۳۰۴ |
| ياجوج ماجوج هم انسانان دي | ۳۰۴ |
| د ذوالقرنين دسفر واقعات | ۳۰۴ |
| ذوالقرنين د ويلې كړې اوسپنې ديوال جوړكړو | ۳۰۵ |
| دا ديوال چا ليدلې دې | ۳۰۵ |
| ياجوج ماجوج او ديوال | ۳۰۶ |
| قيامت سره نيزدې به داديوال دړې وړې شي | ۳۰۷ |
| كله چه شپيلئى پوك وهلې شي | ۳۰۷ |
| كافرانوته به اول دوزخ خودلې شي | ۳۰۹ |

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| د اعمالو په لحاظ سره د ډير تاوان والاڅوك دي؟ | ۳۱۰ |
| کافران او مشرکان به سره د اعمالو جهنم ته ځي | ۳۱۰ |
| دنيکانو خلقو ميلمستيا | ۳۱۲ |
| د اووه سمندرونو سياهي هم د رب تعريف نه شي ليکلې | ۳۱۲ |
| ټول پيغمبران | ۳۱۳ |
| هر عبادت کښې يو ذره رياکارئي نه ځان ساتل ضروري دي | ۳۱۳ |
| عمل کښې ريا کاري پټ شرك دې | ۳۱۴ |
| ريا چې څومره پورې عبادت کښې مشغول د | ۳۱۵ |
| د سورت تعارف | ۳۱۶ |
| د حضرت زکريا عليه السلام ذکر | ۳۱۶ |
| د انبياء کرامو سره دنبوت فکر وي د مال او دولت وغيره نه وي | ۳۱۷ |
| د زکريا عليه السلام ددعا د قبوليت ذکر | ۳۱۸ |
| د ځوئ په زيري د حضرت زکريا عليه السلام حيرانيدل | ۳۱۹ |
| د حضرت زکريا عليه السلام نښه غوښتل | ۳۲۰ |
| د حضرت يحيى عليه السلام خوبيانې | ۳۲۱ |
| د ويرې درې واقعات | ۳۲۱ |
| د حضرت مريم ام عيسى عليهما السلام ذکر | ۳۲۳ |
| دحضرت جبرائيل عليه السلام په انسانی شکل کښې راتلل | ۳۲۴ |
| دانسان دپيدائش څلور طريقې | ۳۲۴ |
| حضرت بی بی مريم د کهجورې د ونې خواله لاړه | ۳۲۵ |
| عيسى عليه السلام څومره موده د مور په خيټه کښې وو | ۳۲۶ |
| د بی بی مريم سره د مسجد دخادم مکالمه اودهغې جوابونه | ۳۲۷ |
| دخلقو د تهمتونو په وجه بی بی مريم چرته لرې لاړه | ۳۲۷ |
| حياناکه او پاکدامنه ښځه په تهمتونو مرګ ته ترجيح ورکوی | ۳۲۷ |
| د حضرت مريم عليها السلام د پاره د | ۳۲۸ |
| دا ونه بالکل خالي وه په څنډلو سره ميوې راتلې | ۳۲۸ |
| زمونږ په شريعت کښې د خبرو نه روژه نشته | ۳۲۹ |
| مريم عليها السلام حضرت عيسى عليه السلام راوړی راځی | ۳۳۰ |
| د اخت هارون څه مطلب دې؟ | ۳۳۰ |
| د هارون خور ئی ورته ولې اووئيل | ۳۳۰ |
| حضرت عيسى عليه السلام د مور په غيږ کښې خبرې کولوسره ګواهي ورکړه | ۳۳۲ |
| د عيسى عليه السلام ماشوموالی کښې د توحيد اود خپلې مور د براءت بيان | ۳۳۲ |
| دحضرت عيسى عليه السلام اصل واقعه | ۳۳۳ |
| د عيسى عليه السلام پحقله د کافرانو ګډوډې خبرې او مؤمنانو رښتيا وينا | ۳۳۴ |
| د رفع عيسى نه پس د بنی اسرائيلو غونډه او ګنده رائې | ۳۳۴ |
| د مسلمانانو رائې | ۳۳۴ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| عیسایانو د عیسی ﷺ دین بدل کړو | ۳۳۵ |
| الله ﷻ اول ظالم ته مهلت ورکوي بیا ئې رانیسي | ۳۳۵ |
| ظالمان به د قیامت په ورځ هرڅه اوویني | ۳۳۶ |
| د زمکې اصل وارث الله ﷻ دې | ۳۳۷ |
| د ابرهیم ﷺ دپلارسره خبرې اترې | ۳۳۸ |
| دپلار یوبې وقوفانه جواب | ۳۴۰ |
| مومن له پکار دی چې جاهلانو سره ډیر زیات نه انخلي | ۳۴۰ |
| ابراهیم ﷺ ته حضرت اسحاق ﷺ اوحضرت یعقوب ﷺ ورکړې شو | ۳۴۱ |
| د موسی ﷺ ذکر | ۳۴۲ |
| حضرت اسماعیل ﷺ د وعدې کلك وو | ۳۴۳ |
| زمونږ رسول هم د وعدې پابند وو | ۳۴۳ |
| هر مسلمان ته دخپل بال بچ د مانځه فکر کول پکار دی | ۳۴۴ |
| د حضرت ادریس ﷺ د اوچتې مرتبې ذکر | ۳۴۵ |
| د ادریس ﷺ متعلق کمزورې واقعه | ۳۴۵ |
| په انبیاء کرامو علیهم السلام باندې د الله ﷻ د فضل تذکره او دهغوئ نسب نامه | ۳۴۶ |
| د صاد دپه سجده باندې د علماء کرامو اتفاق دې | ۳۴۷ |
| نااهل جانشین | ۳۴۸ |
| د مونځ پریخودونکی حکم | ۳۴۸ |
| مسلک حنفی | ۳۴۸ |
| دا نااهل خلق به کله وي،اود قاریانو درې قسمونه | ۳۴۹ |
| د غیا معنی اومطلب | ۳۴۹ |
| مؤمنان به د جنت وارثان وي | ۳۵۱ |
| جنت کښې شپه ورځ نشته او نه حسد او کینه | ۳۵۱ |
| فرښتې | ۳۵۲ |
| یو حدیث قدسي | ۳۵۴ |
| هریو به په دوزخ باندې تیریږي | ۳۵۵ |
| د پل صراط ذکر او په هغې تیریدل | ۳۵۶ |
| دجهنم د هولناکۍ بیان | ۳۵۷ |
| کافران به مؤمنانو پورې خنداګانې کوي | ۳۵۹ |
| د کافرانو دخندګانو جواب | ۳۵۹ |
| ګمراهي اوهدایت موندونکی خلق | ۳۶۰ |
| د عاص بن وائل سرکشي | ۳۶۱ |
| د قیامت په ورځ باطل معبودان به د عبادت کونکو نه د بې تعلقۍ څرګندونه کوي | ۳۶۳ |
| پرهیزګاران به د الله ﷻ میلمانه وي | ۳۶۴ |
| د جنت د نعمتونو بیان | ۳۶۴ |
| د جهنم په حالت باندې تذکره | ۳۶۵ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| د الله ﷻ په ذات باندې بهتان | ٣٦٦ |
| اول زمکې صرف میوې او ګلونه راتوکول | ٣٦٧ |
| موحدینوته به د الله ﷻ محبت ملاویږی | ٣٦٨ |
| دیو عابد قصه | ٣٦٩ |
| قران کریم په آسانه ژبه راغلې دې | ٣٦٩ |
| د سورت تعارف | ٣٧٠ |
| د الله ﷻ صفات عالیه او د طهٰ مطلب | ٣٧١ |
| قیامت کښې علماء کرامو ته د الله تعالی خطاب | ٣٧١ |
| دزمکې لاندې څه دی؟ | ٣٧٢ |
| د حضرت موسی عليه السلام واقعه | ٣٧٤ |
| حضرت موسی عليه السلام ته پیغمبری ملاوشوه | ٣٧٤ |
| د حضرت موسی عليه السلام د همساذکر | ٣٧٦ |
| د موسی علیه السلام د هما باره کښې اسرائیلی خبرې | ٣٧٦ |
| د حضرت موسی عليه السلام معجزې | ٣٧٨ |
| موسی علیه السلام ته د | ٣٧٨ |
| سوانح موسی علیه السلام او فرعون ته ورتګ | ٣٧٩ |
| انبیاء علیهم السلام صرف د خپل حاجت مطابق | ٣٨٠ |
| د موسی علیه السلام دعاګانې | ٣٨٠ |
| کوم رور د خپل رور پحقله دټولو نه ښکلې دعا کړې ده ؟ | ٣٨٠ |
| دحضرت موسی عليه السلام تفصیلی حالات | ٣٨٢ |
| موسی علیه السلام د فرعو په په کور کښې بیا دمور په غیږ کښې | ٣٨٢ |
| د هارون علیه السلام پیدائش په هغه کال وو چې ماشومان نه قتلیدل | ٣٨٣ |
| دویمه فتنه | ٣٨٣ |
| دریمه فتنه | ٣٨٤ |
| څلورمه فتنه | ٣٨٤ |
| پنځمه فتنه | ٣٨٥ |
| شپږمه فتنه | ٣٨٦ |
| حضرت موسی عليه السلام په مدین کښې | ٣٩٢ |
| تبلیغ په نرمه لهجه سره کوئی | ٣٩٣ |
| دموسی علیه السلام د فرعون دربار کښې دبهارنې بیان | ٣٩٥ |
| د مسیلمه کذاب درغون خط درسول کریم صلی الله علیه وسلم په نوم او دهغې جواب | ٣٩٥ |
| ټول صورتونه هم | ٣٩٧ |
| د هریوځیز علم | ٣٩٧ |
| ټول نعمتونه هم الله ﷻ ورکوی | ٣٩٧ |
| فرعون معجزوته جادو اووئیل | ٣٩٩ |
| فرعون جادوګرا وغوښتل اود مقابله کولو کوشش ئی اوکړو | ٤٠٠ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| جادوګرو ته میدان کښې د موسی علیه السلام نصیحت | ۴۰۰ |
| د جادوګرو مینځ کښې اول اختلاف بیا اتفاق | ۴۰۰ |
| دجادوګرو موسی ﷺ ته اختیار ورکول او دموسی ﷺ جواب | ۴۰۲ |
| په جادوګروباندې د موسی علیه السلام اوچتوالی | ۴۰۲ |
| جادوګروته د فرعون خطاب اود هغوئ جواب | ۴۰۳ |
| د جادوګرو د جادو تعلیم هم د فرعون په حکم وو | ۴۰۴ |
| په دوزخ کښې به مرګ نه راځی | ۴۰۵ |
| د نیك عمل کونکی د پاره جنت | ۴۰۶ |
| دحضرت موسی ﷺ قوم اخستل اود شپې وتل | ۴۰۷ |
| دالله ﷻ د انعاماتو ذکر او ورسره خبرداري | ۴۰۸ |
| د موسی ﷺ د قوم ازمیښت | ۴۱۱ |
| دسر زرو و سپینو زرو د سیزلو حکم هم هارون ﷺ کړې وو | ۴۱۱ |
| د باران نه بچ کیدو پرنالې ته اودریدو | ۴۱۲ |
| د باطل معبودعبادت کول فتنه ده | ۴۱۳ |
| د حضرت موسی ﷺ د حضرت هارون ﷺ نه خفګان | ۴۱۳ |
| د هارون ﷺ حقیقت اظهار | ۴۱۳ |
| سامری سره د موسیٰ ﷺ خبرې اوبد دعا | ۴۱۴ |
| د قیامت په ورځ به خپل خپل بوج اوچتول وی | ۴۱۶ |
| کله چه شپیلئی پوك وهلې شی | ۴۱۷ |
| غرونه به ذره ذره شی | ۴۱۸ |
| د قیامت په ورځ د شفاعت بیان | ۴۱۹ |
| انسان د خطا او نسیان جوته دې | ۴۲۳ |
| آخر کار دواړه دهوکه شو او ونه ئې اوخوړله:- | ۴۲۳ |
| د آدم ﷺ او موسی ﷺمینځ کښې مکالمه | ۴۲۴ |
| حضرت آدم ﷺ اوحضرت بی بی حوا د جنت نه اوویستلې شول | ۴۲۵ |
| د قرآن پاك د مخ اړونکی بد حالت | ۴۲۵ |
| د آخرت عذابونه اَیر سخت دی | ۴۲۷ |
| د ړومبنوقومونود تباهئی ذکر | ۴۲۸ |
| د سحرماښام ذکر اودعا | ۴۲۸ |
| ددنیالالچ مه کوه | ۴۲۹ |
| د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ددنیا نه د بې رغبتئ انتها | ۴۳۰ |
| د کوروالاته د مانځه تاکیدکول | ۴۳۰ |
| کافران د پیغمبر ﷺ نه نښې غواړی | ۴۳۲ |
| د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ابدی او لویه معجزه | ۴۳۲ |
| د سورت تعارف | ۴۳۳ |
| قیامت نیزدې راغلې دې | ۴۳۴ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| دكافرانو د رسول كريم ﷺ په حقله مختلف بكواسونه | ۴۳۵ |
| دمنافق ابي بن سلول معجزه طلب كول | ۴۳۶ |
| ټول پيغمبران | ۴۳۷ |
| قرآن پاك نصيحت دي | ۴۳۹ |
| د آسمان تخليق د الله ﷻ عجيبه قدرت دي | ۴۴۰ |
| د فرښتو هر وخت تسبيح وئيل | ۴۴۱ |
| د الله ﷻ نه بغيربل معبودنشته | ۴۴۲ |
| د باطلومعبودانو حقيقت | ۴۴۳ |
| د مكې دكافرانو بهتانونه ترل او د هغې جواب | ۴۴۴ |
| اول شپه وه كه ورځ | ۴۴۶ |
| د زمكې درې حصې اوبو كښې دى او يوه حصه ښكاره ده | ۴۴۷ |
| د بنى اسرائيلو د يو عابد واقعه | ۴۴۸ |
| مرګ اټل حقيقت دي | ۴۴۸ |
| مرګ ژوند ،تنګى ،فراخى ټول امتحان دى | ۴۴۹ |
| د كافرانو ټوقې مسخرې كول | ۴۴۹ |
| موحدانو ته تسلى او زغم كول | ۴۵۰ |
| د كافرانو د قيامت غوښتنه او هغوئ ته رټنه | ۴۵۱ |
| مخكينوخلقوهم رسولانوپورې ټوقې كولې | ۴۵۱ |
| د كافرانو او الله ﷻ بعضې نښې | ۴۵۳ |
| د لااله الاالله د ذكر فضائل | ۴۵۳ |
| د تورات فضيلت | ۴۵۵ |
| ابراهيم ﷺ د وروكوالې نه په هدايت وو | ۴۵۶ |
| د ابراهيم ﷺ په وړوك والى كښې دغارقصه اسرائيلى ده | ۴۵۷ |
| ابراهيم ﷺ بتان مات كړل | ۴۵۸ |
| د قوم مشوره او دابراهيم عليه السلام ډلې ته راغوښتل | ۴۵۹ |
| څوك چه د نفع نقصان مالك نه وى هغه معبودنه دې | ۴۶۱ |
| حضرت ابراهيم ﷺ اوور ته غورځول | ۴۶۱ |
| د غورزولو په وخت كښې د ابراهيم عليه السلام دعاګانې اوحالت | ۴۶۲ |
| په ابراهيم عليه السلام باندې هغه اوور يخ كړې شو | ۴۶۲ |
| د شام ملك اومكه مكرمه | ۴۶۴ |
| د نوح ﷺ دعا | ۴۶۶ |
| د داود ﷺ او سليمان ﷺ يوه فيصله | ۴۶۷ |
| كه دشپې چيلۍ وغيره باغ خراب كړى نو تاوان شته د ورځې نشته | ۴۶۸ |
| د اياس بن بن معاويه واقعه | ۴۶۸ |
| د قاضى دې قسمونه | ۴۶۸ |
| د وينځو د فيصلې قصه | ۴۶۹ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| بله عجیبه قیصه | ۴۶۹ |
| د داؤد علیه السلام ښکلي آواز | ۴۶۹ |
| د سلیمان ﷺ تابع ځیزونه | ۴۷۰ |
| د حضرت ایوب ﷺ بیماری صبراود صحت دعا | ۴۷۱ |
| د ایوب ﷺ صبر بیان او دهغه دعاګانې | ۴۷۱ |
| د شیطان دهوکه | ۴۷۲ |
| د شیطان بله دهوکه | ۴۷۲ |
| د ایوب ﷺ او دوؤ رونړو قصه | ۴۷۳ |
| په ایوب علیه السلام باندې د | ۴۷۴ |
| د سرو زرو د ملخانو راوتل | ۴۷۴ |
| د ایوب علیه السلام د بی بی نوم | ۴۷۴ |
| د حضرت اسماعیل، ادریس او ذوالکفل | ۴۷۵ |
| ذوالکفل نبی وو که ولي؟ دده د بزرګۍ قصه | ۴۷۵ |
| دحضرت یونس ﷺ ذکر | ۴۷۷ |
| یونس علیه السلام د قوم نه خفه لاړو کشتۍ کښې سور شو | ۴۷۷ |
| د مهی په خیټه کښې د یونس ﷺ دعا او تسبیح | ۴۷۸ |
| دیونس علیه السلام والادعا مقبوله دعا ده | ۴۷۹ |
| د یونس علیه السلام دعا ټولو مسلمانانو دپاره عامه ده | ۴۷۹ |
| د حضرت زکریا ﷺ واقعه | ۴۸۰ |
| دعاء کښې ډیره عاجز پکار ده | ۴۸۱ |
| د حضرت مریم بی بی د خیر ذکر | ۴۸۱ |
| امت یو رب یو | ۴۸۲ |
| د یاجوج ماجوج تذکره | ۴۸۳ |
| ددجال ذکر او دهغه فساد | ۴۸۴ |
| د یاجوج ماجوج متعلق بل حدیث | ۴۸۵ |
| د قیامت د نورو علاماتو ذکر | ۴۸۵ |
| د باطلو معبودانو انجام | ۴۸۷ |
| د نیکانو د بدلې ذکر | ۴۸۸ |
| آسمان به راغونډ کړې شي | ۴۹۰ |
| د سجل نه څه مراد دي؟ | ۴۹۰ |
| د زمکې وارثان به د الله ﷻ نیکان بندګان وی | ۴۹۱ |
| د ذبور او ذکر نه څه مراد دي | ۴۹۱ |
| د نبی علیه السلام دهجرت نه پس د ابوجهل خپل قوم ته خطاب او هدایت | ۴۹۲ |
| ددې خبرې په جواب کښې درسول ﷺ ارشاد | ۴۹۲ |
| د قیامت تباهئی | ۴۹۵ |
| د محشرمیدان اودهغه متعلق احادیث | ۴۹۶ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| جهنم به دري قسمه خلق راګروی | ۴۹۷ |
| ددې آیت مبارك شان نزول | ۵۰۰ |
| د انساني پيدائش مختلف ادوار | ۵۰۰ |
| دپيداکيدو نه وړاندې دتقدير ليکل | ۵۰۰ |
| د انسان ضعيف العمری | ۵۰۱ |
| د انسان د عمر متعلق مرحلې | ۵۰۱ |
| د مرګ نه پس د ژوندی کيدو يويل دليل | ۵۰۱ |
| د جاهلانو مقلدانو حالت | ۵۰۳ |
| د مفادپرستو اومنافقانو خلقو تذکره | ۵۰۴ |
| دا آيت مبارك دچاباره کښې دې ؟ | ۵۰۵ |
| د قرآن پاك احکام واضحه دی | ۵۰۷ |
| ټول څناور هم هغه ته سجده کوی | ۵۰۸ |
| د سورت حج دوه سجدې | ۵۰۹ |
| د مؤمن اوکافر اختلاف | ۵۱۰ |
| داوور ستك به څومره وی؟ | ۵۱۱ |
| په جنتيانو باند انعامونه | ۵۱۲ |
| د مسجدالحرام څخه بندول لويه ګناه ده | ۵۱۳ |
| دمسجد حرام د زمکې په ملکيت کښې اختلاف | ۵۱۴ |
| حضرت ابراهيم ﷺ اوبيت الله شريف | ۵۱۲ |
| د ابراهيم ﷺ بولې دنيا ته د حج آواز | ۵۱۷ |
| بيت الله شريف ته دتللو دنيا فائدې | ۵۱۸ |
| د قربانۍ د وخت ابتداء او انتهاء | ۵۱۹ |
| مسلك حنفی | ۵۱۹ |
| د خپلې قربانۍ نه غوښه خوړل جائز دی | ۵۱۹ |
| د حج آخری عمل طواف ، او حطيم په طواف کښې داخل دې | ۵۲۰ |
| شعائرالله د ايمان دتقدس نښې دی | ۵۲۱ |
| د دروغو ګواهی د شرك سره برابر ده | ۵۲۲ |
| د مشرك د شرك مثال | ۵۲۲ |
| د قربانئی مسئلې | ۵۲۳ |
| دکوم څاروی قربانی نه کيږی | ۵۲۳ |
| مسلك حنفی | ۵۲۳ |
| د اخستلونه پس په څاروی کښې د عيب پيدا کيدو حکم | ۵۲۴ |
| مسلك حنفی | ۵۲۴ |
| کوم څاروی چه د قربانۍ دپاره واخستې شی په هغې کښې د تبديلۍ حکم | ۵۲۵ |
| مسلك حنفی | ۵۲۵ |
| د قربانۍ د څاروی نه د فائدې اخستلو حکم | ۵۲۵ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| مسلک حنفي- | ۵۲۵ |
| د قربانۍ اهميت | ۵۲۶ |
| د قربانۍ حقيقت څه دی؟ | ۵۲۶ |
| د قربانۍ فضائل | ۵۲۸ |
| مسلک حنفي | ۵۲۸ |
| مسلک حنفي | ۵۲۹ |
| اوښ په ولاړه حلالول سنت دی | ۵۲۹ |
| د ساه وتلو نه وړاندې د څاروی نه څه اندام کټ کول او دهغې حکم | ۵۳۰ |
| مسلک حنفي- | ۵۳۰ |
| د قربانۍ د غوښې خوړولو حکم | ۵۳۰ |
| مسلک حنفي:- | ۵۳۰ |
| د قانع او معتظ مطلب | ۵۳۰ |
| د قربانۍ ټوله غوښه په خپله د خوړلو حکم | ۵۳۱ |
| مسلک حنفي | ۵۳۱ |
| اول مونځ بيا قرباني کول سنت دی | ۵۳۱ |
| د مانځه نه وړاندې د قربانۍ کولو حکم | ۵۳۱ |
| مسلک حنفي- | ۵۳۱ |
| د تقوی فضيلت | ۵۳۲ |
| د قربانۍ د څرمنې حکم | ۵۳۲ |
| د قربانۍ نصاب | ۵۳۳ |
| مسلک حنفي- | ۵۳۳ |
| د قرباني د څارو عمر | ۵۳۳ |
| مسلک حنفي | ۵۳۴ |
| د جهاد اجازت اود هغې پس منظر | ۵۳۵ |
| مکي دور کښې د جهاد نه کولو حکمت | ۵۳۶ |
| دا آيت مبارك د چا باره کښې نازل شوې دې؟ | ۵۳۹ |
| د قيامت د ورځې دمقدار بيان | ۵۴۱ |
| د کافرانو زرعذاب غوښتل او دهغه جواب | ۵۴۳ |
| د الله ﷻ په وحی کښې د باطل ګډون نه شی کيدې | ۵۴۴ |
| اول روايت | ۵۴۴ |
| دامام بغوی به دې باندې سوال | ۵۴۵ |
| الله ﷻ حق ثابتوی باطل ختموی | ۵۴۶ |
| قرآن مجيد اود کافرانو حالت | ۵۴۷ |
| د هجرت او جهاد ثواب | ۵۴۸ |
| د الله ﷻ په لار کښې د شهادت او مرګ حقيقت | ۵۴۸ |
| د شپې ورځې ګردش | ۵۵۰ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| د بیاراژوندی کیدو په مثال سره وضاحت | ۵۵۱ |
| د هریوقوم د شریعت تذکره | ۵۵۳ |
| د ټولونه اول قلم پیداکړې شو | ۵۵۵ |
| د کلام الله نه مخ اړول قابل گرفت دی | ۵۵۵ |
| د باطلومعبودانوبې وسی | ۵۵۶ |
| د رسالت د منصب حقدارڅوك دې ؟ | ۵۵۷ |
| اسلام آسان دین دې | ۵۵۹ |
| په دې امت عظیم احسانات او مهربانی | ۵۶۰ |
| دَ الله ﷻ دنیکانوخلقو صفتونه | ۵۶۳ |
| دنبی کریم ﷺ اخلاق څه وو؟ | ۵۶۳ |
| د جنت عدن تعریف | ۵۶۳ |
| د آیتونوتشریح اودمؤمنانو صفتونه صفت | ۵۶۴ |
| دویم صفت | ۵۶۴ |
| دریم صفت | ۵۶۵ |
| پخپل لاس منی ویستل هم دې آیت مبارك کښې داخل دی | ۵۶۵ |
| څلورم او پنځم صفت | ۵۶۵ |
| شپږم صفت | ۵۶۵ |
| دهر مؤمن او کافر دوه ځایونه وی | ۵۶۶ |
| دَ انسان پیدائش اودَ هغه حقیقت | ۵۶۷ |
| څلور میاشتې پس ماشوم کښې روح اچولې کیږی | ۵۶۸ |
| دَ آسمان دَ تخلیق تذکره | ۵۷۰ |
| دَ یوڅو لویونعمتونوتذکره | ۵۷۱ |
| د اوبو بې شماره فائدې | ۵۷۱ |
| حضرت نوح ؑ اوکبرژن سرداران | ۵۷۳ |
| نوح ؑ ته دَ کشتئی جوړولوحکم | ۵۷۴ |
| په سورلئ د سوریدو په وخت دعا پکارده | ۵۷۴ |
| دنوح ؑ دَ قوم نه پس عادیان اوثمودیان | ۵۷۷ |
| دَمختلفوامتونوذکر | ۵۷۸ |
| موسی ؑ هارون ؑ اوفرعون | ۵۷۸ |
| دعیسی ؑ پیدائش دَ الله ﷻ دَ قدرت کامله څرگندونه | ۵۸۰ |
| د ټولو نبیانو علیهم السلام خوراك حلال او د خپل لاس گټه وه | ۵۸۰ |
| د حلال خوراك حکم ټولو مؤمنانو ته هم دې | ۵۸۱ |
| دَ ټولوانبیاکرامو | ۵۸۱ |
| مؤمن چه نیك عمل کوی نوهم ویریږی | ۵۸۳ |
| انسان ته د وس نه زیات تکلیف نه ورکولې کیږی | ۵۸۴ |
| قرآن پاك بې مثال او بینظیر کتاب دې | ۵۸۷ |


Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
| --- | --- |
| دا نسان دماغ د مخلوق د انتظام نه عاجز دی | ۵۸۸ |
| د رسول كريم صلى الله عليه وسلم د امت مثال | ۵۸۸ |
| بل مثال ، د امت بچ كول آو د كوثر بيان | ۵۸۹ |
| دَ الله ﷻ عذاب اود كافرانو په خپل ځاي كلك اودريدل | ۵۹۱ |
| د قريشو د قحط سالئ تذكره | ۵۹۱ |
| داوسنو او مخكښينو كافرانو زړونه يو شان دی | ۵۹۱ |
| مشركانوبه هم الله ﷻ خالق اومالك منلو | ۵۹۳ |
| د زمانه جاهليت د يوې موحدې ښځې قصه | ۵۹۴ |
| دَ آسمانونواوزمكو نظام هم دَ الله ﷻ په لاس كښې دې | ۵۹۵ |
| د سختئ په وخت كښې ددعا تعليم | ۵۹۶ |
| دَ بدئی جواب په نيكئی سره وركول دَ همت كاردې | ۵۹۶ |
| د شيطان نه د بچ كيدلو تركيب ، تعوذ | ۵۹۷ |
| د خوب نه راتللو دعا | ۵۹۷ |
| برزخ اوعذاب قبراو دمرګ وخت | ۵۹۸ |
| هر مؤمن لره د كافرانو د خواهشاتو نه عبرت اخستل پكار دی | ۵۹۹ |
| د قبر خطرناك حالت | ۵۹۹ |
| دَ ميدان حشر نقشه او د سختو حالاتو تذكره | ۶۰۰ |
| د رسول كريم صلى الله عليه وسلم رشته به فانده وركوی خو بدعتی ته نه | ۶۰۰ |
| قيامت كښې كافرانو ته سخته رټنه او دَ كافرانو پښيمانتيا | ۶۰۲ |
| په دوزخيانو باندې دَ الله ﷻ غصه | ۶۰۳ |
| د كافرانو دالله ﷻ نه سوال | ۶۰۴ |
| د مؤمنانو نه به هم دغه شان سوال كيږی | ۶۰۴ |
| انسان بې كاره نه دې جوړكړې شوې | ۶۰۵ |
| د عمر بن عبدالعزيز دلسوزه خطبه | ۶۰۵ |
| د پيری علاج دعا | ۶۰۵ |
| په مصيبت كښې په كارراتلونكې څوك دې | ۶۰۶ |
| يو سړی سره د رسول كريم صلى الله عليه وسلم سوال وجواب | ۶۰۶ |
| درجم حداود كوروسزا | ۶۰۸ |
| مسلك حنفی:- | ۶۰۸ |
| د جمهورو دليل | ۶۰۸ |
| د رجم متعلق درسول كريم صلى الله عليه وسلم خطبه | ۶۰۸ |
| درجم آيت منسوخ دې حكم ئې باقی دې | ۶۰۹ |
| مسلك حنفی:- | ۶۰۹ |
| قاضی له فيصله اورسيده بيا به ترس نه وی | ۶۱۰ |
| بدكاره ښځې اوبدكاره سړی | ۶۱۱ |
| د زنا كارې او مشركې سره دنكاح يوه عجيبه واقعه | ۶۱۲ |

Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| دري قسمه خلق به جنت ته نه ځي اودريو قسمو خلقو ته به الله ﷻ په نظر د رحمت نه گوري | ۲۱۲ |
| مسلک حنفي | ۲۱۳ |
| په پاکو ښځوباندې دتهمت لګونکوسزا | ۲۱۴ |
| مسلک حنفي | ۲۱۴ |
| لعان کله اوڅنګه دي ؟ | ۲۱۵ |
| د سړي په حق کښې لعنت اودښځې په حق کښې غضب ،وجه څه ده؟:- | ۲۱۶ |
| د آيت لعان متعلق روايات | ۲۱۶ |
| ددې حديث پاك شواهد | ۲۱۷ |
| مسلک حنفي | ۲۱۸ |
| د عائشه صديقهkپاکوالې اوفضيلت اوواقعه دافك | ۲۱۹ |
| د رسول کريم ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره | ۲۲۱ |
| د هيڅ ثبوت نه ملاويدو نه پس درسول ﷺخطبه | ۲۲۱ |
| د رسول کريم ﷺ عائشه رضى الله عنها پوهه کول او د هغې جواب | ۲۲۲ |
| د عائشه رضى الله عنها په حق کښې وحى راتلل | ۲۲۲ |
| په بل سند سره ددې خطبې واقعه او واقعه د افك | ۲۲۳ |
| يو بل حديث پاك | ۲۲۴ |
| د آيتونو مطلب او تشريح | ۲۲۴ |
| دتهمت شروع رئيس المنافقين کړې وه | ۲۲۵ |
| دَ صديقه کائنات k دپاکوالى آسمانى اعلان | ۲۲۶ |
| مؤمنانو لره څه کول پکار دي؟ | ۲۲۶ |
| دَ صديقه کائنات k دَ عظمت بيان | ۲۲۷ |
| ديو مسلمان پحقله بې تحقيقه خبره نه ده پکار | ۲۲۸ |
| دَ بدئى خورونه حرام ده | ۲۲۹ |
| شيطانى لارې | ۲۳۰ |
| دصديق اکبر عظمت اوسخاوت | ۲۳۱ |
| پاکوښځوباندې دتهمت لګولوسزا | ۲۳۲ |
| په قيامت کښې په کافر د خپلو اندامونو ګواهي | ۲۳۳ |
| بدکاره ښځې دَبدکاره سړو دَ پاره اونيکې ښځې دَ نيکانوسړو دَ پاره دي | ۲۳۴ |
| په کورونوکښې دَ داخليدو آداب | ۲۳۶ |
| د رسول کريم ﷺ سره د سعد د سلام قصه | ۲۳۶ |
| راتلونکى لره دروازې ته مخامخ اودريدل نه دي پکار | ۲۳۷ |
| راتلونکى له خپل نوم خودل پکار دي | ۲۳۷ |
| راتلونکى لره اول سلام بيا اجات غوښتل پکار دي | ۲۳۷ |
| دشپې هم بې خبر کور ته مه راځئ | ۲۳۹ |
| نظرښکته کولوسره تګ کوه | ۲۴۰ |
| ماڅاپى نظرمعاف دې ، قصداً معاف نه دې | ۲۴۰ |

| صفحه نمبر | عنوانات |
|---|---|
| ۲۴۰ | د نظر ساتلو فائدې |
| ۲۴۱ | نظر دشيطان د غشو نه يو غشې دې |
| ۲۴۲ | دَ پردې شرعی احکام |
| ۲۴۲ | د نابينا هم پرده شته |
| ۲۴۳ | لوپټه څنګه اچول پکار دی |
| ۲۴۴ | د انصارو ښځو فضيلت |
| ۲۴۴ | مسلمانه به خپل زينت کافرې ښځې ته هم نه ښکاره کوي |
| ۲۴۵ | د پازيبونو کړنګولو اوخوشبو سره د وتلو ممانعت |
| ۲۴۷ | دَ نکاح احکام |
| ۲۴۸ | نکاح کول باعث د برکت دی |
| ۲۴۹ | مسلک حنفی |
| ۲۴۹ | وينځې په بدکارئی مه مجبوروې |
| ۲۵۲ | دويم قول |
| ۲۵۳ | دا مثال د زړۀ د مؤمن دې او زړونه په څلور قسمه دی |
| ۲۵۴ | دَ جمات آداب |
| ۲۵۵ | د مسجدونو دادابو اوفضيلتونو متعلق احاديث |
| ۲۵۷ | په جماعت کښې د يومونځ په جمع کولو درجه |
| ۲۵۸ | دښځو دپاره کور کښې مونځ کول افضل دی |
| ۲۵۹ | درجال اوصاف |
| ۲۶۰ | ددې رجالو هر عمل مقبول دې |
| ۲۶۱ | دَ کافرانواومشرکانو دَ نيکواعمالومثال |
| ۲۶۲ | دغه شان عذاب به قيامت کښې يهودياهو ته هم ښکاره شی |
| ۲۶۲ | د مقلدينو مشرکانو مثال |
| ۲۶۵ | دَ مختلفوخناورو دَتخليق تذکره |
| ۲۶۷ | کامياب اوناکام خلق |
| ۲۶۷ | دا آيت مبارك د منافقانو باره کښې دې |
| ۲۶۷ | د مختلفو مؤمنانو بيان |
| ۲۶۸ | دمنافق ژبه |
| ۲۶۹ | د الله ﷻ اودرسول اطاعت ته ترغيب |
| ۲۷۱ | درسول کريم ﷺدور ،اهل ايمان سره دَ حکومت او خلافت وعده |
| ۲۷۱ | دابو بکرصديق دور خلافت |
| ۲۷۱ | د عمر فاروق دور خلافت |
| ۲۷۱ | د عثمان غنی رضی الله عنه دور خلافت |
| ۲۷۲ | دولس حق خلفاء |
| ۲۷۲ | امام مهدی |
| ۲۷۳ | درسول کريم صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو ترقی يافته دور |

Scanned with Ca

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| حقوق الله او حقوق العباد | ۶۷۴ |
| دَ خیرد َ اعمالو ترغیب | ۶۷۵ |
| بغیراجازت کورونوته تلل منع دی | ۶۷۷ |
| دا دري آیتونه منسوخ نه دی خوخلقو پري عمل پریښودي دي | ۶۷۷ |
| دي دريو وختونو کښي د اجازت غوښتلو حکمت | ۶۷۸ |
| نابالغ په دريو وختونو کښي او بالغ به هر وخت اجازت غواړي | ۶۷۸ |
| دبوډئ ګانو دپاره حکم | ۶۷۸ |
| دَ خپلوانو کورونه او دَ هغي متعلق آداب | ۶۸۰ |
| د آیت شان نزول | ۶۸۰ |
| مسلک حنفی | ۶۸۰ |
| ځان له خوراك كول | ۶۸۱ |
| چي کور ته ځی نو سلام کوئی | ۶۸۱ |
| جماعت کښي د سلام حکم | ۶۸۲ |
| دپنځو خبرو نصیحت | ۶۸۲ |
| دَ مجلس آداب | ۶۸۳ |
| دَرسول الله ﷺ احترام | ۶۸۴ |
| دَ هریوهرحرکت هغه پیژني | ۶۸۵ |
| دَ الله ﷻ ذات اقدس بابرکت دي | ۶۸۷ |
| بي اختیاره معبود څنګه؟ | ۶۸۸ |
| د کافرانو په رسول الله ﷺ باندي دروغ او دهغه جواب | ۶۸۹ |
| د ځلوبښتو کالو پوري درسول علیه السلام حالت | ۶۹۰ |
| د نبوت نه پس حالت | ۶۹۰ |
| دنبوت مقام اودَجاهلانو اعتراضونه | ۶۹۲ |
| د کافرانو د جوابونووجه او دوئ ته جوابونه | ۶۹۳ |
| ددوزخ دپاره سترګي هم شنه خطرناك آوازونه به كوي | ۶۹۳ |
| جنت او جنتیان | ۶۹۴ |
| مشرکان اودَ هغوی معبودان دَ الله ﷻ په عدالت کښي | ۶۹۶ |
| داهريو څه هم دَنبوت منافی نه دی | ۶۹۷ |
| دکافرانویوه عجیبه مطالبه | ۶۹۹ |
| قیامت کښي د کفارو ټول اعمال برباد | ۷۰۱ |
| دمؤمنانو حالت | ۷۰۱ |
| دیوبادشاه اودیو غریب حساب | ۷۰۲ |
| قیامت کښي د الله | ۷۰۳ |
| قیامت کښي د الله ﷻ اعلان | ۷۰۴ |
| د قیامت په ورځ دقرآن د پریښودونکی حشر | ۷۰۴ |
| په قران باندي دکافرانو یواعتراض | ۷۰۷ |

| عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|
| د قران پاك مجموعه نزول په ليلة القدر شوې ده | ٧٠٨ |
| د انبياوُدشمن قومونه تباه اوبرباد شول" | ٧٠٨ |
| د يو رسول تكذيب د ټولو رسولانو تكذيب دې | ٧٠٨ |
| قرن څومره مودې ته وائي؟ | ٧٠٩ |
| د سدوم كلي تذكره | ٧٠٩ |
| د ناعاقبت انديشو آقاپورې ټوقې" | ٧١١ |
| په عربو كښې د كاڼو عبادت | ٧١١ |
| د دوزخ خطرناك كيفيت | ٧٢١ |
| د يو گناهگار جهنمى تذكره | ٧٢١ |
| عباد الرحمن | ٧٢٣ |
| دجهنم د ټولو نه آخر كښې راوتونكى خلق | ٧٢٥ |
| جنت ته څلور قسمه تلونكى خلق | ٧٢٥ |
| د يو گناهگار بوډها تذكره | ٧٢٥ |
| د پور كارې توبه | ٧٢٦ |
| د نيك صفته خلقو نور علامات" | ٧٢٧ |
| د قدرت نه باهر د څه آرزو نه ده پكار | ٧٢٨ |
| دا پاكبازه ډله جنتيان دى" | ٧٣٠ |

Scanned with Ca

| تول آیتونه | سورت الحجر مکیة وهی تسع وتسعون ایة وست رکوعات | رکوع گانې |
|---|---|---|
| | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | |
| ٩٩ | (شروع کوم) په نوم د الله چې بخښونکې مهربانه دې | ٦ |

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ①

ال ر | دا | آیتونه دی | د کتاب | او د قرآن | صفا صفا بیانونکې دی |

الف لام را | دا دیو (کامل) کتاب او واضح قرآن آیتونه دی |

د سورتونو په شروع کښې چه کوم حروف مقطعه راغلی دی دهغې بیان اول تیرشوې دې. په ایت کښې د قرآن د آیتونو واضح او دهر سرې په پوهه کښې د راتلو قابل کیدو بیان دې.

(اَلْحَمْدُلِلّٰهِ) د دیارلسمې سپارې تفسیر ختم شو.

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ②

ډیر خله به | خوښوی | هغه کسان | چې کفر ئې کړې دې | افسوس که چرې وې هغوئ | مسلمانان |

ډیرکرتې به کافران دا آرزو کوی | کاش چې دوئ (یعنی مونږ) مسلمانان وې

ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ

پریږده دوئ | چې خوراك کوی | اوفائدې اخلی | اومشغول کړې دوئ لره | دروغو اومیدونه | اوروخت پس به

دوی پریږده چې خوری (خښی) اوفائده اخلی | او (غلط) امیدونه ئې په غفلت کښې غورځوی | ډیر زر

يَعْلَمُوْنَ ③ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ

پوهه شی دوئ | اونۀ دې هلاك کړې مونږه | یوکلې | مګر | دپاره دهلاکت دهغې | یولیکلې شوې وخت

به پوهه شی | اومونږ چې کوم کلې هم هلاک کړې دې نو د هغې دپاره یولیکلې شوې

مَّعْلُوْمٌ ④ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ⑤

معلوم وۀ | نۀ مخکښې کیږی | یوامت | دمقرروخت خپل نه | اونۀ روستو کیږی |

وخت مقرر وو | یوقوم دخپلې نیتې نه نه خوړاندې تلې شی | اونه روستو پاتې کیدیشی |

① **دعاموکافرانوارزو:-** کافربه پخپل کفرباندې ډیرزرپښیمانه اوستومانه شی اودمسلمان جوړیدواو ژوند تیرولو ارزو به کوی.

② **د بدر د کافرانو ارزو:-** دا هم روایت دې چه د بدر کافران کله دوزخ ته مخامخ کړې شی نو تمنا به کوی چه افسوس مونږ هم په دنیاکښې مؤمنان وو.

③ **دمرګ په وخت کښې ارزو :-** دا هم دی چه هریوکافر به خپل مرګ لیدو سره دا تمنا کوی

④ **د دوزخ په لیدو ارزو:-** اودغه شان به په قیامت کښې هم د هریوکافر زړه هم دغه غواړی. دوزخ سره په او دریدو به وائی چه افسوس مونږ واپس دنیاته لیګلې شوې وې نو نه خو به دالله تعالی آیاتونه دروغ ګڼړو اونه به ایمان پریږدو. دوزخیان خلق چه نور خلق د دوزخ نه په وتو باندې اووینی نود خپل مسلمان کیدو تمنا کوی.

Scanned with Ca

⑤ **دګناهګارانومسلمانانو دجهنم نه د ازادیدوپه وخت دکافرانو ارزو**:-ابن عباس رضی الله عنه اوانس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه ګناهګاران مسلمانان الله تعالی د مشرکانوسره راجمع کړی نو مشرکان به دې مسلمانانو ته وائی دکوم الله تعالی چه تاسو په دنیاکښې عبادت کولو هغه نن تاسوته څه فائده درکړه؟ په دې به د الله تعالی رحمت په جوش کښې راشی اودامسلمانان به د دوزخ نه راوباسی دغه وخت به کافران تمنا کوی چه ارمان اوافسوس چه مونږ هم په دنیاکښې مسلمانان وو.[1]

⑥ **دیوې ذرې برابرایماندارد جهنم نه د راوتلوپه وخت د کافرانو ارزو**:-یوروایت کښې دی دمشرکانو په دې پیغوربه الله تعالی حکم اوکړی دچاپه زړه کښې چه دیوې ذرې برابر ایمان هم وی هغه ددوزخ نه آزادکړئی الخ.

⑦ **دمشرکانو ګناهګارانو مسلمانانو ته پیغور کول**:- طبرانی کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی د لااله الا الله ویونکو کښې به بعضې خلق په سبب دخپلو ګناهونو دوزخ ته ځی نود لات او عزی عبادت کونکی به ورته وائی چه ستاسو لااله الاالله وئیلو تاسو ته څه فائده درکړه؟ تاسو خو زمونږ سره په دوزخ کښې سوزیږئی په دې باندې به د الله تعالی رحمت په جوش کښې راشی. الله تعالی به هغه ټول د دوزخ نه راوباسی او په نهرحیات کښې به غوپه ورکړی اوداسې به ئې کړی لکه چه سپوږمئی د تندر نه راوتلې وی. بیابه دا ټول جنت ته لاړشی هلته به دوی ته دوزخیان وئیلې شی. دحضرت انس رضی الله عنه نه چا دا حدیث اوریدو سره اوونیل چه آیا تا دا د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دې؟ هغوی ووئیل واوره ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه په ما باندې په قصدسره دروغ ویونکې خپل ځائ په دوزخ کښې جوړوی سره د دې چه دا وایم ما دا حدیث پخپله د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دې[2]بل روایت کښې دی چه مشرکان خلق به دقبله والا ته وائی تاسوخومسلمانان وئی تاسو ته اسلام څه فائده درکړه؟تاسو خو مونږ سره په دوزخ کښې سوزئی. هغوی به جواب ورکړی اوزمونږ ګناهونه وو دهغې په وجه مونږ راګیرکړې شو الخ. په دې کښې داهم دی چه ددوی دخلاصیدو په وخت کښې به مشرکان وائی چه افسوس مونږ مسلمانان وو اود دوی په شان د دوزخ نه خلاص شوې وې[3]بیا حضور ﷺ ﴿اعوذبالله من الشيطن الرجيم﴾ لوستلو سره دسورت دشروع نه د ﴿مُسْلِمِيْنَ﴾پورې تلاوت اوفرمائیلو هم دا روایت په بل سند سره نقل دې په هغې کښې د ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ لوستلو په ځائ د اعوذ ذکردې

**د ګناهګارانو دپاره د شفاعت اجازت**:- بل روایت کښې دی چه دې مسلمانانو ګناهګارانو ته به مشرکان وائی تاسوخو په دنیاکښې دا خیال کولو چه تاسود الله تعالی دوستان ئی نو دا بیا مونږ سره دلته څنګه ئې؟ دې اوریدو سره به الله تعالی د هغوی د شفاعت اجازت اوکړی نو فرښتې انبیاء او مؤمنان به شفاعت کوی او الله تعالی به هغوی د دوزخ نه راوباسی. هم دا معنی د دې آیت ده اوچه کله داخلق جنت ته لاړشی نودهغوی په مخونوباندې به لږ شان توروالې وی پدې وجه به هغوی ته دوزخیان وئیلې شی. بیابه دوی دعاکوی چه یاالله زمونږ نه دا لقب هم لرې کړه.دجنت په یونهر کښې به دغسل کولوحکم اوشی اوهغه نوم به هم د دوی نه لرې کړې شی.[4]

ابن ابی حاتم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی بعضې خلق به اُور د هغوی د زنګونونو پورې راګیرکړی بعضې د پنډو پورې او بعضې دست پورې څنګه چه د هغوی ګناهونه وی اوڅنګه چه د هغوی عملونه

[1] الطبری: ١٤/٣.
[2] المعجم الاوسط:٧٢٨٩.
[3] مجمع الزوائد:٤٥/٧، حاکم:٢٤٢/٢،.
[4] المعجم الاوسط: ٨١٠٦ وهوحديث حسن.

Scanned with Ca

بعضې به د يوې مياشت سزا تيرولونه پس راوځی اود يولو نه د اوږدې مودې والا سزا تيرونکې به هغه دوزخي وی څومره موده چه د دنيا ده يعنی د دنيا د اولې ورځ نه واخله د دنياد آخری ورځې پورې. کله چه الله ﷺ دهغوی دراويستلواراده اوکړی هغه وخت به يهوديان اونصاری دنورودينونووالا دوزخيان دې اهل توحيد ته به وائی تاسو په الله تعالی باندې دهغه په کتابونوباندې اودهغه په رسولانوباندې ايمان راوړې وو بياهم نن مونږ اوتاسويه دوزخ کښې يوشان يونو الله ﷺ ته به ډيره غصه ورشی دوی ته به په بل څيز دومره غصه نه وی ورغلې بيا به داموحدين د دوزخ نه راوباسی اودجنت يونهرله به ئې راولی(¹)دادې فرمان په﴿رُبَمَا يَوَدُّ﴾کښې .بيادغصې په توگه فرمائی چه دوی په خوراك څښاك کښې مزې کونکی پريږدئی آخردوی ځائ دوزخ دې.تاسوخورئی څکئ ستاسو مجرم کيدل ثابت شوی دی. دوی خپلو لرې لرې خواهشاتو د توبې ويستلونه اود الله تعالی طرف ته د تيتيدلونه غافل ساتلی دی اوډير زربه ورته حقيقت معلوم شی.

مونږ يوکلی ته دليلونه رسول اودمقرروخت نه وړاندې نه تباه کوواوچه کله مقرروخت راشی نوبيا روستوالې اووړاندېوالې ناممکن دی. په دې کښې اهل مکه ته خبرداری دې چه هغوی دې د شرك او الحاد نه د پيغمبرﷺ د مخالفت نه منع شی گنی د هلاکت حقداربه شی او په خپل وخت به تباه کړې شی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ | نُزِّلَ | عَلَيْهِ | الذِّكْرُ | اِنَّكَ | لَمَجْنُوْنٌ ⑥ |
| اووايئ دا خلق اے هغه سړيه اچې | نازل شوي دي | په هغه باندې | ذکر | بيشکه ته | اخامخا ليونې ئې |
| اواووايئ اودوئ وائی چې ائې هغه سړيه! چې په تاقرآن نازل شوي دې!ته خو تيارليونې يې! اکه چرې ته رشتينې يې | | | | | |
| لَوْمَا تَأْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ | اِنْ كُنْتَ | مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ⑦ | مَا نُنَزِّلُ | الْمَلٰٓئِكَةَ | |
| ولې نهٔ راولې ته فرښتې | که چرې ئې ته | دصادقانو نه | نهٔ نازلوؤ مونږ | فرښتې | |
| نومونږ ته فرښتې ولې نه راولې ا ........(ورته اووايه) مونږ فرښتې صرف په حقې خبرې سره راليږو | | | | | |
| اِلَّا | بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا | اِذًا | مُّنْظَرِيْنَ ⑧ | | |
| مگر | دحق سره اونهٔ به وی دا خلق | په دغه وخت کښې | مهلت ورکړې شوی | | |
| اوهغه وخت به دوئ ته هيڅ مهلت نشی ورکولې | | | | | |

**قوله تعالی:-** وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

**دکافرانو سرکشی ضداو کبر:-** دکافرانوکفرد هغوی سرکشی اود ضدبيان کولې شی چه هغوی به د توقو مسخرو په توگه رسول الله ﷺ ته وئيل چه اې هغه سړيه چه د دې خبرې دعوی کونکې ئی چه په تاباندې قرآن کريم د الله تعالی کلام نازليږی مونږخو گورو ته خو بالکل پاگل ئی چه د خپلې تابعدارئی د پاره مونږ رابلې اومونږ ته وائې چه دخپل پلار نيکه دين پريږدو.که رښتونې ئی نو ته مونږ ته فرښتې ولې نه راولې؟ چه ستا صداقت مونږ ته بيان کړی. فرعون هم دا وئيلې وو﴿فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ﴾ چه په ده (موسی)باندې دسرو زرو بنگړی ولې نه دی راچولې شوې.ده سره يوځائ فرښتې ولې نه دی راغلې؟ درب دملاقات منکرانو آواز اوچت کړوچه په مونږ باندې فرښتې ولې نه نازليږی اوياکه داسې شوې وې چه مونږپخپله پروردگارليدلې وې. په حقيقت کښې دوی په کبر اولونې باندې راغله اوډيرسرکشه شول.دفرښتود کتوچه کله ورځ راشی په هغه ورځ به دې گناهگارانوته هيڅ خوشحالی نه ملاويږی.

¹) ابن ابي حاتم

Scanned with Ca

دلته هم ارشاددي چه مونږفرښتې دحق سره نازلوو يعنى رسالت ياعذاب سره خوبيا به كافرانوته هيڅ مهلت نه ملاويږي.

| |
|---|
| إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٩﴾ |
| بيشكه مونږه \| نازل كړې دي \| دا ذكر او بيشكه مونږه \| هغه لره \| خامخا حفاظت كونكي يو \| |
| بيشكه دا قرآن مونږ نازل كړې دي اوهم مونږ د دې حفاظت كونكي يو \| |

**قوله تعالى:-** إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٩﴾

دا ذكر يعنى قرآن پاك هم مونږ نازل كړې دې ددې دحفاظت ذمه وارى هم زمونږ ده. هميشه به د بدلون رابدلون نه محفوظ وى.

**د ضمير دويمه مرجع:-** بعضې وائى چه د﴿له﴾ضمير مرجع نبى كريم ﷺ دې يعنى قرآن پاك هم دالله تعالى نازل كړې شوې دې اودنبى ﷺ حفاظت كونكې هم هغه دې. لكه چه ارشاد دې ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ [1] تابه دخلقودتكليف رسولونه الله تعالى محفوظ ساتى خواولنبى معنى اولى ده اودعبارت ظاهرى روانى هم دې ته ترجيح وركوى.

| |
|---|
| وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ |
| \| او بيشكه ليږلى دى مونږه \| مخكښې ستانه |
| اوبيشكه مونږ ستا نه وړاندې |
| فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ |
| په ډلودړومبنو خلقو كښې\| اونهٔ به راتلوهغوى ته\| يورسول \| مگر ووُبه هغوى\| چې په هغه پورې به ئې |
| پخوانو خلقو ته هم پيغمبران ليږلى وو\|هغوى ته چې به كوم پيغمبر هم راغلو نو هغوى به ورپورې |
| يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١١﴾ كَذَلِكَ نَسْلُكُهُ فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤْمِنُونَ |
| توقې كولې\| دارنگې \| ورننباسومونږه داذكر\| په زړونودمجرمانوكښې\| هغوئ ايمان نهٔ راوړى |
| توقې كولې \| دغه شان مونږ دا(توقې) د هغه مجرمانو په زړونو كښې ورننباسو\| كوم چې په |
| بِهِ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا |
| په دې باند\|اوتيره شوى ده\| طريقه \| دړومبنوخلقو\| اوكه پرانستې وې مونږه\| په هغوئ\| يوه دروازه |
| (قرآن پاک) ايمان نه راوړى \| اودپخوانو خلقو ته سره داسې طريقه راروانه ده\| اوكه مونږ دوئ ته |
| مِنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوا |
| دآسمان نه\| اوشروع كړى وه هغوئ\| په هغې كښې\| چې بره ختلې\| نوخامخا به ئې وئيلى ووُ\| بيشكه |
| د آسمان دروازې پرانيزوا\| او دوئ په هغې كښې بره اوخيژى \| ..........نوبيا به هم دوى دا وائى چې |

[1] ٥/المائدة:٦٧.

سُكِّرَتْ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

چی ترلې شوی دی یعنی دوکه کیږی | سترګې زمونږه | بلکه | مونږه | قوم یوا | چی جادوراباندشوې دې

زمونږ نظر بندی اوکړې شوه | ......................بلکه په مونږ خو جادو شوې دې

**قوله تعالی:-** وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١١﴾

**انبیاءکرام علیهم السلام پورې دټوقو ولو نتیجه:-** خپل نبی ﷺ ته تسلی ورکوی چه څنګه داخلق تا دروغ ګڼړی دغه شان هغوی وړاندینی پیغمبران علیهم السلام هم دروغ ګڼړلی وو.دهرامت د رسول تکذیب شوې دې اوهغه پورې ټوقې مسخرې هم شوی دی.دضدی او کبرژنوخلقو په زړونو کښې د هغوی د حد نه زیات شوې ګناهونوپه سبب د رسول تکذیب کول ځایٔ نیولې دې.

**مجرمان څوک دی؟** ﴿١٢﴾دلته د مجرمانونه مراد مشرکان دی هغوی هډوحق نه قبلوی .دمخکنوخلقو سره زمونږعادت دهغوی په مخکې دې څنګه چه هغوی هلاك اوبرباد کړې شواود هغوی پیغمبرانو خلاصې بیا موندواوایماندارو عافیت حاصل کړو.هم هغه نتیجه دې دوی هم یاد اوساتی. د دنیا اوآخرت ښیګړه د نبی کریم ﷺ په تابعدارئی اود دواړو جهانو رسوائی د نبی کریم ﷺ په مخالفت کښې ده.

**قوله تعالی:-** وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ

**دایمان نه راوړو دپاره مختلفې بهانې کول:-** دهغوی د ضدسرکشئی خان خودلواوباطل پرستئی خو دا حال دې که فرض کړه دهغوی دپاره د آسمان دروازه کولاوکړې شی اودوی هلته اوخیژولې شی نوبیا به هم دوی حق ته حق اونه وانی بلکه هغه وخت به هم اټکلې لګوی چه زمونږ نظر بندی کړې شوې وه،سترګې راله دهوکه کړې دی جادو نی کړې دې نظرئی رانه اخستې دې دهوکه کولې شی بې وقوفان مو جوړوی.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ ﴿١٦﴾

اوخامخا جوړې کړې مونږه | په آسمان کښی | مضبوط قلاګانې | اوښائیسته کړې مونږه هغه | دپاره دکتونکو

اومونږ په آسمان کښې غټ غټ ستوری جوړکړی دی | اوهغه مود کتونکو دپاره ښائسته کړی دی

وَحَفِظْنَاهَا مِن كُلِّ شَيْطَانٍ رَّجِيمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ

اومحفوظ کړې مونږه هغه | دهر شیطان رټلی شوی نه | سوادهغه شیطان نه | چی غلاکړی | خبره

اوهغه مودهررټلی شوی شیطان نه محفوظ کړی دی | مګر څوک چې په غلا خبره آور یدل غواړی

فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا

نو وروسې شی په هغه پسې | شغله | روښانه | اوزمکه | خوره کړه مونږه هغه | اوواغورزول مونږه

نو روښانه شغله وروپسې شی | اومونږ زمکه خوره کړې ده | اومونږ به دې کښې

فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾

په هغې کښې غرونه | او رااوخیژول مونږه | په هغې کښی | دهر څیز | اندازه کړې شوی نه

غرونه پیدا کړی دی | او په هغې کښې موهرقسم څیزونه په اندازه اندازه راټوکولی دی

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَن لَّسْتُمْ

اوپیداکړل مونږه | ستاسودپاره | په هغې کښې | دژوندتیرولوسامانونه | اودهغه چادپاره | چی نهٔ یئ تاسو

اوپه هغې کښې موستاسودپاره د ژوندتیرولو سامان پیدا کړې دې | اوهغه چا دپاره هم چې تاسو د هغوی

Scanned with Ca

| | |
|---|---|
| لَهٗ | بِرٰزِقِيْنَ ⑳ |
| هغه لره \| | رزق ورکونکي \| |
| | دپاره د روزئ انتظام نه کوئ \| |

**قوله تعالى:- وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٦﴾**

**دَ آسمانی برجونونه څه مراد دي ؟:-** دااوچت آسمان چه په ولاړو اوګرځېدونکو ستورو باندې ښائسته کړې شوې دې د دې پيداکونکې هم الله تعالیٰﷻ دې. څوك هم چه دا په غور او فکر سره اوګوري نو هغه د قدرت د عجائباتو او د عبرت د نښو نه د خپل ځان د پاره ډېر څه حاصلولې شي.

①د بروج نه مراد دلته ستوري دی.لکه چه بل آيت کښې ارشاد دې ﴿تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا﴾ [1] د بعضوونا ده چه دې نه مراد دسپوږمۍ او نمر منزلونه دي③ عطيه رحمه الله وائي چه هغه ځايونه چرته چه څوکئ او پهرې دی اود کوم ځائ نه چه سرکشه شيطانان ويشتلي شی دې دپاره چه هغه داوچتو درجود فرښتو خبرې اترې وانوريدې شی. کله چه وړاندې کيږی نو شغله وريسې راټوپ وهی. کله دوی دلاندې والاپه غوږ کښې واچوی دې نه وړاندې د هغه کارختم شی اوکله ددې په خلاف هم کيږی.

**ددې قول تائيد په يوحديث سره:-** لکه چه د صحيح بخاري په حديث کښې صراحتًا روايت دې کله چه په آسمان کښې الله تعالی د څه څيز باره کښې فيصله کوی نو فرښتې په عاجزئی سره خپلې وزرې لاندې کوی لکه زنځير چې په کاڼړی وی. بيا چه کله د هغوی زړه په تسلئی شی نو تپوس کوی چه ستاسو د رب څه ارشاد اوشو؟ هغوی وائی چه څه ئې هم فرمائيلی دی حق دی او هم هغه ډېر اوچت او ډېر لوئ دې. د فرښتو خبرې په غلاوېته سره اوريدو له جنات بره ختل اودغه شان به د يود پاسه بل وو. د حديث راوی حضرت سفيانﷺ دلاس په اشاره سره داسې خودل چه دښې لاس ګوتې ارتې کړې اويوه ئې د بلې د پاسه کيخودې. د دې اوريدونکو دا سلسله خو به کله کله شغلې وړاندې نه ختم کړې چه هغه د خپل ملګری په غوږ کښې اووائی نو هغه هم په هغه وخت باندې لاړشی. اوکله داسې کيږی چه دې هغه ته اوهغه د خپل ځان نه لاندينې ته اودغه شان سلسله په سلسله اورسوی اوهغه خبره زمکې ته راشی اود جادوګر او کاهن غوږونه د هغې نه خبر شی نوبيا هغه کاهن دې سره سل دروغ يوځائ کړی اود خلقو نه فائدې اخلی. کله چه هغه يوه آسمانی خبره اتفاقی ده ته راورسی او صحيح معلومه شی نو په خلقو کښې د هغه دهوښيارتيا مشهورتياکيږی چه ګوره فلانکی په فلانکئی ورځ داوئيلی وو بالکل رښتيا راووتل.[2]

**وړاندې عقلی دليل ذکر دې:-** بياالله تعالی د زمکې ذکر کوی چه هم هغه دا پيدا کړې ده خوره کړې ده په دې کښې ئې غرونه جوړکړی دی ځنګل او ميدان ئې په کښې قائم کړی دی. فصلونه او باغونه ئې راټوکولې دی او ټول څيزونه ئې په اندازه او په مناسب او په موزونوالی د هرې يوې زمکې د هر يو موسم اوهريوملك په لحاظ سره بالکل ټيك پيدا کړی دی کوم چه د بازار د ښائست او د خلقو د خوشحالئی څيزونه دی. په زمکه کښې قسم قسم پيداوار هم هغه پيدا کړی دی او هغه ئې هم جوړکړی دی دکومو چه تاسو رزق رسونکې نه ئې يعنی څاروی اوځناور وينځې غلامان وغيره. نو جدا جدا څيزونه او قسم قسم اسباب اود هرقسم آرام او راحت هغه تاسو له درکړل. د کتې طريقې ئې تاسو ته

---

[1]) ٢٥/الفرقان:٦١.

[2])صحيح بخارى كتاب التفسير سورة الحجر باب ﴿إلا من استرق السمع فاتبعه شهاب مبين﴾ ٤٧٠١، ترمذى ٣٢٢٣، ابن ماجه ١٩٤، ابن حبان ١٣٦، مسندحميدى 1151 الايمان لابن منده ٧٠٠.

Scanned with Ca

اوخودلي.څناور ئې ستاسو لاندې کړل چه خوړنې هم سورلۍ هم کوئي اووينځو او غلامانو درکولو باندې آرام او مزه حاصله کړنې د هغوی رزق هم ستاسو په ذمه نه دې بلکه د هغوی رزق هم الله تعالى ورکوی. ګتې تاسوکوئې او رزق دې هغه ورکوی. فسبحانه مااعظم شانه.

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ

| او نشته هيڅ څيز | مګر زمونږ سره | خزانې دهغې دی

| او هيڅ څيز داسې نشته چې د هغې خزانې مونږ سره نه وی

وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾ وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ

اونۀ نازلوؤمونږه هغه څيز | مګر | په اندازه | معلومې سره | اوراوليږلي مونږه | هواګانې | بار دارې

اومونږ هغه په مناسب مقدار سره نازلوؤ | او مونږ د اوبو نه ډک بادونه راليږو |

فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنتُمْ لَهُ

نو نازلې کړې مونږه | داسمان نه | اوبه | نوڅکوؤ مونږه په تاسودغه اوبه | اونۀ يئ تاسو | دغه اوبولره

او مونږ د آسمان نه اوبه راوروؤ | بيا مونږ په تاسو باندې هغه اوبه څکوو | او دغه اوبه تاسو پخپله

بِخَازِنِينَ ﴿٢٢﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ ﴿٢٣﴾

خزانه کونکي | او بيشکه خامخا مونږه | ژوندی کول کوؤ | او مړه کول کوؤ | او مونږه وارثان يو

راجمع کولې نشئ | او بيشکه هم مونږ ژوندی کول کوو او مړه کول کوو | اوهم مونږ وارثان يو

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ ﴿٢٤﴾

او معلوم دی مونږ ته | ړومبنی خلق | ستاسو نه | او معلوم دی مونږه ته | روستو راتلونکی خلق

اومونږ په تاسو کښې هغه خلق پيژنوکوم چې وړاندې تير شوی دی |او کوم چې روستو راتلونکی دی

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

او بيشکه رب ستا | خاص هغه | به راجمع کړی دا خلق | بيشکه هغه | حکمت والا | او پوهه دی

اوبيشکه ستارب به د ټول راجمع کوی | هغه صاحب د حکمت دې | په هرڅه عالم دې

**قوله تعالى:- إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ**

**هرقسم خزانې الله تعالى سره دی:-** دټولوڅيزونو هم الله تعالى يوازې مالك دې. هريوکار په هغه باندې آسان دې د هرقسم څيزونو خزانې هم هغه سره دی. څومره کله کوم ځائ او چرته چه غوارې نازلوی د خپلو حکمتونو عالم هم هغه دې دبندګانومصلحت نه هم خبر دې.دا صرف د هغه مهربانۍ ده ګنې څوك دی چه په هغه باندې زور اوجبر اوکړی. حضرت عبدالله ﷺ فرمائې چه هرکال باران برابر وريږی او تقسيم د الله تعالى په قدرت کښې دې.بيا حضورﷺ هم دا آيت تلاوت کړو.دحکم بن عيينه نه هم دا قول مروی دې.

**د باران قطرو سره فرښتې هم راځي:-** وائي چه باران سره دومره فرښتې راکوزيږی دکومو شميرچه د ټولو انسانانواوپيريانونه ډيردې.ديوې يوې قطرې خيال ساتي چه هغه چرته اووريدواوپه دې سره څه راوټو کيدل.بزارکښې دی چه د الله تعالى سره د څه خزانې دی؟ صرف کلام او خبرې چه اووائي شه نو اوشي. د دې يوراوی هم قوی نه دې. هواچلولوسره مونږ اوريځې په اوبوسره درنه وو. دې نه اوبه راساځي. هم

دغه هواګانې الوتو وښې بارداري وی پانړې او تیغونه تري راټوکیږي.اودا وصف هم په خیال کښې ساتنې چه دلته ئی د جمع صیغه راوړلې ده.او ریح عقیمه کښې وصف په وحدت سره کړې دې دی د پاره چه د کثرت نتیجه راوخي. بار داره کیدل کم نه کم د دوو څیزونونه بغیر ناممکن دی. هوا روانه وی اود آسمان نه اوبه رااوچتوی او اوریځې ډکوی.

**د هواګانو قسمونه:-** یوه هوا وی چه په زمکه کښې پیداواري قوت پیدا کوی یوه هوا اوریځې درنه وی یوه هواوی چه میوه داري وني د میووډ ډکولوقابل کوی. په ابن جریرکښې په ضعیف سند سره یو حدیث نقل دې چه جنوبي هواګانې جنتی وی په دې کښې دخلقو ګټه وی اوددې ذکرپه کتاب الله کښې دې[1] دمسندحمیدی په حدیث کښې دی د هواګانو نه اووه کاله پس الله تعالی په جنت کښې یوه هوا پیدا کړې ده چه په یوه دروازه باندې رابندکړې شوې ده هم ددغه بند دروازې نه تاسو ته هغه هوا درسی که هغه کولاوکړې شوه نو د زمکې او آسمان ټول څیزونه به پرمخې راوارووی.دالله تعالی په نیزد د هغې نوم "زیب" دې تاسو هغې ته جنوبي هوا وائي.[2]

بیافرمائی چه دې نه پس مونږ په تاسو باندې خوږې اوبه راوروو چه تاسو ئی اوڅکئ اوبه کارنې راولئی که مونږ غواړو نودا به تروې او ترخې کړو لکه څنګه چه په سورت واقعه کښې بیان فرمائیلې شوی دی دا کومې خوږې چه تاسو څکئ دا د اوریځو نه راورونکی هم تاسوئی؟ که مونږ یو؟ که مونږ غواړو نودا به تره وې کړو د حیرانتیاخبره ده چه تاسو زما شکریه نه ادا کوئی.[3] بل روایت کښې دی چه هم دې الله تعالی ستاسو د پاره د آسمان نه اوبه راکوزې کړې دی.[4] تاسو د هغې خازن یعنی مانع یاحافظ نه ئی هم مونږ ئی راوروو مونږ چه چرته غواړو رسوو چرته چه غواړو محفوظ کوو.که مونږ اوغوړو نو په زمکه کښې به ئی ورخښې کړو دا صرف زمونږ رحمت دې چه دا مو اوورولې بچ موکړې خوږې موکړې صفامو کړې چه تاسوئی اوڅکئ او په خپلو څناورو باندې اوڅکوئی خپل فصلونه او باغونه خړوب کړئی خپل ضرورتونه پوره کړئی مونږ د مخلوق شروع او بیا د دې په واپس راګرځولو باندې قادریو. ټول مو د عدم نه په وجودکښې راوستل یعنی د نیشت نه مو شته کړل دا ټول به بیا هم مونږ معدوم کوو بیا به د قیامت په ورځ دا ټول راپاسوو کینوو به ئی د زمکې او د زمکې د خلقو وارث هم مونږ یو. ټول به هم زمونږ طرف ته راواپس کولې شی. زمونږ د علم هیڅ انتها نشته اول او آخرټول زمونږ په علم کښې دی نو د وړاندینونه مراد د دې زمانې نه مخکینی خلق دی. دآدم ﷺ پورې اود روستونونه مراد د دې زمانې او د راتلونکی وخت خلق دی. د مروان بن حکم ﷺ نه روایت دې چه بعضې خلق به د ښځو په وجه په روستنوصفونوکښې پاتې کیدل نو دا آیت نازل شو[5] په دې باره کښې یوغریب حدیث هم وارد شوې دې ابن جریرکښې د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه یوه ډیره ښائسته ښځه به مانځه له راتله نو بعضې مسلمانان به د دې وجه چه چرته نظر ئی اوچت نه شی وړاندې تلل او بعضې به د دوی په خلاف باندې نور هم روستوکیدل اوډ سجدې په حالت کښې به ئی د خپلو لاسونو لاندې کتل نودا آیت نازل شو[6] خو په دې روایت کښې سخت نکارت دې دابوالجوزا قول ددې آیت

[1] الطبری۸۸/۱۷

[2] مسندحمیدی.

[3] ٥٦ واقعه: ٦٨،٧٠.

[4] ١٦ النحل:١٠.

[5] الطبری: ١٤/٢٦.

[6] ترمذی کتاب التفسیر، باب ومن سورة الحجر۳۱۲۲، نسائی:۸۷۱، ابن ماجه: ١٠٤٦، مسند طیالسی:۲۷۱۲، بیهقی:۹۸/۳

Scanned with Ca

باره کښې نقل دي چه دمانځه په صفونو کښې وړاندې کیدونکي اوروستو کیدونکي داصرف دهغه
قول دې دابن عباس رضی الله عنه په دې کښې ذکرنشته.امام ترمذی رحمه الله فرمائي چه هم دا زیات مشابه دی والله اعلم
د محمد بن کعب رحمه الله په وړاندې چه به کله عون بن عبدالله رحمه الله دا ونیل نو هغوی به فرمائیل چه دا
مطلب نه دې بلکه د وړاندینونه مراد دا دې کوم چه مړه شوی دی او روستونونه مراد دا اوس پیداشوی
او بیا پیدا کیدونکي دی. ستا رب به ټول راجمع کړی هغه د حکمت او علم مالك دې. دې اوریدو سره
حضرت عون رحمه الله اوفرمائیل الله تعالی دې تاله توفیق اوجزائي خیر درکړی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾ وَالْجَآنَّ
اویه تحقیق سره جوړکړو مونږه | انسانان | دوچ ټیکرې نه | دختې نه | خمیره شوی نه | اوپیرې چې وو
اوبیشکه مونږ انسان د وچ ټنګیدلې خمبیرې ختې نه پیدا کړی دی | ................ اوپیریان

خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ
پیدا کړي وو مونږ هغه | مخکښې ددې نه | د شغلي دوورنه | اوکله چې | اوونیل | رب ستا | فرښتو ته
موددې نه وړاندې د بې لوګی اور نه پیدا کړي وو | ............ اوکله چې ستا رب فرشتو ته اوونیل

اِنِّيْ خَالِقٌ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٨﴾ فَاِذَا
چې بیشکه زهٔ | پیدا کونکې یم | یو بشرلره | دوچ ټیکرې نه | توري ختې نه | خمیره شوی نه | نو کله چې
چې بیشکه زه کړنګیدونکې خمبیرې ختې نه انسان پیدا کوونکې یم | ............ نو کله چې زه هغه

سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾
ماپوره برابر کړوهغه | اوماپوك وهو | په هغه کښې | دروح خپل نه | نو پریوزئ تاسو | هغه ته | سجده کونکې
چې زه هغه برابر جوړ کړم | اود خپل طرفنه په کښې روح پوک وهم | نو تاسو ورته په سجده پریوځئ

فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ اَبٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ
نوسجده او کړو | فرښتو | ټولو | په جمع | مګر | ابلیس | هغه انکار اوکړو | چې شي
نو ټولو فرښتو په یو ځل سجده اوکړه | خو یو ابلیس اونه کړه | هغه سجده کونکو سره

مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا لَكَ اَلَّا تَكُوْنَ
دسجده کونکو سره | نواوونیل الله | اے ابلیس | څه وو | تالره | چې نهٔ شوې نهٔ ملګرې
دشاملیدو نه انکار اوکړو | الله جل جلاله اوفرمائیل ابلیسه دا په تاڅه اوشول چې په سجده کوونکو

مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ
دسجده کونکوسره | اوونیل شیطان | نه یم زهٔ | چې اوکړم سجده | داسې بشرته | چې تا پیدا کړې دې هغه
کښې شامل نه شوې | هغه اوونیل چې دانه شی کیدې چې زهٔ داسې انسان ته سجده اوکړم | چې هغه دې د

مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾
دټیکرې نه | چې دختې | خمیره شوی نه |
دکړنګیدونکې خمبیرې ختې نه پیدا کړې دې |

**قوله تعالى:- وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ ٠**

**دَ انسان دَ پيدائش ذكر:-** ﴿صَلْصَالٍ﴾ نه مراد اوچه خاوره ده هم ددې په شان آيت ﴿خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ۝ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ۝﴾(١)دې.دا هم روايت دې چه د بوئى والا خاورې ته حما وائى مسنون وائى متينې ته.ابن عباس ﷺ وائى لمده خاوره.د نورو نه روايت دې چه بوئى ناكه خاوره او اخلې شوې خاوره.

**د پيرى د پيدائش ذكر:-** د انسان نه وړاندې مونږ پيريان د سوزونكى اُور نه پيدا كړى دى. سموم وائى د اُوركرموالى ته حرور وائى دورخې كرموالى ته.داهم ونيلې شودى چه دكرمئ راكيرول دهغې كرموالى اويايمه حصه ده كوم نه چه پيريان پيدا كړې شوى دى. ابن عباس ﷺ وائى چه پيريان د اُور د شغلو نه جوړكړې شوى دى يعنى د ډير بهتر اُورنه. عمروبن دينار رحمه الله وائى چه د نمر د اُور نه. په صحيح كښې واقع دى چه فرښتې د نور نه پيداكړې شوى دى اوپيريان د شغلې والا اُور نه او آدم ﷺ د دې نه كوم چه ستاسو په وړاندې بيان كړې شو.(٢)د دې آيت نه مراد د حضرت آدم ﷺ فضيلت او شرافت اود هغه د عنصرد پاكوالي او طهارت بيان دې.

**دَ فرښتو حضرت آدم ﷺ ته سجده كول اودَ ابليس انكاركول:-** الله تعالى بيان فرمائى چه د حضرت آدم ﷺ د پيدائش نه وړاندې د هغه د پيدائش ذكر الله تعالى فرشتوكښې اوكړو اود پيداكولونه پس د هغه بزرګى ښكاره كولود پاره د هغه په وړاندې په فرښتو باندې سجده اوكړه. دا حكم ټولو خو اومنو ولې ابليس لعين انكار اوكړو اوكفرحسدانكار كبرفخر اوغرور ئې اوكړو. صفائى اووئيل چه زه د اُور نه پيدا كړې شوې يم اودې د خاور نه. زه خود ده نه بهتريم د ده په وړاندې ولې ټيټ شم؟ داخو تاده له په ماباندې بزرګى وركړه خوزه به دې ګمراه كوم نوپريږدم به ئې.ابن جريردلته يوډير عجيبه او حيرانونكى اثر واردكړې دې چه ابن عباس ﷺ فرمائى كله چه الله تعالى فرښتې پيداكړې نوهغوى ته ئې اوفرمائيل چه زه دخاورونه انسان جوړونكې يم تاسو هغه ته سجده اوكړئ هغوى وئيل مونږ به داسې نه كوو نو هم په هغه وخت اُور هغوى اوسوزولې. بيا نورې فرښتې راپيداكړې شوې هغوى ته هم دا اوونيلې شو نوهغوى جواب وركړو چه مونږ واوريده او اومنل خو ابليس چه داولنو منكرانونه ووپخپل انكار باندې كلك ولاړ وو،خود دې ثبوت دهغه نه نشته.په ظاهره معلوميږى چه دا اسرائيلى روايت دې. والله اعلم.

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَإِنَّكَ | مِنْهَا | فَاخْرُجْ | قَالَ |
| بيشكه تهٔ | ددې خانې نه | نواوخه تهٔ | اووئيل الله |

| الله ﷺ اوفرمائيل چې (جنت نه) اوخه | بيشكه ته

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رَجِيمٌ ۝ | وَإِنَّ | عَلَيْكَ | اللَّعْنَةَ | إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ۝ | قَالَ | رَبِّ |
| رټلې شوې ئې | او بيشكه | په تاباند | لعنت دې | دورخې | دجزا پورې | اووئيل شيطان | اے ربه زما |

رټلې شوې يې | اوپه تابه ترقيامته پورې لعنت وى | ..........هغه اووئيل ائې ربه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَأَنْظِرْنِي | إِلَىٰ يَوْمِ | يُبْعَثُونَ ۝ | قَالَ | فَإِنَّكَ |
| پس مهلت راكړه ماته | دهغه ورځې پورې | چې دوباره راپورته كړې كيږى دا خلق | اووئيل الله | نوبيشكه تهٔ |

ماته د هغه ورځې پورې مهلت راكړه چې دوى به دوباره ژوندى كيږى | الله ﷺ اوفرمائيل (بشه ده)

(١) ٥٥/الرحمن: ١٤-١٥.
(٢) صحيح مسلم كتاب الزهد باب فى احاديث متفرقة:٢٩٩٦، بيهقى:٣/٩، مسنداحمد:١٥٣/٦، مسنداسحاق بن راهويه:٧٨٦، مسندعبدبن حميد:١٤٧٩ او شعب الايمان ١٤٣.

Scanned with Ca

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٣٧﴾ | اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ | الْمَعْلُوْمِ ﴿٣٨﴾ | قَالَ | رَبِّ

دمهلت ورکړې شوونه ئې | دهغه ورځې دوخته پورې | چې معلوم دې | اووئيل شيطان | اے ربه زما

تاته ترهغه ورځ پورې مهلت دې چې د هغې وخت ماته معلوم دې | شيطان اووئيل ائې زما ربه

بِمَآ | اَغْوَيْتَنِيْ | لَاُزَيِّنَنَّ | لَهُمْ | فِي الْاَرْضِ

په سبب دهغې| چې بې لارې کړوتامالره| نوخامخا به ښائسته والې پيدا کوم زۀ |دپاره ددوئ | په زمکه کښې

لکه څنګه چې تازه ګمراه کړم | نوزه به هم دغسې دوئ ته د مزکې په مخ(ګناهونه)

وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ | اَجْمَعِيْنَ ﴿٣٩﴾ | اِلَّا عِبَادَكَ | مِنْهُمُ | الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٤٠﴾

اوخامخابه بې لارې کوم زۀ دوئ| ټول |ماسواد بندګانوستا| چې دهغوئ نه | خالص کړې شوې وی

ښائسته ښکاره کوم | اوستا د مخلص بندګانو نه سوا بۀ نور ټول خامخا ګمراه کوم

قَالَ | هٰذَا صِرَاطٌ | عَلَيَّ | مُسْتَقِيْمٌ ﴿٤١﴾ | اِنَّ | عِبَادِيْ | لَيْسَ لَكَ

اووئيل الله | دالاره ده | چې رارسی ماته | نيغه | بيشکه| بندګان زماچې دی| نشته| تالره

الله ﷻ اوفرمائيل چې زماطرف ته دارسيدو دا نيغه لاره ده | زما په بندګانو به يقينا ستا څه غلبه

عَلَيْهِمْ | سُلْطٰنٌ | اِلَّا | مَنِ | اتَّبَعَكَ | مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿٤٢﴾ | وَاِنَّ

په هغوئ باند| طاقت| ماسوا | دهغه چانه | چې پيروی ئې اوکړه ستا | دبې لارې خلقو نه| اوبيشکه

نه وی| مګر په هغه خلقو چې پخپله ستا تابعداری کوی | اوګمراه شوی وی (نوهغوی به ستا تابعدار وی)

جَهَنَّمَ | لَمَوْعِدُهُمْ | اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٣﴾ | لَهَا | سَبْعَةُ | اَبْوَابٍ | لِكُلِّ بَابٍ

دوزخ | خانې دوعدې دهغوئ دې| دټولو |دی دغه دوزخ لره| اوه | دروازې |دپاره دهرې دروازې

او دوزخ يقينا ددې ټولو د وعدې ځائې دې | د هغې اووۀ دروازې دی | د هرې دروازې دپاره

مِّنْهُمْ | جُزْءٌ | مَّقْسُوْمٌ ﴿٤٤﴾

ددې ګمراهانو نه | يو حصه ده | مخصوص کړې شوی |

په دوئ کښې جدا جدا حصه مقرر ده |

**قوله تعالي:-** قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾

**ابليس د الله تعالی د دربار نه شړلې شوې دې**:-بيا الله تعالی د خپل حکومت امر اوکړو چه نه ئی ځوك راحصارکړی اونه ئی ځوك روستوکړې شی چه ته د دې بهترين اواعلی ځلې نه لرې شه. نو رټلې شوې دې د قيامته پورې به په تاباندې ابدی اوهميشه لعنت وريږی.وئيلې شی چه هم هغه وخت د هغه شکل بدل شو او هغه ژړا وينا شروع کړۀ. په دنياکښې دا ټولې ژړاګانې هم د دې شروع نه دی. مردود او مطرود يعنی سپك او رټلې شوې بيا دحسد د اُور نه سوزيدلې تمنا کوی چه هغه له دې د قيامته پورې وخت ورکړې شی هم دې ته يوم البعث وئيلې شوې دې. نود هغه دا درخواست منظورکړې شو او مهلت ورکړې شو.

Scanned with Ca

**دابلیس ناپاکه وعده:-** دابلیس سرکشي بیانولې شي هغه په الله تعالی ګمراه کولو قسم خوړلو سره اووئیل دا هم کیدې شي چه هغه دا وئیلي وی تازه ګمراه کړم نوزه به هم د آدم ﷺ د اولاد د پاره په دنیا کښې ستا نافرمانۍ دومره ښائسته کړم او هغوی له به رغبت ورکولو سره ستا په نافرمانوکښې اخته کړم. تر کومې چه کیدې شي کوشش به کوم چه ټول دهوکه کړم خو ستا اخلاص مند بندیګان به زما لاس له نه شي راتلې. په یوبل آیت کښې هم دی چه تا ده له په ما باندې اوچتوالې ورکړو خو اوس به زه هم د ده اولادپسې اولګم که څه لږ شان رانه بچ شی خو باقی به ټول ډوب کړم([1])په دې باندې جواب ملاؤ شو چه ستاسود ټولو واپس کیدل خو هم زما طرف ته دی د اعمالوبدله به زه ضرور ورکوم. نیکانو ته نیکه او بدو ته بده. لکه چه ارشاد دې چه ستارب په شیش کښې دې.([2]) غرض دا چه واپس کیدل اود واپس کیدو لار هم د الله طرف ته ده.د ﴿عَلَيَّ﴾ یو قراءت ﴿عَلِيٌّ﴾ هم دې لکه آیت ﴿وَإِنَّهُ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ﴾ ([3])کښې دی.یعنی اوچت خواولنې قراءت مشهور دې.کوم بندیګان چه ما په هدایت باندې لګولې دی په هغوی باندې ستاهیڅ زور نشته اودا ده چه ستازورستا په تابعدارانو باندې دې دااستثنا منقطع ده.

**د یو نبی او ابلیس سوال و جواب:-**ابن جریرکښې دی چه د کلونه بهربه د انبیاؤکرامو جماتونه وو کله چه به هغوی دخپل رب نه یوخاص خبره معلومول غوښتل نو هلته به تلل اوچه کوم مونځ به ئی په مقدر کښې وو ادابه کړواوسوال به ئی کولو.یوه ورځ دیونبی اودهغه د قبیلې په مینځ کښې شیطان کیناستو هغه نبی درې ځل اووئیل ﴿اعوذبالله من الشیطن الرجیم﴾شیطان اووئیل ای داالله تعالی نبی آخر ته به زماد وار نه څنګه بچ کیږې؟ نبی اوفرمائیل چه ته ماته دااوښایه چه ته په بنیادم باندې په کوم یو وارسره غالب کیږې؟ آخرلوظ اوشو چه یوبل ته به صحیح څیز ښایو نودالله تعالی نبی اووئیل چه واوره دالله تعالی فرمان دې چه زما په خاص بندیګانو باندې ستا هیڅ اثر نشته په هغوی باندې دې چه پخپله ګمراه وی اوستا تابعداروی.دې دالله تعالی دښمن وئیل داتاځه اووئیل داخو زه ستاډپیدا کیدونه وړاندې صرف پیژنم. نبی وئیل چه واوره دالله تعالی فرمان دې چه کله شیطانی حرکت وی نود الله تعالی نه پناه غوارئی هغه اوریدونکې اوپیژندونکې هم دې([4])والله ستاپه کش کړپ پوهیدوسره زه دالله تعالی نه پناه غوارم هغه وئیل رښتیا دی پدې وجه ته زما په جال کښې نه راګیریږې. د الله تعالی نبی اوفرمائیل چه ښه اوس ته اوښایه ته په بنیادم باندې څنګه غالب کیږې. هغه وئیل زه دې د غصې اوخواهش په وخت کښې راتینګوم. بیا فرمائی چه څوك هم د ابلیس تابعداری اوکړی هغه دوزخی دې. هم دا ارشاد د قرآن د انکارکونکو د پاره سبب دې. بیا ارشاد دې چه د جهنم ډیرې دروازې دی په هره دروازه باندې تلونکی ابلیسی ډله مقرر ده د خپلو خپلو عملونو مطابق د هغوی د پاره د دوازو تقسیم شوې دې.

د (سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ)**مطلب اودهغو مخونه:-**حضرت علی رضی الله عنه یوځل په خپله خطبه کښې اوفرمائیل د دوزخ دروازې داسې دی یعنی دیود پاسه بله او هغه اووه دی. د یوې نه پس به بله دروازه او دغه شان به اووه واړه دروازې ډکې شی. عکرمه رحمه الله فرمائی چه اووه طبقې دی. ابن جریر د اووه دروازو دا نومونه خودلې دی. جهنم، لظی، حطمه، سعیره، سقر، جحیم، هاویه.

---

[1] ١٧/الاسراء:٦٢.
[2] ٨٩/الفجر:١٤.
[3] ٤٣/الزخرف:٤.
[4] ٧/الاعراف:٢٠٠.

Scanned with Ca

د ابن عباس نه هم داشان روایت دې قتاده رحمه الله وائی چه دا دهغوی د عملونو په اعتبار دی. ضحاك رحمه الله وائی مثلاً یوه دروازه د یهودو یوه د انصاری یوه د صابیانو یوه د مشرکانو کافرانو یوه د مجوسیانو یوه د منافقانو او یوه د اهل توحید خود توحید والا ته د خلاصي امید دې باقی ټول نااميده دی. ترمذی کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د دوزخ اووه دروازې دی په کوم کښې چه یوه د هغوی د پاره ده څوك چه زما په امت باندې توره اوچته کړی([1])ابن ابی حاتم کښې دی چه حضور ﷺ د دې آیت تفسیر کښې فرمائی چه د بعضو دوزخیانو د ګیټو پورې به اور وی،دبعضو دملا پورې دبعضو د ستونو پورې غرض د ګناهونو په اندازه به وی([2])

<table>
<tr><td>إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنّٰتٍ</td></tr>
<tr><td>| بیشکه| پرهیزګار خلق به| په جنت کښې وي</td></tr>
<tr><td>بیشکه پرهیزګاران به په باغونو اوچینو</td></tr>
<tr><td>وَّعُيُوْنٍ ۝ اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ۝ وَنَزَعْنَا</td></tr>
<tr><td>| او په چینو کښې به وي| ننوځئ دې ته | په سلامتیا سره | په امن سره | او اوبه باسو مونږه</td></tr>
<tr><td>کښې اوسیږي| (اوبه وئیلي شي) چې تاسو دې ته په امن اوسلامتیا سره داخل شئ| اومونږ به</td></tr>
<tr><td>مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ</td></tr>
<tr><td>هغه | چې په زړونو دهغوئ کښې وي | څه کینه | رونړه به وي | ناست به وي په تختونو باند |</td></tr>
<tr><td>د دوئ په زړونو کښې چې کومه کینه وي هغه اوباسو | د رونړو په شان به یو بل ته مخامخ</td></tr>
<tr><td>مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝ لَا يَمَسُّهُمْ فِيْهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمْ</td></tr>
<tr><td>یو بل ته مخامخ | نۀ به رسیږي هغوئ ته | په هغې کښې | څه تکلیف | اونۀ به وي| هغوئ</td></tr>
<tr><td>په تختونو ناست وي | هلته به دوی ته هیڅ تکلیف نه رسیږي | ..............اونه بۀ د هغې نه</td></tr>
<tr><td>مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ ۝ نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ</td></tr>
<tr><td>| دهغې نه| ایستلي کیدونکي| خبر ورکړه| بندګانو زماته| چې بیشکه زۀ| هم زۀ | بخښونکي</td></tr>
<tr><td>بهرته ویستلي شي | ..............(ائې نبي) زمابندګانو ته خبر ورکړه | چې زۀ ډیر بخښونکي یم</td></tr>
<tr><td>الرَّحِيْمُ ۝ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ ۝</td></tr>
<tr><td>| رحم کونکي یم| اوبیشکه| عذاب زما| هم هغه| عذاب | دردناك دي |</td></tr>
<tr><td>زیات رحم کونکي یم| اوزما عذاب هم ډیر دردناک عذاب دي |</td></tr>
</table>

**قوله تعالى:-** عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝

**په جنت کښې د اسلامی رورولئ یوه نظاره:-** د دوزخیانو ذکر کولوسره اوس د جنتیانو ذکر کولې شی چه هغوی به په باغونونهرونو او چینوکښې وی. هغوی ته به زیرې اوروليې شی چه اوس تاسو د هرقسم

---

[1]) ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة الحجر:٣١٢٣.

[2]) داروایت د شیبان عن قتاده په طریق سره بغوڈ ایت صحیح مسلم، کتاب الجنة باب جهنم اعاذناالله منها:٢٨٤٥ ابی شیبه: ٣٤١٧٩، مسنداحمد:٥/١٠، المعجم الکبیر:٦٩٦٩، شعب الایمان:٣١٧، والترغیب والترهیب:٥٦٠٩.

Scanned with Ca

افت نه بچ کړې شوئی د هرې ویرې خطرې نه مطمئن کړې شوئی نه د نعمتونو د زوال ویره اونه د دې ځایْ نه د ویستلوخطره نه د فناکیدواونه دکمی.لکه چه دجنتیانوبه زړونوکښې دنیاوی خفګانونه باقی پاتې وی خوجنت ته په تلوسره به یوبل سره ملاوشی اوټولې کینې اوخفګانونه به اووینځلې شی. ابو امامه باهلی ﷛ فرمائی جنت ته د داخلیدونه اول به سینې دکینې نه خالي کړې شی.په یومرفوع حدیث کښې هم دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه مؤمنان به ددوزخ نه خلاصې بیامومی نو د جنت او دوزخ په مینځ کښې یوپل باندې به راحصارکړې شی چه کوم خفګانونه اوظلمونه په خپل مینځ کښې وو د هغې ورکړه راکړه به اوشی اوصفازړه او پاکه سینه به شی جنت ته به داخل شی.(١)

**د زړونو خفګانونه به جنت ته تلونه مخکښې ختم کړې شی:-** اشتردعلی ﷛ خواله دتلواجازت اوغوښتو هغه وخت هغوی سره دطلحه ﷛ ځویْ ناست وونوهغوی لږساعت پس هغه دننه راوغوښتو هغه وئیل کیدې شی دده په وجه ئې ماته دلږوخت نه پس اجازت کړې وی؟هغوی اوفرمائیل ربښتیادی وئی وئیل که بیا تاسوسره دعثمان ﷛ ځویْ وی نو بیا به هم ته ماداسې راحصاروې؟ هغوی اوفرمائیل بې شکه زما خود الله تعالی نه دا امید دې چه زه اوعثمان ﷛ به د هغه خلقو نه یو د چا په شان کښې چه دا دی. دهغوی په زړونوکښې چه کوم خفګان وو مونږلرې کړو اورونړه رونړه جوړ شو یوبل ته مخامخ په شاهی تخت باندې به ناست وی. یوبل روایت کښې دی چه عمران بن طلحه﷛ د حضرت علی ﷛ داصحاب جمل نه فارغیدونه پس حضرت علی ﷛ له راغلو هغوی ده ته مرحبا اووئیل او وئی فرمائیل چه زه امید لرم چه زه اوستاپلاردهغه کسانونه یودچاد زړونوغصې چه به الله تعالی لرې کړی اود رونړورونړو په شان به ئې یوبل ته مخامخ په تختونو کینوی. یوبل روایت کښې دی چه د دې په اوریدو باندې یودوه کسان په زمکه ناست وو وئی وئیل د الله تعالی عدل د دې نه زیات شوې دې چه څوك ته قتل کړې د هغه رور به جوړیږی؟هغوی په غصه کښې اوفرمائیل چه که ددې آیت نه مرادزمااودطلحه ﷛ په شان خلق نه وی نو نور به څوك وی. په یوبل روایت کښې دی چه د قبیله همدان یوسړی دا وئیلې وو او علی﷛ په دې دهمکئی او اوچت آوازسره جواب ورکړې وو چه محل اوخوزیدو(٢)یوبل روایت کښې دی چه د ویونکی نوم حارث بن اعور وو اودهغه په دې خبره باندې هغوی غصه شو اوکوم څیز چه د هغوی په لاس کښې وو هغه ئې د ده په سر راګذارکړې وو اوفرمائیلې وو ابن جرموزکوم چه دحضرت زبیر ﷛ قاتل ووکله چه دعلی﷛ دربار ته راغلونوهغوی د ډیر ساعت پس نه هغه ته دداخلې اجازت ورکړو هغه حضرت زبیر﷛ اود هغوی ملګروته حمله کونکی وئیلوسره بد یادول نو هغوی اوفرمائیل ستاپه خُله کښې خاورې. وئی فرمائیل چه زه طلحه﷛ او زبیر﷛ خو به ان شاءالله د هغه خلقو نه یو دچا باره کښې چه د الله تعالی دا فرمان دې. حضرت علی ﷛ په قسم سره دا اوفرمائیل چه هم زمونږ د بدر والا باره کښې دا آیت نازل شوې دې کثیر النواء وائی زه ابوجعفر محمدبن علی له لاړم اوورته مې اووئیل چه زما دوست ستا دوست دې اوماسره مصالحت ساتونکی هغوی سره مصالحت ساتونکی دی زما دښمنان د هغه دښمنان دی اوما سره جنګ کونکی هغه سره جنګ کونکی دی. والله زه د ابوبکر ﷛ اوعمر ﷛ نه خراب یم. دې وخت کښې حضرت جعفر ﷛ اوفرمائیل که چرې زه داسې اوکړم نو یقیناً ما نه به بل ګمراه څوك نه وی نامکن ده چه هغه وخت کښې زه په هدایت باندې پاتې شم. دې دواړو بزرګانو (ابوبکر﷛ او عمر﷛) سره خود هغوی ډیره مینه ده که تاته په دې کښې ګناه وی زما په سټ باندې بیا هغه هم د دې آیت آخری حصه تلاوت اوفرمائیله او وئی فرمائیل چه د هغه لسو کسانو

(١) صحيح بخاری کتاب الرقاق باب القصاص يوم القيامة:٦٥٣٥، ٢٤٤٠ تعليقًا، مسنداحمد:١٣/٣ ؛ حاكم:٣٥٤/٢، مسندابی يعلی: ١١٨٦، الطبری:٣٧/١٤، الادب المفرد:٤٨٦، الايمان لابن منده:٨٣٨، السنة لابن ابی عاصم:٨٥٧.

(٢) حاكم:٣٥٣/٢-٣٥٤ دې ته صحيح وئیلې اوامام ذهبی رحمه الله د دې موافقت کړې دې.

Scanned with Ca

باره کښې دي ابوبکر، عمر عثمان علی طلحه زبیر عبدالرحمن بن عوف سعدبن ابی وقاص سعیدبن زید او عبدالله بن مسعود ﭬ. دوی به مخامخ وی چه دیو بل ته نی شانه شی.

**د جنت شان او صفت:**- حضورﷺ دصحابه کرامو ﭬ یوې مجمع ته تشریف راوړو ددې دتلاوت فرمانیلو سره نی اوفرمانیل دوی به یوبل ته ګوری. دلته به دوی ته هیڅ مشقت سزا او تکلیف نه وی. بخاری اومسلم کښې دی حضورﷺ فرمائی ماته د الله تعالی حکم شوې دې چه زه حضرت خدیجه k ته د جنت د سرو زرو د محل زیرې واوروم په کوم کښې چه نه شور شته نه تکلیف نه مصیبت([1]) دا جنتیان به هیڅ کله هم د جنت نه نه شی ویستلې. په حدیث کښې دی دوی ته به فرمانیلی شی اې جنتیانوتاسو به همیشه صحت مندنی کله به بیمار نه شنې همیشه به ژوندی نی مړه کیږنی به نه همیشه به خوانان نی بوډاکان کیږنی به نه اوهمیشه به هم دلته ئی ویستلې کیږنی به نه.([2]) په یوبل آیت کښې دی چه هغوی به د مکان د بدلولو خواهش نه کوی نه به د هغوی ځایٔ د هغوی نه اخستې شی. اې نبی ﷺ ته زما بندیګانوته اووایه چه زه ارحم الراحمین یم اوزما عذابونه هم ډیر سخت دی. هم د دې په شان آیاتونه نور هم تیرشوی دی. د دې نه مراد دا دې چه مؤمنانوله د امیدسره ویره هم ساتل پکار دی. حضور ﷺ خپل صحابه کرام له راغې اوهغوی په خنداباندې لیدوسره فرمائی جنت اودوزخ یاد کړئی. دې وخت کښې دا آیاتونه نازل شو. دا مرسل حدیث په ابن ابی حاتم کښې دی حضورﷺ د بنوشیبه په دروازه باندې صحابه کرامو ﭬ له راغې وائی زه خو تاسو په خندا وینم. دې ارشاد کولوسره واپس شو او د حطیم د خوانه په شاته قدمونو بیا مونږ له راغلو او وئی فرمائیل چه اوس زه روان ووم چه جبرائیل ﷺ راغلو وئی فرمائیل چه الله تعالی فرمائی چه ته زما بندیګان ناامیده کوې؟ هغوی ته زما د غفور اورحیم کیدو اوزما د عذابونو المناك کیدو خبر ورکړه([3]) یو بل حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی که بندیګان د الله تعالی معافی معلومه کړی نود حرامو بچ کیدل به پریږدی اوکه د الله تعالی عذابونه ئی معلوم کړل نو خپل ځان به پخپله هلاك کړی.([4])

وَنَبِّئۡهُمۡ عَنۡ ضَيۡفِ اِبۡرٰهِيۡمَ ۝٥١ اِذۡ دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ فَقَالُوۡا سَلٰمًا ؕ
اوخبرکړه دوئ دمیلمنو | دابراهیم علیه السلام نه | کله چې | ورننوتل هغوئ | په هغه باند | نواووئیل هغوئ | سلام دوی په تا
اودوئ ته د ابراهیم ﷺ د میلمنو قصه واوروه | څه وخت چې دوئ هغه ته ورغلل | نو دوئ سلام واچولو
قَالَ اِنَّا مِنۡكُمۡ وَجِلُوۡنَ ۝٥٢ قَالُوۡا لَا تَوۡجَلۡ اِنَّا
اووئیل هغه | بیشکه مونږه | ستاسو نه | یریدونکی یو | اووئیل هغوئ | مه یریږه ته | بیشکه مونږه
(ابراهیم ﷺ) اووئیل چې مونو خو ستاسو نه ویریږو | دوئ اووئیل چې ته مه ویریږه | مونږ
نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ ۝٥٣ قَالَ اَبَشَّرۡتُمُوۡنِىۡ عَلٰٓى اَنۡ
زیرې درکوئ تاته | په هلك پوهه سره | اووئیل هغه | ایا زیرې راکوئ تاسو مالره | سره ددې چې
تا ته دیو هوښیار څوئي د پیداکیدو زیرې درکووا | ابراهیم ﷺ اووئیل چې تاسو ما ته

[1] ) صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب تزویج النبی ﷺ وفضلها: ٣٨١٦، ٣٨٢٠ صحیح مسلم: ٢٤٣٢-٢٤٣٥، بیهقی: ٣٠٧/٧، المعجم الاوسط: ٢٢٢١، المعجم الصغیر: ١٩، مسندابی یعلی: ٦٧٩٧.
[2] )صحیح مسلم کتاب الجنة باب فی دوام نعیم اهل الجنة: ٢٨٣٧، ترمذی: ٣٢٣٦، مسنداحمد: ٣٨/٣، المعجم الصغیر: ٢١٢، الترغیب والترهیب: ٥٧٦١، خو په بخاری او ترمذی کښې وان لکم ان تقیموا فلا تظعنوا ابدًا الفاظ نشته.
[3] ) الطبری: ٣٩/١٤.
[4] ) الطبری: ٣٩/١٤.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَّسَّنِيَ | الْكِبَرُ | فَبِمَ | تُبَشِّرُوْنَ۝۵۴ | قَالُوْا | بَشَّرْنٰكَ |
| رسيدلې دې ماته | بوډاوالي | نوپه کومه وجه | تاسو زيرې راکوئ | اوونيل هغوئ | چې زيرې درکومونږتاته |

په دې حال کښې زيرې راکوئ؟چې زه بوډا يم انود څه خبرې زيرې راکوئ | فرشتواوونيل چې مونږ د يوې

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بِالْحَقِّ | فَلَا تَكُنْ | مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ۝۵۵ | قَالَ | وَمَنْ يَّقْنَطُ |
| په حقه سره | نومه کيږه ته | دناامېده خلقو نه | اووئيل ابراهيم عليه السلام | او څوک به نااميده کيږي |

رينښتيني خبرې زيرې درکوو!نو ته نااميده کيږه مه!ابراهيم اووئيل چې د ګمراهانو نه سوا بل هيڅ

| | | |
|---|---|---|
| مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ | اِلَّا | الضَّآلُّوْنَ۝۵۶ |
| درحمت درب خپل نه | مګر | ګمراهه خلق |

څوک د خپل رب د رحمت نه نه نااميده کيږي |

قوله تعالى:- اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ۝

**حضرت ابراهيم عليه السلام ته دحضرت اسحاق عليه السلام زيرې** :- لفظ(ضيف)په واحداو جمع دواړوکښې استعماليږي لکه ذوراوسفر دا فرښتې وې چه د ښانسته انسانانو په شکل کښې حضرت خليل الله عليه السلام له راغلې وې هغه سخي حلال کړو دهغه غوښه ئې وريته کړه اودميلمنو په وړاندې کيخوده.کله چه ئې اوکتل هغوی لاس نه وراوړی نو اوويريدلو او ونې فرمائيل چه ماته خوستاسو نه ويره لګی. فرښتو تسلي ورکړه چه ويريږه مه بيائې دحضرت اسحاق عليه السلام د کيدو زيرې ورکړو لکه چه په سورت هودکښې دی نو هغوی د خپل ځان او بی بی د زوړوالی عذرمخې ته کړو او خپله حيرانتيا لرې کولودپاره اووعده ثابتولود پاره ئې تپوس اوزړو چه په دې حال کښې به زمونږ بچې کيږي؟فرښتو په کلکو الفاظوسره وعده دوباره اوکړه اود نااميدئې نه د لرې کيدو تعليم ئې ورکړو نو هغوی د خپلې عقيدې ځرګندونه اوکړه چه زه نااميده نه يم يقين لرم زمارب د دې نه هم په لويو خبرو باندې قدرت کامله لري.

| | | |
|---|---|---|
| قَالَ | فَمَا | خَطْبُكُمْ |
| بيا اووئيل ابراهيم عليه السلام | نورڅه دې | مطلب ستاسو |

ادۀ اووئيل ائې فرښتو تاسو څه دپاره راغلي يئ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ۝۵۷ | قَالُوْٓا | اِنَّآ اُرْسِلْنَآ | اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ۝۵۸ | اِلَّآ |
| اے رالیږلي شوو | اووئيل هغوئ | بيشکه رالیږلي شوی يومونږه | قوم مجرم ته | مګرنۀ |

.................هغوی اووئيل چې مونږ د يو نافرمانه قوم طرفته رالیږلي شوي يو | سوا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اٰلَ لُوْطٍ | اِنَّا | لَمُنَجُّوْهُمْ | اَجْمَعِيْنَ۝۵۹ | اِلَّا | امْرَاَتَهٗ |
| آل دلوط ته | بيشکه مونږه | خامخا بچ کونکی يومونږدهغوئ | ټولو | بغيرا | دښځې دهغه نه |

د لوط عليه السلام د کور والو نه مونږ به دوئ ټول بچ کړو | ........................سواد هغه د ښځې نه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قَدَّرْنَآ | اِنَّهَا | لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ۝۶۰ | فَلَمَّا | جَآءَ |
| چې اندازه کړې ده مونږه | چې بيشکه هغه | دروستو پاتې کيدونکو نه دد | نوکله چې | راغلل |

مونږ فيصله کړې ده چې هغه به په روستو پاتې کيدونکو خلقو کښې وی | کله چې

Scanned with Ca

آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُوْنَ ۙ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ۝

آل دلوط علیه‌السلام ته| رالیږلي شوي استاذي| اوونیل لوط علیه‌السلام | بیشکه چې تاسو|یو قوم یئ| ناآشنا

فرشتې د لوط ﷺ کورنۍ ته راغلې | لوط ﷺ ورته اووئیل چې تاسو خو ناآشنا خلق ښکاریږئ

قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ۝

اووئیل هغوئ| بلکه | راغلي يو مونږ تاته| په هغه سره| چې وو دوئ| په هغې کښې | چې شك به ئې کولو

فرشتو ورته اووئیل نه| بلکه مونږ خودرته هغه څيز راوړي دي چې دوئ به په کښې شک کولو

وَاٰتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۝ فَاَسْرِ

| او راغلي يو مونږ تاته | په حق سره | او بيشکه مونږ | خامخا رښتيني يو| نو بوځه

اومونږ تاته يوه حق خبره راوړې ده | ....... اومونږ بالکل ريښتوني يو | .......... نو د شپې

بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ

کور والا خپل | په لږ حصه دشپې کښې | او ځه | روستو په هغوئ پسې | او نۀ دګورې واپس

په يوه حصه کښې خپل کور والا اوباسه | اوته هغوی پسې روستو ځه | او په تاسو کښې دې

مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ تُؤْمَرُوْنَ ۝ وَقَضَيْنَآ

ستاسونه | هيڅوك | او ځئ | هغه ځای ته | چې تاسو ته حکم کيږي دهغې | او فيصله اورسوله مونږه

هيڅوک شاته نه ګوري | اود کوم ځائې حکم چې درته شوې دې | هلته لاړشئ | اومونږ هغه (لوط)

اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِيْنَ ۝

هغه ته ددې کار | چې بيشکه| جرړې| ددې خلقو| به پرې کړې کيږي| په صباصبا کښې|

ته د دې خبرې فيصله اوليږله | چې صبا راخيژي نو د دې خلقو به جرړې کټ کړې شوې وي |

**قوله تعالى:- اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ۝**

**د لوط ﷺ په قوم باندې د الله تعالى د عذاب نازليدل:-** -دابراهيم ﷺ نه چه کله ويره لاړه اوزيرې هم ورکړې شو نو بيائې د فرښتونه د هغوی د راتلود وجه تپوس اوکړو هغوی وئيل چه دلوطيانو کلي په هغوی باندې رااړولود پاره راغلې يوخودحضرت لوط ﷺ آل به بچ خلاصې بيامومي اوبه دې آل کښې دهغه ښځه بچ کيدې نه شي هغه به قوم سره پاتې شي او په هلاکت کښې به هغوی سره هلاکيږي.

**د فرښتو د هلکانو په شکل کښې راتلل:-** دافرښتې د ښکلي ځوانانو هلکانو په شکل کښې حضرت لوط ﷺ له لاړې نوحضرت لوط ﷺ ونيل چه تاسوخو بالکل ناشنا اوناپيژندګلوخلق ئې.نوفرښتو راز ښکاره کړو چه مونږ دالله تعالى عذاب راوړې دې کوم چه ستاقوم نه منلو اود کوم په راتلوکښې چه ئې شك شبه کوله. مونږ حق اوقطعي حکم راوړلې راغلي يواوفرښتې په حقه سره نازليږي اومونږهم يو رښتونې کوم خبرچه تاته درکوو هغه به کيږي چه تاسو به خلاصې بيامومئ او ستادا کافر قوم به هلاك شي.

**سفر کښې د کمزورو خيال ساتل:-** حضرت لوط ﷺ ته فرښتې وانې چه د شپې څه حصه په تيريدو باندې ته خپل کسان ځان سره واخله لاړشه. پخپله ته د هغه ټولونه روستو ځه د پاره چه د هغوی په ښه شان سره خيال اوکړې شي. هم دا سنت د رسول الله ﷺ وو چه حضور ﷺ به د لښکر نه په آخرکښې تلو چه د

Scanned with Ca

كمزوروواو پرتوخلقو خيال اوساتلې شي. بيائې اوفرمائيل چه كله عذاب راشي اودهغوى چغې صورې واورې نو هغوى ته هيڅ كله هم مه گوره هغوى هم په دغه عذاب كښې پريږده اوتاته د تلوحكم دې. لاړه شه لكه چه هغوى سره څوك ووچه هغوى ته ئې لارخودله. مونږ د اول نه حضرت لوط ﷺ ته فرمائيلي وو چه د سحر په وخت كښې به داخلق ختم كړې شي لكه چه په دويم آيت كښې دي چه د هغوى د عذاب وخت سحردې چه ډيرزيات نيزدې دې. (١)

وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ | يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝ | قَالَ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ | ضَيْفِىْ

اوراغلل دښار خلق | چې زيرې ئې وركول يو بل ته | اووئيل لوط بيشكه دا كسان | ميلمانه زما دي

اود ښار خار خلق په خوشحالئ خوشحالئ راغلل | (لوط ﷺ) اووئيل دا خو زما ميلمانه دي

فَلَا تَفْضَحُوْنِ ۝ | وَاتَّقُوا اللّٰهَ | وَلَا تُخْزُوْنِ ۝ | قَالُوْٓا | اَوَلَمْ نَنْهَكَ

نوبې عزتي مه كوئ زما | اواوريرېږئ د الله نه | اومه شرمنده كوئ ما | هغوئ اووئيل | ايانه وې منع كړې مونږ ته

نو تاسو ما مه شرموئ | اود الله نه اوويرېږئ | اوزما بې عزتي مه كوئ | هغوى اووئيل ايا مونږ ته د خلقو د

عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ | قَالَ | هٰٓؤُلَآءِ | بَنٰتِىْٓ | اِنْ كُنْتُمْ | فٰعِلِيْنَ ۝

دخلقو نه | اووئيل لوط ﷺ | دا | لونړه زما دي | كه يئ تاسو | كونكي

حمايت نه نه وې منع كړې | (لوط) اووئيل دا زمالونړه دي (دوئ واده كړئ) | كه تاسو خامخاځه كول غواړئ

لَعَمْرُكَ | اِنَّهُمْ | لَفِىْ سَكْرَتِهِمْ | يَعْمَهُوْنَ ۝

زمادې قسم وي په به ژوندستا اے نبي | چې بيشكه هغوئ | خامخا په نشه خپله كښې | سرگردانه گرزيدل

(ائې نبي ﷺ ستا په ژوند مې دې قسم وي | چې هغوئ په خپله نشه كښې رانده كانړه شوي وو

فَاَخَذَتْهُمُ | الصَّيْحَةُ | مُشْرِقِيْنَ ۝ | فَجَعَلْنَا | عَالِيَهَا

نواونيول هغوئ لره | يو هيبتناك اواز | په وخت دنمر دختلو كښې | نوكړومونږه | پورته طرف دهغې ښار

نو د نمر ختلو سره په هغوى باندې يوه هيبتناكه چغه راغله | بيامونږ ددې كلو پورته طرف لاندې

سَافِلَهَا | وَاَمْطَرْنَا | عَلَيْهِمْ | حِجَارَةً | مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝ | اِنَّ

لاند طرف دهغې | اواوورول مونږه | په هغوئ باند | كاڼړي | چې جوړوۀ دپخې ختې نه | بيشكه

كړل | اومونږ په هغوى باندې د پخې ختې كاڼړې اوورول | ............ يقينا په دې

فِىْ ذٰلِكَ | لَاٰيٰتٍ | لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ۝ | وَاِنَّهَا | لَبِسَبِيْلٍ

په دې واقعه كښې | ډيرې نښې دي | دپاره دپوهې دخاوندانو | اوبيشكه هغه كلي | پروت دي په لاره

كښې د غور او فكر كونكو دپاره نخښې دي | او بيشكه هغه (كلي) په نيغه اباده لاره باندې

مُّقِيْمٍ ۝ | اِنَّ | فِىْ ذٰلِكَ | لَاٰيَةً | لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝

چلنده باند | بيشكه | په هغې كښې | خامخا نښه دعبرت ده | دپاره دمومنانو |

پراته دي | بيشكه په دې كښې دايماندارو دپاره نخښې دي

**قوله تعالى:- وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝**

---

(١) ١١/هود:٨١.

Scanned with Ca

**د لوط ﷺ د قوم غیراخلاقی اوغیرفطری حالت:**-کله چه قوم لوط ته معلومه شوه چه حضرت لوطﷺ کره ښائسته خوانان میلمانه راغلی دی نوهغوی دخپلې بدې ارادې په پوره کولوکښې په خوشحالوسره راغله.دالله تعالی پیغمبر هغوی پوهه کول شروع کړه د الله تعالی نه اوویرېږئی زما د میلمنوپه وړاندې ما مه رسواکوئی دې وخت کښې حضرت لوطﷺ ته پخپله هم معلومه نه وه چه دا فرښتې دی لکه څنګه چه په سورت هودکښې دی. دلته د هغې ذکر روستو دې اود فرښتو ښکاره کیدل اول ذکرشوی دی خو د دې نه ترتیب مقصود نه دې واو د ترتیب د پاره وی هم نه اوخاصکر په داسې ځائې کښې چرته چه د هغې خلاف دلیل موجود وی. لوط ﷺ هغویته وائی چه زما بې عزتی مه کوئی خو هغوی جواب ورکوی چه کله ستا دا خیال وو نو دوی تا خپل میلمانه ولې جوړکړل موږ خو ته د دې نه منع کړې وې. بیا هغوی دوی نور هم پوهیولوسره اوفرمائیل چه ستاسو ښځې زما لوڼړه دی هغه د خواهش پوره کولو ځیزونه دی دا نه دی. د دې پوره بیان په ډیر وضاحت سره موږ اول بیان کړې دې په دې وجه د بیا سردوباره کولوحاجت نشته. دا خلق په خپله مستئی کښې وو اوکومه قضااو عذاب چه د هغوی په سرونوباندې زوړندوو هغې نه غافل وو. د دې د پاره الله تعالی د خپل نبی ﷺ د عمر قسم خوری اود هغوی داحال بیانوی په دې کښې د نبی کریم ﷺ ډیرتکریم او عظمت دې. ابن عباسﷺ فرمائی چه الله تعالی څومره مخلوق پیداکړې دې په هغې کښې دحضورﷺ نه بزرګ بل څوك نشته.الله تعالی د حضورﷺدحیات مبارك نه علاوه د بل چا د حیات قسم نه دې خوړلې﴿سكرة﴾نه مرادضلالت او ګمراهی ده هم په دې کښې هغوی لوبې کولې او په تردد کښې وو.

**دَ قوم لوط دَتباهئی ذکر:**-دنمرراختوپه وخت کښې دآسمان نه یوزړه درزونکې اوسینه شلونکې غرمبارآواز راغلو اودې سره د هغوی کلی پورته اوچت شو آسمان ته نیزدې اورسولې شو اود هغه ځائې نه راوغورزولې شو پاسنئی حصه لاندې اولاندینئی حصه پاس شوه اودې سره په هغوی باندې د آسمان نه کانړې راووریدل لکه چه د پخې خاورې ککړشوی کانړې (فوتکانړې) په سورت هودکښې د دې تفصیلی بیان شوې دې څوك چه هم د بصیرت بصارت نه کار واخلی اوګوری واوری سوچ اوکړی د هغوی د پاره خو په دې کلوکښې لوئ لوئ نښې موجود دی. داسې پاك او پرهیزګارخلق خو د ذره ذره څیزونونه عبرت اونصیحت حاصلوی پنداخلی او په غورسره دا واقعات وینی او حقیقت عالم ته رسی. تامل او غور اوفکر کولوسره خپل حالت صحیح کوی

**د مخلص مؤمن علامت:**-ترمذی وغیره کښې حدیث دې رسول اللهﷺ فرمائی د مؤمن دعقل مندئی اود لرې نظر ساتلو لحاظ اوساته هغوی د الله تعالی په نور سره ګوری([1])بیا هغوی هم دا آیت تلاوت کړو. په یوبل حدیث کښې دی هغوی د الله تعالی په نور اود هغه په توفیق سره ګوری.([2])بل حدیث کښې دی د الله تعالیٰ بندیګان خلق د هغوی د نښونه پیژنی([3])دا کلی په عام لارکښې موجود دی په کومو چه ظاهری او باطنی عذاب راغلو اولټه ئی کړل.کانړې ئی اوخوړل اودعذاب نښه جوړشو اوس یوخراب او مرداره غونډې ډنډ جوړشوې دې تاسو شپه ورځ په هغې باندې ځنی راځئی عجیبه ده چه بیا هم عقل مندئی نه کارنه اخلئی.غرض صفا واضحه د تلوراتلوپه لار باندې دا اولټه کړې شوې کلې پراته دی. دا هم معنی کړې شوې ده چه هغه په کتاب مبین کښې دی خودا معنی څه ډیره ښه نه لګی.والله اعلم. په الله تعالی اود هغه په رسول ﷺ باندې د ایمان راوړونکودپاره دا یوکولاو دلیل او ښکاره نښې دی چه

---

[1] ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الحجر: ٣١٢٧.

[2] الطبری:١٢٢/١٧، حلية الاولياء:١١٨/٦.

[3] الطبری:١٢١/١٧،مجمع الزوائد: ٢٦٨/١٠، المعجم الاوسط:٢٩٥٦، مسندالشهاب:١٠٠٥.

Scanned with Ca

څنګه الله تعالی خپل منونکی خلاصوی او خپل دښمنان غرق کوی.

| |
|---|
| وَإِنْ كَانَ أَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ لَظٰلِمِينَ ۝ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ |
| او بیشکه چی وؤ \| خاوندان دایکې \| خامخا ظالمان \| نو بدله واغستله مونږه \| دهغوئ نه |
| اود بڼرو اوسیدونکی (قوم دشعیب ﷺ) ډیرظالمان وو \| نومونږ د هغوی نه انتقام واخستل |
| وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ۝ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْحِجْرِ |
| او بیشکه علاقې ددواړو \| په لاره \| ښکاره کښې دی \| او دروغ ګنړلی دی \| اوسیدونکو دحجر |
| اودا دواړه (هلاک شوی) کلی په لویه لار پراته دی \| اودحجر اوسیدونکو خلقو پیغمبران |
| الْمُرْسَلِينَ ۝ وَآتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ۝ |
| رسولانو لره \| او ورکړل مونږه هغوئ ته \| نښې خپلې \| نو وؤ هغوئ \| دهغې نه \| مخ اړونکی |
| دروغژن ګنړلی وو \| اومونږ هغوی ته خپلې نخښې ورکړې \| خوهغوی ترې مخونه اړوونکې وو |
| وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا اٰمِنِينَ ۝ فَأَخَذَتْهُمُ |
| اووؤ هغوئ \| چی کنستل به ئې \| دغرونو نه \| کورونو \| په امن کښې وؤ \| نو اونیول هغوئ لره |
| اوهغوی به په غرونو کښې کورونه تراشل \| او هغوی بې غمه وو \| ............ نو په هغوی باندې |
| الصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ۝ فَمَا أَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوا |
| یو هیبتناك آواز \| په وخت دصبا کښې \| نودفع نه کړو عذاب \| دهغوئ نه \| هغې کارونو \| چی وؤ هغوئ |
| د سحر په وخت کښې یوه چغه اوشوه \| نو هغوی چې څه کړی وو هغه ئې هیڅ په کار |
| يَكْسِبُونَ ۝ |
| چی کول به ئې \| |
| رانغلل \| |

**قوله تعالی:-** وَإِنْ كَانَ أَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ لَظٰلِمِينَ ۝

**ډ قوم شعیب ﷺ انجام:-** داصحاب ایکه نه مراد د حضرت شعیب ﷺ قوم دې.ایکه وائی د ونو جنګنی ته.دهغوی ظلم دشرك اوكفر نه علاوه ډاکې اوناپ تول کښې کمې هم وو دهغوی کلی لوطیانو سره نیزدې وو اود هغوی زمانه هم هغوی سره بالکل نیزدې وه په دوی باندې هم د دوی د شیطانو په وجه د الله تعالی عذاب راغلودادواړه کلی په عام غټو لاروکښې وو.حضرت شعیب ﷺ خپل قوم په ویرولو سره اوفرمائیل چه د لوط ﷺ قوم تاسو نه څه لرې نه وو. (¹)

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ۝

**ډ ثمودیانوالمناک انجام:-** دحجروالانه مرادثمودیان دی کومو چه خپل نبی حضرت صالح ﷺ دروغژن ګنړلې وواودابښکاره خبره ده چه دیونبی دروغ ګنړل لکه دټولوانبیاءکرامونه انکاردې.پدې وجه اوفرمائیلې شوچه هغوی نبیان دروغژن اوګنړل هغوی له داسې معجزې راغلې په کوموسره چه د

---

(¹) ١١/هود:٨٩.

حضرت صالح ﷺ صداقت په هغوی ښکاره شو لکه د یوسخت کانړي نه د اوښې راوتل چه هم د هغوی په ښارونوکښې ګرځیدله اویوه ورځ به هغې اوبه څکلې او یوه ورځ د قوم څناورو.خو بیا هم دا خلق نافرمانه ووا و هغه اوښه ئی اووژله هغه وخت حضرت صالح ﷺ اوفرمائیل بس اوس به په دریو ورځو کښې دننه دننه په تاسو د الله تعالی قهر نازلیږي دا بالکل رښتوني وعده ده اواټل عذاب دې. دې خلقودالله تعالی په لارخودلو سره هم په خپل روندتوب ترجیح ورکړه.دې خلقویه صرف دخپل طاقت دښکاره کولود پاره اود ریاکارئی کولو د پاره په کبر او لوئی سره په غرونوکښې کورونه جوړول. د څه ویرې یا ضرورت د پاره دا نه وو.

**په هلاک شوؤ قومونو باندې په ژړا تیریدل پکار دی:-** کله چه رسول الله ﷺ جنګ تبوك له تلو نو په لار کښې داکورونه اوکتل نو حضورﷺ په سرباندې کپړا واچوله او سورلی تیزه کړه او خپلو ملګرو ته ئی اوفرمائیل په چا چه عذاب راغلې دې د هغوی په کلوباندې په ژړاسره تیریږئی که ژړا نه درځی نو د ژړا شکل جوړکړئی اوتیرشئی داسې نه چه هم ددې عذابونو تاسو هم ښکار شئی([1])آخر په څلورمه ورځ سحر په هغوی باندې د الله تعالی عذاب د یو چغې په شکل کښې راغلو هغه وخت د هغوی ګټې هیڅ په کار رانغلې دکومو فصلونو او میوو دحفاظت د پاره اود هغې د زیاتولود پاره د اوښې اوبه څکل نه خوښولوسره هغه قتل کړې وه هغه ټول نن بې فائدې ثابت شو اود رب امر خپل کار اوکړو.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَمَا خَلَقْنَا | السَّمٰوٰتِ | وَالْاَرْضَ | وَمَا | بَيْنَهُمَآ | |
| اونه دی پیداکړي مونږ | آسمانونه | اوزمکه | اوهغه څه | چې په منځ ددې دواړوکښې دی | |
| اومونږ آسمانونه او زمکه او د دې دواړو په مینځ کښې چې څه دی بې کاره | | | | | |
| اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ | وَاِنَّ | السَّاعَةَ | لَاٰتِيَةٌ | فَاصْفَحِ | الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ |
| مګر په حقه | او بیشکه | وخت دفیصلې | خامخاراتلونکې دې | نوځنګ کوه | ځنګ ښکلې |
| نه دی پیدا کړي | اوبیشکه قیامت خامخا راتلونکې دې | نو ته په ښکلې طریقه د دوئ نه ډډه اوکړه | | | |
| اِنَّ | رَبَّكَ | هُوَ | الْخَلّٰقُ | الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾ | |
| بیشکه | رب ستا | هم هغه | ښه پیدا کونکې دې | او پوهه دې | |
| بیشکه ستا رب د هر څیز خالق دې | په هرڅیز پوهه دې | | | | |

**قوله تعالی:- فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾**

**دمشرکانونه د سترګو پټولوحکم:-** الله تعالی ټول مخلوق په عدل سره جوړکړې دې. قیامت راتلونکې دې. بدو ته به بده او نیکانوته به نیکې بدلې ملاویدونکې دی.مخلوق په باطل سره نه دې پیداکړې شوې داسې د کافرانوګمان دې اود کافرانو دپاره ویل او دوزخ دې. بل آیت کښې دی آیا تاسو داګنړئی چه مونږ تاسو بې کاره پیداکړې ئې اوتاسو به زمونږ طرف ته واپس نه راګرځئی. اوچت دې الله او مالك د حق دې د چا نه بغیرچه بل څوك د عبادت لائق نشته اود عرش کریم مالك هم هغه دې. ([2])

**داحکم دجهاد دحکم نه مخکښې وو:-** بیا خپل نبیﷺ ته حکم ورکوی چه د مشرکانونه سترګې پټې کړه د هغوی تکلیف او دروغ ګنړل او بده وینا برداشت کړه لکه چه په بل آیت کښې دی دوی نه سترګې پټې

---

[1] صحیح بخاری، کتاب المغازی، باب نزول النبیﷺ الحجر:٤٤١٩، صحیح مسلم: ٢٩٨٠، مسند حمیدی:٦٥٣، بیهقی: ٤٥١/٢، السنن الکبری للنسائی:١١٢٧٤، ابن حبان: ٦٢٠٠، المعجم الکبیر:١٣٥٤، مصنف عبدالرزاق: ١٦٢٥، احمد:٥٨/٢، مسند عبدبن حمید:٧٩٨

[2] ٢٣/المؤمنون:١١٥-١١٦.

Scanned with Ca

کړه او سلام ورته اووایه دوی ته به اوس معلومه شي[1] داحکم د جهاد د حکم نه وړاندې وو دا ایت مکی دې او جهاد پس د هجرت نه مقرر او شروع شوې دې. ستا رب خالق دې اوخالق د وژلونه پس هم په پیداکولوباندې قادردې هغه د یوڅیز باربار پیداکول سترې کولې نه شي. ذرې کومې چه خورې شي هغه راجمع کول او په هغې کښې ساڅولې شي. لکه چه ارشاددې ﴿أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ﴾ ([2]) د آسمان او زمکې خالق ولې د دې په شان دپیداکولوقدرت نه لري؟بې شکه هغه پیداکونکې او علم والا دې. هغه چه کله د یوڅیز د کولواراده کوی نوهغې ته د کیدلو حکم فرمائی بس هغه کیږي. پاك ذات دې د هغه الله تعالی د چا په لاس کښې چه د هرڅیز ملکیت دې اوهم د هغه طرف ته به تاسو ټول ورواپس کولې شئ.

وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا

او درکړی دی مونږ تاته | اوه |
اومونږ تاته داسې اووهٔ

مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ ۝ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ

دبار بار لوستونکو آیتونونه | او درکړې مو دې قرآن | چې لویٔ دې | مهٔ اوږد وه | سترګې خپلې
ایتونه درکړی دی | چې دوه دوه خله لوستلې شي | اولوئې قرآن (مو درکړې دې) ته خپلې سترګې

إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ

هغه سامان ته | چې نفع ورکړی ده مونږه | په هغې سره | مختلف قسم خلقوله | ددویٔ نه | او خفګان مهٔ کوه
په هغه څیزونو پسې مه پورته کوه | کوم چې مونږ د دې کافارنو مختلفو قسمونو ته ورکړی دی

عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝

په هغویٔ باند | اوښکته کړه | وزر خپل | دپاره دمومنانو |
اوددویٔ په باره کښې غم مکوه | اود ایماندارو سره نرمی کوه |

**قوله تعالي:-** وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ ۝

**سبع مثاني نه څه مراد دی:-** اې نبی مونږ چه د قرآن پاك په شان عظیم اولازوال دولت تاته درنصیب کړو نوتاله نه دی په کارچه ته دکافرانو دنیاوی مال اوسامان ته شان اوشوکت ته دحسرت په نظر اوګورې. داټول خو فانی دی اوصرف د هغوی د ازمینښت د پاره د یوڅوورخود پاره هغوی ته ورکړې شوی دی او دې سره د هغوی ایمان نه راوړوباندې تاله خفګان او افسوس هیڅ ضرورت نشته. اوتاله پکار دی چه په نرمئی سره په اخلاقو سره عاجزئی او میلمه دوستئی سره مؤمنانوسره مخامخ کیږې.لکه چه ارشاد دې ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ﴾ ([3]) خلقو تاسوله هم ستاسو نه یورسول راغلې دې په چا باندې چه ستاسو تکلیف ډیرګران پریوځی ستاسو دښیګړې د زړه نه خواهش کوی چه په مسلمانانوباندې په اوچته درجه شفیق او مهربان دې.

[1] ٤٣/الزخرف:٨٩.
[2] ٣٦/یٰس:٨١.
[3] ٩/التوبة:١٢٨.

Scanned with Ca

**د سبع مثاني متعلق مختلف اقوال:-** د سبع مثاني په نسبت يوقول دا دې چه دې نه مراد د قرآن كريم د شروع اووه سورتونه دي.بقره، آلعمران، نساء، مائده، انعام، اعراف او يونس[1] دا ځكه چه په دې سورتونوكښې د فرائضو اوحدودو دقصواو احكامو په خاص طريق باندې بيان دې. دغه شان مثالونه خبرونه عبرتونه هم زيات دي.بعضود سورت اعراف پورې شپږ سورتونه شميرلي او اووم سورت ئې انفال اوبراءت خودلې دهغوى په نيزد دا دواړه سورتونه يوځائ يوسورت دې.د ابن عباس ﷺ قول دې چه صرف حضرت موسى ﷺ ته د دې نه دوه سورتونه ملاوشوې وو باقي يونبي ته بغير زمونږ د نبي كريم ﷺ داسورتونه نه دي ملاو. يوقول دادې چه اول حضرت موسى ﷺ ته شپږ ملاوشوې ووخوچه كله تختئي راګذاركړې نو دوه ترې اوچت كړې شو او څلور پاتې شو.يو قول دې د قرآن عظيم نه هم دا مراد دې. زياد رحمه الله وائي ماتاته اووه اجزاء دركړې دي. حكم، منع، بشارت، ويره او مثالونه. د نعمتونو شمير او قرآني خبرونه دويم قول دا دې چه د سبع مثاني نه مراد سورت فاتحه ده د كوم چه اووه آياتونه دي دا اووه آياتونه د ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ سره دي. دې سره الله تعالى ته مخصوص كړې ئې دا د كتاب شروع ده او په هريوركعت كښې وئيلې شي كه فرض مونځ وي اوكه نفل. ابن جرير رحمه الله هم دا قول خوښوي. اوپه دې باره كښې كوم احاديث نقل دي د هغې نه په دې باندې استدلال كوي. مونږ هغه ټول احاديث د فضائل سورت فاتحه په بيان كښې خپل ددې تفسير په شروع كښې ليكلي دي. فالحمدلله. امام بخاري رحمه الله په دې ځائ كښې دوه احاديث نقل كړې دي يو كښې ابوسعيدبن معلى ﷺ فرمائي چه ما مونځ كولوحضور ﷺ تشريف راوړزه ئې راوغوښتم خو زه د حضور ﷺ خواته رانغلم مونځ مې ختم كړو راغلم حضور ﷺ تپوس اوكړو چه هغه وخت ولې رانغلې؟ ما وئيل يارسول الله ﷺ ما مونځ كولو نوحضور ﷺ اوفرمائيلو چه ولې دالله تعالى دافرمان نه دې ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ﴾[2] يعني اې د ايماندارود الله اودهغه د رسول ﷺ خبره منئ كله هم چه هغه تاسو راوبلي واوره اوس زه تاته دجمات د وتلونه وړاندې وړاندې د قرآن كريم يو ډير لوئ سورت ښايم. لږ ساعت كښې چه كله حضور ﷺ تشريف يوړو نومادهغوى وعده ورياده كړه نو حضور ﷺ اوفرمائيل هغه سورت ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ فاتحه دې هم دا سبع مثاني او هم دغه لوئ قرآن دې كوم چه ما دركړو[3] په دويم حديث كښې دحضور ﷺ فرمان دې چه ام القرآن يعني سورت فاتحه سبع مثاني او قرآن عظيم دې.[4] صفاثابت شوه چه سبع مثاني نه پس اود عظيم قرآن نه مراد سورت فاتحه ده .

**دې كښې بل قول دې چې مراد ترې ټول قران پاک دې:-** خودا هم خيال ساتل پكار دي چه دې نه علاوه نور هم دا دي دهغې خلاف داحديثونه نه دي او پدې كښې هم دا حقيقت موندلې شي لكه څنګه چه د پوره قرآن كريم وصف هم ددې خلاف نه دې لكه چه ارشاد دې ﴿اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ﴾[5] نو په دې آيت كښې ټول قرآن ته سبع مثاني وئيلې شوې دې او متشابه هم نو هغه په يوشان باندې مثاني دې او بل شان سره متشابه. او قرآن عظيم هم دا دې لكه چه د دې روايت نه ثابت دي. د حضور ﷺ نه سوال اوشوچه په تقوى باندې د كوم جمات بنياد دې هغه كوم يودې؟ نو حضور ﷺ د خپل جمات طرف ته اشاره اوكړه[6] دا هم ثابت دي چه دا آيت د مسجد قبا باره كښې نازل شوې دې. نو قاعده دا ده د

---

[1] حاكم: ٢/٣٥٥،.
[2] ٨/الانفال: ٢٤.
[3] صحيح بخارى كتاب التفسير باب ماجاء فى فاتحة الكتاب: ٤٤٧٤.
[4] صحيح بخارى كتاب التفسير باب قوله ﴿ولقد اتينك سبعا من المثانى والقرآن العظيم﴾ ٤٧٠٤، شعب الايمان: ٢٣٥٢.
[5] ٣٩/الزمر: ٢٣.
[6] صحيح مسلم كتاب الحج باب بيان المسجد الذى اسس على التقوى هومسجد النبى ﷺ بالمدينة: ١٣٩٨.

Scanned with Ca

یو څیز ذکر دبل څیز نه انکار نه دې خو چه هغه هم دغه صفت لری. والله اعلم. نوتاله د هغوی د ظاهری شان اوشوکت نه بې پرواه اوسیدل پکار دی.

هم د دې فرمان په وجه امام ابن عیینه رحمه الله یوصحیح حدیث په کوم کښې چه حضور ﷺ فرمائیلی دی چه هغه زمونږ نه نه دې چه قرآن سره تغنی نه کوی.(١)دا تفسیرلیکې چه قرآن واخستلو اود دې نه د ماسوانه څوك لاس وانخلی بې پرواه نه شی هغه مسلمان نه دې.داتفسیربالکل صحیح دې خو د دې حدیث نه دا مقصود نه دې دحدیث صحیح مقصد زمونږ د دې تفسیرپه شروع کښې مونږ بیان کړې دې.ابن ابی حاتم کښې دی حضور ﷺ کره یوځل میلمانه راغله د حضور ﷺ په کورکښې هیڅ هم نه وو. حضور ﷺ د یو یهودی نه درجب په وعده اوړه قرض واخستل خوهغه ونیل چه بغیرد څه څیز ګانړه کولوزه نه درکوم. دغه وخت حضور ﷺ اوفرمائیل والله زه د آسمان والا کښې امین یم اود زمکې والا کښې هم که ده ماته قرض راکړې وې یانی زما په لاس خرڅ کړې وې نو ما به ضرور اداکول. نو آیت ﴿لاتمدن﴾ نازل شو(٢) نولکه چه د حضور ﷺ زړه ساتنه اوکړې شوه.ابن عباس رضی الله عنه فرمائی انسان له منع دی چه دچامال او سامان ته دحسرت په نظر سره اوګوری.دا کوم چه فرمائی د دوی خلقو ته چه کومه فائده مونږ ورکړې ده د دې نه مراد د کافرانو مالداران خلق دی.

| |
|---|
| وَقُلْ اِنِّیْٓ اَنَا النَّذِیْرُ |
| اووایه چې بیشکه زهٔ \| هم زهٔ \| یرونکې یم |
| \| اودا اووایه چې زه ښکاره |
| الْمُبِیْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِیْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِیْنَ |
| ښکاره \| لکه څنګه \| چې نازل کړې وۀ مونږه \| په ډله بازو باندې \| هغه |
| ویرونکې یم \| لکه څنګه چې مونږ په هغه قسم خوړونکو باندې عذاب نازل کړو چا چې |
| جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِیْنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْــَٔلَنَّهُمْ |
| چې جوړ کړو هغوئ \| قران \| ټوټې ټوټې \| نوقسم دې په رب ستا \| چې خامخابه تپوس کوؤمونږه دهغوئ له |
| قران ټکړې ټکړې کړو \| ..........زما دې ستا په رب قسم وی \| چې مونږ به د ټولو نه |
| اَجْمَعِیْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ |
| دټولو نه \| دهغه عملونو \| چې وۀ هغوئ \| چې کول به ئې \| |
| دهغه کارونو په باره کښې پښتنه کوو کوم چې دوئ کول \| |

قوله تعالی:- لَنَسْــَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿٩٢﴾

**د قیامت په ورځ د انکارکونکونه سوال کولې شی:-** حکم کیږی چه اې پیغمبر ﷺ! اعلان اوکړه چه زه ټول خلق دالله تعالی د عذاب نه صفاویرونکې یم. یادساتئی زما تکذیب کونکی به د وړاندینو په شان د پیغمبرانوتکذیب کونکی د الله تعالی دعذاب ښکارکیږی.

**د ﴿مُقْتَسِمِیْنَ﴾ مختلف معنې:-** ﴿مُقْتَسِمِیْنَ﴾نه مرادقسمونه خوړونکی دی چه دې خلقودالله تعالی قسمونه خوړلی اووعده ئی اوکړه چه شپه په شپه به مونږ صالح علیه السلام اود هغه کورنې قتل کړو.دغه شان په قرآن

---

(١) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول تعالی ﴿واسروا قولکم اواجهروابه.... الخ﴾٧٥٢٧،ابوداود:١٤٦٩،ابن حبان: ١٢٠، حاکم: ٥٦٩/١،احمد:١٧٥/١، مسندالشهاب:١١٩٢.

(٢) المعجم الکبیر:٩٧٩ مسندالبزار: ٣٨٤٣، مجمع الزوائد: ١٢٦/٤.

Scanned with Ca

کښې دی چه هغوی به قسمونه خوړل او وئیل به ئې مړی به بیا نه راژوندی کیږی([1])یوبل ځایٔ د هغوی ددې قسمونو ذکردې چه مسلمانانو ته کله هم څه رحمت نه شی ملاویدلې([2])غرض دا چه کوم ځیز به ئې نه منلوبه هغې باندې قسم خوړل دهغوی عادت وو په دې وجه هغوی ته ﴿مُقْتَسِمِيْنَ﴾ اووئیلې شو.

**درسول کریم صلی الله علیه وسلم د هدایت مثال:-** بخاری اومسلم کښې رسول الله ﷺ فرمائی زما اود دې هدایت مثال کوم چه راکولوسره الله تعالی زه رالیګلې یم د هغه سړی په شان دې چه خپل قوم له راشی اووائی خلقو ما د دښمن لښکر په خپلو سترګو لیدلې دې ګورئی هوښیار اوسیږئی د بچ کیدلو او نه هلاکیدلوسامان اوکړئی اوس څه خلق دهغه خبره منی اوپه دې مهلت کښې روانیږی اود دښمن د پنجې نه بچ کیږی خوبعضې خلق هغه دروغ ګڼړی اوهم هلته په بې فکرئی کښې پراته وی چه ناڅاپی د دښمن یولښکر راورسی او راګیرولوسره هغوی قتل کړی. نودا مثال زما د منونکو اونه منونکو دې. ([3]) دې خلقودالله تعالی کتابونه کوم چه دوی ته نازل شوې وویانړې پانړې کړل کومه مسئله ئې چه زړه غوښتله وئې منله اودکوم نه چه ئې زړه اوویریدلو پریخوده. صحیح بخاری کښې دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه دې نه مراد اهل کتاب دی چه د کتاب بعضې حصې منی([4]) اوفرمائی چه دې نه مرادیهوداونصاری دی([5])اوبعضې به ئې نه منلې اودا هم روایت دې چه دې نه د کفارودکتاب الله په نسبت دا وئیل چه داجادودې داکهانت دې دا دوراندینو قصې دی ددې لوستونکې جادوګر دې مجنون دې کاهن دې وغیره.

**دینه مراد د قریشو سرداران هم دی او ددوئ مشوره هم:-**سیرت ابن اسحاق کښې دی چه ولیدبن مغیره سره د قریشو سرداران راجمع شو د حج موسم نیزدې وو اوداسړې په هغوی کښې ډیرشریف اود رائې خاوند ګڼړلې شو.ده دې ټولوته اووئیل ګورئی دحج موسم دې د لرې لرې نه ټول عرب راجمع کیږی او تاسو ګورئی چه ستاسو دې ملګری یوشور ساز کړې دې نود ده په نسبت د بهرخلقو ته څه وئیبل پکاردی دا اوښائې او په یوه خبره باندې اجماع او غونډه اوکړئی چه ټول هم هغه خبره کوو چرته داسې نه وی چه ځوك څه وائی او ځوك څه دې سره خو به ستاسو اعتبار پاسی او هغه پردیسی خلق به تاسو دروغ ګڼړی. هغوی وئیل چه اې ابوعبدالشمس هم ته یوه داسې خبره اوتړه هغه وئیل اول خو تاسو اووائې چه ماته د غوراوسوچ کولو موقعه ملاوشی هغوی وئیل چه بیازمونږ په رائې کښې خوچه هرسړې ده ته کاهن وائی هغه وئیل داخودواقعه خلاف دی نو خلقو وئیل چه بیا مجنون وئیل خو بالکل صحیح دی هغه وئیل دا هم غلط دی دوئ وئیل ښه ده شاعرهغه جواب ورکړو چه هغه شعر پیژنی نه نو وئیل ښه ده بیا ورته جادوګر وایو. هغه وئیل چه د ده جادو سره هم څه تعلق نشته. هغه وئیل واورئی د ده په وینا کښې عجیبه خوږوالې دې اود دې خبرو نه چه کومه هم وائی دنیا پوهیږی چه صرف غلط او سپین دروغ دی نو هیڅ خبره نه جوړیږی خو څه وئیل ضروری دی. وئیل ښه ده ټول ده ته جادوګر وائې. په دې امر باندې دا ټولې برخاست شو اوهم د دې ذکر په دې آیاتونوکښې دې.

**د الله تعالی سوال د بنده نه په قیامت کښې:-**دهغوی د عملونو سوال به دهغوی رب دهغوی نه خامخا کوی یعنی دکلمه لااله الا الله([6])ابن مسعود ﷺ فرمائی چه دهغه الله تعالی قسم د چانه بغیرچه بل څوك

---

[1]) ١٦/النحل:٣٨.

[2]) ٧/الاعراف:٤٩.

[3]) صحیح بخاری کتاب الاعتصام باب قول النبی ﷺ بعثت بجوامع الکلم:٧٢٧٢، ٦٤٧٢ صحیح مسلم: ٢٢٨٣، مسندابی یعلی:٧٣١٠.

[4]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الحجر باب قوله عزوجل ﴿الذین جعلوا القران عضین﴾: ٤٧٠٥.

[5]) صحیح بخاری حواله سابق:٤٧٠٦.

[6]) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الحجر:٣١٢٦،

Scanned with Ca

معبود نشته چه په تاسو کښې به هریوسړې د قیامت په ورځ ځان له ځان له د الله تعالی په وړاندې پیش کیږی.څنګه چه هریوسړې د ځلوارلسمې سپوږمئی ځان ځان له ګوری الله تعالی فرمائی انسانه ته مانه مغرورشوی څنګه وې تاپخپل علم باندې ترکومې پورې عمل کړې تازمارسولانوله څه جواب ورکړې؟ ابوالعالیه رحمه الله فرمائی د دوو څیزونو سوال به د هریونه کولې شی معبود دې څوك جوړکړې وو اود رسول الله ﷺ دې منلی وو که نه؟ ابن عیینه رحمه الله فرمائی د عمل او مال سوال به وی. حضرت معاذ رضی الله عنه ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل ای معاذ د انسان نه به د قیامت په ورځ د هریوعمل تپوس کولې شی تردې چه د هغه د سترګې د رانجو اود لاس اخلې شوې خاورې باره کښې هم د ده نه سوال کیږی. ګوره معاذ داسې نه وی چه د قیامت په ورځ د الله تعالی د نعمتونوباره کښې ته د کمی والا پاتې نه شې.(١)

**یوسوال اودهغې جواب:**-په دې آیت کښې خودی چه د هریونه به د هغه د عمل باره کښې سوال کولې شی اود سورت رحمن په آیت کښې دی ﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ﴾(٢)په هغه ورځ به د یوانسان یا پیری نه دهغه دګناه سوال نه کیږی په دې دواړو آیاتونو کښې د ابن عباس رضی الله عنه د قول مطابق دا تطبیق دې دا سوال به نه کیږی چه تا دا عمل کړې؟بلکه دا سوال به کیږی چه ولې دې کړې.

| |
|---|
| فَاصْدَعْ بِمَا |
| \| نو په ښکاره اووایه اے نبی \| هغه |
| \| .............نوتاته چې دکوم کار |
| تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾ إِنَّا كَفَيْنَٰكَ |
| چې حکم کیږی تاته دهغې\| او مخ اوګرځوه\| دمشرکانو نه \| بیشکه مونږه کافی یو ستادطرفنه |
| حکم شوې دې هغه ښکاره باره اوروه \| او دمشرکانو پرواه مکوه \|مونږ ستادپاره د ټوقوکونکو په مقابله |
| الْمُسْتَهْزِءِينَ ﴿٩٥﴾ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَسَوْفَ |
| ټوقو کونکو خلقو لره \| هغه خلق \| چې جوړوی \| دالله سره \| معبود بل \| نو ډیر زربه |
| کښې کافی یو \| اوکوم کسان چې د الله ﷻ سره نور معبودان جوړوی \| ...............نو ډیر زر به |
| يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا |
| پته اولږی دوئ ته \| او معلوم دی مونږ ته\| چې بیشکه تۀ چې نې\| تنګیږی \| سینه ستا \| په هغه خبرو |
| ورته معلومه شی \| اومونږ ښه پوهیږو چې ددوئ په ویناګانو باندې ستا زړه |
| يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿٩٨﴾ |
| چې وائی نې هغوئ \| نو تسبیح وایه \| سره دحمد\| درب ستا \| اوشه \| دسجده کونکونه |
| تنګیږی \| نو ته د خپل رب تعریف سره پاکی بیانوه \| او سجده کونکو خلقو کښې شامل شه |
| وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴿٩٩﴾ |
| اوبندګی کوه\| درب خپل\| دهغې وخته پورې \| چې راشی تاته \| هغه وخت چې دهغې راتلل یقینی دی |
| اوتر یقین (مرګه)پورې د خپل رب عبادت کوه |

١) ابن ابي حاتم: ٩/٧٣.،
٢) ٥٥/الرحمن:٣٩.

**قوله تعالى:-** إِنَّا كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ۙ

**په رسول الله ﷺ د ټوقو کوونکو عبرتناک انجام:**-حکم کولې شي چه اې پيغمبرﷺ ته د الله تعالى خبرې خلقوته صفاصفا او بې ويرې اورسوه مه د چالحاظ ساته اومه د چا نه ويرېږه د مشرکانوپه وړاندې توحيد بالکل ښکاره بيان کړه. پخپله عمل کولوسره هم نوروته اورسوه. په مانځه کښې قرآن پاك په اوچت آواز سره تلاوت کوه. د دې آيت د نازليدلونه وړاندې به حضورﷺ پټ تبليغ کولو خود دې نه پس حضورﷺ اود هغه صحابه کرامو ﷡ په کولاوتوګه د دين اشاعت شروع کړو. دا ټوقې مسخرې کونکې مونږ ته پرېږده مونږ به پخپله دوی سره اوګورو ته د خپل تبليغ په کار کښې کوتاهي مه کوه. دوی خو غواړي چه ستادطرف نه لږه شان سستي اووينی نوهم پخپله به لاس راکاږي.ته دوی نه بيخی مه ويرېږه. الله تعالى ستا حافظ اوناصر دې هغه به تا ددوی د شر نه بچ کړي لکه چه بل ځایٔ ارشاد دې اې رسول ﷺ کوم چه ستا طرف ته رانازل کړې شوی دی ته هغه اورسوه که چرته تا داسې اونه کړل نو تا د خپل رب رسالت اونه رسولو.

الله تعالى به پخپله دخلقو د بدونه تا بچ کړي.(١) يوه ورځ حضورﷺ په لار روان وو نو بعضې مشرکانو هغوی اوچيړل هم هغه وخت حضرت جبرائيل ﷺ راغلو او هغوی ئی اووهل په کومو سره چه د هغوی په بدنونو کښې داسې اوشولکه چه په نيزه ئی زخمی کړې وی او هم په دې سره هغوی مړه شو. اودا خلق دمشراکانو لویٔ لویٔ مشران وو د ډير عمر وو اوډير شريفان به ګڼړلې شو دبنواسدد قبيلې نه خو اسودبن عبدالمطلب ابوزمعه دا دحضورﷺ ډير لویٔ دښمن وو تکليفونه به ئی ورکول او ټوقې به ئی وربورې کولې حضورﷺ ده نه تنګ راغلې وو اودده دپاره ئی بددعاهم کړې وه چه اې الله دې ړوند کړې او بې اولاده ئی کړې د بنی زهره نه اسود وواود بنی مخزوم نه وليد وو او د بنی سهم نه عاص بن وائل وو اود بنی خزاعه نه حارث وو. دا خلق به هروخت د حضورﷺ تکليف رسولوکښې اخته وو اوخلق به ئی د حضورﷺ خلاف راپاسول اوچه کوم تکليف به د هغوی په وس کښې وو نو حضورﷺ ته به ئی وررسولو.کله چه دوی پخپلوظلمونوکښې دحد نه زيات شواود حضورﷺ پورې به ئی خنداګانې کولې نو الله تعالى ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ اِنَّا كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝﴾ آياتونه نازل کړل.

**ددویٔ د هلاکت وضاحت:**-وانی چه حضورﷺ طواف کولو نو حضرت جبرائيل ﷺ بيت الله ته راغلو او حضورﷺ سره اودريدو په دې کښې اسودبن يغوث د حضورﷺ خواکې تيرشو نو حضرت جبرائيل ﷺ د هغه د خيټې طرف ته اشاره اوکړه. ده ته دخيټې بيماری اولګيده او دې نه مردار شو.پدې کښې وليد بن مغيره تيرشو د هغه ګيټمئی ديو خزاعی سړی د غشی په سوکه هسې لږه شان پرې شوې وه اود هغې دوه کاله شوی وو حضرت جبرائيل ﷺ د هغې طرف ته اشاره اوکړه نو هغه اوپړسيده پخه شوه اوهم د دې نه مردار شو بيا عاص بن وائل تيرشو د هغه د توری طرف ته ئی اشاره اوکړه خوورځې پس هغه طائف ته په خپل خرباندې سور روان وو په لار کښې راپريوتلواو په تلی کښې ميخ ننوتلو په کوم سره چه دې هم مردار شو. د حارث د سرطرف ته ئی ارشاره اوکړه نود هغه نه وينه روانه شوه او هم دې کښې مردار شو.د دې ټولو موذيانو سردار وليد بن مغيره وو هم ده هغوی راجمع کړې وو. دا پنځه يا اووه کسان ووچه د شيطانئی جرړې وې اود دوی په اشارو به ذليله خلقو نوردکمينه توب حرکتونه کول. دې خلقو به د دې فضول حرکت سره دا حرکت هم کولوچه الله تعالى سره به ئی نورهم شريك کول. دوی ته به د خپلوحرکتونو مزه اوس لږ ساعت کښې راشی که نور هم د رسول الله ﷺ مخالف وی اوالله تعالى

(١) ٥/المائدة:٦٧.

سره شرك كوي نو د هغوی به هم دا حال وي. مونږ ته ښه معلومه ده اې نبي چه د دوی په فضول بكواس باندې تاته تكليف رسي او زړه دې تنګيږي خو ته د دوی خيال هم مه كوه الله تعالى ستا امدادي دې ته د خپل رب په ذكر تسبيح او حمد كښې لګياوسه د هغه عبادت ښه ډير كوه د مانځه خيال ساته اود سجده كونكو سره سجده كوه.

**داشراق دمونځ فضيلت:**-مسنداحمدكښې دی چه حضورﷺ فرمائی الله تعالى فرمائی د ورځې د شروع د څلورو ركعتونه مه عاجزه كيږه.زه به د آخر ورځې پورې ستا كفايت كوم[1]دحضورﷺ عادت مبارك وو چه كله به د څه ويرې معامله وه نو هغوی به مونځ كولو.[2]

**دلته د يقين نه مراد مرګ دې:**-ديقين نه مراد ددې آخرى آيت نه مرګ دې[3] ددې دليل د سورت مدثر هغه آياتونه دی په كوم كښې چه بيان دې چه دوزخيان به خپلې بدنی بيانولوسره وائی مونږ مونځ ګذار نه وو مسكيناتو ته خوراك وركونكي نه وو خبرې به مو جوړولې قيامت به مو دروغ ګڼړلو تردې چه مرګ راغلو[4]دلته هم د مرګ په ځائ يقين دې. په يوصحيح حديث كښې هم دی د حضرت عثمان بن مظعونؓ دوفات نه پس كله چه حضورﷺ هغه له لاړو نود انصارو يوه ښځه أم العلاء k اووئيل چه اې ابوالسائب!په تادې دالله تعالى رحمتونه وي بې شكه الله تعالى ستا تكريم اوعزت اوكړو. حضورﷺ تپوس اوكړو تا څنګه يقين اوكړو چه الله تعالى د ده اكرام اوكړو. هغې جواب وركړو په تادې زما مور پلار قربان شی بيا به څوك وي چه دهغه اكرام به اوشي؟ حضورﷺ اوفرمائيل واوره ده له مرګ راغلې دې اوزما د ده د پاره د ښيګړې اميد شته[5]په دې حديث كښې هم د مرګ په ځائ د يقين لفظ دې.

**مونځ د عقل د وجود پورې فرض دې:**- ددې آيت نه استدلال كړې شوې دې چه مونځ وغيره عبادت په انسان باندې فرض دی تركومې پورې چه د ده عقل باقی وي او په هوش كښې وي. څنګه چه د ده حالت وي هم هغه شان دې مونځ كوي.دحضورﷺ فرمان دې چه په ولاړه مونځ ادا كوه، كه نه شی كيدې نو په ناسته اوكه نه شې كيدلې نو په اړخ باندې په ملاسته.[6]

**دګمراهانو سرپرستو نظريه:**-بدمذهبوخلقو دې نه دخپل مطلب يوه خبره راويستې ده چه تركومې انسان د كمال درجې ته اونه رسي په ده باندې عبادت فرض وي خوچه كله د معرفت منزلونه تيركړي نود عبادت تكليف ترې نه ساقط كيږي.دا سراسركفر ضلالت او جهالت دې. دا خلق دومره نه پوهيږي چه انبياءﷺاو خاص سردار انبياءﷺ اود هغوی صحابه كرام ز د معرفت ټولو درجوته رسيدلې وو او په علم اوعرفان كښې د ټولې دنيا نه كامل وو. د رب د صفاتو او ذات ئې د ټولونه زيات علم لرلو د دې سره به ئې د ټولونه زيات د الله تعالى عبادت كولو.درب په اطاعت كښې د ټولې دنيا نه زيات مشغول وو اود دنياد آخرى سا پورې په دې كښې اخته وو نو ثابته ده چه دلته مراد د يقين نه مرګ دې. د ټولو مفسرينو صحابه كرامو ز وغيره هم دا مذهب دې. فالحمدلله.دالله تعالى شكر او احسان دې چه هغه مونږ ته دا كوم هدايت رانصيب كړې دې په دې باندې مونږ د هغه تعريف كوو هم په دې سره د هغه نه

---

[1]) مسنداحمد٥/٢٨٦ ابوداؤد كتاب التطوع باب صلاة الضحى: ١٢٨٩ وهوصحيح.

[2]) ابوداؤد كتاب التطوع باب وقت قيام النبيﷺ:١٣١٩

[3]) صحيح بخارى كتاب التفسيرسورة الحجر باب قوله ﴿واعبدربك حتى ياتيك اليقين﴾ تعليقاتحت رقم:٤٧٠٦.

[4]) ٧٤/المدثر٤٣، ٤٧.

[5]) صحيح بخارى كتاب الجنائزباب الدخول على الميت بعد الموت اذا ادرج فى اكفانه:١٢٤٣، حاكم: ١/٥٣٤، السنن الكبرى للنسائى: ٧٦٣٤، احمد: ٦/٤٣٦، المعجم الكبير:٣٣٦.

[6]) حاكم:٤/٥٣٩، امام حاكم دې روايت ته دَ مسلم په شرط باندې صحيح وئيلې دې او امام ذهبی رحمه الله دَ ده موافقت كړې دې وهوحديث حسن.

Scanned with Ca

په نيكوكارونوكښې امداد غواړو. هم د هغه په پاك ذات زمونږ يقين دې مونږ د هغه مالك حاكم نه دعا غواړو چه هغه مونږ ته بهترين اوكامل اسلام ايمان او په نيكئى باندې مرګ راكړى هغه جواد دې اوكريم دې.

﴿الحمدلله﴾ د سورت حجر تفسير ختم شو.

| ايا تونه | سورة النحل مكية وهي مائة وثمان وعشرون اية وست عشر ركوعات | ركوع ګانې |
|---|---|---|
| | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | |
| ١٢٨ | شروع كوم په نامه دالله چې بخښونكې مهربانه دې | ١٦ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| أَتَىٰ | أَمْرُ اللَّهِ | فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ط | سُبْحَانَهُ | وَتَعَالَىٰ | عَمَّا |
| راغي | حكم دالله | نو تاسو تلوار مهٔ كوئ هغې ته | پاكي ده هغه لره | او لوئ دې | دهغه(خبرو) نه |
| دالله ﷻ حكم راغلو | نو تاسو دې ته تلوار مه كوئ | هغه دپاره پاكي ده | اودوى چې ورسره څه شريكوى | | |
| يُشْرِكُونَ ① | | | | | |
| چې داخلق ئې شريكوى دهغه سره | | | | | |
| د هغې نه اوچت دې | | | | | |

**قوله تعالىٰ:- فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ط**

**د قيامت د راتلوتندي مه كوئي** :- الله تعالى دقيامت د نيزديوالي خبر وركوى چه لكه هغه قايم شوې دې. په دې وجه ئى دماضي په لفظ سره بيان فرمائي.لكه چه ارشاد دې دخلقودحساب وخت نيزدې راغلو بياهم هغوى په غفلت سره مخ اړولې دې(¹) بل آيت كښې دى قيامت نيزدې راغلو سپوږمئى اوشليده. (²) بيافرمائى چه د هغه نيزدې څيز د نور نيزدې كيدو خواهش مه كوئى د "ه" د ضمير مرجع خو يالفظ الله دې يعنى د الله تعالى نه ئى په تندئى سره مه غواړئى ياعذاب دې يعنى د عذابونو تندى مه كوئى. كه زمونږ دطرف نه د هغې وخت مقررنه وونو بې شكه په هغوى به عذاب راتلو خوعذاب به په هغوى مخامخ راځى اوهغه هم ناڅاپى.دهغوى په غفلت كښې دوى په عذابونوكښې تندى كوى اودوزخ دا ټول كافران راګيركړى دى.

**د امرالله مطلب:**- ضحاك رحمه الله د دې آيت يوعجيبه مطلب بيان كړې دې يعنى هغه وائى چه مراد دا دې د الله تعالى فرائض اوحدودنازل شوى دى.امام ابن جرير رحمه الله پدې باندې ښه ردكړې دى.فرمائى چه زمونږ په علم كښې يو هم داسې نشته چاچه د شريعت دوجود نه وړاندې دهغې په غوښتلوكښې د هغه تندى وى. دې نه مراد د عذابونوتندى كول دى كوم چه د كافرانو عادت وو څكه چه هغوى دا د سرنه منل نه.لكه چه قرآن پاك فرمائى ﴿يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا﴾ (³)بې ايمانه خود دې تندى كوى او ايماندارد‌ې نه رچيرې اوپريشانه دى څكه چه هغوى داحق ګڼړى.خبره داده چه دالله تعالى په عذابونو كښې شك كول د لرې ګمراهئى كښې پراته دى.

**قيامت ته نزدې د تورې وريځې راتلل**:-ابن ابى حاتم كښې دى حضورﷺ فرمائى قيامت سره نيزدې به د مغرب دطرف نه د ډهال په شان يوه توره اوريځ راښكاره شى اوهغه به ډيره زر په آسمان باندې خوره

(¹) ٢١/الانبياء:١.
(²) ٥٤/القمر:١.
(³) ٤٢/الشورى:١٨.

Scanned with Ca

شي بيابه ددې نه يو اواز کونکې اعلان کوي خلق به په حيرانتياسره يوبل ته وائي تاڅه اوريدلي دي؟ بعضې به وائي او او بعضې به خبره هيره کړي بيا به په دويم ځل آواز کوي اووائي به اې خلقو نو بيا به ټول وائي چه آواز خوراغلوبيابه هغه په دريم ځل آوازکوي او وائي به اې خلقودالله تعالى امر راورسيدو اوس تندي مه کوئي د الله تعالى قسم دوه کسان چه يوه کپړه به ئې خوره کړې وي راغونډه به ئې هم نه کړي کله چه قيامت قايم شي څوك به خپل حوض ټيك کوي لااوس به ئې ترې اوبه هم نه وي څکلې چه قيامت به راشي د پئيو لشلووالا به ئې اوهم نه څکلې شي چه قيامت به راشي هريوبه په خپل فکر کښې اخته شي(١)بيا الله تعالى دخپل نفس کريم نه دشرك اود غيرد عبادت نه د پاکوالي بيان فرمائي. په حقيقت کښې هغه د دې ټولوخبرونه پاك او ډير لرې او ډير اوچت دې. هم دغه مشرکان دی څوك چه د قيامت منکران هم دي اوالله تعالى سبحانه وتعالى د هغوی د شرك نه پاك دی.

يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ
| نازلوي هغه | فرښتې | دروح سره | په حکم خپل سره|په هغه چاباندې
هغه فرښتې په وحی سره په خپلو بندګانو کښې هغه چا ته

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا
چې غواړي هغه| دبندګانوخپلونه| چې اويروی داخلق| چې بيشکه| نشته لائق دعبادت| مګر | زۀ يم
راليږي وې غواړي | چې خلق اويروی چې زما نه سوا بل څوك معبود نشته | نو هم خاص زما نه

فَاتَّقُوْنِ ۞ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ط تَعٰلٰى عَمَّا
نو اويرېږئ زمانه | پيداکړي دی هغه| اسمانونه| اوزمکه | په حق سره| اوچت دې هغه| دهغې نه
اوويرېږئ |هغه آسمانونه او زمکه په مقصد سره پيداکړي دی | هغه د دوی د شريکانو نه ډير اوچت

يُشْرِكُوْنَ ۞ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ
چې داخلق ئې شريکوی| پيداکړو هغه| انسان | دمنئ دڅاڅکی نه | نو اوس هغه | جګړه کونکې دې
دې|.........هغه انسان د منئ دڅاڅکی نه پيدا کړې دې | نوبيا هغه (دالله ﷻ په باره کښې ) ښکاره

مُّبِيْنٌ ۞
ښکاره |
جګړه کونکې دې|

**قوله تعالى:-يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ**
**دالله تعالى وحی هم په انبياءعليهم السلام باندې ګيرېدې:**-دروح نه مراددلته وحی ده.لکه آيت﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا﴾(٢)مونږ هم دغه شان په خپل حکم سره ستاطرف ته وحی نازل کړه حالانکه تاته خوداهم نه وه معلومه چه کتاب څه څيز دې اود ايمان ماهيت څه څيز دې؟ اومونږ دانورجوړکړو چاته چه موغوښتلوپه خپلوبند يګانوکښې دالاراوخودله.دلته داارشاد دې چه خپل کوم بنديګان مونږ غواړو پيغمبری ورکووهم مونږته ددې پوره علم دې چه ددې لائق څوك دې؟هم مونږ د فرښتونه هم د دې اعلى

(١)حاکم:٥٣٩/٤، امام حاکم دې روايت ته دَ مسلم په شرط باندې صحيح ونيلې دې او امام ذهبي ﷺ دَ ده موافقت کړې دې وهوحديث حسن.
(٢) ٤٢/الشورى:٥٢.

Scanned with Ca

منصب دپاره خوښوو اودانسانانونه هم.الله ﷻ خپله وحی په خپل حکم باندې په خپلو بندې ګانوکښې چاته چه غواړی نازلوی چه هغه د ملاقات د ورځې نه خلق خبردار کړی په کومه ورځ چه به ټول خلق دالله تعالی په وړاندې وی هیڅ څیز به دهغه نه پټ نه وی اوبه هغه ورځ به ملك دچا وی صرف هم د الله تعالی واحد چه قهار دې. دا د دې د پاره چه هغه په خلقو کښې د الله تعالی د وحدانیت اعلان اوکړی او په پرهیزګارنی سره د وخت مشرکان اوویروی او خلق پوهه کړی چه هغوی دې زما نه ویریږی.

**دَ انسان خپل پیدائش هیرول او خبرې جوړول:-** دعالم علوی اوسفلی خالق هم الله کریم دې. اوچت آسمان اوخوره زمکه سره د ټول مخلوق هم د هغه پیداکړې شوې دې اودا ټول دحق په توګه دی نه چه په عبث توګه.نیکانوته به بدله وی اوبدانوته سزا.هغه دټولومعبودانواومشرکانو نه بری اوویزاره دې واحد لاشریك دې یوازې دې خالق کل دې په دې وجه څان له دعبادت لائق دې.هم هغه د انسان سلسله د نطفې نه جاری ساتلې ده چه یوذلیل اوحقیر اوبه دی چه کله دا ټیك ټاك جوړوی نو غرورکوی رب سره جګړه کوی د رسولانو په مخالفت باندې اودریږی. بنده وو پکار دې چه هم بندګنی کښې لګیاوو خوده خناورتوب شروع کړو.بل آیت کښې دی الله ﷻ انسان داوبونه جوړکړو دده نسب اوسخرګنئی جوړه کړه.الله قادردې. درب نه سوا ده عبادت شروع کړو کوم چه بې فائدې او بې ضرردې د کافرانو هیڅ هم د الله ﷻ نه پټ نه دی([1])سورت یاسین کښې اوفرمائیل آیاانسان نه ګوری چه مونږ دې د نطفې نه پیدا کړونوبیاخو هغه ډیرجګړالوشویه مونږ باندې هم خبرې جوړې کړې اوخپل پیدائش ئې هیرکړو.وائی چه داسخاشوی هډوکی به بیاڅوك ژوندی کړی؟اې نبی ﷺ ته دوی ته اووایه چه دوی به هغه اکبرخالق پیدا کوی چاچه په اول ځل پیدا کړل هغه خودهرقسم دمخلوق په هرقسم پیدائش باندې پوره عالم دې.([2])

**الله ﷻ لره څوک هم عاجز کولې نشي:-** مسنداحمد او ابن ماجه کښې دی حضور ﷺ په خپل تلی مبارك باندې توکاڼې واچولې وئی فرمائیل الله تعالی فرمائې چه اې انسانه آیا ته ماعاجز کولې شې سره د دې چه ما ته د داسې شان څیز نه پیدا کړې کله چه ته پوره شوې ټیك ټاك شوې لباس مکان درته ملاو شو نو ته په راغونډیدو شوې او زما د لار نه منع شوې. او چه کله دې سا په مرئی کښې اونختنه نو ونیل دې چه اوس زه صدقه کوم د الله تعالی په لارکښې ورکوم. خواوس د صدقه خیرات وخت لاړو.([3])

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَالْاَنْعَامَ | خَلَقَهَا | لَكُمْ | فِيْهَا | دِفْءٌ | وَّمَنَافِعُ |
| او خناور | پیدا کړل هغه | دې ستاسره دپاره | په هغې کښې | سامان دګرموالی | او فائدې |
| جګړه کونکې دې\|اوهغه څاروی پیدا کړل\|په هغې کښې ستاسو دپاره ګرمه جامه ده\|او نورې فائدې هم دی | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَمِنْهَا | تَاْكُلُوْنَ ۝٥ | وَلَكُمْ | فِيْهَا | جَمَالٌ | حِيْنَ |
| او دهغې نه | تاسو خورئ | او دې ستاسو دپاره | په هغې کښې | ښائست | څه وخت چې ئې |
| اودهغې نه تاسو خوراکونه کوئ \| اوستاسو دپاره په دې (څاروو) کښې ښائست دی | | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تُرِيْحُوْنَ | وَحِيْنَ | تَسْرَحُوْنَ ۝٦ | وَتَحْمِلُ | اَثْقَالَكُمْ |
| ماښام واپس راولئ کورته | اوڅه وخت چې ئې | بهرته شړئ تاسو په سحر کښې | اووړی | درانه بارونه ستاسو |
| څه وخت چې ئې ماښام کورته واپس راولئ\|اوڅه وخت چې ئې سحر څریدو ته بوځئ\|اوهغه ستاسو درانه | | | | |

[1] ٢٥/الفرقان:٥٤-٥٥.

[2] ٣٦/یٰس:٧٧، ٧٩.

[3] احمد: ٤/٢١٠، ابن ماجه كتاب الوصايا باب النهى عن الامساك فى الحياة والتبذير عندالموت: ٢٧٧٩، وسنده صحيح، حاكم: ٢/٥٤٥، المعجم الكبير: ١١٩٣، شعب الايمان: ٣٤٧٣.

Scanned with Ca

| إِلَىٰ بَلَدٍ | لَّمْ تَكُونُوا | بَالِغِيهِ | إِلَّا | بِشِقِّ | الْأَنفُسِ ط | إِنَّ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه ښار ته | چې نه وئ تاسو | رسیدونکی هغې ته | مګر | په سخت مشقت | دنفسونو | بیشکه |
| بوجونه هغه لرې ښارته اوړې چې تاسوورته د ډیرمشقت نه بغیر نشئ رسیدلې | | | | | | .............بیشکه |
| رَبَّكُمْ | لَرَءُوفٌ | رَّحِيمٌ | | | | |
| چې رب ستاسو | خامخا مهربانه دې | رحم کونکې دې | | | | |
| ستاسو رب مهربان رحم کونکې دې | | | | | | |

**قوله تعالی:-** وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ

**څاروی د انسان د فائدې پاره:-** کوم څاروی چه الله تعالی پیداکړی دی اوانسان دې نه مختلف فائدې اوچتوی.دا نعمت رب ألعلمین بیان فرمائی لکه اوښ، غوا، چیلئی دکوم چه تفصیلی بیان په سورت انعام کښې په اته قسمه بیان شوې دې.دهغوی ویښته وړئی صوف وغیره نه ګرم لباس وغیره جوړیږی. دې نه پئی څکی غوښه خوری ماښام چه کله هغوی دځرن نه واپس راګرځی د ډکو خیټو او ډکو سینو والا اوچتو قوبونووالا څومره ښه معلومیږی؟اوچه کله د څرن ځائ ته ځی ځنګه ښکلی معلومیږی؟ بیا ستاسودرانه درانه بارونه دیوښارنه بل ښارته پخپلو شاګانوباندې بارکوی اوړی اوستاسو هلته رسیدل ډیرګران وو.دحج عمرې جهاد تجارت سفر اودغه شان نورسفرونه په دې باندې کوی تاسو اوړی او ستاسو بوج اوچتوی لکه آیت ﴿ وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ﴾[1] کښې دی چه دا څاروی څناورهم ستاسو د عبرت سبب دې د دوی د خیټې نه مونږ تاسو ته پئی درکوو اود دې نه ډیر فائدې دررسوو د دې غوښه هم تاسو خورئی اوپه دې باندې سورلئی هم کوئی. د سمندر د سفرد پاره مونږ کشتئی جوړی کړی. بل آیت کښې دی﴿اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ﴾ [2]الله تعالی ستاسو د پاره څاروی پیداکړی دی چه تاسو په دې سورلی اوکړئی دا اوخورئی دې نه نفع اوچته کړئی دزړه حاجتونه پوره کړئی اوتاسو ئی په کشتو باندې هم سواره کړئی او ډیر نښې درته اوخودلې نو تاسو به د کومې کومې نښې انکارکوئی. دلته ئی هم د خپلو نعمتونو په ذکر کولوسره یادګیرنه کولو سره اوفرمائیل چه ستاسو هغه رب چا چه دا څناور ستاسوتابعدار جوړکړه هغه په تاسو باندې ډیر رحمت او شفقت والا دې لکه چه سورت یسین کښې فرمائی چه آیا هغوی نه ګوری چه مونږ دهغوی دپاره په خپلو لاسونو څاروی جوړکړه اوهغوی ئی د دې مالکان کړل اوهغه ئی د دوی تابعدار کړه چه بعضې اوخوری او په بعضوباندې سورلی کوی.[3]

**کشتئ هم د فائدې دپاره دی :-** بل آیت کښې دی ﴿وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ﴾[4]هم دغه الله تعالی ستاسودپاره کشتئی جوړې کړې اوڅاروی پیداکړل چه تاسو په هغې باندې سواره شئی اود خپل رب فضل او شکر اوکړئی او اووایه هغه پاك دې چا چه دا زمونږ ماتحت کړل سره د دې نه چه په مونږ کښې دا طاقت نه وو. مونږ منو چه مونږ به د هغه طرف ته واپس ګیږو. ﴿دفء﴾ معنی کپړې او د منافع نه مراد خوراك څښاك، نسل حاصلول، سورلی کول، غوښه خوړل او پئی څکل دی.

---

[1] ٢٣/المؤمنون: ٢١.
[2] ١٦/ النحل:٧٩.
[3] ٣٦/يٰس: ٧١-٧٢.
[4] ٤٣/الزخرف:١٢.

Scanned with Ca

| | | |
|---|---|---|
| وَّالْخَيْلَ | وَالْبِغَالَ | وَالْحَمِيْرَ |
| اوآسونه | او قچر | او خره |
| اوهغه اسونه ،قچرې اوخرونه پيدا كړي دي | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِتَرْكَبُوْهَا | وَزِيْنَةً ؕ | وَيَخْلُقُ | مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٨ |
| دپاره ددې چې تاسو سوريږئ په هغې باند | اووی ښانست | او پيداكوي هغه | هغه څه چې معلوم نه دي تاسوته |
| چې تاسو پرې سورلئ كوئ | اوښائست هم دې | اوهغه داسې څيزونه پيداكړي چې ئې نه پيژنئ | |

**قوله تعالي:- وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً ؕ**

**اختلاف د اس د حراموالي اوحلال والي مسئله:-** خپل يوبل نعمت بيانوي چه د ښانست او سورلئي د پاره ئې اسونه قچرې اوخره پيدا كړي دي.د دې څناورو د پيداكولو لوئ مقصد هم د انسان فائده ده. دې له ئې په نورو څناورو باندې فضيلت وركړو اوجدا ئې ذكركړل ځكه چه بعضو علماؤد اس د غوښې د حرمت دليل ددې آيت نه اخستې دې.لكه چه امام ابوحنيفه رحمه الله اود هغه موافقت كونكي فقهاء وائي چه د قچر اوخر سره د اس ذكر دې اوروميې دوه څناور حرام دي په دې وجه دا هم حرام شو.دقچر او خرحرمت په احاديثوكښې راغلې دې اوداكثروعلماؤ مذهب هم دادې.د ابن عباس رضي الله عنه نه د دې دريوارو حرمت راغلې دې. هغوی فرمائی چه د دې آيت نه وړاندې آيت كښې د څاروو ذكر كولوسره الله تعالی فرمائي تاسو دا خورئي نودا خو شو د خوراك څناور اود دې دريوارو ذكر كولوسره ئې فرمائيلي دي چه په دې باندې تاسو سورلی كوئي نودا شو د سورلئي څناور. د مسندپه حديث كښې دي چه حضور ﷺ د اسونو قچرو او خرو غوښه منع كړې ده(١) خوددې په راويانوكښې صالح بن يحيى بن مقدام دې په كوم كښې چه كلام دې. د مسندپه يوبل حديث كښې مقدام بن معديكرب رضي الله عنه نه نقل دي چه مونږ د خالدبن وليد رضي الله عنه سره د صائفه په جنګ كښې وو ماله زما ملګرو غوښه راوړه مانه ئې يوكاڼړې اوغوښتو ما وركړو هغوی داپه دې كښې اوتړله ماوئيل اودريږئي زه دخالد رضي الله عنه نه تپوس كوم راځم. هغوی اوفرمائيل مونږ رسول الله ﷺ سره په خيبركښې وو خلقو د يهوديانو په پټوباندې حمله اوكړه حضور ﷺ ماته حكم اوكړو چه دې خلقو ته اعلان اوكړه چه مانځه له راشئی اود مسلمانانونه بغيرد دې ځوك هم نه راځی. بيائی اوفرمائيل چه اې خلقو تاسوديهوديانوپه باغونوكښې د ورننوتلود پاره ډيره تندي اوكړه. واورئي دمعاهد مال بغيردحق نه حلال نه دې اود ساتلی شوو خرو اسونواوقچرو غوښه اود هر سوكيدار غاښونووالا اوپه پنجه باندې دښكاركونكو مرغو غوښه حرام ده(٢) دحضور ﷺ د منع كول د يهوديانود باغونونه كيدې شی داسې وخت كښې وو كله چه هغوی سره معاهده اوشوه. نوكه دا حديث صحيح وو نو بې شكه د اس دحرمت باره كښې نص وو خوپه دې كښې د بخاری اود مسلم د مقابلې طاقت نشته په كوم كښې چه د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د ساتلی شوی خرونو غوښه منع فرمائيلي ده اود اس د غوښې اجازت ئې وركړو(٣) بل حديث كښې دی چه مونږ د خيبر په ورځ اسونه قچرې او خره ذبح كړل نو مونږه حضور ﷺ د قچر او خر د غوښې نه منع كړو خود اس د غوښې نه ئې منع نه كړو(٤) صحيح مسلم كښې دحضرت اسماء بنت ابی بكر رضي الله عنه نه روايت دې چه مونږ په مدينه

---

(١) احمد:٤/٨٩، ابوداؤد كتاب الاطعمه باب فی اكل لحوم الخيل: ٣٧٩٠، نسائی٤٣٣٧، دارقطنی:٤/٢٨٧، والسنن الكبرى للنسائی:٦٦٤٠

(٢) احمد:٤/٨٩.

(٣) صحيح بخاری كتاب المغازی باب غزوة خيبر:٤٢١٩، صحيح مسلم:١٩٤١، ابوداؤد: ٣٧٨٨، احمد:٣/٣٦١، ابن حبان:٥٢٧٣.

(٤) ابوداؤد كتاب الاطعمه باب فی اكل لحوم الخيل: ٣٧٨٩، وهوصحيح، احمد: ٩/٣٥٦، بيهقی: ٠/١٩٤٢، السنن الكبرى للنسائی: ٦٦٤١

Scanned with Ca

كښې دحضور ﷺ په موجودګئ كښې اس حلال كړواود هغې غوښه مو اوخوړله.(١)نو دا د ټولونه لوئ اختلاف د ټولونه زيات د ثبوت والا حديث دې اوهم دغه مذهب د جمهور علماؤ دې. مالك رحمه الله شافعي رحمه الله احمد رحمه الله اود دوى د ټولوملګرو او اكثر سلف اوخلف هم دا وائي. والله اعلم.

دابن عباس رضي الله عنه بيان دې چه اول په اسونوكښې وحشيت او ځنګليت وو الله تعالى د حضرت اسماعيل عليه السلام د پاره دا تابعدار كړل. وهب په اسرائيلي رواياتوكښې بيان كړى دى چه د جنوبي هواګانونه اسونه پيدا كيږي. والله اعلم.د دې درياړو ځناورو نه سورلي اخستلو جواز د قرآن پاك د الفاظونه ثابته ده.

حضور ﷺ ته يوقچر په هديه كښې وركړې شوې وو په كوم به چه حضور ﷺ سورلي كوله اودا حضور ﷺ منع فرمائيلې دى چه اسونه خروسره ملاوكړې شي. دا ممانعت په دې وجه دې چه نسل منقطع نه شي.

حضرت دحيه كلبي رضي الله عنه د حضور ﷺ نه تپوس اوكړو كه تاسو اجازت كوئ نو مونږ د اس او خرې د يو ځائ كولونه قچر حاصل كړو او تاسو په هغې سواره ئې حضور ﷺ اوفرمائيل دا كار هغوى كوى چه د علم نه خالي وى.(٢)

## د اس د غوښې حكم

**مسلك حنفي:**-د صاحبينو په نيز د اس غوښهٔ بلاكراهته خوړل جائز دى اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د دې خوړل خو حرام نه دى البته ګناه به وى. بيا د دې حضراتو په مينځ كښې دا اختلاف دې چه كراهت تحريمي دې كه تنزيهي. علامه عيني رحمه الله په عمدة القاري كښې د احنافو دواړه اقوال نقل كړى دى فخرالاسلام رحمه الله اوابومعين رحمه الله كراهت تنزيهي صحيح ګرځولې دې.(دروس ترمذي ٥/٤١١)-

| وَعَلَى اللّٰهِ | قَصْدُ السَّبِيْلِ | وَمِنْهَا | جَآئِرٌ | وَلَوْ شَآءَ |
|---|---|---|---|---|
| او دالله ذمه ده | نيغه لار(ښودل) | او ځينى دد ې لارونه | كږې (هم) دى | او كه غوښتلې هغه |
| او نيغه لاره الله ﷻ ته رسيږي | | او په دې كښې ځينې لارې كږې هم دى | | اوكه هغه غوښتلې |
| لَهَدٰىكُمْ | اَجْمَعِيْنَ | | | |
| نو خامخابه ئې هدايت كړې وې تاسوته | ټولوته | | | |
| نو تاسوټولوته به ئې هدايت كړې ووا | | | | |

**قوله تعالى:-** وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ

**د دين اودنياّمثالونه:-** -د دنياوى لاروباندې دتلواسباب بيانولوسره اوس ددين په لاردتلواسباب بيانوى. د محسوساتونه معنوياتوته رجوع كوى.په قرآن پاك كښې اكثر بيانونه داسې موجوددى دحج د توښې ذكركولوسره ئې دتقوى د توښې ذكركوم چه دآخرت كار وركړې بيان شوه د ظاهرى لباس ذكر فرمائيلو سره د تقوى د لباس ښه والې بيان كړو دغه شان دلته په ځناوروباندې ددنياوى سختولارو باندې تيريدلواودلرې لرې سفرونه كولوبيان سره دآخرت لارې دينى دى بيان ئې كړلې چه حق لار د الله تعالى سره ملاويدونكې دى. د رب نيغه لار هم دغه ده هم په دې باندې ځئ په نورو لارومه ځئ ګنې دهوكه به شئ. اود نيغې لار نه به جدا شئ. فرمائي زما طرف ته د رسيدلو نيغه لار هم دغه ده كومه چه ما

(١) صحيح بخارى كتاب الذبائح والصيد باب النحر والذبائح:٥٥١١، صحيح مسلم:١٩٤٢، ابن ماجه:٣١٩٠، احمد٣٤٥/٦، ابن حبان:٥٢٧١.

(٢)احمد:٣١١/٤، ابوداؤد كتاب الجهاد باب في كراهية الحمر تنزى على الخيل:٢٥٦٥، وسنده صحيح، مسندالبزار: ٨٨٩، الطحاوى: ٢٧١/٣، ابن حبان:٤٦٨٢، بيهقى:٢٢/١٠.

Scanned with Ca

خودلې ده او الله تعالى سره يوځائ کونکې ده. الله تعالى ښکاره کړه چه هغه هم دين اسلام دې کوم چه الله تعالى واضح کړې دې اودې سره ئې د نورو لارو ګمراهئى هم بيان کړلې. نو رښتونې لار هم يوه ده کومه چه د الله تعالى په کتاب او د رسول الله ﷺ سنتو سره ثابته ده. باقي نورې ټولې لارې غلطې لارې دى. د حق سره يوشان دى د خلقو خپل پيداکړې شوى دى لکه يهوديت نصرانيت مجوسيت وغيره. بيافرمائى چه هدايت د رب د قبضې څيز دې که غواړى نو په مخ د زمکې باندې خلق به نيکه لار باندې واچوى اود زمکې ټول اوسيدونکى به مسلمانان شى ټول خلق به په يو دين باندې عمل کونکى شى خودا اختلاف به باقي وى خوچه په چا باندې الله تعالى رحم اوکړى. هم د دې د پاره ئې هغوى پيدا کړى دى. هم ستا د رب خبره به پوره کيږى. دوزخ او جنت به د انسانانواو پيريانو نه ډک شى.

هُوَ الَّذِیٓ اَنۡزَلَ

| هغه | هغه ذات دې | چې نازلې ئې کړې

الله ﷻ داسې ذات دې چې ستاسو دپاره د

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمۡ مِّنۡهُ شَرَابٌ وَّمِنۡهُ شَجَرٌ

دآسمان نه | اوبۀ | دى ستاسو دپاره | ددغه اوبو نه | دڅکلو اوبه|اوددغه اوبو نه| پيداکيږى ونې

د آسمان نه اوبه راورى | تاسو دهغې نه څکاک کوئ | اوپه هغې اوبو سره ونې زرغونيږى

فِيۡهِ تُسِيۡمُوۡنَ ﴿١٠﴾ يُنۡۢبِتُ لَكُمۡ بِهِ الزَّرۡعَ

| چې په هغې کښې| تاسوڅاروى څروئ | هغه زرغونوى| ستاسو دپاره | په دغه اوبو سره | فصل

چې تاسو په کښې څاروى څروئ | ..........اوددې اوبو په ذريعه تاسو دپاره فصلونه

وَالزَّيۡتُوۡنَ وَالنَّخِيۡلَ وَالۡاَعۡنَابَ وَمِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ

اوزيتون | او کجورې | او انګور | او دهر قسم ميوونه | بيشکه | په دې کار کښې

زيتون ، کهجورې ،انګور اوهرقسم نورې ميوې راټوکوى | ..........بيشکه په دې کښې

لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿١١﴾

خامخا غټه نښه ده | دپاره دهغه خلقو | چې غور فکر کوى |

د غور اوفکر کوؤنکو دپاره لويه نښه ده |

قوله تعالى:- يُنۡۢبِتُ لَكُمۡ بِهِ الزَّرۡعَ

**اوبه او ميوې د الله تعالى نعمتونه:-** دڅاروو اوخناور پيداکولو داحسان نه پس بل احسان بيان فرمائى چه د بره نه اوبه هم هغه وروى کوم نه چه تاسو پخپله هم فائده اوچتوى او ستاسو د فائدې څناور هم فائده اوچتوى.خوږې صفا سپينې مزيدارې د ښه خونداوبه ستاسو دڅکلوپه کارراځى که دهغه احسان نه وو نوهغه به تروې اوترخې کړې وې. هم دې د باران اوبوسره ونې راټوکيږى اوهغه ونې ستاسو د څناورو ګياه جوړيږى.دسوم معنى ده څرن. په دې وجه ابل سائمه څرن کونکى اوښانوته وائى.دابن ماجه په حديث کښې رسول الله ﷺ دنمر دراختونه وړاندې څرول منع فرمائيلې دى[1] بيا د هغه قدرت ته اوګوره

[1] ابن ماجه کتاب التجارات باب السوم: ٢٢٠٦،

Scanned with Ca

چه هم په یو اوبوسره دمختلف مزو، مختلف شکلونو صورتونو، دمختلفو خوشبوگانو قسم قسم میوې ګلونه ستاسو دپاره پیداکړی دی نو بیادا ټولې نښې د یوسړي دپاره دالله تعالی وحدانیت پیژندلو دپاره ناکافی دی. هم دابیان په نورو آیاتونوکښې داسې شوې دې چه د آسمان اوزمکې خالق د أوریخونه اوبه راورونکې د هغې نه شنه او آباد باغونه پیداکونکې د کوم د پیدا کولو نه چه تاسو عاجزونی هم الله دې هغه سره بل څوك معبود نشته بیاهم داخلق د حق نه اخوا دیخوا کیږی. (١)

وَسَخَّرَ لَكُمُ

او تابع ئې کړل | ستاسو دپاره |

اوهغه ستاسو دپاره شپه او

الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمْرِهٖ ؕ

| شپه | او ورځ | او سپوږمۍ | او نمر | او ستوری هم | ټول مسخر دی | په حکم دهغه سره

ورځ اونمر اوسپوږمۍ تابع کړی دی | ..............اوستوری هم د هغه د حکم تابعدار دی

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ۙ ﴿١٢﴾

| بیشکه | په دې کار کښی | ډیرې نښې دی | دپاره دهغه خلقو | چی هغوئ دعقل نه کار اخلی

بیشکه په دې کښې د علقمندو دپاره ډیرې نخښې دی (یعنی چې د عقل نه کار اخلی)

وَمَا ذَرَاَ لَكُمْ فِی الْاَرْضِ مُخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ؕ

او هغه څیزونه | چی پیدا اکړی دی هغه | ستاسو دپاره | په زمکه کښی | چی مختلف دی | رنګونه دهغې

او الله تعالی چې ستاسو دپاره کوم قسما قسم رنګونو والا څیزونه په زمکه کښې پیدا اکړی دی

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

| بیشکه | په دې کښی | ضرورنښه ده | دپاره دهغه خلقو | چی سبق حاصلوی | اوهغه | هغه ذات دې

بیشکه په دې کښې دهغه خلقو دپاره نخښې دی چې سوچ فکر کوی | او الله هغه ذات دې چې

سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْكُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِیًّا

چی مسخرئې کړو | دریاب | دپاره ددې چی تاسواوخورئ | ددغه دریاب نه | غوښه | تازه

سمندرئې تابع کړې دې | ..............چې تاسوترې (دکبانو) تازه غوښهٔ اوخوری

وَّتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْیَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَی الْفُلْكَ

| اوتاسواوباسئ | دهغې نه | دښائست څیزونه | چی تاسواغوندئ هغه | اوتهٔ وینې کشتئ

اوتاسو د دې نه کالی راوباسئ | چې تاسو ئې استمالوئ | اوته ګورې چې بیړئ (د دریاب) اوبه

مَوَاخِرَ فِیْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ

| څیرونکی اوبولره | په هغې کښی | اودپاره ددې چی تلاش کړئ تاسو | دفضل دالله نه

څیرې کوی او (روانې دی) | او د دې دپاره چې تاسو (دسمندری تجارت په ذریعه) د الله فضل لټوئ

(١) ٢٧/النمل: ٦٠.

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٤﴾ وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ

اودپاره ددې چې تاسو | شکراوباسئ | اووې غورزول | په زمکه کښې | دغرونومیخونه | چې اونهٔ خوزي

اوچې د هغه شکراداکوئ | او په زمکه کښې ئې دغرونو میخونه ښخ کړی دی | چې تاسو باندې اونه خوزي

بِكُمْ وَاَنْهٰرًا وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥﴾

په تاسوباند | اوجاری ئې کړل نهرونه | اوجوړې ئې کړې لارې | دپاره ددې چې تاسو | هدایت بیامومئ

اودریابونه (ئې روان کړی دی)، اولارې ئې جوړې کړې | د دې دپاره چې تاسو لاربیامومئ

وَعَلٰمٰتٍ ؕ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿١٦﴾ اَفَمَنْ يَّخْلُقُ

اونښې هم پیدا کړې | اوپه ذریعه دستورو | داخلق | لار بیامومي | آیا هغه څوك | چې پیدا کول کوي

او ډیرې نخښې ئې هم جوړې کړې دی | اود ستور په ذریعه دوی لارې معلوموي | نوڅوك چې پیدا کول کوي

كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٧﴾ وَاِنْ تَعُدُّوْا

پشان دهغه چادې | چې پیدا کول نشي کولې | آیا نو تاسو نصیحت نهٔ قبلوئ | او که تاسو شمارئ

دهغه چا په شان کیدیشي چې هیڅ نه نشي پیدا کولې | نو تاسوولې نصیحت نه قبلوئ | اوکه تاسو د الله ﷻ

نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٨﴾

نعمت دالله | نو نهٔ شئ شمارلې هغه | بیشکه چې الله | ببښونکې | رحم کونکې دې |

نعمتونه شمیرل غواړئ | نود هغې شمیربه اونکړې شئ | بیشکه الله بخښونکې ډیر رحم کونکې دې

**قوله تعالی:- وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ**

**سپوږمئی نمر اوستوری دَ الله تعالی دَ قدرت نخښې دی:-** الله تعالی خپل نورنعمتونه یادراکرځوی چه شپه ورځ برابرستاسودفائدې دپاره ځی راځی نمرسپوږمئ په ګردش کښې دی ستوری په پړقیدو پړقیدو تاسو ته رنړا درکوی دهریوالله تعالی داسې صحیح اندازه مقررکړې ده دکوم نه چه هغوی نه اخوا دیخوا کیدې شی اونه تاسو ته څه نقصان درکوی. هریود رب په قدرت کښې اود هغه د غلبې لاندې دې. هغه په شپږو ورځو کښې زمکه او آسمان پیدا کړل بیا په عرش باندې د خپل قدرت د شان مطابق مستوی شو. ورځ او شپه برابر یوبل پسې ځی راځی. نمر سپوږمئی اوستوری د هغه د حکم مطابق په کارکښې لګیا دی. د خلق او امر مالك هم هغه یوذات دې. هغه رب العلمین د لویو برکتونو خاونددې که تاسوعقل اوپوهه لرئی نوپدې کښې د الله تعالی دقدرت اوسلطنت لوئی نښې دی.د دې آسمانی څیزونونه پس اوس تاسو د زمکې څیزونه اوګورئی چه ځناور، کانونه نباتات او جمادات وغیره په مختلف رنګونو او شکلونوکښې څیزونه د بې شمیره فائدو څیزونه دی. هم هغه ستاسو د پاره په زمکه باندې پیداکړی دی چه تاسو په الله تعالی د نعمتونو غور اوکړئی او د دې قدر اوکړئی د هغوی د پاره خودا زبردست نښه ده.

**دَ سمندرنه دَ خلقو دَ پاره فائدې دی:-** الله تعالی دخپلې نورې مهربانئی یادګیرنه کوی چه په سمندراو دریاب باندې هم هغه تاسو قابض کړئی سره د خپل زوروالی او خپلوموجونو هغه ستاسو تابع دې ستاسوکشتئ په هغې کښې روانې دی دغه شان د دې نه کبان راوباسئی او د هغې تازه غوښه خورئی، کب د حلت په حالت کښې د احرام په حالت کښې ژوندې وی که مړد الله تعالی د طرف نه حلال دې. هغه لؤلؤ او مرغلرې ستاسو د پاره په دې کښې پیداکړی دی. کوم چه تاسو په آسانئی سره راوباسئی

اودکالوپه توګه ئې په خپل کارراولئي.بیا په دې کښې کشتئي هواګاني اخواکوي اوبه څیرې اوپه خپلو سینوباندې د اوبود پاسه تیریږي.

**د ټولونه مخکښې کشتئ نوح ﷺ جوړه کړې ده او په دې ئې سورلي کړې ده:**-د ټولونه اول حضرت نوح ﷺ په کشتئي کښې سورشواوهم هغه ته الله تعالى دکشتئ جوړولوچل اوخودلو.بیاخلقو دغه شان جوړولې اوپه دې باندې د لمدې لوئ لوئ سفرونه کول د هغه طرف نه څیزونه دې طرف ته اود دې طرف نه هغه طرف ته اوړل راوړل، هم د دې بیان په دې کښې دې چه تاسو د الله تعالى فضل یعنې خپل رزق دتجارت په ذریعه اولټوئي اودهغه نعمت اواحسان اومنئ اود هغه شکر او قدرداني اوکړئي.

**دریاب ته دالله تعالى خطاب:**-مسندبزار کښې دحضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه الله تعالى مغربي دریاب ته اووئیل چه زه خپل بندیګان په تاکښې سورول غواړم ته به هغوی سره څه کوې؟ هغه اووئیل ډوبوم به ئې.بیائې اوفرمائیل ستاتیزوالې ستاپه غاړوکښې دې هغه به زه په خپل لاس کښې واخلم ته ما د کالواو ښکار نه محروم کړې. بیائې مشرقي سمندر ته هم دا خبره اوکړه. هغه وئیل چه زه به ئې په خپلولاسونو باندې اوچت کړم اوڅنګه چه مور د خپل بچي خیال ساتي زه به هم د هغوی ساتم. نو ده ته الله تعالى کالي هم ورکړل او ښکارهم.(١)ددې حدیث راوی حضرت عبدالرحمن بن عبدالله دې اوهغه منکرالحدیث دې.د عبدالله بن عمرو ﷺ نه هم دا روایت مرفوعاً نقل دې.دې نه پس د زمکې ذکر کولې شي داودرولو او خوزیدلونه د بچ کولود پاره په دې باندې مضبوط او وزندار غرونه کلك کړل چه د دې په خوزیدوباندې په دې داوسیدونکوژوندون کښې مشکل نه وی. لکه چه فرمائي ﴿وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا﴾ (٢)

**په زمکه د غرونو ایخودلو حکمت:**-دحضرت حسن رحمه الله قول دې کله چه الله تعالى زمکه جوړه کړه نو هغه خوزیده تردې چه فرښتواووئیل په دې خو څوك هډو اودریدې نه شي چه سحرکوری نوغرونه په دې کښې ورخښ کړې شوی دی اود دې خوزیدل ولاړدی نو فرښتوته دا هم معلومه نه شوه چه دا غرونه د څه څیز نه راپیداکړې شو.د قیس بن عباده رحمه الله نه هم دا روایت دې. حضرت علي ﷺ فرمائي چه زمکې وئیل چه ته په ماباندې بنیادم میشته کوې چه زما په شابه ګناه کوی اوکه ګندګیرئي به خوروی هغه رچیدله نو الله تعالى په زمکه کښې غرونه ورخښ کړل کوم چه تاسو وینئي اوبعضې خو وینئي هم نه. داهم دهغه کرم دې چه هغه نهرونه چینې اودریابونه د څلورو واړو طرفونو روان کړی دی څه تیز دی او څه رو څه اوږده دی اوڅه واړه.کله اوبه زیاتې دی کله کمې اوکله اوچ کلك.په غرونو ځنګلونو کښې شګه کښې کانړو کښې برابر داچینې بهیږی اوروانې دی.دا ټول دهغه فضل کرم لطف اورحم دې نه د هغه نه بغیرڅوك پروردګار شته اونه څوك د عبادت لائق هم هغه رب دې او هم هغه معبود دې هم هغه لارې جوړې کړې دی په اوچه لمده غر ځنګل کښې کلوکښې بیابانونوکښې په هرځائ کښې د هغه لارې موجود دی. چه د یوخوانه بل خواته خلق ځی، څه تنګې لارې دی څه ارتې څه آسانې او څه سختې نورهم ډیرې نښې هغه مقررکړی دی لکه غرونه غونډئې وغیره په کومو سره چه داوچې اولمدې مسافران لارمعلومه وی او بې لارې شوی په نیغه لارلګي.ستوری هم د لارخودنې دپاره دی د شپې په تیاره کښې هم د دې په ذریعه لار او رخ معلومیږی. د امام مالك نه روایت دې چه د نجوم نه مراد غرونه دی.

**الله تعالى دټولو خالق او مخلوق بې وسه دی:**-بیادخپل عظمت اولوئې یادګیرنې کولوسره فرمائي چه د عبادت لائق د هغه نه بغیرڅوك نشته.د الله ﷻ نه بغیر چه دکوموکوموچه خلق عبادت کوی هغه ټول بې

(١) هیثمي مجمع الزوائد:٢٨٢/٥
(٢) ٧٩/النازعات: ٣٢.

Scanned with Ca

وسه دی دیوځیز د پیداکولو په هغوی کښې طاقت نشته. اوالله تعالی د ټولوخالق دې ښکاره خبره ده چه خالق او غیرخالق یو شان نه دی نو بیاد دواړو عبادت کول څومره د ظلم خبره ده؟ دومره بې هوشه کیدل هم دانسانیت تقاضانه ده. بیادخپلو نعمتونو دزیاتوالی اوکثرت بیان فرمائي چه ستاسو په شمیرکښې هم هغه نه شی راتلې دومره نعمتونه ماتاسوته درکړی دی دا هم ستاسو د طاقت نه بهر دی چه زماد نعمتونو شمیراوکړې شئی. الله تعالی ستاسو خطاګانې معاف کوی نوکه د خپلو ټولو نعمتونو شکرهم تاسونه غواړی نوستاسود وس کارنه دې که د دې نعمتونو په بدلی تاسو نه غواړی نو ستاسو د طاقت نه بهر دی. واورئی که هغه تاسو ټول په عذاب کوی نو بیا هم هغه ظالم نه دې خوهغه غفور او مهربانه او رحیم الله تعالی ستاسو غلطئی معاف کوی. ستاسو د خطاګانونه تجاوز کوی نودا د اطاعت په رجوع اود رضامندئی په طلب سره کومه ګناه اوشی هغې نه سترګې پټوی. ډیر رحیم دې او د توبه نه پس بیا عذاب نه کوی.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

او الله | پوهیږی |

اوالله ﷻ

مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿١٩﴾ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

په هغه کارونو | چی تاسوئې پټوئ | اوپه هغه | چی تاسوئې ښکاره کوئ | اوهغه | چی رابلی ئې خلق

هغه څه پیژنی چې تاسو ئې پټوئ او څه چې تاسو ښکاره کوئ | .........اوکوم بتان چې دوئ د الله ﷻ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْوَاتٌ

ماسوادالله نه | نهٔ پیداکوی هغوئ | هیڅ څیز | بلکه هغوئ پخپله | پیداکړې کیږی | هغوئ مړه دی

نه سوا رابلی | هغوئ هیڅ نشی پیداکولې | بلکه هغوئ پخپله جوړولی شی | هغوی مړه دی

غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰهُكُمْ

نهٔ دی ژوندی | اونهٔ پوهیږی هغوئ | چی کله به | هغوئ راپوته کړې کیږی | معبود ستاسو

ژوندی نه دی | اوهغوی نه پوهیږی چې کله به دوباره راژوندی کولې شی | ستاسو معبود

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ

| معبود | یودې | نو هغه کسان | چی نهٔ راوړی ایمان | په آخرت باند | زړونه دهغوئ

هم یو معبود دې | نو څوک چې په آخرت باندې ایمان نه راوړی | د هغوئ زړونه

مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا

په انکار ټینګ دی | اوهغوئ | تکبیر کونکی دی | حقه ده داخبره | چی بیشکه الله | پیژنی | هغه څه

منکر دی | اوهغوئ تکبر کونکی دی | ............یقینی خبره ده | چې الله ﷻ په هغه څه

يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿٢٣﴾

چی پټوی ئې دوئ | اوهغه څه | چی ښکاره کوی ئې دوئ | بیشکه چی هغه | نهٔ خوښوی | تکبر کونکی خلق

چې دوی ئې پټوئ اوپه هغه څه چې دوی ئې ښکاره کوئ پوهیږی | بیشکه هغه تکبر کونکی نه خوښوی

Scanned with Ca

**قوله تعالى:- وَهُمْ يُخْلَقُونَ﴿۲۰﴾**

**دَ هر يو څيزخالق الله تعالى دي:-** پټ او ښكاره هرڅه الله تعالى پيژني دواړه هغه ته يوشان دي. هريوعمل كونكي ته دهغه دعمل بدله به د قيامت په ورځ وركوي نيكانوته بدله بدانوته سزا. د كومو باطلو معبودانونه خلق خپل حاجتونه غواړي هغوى د هيڅ څيز خالق نه دي بلكه هغوى پخپله مخلوق دي. لكه څنگه چه خليل الله حضرت ابراهيم ﷺ خپل قوم ته فرمائيلي وو ﴿قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ﴿۹۵﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴿۹۶﴾﴾ (۱)تاسو دهغې عبادت كوئى چه پخپله ئې جوړوئى.په حقيقت كښې ستاسو او ستاسو د كارونوخالق صرف الله سبحانه وتعالى دې.بلكه ستاسومعبودان كوم چه د الله تعالى نه بغير دي كانړي دي بې ساڅيزونه دي نه اورې نه گورې نه شعور لري. دوى ته خودا هم نه دي معلوم چه قيامت به كله راځي.تاسو د دوى نه د نفع اوثواب طمع څنگه لرئى؟داخود هغه الله تعالى نه كيدل پكاردي چه د هر څيز عالم اود ټول كائنات خالق دې.

**صرف هم الله تعالى دَ عبادت لائق دې:-** هم الله تعالى معبودبرحق دې دهغه نه بغيرڅوك هم دعبادت لائق نشته. واحددې احددې ځان له دې صمددې دكافرانو په زړه ښه خبرې نه انكاري دې.هغوى دا حق كلمه اوريدوُسره حيرانيږي د واحد ذكراوريدوسره مرژواندې شي اوكه دنورو ذكر وى نو بيا خاندي. دوى دالله ﷻ دعبادت نه مغروردي نه دهغوى په زړونوكښې ايمان دې اونه هغوى د عبادت عادت دي. داسې خلق به په ذلت سره دوزخ كښې داخليږي. يقيناً الله تعالى دهرپټ اوښكاره عالم دې په هر عمل به بدله او سزا وركوي اوهغه د غرور كونكوخلق نه ويزاره دې.

| وَإِذَا | قِيلَ | لَهُمْ مَّاذَا | أَنزَلَ | رَبُّكُمْ | قَالُوا | أَسَاطِيرُ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| او كله چې | اووئيلې شي | دوئ ته څه څيز | نازل كړې دې | رب ستاسو | نووائى دوئ | چې قيصې دى |
| اوكله چې | ددوئ نه تپوس اوشي | چې | ستاسو رب څه نازل كړي دي | | نودوى وائي چې | د پخوانو خلقو |

| الْأَوَّلِينَ﴿۲۴﴾ | لِيَحْمِلُوا | أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً | يَوْمَ الْقِيَامَةِ | وَمِنْ أَوْزَارِ |
|---|---|---|---|---|
| دړومبنوخلقو | دپاره ددې چې باركړي دوئ | پيتي خپل \| تول | په ورځ دقيامت | او پيتي |
| قيصئ دى \| (د دې انجام به داوى) چې دقيامت په ورځ به د خپلو گناهونو اود هغه خلقود گناهونو | | | | |

| الَّذِينَ | يُضِلُّونَهُمْ | بِغَيْرِ عِلْمٍ | أَلَا | سَاءَ | مَا |
|---|---|---|---|---|---|
| دهغه كسانو | چې دوئ گمراهه كوي هغوئ لره | په وجه دناپوهئ | خبردار واورئ | ډير بددې | هغه |
| پيتي اوچتوى | چې هغوى ئې بغير دعلم نه گمراه كړى دى | | دوى چې كوم پيتي اوچتوى هغه ډير | | |

| يَزِرُونَ﴿۲۵﴾ |
|---|
| چې باروى ئې دوئ دوكه بازى كړى ده \| |
| خراب دى \| |

**قوله تعالى:- وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ مَّاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ**

**دَ قرآن پاك دَ منكرانو تذكره:-** دې د قرآن پاك دمنكرانونه چه كله سوال كولې شي چه د الله تعالى په كلام كښې څه نازل شوى دى؟ نود اصل جواب نه اخوابكواس كوي چه بغيرد تيروشووقصونه په كښې څه

(۱) ۳۷/الصافات:۹۵-۹۶

Scanned with Ca

پراته دي؟هم هغه ئي ليكلې دي اوسحرماښام ئې سردوباره كوي.نو په رسول الله ﷺ باندې دځان نه خبرې ترې كله څه وائي كله د هغه خلاف څه وائي په حقيقت كښې په يوه خبره اودرېږي نه اودا ډېر لوئ دليل دې دهغوي دټولو اقوالو باطل كيدو. هريوچه د حق نه اخوا شي هغه هم داسې سروهلې پوخوا بل خوا گرځي.كله حضورﷺ ته جادوگر وائي كله شاعر كله كاهن اوكله مجنون. بيا د هغوي بوډا گرو وليد بن مغيره مخزومي هغوي ته د ډېر غور اوفكر نه پس اووئيل چه ټول په يوه خله دې كلام ته اثركونكې جادو وائې.دهغوي د دې قول نتيجه به بده وي او مونږ هغوي په دې وينا باندې خكه لگياكړل چه دوي د خپلې پوره گناه سره سره د هغه څه گناه هم په خپل سرواخلي كوم چه د هغه مقلد دي او هغه پسې شاته شاته روان دي.

**حق او باطل داعي ته دخپل دعوت اوتابعينو ثواب او گناه ملاويږي**:-په حديث شريف كښې دي چه د هدايت دعوت وركونكي ته د خپل اجر سره د خپل تابعداروخلقو اجر هم ملاويږي اود هغوي اجرنه كميږي. اود بدئي طرف ته رابلونكي ته د هغه د منونكو گناه هم ملاويږي خود منونكو گناه نه كميږي[1] د قرآن كريم په بل آيت كښې دي ﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ﴾[2] دوي به د خپلې گناه د بوج سره سره نور بوج هم اوچتوي اودهغوي د افترايعنې د ځان نه خبروباره كښې به د قيامت په ورځ ضرور تپوس كيږي. نود منونكو بوج هم لكه د هغوي په ستونوباندې دې خوهغوي به سپكيږي هم نه.

قَدْ مَكَرَ　الَّذِينَ　مِنْ قَبْلِهِمْ　فَأَتَى اللَّهُ

دوكه بازي كړې ده | هغه كسانو | چې مخكښې ددوئ نه وو | نو راغې الله

| ددوئ نه وړاندې خلقو هم (دپيغمبرانو خلاف) سازشونه كړي وو | دهغوي په آبادئ دالله

بُنْيَانَهُمْ　مِنَ الْقَوَاعِدِ　فَخَرَّ　عَلَيْهِمُ السَّقْفُ　مِنْ فَوْقِهِمْ　وَأَتَاهُمُ

آبادئ دهغوئ ته | دبيخ نه | نوراپريوت | په هغوئ باند | چت | دپاسه دهغوئ نه | اوراغې هغوئ ته

(قهر) د بنيادونود طرفه راغلو | نو په هغوي باندې د پورته نه چت راپريوتلو | او په هغوي د هغه طرف نه عذاب

الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ　لَا يَشْعُرُونَ ۝　ثُمَّ　يَوْمَ الْقِيَامَةِ　يُخْزِيهِمْ

عذاب | دهغه طرفنه | چې هڅوگمان نه وو دهغوئ | بيا | په ورځ دقيامت | به رسوا كړي هغوئ لره

راغلو | چې دهغوي په گمان كښې هم نه وو | بيا د قيامت په ورځ به ئې الله ﷻ ذليله كړي

وَيَقُولُ　أَيْنَ　شُرَكَائِيَ　الَّذِينَ　كُنْتُمْ　تُشَاقُّونَ

او ورته به وائي | كوم ځائې دي | شريكان ځما | هغه | چې وئ تاسو | چې مخالفت به موكوؤ

او ورته به اووائي اوښايئ زما هغه شريكان كوم ځائې دي|چې تاسو به دهغوئ دپاره (دمومنانوسره) جگړې

فِيهِمْ ط　قَالَ　الَّذِينَ　أُوتُوا　الْعِلْمَ　إِنَّ　الْخِزْيَ

په حق دهغوئ كښې | اوبه وائي | هغه كسان | چې وركړې شوې وؤ هغوئ ته | علم | بيشكه | رسوائي ده

كولې | نود علم خاوندان به اووائي | چې د نن ورځې پوره رسوائي اوبدبختي د هغه كافرانو دپاره ده

---

[1] صحيح مسلم كتاب الذكر والدعاء باب من سن حسنة اوسيئة ومن دعا الى هدى اوضلالة: ٢٦٧٤، ابوداؤد:٤٦٠٩، ترمذي: ٢٦٧٤ ابن ماجه:٢٠٦، دارمي:١/١٤١، احمد:٢/٣٩٧، مسندابي يعلى:٦٤٨٩، مسندابي عوانه:٥٨٢٣.

[2] ٢٩/العنكبوت:١٣.

Scanned with Ca

| الْيَوْمَ | وَالسُّوْٓءَ | عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝۲۷ لا |
|---|---|---|
| نن ورځ | او بدبختي ده | په کافرانو باندې |

**قوله تعالى:- قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ**

**دَ نمرود وغيره انجام:**-بعضې خووائی چه د دې مکارنه مراد نمرود دې چا چه بالاخانه تياره کړې وه د ټولو نه اول د ټولونه زياته سرکشی هم هغه په زمکه کړې وه. الله تعالى دهغه د هلاکت د پاره يو ماشې راوليګلو چه دهغه په پوزه کښې ننوتلواودڅلوروسوو کالوپورې دهغه مازغه ستل.پدې موده کښې به هغه ته لږ شان آرام وو کله چه به ئې هغه په سر په چيترو وهلو. ښه د دواړو لاسونو په زور سره به د هغه په سرچيترې دانګولې شو هغه څلورسووکالوپورې بادشاهي هم کړې وه او ښه فساد ئې خور کړې وو.

**دويم قول ، دې نه مراد بخت نصردې:**-بعضې وائی چه دې نه مراد بخت نصردې دې هم ډير مکارو خو الله تعالى ته څوک څه نقصان رسولې شی که د هغه مکر د غرونو د خپل ځائ نه خوزونکې ولې نه وی.

**دريم قول دا د عام کافرانو مثال دې:**-بعضې وائی چه داخودکافرانو اومشرکانو چه د غير عبادت ئې کولو د هغوی د عمل د بربادئی مثال دې لکه چه حضرت نوح ﷺ فرمائيلی وو ﴿وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا﴾[1] دې کافرانوډيرمکراوفريب اوکړو په هره يوه بهانه باندې ئې خلق ګمراه کړل اوپه هره طريقه ئې خلق په شرک باندې تيارکړل نودهغې تابعدار به د قيامت په ورځ هغوی ته وائی چه ستاسو د شپې ورځې مکر چه په مونږ باندې موکفر او شرک وئيلوالخ.[2]دهغوی دعمارت په جرړه او بنيادسره د الله تعالى عذاب راغلو يعنى بالکل ئې اوکنستلو د اصل نه ئې پريکړو. لکه چه ارشاددې چه کله د جنګ اُور تيزول غواړې نو الله تعالى هغه مړکوی[3] بل ځائ فرمان دې چه هغوی له الله تعالى د داسې ځائ نه راغلو چرته نادانسته چه د هغوی وهم اوګمان هم نه وو.د هغوی په زړونوکښې داسې رعب واچولو چه دوی په خپلو لاسونو باندې خپل مکانات تباه کول اوبل طرف ته د مؤمنانو د لاسه ختم شو. عقل مندو عبرت حاصل کړئی.[4] دلته فرمائی چه الله تعالى دهغوی دمکان د بنياد نه راغلو او په هغوی باندې د بره نه چت راغلو او هر ځائ نه په هغوی باندې عذاب راغلو. د قيامت د ورځې رسوائی او سپکاوې لا پاتې دې. هغه وخت به پټ ټول راښکاره شی. د دننه نه به ټول بهر راشی. هرڅه به راښکاره شی.

**قيامت کښې به هرعذاب سره دعذر جهنډا وی:**-حضورﷺ فرمائی چه هريوغداردپاره به هم هغه سره جهنډا خښه کړې شی چه دهغه د غدراو دهوکې مطابق به وی اومشهورولې به شی چه د فلانکی دا غدر دې کوم چه د فلانکی ځوئ وو[5]دغه شان به داخلق هم دټولوپه وړاندې په ميدان حشرکښې رسوا کولې شی.دهغوی نه به د هغوی پروردګار په غصه کښې تپوس فرمائی چه د چا په حمايت کښې تاسو زما بنديګانو سره اينختلې ئې هغه نن چرته دی؟ ستاسو امداد ولې نه کوی؟ نن بې يارومددګاروليې ئې؟ دوی به چپ شی څه جواب به ورکړی او عاجز به شی کوم يو د دروغو دليل پيش کړې شی؟ دغه وخت کښې به علماء کرام چه د الله تعالى اود هغه د مخلوق سره به عزت لری جواب به ورکړی چه رسوائې او عذاب نن کافران راګيرکړی دی اود هغوی معبودانو د دې باطلانونه مخ اړولې دې.

[1] ٧١/نوح:٢٢.

[2] ٣٤/سبا:٣٣.

[3] ٥/المائدة:٦٤.

[4] ٥٩/الحشر:٢.

[5] صحيح بخاری باب مايدعی الناس بابائهم:٦١٧٧، صحيح مسلم:١٧٣٥، مسندابويعلى:٥٣٤٢.

Scanned with Ca

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
| په هغه باندا| چي کله روح قبض کوی دهغوئ| فرښتي
چي فرښتي ئې په داسې حال کښې روحونه اخلی |
ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ص فَاَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا
په دا حال چي ظلم کونکی دی |په ځانونو خپلو باندې| نو وړاندې به کړی | صلحه | چي نۀ وو مونږه
چي په خپلو ځانونو باندې ئې ظلم کولو | نو بيا به هغوئ د صلحې خبره پيش کړی | چې مونږ
نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ط بَلٰٓى اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ بِمَا
| چې کول به مو څه بدی | ولې مونۀ کوله | بيشکه الله | ښه خبر دې | په هغه کارونو
خو هيڅ بد عمل نه دې کړې| ..........بيشکه الله ﷻ ستاسو د ټولو عملونو نه
كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط
چې وئ تاسو| چې کول به تاسو|اوس ننوځئ| دروازو| ددوزخ ته| چې هميشه به اوسئ| په هغې کښې
خبر دې | نواوس ددوزخ دروازو ته ورداخل شئ| تاسو به په دې کښې هميشه پراته يئ | د تکبر کونکو
فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٢٩﴾ وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ
نو ډير خراب دې | ځائې داوسيدو| دتکبر کونکو خلقو | اوچي اووئيلي شو| هغه کسانو ته
دپاره څومره خراب ځائې دې|.......... او متقيانو ته (د تپوس په طور) اووئيلی شو
اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ط قَالُوْا خَيْرًا ط
چې ځان ئې اوساتودشرك نه| څه څيز| نازل کړې دې| رب ستاسو| نو اووئيل هغوئ | چې بهتره څيز
چې ستاسو رب څه رانازل کړی دی | نو جواب ورکوی چې ډير ښه کلام يې نازل کړې دې
لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ط وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ
دپاره دهغه کسانو| چې نيکي اوکړه هغوئ| په دې دنيا کښې| نيکه جزاده| اوخامخا کور| داخرت ئې
د نيکو کارو دپاره په دې دنيا کښې نيکه بدله ده | اوخامخا د اخرت کور (جنت) د ټولو نه
خَيْرٌ ط وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٠﴾ لا جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا
ډير غوره دې | او ډيرښه دې | کوردمتقيانو | باغونه| دهميشه اوسيدو| چې ننوځي به هغې ته
بهتر دې | او دپرهيزګارو هغه کور ډير ښۀ کوردې| د هميشه اوسيدو باغونه دی |هغې ته به دوی
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ ط
بهيږی به | لاندې دهغې نه | نهرونه | وی به هغوئ لره | په هغې کښې | هغه چې | غواړی هغوئ
ورداخليږی | ددې لاندې به نهرونه بهيږی | دوی چې هلته څه غواړی | هغه به ورته ملاويږی
كَذٰلِكَ يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٣١﴾ لا الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ
دارنګې بدله ورکوی الله| پرهيزګارانوته | هغه پرهيزګاران| چې کله روحونه قبض کوی دهغوئ نه
پرهيزګارانوته الله ﷻ دغه شان بدله ورکوی | دا هغه خلق دی چې فرښتې د دوی روحونه

Scanned with Ca

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| الْمَلٰٓئِكَةُ | طَيِّبِيْنَ لا | يَقُوْلُوْنَ | سَلٰمٌ | عَلَيْكُمُ لا | ادْخُلُوا | الْجَنَّةَ |
| فرښتې | په حالت دپاکېزګۍ کښې | نووائي ورته | سلام دوی | په تاسوباند | ننوځئ تاسو | جنت ته |
| په د اسې حال کښې قبض کوي | چې پاکان وي | فرښتې ورته اووائي چې په تاسو دې سلام وي اودخپلونيکو | | | | |
| بِمَا | كُنْتُمْ | تَعْمَلُوْنَ ۝ | | | | |
| په سبب د هغې عملونو | چې وئ تاسو | چې کوئ به تاسو | | | | |
| عملونو په بدله کښې جنت ته ورداخل شئ | | | | | | |

**قوله تعالى:-** ﴿الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ﴾

**دَ مرګ په وخت کښې دَ ظالمانو کيفيت:-** د مشرکانود مرګ په وخت کښې حال بيانيږي چه کله فرښتې د هغوی د روح ويستلو د پاره راځي نودې هغه وخت کښې د اوريدلوعمل کولو او منلواقرار کوي او دې سره خپل کارونه پټوی اوخپله بې ګناهي بيانوی.د قيامت په ورځ به هم دالله تعالى په وړاندې قسمونه خوړلو سره خپل مشرك نه کيدل بيانوی څنګه چه په دنياکښې دخلقو په وړاندې خپله بې ګناهئ باندې قسمونه خوري.دوی ته به جواب ملاويږي چه دروغژن ئې او په بنه کولاوزړه مو بدعملئ کړې دی الله تعالى غافل نه دې چه ستاسو په ستاسو په خبروکښې به راشی په هغه باندې هريوعمل ښکاره دې اود خپلوکړوسزا اوخورئې اود دوزخ دروازو ته لاړ شئ اودهميشه دپاره دې خراب ځای کښې پراته اوسئ.

**د کافرانو دپاره خراب مقام:-** مقام خراب مکان خراب د ذلت او رسوائي والا دابدله د الله تعالى د آياتونو تکذيب اود هغې نه کبر کونکو اود هغه د رسولانود تابعدارئ نه ځان پټولو. مړه کيدوسره د هغوی روحونه دوزخ ته اورسيدل اوپه بدنونوباندې په قبرونوکښې د دوزخ ګرمی اود هغې لمبې راځي. د قيامت په ورځ به روحونه بدنونوسره يوځای شي او د دوزخ په اُورکښې به ورځي چه نه به مرګ وي او نه څه کمې.لکه چه دالله تعالى فرمان دې ﴿الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ﴾[1] دوی د دوزخ اُور له هر سحر اوماښام راوړلې شی د قيامت قايم کيدو سره به اې آل فرعون تاسو سخت عذاب ته ورځئ.

**دَ نيکانوخلقو بهترين انجام:-** د بدانوحال بيانولو سره اوس دنيکانوحالات چه بالکل د هغوی نه بدل دی بيانولې شي. دبدانوخلقو جواب خودا وو چه د الله تعالى کتاب صرف د وړاندينوقصې نقل کول دی خو دانيکان خلق جواب ورکوی چه دا خو سراسر برکت او رحمت دې څوك هم چه دا اومني په دې عمل اوکړي هغه به دبرکت اورحمت نه ډك شي.بيا فرمائي چه ماخپلورسولانوسره وعده کړې ده چه نيکانوته به د دواړو جهانوخوشحالئ حاصليږي. لکه چه ارشاد دې چه کوم سړې نيك عمل اوکړي که هغه ښځه وی که سړې اوداضروری دی چه هغه مؤمن وی نومونږ به هغوی ته ډير پاك ژوندون ورنصيب کړو اود هغوی د بهترين عملونوبدله به هم ضرور ورکوو. ([2]) په دواړو جهانونوکښې به بدله بيامومي.

**داخرت کور ددنيا دکور نه ډير زيات بهتر دې:-** يادساتئې چه د آخرت کور د دنياد کورنه ډير غوره او ښه دې د هغه ځای بدله ډيره ښکلې او د هميشه د پاره ده. لکه چه د قارون د مال خواهش کونکوته علماؤ کرامو فرمائيلې وو چه د الله تعالى ثواب بهتردې الخ. د قرآن کريم ارشاد دې ﴿وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ۝﴾ ([3]) الله تعالى سره د نيکوکاروخلقو د پاره اعلى څيزونه دی بل ځای ارشاد دې آخرت خير او باقی دې. خپل نبی ﷺ ته ئې خطاب کولو سره اوفرمائيل ستاد پاره آخرت د دنيا نه بهتردې. بيافرمائي چه د

[1]) ٤٠/المؤمن:٤٦.
[2]) ١٦/النحل:٩٧.
[3]) ٣/آل عمران:١٩٨.

Scanned with Ca

آخرت كوردمتقيانودپاره ډير ښه دي جنات عدن بدل دي د﴿ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴾ يعنى د دوى دپاره دآخرت په كور كښې جنت عدن دي كوم ځائ چه به هغوى اوسيږى دكومې دونواومحلونولاندې چه يوشان او هر وخت چينې روانې دى چه څه غواړى ملاويږى به د ستركوهريويخوالې به ملاويږى اوهغه هم د هميشه د پاره. په حديث شريف كښې دى چه جنتيان به ناست وى په سرباندې به ئى اوريځې راوچتيږى اوچه دوى كوم يوخواهش كوى هغه به په دوى باندې راوروى تردې پورې چه كه څوك اووائى چه هم عمر پيغلې دې راووريږى نودا به هم كيږى.پرهيزګارو اوتقوى داروخلقو ته الله تعالى همداسې بدلې وركوى څوك چه ايمانداروى ويريدونكې وى او نيك عمل وى د هغوى د وفات په وخت كښې دوى د شرك د ګندګى نه پاك وى. فرښتې راځى سلام كوى د جنت زيرې ورته اوروى چه د الله ﷻ ارشاد دې﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ﴾ ([1])كوم خلقوچه الله تعالى رب اومنلواوبيا په دې باندې قايم پاتې شوهغوى له فرښتې راځى او ورته وائى چه غم او ويره مه كوه د جنت زيرې واوره د كوم چه تاسره وعده وه مونږ په دنيا او آخرت كښې ستا خيال ساتونكى يو چه ته څه غواړى بيامومې به او چه څه غواړې ملاويږى به ته د الله تعالى چه ښښونكې اومهربان دې ميلمه ئى. د دې مضمون أحاديث مونږ په آيت ﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾([2]) په تفسير كښې بيان كړى دى.

| |
|---|
| هَلْ يَنْظُرُوْنَ إِلَّآ |
| ايا انتظاركوى دوئ \| بس دې خبرى ته \| |
| آيا دا كافران صرف په دې انتظار كښې دى |
| أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ |
| چې راشى دوئ ته \| فرښتې \| يا راشى \| حكم \| درب ستا \| دارنګې \| كارونه كړى وؤ \| هغه كسانو |
| چې دوئ ته فرښتې راشى \| ياستا د رب حكم (چې عذاب ياقيامت دى) ورته راشى \| دغه شان د هغوخلقو |
| مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا أَنْفُسَهُمْ |
| چې مخكښې ددوئ نه وؤ \| اونۀ ووكړې ظلم په هغوئ باندالله \| وليكن \| ووهغوئ \| په ځانونوخپلوباند |
| كردار هم ووا \| چې ددوئ نه وړاندې تيرشوى وو \| او الله ﷻ په هغوى هيڅ ظلم نه ووكړې \| بلكه هغوى پخپله په |
| يَظْلِمُوْنَ ۝ فَأَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ |
| چې ظلم به ئې كوؤ \| نواورسيده هغوئ ته \| ناكاره بدله \| دهغې عملونو \| چې كړى ووهغوئ \| اوچاپيره شو |
| خپلوځانونو ظلم كولو \| نونتيجه دا شوه چې اخر هغوى ته د خپلو ګناهونو سزا اورسيده \| اوهغه عذاب ترې |
| بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ |
| دهغوئ نه \| هغه عذاب \| چې ووهغوئ \| چې په هغې پورې به ئې توقې كولې \| |
| راچاپيره شو \| چې دوئ به ورپورې توقې كولې \| |

**قوله تعالى:- هَلْ يَنْظُرُوْنَ إِلَّآ أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ**

**مشركان دكوم څيز انتظاركوى:-** الله تعالى مشركانوته په غصه كښې فرمانى چه دوى ته خود هغه فرښتو انتظار دې چه د دوى روح قبض كولوله به راځى ياد قيامت انتظاردې اود دې د تباهو او بربادو. د

[1] ٤١/حٰم السجدة: ۳۰.

[2] ١٤/ابراهيم: ۲۷.

Scanned with Ca

دوی په شان د دوی نه د وړاندې مشرکانو هم دا طریقه وه تردې چه په هغوی د الله تعالی عذاب راغلو
الله تعالی خپل حجت پوره کړو د هغوی عذرونه ئې ختم کړل کتابونه ئې نازل کړل رسولان ئې راولیګل
نوبیا د هغوی دانکار په اصرار باندې په هغوی عذاب نازل کړو. دالله ﷺ رسولانو نه دهمکیانې او هغوی
پورې د ټوقومسخروکولو په وبال او نقصان کښې راګیر کړې شو. الله تعالی په هغوی باندې ظلم نه دې
کړې بلکه هغوی پخپله خپل کارخراب کړو. هم په دې وجه به هغوی ته د قیامت په ورځ وئیلې شي چه
دادې هغه اُور کوم چه تاسو دروغ ګڼړلو.

وَقَالَ الَّذِيْنَ | اَشْرَكُوْا | لَوْ | شَآءَ اللّٰهُ | مَا عَبَدْنَا

او اووئیل هغه کسانو | چې شرک ئې کړې وؤ | که چرې | غوښتلې الله | نو عبادت به نهٔ وؤ کړې مونږه

او هغه کسانو اووئیل چې شرک ئې کړې دې | که چرې الله غوښتلې نو نه به مونږ دالله ﷺ نه سوا دبل چا عبادت کړې وې

مِنْ دُوْنِهٖ | مِنْ شَيْءٍ | نَّحْنُ | وَلَآ اٰبَآؤُنَا | وَلَا حَرَّمْنَا

بغیر دهغه نه | دهیڅ خیز | مونږه هم | اونهٔ پلارانو زمونږه | اونهٔ به وؤ حرام کړې مونږه |

اونه زمونږ پلار نیکونو (دبل چا عبادت کړې وې) او نه به د هغه د حکم نه بغیر مونږ څهٔ خیز

مِنْ دُوْنِهٖ | مِنْ شَيْءٍ ؕ | كَذٰلِكَ | فَعَلَ | الَّذِيْنَ | مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ

بغیر دحکم دهغه نه | هیڅ خیز | همدارنګې | کارکړې وؤ | هغه کسانو | چې مخکښې ددوئ نه وؤ

حرام کړې وو او هم دغسې بهانې هغې خلقو هم کړې وې | چې د دوئ (اهل مکه) نه وړاندې تیر شوی وو

فَهَلْ | عَلَى الرُّسُلِ | اِلَّا | الْبَلٰغُ | الْمُبِيْنُ ۝ | وَلَقَدْ بَعَثْنَا

نو آیا شته | په رسولانو باندې بله ذمه واری | بغیر | درسونې | ښکاره نه | او بیشکه اولیږو مونږه

دپیغمبر په ذمه خو بس (دالله احکام) ښکاره رسول دی | ............ او مونږ په هر قوم کښې یو نه یو

فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ | رَّسُوْلًا | اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ | وَاجْتَنِبُوا | الطَّاغُوْتَ ۚ | فَمِنْهُمْ

په هرامت کښې | یورسول | چې بندګی کوئ دالله | اوځان اوساتئ | دسرکشانو نه | نوځینې دهغوئ نه

پیغمبر ضرور لیږلې دې | (چې ائې خلقو) د الله ﷺ عبادت کوئ | او د بتانو دعبادت نه ځان بچ ساتئ

مَّنْ | هَدَى اللّٰهُ | وَمِنْهُمْ | مَّنْ | حَقَّتْ | عَلَيْهِ

هغهٔ خوك وؤ | چې ورته لاراوښودله الله | اوځینې دهغوئ نه | هغه خوك وؤ | چې ثابته شوه | په هغه باند

په دوئ کښې بعضې داسې دی | چې الله ﷺ ورته هدایت اوکړو | او بعضې داسې دی چې په هغوی

الضَّلٰلَةُ ؕ | فَسِيْرُوْا | فِي الْاَرْضِ | فَانْظُرُوْا | كَيْفَ | كَانَ | عَاقِبَةُ

ګمراهي | نو اوګرځئ | په زمکه کښې | پس اوګورئ | چې څرنګې | وؤ | انجام |

ګمراهي واقع شوې ده | نو تاسو په زمکه کښې اوګرځئ | او اوګورئ چې د دروغ ګڼړونکو

الْمُكَذِّبِيْنَ ۝ | اِنْ تَحْرِصْ | عَلٰى هُدٰىهُمْ | فَاِنَّ اللّٰهَ | لَا يَهْدِيْ | مَنْ

ددروغ ګڼړونکو | که ته حرص اوکړې | په هدایت ددوئ باند | نو بیشکه الله | نهٔ ښائي لار | هغه چاته

خلقو انجام څهٔ شو؟ | که ستاسو دا خواهش وی | چې دوئ به په نیغه لار روان شي | نو الله هغه څوک په نیغه لار

Scanned with Ca

| | | |
|---|---|---|
| يُّضِلُّ | وَمَا لَهُمْ | مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۞ |
| چې گمراهه کوي ئې الله | اوندۀ وي هغوئ لره | دمددګارانو نه هيڅوک |
| نه روانوی | چې يو ځل ئې ګمراه کړې وي | اوددا سې خلقو دپاره څوک مددګار نشته |

**قوله تعالى:- وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا**

**د مشرکانو د الله تعالى د منشانه غلط استدلال:-** دمشرکانو اولتپه کهوپروته ګورئې ګناه کوي په شرك باندې کلك ولاړدي حلال حرام کوي لکه ښاروي د خپلو معبودانو په نوم کول تقدير حجت جوړکړي او وائي که الله تعالى ته زمونږ او زمونږ د مشرانو دا کارونه بدمعلوميدل نومونږ ته به ئې هم هغه وخت سزا راکوله. دوی ته جواب ورکولې شي چه دا زمونږ دستور نه دې زمونږ ستاسو دا کارونه ډير ناخوښه دی اود دې د ناخوښئې ښرګندونه مونږ د خپلوپيغمبرانو په ژبه کړې ده په ډير سخت تاکيد سره مونږ تاسو د دې نه منع کړې ئې. په هرکلي هره ډله او هريوښارکښې خپل پيغام رسونکي ليګلي دی خپل فرض ئې اداکړل د الله تعالى په بنديګانو کښې ئې د الله تعالى د احکامو تبليغ صفاصفا اوکړو ټولوته ئې اووئيل د يوالله تعالى عبادت کوئې د هغه نه بغيرد بل چا عبادت مه کوئې. د ټولونه اول چه په زمکه باندې شرك ښکاره شو نوالله تعالى حضرت نوح ﷺ ته د نبوت خلعت ورنصيب کړو اود ټولونه په آخر کښې دختم المرسلين خطاب ورکولو سره رحمة اللعالمين ئې خپل نبی جوړکړو د چا دعوت چه د ټولو انسانانو او پيريانود پاره په مخ د زمکې د ګوټ ګوټ پورې وو لکه چه فرمائي ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ۞﴾ (١)يعنى تانه وړاندې چه څومره رسولان ليګلې شوی وو هغوی ته وحی نازل کړې شوې وه چه زما نه بغيرېل څوك معبود نشته نوتاسو صرف هم زما عبادت کوئې.بل آيت کښې دی چه تانه د وړاندې رسولانونه تپوس اوکړه آيامونږ دهغوی د پاره بغيرد خپل ځان نه بل معبودمقرر کړې وو د کوم چه هغوی عبادت کوی؟(٢) دلته هم اوفرمائيلې شو چه د هرامت رسولانودعوت د توحيد تعليم او د شرك نه ويزاری وه نو مشرکانو له په خپل شرك باندې د الله تعالى په خوښولوباندې دليل راوړل څنګه مناسب معلوميږي؟دالله تعالى خوښې خود هغه د شريعت نه معلوميږي او دهغه شروع د شرك ختمول اود توحيد د مضبوطولو نه ده.

**د کافرانو د استدلال جواب:-** دټولورسولانو په ځله هغه هم دا پيغام ليګلې اود هغوی شرك کول پريخودل دابله خبره ده کومه چه دحجت قابله نه ده.الله تعالى دوزخ اودوزخيان هم پيدا کړی دی شيطان کافرانو ټول هم هغه پيداکړی دی هغه د خپلو بنديګانونه د هغوی په کفرکولو باندې راضی نه دې په دې کښې هم دهغه حکمت تامه او حجت بالغه دې. بيا فرمائي چه د رسولانودخبرولو نه پس دنياوی سزاګانې به هم په کافرانو اومشرکانو باندې راځی بعضو ته هدايت هم اوشو اوبعضې په خپله ګمراهئې کښې لاهوشول.تاسودرسولانود مخالفت کونکو د الله تعالى سره دشرك کونکو انجام په زمکه کښې ګرځيدو سره پخپله اوګوره. د تيرو شوو واقعاتو چه چاته علم دې د هغوی نه تپوس اوکړه چه څنګه د الله تعالى عذابونو مشرکان غرق کړل د هغه وخت په کافرانوکښې د دې وخت د کافرانود پاره مثالونه او عبرتونه موجود دی. ګوره د الله تعالى نه د انکار نتيجه څومره تباه کن شوه؟

**د نبی په اختيار کښې هدايت نه وی:-** بيا خپل رسول ﷺ ته فرمائي ته د دوی د هدايت څومره حرص کوې خوبې فائدې دی رب د دوی د ګمراهو په وجه دوی د رحمت د درنه لرې غورزولې دی. لکه چه ارشاد

(١) ٢١/الانبياء:٢٥.
(٢) ٤٣/الزخرف:٤٥.

Scanned with Ca

دي ﴿وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ فَلَن تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا﴾[1] ځوك چه الله تعالى په فتنه كښي اچول غواړي هغه ته ځوك هم فائده نه شي رسولي. حضرت نوح ﷺ خپل قوم ته فرمانيلي وو كه د الله ﷻ اراده ستاسو د خونيولو ده نوزما نصيحت او خيرخواهي ستاسو دپاره بې كاره ځيز دي په دې آيت كښې هم فرمائي چه دالله ﷻ گمراه كړې شوى ځوك هم په لاركولي نه شي. لكه چه بل آيت كښې دى چه الله ﷻ ئې اوخونيوي نوهغه ته ځوك هدايت نه شي وركولي. هغوى خوورځ په ورځ په خپله سركشني كښې وراندې كيږي ([2]) ارشاد دې په چا چه ستاد رب خبره ثابته شوې ده هغوى ته د ايمان نه نصيب كيدو لكه چه ټولي نښي راغلي وى اوتردې چه د دردناك عذاب مخ اوويني نوالله ﷻ يعني دهغه شان اودهغه امرځكه چه هغه څه غواړي نوكيږي چه نه غواړي نونه كيږي نوفرمائي چه هغه خپل گمراه كړې شوى نه په لاركوى او نه بل ځوك د هغوى لارخودنه كولې شي ځوك دهغه دامداد دپاره پاسيدې شي چه دالله ﷻ دعذاب نه ئې بچ كړي خلق اوامرهم دالله ﷻ دي هغه رب العالمين دي دهغه ذات دبركت دي هم هغه ربښتوني معبود دي

وَأَقْسَمُوا
| اودي خلقو قسمونه اوخوړل
|اودا خلق په الله

بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَنْ يَمُوتُ بَلَىٰ
په الله باند| په سختو | قسمونو خپلوسره | چې ژوندى به نه كړي الله | هغه ځوك | چې مرى | ولې نه
سخت قسمونه خوري | چې الله به هغه ځوك دوباره راژوندې نكړي ځوك چې يوځل مړشي | ولې نه

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝ لِيُبَيِّنَ
داوعده ده| په هغه باند| حقه| وليكن | زيات دخلقو نه | نه پوهيږي | دپاره ددې چې ښكاره كړي
داوعده خو دالله ﷻ په ذمه لازمه ده| خو زيات خلق نه پوهيږي |دې دپاره به ئې ژوندى كوي چې دوى

لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ
هغوئ ته|هغه حقيقت|چې دوئ اختلاف كوى|په هغې كښې|اودپاره ددې چې معلوم شي|هغه خلقوته
ته د هغه ځيز حقيقيت ښكاره كړي | په كوم كښې چې دوئ اختلاف كولو | اود دې دپاره به ئې ژوندى كوى

كَفَرُوا أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ ۝ إِنَّمَا قَوْلُنَا
چې دحق نه ئې انكار كړې دې| چې بيشكه هغوئ| وو | دروغژنان | بيشكه| چې خبره زمونږه
چې دكافرانو يقين راشي چې هم دوئ دروغژن وو| ..............مونږ چې د يو ځيز د پيدا كولو

لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ۝
يو ځيز ته | كله چې | اراده اوكړه مونږ | داده چې | اووايومونږه | هغه ځيزته | شه | نو هغه شي |
اراده اوكړو | نو دومره ورته اووايو | چې موجود شه | نو هغه موجود شي (بلكه دې ته هم ضرورت نه وى)

[1] ٥/المائدة:٤١.
[2] ٧/الاعراف:١٨٦.

**قوله تعالى:-** إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَّقُوْلَ

**قیامت قایمول د الله تعالى دپاره ډیر آسان دی:-** کافران د قیامت قائل نه دی په دې وجه هغوی د نورو خلقوهم ددې عقیدې نه داړولوپوره کوشش کوی. ایمان خرڅوی اود الله تعالى کلك قسمونه خوړلو سره وائی چه الله تعالى به مړی نه ژوندی کوی. الله تعالى فرمائی چه قیامت په خامخاراځی اودا وعده حق ده خو اکثر خلق په وجه د خپل جهالت او ناپوهئی د رسولانومخالفت کوی. د الله تعالى خبرې نه منی اود کفر په کنده کښې پریوځی.

**قیامت کښې به هر څه ښکاره شی:-** بیا د قیامت د راتلواود بدنونو د بیا راژوندی کیدو بعضې حکمتونه ښکاره کوی فرمائی په کوم کښې چه یودا دې چه په دنیاوی اختلافاتوکښې حق څه وو هغه به ښکاره شی بدانوته به سزا او نیکانو ته بدله ملاوشی د کافرانو په خپله عقیده او خپل قول کښې او په خپل قسم کښې دروغژن کیدل ښکاره شو. هغه وخت به ټول اووینی چه دوی له به دیکې ورکوی او دوزخ کښې به ئې ننه باسی او ورته به وئیلې شی چه دادې هغه دوزخ کوم نه چه انکار کولو اوس اوښائې چه جادو دې که تاسو ړانده ئی؟ په دې کښې اوس پراته اوسئ که صبر کوې اوکه چغې وهئی ټول یوشان دی.د عملونو بدله زغمل ډیر ضروری دی. بیا دخپل بې اندازې طاقت بیان فرمائی چه هغه څه غواړی په هغې باندې قادر دې هیڅ خبره هغه عاجز کولې نه شی هیڅ یوڅیز د هغه د اختیار نه بهر نه دې هغه چه څه کول غواړی ورته فرمائی چه اوشه نو هم هغه وخت هغه کارکیږی. قیامت هم د هغه د فرمان عمل دې لکه چه فرمائی چه د یوې سترګې په رپ کښې به د هغه وینا والا کاراوشی.

**الله ﷻ دپاره مړه‌کول او ژوندی کول یو شان دی:-** ستاسو ټولو پیداکول اودمرګ نه پس بیا راژوندی کول په هغه باندې داسې دی لکه دیو.اځوائې اوونیل چه اوشه دیخوا به اوشی هغه ته خود دوباره وینا کولو اوتاکید کولوضرورت هم نشته.دهغه دارادې نه مراداومقصدجدانه دې.هیڅ څوك نشته چه دهغه خلاف اوکړې شی.څوك دې چه دهغه دحکم نه خلاف ژبه اوخوزولې شی هغه واحدقهاردې هغه د عظمتونو اوعزتونووالادې دسطلنت اوجبروت والادې دهغه نه بغیرنه څوك معبودنه رب نه حاکم اونه قادر

**الله ﷻ سره شریك جوړول الله ﷻ ته کنځل کول دی:-** حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی دالله تعالى ارشاد دې چه بنیادم ماته کنځلې کوی داسې نه دی کول پکار. هغه ما دروغژن ګنړی داهم هغه سره ښه نه ښائی د هغه دروغ ګنړل خوداسې دی که تاکیدی قسمونه خوړلوسره وائی چه الله تعالى به بیا مړی نه راژوندی کوی. زه وایم چه یقیناً به ژوندی کیږی داحق وعده ده خو اکثر خلق نه پوهیږی اود دوی ماته کنځل کول دا دی چه وائی الله تعالى په دریوکښې دریم دې حالانکه زه احد یم زه الله یم زه صمد یم د چا چه څوك هم جنس نشته.([1]) ابن ابی حاتم کښې خودا حدیث موقوفاً روایت دې په بخاری او مسلم کښې په نورو الفاظوسره مرفوعاً هم روایت راغلې دې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالَّذِيْنَ | هَاجَرُوْا | فِي اللهِ | مِنْ بَعْدِ | مَا ظُلِمُوْا |
| اوهغه کسان | چې هجرت ئې اوکړو | په لاره دالله کښې | روستو دهغې نه | چې ظلم اوکړې شو په هغوئ |
| اوچا چې د الله ﷻ دپاره هجرت کړې دې | | | د دې نه روستو چې ظلمونه پرې شوی وو | |
| لَنُبَوِّئَنَّهُمْ | فِي الدُّنْيَا | حَسَنَةً | وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ | اَكْبَرُ |
| خامخا به ځائې ورکړومونږ هغوئ له | په دنیا کښې | ښه | او خامخا اجر داخرت | ډیرلوئ دې |
| نو مونږ به ورته خامخا په دنیا کښې هم ډیره ښه ټیکاؤنړه ورکړو | | | او د اخرت بدله خو ډیره لویه ده | |

[1] صحیح بخاری کتاب التفسیر سورت (قل هو الله): ٤٩٧٤.

Scanned with Ca

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٤٢﴾

كاش چي وې | چي پوهيدئ هغوئ | هغه | چي هغوئ صبر اوكړو | او په رب خپل باندې | بروسه كوي هغوئ

كه (هغه هجرت نه پاتې كيدونكي) پوهيدلې | دا هغه كسان دي چې صبر ئي كړې دې | او پخپل رب توكل كوي

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَاسْئَلُوْٓا

او نه وو ليږلي مونږ | مخكښې ستانه | مگر | سړي | وحی به كوله مونږه | هغوئ ته | نو تپوس اوكړئ

او مونږ ستانه مخكښې صرف سړي پيغمبران ليږلي دی | چې وحی به موورته كوله | نو د عالمانو

اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ ط

دعالمانو نه | كه يئ تاسو | چې نۀ پوهيږئ | دغه رسولان ليږلي وو مونږ د روښانه نښو | او كتابونو سره

نه تپوس اوكړئ | كه تاسو پخپله نه پوهيږئي | (هغوئ مود) په ښكاره دليلونو او كتابونو سره (ليږلي وو)

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ

او نازل كړو مونږه | تا ته | دا ذكر | د پاره ددې چې تۀ بيان كړې | خلقو ته | هغه | چې نازل كړې شوي دې

او مونږ تا ته كتاب را نازل كړې دې | چې خلقو ته هغه كلام ښكاره كړې كوم چې د دوئ طرفته

اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٤﴾

هغوئ ته | د پاره ددې چې هغوئ فكر اوكړي |

نازل شوې دې | او چې دوئ سوچ او فكر اوكړي |

قوله تعالى:- لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ط

**د الله تعالى په لاركښې د هجرت كولو فضيلت:**- كوموخلقو چه د الله تعالى په لاركښې خپل وطن پريخې دوستان خپلوان رشته داران كار روزگار او تجارت ئې دالله تعالى په نوم پريخې دې او دالله تعالى د دين د ساتلو دپاره هجرت كوی د هغوی اجربيانولې شی. په دواړه جهانه كښې دی د الله تعالى ميلمانه دی عزت مند او محترم دی.

**دد ايت مبارک د نازليدو سبب:**- ډير ممكن دی چه د نازليدلوسبب د دې مهاجرين حبش وی چه په مكه كښې دمشركانو سختې سزاگانې زغملونه پس حبشه ته هجرت اوكړو لاړل چه په آزادئی سره د الله تعالى په دين باندې عمل اوكړی. دهغوی بهترين خلق داوو. حضرت عثمان بن عفان ﷺ اودوی سره ددوی بی بی حضرت رقيه k هم وه چه د رسول الله ﷺ لوربی بی وه او حضرت جعفرﷺ بن ابی طالب چه د رسول الله ﷺ د تره خوئ وو، حضرت ابوسلمه بن عبدالاسدﷺ وغيره تقريبا اتيا كسان وو سړی هم وو اوښځې هم چه ټول په ټول صادقان وو. الله تعالى دې ددې ټولونه خوشحاله وی اودوی دې هم خوشحاله كړی. نو الله تعالى داسې ريښتونوسره وعده فرمائی چه هغوی ته به ښه ځائ ورنصيب كوی لكه مدينه او پاک رزق. د مال هم بدله ملاؤشوه اود وطن هم. حقيقت دا دې چه كوم سړې د الله تعالى د ويرې څنگه څيز پريږدی الله تعالى د هغې په شان بلكه د هغې نه زيات بهترپاک او حلال څيز وركوی. دې غريب الوطن مهاجروته اوگورئی چه الله تعالى دوی حاكمان اوبادشاهان كړل او په دنيا باندې د هغوی حكومت جوړ كړو. اوس لا د آخرت اجر او ثواب باقی دې. كه دهجرت نه ځان پټونكو اوباقی پاتې كيدونكو ته كه د هجرت د اجر او ثواب نه خبروو نو په هجرت كښې به نی وړانديوالې كولو الله تعالى دې د

Scanned with Ca

فاروق اعظم ﷺ نه خوشحاله وی هغوی به چه کله یومهاجر ته د غنیمت د مال حصه وغیره ورکوله واخله الله تعالی دې تاله برکت درکړی دا خود دنیاد الله تعالی وعده ده او اوس خو لاد آخرت اجر کوم چه ډیر لوئ عظیم الشان دې باقی دې بیا به ئې هم د دې آیت مبارك تلاوت کولو.

**مهاجرینوصفات:**-ددې پاکو خلقو نور صفتونه بیانولوسره فرمائی چه کوم تکلیفونه د الله تعالی په لارکښې دوی ته رسی دوی هغه برداشت کوی اوپه الله تعالی باندې چه د دوی کوم توکل اوبهروسه ده په هغې کښې هیڅ کله هم فرق نه راځی.په دې وجه د دوارو جهانوښیګړې په خپلو دوارو لاسونو سره راغونډوی.

**دَ رسالت دَ منصب حقدار انسان:**-حضرت عباس ﷺ فرمائی چه کله الله تعالی حضرت محمد ﷺ رسول جوړکړو راوئی لیګلو نوعربوصفاانکاراوکړواو وئی وئیل چه د الله تعالی شان د دې نه ډیر اوچت دې چه هغه څوك انسان خپل رسول جوړکړی د کوم ذکر چه په قرآن کښې هم دې فرمائی﴿لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً﴾ ([1])آیا خلقو ته په دې باندې حیرانتیامعلومه شوې ده چه یوانسان ته خپله وحی نازله کړه چه هغه خلق خبرکړی او فرمائی چه مونږ تانه اول څومره رسولان چه لیګلې وو هغه ټول هم انسانان وو په کومو چه به زمونږ وحی راتله. تاسو د رومبنو آسمانی کتابونو والا نه تپوس اوکړئی چه هغوی انسانان وو که فرښتې. کۀ هغوی هم انسانان وو نوبیاد دې خپلې وینا نه واوړئی. اوکه ثابته وی چه د نبوت سلسله هم په فرښتوکښې راروانه ده نو بې شکه د دې نبی ﷺ انکار کولو سره به تاسو ښه ښکارئی. بل آیت کښې﴿لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً﴾([2])لفظ ئې هم اوفرمائیلو یعنی هغه رسولان هم د زمکې اوسیدونکی وو د آسمان نه نه وو.

**داهل ذکر نه څوك ک مراد دی ؟**:-ابن عباس ﷺ فرمائی چه د اهل ذکر نه مراد اهل کتاب دی. د مجاهد رحمه الله هم دا وینا ده عبدالرحمن فرمائی چه د ذکر نه مراد قرآن پاك دې. لکه چه ارشاد دې ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ﴾([3])کښې دی.دا قول په خپل ځائ ټیك دې خو په دې آیت کښې د ذکر نه مراد قرآن اخستل صحیح نه دی څکه چه د قرآن پاك نه خو هغه خلق منکروو بیا د قرآن والا نه په تپوس کولو سره د هغوې تسلی څنګه کیدې شوه؟ دغه شان د امام ابوجعفر باقر رحمه الله نه روایت دې چه مونږ اهل ذکر یو یعنی دا امت اودا قول هم په خپل ځائ صحیح دې. په حقیقت کښې دا امت د نورو ټولو وړاندینو امتونو نه په علم کښې زیات دی او اهل بیت علما د علماؤ نه په ډیرو درجولوئ دی. خوچه هغوی په سنت مستقیمه باندې کلك ولاړ وی لکه علی ابن عباس ﷺ حسن ﷺ حسین ﷺ محمدبن حنفیه رحمه الله علی بن حسین زین العابدین رحمه الله علی ﷺ عبدالله بن عباس رحمه الله ابوجعفرباقر رحمه الله یعنی محمدبن علی بن حسین اود هغوی ځامن جعفر رحمه الله اود هغوی په شان نور بزرګان حضرات د الله تعالی رحمت او رضادې دوی ته حاصله وی کومو چه د الله تعالی رسئی په مضبوطیاسره نیولې او په صراط مستقیم باندې کلك روان اود هریوحقدارحق ورکونکی.اوهریوکس په خپل اصلی ځائی باندې پیژندونکی اود هر یوعزت اوقدرکونکی وو. او پخپله هغوی د الله تعالی د ټولو مقبولوبندګانو په زړونوکښې ځائ لرونکی وو نودا بې شکه صحیح دی خو په دې آیت کښې دا مراد نه دی.

**ټول انبیاء کرامو په بنی ادم کښې وو**:-دلته بیان کیږی چه حضور ﷺ هم انسان وو اود هغوی ﷺ نه

---

[1] ١٠/یونس:٢۔

[2] ١٢/یوسف:١٠٩

[3] ١٥/الحجر:٩.

وړاندې هم انبياءكرام هم دبنيادمو نه وولكه چه قران كښې ارشاد دې﴿قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا﴾ ([1]) اووايه چه زما رب پاك دې زه صرف يوانسان يم اود الله تعالى رسول يم خلق صرف دا بهانه جوړولو سره انكاركوى چه داځنگه ممكن دى چه الله ﷻ يوانسان له خپل رسالت وركړى.بل آيت كښې دى تانه وړاندې چه څومره رسولان مونږ ليږلي ووهغه ټول خوراك څښاك كونكى اوبازارونوكښې ګرځيدونكى وو([2]) بل آيت كښې دى چه هغوى مونږ داسې جوسې نه وو جوړكړى چه د خوراك څښاك نه بې پرواه وو يادا چه مړه كيدونكى نه وو([3])بل ځائ ارشاد دې﴿ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ ﴾ ([4])چه دا څه د شروع نه يا ړومبې او نوې رسول خونه دې.

بل آيت كښې دى چه زه هم ستاسو په شان انسان يم زما طرف ته وحى نازلولې شى. ([5]) الخ نودلته هم ارشاداوشوچه دړومبو كتابونووالا نه تپوس اوكړئى چه انبياء به انسانان ووكه غيرانسان؟بيا دلته فرمائى چه رسولانوته هغه دليلونه وركولوسره حجتونه وركوى ليګى.په هغوى باندې كتابونه نازليږى. صحيفې هغوى له وركولې شى. د زبرنه مراد كتابونه دى لكه چه قرآن كښې بل ځائ ارشاد دې ﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ﴾([6])كوم څه چه هغوى اوكړه په كتابونوكښې دى بل آيت كښې دى ﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ﴾([7]) مونږ په زبوركښې ليكلې دى.بيافرمائى چه مونږ ستاطرف ته ذكر نازل كړو يعنى قرآن د دې د پاره چه ته د دې دمعنې مطلب نه ښه خبرئى. په دې خلق پوهه كړه. په حقيقت كښې اې نبى ﷺ هم ته د دې خلقو نه ډير حرص كونكې ئى اوهم تاسو د دى ډير لوئ عالم ئى. او هم ته په دې باندې زيات عمل كونكې ئى.ځكه چه ستاسو اخلاق د ټولونه غوره دى د بنيادمو سردارئى كوم اجمال چه په دې كتاب كښې دى د دې تفصيل ستاسو په ذمه دې خلقو ته چه په دې كښې كوم مشكل وى په هغې باندې ئى پوهه كړه دې د پاره چه هغوى پوهه شى او سوچ اوكړى او لار بياءمومى او بيا خلاصې اود دواړو جهانونبيګړه حاصله كړى.

أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا

| آيانوپه امن شوى دى| هغه خلق| چى تدبيرونه ئې اوكړل

| آيا كوم خلق چې كوم چې خراب سازشونه

السَّيِّئَاتِ أَن يَخْسِفَ اللَّهُ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ

ناكاره |ددې خبرى نه چى ډوب به كړى الله | دوئ باندې| په زمكه كښې | يابه راشى دوئ ته | عذاب

جوړوى بې ويرې شوى دى | چې الله دوئ په زمكه كښې ننباسى| يا دوئ باندې د هغه طرف نه عذاب راشى

مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا

دداسې طرفنه | چى دوئ به نه پوهيږى |يا به راونيسى دوئ لره | په ګرځيدو ددوئ كښى | پس نهٔ دى

چې د دوى په وهم اوګمان كښې هم نه وى | يا ددوئ په تګ راتګ كښې (ناګهانه) ونيسى|دوئ په هيڅ

[1]) ١٧/بنى اسرائيل:٩٣.
[2]) ٢٥/الفرقان:٢٠.
[3]) ٢١/الانبياء:٨.
[4]) ٤٦/الاحقاف:٩.
[5]) ١٨/الكهف:١١٠.
[6]) ٥٤/القمر:٥٢.
[7]) ٢١/الانبياء:١٠٥.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هُمْ | بِمُعْجِزِيْنَ ۝ | اَوْ يَاْخُذَهُمْ | عَلٰى تَخَوُّفٍ ط | فَاِنَّ رَبَّكُمْ | لَرَءُوْفٌ |
| دوئ | عاجزه كونكي | يابه اونيسي دوئ لره | په يره باند | پس بيشكه رب ستاسو | خامخامهربان دي |
| صورت كښې الله ﷻ عاجزه كولې نشي | | اويا د ويرې په حالت كښې يې اونيسي | | بيشكه ستارب ډير مهربان | |

رَّحِيْمٌ ۝
رحم كونكى دې|
رحم كونكې دې |

**قوله تعالى:-اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ**

**دَ الله تعالى دَ غضب اوغصې بيان:**-الله تعالى دكائناتوخالق دې اود زمكې اوآسمانونو مالك دې د خپل حلم سره دعلم اوخپلې مهربانئې سره غصې بيان فرمائي كه هغه اوغواړي نوخپل گناهگار بدكردار بنديگان په زمكه كښې خښولې شي په بې خبرې په هغوى باندې عذاب راوستې شي خود خپلې ډيرې مهربانو په وجه معافى كوى لكه چه په سورت تبارك كښې فرمائي الله تعالى چه په آسمان كښې دې آيا تاسو د هغه د غصې نه نه ويريږئې چه زمكه به ترمه جوړه كړي او تاسو په هغې كښې ورخښ نه كړي او تاسو له جوتې دركوى.آيا تاسود آسمان والا د الله تعالى نه نه ويريږئې چه هغه په تاسو باندې د آسمان نه كاڼړې راونه وروى. هغه وخت به تاسوته معلومه شي چه زماويرول څنگه وى؟(١)اودا هم كيدې شي چه الله داسې مكاربدكردارخلق په تلوراتلوخوراك كولو كته كولوكښې راگير كړي په سفر حضر كښې دشپې چه كوم وخت غواړي راگيركړي لكه چه ارشاد دې ﴿اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰى﴾(٢) آيا كلى والا د هغه نه نه ويريږي چه هغوى ته به زمونږ عذاب هم دشپې شپې اوده كيدو كښې راشي يا په رڼا ورځ د هغوى د منډو ترړو په وخت كښې راشي الله تعالى هيڅ كار يا هيڅ يوسړې عاجز كولې نه شي. هغه د بيللو والاسترې كيدلوولايانا كامه كيدلووالا نه دې.اويادا هم ممكن دى چه سره د ويريدو هغوى راونيسي نودواړه عذابونه به يوځائ شي يعنى ويره اونيول.يومړشي بل اوويريږي اوبيامړشي. خو اوچت رب د كائناتو رب ډير زيات رؤف اورحيم دې په دې وجه ئې زر نه راگيروى.

**د الله تعالى نه څوك زيات صبار نشته:**-بخارى اومسلم كښې دى د طبع نه خلاف خبرې اوريدوسره صبر كولوكښې څوك هم د الله تعالى نه زيات نشته. خلقو هغه له اولاد اوكرځولواوهغه دوى ته په عافيت سره رزق وركوى (٣) بخارى اومسلم كښې دى الله تعالى ظالم ته مهلت وركوى خو چه كله نيول نازلوى بيا ناځاپي تباه كيږي.بياحضورﷺ آيت ﴿اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰى﴾(٤)اولوستلو(٥)آيت كښې دى ﴿فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ﴾ (٦) ډير كلى دى كوموته چه ما مهلت وركړو خوآخر د هغوى د ظلم په وجه مو راگيركړل واپس كيدل خو هم زما طرف ته دى.

---

(١) ٦٧/الملك:١٦-١٧.

(٢) ٧/الاعراف:٩٧.

(٣) صحيح بخارى كتاب التوحيدباب قول الله تعالى ﴿ان الله هوالرزاق.........الخ﴾:٧٣٧٨.

(٤) ١١/هود:١٠٢.

(٥) صحيح بخارى كتاب التفسير سورت هود باب قوله ﴿وكذلك اخذربك...... الخ﴾:٤٦٨٦، صحيح مسلم:٢٥٨٣، مسندابي يعلى:٧٣٢٢ السنن الكبرى للنسائى:٧٧٠٨، مسندالبزار:٣٠٠٦، احمد٤/٤٠٥

(٦) ٢٢/الحج:٤٨.

Scanned with Ca

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ

|ايانهٔ گوری داخلق| هغه ته| چی پیدا کړی دی الله| یو څیزته| چی گرځی| سوری دهغه

| ايا دوئ داسې څيزونه نه دی کتلی| چې الله ﷻ پيدا کړی دی او د هغې سيوری

عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿٤٨﴾

ښی طرفته | او گس طرفته | سجده کونکی| الله ته| حال داچی ټول څیزونه| عاجزی کونکی دی

ښی او گس طرفته گرځی | الله ته سجدې کوی |او دوئ فرمانبردار دی

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

او الله ته | سجده کوی | هغه څه | چی په اسمانونو کښی دی | او هغه څه | چی په زمکه کښی دی

اوپه زمکه او اسمانونو کښې چې څومره ساه لرونکی څیزونه دی ټول د الله ﷻ تابعدار دی|

مِن دَابَّةٍ وَالْمَلَائِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم

دگرځیدونکونه | او فرښتې هم | او هغوئ | تکبر نهٔ کوی | یریږی هغوئ | درب خپل نه

اوفرښتې هم اودوئ خپل ځان لوئې نه گنړی | ..........دوی د خپل هغه رب نه ویریږی

مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۩ ﴿٥٠﴾ وَقَالَ اللَّهُ

دپاسه دهغوئ نه | او کوی هغوئ | هغه کارونه | چی دکوم ورته حکم کیدې شی | اواووئیل الله

چې ددوئ دپاسه دې | اود کوم کار چې ورته حکم کولې شی هغه کار کوی| اوالله ﷻ فرمائی

لَا تَتَّخِذُوا إِلَٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ

مهٔ نیسئ | خدایان | دوه | بیشکه هم داخبره ده| چی بس هم هغه| معبود| یو دی

چې تاسو دوه معبودان مه جوړوئ| بیشکه صرف هغه یو معبود دې

فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

| پس خاص زمانه | اویریږئ | او هغه لره دی | هغه څه | چی په اسمانونو کښی دی

نو خاص زما نه اوویریږئ | او په اسمانونو او زمکه کښې چې څه دی دا ټول د هغه

وَالْأَرْضِ وَلَهُ الدِّينُ وَاصِبًا ۚ أَفَغَيْرَ اللَّهِ

او په زمکه کښی دی | او خاص دهغه | دین | همیشه چلیدونکې دې | ایا بیا به هم بغیر دالله نه

ملکیت دې| ..............اوهم د هغه دین همیشه قائم دې | ..............ایا تاسو د الله ﷻ نه سوا

تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾ وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ۖ ثُمَّ إِذَا

تاسو یریږئ| او هغه چی حاصل دی تاسو ته | دنعمت نه | نو هغه دطرفه دالله نه دی | بیا چی کله

د نورو نه یریږئ | اوتاسو باندې چې کوم یو نعمت هم دې نو هغه د الله ﷻ دطرفه دې | بیاچې کله

مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ

اورسیږی تاسو ته | تکلیف | نو هم هغه ته | فریاد کوئ تاسو | بیا | چی کله | لرې کړی | هغه تکلیف

تاسوته څه مصیبت اورسیږی|نو تاسو هم هغه ته فریاد کوئ| بیا چې کله ستاسو نه مصیبت لرې

Scanned with Ca

| |
|---|
| عَنۡكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ۝ لِيَكۡفُرُواْ |
| ستاسونه\| نوفورا\| يوه ډله\| ستاسو نه\| درب خپل سره\| شريكوي نورا\| دپاره ددې نه چې ناشكري اوكړي |
| كړې انو په تاسوكښې څه خلق زرد خپل رب سره شريك جوړوي \| د دې دپاره چې كوم نعمتونه مونږ |
| بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ۝ |
| په هغه څيز \| چې وركړې دې مونږ هغوئ ته \| نو نفع واخلئ تاسو \| ډير زر به معلوم شي حال تاسو ته |
| دوئ ته وركړي دى د هغې ناشكري اوكړي \| نو (څو ورځې) مزې واخلئ\| تاسو به زر پوهه شئ |

**قوله تعالى:- اَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ**

**دَ عرش نه دَ فرش پورې هريوڅيز الله تعالى ته سجده كوي:**-دالله تعالى ذوالجلال والاكرام عظمت جلالت لوئې بې مثالئى ته اوګورئى چه ټول مخلوق د عرش نه فرش پورې د هغه په وړاندې تابعدار او غلام،كاڼړې بوټې ځناورانسانان پيريان فرښتې اوټول كائنات ټول د هغه حكم منونكي اوهرڅيز سحر ماښام د هغه په وړاندې خپله عاجزى او بې كسئى ثبوت پيش كولو سره په ټيټه ټيټه د هغه په وړاندې سجده كونكى دى.

**د هر څيز سجده دهغه دشان مناسب وي:**-مجاهد رحمه الله فرمائى چه د نمر پريوتوسره ټول څيزونه الله ﷻ ته په سجده راپريوځى.هريودرب العالمين په وړاندې خوار او ښكته دې عاجز او بى بس دې د غرونو وغيره سجده د هغوى سورې دې د سمندر چپې د هغه مونځ دې لكه هغوى د عقل والا كڼړلو سره د سجدې نسبت ئې دهغوى طرف ته اوكړو وئى فرمائيل دزمكې اوآسمان ټول ساه لرونكى څيزونه د هغه په وړاندې په سجده كښې دى.لكه چه ارشاد دې﴿وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا﴾[1] په خوشحالئ اوناخوشحالئى كښې هريوڅيزدالله ﷻ په وړاندې سرپه سجده دې دهغوى سورى سحر ماښام سجده كوى فرښتې هم سره د خپل قدراومنزلت د الله تعالى په وړاندې ښكته دى. د هغه د عبادت نه مخ اړولې نه شى. د الله تعالى نه چه لوئى ذات دې رچيږى او لړزيږى اوچه كوم حكم ورته دې د هغې په پوره كولو كښې مشغولې دى نه نافرمانى كوى اونه سستى كوى.

**ټول هرڅه هم الله تعالى وركړى دى:**-دالله تعالى چه واحد ذات دې د هغه نه بغيربل څوك د عبادت لائق نشته هغه لاشريك دې هغه دهرڅيزخالق دې اودهرڅيز پالونكې دى.دهغه عبادت خالص اودهميشه د پاره دې اوواجب دې.د نورودعبادت كولو طريقې نه دى اختياروِل پكار.د زمكې او آسمان ټول مخلوق كه خوښ وى كه ناخوښ د هغه لاندې دې. د ټولو واپس ګرځيدل هم د هغه طرف ته دى. په خلوص سره د هغه عبادت كوه اود هغه سره د نورو شريك كولونه بچ شه. خالص دين صرف هم د الله ﷻ دې. د زمكې اوآسمان د هريوڅيز مالك هم يوازې الله ﷻ دې ګټه تاوان هم د هغه په اختياركښې دې. د بنديګانو په لاس كښې چه كوم نعمتونه دى دا ټول هم د هغه د طرف نه دى. رزق عافيت نصرت هم د هغه دطرفنه دى هم د هغه فضل اواحسان په بنديګانو باندې دې اواوس هم ددې نعمتونو يا د اخستلو نه پس هم تاسو هم داسې د هغه محتاج ئى. مصيبتونه اوس هم په سرولاړ دى د سختئى په وخت كښې هم هغه ياديږى او په چغو چغو پوره عاجزئى سره د سختئى په وخت كښې هم د هغه طرف ته ټيټيږئى.

**دمكې مشركانو به په سختئ كښې هم الله تعالى ته عاجزى كوله:**-پخپله د مكې د مشركانو هم دا حال وو چه كله به په سمندركښې راګير شو او مخالفو هواګانوبه كشتئى دپانړې په شان زنګوله نو خپل د ځان

[1] ۱۳/الرعد:۱۵.

Scanned with Ca

نه جوړکړي خدايان بتان پيران فقيران وليان نبيان ټول به ئې هيرکړل اوخالص الله تعالى سره به ئې سينه اوتړله او په خالص زړه سره به د دې نه بچ کيدل او خلاصې غوښتلو خود کشتئ په غاړه لگيدو سره به ئې خپل ټول زاړه خدايان راياد شواود حقيقي معبود سره به ئې د هغوی عبادت شروع کړو دې نه زياته ناشکري اوکفراود نعمتونو هيرول نور څه کيدې شي؟ دلته ئې هم اوفرمائيل چه د مطلب پوره کيدلو نه پس ډير خلق سترگې اړوي. د ﴿ليكفروا﴾ لام لام عاقبت دې او لام تعليل هم ورته وائې. يعنې موږ د هغوی دا خصلت په دې وجه کړې دې چه هغوی د الله تعالى په نعمت باندې پردې واچوی اود هغې نه انکار اوکړي او په حقيقت کښې د نعمتونو ورکونکې د مصيبتونو لرې کونکې د هغه نه بغير بل څوك نشته. بيا هغوی ويروی چه ښه ده په دنياکښې خو خپل کار اوچلوئې اوهم داسې غونده فائده دلته اوچته کړئې خود دې انجام به درته هم اوس زر معلوم شي.

وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ

اومقرروی دوئ | دپاره دهغه چاچې | خبر نۀ دی دوئ | حصه | دهغې رزق نه | چې ورکړې دې موږ هغوئ ته

اودوئ زموږ په ورکړی رزق کښې د هغه چادپاره چې دوئ ئې پخپله هم نه پيژنئ حصې مقرر کړې دی

تَاللّٰهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾

قسم په الله | چې خامخا به تپوس کيږی ستاسو نه | دهغې دروغو | چې وئ تاسو | چې جوړول به مو

په الله قسم دې | چې تاسونه به خامخا د داسې بهتانونو په باره کښې تپوس کيږی

وَيَجْعَلُونَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾

او جوړوی دوئ | الله لره | لونړه | پاکی ده هغه لره | او دی دوئ لره | هغه | چې دوئ ئې خوښوی

اودوئ دالله دپاره لونړه گرځولې دی| هغه دپاره پاکی ده| اوځان دپاره هغه څامن غواړی چې دوئ ئې خوښوی

وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا

او هر کله چې | زيرې ورکړې شی | يو ددوئ ته | په لور سره | نو وگرځی | مخ دهغه | تك تور

حال دا چې کله دوئ کښې چاته دلور زيرې ورکړې شی| نو د هغه مخ تک تور شی

وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا

او حال دا چې هغه | وی ځکونکې دغم | پټ گرځی هغه | دخلقو نه | دوجې دخراب خبر نه | هغه

اوهغه غمژن وی| ............ دکومې جينئ چې دۀ ته زيرې ورکړې شی|دهغې د شرم په وجه د قوم نه

بُشِّرَ بِهٖ اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهٗ

چې زيرې ورکړې شوې دې| په هغې سره | چې ايا اوساتی دغه لور| دذلت سره| ياوربنخه کړی هغه

پټ گرځی| او(سوچ کوی) چې ايا د ذلت سره دا (لور ژوندئ) پريږدی | اوکه ژوندئ ئې په

فِي التُّرَابِ اَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٥٩﴾ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

په خاورو کښې | خبردار واورئ | چې بددې | هغه | چې حکم کوی دوئ | دهغه کسانو | چې ايمان نۀ لری

خاورو کښې ښخه کړی | ياد ساته چې د دوئ دا فيصله ډيره بده ده | کوم خلق چې په اخرت

بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۚ وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

په اخرت باند | مثال | دبدئ دي | اوالله لره دي | مثال | او چت | او هغه | غالب دي | او كامل حكمت والا دي

ايمان نه راوړي | د هغوئ مثال خراب دي | او د الله شان ډير اوچت دي | او هغه زبردست د صاحب د حكمت دي

**قوله تعالى:- وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ۗ**

**دَ مشركانو عجيبه دعوى او دَ افسوس قابل رويه:-** د مشركانو بې عقلى او بې وقوفتوب بيانولې شي چه وركونكې الله اوهرڅه دهغه وركړې شوى اودوى د هغې نه د خپلو دروغو معبودانو په نوم كوى د كومو چه دوى ته صحيح علم هم نشته. بيا په دې كښې دومره سختى كوى چه كه د الله تعالى د نوم هغه هم د دوى د معبودانو د نوم شى نوخيردې خوچه د دوى د معبودانوهغه د الله تعالى د نوم نه شى. د داسې خلقو نه به خامخا تپوس پوښتنه كولې شى. اود دې افترا يعنى د ځان خبروبه دوى ته پوره پوره بدله وركولې شى چه د دوزخ اُور به وى اودوى به وى. بيا د دوى بله بې انصافى او بيوقوفتوب بيانولې شى چه د الله تعالى مقرب غلام فرښتې د الله تعالى لونړه دى په دې خطاكولوسره بيا د هغوى عبادت كوى چه د خطا د پاسه خطا ده. دلته د هغوى نه درې جرمونه اوشو اول د الله تعالى د پاره اولاد ګرځول چه د دې نه بالكل پاك دې بياداولاد نه هم هغه قسم هغه ته وركول چه پخپله ئې هم د ځان د پاره نه خوښوى يعنى جينكئى. څه اُولتيه خبره ده چه دخپل ځان دپاره خوهلكان اود الله تعالى د پاره جينكۍ بيا د هغوى عبادت كول دادهغوى سراسر بهتان دې صرف دروغ دى څنګه ممكن دى چه د الله تعالى اولاد وى؟ اوبيااولاد هم هغه چه د هغوى په خيال كښې ردى او ذليل څيز دې څه بيوقوفتوب دې چه دوى ته الله ﷻ هلكان وركړى اود ځان د پاره لونړه اوساتى؟الله تعالى د دې نه بلكه د اولاد نه پاك دې. دوى ته چه كله خبرملاوشى چه دوى كره جينئى پيدا شوه نود شرم او پښيمانتيا په وجه ئې مخ تور شى. ژبه ئې بند شى د غم نه ئې ملاتيته شى د زهرو ګوټ اوڅكى چه خاموش شى د خلقو نه مخ پټ كرځى بيا هم په دې سوچ كښې وى چه اوس څه اوكړى كه لورژوندئى پريږدم نو لويه رسوائى ده نه وارث جوړيږى نه په څه څيز پوهيږى خامنوله په دوى باندې ترجيح وركړى كه ژوندئى ساتى نو په ډير ذلت سره ګنى صفاخبره ده چه ژوندئى په كنده كښې ورخښه كړى نوداحال خو ئې خپل دې اود الله ﷻ د پاره هم دغه څيز ثابتوى. څنګه خرابې فيصلې كوى؟ څومره د بې حيايئى تقسيم كوى د الله ﷻ دپاره چه څه ثابت كړى دى هغه د خپل ځان د پاره سخت توهين اوتذليل ګنړى. اصل دادې چه خراب مثال اونقصان هم ددې كافرانودپاره دې دالله ﷻ دپاره كمال دې هغه عزيزدې حكيم دې اوذوالجلال والاكرام دې

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا

او كه چرې رانيولې | الله | خلق | په سبب د ظلم دهغوئ | نونه به ئې وړ پريښې | په مخ د زمكې

او كه چرته الله خلق دهغوى د ظلم په وجه نيولې انو په مخ د زمكې به ئې هيڅ ساه لرونكې نه وو پريښودې

مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ

يو دساه څيز | وليكن | هغه روستو كوى هغوئ لره | دنيتې | مقررې پورې | نو كله چې | راغله

ليكن هغه دوئ ته تريو مقررې نيتې پورې مهلت وركوى | بيا كله چې د دوئ نيته راشى

اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝ وَيَجْعَلُوْنَ

نيته دهغوئ | نو نشي روستو كيدې هغوئ | يو ساعت | اونه مخكښې كيدې شى هغوئ | او مقرروى دا خلق

نو نه به يو ګړئ روستو كيديشى ، | نه به وړاندې كيديشى | ............ او (ئن) دوئ

| |
|---|
| لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ لَهُمُ |
| الله لره \| هغه چي دوئ ني نهٔ خوښوي\| او بيانوي \| ژبې ددوئ \| دروغ \| چي بيشكه \| دي دپاره ددوئ |
| الله ﷻ ته د هغه لوڼو نسبت كوي\| چي خپل ځان دپاره ئي نه خوښوي\| اوددوئ ژبې درغ واني چي ددوئ |
| الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَاَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ۝ |
| ښه انجام \| خامخا\| بيشكه دي دپاره ددوئ\| وورا\| اوبيشكه چي دوئ\| مخكښي ليږلي كيدونكي دي |
| دپاره ښكلي انجام دي \| دوئ دپاره بس يو څيز دي چې د دوزخ اور دي \|اودوئ به جهنم ته وړاندې ليږلي شي |

قوله تعالى:- وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ

**دَ الله تعالى مهرباني ده چه په ګناه كولوباندې زر رانيول نه كوي:**-دالله تعالى د حلم كرم لطف او رحم بيان كولې شي چه دبنديګانو ګناه ويني اوبيا هم هغوى ته مهلت وركوى كه زرئي نيول كول نو نن به په زمكه باندې يوكس هم ګرځيدونكې راګرځيدونكې نه ښكاريدو. دانسانانوپه خطاكښې به ځناورهم هلاك شي غنموسره به سپګئ هم وړه شي. دبدانوسره به ښه خلق هم راګيرشي خوولې الله تعالى سبحانه وتعالى پخپل حلم كرم لطف اورحم سره پردې اچوى معافي كوى. د يو خاص وخت پورې مهلت وركړې دې ګني چينجي وغيره به هم بچ نه شي. د بنيادمو د ګناهونو په كثرت سره به د الله تعالى عذاب داسې راتلو ټول به ئي غرق كول. حضرت ابوهريره ﷛ واوريده چه يوصاحب فرمائى ظالم هم خپل نقصان كوى هغوى اوفرمائيل چه نه نه بلكه مرغئى د هغه د ظلم په وجه په خپلو جالوكښې هلاك كيږي.

**د عمر زياتول په نيک اولاد سره كيږي:**-ابودرداء ﷛ فرمائى چه مونږ يوځل د حضور ﷺ په وړاندې څه ذكر كولوچه حضورﷺ اوفرمائيل آلله تعالى يونفس ته وخت نه وركوى دعمر زياتوالې په نيك اولاد سره كيږى كوم چه الله تعالى خپلو بنديګانوته وركوى. بيا د دې بچو دعاګانې د هغوى قبرونوته رسى هم دا دهغوى دعمرزياتوالې دي.([1])دخپل ځان د پاره دا ظالمان جينكئ ناخوښوي شركت نه غواړي او د الله تعالى دپاره دا هرڅه روا لري بيادوى داخيال كوى چه په دنياكښې هم دوى نيكئي راغونډونكي دي اوكه قيامت قايم شو نوهلته به هم د دوى د پاره نيكي وي.

**دكافرانو ددروغو دعوى او د هغې جواب:**-دوى به ونيل چه د ګټې خو په دنياكښې هم مونږ حقدار يو او صحيح خبره خودا ده چه قيامت خو نه راځي اوفرض كړه كه راغلونو هلته به هم زمونږ د پاره بهتري وي دا كافران به ډير زرسخت عذاب اوڅكي زمونږ د آياتونونه انكار اوبياهم دا خواهش كوي چه مونږ ته به مال اولاد هلته هم ملاويږي. په سورت كهف كښې د دوو ملګرو ذكر كولوسره قرآن پاك فرمائى چه هغه ظالم به خپل باغ ته تلو اوخپل نيك ملګرى ته به ئي ونيل چه زه خو دا هلاك كيدونكې هډو ګنړم نه اونه د قيامت قائل يم اوفرض كړه كه زه دوباره راژوندې كړې شوم نو هلته به د دې نه هم ښه څيز راكړې شي([2])كارونه خراب كوى او تمنا د نيكئ ساتي كرى ازغي او غواړي ميوې. وائي چه كعبة الله دنوى سره د آبادولو دپاره راګذار كړې شوه نو په بنياد كښې يوكاڼړى راووتلو په كوم چه يوه تختئ وو په هغې كښې دا ليكلې شوې ووتاسوبدى كوئي او اميدد نيكئي ساتئي داخو داسې دى لكه چه ازغي كرى اواميدد انګوروساتي نود دوى اميد وو چه په دنياكښې هم هغوى ته شان او شوكت وينځې غلامان به ملاويږي اوپه آخرت كښې هم. الله تعالى فرمائى په حقيقت كښې دهغوى دپاره ددوزخ

([1]) كتاب المجروحين لابن حبان.

([2]) سورة كهف.

Scanned with Ca

اورتیاردي هلته به دوی درب درحمت نه هیرکړې شي اوضائع اوبرباد به کړې شي.نن دوی زمونږاحکام هیرکړی دی صبابه مونږدوی دخپلو نعمتونونه هیرکړو. دوی ډیر زر دوزخ ته رسیدونکی دی.

تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰۤی اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ

قسم په الله| لیږلي دی مونږه رسولان| امتونوته| مخکښې ستانه| نوبنانسته ښکاره کړل| هغوئ ته شیطان

په الله قسم چې مونږ ستا نه وړاندې هم امتونوته پیغمبران لیږلي وو| بیا شیطان هغوی ته د هغوی

اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾

عملونه د هغوئ| نو هغه| دوست ددوئ دي| نن ورځ| او دي دوئ لره| عذاب| دردناك

خراب عملونه ښائسته ښکاره کړل|نونن هغه د دوئ دوست دي|اودوئ ټولو دپاره دردناك عذاب دي

وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي

اونۀ دي نازل كړي مونږه| په تاباند| داكتاب| مگر| دپاره ددې چې تۀ حقیقت اوښائې| دوئ ته| هغه

اومونږ تاته دا كتاب صرف د دې دپاره نازل كړي دي| ..............چې ته د دوئ اختلافي

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٦٤﴾

چې اختلاف اوكړودوئ| په هغې كښې| اولاربسودنكي دي| اورحمت دي| دپاره دهغه خلقو| چې ایمالن راوړی

خبرې دوئ ته په ښه تفصیل سره بیان كړې | او(دا كتاب) د مومنانو دپاره هدایت اورحمت دي

وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ

اوالله| نازلې كړې| داَسمان نه| اوبۀ| نو ژوندئ ئې كړه| په هغې سره| زمكه روستودمرګ دهغې نه| بیشكه

اوالله د پورته طرف نه اوبه راورولې| نود هغې په ذریعه ئې زمكه د اوچیدو نه پس بیا تروتازه كړه

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٥﴾ ع وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ

په دې كښې| نښبه ده| دپاره دهغه قوم| چې اوری| اوبیشكه| دي ستا سو دپاره| په څناروؤ كښې

په دې كښې هغه خلقودپاره لویه نخښبه ده| چې خبرې ته غوږ نیسی| اوتاسو دپاره په څاروؤ

لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهٖ مِنْ بَيْنِ

| یو عبرت| چې مونږ څكوؤ په تاسو باند| دهغې نه | چې په خیټو دهغوئ كښې دی | دمنځ

هم لوئې عبرت پروت دې| مونږ چې د هغوئ په خیټو كښې كومې سوتې او وینه وی د هغې د مینځ نه

فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٦٦﴾

| دسوټونه| او د وینونه| پئ| خالص| چې آسان تیرونكې دی| دپاره دڅكونكو

دركوو خالص پئ د.كوم چې د څكلونو دپاره صفا او مزیدار وی.........

وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا

او دمیوؤ | دكجورونه | او دانګورونه| چې جوړوئ تاسو| دهغې نه | دنشې څیزونه

او د كهجورو او د انګورو د میوؤ نه تاسو د نشې څیزونه جوړوئ| اوښه رزق هم

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَّرِزۡقًا حَسَنًا ط | اِنَّ | فِیۡ ذٰلِكَ | لَاٰيَةً | لِّقَوۡمٍ | يَّعۡقِلُوۡنَ ۝ |
| او رزق ښه پاك | بيشكه | په دې كښې | يوه نښه ده | دپاره دهغه خلقو | چې دعقل نه كارخلي |
| حاصلوئ | بيشكه په دې كښې د هغه خلقو دپاره نښه ده كوم چې د عقل نه كار اخلي | | | | |

**قوله تعالى:- تَاللّٰهِ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰۤى اُمَمٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ**

**دَ هريونبي تكذيب شوې دې** :-اې نبی ﷺ ته تسلی ساته چه ستا د قوم تا دروغ ګنړل څه عجيبه او نوې خبره نه ده.كوم يونبی راغلې چه تكذيب ئې نه دې شوې؟ باقی پاتې شو دروغ ګنړونكی نو هغوی د شيطان مريدان دی. بدنی هغوی ته د شيطانی وسوسو په وجه ښائسته ښكاری دهغوی ولی شيطان دې هغه دوی ته دڅه نفع رسولو نه د هميشه د پاره د مصيبت نه ډكو عذابونوكښې پريږدی د هغوی نه به جدا شی.قرآن پاك په حق او باطل رښتيا اودروغوكښې فرق كونكې كتاب دې د هرې يوې جګړې اود هر اختلاف فيصله په دې كښې موجود ده.دا د زړونود پاره هدايت دې او كوم ايماندار چه په دې باندې عمل كونكی دی دهغوی دپاره رحمت دې. په دې قرآن پاك سره څنګه مړه زړونه راژوندی كيږی د دې مثال دهرې هغه زمكې اوباران دې. كوم خلق چه خبره واوری اوپوهه شی نوهغوی د دې نه ډير عبرت حاصلونكی دی.

**دَ وينې او سوټې دَ مينځ نه پاک صفا پئې دَ الله تعالى دَ قدرت نخښې دی**:-اوښ چيلئی غواګانې وغيره هم د خپل خالق د قدرت اوحكمت نښې دی﴿بطونه﴾كښې ياخوضمير دنعمت په معنی كښې ګرځولې دې يا په څاروی باندې. څاروی هم څناور دی د دې څناورو په خيټوكښې چه كوم الا بلا ډك شوی دی هم د دې نه پروردګار عالم ستاسود پاره ډير ښكلې مزيدار او خوندناك پئې راوباسی. په دويم آيات كښې ﴿بطونها﴾ (١)دې.دواړه خبرې جائز دی لكه آيت ﴿كَلَّاۤ اِنَّهَا تَذۡكِرَةٌ ۝ فَمَنۡ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۝﴾ (٢)كښې دی.اولكه چه په آيت ﴿وَاِنِّیۡ مُرۡسِلَةٌ اِلَيۡهِمۡ بِهَدِيَّةٍ فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ يَرۡجِعُ الۡمُرۡسَلُوۡنَ ۝ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمٰنَ﴾ (٣)كښې دی. نو په جاء كښې مذكر راوړلو دې نه مراد مال دې دڅناوړپه خيټه كښې چه كومې سوټې اووينه وغيره ده دهغې نه بچ كيدوسره ستاسودپاره پئی راوباسی نه دهغې په سپينوالی كښې فرق راځی نه په خوږوالی كښې اونه په خوند كښې. معدې ته خوراك اورسی د هغه ځائ نه وينه د رګونو طرف ته روانه شی پئی د غولانځې طرف ته او متيازې د مثانې لار اونيسی اوسوټې د خپل ځائ طرف ته راجمع شی نه يو بل سره يوځائ كيږی اونه يوبل بدلوی. خالص پئی د څكونكی په حلق كښې په آرام سره كوزيږی د هغه خاص نعمت دې. د دې نعمت بيانولو سره بل نعمت بيان فرمانی چه دكهجورو اوانګورو د شيرې نه تاسو شراب جوړونی. دا د شرابود حراموالی نه وړاندې دی اود دې نه معلوميږی چه د دې دواړو څيزونو د شرابو هم يوحكم دې لكه څنګه چه د مالك رحمه الله شافعی رحمه الله او نورو جمهورو علماؤ مذهب دې اوهم دغه حكم دې د شرابو كوم د غنمو جوارو او شاتونه جوړكړې شی لكه چه په احاديثوكښې په تفصيل سره راغلی دی دا ځائ د هغې د وضاحت نه دې.

**د قجورو وغيره نه د جوړو شوو شرابو حكم**

**مسلك حنفي**:-د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دانګورو شراب كه لږ وی كه ډير وی كه نشه پيدا كوی اوكه نه پيدا كوی په ټولو صورتونو كښې حرام دی البته د انګورو نه علاوه كه د قجورو وغيره نورو

---

(١) ٢٣/ المؤمنون:٢١.
(٢) ٧٤/المدثر:١١-١٢.
(٣) ٢٧/النمل:٣٥.

Scanned with Ca

څیزونو نه شراب جوړ شی نو په هغې کښې لږه نرمی ده خو د جمهورو فقهاؤ په نیز دغه شان د امام محمدرحمه الله په نیز شراب که د هرڅه نه جوړ شوې وی خو چې نشه پیدا کوی نو هغه حرام دی او داحنافو عالمانو فتوی دامام محمد رحمه الله په قول ده چه د هرڅیز شراب حرام دی په دې شرط چې نشته پیدا کوی.[1]

ابن عباس ﷺ فرمائی چه شراب جوړونې نو حرام دی او که بل شان ئې خورئې څکښې نو حلال دی.[2] امام حاکم او ذهبی دې روایت ته صحیح وئیلی دی. مثلاً اوچې کهجورې او اوسکې وغیره او د تازه میوو رس جوړول سرکه جوړول او په بله طریقه سره. نو چه کومو خلقو ته د عقل حصه ورکړې شوې ده هغه د الله تعالی قدرت او عظمت د دې څیزونو او دې نعمتونو نه هم پیژندې شی. په اصل کښې د انسانیت کالې هم عقل دې د دې د خیال ساتلود پاره شریعت مطهره د نشې والا شرابونه په امت باندې حرام کړی دی هم د دې نعمت بیان د سورت یٰس په دې آیت ﴿وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ﴾[3] دې. یعنی په زمکه کښې مونږ د کهجورو اوانګورو باغونه لګولی دی اوپه دې کښې د اوبوچینې بهیولې دی دې د پاره چه خلق د دې میوې اوخوری. دا د هغوی خپل جوړکړې شوی نه دی نو آیا بیا به هم دوی شکر نه اداکوی؟ پاك ذات دې هغه چاچه د زمکې په پیداوارکښې اوپخپله په انسانانوکښې او په هغه مخلوق کښې کوم چه دوی پیژنی هم نه د هرقسم نه جوړه جوړه څیزونه پیدا کړی دی.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَاَوْحٰى | رَبُّكَ | اِلَى النَّحْلِ | اَنِ اتَّخِذِيْ | مِنَ الْجِبَالِ | بُيُوْتًا | | |
| او په زړهٔ کښې واچوله | رب ستا | دشاتو مچئ ته | چې جوړکړه | په غرونو کښې | کورونه | | |
| اوستارب د شاتو مچئ ته حکم اوکړو\| چې ته په غرونو کښې کورونو کښې ونو کښې او په | | | | | | | |
| وَّمِنَ الشَّجَرِ | وَمِمَّا | يَعْرِشُوْنَ ﴿٦٨﴾ | ثُمَّ | كُلِيْ | مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ | فَاسْلُكِيْ | |
| اوپه ونوکښې | اوپه هغه کښې | چې خلق جوړوی | بیا | خوره | دهر قسم میوونه | اوځه | |
| هغو اوچتو عمارتونو کښې چې خلق ئې جوړوی کور جوړوه \| بیا د هرقسم میوو نه خوراک کوه | | | | | | | |
| سُبُلَ | رَبِّكِ | ذُلُلًا ۭ | يَخْرُجُ | مِنْ بُطُوْنِهَا | شَرَابٌ | مُّخْتَلِفٌ | |
| په لارو | درب خپل | چې آسانې کړی دی الله | رااوځی | دخیټو ددغې مچونه | شربت | چې مختلف وی | |
| اود خپل رب په آسانو لاروباندې روانه اوسه \| ددوئ دخیټو نه د څکلو یو څیز(شات) راوځی | | | | | | | |
| اَلْوَانُهٗ | فِيْهِ | شِفَاۗءٌ | لِّلنَّاسِ ۭ | اِنَّ | فِيْ ذٰلِكَ | لَاٰيَةً | لِّقَوْمٍ |
| رنګونه دهغې | په هغې کښې | شفاده | دپاره دخلقو | بیشکه | په دې کار کښې | یوه نښه ده | دپاره دهغه خلقو |
| چې مختلف رنګونه ئې دی \|په هغې کښې خلقو دپاره شفا ده\|بیشکه په دې کښې سوچ او فکر کونکو | | | | | | | |
| يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾ | | | | | | | |
| چې غورفکر کوی\| | | | | | | | |
| دپاره نښه ده\| | | | | | | | |

[1] (ماخوذ از حلال وحرام تالیف خالد سیف الله رحمانی (صفحه ١٢٨).

[2] حاکم:٢/٣٥٥.

[3] ٣٦/یٰس:٣٤.

Scanned with Ca

**قوله‌تعالى:-**

**دَ شاتومچئى دَ قدرت يوه نمونه اوشات دَ شفاقابل دي:-**د وحى نه مراد دلته الهام هدايت او ارشاددي. د شاتومچوته دالله ﷻ دطرفته داخبره خودلې شوې ده چه هغوى په غرونوكښې ونوكښې او چتونوكښې دشاتو ګبينونه جوړكړى.دغه شان د ضعيف اوكمزورى مخلوق دې كورته اوګوره څومره مضبوط څنګه ښانسته اوڅومره د استاذئى وى. بيا دې ته هدايت اوشو اود دې د پاره ئى مقدر كړه چه دا د ميوو ګلونو اود وښووغيره نه رس راكاږى او چرته چه غواړى خى راځى خود واپس كيدو په وخت كښې نيغ خپل ګبين ته رسى. كه د اوچت غر سوكه وى كه بيابان ونه وى د آبادئى اوچت كورونه وى اود صحرا ورانې كنډرې وى دوى نه لار هيروى او نه دهوكه كيږى كه هرڅومره لرې ولې لاړې نه شى واپس خپل ګبين ته خپلو بچو اوهګو اوشاتو له راشى. په خپلو وزرو باندې موم جوړوى په خلو باندې شات جمع كوى اودبل ځائ نه بچى ﴿ذُلُلًا﴾تفسيرتابعداراومسخركولوسره هم كړې دې. نودا حال به وى د ﴿سالكة﴾. لكه چه په قرآن پاك كښې﴿وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ﴾(١)كښې هم دا معنى مراد ده. د دې يودليل دا هم دې چه خلق د شاتو ګبين د يو ښار نه بل ښار ته هم اوړى. خو ړومبې قول ډير واضح دې يعنى دا حال دې د طريق. ابن جرير رحمه الله دا دواړه قوله صحيح ګنړى. ابويعلى موصلى كښې دې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى د مچې عمر څلوېښت ورځې وى بغيرد شاتود مچونه نورې مچې په اوركښې دى. (٢) د شاتورنګ مختلف وى سپين سره زيړ وغيره لكه څنګه چه ميوه ګل او زمكه. د دې ظاهرى خوبئى او د رنګ پرق سره په دې كښې شفا ده. الله ﷻ په دې سره ډيرې بيمارئى لرې كوى. دلته﴿فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ﴾ نه دې فرمائيلې شوې ګنى نود هرې بيمارئى دارو به هم دا وو؟ بلكه اوفرمائيلې شو په دې كښې شفاده د خلقو د پاره نودا د يخو بيمارو دوائى ده. علاج هميشه د بيمارو خلاف وى شات ګرم دى د يخنئى په بيماروكښې فائده منددى.

**دلته فِيهِ شِفَاءٌ نه مراد قران پاک اخستل مناسب نه دي:-**د مجاهد رحمه الله او ابن جرير رحمه الله نه نقل دى دې نه مراد قرآن دې يعنى په قرآن كښې شفاده. دا قول په خپل ځائ صحيح دې او واقعى قرآن شفاده خو په دې آيت كښې دامراداخستل د سياق مطابق نه دى.په دې كښې خود شاتوذكر دې په دې وجه د مجاهد رحمه الله د دې قول اقتداء اونه كړې شوه. او د قرآن پاك د شفا كيدلو ذكر په آيت﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ﴾ (٣) كښې دى بل آيت ﴿ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ﴾ (٤) كښې دى. په دې آيت كښې خومراد شات دى.

**د شاتو د شفاء متعلق حديث :-**د بخارى او مسلم په حديث كښې دى چه څوك راغله اود رسول الله ﷺ په خدمت كښې ئى عرض اوكړو چه زما د رور خيټه خرابه شوې ده. حضور ﷺ اوفرمائيل په هغه شات اوڅكه. هغه لاړو شات ئى وركړه او بياراغلو ونيل ئى حضور ﷺ هغه بيمارى خوزياته شوه. حضور ﷺ اوفرمائيل لاړشه نورشات وركړه هغه لاړو بيائى وركړه نوبياراغلو اوهم دغه عرض ئى اوكړو چه دستونه ئى نورهم زيات شو. حضور ﷺ اوفرمائيل الله تعالى رښتونې دې او ستاد رور خيټه دروغژنه ده لاړشه نور شات وركړه. په دريم ځل شاتو وركولوسره د الله تعالى په فضل ورته شفا حاصله شوه.(٥)

---

(١) ٣٦/ يٓس:٧٢.

(٢) ابويعلى:٤٢٣١، مجمع الزوائد٨/١٣٦، مسند الفردوس: ٤١٥٢،.

(٣) ١٧/بنى اسرائيل:٨٢.

(٤) ١٠/يونس:٥٧.

(٥) صحيح بخارى كتاب الطب باب الدواء بالعسل وقوله تعالى ﴿فيه شفاء للناس﴾:٥٦٨٣، صحيح مسلم:٢٢١٧، ترمذى:٢٠٨٢، احمد:٣/١٩، مسندابى يعلى: ١٢٦١، ابن ابى شيبه:٢٣٦٩، السنن الكبرى للنسائى:٦٧٠٥، مسندعبد بن حميد:٩٣٨.

Scanned with Ca

بعضې طبيبانو وئيلي دي چه ممکن ده د هغه په خيټه کښې فضله زياتوالې وی شاتود خپلې ګرمئ په وجه هغه تحليل کړل فضله خارج کيدل شروع شو اودستونه ئې زيات شو. اعرابی دا د مرض زياتول اوګنړل حضور ﷺ ته ئې شکايت اوکړو حضورﷺ د نورو شاتوورکولو د پاره اوفرمائيل په دې سره توره په زور سره فضله خارج کيدل شروع شو بيائی شات ورکړه خيټه ئې صفاشوه بلا ترې اووتله او کامله شفا د الله تعالی په فضل سره حاصله شوه. د حضور ﷺ مبارك خبره چه اشارة د الله تعالی وه پوره شوه. د بخاری اومسلم په يوبل حديث کښې دی د رسولانو سردار ﷺ ته د خوږو اوشاتوسره ډيره مينه وه (1)

**په درې څيزونو کښې شفاء ده:**-د حضورﷺ ارشاد دې په دريو څيزونوکښې شفا ده ښکر لګولوکښې شاتو څکلوکښې او داغ لګولوکښې خوزه خپل امت د داغ لګولونه منع کوم(2) دبخاری په حديث کښې دی که ستاسو په دوايانوکښې په څه کښې شفاده نو ښکر لګولوکښې شات څکلوکښې او په اُور باندې داغلوکښې کوم چه د بيمارئی مناسب وی خو دازه نه خوښوم(3)د مسنداحمد په حديث کښې دی زه دا نه خوښوم بلکه ناخوښوم ئې.(4)

**د دووُ شفا ګانو قدر پکاردې قرآن پاک او شات:**-ابن ماجه کښې دی تاسو د دې دوارو شفاګانو قدرکوئی شاتو اوقرآن(5) ابن جريرکښې د حضرت علی ؓ فرمان دې چه کله تاسو نه څوك شفا غواړی نود قرآن کريم يوآيت دې په يوه پاڼړه اوليکی اوهغه دې د باران په اوبوکښې اووينځی اود خپلې ښځې د مال نه دې د هغې په رضاباندې پيسې واخلی اوشات دې واخلی هغه دې اوڅکې نو په دې کښې په څو وجوهوسره شفا راځی.د الله تعالی عزوجل فرمان دې﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾(6) يعنی مونږ په قرآن کښې هغه نازل فرمائيلی دی چه شفاده اود مؤمنانود پاره رحمت دې. بل آيت کښې دی﴿ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُّبَارَكًا ﴾(7)مونږ د آسمان نه د برکت اوبه نازلوو بل ارشاد دې ﴿فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا﴾(8)يعنی که ښځه د خپل مال مهرنه په خپله خوشحالئ سره درکړی نو بې شکه تاسو داخورئی څکئی اغوندئی. د شاتوباره کښې د الله تعالی فرمان دې﴿ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ ﴾په شاتوکښې د خلقو د پاره شفاده. ابن ماجه کښې دی حضورﷺ فرمائی کوم سړې چه دريو مياشتو پورې هرسحر شات اوڅټی هغه ته به څه لويه بلا نه رسی(9) د دې يوراوی زبيربن سعيد متروك دې. ابن ماجه کښې په بل حديث شريف کښې حضورﷺ فرمائی تاسو د سنا او سنوت استعمال کوئی په دې کښې د هرې بيمارئی نه شفا ده بغيرد سام نه. خلقو تپوس اوکړو سام څه څيزدې؟ وئی فرمائيل مرګ.(10) سنا

---

(1) صحيح بخاری کتاب الاطعمة باب الحلوی والعسل:٥٤٣١، صحيح مسلم: ١٤٧٤، ابوداوُد:٣٧١٥،ترمذی: ١٨٣١، ابن ماجة:٣٣٢٣، احمد:٥٩/٦، مسندابی يعلی:٤٨٩٢، ابن حبان:٥٢٥٤، مسندابی عوانه:٤٥٥٥،دارمی:١٤٦/٢، السنن الکبری للنسائی:٦٧٠٦، مسندعبدبن حميد:١٤٨٩، شعب الايمان:٥٩٢٩.

(2) صحيح بخاری کتاب الطب باب الشفاء فی ثلاث:٥٦٨٠-٥٦٨١، بيهقی:٣٤١/٩.

(3) صحيح بخاری کتاب الطب باب الدواء بالعسل وقوله تعالی ﴿فيه شفاء للناس﴾ صحيح مسلم: ٢٢٠٥، ابن ابی شيبه: ٥٩/٥، شرح معانی الاثار:٣٢٠/٤ المعجم الاوسط:٩٣٣٧، احمد:٣٤٣/٣، مسندابی يعلی:٢١٠٠.

(4) احمد:١٤٦/٤.

(5) ابن ماجه کتاب الطب باب العسل:٣٤٥٢، حاکم: ٢٠٠/٤، بيهقی:٣٤٤/٩.

(6) ١٧/بنی اسرائيل:٨٢.

(7) ٥٠/ق:٩.

(8) ٤/النساء:٤.

(9) ابن ماجه کتاب الطب باب العسل: ٣٤٥٠، مسند ابی يعلی:٦٤١٥، التاريخ الکبير:٥٤/٦، تذکرة الحفاظ: ٩٨٧/٣.

(10) ابن ماجه کتاب الطب باب السنا والسنوت:٣٤٥٧، وهوحسن بالشواهد، حاکم:٢٠١/٤.

Scanned with Ca

يوبوتي دي چه د دست دبيمارئی د پاره خوړلي شي.د سنوت معنی ده شبت. او خلقو ونيل سنوت شات دی چه د غوړو په مشك كښې كيخودې شوی وی. د شاعر په شعركښې هم دا لفظ هم په دې معنی كښې راغلې دې. بيافرمائی چه د مچې په شان بې طاقته څيز ستاسو د پاره شات اوموم جوړوی د هغوی داسې په آزادئی سره ګرځيدل خپل كورنه هيرول وغيره دا ټول څيزونه د غور اوفكر كونكودپاره زما د خالقيت د عظمت او مالكيت لوئې نښې دی هم د دې نه خلق د خپل رب الله تعالی په قادر حكيم عليم كريم رحيم كيدو باندې دليل حاصلولې شي.

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۙ وَمِنْكُمْ مَّنْ

| اوالله| پيدا كړئ تاسو| بيا| مرګ راولی تاسولره|اوځينی ستاسونه| هغه څوك دی

| اوالله ﷻ تاسو پيدا كړئ ئې | بيا به مو وفات كوی| اوپه تاسو كښې ځينې

يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا ؕ

چی واپس رسولې كيږی | ناكاره عمرته | دپاره ددې | چی پوهه نه شی | روستو دعلم نه | په څه څيز

ناكاره عمر (سخت بوډاوالی) ته رسولې شی | چې د پوهې نه پس بيا سره دوباره په څه نه پوهه نشی

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝ وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ

بيشكه الله | ښه پوهه دې | ښه قادر دې | اوالله | فضليت دركړې دې |ځينی ستاسوته |په ځينو باند

بيشكه الله ﷻ په هرڅه عالم او د قدرت خاوند دې| اوالله ﷻ تاسو ته په يو بل په روزئ كښې

فِى الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا بِرَآدِّىْ رِزْقِهِمْ

په رزق كښی | نونهٔ دی هغه كسان | چی فضيلت وركړې شوې دې| وركونكی | دررزق خپل

برتری دركړې ده | نو چاته چې دا فضيلت وركړې شوې دې | هغوئ داسې نه كوی چې

عَلٰى مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ؕ

| هغه چاته | چی مالكان شوی دی | ښئ لاسونه دهغوئ | چی هغوئ | په هغه رزق كښی | برابرشی

د خپلې برخې مال خپلو مريانو ته وركړی | چې ټول په دې اعتبار سره برابر شی

اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ۝

آيا نو په نعمت دالله باند| دا خلق انكار كوی |

نوآيا دوئ د الله ﷻ د نعمت نه انكار كوی |

قوله تعالى:-وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ

**دَ بخيلتوب او سخت بوډاوالی نه دَ پناه غوښتلوحكم:**-په ټولوبند يكانوباندې د الله تعالی قبضه ده هم هغه دوی د عدم نه وجود نه راوستلې دی هم هغه به دوی مړه كوی. بعضې خلق ډير اوږدعمر ته رسوی او هغوی بياد ماشومانوغوندې كمزورې جوړيږی. حضرت علی ؓ فرمائی چه د پنځه اوياؤ (٧٥) په كالو كښې عموماً انسان هم داسې كيږی. طاقت ئې ختم شی حافظه ئې كمزورې كيږی د علم كمې پيداشی د عالم كيدونه پس بې علم شی. صحيح بخاری كښې دی حضورﷺ به په خپله دعاكښې فرمائيل ﴿اللهماعوذبك من البخل والكسل والهرموارذل العمروعذاب القبروفتنة الدجال وفتنة المحياوالممات﴾ يا الله زه د بخيلتوب نه

Scanned with Ca

عاجزئی نه پوډاوالی نه ذلیل عمر نه د قبرد عذاب نه د دجال د فتنې نه د ژوند او مرګ د فتنې نه ستا پناه غواړم([1])زهیر بن ابی سلمی رحمه الله هم په خپل مشهور معلقه کښې داعمر دغم خفګان تکلیف خزانه اوچینه ګرځولې.

**تاسو په خپل حق کښې شريک برداشت کولې نه شئ نو الله ﷻ به ولې برداشت ګوي**:- دمشرکانود جهالت او دهغوی دکفر بيان کولې شی چه سره دخپلومعبودانودالله تعالی غلامان پيژندلوسره دهغوی عبادت کښې لګيادی.دحج په موقع به هغوی وئيل﴿لبيك لاشريك لك الا شريكا هولك تملكه وماملك﴾ يعنی اې الله زه تاته حاضريم ستا هيڅ څوك شريك نشته خو هغه چه پخپله ستاغلامان دی د هغوی اود هغوی لاندې څيزونو اصلی مالك هم ته ئی.([2]) نو الله تعالی هغوی ته الزام ورکوی چه کله تاسو د خپلو غلامانو خپل ځان سره برابری او خپل مال کښې شرکت نه خوښوئی نو بيا زما غلامان زما په تصرف کښې څنګه شريك ګرځوئی؟ هم دا مضمون په آيت ﴿ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ﴾([3])کښې بيانولې شی چه کله تاسوخپل غلامان په خپل مال اوخپلو ښځوکښې خپل شريك جوړولو نه نفرت کوئی نوبيا زما غلامان زماپه تصرف کښې څنګه شريك ګنړئی؟هم داد الله تعالی دنعمتونونه انکاردې چه د الله تعالی د پاره هغه خوښول کوم چه ځان له هم نه خوښوی. دا دې مثال د معبودانو باطلانو. کله چه تاسو پخپله د دې نه جدا ئی نو بيا الله تعالی خود دې نه ډير ويزاره دې.د رب د نعمتونوبه نورکفر څنګه وی چه فصلونه اوڅاروی هم د يو الله تعالی پيداکړې شوی دی اوتاسو هغه د هغه نه بغيرد نورو په نوم کوئی.

**په مالونو په يو بل برتری دالله تعالی دطرفنه ازميښت وی**:-حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه ته يوخط اوليکلو چه په خپل رزق باندې صبر اوکړه الله تعالی يو دبل نه مالدار کړې دې دا هم د هغه طرف نه يو ازميښت دې چه هغه اوګوری چه مالداران څنګه د الله تعالی شکر اداکوی اوکوم حقوق چه الله تعالی په هغوی باندې د نورو خلقو مقرر کړی دی ترکومې پورې اداکوی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَاللّٰهُ | جَعَلَ | لَكُمْ | مِّنْ اَنْفُسِكُمْ |
| او الله | پيداکړې | ستاسودپاره | دنفسونوستاسو نه |
| او الله ﷻ ستاسو د نفسونو نه ستاسو دپاره جوړې پيداکړې | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اَزْوَاجًا | وَّجَعَلَ | لَكُمْ | مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ | بَنِيْنَ | وَحَفَدَةً | وَّرَزَقَكُمْ |
| ښځې | او پيدا ئې کړل | ستاسو دپاره | دښځوستاسونه | ځامن | او نمسی | او درئې کړل تاسوته |
| او ستاسو ښځو نه ئې ستاسو ځامن او نمسی پيداکړی دی\| او تاسو ته ئې د پاکيزه څيزونو | | | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مِّنَ الطَّيِّبٰتِ | اَفَبِالْبَاطِلِ | يُؤْمِنُوْنَ | وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ | هُمْ |
| دپاکو څيزونو نه | ايا نو داخلق په باطل باند | ايمان راوړی | اوپه نعمت دالله باند | دوئ |
| روزی درکړې ده\|.............نوايا دوئ په باطلو څيزونو يقين ساتی\| او دالله ﷻ د نعمتونو | | | | |

[1] صحيح بخاری کتاب التفسير سورة النحل باب قوله تعالی ﴿ومنكم من يردالی ارذل العمر﴾:٤٧٠٧، صحيح مسلم:٢٧٠٦، بدون (والهرم وفتنة الدجال).

[2] صحيح مسلم کتاب الحج باب التلبية وصفتها ووقتها:١١٨٥.

[3] ٣٠/الروم:٢٨.

| |
|---|
| يَكْفُرُونَ ﴿٧٢﴾ |
| انكاريان كيږي |
| نه انكار كوي |

**قوله‌تعالى:- وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا**

**دَ الله تعالى يوبل احسان** :-الله تعالى په خپلو بنديګانو باندې خپل د يوبل احسان خودنه كوى چه هم د دوى د جنس نه هم د دوى په شكل خدوخال مونږ د دوى د پاره ښځې پيداكړې كه چرته بدل جنس وې نو د زړه تعلق اومينه محبت به نه پاتې كيدو. خوبه خپل رحمت سره الله تعالى ښځې سړى هم جنس پيدا كړل بيانى د دې جوړې نه نسل زيات كړو اولاد ئې خوركړو هلكان جينكئى پيدا شوې.

**د حفدة متعلق تفسيرونه:-** ﴿حفدة﴾يوه معنى خو د نمسو ده بله معنى د خادم او نوكرده. نو خامن او نمسئى هم د يو قسم خدمت ګار وې او په عربوكښې هم دا دستور وو. ابن عباس ﷛ وائى چه د انسان د ښځې د وړاندينى كور اولاد د هغې نه وى. ﴿حفدة﴾داسې سړى ته هم وائى چه د چا په وړاندې د هغه كارروزګاركوى.دا معنى هم كړې شوې ده چه دې نه مراد دخومولئى رشته ده. ددې معنې لاندې دا ټول داخل دى.په قنوت كښې جمله راځى ﴿واليك نسعى ونحفد﴾ زمونږ سعى كوشش او خدمت هم ستاد پاره دې. اودا ښكاره خبره ده چه د اولاد نه غلام نه سخرګنئى نه خدمت حاصلولې شى نود دې ټولونه د الله تعالى نعمت مونږ ته ملاويږى. اود چا په نيزد ﴿حفدة﴾ تعلق ﴿ازواجا﴾ سره دې د هغوى په نيزد خو اولاد اود اولاد اولاد اود ځوم او ښځې اولاد دې. نودا ټول اكثروختونوكښې هم د دې سړى په حفاظت كښې د ده په غيږ كښې اود ده په خدمت كښې وى اوممكن دى چه هم دا مطلب ئې مخې ته كړې وى اوحضورﷺ فرمائيلې وى چه اولادستاسو غلام دې. لكه څنګه چه په ابوداؤدكښې دى[1]اوچا چه ﴿حفدة﴾ نه مراد.خادم اخستې دې دهغوى په نيزد دا معطوف دې دالله تعالى فرمان دې ﴿وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا﴾ يعنى الله تعالى ستاسو بيبيانې اواولادستاسوخادمان جوړكړى دى اوتاسوله د خوراك څښاك ښكلې اومزيدارځيزونه دركوى.نو په باطل باندې يقين اوساته د الله تعالى د نعمتونو ناشكرى نه دى كول پكار چه د الله تعالى په نعمتونوباندې پرده واچوى اوهغه د بل چاطرف ته منسوب كړې شى.په صحيح حديث كښې دى د قيامت په ورځ به الله تعالى بنديګانوباندې خپل احسان كولوسره اوفرمائى آيا ماتاته ښځه نه وه دركړې؟ ماتاله عزت نه وو دركړې؟ ماستا اوښان اواسونه تابع كړى نه وو؟ اوما ته په سردارئى او آرام كښې پريخې نه وې؟ ([2])

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَيَعْبُدُوْنَ | مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ | مَا | لَا يَمْلِكُ | لَهُمْ |
| اوعبادت كوى | ماسوادالله نه | دهغې | چى نه لرى اختيار | دپاره ددوئ |

| اودوئ دالله ﷻ نه بغير د هغه ځيزونو عبادت كوى | چې د آسمانونو |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رِزْقًا | مِّنَ السَّمٰوٰتِ | وَالْاَرْضِ | شَيْـًٔا | وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٧٣﴾ | |
| درزق وركولو | دآسمانونو نه | او دزمكې نه | هيڅ قدرله | اونه طاقت لرى ددې كار | |

| اوزمكې نه ذوئ ته د رزق وركولو هيڅ قدرت نه لرى | اونه د هغې معبودانو دوس خبره ده |

---

[1] ابوداؤد كتاب النكاح باب الرجل يتزوج المراة فيجدها حبلى:٢١٣١.

[2] صحيح مسلم كتاب الزهد باب الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر:٢٩٦٨، ابن حبان:٧٣٦٧، باختلاف الالفاظ.

Scanned with Ca

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

نومهٔ بیانوئ | الله لره | مثالونه | بیشکه الله | پوهیږي | اوتاسو | نهٔ پوهیږئ

نوتاسو د الله دپاره مثالونه مه بیانوئ | بیشکه الله ﷻ په (هره خبره) پوهیږي | اوتاسو نه پوهیږئ

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

بیانوی الله | يو مثال | دغلام | چې دبل په قبضه کښې دې | چې اختیار نهٔ لري | په هیڅ څیز باند

اوالله ﷻ یومثال بیانوی | چې یوغلام د بل په اختیار کښې دې | او په هیڅ قدرت نه لري

وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ

او بل هغه څوك | چې رزق ورکړې دې مونږه هغه ته | دطرفه زمونږنه | رزق ښه | نو هغه | خرچ کوي

اویو هغه څوک دې چاته چې مونږ د خپل طرفنه ښه رزق ورکړې وي | نو هغه د هغې نه

مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ؕ هَلْ يَسْتَوٗنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

دهغې نه | په پټه | او په ښکاره | آیا برابر دي هغوئ | ثناده الله لره | بلکه | زیات دهغوئ

په پټه اوپه ښکاره خرڅ کوي | آیا دا دواړه برابر دي (نه دي) | ټول تعریفونه الله دپاره دي | خوپه دوئ کښې

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ

نهٔ پوهیږي | او بیانوی الله | یوبل مثال | ددوؤسړو | یودهغوئ نه | چاړادې | چې نهٔ قادرېږي

زیات خلق نه پوهیږي | اوالله د دوؤ سړو یو بل مثال بیانوی | چې په دوئ کښې یو ګونګا وي | په هیڅ

عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ؕ

په هیڅ څیز باند | اوهغه | بوج وي | په مالك خپل باند | هرطرفته چې | اولیږي هغه | نهٔ راوړي | څه څیز

کارقادر نه وي | اوپه خپل مالک باندې بوج وي | هغه چې کوم خوا هم دې لیږي | نوښیګړه نې دلاسه نه کیږي

هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

آیابرابردې | هغه | اوهغه څوك | چې حکم کوي | په انصاف سره | اوهغه | په لاره | نیغه باندوی

آیا دې اوڅوک چې د انصاف حکم کوي او په نیغه لار روان وی دواړه سره برابر کیدې شي (نشي)

**قوله تعالى:-** وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

**رازق صرف د الله تعالى ذات دې:**-نعمتونه ورکونکې پیداکونکې رزق رسونکې صرف یوازې الله تعالى وحده لاشریك له دې.مشرکانو هغه سره د نورو عبادت کوی چه نه د آسمان نه باران راورولې شی نه د زمکې نه فصل اوونې راټوکولې شی.که هغوی ټول هم یوځائ شی اوغواړی بیاهم نه په یوڅاڅکی باران باندې قادر دی اونه د یوې پاڼې پیداکولو په هغوی کښې طاقت شته. نوتاسو د الله تعالى د پاره مثالونه مه بیانوئې. اودهغه شریك اوبرابراود هغه په شان څوك مه ګڼړئ. الله تعالى عالم دې هغه د خپل علم په بنا باندې په خپل توحید باندې ګواهی ورکوی. تاسو جاهل ئې اود خپل جهالت په وجه نورد الله تعالى سره شریك ګرځوئې.

**قوله تعالى:-** ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا

**د کافر اومومن مثال:**-ابن عباس‌رضي الله عنه وغیره فرمائی دا د کافراومؤمن مثال دې . نو د ملکیت د غلام نه

مراد کافر دىبه رزق والا اوخرڄ کونکي نه مراد مؤمن دي. مجاهد ﷫ فرمائي د دي مثال نه د بت اوالله تعالى جدائي کول مقصود دى چه دا اوهغه برابر نه دى. د دي مثال فرق دومره واضح دي چه د دي د خودلو ضرورت نشته. هم په دي وجه فرمائي چه د تعريفونولائق هم الله تعالى دي. اکثرمشرکان په بي علمنى باندي کلك ولاړدى.

**دَ بتانومتعلق دَ يومثال ذکر:-** -کيدي شى چه دا مثال هم د دي فرق خودلو وى کوم چه د الله تعالى اود مشرکانو د بتانو په مينځ کښي دي. دا بتان خو ګونکيان دى نه خبره کولي شى اونه څه بنه خبره کولي شى نه په څه څيز باندي قدرت لرى.دقول اوفعل دواړونه خالى دى اوصرف پخپل مالك باندي بارشوي يوبوج دي. که چرته هم لاړشى هيڅ ښيګړه نه راوړى. نو يوخودا اوبل هغه چه د عدل حکم کوى پخپله په په نيغه لاروى يعنى د قول اوفعل دواړو په اعتبارسره بهتر دا دواړه به څنګه برابر شى. يو قول دي چه يوګونګاد حضرت عثمان ﷺ غلام وو اوکيدي شى چه دا مثال هم د کافراو مؤمن وى لکه چه دي نه وړاندي آيت کښي هم وو وائيچه دقريشو ديوسړي د غلام ذکر اول دي اودويم سړى نه مراد حضرت عثمان ﷺ دي. د ګونګا غلام نه مراد د حضرت عثمان ﷺ هغه غلام دي په کوم چه به هغوى خرڄ کولو اوهغوى ته به ئى تکليف رسولو او هغوى دي د کارروزګارنه آزادکړي ووخوبيا به هم ده اسلام سره چيړ وومنکروواوهغه به ئى دصدقه کولونه اونيکوکولونه منع کولودهغه باره کښي دا آيت نازل شوي دى.

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا

اوخاص الله لره دى | دپټوحقيقتونوعلم | داسمانونو | اودزمکي | اونۀ دي | حکم دقيامت بس دومره

او داسمانونو اود زمکي د پټو خبرو علم الله ﷻ سره دي | او د قيامت راتلل بالکل داسي دى

كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

لکه رپ | دسترګي | يا هغه | ډير نزدي دي | بيشکه الله | په هر څيز باندا | قادر دى

لکه دسترګي رپيدل | يا ددي نه هم زيات نزدي | بيشکه الله ﷻ په هرڅيزقادر دي

وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ

اوالله | راوويستئ تاسو | دخيټونه | دميندو ستاسو | حال دا چى نۀ پوهيدئ تاسو | په هيڅ څيز

اوالله ﷻ تاسوستاسو د ميندو د خيټو نه راويستي يي | په داسي حال کښي چي په هيڅ نه پوهيدئ

وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝

اوهغه درکړل | تاسولره | غوږونه | اوسترګي | اوزړونه | دپاره ددي چى تاسو | شکر اوباسئ |

او الله ﷻ ستاسودپاره غوږونه سترګي او زړونه جوړ کړل | چي تاسو (د دي) شکر ادا کړئ

اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ

آيا نۀ دى کتلى دي خلقو | مارغانوته | چى تابع دى | په فضا | دآسمان کښى | نۀ ساتى دوئ لره

آيا دوى مارغان نه دى ليدلى | چى دآسمان په فضا کښي تابعدار دى | دوئ صرف الله ﷻ

اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝

مګرالله | بيشکه | په دي کښى | ډيرې نښې دى | دپاره دهغه خلقو | چى ايمان راوړى |

راتينګ کړى دى | بيشکه په دي کښي دايماندارو دپاره نخښي دى |

Scanned with Ca

**قوله تعالى:-** وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

**دَ الله تعالى دَ علم او قدرت کمال:-** الله تعالى خپل د علم کمال اود قدرت کمال بیان فرمائی چه د زمکې اوآسمان غیب هم هغه پیژنی هیڅ څوك نشته چه غیبوباندې پوهیږی.الله تعالى چه چاته په کوم څیز باندې غوارِی خبرورکوی هرڅیز دهغه په قدرت کښې دې نه څوك دهغې خلاف کولې شی اونه څوك هغه منع کولې شی.دکوم یوکارچه کله اراده اوکړی قادر دې پوره کیږی د سترګې بندولو او کولاوولو کښې خو وخت لګی ولې د الله تعالى حکم پوره کیدوکښې دومره هم وخت نه لګی. د قیامت راتلل هم په هغه باندې داسې آسان دی د هغه حکم کیدوسره به راشی.دیوپیداکول اود ټولو پیداکول هغه ته یو شان دی.دالله تعالى احسان اوګوره چه هغه خلق دمئیندودخیټونه راوویستل دوی په هیڅ نه پوهیدل بیائی دوی ته غوږونه ورکړل چه په دې واوری، سترګې ورکړې چه په دې ګوری، زړه ئی ورکړو چه په دې سوچ اوکړی دعقل په ځائ زړه دې اودماغ هم ورته وئیلې شی.هم په عقل سره ګټه تاوان معلومیږی دا طاقتونه اوداحواس انسان ته درجه په درجه لږلږ ملاویږی. د عمر سره سره د دې زیاتوالې هم کیږی تر دې چه کمال ته اورسی. دا ټول د دې دپاره دی چه انسان دا ټول طاقتونه د الله تعالى په پیژندګلو اودهغه په عبادت کښې اولګوی.

**په عبادت سره انسان الله تعالى ته نزدې کیدې شی :-** صحیح بخاری کښې حدیث قدسی دې چه څوك زما دوستانو سره دښمنی کوی هغه ماته د جنګ کولو اعلان کوی. زما د فریضې په ځائ راوړو سره بنده دومره ماته نیزدې کیدې شی چه دومره په بل څه سره نه شی کیدې. په نفلونو کولوکولو بنده زما طرف ته نیزدې کیږی او زما محبوب جوړیږی. کله چه زه هغه سره محبت کوم د هغه غوږونه جوړیږم په کومو چه هغه اوری د هغه سترګې جوړیږم په کومو سره چه هغه ګوری اود هغه لاس جوړیږم په کومو سره چه هغه نیول کوی اود هغه پښې جوړیږم په کومو سره چه هغه تګ کوی. که مانه اوغوارِی نو زه ئی ورکوم که مانه دعااوکړی زه ئی قبلوم. که پناه غوارِی نوزه پناه ورکوم اوماته په یوکونکی کارکښې دومره تردد نه وی څومره چه دمؤمن سړی د روح په قبض کولوکښې هغه مرګ نه خوښوی([1]) زه هغه ناراض کول نه غوارم اومرګ داسې څیز هم نه دې دکوم نه چه یوسا لړونکی ته خلاصې ملاوشی. د دې حدیث مطلب دې چه کله مؤمن په خپل اخلاص او اطاعت کښې کامل شی نود هغه ټول افعال صرف د الله تعالى دپاره شی. هغه اوری دالله تعالى د پاره ګوری دالله تعالى د پاره یعنی د شریعت خبرې اوری او شرع چه کوم څیز ته کتل جائز کړی دی هم هغې ته ګوری دغه شان د هغه لاس وړاندې کول اود پښې روانول دالله ﷻ درضاد کارونودپاره وی.په الله ﷻ باندې دهغه یقین وی هم دهغه نه امداد غوارِی دهغه ټول کارونه هم د الله ﷻ درضا وی.په بعضې غیرصحیح احادیثوکښې دې نه پس دا هم راغلی دی چه هغه هم زما د پاره اوری اوهم زما د پاره ګوری اوزما د پاره نیول کوی اوهم زما دپاره ګرځی.

**غوږ سترګې دماغ دالله تعالى نعمت دی ددې شکر پکار دې:-** په آیت کښې بیان دې چه د مورد خیټې نه ئی راوباسی غوږ سترګه زړه اودماغ هغه ورکوی دې دپاره چه تاسو شکر اداکړئی. بل آیت کښې دی ﴿ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ ﴾([2])یعنی هم الله تعالى تاسو پیداکړی ئی اوستاسود پاره ئی غوږونه سترګې او زړه جوړکړې دې خوتاسو ډیر کم شکر اداکونی هم هغه تاسو په زمکه کښې خواره کړی ئی اوهم د هغه طرف ته به ستاسو حشر کولې شی. بیا الله تعالى خپلو بندیګانوته فرمائی چه دې مرغوته اوګورئی چه د زمکې او آسمان په مینځ کښې فضاکښې الوزی ګرځی. دوی هم پروردګار په خپل

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب التواضع:٢٥٠٢، بیهقی:٣/٣٤٦، کتاب الزهد:٢/٢٦٩.
[2]) ٦٧/الملك:٢٣.

Scanned with Ca

قدرت كامله سره نيولى دى دا د الوتلو طاقت دوى له هم الله تعالى وركړې دې اوهواګانې ئې د دوى تابع كړې دى.سورت ملك كښې هم دا فرمان دې آيا دوى په خپلو سرونوباندې الوتونكى مرغوته نه ګورى چه وزرې ئې خورې كړې دى اووزرې ئې بندكړې هم دى. دوى بغيرد الله تعالىٰ نه چه رحمن اورحيم دې بل څوك نيولى دى؟ هغه الله تعالى ټول مخلوق ته ډير ښه ګورى. (١) دلته ئې هم په خاتمه باندې اوفرمائيل چه په دې كښې د ايماندارو د پاره ډيرې نښې دى.

وَاللّٰهُ جَعَلَ

| اوالله| جوړ كړو

| اوالله ﷻ تاسو

لَكُمْ مِنْ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ

ستاسودپاره| دكورونو ستاسو نه | ځائې دآرام | اوپيدا ئې كړل | ستاسو دپاره| دڅرمنو | دځاروؤ نه

دپاره ستاسو كورونه د آرام ذريعه ګرځولې ده| اوستاسودپاره ئې د ځاروؤ د څرمنو نه

بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ ۙ

كورونه | چې سپك مومئ تاسو هغه | په ورځ | دسفر ستاسو كښې | اوپه ورځ | دقيام ستاسو كښې

داسې كورونه جوړ كړى دى | چې هغه د سفر په ورځ اود قيام په وخت كښې سپک بيامومئ

وَمِنْ اَصْوَافِهَا وَاَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَآ اَثَاثًا وَّمَتَاعًا

اودوړئ دهغې نه | اودوړئ داوښانونه| اودويختودهغې نه | سامانونه داغوستلو | او سامانونه داستعمالولو

او دهغو د وړئ نه او د پشم نه او د ويښتو نه ستاسو دكور سامان او دفائدې څيزونه جوړوئ اچې ترېو

اِلٰى حِيْنٍ ۝٨٠ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا

ديو خاص وخت پورې | اوالله | پيدا كړل | ستاسو دپاره | دهغې نه | چې پيدا كړى دى هغه | سورى

وخته پورې (ترې فائده اخلئ) | او الله ﷻ ستاسو دپاره دخپلو پيدا كړو څيزونو سيورى جوړ كړى دى

وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ

اوجوړ ئې كړل| ستاسودپاره| دغرونونه| ځائې دپناه اغستلو| اوجوړئې كړل| ستاسودپاره | قميصونه

اوستاسو دپاره ئې په غرونو كښې د پناه اخستلو ځايونه جوړ كړى دى| اوستاسو دپاره ئې داسې جامې جوړې

تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ

چې ساتى تاسو | دګرمئ نه | اوجامې | چې حفاظت كوى ستاسو | په جنګ ستاسو كښې | دارنګې

دى چې تاسو دګرمئ نه بچ كړى| اوځۀ داسې جامې چې په جنګونو كښې ستاسو حفاظت كوى| دغه شان

(١) ٦٧/الملك ١٩.

Scanned with Ca

يُتِمُّ نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡلِمُوۡنَ﴿٨١﴾ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا

پوره كوی| نعمت خپل| په تاسو باند|دپاره ددې|چی تاسو دالله حكم اومنئ| نو كه چری| مخ واړوؤدوئ

الله ﷻ خپل نعمتونه په تاسو پوره كوی| د دې دپاره چې تاسو تابعدار جوړ شئ| نو كه دوئ مخ ګرځوی

فَاِنَّمَا عَلَيۡكَ الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ﴿٨٢﴾ يَعۡرِفُوۡنَ نِعۡمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنۡكِرُوۡنَهَا

نو بيشكه | په تاباند | رسول دی | ښكاره | پيژنی دوئ| نعمت دالله| بيا| انكاركوی دهغې نه

نوستا په ذمه صرف ښكاره خبره رسول دی| دوئ دالله ﷻ نعمتونه ښه پيژني| اوبيا ترې انكار كوی

وَاَكۡثَرُهُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ﴿٨٣﴾ ع

او زيات خلق ددوئ | نكاريان دی |

اوپه دوی كښې زيات خلق ناشكره دی |

**قوله تعالى:- وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡۢ بُيُوۡتِكُمۡ سَكَنًا**

**دَ راحت او آرام والا نعمتونه** :-دپخوانو اوډيرو بې شميره احساناتو اوانعاماتو سره الله تعالى دخپلو نورو نعمتونو ځرګندونه فرمائى چه هم هغه د بنيادمو د آرام او راحت د حاصلولو د پاره د هغوی د اوسيدو كورونه وركړی دی.دغه شان دڅاروو څناورود څرمنوخيمې ډيرې تنبوان وغيره دركړی دی چه په سفركښې په كارراشی نه په اوړلوكښې تكليف نه لګول ګران اونه په راويستلوغونډولوكښې څه تكليف، بيادچيلوويښته د اوښانو ويښته دګډوګډانو وړنی دسوداګرئی اوتجارت دپاره دمال په شكل كښې هغه جوړكړی دی. هغه د كورد نوښو څيز هم دې دې نه كپړې هم جوړيږی قالين هم تياريږی د تجارت په توګه د تجارت مال دې د فائدې څيز دې په كومو سره چه خلق د مقرر وخت پورې فائدې اخلی.د ونو سوری هغه ستاسو دفائدې اوآرام د پاره جوړ كړی دی په غرونوكښې غارونه او قلعه ګانې هغه تاسو ته دركړی دی چه په دې كښې پناه حاصله كړئی د پټيدو اوسيدو ځائ جوړكړئی. ريښمنې او وړنی والا كپړې تاسو ته هغه دركړی دی چه په اغوستوكښې د ګرمئی يخنئی نه بچ كيدوسره خپله پړده اوكړئی او زيب اوزينت حاصل كړئی. هغه تاسو ته زغرې دركړې پخپله ئی مورچې دركړې چه د دښمن سره د جنګ او حملې په وخت كښې ستاسو په كار راشی. دغه شان هغه تاسو ته ستاسو د ضرورت مطابق پوره پوره نعمتونه دركوی چه تاسو راحت او آرام اوكړئی او په تسلئی سره د خپل منعم حقيقی په عبادت كښې اخته شئی.﴿تُسۡلِمُوۡنَ﴾ دويم قراءت﴿تَسۡلَمُوۡنَ﴾ هم دې يعنى تاسو سلامت اوسيږئی اود ړومبی قراءت معنی دې د پاره چه تاسو فرمانبردار جوړشئی د دې سورت نوم سورت النعم هم دې د لام د زبروالا قراءت نه دا هم مراد دې چه تاسو ته په جنګ كښې په كارراتلونكی څيزنه هغه دركړی چه تاسو سلامت اوسئی اود دښمن د حملې نه بچ شئی. بې شكه په ځنګل كښې او بيابان كښې د الله تعالى ډير لوئ نعمت دې خودلته ئی د غرونو نعمت ځكه بيان كړو چه چا سره كلام دې هغوی هم د غرونو خلق وو. نود هغوی د معلوماتو مطابق هغوی سره كلام كولې شی. دغه شان هغوی د ګډو چيلو اوښانو والا وونو هغوی ته ئی هم دغه نعمتونه ورياد كړل. سره د دې اود دې نه زيات د الله تعالى نعمتونه د مخلوق په لاسونوكښې نور هم بې شماره دی اوهم دغه وجه ده چه د يخنئی د كوزولو احسان ئی اوفرمائيلو سره د دې چه د دې نه نور ډير لوئ احسانونه موجود دی خو دا د هغوی مخامخ اود هغوی د معلوماتوڅيز وو. دغه شان چه دوی د جنګ جنګړو اوجنګيالی خلق وو نود جنګ نه د بچ كيدو څيز ئی د هغوی په وړاندې د نعمت په توګه كيخودو سره د دې چه د دې نه په زركونو د لوی

Scanned with Ca

درجو انعامونه او نعمتونه هم د مخلوق په لاس کښې موجود دی.دغه شان د هغوی ملك ګرم وونو وئي فرمائيل چه په لباس باندې تاسو د ګرمئی سختی لرې کوئی ګنی نوهغه منعم حقيقی سره ددې نه ډير بنه نعمتونه بنديګانو د پاره نه ووځه؟ په دې وجه د دې نعمتونو اورحمتونو د بيانولو نه پس فرمائی که اوس هم دا خلق زما د عبادت او توحيد اوزما د بې پايانه احسانونو قائل نه وی نو تاسره د دوی دومره غم ولې دې؟ پرېږده ئی په خپل کار کښې لګياشه په تاباندې خوصرف تبليغ دې هغه کوه دوی پخپله پوهيږی چه هم الله تعالی د نعمتونو ورکونکې دې اود هغه بې شميره نعمتونه د هغوی په لاسونوکښې دی خوسره د علم نه منکر شوی دی اود هغه سره د نورو عبادت کوی بلکه دهغه نعمتونه د نورو طرف ته نسبت کوی او داګنړی چه فلانکې امدادی دې رزق ورکونکې فلانکې دې دا اکثر خلق کافران دی اود الله تعالی ناشکره دی.

**د يو اعرابی واقعه**:-ابن ابی حاتم کښې دی يوځل يواعرابی د رسول الله ﷺ په خامت کښې حاضر شو حضورﷺ د هغه په وړاندې د دې آيت تلاوت اوکړو چه الله تعالی تاسو له د اوسيدو د پاره کورونه او مکانو نه درکړی هغه وئيل رښتيادی بياحضورﷺ اوفرمائيل چه الله تعالی تاسو له د څاروو د څرمنو خيمې درکړی هغه وئيل چه دا رښتيادی دغه شان حضورﷺ دا آياتونه لوستل او هغه د هريونعمت اقرار کولو په آخره کښې حضورﷺ اوفرمائيل د دې د پاره چه تاسومسلمانان او تابعدار شئی هغه وخت خو هغه شاکړه لاړو نو الله تعالی آخری آيت نازل کړو چه د اقرار نه پس انکارکوی کافران کيږی.

| |
|---|
| وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا |
| او په کومه ورځ \| چی راپورته کړو مونږه \| دهر امت نه \| يو ګواه |
| او په کومه ورځ چې به مونږ د هريو امت نه يوګواه راپاڅوو |
| ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ |
| بيا \| به اجازت ورنکړې شي \| هغه کسانوته\| چی کافران شوی دی\| اونهٔ به دهغویٔ نه |
| بيا به کافرانو ته د (حجت پيش کولو) اجازت ورکولې نشي \| اونه به ددویٔ نه |
| يُسْتَعْتَبُونَ ۝ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ |
| طلب دتوبې ايستلواوکړې شي\| اوهرکله چی \|اووينی\| هغه کسان \| چی ظلم ئې کړې دې \| عذاب لره |
| عذر قبول کړې شی \|..................اوکله چې ظالمان خلق عذاب اووينی |
| فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ۝ وَإِذَا رَأَى |
| \|نو سپك به نهٔ کړې شي \| دهغویٔ نه \| اونهٔ به هغویٔ ته \| انتظار اوکړې شي \| هر کله چی \| اووينی |
| نو نه خو به د هغوی نه سپکولې شی \| اونه به دویٔ ته مهلت ورکولې شی \| او څه وخت چې مشرکان |
| الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا |
| هغه کسان \|چی شرك ئې کړې دې \|شريکان خپل\| نواوبه وائی\| اے ربه زمونږه \|دادی شريکان زمونږه |
| خپل شريکان (معبودان) اووينی \| نو دا به اووائی ائې زمونږ ربه ! \| ..........دا زمونږ |
| الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا مِنْ دُونِكَ ۚ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ |
| هغه \| چی وؤمونږه\| چی رابللِ به مونږه دویٔ \| بې له تانه \| نواوبه غورزویٔ\| دویٔ ته خبره\| |
| هغه معبودان دی \| کوم چې به مونږ ستا نه سوا رابلل \| بيا به معبودان دویٔ ته دا جواب ورکړی \| چې |

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| إِنَّكُمْ | لَكَٰذِبُونَ | وَأَلْقَوْا | إِلَى اللَّهِ | يَوْمَئِذٍ | السَّلَمَ |
| چې بیشکه تاسو | خامخادروغژن یئ | اواوبه غورزوی | الله ته | په دغه ورځ | صلحه |

بیشکه تاسو درغژن یئ | ..................اومشرکان به الله تعالی ته په دغه ورځ صلح پش کړي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَضَلَّ | عَنْهُم | مَّا | كَانُوا | يَفْتَرُونَ | الَّذِينَ كَفَرُوا |
| اوورك به شي | دهغوئ نه | هغه | چې وو هغوئ | چې دروغ به ئې تړل هغه کسان | چې دکفرپه لاره لاړل |

اوخپل ټول دروغ به تري هير شي | اچا چې دکفر لاره اختيار کړه | او نور خلق ئې د الله تعالی د لاري

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَصَدُّوا | عَن سَبِيلِ اللَّهِ | زِدْنَاهُمْ | عَذَابًا | فَوْقَ الْعَذَابِ |
| اومنع ئې کړل نورخلق | دلاري دالله نه | زيات به ورکوؤمونږهغوئ ته | عذاب | دپاسه دعذاب |

نه منع کړل | هغوئ ته به مونږ د يوې دپاسه بله سزا زياته کړو | ځکه چې هغوئ به په دنيا کښې فسادونه

| | | |
|---|---|---|
| بِمَا | كَانُوا | يُفْسِدُونَ |
| په سبب دهغې | چې وو هغوئ | چې فسادبه ئې کوؤ |

کول |

**قوله تعالى:- وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ**

**د قيامت په ورځ د کافرانو حالت** :-دقيامت په ورځ چه به د کافران کوم بد حال وی د هغې ذکر کولې شی په هغه ورځ به په هريوامت باندې دهغوی نبي‌ګواهی ورکوی چه هغه د اللهﷻ کلام هغوی ته رسولې وو بيابه کافرانو ته دهغوی عذر معذرت اجازت هم نه شی ورکولې ځکه چه دهغوی باطل کيدل او دروغ بالکل ښکاره دی.په سورت المرسلات کښې هم دغه فرمان دې چه په هغه ورځ به نه هغوی خبرې کوی نه به هغوی ته د عذراومعذرت اجازت ملاويږی[1] مشرکان به عذابونوته ګوری خوبيابه څه کمې نه وی.يوساعت به هم عذاب نه سپکيږی نه به هغوی ته څه مهلت ملاويږی ناڅاپی به راونيولې شی دوزخ به موجودشی چه د اوياؤزرو واګو والا به وی د هغې په هره يوه واګه به اويا زره فرښتې وی.[2] د دې نه به يوسټ راوځی هغه به چه داسې خوره کړې وی چه د محشر ټول مخلوق به اوويريږی اوپه زنګونوبه راپريوځی هغه وخت به دوزخ په خپله ژبه په اوچت آواز اعلان کوی چه زه د هريوسرکش ضدی د پاره مقرر کړې شوې يم چا چه الله تعالی سره بل څوك شريك کړې اوداسې داسې کارونه ئې کړې وی هغه به د ډيرو قسمونوګناهګارانو ذکر کوی.[3] لکه چه په حديث کښې دی چه بيا به هغه دغه ټولوخلقو پورې اونخلی اود ميدان حشر نه به ئې اوچت کړی لکه څنګه چه مرغئی دانه راغونډوی.د الله تعالی فرمان دې ﴿إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا﴾[4] اوهغه به د لرې نه ښکاری دهغه شور ژوګ شغلې وهل به هغوی اوری اوچه ګله دهغې په تياروا تنګوکورونوکښې ورننه باسی نو مرګ ته به چغې وهی خوکه نن څوك مرګ هم غواړی نو څه کيدې شی؟ بل آيت کښې دی ﴿وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ النَّارَ﴾[5] ګناهګار چه

---

[1] ۷۷/المرسلات:۳۵-۳٦.

[2] صحيح مسلم کتاب الجنة باب جهنم اعاذناالله منها:۲۸٤۲، حاکم:٤/٦۳۷، مجمع الزوائد: ۱۰/۳۸۸، ابن ابی شيبه:۷/٤۸، مسندالبزار:۱۷٥٤، المعجم الکبير:۱۰٤۲۸.

[3] ترمذی کتاب صفة جهنم باب ماجاء فی صفة النار: ۲٥۷٤، باختلاف يسير وهوحسن، احمد:۲/۳۳٦ شعب الايمان٦۳۱۷.

[4] ۲٥/الفرقان:۱۲.

[5] ۱۸/الکهف:٥۳.

Scanned with Ca

دوزخ اووینی نوپوهه به شی چه دوی به پدې کښې وردوبولې شی خو هیڅ د بچ کیدو لار به نه وینی په یوبل آیت کښې دی ﴿لَوْيَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ [1] افسوس چه کافرانو هغه وخت معلوم کړې وې چه کله به هغوی د خپلومخونونه اود خپلو شاګانونه اُور لرې نه کړې شی نه به څوك امداد موندې شی ناڅاپی به د الله تعالی عذاب هغوی حیران اوپریشان کړی نه به د هغوی د دې د لرې کولو طاقت وی نه به د یومنټ مهلت ملاوېږی په هغه وخت کښې به د هغوی باطل معبودان د کومو چه ئی ټول عمر عبادتونه کړی اود هغوی نذرونه ئی منل بالکل به د هغوی نه ویزاره شی اود هغوی د حاجت په وخت کښې به بالکل د هغوی په هیڅ کار نه راځی هغوی ته به په کتو سره وائی چه اې الله هم دادی هغه کومو ته چه په دنیاکښې مونږ عبادتونه کول نو هغوی به وائی دروغژن ئی مونږ کله تاسو ته ونیلې ووچه الله تعالی پریږدئی او زمونږ عبادت اوکړئی هم دا الله سبحانه وتبارك وتعالی فرمانی ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوْامِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗ﴾ [2] یعنی د دوی نه زیات څوك ګمراه نشته چه د الله تعالی نه بغیرهغه چاته آواز کوی چه دقیامت پورې به هم هغوی ته جواب ورنه کړی بلکه هغوی د دوی د چغونه هم ناخبره دی. اود حشر په ورځ به د دوی دښمنان وی اود هغوی د عبادت نه به انکاریان وی. په نورو آیاتونوکښې دی چه خپل حمایتی اودعزت سبب ئی څوك ګنړل اوچاته ئی چغې وهلې هغوی خویه د دوی دعبادتونونه داسې منکرشی اودهغوی مخالفین به جوړشی [3] خلیل الله ﷺ هم دافرمائیلی ﴿ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ﴾ [4] یعنی د قیامت په ورځ به دیوبل منکرشی. بل آیت کښې دی چه دوی ته به دقیامت په ورځ حکم وی چه خپل شریکان راوبلئی الخ [5] نور هم ددې مضمون آیاتونه په کلام الله کښې موجود دی په دغه ورځ به ټول مسلمانان تابع فرمان شی کله چه ارشاد دې ﴿اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا﴾ [6] یعنی په کومه ورځ چه دوی زمونږ خواله راشی په هغه ورځ به ښه اوری او ګوری. بل آیت کښې دی ﴿وَلَوْ تَرٰۤی اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ﴾ [7] ته به ګورې چه په دغه ورځ به ګناهګار خلقو سرونه ټیټ کړې وائی به چه اې الله مونږ واوریده مونږ اوکتل الخ. بل آیت کښې دی چه په دغه ورځ به ټول مخونه د الله تعالی چه حی یاقیوم دې مخکې ټیټ شوې وی. [8] تابعدار او تابع فرمان به وی د حکم لاندې به وی د هغوی ټول بهتانونه اود ځان نه خبرې به ختمې شی ټولې چالاکئی به ئی ختمې شی هیڅ امدادی به ئی نه وی ولاړ. چاچه کفر کړې هغوی ته به د کفر سزا ورکولې شی او په خپل کښې به د نورو خلقو راښکلو دوچنده سزا خوری دا هم هغه وو چه پخپله به هم لرې تښتیدل او نور به ئی هم د حق نه لرې تختول. په اصل کښې هغوی پخپله د تباهئی په بوخته کښې انختل خو وو دوی بې وقوف. د دې نه معلومیږی چه د کافرانو د عذابونو به هم درجې وی څنګه چه دمؤمنانو د بدله درجې وی.لکه چه دالله ﷻ ارشاد دې ﴿قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ﴾ [9] د هریودپاره دوچند دې خوتاسوته علم نشته. ابویعلی کښې دحضرت عبدالله ﷺ نه روایت دې چه دجهنم د عذاب سره به دزهرژنو مارانو ټکونه زیاتیږی چه دومره لوئ لوئ به وی

---

[1] ٢١/الانبیاء:٣٩.

[2] ٤٦/الاحقاف:٥.

[3] ١٩/مریم:٨١-٨٢.

[4] ٢٩/العنكبوت:٢٥.

[5] ١٨/الكهف:٥٢.

[6] ١١/مریم:٣٨.

[7] ٣٢/السجدة:١٢.

[8] ٢٠/طه:١١١.

[9] ٧/الاعراف:٣٨.

Scanned with Ca

د عذاب سره به دزهرژنو مارانو ټکونه زياتيږی چه دومره لوئ لوئ به وی لکه څومره چه د لويوکهجورو ونې وی. ([1]) د ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه د عرش لاندې به پنځه نهرونه وی په کوم چه به دوزخيانوته عذاب ورکولې شی د شپې هم اود ورځې هم.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ

| اوخبرې ئې کړه دهغه ورځ نه| چې راپورته به کړومونږ

| چې مونږ به د هر يو امت نه يو يو ګواه هم د هغوئ د مينځ

فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا

| په هرامت کښې| يوګواه | په هغوئ باند| دنفسونودهغوئ نه | او رابه ولومونږ

نه راوچت (پيش) کړو | اوتابه د دې خلقو په مقابله کښې ګواه را ړواندې کړو| اومونږ په تاباندې

بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا

تالره| ګواه | په دې خلقوباند| اونازل کړې دې مونږه| په تاباند| داکتاب| چې وضاحت کونکې دې

داکتاب قرآن نازل کړې دې | په دې کښې د هر (دينی ) څيز (حسب ضرورت) واضحه بيان موجود دې

لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾

دپاره دهر څيز| او هدايت دې | او رحمت دې | او زيرې دې | دپاره دمسلمانانو|

...............او(دا قران) مسلمانانو دپاره هدايت اورحمت او زيرې دې

**قوله تعالى:- وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِمْ**

**په قيامت کښې ګواهان هم وی:-** الله تعالى خپل محترم او خوږ رسول ﷺ ته خطاب کولوسره فرمائی هغه ورځ ياده کړه اوهغه ورځ چه ستاعزت اوکرامت کيدونکې دې د هغې هم ذکر کوه. دا آيت هم داسې دې څنګه چه دسورت نساء په شروع کښې آيت ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا﴾ ([2]) يعنی څنګه به تيريږی چه مونږ د هريو امت نه ګواهان راوړو اوتا په دې ټولوباندې ګواه جوړکړو اودروو. حضور ﷺ يوځل په ابن مسعود ﷺ باندې سورت نساء تلاوت کړوکله چه هغه دې آيت ته راورسيدو نو حضور ﷺ اوفرمائيل بس کړه کافی دې. ابن مسعود ﷺ فرمائی چې ما اوکتل چه هغه وخت د حضور ﷺ سترګې مبارکې د اوښکو نه ډکې وې([3]) بيا فرمائی چه زمونږ په دې نازل شوی کتاب کښې مونږ ستا په وړاندې هر څه بيان کړی دی. هريوعلم او هرڅيز په دې قرآن کښې دې. ([4]) هريوحلال اوحرام هرنافع علم هره نيکی تيرې شوې خبرې راتلونکی واقعات د دين اودنيا کار روزګار ټول ضروری احکام او احوال په دې کښې موجود دی. دا دزړونو هدايت دې رحمت دې زيرې دې. امام اوزاعی رحمه الله فرمائې چه دې کتاب کښې سره د سنت رسول ﷺ د هرڅيز بيان دې. د دې آيت سره د پورتنی آيت تعلق غالبا په دې وجه دې چه چا په تاباندې د دې کتاب تبليغ فرض کړې دې اودا ئی نازل کړې دې هغه به د

---

[1]) مجمع الزوائد:٤٨/٧، مسندابي يعلى:٢٦٥٩، الترغيب والترهيب:٥٥٨١،حاكم:٣٥٥/٢-٣٥٦.

[2]) ٤/النساء:٤١.

[3]) صحيح بخارى كتاب فضائل القرآن باب قول المقرى للقارى حسبك: ٥٠٥٠، صحيح مسلم:٨٠٠، بيهقـى:٢٣١/١٠، المعجـم الكبير: ٨٤٦٠ ، شعب الايمان:٤٨١/١.

[4]) الطبرى:٢٦٩/١٧.

Scanned with Ca

قیامت په ورځ د دې باره کښې سوال کونکې دې لکه چه ارشاد دې چه د امتونو او رسولانو ټولونه به تپوس کولې شي.والله زمونږ د ټولونه به د زمونږ د عملونو تپوس کولې شي رسولان به راجمع کولې شي او تپوس به ترې کيږي چه تاسو ته څه جواب ملاوشو؟ هغوی به وائي چه مونږ ته هيڅ علم نشته ته علام الغيوب ئې. بل آيت کښې دی ﴿اِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰی مَعَادٍ﴾[1] يعنی چا چه په تاباندې د قرآن تبليغ فرض کړې دې هغه به د قيامت په ورځ تا خپل ځان ته واپس کړي اود خپلې درکړې شوي فريضې باره کښې درنه تپوس کونکې دې.دا يوقول هم د دې آيت په تفسيرکښې دې اودې هم معقول او ښکلې.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ | یَاْمُرُ | بِالْعَدْلِ | وَالْاِحْسَانِ | وَاِیْتَآئِ | ذِی الْقُرْبٰی |
| بيشکه الله | حکم کوی | په عدل کولوسره | اوپه احسان کولو سره | او په ورکولو سره | رشته دارانو ته |
| الله تعالی يقينا تاسو ته دانصاف اود نيکئ اوخپلوانو ته د مال ورکولو حکم کوی | | | | | |
| وَیَنْهٰی | عَنِ الْفَحْشَآءِ | وَالْمُنْكَرِ | وَالْبَغْیِ | یَعِظُكُمْ | |
| اومنع کوی | دبې حيايئ دکارونو نه | اودبدوکارونونه | اودظلم زياتی نه | هغه نصيحت کوی تاسو ته | |
| او دبې حيايئ د بدوکارونو او د سرکشئ نه مو منع کوی | | | | اوتاسو ته نصيحت کوی چې | |
| لَعَلَّكُمْ | تَذَكَّرُوْنَ۝ | | | | |
| دپاره ددې چې تاسو | نصيحت قبول کړئ | | | | |
| دې دپاره چې تاسو نصيحت حاصل کړئ | | | | | |

**قوله تعالی:-اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ**

**دَ عدل احسان صله رحمئ اوفحشاومنکر مطلب:-** الله ﷻ خپلو بنديګانو ته د عدل او انصاف حکم ورکوی اود سلوك اواحسان لارخودنه کوی اوبدله اخستل هم جائز دی.لکه چه آيت ﴿وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ؕ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَیْرٌ لِّلصّٰبِرِیْنَ۝﴾[2] کښې اوفرمائيل که بدله اخلئی نوبرابره برابره بدله اخستې شئ خوکه صبر او برداشت اوکړئی نو څه به وائي چه دا لويه د بهادرئی خبره ده. بل آيت کښې دی چه د دې بدله به الله تعالی سره ملاويږي. بل آيت کښې دی د زخمونو قصاص دې خوچه څوك معافی اوکړي نو د هغه د ګناهونو معافی ده[3] نوعدل فرض اواحسان نفل.د توحيد د کلمه شهادت هم عدل دې ظاهر او باطن په يورنګ کښې هم عدل دې اواحسان دا دې چه د باطن صفائی د ظاهر نه هم زياته وی او فحشا اومنکر دادې چه په باطن کښې خرابی وی اوپه ظاهرکښې بناوټ. هغه د صله رحمې هم حکم ورکوی. لکه چه په صفا الفاظو کښې ارشاد دې ﴿فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰی حَقَّهٗ وَالْمِسْكِیْنَ وَابْنَ السَّبِیْلِ ؕ ذٰلِكَ خَیْرٌ لِّلَّذِیْنَ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۝﴾[4] رشته دارانوته مسکينانوته مسافروته د هغوی حق ورکړه او اسراف او بې ځايه مه الوزوئی.دمحرماتونه هغه تاسو منع کوی د ګناهونونه هغه تاسومنع کوی ظاهری او باطنی ټول ګناهونه حرام دی. په خلقو ظلم اوزياتې کول حرام دی.

---

[1] ٢٨/القصص:٨٥.
[2] ١٦/النحل:١٢٦.
[3] ٥/المائده:٤٥.
[4] ١٧/بنی اسرائيل:٢٦

Scanned with Ca

**دظلم سزا ډيره زر ملاويږي**:-حديث شريف کښې دی چه د ظلم زياتی او خپلولی پريخودو نه زياته بله داسې گناه نشته چه په دنياکښې به هم د هغې ډير زر بدله ملاوشی او په آخرت کښې به سخت نيول وی (١)د الله تعالی دا احکام اوبنديزونه ستاسو د نصيحت دپاره دی. ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی د ټولو نه جامع آيت په ټول قرآن کښې دسورت نحل دا آيت دې(٢)حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه کوم ښه عادتونه دی د هغې حکم قرآن ورکړې دې او پخلقو کښې چه کوم خراب خصلتونه دی د هغې نه الله تعالی منع کړې دی د بداخلاقئی نه اوبدئی نه هغه ممانعت کړې دې.په حديث کښې دی بهترين اخلاق الله تعالی ته خوښ دی اوبداخلاقی هغه مکروه گنړی.(٣)

**داکثم صيفی واقعه**:-اکثم بن صيفی ته چه کله د رسول الله ﷺ متعلق خبرورکړې شو نو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې دحاضريدو کله اراده اوکړه خود هغه قوم هغه پسې شو او هغه نی منع کړو هغه وئيل چه ما نه پريږدئی نو ښه ده قاصد راولئی چه هغه اوليږو.دوه کسان د دې خدمت د پوره کولو د پاره تيار شودلته چه راغله نو هغوی اووئيل چه مونږ داکثم صيفی قاصدان يوهغه تاسو نه تپوس کوی چه تاسو څوك ئی؟اوڅه ئی؟ حضورﷺ اوفرمائيل چه د اول سوال جواب خودادې چه زه محمدﷺ بن عبدالله يم اود دويم سوال جواب دا دې زه د الله تعالی بنده اود هغه رسول يم. بياحضورﷺ هغوی ته دا آيت تلاوت کړو.هغوی وئيل دوباره ئی اولولئی.حضورﷺ بيا اولوستلو تردې چه هغوی يادکړو بياواپس لاړل او اکثم ته ئی پوره خبر ورکړو او وئی وئيل په خپل نسب باندې هغه څه فخر اونه کړو صرف خپل اودخپل پلار نوم ئی واخستو خودې د لوئ نسب والا اود اوچت خاندان والا دې. بيائی مونږ ته دا کلمې اوخودلې چه د حضورﷺ په ژبه مبارکه مونږ واوريدې. دې اوريدو سره اکثم اووئيل چه هغه خو ډيرې ښه خبرې ښائی اود بدو او سفلی خبرونه منع کول کوی. زما د قبيلې خلقو تاسو د اسلام طرف ته وړانديوالې اوکړنی دې دپاره چه تاسو په نورو قبيلو باندې سرداری اوکړئی اود نورو خلقو په لاسونوکښې لکئی مه جوړيږئی.

**د عثمان بن مظعون واقعه**:-د دې آيت په شان نزول کښې يوحسن حديث مسنداحمدکښې واردشوې دې. ابن عباس رضی الله عنه فرمائی حضورﷺ په خپل صحن کښې ناست وو چه عثمان بن مظعون رضی الله عنه حضورﷺ سره تيريدو حضورﷺ اوفرمائيل کينې نه؟ هغه کيناستو اوحضورﷺ د هغه طرف ته متوجه شوخبرې ئی کولې چه حضورﷺ ناڅاپی خپل نظرمبارك د آسمان طرف ته اوچت کړو لږ ساعت پورې ئی بره کتل بيائی سترگې په مزه مزه ښکته کړې اوخپل ښی طرف ته ئی په زمکه اوکتل او هم هغه طرف ته حضورﷺ مخ هم کړو اوداسې ئی سر مبارك خوزولو لکه چه د چا نه څه زده کوی اوڅوك حضورﷺ ته څه وائی لږ ساعت پورې داحالت وو بياحضورﷺ سترگې پورته کړې تردې چه د آسمان پورې د حضورﷺ نظرمبارك اورسيدوبياحضورﷺ ټيك ټاك شو اوهم هغه شان عثمان ته متوجه شو ناست ووهغه ټول ئی کتل د هغه صبر اونه شوتپوس ئی اوکړو حضورﷺ تاسو سره ډير خل د ناستې موقع ملاوشوې ده خود نن په شان نظاره مې نه ده ليدلې. حضورﷺ اوفرمائيل تا څه اوليدل؟ وئيل تاسو خپل نظرمبارك د آسمان طرف ته اوچت کړو بيامو لاندې اوکتل بيامو خپل ښی طرف ته اوکتل اوداسې تاؤ شوې کيناستې زه دې پريخودم بيامو داسې سرخوزولولکه چه څوك تاسو ته څه وائی اوتاسو په ښه شان سره هغه اورئی. حضورﷺ اوفرمائيل چه ښه ده تا دا هر څه اوليدل هغه وئيل

---

(١) ابوداؤد کتاب الادب باب فی النهی عن البغی: ٤٩٠٢، وسنده صحيح، ترمذی: ٢٥١١، ابن ماجه: ٤٢١١، حاکم:٣٥٦/٢، ابن حبان:٢٠٣٩، احمد:٣٦/٥.

(٢) حاکم:٣٥٦/٢، وسنده صحيح امام حاکم III دا صحيح کگنړلیگ ديگ.

(٣) حاکم:٤٨/١، طبرانی:٥٩٢٨، وسنده حسن، حلية الاولياء: ٢٥٥/٣.

Scanned with Ca

اوبرابرمې کتل. حضورﷺ اوفرمائیل ماله د الله تعالی فرښته وحی راوړلو سره راغلې وه هغه ونیل د الله تعالی نه راالیکلې شوې؟ حضورﷺ اوفرمائیل او او د الله تعالی راالیکلې شوې. تپوس نې اوکړو بیاهغې تاسوته څه اوونیل؟ حضورﷺ هم دا آیت تلاوت کړو. حضرت عثمان بن مظعون ﷛ فرمائي هم دغه وخت زما په زړه کښې ایمان کیناستو اود حضورﷺمحبت زما په زړه کښې ځائ اوکړو(١) بل روایت کښې دی د حضرت عثمان بن ابی العاص ﷛ نه روایت دې چه زه د حضورﷺ په خدمت کښې ناست ووم حضورﷺ خپل نظر پورته اوچت کړو ونې فرمائیل جبرائیل ﷤ ماله راغلواوماته نې حکم راکړوچه زه دا آیت د دې سورت په دې ځاي کښې کیږدم. (٢) دا روایت هم صحیح دې. والله اعلم.

| |
|---|
| وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ |
| او پوره کوئ \| وعده دالله \| کله چې \| وعده اوکړئ تاسو |
| اود الله تعالی وعده پوره کوئ \| هرکله چې تاسووعده اوکړئ |
| وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ |
| او مه ماتوئ تاسو\| قسمونه\| روستو \| دمحکم کولودهغې نه \| حال دا چې جوړ کړې وی تاسو \| الله |
| اود پخولو نه پس قسمونه مه ماتوئ \| حال دادې چې تاسو په خپل ځان باندې |
| عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝ وَلَا تَكُوْنُوْا |
| په ځانونوخپلوباند \|ګواه \| بیشکه الله\| پوهیږی\| په هغه عملونو\| چې کوئ نې تاسو\| اومه کیږئ تاسو |
| الله تعالی ضامن جوړ کړې دې \| بیشکه الله تعالی ستاسو په ټولو کارونو پوهیږی\|اوتاسو د هغې |
| كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ اَنْكَاثًا ؕ |
| پشان دهغه ښځې \| چې وې سپړدل \| ریشلی تارونه خپل \| روستو دمحکموالی نه \| ټوټې ټوټې |
| ښځې په شان مه کیږئ اچې خپل تارونه به ئې دمضبوطولو نه پس بیا ریښه ریښه کړل\| چې پخپل ځل وِل |
| تَتَّخِذُوْنَ اَيْمَانَكُمْ دَخَلًاۢ بَيْنَكُمْ اَنْ تَكُوْنَ اُمَّةٌ هِيَ اَرْبٰى |
| نیسئ تاسو\| قسمونه خپل\| ذریعه دټګئ\| په منځ خپل کښی\| چې شی\| یوه ډله هغه زیاته ګټوره |
| تاسوهم خپل قسمونه د فساد ذریعه اوګرځوئ \| په دې غرض چې یوه ډله د بلې ډلې نه زیاته فائده |
| مِنْ اُمَّةٍ ؕ اِنَّمَا يَبْلُوْكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ؕ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ |
| دبلې ډلې نه \| بیشکه \| آزمائی تاسو لره الله \| په دې وعده سره \| اوخامخا به بیان کړی \| تاسو ته |
| واخلی\| الله تعالی هم دغه شان په تاسو امتحان کوی \|او د قیامت په ورځ به درته هغه ټول |
| يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۝٩٢ |
| په ورځ دقیامت\| هغه څه\| چې وئ تاسو\| په هغې کښې\| چې اختلاف به موکوو\| |
| حقیقت ښکاره کړی \| په کوم کښې چې تاسو اختلاف کولو \| |

(١) احمد:١/٣١٨، وسنده حسن، طبرانی:٨٣٢٢، مجمع الزوائد:٧/٤٨.
(٢) احمد:٤/٢١٨،

Scanned with Ca

**قوله‌تعالى:-وَأَوْفُوْابِعَهْدِاللَّهِ**
**دَ قسمونوعهدوپیمان دَحفاظت حکم:-** الله تعالى مسلمانانوته حکم ورکوی چه هغوی دې دوعدو حفاظت کوی قسمونه دې پوره کوی اوماتوی دې نه. دلته ئې د قسمونونه ماتولوسختوالې اوکړو. بل آیت کښې فرمائیلې دی چه د خپلو قسمونو نښه الله تعالى مه جوړونې دې نه هم د قسمونو حفاظت کول مراد دی.یو بل آیت کښې دی د قسم ماتولوکفاره ده د قسمونوپوره کولوحفاظت کوئی.
**ددې ایت مبارک په مطلب کښې مختلف توجیهات او اصل مطلب:-** په آیاتونوکښې داحکم دې اوبخاری او مسلم په حدیث کښې حضورﷺ فرمائی والله چه کله زه دیوڅیز قسم اوخورم اوبیادهغې په خلاف کښې بهتری اووینم نوان شاء اللهﷺ ضروربه هغه کارپوره کوم او دخپل قسم کفاره به ورکوم.(١)دې پورتنی آیاتونوکښې اواحادیثوکښې فرق مه ګڼرئې.هغه قسمونه وعدې معاهدې چه پخپل مینځ کښې د معاهدې اووعدې په توګه وی دهغې پوره کول خوبې شکه ډیر ضروری دی اوکوم قسمونه چه د رغبت او منع کولود پاره د خلې نه اوځی هغه بې شکه کفاره ورکولوسره ماتیدې شی. نو په دې آیت کښې مراد د جاهلیت د زمانې په شان قسمونه دی(٢)مسنداحمدکښې دی رسول اللهﷺ فرمائی په اسلام کښې د دووډلو په خپل مینځ د اوسیدو قسم هیڅ څیز نه دې. اوپه جاهلیت کښې چه د داسې اعانت او امداد کوم قسمونه خپل مینځ شوی دی اسلام هغه نور هم مضبوط کوی(٣)د دې حدیث د اولنئی جمله دا معنی ده چه اسلام قبلولونه پس اوس د دې ضرورت نشته چه د یوې رورولئی والا بلې رورولئی والا نه وعدې اومعاهدې اوکړی چه تاسواومونږ یویو، په راحت او غم کښې شریك یووغیره خکه چه د اسلام رشته ټول مسلمانان په یوه رورولئی کښې راولی د مشرق نه ترمغرب پورې مسلمانان د یوبل په غم دردکښې شریك دی. د بخاری اومسلم یوحدیث کښې دی د حضرت انسﷺ په کورکښې رسول اللهﷺ د انصارواومهاجرینو په مینځ کښې قسم اوکړو(٤)د دې نه دا منع کړې شوی رورولی مراد نه ده دا خوررولی وه د کوم په وجه چه به خپل مینځ کښې د یوبل وارثان کیدل په آخره کښې داحکم منسوخ شو اووراثت نیزدې خپلوانوسره خاص کړې شو.وائی چه ددې فرمان الهی نه مطلب دغه مسلمانانو نه په اسلام باندې د کلك اودریدو حکم ورکول دی کومو چه دحضورﷺ په لاس باندې بیعت اوکړو اود اسلام د پابندئی اقرارئی کولو نو هغوی ته فرمائی چه د داسې کلك قسم او پورې معاهدې او وعدې نه پس چرته داسې نه وی د محمدیهﷺ د ډلې د کمې اود مشرکانود ډلې کثرت ته په کتو سره تاسودا ماته نه کړئی(٥) مسنداحمدکښې دی چه کله خلقو د یزیدبن معاویهﷺ بیعت ماتولو نوحضرت عبدالله بن عمرﷺ د خپل کور ټول خلق راجمع کړل اود الله تعالى تعریف کولونه ئې اما بعد اوفرمائیل چه مونږ د یزیدبیعت د الله اود هغه د رسولﷺ په بیعت اوکړو او ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه د هریوغدار د پاره به د قیامت په ورځ یوه جهنډا ورخښولې شی او اعلان به کولې شی دا غدارې فلانکې د فلانکی خوئ. د الله تعالى سره د شریك کولونه پس دا د ټولونه لوئ اود ټولونه خراب

---

(١) صحیح بخاری کتاب الایمان والنذر، باب قوله تعالى ﴿لایؤاخذکم الله باللغو فی ایمانکم﴾:٦٦٢٣، صحیح مسلم :١٦٤٩، احمد:٤٠١/٤، مسندابی عوانه: ٣٣/٤، مسندالبزار:٣٠٣٨.
(٢) الطبری:٢٨٢/١٧.
(٣) احمد:٨٣/٤، صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابه باب مؤاخاة النبیﷺ بین اصحابه: ٢٥٣٠، اموارد الظماٰن:٢٠٦١، دارمی: ٢١٨/٢، مصنف عبدالرزاق:١٩٢٠٠.
(٤) صحیح بخاری کتاب الکفالة باب قول الله تعالى ﴿والذین عاقدت ایمانکم فاتوهم نصیبهم﴾ :٢٢٩٤، صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب مواخاة النبیﷺ بین اصحابه: ٢٥٢٩، ابوداؤد: ٢٩٦٦، احمد:١١١/٣، مسندابی یعلی:٤٠٢٣، بیهقی:٢٦٢/٦، الادب المفرد:٥٦٩.
(٥) الطبری: ٢٨١/١٧، والله اعلم.

Scanned with Ca

غداری ده چه د الله تعالی اودهغه د رسول ﷺ بیعت دچا په لاس باندې اوکړی او بیائی مات کړی یاد ساتئی تاسو کښې څوك هم داخراب کار اونه کړی او په دې باره کښې د حد نه وړاندې نه شئ ګنئ زما اود هغه په مینځ کښې جدائی ده([1])مسنداحمد کښې دی حضورﷺ فرمائی چه کوم سړې یومسلمان سره څه شرط اوکړی اودهغې د پوره کولو اراده نه لری نوهغه په مثال د هغه سړی دې چه خپل ګاوندی ته د امن ورکولو نه پس بې اسرې پريږدی. ([2])

**دمکې د بوډئی قصه او دهغوئ سره تمثیل**:-بیا هغوی ویروی چه څوك دعهدوپیمان حفاظت نه کوی د هغه د دې کارنه الله تعالی علیم اوخبیردې.په مکه کښې یوه ښځه وه چه د هغې په عقل کښې فتور وو د تار جوړولونه او ټیك ټاك اومضبوطیدونه پس به بغیرد څه وجه مات رامات کړو او ټکړې ټکړې به ئی کړو.([3])نودامثال دې ددې مضبوطولونه پس وعده بیا ماتول. ([4]) هم دا خبره ټیك ده اوس دا پريږده چه په واقعه کښې یوه داسې ښځه وه هم که نه وه چه داسې ئی کول دلته خو صرف مثال مقصد دې ﴿انکاثا﴾ معنی ټکړې ټکړې کول ممکن دی چه دا د ﴿نَقَضَتْ غَزْلَهَا﴾ اسم مصدر وی اوداهم کیدې شی چه بدل وی دکان د خبریعنی انکاث مه جوړېږه دجمع نکث دناکث نه بیافرمائی چه قسمونه د مکراوفریب ذریعه مه جوړوه چه د خپل خان نه لویوته په خپلو قسمونوباندې یقین ورکړې اوخپله ایمانداری او نیك نیتی اوښائې بیا بې ایمانی اوغداری اوکړې. د دې کثرت په لیدلوسره د دروغو وعدې کولوسره صلح اوکړې. او بیا موقعه بیاموندلو سره جنګ شروع کړې داسې مه کوئی. نو چه کله په داسې حالت کښې بې وعدګی حرام کړې شوه او د خپل کثرت او غلبې په وخت کښې خو په طریقه اولی حرامه شوه. الحمدلله مونږ په سورت انفال کښې دحضرت معاویه ؓ قصه لیکلې ده چه د هغوی او شاه روم په مینځ کښې د یوې مودې پورې صلح شوې وه. د دې مودې د ختمیدو سره نیزدې هغوی مجاهدین د روم سرحد طرف ته روان کړل چه هغوی دې په سرحدباندې پریوځی اود مودې په ختمیدو سره دې حمله اوکړی دې د پاره چه رومیانوته د تیاری موقع ملاؤنه شی. کله چه عمرو بن عبسه ؓ ته د دې خبر اوشو نو امیرالمؤمنین حضرت معاویه ؓ له راغلو او ورته ئی اووئیل الله اکبر اې معاویهاعهدپوره کړه غدر او بدوعدګئی نه بچ شه ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه کوم قوم سره وعده معاهده اوشی نو چه ترکومې پورې دصلح موده ختمه شوې نه وی د یوې غوټې دکولاوولو هم اجازت نشته. دې اوریدو سره امیرمعاویه ؓخپل لښکر راواپس کړو([5]) ﴿اربی﴾ نه مراد اکثردې. ددې جمله دا هم مطلب دې چه اوګوری دښمن ډیر اوطاقتور دې صلح اوکړی اودا صلح د فریب ذریعه جوړه کړی هغوی غافل کړی او حمله اوکړی. اودا هم مطلب دې چه یوقوم سره معاهده اوکړی بیااوګوری چه بل قوم د هغوی نه قوی دې هغه سره ئی معامله اوکړه او مخکینئی معاهده ئی ماته کړه دا ټول منع دی. په دې کثرت سره الله تعالی تاسو ازمائی یادا چه په خپل حکم سره یعنی د وعدې د پابندئی په حکم سره الله تعالی ستاسو ازمیښت کوی او په تاسوکښې به صحیح فیصلې د قیامت په ورځ پخپله کوی. هریوته به د هغه د عملونو بدله ورکوی نیکانوته نیکه او بدانو ته بده. ([6])

---

[1]) احمد:٤٨/٢، صحیح بخاری کتاب الفتن باب اذاقال عندقوم شیئا ثم خرج فقال بخلافه:٧١١١، ٣١٨٨، صحیح مسلم:١٧٣٥.

[2]) احمد: ٤٠٤/٥.

[3]) الطبری:٢٨٥/١٧.

[4]) ایضًا.

[5]) ابوداؤد کتاب الجهاد باب فی الامام یکون بینه وبین العدو عهدفیسیرنحوه: ٢٧٥٩، وسنده صحیح، ترمذی:١٥٨٠، شعب الایمان:٤٣٥٩.

[6]) الطبری:٢٨٧/١٧.

Scanned with Ca

وَلَوْ شَآءَ

او كه چرې | غوښتلي

او كه الله تعالى غوښتلي

اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ

الله | نو خامخا به ئې جوړ كړي وئ تاسو | امت يو | وليكن | گمراهه كوي هغه | هغه څوك

نو تاسو ټول به ئې يو امت كړي وئ | خو هغه چې چا لره اوغواړي | نو هغه گمراه كړي | او چا لره

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَلَتُسْـَٔلُنَّ

چې غواړي هغه | اونيغه لار ښائي | هغه چاته | چې غواړي هغه | او خامخا به تپوس كيږي ستاسو نه

اوغواړي نو هدايت ورته اوكړي | اوستاسونه به ستاسو د عملونو خامخا تپوس كيږي

عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اَيْمَانَكُمْ دَخَلًاۢ

دهغه كارونو | چې وئ تاسو | چې كول به موا | اومه جوړوئ تاسو | قسمونه خپل | ذريعه ددوكې

......اوتاسو خپل قسمونه په خپل مينځ كښې د دهوكې ذريعه مه جوړوئ | هسې نه چې د چا قدم

بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وَتَذُوْقُوا السُّوْۗءَ

په منځ خپل كښې | نواوبه خوئيږي | قدم | روستو | دمحكموالي دهغې نه | اواوبه څكې تاسو | خراب انجام

د مضبوطيا نه پس بيا اوخوئيږي | او تاسو ته په دې خبره تكليف اورسي | چې خلق به مو

بِمَا صَدَدْتُّمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝

په سبب دهغې | چې منع كړل تاسو خلق | دلارې دالله نه | اودې ستاسو دپاره | عذاب لوئ

د الله تعالى دلارې نه منع كول | اوستاسو دپاره ډير لوئې عذاب مقرردې (كه داسې مو اوكړو)

وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ

اومه اخلئ تاسو | په وعده دالله باند | قيمت | لږ | بيشكه هغه څه | چې دالله سره دى | هغه | بهتردى

اودالله تعالى په وعده ددنيا لږه فائده مه اخلئ | .............بيشكه كوم عوضونه چې الله تعالى

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا

ستاسودپاره | كه چرې يئ تاسو | چې پوهيږئ | هغه څه | چې ستاسوسره دى | هغه ختميږي | اوهغه څه

سره دى | هغه ستاسو دپاره ډير بهتر دى | كه تاسو پرې پوهيږئ | چې څه تاسو سره دى | هغه ختميږي

عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ۭ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا

چې دالله سره دى | هغه باقي دى | اوخامخا به بدله وركوو مونږ | هغه كسانوله | چې صبر ئې اوكړو

اوڅه چې الله تعالى سره دى هغه هميشه باقي پاتې كيدونكې دى | اوڅوك چې ثابت قدم شو هغوئ ته

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| أَجْرَهُمْ | بِأَحْسَنِ | مَا | كَانُوا | يَعْمَلُونَ﴿٩٦﴾ |
| اجردهغوئ | مطابق دبهتره | هغه عمل | چې ووهغوئ | چې کوئ به ئې |

به مونږ خامخا د هغه ښه کارونو په بدله کښې خپل اجرورکوو کوم چې هغوی کول

**قوله تعالى:- وَلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ**

**هدايت او ګمراهي د الله ﷻ په اختيار کښې:-** که الله تعالى غوښتلى نود ټولې دنيابه هم يومذهب او مسلک وو لکه چه فرمائي ﴿وَلَوْشَآءَاللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً﴾[1] يعنى که د الله تعالى غوښته وه نواې خلقو تاسو ټول به ئې يوه ډله کړې وئې. بل آيت کښې دى که ستارب غوښتلى نود مځ د زمکې به ټول خلق به ايماندار وو. يعني په دوى کښې به موافقت او يوشان والې وواختلاف اوبغض به بالکل نه وو. ستارب قادر دې که اوغواړي نوټول خلق به يوامت کړي.خودوى به مختلف وى ولې په چا چه ستا د رب رحم وى هم هغه دوى پيداکړي دى هدايت او ضلالت يعنى ګمراهي هم دهغه په لاس کښې ده د قيامت په ورځ به هم هغه حساب اخلى تپوس پوښتنه په کوى وړوکې لوئ نيک اوبد ټولواعمالو بهترينه بدله به ورکوى.

**قسمونه وعدې د دهوکه ذريعه نه دى جوړول پکار:-** بيامسلمانانوته هدايت کوى چه قسمونه وعدې معاهدې د مکراو فريب ذريعه مه جوړوئى او نه د ثابت قدمئى نه پس خوئيږئى. لکه چه څوک د نيغې لارې نه واوړى.اوستاسودا کار به دنوروخلقو دالله تعالى د لارې نه د بنديدو ذريعه جوړه شى. د کومې چه ډير خراب نقصان به هم په تاسو پريوځى. څکه چه کله کافران اوګورى چه مسلمانانو وعده ماته کړه د وعدې خلاف ئې اوکړل نود هغوى به دين سره اعتماد اويقين پاتې نه شى اوهغوى به د اسلام قبلولو نه منع شى اود دوى د دې بنديدو ذريعه به تاسوجوړشئى په دې وجه به تاسو ته لوئ عذاب کيږى او سخته سزا به درکولې شى. الله تعالى په مينځ کښې کولوسره چه کومې وعدې کوئى او دهغه قسمونه خوړلو سره کوم عهدوپيمان کوئى هغه په دنياوى لالچ سره ماتول اوبدلول په تاسو باندې حرام دى. که ټوله دنيادرته حاصله شى خود دې حرمت مرتکب مه جوړيږئى څکه چه دنيابې کاره ده. الله تعالى سره چه څه دى هم هغه بهتردى د هغه بدله او ثواب اميدساته. څوک چه د الله تعالى په دې خبره باندې يقين اوساتى هم د دې غوښتونکې پاتې شى اود الله تعالى د حکم د پابندئى لاندې د خپلو وعدو ساتنه اوکړى نود ده د پاره چه الله تعالى سره کوم اجر اوثواب دې هغه د ټولې دنيانه ډير زيات اوډير بهتردې. په دې ښه شان سره پوهه شئ. په ناپوهئى کښې داسې مه کوئى چه د آخرت ثواب مو ضائع شى بلکه د اخستلو په ځاى ورکول شى. واورئى د دنيانعمتونه ختميدونکى دى اود آخرت نعمتونه لازوال اود هميشه دپاره دى.زما قسم دې چه کومو خلقو په دنيا کښې صبراوکړو هغوى ته به د قيامت په ورځ د هغوى د بهترينواعمالوډيره ښکلې صله او بدله ورکوم اوهغوى به ښنم.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَنْ | عَمِلَ صَالِحًا | مِّنْ ذَكَرٍ | أَوْ أُنْثٰى | وَهُوَ | مُؤْمِنٌ |
| هرچاچې | عمل اوکړو نيک | دنارينو نه | يادزنانونه | او هغه وى | مومن |

هرچا چې نيک عمل اوکړو که نارينه وى او که زنانه اخو چې هغه مومن وى انو مونږ به ورته ضرور په دنيا کښې

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَلَنُحْيِيَنَّهٗ | حَيٰوةً طَيِّبَةً | وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ | أَجْرَهُمْ |
| نومونږبه ژوندون ورکړوهغه له | ژوندون پاکيزه | او خامخا به ورکړو مونږ هغوئ ته | اجر دهغوئ |

پاک ژوند ورکړو او په آخرت کښې به ورته خامخا د هغوئ د ښو کارونو په عوض کښې اجر ورکړو

[1] ٥/المائدة:٤٨.

Scanned with Ca

بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

مطابق دبهتره هغه عمل | چې وو هغوئ چې كوؤ به ني |

**قوله تعالى:-مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ**

**د نيكواعمالوبه بهتربدله ملاويږي:**-الله تبارك وتعالى جل شانه خپلو هغه بنديګانوسره چه په خپل زړه كښې په الله تعالى اودهغه په رسول ﷺ باندې كامل ايمان لري اود كتاب او سنت دتابعدارئ لاندې نيك اعمال كوى وعده كوى چه هغه به دوى ته په دنياكښې هم صفااو بهترين ژوندورکوى او ډېر په ښكلې طريقه سره به دهغوى عمرتيريږى كه هغه سړى وى اوكه هغه ښځې وى اودې سره به دخپل طرف نه په آخرت كښې هم د هغوى دنيكو اعمالوبهترين بدله وركوى. په دنياكښې پاك اوحلال رزق قناعت خوشحاله طبيعت نيك بختى پاكوالې د عبادت خوند د اطاعت مزه د زړه يخوالې دزړه كولاووالى داټول څرڅه به دالله تعالى دطرفنه ايماندارانونيك عمل كونكوته وركولې شي.مسند احمد كښې رسول الله ﷺ ارشاد دې هغه خلاصې بياموندو چه مسلمان شو او پوره پوره رزق وركړې شو چه څه ملاوشو په هغې باندې صبر اوكړو([1])بل حديث كښې دى چاته د اسلام لار اوخودلې شوه اوچاته چه د خيټې ساتلو تګړه ملاوشوه اوالله تعالى د هغه زړه د قناعت اوصبر نه ډك كړو هغه خلاصې بيا موندو(ترمذى) ([2]) په صحيح مسلم شريف كښې دى رسول الله ﷺ فرمائى الله تبارك وتعالى په خپلو مؤمنانوبنديګانو باندې ظلم نه كوى بلكه د هغه د نيكئى بدله په دنيا كښې وركوى اود آخرت نيكئى هم هغه ته وركوى اوكافرخپلې نيكئى هم په دنياكښې خورى د آخرت د پاره د هغه په لاس كښې هيڅ نيكى باقى نه پاتې كيږى.([3])

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ

| نو كله چي | لولې ته قرآن | نو پناه اوغواړه | په الله سره | دشيطان

| نوهركله چې ته د قرآن پاك لوستلو اراده اوكړې انو د شيطان مردود د شرنه

الرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا

رټلي شوى نه | بيشكه دې چې دې | نشته | ده لره | قدرت | په هغه كسانو باندې | چې ايمان ني راوړې وى

پناه غواړه | د هغه وس په داسې خلقو نه چليږى | چې ايمان ني راوړې وى

وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ

اوپه رب خپل باند | توكل كوى | بيشكه | قدرت دهغه | په هغه كسانو باندې

او پخپل رب بهروسه كوى | .............د هغه وس خو بس په هغه چا چليږى | چې هغه

[1] احمد:٢/١٦٨، صحيح مسلم كتاب الزكاة باب فى الكفاف والقناعة:١٠٥٣، ترمذى:٢٣٤٨، ابن ماجه ٤١٣٨، ابن حبان:٢٧٠، حاكم: ١٣٧/٣، المعجم الاوسط:٤٦٧٠، مسندعبدبن حميد:٣٤١، شعب الايمان:٢٩١/٧.

[2] حاكم:١٢٢/٤، ترمذى كتاب الزهد باب ماجاء فى الكفاف والصبرعليه:٢٣٤٩، وسنده حسن احمد:١٩/٦، ابن حبان:٧٠٥، حاكم: ٩٠/١، مواردالظمان:٢٥٤١، المعجم الكبير:٧٨٦.

[3] صحيح مسلم كتاب صفات المنافقين باب جزاء المؤمن بحسناته فى الدنيا والاخرة وتعجيل حسنات الكافر فى الدنيا:٢٨٠٨، احمد:١٢٣/٣، ابن حبان:٣٧٧، مسندالطيالسى:٢٠١٣، مسندابي يعلى:٢٨٤٤.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَتَوَلَّوْنَهٗ | وَالَّذِيْنَ | هُمْ | بِهٖ | مُشْرِكُوْنَ ﴿١٠٠﴾ |
| چې هغوئ دوستي کوي دهغه سره | او په هغه کسانو باندې | چې هغوئ | دهغه په لمسه | شرك كونكي دي |
| خپل دوست گڼي \| او د(هغه په وسوسو) الله دپاره شريكان جوړوي | | | | |

**قوله تعالى:-** فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ﴿٩٨﴾

**دَ قرآن پاک دَ تلاوت په شروع کښې دَ شيطان دَ شرنه دَ الله تعالى پناه غوښتلو حکمت:**-الله تعالى ﷻ د خپل نبي كريم ﷺ په ځُله مبارکه باندې خپلو مؤمنانو بنديگانوته حكم ورکوي چه د قرآن كريم د تلاوت نه وړاندې ﴿اعوذ﴾ لولئي.دا حکم دفرضيت په توگه نه دې. ابن جرير رحمه الله وغيره په دې باندې اجماع نقل کړې ده.د ﴿اعوذ﴾ پوره بحث معني وغيره مونږ دخپل تفسيرپه شروع کښې ليکلې دې فالحمدلله.ددې حکم مصلحت دادې چه قاري قرآن گډوډ کيدودغوراوفكر نه منع كيدواود شيطاني وسوسو راتلونه بچ شي.د دې د پاره جمهور وائي چه د تلاوت شروع کولونه وړاندې ﴿اعوذ﴾ وائي. د ځا قول داهم دې چه د قرآن پاك د ختميدو نه ئې هم وائي د دې دليل هم دا آيت دې خو صحيح قول هم ړومبې دې اود احاديثو دلالت هم په دې باندې دې. والله اعلم.

### د قراءت نه وړاندې د تعوذ وئيلو حكم

**مسلك حنفي:**-داحنافو په نيز هم د قراءت نه وړاندې تعوذ سنت دې واجب نه دې ځکه چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم بعضې وختونو کښې بغير د تعوذ نه قراءت کړې دې دا د عدم وجوب دليل دې[1]

بيا فرمائي چه ايماندار متوكلين هغه په داسې گناهونوکښې نه شي راگيرولې چه د هغې نه توبه اونه کړي[2] دهغه هيڅ حجت دده په وړاندې نه شي چليږي.دامخلص بنديگان دهغه دژوروچالونونه محفوظ پاتې کيږي اودا ده چه څوك د هغه تابعداري اوكړي[3] د هغه په وينا کښې راشي هغه خپل دوست او ملگرې اودروي هغه د الله تعالى په عبادتونوکښې شريك كړي په هغوى باندې خودې خوريږي. دا مطلب هم كيدې شي چه "ب"سببيه اوشائي يعنى هغه دده دتابعدارئي په وجه د الله ﷻ سره شرك شروع کړي. دا معنى هم ده چه هغه دې په خپل مال كښې خپل اولادكښې د الله تعالى سره شريك اوگرځوي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَاِذَا | بَدَّلْنَآ | اٰيَةً | مَّكَانَ | اٰيَةٍ | وَّاللّٰهُ | اَعْلَمُ | بِمَا |
| او كله چې | بدلوؤ مونږه | يو ايت | په ځائي | دبل ايت | او الله | ښه پوهيږي | په هغه څه |
| اوهركله چې مونږديوايت په بدل كښې بل ايت نازل كړو\| او الله تعالى په هغې ښه پوهيږي \| څه چې | | | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يُنَزِّلُ | قَالُوْٓا | اِنَّمَآ | اَنْتَ | مُفْتَرٍ | بَلْ |
| چې نازلوي ئې هغه | وايئ دا خلق | بيشكه | چې ته | پخپله جوړونكې ئې ( دقران) | بلكه خبره داده |
| راليږي \| نودا خلق اووائي چې ته خو بس صرف دروغ تړونكې يئ \| نه ! بلكه په دوئ كښې | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَكْثَرُهُمْ | لَا يَعْلَمُوْنَ﴿١٠١﴾ | قُلْ | نَزَّلَهٗ | رُوْحُ الْقُدُسِ | |
| چې زيات خلق ددوئ | ناخبره دي دحقيقت نه | اووايه | چې نازل كړې دې دا قران | پاك روح | |
| زيات خلق نه پوهيږي \| ......ته اووايه چې دا جبريل عليه السلام امين ستا د رب | | | | | |

[1] (تفسيرمظهری ٢٢٧/٥، ٢٢٦).
[2] الطبری: ٢٩٤/١٧.
[3] الطبری: ٢٩٤/١٧.

Scanned with Ca

مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دطرفه درب ستانه | په حقه سره | دپاره ددې چې محکم کړی | هغه کسان | چې ایمان ئې راوړو

د طرفه په حق نازل کړې دې | چې دایماندارو خلقو ایمان پرې مضبوط کړی

وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ۝ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ

اولاربښودونکې دې|اوزیرې دې| دپاره دفرمانبردارو خلقو| اوبې شکه| پوهیږومونږه| چی بیشکه دوئ

اودمسلمانانو دپاره هدایت او زیرې دې |..................اومونږ ته ښه معلومه ده چې دوئ وائی

يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ لِسَانُ الَّذِىْ يُلْحِدُوْنَ

وائی | چی بیشکه | ښودنه کوی دهٔ ته | یو سړې | ژبه | دهغه سړی| چی اشاره کوی دوئ

چې دهٔ ته خویو سړې خودنه کوی | (حال داچی) کوم سړی ته دوئ داسې غلط نسبت کوی

اِلَيْهِ اَعْجَمِىٌّ وَّهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِيْنٌ۝

هغه ته | عجمی ژبه ده | او داقران | ژبه ده | عربی صفا|

د هغه ژبه عجمی ده | او دا قران خو په صفا عربۍ ژبه کښې راغلې دې |

قوله‌تعالی:-وَاِذَا بَدَّلْنَاۤ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ ۙ

**د منسوخ کیدوحکمت مشرکان نه پیژنی:**-دمشرکانو د کم عقلتوب بې سروسامانتئی او بې یقینئی بیان کولې شی چه دوی ته به څنګه ایمان نصیب شی؟دا خوازلی بدبخت دی. په ناسخ اومنسوخ سره د احکامویدلون ته ګوری‌نوغاپی چه ښه صیب چه ددوی بهتان کولاوشو.دومره نه پوهیږی چه قادر مطلق الله تعالی چه څه غواړی کوی کومه اراده چه اوکړی نو حکم ورکړی یوحکم اوچت کړی د هغې په ځای بل حکم کیږدی.(١)لکه آیت ﴿مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَاۤ اَوْ مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ۝﴾(٢) کښې فرمائی پاك روح یعنی حضرت جبرائیل ﷺ دا د الله تعالی د طرف نه حقانیت صداقت عدل اوانصاف سره راوړی او ستا طرف ته راخی دې د پاره چه ایماندار ثابت قدم شی. اوس نازل شو وئی منه بیا نازل شو بیانی اومنه دهغوی زړونه د خپل رب طرف ته تیټ دی دالله تعالی تازه تازه کلام اوری د مسلمانانو د پاره هدایت او زیری اوشی د الله اود رسول ﷺ منونکی لاربیامومی او خوشحاله شی.

**دکافرانو یوبهتان اودَ هغې رد:**-دکافرانو یوبهتان کول بیانولې شی هغوی وائی چه ده ته داقرآن یو انسان ښائی.د قریشود قبیلې یو عجمی غلام وو د صفاغرسره ئی اخستل اوخرخول کول. حضور ﷺ به کله کله هغه سره کیناستو اوڅه خبرې اترې به ئی کولې. داسړې په صحیح عربی ژبه وئیلو باندې هم پوره قدرت نه لرلو. په ماته ګوډه ژبه به ئی په ډیرمشکل سره خپل مطلب اداکولو. د دې افترا اوځان نه خبرې جواب الله تعالی ورکوی چه هغه به ورته څه اوښائی چه په خپله خبرې کول نه پیژنی د عجمی ژبې سړې دې. اودا قرآن پاك خو په عربی ژبه کښې دې. بیا د فصاحت او بلاغت والا دې ښکلې پاك اوچت معنی مطلب الفاظ اوواقعاتو کښې د ټولونه جدا دی. د بنی اسرائیلو د آسمانی کتابونونه هم په درجوکښې اوچت وقعت اوعزت والا دې. که په تاسوکښې لږ شان هم عقل وې نو داسې ډیوه په لاس به غلا له نه وتلې ئی داسې دروغ به مو نه وئیل چه بې وقوفانو سره هم نه شی چلیدې.

(١) الطبری:٢٩٧/١٧..

(٢) ٢/البقرة:١٠٦.

Scanned with Ca

**د يو نصراني غلام سره درسول كريم صلى الله عليه وسلم د كيناستو واقعه:**-سيرة ابن اسحاق كښې دي يو نصراني غلام كوم ته چه به ئې جبر وئيلو اود خضرمي قبيلې ديوسړي غلام وو هغه سره به رسول الله ﷺ د مروه په غونډئي باندې كيناستلو په دې باندې مشركانو داد دروغوخبرخوركړو چه دا قرآن د ده نه زده كوي. د دې په جواب كښې دا آيت نازل شو. وائي چه د هغه نوم يعيش وو. ابن عباس ؓ وائي چه په مكه كښې يولوهاروو دهغه نوم بلعام وو داعجمي سړي وو ده ته به حضورﷺ تعليم وركولو نو د حضورﷺ د هغه سره تګ راتګ كتلوباندې قريشو دا مشهوره كړه چه هم دا سړي حضورﷺ ته څه ښائي اودې هغه د كلام الله په نوم په خپلوملګروكښې ښائي[1]چا وئيل چه دې نه مراد سلمان فارسي ؓدې خوداقول خو ډير لندې بوچي دې ځكه چه حضرت سلمان فارسي ؓ خو په مدينه كښې حضورﷺ سره ملاو شوې وو اودا آيت په مكه كښې نازل شوې دې. عبيدالله بن مسلم ؓ وائي زمونږ د كار يودوه سړي د روم اوسيدونكي وو چه په خپله ژبه كښې به ئې خپل كتاب لوستلو حضورﷺ به هم تلوراتلو كله كله به هغوی سره اودريدو اوريدلوبه ئې په دې باندې مشركانو دروغ شروع كړل چه هم د دوی نه قرآن زده كوي. په دې باندې دا آيت نازل شوسعيدبن مسيب ؒ فرمائي دمشركانو نه يو سړې ووچه وحي به ئې ليكله دې نه پس هغه د اسلام نه مرتد شو اوداخبره ئې د ځان اوكړه د الله تعالى لعنت دې په هغه وي.

| |
|---|
| إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ وَلَهُمْ |
| بيشكه هغه كسان چي نه راوړي ايمان \| په آيتونو دالله \| نه كوي هدايت هغوئ ته الله \|اومقردي دپاره د هغوئ \| عذاب |
| څوك چي دالله تعالى په آيتونو ايمان نه راوړي \|الله تعالى هغوئ په سمه لار نه روانوي \| اوهغوئ دپاره |
| عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ |
| دردناك \| بيشكه \| جوړوي \| دروغ \| هغه كسان \| چي نه راوړي ايمان \| په ايتونو دالله باند |
| دردناك عذاب مقرر دي\|درغ جوړونكي خو هغه خلق دي \| چي دالله تعالى په ايتونو باندې ايمان نه راوړي |
| وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ ۝ مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ |
| اودغه كسان\| هم هغوئ دروغژن دي\| هغه څوك چي كفرئې اوكړو\| په الله\| روستو \|دايمان خپل نه |
| اوهم دا خلق پوره درغژن دي \| ....چا چي دايمان راوړلو نه پس بيا په الله تعالى باندې كفر اوكړو |
| إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ |
| مګر\| هغه څوك \| چي زور اوشو په هغه \| او حال دا چي زړهٔ دهغه \| مطمئن ووٓ \| په ايمان سره |
| سوا د هغه چا نه چي مجبوره كړې شي \|اود هغه زړهٔ په ايمان باندې مطمئن وي |
| وَلَٰكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ |
| وليكن هغه څوك\| چي فراخه كړي\| په كفر سره\| سينه \| نوپه هغوئ باند \| غضب دي \| دطرفه دالله نه |
| نو داسي بنده مستثنى دي \|خوچا چي خپله سينه كفر ته پرانستله \|نو په هغوئ به دالله تعالى غضب وي |

[1]) الطبري:٢٩٨/١٧.

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ

او دي دپاره دهغوئ | عذاب | لوئ | دا | په سبب ددې چې هغوئ | خوښ کړوا | ژوند

اوهغوئ دپاره لوئې عذاب مقرر دې | دا ځکه چې دوئ د اخرت په مقابله کښې

الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾

ددنيا | په اخرت باندې | او بيشکه چې الله | نهٔ ښائي لار | قوم کافر ته

د دنيا ژوند خوښ کړو | اودا ځکه چې الله تعالى کافرانو ته (د نيغې لارې) هدايت نه کوي

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ

داکسان | هغه کسان دی | چې مهر وهلې دې | الله | په زړونو دهغوئ باند | اوپه غوږونو دهغوئ باند

دا هغه خلق دی چې دکومو په زړونو غوږونو اوسترګو باندې

وَاَبْصَارِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ

اوپه سترګودهغوئ باند | اوداکسان چې دی | هم دوئ | غافلان دی | لازمه ده داخبره | چې بيشکه دوئ

چې الله ﷻ مهرلګولې دې | او دا خلق د خپل انجام نه بې خبره دی | دا يقينې خبره ده | چې په

فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾

په آخرت کښې | هم دوئ | نقصانيان دی |

آخرت کښې به دا خلق په نقصان کښې وی |

قوله تعالى:- اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ

**دَ آقائې نامدار سرور کونين د صداقت بيان او د مشرکانو ضد:-** څوك چه د الله تعالى د ذکر نه مخ واړوی او د الله تعالى دکتاب نه غفلت اوکړی اوداالله تعالى په خبرو باندې دايمان راوړو اراده اونه کړی داسې خلق الله تعالى هم لرې غورزوی. هغوی ته د حق دين توفيق نه ورکوی د آخرت په سخت عذاب کښې راګيرېږی. بيا فرمائی چه دوی په رسول الله ﷺ باندې دخان نه خبرې او دروغ ويونکی نه دی دا کارخود بدترين مخلوق دې کوم چه ملحد اوکافر وی د هغوی دروغ په خلقو کښې مشهورېږی. حضور ﷺ خود ټول مخلوق نه بهترغوره او ديندار الله تعالى پيژندونکې د رښتونو رښتونې د ټولو نه زيات کمال علم ايمان عمل اونيکئی هم حضور ﷺ ته حاصلې دی. په صداقت کښې نيکئی کښې يقين کښې اومعرفت کښې د حضور ﷺ ثانی څوك نشته.دې کافرانونه تپوس اوکړنی دوی هم د حضور ﷺ د صداقت قائل دی د هغوی د امانت تعريف کوی. په دوی کښې محمد ﷺ د امين په لقب کښې مشهور اومعروف دې. د روم بادشاه چه کله د ابوسفيان نه د حضور ﷺ متعلق ډير سوالونه اوکړل په هغې کښې يو داهم وو چه د نبوت د دعوی نه وړاندې ستاسو کله د هغه دروغو طرفته نسبت کړې دې؟ ابوسفيان جواب ورکړو هيڅ کله هم نه. په دې باندې بادشاه اووئيل چه څنګه کيدې شی چه يوداسې سړې که هغه د دنياوی معاملاتوکښې د خلقو باره کښې چرې د دروغو په ګندګئی سره خپله ژبه نه وی خرابه کړې نو هغه به په الله تعالى باندې دروغ تړی؟ (١)

---

(١) صحيح بخاری کتاب بدءالوحی باب کيف کان بدء الوحی الی رسول الله ﷺ:٧، صحيح مسلم:١٧٧٣، ابن حبان:٦٥٥٤، مسندابی عوانه: ٦٧٢٦، بيهقی:١٧٨/٩، السنن الکبری للنسائی:٣٢٠/٦، مصنف عبدالرزاق٩٧٢٤، احمد:٢٦٢/١، مسندابی يعلی:٢٦١٧.

Scanned with Ca

**مجبورا د کفر ارتکاب ناقص ایمان نه دې :-** الله سبحانه وتعالی فرمائي چه کوم خلق د ایمان نه پس کفر اوکړی ګوری اوړانده شی بیا په کفر باندې د هغوی سینه کولاوشی اوېدې باندې تسلي اوکړی دوی د الله تعالی په غضب کښې راګیرشی چه د ایمان علم حاصلولونه پس بیا د دې نه واوړی او په دوی به په آخرت کښې ډیردرانه عذابونه وی. ځکه چه هغوی آخرت وران کړو اودنیاسره ئې مینه اوکړه او په اسلام باندې مرتدکیدو له ترجیح ورکړه اوداصرف ددنیاد غوښتلو په وجه سره.دهغوی زړه د حق د هدایت نه خالي وو دالله تعالی دطرفنه هغوی ته ثابت قدمي ملاونه شوه په زړونوباندې مهرونه اولګیدل د ګتې یوه خبره ئې هم په پوهه کښې نه راځي. غوږونه اوسترګې ئې هم بې کاره شوې نه حق اوریدې شی اونه حق لیدې شی. هیڅ څیز هغوی ته څه فائده اونه رسوله اود خپل انجام نه غافل شو یقیناً داسې خلق به د قیامت په ورځ خپل اود خپلوانو نقصان کونکی دی. په رومبی آیت کښې چه د کوموخلقو استثناء کړې شوې ده یعنی هغه په چا چه جبر اوکړې شی اود هغوی زړونه په ایمان باندې کلك دی دې نه مراد هغه خلق دی چه په سبب د وهلوټکولو مجبوره شی اوبه ژبه باندې د مشرکانو موافقت اوکړی.خود هغوی زړه دا نه وائی بلکه په زړه باندې په الله تعالی اود هغه په رسول ﷺ باندې کامل تسلئي سره پوره ایمان وی.

**د آیت إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ شان نزول:-** ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چه دا آیت د عماربن یاسر رضی الله عنه باره کښې نازل شوې دې کله چه هغوی ته مشرکانو عذاب ورکول شروع کړه چه ترکومې ته د حضورﷺ نه کفر اونه کړې نو په نه زړه غوښتلو سره مجبوراً ئې اوکړو هغوی د دې کافرانو موافقت اوکړو بیا د الله تعالی نبیﷺ له راغلو عذر ئې بیان کړو نو الله تعالی دا آیت نازل کړو([1]) شعبی رحمه الله قتاده رحمه الله او ابومالك رحمه الله هم دا وائی ([2]) ابن جریرکښې دی چه مشرکانو هغه راګیرکړو اوسزا ورکول ئې شروع کړه تردې چه هغه د دوی د ارادو سره نیزدې شو بیا حضورﷺ له راغلو اود هغوی شکایت ئې اوکړو نو حضورﷺ تپوس اوکړو ته دخپل زړه حال څنګه ګورې؟جواب ملاوشو چه هغه خو په ایمان باندې مطمئن دې اوکلك دې حضورﷺ اوفرمائیل چه که هغوی بیاخپلې مطالبې ته واپس شوته هم ورته واپس شه([3]) بیهقی کښې د دې نه هم زیات تفصیل دې په دې کښې دی چه هغه حضورﷺ ته بدې ردې اووئیل اود هغوی د معبودانو ذکر ئې په خیرسره اوکړو.بیاحضورﷺ له راغلو اوخپل دا درداوغم ئې ورته بیان کړو چه یارسول اللهﷺ زه د عذابونونه خلاص نه شوم ترکومې چه ماتاسو پسې بدې ردې اونه وئیل اودهغوی د معبودانو ذکر مې په خیرسره اونه کړو. حضورﷺ اوفرمائیل ته خپل زړه څنګه ګورې؟ جواب ملاوشو په ایمان باندې مطمئن. ونې فرمائیل که هغوی بیا اوکړی نوته هم بیا اوکړه([4]) هم په دې دا آیت نازل شو.

**حالت دجبر کښې کلمه د کفر وئیل بالاجماع جائز دی:-** د علماء کرامو اتفاق دې چه په چاباندې جبر او ظلم اوکړې شی نوهغه له جائزدی چه دخپل ځان بچ کولودپاره د هغوی موافقت اوکړی او داهم جائزدی چه په داسې موقعه باندې هم د هغوی اونه منی لکه چه حضرت بلال رضی الله عنه کړې وو د مشرکانو ئې یوه هم نه وه منلې سره د دې چه هغوی به ده ته ډیر سخت تکلیفونه ورکوی تردې چه په سخته ګرمئی په پوره تیز نمر کښې به ئې هغه راسملولو اود هغه په سینه به ئې دروند کاڼې کیخودو چه اوس هم شرك اوکړه نو خلاصې به بیاومومې. خوهغه بیا هم دهغوی اونه منل اوصفاانکارئې اوکړو او د الله تعالی توحیدئې په

([1]) الطبری:٣٠٤/١٧.

([2]) ایضًا.

([3]) الطبری: ٣٠٤/١٧، حاکم:٣٥٧/٢، وسنده حسن امام حاکم رحمه الله او ذهبی رحمه الله دا روایت صحیح ګڼری.

([4]) بیهقی: ٢٠٨/٨-٢٠٩ وسنده حسن.

Scanned with Ca

احد احد وئیلوسره بیانولو بلکه فرمائیل به نې چه والله! که د دې نه هم زیات سخت لګیدونکې لفظ زما په علم کښې وو نو ما به هم هغه وئیلو الله ﷻ دې دهغه نه راضي شي اوهغه دې هم همیشه راضي اوساتي. دغه شان د حضرت حبیب بن زید انصاري رضی الله عنه واقعه ده چه کله هغه ته مسیلمه کذاب اوونیل ته دحضرت محمد ﷺ د رسالت ګواهي ورکوې؟ هغه اوفرمائیل چه او.بیا هغه تپوس اوکړو چه آیا زما د رسول کیدوهم ګواهي ورکوې؟ نوهغه اوفرمائیل چه زه نه اورم. په دې باندې د نبوت دې دروغژن دعوی کونکي دهغه د بدن نه یواندام کټ کولو حکم اوکړو. بیا هم دا سوال جواب اوشو او دویم اندام ئې ترې کټ کړو.هم دغه شان کیدل اوهغوی ترآخره پورې په خپله خبره کلك ولاړوو الله ﷻ دې د هغه نه خوشحاله وی او هغه دې هم خوشحاله کړی. مسنداحمدکښې دی چه کوم یوڅوکسان مرتدشوې وو هغه علي رضی الله عنه په اُورکښې اوسوزلو.کله چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته دا واقعه معلومه شوه نو هغوی اوفرمائیل چه ماخویه دوی په اُورکښې نه سوزول ځکه چه د رسول الله ﷺ فرمان دی د الله تعالی په عذاب سره تاسو عذابول مه کوئی او بې شکه ما به هغوی قتل کول. ځکه چه د رسول الله ﷺ فرمان دې چه څوك خپل دین بدل کړی هغه قتل کړئی. کله چه داخبرحضرت علي رضی الله عنه ته اورسیدونوهغوی اوفرمائیل دابن عباس رضی الله عنه په مور باندې افسوس[1]دا امام بخاري رحمه الله هم واردکړې دې. مسند احمد کښې دی چه حضرت ابوموسی رضی الله عنه له یمن ته معاذبن جبل رضی الله عنه تشریف یوړو وئې کتل چه یوسړې هغه سره دې. تپوس ئې اوکړو داڅه دی؟جواب ملاو شو چه دایویهودی وو بیا مسلمان شواوس بیا یهودی شوې دې مونږ تقریبا د دوو میاشتونه د ده د اسلام راوړلو په کوشش کښې یو نو هغوی اوفرمائیل والله زه به کینم هم نه ترکومې چه ته دې قتل نه کړې هم دا فیصله د الله تعالی اود هغه د رسول ﷺ ده. څوك چه د خپل دین نه واوړی هغه قتل کړئی یائې اوفرمائیل چه څوك خپل دین بدل کړی.[2]. دا واقعه په بخاری اومسلم کښې هم شته خوالفاظ نوردی نو غوره او اولی دا دی چه مسلمان په خپل دین باندې قایم او کلك ولاړ وی سره د دې که هغه قتل هم کړې شي. حافظ ابن عساکر رحمه الله عبدالله بن حذافه سهمي صحابی رضی الله عنه په ترجمه کښې راوړلی دی چه هغوی رومیانو کافرانو قیدکړو او خپل بادشاه له ئې اورسولو هغه ده ته اوونیل چه ته نصرانی جوړشه زه تا په خپله بادشاهئ کښې شریك کوم زه خپله لور شهزادګئ تاته په نکاح کښې درکوم صحابی رضی الله عنه جواب ورکړو چه دا خو څه دی؟ که ته ماته خپله ټوله بادشاهی هم راکړې اود ټولو عربو باشاهی هم ماته راکړې اودا غواړې چه زه د یوې سترګې د رپ برابر هم د محمد ﷺ د دین نه واوړم نودا ناممکن دی.بادشاه وئیل بیابه زه تاقتل کوم حضرت عبدالله رضی الله عنه جواب ورکړو چه اودا ستا اختیاردې هغه وخت بادشاه حکم اوکړو او هغه ئې په سولئ کړو او غشو ویشتونکو د نیزدې نه د بادشاه په حکم سره د هغه پښې لاسونه سوری کول شروع کړل باربار به ئې وئیل چه اوس هم نصرانیت قبولکړه خو هغه به په پوره صبر او استقلال فرمائیلو چه هیڅ کله هم نه. آخر بادشاه اوونیلې دې د سولئ نه راکوزکړئی. بیائې حکم اوکړو د پیتلودیګ یاد پیتلو کړې بنه ګرم کړئی راوړئی. چه کله هغه پیش کړې شو نو یوبل مسلمان قیدی ئې په هغې کښې واچولو هم هغه وخت د عبدالله رضی الله عنه په موجودګئ کښې د هغه د سترګو په وړاندې هغه مسلمان قیدی په دې کښې واچولواو هغه هم هغه وخت په دې کښې لولپه شو اومړشو، غوښه ئې اوسوزیده او هډوکې پرقیدل. بیا بادشاه حضرت عبدالله رضی الله عنه ته اوونیل چه ګوره اوس هم زمونږ اومنه او زمونږ مذهب قبول کړه ګنی په دې اُور باندې په دې دیګ کښې به تاهم ورواچوم اوبه دې سوزوم. هغه بیا هم د خپل ایمانی جوش نه

---

[1]) احمد:۲۱۷/۱، صحیح بخاری کتاب الجهاد باب لایعذب بعذاب الله:۳۰۱۷-۲۹۲۲، ابوداؤد: ٤۲٥۱، ترمذی:۱٤٥۸، ابن ماجه: ۲٥۳٥، مختصرًا، دارقطنی:۱۰۸/۳.

[2]) احمد:۲۳۱/٥، صحیح بخاری کتاب استتابة المرتدین والمعاندین وقتالهم: ٦۹۲۳، صحیح مسلم:۱۷۳۳

Scanned with Ca

کارواخستو او وئی چه ناممکن دی چه زه د الله تعالی دین پریږدم. هم هغه وخت بادشاه حکم اوکړو چه دې په کړکړی باندې کینوئی او دې ورواچوئی کله چه دې په دې اُور باندې دیګ کښې د اچولود پاره په کړکړی باندې کینولو نو بادشاه اوکتل چه د هغه په سترګو کښې اوښکې راغلې هم هغه وخت بادشاه حکم اوکړو چه اودروئی هغه ئی ځان له راوغوښتو خکه چه د ده امیدپیدا شوګیدې شی ددې عذاب په لیدو باندې د هغه خیالات بدل شوی وی زما به اومنی او زمونږ دین به قبول کړی اوزما په خومولنی کښې به راشی زماد د بادشاهت ملګرې به جوړشی خو د بادشاه داخیال او خواهش صرف د هغه بې فائدې سوچ راووتلو. حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ اوفرمائیل چه ما صرف په دې وجه ژړلې ووچه افسوس زما صرف یوځان دې کوم چه په دې عذاب کښې د الله تعالی په لارکښې زه قربانی کوم که زماپه یویو ویښته کښې ساوې اوماهغه ټولې ساګانې نن دالله تعالی په لارکښې داسې یویوقربانې کړې وې. بعضې روایتونو کښې دی چه هغه په قیدخانه کښې بندکړې شوې وو خوراك څښاك ئی پرې بندکړې وو د یوڅو ورځو نه پس ئی شراب اود خنزیرغوښه ورکړه خوهغه په دې ولړه کښې هم د هغه طرف ته توجه اونه فرمائیله نوبادشاه هغه راوغوښتلو اود نه خوراك سبب تپوس ئی ترې اوکړو نو هغه جواب ورکړو چه په دې حالت کښې خودا زما د پاره حلال شوی دی خوزه ستاپه شان دښمن ته دخوشحالولو موقعه ورکول نه غواړم. بادشاه وئیل چه ښه ده ته زما سر ښکل کړه نوزه تا اوستاپه شان نور قیدکړې شوی ټول مسلمانان پریږدم. هغه دا قبلوله کړه اود هغه سرئی ښکل کړو او بادشاه هم خپله وعده پوره کړه هغه اود هغه ټول ملګری ئی پریخودل. کله چه حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ دې خایٔ نه خلاص شو اود حضرت عمرفاروق ﷺ دربارته اورسیدو نو هغه اوفرمائیل چه په هریومسلمان باندې حق دې چه د حضرت عبدالله بن حذافهﷺ تندې ښکل کړی اوزه شروع کوم دې فرمائیلوسره اول هغوی د ده سر ښکل کړو. (١)

| | | | |
|---|---|---|---|
| ثُمَّ | إِنَّ | رَبَّكَ | لِلَّذِينَ |
| پس بیا | بیشکه | رب ستا | دپاره دهغه کسانو |

اود دې په عکس ستا پروردګار د هغه خلقو دپاره

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هَاجَرُوا | مِنۢ بَعۡدِ | مَا | فُتِنُوا | ثُمَّ جَٰهَدُوا | وَصَبَرُوٓا |
| چې هجرت ئې اوکړو | روستو | دهغې نه | چې تکلیفونه ورکړې شو | بیا ئې جهاد اوکړو | او صبر ئې اوکړو |

چې د مظلومیت نه پس ئې هجرت کړې دې اوپه تکلیفونو باندې ئې صبر کړې دې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| إِنَّ | رَبَّكَ | مِنۢ بَعۡدِهَا | لَغَفُورٞ | رَّحِيمٌ ١١٠ | يَوۡمَ |
| نو بیشکه | رب ستا | روستو ددغه کارنه | خامخا ښنونکې دې | مهربانه دې | په هغه ورځ |

نو ستارب د دې کارونو نه پس بخښونکې مهربان دې | ..................په کومه ورځ

| | | | |
|---|---|---|---|
| تَأۡتِي | كُلُّ نَفۡسٖ | تُجَٰدِلُ | عَن نَّفۡسِهَا |
| چې رابه شي | هر نفس | چې جګړه به کوي | په باره دبچکیدو دځان خپل کښې |

چې به هر یو کس پیش شي | اود خپل طرفنه به جګړه کوي

(١) ابن عساکر:٢٩/٢٤٤-٢٤٥.

Scanned with Ca

وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١١١﴾

اوپوره به ورکړې کيږي | هرنفس ته | هغه څه | چي هغه کړي وي | اوپه هغوی به | هيڅ ظلم نۀ کيږي

اوهر چا ته به ددۀ دعملونو پوره پوره بدله ورکولې شي | او په دوئ به هيڅ ظلم نشي کولې

**قوله تعالى:- ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا**

**دَ هجرت اوجهادبدله په خوښه ده:-** -دا بل قسم خلق دی چه د خپلې کمزورئی او مسکين توب د ظلم ښکار وواوهروخت به تنګولې شو.آخرهغوی هجرت اوکړه مال اولاد ملك وطن هرڅه پريخودل اود الله تعالی په لارکښې د تلود پاره راپاسيده اودمسلمانانو په ټولی کښې يوځائ شو اوبياد جهادد پاره اووتل اود صبر اوبرداشت سره د الله تعالی د کلمې اوچتولوکښې مشغول شو. هغوی الله تعالی ددې کارونويعنی فتنه دقبلولو نه پس هم ښښونکې اوپه هغوی باندې مهربانئی کونکې دې.د قيامت په ورځ به هريوسړې د خپل ځان د خلاصولولو په فکر کښې وی هيڅ څوك به نه وی چه خپل مور پلار رور ښځې طرف ته به دځه وينا اوريدل اوکړی.په هغه ورځ به هريوسړی ته د هغه د اعمالو پوره پوره بدله ملاويږی په چا باندې به هيڅ ظلم نه وی نه به ئی ثواب کميږی اونه به ئی ګناه زياتيږی الله تعالی دظلم نه پاك دې.

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا

اوبيانوی الله | مثال | ديو کلی | چی وۀهغه | په امن | په اطمينان | راتلوبه هغه کلی ته | رزق دهغه کلی

اوالله ﷻ ديو کلی د خلقو مثال بيانوی | چې هغوئ په امن او اطمينان سره اوسيدل | د هر طرف نه به

رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ

فراخه | دهر ځائې نه | نو ناشکره شو هغه کلې | په نعمتونو دالله | نو اوڅکوله دغه کلی ته الله

ورته فراخه روزی راتله | ........خو هغوئ دالله ﷻ دنعمتونو ناشکری اوکړی | نو الله تعالی د هغوی

لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَلَقَدْ

جامه دلوږې | اوديرې | په سبب دهغې عمل | چی وۀهغوئ | چی کول به ئې | اوپه تحقيق سره

د عملونو په وجه په هغوئ باندې لوئې قحط او ويره راوستله | ............ اوبيشکه

جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ

راغې هغوئ ته | يورسول | دهغوی دخپل قوم نه | نو دروغ اوګڼړو هغوئ هغه لره | نواونيول هغوئ لره

هغوئ ته هم د هغوئ د قوم نه يو پيغمبر راغلې وو انو هغوئ دې دروغژن اوګڼړلو | نو په هغوی

الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿١١٣﴾

عذاب | او هغوئ | ظالمان وۀ |

باندې په داسې حالت کښې عذاب راغلو چی هغوی ظالمان وو

**قوله تعالى:- فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ**

**دَ نعمتونو دَ ناشکرئی نتيجه:-** دې نه مراد اهل مکه دی دوی په امن او اطمينان کښې وو خواوشاکښې به جنګونه کيدل دې خوابه چا سترګې هم نه شوې پورته کولې څوك چه به دلته راتلوهغه به په امن کښې ګڼړلې شو لکه چه قرآن پاك فرمائيلی چه داخلق وانی که چرې مونږد هدايت ملګرتيااوکړو نود

Scanned with Ca

خپلې زمکې نه به اوچت کړې شو ایامونږ هغوی ته د خپل امن اوامان حرم نه دې ورکړې؟ چرته چه زمونږ رزق د قسم قسم میوو په شکل کښې هغوی له د څلورو وارو طرفونه رابنکلې کیږی راځی. دلته هم ارشاد کولې شی بنکلې او رسیدلې رزق د دې بنار د خلقو طرف ته د هرځائ نه راتلو خوبیا هم دوی د الله تعالی د نعمتونو منکر وو په کوم کښې چه د ټولو نه اوچت نعمت د حضورﷺ رالیګل وو لکه چه د الله تعالی ارشاد مبارك دې ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ۝ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ الْقَرَارُ ۝﴾([1])آیا تاهغوی اولیدل؟ چا چه د الله ﷻ نعمت په کفرسره بدل کړو اوخپل قوم ئی د هلاکت کور ته اورسولوکوم چه دوزخ دې چرته چه به دوی داخلیږی اود اوسیدو ډیر خراب ځائ دې. د هغوی د سرکشئ په دې سزا کښې دواړه نعمتونه په دوو زحمتونو بدل کړې شو امن په ویره سره او اطمینان په ولړه اوویرې سره. هغوی د الله تعالی د رسول ﷺ اونه منل. د حضورﷺ په مخالفت کښې ئی ملا اوتړله نو حضورﷺ د هغوی د پاره د اوو کالو د قحط خیرې اوکړې لکه څنګه چه د حضرت یوسف ﷵ په زمانه کښې وو.په دې قحط کالئی کښې هغوی د اوبنانو په وینوکښې لړلې شوی وینتو پورې اوخوړل.دامن نه پس ویره راغله هروخت به درسول الله ﷺاود هغه د لښکر نه په ویره کښې وو. د هغوی په دوچنده ترقئی اود هغوی د لښکرو په زیاتیدوبه غلې کیدل تردې چه آخر د الله تعالی پیغمبرﷺ د هغوی په ښارمکه باندې حمله اوکړه اودائی فتح کړه اودلته ئی قبضه اوکړه. دا وه د هغوی د بدعملو بدله دوی په ظلم او زیاتی باندې کلك ولاړوو اود الله تعالی د رسول ﷺ تکذیب به ئی کولو کوم چه الله تعالی پخپله هم د هغوی نه رالیګلې وو.دکوم احسان بیان چه په ایت ﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝﴾([2])کښې فرمائیلی دی اوهم ددې بیان آیت ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝﴾([3]) کښې دې اودغه شان د دې معنې آیت ﴿كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ۝ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ۝﴾([4])کښې دې (البقرة:- ١٥٢)پورې.دا لطیفه هم مه هیروئی لکه څنګه چه د کفرپه وجه د امن نه پس ویره راغله اوفراخئی نه پس ولږه راغله د ایمان په وجه د ویرې نه پس امن ملاوشو اود ولږې نه پس حکومت اوسرداری اوامارت ملاوشو.فسبحانه مااعظم شانه.

**د بی بی حفصې ارشاد**:-سلیم بن نمیر رحمة الله علیه فرمائی چه مونږ ام المؤمنین حفصه سره دحج نه واپس راتلو دغه وخت مدینه منوره کښې خلیفة المؤمنین عثمان ﷛ ګیرشوې وو مور بی بی به اکثر په لاره تلونکونه تپوسونه کول. دوه سواره ئی په لاره تلونکی اوکتل نو سړې اولیګلو چه د هغوی نه د خلیفه رسول د حال تپوس اوکړه هغوی خبرورکړو چه افسوس هغوی شهید کړې شو.هغه وخت دوی اوفرمائیل داهم مدینه ده د کوم باره کښې الله تعالی فرمائیلی دی﴿وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ۝﴾.د عبدالله بن مغیره رحمة الله علیه د شیخ هم دغه قول دې.

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَكُلُوا | مِمَّا | رَزَقَكُمُ اللَّهُ | حَلَالًا |
| نوخورئ | دهغې رزق نه | چې درکړې دې تاسوته الله | حلال |
| | | نو الله ﷻ چې تاسوته څه درکړی دی له هغې نه | |

[1] ١٤/ابراهيم:٢٨.

[2] ٣/آل عمران:١٦٤.

[3] ٥/المائدة:١٠٠.

[4] ٢/البقرة:١٥١.

Scanned with Ca

طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿١١٤﴾ اِنَّمَا

پاك | او شكر اوباسئ | دنعمت دالله | كه يئ تاسو | چي خاص هغه لره | عبادت كوئ | بيشكه

حلال پاكيزه څيزونه خورئ |او دالله ﷻ د نعمتونو شكر ادا كوئ | كه تاسو په رښتيا د هغه عبادت كوئ | بيشكه

حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ

حرام كړل الله | په تاسوباند | مرداره | اووينه | اوغوښه دخنزير |اوهغه حلال ځناور | چي نوم اغستي شوي وي

هغه په تاسوباندي مرداره او وينه اود خنزير غوښه اوكوم څيزونه چي د الله ﷻ

لِغَيْرِ اللهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ

دالله نه سوادبل چا | په هغه باند | نوهغه څوك | چي مجبور شو | په داحال كښي چي نۀ وي باغي دقانون دالله نه

نه سوا د بل چا په نامه منلې شوي وي حرام كړي دي | نو څوك چي مجبوره شي | چي دالله د قانون نه تيريدونكي

وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا

او نۀ زياتي كونكي وي | نو بيشكه الله | ښښونكي دي | رحم كونكي دي | اومۀ وايئ تاسو

نه وي|اودحد نه تيريدونكي نه وي |نوبيشكه الله ﷻ بخښونكي مهربان دي | ...........اوتاسو

لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا

په باره دهغه څيزونو كښي | چي بيانوي | ژبي ستاسو | دروغ لره | چي دا | حلال دي | او دا

د هغه څيزونو په باره كښي چي ستاسو ژبي ئي په دروغ بيانوي دا مه وايي چي دا حلال دي اودا

حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللهِ الْكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ

حرام دي | چي جوړ كړئ | په الله باند | دروغ | بيشكه هغه كسان | چي جوړوي | په الله باند | دروغ

حرام دي |نتيجه به يي دا شي چي تاسو به په الله باندي دروغ اوتړئ |بيشكه څوک چي په الله دروغ جوړوي

لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿١١٦﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۖ وَّلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١١٧﴾

خلاصي به نۀ مومي هغوئ | نفعه ده لږه | اودي دهغوئ دپاره | عذاب دردناك |

هيڅكله به كامياب نشي |(ددنيا) ژوندلږه شان فائده ده |اوهغوئ دپاره دردناک عذاب دي |

**قوله تعالى:- اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ**

**د بعضو حرام كړې شوو څيزونو ذكر:** -الله تعالى خپلو مؤمنانوبنديګانوته وركړې شوي پاك رزق حلالوي اود شكركولوهدايت كوي د دې د پاره چه د نعمتونوور كونكې هم هغه دې په دې وجه د عبادت لائق هم صرف هغه يودې دهغه څوك شريك اوملګرې نشته. بيادهغه څيزونوبيان فرمائي كوم چه هغه په مسلمانانو باندې حرام كړي دي په كوم كښې چه د هغوی د دين نقصان هم دې اود دنيانقصان هم دې. لكه پخپله مړشوې ځاروې، د حلالولو په وخت كښې بهيدونكې وينه، د خنزير غوښه او كوم ځاروې چه د الله تعالى د نوم نه بغيرد بل چا په نوم باندې حلال كړې شي . خوچه كوم سړې د دې د خوراك طرف ته بې بس وي لاچاره وي عاجز وي محتاج وي بې قرار وي اودا اوخوري نوالله تعالى د ښښنې او رحمت نه كاراخستونكې دې. سورة بقره كښې د دې په شان آيت تيرشوې دې اوهم هلته د هغې مكمل تفسيرهم بيان كړې شوې دې بياسردوباره كولو ضرورت نشته. فالحمد لله.

Scanned with Ca

**په دين کښې دځانه حلال وحرام جوړول په الله تعالى دروغ جوړول دي** :-بياد کافرانود رويه نه مسلمانان بندوی لکه څنګه چه هغوی د خپل ځان نه حلال والي اوحراموالي قايم کړې دې تاسو داسې مه کوئ په خپل مينځ کښې مقرره کړه چه د فلانکی دنوم څناور دحرمت او عزت والا بحيره سائبه وصيله حام وغيره.ارشاددې چه په خپلو خُلوباندې د دروغو مروغو د الله تعالى په ذمه الزام لګولوسره پخپله حلال اوحرام مه جوړوئ. په دې کښې داهم داخل دی چه څوك د خپل طرف نه څه بدعت راوباسی د کوم چه څه شرعی دليل نه وی ياد الله تعالى حلال حرام کړی يامباح حرام اوګرځوی اوپه خپله رائې او تشبيه سره احکام راپيداکړی. ﴿لماتصف﴾کښې مامصدريه دې يعنی تاسوددروغو صفت پخپله ژبه باندې حلال اوحرام مه جوړوئ. داسې خلق د دنياد فلاح نه اود آخرت د خلاصی نه محروم کيږی. سره د دې که په دنياکښې هسې څه فائده شان واخلی خومره کيدو سره به د سختونو عذابونوړنی جوړيږی. که دلته نی څه دهوکه داکه اوکړه خو هغه ته به سخت عذاب په بې وسئ سره برداشت کول وی لکه چه دالله ﷻ ارشاددې په الله ﷻ باندې دروغ اود ځان نه خبرې کونکی دخلاصی نه محروم دی په دنيا کښې به هسې څه فائده واخلی بيابه مونږ هغوی ته د هغوی دکفر په وجه دسخت عذاب مزه ورڅکو .([1])

وَعَلَى الَّذِيْنَ

اوپه هغه کسانوباندې

الوچا چي

هَادُوْا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ ۚ

چې يهوديان شوی وو | حرام کړی وو مونږه | هغه څيزونه | چې بيان کړی دی مونږه | تاته | مخکښې ددې نه

يهوديت اختيار کړې دې| مونږ په هغوی باندې هغه څيزونه حرام کړی وو کوم چې موږ اندې تاته بيان کړی دی

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

اونۀ ووکړې ظلم مونږه په هغوئ باند| وليکن | وؤ هغوئ | په ځانونو خپلو باند| چې ظلم به ئې کوؤ

او مونږ په هغوئ باندې هيڅ زياتې نه ووکړې | بلکه هغوئ پخپله په ځانونو زياتې کولو

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا

بيا | بيشکه| رب ستا |دپاره دهغه کسانو| چې وې کړو|عمل بد | په ناپوهتياسره| بيائې| توبه اوبنکله

بيا بيشکه ستارب هغو خلقو دپاره کومو چې په ناپوهئ سره بدعملونه کړی وی اد هغې

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا

روستو ددغې بدعمل نه | اوعمل ئې نيك کړو| نو بيشکه | رب ستا | روستو دتوبې ايستلونه

نه پس هغوئ توبه اوباسی| اود خپل حالت اصلاح اوکړی | نو د دې نه پس ستارب يقينا

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۹﴾ ع

خامخا ښښونکې | مهربانه دې |

بخښونکې مهربان دې |

---

[1]) ١٠/يونس:٦٩-٧٠.

Scanned with Ca

**قوله تعالى:-وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا**

**په يهوديانوباندې د بعضوحرام کړې شوو څيزونوذکر:**-پورته بيان تيرشو چه په دې امت باندې مرداره، وينه دخنزيرغوښه اودالله تعالى نه بغيرد نورو په نوم څيزونه حرام دی. بيا چه په دې کښې کومه آسانی وه هغه ئی ښکاره کړه اوکومه آسانی په دې امت باندې کړې شوې ده هغه ئی بيان کړه. په يهوديانو باندې چه دهغوی په شريعت کښې څه حرام وو اوکومه تنګی او تکليف په هغوی باندې وو هغه بيانوی چه مونږ د هغوی دحرمت څيزونه هم داول نه تاسوته خودلی دی.دسورت انعام آيت ﴿وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ﴾(١)کښې ددغه حرامو څيزونوذکر شوې دې يعنی په يهوديانوباندې مونږدټولو نو کونو والا څناور حرام کړې وو اود غوا او چيلئی وازګه بغيرد هغه وازګې نه کومه چه د هغې په ملا پورې لګيدلې وی يا په کولموباندې يا په هډوکوباندې لګيدلې وی دا بدله وه د هغوی د سرکشئی مونږ په خپل فرمان کښې بالکل رښتونی يو. مونږ په هغوی باندې هيڅ ظلم نه وو کړې هغوی پخپله ناانصافه وو.دهغوی د ظلم په وجه مونږ په هغوی باندې هغه پاک څيزونه کوم چه په هغوی باندې حلال وو حرام کړل.دويمه وجه د هغوی د الله تعالى د لارې نه نور خلق بندول هم وو. بيا الله تعالى د هغه خپل رحم او کرم خبرورکوی کوم چه هغه ګناهګارانو مؤمنانو سره کوی چه ديخوا هغه توبه اوکړه اوبل خواهغه ته د رحمت نه ډکه غيږ خوره شوه. د بعضو سلفوقول دې چه څوک د الله تعالى نافرمانی کوی هغه هم جاهل وی. توبه وائی د ګناه نه اخواکيدوته او اصلاح وائی په تابعدارئی باندې ملا تړلو ته نوچه څوک داسې اوکړې د هغه ګناه او خطا نه پس هم الله تعالى هغه ښنې او په هغه باندې رحم کوی.

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا

| بيشکه | ابراهيم عليه السلام | ووُ | يو امت | فرمان منونکې

| بيشکه ابراهيم عليه السلام دخلقو لوئې پيشوا دالله ﷻ تابعدار

لِلَّهِ حَنِيفًا ط وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِأَنْعُمِهِ ط

| الله لره | يو مخيزې | اونهٔ ووُ هغه | دمشرکانونه | شکرايستونکې ووُ | دنعمتونو دالله

اوصرف حق طرفته مائل وو | اوهغه د مشرکانو څنې نه وو | دالله ﷻ دنعمتونوشکر ګزار وو

اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَآتَيْنَاهُ

| غوره کړو الله هغه لره | او ښودنه ئې اوکړه هغه ته | لارې نيغې ته | اوورکړه مونږ هغه ته

الله ﷻ دې غوره کړې وو | او په نيغه لار ئې روان کړې وو | ........... اومونږ هغه ته

فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ط وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾

| په دنيا کښې | نيک نامی | او بيشکه وی به هغه | په اخرت کښې | دصالحانونه

په دنيا کښې نيک نامی ورکړې وه | اوپه آخرت کښې خو په صالحانو کښې شمير دې

ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ط وَمَا كَانَ

بيا وحی اوکړه مونږه | تاته | چې پيروی اوکړه ته | په طريقه | دابراهيم عليه السلام | يو مخيزې | اونهٔ ووُ هغه

بيا مونږ تاته وحی اوکړه | چې دابراهيم په لاره روان اوسه | چې يومخيز وو | او د مشرکانو څنې نه وو

---

(١) ٦/الانعام:١٦٤.

Scanned with Ca

| | |
|---|---|
| مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٢٠﴾ | |
| دمشركانونه | |

**قوله تعالى:-اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا**

**ابراهيم ﷺ درشد اوهدايت امام وو:**-امام حنفاء والدانبياء خليل الله رسول جل وعلا د حضرت ابراهيم ﷺ تعريف بيانولې شى اود مشركانو يهوديانواونصرانيانو نه هغه جدا كولې شى. ﴿امة﴾ معنى د امام ده د چاچه اقتداء اوكړې شى﴿قانت﴾ وائى تابعدار اوحكم منونكى ته.د حنيف معنى ده د شرك نه جدا د توحيدطرف ته راتلونكې. د دې د پاره اوفرمائيلې شو چه هغه د مشركانو نه ويزاره وو.

**د اُمَّةً قَانِتًا مطلب:**-ابن مسعود﵁ نه چه كله دامت قانت باره كښې تپوس اوكړې شونوونى فرمائيل خلقو ته نيكى خودونكې اود الله تعالى اورسول الله ﷺ تابعدارى كونكې. ابن عمر ﵁ فرمائى د امت معنى ده د خلقو د دين خودونكې. يوځل حضرت ابن مسعود﵁ اوفرمائيل چه حضرت معاذ امت قانت او حنيف وو په دې باندې چا په خپل زړه كښې سوچ اوكړو چه حضرت عبدالله﵁ غلطى اوكړه داسې خو په شهادت سره دقرآن پاك حضرت خليل الرحمن وو. بيائى زبانى اوفرمائيل چه الله تعالى حضرت ابراهيم ﷺ ته امت فرمائيلې دې نو هغوى اوفرمائيل چه پته درته شته چه د امت څه معنى ده؟ اود قانت څه معنى ده؟ امت وائى هغه ته چه خلقو ته دين اوښائى او قانت وائى هغه ته چه د الله تعالى اود هغه درسول ﷺپه تابعدارئى كښې لګياوى([1] )بيشكه حضرت معاذ﵁ همداسې وو.مجاهد رحمه الله فرمائى چه هغه ځان له امت وو. اود فرمان تابع وو اوهغه په خپله زمانه كښې يوازې موحدمؤمن وو باقى ټول خلق هغه وخت كښې كافران وو. قتاده رحمه الله فرمائى هغه د هدايت امام وو اود الله تعالى غلام وو د الله تعالى د نعمتونو قدردان او شكر كونكې وو اود رب په ټولواحكامو باندې عمل كونكې وو لكه چه الله تعالى پخپله ارشاد فرمائى ﴿وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰۤى﴾([2] ) هغه ابراهيم ﷺ چاچه پوره كړو يعنى د الله تعالى د ټولو احكامو منونكې او په ځائ راوړونكې. هغه الله تعالى غوره او مصطفې جوړكړو لكه چه ارشاد دې ﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنَاۤ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ﴾([3] ) مونږ د اول نه حضرت ابراهيم ﷺ ته رشد اوهدايت وركړې وو اومونږ هغه ښه پيژندلو. هغه ته مونږ د نيغې لار خودنه كړې وه صرف د يوالله تعال وحده لاشريك له عبادت او تابعدارى به ئې كوله اود الله تعالى په خوښ كړې شوى شريعت باندې قايم وو. مونږ هغه د دين اودنياد خير جامع جوړكړې وو.دخپل پاك صفا ژوند ټول صفتونه حميده په هغه كښې وو اودې سره په آخرت كښې هم د نيكو سره اود صلاحيت والا وو دهغه پاك ذكر په دنيا كښې هم باقى پاتې شو اوپه آخرت كښې هم ورته ډيرې لوئى درجې ملاوشوې. د هغه كمال د هغه عظمت اود هغه محبت اوتوحيداودهغه په پاكه طريقه باندې پدې سره هم رڼراپريوځى چه اې ختم الرسل اې سيد الانبياء تاته هم زمونږحكم كيږى چه دملت ابراهيمﷺ حنيف تابعدارى اوكړه كوم چه دمشركانونه خلاص وو په سورت انعام كښې ارشاد دې ﴿قُلْ اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ ([4] ) اووايه چه ماته زما رب د نيغې لار خودنه كړې ده د مضبوط او قايم دين ابراهيم حنيف كوم چه د مشركانو نه نه وو بيا په يهوديانو باندې انكاركولې شى اوفرمائيلې شى.

[1] حاكم:٢/٣٥٨.
[2] ٥٣/النجم:٣٧.
[3] ٢١/الانبياء:٥١.
[4] ٦/الانعام:١٦١.

Scanned with Ca

| |
|---|
| اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ |
| بیشکه \| مسلط کړې شوې ووْ \| قانون دخالی دورځې \| په هغه کسانوباند |
| د خالی د ورځې احترام په هغه چا مقرر شو بېدې \| چې په هغې کښې ئې اختلاف |
| اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ |
| اِچی هغوئ اختلاف اوکړو \| په حکمونودهغې کښې \| اوبیشکه \| رب ستا \| خامخا به فیصله کوی |
| کړې وو \| ..............او بیشکه ستا رب به دقیامت په ورځ ددوئ په مینځ کښې |
| بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ |
| \| په منځ دهغوئ کښی \| په ورځ دقیامت \| په هغه ټولو خبرو کښې \| چې ووْ هغوئ \| په هغې کښې |
| فیصله اوکړی \| ..............په کومو خبرو کښې چې دوئ اختلاف کولو |
| يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٢٤﴾ |
| چې اختلاف به ئې کوو \| |

**قوله تعالى:- اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۚ**

**دَ هرامت دَ پاره دَ هفتې دَبعضو ور ورځو د حرمت بیان:-** -دهرامت دپاره په هفته کښې یوه ورځ داسې مقرر کړې ده په کوم کښې چه هغوی راجمع شی اودالله ﷻ د عبادت خوشحالی اوکړی. ددې امت دپاره هغه ورځ ورځ د جمعه مبارکه ده ځکه چه دا شپږمه ورځ ده په کومه کښې چه الله تعالی د خپل مخلوق پوره والې اوکړو او ټول مخلوق پیداشو اوخپلوبندیګانوته ئې د هغوی د ضرورت خپل ټول نعمتونه ورکړل.

**په دین موسوی کښې د هفتې د ورځې تعظیم وو د اتوار روستو راغلې دې:-**روایت دې چه د حضرت موسی ﷺ په ژبه هم دا ورځ د بنی اسرائیلو د پاره مقرر شوې وه خوهغوی د دې نه اخوا شو اود هفتې ورځ ئې واخستله په دې سوچ کولو سره چه په دې ورځ مخلوق پوره شوې دې د هفتې په ورځ الله تعالی هیڅ څیز نه دې پیداکړې. نو چه کله تورات نازل شو نو په هغوی باندې هم هغه د هفتې ورځ مقرر شوه او هغوی ته حکم ملاوشو چه دا کلکه اونیسئی اودائی ورته ضرورفرمانیلې وو چه حضرت محمد ﷺ کله هم راشی نو هغوی دې ټول هرڅه پریږدی اوصرف هم د هغه تابعداری دې اوکړی په دې خبره د هغوی نه وعده هم اخستې شوې وه. دهفتې ورځ هغوی د خپل ځان د پاره پخپله خوښه کړې وه او هم پخپله ئې جمعه پریخودې وه. ( )[1]

د حضرت عیسی بن مریم ﷺ د زمانې پورې دوی هم په دې باندې وو. وئیلې شی چه بیا هغوی دوی ته د اتوار د ورځې دعوت ورکړو. یوقول دې چه هغوی د تورات شریعت پریخودې نه ووبغیرد څه منسوخ احکاماتو نه اود هفتې د ورځې محافظت هم هغوی برابر اوساتلو.کله چه حضرت عیسی ﷺ پورته اوخیژولې شونودهغوی نه پس دقسطنطین بادشاه په زمانه کښې صرف دیهودیانوسره په ضد بنې راتلوسره د صخره نه واخله ترمشرق پورې هغوی خپله قبله مقررکړه اود هفتې په ځائې د اتوار ورځ مقررکړه. د بخاری اومسلم شریف په حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمانی مونږ د ټولونه آخری یو اود قیامت په ورځ به د ټولونه ړومبی یو اوهغوی ته زمونږ نه وړاندې کتاب الله ورکړې شوې دې. دا ورځ

---

[1]) الطبری:١٧/٣٢٠

Scanned with Ca

هم الله تعالى په هغوی باندې فرض کړه خود هغوی په اختلاف باندې د هغوی نه واخستې شوه اوالله سبحانه وتعالى مونږ ته ددې هدايت اوکړو نوداټول خلق زمونږ هم روستو روستو دی. يهوديان يوه ورځ روستو نصارى دوه ورځې. (١)

**د مسلمانانو دتعظيم دورځ جمعه ده** :-حضورﷺ فرمائی زمونږ نه وړاندې امتونه الله تعالى د دې ورځې نه محروم کړل يهوديانو د هفتې ورځ اونصارى د اتوار ورځ اوجمعه زمونږ شوه. نو چه څنګه هغوی زمونږ نه د ورځو په اعتبارسره روستو دی دغه شان د قيامت په ورځ به هم زمونږ نه روستووی مونږ د دنيا په اعتبارسره روستو يواود قيامت په اعتبارسره وړاندې.يعنى په ټول مخلوق کښې به د ټولونه وړاندې فيصلې زمونږ کيږی.. (٢)

اُدۡعُ اِلٰى سَبِيۡلِ رَبِّكَ بِالۡحِكۡمَةِ وَالۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ

| بلنه کوه| لارې درب خپل ته | په حکمت سره | اوپه نصيحت نيك سره

ته د خپل رب دلارې طرف ته په حکمت او په ښه نصيحت سره بلنه کوه

وَجَادِلۡهُمۡ بِالَّتِىۡ هِىَ اَحۡسَنُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

اوبحث کوه دخلقو سره| په هغه طريقه| چې هغه | دټولونه ښۀ وی | بيشکه | رب ستا چې دې

او دوئ سره په بهتره طريقه بحث کوه | ..........بيشکه ستا رب

هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ ضَلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ وَهُوَ

| هغه | ښۀ پوهه دې | په هغه چا | چې بې لارې شوې دې | دلارې دهغه نه | اوهغه

هغه څوک ښه پيژنی | کوم چې د هغه د لارې نه ګمراه شوې دی| اوهغه څوک هم ښه پيژنی چې د هدايت

اَعۡلَمُ بِالۡمُهۡتَدِيۡنَ ۝١٢٥ وَاِنۡ عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُوۡا بِمِثۡلِ مَا

ښه پوهه دې | په لارموندونکو باند| اوکه چرې | سزا ورکوئ تاسو | نو سزا ورکړئ | په مثل دهغې

خاوندان دی| ..........اوکه تاسو بدله اخستل غواړئ نو بس دومره سزا ورته ورکړئ

عُوۡقِبۡتُمۡ بِهٖ ؕ وَلَئِنۡ صَبَرۡتُمۡ لَهُوَ خَيۡرٌ

چې سزا درکړې شوی ده تاسو ته | په هغې سره | اوکه چرې | صبر اوکړو تاسو | نو هغه | بهتر دې |

څومره چې ئې تاسوته درکړې ده| اوکه صبر اوکړئ نو دا صبر کول به د صبر کونکو دپاره

لِّلصّٰبِرِيۡنَ ۝١٢٦ وَاصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحۡزَنۡ

دپاره دصبرکونکو | او صبر کوه | اونۀ دې صبر ستا | مګر | په توفيق دالله دې | اوتۀ غم مۀ کوه

ډير بهتر وی| اوزائې پيغمبره) ته صبر کوه او ستا صبر خو بس دالله ﷻ په توفيق دې| اودوئ په حال غم مه کوه

عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُ فِىۡ ضَيۡقٍ مِّمَّا يَمۡكُرُوۡنَ ۝١٢٧ اِنَّ اللّٰهَ

په دوئ باند| اومۀ کيږه تۀ | په تنګی کښی | دهغه چلونونه | چې دوئ ئې کوی | بيشکه الله

اودوئ چې کوم سازشونه کوی په هغې باندې زړه مه تنګوه | بيشکه الله ﷻ

(١) صحيح بخارى كتاب الجمعة باب فرض الجمعة: ٨٧٦، صحيح مسلم:٨٥٥.

(٢) صحيح مسلم كتاب الجمعة باب هداية الامة ليوم الجمعة:٨٥٦.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مَعَ الَّذِيْنَ | اتَّقَوْا | وَّالَّذِيْنَ | هُمْ | مُّحْسِنُوْنَ ۝ |
| ملګرې دې دهغه كسانو | چې پرهيزګارى كوى | او دهغه كسانو | چې هغوئ | نيكى كونكى دى |

د هغه چا سره ملګرې دې | چې څوک پرهيزګاره وى اوڅوک نيكى كونكى وى

**قوله تعالى:- اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ**

**د نصيحت او حكمت نه مراد:**-الله تعالى چه رب العالمين دې خپل رسول الله حضرت محمد ﷺ ته حكم فرمائى چه ته د الله تعالى مخلوق د هغه لارې ته رابله. د حكمت نه مراد د ابن جرير رحمه الله په قول كلام الله اوحديث رسول الله ﷺ دې اود ښه وعظ نه مراد چه په هغې كښې ويره دهمكى هم وى اوخلق د هغې نه نصيحت حاصل كړى اود الله تعالى د عذابونونه بچ كيدل اوغواړى.(١) اودا هم خيال ساتل پكار دى كه چاسره د مناظرې ضرورت شى نوهغه دې په نرمئې او په خو الفاظوسره وى لكه چه ارشاد دې ﴿وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝﴾ (٢) اهل كتاب سره د مناظرې اومجادله بهترينه طريقه خپلوئى. دغه شان حضرت موسى عليه السلام ته هم د نرمئى حكم شوې وو. دواړو رونړوته دا وئيلې شوى وو اود فرعون طرف ته ليګلې شوې وو چه هغه ته نرمه خبره كوئى دې د پاره چه عبرت حاصل كړى او هوښيارشى. د اخواشوې لار نه په نيغه لارشى ټول د الله تعالى په علم كښې دى. بدبخت او نيک بخت ټول هغه ته ښكاره دى هلته ليكلې شوى دى اود ټولوكارونو د پوره كولونه فراغت شوې دې. تاسو د الله تعالى د لارې دعوت وركوئى خود نامنونكو په وجه خپل ځان په هلاكت كښې مه اچوئى.تاسو د هدايت وركولو ذمه وار نه ئى تاسو صرف د خبر وركونكى ئې. په تاسو پيغام رسول دى حساب به مونږ پخپله اخلو هدايت ستاسو د وس كار نه دې چه څوک خوښ كړئى نو په هدايت به ئى راولئى اوبه ئى دروئى. د خلقو دهدايت ذمه وار تاسو نه ئى دا د الله تعالى د قبضې اود هغه د لاس څيز دې.

**د قصاص حاصلولواوصبربيان:**-په قصاص اوحق حاصلولوكښې د برابرئى او انصاف حكم وركولې شى. امام ابن سيرين رحمه الله وغيره فرمائى كه يوسړې تانه څه څيز واخلى نو ته هم د هغه نه هم هومره واخله(٣) ابن زيد رحمه الله فرمائى چه اول خودمشركانوسره دمعاف كولوحكم وو. كله چه صاحب حيثيت خلق مسلمانان شونوهغوى وئيل چه كه د الله تعالى د طرف نه لوږ د بدلې اخستو رخصت اوشى نو مونږ به هم دې سپو سره اوګورو نو په دې باندې دا آيت نازل شو. آخردا حكم هم په جهادسره منسوخ شو(٤) حضرت عطاء بن يسار رحمه الله فرمائى چه سورت نحل پوره په مكه مكرمه كښې نازل شوې دې خود دې دا آخرى درې آياتونه په مدينه منوره كښې نازل شوى دى.

**ددې ايتونو مباركو شان نزول:**-كله چه په جنګ احد كښې حضرت حمزه رضي الله عنه شهيد كړې شواود هغوى بدن اندامونه هم د هغوى د شهادت نه پس پرې كړې شو نو په دې د رسول الله ﷺ د خُلې مباركې نه ناڅاپى اووتل چه اوس كله ماته الله تعالى په دې كافرانو باندې غلبه راكړى نو زه به د هغوى نه د ديرشو سړو دغه شان پښې لاسونه پرې كوم. د مسلمانانو په غوږ كښې چه د خپل خوږ نبى ﷺ دا الفاظ پريوتل نود هغوى جوش نور هم زيات شو. وئى وئيل چه والله مونږ به په دوى غالب راځو اود دوې دا مړى به داسې

(١) الطبرى:٣٢١/١٧.
(٢) ٢٩/العنكبوت:٤٦.
(٣) الطبرى:١٩٧/١٤.
(٤) الطبرى: ٣٢٤/١٧.

Scanned with Ca

تکړې تکړې کړوچه عربوبه کله هم داسې نه وی لیدلې.پدې باندې دا ایاتونه نازل شو. دا روایت مرسل دې.(سیرت ابن اسحاق) خودا روایت مرسل دې او په دې کښې یو راوی داسې دې چه د هغه نوم نه دې اخستې شوې مبهم پریخودې شوې دې. او په دویم سند سره دا متصل هم روایت شوې دې. بزارکښې دی چه کله حضرت حمزه ﷺ بن عبدالمطلب شهیدکړې شو حضورﷺ هغه له راغلو اودریدو کتل نې افسوس ددې نه به زیات د زړه درد ورکونکې منظر بل کوم یو وی چه د محترم تره تکړې د سترګو په وړاندې پرتې دی.دحضورﷺ د ژبې مبارکې نه اووتل په تادې د الله تعالی رحمت وی ترکومې چه زما علم دې زه پیژنم چه ته د رشتې اوخپلولنې جوړونکې نیکوته د کولو د پاره ورتوپ کونکې وې. والله که د نورو خلقو د درد او غم خیال نه وو نو ماخوبه ستا دا بدن هم داسې پریخودې وو تردې چه الله تعالی ته د ځناورو د خیټونه راویستلې وې یائی بل څه داسې کلمه اوفرمائیله. کله چه دې مشرکانو داسې حرکت کړې دې نو والله زه به هم د هغوی نه د اویاؤ کسانو سره دا عمل کوم. هم هغه وخت حضرت جبرائیل ﷺ وحی راوړه راغلو دا آیاتونه نازل شو. نو حضورﷺ د خپل قسم د پوره کولونه منع شو اود قسم کفاره ئې اداکړه([1])خوسندد دې هم کمزورې دې د دې راوی صالح بن بشیر مری دې چه د آهل حدیث د آیمه په نیزد باندې ضعیف دې. بلکه امام بخاری رحمه الله خوده ته منکر الحدیث وائی. شعبی رحمه الله اوابن جریر رحمه الله وائی چه د مسلمانانو د ژبې نه وتلې وو دې خلقو چه زمونږ د شهیدانو بې عزتی کړې ده اود هغوی د بدن اندامونه ئی پرې کړی دی والله مونږ به هم د هغوی نه دابدله اخلو اودلته به ئی پریږدو.نوالله تعالی دهغې باره کښې داآیاتونه نازل کړل.مسنداحمد کښې جنګ احد کښې شپیته انصار اوشپږ مهاجر ژشهیدان شو.د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ژ د خُلو نه دا وتلی وو چه کله مونږ په دوی باندې غلبه اوکړو نو مونږ به هم ددوی د تکړوکولو نه بغیرپاتې نه شو. د فتح مکه په ورځ باندې یو سړی وئیلې وو چه په نن ورځ به قریش پیژندلې هم نه شی. هم هغه وخت اعلان اوشو چه د الله تعالی رسول ﷺ ټولوخلقو ته پناه ورکوی بغیرد فلانکی فلانکی د هغوی نومونه ئی واخستل. په دې باندې الله تعالی دا آیاتونه نازل کړل. نبی کریم ﷺ هم هغه وخت اووئیل چه مونږ صبر کوو او بدله نه اخلو([2])دآیت مبارك مثالونه په قرآن کریم کښې نورهم ډیردی.پدې کښې دعدل مشروعیت بیان کړې شوې دې اود غوره طریقې طرف ته ئی اشاره کړې ده.آیت ﴿وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللّٰهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ﴾([3])کښې دبدئی بدله اخستلورخصت ورکولو سره بیافرمائی چه څوك معافی اوکړی اواصلاح اوکړی دهغه اجرالله تعالی سره دې.هم دا آیت ﴿وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ۚ﴾([4])کښې هم دزخمونوبدله اخستلواجازت ورکولوسره فرمائی چه څوك دصدقه په توګه معافی اوکړی نو دا معافی به دهغه د ګناهونو کفاره شی. دغه شان په دې آیت کښې هم د برابر برابر بدلې اخستلو جواز ذکر کولوسره بیا ارشاد اوشو که صبر اوکړی نو دا ډیر بهتر دی او بیائی د صبر نور تاکید هم اوکړو او ارشاد فرمائی چه دا د هر یو د وس کار نه دې هم د هغوی نه کیدې شی د چاسره چه د الله تعالی امداد وی اوچاته چه د هغه د طرف نه توفیق ورنصیب شوې وی.

**دکافرانو په مصیبتونو ډیر غم ندی پکار**:-بیا ارشاد کولې شی دمخالفینوغم مه کوه د هغوی په قسمت کښې هم مخالفت لیکلې شوې دې اومه د هغوی د دهوکو باره کښې خپل خاطر درنه وه الله تعالی

---

[1]) مسندالبزرا:۱۷۵۹،

[2]) ترمذی کتاب التفسیر قرآن باب ومن سورة النحل:۳۱۲۹ باختلاف یسیر وسنده حسن، احمد:۱۳۵/۵، زوائد عبدالله بن احمدبن حنبل، ابن حبان:٤۸۷، دلائل النبوة:۲۸۹/۳.

[3]) ٤۲/الشوری:٤۰.

[4]) ٥/المائدة:٤٥.

ستاد پاره کافي دي هم هغه ستا امداد کونکي دي هم هغه به تاپه دي ټولو باندې غالب کونکي دي اود دوی د مکر اوچالاکونه بچ کونکي دي. د هغوی دښمني اود هغوی خرابي ارادې ستا څه هم نه شي ولي.د الله تعالی امداد د هغه ملګرتيا هدايت اود هغه توفيق دهغه چا سره دي دچاړونه چه داالله تعالی د ويرې اودچا عملونه چه د احسان دکالی نه ډک دي.د جهاد په موقعه الله تعالی فرښتو ته وحي نازله کړې وه چه﴿أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا﴾[1] زه تاسو سره يم ته ايماندارثابت قدم کړه.دغه شان حضرت موسی عليه السلام اوهارون عليه السلام ته ئې فرمائيلي وو﴿قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَى﴾[2] تاسو ويريږئې مه زه تاسو سره يم وينم اورم. په غارکښې رسول کريم ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ته فرمائيلي وو﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾[3] غم مه کوه الله تعالی زمونږ سره دي[4] نودا ملګرتياخو خاص وه اودې نه مراد د الله تعالی امداد اونصرت دي. د عام ملګرتيا بيان آيت ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾[5]او آيت ﴿مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ﴾[6] اوآيت ﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ﴾[7] کښې دی يعنی الله ﷻ تاسوسره دي چرته هم چه تاسو ئې اوستاسو اعمال ويني اوچه کله درې کسان په خپل مينځ کښې غوږايستني کوی په هغوی کښې څلورم الله تعالی وی. پنځوکښې شپږم وی او دې نه کم زياتوکښې چه هغوی کوم ځائ هم وی الله تعالی هغوی سره وی. اوکه ته په کوم يوحال کښې هم ئې د قرآن په تلاوت کښې ئې يا ته په څه بل څه کار کښې لګيائې نو مونږ په تاباندې ګواه يو. نو په دې آياتونوکښې د ورسره کيدو مطلب اوريدلواوليدلو سره کيدل دی. د تقوی معنی ده حرام کارونه د الله تعالی په حکم باندې پريخودل.اود احسان معنی ده دالله تعالی تابعداری اوعبادت په ځائ راوړل.په کومو خلقو کښې چه دا دواړه صفتونه وی هغوی د الله تعالی په حفاظت او امان کښې وی. الله تعالی د هغوی ملګرتيااو امداد فرمائي د هغوی مخالفين اودښمنان د هغوی هيڅ نه شي کولي بلکه الله تعالی هغه ټولو باندې کاميابی ورنصيب کوی. ابن ابی حاتم کښې د حضرت محمدبن حاطب رحمة الله عليه نه روايت دي چه حضرت عثمان رضی الله عنه د هغه خلقو نه وو چه ايماندار پرهيزګاره او نيکان وو.

[الحمدلله]

د سورت نحل تفسير ختم شو

اودې سره څوارلسمه سيپاره هم ختمه شوه.

---

[1] ٨/الانفال:١٢.

[2] ٢٠/طه:٤٦.

[3] ٩/التوبة:٤٠.

[4] صحيح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبیﷺ باب مناقب المهاجرين والانصار:٣٦٥٢صحيح مسلم:٢٠٠٩.

[5] ٥٧/الحديد:٤.

[6] ٥٧/المجادلة:٧.

[7] ١٠/يونس:٦١.

Scanned with Ca

| ركوع ګاڼي | سورة بني اسرآئيل مكية وهي مائة واحدى عشر اٰية واثنا عشر ركوعات | اياتونه |
|---|---|---|
| | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | |
| ⑫ | زيات رحم كونكي دې شروع كوم په نوم د الله چه ډېر مهربان | ⑪١ |

سُبۡحٰنَ الَّذِيۡۤ اَسۡرٰى بِعَبۡدِهٖ لَيۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ

پاك دې | هغه ذات | چې بوتلې تلو | بنده خپل | يوه شپه | دمسجدحرام نه

الله پاك ﷻ هغه ذات دې چې خپل بنده (محمد ﷺ) ئې شپه په شپه دمسجد حرام (خانه كعبې) نه

اِلَى الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِيۡ بٰرَكۡنَا حَوۡلَهٗ لِنُرِيَهٗ

مسجداقصى ته | هغه چې بركت وركړې دې مونږ | چارچاپيره علاقې ته | دپاره دې چې مونږ اوښايو هغه ته

مسجد اقصى (بيت المقدس) ته بوتلو چې دهغې ګيرچاپيره علاقه له مونږ بركتونه وركړې دي

مِنۡ اٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡبَصِيۡرُ ①

څه نښې زمونږه | بيشكه هم هغه ښه اوريدونكې ښه ليدونكې دې |

چې مونږ دۀ ته خپلې نخښې نه اوښايو بيشكه الله ﷻ اوريدونكې اوليدونكې دې

**د سورت بني اسرائيل فضيلت:**-صحيح بخاري كښې دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چه سورت بني اسرائيل سورت كهف او سورت مريم د ټولونه اولنى ټولونه بهتر اوډيردفضيلت سورتونه دى.([1]) مسنداحمد كښې دى حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائ چه رسول الله ﷺ به نفلي روژې كله داسې يوبل پسې ساتلې چه مونږ به په خپل زړه كښې وئيل چه حضور ﷺ به دا ټوله مياشت په روژوكښې تيروى اوكله كله به نى بالكل نه ساتلې چه مونږ به وئيل حضور ﷺ به دې مياشت كښې هډوروژې نه ساتى. د حضور ﷺ عادت مبارك ووچه هره شپه به ئې سورت بني اسرائيل اوسورت زمر لوستلو.([2])

**د معراج د آيت تفسير:**-الله ﷻ دخپل پاك ذات عزت عظمت خپل پاكوالې او قدرت بيانوى چه هغه په هرڅيز باندې قادر دې يعنى حضرت محمد ﷺ نى د يوې شپې په څه حصه كښې د مكې مكرمه نه د بيت المقدس جمات پورې بوتلوچه د حضرت ابراهيم علیه السلام د زمانې نه د انبياؤ كرامو مركز پاتې شوې وو. ددې دپاره ټول انبياء كرام عليهم السلام هم هلته حضور ﷺ ته راجمع كړې شو او حضور ﷺ هم هلته د هغوى په دې ځائ كښې امامت اوكړو چه دليل دې د دې خبرې چه حضور ﷺ امام اعظم او رئيس مقدم دې (صلوات الله وسلامه عليه وعليهم اجمعين) د دې جمات نه چاپيره مونږ بركت وركړې دې په ميوو ګلونو فصلونو اوباغونوسره.دا د دې د پاره چه زمونږاراده خپل دې محترم رسول ﷺ ته خپلې زبردستې نښې خودل وو كومې چه په دې شپه كښې هغوى اوكتلې. الله ﷻ د خپل بنديګانو مؤمنانو كافرانو يقين كونكو اومنكرانو ټولو خبرې اوريدونكې دې او ټولوته ګورى.هرسړى ته به هغه وركوى چه د كوم مستحق وى په دنياكښې هم او په آخرت كښې هم.

**دمعراج متعلق احاديث:**-د معراج متعلق ډير احاديث دى چه اوس بيانولې شى. په صحيح بخاري كښې دانس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دې چه د معراج په شپه كله چه د كعبة الله شريف نه حضور ﷺ اوبللې شو نو حضور ﷺ له درې فرښتې راغلې دې نه وړاندې چه هغوى ته وحى اوكړى.هغه وخت حضور ﷺ بيت الله

[1] صحيح بخارى كتاب التفسير سورة بنى اسرائيل باب نمبر ١ حديث:٤٧٠٨.
[2] ترمذى كتاب فضائل القرآن باب قراءة سورة بنى اسرائيل والزمر قبل النوم: ٢٩٢٠، مختصراً وسنده حسن، احمد:١٨٩/٦، حاكم:٤٣٤/٤.

Scanned with Ca

کښې اوده شوې وو. په دوی کښې يو تپوس اوکړو چه دا په دې ټولوکښې څوك دې؟ مينځ والا جواب ورکړو دې په دې ټولوکښې بهتردې. نود ټولونه آخر والا اووئيل چه بيا خودې بوځئی. په دغه شپه خو بيا هم دومره اوشو بيا حضورﷺ هغوی اونه ليدلی. په دويمه شپه بيا دا دريواړه راغلی هغه وخت حضورﷺ اوده وو. خو د حضورﷺ اوده کيدل به داسې وو چه سترګې به ئې اودې وې اوزړه به ئې بيداروو اود ټولوانبياء کرامو عليهم السلام خوب هم داسې وی. په دې شپه هغوی حضورﷺ سره هيڅ خبره اونه کړه.حضورﷺ ئې اوچت کړو اود زمزم کوهی سره ئې سملولو اودهغه سينه ئې ترمرئی پورې پخپله جبرائيل ﷺپخپل لاس سره اوڅيرله اودسينې اوخيټې نه ټول څيزونه راوويستل اوهغه ئې پخپل لاس دزمزم په اوبوسره اووينځل کله چه ئې ښه پاك صفاکړل نوهغوی له يودسروزروپليټ راوړلی شو په کوم کښې چه د سرو زرو يوه پيالې وه چه د حکمت او ايمان نه ډکه وه. د دې نه ئې د حضورﷺ سينه اود مرئی رګونه ټول ډك کړل. بيائی سينه ورله اوګنډله. بيائی د دنيا آسمان ته اوخيژولودهغه ځائ دروازوکښې ئی يوه دروازه اوټکوله فرښتو تپوس اوکړوڅوك دی؟هغوی اوفرمائيل جبرائيل. تپوس اوشو چه تاسره څوك دې؟ وئی فرمائيل ماسره محمدﷺ دې. تپوس اوکړې شوچه تاسو رابللې شوی ئی؟جواب ملاوشو اوټول ډيرخوشحاله شواوپه مرحباسره ئې خپل ځان سره بوتلو.آسمانی ملائکو ته هم پته نه لګی چه په زمکه باندې الله ﷻ څه کول غواړی ترکومې چه هغوی ته اونه خودلې شی. حضورﷺ د دنيا په آسمان باندې حضرت آدم ﷺ اوليدلو. جبرائيل ﷺ د هغوی پيژندګلواوکړه چه دا ستا پلار (حضرت آدمﷺ) دې سلام اوکړه. حضورﷺ سلام اوکړو حضرت آدم ﷺ جواب ورکړو هرکلې ورته اووئيل اووئی فرمائيل چه ته زما ډير ښه ځوئ ئې. هلته ئې دوه روان نهرونه اوکتل نو حضورﷺ د جبرائيل ﷺ نه تپوس اوکړو چه دا نهرونه څرته دی؟هغه جواب ورکړو چه ددرياب نيل او فرات عنصر دې.بيا ئی هغوی آسمان کښې بوتلل حضور ﷺيو بل نهر اوليدلو په کوم چه لؤ لؤ اود مرغلرو بالاخانې وې د کوم خاوره چه خالص مشك ووتپوس ئی اوکړو دا کوم يونهردې؟ وئی وئيل دا نهر کوثردې دا پروردګار ستاسو د پاره تيارکړې دې. بيائی بل آسمان ته بوتلو د هغې ځائ فرښتو سره هم دغه خبرې اوشوې. بيائی دريم آسمان ته بوتلود هغه ځائ فرښتو سره هم دغه سوال جواب اوشو چه په اول آسمان او دويم آسمان باندې شوی وو. بيا هغوی څلورم آسمان ته بوتلې شو او هلته هم فرښتو دغه شان تپوس پوښتنه اوکړه اوجواب ورکړې شو. بيا پنځم آسمان ته بوتلې شو اوهم دا خبرې اوشوې واوريدلې شوې. بيا شپږم او بيا اووم آسمان ته بوتلې شو او هم دغه خبرې اترې اوشوې. په هرآسمان باندې د هغه ځائ انبياء کرامو سره ملاقاتونه اوشو د کومو نومونه چه حضورﷺ واخستل په هغې کښې ماته دا ياد دی. په دويم آسمان کښې حضرت ادريس ﷺ څلورم آسمان کښې حضرت هارون ﷺ د پنځم والا نوم ماته ياد نه دې په شپږم باندې حضرت ابراهيم ﷺ او په اووم باندې حضرت موسی کليم الله ﷺ (عليه وعلی سائر الانبياء صلوات الله وسلامه) کله چه حضورﷺ ددې ځائ نه هم اوچت لاړونوحضرت موسی ﷺ اووئيل يا الله زماخودا خيال وو چه زمانه به بل څوك نه اوچتوې.اوس هغوی ﷺ هغه اوچتوالي ته لاړل دکوم علم چه صرف يو الله ﷻ ته دې تردې چه سدرة المنتهی ته اورسيدلو اوالله ﷻ حضورﷺ سره ډير نيزدې شو په اندازه د دوو کمانونو (ليندو) بلکه د دې نه هم کمه فاصله باندې. بيا د الله ﷻ د طرف نه د حضورﷺ طرف ته وحی اوکړې شوه په کومه چه د حضورﷺ په امت باندې په هره ورځ او شپه کښې پنځوس مونځونه فرض کړې شو. کله چه حضورﷺ د هغه ځائ نه راکوز شو نو حضرت موسی ﷺ تپوس اوکړو چه څه حکم ملاوشو؟ وئی فرمائيل په شپه ورځ کښې پنځوس مونځونه. کليم الله ﷺ اوفرمائيل چه داستاد امت دطاقت نه بهر دی تاسو واپس لاړشئی او د کمې غوښتنه اوکړئی. حضورﷺ د حضرت جبرائيل ﷺ طرف ته اوکتل لکه چه مشوره اخلی د هغه اشاره هم ورته ملاوشوه که ستاسو

Scanned with Ca

مرضي وي نو هيڅ بدی په کښې نشته. حضورﷺ بيا الله ﷻ له لاړو او په خپل ځائ اودريدو او دعائي اوکړه ياالله مونږ ته کمې راکړه زما امت د دې طاقت نه لري. الله ﷻ لس مونځونه کم کړل. واپس راغلو حضرت موسی ؑ بيا راحصارکړو اودې اوريدو سره ئې اوفرمائيل چه لاړشه او نور هم کم کړه. بيا لاړو او بيائې کم کړل تردې چه دا پنځه مونځونه پاتې شو. حضرت موسی ؑ اوفرمائيل چه ګوره ما په بنی اسرائيلو کښې وخت تيرکړې دې راغلې يم د دې نه هم د کمو حکم وو خوبيا هم هغوی بې طاقته ثابت شو او هغه ئې پريخودل. ستاسو امت خود هغوی نه هم کمزورې دې د بدن په اعتبارسره هم اود زړه غوږونو سترګو په اعتبارسره هم تاسو بيالاړشئ او ددې کمې اوغواړئ حضوربيا حضرت جبرائيل ؑ ته اوکتل نو هغوی بيا پورته بوتلو. حضورﷺ الله ﷻ ته عرض اوکړو چه ياالله زما امت په بدن زړه غوږونو اوسترګو کمزورې دې مونږ سره نور هم کمې اوکړه هم دغه وخت الله ﷻ اوفرمائيل اې محمد! هغوی جواب ورکړو لبيك وسعديك. ونې فرمائيل واوره زما خبرې بدليږی نه کوم چه ما اوس مقرر کړې دی داما په ام الکتاب کښې ليکلې دی. داپنځه دی داداکولو په اعتبارسره او پنځوس دی د ثواب په اعتبارسره. کله چه حضورﷺ واپس شونوحضرت موسی ؑ تپوس اوکړوسوال منظورشو؟ حضورﷺ اوفرمائيل او کمې اوشو يعنی په پنځو باندې د پنځوسو ثواب ملاوشو. د هرې نيکئی ثواب لس چنده ثواب راکړې کيدو وعده اوکړې شوه حضرت موسی ؑ بيا اوفرمائيل چه ما د بنی اسرائيلو تجربه کړې ده هغوی د دې نه هم کم احکام پريخودې وو تاسو بيا لاړشئی اود پروردګار نه کمې اوغواړئی رسول الله ﷺ جواب ورکړو اې کليم الله ؑ زه لاړم راغلم اوس خوماته شرم شان ښکاری هغوی اوفرمائيل چه ښه ده اوس تشريف يوسه. بسم الله اوکړه. اوس چه کله حضورﷺ رابيدار شو نو هغوی په مسجدالحرام کښې وو. په صحيح بخاری کښې داحديث په کتاب التوحيدکښې هم دې اوپه صفة النبیﷺ کښې هم دې([1])هم داروايت د شريك بن عبدالله بن ابونمرنه نقل دې خو هغه اضطراب کړې دې د خپلې حافظه د کمزورئی په وجه بالکل ټيك ضبط نې نه دې ساتلې. د دې احاديثو په آخره کښې به د دې بيان ان شاء الله راشی. بعضې ددې واقعه ښه بيان کوی کيدې شی ددې جمله په وجه کومه چه د دې په آخره کښې ده. والله اعلم.

**آياحضورﷺ د معراج په شپه الله ﷻ اوکتلو؟**:-حافظ ابوبکربيهقی رحمه الله د دې حديث دا جمله چه کومه کښې دی بيا الله ﷻ دومره نيزدې شو او راکوزشو اوپه اندازه د دووکمانونو يانور هم نيزدې شو. د شريك نومی راوی هغه زياتې ښائی په کوم کښې چه هغه ځان له دې. د دې د پاره بعضې حضراتو وئيلې دی چه حضورﷺ په هغه شپه الله ﷻ اوليدلو. خو حضرت عائشه رضي الله عنها ابن مسعود رضي الله عنه او حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا آياتونه په دې باندې محمول کوی چه حضورﷺ حضرت جبرائيل ؑ اوليدلواو هم دا ډير صحيح دی. اود امام بيهقی رحمه الله فرمان بالکل حق دې. بل روايت کښې دی چه کله د حضورﷺ نه حضرت ابوذر رضي الله عنه تپوس اوکړو چه تاسو الله ﷻ اوليدلو نوحضورﷺ اوفرمائيل هغه نور دې هغه زه څنګه ليدلې شم. بل روايت کښې دی چه مانوراوکتلو([2])کوم چه په سورت النجم کښې دې﴿ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى﴾ ([3])يعنی بياهغه نيزدې شو اوراکوزشو دې نه مراد جبرائيل ؑ دې لکه څنګه چه د دې دريوارو صحابه کرامو رضي الله عنهم بيان دې. په صحابه کرامو کښې خو څوك هم د دې تفسير د هغوی مخالف نه ښکاری.

**د معراج واقعه اود امام احمد رحمه الله نقل کړې شوې روايت**:-مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی ماله براق راوستلې شوچه دخرنه اوچت او قچر نه ټيټ وو اويويوقدم به ئې دومره لرې لرې کيخودلو څومره

---

[1]) صحيح بخاری کتاب التوحيد باب ماجاء فی قوله تعالى ﴿وکلم الله موسى تکليما﴾ :٧٥١٧، صحيح مسلم:١٥٢.

[2]) صحيح مسلم کتاب الايمان باب فی قوله ؑ ﴿نورانی اراه﴾:١٧٨.

[3]) ٥٣/النجم:٨.

Scanned with Ca

لرې چه به د هغه نظر رسیدلو.زه په هغه باندې سورشوم اولاړو. زه بیت المقدس ته لاړم او په هغه کښې کښې مې اوتړلو په کومه کښې چه به انبیاء کرامو تړلو. بیا ما په جمات کښې دوه رکعته مونځ اداکړ کله چه د هغه ځائ نه اووتلم نو حضرت جبرائیل ﷺ ماله یولوښی کښې شراب راوړل او په یوکښې پئ راوړل.ماپئي خوښ کړل جبرائیل ﷺ اوفرمائیل چه ته فطرت ته اورسیدلې. بیا د پورتنی حدیث په شان اول آسمان ته اورسیدلو د هغې کولاویدو د فرښتو معلومات کول جواب ورکول په هریوآسمان باندې هم داسې اوشو. په اول آسمان باندې حضرت آدم ﷺ سره ملاقات اوشو هغه پخیرراغلې اووئیل او دعائې خیرئې اوکړه. په دویم آسمان باندې دحضرت یحیی ﷺ او حضرت عیسی ﷺ د ملاقات کیدو ذکر اوشو چه دواړه په خپل مینځ کښې د ترور ځامن وو. دې دواړو هم حضور ﷺ ته پخیر راغلې اووئیل اودخیر دعائی اوکړه.بیا په دریم آسمان باندې حضرت یوسف ﷺسره ملاقات اوشو چاته چه نیم حسن ورکړې شوې وو هغوی هم پخیرراغلې اووئیل اودعائی اوکړه. په څلورم آسمان باندې حضرت ادریس ﷺ سره ملاقات اوشو دچا باره کښې چه د الله ﷻ فرمان دې ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾ ([1])مونږ هغه پورته ځائ ته اوچت کړو.پنځم آسمان باندې حضرت هارون ﷺ سره ملاقات اوشو په شپږم آسمان باندې حضرت موسی ﷺ سره ملاقات اوشو. په اووم آسمان باندې حضرت ابراهیم ﷺ بیت المعمور ته تکیه لګولې ناست وو. بیت المعمور ته هره ورځ اویازره فرښتې راځی مګر چه نن کومې راشی د هغوی نمبر بیا د قیامت پورې نه راځی. بیا سدرة المنتهی ته اورسیدلو د کوم پاڼې چه د هاتی د غوږونو برابرې وې اود هغې میوې د منګی په شان. دا د الله ﷻ امر پټې کړې وې اود دې ښه والې څوك بیانولې نه شی. بیا دوحی کیدو اودپنځوسو مونځونو فرض کیدو اودموسی ﷺپه مشوره سره واپس کیدل په کمی کیدوکیدو سره دپنځو مونځونو پورې بیان دې. پدې کښې دهرځل په سوال باندې دپنځو مونځونو کمې ذکردې.په دې کښې داهم دی چه په آخر کښې حضور ﷺ اوفرمائیل چه څوك د نیکئی اراده اوکړی نو که هغه دااونه کړې شی نوهم به ورته د یوې نیکئی ثواب ملاویږی.اوکه وئی کړی نود لسو نیکو ثواب به ملاویږی اودګناه په صرف اراده به ګناه نه شی لیکلې اوبه کولوسره به یوه ګناه لیکلې کیږی([2]) (مسلم)

**څه رنګه چې اسرا حق دې دغه شان معراج همدې**:-د دې حدیث نه داهم معلومه شوه چه په کومه شپه حضور ﷺ ته اسراء دبیت الله نه بیت المقدس پورې اوشوه هم په هغه شپه معراج هم اوشواوهم داحق دی په دې کښې هیڅ شك نشته. مسنداحمد کښې دی چه د براق واګې هم وې اوزین پرې هم وو. کله چه هغه د سورلئ په وخت د قابونه بهرکیدلونو حضرت جبرائیل ﷺ اووئیل څه کوې والله! په تاباندې د حضور ﷺنه وړاندې دهغوی نه زیات بزرګ سړې نه دې سورشوې.نو براق خولې خولې شو([3]) حضور ﷺ فرمائی چه کله زه خپل رب طرف ته اوخیژولې شوم نوزماتیریدل په داسې خلقو باندې اوشو د کومو چه د تانبې نوکونه وو په کوموسره چه هغوی خپل مخونه اوسینې راشوکولې او غوسولې. ماتپوس اوکړو داڅوك خلق دی؟ جواب راکړې شودا هغه خلق دی چه د خلقو غوښې به ئې خوړلې یعنی غیبت به ئې کولو اود هغوی عزت پسې به لګیدلې وو. ([4])

**د معراج واقعه اود ابوداؤد نقل کړې شوې روایت**:-ابوداؤدکښې دی چه د معراج په شپه کله زه د حضرت موسی ﷺ قبرسره تیرشوم نو هغه ماهلته په مانځه ولاړ اولیدو.([5])حضرت ابوبکرصدیق ﷺ د حضور ﷺ

---

[1]) ١٩/مریم:٥٧.

[2]) صحیح مسلم کتاب الایمان باب الاسراء برسول الله ﷺالی السموات وفرض الصلوات:١٦٢، احمد:١٤٨/٣.

[3]) ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة بنی اسرائیل:٣١٣١، و احمد:١٦٤/٣، ابن حبان:٤٦، دلائل النبوة: ٣٦٢/٢.

[4]) ابوداؤد کتاب الادب باب فی الغیبة:٤٨٧٨ وسنده حسن، احمد:٢٢٤/٣.

[5]) صحیح مسلم کتاب الفضائل باب من فضائل موسی ﷺ:٢٣٧٥، احمد:١٢٠/٣، ابن حبان:٤٩.

نه د مسجد اقصى دننبوتپوس اوکړونو حضورﷺ خودل شروع کولې چه صديق اکبرؓ اوونيل تاسو ټيك ارشاد اوفرمائيلو او رښتونې ئې.زما ګواهي ده چه ته رسول الله ﷺ ئې.حضرت ابوبکرؓ دا ليدلې وو(١)مسندبزارکښې دی چه حضورﷺ ارشادفرمائيلې دې زه اوده ووم چه حضرت جبرائيلؑ راغلو او زماددواړو اوږوپه مينځ کښې ئې لاس کيخودونوزه اودريدم په يوه ونه کښې کيناستم په کوموکښې چه دمرغو کوورونه شان وويوه کښې حضرت جبرائيلؑ کيناستواوهغه ونه ګل شوه او اوچته شوه اودتردې چه که ما غوښتلې نو آسمان سره لګيدلم. خپل څادر مې ټيك کولو خوما اوکتل چه حضرت جبرائيلؑدسختې تواضع او عاجزئى په حال کښې دې نو زه پوهه شوم چه د الله ﷻ د معرفت په علم کښې دې مانه غوره دې.د آسمان يوه دروازه زماد پاره کولاوکړې شوه. مايوزبردست او عظيم الشان نوراوکتلوچه په پرده کښې وود هغې دې طرف ته ياقوت اومرغلرې وې بيازماطرفته ډير څه وحى کړې شو. دلائل بيهقى کښې دی چه حضورﷺ د خپل صحابه کرامو په ډله کښې ناست وو چه کله جبرائيل ؑ راغلو اودحضورﷺ ته په شاباندې په ګوته اشاره اوکړه.حضورﷺ هغه سره د يوې ونې طرف ته روان شو په کومه کښې چه د مرغو په شان جالې وې الخ. په دې کښې داهم دی چه کله زمونږ طرف ته نور راکوز شو نو حضرت جبرائيلؑ خو بې هوشه شو راپريوتلو الخ. بيازما طرف ته وحى اوکړې شوه چه نبى اوبادشاه جوړيدل غواړې که نبى او بنده کيدل غواړې او جنتى؟ حضرت جبرائيلؑ دغه شان په تواضع سره پريوتوکښې په اشاره سره ماته اوفرمائيل چه عاجزى اختيارکړه. نو ماعرض اوکړو ياالله نبى اوبنده جوړيدل منظورکوم.که دا روايت صحيح شى نو ممکن دى چه دا واقعه د معراج علاوه بله وى ځکه چه په دې کښې نه د بيت المقدس ذکر دې اونه په آسمان باندې د ختلو. والله اعلم.

**د ابن جرير روايت** :-د بزار په يوروايت کښې دی چه حضورﷺ خپل رب اوليدلوخودا روايت غريب دې. ابن جريرکښې دی براق چه کله د حضرت جبرائيلؑ آواز واوريدو او بياهغه دې سور کړو روان شونو هغه د لارې په يوه غاړه باندې يوه بوډئى اوليدله تپوس ئې اوکړو داڅوك ده؟ جواب ملاو شو چه زه نو بيا په تلوتلوکښې اوکتل چه څوك په لار باندې دې اوهغوى رابلې بيا هغه وړاندې شو نو چه وئې کتل چه د الله ﷻ يومخلوق دې چه په اوچت آوازسره وائى ﴿السلام عليك ياأول السلام عليك ياآخر السلام عليك ياحاشر﴾جبرائيلؑ اوفرمائيل جواب ورکړه حضورﷺدهغوى دسلام جواب ورکړو بياپه دويم ځل داسې اوشوبيا په دريم ځل داسې ارشوتردې چه حضورﷺ بيت المقدس ته اورسيدل. هلته د هغوى په وړاندې شراب اوبه اوپئ پيش کړې شو. حضورﷺ پئى واخستل جبرائيلؑ اووئيل تاد فطرت راز بياموندلو. که چرې تاسو د اوبولوښې اخستې وو اوڅکلې مو وې نو ستاسوامت به غرقيدو اوکه تاسو شراب څکلې وې نوستاسو امت به دهوکه کيدو.بيا دحضورﷺ دپاره دحضرت آدمؑ نه واخله ترهغوى پورې چه څومره انبياء دی راوليګلې شو. رسول الله ﷺ د هغوى امامت اوکړو او په دغه شپه ټولو مونځ د حضورﷺ په اقتداء کښې اداکړو. بيا حضرت جبرائيلؑ اوفرمائيل د لارې په غاړه چه کومه بوډئى تاسو اوليدله هغه ئې درته صرف دا خودل چه د دنياعمر اوس دومره پاتې دې لکه چه د دې بوډئى عمر اودچا په آواز چه تاسو توجوکوله هغه د الله ﷻ دښمن ابليس وو اود چا د سلام آوازونه چه تاسو اوريدل هغه ابراهيمؑ موسىؑ اوعيسىؑ وو(٢)په دې کښې هم په بعضې الفاظوکښې غرابت اونکارت دې. والله اعلم.

**د يوبل روايت ذکر**:-يوبل روايت کښې دی چه کله زه په براق باندې د حضرت جبرائيلؑ په ملګرتيا کښې لاړم نو يوځائ کښې هغه ماته اوفرمائيل دلته کوز شه مونځ اداکړه. کله چه ما مونځ اوکړو نو

(١) ابويعلى:٤٠٨٤، وسنده صحيح.
(٢) بيهقى فى الدلائل:٣٦٢/٢.

Scanned with Ca

وئی فرمائیل چه تاسو ته معلومه ده چه داکوم ځائ دې؟داطیبه یعنی مدینه ده. هم دغه ځائ د هجرت ځائ دې او بیائی په مایوبل ځائ مونځ اوکړو وئی فرمائیل دا طورسینا ده کوم ځائ چه الله ﷻ حضرت موسی ؑ سره خبرې کړې وې بیائی راباندې یوبل ځائ مونځ اوکړو وئی فرمائیل دا بیت اللحم دې کوم ځائ چه حضرت عیسی ؑ پیداشوې وو.بیا زه بیت المقدس ته اورسیدم هلته ټول انبیاء کرام راجمع شو حضرت جبرائیل ؑ زه امام جوړکړم. مادهغوی امامت اوکړوبیائی زه د آسمان طرف ته اوخیژولم بیا هلته د هغوی یویو آسمان ته رسیدل اودهلته دپیغمبرانو سره ملاقات ذکر دې. فرمائی چه کله زه سدرة المنتهی ته اورسیدم نو زه یونورانی اُوریځې راپټ کړم زه هم هغه وخت په سجده کښې پریوتلم. بیا په هغوی باندې د پنځوسو مونځونو فرض کیدل اود هغې کمیدلو وغیره بیان دې. په آخره کښې دموسی ؑ په بیان کښې دی چه زما په امت خو صرف دوه مونځونه فرض کړې شوې وو خو هغوی دا هم پوره نه کړل. بیا هغوی د پنځونه هم د کمولو د پاره تلې ووم نو اوفرمائیلې شو چه ما خود زمکې او آسمان د پیداکیدو په ورځ په تاباندې اوستا په امت باندې دا پنځه مونځونه فرض کړې وو.داپه لوستلو کښې پنځه او په ثواب کښې پنځوس دی نوته او ستا امت د دې حفاظت کوه. هغوی فرمائیل چه اوس زما یقین اوشو چه د الله ﷻ هم دا آخری حکم دې. بیا چه کله زه حضرت موسی ؑ له راغلم نو هغوی ماته بیا د واپس کیدو مشوره اوکړه خوما معلومه کړې وه چه داد الله ﷻ آخری حکم دې په دې وجه الله ﷻ له لاړ نه شوم.([1])

**د ابن ابی حاتم روایت :-** ابن ابی حاتم کښې هم د معراج د واقعه یو اوږدحدیث دې په دې کښې داهم دی کله چه حضورﷺ د بیت المقدس د هغه جمات دروازې ته اورسیدو کوم ته چه باب محمدﷺ وائی هلته یوکاڼړې وو هغې له حضرت جبرائیل ؑ ګوته یوړه په هغې کښې سورې اوشونوهغوی هلته براق اوتړلو او جمات ته ورواختل. کله چه مینځ ته اورسیدل نو حضرت جبرائیل ؑ حضورﷺ ته اووئیل چه تاد الله ﷻ نه دا غوښتنه کړې وه چه تاته حورې اوښائی؟ حضورﷺ اوفرمائیل چه او. راځئی هغه دادی سلام اوکړئی د صخره ګس طرف ته ناستې دی. زه چه هلته اورسیدم نو هغوی ته مې سلام اوکړو ټولو زما د سلام جواب راکړو.ماتپوس اوکړو تاسو ټولې څوک ئی؟ هغوی وئیل مونږ نیک سیرت او ښائسته حورې یومونږ بیبیانې یود الله ﷻ د هغه پرهیزګارانو بندګانو کوم چه نیک عملونه کوی.کوم چه د ګناهونو د خیرومیرونه لرې دی اوچه پاکولې به شی اومونږ له به راوستلې شی بیابه نه شی ویستلې هم مونږ سره به وی هیڅ کله به نه جدا کیږی او همیشه به ژوندی وی کله به مړه کیږی نه.زه د هغوی نه لاړم هلته خلق راجمع کیدل شروع شو په لږ ساعت کښې د ډیرو سړو یوه ګڼړه جوړه شوه. موذن اذان اوکړو تکبیراوشو مونږ ټول اودریدو په انتظار ووچه امامت به څوک کوی حضرت جبرائیل ؑ زما لاس اونیولو او زه ئی وړاندې کړم. ما هغوی ته مونځ اوکړوچه کله فارغ شو نو حضرت جبرائیل ؑ اووئیل پوهیږې هم چه تا مونځ ورکړو؟ وئی فرمائیل تا پسې ستا ټول مقتدیان د الله ﷻ پیغمبران وو کوم چه الله ﷻ مبعوث کړی دی بیائی زما لاس اونیولو اوآسمان طرف ته ئی بوتلم.بیابیان دې چه د آسمانونو دروازې کولاوشوې.فرښتوسره د سوال جواب کولونه دروازې وغیره کولاوشوې. په اول آسمان باندې حضرت آدم ؑ سره ملاقات اوشو هغوی اوفرمائیل زما خوئ او نیك نبی ته پخیرراغلې. په دې کښې په څلورم آسمان باندې دحضرت ادریس ؑ سره دملاقات ذکرهم دې. په اووم آسمان باندې د حضرت ابراهیم ؑ سره د ملاویدلو اود هغوی هم دغه فرمائیلوذکر دې کوم چه حضرت آدم ؑ فرمائیلې وو. بیا د هغه ځائ نه هم زه اوچت بوتلې شوم. ما یونهراولیدو په کوم کښې چه د لؤلؤ یاقوتو او زبرجد جامونه وو اوښکلې مزیدار شین رنګې مرغئی وې ما وئیل چه داخو ډیرې ښکلې مرغئی دی جبرائیل

---

[1] نسائی کتاب الصلاة باب فرض الصلاة وذکراختلاف الناقلین.....٤٥١ وسنده حسن.

Scanned with Ca

ﷺاوفرمائیل چه اوددې خوړونکی ددې نه هم ښه دی.بیا فرمائی معلومه هم ده چه دا کوم یو نهردې؟ ماوئیل نه نو وئی فرمائیل چه دا نهر کوثر دې چه الله ﷻ تاسو ته در کړې دې. په دې کښې د سرو زرو اوسپینو زرو لوټې وې په کومو چه یاقوت او زمرد وریبللي شوی وو د دې اوبه د پئیو نه زیاتې سپینې وې ما د سروزرو یوه پیالئی راواخسته داوبه نه مې ډکه کړه اومې څکله نوهغه دشاتونه هم زیاتې خوږې وې اودمشکونه هم زیاتې خوشبوداري وې. کله چه زه د دې نه هم اوچت لاړم نو یوښکلی رنګک اوریخ زه راګیرکړم په کوم کښې چه مختلف رنګونه ووجبرائیل ﷺ خوزه پریخودم او زه الله ﷻ ته په سجده شوم.بیادپنځوسومونځونو بیان دې بیاهغوی واپس شو.حضرت ابراهیم ﷺخو هیڅ اونه فرمائیل خو موسی ﷺ حضورﷺ یوه راپوه کړو اودکمې د غوښتودپاره ئې بیااولیګلو. غرض دا چه هم دغه شان د حضورﷺ باربارراتلل په اوریځ کښې پټیدل دعاغوښتل اوکمې کیدل.دحضرت ابراهیم ﷺ سره ملاویدل اوحضرت موسی ﷺ ته بیان کول اوتردې چه د پنځو مونځونو پاتې کیدلو بیان وغیره دې. حضورﷺ فرمائی چه جبرائیل ﷺ زه لاندې راکوز کړم نو ما هغه ته تپوس اوکړو چه کوم آسمان ته زه اورسیدم نود هغه ځائ فرښتو خوشحالی ښکاره کړه او په خنداخندا اومسکا ماسره ملاوشوې بغیرد یوې فرښتې چه هغې زماد سلام جواب خو راکړو ماته ئې پخیر راغلې هم اووئیل خو مسکې نه شو دا څوک وو اود دې څه وجه ده؟جبرائیل ﷺ اووئیل هغه مالك دې د دوزخ داروغه دې د خپل پیداکیدونه تر ننه پورې هغه هډو خندلې نه دی اود قیامت پورې به خاندی هم نه ځکه چه د هغه د خوشحالئی هم دایوه موقعه وه.په واپسئ کښې دقریشویوه قافله اولیدله چه غله ئې راباركړې وه روان وو.په هغې کښې یواوښ وو چه په هغه باندې نیم سپین اونیم توربوریا ووکله چه هغوی دې سره نیزدې تیرشونوهغه اوپرقیدو او واپس شوپریوتلواوګوډشو.حضورﷺدغه شان خپل ځائ ته اورسولې شو.

**ابو بکرصدیق ﷺ ته دصدیق ولې وئیلې کیږي؟**:-سحرحضورﷺخپل دمعراج داذکرخلقوته اوکړو. مشرکانو چه داواوریده نو نیغ حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ته لاړل او وئی وئیل چه ستاسو پیغمبر صاحب خو وائی چه هغه هم په نن یوه شپه کښې د یوې میاشتې برابر د فاصلې مقام ته تلې اوواپس راغلې دې. صدیق اکبرﷺ جواب ورکړو که په حقیقت کښې دا هغوی فرمائیلې وی نوهغوی رښتونی دی مونږ خود دې نه هم په لویه خبره کښې هغوی رښتونې ګڼړو مونږ دا منو چه هغوی له د آسمان نه په یوساعت کښې خبرې رارسی. مشرکانو حضورﷺ ته اووئیل چه ته د خپل صداقت څه نښه هم پیش کولې شې؟ حضورﷺ اوفرمائیل چه او ما په فلانکی فلانکی ځائ کښې د قریشو قافله لیدلې ده په هغې یو اوښ چه په هغې باندې په سپین او تور رنګک کښې دوه بورې دی هغه مونږ ته اوکتل وران شو چکر ئې اوخوړلو او راپریوتلو اوپښه ئې ماته شوه. کله چه هغه قافله راغله نو دې خلقو ترې تپوس اوکړو چه په لارکښې خو څه نوې واقعه نه ده پیښه شوې؟ هغوی وئیل چه او پیښه شوې ده فلانکې اوښ په فلانکی ځائ کښې داسې راپریوتلې وو وغیره. وئیلې شی چه د حضرت ابوبکرﷺ په دې تصدیق باندې هغوی ته صدیق وئیلې شی بیا د حضورﷺ نه خلقو سوالونه کول چه تاحضرت عیسی ﷺ او حضرت موسی ﷺ سره هم ملاقات اوکړو د هغوی شکلونه خو بیان کړه. حضورﷺاوفرمائیل چه او موسی ﷺ غنم رنګې دې لکه چه ازدعمان خلق دی اوحضرت عیسی ﷺ درمیانه قد او سوربخن رنګې دې اوداسې معلومیدل چه د ویښتونه ئې اوبه څڅیدلې. په دې سیاق کښې هم عجائب او غرائب دی.

**د معراج متعلق بل روایت**:-مسنداحمدکښې دی چه زه په حطیم کښې او بل روایت کښې دی په حجرکښې اوده ووم چه یوراتلونکې راغلو. یو مینځ والا ته اووئیل نو هغه ماله راغلو اود دې ځائ نه ئې د دې ځائ پورې اوڅیرلم یعنی د مرئی نه د نوم پورې . بیاد دې پورته بیان کړې شوو احادیثو په شان بیان دې. په دې کښې دی چه په شپږم آسمان باندې ما حضرت موسی ﷺ سره سلام اوکړې شو

Scanned with Ca

هغه جواب اوکړو نیك رور او نیك نبی ته دې هرکلې وی کله چه زه دهغه نه وړاندې شوم نو هغه په ژړا شو ما د هغه نه تپوس اوکړو څنګه دې اوژړل؟ جواب ملاو شو چه ماشوم زما نه پس نبی جوړ کړې شو اولیګلې شودهغه امت به زمادامت په نسبت جنت ته په ډیر تعدادکښې ځی. په دې کښې دی چه سدرة المنتهی سره ئې څلور نهرونه اولیدل دوه ښکاره او دوه پټ. ما د جبرائیل ﷺ نه تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل چه دا دوه پټ دجنت نهرونه دی او ښکاره د نیل او فرات دی. بیا زما طرف ته بیت المعمور اوچت کړې شوبیامالہ دشرابوپیئیو اوشاتولوښې راوړلې شو.مادپئیولوښې واخستلو اوفرمائیلې شودافطرت دې په کوم باندې چه ته ئې اوستا امت دې. په دې کښې دی چه کله پنځه مونځونه پاتې شو او بیا هم کلیم الله ﷺ د واپس کیدو مشوره ورکړه نوحضورﷺ اوفرمائیل چه زه خو د خپل رب نه په سوال کولوکولو شرمیږم اوس زه راضی یم او دا تسلیم کوم. ([1])

**د یوبل روایت ذکر**:-بل روایت کښې دی چه زما د کورچت کولاوکړې شو زه هغه وخت په مکه کښې ووم الخ. په دې کښې دی چه زه کله جبرائیلﷺ سره د دنیا آسمان ته اوختلم نو ماواوکتل چه یوصاحب ناست دې د چانه ښی طرف او ګس طرف ته چه ډیره ګڼړه ده اوچه ښی طرف ته اوګوری نو مسکې شی اوخاندی اوچه کله ګس طرف ته سترګې اوچتې کړی نو ژاړی. ماد حضرت جبرائیل ﷺ نه تپوس اوکړوچه دا څوك دې؟ اود هغه ښی اوګس طرف ته څوك دی. وئی فرمائیل آدم ﷺ دې اودا د ده اولاد دې. د ښی طرف والا جنتیان اود ګس طرف والا دوزخیان دی هغوی چه اووینی نو خوشحاله شی اودوی چه اوګوری نو خفه شی. په دې روایت کښې دی چه په شپږم آسمان باندې حضرت ابراهیم ﷺ سره ملاقات اوشو. هم په دې کښې دی چه اووم آسمان نه نور اوچت اورسولې شوم. مستوی ته چه اورسیدم نو ما د قلمونو د لیکلوآواز واوریدو. په دې کښې دی چه زه کله موسی ﷺ سره د مشورې نه پس د کمې د پاره لاړم نو الله ﷻ نیم معاف کړل بیالاړم بیانیم معاف شو بیالاړم نو پنځه مقرر کړې شو. په دې کښې دی چه د سدرة المنتهی نه جنت ته اورسولې شوم چرته چه د رښتیانود مرغلرو خیمې وې د کوم ځائ خاوره چه خالص مشك وو. دا پوره حدیث د صحیح بخاری کتاب الصلوة کښې دې او نور ذکر بنی اسرائیل کښې هم دې نوربیان حج کښې او نوراحادیث په سورت انبیاء کښې هم دی. امام مسلم ﷫ په صحیح مسلم کتاب الایمان کښې هم وارد کړی دی([2])مسنداحمدکښې دی حضرت عبدالله بن شقیق﷫ حضرت ابوذر ﷺ ته اووئیل که مارسول الله ﷺ لیدلې وې نوکم نه کم یوه خبره خو به مې ترې ضرورتپوس کوله.هغوی تپوس اوکړوچه کوم خبره؟وئیل چه هم دا چه تاسو الله ﷻ اولیدلو؟ نو حضرت ابوذر ﷺ اوفرمائیل چه داخوماتپوس کړې دې حضورﷺ جواب راکړو چه مادهغه نور اولیدلوزه هغه څنګه لیدلې شم؟([3]) یوبل روایت کښې دی چه هغه نور دې زه هغه دکوم ځائ نه لیدلې شم؟ په یوروایت کښې دی چه ما نور اوکتلو.([4])

**مشرکانود معراج د واقعه تصدیق اونه کړو**:-بخاری اومسلم شریف کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی کله چه مادمعراج دواقعه خلقوته ذکراوکړو اوقریشو زما تکذیب اوکړو هغه وخت زه په حطیم کښې ولاړوم الله ﷻ بیت المقدس زما د سترګو په وړاندې راوستلو اوهغه ئې بالکل ښکاره کړو. اوس چه هغوی زما نه دکومو نښو تپوسونه کول ما به ورته کتل او خودل به مې.([5])بیهقی کښې دی چه په بیت

[1] صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائکة صلوات الله علیهم:٣٢٠٧، صحیح مسلم:١٦٤،احمد:٢٠٨/٤، ابن حبان:٢٨.

[2] صحیح بخاری کتاب الصلاة باب کیف فرضت الصلاة فی الاسراء:٣٤٩- ٣٣٤٢، صحیح مسلم ١٦٣.

[3] احمد:١٤٧/٥، ابوعوانه:٣٨٤، ورواه مسلم:١٧٨ وهوصحیح.

[4] صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی قوله ﷺ((نورانی أراه))، احمد:١٧١/٥.

[5] صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب حدیث الاسراء:٣٨٨٦، صحیح مسلم:١٧٠؟.

Scanned with Ca

المقدس کښې حضورﷺ حضرت ابراهیمؑ سره حضرت موسیؑ اوحضرت عیسیؑ سره ملاقات اوکړو.پدې کښې دی چه کله واپس شو او خلقو ته ئې دا قصه بیانوله نو ډیر خلق په فتنه کښې پریوتل چاچه هغوی سره مونځ کړې وو د کفارو او قریشوډلې خو هم هغه وخت منډې جوړې کړې اوتختیدل اوحضرت ابوبکرصدیقؓ له اورسیدل او وئې وئیل چه راشه کنه نن خو ستا ملګرې یو عجیبه خبر اوروی وائی چه هم په یوه شپه کښې هغه بیت المقدس ته رسیدلې اوراغلې هم دې هغوی اوفرمائیل چه داحضورﷺ فرمائی نو ربښتیادی واقعی به داسې شوې وی. هغوی وئیل چه ښه ده ته دا هم منې چه دشپې لاړو اوډسرح نه وړاندې دشام دملك نه واپس مکې ته راورسیدو.هغه اوفرمائیل چه د دې نه هم زیات لویه خبره زه د هغه د دې نه مخکې هم منونکې راروان یم یعنی زه دا منم چه هغه له دآسمان خبر راځی اوهغه په دې تولوکښې ربښتونې دې.هم دهغه وخت نه دهغوی لقب حضرت ابوبکرصدیقؓ شو.

**د امام احمدؒ یونقل کړې شوې بل روایت** :-مسنداحمدکښې حضرت زر بن حبیشؒ فرمائی چه زه حضرت حذیفهؓ له راغلم هغه وخت هغوی د معراج واقعه بیانوله چه حضورﷺ فرمائیلی مونږ لاړو تر دې چه بیت المقدس ته اورسیدو. دواړه صاحبان دننه لاړنه شو. ما دې اوریدو سره اووئیل غلط دی رسول اللهﷺ دننه لاړو بلکه په هغه شپه هغوی هلته مونځ هم اوکړو. هغه وئیل ستا څه نوم دې تاخو زه پیژنم خو نوم دې راته یاد نه دې. ما وئیل زما نوم زربن حبیش دې وئې فرمائیل تا داخبره څنګه معلومه کړه؟ ماوئیل چه داخود قرآن پاك خبر دې وئې فرمائیل چه چاد قرآن نه خبره اوکړه هغه خلاصې بیاموندلواولوله کوم یوآیت دې ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ﴾ دا آیت ئې اولوستلو. وئې فرمائیل چه په دې کښې د کوم یولفظ دامعنی ده چه حضورﷺ هلته مونځ اوکړو؟ ګنې حضورﷺ هلته په هغه شپه مونځ نه دې کړې او که کړې وی نو په تاپسې به د هغه ځائ مونځ لیکلې کیږی څنګه چه د بیت الله دې. والله هغوی دواړه هم په براق باندې وو تردې چه د آسمان دروازې د هغوی د پاره کولاوشوې نو جنت دوزخ ئې اولیدلو اود آخرت وعدې اوکړې او ټول څیزونه بیا هم هغه شان واپس شو. بیا هغوی ښه اوخندل او وئې فرمائیل چه د مزې خبره خودا ده چه داخلق وائی هلته هغوی براق اوتړلو چه چرته اونه تختی سره د دې چه اللهﷻ عالم الغیب والشهادة هغه د دوی د پاره مسخرکړې وو. ما تپوس اوکړو چه جناب دا براق څه څیزدې؟وئې فرمائیل یوځناوردې داوږدقد چه یویوقدم دومره لرې ایږدی څومره لرې چه نظرکار کوی.(١) خودایادساتئ چه صرف د حضرت حذیفهؓ په انکاریاندې هغه روایتونه کوم کښې چه د بیت المقدس د مونځ ثبوت دې هغه مقدم دی. والله اعلم.

**د دلائل النبوت اوادږ روایت**:-دحافظ ابوبکر بیهقیؒ کتاب دلائل النبوة کښې دی چه یوځل د رسول اللهﷺ صحابه کرامو دحضورﷺ نه دمعراج د واقعه ذکرکولودرخواست اوکړو نو حضورﷺ خواول دا آیت ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ﴾ تلاوت کړو او وئې فرمائیل چه زه د ماسخوتن نه پس په جمات کښې اوده ووم چه یوراتلونکې راغلو زه ئې راپاسولم زه کیناستم خو څه مې اونه لیدل هلته څه ځناور شان په نظر راغلو ما په غورسره هغې ته کتل او برابر کتلوسره د جمات نه بهر لاړم. مایو عجیبه ځناور اولیدلوزمونږ په ځناوروکښې خود هغې په شان قچر دې خوزیدونکې او پورته اوچتیدو سره د غوږونو والا وو د هغې نوم براق دې مانه وړاندې انبیاء کرام هم په دې سواره شوی دی. زه په دې باندې سوریدو سره تلم چه زما ښی طرف ته چا آواز اوکړو چه محمدﷺ زما طرف ته اوګوره زه تانه څه تپوس کوم. خو مانه جواب ورکړواونه زه حصارشوم. بیا چه لږ شان نوروړاندې شوم نودګس طرفنه آواز راغلو هلته هم نه اودریدم

(١) ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة بنی اسرائیل:٣١٤٧، وسنده صحیح، احمد:٣٨٧/٥، حاکم:٣٥٩/٢، ابن حبان:٤٥ ، دلائل النبوة: ٣٦٤/٣.

Scanned with Ca

اونه مې اوکتل نه مې جواب ورکړو. بیا لږ نور وړاندې لاړم یوه ښځه چه د دنیا سنګارونې کړې زلفې کولاوکړې ولاړه ده هغې ماته هم داسې آواز راکړو چه زه څه معلومات کول غواړم. خو ما نه د هغې طرف ته توجه ورکړه او نه اودریدم.بیادحضورﷺ بیت المقدسته رسیدل دپښیولوښې اخستل او د حضرت جبرائیلؑ په فرمان کولوسره خوشحالیدل دوه خل تکبیرونیل دی بیاحضرت جبرائیلؑ تپوس اوکړو چه ستاسو په مخ دا پریشانی د څه ده؟ ماد لارې هغه دواړه واقعات بیان کړل نو هغوی اوفرمائیل چه ړومبې سړې خو یهودې وو که تاسو هغه له جواب ورکړې وو یا حصارشوې وئی نو ستاسوامت به یهودیان شوی وو.بل دنصرانیانو دعوت ورکونکې وو که هلته تاسو ولاړونی اوهغه سره موخبرې کړې وې نوستاسو امت به نصرانی شوې وواوهغه ښځه چه وه نوهغه دنیا وه که تاسوهغې ته جواب ورکړې وو یا ولاړونی اوهغې سره مو خبرې کړې وې نو ستاسو امت به دنیاله په آخرت باندې ترجیح ورکوله اوګمراه کیدلو به. بیا زه اوحضرت جبرائیلؑ بیت المقدس ته لاړو مونږ دواړو دوه دوه رکعتونه اداکړل بیازمونږ مخې ته معراج راوړلې شو په کوم چه دبنیادمو روحونه خیژی. هم دې پاوړې ته په کتو باندې په حیرانتیاسره دواړه پورته اوختلو ماد اسماعیل نومې فرښتې سره ملاقات اوکړو چه ددنیاد آسمان سرداره ده. دکومې دلاس دتلې لاندې چه اویازره فرښتې دی هرې یوې فرښتې سره د هغې د لښکر فرښتو تعداد یولاکهه دې. د الله ﷻ فرمان دې چه ستا درب لښکرې صرف هم هغه پیژنی.(١)حضرت جبرائیلؑ د آسمان دروازه کولاوول غوښتل نوتپوس اوکړې شو څوك ئی؟ وئیل جبرائیل.تپوس اوکړې شو تاسره نور څوك دی؟ وئیل حضرت محمدﷺ دې. وئیل آیاد ده طرف ته لیګلې شوې وې؟ جواب ورکړې شو او. هلته ما حضرت آدمؑ په هغه شکل کښې اولیدو کوم کښې چه په هغه ورځ وو په کومه ورځ چه الله ﷻ هغه پیداکړې وودهغه په اصلی شکل باندې. د هغه په وړاندې د هغه د اولاد روحونه پیش کولې شی د نیکانو خلقوروحونوته په کتو سره فرمائی پاك روح دې او پاك بدن دې دا علیین ته یوسئی. اود بدکارو روحونوته چه اوګوری نو فرمائی دا خبیث روح دې بدن هم خبیث دې دا سجین ته یوسئی. لګ شان به تلې ووم چه ما اوکتل خوانچې لګیدلې وې په هغې باندې ډیره ښکلې اومزیداره غوښه سره کړې پرته وه او بل طرف ته نورې خوانچې لګیدلې وې په کوموکښې چه سخا مرداره بوئی والا غوښه پرته وه.څه خلق وو چه د هغه ښکلې غوښې خواته هم نه راتلل اوهغه مرداره سخا غوښه ئی خوړله. ماتپوس اوکړو جبرائیلؑ دا کوم خلق دی وئی فرمائیل چه ستاسودامت هغه خلق دی چه حلال پرېږدی او حراموته رغبت کوی. بیازه لږ شان نور لاړم نو څه نور خلق مې اولیدل د هغوی شونډې لکه د اوښ په شان دی اودهغوی خلې په شلولوشلولوسره فرښتې هغوی له د دغه غوښې نوړنې ورکوی اودهغوی په دویمه لار واپس راوځی. هغوی چغې صورې وهی الله ﷻ ته عاجزی کوی ماتپوس اوکړو جبرائیلؑ داکوم خلق دی؟ فرمائی چه داستاد امت هغه خلق دی چه دیتیمانو مالونه به ئی په ناحقه سره خوړل. کوم خلق چه د یتیمانو مالونه په ناحقه سره خوری هغوی په خپلو خیټو کښې اُور اچوی اوهغوی به خامخا په سور کړې شوی اُورکښې د دوزخ وراچولې شی.زه لږ شان نور لاړم اومې کتل چه څه ښځې دی چه دخپلو سینو ته زوړندې شوی دی او افسوس او ژړاګانې کوی. زما په تپوس کولوباندې جواب راکړې شو چه دا ستاد امت زناکارې ښځې دی.زه بیا نورلږ شان لړې لاړم اومې کتل چه دڅه خلقو خیټې دغټو غټو منګوپه شان دی کله چه هغوی اوچتیدل غواړی نو راپریوځی او باربار وائی چه یاالله قیامت مه قایموې فرعونی څناورو باندې هغوی چقړې کولې شی د الله ﷻ په وړاندې فریاد او زاری کوی. ماتپوس اوکړو دا کوم خلق دی حضرت جبرائیلؑ اوفرمائیل دا ستاد امت هغه خلق دی چه سود به ئی خوړلو. سودخواره به د هغه خلقو په شان ولاړ

(١) ٧٤/المدثر:٣١.

وی کوم چه شیطان لیونی کړی دی.زه لږ شان نور لړې لاړم اومې کتل چه څه خلق دی دهغوی د اړخونو
نه غوښې پریکولې شی او هم په هغوی خوړلې شی اوورته ونیلې شی چه څنګه دې په ژوندون د خپل
رور غوښه خوړله اوس هم خوره. ماتپوس اوکړو جبرائیل ﷺ دا کوم خلق دی؟ وئی فرمائیل دا ستا د
امت عیبونه لټونکی او فضول ګرځیدونکی خلق دی.بیامونږ دویم آسمان ته اوختلونو ما هلته یو
ښکلې اوښائسته سړې اولیدلوچه په نوروښکلوخلقوباندې هغه اهمیت لری کوم فضیلت چه سپوږمئی
ته په ستورو باندې دې.ما تپوس اوکړو جبرائیل ﷺ دا کوم خلق دی ونی فرمائیل ستاسو رور حضرت
یوسف ﷺ دې اوورسره دهغه د قوم څه خلق دی.ما هغوی ته سلام اوکړو هغوی جواب راکړو.بیا مونږ
دریم آسمان ته اوختلوهغه موکولاوکړوحضرت یحیی ﷺ اوحضرت عیسی ﷺ مو اولیدلو هغوی سره
د هغوی دقوم څه خلق وو.ما هغوی ته سلام اوکړو هغوی جواب راکړو.بیازه څلورم آسمان ته اوختلم
هلته مې حضرت ادریس ﷺ اولیدلو څوك چه الله ﷻ اوچت مقام ته اوچت کړې دې. ما سلام اوکړو
هغه جواب راکړو بیا پنځم آسمان ته اوختلم هلته هارون ﷺ وو دهغه نیمه ږیره سپینه وه او نیمه توره
وه اوږیره اوږده ږیره ئې وه نیزدې نیزدې تر نامه پورې وه ما د حضرت جبرائیل ﷺ نه تپوس اوکړو
هغوی وئیل دا د خپل قوم د هر زړه خوښ حضرت هارون بن عمران ﷺ دې. ده سره د ده د قوم ډله ده.
هغوی هم زما د سلام جواب راکړو.بیا زه شپږم آسمان ته اوختلم هلته زما موسی ﷺ سره ملاقات
اوشوهغه غنم رنګې غوندې وو ویښته ئې ډیر زیات وو که چرې دوه قمیصونه ئې هم اغوستې وې نو
ویښته به ئې د هغه نه تیریدل. هغوی ونیل خلق خیال کوی چه زما د الله ﷻ سره ډیره لویه مرتبه ده
حالانکه دې زما نه د لوئ مرتبې والادې. د جبرائیل ﷺ نه په معلومولو سره پته اولګیدله چه دا
حضرت موسی بن عمران ﷺ دې. هغوی سره هم د خپل قوم خلق وو هغوی هم زما د سلام جواب
راکړو. بیازه اووم آسمان ته اوختلم ما خپل پلارحضرت ابراهیم ﷺ خلیل الله خپله شا بیت المعمور ته
لګولې ناست اولیدلو.هغه ډیرښکلې سړې دې.په تپوس کولو باندې ماته دهغه نوم معلوم شو. ما
سلام اوکړو هغه جواب اوکړو ما خپل نیم امت اولیدلو د نیم خو سپینې بطناکې کپړې وې اود نیم
سختې تورې کپړې وې. زه بیت المعمور ته لاړم. ما سره ټول سپینو کپړو والا لاړل اونور د چا چه خړې
کپړې وې هغه ټول رامنع کړې شو هغوی هم په خیردی. بیا ټول هلته مونځ اداکړو او بیا ټول بهر
راغلل.دې بیت المعمورکښې هره ورځ اویازره فرښتې مونځ کوی خوچه چا یوه ورځ مونځ اداکړو د
هغې د قیامت پورې نمبر نه راځی. بیا زه سدرة المنتهی ته اوچت کړې شوم د هغې هره یوه پاڼره دومره
وه چه زما ټول امت پټولې شی. دې نه یو نهر روان وو د هغې نوم سلسبیل دې بیا د دې نه دوه چینې
راوځی یونهر کوثر او بل نهر رحمت. ما په دې کښې غسل اوکړو زما ټول وړاندې روستوګناهونه
معاف کړې شو.بیازه جنت طرفته اوخیژولې شوم هلته ما یوه حوره اولیدله د هغې نه مې تپوس اوکړو
ته دچا ئې؟هغې وئیل زه دحضرت زید بن حارثه رضي الله عنه.ماهلته نه خرابیدونکی اوبو او خوند نه بدلونکی
پئیو بې نشې خوندناك شراب اود صفاستراشاتو نهر اولیدلو.د هغې انار د لویو لویو ډولچو برابر
وو.دهغې مرغئی ستاسود دې بختی اوښانو په شان وې. بې شکه الله ﷻ د خپل نیکانو بندیګانو د
پاره هغه نعمتونه تیارکړی دی چه نه یوې سترګې لیدلی نه یوغوږ اوریدلی اونه د یو انسان په زړه
کښې د هغې خیال پورې تیرشوې. بیا زما په وړاندې دوزخ پیش کړې شو چرته چه د الله ﷻ غضب اود
الله ﷻ ناراضګی وه که په دې کښې کاڼړی او اوسپنه واچولې شی نو هغه به دا هم اوخوری. بیا زما د
مخې نه هغه بندکړې شو. زه بیا سدرة المنتهی ته اورسولې شوم او زه نې پټ کړم نو زما اود هغه په
مینځ کښې صرف د دوو کمانونو په اندازه یاد دې نه هم کمه فاصله پاتې شوه. د سدرة المنتهی په هره
یوه پاڼره باندې فرښته راغله اوپه ماباندې پنځوس مونځونه فرض کړې شو او اوفرمائیلې شوچه ستا
دپاره دهرې نیکئی په عوض لس درجې ثواب دې. چه ته کله د یوې نیکئی اراده هم اوکړې او کړې دې

Scanned with Ca

نه وی خو بیابه هم نیکی لیکلې شی. اوکه اودې کړه نو د یوې په کولو به لس نیکئی لیکلې کیږی. اود بدنی صرف په اراده کولو به بغیرد کولو هیڅ نه شی لیکلې اوکه اودې کړه نو صرف هم یوه بدی به شمیرلې کیږی.بیاحضرت موسی ﷺ له راتلل هغه سره د مشورې کولواودکمې کیدلوذکر دې لکه څنګه چه بیان تیرشو.آخرچه کله پنځه پاتې شو نوفرښتې آواز اوکړو چه زمافریضه پوره شوه ما په خپلو بندیګانو باندې کمې اوکړو اوهغوی له په هره یوه نیکئی باندې داسې لس بدلې دی. حضرت موسی ﷺ دې ځل هم ماته د بیا تلومشوره راکړه نو دې ځل ما اوونیل چه اوس خو ماته بیاورتلوکښې څه شرم غوندې ښکاری.بیاحضور ﷺ سحرددې عجائباتو په مکه کښې ذکر اوکړو چه زه په دې شپه کښې بیت المقدس ته لاړم اوآسمانونوته اوختم اودا مې اوکتل اودامې اوکتل.په دې باندې ابوجهل بن هشام اوونیل ګوره دتعجب خبرې ته چه مونږ خو اوښان په وهلو وهلو بیت المقدس ته پوره میاشت کښې رسو او پوره میاشت په واپس کیدو کښې لګی اودې وائی چه دپوره دوو میاشتو فاصله ئی په یوه شپه کښې طې کړې راغلی.حضور ﷺ اوفرمائیل چه واورئی دتلو په وخت کښې ماستاسو قافله فلانکی ځائ کښې لیدلې وه اودراتلوپه وخت کښې هغه ماته په عقبه کښې ملاوشوې وه. واورئ په دې کښې فلانکې فلانکې سړې دې اوفلانکې فلانکې رنګ کښې اوښان دی اوهغوی سره داسامان دې. ابو جهل ونیل چه خبرې خو کوې ګورو چه څنګه به راوځی؟ په دې کښې یوسړی اوونیل زه تاسوټولونه د بیت المقدس حال ښه پیژنم دهغې دعمارت حال دهغې شکل اوصورت اودهغې غرسره نیزدیوالې وغیره اوښایه.درسول الله ﷺ نه حجابونه اخواکړې شو اولکه مونږ چه په کورکښې ناست یو د کور ځیزونو ته ګورو دغه شان د هغوی په وړاندې بیت المقدس مخامخ کړې شو.حضور ﷺ اوفرمائیل د دې جوړخ په دې ډول دې د دې شکل داسې دې هغه غر سره دومره نیزدې دې وغیره. هغه ونیل بې شکه ته رښتیاوائې. بیا هغه د کافرانو د ډلې طرف ته اوکتل او وئی وئیل محمد ﷺ په خپله خبره کښې رښتونې دې یاځه داسې الفاظ ئی اووئیل. (١)

دا روایت په نورو کتابونوکښې هم دې. مونږ سره د دې د غربت اونکارت او ضعف د دې د پاره بیان کړو چه په دې کښې د نورو احادیثو ډیر شواهد دی اود دې د پاره هم چه په بیهقی کښې دې چه جابر بن ابی حکیم وائی چه ما په خوب کښې رسول الله ﷺ اوکتلو تپوس مې اوکړو چه حضور ﷺ ستاسو په امت کښې یوسړې دې کوم ته چه سفیان ثوری وئیلې شی په هغه کښې څه حرج خو نشته؟ هغوی اوفرمائیل هیڅ حرج نشته مابیادنورواویانو نومونه بیانولو سره عرض اوکړو چه هغوی ستاسو حدیث بیانوی چه تاسو فرمائیلی دی چه تاسو ته په یوه شپه کښې معراج شوې دې تاسو په آسمان کښې اوکتل الخ. هغوی اوفرمائیل او ټیک ده.ماوئیل حضور ﷺ استاسو دامت خلق ستاسود طرف نه د معراج واقعه کښې ډیرې عجیبه او حیرانونکې خبرې بیانوی. هغوی اوفرمائیل اوهغه خبرې د قصې بیانونکو خلقو دی. (٢)

**د امام ترمذی رحمه الله روایت** :-ترمذی شریف کښې دی چه حضرت شدادبن اوس ﷺ فرمائی چه مونږ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو یارسول الله ﷺ! د خپل معراج حالت خو بیان کړئی. حضور ﷺ اوفرمائیل واورئی ما خپلو ملګروته د ماسخوتن مونځ ناوخته اوکړو.بیاحضرت جبرائیل ﷺ ماله یود سپین رنګ ځناور راوستلودخرنه اوچت او قچرنه ټیټ اوماته ئی اوونیل چه په دې سورشه. هغه سختئی شان اوکړه نوهغه د ده غوږ تاوکړو او زه ئی په ده باندې سور کړم. په دې کښې په مدینه کښې د مونځ کولو اوپه مدین کښې هغه ونې سره د مونځ کولو ذکر دې کوم ځائ چه حضرت موسی ﷺ حصارشوې وو.

---

(١) دلائل النبوة:٢/٣٩٠، ٣٩٦.

(٢) بیهقی فی الدلائل:٢/٤٠٥،.

بيا په بيت اللحم کښې د مونځ کولوذکر دې کوم ځائ چه حضرت عيسى ؑ پيداشوې وو. بيابيت المقدس کښې د مونځ کولو ذکر دې هلته د سختې تندې لګيدو او دپئيو شاتو لوښې راتلل او په ډکه خيټه دپئيوڅکلو ذکر دې فرمائى چه هلته يوشيخ تکيه لګولې ناست وو هغه وئيل چه دې فطرت ته اورسيدو اولارموندونکې دې. بيا مونږ يو وادئى ته راغلو هلته ما دوزخ اوليدلو چه د سختې سرې کړې شوې سروتکې په شان وو بيا په واپس کيدوکښې مونږ دقريشو فلانکى ځائ کښې قافله ملاو شوه چه د خپل ورك شوى اوښ په لټون کښې وو.ما هغوى ته سلام اوکړوبعضې خلقو زما آواز هم اوپيژندلواوخپل مينځ کښې اووئيل چه دا آواز خوبالکل دمحمد ﷺ په شان دې. بيا د سحر نه وړاندې زه د خپلو ملګروسره مکې مکرمې ته اورسيدم. ماله ابوبکر ؓ راغلو وئى وئيل يارسول الله ﷺ تاسو د شپې چرته وئې؟ کوم کوم ځائ کښې چه مې خيال وو هغه ټول مې اولټول خوتاسو ملاونه شوئى. ماوئيل چه زه خودشپې د بيت المقدس نه راغلم وئيل هغه خود دې ځائ نه د يوې مياشت په فاصله دې. ښه ده د هغه ځائ څه نښې راته بيان کړه. هم هغه وخت هغه زما مخې ته کړې شو لکه چه هغه ما ليدلو اوس چه مانه کوم يوهم سوال کيدلو ما به کتلو او جواب به مې ورکولو. نو ابوبکرصديق ؓ اووئيل چه زما ګواهى ده ته د الله ﷺ رښتونې رسول ئې خودقريشو کافرانو خبرې جوړولې ابن ابى کبشه ته ګوره چه وائى اوګرځى چه په يوه شپه کښې دبيت المقدس نه راغلم.حضور ﷺ اوفرمائيل واورئى زه تاسوته يوه نښه ښايم. ستاسو قافله ما په فلانکى ځائ کښې اوليدله. د هغوى يواوښ ورك شوې وو کوم چه فلانکى سړى راوستلو. اوس هغوى په دومره فاصله باندې دى چه د هغوى يومنزل به په فلانکى ځائ کښې وى اوبل فلانکى ځائ کښې او هغوى به فلانکې ورځ باندې دلته راورسى. د هغوى په قافله کښې دټولونه وړاندې غنم رنګې اوښ دى په کوم چه تور ځل پروت دې او دوه تورې بورئى دواړو طرفوته بارشوى دى.کله چه هغوى راغله او کومه ورځ حضور ﷺ د هغوى د قافلې راتلو خودلې وه نوغرمه خلقو دښارنه بهر ته منډې وهلې راغله چه اوګورى دا ټولې خبرې رښتيادى؟ چه وئى کتل نو قافله راروانه ده اوهم هغه اوښ ترې وړاندې دې([1])هم دغه روايت په نوروکتابونوکښې ډير اوږد هم نقل دې اوپدې کښې ډيرې خبرې منکر هم دى.مثلاً بيت اللحم کښې دحضور ﷺ مونځ اداکول دحضرت صديق اکبر ؓ د بيت المقدس د نښومعلومول وغيره. د ابن عباس ؓ په روايت کښې دى چه کله حضور ﷺ د معراج په شپه جنت ته تشريف يوړلو نود يوطرف نه د پښو د کشارى آواز راغلو. حضور ﷺ تپوس اوکړو جبرائيل ؑ دا څوك دى؟ جواب ملاؤ شو بلال ؓ موذن دې. حضور ﷺ چه واپس راغلو نووئى فرمائيل بلال ؓ تاخلاصې بياموندو ما داسې ليدلې ئى. په دې کښې دى چه حضرت موسى ؑ دملاقات په وخت کښې اوفرمائيل نبى امى ته هرکلې. حضرت موسى ؑ غنم رنګې اوږدقددغوږونو پورې يادغوږونونه لږشان اوچت ويښته ئى وو.پدې کښې دى چه هريونبى هغوى ته ړومبې سلام کړې. د دوزخ د کتلوپه وخت کښې حضور ﷺ اوکتل چه څه خلق د مردارې غوښه خورى. تپوس ئى اوکړو دا کوم خلق دى؟ جواب ملاوشو چه کومو خلقو به د خلقو غوښې خوړلې(يعنى غيبت کونکى وو) هم هلته حضور ﷺ يوسړې اوليدو چه پخپله د اور په شان تك سور شوې وو سترګې ئى کږې شوې وې تپوس ئى اوکړو داڅوك دې؟جبرائيل ؑ جواب ورکړو چه هم دا هغه کس دې چه د صالح ؑ اوښه ئى وژلې وه([2])مسنداحمدکښې دى چه کله حضور ﷺ بيت المقدس ته اورسولې شو د هغه ځائ نه هم په يوه شپه کښې واپس مکې مکرمې ته راورسولو اوهغوى ﷺ داخبر خلقو ته واورولو د بيت المقدس نښې اوخودلې د هغوى د قافلې خبرئى ورکړونو بعضې خلقودې وينا کولوسره چه مونږپه

[1]) دلائل النبوة:٢/٣٥٥، ٣٥٧ وقال البيهقى هذااسنادصحيح، وسندحسن، المعجم الكبير:٧١٤٢، مجمع الزوائد:١/٧٣
[2]) احمد:١/٢٥٧،

Scanned with Ca

داسې خبروکښې هغه رښتوني نه شومنلې نود اسلام نه واوختل. بیادا تول ابوجهل سره قتل کړې شو. ابوجهل وئیل چه دې مونږ د زقوم د ونې نه ویروی راځئې کهجورې اوکوچ راوړئې او یوځای کړئې وئې خورئې. حضورﷺ په هغه شپه دجال د هغه په اصلی شکل کښې اولیدلو او په سترګوسره لیدل نه چه په خوب کښې لیدل.حضرت عیسیٰؑ حضرت موسیٰؑ او حضرت ابراهیم ؑ ئې هم اولیدلو. د د جال شکل حضورﷺ بیانولوسره اوفرمائیل خراب مردار کاڼړې یو سترګې دې اودهغه یوه سترګه داسې ده لکه ستورې اوویښته ئې داسې دی کله دیوې ونې ګنړښاخونه.دحضرت عیسیٰ ؑ صفت حضورﷺ داسې بیان کړو چه هغه سپین رنګ ګورګوچې ویښته درمیانه قد دې.اوحضرت موسیٰ ؑ غنم رنګې اومضبوط طاقتورسړې دې اوحضرت ابراهیم ؑ خو بالکل هوبهوهم زما په شان وو.الخ. ([1])

**د یوبل روایت ذکر**:-یوبل روایت کښې دی چه حضورﷺ مالك هم چه د د دوزخ داروغه دې اولیدلو په هغه نښوکښې کومې چه الله ﷻ هغوی ته خودلې وې. بیاحضرت ابن عباس ؓ د حضورﷺ د تره ځوئ د قرآن دا آیت ﴿ فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ ﴾ ([2])اولوستلودکوم تفسیرچه حضرت قتاده داسې کوی چه دموسیٰؑ په ملاقات کیدلوکښې خو شك مه کوه مونږ هغه یعنی موسیٰ ؑ د بنی اسرائیلو د هدایت د پاره لرلې وو([3])دا روایت صحیح مسلم کښې هم دې. بل سندسره روایت دې چه حضورﷺ فرمائی د معراج په شپه د یومقام نه ماته ډیره ښکلې او مسته خوشبو راغله. ماتپوس اوکړو دا خوشبوځنګه ده. جواب ملاوشو چه د فرعون د جینئی مشاطه اود هغې د بچی د محل ده. د فرعون د لور شهزادګئی ویښته ئې ګمنزولوکښې د لاس نه ګمنزه پریوتله نود هغې د خُلې نه ناڅاپې بسم الله اووتله. په دې باندې شهزادګئی اووئیل چه الله خوزما پلار دې هغې جواب ورکړو چه نه الله ﷻ خوهغه دې چه ماته تاته او پخپله فرعون ته روزی ورکوی نو هغې وئیل چه ښه ده ته زما د پلارنه بغیربل څوك خپل رب ګڼړې؟ هغې جواب ورکړو چه او زما ستا اوستاد پلار اوټولورب هم الله ﷻ دې. هغې خپل پلار ته اووئیل نو هغه ډیر غصه شو او هم هغه وخت کښې ئې هغه په ډك دربارکښې راوغوښتله ورته ئې اووئیل چه ته زما نه بغیربل څوك رب منې؟ هغې وئیل چه او زما اوستا رب هم الله ﷻ دې چه اوچت ذات دې اود بزرګئی والا دې. فرعون هم هغه وخت حکم اوکړو چه د تانبې کوم کړې جوړ شوې دې چه کله بالکل د اُور په شان سور شی او ښه ګرم شی نود دې بچی یویو په دې کښې ورواچوئی. په آخره کښې داپخپله هم دغه شان وراوغورزوئی. هغه ګرم کړې شو اوچه کله د اُور په شان شونو حکم اوشوچه د دې بچی په کښې یو یواچول شروع کړه. هغې وئیل بادشاه زما یودرخواست منظورکړه زما اوزما د بچوهډوکی په یوځای باندې واچوه. هغه وئیل چه ښه ده ستا حقونه په مابادنې شته نو دا منظور شو. کله چه ټول بچی په دې کښې واچولې شو اوټول هیره کړې شو نود ټولونه د وړوکې نمبرراغلو کوم چه دمورسینې پورې وو او پئی ئې څکل. د فرعون سړو چه کله هغه رابښکلونود دې نیکې بی بی د سترګولاندې تیاره خوره شوه. الله ﷻ هغه ماشوم ته هم هغه وخت ژبه ورکړه اوهغه په اوچت آوازسره اووئیل مورې افسوس مه کوه مورې هیڅ ډیل ډال مه کوه په حق باندې خپل ځان قربانی کول د ټولونه لویه نیکی ده. هغې له صبرراغلو هغه ئې هم دې کړی کښې واچولو اوپه آخره کښې د دې بچومور هم داد خوشبوئې بویونه هم د هغې د جنتی محل نه راځی. حضورﷺ د دې واقعه سره دا بیان اوفرمائیلو چه څلورو وړوماشومانو په زانګوکښې خبرې کړی یوخو دې ماشوم یوهغه ماشوم کوم چه د حضرت

---

[1]) احمد:۱/۳۷٤، وسنده حسن السنن الکبری للنسائی:۱۱۲۸۳، مسندابی یعلی:۲۷۲۰.

[2]) ۳۲/السجده:۲۳.

[3]) صحیح مسلم کتاب الایمان باب الاسراء برسول الله ﷺ الی السموات وفرض الصلوات :١٦٥، دلائل النبوة:۳۸٦/۲، صحیح بخاری :۳۲۳۹ مختصراً.

Scanned with Ca

یوسف ﷺ د بې ګناهنی ګواهي ورکړې وه اویوه هغه ماشوم کوم چه د حضرت جریج ولی الله د پاکې لمن ګواهي ورکړې وه او حضرت عیسی ﷺ بن مریم.(١) د دې روایت سندبې عیبه دې.

**یوبل روایت:**-یوبل روایت کښې دی چه د معراج والا د شپې په سحریاندې ماته دا یقین وو چه کله زه دا ذکر خلقو ته کوم نوهغوی به ما دروغ ګڼړی نو حضورﷺ یوطرف ته غمژن کیناستو. هم هغه وخت د الله ﷻ دښمن ابوجهل حضورﷺ سره تیرشو او ورسره کیناستو او د ټوقومسخرو په توګه نی اووئیل چه وایه کنه څه نوې خبره ده؟ حضورﷺ اوفرمائیل او شته. هغه وئیل څه خبره ده؟ حضورﷺ وئیل د شپې په ماسیل اوکړې شو هغه تپوس اوکړوترکوم ځائ؟وئی فرمائیل تربیت المقدس پورې. هغه وئیل چه اوس سحرته دلته بیاهم موجود ئې؟ حضورﷺ اوفرمائیل او.نو د دې موذی په زړه کښې دا خیال راغلوچه دې وخت کښې دې دروغ ګڼړل ښه نه دی هسې نه چه د خلقو په ګڼړه کښې دې بیا دا خبره اونه کړی. هغه اووئیل وایه کنه صیب که زه دا ټول خلق راجمع کړم نودهغوی په وړاندې به هم ته داخبره اوکړې؟حضورﷺ اوفرمائیل چه ولې نه رښتیاخبرې د پټولود پاره نه وی. هم هغه وخت هغه چغې جورې کړې چه اې دبنی کعب اوبن لوی اولاده راشئی. ټول خلق راپاسیده اوهغوی سره راجمع شو دې ملعون وئیل چه اوس د خپل قوم په وړاندې هغه خبره اوکړه کومه چه دې ماته کوله. حضورﷺ اوفرمائیل چه واورئی نن شپه په ماسیل اوکړې شو ټولوتپوس اوکړو ترکوم ځائ پورې. حضورﷺ اوفرمائیل تربیت المقدس پورې خلقووئیل ښه اوبیا هم مونږ سره سحر موجودنی؟ حضورﷺ اوفرمائیل او.اوس څه خلقولاسونه پړقول شروع کړه چاچپل لاس په حیرانتیاسره په تندی باندې کیخودو کیناستو او په ډیره سخته حیرانتیاسره نی په اتفاق حضورﷺ دروغ اوګڼړلو بیائی لږ ساعت پس اووئیل چه ښه ده ته د هغه ځائ څه نښې چه مونږ وایو خودلې شې؟په دې کښې هغه خلق هم وو چه د بیت المقدس نه راغلې وواودهغه ځائ یو یوڅیز نه واقف وو.حضورﷺ اوفرمائیل وایه څه تپوس کوئی؟ هغوی تپوسونه کول اوحضورﷺ ورته خودل. فرمانی چه بعضو په کښې داسې باریك سوالونه اوکړل چه زه هم لږ شان اوویریدلم هم هغه وخت جمات زما په وړاندې کړې شو اوس ما کتل او خودل مې بس داسې اوګڼړنی چه د عقیل د کورسره جمات وو یا د عقال د کورسره. دا د دې د پاره چه د جمات بعضې صفتونه ماته یادنه وو.دحضورﷺ د دې نښوخودلونه پس ټولواووئیل چه حضورﷺ خو اوصفا ټیك ټیك اوصفاصفا اوخودل په الله ﷻ باندې قسم چه یوخبره کښې هم غلطی نشته(٢)دا حدیث په نسائی وغیره کښې هم موجود دې. په بیهقی کښې د حضرت عبدالله بن مسعودؓ په روایت سره دې کله چه حضورﷺ باندې معراج اوکړې شو نو هغوی سدرة المنتهی ته اورسیدل چه په اووم آسمان باندې دې کوم څیز چه خیژی نو هم د دې ځائ پورې رسی بیا د دې ځائ نه اوچتولې شی او کوم چه نازل شی نو هم دې ځائ ته نازلیږی بیا ددې ځائ نه اخستې شی. په دې ونه باندې د سرو زرو ملخان خواره وو. حضورﷺ ته پنځه وخته مونځ او دسورت بقره آخری آیاتونه ورکړې شواودا چه د حضورﷺ په امت کښې چه څوك شرك نه کوی د هغه به لوئ ګناهونه هم ښښلې کیږی. په مسلم وغیره کښې هم دا روایت شته. (٣)

**د جزء حسن بن عرفه رحمه الله روایت:**-دحضرت ابن مسعودؓ نه د معراج اوږد حدیث هم روایت دې په کوم کښې چه غرابت دې حسن بن عرفه رحمه الله دا په خپل مشهور جزء کښې واردکړې دې. حضرت ابوظبیان رحمه الله وائی چه مونږ دحضرت عبدالله بن مسعودؓ دخوئ ابوعبیده رحمه الله سره ناست وو هغوی سره محمد بن سعد بن ابی وقاص رحمه الله هم وو نو حضرت محمدبن سعدرحمه الله ابوعبیده رحمه الله ته اووئیل

---

(١) احمد:١/٣٠٩-٣١٠ وسنده حسن، الطبراني:١٢٢٨٠.

(٢) احمد: ١/٣٠٩ وسنده صحيح السنن الكبرى للنسائي:١١٢٨٥، المعجم الاوسط: ٢٤٦٨، بيهقى:٢/٣٦٣ معجم الزوائد: ١/٦٤.

(٣) صحيح مسلم كتاب الايمان باب فى ذكر سدرة المنتهى:١٧٣، ودلائل النبوة:٢/٣٧٢-٣٧٢.

Scanned with Ca

تاچه د معراج باره کښې د خپل پلار نه څه اوریدلی وی هغه واوره وه. نو هغوی روایت بیانول شروع کړه. په دې کښې دا هم دی چه کله به براق په اوچت ځائ باندې ختلو د هغې پښې لاسونه به برابر شو دغه شان چه کله به لاندې راکوزیدلو نو بیابه هم برابر شو داځکه چه سور ته تکلیف نه وی. مونږ یو صاحب سره تیرشو چه اوږد قد نیغ ویښته غنم رنګې وو داسې لکه چه د ازدشنوء قبیلې خلق وی. هغه په اوچت آوازسره اوونیل چه تاد ده اکرام اوکړو او دې ته دې فضیلت ورکړو مونږ هغه ته سلام اوکړو هغه جواب راکړو تپوس نی اوکړو چه حضرت جبرائیلؑ دا تاسره څوک دې؟ جبرائیل ؑ وئیل دا احمد دې. هغه اوفرمائیل نبی امی عربی ته دې مرحباوی چا چه د خپل رب رسالت اورسولو اود خپل امت خیرخواهی اوکړه. بیامونږ واپس شو نو ما تپوس اوکړو جبرائیلؑ دا څوک وو؟ هغه اوونیل داموسی ؑ بن عمران دې. ما ونیل دا په داسې الفاظو کښې خبرې چاسره کولې؟ وئی فرمائیل الله ﷻ سره ستاسو باره کښې.ما وئیل الله ﷻ سره او په داسې آواز کښې؟ وئی فرمائیل او الله ﷻ ته د ده تیزی معلومه ده.بیا مونږ د یوې ونې سره تیرشو چه د هغې میوې د چراغونو په شان وې. د هغې لاندې یوبزرګ سړی ناست وو کوم سره چه ډیر واړه ماشومان وو. حضرت جبرائیلؑ ماته اوونیل چه ورشه خپل پلار ابراهیم ؑ سره علیك سلیك اوکړه. مونږ هلته لاړو سلام مو اوکړو جواب ملاوشو. د جبرائیلؑ نه هغه زماباره کښې تپوس اوکړو هغه جواب ورکړو دا ستا ځوئ احمدﷺ دې نوهغوی اوفرمائیل مرحبا دې وی نبی امی ته چاچه د خپل رب پیغمبری پوره کړه اود خپل امت خیرخواهی اوکړه. زما خوش نصیب ځویه نن شپه ستا ملاقات د خپل پروردګارسره کیدونکې دې. ستا امت د ټولونه آخری امت دې اود ټولو نه کمزورې هم خیال کوه چه داسې کارونه وی چه په هغوی باندې آسان وی. بیامونږ مسجد اقصی ته اورسیدو. زه راکوز شوم او براق مې هم په هغه حلقه کښې اوتړلو کوم کښې چه به انبیاء کرامو تړل بیا جمات ته لاړم هلته ما انبیاءکرام اوپیژندل څوك په مانځه ولاړ دی څوك په رکوع کښې او څوك په سجده کښې. بیا ماله د شاتو او پئیو پیاله راوړلې شوه. ما د پئیو پیاله اوڅکله جبرائیل ؑ زما په اوږه لاس کیخودلو وئی فرمائیل محمدﷺ د رب قسم چه فطرت ته خواورسیدلې. بیا د مونځ تکبیراوشو او ما هغه ټولوته مونځ اوکړوبیا مونږ واپس شو. د دې اسناد غریب دی او په متن کښې هم غرابت دې مثلاً دانبیاءکرامو دحضورﷺ دپیژندګلو سوال بیا دهغوی د خوانه دحضورﷺ د تلونه پس د هغوی د پیژندګلو سوال وغیره. په صحیح حدیثونوکښې دی حضرت جبرائیل ؑ به اول حضورﷺ ته خودل چه دا فلانکې نبی دی چه سلام د پیژندګلونه پس وی. بیا په دې کښې د انبیاءکرامو سره ملاقات دبیت المقدس په جمات کښې د داخلیدو نه روستوشو حالانکه په صحیح روایتونو کښې دی چه هغوی سره ملاقات په آسمانونوکښې اوشو.بیا هغه دوباره راکوزیدو کښې واپس بیت المقدس جمات ته راغلو اوهغه ټول هم حضورﷺ سره وو اودلته نی هغوی ته مونځ اوکړو بیا په براق باندې سور شو مکه مکرمه ته لاړل. والله اعلم.

**د امام احمد یوبل روایت** :- مسنداحمد کښې د ابن مسعودؓ یوروایت دې چه د معراج په شپه حضرت ابراهیم ؑ حضرت موسی ؑ او حضرت عیسیؑ سره ملاوشو هلته د قیامت د قایم کیدو د خاص وخت باره کښې مذاکره اوشوه. حضرت ابراهیمؑ لاعلمی ښکاره کړه چه د موسی ؑ نه تپوس اوکړه هغه هم بې خبری ښکاره کړه بیادامقرر شو چه د حضرت عیسیؑ نه تپوس اوکړنی هغوی اوفرمائیل چه د دې د صحیح وخت علم بغیرد الله ﷻ نه بل چاته نشته. اودا ماته فرمائیلې شوی دی چه دجال راوتونکې دې دغه وخت به ماسره دوه لختې وی هغه به زما کتلو سره لکه د سیسې ویلې کیږی. آخر زما په وجه به الله ﷻ هغه هلاك کړی. بیا خو به ونې اوکاڼړی وائی چه اې مسلمانانه راشه زما لاندې کافر پټ شوې دې دې قتل کړه نوالله ﷻ به هغه ټول هلاك کړی. خلق به په یخو زړونوسره خپلو ښارونو

Scanned with Ca

او وطنونوته لاړشي. هم په دغه زمانه کښې به ياجوج ماجوج راوځي چه د هريو اوچت ځائ نه به راټوپ وهي.کوم ځيز چه مومي هغه به غرق کوي. کومې اوبه چه ويني هغه به اوڅکي آخر به خلق تنگ شي ماته به شکايت اوکړي. زه به د الله ﷻ نه دعا اوکړم الله ﷻ به دا ټول په يوځل هلاك کړي. خو په زمکه به د دې مړو د بوئي د وجه نه تگ راتگ گران شي. هغه وخت به الله ﷻ باران اوکړي چه دا مړي به ټول اوبهيوي او سمندرکښې به اوغورزوي. ماته دا ښه معلومه ده چه د دې نه پس به قيامت راځي لکه چه د پوره ورځې د حمل والا ښځه وي چه معلومه نه وي چه سحر اوزګاريږي که مابنام. (١)

**د يوولسم روايت ذکر:-** په يوبل حديث کښې دي رسول الله ﷺ چه په کومه شپه د مسجدحرام نه د بيت المقدس جمات ته اورسولې شو په هغه شپه حضورﷺ دزمزم اومقام ابراهيم ﷺ په مينځ کښې وو. چه حضرت جبرائيل ﷺ د ښي طرف نه او ميکائيل ﷺ دګس طرف نه والوزولو. تردې چه حضورﷺ د آسمان اوچتوالې ته اورسيدلو.واپس کيدلو سره هغوی دا تسبيحات سره د نورو تسبيحاتو واوريدل. دا روايت هم ددې سورت دآيت ﴿تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ﴾(٢)په تفسيرکښې به راځي. مسندکښې دي چه امير المؤمنين حضرت عمر بن خطابؓ په جابيه کښې وو د بيت المقدس د فتح ذکر اوشو. هغوی د حضرت کعب رحمه الله نه پټوس اوکړو ستا په خيال کښې ماله هلته په کوم ځائ مونځ کول پکاردي. هغه اووئيل چه که مانه تپوس کوې نو زه خو وايم چه تاسو د صخره نه شاته مونځ اوکړئ دې د پاره چه ټول بيت المقدس ستاسو په وړاندې راشي. هغه اوفرمائيل چه تا هم هغه د يهوديت مشابهت اوکړو زه به هغه ځائ مونځ کوم چرته چه رسول الله ﷺ کړې دې. نو هغه وړاندې شو او د قبله طرف ته ئي مونځ اوکړو پس دمونځ اداکولونه هغوی د صخره سره خواوشانه ئي ټول خس اوخشاك وغيره راغونډکړل خپل څادرکښې واچول او بهر ئي غورزول شروع کړه او نورو خلقو هم هغوی سره امداد اوکړو. (٣)نو هغوی خونه د صخره داسې تعظيم اوکړو لکه چه يهوديانوبه کولو چه مونځ به ئي هم د هغې نه شاته کولو اودا به ئي قبله هم گڼړله. حضرت کعب رحمه الله هم د اسلام نه وړاندې يهودي وو په دې وجه هغوی دا رائې پيش کړې وه کومه چه د مسلمانانو خليفه ردکړې وه اونه هغوی د نصرانيانو په شان د صخره بې عزتي اوکړه چه هغوی صخره بالکل د گندگيل غورزولو ځائ جوړکړې وو. بلکه هغوی پخپله د دې ځائ نه ډکې وغيره اوچت کړل وئې غورزول. دا بالکل د هغه حديث په شان دې چه مه په قبرونو باندې کيننئ اومه د دې طرف ته مونځ کوئي.(٤)د ابوهريرهؓ نه د معراج متعلق يو اوږد مگر غريب روايت هم نقل دې. په هغې کښې دی چه حضرت جبرائيل ﷺ او حضرت ميکائيل ﷺ حضورﷺ له راغلل. جبرائيل ﷺ ميکائيل ﷺ ته اووئيل چه ماله د زمزم د اوبويوپيليټ ډك راوړه چه زه د ده زړه پاك کړم اود ده سينه صفاکولاوکړم. بيائي د حضورﷺ خيټه اوشلوله او هغه ئي درې ځل اووينځلو دريواړه ځل ئي دميکائيل ﷺ دراوړلې شوو اوبوسره اووينځلو اود حضورﷺ سينه ئي کولاوکړه. ټول فضوليات ئي ترې لرې کړل د علم حلم ايمان او يقين نه ئي ډکه کړه. اسلام نه ډکه کړه او د حضورﷺ د دواړو اوږو په مينځ کښې د نبوت مهر اولگولو او په يو اس باندې کينولو حضرت جبرائيل ﷺ هغه بوتلو. وئې کتل چه يوقوم دې هغوی فصل ريبي اوديځوا لوئيږي. د حضرت جبرائيل ﷺ نه حضورﷺ تپوس اوکړو دا څوك خلق دي؟ وئې فرمائيل چه دا د الله ﷻ د لارې مجاهدين دي د چا نيکئي چه د اووه

---

(١) ابن ماجه كتاب الفتن باب فتنة الدجال وخروج عيسى بن مريم ﷺ:٤٠٨١، وسنده صحيح، احمد:٣٧٥/١، حاكم: ٤٨٨/٤.

(٢) ١٧/بني اسرائيل:٤٤.

(٣) احمد: ٣٨/١.

(٤)صحيح مسلم كتاب الجنائز باب النهى عن الجلوس على القبر والصلاة اليه:٩٧٢، ترمذى:١٠٥١، ابوداؤد: ٣٢٢٩، احمد:١٣٥/٤، ابن حبان:٢٣٢.

Scanned with Ca

سوو پورې زیاتیږی اوچه څه خرچ کړی د هغې بدله ورته ملاویږی. الله ﷻ بهترین رزق ورکونکې دې. بیاد حضورﷺ تیریدل په یوداسې قوم باندې اوشوچه د هغوی سرونه په کانړو چقنړی کیدل اوهرځل به بیاجوړیدل او بیابه چقنړی کیدل. د یوساعت به هغوی ته مهلت نه شو ورکولې. ماتپوس اوکړو دا کوم خلق دی نو جبرائیلؑ اووئیل دا هغه خلق دی چه په فرض مونځونوکښې به ئې سرونه درانه کیدل. بیاما څه خلق اولیدل چه د هغوی وړاندې روستوټکړې زوړندوې او د اوښانو او څناورو غوندې ازغنې دوزخی ونو کښې څرن کولواود دوزخ کانړی او سروټکې خوړلې. ماوئیل داڅنګه خلق دی؟وئې فرمائیل چه د خپل مال نه زکوة نه ورکونکی دی. الله ﷻ په دوی باندې هیڅ ظلم نه وو کړې بلکه دوی په خپلو ځانونوباندې پخپله ظلم کړې وو. بیاما څه داسې خلق اولیدل چه د هغوی مخې ته په کټونې کښې ښه صفا اوتازه غوښه پرته ده او بل طرف ته سخا مرداره غوښه پرته ده خودوی د دې ښې غوښې نه رامنع کړې شوی دی اوهغه بدبوداره سخا اوبې مزې غوښه خوری. ماتپوس اوکړو دا د کومې ګناه کونکی دی؟ اوفرمائیلې شو چه دا هغه سړی دی چه خپلې حلالې بیبیانې ئې پریخې وې او د حرامو ښځو سره به ئې شپه تیروله. او هغه ښځې دی چه خپل حلال خاوندان به ئې پریخودل او نورو سره به ئې شپې تیرولې. بیا حضورﷺ اولیدل چه په لارکښې یولرګې دې چه هره یوه کپړا شلوی او هریوځیز زخمی کوی. تپوس مې اوکړوداڅه دی؟ وئې فرمائیل دا ستاسو د امت د هغه خلقو مثال دې چه لارې رابندې کړې وی ناست وی.

بیائې دا آیت اولوستلو﴿ وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ ﴾ ([1])یعنی په هره یوه لار باندې خلق ویروی اود الله ﷻ د لارې نه بندیدلو د پاره مه کینئی. بیامې اوکتل چه یوسړې ډیر لوئ ډیرې جمع کړې دې او اوچتولې ئې نه شی خو بیا هم داډیرې نور هم زیاتوی. تپوس مې اوکړوجبرائیلؑ دا څه دی؟ وئې فرمائیل دا ستا د امت هغه سړې دې چه په هغه باندې د خلقو حقونه وی او هغه اداکولې ئې نه شی او نور هم په ځان بار کوی او امانتونه اخلی.بیا حضورﷺ یوه ډله اولیدله چه د هغوی ژبې د اوسپنې په قینچو باندې پریکولې شی یوخوا کټ کیږی بل خوا جوړیږی او هم په دې حال کښې برابر اخته دی. تپوس مې اوکړودا څوک دی؟ وئیل دا د فتنې وعظ کونکی او خطیبان دی. بیا مې اوکتل یووړوکی سوری نه یو لوئ دروند غوایه راوځی بیا هغه واپس کیدل غواړی خو نه شې تلې تپوس مې اوکړو جبرائیلؑ دا څوک دې؟ وئې فرمائیل دا هغه سړې دې چه څه ډیره لویه خبره به ئې اوکړه نو پښیمانه خو به وو ولې واپس کیدې به نه شو. بیا هغوی یوې وادئی ته لاړل هلته ډیره مزیداره ښکلې یخه هوا زړه خوشحالونکې معطره خوشبوداره د راحت او سکون مبارك آوازونه مونږ واوریدل تپوس مې اوکړو دا څه دی؟ جبرائیلؑ وئیل دا جنت دې دا وائی یاربه ما سره خپله وعده پوره کړه زما بالاخانې به ریښمنې او مرغلرې وی سره زر سپین زرجامونه کټوری شات اوبه پئیی شراب وغیره وغیره نعمتونه به ډیر زیات وی. ده ته جواب ورکولې شی چه هریومسلمان ښځې اوسړې چه په ما ایمان لری اوزما رسولان منی نیك عمل کوی نه ماسره څوك شریك ګڼړی اونه زما برابر څوك ګڼړی هغه ټول به تاکښې داخلیږی. واوره د چا په زړه کښې چه زماویره ده هغه د هرې یوې ویرې نه محفوظ دې څوك چه ما نه سوال کوی هغه محروم کیږی نه څوك چه ماته قرض راکوی زه هغه ته بدله ورکوم څوك چه په ما توکل کوی زه د هغه کفایت کوم. زه ربښتونې معبودیم زما نه بغیربل معبود نشته. زما وعدې خلاف نه وی. مؤمنان خلاصې بیاموندونکی دی الله د برکت خاوندې چه د ټولونه بهترخالق دی دې اوریدو سره جنت اووئیل بس زه خوشحاله شوم. بیا هغوی بلې وادئی ته اورسیدل چرته چه ډیر مکروه او ویرونکی آوازونه راتلل او سخته بدبوئی وه. حضورﷺ د دې باره کښې هم د حضرت جبرائیلؑ نه تپوس

[1]) ٧/الاعراف:٨٦.

اوکړو وئی فرمائیل دا د دوزخ اواز دې وائی یاربه ما سره خپله وعده پوره کړه او ماته هغه راکړه زما طوق اوزنځیرونه زما شغلې زما ګرمی ترخې اوبه وینې نوونه زماد عذاب او سزا سامان ډیر زیات شوی دی زما ژوروالې ډیر زیات دې زما اور ډیر تیزدې ماته هغه راکړه د کوم چه ما سره وعده شوې ده. الله ﷻ اوفرمائیل هرمشرك کافر خبیث منکر بې ایمانه سړی او ښځې ستاد پاره دی. دې اوریدو سره دوزخ خپله رضامندی ښکاره کړه. هغوی بیالاړل او بیت المقدس ته اورسیدل او صخره سره ئی خپل اس اوتړلو دننه لاړو اوفرښتو سره ئی مونځ اداکړو. چه اوزګارشو نو وئی فرمائیل جبرائیل ؑ دا تاسره څوك دی؟ وئیل محمدﷺ دې. هغوی وئیل ته د ده طرف ته لیګلې شوې وې؟ ما وئیل او ټول مرحبااووئیل چه بهترین رور اودیرښه خلیفه دې اوډیر په ښه طریقه او عزت سره راغلې دې بیا د هغوی ملاقات د انبیاء کرامو روحونو سره اوشو ټولو د خپل پروردګار ثنا بیان کړه. حضرت ابراهیم ؑ اوفرمائیل چه د الله ﷻ شکر دې چه زه ئی خپل خلیل جوړکړم ماته ئی ډیر لوئ ملك راکړو اوزه ئی فرمانبردار امام جوړکړم د چا چه اقتداء کولې شی هغه زه د اور نه بچ کړم اوهغه ئی زما د پاره یخوالې او سلامتی جوړه کړه. حضرت موسی ؑ اوفرمائیل چه هم د الله ﷻ مهربانی ده چه هغه ماسره خبرې اوکړې هغه زما دښمنان اهل فرعون هلاك کړل. بنی اسرائیلو له زما سره نجات ورکړو زما په ډله کښې داسې کسان پیداکړل چه د حق هدایت کونکی او په حق سره انصاف کونکی وو. بیا حضرت داؤد ؑ د الله ﷻ ثناء خوانی شروع کړه الحمدالله الله ﷻ ماته عظیم الشان ملك راکړو ماته ئی د زبور علم راکړو زما د پاره ئی اوسپنه نرمه کړه غرونه ئی مسخر کړل او مرغویه هم زما سره د الله ﷻ تسبیح کولې ماته ئی حکمت او زورور کلام راکړو. بیا سلیمان ؑ ثناخوانی شروع کړه الحمدلله الله ﷻ هواګانې زما تابع کړې او شیطانان هم چه هغوی زما په حکم باندې لوئ لوئ محلونه نقشې لوښی وغیره جوړول اوهغه ماته د ځناورو په خبروباندې د پوهیدلو علم راکړو په هریوڅیز باندې ماته فضیلت راکړو. د انسانانو پیریانو مرغو لښکرې زما تابع کړې او په خپلو ډیرو زیاتو مؤمنانوئی ماته فضیلت راکړو. ماته ئی هغه بادشاهی راکړه چه زما نه پس بل چاد پاره لائق نه ده اوهغه هم داسې چه په هغې کښې پاکوالې او پاکوالې وو اوهیڅ حساب نه وو. بیا حضرت عیسی ؑ د الله ﷻ تعریف بیانول شروع کړه چه هغه زه خپله کلمه جوړکړم اوزما مثال د حضرت آدم ؑ په شان دې څوك ئی چه د خاورې نه جوړکړو او ورته ئی اووئیل چه شه نو بس شو. هغه ماته کتاب اوحکمت تورات او انجیل اوخودلو. ما به د خاورې مرغئی جوړوله او بیابه مې په هغې کښې پوکې وهلو نو هغه به د الله ﷻ په حکم سره ژوندئی مرغئی جوړه شوه وابه الوتله. ما به پیدائشی ړانده او د جذام بیماران د الله ﷻ په حکم سره تیك کول مړی به د الله ﷻ په حکم سره ژوندی کیدل. زه هغه اوچت کړم زه هغه پاك صفا کړم زه اوزما مورئی د شیطان نه بچ کړل. په مونږ باندې د شیطان هیڅ دخل نه وو. اوس جناب رسول آخرزمان ﷺ اوفرمائیل تاسوټولوخود الله ﷻ تعریفونه بیان کړل اوس زه بیانوم. هم د هغه الله ﷻ د پاره حمداوثناء ده چاچه زه د ټول عالم د پاره رحمة للعالمین جوړکړم اود ټول مخلوق د ویرولو او هغوی ته زیرې ورکونکې جوړکړم وئی لیګلم. په ماباندې قرآن کریم نازل کړو په کوم کښې چه د هریو څیز بیان دې. زما امت ئی د ټولونورو امتونو نه غوره کړو چه کوم د نورو د نیکود پاره جوړکړې وو هغه ئی بهترین امت اوګرځولو هم دوی د اول اوآخر امت جوړکړو. زما سینه کولاوکړې شوه زما بوج لرې کړې شو زما ذکر ئی اوچت کړو زه ئی شروع کونکې او ختمونکې جوړکړم. حضرت ابراهیم ؑ اوفرمائیل هم په دې وجوهاتو حضوراکرم حضرت محمدﷺ تاسو ټولونه غوره دې.(امام ابوجعفررازی ؒ فرمائی) د شروع کونکې خو هغوی دی چه د قیامت په ورځ به شفاعت هم د هغوی نه شروع کیږی. بیا د حضورﷺ په وړاندې درې پټ کړې شوی لوښی پیش کړې شو د اوبود لوښی نه ئی لږې شان اوڅکلې واپس ئی کړو بیائی د پئیو لوښې واخستو او په ډکه خیټه ئی پئیی اوڅکل. بیاد شرابو لوښې راوړلې

Scanned with Ca

شو نو حضور ﷺ د هغې نه انکار اوکړو چه زما خیټه مړه شوې ده. حضرت جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل دا ستا په امت باندې حرام کړې شوی دی اوکه تاسو دا څکلې وې نو ستاسو په امت کښې به ستاسو تابعدار ډیر کم خلق وو. بیا هغوی د آسمان طرف ته اوچت کړې شو دروازه ئې کولاوول غوښتل نو تپوس اوشودا څوک دې؟ جبرائیل علیه السلام وئیل محمد ﷺ دې. تپوس اوشو چه د ده طرف ته لیګلې شوی وې؟وئیل او. هغوی وئیل الله ﷻ دې دا رور او خلیفه خوشحاله اوساتی دا ډیر ښه رور او ډیر ښه خلیفه دې. هم هغه وخت دروازه کولاوکړې شوه حضور ﷺ اوکتل یوسړې دې چه په پوره پیداکیدو باندې د عامو خلقو په شان د هغه پیداکیدلوکښې هیڅ نقصان نشته. د هغه ښی طرف ته یوه دروازه ده چه د هغې نه خوشبویانې راځی او ګس طرف ته یوه دروازه ده چه د هغې نه خبیثې هواګانې راځی. د ښی طرف دروازې ته چه ګوری نو خاندی اوخوشحالیږی د ګس طرف دروازې ته چه اوګوری نو ژاړی او خفه کیږی. ماوئیل جبرائیل علیه السلام دا شیخ د پوره پیداکیدو والا څوک دې؟ د چا په پیداکیدوکښې چه هیڅ کمې نشته اودا دواړه دروازې څنګه دی؟ جواب ملاو شو دا ستا پلار حضرت آدم علیه السلام دې. ښی طرف ته د جنت دروازه ده جنتی اولاد ته ګوری خوشحالیږی او خاندی. ګس طرف ته ددوزخ دروازه ده خپل دوزخی اولاد ته په کتو سره ژاړی او خفه کیږی. بیا د دویم آسمان طرف ته لاړو او دغه شان سوال جواب کولونه پس دروازه کولاوشوه. هلته هغوی دوه ځوانان اولیدل په تپوس کولو سره معلومه شوه چه داحضرت عیسی علیه السلام بن مریم او حضرت یحیی بن زکریا علیه السلام دې دادواړه په خپل مینځ کښې د ترور خامن دی. دغه شان دریم آسمان ته اورسیدو هلته حضرت یوسف علیه السلام وو د چا چه په حسن کښې په نورو خلقو باندې هغه فضیلت وو کوم چه سپوږمئی ته په باقی ستورو باندې دې. بیا دغه شان څلورم آسمان ته اورسیدو هلته کښې ادریس علیه السلام وو څوک چه الله ﷻ اوچت مکان ته خیژولې دې. بیا هغوی پنځم آسمان ته هم د دغه سوال جواب نه پس اوختل یوصاحب ناست دې هغه سره چاپیره خلق ناست دی هغه سره خبرې کوی تپوس مې اوکړو دا څوک دې جواب ملاوشو حضرت هارون علیه السلام دې په خپل قوم کښې د هرچا خوښ وو اودا خلق بنی اسرائیل دی. بیا دغه شان شپږم آسمان ته اورسیدو هلته حضرت موسی علیه السلام ښکاره شو د حضور ﷺ د هغه نه وړاندې وتلوسره هغه په ژړا شو نو تپوس کولو باندې سبب معلوم شو چه بنی اسرائیلو زما متعلق دا ګنړل چه د ادم علیه السلام په ټول اولاد کښې د ټولونه بزرګ زه یم خودې دې زما خلیفه چه په دنیاکښې دې او زه په آخرت کښې یم. خیرکه صرف دا وې نو بیا هم څه خبره نه وه خوهریونبی سره د هغه امت دې بیا هغوی دغه شان اووم آسمان ته اورسیدل هلته ئې یوصاحب اولیدلو چه د هغه په ږیره کښې څه سپین ویښته وو هغه د جنت په دروازه کښې کرسئی لګولې ناست وو هغه سره څه نور خلق هم وو. دبعضو مخونه ډیر روښانه وو اوبعضې لړشان کم روښانه وو بلکه څه بل رنګې هم وو. دا خلق پاسیدل او په نهرکښې غوپه اووهله په دې سره د هغوی رنګونه لړشان ښکلې شو. بیائی په بل نهرکښې غسل اوکړو نو لږ نور هم ښکلې شو بیائی چه دریم غسل اوکړو نو بالکل روښانه سپین مخونه ئې شو. راغله نوروسره یوځائې شو اود هغوی په شان شو. د حضور ﷺ په سوال کولو باندې حضرت جبرائیل علیه السلام اووئیل دا ستا پلار حضرت ابراهیم علیه السلام دې په مخ دزمکې باندې سپین ویښته دټولونه وړاندې صرف د ده وو. دا د سپین مخونووالا هغه ایماندار خلق دی کوم چه د بدونه بالکل بچ شوې وو اود چا په رنګونو کښې چه لړ شان فرق وو دا هغه خلق دی چه د نیکو سره ترې لږې شان بدئی هم شوې وې د هغوی په توبه باندې الله ﷻ مهربان شو. اول نهر د الله ﷻ رحمت دې دویم د الله ﷻ نعمت دې او دریم د شراب طهور نهر دې کوم چه د جنتیانو خاص شراب دی. بیا حضور ﷺ سدرة المنتهی ته اورسیدو نو هغه ته اووئیلې شو چه ستا په سنتویاندې څوک پابندی کوی هغه دلته رارسولې شی د دې د جرړونه د پاکو صفا اوبو صفاپښیو خوندناك او بې نشې شرابو اود صفاشاتو نهرونه روان وو. د دې ونې د سوری لاندې که یوسور اویا کاله پورې هم روان وی

Scanned with Ca

نوبیا هم د دې سورې نه ختميږي. د دې يوه يوه پاڼره دومره لويه ده چه يويوامت به پټ کړي. د الله ﷻ
عزوجل نور دا د هرطرف ته پټه کړې ده اود مرغوبه شان شکلونو فرښتو دا پټه کړې وه کومې چه د الله
ﷻ په محبت کښې هلته وې. هغه وخت الله ﷻ جل شانه حضورﷺ سره خبرې اوکړې ونې فرمائيل
غواړه څه غواړې؟ حضورﷺ عرض اوکړو چه یاالله تا حضرت ابراهیم ؑ خپل خليل جوړکړو هغه ته
دې لوئ ملك ورکړو،موسی ؑ سره تا خبرې اوکړې، داؤدؑ له دې عظیم الشان بادشاهی ورکړه اود
هغه د پاره دې اوسپنه نرمه کړه، سلیمان ؑ ته هم تا بادشاهی ورکړه پیریان انسانان شیطانان او
هواګانې دې دهغه تابع کړې اوهغه بادشاهی دې ورکړه چه د هغه نه بغیرېل چاله لائقه نه ده. عیسی
ؑ ته دې تورات او انجیل اوخودلو ستا به حکم باندې ړانده او شل ښه کونکې مړی ژوندی کول هغه
او د هغه مور دې د شیطان نه بچ کړل د هغه په دوی باندې هيڅ دخل نه وو. زما په نسبت باندې فرمان
اوکړه. رب العالمین عزوجل شانه اوفرمائیل ته زما خليل نی په تورات کښې ماتاته د خليل الرحمن
لقب درکړې دې ته مې د ټولوخلقو طرف ته بشیر او نذیر جوړکړې لیګلې نی. ستاسینه مې کولاوکړې
ده ستابوج مې کوزکړې دې ستاذکر مې اوچت کړې دې چرته چه زما ذکر وی هلته به ستاهم ذکر وی
ستا امت مې د ټولو امتونونه بهتر کړې دې. چه د خلقو د پاره راغوښتې شی ستا امت ما بهترین امت
جوړکړې دې ستا هم دا امت مې اولین او آخرین کړې دې د هغوې خطبه نه جائزکیږی ترکومې چه
هغوی ستاد بنده کیدو اورسول کیدو ګواهی ورنه کړی. ما ستا په امت کښې داسې خلق پیداکړی دی
چه د هغوی په زړونوکښې د هغوی کتاب دې. ته مې د پیدا کیدو په رو سره د ټولونه اول پیداکړې اود
بعثت په روسره د ټولو نه آخر. اود فیصله په روسره هم د ټولونه اول تاته ما داسې اووه آیاتونه درکړی
دی چه هغه باربار وئیلې شی چه تانه وړاندې یونبی ته هم نه دی ورکړې شوی. تاته ما دخپل عرش
لاندې د سورت بقره د خاتمه آیاتونه درکړل چه تانه وړاندې یونبی ته هم نه دی ورکړې شوی. ماتاته
کوثر درکړې او ما تاته د اسلام اته حصې درکړی دی، اسلام هجرت جهاد مونځ صدقه د رمضان روژې
د نیکئی حکم د بدئی نه منع کول اوما ته شروع کونکې او ختم کونکې جوړکړې. نو حضورﷺ
اوفرمائيل ماته زما رب د شپږو خبرو فضیلت راکړې. د کلام شروع اود هغې ختمیدل جامع خبرې
راکړې د ټولو خلقو طرف ته زیرې ورکونکې اوخبرونکې جوړول راليګل. زما دښمنان به زما نه د يوې
میاشتې په فاصله وی د هغوی په زړه کښې زما رعب واچولو زما د پاره غنیمتونه حلال کړل چه زما نه
اول د چا د پاره هم حلال نه وو. زما د پاره ئې ټوله زمکه جمات او اودس جوړکړو بیا په هغوی باندې د
پنځوسو مونځونو فرض کیدو اود حضرت موسی ؑ په مشوره سره د کمې غوښتو او په آخره کښې د
پنځو پاتې کیدو ذکر دې. لکه چه د دې نه وړاندې تیرشوی دی نو پنځه پاتې شو او ثواب د پنځوسو.
کوم سره چه هغوی ډیر خوشحاله شو د تلوپه وخت کښې حضرت موسی ؑ ډیر سخت او د راتلو په
وخت کښې ډیر نرم او د ټولونه بهتر.
د بل کتاب په دې حدیث کښې داهم دی چه هم دا آیت ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ ﴾ په تفسیرکښې هغوی دا
واقعه بیان فرمائیلې.دادې هم واضحه وی چه ددې اوږد حدیث يوراوی ابوجعفررازی په ظاهره د
حافظې څه داسې ښه نه معلومیږی.د دې په بعضې الفاظوکښې سخت غرابت او ډیر نکارت دې ده ته
ضعیف هم وئیلې شوې دې اوصرف هم د ده د روایت والا حدیث د نظرنه خالی نه دې.
يوه بله خبره داده چه د خوب والا د حدیث څه حصه په دې کښې هم راغلې ده اودا هم ممکن دی چه دا
د ډیرو احادیثو مجموعه وی یاخوب یاد معراج نه سوا د بلې واقعه په دې کښې روایت وی. والله اعلم.
دبخاری اومسلم په يوروایت کښې دحضورﷺ دحضرت موسی ؑ حضرت عیسی ؑ اوحضرت

Scanned with Ca

ابراهیم ﷤ صورتونه وغیره هم بیان کول نقل دی.([1]) دصحیح مسلم په حدیث کښې په حطیم کښې د حضور ﷺ نه دبیت المقدس باره کښې د سوالونوکول او بیا د دې ښکاره کیدو واقعه هم ده په دې کښې هم ددې دریوارو نبیانو سره د ملاقات کولو اود هغوی د حلیه بیان دې اودا هم چه حضور ﷺ هغوی په مانځه ولاړ اولیدل. حضور ﷺ مالك خازن دوزخ هم اولیدلو اوهغه حضور ﷺ سره په شروع کښې سلام اوکړو. ([2])په بیهقي وغیره کښې د یوڅو صحابه کرامو ﷢ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د حضرت ام هانی ﷛ په کورکښې اوده ووحضور ﷺ د ماسخوتن د مانځه نه فارغ شوې وو هم د هغه ځائ نه د هغوی ﷺ معراج شوې وو. بیا امام حاکم ﷫ ډیر اوږد حدیث بیان کړې دې په کوم کښې چه د درجو اوفرښتو وغیره ذکر دې. د الله ﷻ د قدرت نه خو څه لرې نه دی په دې شرط چه هغه روایت صحیح ثابت شی.امام بیهقي ﷫ دې روایت بیانولو سره فرمائی چه د مکې مکرمې نه د بیت المقدس پورې تلل اود معراج باره کښې په دې حدیث کښې پوره کفایت دې خودا روایت د احادیثو ډیرو ائمه حضراتو مرسل بیان کړې دې. والله اعلم.

**معراج د کوم ځائې نه شروع شوې وو دهغې متعلق د بیهقي روایت:-**اوس دعائشه صدیقه ﷛ روایت واورئ بیهقي کښې دی کله چه سحر خلقو ته حضور ﷺ د دې خبرې ذکربیان کړو نو ډیر خلق مرتدشو چه د اول نه ئې ایمان راوړې وو اوتصدیق کونکی وو بیاصدیق اکبر ﷜ له تلل د هغوی ربښتوني منل اود صدیق لقب مونډل روایت دی.([3]).هم پخپله د حضرت ام هانی ﷛ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ته معراج هم زما د کورنه شوې دې په دې شپه حضور ﷺ د ماسخوتن د مانځه نه پس هم زما په کورکښې آرام کولو.حضور ﷺ هم اوده شو اومونږ ټول هم. دسحر نه لږشان وړاندې مونږ حضور ﷺ رابیدارکړو بیا هم هغوی ﷺ سره مونږ د سحر مونځ اداکړو نوحضور ﷺ اوفرمائیل اې ام هانی! ما د ماسخوتن مونځ هم تاسو سره اداکړو او اوس د سحر مونځ کښې هم تاسو سره دلته یم په دې مینځ کښې الله ﷻ زه بیت المقدس ته اورسولوم اوما هلته مونځ هم اوکړو. د دې یوراوی کلبي متروك دې او بالکل ساقط دې خودا په بل سندسره په ابویعلی کښې په ښه وسعت سره روایت کړې دې. طبرانی کښې د حضرت ام هانی ﷛ نه روایت دې چه حضور ﷺ د معراج په شپه هم زما کره اوده وو. ما د شپې هغه ډیر اولټولو خو ملاونه شو. ویره وه چه چرته قریشو څه دهوکه نه وی کړې خو حضور ﷺ اوفرمائیل جبرائیل ﷤ ماله راغلو زما لاس ئې اونیولو زه ئې بوتلم. په دروازه کښې یوخناور وو چه د قچر نه وړوکې اود خرنه اوچت ووزه ئې په دې باندې سورکړم. بیائې زه بیت المقدس ته اورسولم او حضرت ابراهیم ﷤ ئې راته اوخودلو هغه په اخلاق کښې صورت کښې او شکل کښې بالکل زما په شان وو. حضرت موسی ﷤ راته اوخودلې شو اوږد قد نیغ ویښته ئې داسې وولکه د ازدشنئوه قبیلې خلق چه وی. دغه شان ماته حضرت عیسی ﷤ هم اوخودلې شو درمیانه قد سوربخن سپین رنګ ئې وو بالکل داسې لکه عروه بن مسعود ثقفي چه دې.دجال راته اوخودلې شو یوه سترګه د هغه بالکل خاورې شوې وه. داسې وو لکه قطن بن عبدالعزی. ددومره ارشاد کولونه پس ئې اوفرمائیل چه ښه ده زه ځم او چه څه مې لیدلې دی هغه قریشو ته بیانوم. ماد حضور ﷺ پلو اونیولو او ورته مې عرض اوکړو د الله د پاره ته دا خپل قوم ته مه بیانوه هغوی به تا دروغ اوګڼړی اوستاسو خبره به هیڅ کله هم اونه منی اوکه وس ئې اوشو نو ستاسو بې ادبی به هم اوکړی. خو حضور ﷺ خپله لمن زمانه راښکله او زما

---

[1]) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی ﴿واذکرفی الکتاب مریم اذانتبذت من اهلها....﴾:٣٤٣٧، صحیح مسلم:١٦٨، ترمذی:٣١٣، احمد:٢/٢٨٢، دلائل النبوة:٢/٣٨٧، ابن حبان:٥١.

[2]) صحیح مسلم کتاب الایمان باب ذکر المسیح ابن مریم والمسیح الدجال:١٧٢، ودلائل النبوة:٢/٣٥٨.

[3]) حاکم:٣/٦٢ بیهقی فی الدلائل:٢/٣٦٠،

Scanned with Ca

د لاس نه ئې خلاصه کړه اونيغ د قريشو ډلې له لاړو او ټولې خبرې ئې ورته اوخودلې. جبير بن مطعم وئيل بس حضرت نن مونږ ته معلومه شوه که چرې تاسو رښتونې وئې نو داسې خبرې به مو زمونږ په مينځ کښې نه کولې يوسړی وئيل حضرت په لارکښې زمونږ قافله ملاوشوې وه؟ حضور ﷺ اوفرمائيل او خود هغوی نه يو اوښ ورك شوې وو د کوم لټون ئې چه کولو.چاپه کښې وئيل د فلانکې قبيلې اوښان هم په لارکښې ملاوشو؟حضور ﷺ اوفرمائيل هغوی هم ملاوشوې ووفلانکی مقام کښې وو په دې کښې يود سور رنګ اوښه وه دکومې چه پښه ماته شوې وه. هغوی سره په يوه لويه پياله کښې اوبه وې کومې چه ما څکلې هم وې. هغوی وئيل ښه ده د هغوی د اوښانو شمير اوښايه. په هغې کښې ساربانان څوك وو داهم اوښايه. هم هغه وخت الله ﷻ قافله د حضور ﷺ په وړاندې کړه حضور ﷺ ټول شميرهم اوخودلو اود ساربانانو نومونه ئې هم اوخودل. يو ساربان په هغوی کښې ابن ابی قحافه وو اودائې هم اوفرمائيل چه صباسحر به هغوی ثنيه ته راورسي. نو هغه وخت د ازميښت په توګه ثنيه ته اورسيدل. وئې کتل نو واقعي قافله راورسيده د هغوی نه ئې تپوس اوکړو چه ستاسو اوښ ورك شوې وو؟هغوی وئيل ټيك دی ورك شوې وو.دبلې قافلې والا نه ئې تپوس اوکړو چه د يوې سرې اوښې پښه ماته شوې وه؟ هغوی وئيل اودا هم صحيح دی. تپوس ئې اوکړو چه آيا تاسو سره د اوبو غټه پياله هم وه؟ ابوبکر ﷺ قسم اوخوړلو چه دا خو ما پخپله ايخودې وه د هغې نه نه چاا وبه اوڅکلې اونه هغه اوبه چا توئې کړې بې شکه محمد ﷺ رښتونې دې هغه دحضور ﷺ تصديق اوکړو اوهم د هغه ورځې نه د هغوی نوم صديق کيخودې شو. (١)

**د ټولو احاديثو نچوړ او خلاصه:-** د دې ټولو احاديثونه د خبريدونه پس کوم کښې چه صحيح هم دی حسن هم دی ضعيف هم دې کم نه کم دومره ضرور معلومه شوه چه د حضور ﷺ د مکې نه بيت المقدس ته تلل اوشو اوداهم معلومه شوه چه صرف هم يوځل شوی دی سره ددې چه د راويانو عبارتونه په دې باب کښې په مختلفو الفاظو سره دی اوبه دې کښې زياتې اوکمې هم دې. دا هيڅ خبره نه ده ځکه چه بغيرد انبياء کرامو د خطا نه څوك پاك دی. بعضې خلقو هر يو روايت يوه ځان له جدا واقعه وئيلې ده اوددې قائل شوی دی چه دا واقعه څوځل شوې ده خودا خلق ډيرلږې وتلی دی او ډيره عجيبه خبره ئې کړې ده اوپته نه لګی چه کوم ځائ ته تلی دی اوبيائې هم مطلب نه دې حاصل شوې. په متاخرينوکښې بعضو دا توجيه پيش کړې ده اود هغوی په دې باندې ډير فخر هم دې. هغه دا چه يوځل خو حضور ﷺ ته دمکې نه دبيت المقدس پورې سيل اوکړې شو يوځل د مکې نه آسمانونوته اوچت کړې شو اويوځل دمکې نه بيت المقدس او د بيت المقدس نه آسمانونوته. خودا قول هم ډيرلږې او بالکل غريب دې. په سلفو کښې خو هيڅ څوك هم د دې قائل نه وو که چرې داسې وې نو پخپله به حضور ﷺ د هغوی په وړاندې بيان کړې وو اوراويانوبه دحضور ﷺ نه د دې بار بار روايت کړې وو. د حضرت زهری ﷫ په قول د معراج دا واقعه د هجرت نه يوکال وړاندې ده. عروه ﷺ هم دا وائی سدی ﷫ وائی چه شپږ مياشتې وړاندې ده. خو حق خبره دا ده چه حضور ﷺ ته په ويښه نه چه په خوب کښې د مکې نه د بيت المقدس پورې سيل اوکړو هغه وخت حضور ﷺ په براق باندې سور وو. د مسجد اقصی په دروازه باندې حضور ﷺ براق اوتړلو هلته لاړو اود قبله طرف ته ئې تحية المسجد دوه رکعته مونځ اوکړو. بيا معراج راوړلې شو چه د درجو والا وو اود پاوړنی په شان دې په دې سره حضور ﷺ ددنيا آسمان ته اوخيژولې شو بيااووه واړو آسمانونو ته اورسولې شو.دهريو آسمان د الله ﷻ مقربينو سره ئې ملاقات اوکړو.انبياء کرامو سره د هغوی د منازلو اودرجاتو مطابق سلام عليك اوشو. په شپږم آسمان کليم الله ﷺ او په اووم خليل الله ﷺ سره ملاوشو. بيا د هغوی نه هم وړاندې لاړو صلوات الله عليهم اجمعين.

(١) طبران: ٢٤/ ٤٣٢-٤٣٤، ١.

Scanned with Ca

تردې چه حضورﷺ مستوی ته اورسیدو چرته چه د قضی او قدر د قلمونو اوازونه حضورﷺ واوریدل سدرة المنتهی نی اولیدله په کومه چه د الله ﷻ عظمت راخور وو.دسرو زرو ملخان اوقسم قسم رنګونه په دې کښې ښکاریدل فرښتو د څلورو وارو طرفونه راګیره کړې وه. هم هلته حضورﷺ حضرت جبرائیل ؑ په خپل اصلی شکل کښې اولیدلو شپږ سوه ورزې وې. هم هلته حضورﷺ رفرف د شین رنګ اولیدلو کوم چه د آسمان غاړې پټې کړې وې. د بیت المعمور زیارت نی اوکړو چه د خلیل الله ؑ د زمکې د کعبه بالکل د پاسه په آسمانونو باندې دې یعنی آسمانی کعبه ده خلیل الله ؑ دې ته ډډه وهلې ناست وو.دې ته هره ورځ اویازره فرښتې د الله ﷻ عبادت د پاره راځی خوچه کومې نن راغلې د هغوی وار د قیامته پورې هم بیا نه راځی. حضورﷺ جنت اودوزخ اوکتلو مونږ له د الله ﷻ د طرف نه پنځوس مونځونه فرض شو بیا کمې اوشو او پنځه کیخودې شو چه خاص د الله ﷻ رحمت دې. د دې نه د مانځه فضیلت او بزرګی صفا ښکاره کیږی بیاحضورﷺ واپس بیت المقدس طرف ته راکوز شو او هغوی سره ټول انبیاء کرامو هم راکوزشول هلته حضورﷺ دې ټولوته مونځ اوکړو کله چه د مانځه وخت شو. اود بعضې حضراتو داخیال دې چه دا امامت په آسمانونو باندې شوې خو د صحیح روایت نه په ظاهره دا واقعه د بیت المقدس معلومیږی. سره د دې چه په بعضې روایتونوکښې داهم راغلی چه په تلوکښې حضورﷺ دا مونځ کړې وو خو ظاهره دا ده چه هغوی په واپسئی کښې دا امامت کړې. د دې یودلیل خودا دې چه کله په آسمانونو باندې انبیاء کرامو سره ملاقات کیږی نو حضورﷺ د هریوباره کښې د حضرت جبرائیل ؑ نه تپوس کوی چه دا څوك دې نوکه په بیت المقدس کښې دا مونځ شوی وونو اوس به ددې سوال کولو حاجت نه وو. بل دا چه د ټولو نه لوئ غرض او اوچتوالی باندې د الله ﷻ په حضور کښې حاضریدل وو نو په ظاهره هم دا خبره په ټولو باندې مقدم وه نوچه کله دا اوشوه اوبه حضورﷺ باندې اود هغه په امت باندې کومه د مونځونو فریضه مقرریدل وو هغه هم اوشوه اوس حضورﷺ ته د خپلورونړوسره دیوځائ کیدو موقعه ملاوشوه اوددې ټولو په وړاندې د هغوی فضیلت او بزرګی ښکاره کولود پاره د حضرت جبرائیل ؑ په اشاره باندې حضورﷺ امام شو او هغوی ته ئې مونځ اداکړو. بیا د بیت المقدس نه په براق سور د شپې په تیاره کښې واپس د سحرد څه رنړا په وخت کښې حضورﷺ مکې مکرمې ته راورسیدو. والله سبحانه وتعالی اعلم.

**د پئیواو شاتو وضاحت**:-اوس چه داکوم نقل دی چه د حضورﷺ په وړاندې پئیی او شات، یا پئیی او شراب یاپئیی او اوبه پیش کړې شوې اویاهم څلور واړه څیزونه.ددې بابت کښې په روایتونوکښې داهم دی چه دا واقعه د بیت المقدس ده اودا هم دی چه دا واقعه د آسمانونوده خودا کیدی شی چه هم په دواړوځایونوکښې دا څیز دحضورﷺ مخې ته پیش شوې وی ځکه چه لکه د یو راتلونکی مخې ته د میلمستیاپه توګه څه څیز کیخودې شی دغه شان دا هم وی.

**د حضورﷺ معراج بدنی وو که روحانی؟**:-بیا په دې کښې هم خلقو اختلاف کړې دې چه معراج په هغوی باندې د بدن او روح سره کړې شوې وویا صرف په روحانی توګه باندې؟ د اکثرو علما کرامو خو هم دا قول دې چه معراج هغوی ته د بدن او روح سره کړې شوې وو او شوې هم وو په ویښه نه چه په خوب کښې. اود دې خبرې انکارنه دې چه حضورﷺ ته اول په خوب کښې دا څیزونه خودلې شوی وو حضورﷺ چه به په خوب کښې کوم یوڅیز اوکتلو نوهغه به ئی هم هغه شان په ویښه هم کتلو. د دې د ټولونه لوئ یودلیل خودا دې چه د دې واقعه بیانولو نه وړاندې الله ﷻ خپل پاکوالې بیان کړو. د دې قسم بیانولو تقاضا داده چه د دې نه پس کومه خبره وی هغه ډیره اهمه ده که چرې دا واقعه د خوب اوګنړلې شی نو په خوب کښې داسې خبرې کتل دومره اهم نه وی چه د هغې بیان فرمائیلو نه وړاندې الله ﷻ د خپل احسان او قدرت د اظهار کولو د پاره خپل تسبیح بیان کړی. بیا که چرې دا واقعه د

Scanned with Ca

خوب وه نوكافرانو به دومره زردحضورﷺ تكذيب نه كولو چه يوسړي خپل خوب او په خوب كښې عجيبه څيزونه بيان كوى دې هيڅ وجه نه وه چه هغوى داسې په منډه منډه راغله او اوريدو سره ئې په سختنى سره انكار اوكړو. بيا چه كومو خلقو اول په حضورﷺ باندې ايمان راوړلې وو اود هغوىﷺ رسالت ئې قبول كړې ووڅه وجه ده چه هغوى د معراج واقعه اوريدلوسره د اسلام نه اوړى دې نه هم معلوميږى چه حضورﷺ دخوب واقعه بيان كړې نه وه. بيا د قرآن په لفظ ﴿بِعَبْدِهٖ﴾ باندې غور اوكړئى د عبد اطلاق په روح اوبدن دواړو باندې راځى. بيا ﴿أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ﴾ فرمائيل دا څيز نور هم صفاكوى چه هغه خپل بنده د شپې په لږه شان حصه كښې بوتلو. د دې كتلوسبب د خلقود ازميښت دسبب آيت ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ ﴾(١)فرمائيلې شوې دې. كه داهم خوب وو نو په دې كښې د خلقو داسې كوم يوازميښت وو كوم چه په مستقل توګه باندې بيان فرمائيلې شو. حضرت ابن عباس ﷺ د دې آيت په تفسيركښې فرمائى چه دا د سترګو ليدل وو كوم چه رسول الله ﷺ ته اوخودلې شو (بخارى) (٢)پخپله قرآن پاك فرمائى ﴿مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى﴾(٣)نه خوئى نظردهوكه شوې نه بل خوا شوې. ښكاره خبره بصر يعنى ليدل د انسان د ذات يولوئ صفت دې دا نه چه صرف د روح. بيا د براق سورلى راوستل او دې سپين پرقيدونكى څناورباندې حضورﷺ سورول اوبوتلل هم ددې خبرې دليل دې چه دا واقعه د ويښې اوبدنى ده ګنى نو صرف د روح د پاره د سورلئى څه ضرورت .والله اعلم. نور خلق وائى چه دا معراج صرف روحى وو بدنى نه وو.

محمدبن اسحاق ليكى دحضرت معاويه ﷺ بن ابوسفيان ﷺ دا قول نقل دې چه حضرت عائشه ﷺ فرمائى چه بدن غالب شوې نه وو بلكه صرف روحانى معراج وو. د دې قول انكار نه دې كړې شوې څكه چه حسن ﷺ فرمائى ﴿وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْاٰنِ ۭ وَنُخَوِّفُهُمْ ۙ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا﴾ (٤)آيت نازل شوې دې اود حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ په نسبت خبرورکړې شوې دې چه هغوى اوفرمائيل چه ما په خوب كښې ستا حلالول ليدلى دى اوس ته سوچ اوكړه چه څه ګورې؟ بيا هم داحال پاتې وو نو ښكاره خبره ده چه په انبياءكرامو باندې وحى په ويښه هم راځى او په خوب كښې هم. حضورﷺ به فرمائيل چه زما سترګې اودې وى او زړه مې ويښ او بيدار وى. (٥)والله اعلم. په دې كښې كومه يوه خبره رښتياده؟ حضور ﷺ لاړو او ډيرې خبرې اوليدلې په كوم يو حال كښې چه هم هغوىﷺ وو په ويښه يا په خوب كښې ټول حق او رښتيادى. داخووو د محمد بن اسحاق قول. امام ابن جرير ﷺ د دې ډير زيات ترديدكړې دې او په هرقسم باندې ئى دا رد كړې دې اودائى خلاف ظاهر ګرځولې چه د قرآنى الفاظو دا قول سراسر خلاف دې. بيائى د دې خلاف ډير دليلونه قايم كړى دى. په كوموكښې چه مونږ هم يوڅو پورته بيان كړى دى. والله اعلم.

**د ابونعيم په روايت كښې يوه فائده:**-يوډيره ښكلې او زبردسته فائده ده په دې بيان كښې چه په دې روايت كښې كولې شى كوم چه حافظ ابونعيم اصبهانى ﷺ كتاب دلائل النبوة كښې راوړلې دې چه كله دحيه بن خليفه ﷺ رسول الله ﷺ قيصر روم له د قاصد په توګه اوليګلو او عرب سوداګر چه د شام په ملك كښې ووهرقل راجمع كړل په هغوى كښې ابوسفيان صخر بن حرب وو اودهغه ملګرى د مكې

---

(١) ١٧/بنى اسرائيل:٦٠.
(٢) صحيح بخارى كتاب التفسير سورة بنى اسرائيل باب ﴿وماجعلناالرؤياالتى اريناك الا فتة للناس.....﴾:٤٧١٦.
(٣) ٥٣/النجم:١٧.
(٤) ١٧/بنى اسرائيل:٦٠.
(٥) صحيح بخارى كتاب الوضوء باب التخفيف فى الوضوء:١٣٨٠، ابن خزيمه:١٥٢٤، ابوعوانة:٣١٧/٢، مسندحميدى٤٧٢، احمد:٢٢٠/١.

Scanned with Ca

نورکافران هم وو بیا هغه د دوی نه ډیر سوالونه اوکړل کوم چه په بخاري اومسلم کښې ذکر دی[1] او
ابوسفیان د اول نه تر آخره پورې دا کوشش وو چه څنګه د حضورﷺ بدی او سپکاوې د هغه په وړاندې
اوکړی دې دپاره چه د بادشاه د زړه رخ دحضورﷺ طرف ته نه وی. هغه پخپله وائي چه ماصرف د دې
ویرې غلطې خبرې کولواو تهمتونه لګولونه نه منع شوم چه چرته زما دروغ په هغه باندې ښکاره نه شي
بیاخو به دې زما خبره دروغ ګڼړی او ډیره پښیمانتیا به وی.هم په زړه کښې داخیال راغلو ماوئیل بادشاه
سلامت واورئی زه یوه واقعه بیانوم په کوم سره به تاسوته خبره ښکاره شي.محمدﷺ ډیر دروغژن سړې
دې(نعوذبالله) واورئی یوه ورځ هغه وئیل چه هغه د شپې مکې نه لاړواوستاسو په دې جمات یعني بیت
المقدس مسجد قدس ته راغلو اوبیا واپس د سحر نه وړاندې مکې ته اورسیدو.

**الفضل ما شهدت به الاعداء**:-زما دې خبرې اوریدو سره د بیت المقدس لاټ پادری کوم چه د روم بادشاه
سره په دې مجلس کښې ډیر په عزت سره ناست وو ډیر زر اووئیل چه دا بالکل رښتیادی ماته د دغه
شپې علم دې. قیصر ډیر په حیرانتیا سره د هغه طرف ته اوکتل او په ډیر ادب ئې تپوس اوکړو جناب
تاته څنګه معلومه شوه؟ هغه وئیل واورئی زما عادت وو اوداکار ما د ځان د پاره کړې وو چه ترکومې
د جمات ټولې دروازې په خپل لاس بند نه کړم اوده کیدم به نه. په دغه شپه زه د دروازو بندولو د پاره
راپاسیدم ټولې دروازې مې په ښه شان سره بندې کړې خویوه دروازه مانه بنده نه شوه. ما ډیر زور
اولګولو خو زنځیر د خپل ځائ نه اونه خوزیدو. ما هم هغه وخت خپلو سړو له آواز ورکړو هغوی راغله
مونږ ټولو پوره طاقت استعمال کړو خو ټول ناکامه شو اوداسې معلومیدله لکه چه مونږ یو غر د خپل
ځائ نه اخواکول غواړو خو هغه یوه ذره هم اونه خوزیدو. مالوهار راوغوښتو هغه مختلف چلونه اوکړل
کوشش ئې اوکړو خو هغه هم ماتې اوخوړله اووئې وئیل چه سحر به ګورو. هغه دروازه ټوله شپه هم
داسې پاتې شوه او دواړه زنځیرونه بالکل کولاو پاتې شو.زه سحر هغه دروازې له لاړم چه اومې کتل نو
هغې سره چه په ګوټ کښې کوم کاڼړې دې په هغې کښې سورې وواوداسې معلومیدله لکه چا چه په
کښې څه څناور تړلې وی د هغې اثراونښه موجود وه. زه پوهه شوم اوماهغه وخت خپلو ملګروته اووئیل
چه نن شپه دازمونږ جمات د یونبی د پاره کولاوکړې شوې دې اوهغه دلته ضرور مونځ اداکړې دې. دا
حدیث ډیر اوږد دې.

**د معراج حدیث متواتر دی**:-حضرت ابوالخطاب عمربن دحیه رحمه الله خپل کتاب التنویر فی مولد السراج
المنیر کښې د حضرت انس رضي الله عنه په روایت سره د معراج حدیث واردکولو سره د دې متعلق ډیر ښکلې
کلام کولونه پس فرمائی د معراج حدیث متواتردې. حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه حضرت علی رضي الله عنه
حضرت ابن مسعود رضي الله عنه حضرت ابوذر رضي الله عنه حضرت مالك بن صعصعه رضي الله عنه حضرت ابوهریره رضي الله عنه حضرت ابو
سعید رضي الله عنه حضرت ابن عباس رضي الله عنه، حضرت شداد بن اوس رحمه الله حضرت ابی کعب رحمه الله حضرت عبدالرحمن
بن قرظ رحمه الله حضرت ابو حبه رحمه الله حضرت ابولیلی رحمه الله حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه حضرت جابر رضي الله عنه
حضرت حذیفه رضي الله عنه حضرت بریده رضي الله عنه حضرت ابوایوب رضي الله عنه حضرت ابوامامه رضي الله عنه حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه
حضرت ابوالحمراء رضي الله عنه حضرت صهیب رومی رحمه الله حضرت ام هانی رضي الله عنها حضرت عائشه رضي الله عنها حضرت
اسماء رضي الله عنها وغیره نه روایت دې.

په دوی کښې خو بعضو اوږدبیان کړې دې اوبعضو مختصر. سره د دې چه په دې کښې بعضې
روایتونه سنداً صحیح نه دی خوبیا هم بالجمله په صحت سره د معراج واقعه ثابته ده اومسلمانان په
اجماعي توګه د دې قائل دی او بې شکه زندیق اوملحدخلق د دې نه منکر دی هغوی د الله ﷻ نوراني

[1] صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب کیف کان بدء الوحي الی رسول الله ﷺ:٧، صحیح مسلم:١٧٧٣.

چراغ په خپلو پوکوباندې مړه کول غواړي خوهغه به په پوره رڼا سره هم پرقیدونکې وي که کافرانو باندې بدلګی نو هم.

وَاٰتَيْنَا مُوْسَى

او ورکړې وو مونږ | موسی ته

او مونږ موسی ﷺ ته

الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا

کتاب | اوګرځولې وو مونږه هغه | ذريعه دهدايت | دپاره دبنی اسراءيلو | چې

کتاب ورکړواو دا کتاب مونږ بنی اسرائيلو دپاره دهدايت ذريعه ګرځولې وه چې خبردار

تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا

مه نيسئ تاسو | بغير زمانه | ځوك وکيل | اولادې | دهغه چا | چې سواره کړي وو مونږ

زما نه بغير بل هيڅوک خپل کارساز اونه ګڼړئ اتی دهغه چا اولاده چې مونږ دنوح ﷺ

مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ۝ وَقَضَيْنَآ

دنوح سره | بيشکه هغه | وو | بنده شکرايستونکې | اوخبرداري ورکړې وو مونږه

سره په (کشتئ کنبې) سوارۀ کړي وې بيشکه نوح ﷺ يوشکرګزار بنده وو او مونږ بنی

اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ فِي الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ

بنی اسراءيلوته | په کتاب کنبې | چې خامخابه تاسوفسادکوئ | په زمکه کنبې | دوه ځله

اسرائيلو ته په خپل کتاب کنبې داخبره په ګوته کړې وه چې تاسو به په ملک کنبې دوه ځله فسادکوئ

وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

او خامخا به تاسو سرکشئ کوئ | سرکشی | لويه | نوهرکله چې | راغله | وعده

او ډيره سرکشي به کوئ پس هر کله چې په دوؤ کنبې د ړومبنئ

اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ

داولنئ سرکشئ په هغه دواړو کنبی | نو راپورته کړل مونږه | ستاسو خلاف | داسې بندګان زمونږه

وعدې (دپوره کيدو) وخت راغلو نومونږ په تاسو باندې خپل داسې بنديان

اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ؕ وَكَانَ

چې خاوندان | دجنګ سخت وؤ | نو ننوتل هغوئ | په منځ دکورونو ستاسو کنبی | اووه

اوګومارل چې ډير جنګيالی وونو ستاسو په کورونو درننوتل او دايوه داسې وعده وه

وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۝ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ

دايوه وعده | چې خامخابه کيدله | بيا | اوايس درکړه مونږه | تاسو له | اموقع دغلبې | په هغوئ باند

چې خامخا به پوره کيدله بيا مونږ دوباره تاسو له په هغوئ باندې غلبه درکړله او په مالونو او په

Scanned with Ca

وَاَمۡدَدۡنٰكُمۡ بِاَمۡوَالٍ وَّبَنِيۡنَ وَجَعَلۡنٰكُمۡ اَكۡثَرَ

اوامدادموا وکړوستاسو | په مالونوسره | اوپه اولادسره | اوکړئ مونږه تاسو | زيات |

خامنو ستاسو مدد او کړو او تاسو نه مو يو لوئي ټولي

نَفِيۡرًا۞ اِنۡ اَحۡسَنۡتُمۡ اَحۡسَنۡتُمۡ لِاَنۡفُسِكُمۡ

په لحاظ دافرادو سره | که نيکئ اوکړئ تاسو | نو نيکئ کوئ تاسو | دپاره دخانونو ستاسو |

جوړ کړو که تاسو ښه کوئ نو خپل خان دپاره ښه کوئی

وَاِنۡ اَسَاۡتُمۡ فَلَهَا ؕ فَاِذَا جَآءَ وَعۡدُ الۡاٰخِرَةِ

او که بدئ اوکړه تاسو | نوبدئ ده دغه نفس لره | نو کله چی | راغې | وخت دوعدې | روستنئ |

او که بد کوئ نو خان سره بد کوئی نو بياچې د ددويمې نيتې وخت راغلو

لِيَسُوۡٓءٗا وُجُوۡهَكُمۡ وَلِيَدۡخُلُوا الۡمَسۡجِدَ كَمَا

دپاره ددې چې ورانې کړي | اگونې دمخونوستاسو | اودپاره ددې چې ننوځی | مسجدته | لکه څنګه چې

چې هغه (دښمن) ستاسو مخونه وران کړي او هغوئ په مسجد اقصی کښې ورننوځی لکه چې

دَخَلُوۡهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّلِيُتَبِّرُوۡا مَا عَلَوۡا

ننوتی وؤهغې ته | په اول ځل | اوچې تباه کړي | هغه څه | چې غالب شي پرهغوئ |

هغوئ په اول ځل ورننوتی وو او داچې کوم ځائې غلبه بيامومی هغه پوره

تَتۡبِيۡرًا۞ عَسٰى رَبُّكُمۡ اَنۡ يَّرۡحَمَكُمۡ ۚ وَاِنۡ

په کامل تباه کولوسره | کيدې شی | چې رب ستاسو | رحم اوکړي په تاسو | او که

برباد کړي اميد دې چې ستاسو رب په تاسو رحم اوکړي او که

عُدۡتُّمۡ عُدۡنَا ۘ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ

واپس اوګرزيدئ تاسو | نومونږ به هم واپس اوګرزو | او جوړکړي دې مونږه | دوزخ | دپاره دکافرانو

تاسو بياهغه څه اوکړل نومونږ به هم هغه کوؤ او مونږ دوزخ کافرانو دپاره قيدخانه

حَصِيۡرًا۞

قيدخانه |

جوړه کړې ده

**قوله‌تعالی:- وَاٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ**

**د معراج دواقعه نه پس د موسی ﷺ ذکر:-** دحضورﷺ د معراج د واقعه نه پس د خپل پيغمبرحضرت کليم الله ﷺ ذکر فرمائی په قرآن کريم کښې عموماً دا دواړه بيانونه په يوځائ راغلی دی دغه شان د تورات او قرآن کريم بيان هم نيزدې نيزدې دې. د حضرت موسی ﷺ د کتاب نوم تورات دې هغه کتاب د بنی اسرائيلو د پاره د هدايت وو هغوی ته حکم شوې وو چه د الله ﷻ نه بغير بل څوك ولی امدادی اومعبود مه ګنړئی. هريو نبی د الله ﷻ توحيدسره راغلې دې. بيا هغوی ته وئيلې شی چه اې د هغه بزرګانو

Scanned with Ca

اولاده کوم چه مونږ په خپل احسان سره مشرف کړي وو چه د نوح ﷺ د تباه کونکی طوفان نه مونږ هغوی بچ ساتلي وو اوخپل خوږ پيغمبرحضرت نوح ﷺ سره مو په کشتئی کښې سواره کړی وو. تاسو له د خپلومشرانو په شان زمونږ شکر کول پکاردی. ګورئی ماستاسو طرف ته خپل آخری رسول محمد ﷺ درليګلي دي. روايت دي چه حضرت نوح ﷺ په خوراك څښاك اواغوستلو غرض په هر وخت کښې د الله ﷻ حمد او ثناء بيانوله په دې وجه هغه ته شکر کونکې بنده اوونيلې شو (١)داهم روايت دې چه هغوی به په هرحال کښې د الله ﷻ شکر کولو.دشفاعت والا اوږدحديث کوم چه په بخاری وغيره کښې دې په دې کښې دی چه کله خلق د شفاعت د غوښتلو د پاره حضرت نوح ﷺ له راشي.نو هغه ته به اوونيلې شی چه د زمکې د خلقو د پاره تاسو ړومبې رسول وئی چه الله ﷻ ستاسو نوم شکر کونکې بنده کيخودو تاسو د خپل رب نه زمونږ د پاره سفارش اوکړئی الخ. (٢)

**د بنی اسرائيلو دوه ځل سرکشی:-** -کوم کتاب چه په بنی اسرائيلو باندې نازل شوې ووهم په هغې کښې الله ﷻ هغوی ته اول خبرورکړې وو چه هغوی به په زمکه باندې دوه ځل سرکشی کوی اوسخت فساد به کوی نودلته د﴿ قَضَيْنَآ ﴾معنی مقررکول اود اول نه خبر ورکول دی. لکه چه آيت ﴿ وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴾ (٣)کښې هم دا معنی ده.

**اوله سرکشی اود هغې انجام:-**نودهغوی د ړومبی فساد په وخت کښې مونږ د خپل مخلوق نه هغه خلق په هغوی باندې مسلط کړل چه ډيرزيات جنګ کونکی سخت بدنونو والا په سازوسامان اووسله باندې پوره وو. هغوی په دوی باندې قبضه اوکړه د هغوی ښارونه ئې واخستل په لوټ مارکولو سره ئې د هغوی دکورونو پورې خالي کړل اوبې ويرې اوبې خطرې لاړل.دالله ﷻ وعده خو پوره کيدل وو. وائی چه دادجالوت لښکر وو بيا الله ﷻ د بنی اسرائيلو امداد اوکړو اود حضرت طالوت په بادشاهئی کښې بيا اوجنګيدل اوحضرت داؤد ﷺ جالوت قتل کړو.داهم وئيلې شوی دی چه دموصل بادشاه سخاريب اود هغه لښکر په هغوی باندې حمله کړې وه. بعضې وائی چه د بابل بادشاه بخت نصر حمله کړې وه. ابن ابی حاتم دلته يوه ډيره عجيبه قصه نقل کړې ده چه دې سړی څنګه درجه په درجه ترقی کړې وه. په اول کښې دا يوفقير وو پروت به وو او خيرغوښتلو باندې به ئې ګذاره کوله. بيا هغه د بيت المقدس پورې فتح اوکړه اوهلته ئې بنی اسرائيل په بې دردئی سره قتل کړل.ابن جرير رحمه الله دلته ددې آيت په تفسير کښې.يواوږدمرفوعی قول نقل کړې دې چه صرف موضوعی دې اوددې په موضوعی کيدوکښې د چاهم شك نه شی کيدې.حيرانتياده چه سره د دومره لوئ علم امام صاحب رحمه الله داحديث نقل کړې دې. زمونږ استاذ شيخ حافظ علامه ابوالحجاج مزی رحمه الله ددې موضوعی کيدو وضاحت کړې دې اود کتاب په حاشيه باندې هم ليکلې دی.په دې باره کښې د بنی اسرائيلو هم ډير روايتونه دی خو مود هغې په ذکر کولو سره هسې بې فائدې خپل کتاب نه اوږدول غواړو. ځکه چه په دې کښې بعضې خو موضوعی دی او بعضې به داسې نه وی خوالحمدلله مونږ ته د دغه روايتونو هيڅ ضرورت نشته د الله ﷻ کتاب مونږ د ټولوکتابونونه د بې نيازه کولو والا کتاب دې د الله ﷻ کتاب اود هغه د رسول ﷺ احاديثو مونږ د داسې څيزونو محتاج کړې نه يو.

**بيت المقدس باندې قبضه:-**صرف دومره ده چه دبنی اسرائيلو دسرکشئ په وخت الله ﷻ د هغوی دښمنان په هغوی باندې مسلط کړل چا چه هغوی ته ښه مزه ورواڅکله ډيره خرابه سزائی ورکړه دهغوی بال بچ

---

(١) الطبری: ٢٥٤/١٧، حاکم: ٣٦٠/٢، وسنده ضعيف.

(٢)صحيح مسلم کتاب الذکر والدعاء، باب استحباب حمدالله تعالى بعد الاکل والشرب: ٢٧٣٤، سورة بنی اسرائيل باب ﴿ذرية من حملنا مع نوح انه کان عبداشکورا....﴾: ٤٧١٢، صحيح مسلم: ١٩٤.

(٣) ١٥/الحجر: ٦٦.

Scanned with Ca

نی د تیغ نه اوویستل هغوی دومره ذلیل اوخوارکړل چه د هغوی په کورونوکښې ورننوتل او تباه ئې کړل اود هغوی دسرکشئی پوره سزا ئې ورکړه. هغوی په زور ظلم کښې څه کمې نه وو پریخې عام خلق خو عام چه هغوی د انبیاؤ مرئی پرې کړې وې.علماء ئې په رنړا ورځ قتل کړې وو بخت نصر د شام په ملك باندې غالب راغلو بیت المقدس ئې وران کړودهغه ځائ اوسیدونکی ئې قتل کړل بیادمشق ته اورسیدو. دلته ئې اوکتل چه په یوسخت کاڼی باندې وینه ټوپونه وهی تپوس ئې اوکړو داڅه دی؟ خلقو وئیل چه مونږ خود خپل پلار نیکه نه هم داسې ګورو داوینه یوشان راخوټکیږی اودریږی نه. هغه هم هلته قتل عام شروع کړو اویازره مسلمانان د هغه د لاسه دغه ځائ کښې قتل شو نو هغه وینه اودریده([1])هغه عالمان حافظان اوټول شریفان اوعزت داره خلق ډیر په بې دردئی سره قتل کړل په هغوی کښې دتورات یوحافظ هم بچ پاتې نه شو. بیائی قید کول شروع کړه او په دې قیدیانوکښې د انبیاء کرامو ځامن هم وو غرض دا چه یوه ډیره خطرناکه هنګامه اوشوه. د صحیح روایتونونه څه بلکه صحیحوالی ته نیزدې روایتونونه هم تفصیلات نه ملاویږی پدې وجه مونږ داپریخودل.والله اعلم. بیا فرمائی چه دنیکئی کونکی په اصل کښې هم خپله ښیګړه کوی اوبدی کونکې په اصل کښې هم خپل نقصان کوی لکه چه ارشاددې ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ﴾([2])څوك چه نیك كاراوكړی هغه دهغه د خپل ځان دپاره دې اوچه څوك بدی اوكړی دهغې بوج به هم په هغه باندې وی

**دویمه سرکشی او دهغې انجام**:-بیاچه کله دویمه وعده راغله اوبنی اسرائیلودالله ﷻ په نافرمانو باندې ښه په ښکاره ملااوتړله او په بې باکئی او بې حیائې سره ئې ظلم کول شروع کړو نوبیا د هغوی دښمنان راغله چه د هغوی شکلونه وران کړی اود بیت المقدس جمات چه څنګه اول هغوی په خپله قبضه کښې کړې وو اوس بیا ئې په قبضه کښې کړی او چه ترکومې وس وی هرڅیز تباه کړی داهم اوشو. ستا رب خودې د رحم اوکرم والا اود هغه نه نااميدی کول ښه نه دی ډیرممکن دی چه بیا دښمن راښکته کړی. اودا یادساتئی چه دیخوا تاسو سراوچت کړو اخوا مونږ ستاسو سرونه چقنړی کړل یوخواتاسو فساد جوړکړو بل خوامونږ تاسو تباه کړنی. داخوشوه دنیاوی سزا اوس لاد آخرت زبردست اونه فناکیدونکې سزا باقی ده. دوزخ د کافرانو قیدخانه ده د کوم ځائ نه چه به هغوی نه اوتختیدی شی اونه وتې شی. دهمیشه دپاره به د هغوی استوګنه هم دلته وی([3])حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه بیاهم هغوی سر اوچت کړو او یوشان ئې د الله ﷻ فرمان پریخودو اومسلمانانو سره اونختل. الله ﷻ امت محمدیهﷺ په هغوی باندې غالب کړو اوهغوی ئې خوارکړل او جزیه ورکول ورته پریوتل. ([4])

| إِنَّ | هٰذَا الْقُرْاٰنَ | يَهْدِيْ | لِلَّتِيْ | هِيَ اَقْوَمُ |
|---|---|---|---|---|
| بیشکه | چې دا قران | ښائي | هغه لار | چې هغه بلکل نیغه ده |
| بیشکه دا قران پاک هغه لاره ښائي چې کومه بالکل نیغه ده | | | | |

| وَيُبَشِّرُ | الْمُؤْمِنِيْنَ | الَّذِيْنَ | يَعْمَلُوْنَ | الصّٰلِحٰتِ | اَنَّ |
|---|---|---|---|---|---|
| اوزیرې ورکوي | منونکوته | هغه منونکی | چې هغوئ عمل کوي | نیک | چې بیشکه |
| اوکوم ایماندار چې نیک کارونه کوي هغوئ ته زیرې ورکوي چې دهغوئ | | | | | |

[1] الطبری:١٧/٣٢٩.

[2] ٤١/حمٓ السجدة:٤٦.

[3] الطبری:١٧/٣٩٠.

[4] الطبری: ١٧/٣٨٩.

Scanned with Ca

لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ﴿٩﴾ وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

دي دهغوئ دپاره | اجر | لوئ | اوبيشكه | هغه كسان | چي نه مني | اخرت لره |

دپاره ډير لوئي اجر مقرر دي او دا چي كوم خلق په آخرت باندي ايمان نه راوړي

اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٠﴾

تيار كړي دي مونږه | دپاره دهغوئ | عذاب | دردناك |

مونږ هغوئ دپاره دردناک عذاب تيار كړي دي

قوله تعالى:- اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ

**ترغيب الى القران او بشارت:-** الله ﷻ د خپل پاك كتاب په تعريف كښي فرمائي چه دا قرآن د بهترينې لارې طرف ته لارخودنه كوي. ايماندار چه د نبي‌كريم ﷺ د فرمان مطابق عمل هم اوكړي هغوى ته دا زيرى اوروى چه دهغوى دپاره الله ﷻ سره ډير لوئ اجر دي او بې شماره ثوابونه دي. اوچه څوك د ايمان نه خالي دى د هغوى دپاره دا قرآن د قيامت په ورځ د سختوعذابونو خبروركوى لكه چه ارشاد دې ﴿فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾[1] دوى ته د دردناك عذابونو خبر اورسوه.

وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ

| اوغواړي | انسان | شرلره

اوځيني انسانان دعذاب دپاره داسي دعا غواړي

دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْنَا

پشان دغوښتلودهغه | خيرلره | اودي انسان | تلواركونكي | اوجوړي كړي دي مونږه

لكه چي دنيكئ دعا غواړي او انسان ډير تلوار كوؤنكي دي اومونږ

الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ

شپي | او ورځي لره | دوه نښي | نوبې رڼا كړه مونږه | نښه دشپي | اوجوړه كړه مونږ | نښه د ورځي

دشپي اودورځي نه دوه نخښې جوړې كړي دى اود ورځې نخښه مو

مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا

روښانه جوړه كړيده | دپاره ددې چي تلاش كړئ تاسو | فضل | ادرب خپل نه | اودپاره ددي چي معلومه كړئ تاسو

روښانه كړي ده چي تاسو په كښي دخپل رب فضل لټولي شئ او چي دكلونو

عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿١٢﴾

شمار دكلونو | اودحساب | اوهر څيز | واضحه بيان كړي دي مونږه | په وضاحت سره

شمير او نور حساب درته معلوميږى او هر څيز مونږ په تفصيل سره بيان كړي دي

قوله تعالى:- وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ۭ

**د انسان د بې صبرئ بيان:-** -يعنى انسان كله كله خفه شي نااميده شي او د سختي غلطئى په وجه د خپل ځان د پاره بدې دعاګانې غواړى كله د خپل مال اولاد د پاره خيرې كوى كله د مرګ كله د

[1] ٣/آل عمران:٢١.

هلاکت اوکله د بربادئی او لعنت. خود ده الله ﷻ پخپله د ده نه زيات مهربان دې که يوخوا بددعا اوکړی اوبل خوائی الله ﷻ قبوله کړی نو بس هم اوس به هلاك شی([1])په حديث کښې هم دی د خپل خان او مال د پاره خيرې مه کوئی هسې نه چه د قبوليت په يووخت کښې دې داسې بده کلمه د ژبې نه اوځی([2])د دې وجه د انسان بې قراری او جلدبازی ده ځکه چه دی خودې جلدباز. حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه په دې موقعه باندې د حضرت آدم علیه السلام واقعه ذکر کړې ده چه لاتراوسه پورې ئی پښوته روح نه وو رسيدلې چه هغوی د اودريدو اراده اوکړه. روح د سرد طرف نه راروان وو چه کله پوزې ته اورسيدو نو اتروشې راغلو هغوی اووئيل الحمدلله نو الله ﷻ اوفرمائيل ﴿يرحمك ربك ياآدم﴾ اې آدم علیه السلام په تادې خپل رب رحم اوکړی.کله چه سترګوته اورسيدو نو سترګې کولاوکړې وئی کتل چه کله نورلاندې اندامونوته اورسيدو نو د خوشحالئی نه خپل خان ته اوکتل اوس لاترپښوپورې نه وو رسيدلې چه د روانيدو اراده ئی اوکړه خو روان نه شو نو دعائی اوکړه چه اې الله ﷻ د شپې نه وړاندې دې روح راشی([3])

**شپه ورځ د الله ﷻ د قدرت دليل:**-الله ﷻ د خپلو لويو لويونښو نه دلته د دوو بيان فرمائی چه شپه ورځ هغه بيل بيل قسم جوړې کړې. شپه د آرام د پاره او ورځ د روزګاردپاره په دې کښې کار روزګار کوئی صنعت اوحرفت کوئی سيل اوسفرونه کوی.د شپې ورځې په اختلاف باندې د دوارو په يوځائ کولوسره د مياشتو اوکالونو شميرمعلومولې شئی دی د پاره چه په لين دين کښې معاملاتوکښې د قرض په موده کښې د عبادت په کارونو کښې آسانی او پيژندګلواوشی. که هم يووخت وې نو ډيره به ګرانه وه. رښتيادی که الله ﷻ غوښتل نو هم شپه به وه د چا دومره قدرت نه وو چه ورځ کړې به ئی وه. اوکه هغه هميشه هم ورځ ساتله نو د چا مجال وو چه شپه ئی راوستې وه؟د قدرت دانښې د اوريدلو اوکتلو دی داهم دهغه رحمت دې چه شپه ئی د آرام د پاره جوړه کړه او ورځ د معاش د لټون د پاره.دا دواړه ئی يو بل پسې يوشان راتلونکی جوړې کړې چه د شکر اونصيحت اراده لرونکی کامياب کړې شی. هم د هغه په لاس کښې د شپې ورځې اختلاف دې هغه د شپې پرده په ورځ اود ورځې په شپه باندې خيژوی. نمر سپوږمئی هم د دې په ماتحتئی کښې دی هريويه خپل مقرر وخت باندې ځی راځی. هغه الله ﷻ غالب اوغفاردې هغه دسحر راويستونکې دې هم هغه شپه د آرام والا جوړه کړې ده اونمر سپوږمئی ئی مقرر کړی دی دا د الله ﷻ چه عزيز اوعليم دې مقررکړې شوې اندازه ده. شپه د خپلې تيارې نه د سپوږمئی نه پيژندلې شی او ورځ د رڼړا اونمر د راختلونه معلوميږی. نمر سپوږمئی دواړه روښانه اومنور دی خو په دوی کښې ئی هم پوره لرې والې ايخودې دې چه هريو اوپيژندلې شی. نمر ډير پرقيدونکې او سپوږمئی نورانی هم هغه کړی دی. منزلونه هم هغه مقررکړی دی دې د پاره چه حساب اوکال معلوم وی. د الله ﷻ دا پيدائش حق دې. الخ.

**د سپوږمئی باره کښې يوسوال:**- قرآن پاك کښې دی خلق تانه د سپوږمئی باره کښې تپوس کوی اووايه چه هغه د خلقو د پاره وختونه دی اود حج د پاره هم الخ. د شپې تياره اخواکيږی اود ورځې رڼرا راځی. نمر د ورځې علامت دې او سپوږمئی د شپه نښه ده([4])الله ﷻ سپوږمئی لکه شان توره پيداکړې ده اود شپې نښه سپوږمئی ئی په نسبت دنمرتته جوړه کړه په دې کښې ئی يوقسم داغ کيخودو.ابن الکواء د حضرت امير المؤمنين حضرت علی رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه په سپوږمئی کښې داسورې ځنګه دې؟

---

[1]) الطبری:۱۷/۳۹۳-۳۹٤.

[2]) صحيح مسلم کتاب الزهد باب حديث جابر الطويل وقصة ابی السير:۳۰۰۹، ابن حبان:۵۷٤۲.

[3]) الطبری:۱۷/۳۹٤-۳۰۵.

[4]) الطبری:۱۷/۳۹٦.

Scanned with Ca

هغوی اوفرمائیل ددې بیان پدې ایت کښې دې چه مونږ دشپې نښه یعنی سپوږمئی ککوړې تت غوندې کړو اود ورځې نښه مو ښه روښانه کړه. داد سپوږمئی نه ډیر روښانه او ډیر لوئ دې. د شپې ورځې نې دوه نښې مقرر کړې د دوی پیدائش هم په دې شان سره دې. [1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَكُلَّ اِنْسَانٍ | اَلْزَمْنٰهُ | طٰٓئِرَهٗ | فِیْ عُنُقِهٖ ط |
| اوهرانسان چې دې | لازم کړې دې مونږه دهغه سره | قسمت دهغه | په غاړه دهغه کښې |
| اومونږ دهر چا عملنامه دهغه دغاړې امیل کړې دې | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَنُخْرِجُ | لَهٗ | يَوْمَ الْقِيٰمَةِ | كِتٰبًا | يَّلْقٰهُ |
| او را اوباسو مونږه | دپاره دهغه | په ورځ دقیامت | لیکلې شوې کاغذ | چې اوبه وینی هغه کاغذ |
| اودقیامت په ورځ به ورته یو عملنامه مخامخ کیږدو چې سپړلې | | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مَنْشُوْرًا ۝١٣ | اِقْرَاْ | كِتٰبَكَ ط | كَفٰى | بِنَفْسِكَ | الْيَوْمَ | عَلَيْكَ | حَسِيْبًا ۝١٤ ط |
| غوړیدلې | او لوله | عملنامه خپله | کافی دې | نفس ستا | نن ورځ | په تاباندې | حساب کونکې |
| به ئې اووینې (اوبه وئیلې شي) خپله عملنامه اولوله نن ته دخپلې عملنامې دحساب دپاره په خپله کافی یئ | | | | | | | |

**قوله تعالی:- وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ**

**هريوبه خپله عمل نامه اووينی:-** پورتنوآیاتونوکښې نې دزمانې ذکراوکړو په کومه کښې چه دانسان اعمال وی. اوس نې دلته اوفرمائیل چه د ده کوم عمل وی ښه وی که بد هغه ده پورې اینخلی د نیکئی بدله به نیکه ملاویږی اودبدئی بدله بده که په هرڅومره کم مقدارکښې ولې نه وی [2] لکه چه فرمان دې د ذرې هومره برابر خیر او هم دومره شر به هرسړې د قیامت په ورځ اووینی [3] اوبل ځائ ارشاد دې ښی اوګس طرف ته هغوی ناستې دی کومه خبره چه د خلې نه اوځی هغه هم هغه وخت وراولیکی. [4] بل ځائ ارشاددې ﴿وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ۝﴾ [5] په تاسوباندې خیال ساتونکی دی بزرګې دی لیکونکی دی ستاسوپه هرکارباندې خبردی. بل آیت کښې دی تاسوته به صرف ستاسودکړې شوی عمل بدله ملاویږی. بل ځائ ارشاد دی هربدی کونکی ته به سزا ملاویږی [6] مقصددادې چه د بنیادم لوئ واړه پټ اوښکاره نیک اوبد ټول عملونه سحر ماښام شپه ورځ برابر لیکلې کیږی. مسنداحمد کښې رسول الله ﷺ فرمائی دهریوانسان د عمل بدی دهغه په مرئی کښې ده. ابن لهیعه رحمه الله فرمائی تردې چه شګون اخستل هم. [7] د هغه اعمالو د مجموعې کتاب به د قیامت په ورځ یا د هغه په ښی لاس کښې ورکولې شی او یا په ګس لاس کښې. دنیکانو به په ښی لاس کښې اود بدانو په ګس لاس کښې کولاوشوې وی چه هغوی نې هم اولولی اودوی نې هم. د هغه د ټول عمر اعمال به په دې کښې لیکلې شوې وی. لکه چه د الله ﷻ فرمان دې ﴿ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ۝ ﴾ [8] په هغه ورځ به انسان د خپلو ټولو وړاندې

[1] الطبری: ٣٩٧/١٧.
[2] الطبری: ٣٩٨/١٧.
[3] ٩٩/الزلزال: ٥-٦.
[4] ٥٢/الطور: ١٦.
[5] ٨٢/الانفطار: ١٠.
[6] ٥٠/ق: ١٧.
[7] احمد: ٣/٣٦٠.
[8] ٢٥/القيامة: ١٣.

روستو عملونو نه خبرولې شی انسان خو په خپله معامله کښې هم پخپله حجت دې که هغه په خپله بې ګناهئی کښې هرڅومره بهانې پيش کړی. هغه وخت به ده ته فرمائيلې شی چه ته ښه پوهيږې چه په تابه ظلم نه شی کولې په دې کښې هم هغه ليکلې شوی دی تا چه کوم کړی دی. هغه وخت به هيرکړې شوی څيزونه هم وريادشی د دې د پاره چه په حقيقت کښې د هيڅ عذر پيش کولوګنجائش به پاتې نه شی. بيامخې ته ئې کتاب دې سره د دې که په دنياکښې ليك لوستل نه وی کړې خو نن به هرسړې دا لوستلې شی.د سپ ذکرئې په خاص توګه د دې د پاره چه هغه يوه خاص حصه ده په دې کښې چه کوم څيززورړندکړې شی هغه اونخلی خامخابه کيږی. داخيال شاعرانوهم ښکاره کړې دې.رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دې چه دبيمارئې يوبل ته لګيدل هيڅ څيز نه دې فال هيڅ څيز نه دې د هريوانسان عمل د هغه د غاړې هاردې. بل روايت کښې دی چه فال د هريوانسان د هغه د غاړې هاردې. [1]

**د لفظ طائرمعنی**:-قتاده رحمه الله فرمائی چه په دې آيت کښې د طائر نه مراد عمل دې حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی اې بنيادمه ستا ښی اوګس طرف ته فرښتې ناستې دی کتابونه ئې کولاوکړی دی د ښی طرف والا نيکئې او د ګس طرف والا بدئې ليکی اوس ستااختياردې که ډيره نيکی کوې که ډيره بدی کوې. ستا په مرګ به دا کتاب راغونډکړې شی اوستاپه قبرکښې به ستا په سټ کښې زوړند کړې شی دقيامت په ورځ به کولاو ستا په وړاندې پيش کړې شی اوتاته به اووئيلې شی واخله خپله عمل نامه دې اوبخپله ئې اولوله اوهم ته حساب او انصاف اوکړه.د الله ﷻ قسم هغه ډير عدل کونکې دې چه ستا معامله هم تاته حواله کوی. [2]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَنِ | اهْتَدٰى | فَاِنَّمَا | يَهْتَدِيْ | لِنَفْسِهٖ ۚ | وَمَنْ |
| ځوك چې | په نيغه لار روان شو | نو بيشكه | هغه نيغه لار نيسی | د پاره د فائدې د ځان خپل | او ځوك چې |
| ځوک چې په سمه لار ځی نو يقينا د خپلې فائدې د پاره ځی اوځوک | | | | | |
| ضَلَّ | فَاِنَّمَا | يَضِلُّ | عَلَيْهَا ۚ | وَلَا تَزِرُ | |
| بې لارې شو | نو بيشكه | هغه وبال د ګمراهۍ ږدی | په دغه نفس باند | اونۀ به اوچتوی | |
| چې بې لارې شی نو هغه دخپل نقصان د پاره بې لارې شی او هيڅوک به | | | | | |
| وَازِرَةٌ | وِّزْرَ | اُخْرٰى ۚ | وَمَا كُنَّا | مُعَذِّبِيْنَ | حَتّٰى |
| يو بار اچتونكې | بار | د بل نفس نه | اونۀ يو مونږه | عذاب وركونكى | ترهغې پورې |
| د بل پيټې نه اوچتوی او مونږ عذاب نه وركوؤ تر څو | | | | | |
| نَبْعَثَ | رَسُوْلًا ۝ | | | | |
| چې راوليږو مونږه | يو رسول | | | | |
| چې يو پيغمبر اونه ليږو | | | | | |

**قوله تعالى**:-مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ

**په حکم منلوکښې د انسان هم خپله فائده ده**:- ـچاچه نيغه لار اختيارکړه دحق تابعداری نی اوکړه د پيغمبرئې اومنل دهغه هم په خپل حق کښې ښيګړه ده اوچه څوك د حق نه واوختل د صحيح لارې نه بې لارې شول بيادهغه بوج هم په هغه دې هيڅ څوك به دبل چا په ګناه کښې نه شی نيولې. د هرچاعمل

---

[1] احمد:٤/١٤٦.
[2] الطبری:١٧/٤٠٠.

Scanned with Ca

هم هغه سره دې هيڅ څوك به نه وى چه د بل بوج به اوچت كړى. بل ځاى قران پاك كښې ارشاد دي ﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ﴾ (١)بل آيت كښې دى ﴿وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ﴾ (٢) يعنى خپل بوج سره به دوى دهغوى بوج هم اوچتوى كوم چه دوى دهوكه كړې وو.پدې دواړو مضمونونوكښې څه منافات مه ګنړئى خكه چه په ګمراه كونكو باندې به د هغوى د ګمراه كولو بوج وې سره د دې چه د هغوى ګمراه شوو بوج به هم نه شى سپكولې او په هغوى باندې به راباركولې شى. چه د بل دګناه بوج په چا راوړې وى. زمونږ انصاف كونكې الله ﷻ داسې نه كوى. بيا خپل يوبل رحمت بيانوى چه هغه د رسول د ليګولو نه وړاندې څوك قوم نه په عذاب كوى. په سورت تبارك كښې دى چه د دوزخيانونه به داروغه ګان تپوس كوى چه آيا تاسوله ويرونكى نه وو راغلى؟ هغوى به جواب وركړى بې شكه راغلې وو خومونږ هغوى رښتونې نه وو ګنړلې هغوى مو دروغ ګنړلې وو اوصفاوينا مو ورته كړې وه چه تاسو خو هسې دهوكه شوې ئې د سر نه داخبره كيدونكې نه ده چه الله ﷻ په چا څه نازل كړى.(٣) دغه شان چه دا خلق دوزخ ته په زور او راښكلو رسولې شى هغه وخت به داروغه ګان د هغوى نه تپوس كوى چه تاسو ته رسولان نه وو راغلى؟ چه ستاسو د رب آياتونه ئې تاسو ته لوستلې وې او تاسو ئې د دې ورځې دملاقات نه ويرولې وئى؟دوې به جواب وركوى چه او يقيناً راغلې وو خود عذاب كلمه به په كافرانو ښه صحيح نازله شوې وى(٤)بل آيت كښې دى چه كافران به په دوزخ كښې پراته چغې وهى ياالله ته مونږ. ددې نه اوباسې نو مونږ به خپل زاړه شرارتونه پرېږدو اونيك عملونه به كوو.نو هغوى ته به اوويلې شى چه ولې ماتاسوته دومره عمر نه وو دركړې؟چه كه نصيحت مو حاصلول غوښتل نوحاصلولې موشو.اوماتاسو ته خپل رسولان هم راليګلې ووكومو چه تاسو ښه خبركړې وئى اوس به عذاب برداشت كوئى دظالمانوهيڅ څوك امدادى نشته.(٥)غرض دا چه د نورو هم ډيرو آياتونونه ثابته ده چه الله ﷻ بغيرد رسول ليګلونه څوك دوزخ ته نه رسوى.

**د الله ﷻ درحمت او عذاب متعلق حديث:**-صحيح بخارى(٦)كښې آيت ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ (٧)په تفسيركښې يواوږد حديث نقل دې په كوم كښې چه د جنت اودوزخ بيان دې. بيادى چه د جنت باره كښې به الله ﷻ په خپل مخلوق كښې په چاباندې ظلم نه كوى اوهغه به د دوزخ د پاره يونوې مخلوق راپيداكړى چه په هغې كښې به وراچولې شى. هغه به وائى چه آيا نورهم شته؟ددې باره كښې د علماؤ يوې ډلې ډيركلام كړې دې په حقيقت كښې دادجنت باره كښې دې څكه چه هغه دفضل كوردې او دوزخ دعدل كور دې په دې كښې به بغيرد عذر نه اوبغيرد حجت ښكاره كولونه څوك نه شى داخلولې. په دې وجه د حديث د حافظانو داخيال دې چه راويانوته په دې كښې هسې ګډوې شوې ده اود دې دليل د بخارى او مسلم هغه روايت دې په كوم كښې چه هم د دې حديث په آخركښې دى چه دوزخ به ډك نه شى تركومې پورې چه الله ﷻ د خپل قدرت قدم كيښږدى. دې وخت كښې به هغه وائى بس بس اوهم په دې وخت كښې به هغه ډك شى اودڅلوروواړوطرفونه به راغونډكړې شى. الله ﷻ به په چاباندې

---

(١) ٢٩/العنكبوت:١٣.

(٢) ١٦/النحل:٢٥.

(٣) ٦٧/الملك:٨-٩.

(٤) ٣٩/الزمر:٧١.

(٥) ٣٥/فاطر:٣٧.

(٦) صحيح بخارى كتاب التوحيد باب ماجاء فى قول الله تعالى ﴿ان رحمت الله قريب من المحسنين﴾:٧٤٤٩.

(٧) ٧/الاعراف:٥٦.

Scanned with Ca

ظلم نه کوی اود جنت د پاره به الله ﷻ یونوې مخلوق راپیداکړی. ([1])

**د کافرانو دماشومانو اود لیونو او کنړو وغیره حکم:**-باقی پاتې شوه دامسئله چه د کافرانودنابالغ ماشومان په وړوکوالی کښې مړه کیږی اوچه کوم لیونی خلق دی او کاڼړه اوکوم چه په داسې زمانه کښې تیرشوی دی په کوم وخت چه په زمکه یورسول یاد دین صحیح تعلیم نه وو اوهغوی ته د اسلام دعوت نه وی رسیدلې او چه بالکل بوډاګان او پښولاسونونی کارپریخې وی د هغوی د پاره څه حکم دې؟په دې باره کښې د شروع نه اختلاف راروان دې. د دوی باره کښې چه کوم احادیث دی هغه زه تاسو ته بیانوم بیابه د ائمه کلام هم په اخلاص سره ذکر کوم الله ﷻ دې امداداوکړی.اول حدیث مسند احمد کښې دی څلور قسم خلق به د قیامت په ورځ الله ﷻ سره خبرې اترې کوی. یوبالکل کوڼ سړې چه هیڅ هم نه اوری بل بالکل بې وقوف او لیونې سړې چه په هیڅ هم نه پوهیږی بل بالکل بوډا پړس سړې چه پښو لاسونو ئې کارپریخې وی څلورم هغه خلق چه په داسې زمانوکښې تیرشوی وی په کوم کښې چه یوپیغمبریاد هغه تعلیم موجودنه ووکنړ به وائی چه اسلام راغلو خو زما غوږ ته هیڅ آواز اونه رسیدو.لیونې به وائی اسلام راغلوخو زما حالت داسې وو چه ماشومانوبه په کاڼړو ویشتلم اوبالکل بوډا بدحواس سړې به وائی چه اسلام راغلوخو زما ذهن او عقل صحیح نه وو چه زه پوهه شوې ووم. د رسولانو د زمانو اود هغوی تعلیم نه موجودکیدونکو قول به وی چه نه رسول راغلې نه ما حق لیدلې بیا به ما څنګه عمل کولو؟ الله ﷻ به دوی له پیغام راولیګی چه ښه ده څئی دوزخ ته وردانګئی. د الله ﷻ قسم د چا په لاس کښې چه زما خان دې که هغوی حکم اومنی او دوزخ ته وراودانګی نود دوزخ اور به په هغوی باندې یخ او د سلامتیاوالا شی. ([2]) بل روایت کښې دی چه څوك ورټوپ کړی په هغوی به سلامتیا او یخ شی اوچه څوك رامنع شی هغوی به د حکم نه منلو په وجه په رابښکلو دوزخ ته غورزولې شی([3]) ابن جریر کښې ددې حدیث نه پس د حضرت ابوهریره ﷺ دا فرمان هم دې که تاسو غواړئی نود دې په تصدیق کښې د کلام الله دا آیت ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ﴾ اولولئی.

**دویم حدیث:**-په ابوداؤدطیالسی کښې دې چه مونږ د حضرت انس ﷺ نه سوال اوکړو ابوحمزه د مشرکانو د بچوباره کښې تاسوڅه فرمائې؟هغوی اوفرمائیل مادرسول الله ﷺنه اوریدلی دی هغوی ګناهګارنه دی چه په دوزخ کښې په عذاب کړې شی اونیکان هم نه دی چه جنت ورله بدله کښې ورکړی([4])

**دریم حدیث:**-په مسند ابویعلی کښې دې چه د دې څلورو واړو عذر واوری نو الله ﷻ به اوفرمائی چه نورو ته خو ما خپل رسول لیګلې وو خوتاسو ته زه پخپله وایم چه ورځئی دوزخ ته. ددوزخ نه به هم د الله ﷻ فرمان سره به یوه غړانګه راوچته وی ددې فرمان اوریدوسره چه کوم خلق نیك طبع دی زرود منډې کړی په هغې کښې به وراودانګی اوکوم چه باطل دی هغوئ به وائی چه اې الله پاکه مونږ خوهم د دې نه د بچ کیدو د پاره دا عذرکړې وو. الله ﷻ به فرمائی چه تاسو زماپخپله حکم نه منئی نو زما د رسولانو به مو څه منلی وو. اوس ستاسو د پاره فیصله هم دا ده چه تاسو دوزخیان ئی اودې حکم منونکوته به اووئیلې شی چه تاسو بې شکه جنتیان ئی تاسو حکم اومنو. ([5])

**څلورم حدیث** :-مسندابویعلی موصلی کښې دی د رسول الله ﷺ نه د مسلمانانود اولادباره کښې سوال

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورت "ق" باب قوله ﴿وتقول هل من مزید﴾: ٤٨٥٠، صحیح مسلم: ٢٨٤٦.

[2]) احمد: ٤/ ٢٤ مسندالبزار: ٢١٧٤، مجمع الزوائد: ٧/ ٢١٦.

[3]) احمد: ٤/ ٢٤ طبرانی: ٨٤١ مجمع الزوائد: ٧/ ٢١٦.

[4]) مسندالطیالسی: ٢١١١ مسندابی یعلی مختصرًا: ٤٠٩٠.

[5]) مسند ابویعلی: ٤٢٢٤.

Scanned with Ca

اوشو نو حضورﷺ اوفرمائيل هغوی د خپلو پلارانو سره دي. بيائي د مشركانود اولادباره كښې سوال اوكړو نو حضورﷺ اوفرمائيل چه هغوی د خپلو پلارانوسره دی نواوونيلې شو چه يارسول اللهﷺ هغوی خو څه عمل نه دې كړې حضورﷺ اوفرمائيل چه اوخو الله ﷻ ته پوره علم دې. ابويعلى كما فى اتحاف الخيرة (١٠٢٩٠).

**پنځم حديث**:-حافظ ابوبكر احمدبن عمروبن عبدالخالق بزار رحمه الله په خپل مسند كښې روايت كوی چه د قيامت په ورځ د جاهليت د زمانې خلق خپل بوج په خپلوشاګانو باندې راوړی رابه شی. د الله ﷻ په وړاندې به عذر كوی چه نه مونږ له ستارسول رارسيدلې نه مونږ ته ستا يوحكم رسيدلې كه چرې داسې وه نو مونږ به په كولاؤ زړه سره منلې وې. الله ﷻ به ورته اوفرمائی ښه ده كه اوس حكم اوكړو نو اوبه منئ هغوی به وائی چه اوبې شكه او بغيرد څه وينا. الله ﷻ سبحانه وتعالى به ورته حكم اوكړی چه ځئ لاړشئ دوزخ ته ورشئ. دوی به لاړشی تردې چه هغې ته به وراورسی اوس چه د دې ٨ عذاب اوآواز اوګوری نوواپس به راشی او وائی به اې الله مونږ ته د دې نه بچ كړه. الله ﷻ به فرمائی چه ګورئ تاسو اقرار كړې دې چه زما حكم به منئ بيا دانافرمانی ولې؟ هغوی به وائی چه ښه ده دې ځل به ئې اومنو او اوبه ئې كړو. دوی نه به كلك عهد اووعده اخستې شی بيابه داحكم كيږی. دوی به لاړشی اوبيا به اوويريږی واپس به راشی وائی به اې الله مونږ خو ويريږو اوزمونږ نه دا حكم په ځائې نه راوړلې كيږی.اوس به الله ﷻحكم اوكړی چه تاسونافرمانی اوكړه اوځئ دوزخيان جوړ شئ. حضورﷺ فرمائی چه كه په رومبی ځل دوی د الله ﷻ په حكم باندې وردانګلې وې نود دوزخ اور به په هغوی باندې يخ شوې وو اود هغوی يوويښته به ئې هم نه سيزلو.(١) امام بزار رحمه الله فرمائی د دې حديث متن معروف نه دې د ايوب نه صرف عباد روايت كوی اود عبادنه صرف هم ريحان بن سعيد روايت كوی. زه خووايم چه دې ته ابن حبان ثقه وئيلې. يحيى بن معين اونسائی وائی په دې كښې هيڅ د ويرې خبره نشته.ابوداؤد د هغه نه روايت نه دې كړې. ابوحاتم وائی دا شيخ دې په دې كښې هيڅ حرج نشته د هغه احاديث ليكلې كيږی اود ده نه دليل نه شی اخستې.

**شپږم حديث**:- امام محمدبن يحيى ذهلى رحمه الله روايت راوړلې دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی د خالی زمانې والاليونې اوماشوم به دالله ﷻ مخې ته راشی يوبه وائی چه ماته ستاكتاب دسر نه رسيدلې نه دې، مجنون اوليونې به وائی چه زه خو په ښه اوبد پوهيدلم نه. ماشوم به وائی چه ما د عقل پوهې اوبلوغت زمانه هډو ليدلې نه ده. هم هغه وخت به د هغوی مخې ته اُور شغلې وهی. الله ﷻ به فرمائی دا اخواكړئ. نو چه كوم وړاندې تلونكو سره نيكی كونكې وو نوهغوی خو به حكم اومنی اوچه څوك د دې عذر د اخواكيدونه پس هم نافرمانی كونكی وو هغوی به منع شی نو الله ﷻ به اوفرمائی چه ته كله زما مخامخ حكم نه منې نوزما د پيغمبرانو به دې څه منلی وو. (٢)

**اووم حديث**:-هم ددې دريواړو كسانوباره كښې د پورتنواحاديثو په شان دې. په دې كښې داهم دی چه كله دوی دوزخ ته اورسی نود هغې نه به داسې شغلې اوچتيږی چه دوی به وائی دا خو به ټوله دنيا او سوزوی اوايره به ئې كړی.په منډه به واپس راشی،بيا به په دويم ځل هم داسې وی.الله ﷻ به ورته اوفرمائی چه ستاسودپيداكولو نه وړاندې ماته ستاسوعمل معلوم وو.ماته علم ووچه تاسوما پيدا كړی وئی هم د هغه علم مطابق تاسو ئې. اې دوزخ! دوی راونيسه. نوهم هغه وخت به اُور هغوی يوه نوړئی كړی. (٣)

---

(١) حاكم:٤/٤٤٩-٤٥٠ وسنده حسن، مسند البزار:٣٤٣٣، مجمع الزوائد:١٠/٣٤٧.
(٢) مسندالبزار:٢١٦٦.
(٣) طبران:٢٠/٨٣، مجمع الزوائد:٧/٢١٦.

Scanned with Ca

**اتم حديث:**-دحضرت ابوهريرهؓ روايت د هغه د خپل قول سره اول تيرشوې دې. په صحيحين كښې هم دهغوى نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل هرماشوم په دين اسلام باندې پيداكيږى بيا دهغه مور پلار يهودى نصرانى اومجوسى جوړوى.لكه څنګه چه د چيلئى د صحيح سالم بچى غوږ پريكولې شى. خلقو وئيل حضورﷺ! كه هغه په وړوكوالى كښې وفات شى نو؟حضورﷺ اوفرمائيل چه الله ﷻ ته دهغه د عملونوصحيح او پوره خبرووو([1])د مسندپه حديث كښې دى چه د مسلمانانو بچوكفالت په جنت كښې حضرت ابراهيم ؑ ته حواله دې([2])په صحيح مسلم كښې حديث قدسى دې ماخپل بنديګان موحد يوطرف ته خالص جوړ كړى دى.([3])يوروايت كښې دې سره د مسلمان لفظ هم دې.

## دمشركانود بچوانجام به څه وي؟

**نهم حديث:**-حافظ ابوبكر برقانى خپل كتاب المستخرج على البخارى كښې روايت راوړې دې چه حضورﷺ فرمائيلى دى هرماشوم په فطرت باندې پيداكولې شى. خلقو په اوچت آوازسره تپوس اوكړو دمشركانوبچى هم؟حضورﷺاوفرمائيل دمشركانوبچى هم([4])دطبرانى په حديث كښې دى چه د مشركانو بچى به د جنتيانوخادمان جوړولې شى.([5])

**لسم حديث:**-مسنداحمدكښې دى يوصحابى ؓ تپوس اوكړويارسول اللهﷺ!جنت ته به څوك ځى. حضورﷺ اوفرمائيل نبى شهيداو ماشومان او ژوندى ښخ شوى ماشومان([6])په علماؤكښې خود بعضومسلك دادې چه د دوى باره كښې مونږ توقف كوو چپ يو د دې دليل هم تيرشو. بعضې وائى دا جنتيان دى اود دې دليل د معراج والا دوه احاديث دى كوم چه په صحيح بخارى كښې د حضرت سمره بن جندب ؓ نه روايت دى چه هغوى په خپل دې خوب كښې يوسړې دجنتى ونې لاندې اوليدو چاسره چه ډيرماشومان وو. په تپوس باندې حضرت جبرائيلؑ اوفرمائيل داحضرت ابراهيمؑ دې اوده سره داماشومان دمسلمانانواومشركانوبچى دى.خلقووئيل حضورﷺدمشركانواولادهم.حضورﷺ اوفرمائيل اودمشركانواولاد هم.([7])بعضې علماء فرمائى دا دوزخيان دى ځكه چه په يوحديث كښې دى چه هغوى به خپلو پلارانوسره وى. بعضې علماء كرام وائى د دوى امتحان به د قيامت په ميدانونوكښې اوشى تابعدار به جنت ته لاړشى او الله ﷻ به د خپل مخكينى علم اظهاركولوسره بيا هغوى جنت ته اورسوى اوبعضې به دخپلې نافرمانئى په وجه كوم چه د دغه امتحان په وخت كښې د دوى نه كيږى او الله ﷻ به خپل اولنې علم راښكاره كړى په هغه وخت به د هغوى د پاره د دوزخ حكم اوشى دې مذهب سره د ټولواحاديثو اومختلفودليلونو راجمع كيږى او اولنى حديثونه چه يو بل له تقويت وركوى د دې معنې ډير دى. شيخ ابوالحسن على ابن اسماعيل اشعرى ؒ دا مذهب د اهل سنت والجماعت نقل كړې دې اوددې تائيدامام بيهقى ؒ په كتاب الاعتقادكښې كړې دې. او نوروهم ډيرو محققينو علماؤ اود پوهې حافظانو هم دافرمائيلى دى.

**ابن عبدالبراح وائى چې امتحان والا حديث قوى نه دې:**-شيخ ابوعمربن عبدالبرنمرى امتحان والا او بعضې روايتونه ئى بيان كولوسره ليكلې دى چه د دې باره كښې احاديث قوى نه دى اود دې نه حجت

[1]) صحيح بخارى كتاب القدر باب الله اعلم بماكانواعاملين:٦٥٩٩، صحيح مسلم:٢٦٥٨، ترمذى:٢١٣٨، احمد:٢٥٣/٢،

[2]) احمد:٣٢٦/٢، وسنده حسن، وصححه الحاكم:٣٧٠/٢، ووافقه الذهبى، مجمع الزوائد:٢١٩/٧.

[3]) صحيح مسلم كتاب الجنة باب الصفات التى يعرف بها فى الدنيااهل الجنة:٢٨٦٥.

[4]) صحيح بخارى كتاب التعبيرباب تعبيرالرؤيا بعدصلاة الصبح:٨٠٤٧.

[5]) مسندالبزار:٢١٧٢، المعجم الكبير:٦٩٩٣.

[6]) ابوداؤد كتاب الجهاد باب فى فضل الشهادة:٢٥٢١ بيهقى:١٦٣/٩، احمد:٥٨/٥، ابن ابى شيبه:٣٣٩/٥، معرفة الصحابة:٨٦٤.

[7]) صحيح بخارى كتاب التعبير باب تعبيرالرؤيا بعدصلاة الصبح:٧٠٤٧.

Scanned with Ca

نه ثابتیږي اواهل علم دې نه انکار کوي ځکه چه اخرت د جزاء کوردې اود عمل کورنه دې اونه د امتحان کوردې. اود دوزخ ته د تلوحکم هم د انساني طاقت نه بهرحکم دې اود الله ﷻ داعادت نه دې.

**د علامه ابن ابی کثیر رحمة الله علیه رائي او د ابن عبدالبرد اولې خبرې جواب:**- دامام صاحب رحمه الله د دې قول جواب هم واورئ په دې باره کښې چه کوم احادیث دی په دې کښې بعضې خو بالکل صحیح دی لکه چه ائمه علماؤ تصریح کړې ده بعضې حسن دی اوبعضې ضعیف دی خوهغه د صحیح او حسن احادیثو په وجه قوي کیږي اودا خو ښکاره خبره ده چه دا احادیث د حجت اودلیل قابل شو.

اوس پاتې شوه د امام صاحب رحمه الله دا فرمان چه آخرت د عمل او امتحان کور نه دې د جزاء اوبدله کور دې دا بې شکه صحیح دی خود دې نه د دې نفي ځنګه اوشوه چه د قیامت د مختلفومیدانونو په پیشوکښې د جنت او دوزخ د داخلیدونه وړاندې څه احکام ورنه کړې شي. شیخ ابوالحسن اشعري رحمه الله خود اهل سنت والجماعة د مذهب په عقائدوکښې د ماشومانوامتحان داخل کړې دې. دې نه علاوه د قرآن پاك آیت ﴿يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ﴾[1] د دې ښکاره دلیل دې چه منافق او مؤمن د فرق د پاره به پنډئ کولاوولې شي اود سجدې حکم به کولې شي. د صحاح په حدیثونوکښې دي چه مؤمن خو به سجده اوکړي اومنافقان به پړمخې شاته راپریوځي.[2] صحیحین کښې د هغه سړي قصه هم ده چه د ټولونه په آخره کښې به د دوزخ نه راوځي هغه به الله ﷻ سره وعده کوي چې بیا به څه سوال به نه کوي بغیرد دې سوال نه چه د هغې د پوره کیدونه پس به د خپل قول او اقرار نه واوړي او یوبل سوال به اوکړي وغیره. په آخره کښې به الله ﷻ اوفرمائي چه بنیادمه ته ډیر وعده ماتونکې ئې ښه ده څه جنت ته لاړشه.[3]

**د ابن عبدالبر د دویمې خبرې جواب:**-بیاد امام صاحب رحمه الله دا فرمائیل د هغوی د طاقت نه بهر خبره یعني په دوزخ کښې دوردانګلوحکم به ځنګه وي؟ الله ﷻ چاته دهغه دوس نه زیات تکلیف نه ورکوي. دا هم په صحیح حدیث کښې څه بندیز نه شي پیداکولې.پخپله امام صاحب رحمه الله اوټول مسلمانان منې چه په پل صراط باندې د تیریدلو حکم به ټولوته وي چه د دوزخ په شاباندې به وي د تورې نه زیات تیره او ویښته نه زیات نرې به وي.مؤمن به دخپلو نیکو په اندازه په دې باندې تیریږي.بعضې د بجلئ په مثال بعضې داسونو بعضې د اوښانو بعضې د منډې وهونکو په شان بعضې د پیدل تلونکو په شان بعضې په زنګونونو باندې بعضې، په پریکیدوسره په دوزخ کښې پریوځي. نو چه دا ځیزونه هلته دی نو هغوی ته دوزخ ته د دانګلوحکم څه د دې نه خو لوئ نه دې بلکه دا د هغې نه ډیر دروند او لوئ دې. واورئ په حدیث کښې دی دجال سره به باغ او اُور وي. شارع ﷺ مؤمنانوته حکم ورکړې دې هغوی چه په کوم ځیزکښې اُور ویني هم د هغې نه اوڅکی د هغوی د پاره د یخوالی اوسلامتیاځیزدې. نودا صفامثال دې د دې واقعه. ګورئ چه کله بنواسرائیلود سخې عبادت اوکړو د هغې په سزا[4] کښې الله ﷻ حکم ورکړو چه په خپل مینځ کښې یوبل قتل کړئ یوې اُوریځې هغوی پټ کړل. اوس چه کله توره اوچلیده نو سحر سحر د اُوریځې د شلیدونه وړاندې وړاندې په هغوی کښې اویازره کسان قتل شوی وو. ځوئ پلار اوپلار ځوئ قتل کړو ولې دا حکم د دغه حکم نه کم وو؟ ولې د دې کارکول په نفس باندې سخت وو بیاخود دې په نسبت هم وئیل پکاروو چه الله ﷻ یو نفس باندې د هغه د برداشت نه زیات تکلیف نه اچوي.

---

[1] ٦٨/القلم:٤٢.

[2] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورت "ن" والقلم باب ﴿یوم یکشف عن ساق﴾:٤٩١٩،صحیح مسلم:١٨٣

[3] صحیح بخاری کتاب الاذان باب فضل السجود:٨٠٦، صحیح مسلم:١٨٢.

[4] صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب ماذکرعن بنی اسرائیل:٣٤٥٠، صحیح مسلم:٢٩٣٤.

Scanned with Ca

**په ذکرشوې مسئله کښې دحافظ ابن کثیر رحمه الله وضاحت:**-ددې ټولو بحثونود صفاکیدونه پس اوس راوړنې د مشرکانود مړو شوو بچوباره کښې هم ګڼراقوال دی.

**اول قول:**-یوداچه دا ټول جنتیان دی د دې دلیل هم هغه په معراج کښې دحضرت ابراهیم علیه السلام سره د مشرکانواومسلمانانو د بچو حضور ﷺ لیدل دی اود دې دلیل د مسند هغه روایت دې کوم چه وړاندې تیرشوې دې چه حضور ﷺ اوفرمائیل ماشومان به په جنت کښې وی. اود امتحان کیدو چه کوم حدیث تیرشو هغه د دې نه مخصوص دې. نود چا په نسبت چه رب العالمین ته معلومه ده چه هغه تابعدار او حکم منونکې دې د هغوی روحونه په عالم برزخ کښې دحضرت ابراهیم علیه السلام سره دی اودمسلمانانو ماشومانو روحونه هم اود چاباره کښې چه الله ﷻ ته معلومه ده چه هغه د قبلولووالا نه دې د هغوی کار الله ﷻ سره دې. هغوی به د قیامت په ورځ دوزخیان وی لکه چه د امتحان والا د حدیث نه ښکاره ده. امام اشعری رحمه الله دا د اهل سنت نه نقل کړې ده. اوس څوك وائی چه دا په مستقل توګه باندې جنتیان دی اوځوك وائی چه دوی د اهل جنت خادمان دی. داسې حدیث په ابوداؤد طیالسی کښې دې خود دې سندضعیف دې والله اعلم.

**دویم قول:**- دادې چه د مشرکانواولاد به هم خپل پلار نیکه سره دوزخ ته ځی لکه چه د مسندوغیره په حدیث کښې دی چه هغوی دخپل پلارانونیکونوتابع دی. دې اوریدو سره حضرت عائشه رضي الله عنها تپوس اوکړو سره دبې عمل کیدو؟ وئی فرمائیل چه هغوی څه عمل کونکی وو الله ﷻ ته ښه معلومه ده(١) ابوداؤدکښې دی حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائی ماد رسول الله ﷺ نه دمسلمانانود اولادباره کښې سوال اوکړو نوحضور ﷺ اوفرمائیل چه هغوی د خپلو پلارانونیکونوسره دی. ماوئیل د مشرکانواولاد؟ وئی فرمائیل چه هغوی د خپلو پلارانو نیکونوسره دی. ماتپوس اوکړو چه بغیرد څه عمل کولو نه؟ حضور ﷺ اوفرمائیل هغوی به څه کول دا الله ﷻ ته ښه معلوم دی(٢)د مسندپه حدیث کښې دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل که ته غواړې نوزه به د هغوی ژړا انګولاچغې صورې هم تاته واوروم(٣) د امام احمد رحمه الله څوئ روایت راوړې دې چه حضرت خدیجه رضي الله عنها دخپلو دوو هغه ماشومانوباره کښې تپوس اوکړو کوم چه د جاهلیت په زمانه کښې مړه شوی وو حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغه دواړه په دوزخ کښې دی ګله چه حضور ﷺ اوکتل چه دا خبره خوپه دې ډیره سخته اولګیدله نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه که تاد هغوی ځائ لیدلې وو نو ته به پخپله د هغوی نه ویزاره شوې وې. حضرت خدیجه رضي الله عنها عرض اوکړو اوچه کوم بچې ستانه شوې وو؟حضور ﷺ اوفرمائیل واوره مؤمن اود هغه اولاد جنتی دې او مشرك اود هغه اولاد دوزخی دې. بیاحضور ﷺ دا آیت اولوستلو ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾(٤) کومو خلقو چه ایمان راوړ اود هغوی اولاد د ایمان سره د هغوی تابعداری اوکړه مونږ به د هغوی اولاد هم هغوی سره ملاؤکړو(٥)داحدیث غریب دې ددې په اسنادوکښې محمدبن عثمان راوی مجهول الحال دې اود هغه شیخ زاذان حضرت علی رضي الله عنه نه دې لیدلې. والله اعلم. ابوداؤدکښې حدیث دې چه ژوندی خښ کړې شوی او ژوندی ښخوونکی ښځه دوزخیان دی. (٦)حضرت سلمه بن قیس اشجعی رضي الله عنه فرمائی ماخپل رور د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر کړو اواومې وئیل حضور ﷺ زمونږ مور د جاهلیت په

---

(١) احمد: ٨٤/٦ وسنده حسن.

(٢) ابوداؤد کتاب السنة باب فی ذراری المشرکین:٤٧١٢.

(٣) احمد:٨٤/٦

(٤) ٥٢/الطور:٢١.

(٥) احمد:١٣٤/١-١٣٥ء.

(٦) ابوداؤد کتاب السنة باب فی ذراری المشرکین:٤٧١٧، وهوصحیح.

Scanned with Ca

زمانه کښې مړه شوې ده هغه صله رحمی کونکې اومیلمه دوسته وه.زمونږ یوه نابالغه خورهغې ژوندې خښه کړې وه نبی ﷺ اوفرمائیل داسې کونکې او چاسره چه شوی دی هغه دواړه دوزخیان دی دا یوه بله خبره ده چه په اسلام کښې راشي او قبول ئې کړي. (١)

**دریم قول**:-دادې چه د دوی باره کښې توقف کول پکار دی یوه فیصله کونکې خبره یوطرف ته نه دی کول پکار. د هغوی اعتماد دحضور ﷺ په دې فرمان باندې دې چه د هغوی د اعمالوصحیح او پوره علم الله ﷻ ته دې. بخاری کښې دی چه دمشرکانو د اولاد باره کښې کله دحضور ﷺ نه تپوس اوکړې شو نوحضور ﷺ هم په دې الفاظوسره جواب ورکړو.(٢)بعضې بزرګان وای چه دوی به اعراف کښې کیخودې شی د دې قول نتیجه هم دا ده چه دا جنتیان دی ځکه چه اعراف هم څه د استوګنې ځائ نه دې د دې ځائ والا به هم آخر جنت ته ځی. لکه چه د سورت اعراف په تفسیرکښې مونږ د دې تقریرکړې دې. والله اعلم.

**د مؤمنانو مړهٔ شوی بچی به چرته وی؟**:-دا خواختلاف د مشرکانوداولادباره کښې خود مؤمنانو د نابالغه بچو باره کښې خود علماؤ بغیرد څه اختلاف دا قول دې چه هغه جنتیان دی. لکه څنګه چه د امام احمد رحمه الله قول دې اوهم دا په خلقو کښې مشهوره هم ده اوان شاء الله ﷻ زمونږ هم دغه امیددې خود بعضې علماؤ نه نقل دی چه هغوی د دوی باره کښې توقف کوی اووائی چه ټول ربنتونی د الله ﷻ د مرضئی اود هغه د خوښې ماتحت دی. اهل فقه اواهل حدیثو یوه ډله دې طرف ته هم تلې ده. موطا امام مالك په ابواب القدر په احادیثوکښې هم څه داسې دی لکه چه د امام مالك رحمه الله فیصله په دې کښې نشته خود بعضو متاخرینو قول دې چه مسلمانان ماشومان خو جنتی دی اود مشرکانو اولاد د الله ﷻ د رضا ماتحت دی. ابن عبدالبر رحمه الله دا خبره داسې وضاحت سره بیان کړې ده خودا قول غریب دې. کتاب التذکره کښې امام قرطبی رحمه الله هم دا فرمائیلی دی. والله اعلم. د دې باره کښې دې بزرګانو یوحدیث دا هم نقل کړې دې چه د انصارو د یوماشوم په جنازه کښې حضور ﷺ راوغوښتلې شو نوام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها اوفرمائیل دې ماشوم ته خودې مرحبا وی دا خود جنت مرغئ ده نه ئې د بدئی څه کارکړې اونه هغه وخت ته رسیدلې حضور ﷺ اوفرمائیل دې نه علاوه نور هم څه وائې.ای عائشه! واوره الله ﷻ جنت اوجنتیان مقررکړی دی سره ددې چه هغه دخپل پلار په شاکښې وو دغه شان هغه دوزخ پیداکړې دې اوپه دې کښې سوزیدونکی پیداکړی دی داسې حال کښې چه هغوی اوس هم لاد پلارانو په شاګانوکښې دی. د مسلم اوسنن داحدیث دې. (٣)

دامسئله د صحیح دلیل نه بغیر ثابتیدې نه شی اوخلق د خپلې بې علمئی په وجه بغیرد شارع د ثبوت نه په دې کښې کلام کړې دې په دې وجه د علماؤ ډلې په دې کلام کول ناخوښ کړی دی. ابن عباس رضي الله عنه قاسم بن محمدبن ابی بکر صدیق او محمدبن حنفیه رحمهم الله مذهب هم دا دې. حضرت ابن عباس رضي الله عنه خو په منبرباندې په خطبه کښې فرمائیلې وو چه د حضور ﷺ ارشاد دې چه د هغه امت کار به ټیک ټاك وی ترکومې چه دوی دماشومانوباره کښې څه کلام اونه کړی(٤) (ابن حبان) امام ابن حبان رحمه الله وائی مراد دې نه د مشرکانو د بچو باره کښې کلام نه کول دی. په نورو کتابونوکښې دا روایت د حضرت عبدالله رضي الله عنه په خپل قول باندې موقوفا نقل دې.

---

(١) احمد:٣/٤٧٨.
(٢) صحیح بخاری کتاب القدر باب الله اعلم بماکانواعاملین.......:٦٦٠٠، صحیح مسلم:٢٦٦٠.
(٣) صحیح مسلم کتاب القدر باب معنی کل مولود یولدعلی الفطرة:٢٦٦٢، ابوداوٗد:٤٧١٣، ابن ماجه:٨٢، احمد:٦/٤١، ابن حبان:١٣٨.
(٤) حاکم:١/٣٣، ابن حبان:٦٧٢٤ وسنده حسن، مسندالبزار:٢١٨٠، مجمع الزوائد:٧/١٢٣.

Scanned with Ca

وَإِذَآ أَرَدْنَآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً

| اوكله چې | اراده اوكړه مونږه | چې | هلاك كړو مونږه | يو كلي

او هركله چې مونږ اراده اوكړو چې يو كلي دې هلاک شي

أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا۟ فِيهَا

نو حكم اوكړو مونږه | مالدارو خلقو دهغه كلي ته | نو نافرماني شروع كړه هغوئ | په هغې كښې

نو دهغه ځائې مالدارو خلقو ته حكم اوكړو نو دحكمونو منلو په ځائې هغوئ په كښې وراني

فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ فَدَمَّرْنَٰهَا تَدْمِيرًا ⑯

نو ثابته شوه | په هغه كلي باندې | خبره دعذاب | نو هلاك كړومونږه هغه كلي | په هلاكولوسره

شروع كړي نو د عذاب تاپه پرې اولګي نو مونږ ئې تباه اوبرباد كړو

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ ٱلْقُرُونِ مِنۢ بَعْدِ نُوحٍ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ

اوڅومره ډېر هلاك كړل مونږه | د نسلونو نه | روستو دنوح نه | اوكافي دې | رب ستا |

او مونږ څومره ډېر امتونه دنوح ﷺ نه پس هلاک كړي دي اودا كافي ده چې ستارب

بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ⑰

په ګناهونو | دبندګانوخپلو | په لحاظ دخبردارئ سره | په لحاظ دليدولو سره |

دخپلو بندګانو دګناهونو نه خبردار دې اوهرڅه ويني ګوري

**قوله‌تعالى:- فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ**

**د الله ﷻ د حكم راتلومفهوم:**-مشهورقراءت خو ﴿امرنا﴾ دې دې نه مراد تقديري امر دې لكه چه بل آيت كښې دى﴿أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا﴾([1])يعنى هلته زمونږ مقرركړې شوې امر راغى د شپې ياد ورځې. يادساتئ چه الله ﷻ دبدئى حكم نه كوى. مطلب دا چه هغوى په فحش كارونوكښې اخته كيږى او په دې وجه د عذاب مستحق كيږى. داهم معنى كړې شوې ده چه مونږ هغوى ته د خپل اطاعت د كار امر كوو هغوى په بدوكښې لګياكيږى بيازمونږ([2])د سزا قول په هغوى باندې راست راغى دكوم قراءت ﴿امرنا﴾دې هغه وائى چه مطلب دادې چه د هغه ځائ سرداران مونږ بدكاران جوړوو هغوى هلته د الله ﷻ نافرمانيانې كوى تردې چه د الله ﷻ عذاب هغوى د هغه كلي سره تباه بربادكړى. لكه چه ارشاد دې ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَا﴾ ([3])مونږ په هريوكلي كښې لوئ لوئ مجرمان ساتلى دى([4])ابن عباس ﷺ فرمائى يعنى مونږدهغوى دښمنان زياتوو هلته دسركشانو زياتوالې كوو([5])دمسنداحمد په يوحديث كښې دى بهترمال څناور دى كوم چه زيات بچى وركوى يالار ده چه د كهجورو په ونوباندې راګيروى. ([6]) بعضې خلق وائى چه داتناسب دې لكه څنګه چه د حضور ﷺ قول دې نه ګناه كونكى اونه اجر

---

[1] ۱۰/يونس:۲٤.
[2] الطبرى:۱۷/٤۰۳.
[3] ٦/الانعام:۱۲۳.
[4] الطبرى:۱۷/٤۰۳.
[5] الطبرى:۱۷/٤۰۳.
[6] احمد:۳/٤٦۸.

Scanned with Ca

الله ﷻ ښه کتونکې دې :- اې قریشو په هوش کښې شئ زمادې بزرګ رسول په تکذیب کولو بې ویرې کیږئ مه د خپل ځان نه وړاندې د حضرت نوح ﷺ خلقوته اوګورئ چه د رسولانو تکذیب کونکو نوم اونښه ئې ختمه کړه.دې نه داهم معلومیږی چه د نوح ﷺ نه وړاندې د حضرت آدم ﷺ نه پس خلق په دین اسلام باندې وو نو اې قریشو تاسودهغوی نه زیات سازوسامان والا شمیراوطاقت والا نه ئې سره د دې چه تاسو اشرف الرسل خاتم النبیینﷺ دروغ ګنړئ نوتاسو د عذابونو او سزاګانوډیر لائق ئې. د الله ﷻ نه د خپل یوبنده عمل هم پټ نه دې. خیراوشر ټول هغه ته ښکاره دی پټ اوښکاره ټول هغه پیژنی. هرعمل پخپله وینی ګوری.

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا

څوک چې وی چې غواړی | زر حاصلیدونکی دنیا | نو زر به ورکړو مونږه | هغه ته | په هغې کښې هغه څه

څوک چې په تنده د دنیا دګټلو خواهش لری مونږ به ورله په تندئ په دنیا کښې ورکړو

نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ

چې غواړومونږه | دپاره دهغه چا | چې غواړو مونږ | بیا | جوړکړومونږه | دپاره دهغه | دوزخ

څومره چې اوغواړو اودچا په حقله چې اوغواړو خوبیا به ورله دوزخ تیار کړو

يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ

چې سوزی به په هغې کښې | ملامته | درحمت نه محرومه | او چاچې | اراده اوکړه | دآخرت

چې په هغې کښې به بدحاله او بدچاله ورننوځئ او څوک چې دآخرت خواهش ساتی

وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ

او کوشش ئې اوکړو | دپاره دهغې | لکه څنګه چې حق دې دکوشش دهغې | او هغه | مومن وی

اوهغې له دهغې په مناسب کوشش کوی اومومن وی

فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾ كُلًّا نُّمِدُّ

نو دغه کسان چې دی | وی به | کوشش دهغوئ | قبول کړې شوې | دهر یوسره | امداد کوو مونږه

نو دداسې خلقو کوششونه به مقبول وی مونږ دهر چا امداد کوؤ

هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۭ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ

ددوئ سره | اودهغوئ سره | دبخش د رب ستانه | او نه دې | بخش | درب ستا |

ددوئ هم او دهغوئ هم چې داستا درب ورکړه ده اوستا درب ورکړه په

مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۭ

منع کړې شوې | اوګوره | چې څرنګې | فضلیت ورکړې دې مونږه | ځینو دهغوئ لره | په ځینو باندې |

چا بنده نه ده ته اوګوره چې موتږ څنګه دوئ ته په دنیا کښې یوبل باندې فضیلت ورکړې دې

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ | دَرَجٰتٍ | وَّاَكْبَرُ | تَفْضِيْلًا ۝ |
| اوخامخا اخرت ډير لوئ دي | په لحاظ د درجو سره | او ډير لوئ دي | په لحاظ دغوره والي سره |

اوالبته د آخرت درجي د ټولو نه لوئي اوپه فضيلت كښي ټولو نه زياتي دي

**قوله تعالى:- مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ**

**د دنيااو داخرت د طالب انجام:**-هيڅ ضروري نه ده چه د دنياد طلب كونكي هره يوه خبره به الله ﷻ پوره كوي. د چاچه كومه اراده الله ﷻ پوره كول غواړي پوره كوي به خود داسي خلق به په آخرت كښي خالي لاس پاتي شي. دوی خوبه هلته د دوزخ په كنده كښي غورزيدونكي وي. ډير په خراب حالت ذلت او خوارئي كښي به وی ځكه چه دلته هغوی هم دا ونيلي وو فاني له ني په باقي باندي ترجيح وركړي وه په دي وجه هلته د الله ﷻ د رحمت نه لري دي. مسنداحمد كښي دي رسول الله ﷺ فرمائي دنيادهغه كور دي د چا چه په آخرت كښي كور نه وی داد هغه مال دي د چا چه په آخرت كښي مال نه وی. دا خو هم هغه راجمع كوي چه دهغه سره خپل عقل نه وی.(١) اوچه څوك د آخرت د ديدار طالب شي او په صحيح طريقه باندي دآخرت په كار راتلونكي نيكئي دسنتو مطابق اوكړي اود هغه په زړه كښي ايمان تصديق او يقين وی د عذاب اوثواب وعدي صحيح ګڼړي الله ﷻ او رسول الله ﷺ مني د هغه كوشش ته به د قدر په سترګه كتلي شي اونيكه بدله به ورته ملاويږي.

يعني دا دواړه قسم يوهغه د چا مطلب چه صرف دنياده او بل هغه چه د آخرت طلبګار وی دا دواړه قسم خلق مونږ زياتوو په كوم كښي چه دا شته دا ستاد رب وركړه ده. هغه داسي متصرف اوحاكم دي چه هيڅ كله هم ظلم نه كوی. د نيك بختئي مستحق ته نيك بختي او د بدبختئي مستحق ته بدبختي وركوی. د هغه احكام څوك رد كولي نه شي اود هغه نه بند كړي شوی له څوك وركولي نه شي. د هغه ارادي څوك زنډولي نه شي. ستاد رب نعمتونه عام دی نه د چاپه منع كولو سره منع كيږی اونه د چا په اخواكولو سره اخواكيږی. هغه نه په شميركښي كميږی اونه په مقداركښي كميږی.

**په آخرت كښي به دخلقو مختلفي درجي وی:-** -ګورئی مونږ په دنياكښي دانسانانو مختلفي درجي مقرر كړي دی دوی كښي مالدارهم شته غريب هم شته اودرميانه حالت والاهم شته، ښه هم شته خراب هم شته اوددرميانه درجي والاهم. څوك په وړوكوالي كښي مری څوك لوئي شي مړشي اوڅوك په دي مينځ كښي.آخرت ددرجوپه اعتبارسره د دنيانه ډير زيات دي. څه به د دوزخ په كندوكښي وی طوقونه او زنځيرونه به ئي اچولي وی څوك به دجنت په درجوكښي وی اوچت به وی بالاخانوكښي په نعمتونو او مزو كښي. بياپخپله په جنتيانو كښي هم ددرجو تفاوت دي په يوه يوه درجه كښي د زمكي اوآسمان هومره لريوالي دي. په جنت كښي داسي يوسل درجي دی د اوچتودرجووالا اهل عليين به داسي ګوری لكه تاسو چه پړقيدونكي ستوري د آسمان په اوچتوالي كښي ګورئي.(٢)نوآخرت د درجو او فضيلتونو په اعتبارسره ډير لوئ دي. طبراني كښي دی كوم بنده چه په دنياكښي كومه درجه زياتول غواړي اوبه خپله غوښتنه كښي كامياب شي نو هغه د آخرت درجه كموی او په خپله غوښتنه كښي به كامياب شي او د آخرت درجه به كمه كړی كومه چه د دي نه ډيره زياته لويه ده. بيا حضور ﷺ هم دا آيت تلاوت كړو(٣)

(١) احمد:٧١/٦.

(٢) صحيح بخاری كتاب بدءالخلق باب ماجاء في صفة الجنة وانها مخلوقة:٣٦٥٦، صحيح مسلم:٢٨٣١.

(٣) طبرانی:٦١٠١ حلية الاولياء:٢٠٤/٤.

Scanned with Ca

لَا تَجۡعَلۡ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُوۡمًا مَّخۡذُوۡلًا ﴿۲۲﴾

مۀ جوړوه تۀ | دالله سره | معبود بل | کنې نوتۀ به کینې | ملامته | بې امداده پرېښودې شوې

الله ﷻ سره ځوک شریک مه جوړوئ کنې بدحاله بې مددګاره به ناست پاتې شئ

وَقَضٰی رَبُّكَ اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَبِالۡوَالِدَیۡنِ

او فیصله کړې ده | رب ستا | چې تاسو عبادت مۀ کوئ دهیچا | مګر | صرف دهغه | اوکوئ دمور او پلار سره

اوستارب داحکم کړې دې چې بې دهغه نه دبل هیچا عبادت مه کوئ اومورپلار سره

اِحۡسَانًا ؕ اِمَّا یَبۡلُغَنَّ عِنۡدَكَ الۡکِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوۡ کِلٰهُمَا

احسان | که چرې | اورسیږې اِپه موجودګئ ستا کښې | بوډاوالي ته | یو دهغوئ نه | یاهغوئ دواړه

احسان کوئ که په دوئ کښې یو یا هغه دواړه ستاپه وړاندې بوډاوالي ته اورسي

فَلَا تَقُلۡ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُلۡ لَّهُمَا قَوۡلًا

نومۀ وایه تۀ | هغوئ دواړوته | کلمه داف | اومۀ رټه هغوئ دواړه | اووایه دواړوته | خبره نرمه

نو تاسو دوئ ته اوف قدرله هم اونه کړئ اودوئ مه رټئ اودوئ سره په نرمئ سره

کَرِیۡمًا ﴿۲۳﴾ وَاخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحۡمَةِ وَقُلۡ رَّبِّ

اوښکته لره | دپاره | ددواړو | او وزر د عاجزئ | د رحمت نه | اووایه چې اے ربه

خبرې کوئ او دهغوئ په وړاندې په مینه محبت سره دعاجزئ نه ټیټ اوسیږئ اوداسې وائې چې انې زما ربه

ارۡحَمۡهُمَا کَمَا رَبَّیٰنِیۡ صَغِیۡرًا ﴿۲۴﴾

رحم اوکړه په دواړوباند | الکه چې | هغوئ پالنه کړې ده زما | په وړوکوالي (زما) کښې |

په دوئ دواړو باندې رحم اوکړه لکه څنګه چې دوئ په وړوکوالي کښې زما پالنه کړې وه

**قوله تعالی:- لَا تَجۡعَلۡ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ**

**الله ﷻ وحده لاشریک دې:-** داخطاب هریومکلف ته دې دحضور ﷺ ټول امت ته الله تبارك وتعالی فرمائی چه د خپل رب په عبادت کښې ځوك مه شریکه وئی که داسې کوئی نو ذلیل کیږئی به د الله ﷻ امداد به درنه اخواشی. دچا عبادت چه کوئی هم هغوی ته به حواله شئی اودا ښکاره خبره ده چه د الله ﷻ نه علاوه بل ځوك د نفع نقصان والا نشته هغه وحده لاشریك دې.مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چاته چه ولږه اورسی او دخلقو په ذریعه هغه بندول غواړی د هغه ولږه به بنده نه شی اوځوك چه الله ﷻ نه ددې باره کښې دعااوکړی نو الله ﷻ به هغه له مالداری راولیګی که زر او که پس. داحدیث ابوداؤد او ترمذی کښې دې.([1])دا ترمذی حسن صحیح غریب بنائی.

**د مورپلارمقام اوهغوی سره دحسن سلوک حکم:-** دلته قضی په معنی کښې د حکم فرمانیلې شوې. تاکیدی حکم د الله ﷻ چه نه اخواکیدونکې وی هم دغه وجه ده چه عبادت هم د الله ﷻ وی اود والدینو په تابعدارئی کښې یو ذره فرق رانه شی. ابی بن کعب او ابن مسعود ﷜ اوضحاك بن مزاحم رحمه الله په قراءت کښې قضی په بدله کښې وصی دې.([2])دا دواړه حکمونه لکه چه یوشان دلته دی داسې په نورو

---

[1]) ابوداؤد کتاب الزکاة باب فی الاستعفاف:۱٦٤٥، وسنده حسن ترمذی:۲۳۲٦، احمد:٤٠٧/۱،مسندابی یعلی: ٥۳۱۸، حاکم:٤٠۸/۲.

[2]) الطبری:٤۱۳/۱۷.

Scanned with Ca

ډیرو آیاتونو کښې دی لکه چه ارشاددې ﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ۖ إِلَيَّ الْمَصِيرُ﴾[1] زما شکر کوئی اود خپل مور پلارهم احسان منداوسیږئی خاص کردهغوی دبوډاوالی په زمانه کښې دهغوی پوره ادب کول څه خرابه خبره د خُلې نه نه ویستل تردې چه د هغوی په وړاندې اف هم نه کول نه څه داسې کار کول چه هغوی ته بد معلوم شی خپل لاس دهغوی طرف ته په بې ادبئی سره نه وړاندې کول بلکه په ادب عزت او احترام سره هغوی سره خبرې کول په نرمئی اوپه تهذیب سره خبرې اترې کول د هغوی د رضامندئی کاروند کول هغوی له تکلیف نه ورکول او هغوی نه تنګول د هغوی په وړاندې عاجزئی تواضع سره اوډیر په ادب سره اوسیدل د هغوی د پاره د بوډاوالی نه پس د مرګه دعاګانې کول اوخاص کر دا دعا کول چه یاالله په هغوی باندې رحم اوکړه لکه څنګه چه هغوی زما د وړوکوالی په زمانه کښې پالنه کړې وه. اود ایمان دخاوندانو دپاره دکافرانو دعا کول منع کړې شوی دی که هغه مورپلار ولې نه وی[2] دمور پلار سره سلوك او داحسان کولو د احکامو ډیراحادیث دی. یو روایت کښې دی حضورﷺ منبر ته د ختو په وخت کښې درې ځل امین اوفرمائیلو. کله چه د حضورﷺ نه د دې وجه تپوس اوکړې شو نو حضورﷺ اوفرمائیل چه ماله جبرائیل عليه السلام راغلو او ونې فرمائیل چه اې نبیﷺ د هغه سړی پوزه دې په خاورو ککړه کړې شی چاسره چه ستاذکر اوشی اوهغه په تاسوباندې درود شریف نه وی لوستلې. اووایه چه امین نو ما وئیل امین.بیا اوفرمائیل چه د هغه سړی پوزه دې هم الله ﷻ په خاورو ککړه کړې شی د چا په ژوند کښې چه د رمضان میاشت راغله او لاړه اود هغه سړی بښنه اونه شوه. امین اووائې نوما پدې باندې هم امین اووئیل. بیائې اوفرمائیل الله ﷻ دې هغه سړې هم بربادکړی چا سره چه د ده موریلارووياپه دوی کښې يو وو اوبيائې هم د هغوی په خدمت کولوسره جنت ته ځان داخل نه کړې شو. وائې امین نو ما امین اووئیل.[3] د مسنداحمد حدیث شریف کښې دی چاچه دیومسلمان مورپلار یتیم بچی پالنه اوکړه اوخوراك څښاك ئې پرې اوکړو تردې چه هغه بې پرواه شو د هغه د پاره یقیناً جنت واجب دې.اوچاچه یومسلمان غلام آزادکړوالله ﷻ به هغه ددوزخ نه آزادکړی.دهغه دیو یو اندام په بدله کښې به یو یواندام د دوزخ نه آزادکړې شی.[4] د دې حدیث په یوسندکښې دی چا چه خپل مور پلار دواړه یا په دوی کښې یو اولیدلو اوبیا هم دوزخ ته لاړو الله ﷻ به هغه د خپل رحمت نه لرې کړی.[5]

**د مور پلار اویتیم پالونکی به جنتی وی** :-د مسنداحمدپه یو روایت کښې دادریواړه څیزونه په یوځائ بیان شوی دی یعنی آزادکړې شوې غاړه د مور پلار خدمت اود یتیم پالنه.[6] په یوروایت کښې د مور پلار په نسبت داهم دی چه الله ﷻ به هغه لرې کړی او هغه به بربادکړی[7] په یوروایت کښې درې ځل د هغه د پاره دا بددعاده.[8] په یوروایت کښې د حضورﷺ نوم اوریدوسره درودنه لوستونکې په رمضان کښې د الله ﷻ د بښنې نه محروم پاتې کیدونکی اود مور پلار په رضامندئی او خدمت سره جنت ته نه رسیدونکی د پاره پخپله حضورﷺ دا بددعاکول نقل دی[9] یوانصاری دحضورﷺ نه سوال اوکړو چه

[1] ٣١/لقمان:١٤.

[2] الطبری:٣٢١/١٧.

[3] مجمع الزوائد:١٦٦/١٠ترمذی کتاب الدعوات باب رغم الف رجل ذکرت عنده.....:٣٥٤٥، وسنده حسن الادب المفرد:٦٤٦؛ ابن حبان:٩٠٧؛ عن ابی هریرةﷺ.

[4] احمد:٢٩/٥،.

[5] احمد:٣٤٤/٤ وسنده صحیح.

[6] احمد٣٤٤/٤.

[7] احمد:٣٤٤/٤ وسنده صحیح. الخ.

[8] صحیح مسلم کتاب البروالصلة باب رغم من ادرك ابویه اواحدهما....:٢٥٥١، احمد:٣٤٦/٢.

[9] ترمذی کتاب الدعوات باب رغم انف رجل ذکرت عنده.....٣٥٤٥ وسنده حسن، احمد:٢٥٤/٢، ابن حبان:٩٠٨.

زما دمور پلار د وفات نه پس زه هغوی سره څه احسان او سلوك كولې شم؟ حضورﷺ اوفرمائيل چه او ځلور سلوك د هغوی د جنازه مونځ د هغوی د پاره د استغفاردعاګانې غوښتل د هغوی وعدې پوره کول اود هغوی د دوستانو عزت کول اوهغه خپلولی چه صرف هم د هغوی په وجه وی دا دی هغه سلوك کوم چه د هغوی د مرګ نه پس هم هغوی سره کولې شې. (١)(ابوداؤد، ابن ماجه)

**د مور حق:-** يوسړې راغلو حضوﷺ ته ئې اووئيل يارسول الله ﷺ زه دجهاد په اراده ستاسو په خدمت کښې زيرې راوړلو له راغلې يم. حضورﷺ اوفرمائيل ستا مور شته؟هغه ونيل او نو وئې فرمائيل ځه د هغې په خدمت کښې لګياأوسه جنت د هغې دپښوسره دې. دويم ځل دريم ځل هغه په مختلفو موقعوباندې خپله خبره سردوباره کړه اوحضورﷺ هم دغه جواب ورااوګرخولو. (٢)(نسائی ابن ماجه وغيره) فرمائی چه الله ﷻ تاسوته ستاسودپلارانوبابت کښې وصيت کوی اوالله ﷻ ستاسو د ميندوپاره کښې وصيت فرمائی روستونئی خبره ئی درې ځل بيانولوسره اوفرمائيل الله ﷻ تاسوته ستاسود خپلوانو باره کښې وصيت فرمائی چه د ټولونه زيات نيزدې بياهغه سره چه څوك وی (٣)(ابن ماجه، مسنداحمد) فرمائی د ورکونکی لاس اوچت دې خپلې مور سره نيکی کوه خپل پلار سره خپل رورسره خپلې خورسره بياچه دهغوی نه پس څوك نيزدې وی دغه شان درجه په درجه(٤) (مسنداحمد) د بزار رحمه الله په مسند کښې په ضعيف سندسره روايت دې چه يو صاحب خپله موراوچته کړې وه طواف ئی کولو نودحضورﷺ نه ئی تپوس اوکړو چه اوس خو ما د خپلې مور حق اداکړو؟ حضورﷺ اوفرمائيل لږ هم نه.(٥) والله اعلم.

| رَبُّكُمْ | اَعْلَمُ | بِمَا | فِيْ نُفُوْسِكُمْ ط | اِنْ تَكُوْنُوْا | صٰلِحِيْنَ |
|---|---|---|---|---|---|
| رب ستاسو | ښه خبر دې | په هغه څه | چې په زړونوستاسوکښې دی | که جوړشوئ تاسو | نيکان |

څه چې ستاسو په زړونو کښې دی ستاسو رب ته هغه ښه معلوم دی که تاسونيکان يئ

| فَاِنَّهٗ | كَانَ | لِلْاَوَّابِيْنَ | غَفُوْرًا |
|---|---|---|---|
| نو بيشکه الله | دې | دپاره دتوبه ايستونکو | ابښونکې |

نوهغه دتوبې ويستونکو دپاره بخښونکې دې

**قوله تعالى:-** اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ

**توبه کونکود پاره د الله ﷻ حکم:-** -دې نه مراد هغه خلق دی چه د چانه په تندئی کښې د مور پلار سره يوه خبره کيږی څوك چه هغه په خپل نيزد د عيب ياګناه خبره نه ګڼړی اود هغه نيت د خيروی په دې وجه الله ﷻ په هغه باندې رحمت کوی څوك چه د مور پلار تابعدار اومونځ ګذار وی د هغه خطاګانې د الله ﷻ په درکښې معاف دی. (٦)وائی چه ﴿اوابين﴾ هغه خلق دی څوك چه د ماښام او ماسخوتن په مينځ کښې نفلونه کوی. بعضې وائی چه د ضحی مونځ کوی چه د هرې ګناه نه پس توبه کوی څوك چه په

(١) ابوداؤد كتاب الادب باب فى برالوالدين:٥١٤٢، وسنده حسن، ابن ماجه:٣٦٦٤، احمد: ٤٩٨/٣.
(٢) نسائى كتاب الجهاد باب الرخصة فى التخلف لمن له والدة:٣١٠٦، ابن ماجه:٢٧٨١، احمد:٤٢٩/٣.
(٣) ابن ماجه كتاب الادب باب برالوالدين:٣٦٦١ وهوحسن، احمد:١٢٣/٤.
(٤) احمد:٦٤/٤، وسنده صحيح، مجمع الزوائد:٩٨/٣.
(٥) المعجم الصغير:٩٢/١-٩٣، البزار:١٨٧٢،.
(٦) الطبرى:٤٢٢/١٧.

Scanned with Ca

تندنی سره د نیکنی طرف ته راګرځي.(١)په خان له خاۍ کښې خپل ګناهونه یادولوسره د زړه په اخلاص استغفارکوه(٢)عبیده رحمه الله فرمائی چه څوك برابر دهریومجلس نه پاسیدو کښې دادعا وائی «اللهم اغفرلي ما اصبت في مجلسي هذا» ابن جریر رحمه الله فرمائی چه اولی قول دا دې چه د ګناه نه توبه اوکړی د معصیت نه د طاعت طرف ته راشي دالله ﷻ د ناخوښئ کارونه پرېږدی اودهغه درضااوخوښئ کارونه اوکړی.(٣)هم داقول ډیر صحیح دې ځکه چه اَوَّاب مشتق دې د اَوْبٌ نه اود دې معنی رجوع کول دی. لکه چه عرب وائی«اب فلان»اولکه چه په قرآن کښې دی«اِنَّ اِلَيْنَآ اِيَابَهُمْ»(٤)د دوی واپس کیدل هم زمونږ طرف ته دی. صحیح حدیث کښې دی حضورﷺ چه به کله د سفرنه واپس کیدو نوفرمائیل به ئې «ائبون تائبون عابدون لربنا حامدون» واپس کیدونکی توبه کونکی عبادت کونکی اوهم د خپل رب تعریف کونکی.(٥)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَاٰتِ | ذَا الْقُرْبٰى | حَقَّهٗ | وَالْمِسْكِيْنَ | وَابْنَ السَّبِيْلِ | وَلَا تُبَذِّرْ |
| اوورکوه | خپلوانوته | حق دهغه | اومسکینانوته | اومسافروته | اواسراف مه کوه |

اورشته دار محتاج اومسافر ته دهغوئ حق ورکړه او مال بې ځایه مه خرچ کوه بیشکه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تَبْذِيْرًا﴿٢٦﴾ | اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ | كَانُوْٓا | اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ط | وَكَانَ | الشَّيْطٰنُ |
| په اسراف کولو سره | بیشکه اسراف کونکی خلق | دی | ورونړه د شیطانانو | او دی | شیطان |

فضول خرچ خلق دشیطانانو رونړه دی اوشیطان دخپل رب ډیر زیات

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لِرَبِّهٖ | كَفُوْرًا﴿٢٧﴾ | وَاِمَّا | تُعْرِضَنَّ | عَنْهُمُ | ابْتِغَآءَ | رَحْمَةٍ | مِّنْ |
| دپاره درب خپل | ناشکره | او که چري | ته مخ اړوې | ددغو حقدارانونه | دپاره دتلاش | درحمت | دطرفه |

ناشکره دې اوکه ته چرته ددوئ نه ځنګ کوې دپاره ددې چې ستا درب له طرفنه هغه

| | | | |
|---|---|---|---|
| رَّبِّكَ | تَرْجُوْهَا | فَقُلْ لَّهُمْ | قَوْلًا مَّيْسُوْرًا﴿٢٨﴾ |
| درب ستانه | چې ته امیدلرې دهغې | نواووایه هغوئ ته | خبره نرمه |

فراخی راشي چې ستا ورته امیدونه دی نوهغوئ ته په نرمئ سره جواب ورکوه

**قوله تعالى:- وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ**

**د صله رحمئ حکم:-** دمور پلارسره دسلوك حکم ورکولو سره اوس د خپلوانوسره د صله رحمئ حکم ورکولې شي. حدیث کښې دی خپلې مور سره ښه سلوك کوه بیا خپل پلارسره بیاچه څوك ډیر نیزدې وی اوبیاچه دې ته څوك ډیر نیزدې وی(٦)بل حدیث کښې دی څوك چه د خپل رزق او خپل عمر ترقی

---

(١) الطبری:١٧/٤٢٣.

(٢) الطبری:١٧/٤٢٣.

(٣) الطبری:١٧/٤٢٥.

(٤) ٨٨/الغاشیه:٢٥.

(٥)صحيح بخاری كتاب العمرة باب مايقول اذارجع من الحج اوالعمرة اوالغزوه:١٧٩٧،صحيح مسلم:١٣٤٤، ابوداؤد:٢٧٧٠، احمد:٢/٦٣، ابن حبان:٢٧٠٧.

(٦) صحيح مسلم كتاب البر والصلة باب برالوالدين وايهما احق به: ٢٥٤٨.

Scanned with Ca

غواړي نو هغه له صله رحمی کول پکار دی([1])بزارکښې دی چه د دې ایت په نازلیدوسره رسول الله ﷺ خپله لور بی بی فاطمه رضي الله عنها راوغوښتله او فدك (باغ) نی ورکړو.([2]) د دې حدیث سند صحیح نه دې او واقعه هم څه صحیح نه معلومیږی ځکه چه دا آیت مکی دې اودغه وخت پورې د فدك باغ د حضورﷺ په قبضه کښې نه وو. ۷هجری کښې خیبر فتح شو نو هله د فدك باغ د حضورﷺ په قبضه کښې راغلو. نودا څیز صحیح کیږی نه. د مساکین اومسافرین پوره تفسیر په سورت براءت کښې تیرشوې دې دلته د دوباره کولو ضرورت نشته.

**د اسراف او فضول خرچئی نه د بچ کیدلو حکم**:-د خرچ کولوحکم نه پس بیا د اسراف نه منع فرمائی. نه انسان له بخیل کیدل پکار دی نه اسراف کول بلکه اعتدال اختیارول پکاردی. لکه چه بل آیت کښې ارشاد باری تعالی دې ﴿وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا﴾([3])یعنی ایماندار په خپل خرچ کولوکښې نه دحد نه تیریږی اونه بالکل لاس رامنع کوی. بیا د اسراف بدئی بیانوی چه داسې خلق د شیطان په شان دی. تبذیر وائی په غیرحق کښې خرچ کولوته.([4]) که خپل ټول مال دې د الله ﷻ په لارکښې ورکړو نودا تبذیر اواسراف نه دې اوکه په غیرحق کښې دې لږ شان هم ورکړونومبذر دې. ([5])د بنوتمیم یوسړی حضورﷺ ته اووئیل یارسول الله ﷺ! زه مالدارسړې یم اود اهل اوعیال او ټبرقبیلې والایم نو ماته اوښایه چه زه څه طریقه اختیارکړم؟ حضورﷺ اوفرمائیل د خپل مال زکوة جداکړه نوپاك صفابه شی. خپلو رشته دارانوسره ښه سلوك کوه دسوال کونکوحق اوپیژنه اود ګاونډی او مسکین هم.هغه وئیل حضورﷺ په لږونورواﻟﻔاظوکښې مې په خبره پوهه کړه.حضورﷺاوفرمائیل نیزدې خپلوانو مسکینانواومسافرو حق اداکړه او بې ځایه خرچ مه کوه. هغه وئیل﴿حسبی الله﴾ هغه وئیل ښه ده حضور ﷺ کله چه ستاسوقاصدته زکوة ورکړم نودالله ﷻاورسول ﷺپه نیز به زه خلاص شم؟حضورﷺ اوفرمائیل اوچه ته کله زماقاصدته زکوة ورکړې نوته خلاص شوې اوستاد پاره اجرثابت شو. اوس چه دا ځوك بدل کړی دهغه ګناه د هغه په ذمه ده.([6]) دلته فرمان دې چه اسراف او بې وقوفی اود الله ﷻ تابعداری پریخودل اود نافرمانئی په ارتکاب کولوسره اسراف کونکی د شیطان رونړه جوړیږی. په شیطان کښې داخراب خوئ شته چه هغه د رب د نعمتونو ناشکره او د هغه د تابعدارئی پریخودونکې او د نافرمانئ او مخالفت عمل کونکې دې. بیاارشاددې چه د دې خپلوانو مسکینانو مسافرانو نه چه ځوك هم تانه څه سوال اوکړی اوهغه وخت ستا په لاس کښې څه نه وی او په دې وجه تاته مخ ګرځول پریوځی نو بیاهم نرم جواب ورکړه چه روره کله چه الله ﷻ مونږته راکړی ان شاء الله مونږ به ستاسو حق نه هیروو. وغیره.

| وَلَا تَجْعَلْ | يَدَكَ |
| --- | --- |
| اومه ګرځوه | لاس خپل |
| او خپل لاس | |

[1]) صحیح بخاری کتاب الادب من یبسط له فی الرزق لصلة الرحم:٥٩٨٦، صحیح مسلم: ٢٥٥٧، احمد:٢٢٩/٣ابن حبان:٤٣٨.
[2]) مسندابی یعلی:١٠٧٥،
[3]) ٢٥/الفرقان:٦٧.
[4]) الطبری:٤٢٨/١٧، حاکم:٣٦١/٢،.
[5]) الطبری:٤٢٩/١٧.
[6]) احمد:١٣٦/٣.

Scanned with Ca

| |
|---|
| مَغۡلُوۡلَةً اِلٰی عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ الۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُوۡمًا |
| تړلې شوې \| په څټ پورې \| او مه ئې خورپرېږده \| په کامل خورولوسره \| چې کینې ته \| ملامته |
| خپل څټ پورې تړلې مه ساته (یعنې شوم مه جوړیږه) او نه ئې بالکل پرانستې چلوه ګنې ملا ته تش |
| مَّحۡسُوۡرًا ﴿٢٩﴾ اِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ |
| افسوس کونکې \| بیشکه \| رب ستا \| فراخوی \| رزق \| دپاره دهغه چا \| چې غواړی هغه |
| طور به پاتې شې بیشکه ستارب چا دپاره چې غواړی رزق فراخه کوی |
| وَيَقۡدِرُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيۡرًاۢ بَصِيۡرًا ﴿٣٠﴾ |
| او په اندازه کوی رزق دچا \| بیشکه هغه \| دې \| په بندګانو خپلو باند \| ښه خبردار \| لیدونکې |
| (اوچادپاره چې اوغواړی) تنګوی یقینا هغه له خپلو بندګانو نه ښه خبر دې اوهرڅه وینې ګوری |

**قوله تعالی:- وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُوۡلَةً اِلٰی عُنُقِكَ**

**په خرج کولوکښې درمیانه لار اختیارکړئ:**-حکم کولې شی چه په خپل ژوندکښې درمیانه لار اختیار کړئی مه بخیل جوړیږئی مه اسراف کونکی، لاس سټ سره مه تړئی یعنی بخیلان مه جوړیږئی چه چاته هڅو ورکوئی نه. یهودیانوهم دا متل استعمال کړې دې اوونیلې دی چه د الله ﷻ لاسونه تړلې شوی دی. په هغوی دې د الله ﷻ لعنتونه نازل شی دوی به الله ﷻ د بخل طرف ته منسوب کولو د څه نه چه الله ﷻ کریم وهاب پاك او ډیر لرې دې. د بخل نه منع کولونه پس بیا د اسراف نه هم منع کول کوی چه دومره هم مه کوئی چه د خپل طاقت نه زیات ورواچوئی. بیا د دې دواړو حکمونوسبب بیانوی چه بخل توب سره خو ملامته جوړیږی د هرچا ګوته به اوچتیږی چه دا ډیر بخیل دې هریوبه ترې لرې کیږی اوصرف یو بې فیض سړې دې. لکه چه زهیر په خپله معلقه کښې ونیلی دی﴿**ومن كان ذا مال ويبخل بماله على قومه يستغن عنه ويذمم**﴾یعنی چه څوك مالدارشی او بخل کوی خلق د هغه نه بې پرواه کیږی د هغه بدی کوی. نود بخل په وجه انسان خرابیږی اودخلقو دنظر نه پریوځی هریوهغه ملامت کوی او چه څوك دحدنه زیات خرج کوی هغه ستړې شی اوکینی.دهغه په لاس کښې هیڅ نه پاتې کیږی او ضعیف او عاجزپاتې کیږی لکه چه څناورپه تلوتلوکښې ستړې شی اوپه لارکښې اړی شروع کړی.﴿**حسیر**﴾په سورت تبارك کښې راغلې دې خودا د لف اونشر په توګه دې.

**د بخیل او د سخی مثال:**-د صحیحین په حدیث کښې دی د بخیل او سخی مثال د هغه دوو سړو په شان دې په چاباندې چه د اوسپنې دوه چغې ترسینې او مرئی پورې وی. سخی خو چه څنګه څنګه خرج کوی د هغې کړئی سستیږی اودهغه لاسونه کولاویږی اوهغه چغه لوئیږی تردې چه دهغه ګیتو ته اورسی اود هغې اثر ختموی. اوبخیل چه کله دخرج کولواراده کوی نودهغه چغه کړئی نورې هم راغونډیږی که هغه هرڅومره هغه کولاوول غواړی خوپه هغې کښې هیڅ ګنجائش نه راوځی.([1])

**په خرج نه کولو وعیدونه:**-بخاری اومسلم کښې دی حضورﷺ حضرت اسماء بنت ابی بکرؓ ته اوفرمائیل اخوادیخواد الله ﷻ په لارکښې خرچ کوه جمع کول مه کوه ګنی الله ﷻ به هم درکول بندکړی بندونوترلوسره منع کول مه کوه ګنی نو الله ﷻ به هم سربندکړی.په یوبل روایت کښې دی شمیرل کولوسره ئې کیخودل مه کوه ګنی الله ﷻ به هم شمیراوکړی منع به کړی.([2]) صحیح مسلم کښې دی

[1]) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب مثل البخیل والمتصدق:١٤٤٣،صحیح مسلم:١٠٢١.

[2]) صحیح بخاری کتاب الهبة باب هبة المراة لغیر زوجها:٢٥٨٩، صحیح مسلم ١٠٢٩، احمد:٦/٣٤٥، ابن حبان:٣٢٠٩.

Scanned with Ca

رسول الله ﷺ حضرت ابوهریره ﷛ ته اوفرمائیل ته د الله ﷻ په لارکښې خرچ کوه الله ﷻ به تاله درکوی.
(١) بخاری اومسلم کښې دی حضورفرمائیلی چه هرسحر دوه فرښتې د اسمان نه راکوزیږی یوه دعا کوی چه اې الله سخی ته بدله ورکړې او دویمه دعاکوی د بخیل مال ختم کړې(٢)مسلم شریف کښې دی چه په صدقه خیرات سره د چامال کمیږی نه او سخاوت کونکی ته الله ﷻ عزت ورکوی اوکوم سړی چه د الله ﷻ د حکم په وجه سره نورو سره عاجزانه سلوك كوی الله ﷻ ته اوچتې درجې ورکوی. (٣)

**د طمع نه بچ شئی**:-په یوبل حدیث شریف کښې دی د طمع نه بچ شئی هم دې تاسو نه وړاندې خلق تباه کړی دی. د طمع ړومبې حکم داکولې شی چه بخل کوه نو هغه بخل اوکړو بیائی هغه ته د صله رحمئ ماتولو اووئیل هغه دا هم اوکړه بیائی د فسق او فجور حکم ورکړو هغه ئې هم اوکړه(٤)بیهقی کښې دی کله چه انسان خیرات کوی د اویاوشیطانانو جامې ماتیږی(٥)دمسندپه حدیث کښې دی درمیانه خرچ کونکې به کله هم فقیر نه شی. (٦)

**غریبی اومالداری د الله ﷻ په لاس کښې ده**:-بیافرمائی رزق ورکونکې وسعت ورکونکې تنګی اچونکې په خپل مخلوق کښې د خپلې رضا مطابق وړاندې والې روستووالی کونکې څوك چه غواړی غنی او څوك چه غواړی فقیرکونکې هم یوالله دې.په هره خبره کښې دهغه حکمت دې هم هغه د خپلوحکمتونو علیم دې هغه ښه پوهیږی او ګوری چه د مالدارئی حقدار څوك دې د فقیرئی حقدار څوك دې. حدیث قدسی دې چه زما بعضې بندیګان هغه دی چه هم د فقیرئی قابل دی که ماهغه مالدار کړل نود هغوی دین به تباه شی اوزما بعضې بندیګان داسې هم دی کوم چه د مالدارئی لائق دی که چرې زه هغوی فقیران کړم نودهغوی دین به تباه شی(٧)هیثمی وائی ددې په سند کښې یوجماعت دمجهول راویانودې. اودا هم یادساتئی چه د بعضو خلقو په حق کښې مالداری د الله ﷻ د طرف نه دمهلت په توګه وی او بعضو د پاره فقیری د عذاب په توګه باندې وی. الله ﷻ دې مونږ د دې دواړونه بچ کړی.

| وَلَا تَقْتُلُوٓا | اَوْلَادَكُمْ | خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ؕ | نَحْنُ | نَرْزُقُهُمْ | وَاِيَّاكُمْ ؕ |
|---|---|---|---|---|---|
| اومه وژنئ تاسو | اولاد خپل | دیرې د غریبئ نه | مونږه | رزق ورکوو دوئ له | اوتاسوله هم |

اوخپل اولاد دغریبئ دویرې نه مه وژنئ مونږ هغوئ له هم رزق ورکوؤ

| اِنَّ | قَتْلَهُمْ | كَانَ | خِطْاً | كَبِيْرًا ۞ | وَلَا تَقْرَبُوا | الزِّنٰٓى |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بیشکه | قتلول دهغوئ | دې | خطا | لوئ | اومه نزدې کیږئ تاسو | زنا ته |

اوتاسوله هم بیشکه ددوئ وژل ډیر غټ جرم دې اود زنا

| اِنَّهٗ | كَانَ | فَاحِشَةً ؕ | وَسَآءَ سَبِيْلًا ۞ |
|---|---|---|---|
| بیشکه دا | دې | کارقبیحه | او ډیره ناکاره لاره ده |

خواته هم مه ورنزدې کیږئ داغټه بې شرمی ده اوډیره خرابه لار ده

(١) صحیح مسلم باب کتاب الزکاة باب الحث علی النفقة وتبشیر المنفق بالخلف:٩٩٣.
(٢) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب قوله تعالی ﴿فاما من اعطی واتقی....﴾:١٤٤٢، صحیح مسلم:١٠١٠.
(٣) صحیح مسلم کتاب البروالصلة باب استحباب العفو و التواضع:٢٥٨٨،ترمذی:٢٠٢٩، احمد:٢٣٥/٢، ابن حبان:٣٢٤٨.
(٤) ابوداؤد کتاب الزکاة باب فی الشح:١٦٩٨، وسنده صحیح، احمد:١٥٩/٢، حاکم:١١/١،ابن حبان: ٥١٧٦، بیهقی ٢٤٣/١٠.
(٥) احمد:٣٥٠/٥، بیهقی:١٨٧/٤، حاکم:٤١٧/١.
(٦) احمد:٤٤٧/١، طبرانی:١٠١١٨،شعب الایمان:٦٥٥٩،.
(٧) مجمع الزوائد:٢٧٠/١٠،

Scanned with Ca

**قوله‌تعالى:-وَلَا تَقْتُلُوٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ**

**اې خلقو ستاسو اوستاسو د اولاد رازق الله ﷻ دې** :- -ګورئی الله ﷻ په خپلو بندیګانوباندې د خپل مور پلاردنسبت نه هم زیات مهربان دې.یوطرف ته مورپلارته حکم ورکوی چه خپل مال خپلو بچوته د وراثت په توګه ورکړئی او بل طرف ته فرمائی چه دوی وژنئی مه. په جاهلیت کښې به نه خلقو جینکوته میراث ورکولو اونه به ئې هغوی ژوندئې ساتل خوښولې. بلکه لونړه وژل دهغوی دقوم یوعام رواج وو. قرآن د دې خراب رواج تردیدکوی چه داڅومره خراب اوښکته خیال دې چه په دوی به د کوم ځائ نه خورو؟ د چا رزق د چا په ذمه نه دې د ټولو روزی رسان صرف هم الله ﷻ دې. سورت انعام کښې ارشاد دې ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ﴾[1]د فقیرئی اولاس تنګ والی په وجه د خپلو بچو قتلونه مه کوئی. تاسو ته اودوی ته رزق ورکونکی هم مونږ یو د دوی قتل جرم عظیم او کبیره ګناه ده. د خطا دویم قراءت هم خطادې د دواړو یوه معنی ده. بخاری اومسلم شریف کښې دی چه حضرت عبدالله بن مسعودؓ تپوس اوکړویارسول الله ﷺ د الله ﷻ په نیز باندې د ټولونه لویه ګناه کومه یوه ده. حضور ﷺ اوفرمائیل دا چه ته د الله ﷻ سره څوك شریك اوګرځوې سره د دې چه هم هغه یوذات ته پیدا کړې ئې. ماتپوس اوکړو دې نه پس؟ونی فرمائیل چه ته خپل اولاد د دې ویرې نه قتل کړې چه هغوی به تاسره خوراك کوی. ماوئیل دې نه پس وئی فرمائیل چه ته خپلې ګاونډئی سره زناکاری اوکړې. ([2])

### د زنا اراده کوونکی ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ښکلې نصیحت

**زناکبیره ګناه ده**:-زناکارئی نه اودې سره تاوراتاو ټول ګناهونونه قرآن منع فرمائیلې. زنا شریعت کبیره اوډیره سخته ګناه ګرځولې ده.هغه ډیره زیاته خرابه طریقه او ډیره خرابه لاره ده. مسنداحمد کښې دی چه یوځوان د زناکارئی اجازت اوغوښتو خلق په هغه راغونډشو چه چپ شه دا څه وائې اوڅه کوې. حضور ﷺ هغه خپل ځان له نیزدې راوستلو اوونی فرمائیل کینه. کله چه هغه کیناستو نو حضور ﷺ اوفرمائیل آیاته دا کار د خپلې مور د پاره خوښوې؟ هغه وئیل نه په الله ﷻ قسم مادې الله ﷻ په تاسوباندې قربان کړی هیڅ کله نه.حضور ﷺ اوفرمائیل بیا سوچ اوکړه چه بل څوك به ئې څنګه خوښ کړی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل ښه ده ته به دادخپلې لورد پاره خوښ کړې؟هغه هم په داسې تاکیدسره انکاراوکړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه هم دغه شان بل څوك هم دا د خپلې لورد پاره نه خوښوی. ښه ده د خپلې خورد پاره به ته داخوښ کړې؟هغه هم دغه شان انکاراوکړو حضور ﷺ اوفرمائیل دغه شان نور هم د خپلې خورد پاره دا بدګنړی. وئی فرمائیل چه ښه ده دا اووایه چه ته به د خپلې ترور د پاره دا خوښ کړې؟ هغه هم په دې سختئی سره انکاراوکړو.حضور ﷺ اوفرمائیل داسې بل څوك هم دا د خپلې ترور د پاره نه خوښوی. ښه ده د خپلې ماسی دپاره؟هغه وئیل هیڅ کله هم نه. وئی فرمائیل دغه شان نور ټول هم. بیاحضور ﷺ خپل لاس مبارك د هغه په سرکیخودو اودعائی اوکړه یاالله د ده ګناه معاف کړې د ده زړه پاك کړې اودې د عصمت والا جوړکړې.بیاخوئی داحالت ووچه دې خوان به چاته په اوچت نظر کتل هم نه. ([3])ابن ابی الدنیاکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د شرك نه پس بله یوه ګناه هم د زناکارئی نه لویه نه ده چه سړې خپله نطفه په داسې رحم کښې واچوی چه د هغه د پاره حلال نه وی.

---

[1] ٦/الانعام:١٥١.

[2] صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿فلاتجعلوالله اندادًا﴾:٧٥٢٠، صحیح مسلم:٨٦، احمد:١/٤٣٤، ترمذی :٣١٨٣، ابن حبان:٤٤١٤.

[3] احمد: ٥/٢٥٦، وسنده صحیح، مجمع الزوائد:١/١٢٩.

Scanned with Ca

وَلَا تَقۡتُلُوا النَّفۡسَ الَّتِیۡ

| اومه وژنئ تاسو | نفس هغه لره

اوهغه نفس مه وژنئ

حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالۡحَقِّ ؕ وَمَنۡ قُتِلَ مَظۡلُوۡمًا

چي حرام كړي دي | الله | مگر | په حقه سره | اوهغه څوك | چي قتل كړي شو | په ظلم سره

دكوم وژل چي الله ﷻ حرام كړى دى مگر په جائزه او څوك چي برناحقه اووژلي شي

فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِیِّهٖ سُلۡطٰنًا فَلَا یُسۡرِفۡ

نوپه تحقيق وركړي دي مونږ | ولى دهغه ته | دقصاص دمطالبي حق | نو اسراف دنهٔ كوى

نومونږدهغه وارث ته اختيار دقصاص وركړي دي نودهٔ له پكار دى چي دقاتل

فِّی الۡقَتۡلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنۡصُوۡرًا ۝

په قتل كښي | بيشكه چي هغه | دي مدد كړي شوي |

په وژلو كښي زياتي اونه كړى ولي چي دهٔ ته مددوركړي شوي دي

**قوله‌تعالى:-وَلَا تَقۡتُلُوا النَّفۡسَ الَّتِیۡ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالۡحَقِّ ؕ**

**ناحق قتل حرام دي :-** بغيرد شرعى حق نه دچاقتل كول حرام دى.بخارى اومسلم كښي دى چه كوم مسلمان دالله ﷻ ديووالى اود محمد ﷺ د الله ﷻ د رسول كيدو گواهى وركوى د هغه قتل كول په دريو خبروكښي ديوي نه بغيرحلال نه دي ياخوهغه څوك قتل كړي وى ياواده كړي اوزنائى كړى وى يائى دين پريخودي او (د مسلمانانو) ډله ئى پريخي وى.([1]) سنن كښي دى چه د ټولي دنيافناكيدل د الله ﷻ په نيزد يومؤمن د قتل نه زياته آسانه ده. ([2])كه يوسړي د بل د لاسه ناحقه قتل كړي شوي دي نود هغه وارثان الله ﷻ په قاتل باندي غالب كړى دى هغه ته د قصاص اخستو اوديت اخستو بالكل معاف كولوكښي د يواختيار دي.

**د حضرت عثمان ﷺ د قاتلانومعامله:-**يوه عجيبه خبره داده چه حضرت ابن عباس ﷺ د دي آيت د عموم نه د حضرت معاويه ﷺ په سلطنت باندي استدلال كړي دي چه هغه به بادشاه جوړيږى ځكه چه د حضرت عثمان ﷺ ولى هم هغه وو اوحضرت عثمان ﷺ په ډير مظلوميت سره شهيدكړي شوي وو. حضرت معاويه ﷺ به دحضرت عثمان ﷺ قاتلان د حضرت على ﷺ نه غوښتل چه د دوى نه قصاص واخله ځكه چه دي هم اموى وو اوحضرت عثمان ﷺ هم اموى وو. حضرت على ﷺ په دي كښي لږه سستي كوله. بل خوادحضرت على ﷺ مطالبه د حضرت معاويه ﷺ نه داوه چه دشام ملك هغه ته حواله كړى. حضرت معاويه ﷺ فرمائيل چه ترهغه وخته پوري تركومي چه دي د حضرت عثمان ﷺ قاتلان حواله كړى نه وى د شام حكومت په درته حواله نه كړم. نو هغه سره د ټول شام د خلقو سره د حضرت على ﷺ د بيعت نه انكاراوكړو.داجنگ اوږدشواوحضرت معاويه ﷺدشام بادشاه جوړشو.په معجم طبرانى كښي دا روايت دي چه حضرت ابن عباس ﷺ د شپي په خبرو اتروكښي يوځل اوفرمائيل چه نن زه تاسو ته يوه خبره ښايم هغه نه داسي پټه ده اونه ښكاره. حضرت عثمان ﷺ سره چه څه اوكړي شو هغه وخت ما حضرت

---

[1]) صحيح بخارى كتاب الديات باب قول الله تعالى ﴿ان النفس بالنفس والعين بالعين.....﴾:٦٩٧٨، صحيح مسلم:١٦٧٦.

[2]) ترمذى كتاب الديات باب ماجاء فى تشديد قتل المؤمن:١٣٩٥، وهوحسن، نسائى:٣٩٩٢، ابن ماجه:٢٦١٩.

Scanned with Ca

علي ﷺ ته مشورد ورکړه چه ته یوطرف ته شه والله! که چرې په یوکانړی کښې هم پټ شې نوراوبه ویستې شې خوهغه زما اونه منل اوس یوه بله واورئی په الله ﷻ قسم چه معاویه ﷺ به په تاسو بادشاه وی ځکه چه د الله ﷻ فرمان دې چه کوم مظلوم اووژلې شی مونږ د هغه وارثانوته غلبه اوطاقت ورکوو بیادهغوی نه د قتل په بدل کښې د قتل نه زیاتې نه دی کول پکار الخ. واورئی دا قریشیان خو به تاسو د فارس او روم په طریقوباندې راځی کوی او واورئی په تاسو به نصاری یهود او مجوسیان اودرېږی هغه وخت چه چا دا اونیولو کوم چه معروف دې هغه خلاصې بیاموندو او چا چه دا پرېخوده اوافسوس چه هم تاسو پرېخودونکی ئی نو تاسو به د یوزمانې والا په مثال شئی چه هغوی هم په هلاك کیدونکو کښې هلاك کړې شو. اوس ئی اوفرمائیل چه د ولی د قتل په بدل کښې د حدنه تیریدل نه دی پکار چه دهغه دقتل سره دې مثله هم اوکړی یعنی غوږ پوزه ترې پرې کړی یاد قاتل نه بغیرد بل نه بدله واخلی. د ولی مقتول شریعت غلبه اومقدرت په لحاظ سره په هرشان امداد کړې دې.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَلَا تَقْرَبُوْا | | مَالَ الْيَتِيْمِ | | | | |
| اومهٔ نزدې کیږئ تاسو | | مال دیتیم ته | | | | |
| او د یتیم مال ته نزدې هم مه ورځئ | | | | | | |
| اِلَّا | بِالَّتِيْ | هِيَ | اَحْسَنُ | حَتّٰى | يَبْلُغَ | اَشُدَّهٗ |
| مگر | په هغه طریقې سره | چې هغه | ډیره ښه ده | ترهغې پورې | چې اورسیږی هغه | حد دبلوغ خپل ته |
| مگر صرف په هغه طریقه چې ددهٔ په حق کښې غوره وی تردې چې هغه پوخ عمر ته اورسی | | | | | | |
| وَاَوْفُوْا | بِالْعَهْدِ | اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ | مَسْـُٔوْلًا | وَاَوْفُوا | | |
| اووفاکوئ | په وعده باند | بیشکه وعده چې ده | ده تپوسلې شوی | اوپوره ورکوئ | | |
| او د وعدې پابندی کوئ بیشکه دوعدې په حقله به تپوس پوښتنه کیږی او چې څهٔ | | | | | | |
| الْكَيْلَ | اِذَا | كِلْتُمْ | وَزِنُوْا | بِالْقِسْطَاسِ | الْمُسْتَقِيْمِ | ذٰلِكَ |
| پیمانه | کله چې | پیمانه کوئ تاسو | اوتول کوئ | په تله | نیغه باند | دا طریقه |
| پیمانه کوئ نوپوره پوره ئې پیمانه کوئ او چې تول کوئ نو په سمه برابره تله ئې کوئ دا | | | | | | |
| خَيْرٌ | وَّاَحْسَنُ | تَاْوِيْلًا | | | | |
| بهتره ده | او ډیره ښه ده | په لحاظ دانجام سره | | | | |
| ډیر غوره دې او دانجام په لحاظ سره ډیر ښه دې | | | | | | |

**قوله‌تعالی:- وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ**

**د یتیم مال مه خورئی:-** دیتیم په مال کښې په بدنیتئی سره اخوادیخوا مه کوئی دهغوی مال د هغوی د بالغ کیدونه وړاندې د قبضه کولوناپاکه ارادې کولونه بچ شئی. د چا په پالنه کښې چه یتیمان بچی وی که هغه پخپله مالداروی نوبیاخودې ددې یتیمانودمال نه بالکل جداکیدل پکاردی اوکه هغه فقیر او محتاج وی نودضرورت مطابق دې ترې خوری. صحیح مسلم کښې حضور ﷺ حضرت ابوذر ﷺ ته اوفرمائیل زه تاډیر کمزورې وینم اوستاد پاره هغه خوښوم کوم چه دخپل ځان دپاره خوښوم خیال کوه

کله هم د دووکسانو والی مه جوړیږه اومه دیتیم د مال متولی جوړیږه([1])بیافرماني وعده پوره کوئ چه کوم وعده وعیدونه اولین دین اوشی دهغې ساتنه کوه ددې متعلق به دقیامت په ورځ تپوس کولې شي **په ناپ تول کښې کمې مه کوه**:-ناپ اوپیمانه پوره ډکه وه نوورکوه د خلقو څیز کمولوسره مه ورکوه. د **﴿قِسطاس﴾**دویم قراءت**﴿قُسطاس﴾** هم دی.بیاحکم کیږي بغیردپارسنګ نه صحیح وزن خودونکې نیغه تله بغیرد ډنډې وهلونه تول کوه، په دواړوجهانونوکښې ستاسودتولودپاره بهتری ده په دنیاکښې هم ستاسودلین دین رونق دې اوپه آخرت کښې هم ستاسودخلاصي دليل دې([2])ابن عباس ﷺ فرمانی اې سوداګرواتاسوته ئې دادوه څیزونه درکړې دی دڅه په وجه چه تاسونه وړاندې خلق تباه کړې شوی یعني ناپ تول. نبی کریمﷺ فرمائی کوم سړې چه په یوحرام باندې قدرت لرونکې وی اوصرف د الله ﷻ د ویرې نه هغه پریږدی نو الله ﷻ به هغه ته د دې نه ښه څیز ورکړی.([3])

| |
|---|
| وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ |
| او پیروی مهٔ کوه \| دهغه څیز \| چی نهٔ وی |
| او په هغه خبرې پسې مه ځه |
| لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ |
| تالره \| په هغې باند\| علم \| بیشکه \| غوږ \| او سترګې \| اوزړهٔ \| دا ټول چی دی \| دې \| |
| دکومې چې تاته پوخ علم نه وی بیشکه د غوږونو ، سترګو ، او دزړهٔ ددې ټولو څیزونو |
| عَنْهُ مَسْئُوْلًا ۝ وَلَا تَمْشِ فِى الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ |
| په باره ددې کښې تپوس کیدونکې \| اومهٔ ګرزه تهٔ \| په زمکه کښې \| په غرور سره \| بیشکه تهٔ \| |
| په حقله به پوښتنه کیږی اود زمکې په سر ایغ نیغ مه ګرځه بیشکه ته |
| لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ۝ كُلُّ ذٰلِكَ |
| هرګزنشې شلولې\| زمکه\| اوهرګزنهٔ شې رسیدې \|غرونوته\| په لحاظ داوچتوالی سره\| داټول چی دی |
| خو نه زمکه شلولې شې اونه په اوږدوالی کښې غرونو ته رسیدلې شې داټول |
| كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ۝ |
| ده بدی ددې \| په نز درب ستا \| نا خوښه دا \| |
| خراب کارونه ستادرب په نزد بالکل ناخوښه دی |

**قوله تعالی:-وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ**

**بغیردعلم نه ګواهی مه ورکوئ**:-یعنی د کومې خبرې چه درته علم نه وی د هغې باره کښې ژبه مه خوزوه.بې دعلم د چا عیب لټول او بهتان تړل مه کوئ.د دروغوګواهئ مه ورکوئ بغیرکتنې مه وائې چه ما کتلې دې نه بغیرد اوریدو اوریدونکې بیانوه. مه په بې علمئ باندې خپل پیژندل بیانوه. ځکه

[1] صحیح مسلم کتاب الامارة باب کراهة الامارة بغیر ضرورة:١٨٢٦، ابوداؤد:٢٨٦٨، ابن حبان:٥٥٦٤.

[2] الطبری:٤٤٦/١٧.

[3] الطبری:٤٤٦/١٧.

Scanned with Ca

چه د دې ټولو خبرو تپوس به د الله ﷻ په نيز کولې شی.([1])غرض د وهم خيال او ګمان په توګه څه وينا کول منع کيږی.لکه چه دالله ﷻ ارشاددې ﴿اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ﴾([2])ډير ګمان نه بچ شئ ځکه چه بعضې ګمان ګناه ده.

**په چابد ګماماني کول نه دی پکار**:-حديث شريف کښې دی د ګمان نه بچ شئی ځکه چه ګمان ډير خراب دروغ دی([3])د ابوداؤد په حديث کښې دی د انسان دا دخبرو انداز ډيرخراب دې چه د خلقوخيال دې.([4]).بل حديث کښې دی چه ډيرخراب بهتان دادې چه انسان د دروغ يوخوب د ځان نه جوړکړی.([5])او په صحيح حديث کښې دی چه يوسړې داسې خوب د ځان نه بيان کړی د قيامت په ورځ به ده ته دا تکليف ورکولې شی چه هغه د دوو اوربشو په مينځ کښې غوټه اولګوی اودا به د هغه نه هيڅ کله هم اونه شی.([6]) د قيامت په ورځ به د غوږ سترګې زړه هرڅه نه تپوس کيږی ټول به جواب ورکوی. دلته ﴿تلك﴾په ځای باندې د﴿اولئك﴾استعمال دې په عربو کښې دااستعمال برابرجاری دې تردې چه د شاعرانو په شعرونو کښې هم.

**تکبرسره تګ کول منع دی**:-اوچت اوچت ځان خودلو سره په کبر باندې تګ کولونه الله ﷻ خپل بنديګان منع کړی دی داعادت دسرکشه اومغروره خلقو دې. بيادهغوی دښکته خودلو د پاره فرمائی چه هر څومره سر اوچت کړې اوځې خود غروږو د اوچتوالی نه به ښکته ئې اوکه هرڅومره په ناز او نخرو قدمونه ايږدی اوځې خو زمکه شلولې نه شې بلکه دداسې خلقوحال برعکس وی لکه چه په حديث کښې راغلی دی يوسړی ښادر جوړه کښې په کبر سره روان وو چه هم هلته په زمکه کښې ورخښ کړې شو چه ترننه پورې ورخښ روان دې.([7])په قرآن کښې دقارون قصه موجودده چه هغه د خپلو محلونوسره په زمکه کښې ورخښ کړې شو.

**د عاجزئی فضيلت او لوئې قباحت**:-تواضع نرمی عاجزی کونکی ته الله ﷻاوچه درجه اولوړمقام ورکوی. په حديث کښې دی چه ټيټيدونکی الله ﷻ اوچتوی. هغه خپل ځان حقيرګنړی اوخلق هغه داوچت شان اوقدروالا ګنړی اوکبرکونکې خپل ځان لوئ سړې ګنړی خودخلقو په نظرکښې هغه خواراوذليل وی تر دې چه هغوی دې د سپو او خنزيرانو نه هم زيات سپک ګنړی.([8]) امام ابوبکر ابن ابی الدنيا رحمه الله په خپل کتاب الخمول والتواضع کښې راوړی دی چه ابن الاهيم دربارمنصورته تلو رښمينه چغه ئې اغوستې وه اود پنډوډ پاسه ئې هغه ډبل ګنډلې وه چه د لاندې نه قباهم ښکاری اوپه ډير فخر سره روان وو. حسن رحمه الله هغه په دې حال کښې اوليدونوئی فرمائيل اوهو پوزه تره وه کړې مخ پړسولې خپل لاسونه وهلوته ګوری اوخپل ځان تلی د نعمتونو ذکر اوشکر ئې هيرکړې د رب احکام ئې پريخی د الله ﷻ حق ئې مات کړې د ليونوپه شان روان دی په بيل بيل اندام باندې د چا ورکړې شوې نعمت پروت دې اود شيطان لعنت وهلې ګوره روان دې. ابن اهيم واوريده او هم هغه وخت واپس شواو عذر معذرت ئې اوکړو.هغوی اوفرمائيل مانه څه معذرت کوې الله ﷻ ته توبه اوباسه اودا پريږده اودا د الله ﷻ دا فرمان

---

[1]) الطبری:١٧/٤٤٦-٤٤٧.

[2]) ٤٩/الحجرات:١٢.

[3]) صحيح بخاری کتاب الادب باب ماينهى عن التحاسد والتدابر:٦٠٦٦، صحيح مسلم:٢٥٦٣، احمد:٢/٤٦٥،ابن حبان :٥٦٨٧.

[4]) ابوداؤد کتاب الادب باب ل قول الرجل زعموا:٤٩٧٢،.الادب المفرد:٧٦٢، احمد:٥/٤٠١، الزهد:٣٧٧

[5]) صحيح بخاری کتاب التعبير باب من كذب فى حلمه:٧٠٤٣.

[6]) صحيح بخاری حواله سابق:٧٠٤٢،احمد:١/٦١٢،ابن حبان:٥٦٨٦.

[7]) صحيح بخاری کتاب اللباس باب من جرثوبه من الخيلاء:٦٧٨٩، صحيح مسلم٢٠٨٨، احمد:٢/٣١٥، مسندابی يعلى:٦٣٣٤.

[8]) مشكوة المصابيح کتاب الادب باب الغضب والكبر:٥٠٤٦، شعب الايمان:٨١٤٠،.

Scanned with Ca

نه دې اوريدلې ﴿وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا﴾ عابد بختری دآل علی نه يوسړې داسې په کبرسره تلونکې اوليدو نو وئی فرمائيل اې هغه سړيه چاته چه الله ﷻ دا اکرام درکړې ددې خودا لاړنه وه هغه هغه وخت توبه اوکړه.

ابن عمر ﷜ يوسړې داسې اوليده نو وئی فرمائيل چه د شيطان هم داسې رونړه وی. حضرت خالد بن معدان ﷫ فرمائی خلقو دا کاږه کاږه تلل پريږدئی ځکه چه انسان ....(په اصل کښې دغه شان بياض پاتې دی)؟ د هغه لاس د باقی بدن نه (ابن ابی الدنيا) ابن ابی الدنياکښې حديث دی چه کله زما امت دکبر اولوئې په طريقه روان شی اوفارس والا او روم والا به په خپل خدمت کښې اولګوی نو الله ﷻ به په يوباندې بل مسلط کړی. ([1])

﴿سيئه﴾ دويم قراءت ﴿سيئةٌ﴾ دې نومعنی دا شوه چه د کومو کارونونه مونږ تاسو منع کړی ئی دا ټول کارونه ډير خراب دی اود الله ﷻ ناخوښ دی. يعنی خپل اولاد مه قتل کوئی نه واخلئی تر کاږه کاږه تللو پورې ټول کارونه.﴿ سيئه﴾ په قراءت باندې مطلب دا دې چه ﴿وقضى ربك﴾ نه تردې ځائ پورې چه حکم احکام کوم بنديزونه اومنع والې بيان شوې دې او په دې کښې چه د کومو خرابوکارونو ذکر دې هغه ټول د الله ﷻ په نيز مکروه کارونه دی. امام ابن جرير ﷫ هم دا توجيه بيان کړې ده.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ذٰلِكَ مِمَّآ | اَوْحٰى | اِلَيْكَ | رَبُّكَ | مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ | وَلَا تَجْعَلْ |
| دهغه خبرونه دی | چې وحې اوکړه | تاته | رب ستا | دحکمت دخبرونه | اومهٔ جوړوه |
| داټولې خبرې په هغه حکمت کښې شمير دی چې ستا پروردګار تاته راليږلې دې او دالله ﷻ | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مَعَ اللّٰهِ | اِلٰهًا | اٰخَرَ | فَتُلْقٰى | فِيْ جَهَنَّمَ | مَلُوْمًا | مَّدْحُوْرًا ۝ |
| دالله سره | بل | معبود | کنئ نواوبه غورزولې شې ته | په دوزخ کښی | ملامته | رټلې شوې |
| سره بل معبود مه شريکوه ګنی په دوزخ کښې به ملامته او ذليل اوغورزولې شې | | | | | | |

**قوله تعالى:- ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ**

**د وحی دليل:-** دااحکام مونږ درکړی دی ټول بهترين اوصاف دی اود کوموکارونونه چه مونږ منع کړی ئی هغه ډير خراب خصلتونه دی. مونږ دا ټول څيزونه ستا طرف ته د وحی په ذريعه نازلوو چه ته خلقوته حکم اوکړې او منع ئی کړې. ګوره ماسره څوك معبود مه ګرځوه ګنی هغه وخت به راشی چه پخپله به خپل ځان ملامت کوئی اود الله ﷻ د طرف نه به هم ملامتياوی بلکه د نور ټول مخلوق د طرف نه به هم وی اوته به د هرې ښيګړې نه لرې کړې شې. په دې آيت کښې د رسول الله ﷺ په واسطه سره د هغه امت ته خطاب دې ځکه چه حضور ﷺ خو معصوم دې.

| | | |
|---|---|---|
| اَفَاَصْفٰىكُمْ | رَبُّكُمْ | بِالْبَنِيْنَ |
| آيانوغوره کړئ تاسولره | رب ستاسو | په ځامنوسره |
| (ائې مشرکانو) آيا ستاسورب تاسوله خو ځامن درکړل | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَاتَّخَذَ | مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ | اِنَاثًا ؕ | اِنَّكُمْ | لَتَقُوْلُوْنَ | قَوْلًا | عَظِيْمًا ۝ |
| اووې نيولې \| د فرښتو | نه | لونړه | بيشکه تاسوچی يئ | خامخاوايئ تاسو | خبره | لويه |
| اوپخپله هغه ځان له فرښتې لونړه جوړې کړی دی بيشکه تاسو ډيره سخته خبره کوئ | | | | | | |

[1]) ابن ابی الدنيا فی التواضع: ۲۳۹.

Scanned with Ca

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِيَذَّكَّرُوْا ؕ

اوپه تحقیق سره | بار بار پوهه کړل مونږه | په دې قران کښې | دپاره ددې چې عبرت حاصل کړي

او مونږ په دې قران پاک کښې (دتوحيد مضمون) په رنګ رنګ بيان کړې دې چې دوئ پرې ښه پوهه شي

وَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗۤ اٰلِهَةٌ

اونه زياتوي دوئ لره | مګر | تيښته دحق نه | اووايه | که چرې وې | دهغه سره | نور معبودان |

مګر (ددې نه خو) ددوئ (کفارو) نفرت نور زياتيږي ورته اووايه که چرې الله ﷻ سره نورمعبودان هم وې

كَمَا يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾

لکه څنګه چې اوائې دوئ | نوبيابه | خامخاتلاش کړی وه هغوئ | مالك دعرش ته | يوه لار

لکه چې دوئ وائی نو پدې صورت کښې به دوئ دعرش دمالک طرفته ضرور څه لار لټولې وه

سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿۴۳﴾

پاك دې هغه |اواوچت دې| دهغه خبرونه| چې وائي داخلق| په اوچت والی ډيرسره|

هغه دداسې خبرونه پاک دې او څه چې دا خلق وائی د هغې نه هغه زيات اوچت اولوئې دې

**قوله تعالى:-** اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ

**د الله ﷻ هيڅ اولادنشته:-** دملعونومشرکانو ترديدکيږی چه داخوتاسوښه تقسيم کړې دې چه خامن ستاسو اولونړه دالله ﷻ کومې چه ستاسوناخوښه په کومو چه تاسو سوزئی اوژندئی خښوئی هغه د الله ﷻ د پاره ثابتوئی. په نورو آياتونو کښې هم د هغوی دا غلط خيال بيانولې شی چه دوی وائی د رب چه رحمن دې د هغه اولاد دې. په حقيقت کښې دهغوی دا قول ډير خراب دې ډير ممکن دی چه په دې سره آسمان اوشليږی زمکه اوشليږی غرونه ذره ذره شی چه دا دوی درب رحمن اولادګرځوی څکه چه الله ﷻ لره دا په هيڅ شان سره لائق نه دی. د زمکې اوآسمان ټول مخلوق د هغه غلام دې ټول د هغه په شمير کښې دی او يويو د هغه په وړاندې د قيامت په ورځ ځان له پيش کيدونکې دې. ([1])

**د حق دلائل واضحه دی:-** په دې پاك كتاب كښې مونږ ټول مثالونه صفاصفا بيان فرمائيلی دی وعدې وعيدونه په صفا توګه ذکر کړې شوی دی دې دپاره چه خلق د بدو نه اود الله ﷻ د ناراضګنی نه بچ شی. خو داظالمان خلق خودحق نه نفرت کوی اودې نه لرې تختيدوکښې نوره هم زياتيږی. کوم مشرکان چه د الله ﷻ سره د نورو هم عبادت کوی اوهغوی د الله ﷻ سره شريك منی اودا ګنړی چه هم د دې په وجه به مونږ الله ﷻ ته نيزديکت حاصلولې شو. دوی ته اووايه که ستاسو دا فاسد ګمان کښې لږه هم ساه وې او الله ﷻ سره په واقعی داسې څوك معبود وې چه هغه چاله غواړی د الله ﷻ نيزديکت ورکړی اوچاله چه غواړی سفارش اوکړی نوپخپله به هغه معبودهم دالله ﷻعبادت کولودهغه نيزديکت به ئې لټولو نو تاسو له صرف هم د هغه عبادت کول پکار دی اونه د هغه نه سوا د بل چا عبادت اونه د بل معبود څه ضرورت چه د الله ﷻ او ستاسو په مينځ کښې هغه واسطه جوړه شی. الله ﷻ ته دا واسطې سختې ناخوښه دی اودې نه هغه انکارکوی دخپلو ټولو انبياواورسولانو په ژبه ئې د دې نه منع فرمائيلې ده.

[1] ١٩/مريم: ٨٨، ٩٥.

Scanned with Ca

د هغه ذات دظالمانود بیان کړې شوی صفت نه بالکل پاك دې اودهغه نه بغیربل څوك معبودنشته.د دې کندګونه زمونږ مولاپاك دې هغه واحددې صمددې. هغه دمور پلاراولاد نه پاك دې د هغه د جنس نه هیڅ څوك نشته.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تُسَبِّحُ لَهُ | السَّمٰوٰتُ | السَّبْعُ | وَالْاَرْضُ | وَمَنْ | فِيْهِنَّ ط |
| تسبیح وائی هغه لره | آسمانونه | اووه | اوزمکه | اوهغه څوك | چې په دې کښې دی |
| اووۀ آسمانونه او زمکه اوهغه ټول څیزونه چې په دې کښې آباد دی دهغه پاکی بیانوی | | | | | |
| وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ | اِلَّا | يُسَبِّحُ | بِحَمْدِهٖ | وَلٰكِنْ | لَّا تَفْقَهُوْنَ |
| اونشته هیڅ یوڅیز | مګر | تسبیح وائی هغه | دحمد دهغه سره | ولیکن | نۀ پوهیږئ تاسو |
| اوداسې څیز نشته چې هغه دالله ﷻ دتعریف سره دهغه پاکی نه بیانوی خو تاسو دهغه په | | | | | |
| تَسْبِيْحَهُمْ ط | اِنَّهٗ | كَانَ | حَلِيْمًا | غَفُوْرًا ﴿٤٤﴾ | |
| په تسبیح دهغوئ باند | بیشکه | هغه دې | صبرناك | ابښونکې | |
| تسبیح نه پوهیږئ بیشکه هغه ډیر حلیم او بخښونکې دې | | | | | |

قوله تعالى:- وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ

**هريو څيز د الله ﷻ تسبيح بيانوي**:-اووه واړه آسمانونه زمکې اوپه دې کښې اوسیدونکی ټول مخلوقات د هغه تسبیح پاکوالې تعظیم جلالت بزرګی لوئی پاکی اوتعریف بیانوی او مشرکانو چه کوم خوشې او باطل اوصاف دالله ﷻ دذات د پاره منی دهغې نه دا ټول مخلوق د براءت څرګندونه کوی اود هغه په الوهیت اوربوبیت کښې هغه واحدلاشریك منی.هره یوه هستی دالله ﷻ دتوحیدیوږوندې مثال او ګواهی ده.[ففي كل شئ له اية :- **تدل على انه واحد**]ددې نالائقه خلقوداقوالونه مخلوق په تکلیف کښې دې نیزدې ده چه آسمان اوشلیږی زمکه ډوبه شی غرونه مات شی. طبرانی کښې دی چه رسول الله ﷺ د مقام ابراهیم اوزمزم دمینځ نه حضرت جبرائیل ؑ اوحضرت میکائیل ؑ دمسجداقصی پورې د معراج په شپه بوتلو.حضرت جبرائیل ؑ د حضور ﷺ نه ښی طرف ته وو او حضرت میکائیل ؑ ګس طرف ته. حضور ﷺ نی د اووه آسمانونوپورې والوزولواودهغه ځایَ نه ئی واپس کړو.حضور ﷺ فرمائی چه ما په اوچتو آسمانونوکښې د ډیرو زیاتو تسبیحاتوسره دا تسبیح هم واوریده**﴿سبحت السموت العلى من ذي المهابة مشفقات لذوي العلوابما علا. سبحن العلى الاعلى. سبحانه وتعالى﴾**په مخلوق کښې هريوڅيز د هغه پاکوالې او تعریف بیانوی.خوای خلقو تاسو دهغوی تسبیح باندې نه پوهیږئ ځکه چه هغه ستاسو په ژبه کښې نه دی.حیوانات نباتات او جمادات ټول د هغه تسبیح وائی([1])دحضرت ابن مسعود ؓ نه په صحیح بخاری کښې ثابت دی د خوراك په وخت کښې مونږ به د خوراك تسبیح اوریدله([2])دحضرت ابوذر ؓ په حدیث کښې دی چه حضور ﷺ په موټی کښې یوڅوکانړی واخستل ماپخپله واوریدل چه هغوی د شاتود مچو په شان بنړارې کولو سره دالله ﷻ تسبیح کوله([3])دغه شان دحضرت ابوبکر ؓ حضرت عمر ؓ اوحضرت عثمان ؓ په لاس کښې هم.دا حدیث په صحیح کښې اومسندونوکښې مشهوردې.

[1]) مجمع الزوائد:١/٧٨، المعجم الاوسط:٣٧٥٤.
[2]) صحيح بخارى كتاب المناقب باب علامات النبوة فى الاسلام:٣٥٧٩، ترمذى:٣٦٣٣، ابن حبان:٦٤٩٣.
[3]) مسندالبزار:٢٤١٣، المعجم الاوسط:١٢٦٦.

Scanned with Ca

څه خلقوسره حضورﷺ په خپلواوښو باندې او څناورو باندې سواره ولاړ اوليدلو فرمائيل ئې چه سورلې په سلامتياسره واخلئ او په ښه طريقه سره ئې پرېږدئ په لارو اوبازارونوکښې دخلقوسره خبرې کولوډپاره سورلئ خپلې کرسئ مه جوړوئ. واورئ ډيرې سورلئ د خپلو سورونه هم د الله ﷻ زيات ذکرکونکې وی اودهغوی نه هم بهتراوغوره وی( ¹ )(مسنداحمد)سنن نسائي کښې دی چه حضور ﷺ د چيندخې د مړې کولونه منع فرمائيلې ده اوونې فرمائيل چه د دې وينا د الله ﷻ تسبيح ده. ( ² ) يو بل حديث شريف کښې دی چه د لااله الاالله کلمه په اخلاص سره ونيلو نه پس د هغه نيکئ د قبليدو قابل کيږي.الحمدلله کلمه د شکر ده د دې نه ويونکې دالله ﷻ ناشکره دې. الله اکبر د زمکې او آسمان تضا ډکوی.دسبحان الله کلمه دمخلوق تسبيح ده.الله ﷻ يومخلوق هم د تسبيح او مونځ د کولونه باقي نه دې پريخودې. کله چه څوك لاحول ولاقوة الا بالله لولی نوالله ﷻفرمائي زمابنده تابعدارشو اوماته اوسپارلې شو. ( ³ )

**د نوح عليه السلام وصيت اوډ کلمې شان اود تسبيح اهميت:**-مسنداحمدکښې دی چه يواعرابي طيالسي چغه اغوستې وه چه په هغې کښې ريښمي لستونې او ريښمي کوڼډې وې حضورﷺ له راغلواو ونې وئيل چه د دې سړي اراده د دې نه سوا بل هيڅ نه ده چه د مالونو څرونکو هلکان اوچت او د سردارانو هلکان ذليل کړي. حضورﷺ له غصه راغله اود هغه لمن ئې راښکلوسره اوفرمائيل چه په تاکښې د څناورو لباس اغوستونکې نه وينم؟ بيا حضورﷺ واپس راغلو کيناستو ونې فرمائيل حضرت نوح ﷺ د خپل وفات په وخت کښې خپل ځامن راوغوښتل او ورته ئې اوفرمائيل چه زه تاسو ته د وصيت په توګه دوه احکام درکوم.يو لااله الاالله وائې ځکه چه که آسمان او زمکه او په دې کښې چه کوم څيزونه دی هغه د تلې په يوچابړی کښې کيخودې شی او په بل چابړی کښې صرف هم دا کلمه وی نو دا به درنه وی. واورئ که دا ټول زمکې او آسمانونه يوه حلقه جوړه کړې شی او دا په هغې باندې کيخودې شی نو هغه به ذره ذره کړي. زمادويم حکم (سبحان الله وبحمده) لوستلودې ځکه چه دا د هرڅيز مونځ دې او هم د دې په وجه هريوته رزق ورکولې شی( ⁴ )ابن جريرکښې دی چه حضورﷺ اوفرمائيل راشئ چه زه تاسو ته اوښايم چه حضرت نوح ﷺ خپل ځوئ ته څه حکم ورکړې وو چه زما خوره بچيه زه تاته حکم درکوم سبحان الله وايه دا د ټول مخلوق تسبيح ده او هم په دې سره مخلقو ته رزق ورکولې شی. الله ﷻ فرمائي چه هريوڅيز د هغه تسبيح او تحميدبيانوی.ددې اسناد د نصربن عبدالرحمن الاودی راوی په وجه ضعيف دی.عکرمه رحمه الله فرمائي چه ستنې ونې ددروازو چونړونه د هغې د وړاندې کيدو کولاوېدو آوازونه د اوبو ګړيدل داټولې دالله ﷻ تسبيح دی.الله ﷻ فرمائي چه هريوڅيزدهغه په حمداو ثنا بيانولو کښې مشغول دې. ابراهيم رحمه الله فرمائي چه خوراك هم د الله ﷻ تسبيح وائي. دسورت حج آيت هم ددې ګواهي ورکوی اومفسرين وائي چه ژوندې څيز تسبيح وائي لکه څناور او ونې بوټې.

**کټ کيدلو اوچيدلو نه مخکښې شنه بوټې تسبيح وائي:**-يوځل حضرت حسن رحمه الله له يوه خوانچه راغله نو ابويزيدرقاشي اوونيل اې ابوسعيد! آيا دا خوانچه هم تسبيح وائي. هغوی اوفرمائيل چه هو، مطلب دا چه کله دا شين لرګې وو نو هغه وخت کښې تسبيح ونيله اوچه کله کټ شوه اوچه شوه نو تسبيح لاړه. د دې قول په تائيدکښې د دې حديث نه هم امداداخستلې شی چه حضورﷺ د دوو قبرونوسره تيريدلو نو

---

¹ احمد:٤٣٩/٣.

² المعجم الاوسط:٣٧٢٨.

³ الطبری:٤٥٦/١٧.

⁴ احمد:٢٢٥/٢.

Scanned with Ca

فرمائیل ئی چه دوی په عذاب کولې شی اود څه لوئ څیز په وجه نه بلکه د متیازو په وخت کښې به نی دپردې خیال نه ساتلو اوبل چغلی کوله.بیا حضورﷺ یو دوه شنې لختې راواخستې او دوه ځایه ئی کړې یوه یوه ټکړه ئی په قبرونوباندې خښه کړه. ونې فرمائیل چه کیدې شی ترکومې دا اوچې نه وی هغه وخت پورې به ددوی په عذاب کښې کمې وی.([1])(بخاری اومسلم) په دې وجه بعضې علماؤ ونیلی دی ترکومې چه داشنې وی تسبیح به وائی اوکله اوچې شی نو تسبیح به بندشی. والله أعلم. الله ﷻ حکیم اوغفوردې گناهګارانوته په سزا ورکولوکښې تندی نه کوی وخت ورکوی خوچه بیا هم په کفر اوفسق باندې کلك ولاړوی نو بې پناه نیول رانازلوی.

**د الله ﷻ نیول ډیر سخت دی:-** بخاری اومسلم کښې دی الله ﷻ ظالم ته مهلت ورکوی بیاچه کله رانیسی نو پرېږدی ئی نه. اوګوره په قرآن پاك کښې دی چه کله ستا رب د یوکلی خلق د هغوی د ظلم په وجه رانیسی نوبیاهم داسې رانیول وی.الخ.بل آیت کښې دی چه ډیرو ظالمانو کلیوالوته مونږ مهلت ورکړو بیامو آخر راګیرکړل. ([2])بل آیت کښې دی ﴿فَكَأَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ﴾ ([3])اوچه څوك د ګناهونونه منع شی د هغې نه اخواشی توبه اوکړی نو الله ﷻ هم په هغه باندې رحم او مهربانی کوی لکه چه د قرآن پاك ارشاد دې کوم سړې چه بدی اوکړې یا په خپل ځان باندې ظلم اوکړی بیا استغفار اوکړی نو الله ﷻ به بښونکې او مهربان بیاموموی. ([4])د سورت فاطر په آخری آیاتونوکښې هم دا بیان دی.

| |
|---|
| وَإِذَا قَرَأْتَ |
| اوهرکله چې \| لولې ته \| |
| اوهرکله چې ته قرآن پاك |
| الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ |
| قرآن \| نوجوړووُمونږه \| په منځ ستا کښې \| اوپه منځ \| دهغه کسانوکښې \| چې ایمان نهٔ راوړی |
| لولې نومونږ ستا اودهغه خلقو ترمینځه چې په آخرت باندې ایمان |
| بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ۙ وَّجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً |
| په آخرت باند \| پرده \| پټه \| اوجوړووُمونږه \| په زړونودهغوئ باند \| پرده |
| نه راوړی یوه پټه پرده راواچوؤ اومونږ دهغوئ په زړونو کښې داسې پردې واچوؤ |
| اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِذَا ذَكَرْتَ |
| دې خبری نه چې \| پوهه شی په قرآن \| اوپه غوږونودهغوئ کښې \| درون والې دې \| اوکله چې \| یاد کړې ته |
| چې هغوئ پرې پوهه نشی اودهغوئ په غوږونو کښې دروند والئ پیدا کوؤ اوهرکله چې ته |

[1]) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب عذاب القبر من الغیبة والبول: ١٣٧٨، صحیح مسلم:٢٩٢، ابوداوٗد:٢٠، ترمذی:٧٠، ابن ماجه:٣٤٧، احمد:١/٢٢٥، ابن حبان:٣١٢٨.
[2]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة هود باب قوله ﴿وکذلك اخذربك اذااخذ القری وهی ظالمة...﴾:٤٦٨٦، صحیح مسلم: ٦٥٨٣، ترمذی:٣١١٠، ابن ماجه:٤٠١٨، ابن حبان:٥١٧٥، بیهقی:٦/٩٤.
[3]) ٢٢/حج:٤٥.
[4]) ٤/النساء:١١٠.

Scanned with Ca

| رَبَّكَ | فِي الْقُرْاٰنِ | وَحْدَهٗ | وَلَّوْا | عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ | نُفُوْرًا۝ |
|---|---|---|---|---|---|
| رب خپل | په قران کښې | يوازې هغه لره | نوګرځي دوئ | په شاګانو خپلو | په نفرت سره |

په قران کښې يوازې دخپل رب ذکر کوې نوهغوئ ورته شاګړی اوپه نفرت سره ترې نه روان شي

قوله تعالى:- وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا

**په زړونوباندې د پردې مفهوم:** فرمائی چه دقرآن دتلاوت په وخت کښې دهغوی په زړونوباندې پردې پريوځوی اودهغوی زړونوته هيڅ اثرنه رسی اوهغه پردې هغوی پټوی. دلته مستورد ساتريه معنی کښې دې لکه ميمون يا مشؤم چه ديامن اوشائم په معنی کښې دې. هغه پردې په ظاهر په نظرنه راځی خوپه هدايت کښې هغوی په مينځ کښې فاصله زياتوی. مسندابی يعلی موصلی کښې دی چه سورت ﴿تبت يدا﴾ نازليدو باندې عوراء ام جميل شورجوړکړو اويوتيره کاڼړې ئی په لاس کښې اخستې وو اودې وينا کولوسره راغله چه دا مذمم موږ نه منو. زموږ دده دين خوښ نه دې موږ د ده د فرمان مخالف يو. هغه وخت رسول الله ﷺ ناست وو حضرت ابوبکر ﷺ د حضورﷺ سره وو وئی وئيل حضورﷺ! دا راروانه ده اوتاسو به اووينی حضورﷺ اوفرمائيل بې فکر شه داما نه شی ليدلې. حضورﷺ دهغې نه د بچ کيدو د پاره د قرآن پاك تلاوت شروع کړو اوهم دا آيت ئی تلاوت کړو. هغه راغله او صديق اکبر ﷺ نه ئی تپوس اوکړو ماواوريدلی دی چه ستاسو پيغمبر زما بې عزتی کړې. هغوی اوفرمائيل نه د کعبه د رب قسم حضورﷺ خو ستاسو هيڅ بې عزتی نه ده کړې. هغې وئيل چه ټولوقريشوته معلومه ده چه زه د هغوی د سردار لوريم.(١) ﴿اكنة﴾ دکنان جمع ده دې پردې د هغوی زړونه پټ کړی دی په کوم سره چه دوی په قرآن نه پوهيږی. دهغوی په غوږونوکښې بوج دې په هغې وجه هغوی قرآن داسې نه شی اوريدې چه دوی ته فائده اورسولې شی. اوچه کله ته په قرآن کښې دالله ﷻ دوحدانيت ذکرلولې نودوی بې شانه منډې وهی. نفور جمع د نافر لکه څنګه چه قاعد جمع د قعود راځی اوکيدې شی چه دا مصدر وی د بغيرفعل. والله اعلم.

لکه چه په بل آيت کښې دی د الله ﷻ چه واحد ذات دې په ذکر اوريدو سره د بې ايمانه خلقو زړه مړکيږی(٢) د مسلمانانو لااله الاالله به په مشرکانو باندې ډيرګران تيريدل. ابليس اود هغه لښکرو به په دې سره ډير چيړکولو د دې د ښکته کولويه ئی پوره کوشش کولو خود الله ﷻ اراده دهغوی په خلاف د دې د اوچتولو عزت ورکولو او د خورولو وه. هم داهغه کلمه ده چه د دې ويونکې خلاصې بيامومی او په دې عمل کونکی ته امدادورکولې شی. اوګورئی د دې جزيرې حالات ستاسو په وړاندې دی تر هغه ځائ پورې دا کلمه خوره شوه(٣) دا هم وئيلې شوی دی چه دې نه مراد دشيطان تختيدل دی لکه دا خبره تيك ده چه د الله ﷻ د ذکر نه اذان نه د قرآن د تلاوت نه شيطان تختی. خود دې آيت تفسيرکول د غرابت نه خالی نه دی.

| نَحْنُ اَعْلَمُ | بِمَا | يَسْتَمِعُوْنَ | بِهٖٓ | اِذْ | يَسْتَمِعُوْنَ | اِلَيْكَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مونږه ښه پوهيږو | په هغه غرض | چی اوری هغوئ | په سبب دهغې سره | کله چی | هغوئ غوږ ږدی | تاته |

مونږ ته ښه معلومه ده چې دکوم غرض دپاره داخلق آوريدنه کوی څه وخت چې دوئ تاته غوږونه نيسی

---

(١) مسندابي يعلى:٢٥، حاكم:٣٦١/٢.

(٢) ٣٩/زمر:٤٥.

(٣) الطبري:٤٥٨/١٧.

Scanned with Ca

وَاِذْ هُمْ نَجْوٰٓى اِذْ يَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ

اوكله چي | هغوئ | پټي دغوږخبري كوي | اكله چي | وائي | ظالمان | اچي پيروي نۀ كوئ تاسو

اوځه چي دوئ خپل مينځ كښې پټي پټي صلاح ګاني كوي كوم وخت چې دا ظالمان وائي چې تاسوهم

اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا۝ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ

مګر | دداسې سړي | چي جادو پرشوې دې | اوګوره | څه رنګې | بيانوي دا خلق | اتالره

په يوداسې سړي پسې روان يئ چې دجادوعمل پرې شوې دې ګوره كنه چې داخلق تا دپاره څنګه څنګه

الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا۝

مثالونه | انو بې لارې شول دوئ | نو طاقت نۀ لري دوئ | دلارې نيغې دموندولو |

مثالونه بيانوي نودوئ پخپله ګمراه شوي دي اوسمه لار موندلې نشي

قوله‌تعالى:- نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ

**د قريشوسردارانو به درسول الله ﷺ قرآن په پټه اوريدلو:-** د كافرانوسردارانوچه به په خپل مينځ كښې خبرې كولې هغه حضورﷺ ته رسولې شي چه تاسوخوپه تلاوت كښې مشغول نى اودوى پټ پټ وائى چه په ده باندې چاجادوكړې دې ياكيدې شي چه دامطلب وى داخوانسان دې چه دخوراك څښاك محتاج دې دالفظ په دې معنى كښې په شعركښې هم دې اوامام ابن جرير رحمة الله عليه داتيك هم ګڼړى خودا غورغوارې.دهغوى اراده په دې موقع باندې د دې وينا داوه چه پخپله دې په جادوكښې راګيردې څوك شته چه په دې موقع ده ته څه اولولي. كافرانوخلقو به قسم قسم وهمونه د حضورﷺ په نسبت كښې ښكاره كول. چا به وئيل شاعر دې چابه وئيل كاهن دې چا به وئيل ليونې دې او چا به جادوګروئيل وغيره. د دې د پاره فرمانى چه ګورنى دوى څنګه دهوكه كيږى چه د حق طرف ته راتلې نه شى.

په سيرة محمدبن اسحاق كښې دى چه ابوسفيان بن حرب ابوجهل بن هشام اخنس بن شريق به د شپې د خپلوخپلوكورونونه د الله ﷻ كلام دحضورﷺ په ژبه مباركه باندې د اوريدود پاره راوتل. حضورﷺ په خپل كور كښې د شپې مونځ كولو داخلق به راغله او چپ چاپ پټ راپټ به كيناستل د يو بل نه به ناخبره وو. شپې به ئې اوريدلوسحركيدو سره به د دې ځاىٔ نه تلل اتفاقى د تولو په لاره ملاقات اوشو يوبل ئې ملامت كړو او وئې وئيل چه اوس داحركت اونه كړئى ګنى نور خلق خوپه بالكل د ده شى خود شپې بيادا دربواړه راغله او خپل خپل ځاىٔ كښې كيناستل په قرآن اوريدوكښې ئې شپه تيره كړه. سحرواپس شونو په لاره كښې ملاقات اوشو بيائى پرونئى خبرې سردوباره كړې اود اوس نه ئې كلكه اراده اوكړه چه بيابه داسې كارهيڅ كله څوك هم نه كوى په دريمه شپه بيا هم داسې اوشو. دې ځل هغوى وئيل چه راځنى وعده كوو چه بيابه نه راځو قول او وعدې كولونه دوى جداشوسحر اخنس خپله لختـه راواخستـه او د ابوسفيان كورتـه لاړو وئې وئيل ابوحنظلة ماتـه اوښايـه ستا خپلـه رائې د حضورﷺ باره كښې څه ده؟ هغه وئيل ابوثعلبه د قرآن پاك چه كوم آياتونه مااوريدلى دى په هغې كښې خود ډيرو اياتونو معنى اومطلب باندې خوزه پوهه شوې يم خوډيرو آياتونو مطلب باندې نه پوهيږم. اخنس وئيل والله زما هم دا حال دې. دې ځائې نه اخنس د ابوجهل كره لاړو د هغه نه ئې هم دغه تپوس اوكړو هغه وئيل واورئې په شرافت او سردارئى كښې خو زمونږ بيله بنوعبدمناف د مودو نه په جګړو راروانه ده هغوى وينا اوكړه مونږ هم اوكړه. هغوى سورلئى وركړې مونږ هم هغوى ته د سورلوخناور وركړل هغوى خلقو سره سلوك اوكړو خلقو ته ئې انعامونه وركړل مونږ هم د هغوى نه روستوپاتې كيدل خوښ

Scanned with Ca

نه کړل.اوس چه په دې ټولوخبرو کښې هغوی اومونږ برابريو چه په دې منډه کښې هغوی نمبريونړلې شو نوهغوی زر اووئيل چه په مونږ کښې پيغمبری ده په مونږ کښې يوسړې دې چه هغه له آسمانی وحی راځی اوس اوښايه مونږ دا څنګه اومنو؟ والله نه به مونږ په ده ايمان راوړو او نه به چرې ده ته رښتونې اووايو. هغه وخت اخنس دې پريخودو اولاړو.

وَقَالُوٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ

اووائي دوئ آيا چې کله |شومونږه| هډوکی | اوخاوره ميده شوی| آيامونږبه|خامخا راپاسولې شوا

اودوئ وائي آياهرکله مونږ هډوکي اوبيا چوره شو نودنوی سری به بيا راپيداکيږو

خَلۡقًا جَدِيۡدًا ۝ قُلۡ كُوۡنُوۡا حِجَارَةً اَوۡ حَدِيۡدًا ۝ اَوۡ خَلۡقًا

په پيداکولو| نوی سره |ورته اووايه| چې شئ تاسو| کاڼړی | يااوسپنه |يابل قسم مخلوق

اوبيا به راټولېږو ورته اووايه چې تاسو کاڼړی شئ يا اوسپينه شئ ياځه بل څيز ستاسو

مِّمَّا يَكۡبُرُ فِيۡ صُدُوۡرِكُمۡ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ مَنۡ

دهغې نه| چې لوئ اوسخت ښکاری |په سينو ستاسو کښې | نووائي به هغوئ | څوك به

په خيال کښې دهغې ژوندي کيدل ډيرګران وی نودوئ به ضرور اووائي چې ښه نو مونږ به څوک

يُّعِيۡدُنَا قُلِ الَّذِيۡ فَطَرَكُمۡ اَوَّلَ مَرَّةٍ

ژوندی کړی واپس مونږه | ورته اووايه | هغه ذات چې پيدائې کړئ تاسو | اول ځل

بيا راژوندی کوی ورته اووايه چې چا تاسو په ړومبی ځل پيداکړی وې

فَسَيُنۡغِضُوۡنَ اِلَيۡكَ رُءُوۡسَهُمۡ وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هُوَ قُلۡ

نوبه خوزوی هغوئ| تاته | سرونه خپل | اووائي به |چې کله به وی| داکار | ورته اووايه

نو په تعجب سره ستاسو په مخکښې به سرونه اوخوزوی اوتپوس به اوکړی چې داسې به کله وی ورته اووايه

عَسٰٓى اَنۡ يَّكُوۡنَ قَرِيۡبًا ۝ يَوۡمَ يَدۡعُوۡكُمۡ

کيدې شی | چې وی | نزدې | په هغه ورځ | چې رااوبلی تاسو (الله)

چې کيدیشی چې هغه وخت نزدې راغلې وی دابه په هغه ورځ وی چې الله ﷻ به تاسو راوغواړی

فَتَسۡتَجِيۡبُوۡنَ بِحَمۡدِهٖ وَتَظُنُّوۡنَ اِنۡ لَّبِثۡتُمۡ اِلَّا قَلِيۡلًا ۝

نوقبول به کړئ تاسو| دحمد دهغه سره| اوګمان به کوئ تاسو| چې نه دې تيرکړې وخت تاسو| مګر لږ

نوتاسو به دهغه تعريفونه کوئ اودهغه حکم به منئ اوداخيال به کوئ چې تاسو خوډير لږ ساعت په دنيا کښې پاتې شوی وی

قوله‌تعالی:-وَقَالُوٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا

**د مرګ نه پس راژوندي کيدلو نه ددوئ انکار او دهغې جواب:**-کافران چه د قيامت قائل نه وواود مرګ نه پس ئې ژوندون محال ګڼړلو هغوی به دانکارپه توګه تپوس کولوچه کله مونږ هډوکی اوخاوره شو([1]) دوړې به جوړې شوهيڅ به پاتې نه شو بالکل به ختم شونو بيابه په نوی پيداکيدوسره پيداکيږو؟ په

---

[1]) الطبری:١٧/٤٦٤

Scanned with Ca

سورت نازعات کښې د دې منکرانو قول بیان شوې دې. چه ایا مونږ به د مرګ نه پس بیا واپس راپیدا کولېشو؟اوهغه هم په داسې حال کښې چه زمونږ هډوکي سخاو خاورې شوې وي؟داخوپوره د خسارې خبره ده.([1])په سورت یس کښې دي چه دوی زمونږ په وړاندې مثالونه بیانول شروع کړه اوخپل پیدائش ئې هیرکړو([2])نو دوی ته جواب ورکولې شي چه هډوکي خو څه چه که تاسو کاڼړې هم جوړشئ اویا د دې نه هم سخت څیز جوړشئ مثلاً غر زمکه یا آسمان بلکه تاسو پخپله مرګ ولې جوړنه شئ الله ﷻ ته ستاسو سوزل ګران نه دي چه څه کیدل غواړئ اوشئ خو بیابه ضرور راژوندي کیږئ.([3]) په حدیث کښې دي چه د ګډ په صورت کښې به مرګ د دوزخ او جنت په مینځ راوستلې شي او دواړوډلو ته به وئیلې شي چه دا پیژنئ؟ ټول به وائي چه او بیا به هم هغه ځائ کښې حلال کړې شي او اعلان به کولې شي چه اې جنتیانو اوس د همیشه د پاره ژوند دې مرګ نشته او اې دوزخیانو اوس همیشه والې دې مرګ نشته.([4]) دلته ارشاددې چه دوی تپوس کوي چه ښه کله مونږ هډوکي شو او ذره ذره شو یاکاڼړې یااوسپنه شو یا چه کوم څیز مونږ غواړو د لوئ نه لوئ سخت څیز وي هغه مونږ شو نو دا اوښایه چه د چا په اختیارکښې دي چه مونږ بیادې خپل ژوندون طرف ته واپس راوګرځولې شو؟ د هغوی ددې سوال اوبې ځایه اعتراض په جواب کښې ته دوی په دې پوهه کړه چه ستاسو واپس راګرځونکې ستاسو ربنتونې خالق الله ﷻ دې چا چه تاسو په اول ځل پیداکړې ئې په هغه وخت کښې چه تاسو هیڅ هم نه وئ نو بیا هغه ته په دویم ځل پیداکول څه ګران دي بلکه ډیر آسان دي که تاسو هرڅه جوړشئ.دا جواب خولاجوابه دې غلې خوبه شي ولې بیا هم د خپل شیطانت نه نه منع کیږي بده عقیده به پرینږدي اودتوقو مسخرو په توګه به سر خوزوي وائي به ښه ده دا به کله کیږي؟ که ربنتونې ئې نو وخت اوښایه. د بې ایمانه خلقو دا طریقه ده چه هغوی تندي کوي اودې خو هغه وخت نیزدې تاسود هغې انتظار کوئې غفلت مه کوئ د هغې په راتلو کښې هیڅ شك نشته راتلونکې څیز هم راغلې اوګڼړئ.د الله ﷻ په یوآوازسره به تاسودزمکې نه بهر راوځئ.دسترګې دیوځل رپولو وخت به اونه لګي.دالله ﷻ دارشاد سره به تاسوبه میدان محشرکښې موجودشئ.دقبرونو نه به راوځئ دالله ﷻ تعریفونه کولوسره به د هغه داحکامو په ځائ راوړلو د پاره اودریږئ.دحمد لائق هم هغه دې تاسودهغه دحکم او ارادې نه بهر نه ئې.

**کلمه ویونکي باندې به قبرکښې ویره نه وي**:-په حدیث کښې دي لااله الا الله ویونکو باندې به د هغوی په قبرونوکښې هیڅ ویره نه وي لکه چه زه هغوی وینم چه هغوی د قبرونونه راپاسي د خپل سر نه به خاوره سنډي لااله الاالله وئیلوسره اودریږي اووائي به د الله ﷻ حمداوثناده چا چه زمونږ نه غم لرې کړو.دسورت فاطر په تفسیرکښې دا بیان راروان دې.ان شاءالله.هغه وخت به ستاسویقین اوشي چه تاسوډیره کمه موده په دنیاکښې پاتې شوي ئې لکه سحر یاماښام څوك به وائي لس ورځې څوك به وائي یوه ورځ اوڅوك به وائي یوساعت. په سوال کولو باندې به هم دا وائي چه یوه ورځ یاڅه حصه او په دې به قسمونه خوري. دغه شان به په دنیاکښې هم په خپلو دروغو باندې قسمونه خوړل.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَقُلْ | لِّعِبَادِيْ | يَقُوْلُوا | الَّتِيْ | هِيَ | اَحْسَنُ ؕ | اِنَّ الشَّيْطٰنَ | |

اواووایه ا بندګانو زماته ا چې وائي هغوئ ا هغه خبره ا چې هغه ا ډیره ښه وي ا بیشکه چې شیطان

اوزما بندګانو ته اووایه چې هغه خبره کوئ چې ډیره زیاته ښه وي بیشکه شیطان

[1]) ۷۹/نازعات: ۱۰-۱۲.
[2]) ۳۲/یس: ۷۸. الخ.
[3]) الطبری: ۱۷/٤٦٤.
[4]) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب قوله عزوجل ﴿وانذرهم یوم الحسرة﴾: ٤۷۳۰.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يَنْزَغُ | بَيْنَهُمْ ط | إِنَّ الشَّيْطٰنَ | كَانَ | لِلْإِنْسَانِ | عَدُوًّا |
| فساد اچوی | په منځ دهغوئ کښې | بیشکه چې شیطان | دی | دپاره دانسان | دشمن |

ددوئ ترمینځه فساد اچوی بیشکه شیطان دانسان ښکاره دښمن

| | |
|---|---|
| مُّبِيْنًا ﴿٥٣﴾ | |
| ښکاره | |

**قوله تعالى:- وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ ط**

**خبري اترې په طريقه كول پكاردي:-** الله ﷻ خپلو خوږ نبی کريم ﷺ ته فرمائی چه ته مؤمنانو بنديګانو ته اووایه چه هغوی دې په خولفظونوښکلي فقرو او ښه طريقه سره خبرې اترې کوی ګنی شيطان به د دوی په مینځ کښې شك او بدی واچوی جنګ جګړې به شروع شی. هغه د انسان دښمن دې په شيش کښې ناست دی. په دې وجه د يومسلمان رور طرف ته په وسله سره اشاره كول هم حرام دی چه چرته شيطان دې اونه لګوی او دوزخی جوړ نه شی. اوګورئی([1])مسنداحمد. حضوراکرم ﷺ د خلقو په ګنړه کښې يوځل اوفرمائيل چه ټول مسلمانان په خپل مينځ کښې رونړه رونړه دی څوك دې په چا باندې ظلم زياتې نه کوی څوك مه بې عزته کونی.بيا حضورﷺدخپلې سينې مبارکې طرف ته اشاره اوفرمائيله ارشاد ئې اوفرمائيلو تقوی دلته ده چه کله دوه سړی په خپل مينځ کښې دينی دوستان وی بيا په هغوی کښې بيلتون راشی په دې دا جدائی چه څوك بيانوی هغه بيان کونکې خراب دې ډير خراب دې او ډير شيطان دی.(مسند) ([2])

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| رَبُّكُمْ | أَعْلَمُ | بِكُمْ ط | إِنْ يَّشَأْ | يَرْحَمْكُمْ |
| رب ستاسو | ښه خبردې | په حال ستاسو | كه اوغواړی هغه | نو رحم به اوكړی په تاسو |

ستاسو رب ته ستاسو حال ښه معلوم دې كه چرې هغه اوغواړی نو په تاسو به رحم اوكړی

| | | | |
|---|---|---|---|
| أَوْ إِنْ يَّشَأْ | يُعَذِّبْكُمْ ط | وَمَآ أَرْسَلْنٰكَ | عَلَيْهِمْ |
| ياكه اوغواړی هغه | نوعذاب به دركړی تاسو له | اونۀ ئې ليږلې مونړه تۀ | په دې خلقو باند |

ياكه هغه اوغواړی نو تاسو له به عذاب دركړی اومونږ ته ددوئ دپاسه څه ذمه دار

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَكِيْلًا ﴿٥٤﴾ | وَرَبُّكَ | أَعْلَمُ | بِمَنْ | فِي السَّمٰوٰتِ | وَالْأَرْضِ ط |
| ذمه وار | او رب ستا | ښه خبر دې | په هغه مخلوق | اچې په آسمانونو كښې دی | اوپه زمكه كښې دی |

راليږلې نه يئ اوستارب ته ښۀ معلومه دی چې څه په آسمانونو او زمكه كښې دی

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَقَدْ فَضَّلْنَا | بَعْضَ النَّبِيّٖنَ | عَلٰى بَعْضٍ | وَّاٰتَيْنَا | دَاوٗدَ | |
| او فضيلت وركړې وۀ مونړه | اخينو پيغمبرانو لره | اپه خينو باند | اوور كړې وۀ مونړه | داود ته | |

او مونږ خينې نبيانو له په خينو باندې فضيلت وركړې دې اومونږ داود ﷺ ته

[1] صحيح بخارى كتاب الفتن باب قول النبىﷺ((من حمل علينا السلاح فليس منا)):٧٠٧٢، صحيح مسلم:٢٦١٧، احمد: ٣١٧/٢، ابن حبان:٥٩٤٨.

[2] احمد:٧١/٥.

| |
|---|
| زَبُوْرًا ۝ |
| زبور |
| زبور ورکړی وو دوئ ته |

**قوله تعالى:- رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ؕ**

**د درجو فرق:**-ستاسو رب تاسو نه ښه خبردې هغه د هدايت مستحق خلق ښه پيژني هغه چه په چا باندې غواړي رحم کوی دخپلې تابعدارئ توفيق ورکوی اوخپل خان ته ئې راټيټوی.دغه شان چه څوك غواړي په بدوعملونوباندې راګيروی سزا ورکوی چه مونږ ته د دې ذمه وار نه وي جوړ کړې ستاکار صرف خبر ورکول دی ستا منونکې به جنتيان وی اونه منونکې به دوزخيان وی. دزمکې او آسمان د ټولوانسانانواو پيريانوفرښتو هغه ته علم دې دهريو د درجو هغه ته علم دې يو له په بل باندې فضيلت دې په انبياؤکرامو کښې هم درجې دی څوك کليم الله دې څوك د اوچتو درجو دې. په يوحديث کښې دی چه په انبياؤکرامو کښې فضيلتونه مه قايم کوئ. (١)د دې نه مطلب صرف تعصب او نفس پرستئ نه په خپله توګه فضيلت قايمول دی اونه دا چه د قرآن او حديث نه ثابت شوی فضيلت نه انکار دې کوم فضيلت چه د کوم يو نبی د پاره د دليل په رڼا کښې ثابت شی د هغې منل واجب دی.

**اولوالعزم پيغمبرانو ذکر:**- منلې شوې خبره ده چه د ټولو انبياؤکرامو نه زمونږ آخري رسول افضل اوغوره دې او په رسولانوکښې بيا پنځه اولوالعزم رسولان د دې ټولونه غوره دی د کومو نومونه چه په سورت احزاب کښې دی. يعنی محمد ﷺ، نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام،موسی عليه السلام، اوعيسی عليه السلام.د سورت شوری په آيت ﴿شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ؕ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ؕ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ۝﴾ (٢)کښې هم ددې پنځونومونه موجود دی. لکه څنګه چه دا ټول څيزونه امت منی دغه شان بغيرد څه اختلاف نه دا هم ثابت دی چه په دوی کښې هم بيا حضرت محمد ﷺ دی. بيا حضرت ابراهيم عليه السلام بياموسی عليه السلام څنګه چه مشهوره ده . مونږ د دې دلائل بل ځائ کښې په وضاحت سره بيان کړی دی. والله الموافق.

بيافرمائی چه مونږ حضرت داؤد عليه السلام له زبورورکړې. دا هم د هغوی د فضيلت او شرف دليل دې. صحيح بخاری کښې حضرت رسول الله ﷺ فرمائی چه په حضرت داؤد عليه السلام باندې زبور دومره آسان کړې شوې وو چه په څاروی باندې به ئې زين اچولو نو دومره وخت کښې به ئې زبور لوستلو. (٣)

| قُلِ | ادْعُوا | الَّذِيْنَ | زَعَمْتُمْ | مِّنْ دُوْنِهٖ |
|---|---|---|---|---|
| اووايه | چې راوبلئ | هغه معبودان | چې ګمان پرکوئ تاسو | بغير د الله نه |
| دوئ ته اووايه چې تاسو د الله ﷻ نه سوا نور څومره معبودان جوړ کړي دي | | | | |

| فَلَا يَمْلِكُوْنَ | كَشْفَ الضُّرِّ | عَنْكُمْ | وَلَا تَحْوِيْلًا ۝ |
|---|---|---|---|
| نو نه لري اختيار هغوئ | دلرې کولو دنقصان | ستاسو نه | او د ګرځولو |
| هغوئ خولړ راوبلئ هغوئ نه خو ستاسو څه تکليف لرې کولې شي اونه يو مصيبت بدلولې شي | | | |

(١) صحيح بخاری کتاب احاديث الانبياء باب قوله تعالی ﴿وان يونس لمن المرسلين﴾:٢٤١٤، صحيح مسلم:٢٣٧٣.
(٢) ٤٢/الشوری:١٣.
(٣) صحيح بخاری کتاب احاديث الانبياء باب قوله تعالی ﴿وآتينا داؤد زبورا﴾:٣٤١٧.

Scanned with Ca

| |
|---|
| أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ |
| دا معبودان \| هغه کسان دي\| چې رابلي ئې دوئ \| هغوئ پخپله لټوي \| رب خپل ته\| وسیله دنزدیکت |
| دوئ چې څوک په خدائې باندې بلې هغوئ پخپله دځان پحقله دخپل رب نزدیکت لټوي |
| أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ۚ |
| چې کوم یوبه دهغوئ نه\| زیات نزدې شي\| اوامید لري\| درحمت دهغه\| اوېرېږي \| دعذاب دهغه نه |
| چې (اوګورو) چې څوک الله ﷻ ته ډېرنزدې کېږي اودهغه درحمت امیدوار دي اودهغه دعذاب نه وېرېږي |
| إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ۝ |
| بیشکه\| عذاب\| درب ستا\| دې \| لائق دېرېدلو\| |
| بیشکه ستا درب عذاب نه وېره پکار ده |

قوله تعالى:- أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ

**کوم چه خلق معبودان ګڼړي هغوی پخپله د الله ﷻ عبادت کوی**:-د الله ﷻ نه بغیرد نورو عبادت کونکوته اووایه چه تاسودوی ته ښه چغې اووهئی هغوی ستاسو په هیڅ کارنه شی راتلې. نه دهغوی دطاقت خبره ده چه ارتوالې راولی نه داسې څه خبره شته چه په بل چاباندې واچوی هغوی خو بې وسه دی او د طاقت او قدرت والا خو صرف هم هغه یو الله ﷻ دې د مخلوق خالق اود ټولو بادشاه دې. دې مشرکانو به وئیل چه مونږ دفرښتو حضرت مسیح ؑ اوحضرت عزیر ؑعبادت کوو ددوی معبودان خو پخپله د الله ﷻ دنیزدیکت کوشش کوی.([1]) صحیح بخاری‌کښې دی چه د کومو پیریانو دې مشرکانو عبادت کولو هغوی پخپله مسلمانان شوې وو خودوی تراوسه پورې په خپل کفرباندې کلك ولاړدی.([2]) په دې وجه دوی ته خبرورکړې شوچه ستاسو معبودان پخپله د الله ﷻ طرف ته تېښتې شو.ابن مسعود ؓ فرمائی چه داپیریان دفرښتود یوقسم نه وو.حضرت عیسی ؑحضرت مریم ؑحضرت عزیر ؑ نمر سپوږمئی او فرښتې ټول د الله ﷻ د نیزدیکت په لټون کښې وو. ابن جریر ؒ فرمائی چه صحیح مطلب هم دا دې چه د کومو پیریانودوی عبادت کولو په آیت کښې هم هغه مراد دی ځکه چه د حضرت عیسی ؑ زمانه خو تیره شوې وه اوفرښتې خود اول نه د الله ﷻ عبادت کونکې وې نو دلته هم مراد پیریان دی.

**دوسیلې معنی قرب اونزدیکت دې**:-دوسیلې معنی قربت اونیزدې والې دې لکه څنګه چه دحضرت قتاده ؒ قول دې. دا ټول بزرګان هم په دې خیال کښې دی چه څوك به الله ﷻ سره ډېر زیات نیزدیکت حاصل کړی؟ هغوی د الله ﷻ د رحمت طلبګار او د عذاب نه وېریدونکی دی. په حقیقت کښې بغیرد دې دواړو خبرونه عبادت نامکمل دې. وېره د ګناهونونه منع کول کوی او امید او طمع په اطاعت باندې آماده کول کوی. په واقع کښې هم د هغه عذاب دې د وېرې الله ﷻ دې مونږ بچ کړی.

| |
|---|
| وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ |
| \| اونشته هیڅ یوکلې \| مګر \| مونږ |
| او(دکافرانو) داسې یوکلې نشته چې کوم مونږ |

[1] الطبري:١٧/٤٧١.

[2] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورت بنی اسرائیل باب (قل ادعوا الذین زعمتم من دونه):٤٧١٤،صحیح مسلم:٣٠٣٠.

مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا

هلاکونکي يو هغې لره | مخکښې | دورځې دقيامت نه | ياعذابونکي يو هغې لره | په عذاب

دقيامت نه وړاندې وړاندې هلاک نه کړو يا دهغې کلې اوسيدونکو خلقو ته سخت عذاب

شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِى الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿٥٨﴾ وَمَا مَنَعَنَآ

سخت سره | دې | د احکم | په کتاب کښې | ليکلي شوې | اونۀ يومنع کړې مونږه هيڅ څيز

ورنکړو دا دالله ﷻ په کتاب کښې ليکلى پراته دى اومونږ نخښې

اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ

له دې نه چې اوليږو | نښې | مګر دې خبرې | چې دروغ ګنړلي وې | هغه نښې | ړومبنو خلقو

ليږل ځکه منع کړې چې وړاندينو خلقو دا دروغژنې ګنړلي وې

وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَمَا

اوورکړه مونږه | ثمودیانوله | اوښه | ښکاره | نو ظلم اوکړو هغوئ | په هغې باند | اونۀ

اومونږ ثمودیانو ته اوښه د(صالح دنبوت) ښکاره نخښه ورکړه نوهغوئ په دې ظلم اوکړو

نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿٥٩﴾

ليږو مونږه | نښې | مګر دپاره ديرولو |

او مونږ خوداسې معجزې ويرولو دپاره راليږو

قوله تعالى:- وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

**د منکرانو اخرى انجام تباهي ده:**-هغه ليکل کوم چه په لوح محفوظ کښې شوې دى هغه حکم کوم چه جارى کړې شوې دې دهغې بيان په دې آيت کښې دې چه دګناهګارانو کلې يقيناً اوران کړې شوى دى. يا د تباهئى سره د هغوى د ګناهونوپه وجه رانيزدې شى. په دې کښې به زمونږ د طرف نه هيڅ ظلم نه وى بلکه دهغوى دخپلو عملونو بدله به وى د هغوى د عملونونقصان به وى.د رب د آياتونو او د هغه د رسولانو نه د سرکشئى ميوه به وى.

**د نخښوکتلونه پس ايمان نه راوړل د عذاب وجه ده:**-درسول الله ﷺ په زمانه کښې کافرانوحضور ﷺ ته اووئيل تاسونه وړاندې په انبياؤکرامو کښې دبعضو هواتابع شوې وه بعضو به مړى ژوندى کوى وغيره. اوس که چرته ته غواړې چه مونږ هم په تاسو باندې ايمان راوړو نوتاسو دا دصفاغونډئى د سرو زرو کړئى نو مونږ به ستاسو دصداقت قائل شو.په دې کښې وحى راغله که چرې ستا هم دا خواهش وى نودا دصفاغونډئى به دسرو زروکړم خودا خيال ساته که دوى بياهم ايمان راونړو نو بيابه دوى ته مهلت نه ملاويږى فوراً به عذاب راشى اودوى به تباه کړى.اوکه ستادوى ته دتاخير ورکولو او سوچ موقع ورکول منظور وى نو زه به داسې نه کوم. حضور ﷺ اوفرمائيل ياالله زه د دوى باقى پاتې کيدو کښې خوشحاله يم. (١)په مسند کښې دومره نور هم دى چه هغوى داهم وئيلي وو چه باقى نور غرونه دې د دې ځاىٔ نه اخواشى چه مونږ دلته زميندارہ اوکړې شو الخ. په دې باندې دا آيت نازل شو.(٢)

---

(١) الطبرى:١٧/٤٧٧.

(٢) احمد:١/٢٥٨، حاکم:٢/٣٦٢.

Scanned with Ca

بل روایت کښې دی حضور ﷺ دعا اوغوښتله حضرت جبرائیل ؑ راغلو اووئی وئیل چه ستاسو پروردګار تاسوته سلام وائی او فرمائی که چرې تاسو غواړئې نوترسحره پورې به دا غرد سرو زروشی خوکه بیا هم په دوی کښې چا ایمان راونړلو نو هغوی ته به هغه سزا ورکولې شی چه تراوسه پورې به چاته هم نه وی شوې او که ستاسو اراده وی نو زه په دوی باندې د رحمت او توبه دروازه کولاؤ پریږدم؟ حضور ﷺ دادویمه خبره خوښه کړه(<sup>١</sup>)مسندابی یعلی کښې دی﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ (<sup>٢</sup>)کله نازل شونود ارشاد د پوره کولود پاره حضور ﷺ په جبل ابی قبیس باندې اوختلو اووئی فرمائیل اې بنوعبدمناف زه تاسوویرونکې یم. قریش دې آواز اوریدو سره راجمع شو بیانی وئیل واورئی حضور ﷺ د نبوت دعوی کونکې دې. د سیلمان ؑ تابع هوا وه د موسی ؑ دریاب تابع شوې وو عیسی ؑ نبی به مړی ژوندی کول ته هم نبی ئی الله ﷻ ته اووایه چه دا غر اخواکړی اودا زمکه د زمیندارئی قابله کړی دې د پاره چه مونږ فصلونه اوکرو. که دا نه وی نو زمونږ د مړو د ژوندی کولو دعاد الله ﷻ نه اوکړه چه مونږ اوهغوی یوځای کینو خبرې اوکړو اوکه داهم نه وی نو دا غرد سرو زرو جوړکړه چه مونږ د ژمی او اوړی د سفر نه خلاص شو. هم هغه وخت په حضور ﷺ باندې وحی نازلیدل شروع شو د دې په ختمیدو باندې حضور ﷺ اوفرمائیل د هغه ذات قسم د چا په قبضه کښې چه زما ځان دې تاسو چه څه اوغوښتل ماته د هغې په کیدو کښې او په دې خبره کښې چه د رحمت دروازې ته لاړشم اختیار راکړې شو چه د ایمان او اسلام نه پس تاسو د الله ﷻ رحمت راغوندکړئې یاکه تاسو دا نښې اوکتلې اوبیامو اونه منله نو تاسو ګمراه شئ اود رحمت دروازې به په تاسو بندکړې شی نوزه اوویریدلم اود رحمت دروازه مې کولاو پاتې کیدل خوښ کړل ځکه چه په دویم صورت کښې خو به ستاسو په ایمان نه راوړو باندې به په تاسو هغه عذاب نازلیدلوکوم چه به په چا نه وو نازل شوې. په دې باندې آیت نازل شو اوبل آیت ﴿وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا ۗ أَفَلَمْ يَيْأَسِ الَّذِينَ آمَنُوا أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾(<sup>٣</sup>) نازل شو

**نخښې نخښانې دخلقودویرولودپاره وی:-** یعنی دآیاتونود لیګلواوپخپله ځُله باندې غوښتلې شوو معجزو خودلو نه مونږ عاجز نه یو بلکه دا مونږ ته ډیر آسان دی کوم چه ستا قوم غواړی مونږ به ئی دوی ته اوخایوخو په دې صورت کښې به د دوی په نه منلوسره به بیا زمونږ عذاب نه اخواکیږی وړاندې خلقو خودې نه پس چه څوک کفر کوی هغه ته به داسې سزا ورکولې شی چه دې نه وړاندې به چاته نه وی ورکړې شوې(<sup>٤</sup>)ثمودیانو ته اوګوره چه هغوی د یوخاص کانړی نه د اوښې راوتل غوښتې وو. دحضرت صالح ؑ په دعاسره هغه راووتله خو هغوی اونه منل بلکه د هغه اوښې پښې پنډئی کټ کړې رسول ئی دروغ ګنړلو په دې باندې هغوی ته درې ورځې مهلت ملاوشو او بیا هلاک کړې شو. د هغوی دا اوښه هم د الله ﷻ د وحدانیت یوه نښه وه اود هغه د رسول د صداقت علامت وو. خودې خلقو بیا هم کفر اوکړو د هغې اوبه ئی بندکړې او آخر ئی هغه قتل کړه د کوم په بدله کښې چه د اول نه واخله تراخره پورې تول مړه کړې شواود الله ﷻ چه غالب ذات دې په نیولوکښې راغله. آیاتونه خو صرف د ویرولود پاره وی چه

---

(<sup>١</sup>) احمد:١/٢٤٢ وهوحديث صحيح مسندعبدبن حميد:٧٠٠، دلائل النبوة للبيهقي:٢/٢٧٢.

(<sup>٢</sup>) ٢٦/الشعراء:٢١٤.

(<sup>٣</sup>) ١٣/الرعد:٣١.

(<sup>٤</sup>) ٥/المائده:١١٥.

Scanned with Ca

هغوی نصیحت حاصل کړی.
روایت دي چه دابن مسعود ﷺ په زمانه کښې په کوفه کښې زلزله راغله نو هغوی اوفرمائیل چه الله ﷻ غواړی تاسو هغه ته تیټ شئی تاسو له ډیر زر د هغه طرف ته متوجه کیدل پکاردی. [1] د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې ځوځل په مدینه منوره کښې جټکې محسوس کړې شوې نو هغوی اوفرمائیل چه والله تاسو ضرور څه نوې خبره کړې ده. ګورئی که بیا داسې اوشو نو زه به تاسو ته سخته سزا درکړم. متفق علیه حدیث کښې دی حضور ﷺ فرمائیل چه نمر اوسپوږمئی د الله ﷻ د نښونه دوه نښې دی دا د چا په مرګ او ژوندبانديې په تندر کښې نه راځی بلکه الله ﷻ په دې سره خپل بندګان ویروی. کله چه تاسو دا اووینئی نود الله ﷻ د ذکر دعا اواستغفارطرف ته تیټ شئی. ای د محمد ﷺ امته! والله د الله ﷻ نه زیات غیرتی بل څوك نشته چه د هغه وینځې غلامان دې زنا کاری کوی. اې د محمد ﷺ امته! کوم څه چه زه پیژنم که چرې تاسو پیژندل نوډیر کم به مو خندل اوډیر زیات به مو ژړل. [2]

| |
|---|
| وَاِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ |
| اکله چې\| اووئیل مونږه \| تاته \| بیشکه رب ستا |
| او(ائې نبی ﷺ)هغه وخت یادکړه چې مونږ تاته اووئیل |
| اَحَاطَ بِالنَّاسِ ط وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ |
| راګیرکړی دی\| خلق \| اونهٔ ده جوړه کړې مونږه\| نظاره \| هغه \| چې ښودلې ده مونږ تاته |
| چې ستارب دټولوخلقو نه راچاپیره دې اودامونږ چې تاته کومه نظاره ښودلې ده هغه مو |
| اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْاٰنِ ط |
| مګر \| یوه فتنه \| دپاره دخلقو \| اوونه \| لعنت کړې شوی \| په قرآن کښې |
| دخلقو دپاره دازمیښت سبب اوګرځولو اوهغه ونه هم چې قرآن پاک کښې پرې لعنت راغلې دې |
| وَنُخَوِّفُهُمْ لا فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ع ⓺ |
| اویروومونږ دې خلقولره \| خونهٔ زیاتوی دایرول دوئ لره \| مګر \| سرکشیٔ \| لویه \| |
| اومونږ خو دا خلق بیابیا ویروؤ خو په هغې باندې ددوئ سرکشی نوره هم زیاتیږی |

قوله تعالی:- وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ

**د معراج ټولې نظارې حضور ﷺ په خپلو سترګواولیدلې**:- الله سبحانه وتعالی خپل رسول کریم ﷺ ته د دین د تبلیغ رغبت ورکوی اود هغوی د حفاظت ذمه اخلی چه ټول خلق د غه د قدرت لاندې دی هغه په ټولو باندې غالب دې ټول دهغه لاندې دی اوهغه به ددې ټولونه تابچ ساتی. کوم څه چه مونږ تاته اوخودل هغه دخلقو دپاره یو کولاو ازمیښت دې.داخودل دمعراج په شپه ووچه حضور ﷺ په خپلو سترګو اولیدل.د نفرتی ونې نه مراد د زقوم ونه ده. [3] د معراج اجادیث په پوره تفصیل سره د دې سورت په شروع کښې بیان شوی دی.
داهم تیرشوی دی چه د معراج واقعه اوریدوسره ډیر مسلمانان مرتد شو اود حق نه اوګرځیدل څکه چه

---

[1]) الطبری:٤٧٨/١٧.
[2]) صحیح بخاری کتاب الکسوف باب الصدقة فی الکسوف:١٠٤٤، صحیح مسلم:٩٠١، ابوداؤد:١١٩١، بیهقی:٣٣٨/٣.
[3]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة بنی اسرائیل باب ﴿وماجعلنا الرؤیاالتی اریناك الا فتنة للناس﴾:٤٧١٦...

Scanned with Ca

د هغوی په عقل کښې دا رانغله او دخپل جهالت په وجه ئې دادروغ اوګڼړل او دين ئې پريخودو د دوی په خلاف د کامل ايمان والا په خپل يقين کښې نور هم زيات شو اود هغوی ايمان نور هم مضبوط شو او په ثابت قدمئی او استقلال کښې نور هم زيات شو. نودا واقعه الله ﷻ سبحانه وتعالی د خلقو د ازميښت اوامتحان ذريعه اوګرځوله. حضورﷺ چه کله خبرورکړو او په قرآن پاك کښې آيت نازل شوچه دوزخيانوباندې به د زقوم ونه خوړلې شي او حضورﷺ دا پخپله کتلې هم وه نوکافرانودا اونه منله او ابوجهل ملعون خو په ټوقومسخروکښې وئيل راوړئې کهجورې او کوچ راوړئې اودا زقوم اوکړئې يعنی دا يوځائ کړئې او په ښه مزه سره ئې اوخورئې بس هم دا زقوم دې بياد دې خوراك د خوړلو نه ويره د څه خبرې؟ يوقول دا هم دې چه دې نه مراد بنواميه دی خودا قول بالکل غريب او ضعيف دې. هم د ړومبی قول قائل هغه مفسرين دی چه دا آيت د معراج په واقعه کښې منی. لکه ابن عباسؓ مسروق ابومالك رحمه الله حسن بصری رحمه الله وغيره سهل بن سعيد رحمه الله وائی چه حضور ﷺ د فلانکې قبيلې خلق په خپل منبرباندې لکه د بيزوګانو غوندې په ټوپونو اوګډاګانو اوليدل او حضورﷺ دې سره ډير خفه شو. بيا تروفات پورې بيا حضورﷺ په پوره خندا سره خنديدونکې اونه ليدلې شو په دې کښې هم دې آيت طرف ته اشاره ده (۱)(ابن جرير)خوداسندبالکل ضعيف دې. محمدبن حسن بن زباله متروك دې اود هغه استاذ هم بالکل ضعيف دې. پخپله د امام ابن جرير رحمه الله خوښ کړې شوې قول هم دا دې دې نه مراد د معراج شپه ده او د زقوم ونه ده ځکه چه د مفسرينو په دې باندې اتفاق دې. موږ کافران د خپلو عذابونو نه ويروو خوهغوی په خپل ضد کبر لوئی او بې ايمانئی کښې نور هم وړاندې کيږی.

| وَاِذْ | قُلْنَا | لِلْمَلٰٓئِكَةِ | اسْجُدُوْا | لِاٰدَمَ | فَسَجَدُوْٓا | اِلَّآ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اوکله چې | اوونيل موږه | فرښتو ته | چې سجده اوکړئ | ادم ته | نوسجده اوکړه هغوئ | مګر اونۀ کړه |

او هرکله چې موږ فرښتو ته اووئيل چې تاسو ادم عليه السلام ته سجده اوکړئ نوبغير د

| اِبْلِيْسَ ؕ | قَالَ | ءَاَسْجُدُ | لِمَنْ | خَلَقْتَ | طِيْنًا ۚ ﴿٦١﴾ | قَالَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ابليس | اوې وئيل | ايا زۀ سجده اوکړم | هغه چاته | چې پيدا کړې دې تا | ادختې نه | اووئيل |

ابليس نه ټولو سجده اوکړه هغه اووئيل ايا زه دۀ ته سجده اوکړم چې تا دختې نه پيدا کړې دې ابليس اووئيل

| اَرَءَيْتَكَ | هٰذَا الَّذِيْ | كَرَّمْتَ | عَلَيَّ ۫ | لَئِنْ | اَخَّرْتَنِ |
|---|---|---|---|---|---|
| ايا کتلې دې تا | دا هغه دې | چې فضيلت ورکړوتا | په مابانديْ | که چرې | مهلت راکړو تامالره |

چې ته خو دې سړی ته لږ اوګوره چې تا په ما په باندې اوچت کړې دې که چرې ته

| اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ | لَاَحْتَنِكَنَّ | ذُرِّيَّتَهٗٓ | اِلَّا | قَلِيْلًا ﴿٦٢﴾ |
|---|---|---|---|---|
| دورځې دقيامت پورې | خامخا به زۀ دبيخه رااوباسم | اولاد دده | مګرنۀ | لږ |

ترقيامته پورې ماله مهلت راکړې نو زه به ديو څو تنو نه بغير دده ټول اولاد پخپل قابو کښې راولم

| قَالَ | اذْهَبْ | فَمَنْ | تَبِعَكَ | مِنْهُمْ | فَاِنَّ | جَهَنَّمَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اووئيل (الله) | ځه | پس چاچې | پيروی اوکړه ستا | ددوئ نه | نو بيشکه | دوزخ |

حکم اوشو چې ځه ! څوک چې له دوئ نه ستا پيروی اوکړی نو بيشکه دوزخ ستاسو

(۱) الطبری:۱۷/٤٨٤، ٤٨٦.

جَزَآؤُكُمۡ جَزَآءً مَّوۡفُوۡرًا﴿۶۳﴾ وَاسۡتَفۡزِزۡ مَنِ

بدله ده ستاسو | بدله | پوره |او دوكه كړه په خوړو پستو خبرو| هغه څوك |

دټولو دپاره پوره پوره سزا ده اوپه دوئ كښې چې ستا په چا وس رسي

اسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُمۡ بِصَوۡتِكَ وَاَجۡلِبۡ عَلَيۡهِمۡ

چې طاقت رسيږي ستا | ددوئ نه | په دعوت ستاسره |اوپه جمع راوله| په هغوئ باند|

نو هغوئ پخپل آواز سره اوغولوه اوپه دوئ باندې (دخپلو فوجونو)

بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكۡهُمۡ فِي الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَوۡلَادِ

سوارۀ خپل| اوپياده خپل |اوشريك شه دهغوئ سره |په مالونو كښى | اوپه اولاد كښى|

سوارۀ اوپياده راوخيژه وه اوهغوئ سره په مالونو او په اولاد كښې ځان له برخه اونيسه

وَعِدۡهُمۡ ؕ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيۡطٰنُ اِلَّا غُرُوۡرًا﴿۶۴﴾

اووعدې اوكړه دهغوئ سره| اووعده نۀ كوی دهغوئ سره| شيطان | مگر | ددوكي

او هغوئ سره وعده كوه او كومې وعدې چې شيطان هغوئ سره كوی هغه ټوله دهوكه ده

اِنَّ عِبَادِيۡ لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطٰنٌ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ

بيشكه | بندگان زما چې دی | نشته | تالره | په هغوئ باند| څه غلبه | او كافی دې | رب ستا

بيشكه زما په مخلصانو بندگانو به ستازور نه چليږی اوستا رب كافی

وَكِيۡلًا﴿۶۵﴾

په حيثيت دوكيل |

كارساز دې

قوله تعالى:-وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوۡٓا اِلَّآ اِبۡلِيۡسَ ؕ

**د ابليس ددښمنۍ تذكره او دهغه خبره نه منل:**-دابليس دزړئی دښمنئی نه انسان خبرولې شی چه هغه ستاسو دپلارآدم ﷺ ښكاره دښمن وو دهغه اولاد برابر هم دغه شان ستاسو دښمن دې. د سجدې حكم اوريدو سره خو ټولوفرښتو سرټيټ كړوخو هغه كبر اوكړوهغه ئې سپك اوګڼړلواوصفاانكارئې اوكړو چه ناممكن دی زما سر د خاورې د يوجوړشوی مخې ته ټيټ شی. زه د ده نه ډير غوره يم زه اوريم اودا خاوره ده.بيا دهغه زړورتياته اوګوره چه دالله ﷻ په درباركښې د ګستاخئی په اندازسره وائی چه ښه ده كه تاده له په ما باندې فضيلت وركړو نو څه اوشو زه به هم د ده اولاد ټول برباد كړم ټول به خپل تابعدارجوړكړم او دهوكه به ئې كړم كه څه لږ شان زماد جال نه بچ شی ګنی باقی به ټول غرق كړم.

**شيطان ته مهلت وركړې شو:**-ابليس د الله ﷻ نه مهلت اوغوښتلو الله ﷻ منظوركړواو ارشاد اوشو چه د معلوم وخت پورې مهلت دې[1] ستا اوستاد تابعدارانو د بدو بدله به د دوزخ اور وی چه پوره سزا ده. په خپل آوازسره چه ته څوك دهوكه كولې شې دهوكه ئې كړه يعنی په سندرو او تماشوباندې هغوی

---

[1] ) ١٥/الحجر:٣٧.

Scanned with Ca

دهوکه کوه ګرځه.[١] کوم هم چه دالله ﷻ نافرمانئ طرف ته رابلونکې اوازوی هغه شیطانی اوازدې.[٢] دغه شان ته خپل پیاده او سواره واخله او په کومو چه ته حمله کولې شې اوکړه ﴿رجل﴾ جمع ده ﴿راجل﴾ لکه چه ﴿رکب﴾ جمع د ﴿راکب﴾ او ﴿صحب﴾ جمع ده ﴿صاحب﴾ مطلب دادې چه څنګه تانه کیدې شی په هغوی باندې خپل تسلط او طاقت استعمال کړه. دا نه د قدرت امر دې نه حکم. د شیطانانو هم دا خصلت دې چه هغوی د الله ﷻ بندیګان غولوی او دهوکه کوی ګرځی هغوی په ګناهونو اخته کوی د الله ﷻ نه چه څوك په معصیت کښې وی هغه که سور وی که پیدل شیطانی لښکر کښې دې.[٣] داسې پیریان هم دی اوانسانان هم دی چه د هغه تابعداردی.[٤]. کله چه په چا باندې آوازونه اوچت کړې شی نو عرب وائی ((اجلب فلان علی فلان)) هم دې نه دا ماخوذ دې د حضورﷺ دا فرمان چه داسونویه زغلولو کښې جلب نشته.[٥] هغه هم دې نه ماخوذ دې. د جلبه اشتقاق هم دې نه دې یعنی د آوازونو اوچتیدل.

**په مال اولادکښې د شرکت مفهوم**:-د هغوی په مالونو او اولادکښې هم ته شریك اوسه. یعنی د الله ﷻ په نافرمانوکښې دهغوی مال خرچ کوه[٦] سودخوری په هغوی کوه بدئی سره مال راجمع کړی او په حرامو کارونوکښې خرچ کړی حلال څناورد خپل خواهش نه په ځان حرام کړی وغیره. په اولادکښې شرکت دا دې چه زناکاری اوکړی اود هغې نه اولاد وی[٧] کوم اولاد ئی چه په وړوکوالی کښې د بې وقوفتیا نه دهغوی موریلار قتل کړې وی یا ئی ژوندی خښ کړې وی هغه ئی یهودی نصرانی یا مجوسی جوړکړې وی[٨] داولاد نوم عبدالحارث اوعبدشمس او عبدفلانکې کیخودې وی. غرض دا چه په هرقسم ئی شیطان په دې کښې داخل کړې وی یائی دا ورسره کړې وی هم دغه د شیطان شرکت دې. د صحیح مسلم په حدیث کښې دی چه الله ﷻ فرمائی ماخپل بنده یوطرف ته موحد پیداکړې دې بیا شیطان راغلو دې نی دهوکه کړو اوحلال څیزونه ئی پرې حرام کړل[٩]

بخاری اومسلم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه په تاسوکښې څوك خپلې بی بی له د تلواراده اوکړی دادې لولی ﴿اللهم جنبنا الشیطن وجنب الشیطن مارزقتنا﴾ یعنی یاالله ته مونږ د شیطان نه بچ کړې اولرې کړې شیطان د هغه نه چه ته مونږ ته راکوې. نوکه په دې کښې د الله ﷻ د طرف نه بچې اوشی نو هغه ته به هیڅ کله هم شیطان څه ضرراونه رسولې شی.[١٠] بیافرمائی چه زه ته هغوی له د دهوکې د دروغو وعدې ورکوه. دقیامت په ورځ به دې پخپله وائی چه د الله ﷻ وعدې خو ټولې رښتیاوې اوزما ټولې وعدې غلطې وې.بیا فرمائی زما مؤمن بندیګان زما په حفاظت کښې دی. زه به هغوی د شیطان ړتلې شوی نه بچ کوم. د الله ﷻ وکالت حفاظت نصرت اود هغه تائیدد بندیګانود پاره کافی دې. مسنداحمد کښې رسول الله ﷺ فرمائی مؤمن په خپل شیطان باندې داسې قابومومی لکه څنګه چه

---

[١] الطبری:١٧/٤٩٠.

[٢] الطبری:١٧/٤٩١.

[٣] الطبری:١٧/٤٩٢.

[٤] الطبری:١٧/٤٩١

[٥] ابوداؤد کتاب الجهاد باب فی الجلب علی الخیل فی السباق:٢٥٨١ وهوحسن: ترمذی:١١٢٣، نسائی:٣٣٣٧.

[٦] الطبری:١٧/٤٩٣.

[٧] الطبری:١٧/٤٩٤.

[٨] الطبری: ١٧/٤٩٤-٤٩٥.

[٩] صحیح مسلم کتاب الجنة باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیااهل الجنة واهل النار:٢٨٦٥.

[١٠] صحیح بخاری کتاب الوضوء باب التسمیة علی کل حال وعندالوقاع:١٤١، صحیح مسلم:١٤٣٤، ابوداؤد:٢١١٦، ترمذی: ١٠٩٢، ابن ماجه:١٩١٩، احمد:١/٢١٧.

Scanned with Ca

يوسرې خپل څاروی ته واګه اچولې وی. (1)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رَبُّكُمُ | الَّذِي | يُزْجِي | لَكُمُ | الْفُلْكَ | فِي الْبَحْرِ |
| رب ستاسو | هغه ذات دې | چې چلوي | دپاره ستاسو | کشتۍ | په دریاب کښې |
| ستاسو رب هغه ذات دې چې ستاسو دپاره ئې په سمندر کښې کشتۍ چلوي | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِتَبْتَغُوا | مِنْ فَضْلِهِ | إِنَّهُ | كَانَ | بِكُمْ | رَحِيمًا ﴿٦٦﴾ |
| دپاره ددې چې تاسو تلاش کړئ | دفضل دهغه نه | بیشکه هغه | دې | په تاسو باندې | مهربانه |
| چې تاسو دهغه فضل (روزي) اولټوئ بیشکه هغه په تاسو ډیر مهربان دې | | | | | |

قوله تعالى:- رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ

**کشتئ د تجارت ذریعه ده:-** الله ﷻ خپل احسان ښائي چه هغه د خپلو بندیګانو د آسانۍ او سهولت دپاره دهغوی د تجارت او سفر د پاره په دریابونو کښې کشتۍ رواني کړي دی. دهغه د فضل او کرم لطف او رحم يوه نښه دا هم ده چه تاسو لرې لرې ملکونو ته تلې شئ او د الله ﷻ فضل یعنی رزق حاصلولې شئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَإِذَا | مَسَّكُمُ | الضُّرُّ | فِي الْبَحْرِ | ضَلَّ | مَنْ | تَدْعُونَ |
| اوکله چې | اورسيږي تاسوته | تکلیف | په دریاب کښې | اورك شي | هغه څوك | چې رابللې ئې تاسو |
| اوهرکله چې په سمندر کښې تاسو ته څه تکلیف رسيږي نو دالله ﷻ نه سوا | | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| إِلَّا إِيَّاهُ | فَلَمَّا | نَجَّاكُمْ | إِلَى الْبَرِّ | أَعْرَضْتُمْ | وَكَانَ |
| سوا دخاص هغه نه | نو هرکله چې | هغه بچ کړئ تاسو | وچې ته | نومخ واړوئ تاسو | اودې |
| کوم کوم چې تاسو بلئ هغه تاسو نه هیر شي بیا هرکله چې تاسو اوچې طرفته رابچ کړي نو تاسو مخ واړوئ | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| الْإِنْسَانُ | كَفُورًا ﴿٦٧﴾ | أَفَأَمِنْتُمْ | أَنْ | يَخْسِفَ | بِكُمْ |
| انسان | ناشکره | آیانو په امن کښې یئ تاسو | ددې نه چې | ډوب کړي | تاسو |
| اوانسان ډیر ناشکره دې آیا تاسو ددې خبرې نه بې غمه شوي یئ چې تاسو اوچې طرفته راولي او په زمکه کښې | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| جَانِبَ الْبَرِّ | أَوْ يُرْسِلَ | عَلَيْكُمْ | حَاصِبًا | ثُمَّ | لَا تَجِدُوا |
| په طرف دوچې | یااولیږي | په تاسو باند | دکانړو باران | بیابه | اونهٔ مومئ تاسو |
| موښخ کړي یادرباندې دکانړو شګو سیلئ راولي بیا تاسو دخپل ځان دپاره | | | | | |

| | |
|---|---|
| لَكُمْ | وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ |
| دپاره دخپل ځان | حمایتی |
| څوک کارساز نه مومئ | |

قوله تعالى:- وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ

**په سمندرونو کښې هم کارساز الله ﷻ دې:-** دالله ﷻ ارشاد کيږي چه بندیګان خود مصیبت په وخت کښې په خلوص سره خپل پرورد ګار ته ټیټيږي او دهغه نه دزړه دعاګانې کوی او چه کله الله ﷻ هغه مصیبت

---

(1) احمد: ٢/٣٨٠.

اخواکړی دي ستړکې اړوي.

**دعکرمه بن ابو جهل د ایمان واقعه:**-دمکې د فتح په وخت کښې کله دابوجهل ځوئ عکرمه د حبشه د تلوپه اراده سره اوتختیدواوپه کشتئ کښې کیناستو لاړونو اتفاقی توګه باندې کشتئ په طوفان کښې راګیره شوه دمخالف طرف هوا هغه لکه د پاڼې غوندې خوزوله.هغه وخت چه په کشتئ کښې څومره کافران ووهغوی ټولوپه خپل مینځ کښې اووئیل چه دې وخت کښې د الله ﷻ نه بغیربل څوك هم زمونږ هیڅ په کارنه شی راتلې نو هم هغه ته آواز اوکړئ. عکرمه ته هغه وخت دا خیال راغلو چه کله په اوبو کښې صرف هم هغه په کارراتلې شی نو په اوچه باندې هم هغه په کارراتلې شی.اې الله زه نذر منم که تازه ددې مصیبت نه خلاص کړم نونیغ به ځم اودحضرت محمد ﷺ په لاس کښې به خپل لاس ورکوم. یقینا هغه به په ما باندې رحم او کرم او مهربانی اوکړی. د سمندر پوریوتلوسره هغه نیغ د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اواسلام ئې قبول کړو اود اسلام یوپهلوان ثابت شو[١] نوفرمائی چه دسمندر ددې مصیبت په وخت کښې خود الله ﷻ نه علاوه ټول هیروئی خوبیا د هغې په اخواکیدوسره د الله ﷻ توحید پریږدئی اونوروته سوالونه کوئی. انسان دې داسې ناشکره چه نعمتونه هیروی بلکه منکرکیږی مګر چه څوك الله ﷻ بچ کړی اود خیرتوفیق ورکړی.

**په سمندرکښې غرق کونکې په اوچه کښې هم ورخښولې شي:**-رب العالمین خلق ویروی چه څوك په اوبو کښې ډوبول کولې شی نو هغه په اوچه باندې هم د ورننه ویستلو طاقت لری.بیا خوهلته صرف هم هغه ته چغې وهل اودلته هغه سره نورشریك کول داڅومره بې انصافی ده؟ هغه خوپه تاسوباندې د کاڼړو باران هم کولې شی اوهلاك کولې موشی[٢] لکه څنګه چه په لوطیانو باندې شوې وودکوم بیان چه پخپله قرآن کښې په څو ځایونوکښې دې.سورت تبارك کښې الله ﷻ فرمائی آیا ستاسود هغه الله ﷻ نه ویره نشته کوم چه په آسمانونوکښې دې چه هغه چرته تاسو په زمکه کښې ورخښ نه کړی چه ناڅاپی زمکه په رقیدو شی.آیاستاسو د آسمانونووالا الله ﷻ نه ویره نشته چه هغه چرته په تاسو باندې کاڼړی راونه وره وی بیاپوهه شئ چه د ویرولوانجام څه کیدلې شی[٣] بیافرمائی چه په هغه وخت کښې به نه تاسو سره خپل څوك امدادی وی نه لاس کونکې نه وکیل نه کارساز نه ساتونکې اونه خیال لرونکې.

| | | | |
|---|---|---|---|
| يُّعِيۡدَكُمۡ فِيۡهِ | | اَنۡ | اَمۡ اَمِنۡتُمۡ |

یابه امن کښی یئ تاسوا ددې نه چې اواپس بوځی تاسو دریاب ته
یاتاسو بې فکره شوی یئ چې هغه دوباره تاسو دې

تَارَةً اُخۡرٰی فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيۡحِ فَيُغۡرِقَكُمۡ

یو خل بیا | اوراولیږی |په تاسو باند |طوفان |د هوا نه |اوډوب کړی تاسولره|
دریاب ته بوځی بیا په تاسو باندې دهوا سخت طوفان راولیږی بیاتاسو د

بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا لَكُمۡ عَلَيۡنَا

په سبب دهغې اچې ناشکری اوکړه تاسوا بیا |اونهٔ مومئ تاسوا دپاره دخان خپل په مونږ باندا
ناشکرئ په بدله کښې غرق کړی نوبیا به هیڅوک زمونږ نه دتپوس پوښتنې

---

[١] حاکم ٣/ ٢٤١.
[٢] الطور ١٧: ٦٨.
[٣] ٦٧/ الملك: ١٦-١٧.

بِهٖ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ

ددې انجام | روستو تپوس کونکې | او په تحقيق سره | عزت ورکړو مونږه | اولاد د ادم ته |

قابل هم بيا نه مومئ اوبيشکه مونږ دادم عليه السلام اولاد ته عزت ورکړې دې

وَحَمَلْنٰهُمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ

او سورلئ ورکړې مونږ دوئ ته | په وچه کښې اوپه درياب کښې|اورزق ورکړومونږ دوئ ته| دپاکوڅيزونو

اومونږ دوئ په اوچه او درياب دواړو کښې سوارۀ کړځوؤ اومونږ دوئ له دپاکيزه څيزونو رزق ورکړو

وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾

اوغوره کړل مونږه دوئ لره| په ډيرو باند| دهغه چانه |چې پيدا کړې دی مونږه | په غوره کولو سره

اوپه خپل ډير مخلوق باندې مو ورله ښکاره فضيلت ورکړې دې

**قوله تعالى:-** ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾

ارشاددې چه اې منکرانودسمندرنه تاسوزماد توحيدقائل کيدوسره بهرشوئی نوبيامو انکار اوکړونوآيا داسې نه شی کيدې چه تاسو به بياد اوبوسفراوکړئی اود تيزې هواڅپيړې به ستاسو کشتئی ګډه وډه کړی اوآخربه ئی ډوبه کړی[1] او تاسوله ستاسود کفر مزه او خوند درشی نوبياخوبه ستاسوهيڅ څوك امدادی نه وی نه به څوك داسې ملاوشی چه زمونږ نه ستاسوبدله واخلی مونږ پسې څوك نه شی رسيدلې اودچا څه مجال چه زمونږ په کارګوته اوچته کړی. [2]

**په ټولومخلوقاتوباندې د انسان فضيلت:-** دټولونه ښه پيدائش دانسان دې لکه چه ارشاددې ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾[3] مونږ انسان په ډيرښکلې جوړخ سره پيداکړې دې هغه په خپلو پښوباندې نيغ اودريږی اوصحيح روان وی پخپلو لاسونوباندې په ښه طريقه خپل خوراك کوی اوڅناور په پښو لاسونو باندې روان وی په خُلې سره د ګياڅرن کوی.بيا ده ته پوهه ورکړې ده په کوم سره چه ګټه تاوان ښه او بد پيژنی.دينی اودنياوی فائده معلوموی.د ده دسورلئی دپاره په اوچه باندې څناوراوڅاروی اسونه قچرې اوښان وغيره اودلمدې دسفردپاره کشتئ جوړول خودلی.ده ته ښکلې مزيدارخوند ناك د خوراك څښاك څيزونه ورکړی فصلونه دی ميوې دی غوښه ده پئيی دی اوډير بهترين خوندناك مزيدار څيزونه دی. بيا د اوسيدو د پاره ښکلې کورونه د اغوستلود پاره ښائسته لباس اود قسم قسم رنګار نګ د دې ځائ څيزونه هغه ځائ اوډ هغه ځائ څيزونه دلته د اوړلو راوړلو اسباب د هغه د پاره پيدا کړی دی او په مخلوق کښې په هريوباندې ده له فضيلت ورکړې دې.

**انسان د فرښتونه هم غوره دې:-** ددې آيت مبارك نه د دې امر استدلال کړې شوې دې چه انسان د فرښتو نه هم غوره دې. حضرت زيدبن اسلم رحمه الله وائی فرښتو اووئيل اې الله تابنيادمو ته دنياورکړې ده هغوی خوری څکی اومزې کوی ته مونږ له د دې په بدله کښې په آخرت کښې راکړه څکه چه په مونږ د دې دنيانه محروم يو. د دې په جواب کښې الله جل جلاله ارشاد اوفرمائيلو چه زما دې په خپل عزت او جلال باندې قسم وی د ده نيك اولاد کوم چه ما په خپل لاس باندې پيداکړی د هغوی برابر به زه هيڅ کله هم نه کړم کوم چه ما د کن په کلمه سره پيداکړی دی. دا روايت مرسل دې خوپه بل سندسره متصل هم نقل

[1] الطبری:١٧/٥٠٠.
[2] الطبری:١٧/٥٠٠.
[3] ٩٨/التين:٤.

Scanned with Ca

دې.ابن عساکر کښې دی فرښتو اوونیل اې زمونږ پروردګاره مونږ هم تا پیداکړي یو اود بنیادمو خالق هم ته نی هغوی ته ته خوراك څښاك ورکوې کپړې جامې هغوی اغوندی نکاح او ودونه هغوی کوی سورلنی دهغوی دپاره دی راحت او آرام هغوی ته حاصل دې. په دې کښې مونږ د یوې حصې هم حصه دارنه یو. خیرکه په دنیاکښې د هغوی د پاره دی نو په آخرت کښې دا څیزونه زمونږ دپاره کړې د دې په جواب کښې الله ﷻ اوفرمائیل کوم چه ما په خپل لاس جوړکړو او خپل روح مې په کښې واچولو زه به هغه د هغې په شان نه کړم کوم ته چه ما ونیلی اوشه نو هغه اوشو. طبراني کښې دی د قیام په ورځ به د بنیادم نه بزرګ هیڅ څوك هم نه وی. تپوس اوکړې شو چه فرښتې هم نه؟ ونی فرمائیل چه فرښتې هم نه هغه خو مجبوره دی لکه نمر سپوږمئی. (١)دا روایت ډیر غریب دې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَوْمَ | نَدْعُوا | كُلَّ أُنَاسٍ | بِإِمَامِهِمْ | فَمَنْ |
| اویاده کړه هغه ورځ | چې رااوبه غواړو مونږ | هره ډله دانسانانو | دپیشوا دهغوئ سره | نو هغه چاته |

هغه ورځ رایاده کړه چې مونږ به ټول خلق دخپلو خپلو پیشوایانو سره راوغواړو نودچا

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| أُوتِيَ | كِتَٰبَهُۥ | بِيَمِينِهِۦ | فَأُولَٰٓئِكَ | يَقْرَءُونَ |
| چې ورکړې شوه | اعملنامه دهغه | په ښي لاس دهغه کښې | نو دغه کسان چې دي | لولي به هغوئ |

عمل نامه چې دهغوئ ښي لاس کښې ورکړې شوه نو هغوئ به خپله عمل نامه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| كِتَٰبَهُمْ | وَلَا يُظْلَمُونَ | فَتِيلًا | وَمَنْ | كَانَ |
| عملنامه خپله | او ظلم به نهٔ کیږي په هغوئ باندې | د قد تاردخرما | اوهغه څوك | چې وي |

لوستل شروع کړي او په هغوئ به دتار برابر هم ظلم نه کیږي اوڅوک چې پدې

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فِي هَٰذِهِۦٓ | أَعْمَىٰ | فَهُوَ | فِي الْآخِرَةِ | أَعْمَىٰ | وَأَضَلُّ | سَبِيلًا |
| په دې دنیاکښې | ړوند | نوهغه به وي | په اخرت کښې هم | ړوند | اوزیات ورك کونکي به وي | لاري لره |

دنیا کښې ړوندشو پس هغه به په اخرت کښې هم ړوند وی اودخلاصئ لاري به نه بي لاري وی

**قوله تعالى:- يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ**

**د قیامت په ورځ د امام نه څه مراد دي؟:-** دامام نه مراددلته نبی دې.هرامت به د قیامت په ورځ دخپل نبی سره راغوښتلې شی لکه چه پدې آیت کښې دی(وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ)(٢) دهرامت رسول دې بیاچه کله رسول راخی نودهغوی په مینځ کښې به په انصاف سره فیصله کولې شی.

**د محدثینو فضیلت:-**د بعضې سلفو وینااده چه په دې کښې د اهل حدیث ډیر لوئ فضیلت دې ځکه چه د هغوی امام حضور ﷺ دې. ابن زیدر وائی چه دلته د امام نه مراد د الله ﷻ کتاب دې کوم چه د هغوی دشریعت باره کښې نازل شوې وو.ابن جریر رحمه الله داتفسیرډیرزیات خوښوی اوهم دې ته مختاروائی مجاهد رحمه الله وائی چه دې نه مراد د هغوی کتابونه دی. ممکن دی چه د کتاب نه مراد دالله ﷻ د احکامو کتاب وی یا عمل نامه اوابن عباس دې نه عمل نامه مراد اخلی(٣)ابوالعالیه رحمه الله حسن رحمه الله او

---

(١) الطبراني.
(٢) ١٠/یونس:٤٧.
(٣) الطبری:٥٠٢/١٧.

ضحاك رحمه الله هم دا وائی([1])اوهم داد ډيرې ترجيح قول هم دې لکه چه د الله ﷻ ارشاددې ﴿وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ فِيٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ﴾([2])دهرڅيز ښکاره مونږ په کتاب کښې احاطه کړې ده بل آيت کښې دی ﴿وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا ۚ وَوَجَدُوا۟ مَا عَمِلُوا۟ حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾([3])يعنی عمل نامه به په مينځ کښې کيخودې شی هغه وخت به ته ګورې چه ګناهګاران به ددې په کتو سره اوويريږی الخ. يوبل آيت کښې دی هرامت به په زنګونوباندې پريوتې وی ګوری به.هرامت به د خپل کتاب طرف ته راغوښتې شی. نن به تاسو ته ستاسو د کړو عملونوبدله درکولې شی.دا دې زمونږ کتاب چه په تاسوبه په حقه اوانصاف سره وينا کوی. څه چه تاسوکول مونږ برابر ليکل([4])دا ياد ساتئ چه دا تفسيرد اولنی تفسيرخلاف نه دې يو طرفته به په لاس کښې عمل نامه وی بل طرف ته به پخپله نبی مخامخ موجود وی.لکه چه ارشاد دې ﴿وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ وَجِا۟يٓءَ بِٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾([5])زمکه به د خپل رب د نورنه اوبرقيږی عمل نامه به کيخودې شی نبيان اوګواهان به راموجود کړې شی.يوبل آيت کښې دی﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا﴾([6])يعنی هغه وخت به څه حالت وی کله چه د هريوامت مونږ ګواهان راولو اوتابه په دې خپل امت باندې ګواه جوړوو راولوبه دې. خودلته د امام نه مراد عمل نامه ده په دې وجه د دې نه پس فرمائی چه د چا په ښی لاس کښې ورکړې شی نو هغوی خو به خپلې نيکئی په خوشحالئی مزه خوند او راحت سره لولی بلکه نورو ته به ئی ښائی او لولی به ئی پرې او ګرځيږی به. د دې نور بيان په سورت الحاقة کښې دې. د فتيل نه مراد اوږد تار دې کوم چه د کهجورې د ګټکې په مينځ کښې وی. بزارکښې دی نبی کريم ﷺ د دې آيت په تفسيرکښې فرمائی يوسړې به راوغوښتلې شی اود هغه عمل نامه به هغه ته په ښی لاس کښې ورکړې شی د هغه بدن به لوئ شی د هغه مخ به اوبرقيږی په سربه ورته د پرقيدونکو مرغلروتاج کيخودې شی. دې به خپلې ډلې ته وړاندې شی دې چه په دې حال کښې اووينی نوټول به خواهش کوی چه اې الله ﷻمونږ ته هم داراکړه او مونږ له پدې کښې برکت راکړه. هغه به راتلوسره وائی چه خوشحاله شئی په تاسو کښې هريوته هم دا ملاويدونکی دی.

**کافران به دقيامت په ورځ ړانده وی**:- خودکافرانو مخونه به تک تورشی دهغه بدن به غټ شی دهغه ملګری چه ده ته ګوری نو وائی به د ده نه د الله ﷻ پناه غواړو ياد ده د بدو نه دالله ﷻ پناه.اې الله ﷻ دې مونږ له مه راوله هغه به راشی دوی به وائی الله ﷻ دې رسوا کړو.دې به جواب ورکړی الله ﷻ دې تاسو هلاك کړی په تاسوکښې د هرېو دپاره دالله ﷻ هم دا وهل دی([7])په دې دنياکښې چه چاد الله ﷻ د آياتونونه اود هغه دکتاب نه د هغه د هدايت د لارې نه سترګې پټې کړی دی هغه به په آخرت کښې په ربښتياسره ړوند وی اود دنيابه هم ډيره لار هيرونکی. عياذا بالله. ([8])

---

[1] ) الطبری:١٧/٥٠٢-٥٠٣.
[2] ) ٣٦/يونس:١٢.
[3] ) ١٧/الکهف:٤٩.
[4] ) ٤٥/الجاثية:٢٨-٢٩.
[5] ) ٣٩/الزمر:٦٩
[6] ) ٤/النساء:٤١.
[7] ) ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة بنی اسرائيل: ٣١٣٦ وسنده حسن، حاکم:٢/٢٤٢-٢٤٣، ابن حبان:٧٣٤٩.
[8] ) الطبری:١٧/٥٠٤-٥٠٥.

Scanned with Ca

وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِيٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ

او بيشکه چي نزدې وو | چي په فتنه کښې واچوي تا | دهغه وحي نه | چي درلیږلې ده مونږ | تاته

او اې نبي ﷺ! دوئ په دې خبره کښې ډير کوشش کړې دې چي تا دهغه وحي نه چي مونږ درته درلیږلې ده

لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا

دپاره ددې چي دروغ جوړ کړې ته | په مونږ باندې | غير ددغه وحي نه | اوکه داسې کړې وې تانو بيا به

ورغړوي په دې شان چي ته په مونږ باندې ځانه دروغ اوتړې اوکه دغسې دې کړې وې نو

لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ۝ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ

خامخا نيولې وې دوئ تا لره | دوست | او که نۀ وې | مضبوط ساتلې مونږ تۀ | نو بيشکه | نزدې وه

دوئ به خپل ځان سره خوږ آشنا کړې وې اوکه مونږ ستا قدم کلک کړې نه وې نو داخبره بعيده نه وه

تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ۝ إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ

چي ميلان دکړې وې | دوئ ته | څه | لږ | که داسې دې کړې وې تانو بيا به | خامخا څکولې وې مونږ تا ته

چي ته ورته لږ شان مائله شوې وې  په دې صورت کښې به مونږ تا له په ژوندې کښې

ضِعْفَ الْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا

دوچند عذاب | دژوند | او دوچند عذاب | د مرګ | بيا به | نۀ مونډوتا | دپاره دځان | په مونږ باند

او دمرګ نه پس دغبرګې سزا مزه څکولې وه نو بيا به تا زمونږ په مقابله کښې هيڅوک مددګار

نَصِيرًا ۝

مددګار |

موندلې نه وو

**قوله تعالى:- وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ۝**

**هم الله ﷻ پيغمبر ﷺ په دين باندې قايم ساتي:-** دمکارو او فاجرانو د چالاکونه الله ﷻ هميشه خپل رسول ﷺ بچ ساتلې. حضور ﷺ ئې معصوم او ثابت قدم ساتلې هم پخپله د هغوی ﷺ ولي او ناصر پاتې دې په خپل حفاظت او ساتنه کښې ئې هميشه ساتلې دې. دحضور ﷺ تائيد او نصرت ئې برابر کړېدې. د حضور ﷺ دين ئې د دنيا په ټولو دينونو باندې غالب کړې دې. دحضور ﷺ د مخالفينو چې ارادې يئ ښکته کړې دي دمشرق نه ترمغرب پورې ئې دحضور ﷺ کلمه خوره کړه. هم ددې بيان په دې آياتونو کښې دې. الله ﷻ دې د قيامته پورې په حضور ﷺ باندې بې شميره درود اوليګی. آمين.

وَإِن كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ الْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ

| او بيشکه نزدې وه | چي خامخا اوخوزوي تا | دزمکې نه | دپاره ددې چي اوشړي تا

اونزدې وه چي دوئ کافران دې زمکې (دمکې نه) ستا قدمونه خوېولې وې چي تا ددې (ملک) نه بهر اوباسي

مِنْهَا ۖ وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا ۝

ددغه ځائې نه | اوکه دوئ داسې اوکړل نو بيا به | تيرنۀ کړې وخت دوئ | روستو ستا نه | مګر | لږ

خو په دې حال کښې به هم ستا د وتلو نه پس دوئ ډير لږ دلته پاتې شی

Scanned with Ca

| وَلَا تَجِدُ | مِنْ رُّسُلِنَا | قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ | مَنْ | سُنَّةَ |
|---|---|---|---|---|
| او اوبه نهٔ مومې تهٔ | د رسولانو زمونږ نه | چې لیږلي وو زمونږ مخکښې ستانه | دهر هغه چا سره | دا طریقه ده |

(دا زمونږ پخواني دستوردې) لکه څنګه چې زمونږ دستور دهغې پیغمبرانو په حقله راغلې دې چې له تانه وړاندې مولیږلي وو او زمونږ په

| | تَحْوِیْلًا | لِسُنَّتِنَا |
|---|---|---|
| | بدلون | طریقې زمونږ لره |

دستور کښې به هیڅ تبدیلي نه بیامومې

**قوله تعالى:- وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ**

**کله چه یهودیانو نبی کریم ﷺ ته د شام د تللو مشوره ورکړه:**-وائی چه حضور ﷺ ته یهودیانو مشوره ورکړه چه تاسو له شام ته تلل پکاردی ځکه چه هم هغه د انبیاؤکرامو وطن دې.د مدینې دا ښار پریخودل پکاردی نو په دې باندې دا آیت نازل شو خودا قول ضعیف دې ځکه چه دا آیت مکی دې او په مدینه کښې دحضور ﷺ استوګنه روستو شوې ده.وائی چه دتبوك باره کښې دا آیت نازل شوې دی. د یهودیانو په وینا کولوسره چه شام د نبیانو او محشر زمکه ده هغوی له هم هلته اوسیدل پکار دی که چرې ته په رښتیاؤ پیغمبر ئې نو هلته لاړشه هغوی دیوحد پورې حضور ﷺ رښتونې ګنړلو.دغزوه تبوك ته د حضور ﷺ نیت هم دا ووخو تبوك ته په رسیدو باندې د بني اسرائیل آیاتونه نازل شو دې نه پس سورت ختم کړې شوې وو. ددې﴿ وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ۝﴾ آیت پورې او الله ﷻ حضور ﷺ ته د مدینې د واپس تللو حکم ورکړو اوونې فرمائیل چه هم هلته ستا مرګ اوژوند دې او بیارا پاسیدل او اودریدل دی.خوددې سند هم د نظرنه خالی نه دې او صفا ښکاره دی چه دا واقعه هم ټیك نه ده. د تبوك غزوه د یهودیانو په وینا سره نه وه بلکه دالله ﷻ فرمان موجود دې﴿ قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝﴾(1) کوم کافران چه ستا خواوشا دی دوی سره جهاد اوکړه. بل آیت کښې دی چه څوك په الله ﷻ او قیامت باندې ایمان نه لري د الله ﷻ اود هغه د رسول ﷺ حرام کړې شوی حرام نه ګنړی اوحق نه قبلوی نود داسې اهل کتابوسره دالله ﷻ په لارکښې جهاد اوکړه تردې چه هغوی دذلت سره جزیه ورکول منظور کړی.(2) اوجه ددې غزوه داوه چه د حضور ﷺ کوم صحابه کرام رضی الله عنهم په جنګ موته کښې شهیدان کړې شوې وو د هغوی بدله واخستلې شی. والله اعلم. که داپورتنۍ واقعه صحیح شی نوهم پدې باندې به هغه حدیث محمول کولې شی په کوم کښې چه حضور ﷺ فرمائی مکه مدینه او شام کښې قرآن پاك نازل شوې دې.(3) ولید رحمه الله خو د دې په شرح کښې لیکی چه د شام نه مراد بیت المقدس دې خود شام نه مراد تبوك ولې وانخستلې شی چه بالکل صفا او ډیر صحیح دې. والله اعلم.

یوقول داهم دې چه دې نه مراد د کافرانو هغه قول دې کوم چه د مکې نه د ویستلو باره کښې کړې وو او هم داسې اوشو چه کله هغوی حضور ﷺ اوویستلو نو بیا دوی هم هلته ډیره موده پاتې نه شو الله ﷻ ډیر زر په هغوی باندې غالب کړو. دوه نیم کاله تیرشوې وو چه د بدر جنګ بغیر د څه تیاری او اطلاع نه ناڅاپی اوشوه هم هلته دکافرانو اود کفر زور مات شو. دهغوی شریفان او رئیسان د تیغ نه اووتل او

(1) ٨/التوبة:٢١٣.

(2) ٩/التوبة:٢٩.

(3) الطبری:٧٧/١٧.

Scanned with Ca

د هغوی شان اوشوکت په خاور کښې خاورې شو.دهغوی سرداران قید کړې شو.نوفرمانی چه هم دا عادت د اول نه جاری دې د وړاندینو رسولانو سره هم داسې شوې چه کافرانو کله هغوی تنګ کړی اود وطن نه ئی ویستلی نو بیا هغوی هم نه دی بچ شوی د الله ﷻ عذابونوهغوی غرق او بې نشانه کړی دی.او زمونږ پیغمبر ﷺ خود رحمت رسول وو په دې وجه څه عام آسمانی عذاب په دې کافرانو باندې رانغلو لکه چه فرمانی﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۝ ﴾([1])یعنی ستا په موجودګئی کښې به الله ﷻ هغوی نه په عذاب کوی.

اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ
| قائموه | مونځ | دزواله | دنمر نه | دتیارې دشپې پورې
ته خپل مونځ کوه دنمر راختلونه پس دشپې ترتیارې خوریدو پورې

وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ۭ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ۝
اوپابندی کوه دقران دسحر| بیشکه | قرآن د سحر | وی چی حاضریږی ورته فرښتې
اودې نه علاوه د سحرمونځ هم کوه بیشکه د صبا مونځ کول دفرښتو دحاضرئ وخت دی

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۤ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ
اودشپې دیوې حصې نه| تهجد کوه| په دې سره | نفل دی | تالره | قریبه ده | چی اوبه رسوی تا
اودشپې په یوه برخه کښې د تهجدو مونځ هم کوه چې دا ستادپاره زیاتی مونځ دې امیددې چې

رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ۝
رب ستا | ځاني | ستانیلي شوی ته |
ستارب تاله په مقام محمود کښې ځائي درکړی

**قوله تعالى:- اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ**

**په قرآن کښې دپنځو واړو مونځونونوذکر**:-دمونځونوپه خپل وخت باندې داداکولوحکم کولې شی. ﴿دلوك﴾ نه مراد غروب دې یا زوال دې([2])امام ابن جریر رحمه الله د زوال قول خوښ کړې دې اود اکثرو مفسرینو قول هم دادې.حضرت جابر رضي الله عنه فرمانی چه مادحضور ﷺ اودهغوی سره دهغه صحابه کرامو رضي الله عنهم کوم چه هغوی غوښتل دعوت اوکړو د خوراك کولو سره د نمرد ډوبیدلونه پس زمونږ د کورنه لاړل. حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ئی اوفرمائیل څه هم داوخت دلوك شمس دې.([3]) نود پنځو واړو مونځونو وخت په دې آیت کښې بیان شو﴿غسق﴾نه مرادتیاره ده چه څوك وانی ددلوك نه مرادغروب دې دهغوی په نیزخود ماسپښین مازیګرماښام اوماسخوتن بیان خوهم په دې کښې دې اودسحربیان په﴿وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ۭ﴾کښې دې. د حدیث نه په تواتر اقوال اوافعال د حضور ﷺ نه د پنځو مونځونو د وختونه ثابت دی او الحمدلله مسلمانان په دې باندې دی د هرې روستنئی زمانې خلق ئی د وړاندینئی زمانې د خلقو نه برابراخلی راروان دی لکه چه د دې مسئلود بیان په مقام کښې د دې پوره تفصیل موجود دې.

---

([1]) ٨/الانفال: ٣٣.
([2]) الطبری: ٥١٤/١٧.
([3]) الطبری: ٥١٨/١٧.

Scanned with Ca

والحمدلله.د سحر د قران په تلاوت د شپې او ورځې فرښتې راځي[١] صحيح بخاري کښې دي چه د ځان له سړی په مونځ باندې د جمع مونځ پنځه ويشت (٢٥) درجې زيات فضيلت لري. د سحر د مانځه په وخت د ورځې او شپې فرښتې يوځائ کيږي. دابيان کولوسره د حديث راوی حضرت ابوهريره ﷛ فرمائي. ته د قرآن دا آيت اولوله ﴿ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ﴾ [٢].

**د قُرْاٰنَ الْفَجْرِ معنی:-** بخاري اومسلم کښې دی دشپې اوورځې فرښتې تاسوله برابرراځي. دسحراو مازيګر دمانځه په وخت کښې د دوی اجتماع کېږي تاسو سره چه کوموفرښتو شپه تيرکړې وی هغه کله خيژي نو الله ﷻ د هغوی نه معلومول کوی سره د دې چه هغه د دوی نه زيات پيژندونکې دې چه تاسو زما بنديګان په کوم حال کښې پريخوده؟ هغوی جواب ورکوی هغوی وائي چه مونږ هغوی له اورسيدو نو په مانځه کښې وو او چه واپس راغلو نو هم په مانځه کښې موپريخودل[٣] حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ فرمائي چه دا څوکيدارې فرښتې دسحر په مانځه کښې راجمع کيږي بيادوی خيژي اوهغوی پاتې کيږي[٤] د ابن جرير په يوحديث کښې د الله ﷻ د نزول او د دې ارشاد فرمائيلوذکر کړې دې چه څوك شته چه مانه بښنه اوغواړي او زه هغه اوبښم. څوك شته چه مانه سوال اوکړي اوزه هغه ته ورکړم. څوك شته چه مانه دعا اوغواړي او زه د هغه دعا قبوله کړم. تردې چه سحر راوخيژي نو په دغه وخت الله ﷻ موجود وی اود شپې فرښتې اود ورځې فرښتې جمع کيږي.

**پيغمبر ﷺ ته د تهجدد مونځ حکم:-** بيا الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته د تهجد د مونځ حکم ورکوی اُود فرضو خوحکم دې. صحيح مسلم کښې دی چه دحضور ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه د فرض مونځ نه پس کوم يو مونځ غوره دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل د شپې مونځ[٥] تهجد وائي د خوب نه پس مونځ ته. لغت کښې د مفسرينوپه تفسيرونوکښې او حديث کښې موجود دی چه د حضور ﷺ عادت مبارك هم دا وو چه اوده کيدونه پس به ئې تهجد کول[٦] لکه چه په خپل ځائ باندې بيان موجود دې. اود حسن بصري ﷫ قول دې چه کوم مونځ د ماسخوتن د مانځه نه پس وی.[٧] ممکن دی چه دې نه هم مراد د اوده کيدونه پس مونځ وی. بيافرمائی چه دا زياتوالې صرف ستاد پاره دې. بعضې خووائی چه دتهجد مونځ د نورو په خلاف صرف په حضور ﷺ باندې فرض وو. بعضې وائی دا خصوصيت په دې وجه دې چه د حضور ﷺ ټول وړاندې روستو ګناهونه معاف وو اودامتيانو د دې مونځ په وجه ګناهونه معاف کيږي.[٨] زمونږ د دې حکم په ځائ راوړلو سره به مونږ تا په داسې ځائ اودروو چه چرته په اودريدو باندې ټول مخلوق به ستا تعريفونه کوی او پخپله خالق اکبر هم وائی چه مقام محمود باندې به ته د قيامت په ورځ د خپل امت د شفاعت د پاره ځې چه د دغه ورځې د ويرې نه ته هغوی ته راحت ورکړې. [٩].

**مقام محمود اودحضوراکرم ﷺ فضيلت:-** حضرت حذيفه ﷛ فرمائی چه خلق به هم په يوميدان کښې راجمع کولې شی. آواز کونکې به خپل آوازهغوی ته اوروی سترګې به کولاوشی پښې ابله او بربنډ بدن به وی

---

[١] الطبری:١٧/٥٢٠، ترمذی: کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة بنی اسرائیل:٣١٣٥، وهوصحیح، ابن ماجه:٦٧٠، احمد:٢/٤٧٤
[٢] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة بنی‌اسرائیل باب قوله﴿ان قرآن الفجرکان مشهودا....﴾:٤٧١٧، صحیح مسلم:٦٤٩.
[٣] صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب فضل صلاة العصر:٥٥٥، صحیح مسلم:٦٣٢، احمد:٢/٤٨٦، ابن حبان:١٧٣٧.
[٤] الطبری:١٧/٥٢١.
[٥] صحیح مسلم کتاب الصیام باب فضل صوم المحرم:١١٦٣، ابوداؤد:٢٤٢٩، ابن ماجه:٧٤٢، احمد:٢/٣٠٣، مسندابی یعلی:٦٣٩٢.
[٦] صحیح بخاری کتاب التهجد باب من نام اول اللیل واحیا اخره:١١٤٦، صحیح مسلم: ٧٣٩.
[٧] الطبری:١٧/٥٢٤.
[٨] الطبری:١٧/٥٦٥، احمد:٥/٢٥٥.
[٩] الطبری:١٧/٥٢٦

Scanned with Ca

لکه ځنګه چه پیداکړې شوی وو. ټول به ولاړوی اوڅوك به هم د الله ﷻ د اجازت نه بغیرخبره نه شی کولې.آواز به راشی اې محمد ﷺ حضور ﷺ به وائی ﴿لبيك وسعديك﴾ اې الله ټولې ښیګړې هم ستا په لاس کښې دی اوبدی ستادطرف نه نه ده. لارموندونکی هم هغه دی چاته چه ته هدایت اوکړې.ستاغلام ستا په وړاندې موجود دې هغه هم ستا په امدادباندې قایم دې اوهم ستاطرف ته تیتیدونکې دې. ستا د نیولونه بغیرستاد دربار بل هیڅ ځایٔ د پناه نشته. ته د برکتونو والا ئې ته دلویووالا ئې رب البیت ته پاك ئې.دادې مقام محمودد کوم ذکر چه الله ﷻ په دې آیت کښې کړې دې(١)نودامقام مقام شفاعت دې.قتاده رحمه الله فرمائی چه دټولونه اول به حضور ﷺ دزمکې نه رابهرکیږی اودټولونه وړاندې به شفاعت هم حضور ﷺ کوی(٢)اهل علم وائی چه هم دا مقام محمود دې د کوم وعده چه الله ﷻ کریم ذات خپل رسول مقبول ﷺ سره کړې ده. بې شکه ډیرې بزرګئی به د قیامت په ورځ داسې وی په کومو چه به نور څوك د هغوی سره شریك نه وی اوډیرې بزرګئی به داسې ملاویږی په کوموکښې چه به څوك د حضور ﷺ برابرنه وی. د ټولونه اول به هم د حضور ﷺ د قبر زمکه شلیږی اوحضور ﷺ به په سورلئی سور د محشر میدان ته ځی. دحضور ﷺ به یوه جهنډا وی د حضرت آدم عليه السلام نه واخله ټول په ټول به د هغې لاندې وی. حضور ﷺ ته به حوض کوثر ملاویږی. په کوم چه به د ټولونه زیات خلق موجود وی. ډیر لوئ شفاعت به د حضور ﷺ وی چه الله ﷻ به د مخلوق د فیصلود پاره راشی اودا به د هغې نه پس وی چه خلق به حضرت آدم عليه السلام حضرت نوح عليه السلام حضرت ابراهیم عليه السلام حضرت موسی عليه السلام او حضرت عیسی عليه السلام له راشی او ټول به انکار اوکړی. بیا به حضور ﷺ له راشی او هغوی به د دې د پاره تیار شی لکه ځنګه چه د دې احادیث په تفصیل سره راروان دی. ان شاء الله.

**د شفاعت بیان:**-حضور ﷺ به د هغه خلقو شفاعت کوی د کوموباره کښې چه حکم شوې وی چه دوی دوزخ طرف ته بوځئی بیا به هغوی د حضور ﷺ په شفاعت سره راواپس کړې شی. د ټولو نه وړاندې به هم د حضور ﷺ د امت فیصلې کیږی. هم هغوی ﷺ به سره د خپل امت نه د ټولونه وړاندې په پل صراط باندې تیریږی. هم حضور ﷺ به جنت ته د تلوړومبې سفارشی وی لکه ځنګه چه د صحیح مسلم د حدیث نه ثابت دی(٣)د صور په حدیث کښې دی چه ټول مؤمنان به هم د حضور ﷺ په شفاعت سره جنت ته ځی. د ټولونه اول به حضور ﷺ جنت ته ځی اود حضور ﷺ امت به د ټولوامتونونه اول ځی. دحضور ﷺ په شفاعت سره به د کمې درجې جنتی اوچتې درجې ته رسی. هم حضور ﷺ د وسیله خاوند دې کوم چه د جنت د ټولونه اعلی منزل دې اود حضور ﷺ نه علاوه به بل چاته نه شی ملاویدې. داصحیح دی چه د الله ﷻ په حکم به دګناهګارانوشفاعت فرښتې هم کوی خودحضور ﷺ شفاعت د څومره خلقو باره کښې وی د هغې دشمیر بغیرد الله ﷻ نه چاته پته اوعلم نشته په دې کښې د حضور ﷺ په شان اود هغه برابر څوك نشته. دکتاب السیرة په آخرکښې باب الخصائص کښې ما دا ښه په وضاحت سره بیان کړی دی. والحمدلله.

**دمقام محمود متعلق نور احادیث:**-اوس دمقام محمودباره کښې احادیث واورئی،الله ﷻ دې زمونږ امداد اوکړی.بخاری کښې دی حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائی خلق به د قیامت په ورځ د زنګونونوپه مخ پریوتې وی هر یوامت به د خپل نبی شاته وی اې فلانکیه زمونږ شفاعت اوکړه تردې چه د شفاعت انتهابه دحضرت محمد ﷺ طرف ته شی نو هم دا هغه خبره ده چه الله ﷻ به حضور ﷺ په مقام محمود باندې

---

(١) الطبری:١٧/٥٢٦.

(٢) الطبری:١٧/٥٢٨.

(٣) صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی قول النبی ﷺ ((انااول الناس یشفع فی الجنة انا اکثرالانبیاءتبعا)):١٩٦.

Scanned with Ca

اودروی( [1] )ابن جریر کښې دی حضورﷺ فرمائي نمربه ډیر نیزدې وی تردې چه خوله به د غوږونو نیمئي ته اورسیږی. په دې حال کښې به خلق حضرت آدمؑ ته فریاد اوکړی هغه به صفاانکارکوی بیا به حضرت موسیؑ ته وائی هغوی به هم دغه جواب ورکوی چه زه د دې قابل نه یم بیابه حضرت محمدﷺ ته وائي. حضورﷺ به د مخلوق د شفاعت د پاره روانیږی تردې چه د جنت د دروازې کونډه به اونیسی. په هغه ورځ به الله ﷻ حضورﷺ مقام محمودته اورسوی. ( [2] )

دبخاری شریف د دې آیت په آخرکښې داهم دی چه اهل محشر به ټول په ټول دحضورﷺ تعریفونه کوی( [3] )بخاری شریف کښې دی کوم سړې چه اذان واوری او ((اللهم رب هذه الدعوة التامة)) اولولی د هغه د پاره د قیامت په ورځ زماشفاعت حلال دې.( [4] ) مسند احمد کښې دی حضورﷺ فرمائي د قیامت په ورځ به زه د نبیانو امام دهغوی خطیب اودهغوی سفارشی یم اوزه دادځه فخر نه نه وایم.( [5] )دا ترمذی شریف کښې هم راوړې دې او دې ته ئی حسن صحیح وئیلې دې. ابن ماجه کښې هم دا دې. د حضرت ابی بن کعبؓ نه هغه حدیث شریف تیرشوې دې په کوم کښې چه قرآن پاک په اووه قراءتونو باندې قرآن لوستل بیان دی د دې په آخر کښې دی ما ونیل اې الله زما امت اوبښه یا الله زما امت اوبښه. دریمه دعامادهغه ورځ دپاره ساتلې ده په کومه ورځ چه به ټول مخلوق زماطرف ته رغبت کوی تر دې چه حضرت ابراهیمؑ هم. ( [6] )

**شفاعت اوږد حدیث او مقام محمود:**-مسند احمد کښې دی چه مؤمنان به د قیامت په ورځ راجمع کیږی بیا به د هغوی په زړه کښې خیال اچولې شی چه مونږ چاته اووایو زمونږ سفارش اوکړی اومونږ ته د دې ځائ نه آرام راکړی نو ټول به حضرت آدمؑ له راشي او وائی به اې آدمؑ ته خود ټولوانسانانو پلارئی الله ﷻ ته په خپل لاس باندې جوړکړې ئی ستاد پاره ئی په خپلو فرښتوباندې سجده اوکړه او تاته ئی د ټولوڅیزونو نومونه اوخودل. تاسو زمونږ سفارش خپل رب له یوسه دې د پاره چه مونږ ته د دې ځائ نه آرام ملاوشی. حضرت آدمؑ به وائی چه زه د دې قابل نه یم هغوی ته به خپله خطا وریاده شی اود الله ﷻ نه به اوشرمیږی. فرمائی به تاسو حضرت نوحؑ له لاړشئی دالله ﷻ رومبی رسول دې ځوك چه د زمکې والا طرف ته الله ﷻ اولیګلو. دوی به راشی اود دې ځائ نه به هم ورته داسې جواب ملاوشی چه زه د دې لائق نه یم هغه ته به هم خپله خطا وریاده شی دالله ﷻ نه مې داسې سوال کړې چه د هغې ماته علم نه وو. دخپل پروردګار نه به شرمیږی او وائی به حضرت ابراهیم خلیل اللهؑ له لاړشئی هغوی له به راشی هغوی به هم فرمائی چه زه د دې قابل نه یم حضرت موسیؑ له لاړ شئ هغه سره الله ﷻ خبرې کړی دی او هغه ته ئی تورات ورکړې وو. خلق به حضرت موسیؑ له راشی خو هغه به هم وائی چه په ماکښې دومره قابلیت چرته دې؟ بیا به د هغه قتل ذکر اوکړی چه بغیر د مقتول د بدله نه هغوی کړې وو نو په دې وجه به د الله ﷻ نه شرمیږی او وائی به تاسو حضرت عیسیؑ له لاړشئی چه د الله ﷻ بنده د هغه کلمه اود هغه روح دې. هغوی به دلته راشی نو هغه به هم وائی چه زه د دې قابل نه یم تاسو حضرت محمدﷺ له لاړشئی د چا چه اولنئی او آخری ګناهونه ټول بښلې شوی

---

[1] ) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة بنی اسرائیل باب قوله ﴿عسی ان یبعثك ربك .....﴾:٤٧١٨.
[2] ) الطبری:١٧/٥٢٩.
[3] ) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب من سال الناس تکثرا:١٤٧٥، ابوداؤد:٥٢٩،ترمذی:٢١١، احمد:٣/٣٥٤، ابن حبان : ١٦٨٩.
[4] ) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة بنی اسرائیل باب قوله ﴿عسی ان یبعثك ربك.........﴾:٤٧١٩.
[5] ) احمد:٥/١٣٧، ترمذی: کتاب المناقب باب ((سلوالله لی الوسیلة....)):٣٦١٣، وهوحسن، ابن ماجه: ٤٣١٤.
[6] ) صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین باب بیان ان القرآن انزل علی سبعة احرف:٨٢٠.

Scanned with Ca

دی نو هغه ټول به ماله راشی زه به اودریږم د خپل رب نه به اجازت غواړم کله چه هغه اووینم نو په سجده کښې به راپریوځم ترکومې چه الله ﷻ ته منظوروی په سجده کښې به پروت یم. بیا اوفرمائیلې شی ای محمد ﷺ سر اوچت کړه وایه اوریدې به شی شفاعت کوه قبلولې به شی غواړې درکولې به شی.زه به سراوچت کړم اود الله ﷻ به هغه تعریفونه اوکړم چه هغه به ئې ماته ښائی. بیابه زه سفارش کوم. زما د پاره به یوحد مقرر کړې شی زه به هغه جنت ته اورسوم. بیابه په دویم ځل خپل رب ته په کتوباندې سجده اوکړم ترکومې چه هغه غواړی زه به په سجده کښې یم بیا به اوونیلې شی ای محمدﷺ سراوچت کړه وایه اوریدې به شی سوال کوه درکولې به شی شفاعت کوه قبلولې به شی نوزه به سر اوچت کړم اود رب به هغه حمد بیان کړم کوم چه هغه ماته ښائی. زه به شفاعت کوم نوزما د پاره به یوحدمقررکړې شی زه به هغه هم جنت ته اورسوم.

بیابه په دریم ځل راواپس شم خپل رب ته په کتوبه په سجده راپریوځم ترکومې چه الله ﷻ غواړی هم په دې حالت کښې به پروت یم بیابه اوفرمائیلې شی ای محمدﷺ سراوچت کړه خبره کوه ستا خبره به اوریدې شی سوال کوه درکولې به شی سفارش کوه قبلولې به شی.زه به سراوچت کړم او حمدبه بیان کړم کوم چه به ماته هغه ښائی سفارش به اوکړم خوزما د پاره به حد مقررکولې شی زه به هغه هم جنت ته اورسوم بیا به په څلورم ځل راځم او وایم به چه پروردګار اوس خو صرف هغه پاتې شوکوم چه قرآن رامنع کړی دی. فرمائی چه د دوزخ نه به هرهغه سړې راوځی چا چه ﴿لااله الاالله﴾ وئیلې وی اود هغه په زړه کښې د یوې ذرې برابر هم ایمان وی. داحدیث په بخاری او مسلم کښې هم دې. ( [1] )

مسند احمدکښې دی حضورﷺ فرمائی زما امت به په پل صراط باندې تیریږی زه به هلته ولاړ یم ګورم به چه ماله به حضرت عیسیٰ ؑ راشی اوفرمائی به ای محمدﷺ د انبیاؤ کرامو ډله تاسو ته څه غواړی هغوی ټول ستاسو دپاره راجمع دی اود الله ﷻ نه دعاکوی چه ټول مخلوق چرته هم غواړی جداجدا کړی دې وخت کښې هغوی په سخت غم کښې دی.ټول مخلوق ته لکه چه په خولوکښې واګې اچولې شوی دی.په مؤمنانوخودزکام په شان دی ولې په کافرانو باندې دمرګ په شان دی. حضورﷺ به فرمائی چه اودریږئی هم هلته درځم. نو حضورﷺ به لاړشی اود عرش لاندې به اودریږی هغه عزت او قدر به ورته ملاوشی چه هیڅ یو اوچتې فرښتې او نه یو لیږلې شوی نبی یارسول ته به ملاوشوې وی. بیا به الله ﷻ د حضرت جبرائیل ؑ طرف ته وحی اوکړی چه محمدﷺ له لاړشه او ورته اووایه ته سراوچت کړه غواړه ملاویږی به سفارش کوه قبلیږی به نو ماته به دخپل امت شفاعت ملاوشی چه د هرو یوکم سلو نه یو راوباسه زه به باربار د خپل رب عزوجل طرف ته ځم راځم اوهرځل به سفارش کوم تردې چه الله ﷻ به ماته ارشاد اوفرمائی چه ای محمدﷺ لاړشه او په مخلوق کښې چه چا یوځل هم په خلوص سره د﴿لااله الاالله﴾ ګواهی ورکړې ده او هم په دې باندې مړشوې دې هغه هم جنت ته اورسوه. ( [2] )

مسنداحمدکښې دی حضرت بریده ؓ حضرت معاویه ؓ له لاړو هغه وخت یوسړی څه وئیل هغه هم د څه وئیلواجازت اوغوښتلو حضرت معاویه ؓ اجازت ورکړو د هغوی خیال دا وو چه کوم څه دا رومبې سړې وائی هغه به بریده ؓ هم وائی.حضرت بریده ؓ اوفرمائیل مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی حضورﷺ فرمائی زما د الله ﷻ نه دا امیدې چه په زمکه باندې څومره ونې دی اوکاڼړی دی د دې د شمیربرابر به زه د خلقو شفاعت کوم نواې معاویه ؓ ته خودې د دې امیدوی او حضرت علی ؓ دې ناامیده وی؟ ( [3] )

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿لماخلقت بیدی﴾: ٧٤١٠، صحیح مسلم:١٩٣، احمد:١١٦/٢، ابن حبان:٦٤٦٤.

[2]) احمد:١٧٨/٣ وسنده صحیح، مجمع الزوائد:٣٧٣/١٠.

[3]) احمد:٣٤٧/٥.

Scanned with Ca

بل حديث: مسنداحمدكښې دى چه د مليكه دواړه ځامن د حضورﷺ په خدمت كښې حاضر شو وئې وئيل زمونږ مور به زمونږ د پلار ډير زيات عزت كولو په ماشومانو باندې ډيره مهربانه او شفقت به ئې كولو په ميلمستيا كښې به هيڅ كمې نه راوستلو اوهغې د جاهليت په زمانه كښې خپلې ژوندئې لونړه خښې كړې وې حضورﷺ اوفرمائيل بياهغه دوزخ ته اورسيده.هغوى دواړه خفه غمگين شوواپس لاړل. حضورﷺ حكم اوكړو چه هغوى واپس راولئى هغوى واپس شواودهغوى په مخونوباندې خوشحالى وه چه كيدې شى اوس حضورﷺ څه ښكلې خبر واوروى. حضور ﷺ اوفرمائيل واورئى زما مور او ستاسو مور دواړه يوځائ دى. يومنافق دا واوريده نو وئى وئيل چه د ده نه د ده مور ته څه فائده؟ مونږ ده پسې ځو.يوانصارى چه دحضورﷺ نه به ئى د ټولونه زيات سوالونه كولوعادت وو هغه اوو‌ئيل يارسول اللهﷺ دده باره كښې يا د دې دواړو باره كښې الله ﷻ تاسو سره څه وعده كړې ده؟ حضورﷺ ته معلومه شوه چه ده خو څه اوريدلى دى وئى فرمائيل نه زما رب غوښتلې دى نه ما دې باره كښې څه طمع كړې ده. واوره زه به د قيامت په ورځ مقام محمود ته اورسولې شم. انصارى اوو‌ئيل هغه كوم مقام دې؟ حضورﷺ اوفرمائيل چه دا به هغه وخت وى چه كله به تاسو بربنډ بدن او ناسونته راوستلې شئى. د ټولونه اول به حضرت ابراهيم ﷺ ته كپړې اچولې شى. الله ﷻ به ارشاد اوفرمائى زما خليل ته كپړې واچوئى نو دوه د سپين رنگ څادرونه به ورته واغوندى اوهغه به د عرش طرف ته مخ كړې ناست وى بيابه زما لباس راوړلې شى. زه به د هغه نه ښى طرف ته داسې ځائ كښې ولاړيم چه ټول اولنى او آخرى خلق به په ما باندې غبطه كوى اود كوثر نه واخله ترحوض پورې به د هغه د پاره كولاوكړې شى. منافق وئيل چه د اوبود روانولودپاره خود خاورې او كانړو كيدل ضرورى دى. حضورﷺ اوفرمائيل چه او د هغې خاوره مشك او كانړى مرغلرې دى. هغه وئيل چه مونږ خو چرته داسې نه دى اوريدلى ښه ده د اوبوپه غاړه ونې هم كيدل پكار دى. انصارى وئيل يارسول الله ﷺ هلته به ونې هم وى؟ حضورﷺ اوفرمائيل اود سرو زرو د ښاخونو ونې. منافق وئيل د نن په شان خبرې خو مونږ كله هم نه دى اوريدلى ښه ده په ونوكښې ميوې او پاڼې هم پكار دى. انصارى وئيل يارسول الله ﷺ په دې ونوكښې به ميوې اوپاڼې هم وى؟حضورﷺ اوفرمائيل او قسم قسم جواهر د دې اوبه به د پئيونه زياتې سپينې وى اود شاتو نه ډيرې خوږې وى. دې نه چه چا يوگوټ هم اوڅكلې هغه به هيڅ كله هم تږې نه شى او چه څوك دې نه محروم شو هغه به هيڅ كله هم موړ نه شى([1])دا حديث مبارك ضعيف دې (حاشيه ابن كثير)

ابوداوَدطيالسى كښې دى بيا به الله ﷻ د شفاعت اجازت وركړى.نو روح القدس جبرائيل ﷺ به اودريږى بيا به ابراهيم خليل الله ﷺ اودريږى اوبياحضرت عيسى ﷺ اوبيا حضرت موسى ﷺ بيا به ستاسونبى حضرت محمدﷺ اودريږى. د حضورﷺ نه به د چا شفاعت زيات نه وى. هم دا مقام محمود دې د كوم ذكر چه په دې آيت كښې دې([2])مسنداحمد كښې دى خلق به د قيامت په ورځ اوچتولې شى زه به د خپل امت سره په يوه غونډئى باندې ولاړيم. ماته به الله ﷻ د شين رنگ حله راواغوندوى بيا به ماته اجازت راكولې شى اوچه څه وئيل غواړم وايم به، هم دغه مقام محمود دې. ([3])

مسنداحمدكښې دى د قيامت په ورځ به د ټولونه وړاندې ماته د سجدې اجازت راكولې شى اوهم ماته به دټولونه اول دسر اوچتولواجازت راكولې شى. زه به خپل وړاندې روستو ښى او گس طرف ته اوكورم خپل امت به په نورو امتونوكښې اوپيژنم. چاتپوس اوكړو چه حضورﷺ نور ټول امتونه چه د حضرت نوح ﷺ د وخت پورې وى په دې ټولوكښې به تاسو خاص خپل امت څنگه اوپيژنئى؟ حضورﷺ ارشاد

[1]) احمد:١/٣٩٨-٣٩٩

[2]) مسندطيالسى:٣٨٩.

[3]) احمد:٣/٤٥٦.

Scanned with Ca

اوفرمائيلو چه داودس د اثرپه وجه به د هغوی پښې لاسونه اومخونه پرقيږی د هغوی نه بغيربه بل هيڅ څوك داسې نه وی اوزه به هغوی داسې اوپيژنم چه د هغوی عمل نامه به د هغوی په ښی لاس کښې وی. اونښې به نی دا وی چه د هغوی اولاد به د هغوی نه وړاندې وړاندې ګرځی. (١)

**د شفاعت متعلق بل اوږد حديث مبارك:-** مسنداحمدکښې چه حضورﷺله غوښه راوړلې شوه اودملا غوښه د حضورﷺ ډيره خوښه وه هم هغه حضورﷺ ته ورکړې شوه حضورﷺ دې نه غوښه پريکوله اوخوړله نی او وئی فرمائيل چه د قيامت په ورځ به د ټولو خلقو سردار زه يم. الله ﷻ به ټول وړاندينی او روستونی په يوميدان کښې راجمع کوی.آواز کونکې به هغوی ته واوروی سترګې به نی پورته اوچتې شی نمر به بالکل نيزدې شی اوخلق به په داسې سختنی غم او خفګان کښې اخته شی چه د برداشت نه به بهر وی هغه وخت به دوی په خپل مينځ کښې وائی چه ګورئی مونږ ټول څنګه په مصيبت کښې اخته يو راځئی چه چاته اووايو او څوك سفارشی جوړکړو الله ﷻ ته ئی اوليګو نو په مشوره باندې به خلق حضرت آدم ؑ له راشی او وائی به تاسو دټولوانسانانوپلارئی الله ﷻ ته په خپل لاس سره پيداکړې ئی تاکښې خپل روح درپوك وهلې او په خپلو فرښتو سره تاته د سجدې حکم کړې دې تاته ئی سجده کړې ده. آياتاسو زمونږ دا تکليف نه وينئی؟ تاسو پروردګارته شفاعت اوکړئی حضرت آدم ؑ به جواب ورکړی چه زما رب نن دومره په غصه دې چه دې نه وړاندې داسې نه دې په غصه شوې اونه به د دې نه پس وی. الله ﷻ زه ديوې ونې نه منع کړې ووم خومانه نافرمانی اوشوه. نن خو ماته خپل خيال دې نفسی نفسی به وائی تاسو بل چاله لاړشئی. خلق به د هغه ځايه حضرت نوح ؑ له لاړشی او وائی به ای نوح ؑ تاسو الله ﷻ د زمکې والا ته د ټولونه اول رسول جوړکړې ليګلې وې ستاسو نوم هغه شکر ګذار بنده کيخودې وو تاسو زمونږ د پاره الله ﷻ ته شفاعت اوکړی. ګورئی نه چه مونږ په کوم قسم مصيبت کښې اخته يو؟ حضرت نوح ؑ به جواب ورکړی ګورئی نه چه نن زما پروردګار څومره غضبناك دې چه نه د دې نه وړاندې داسې په غصه شوې دې نه به دې نه پس داسې غصه وی. زما يوه دعاوه چه دقوم خلاف مې غوښتې وه ماته خودخپل ځان فکر دې نفسی نفسی به وائی تاسو بل چاله لاړشئی. حضرت ابراهيم ؑ له لاړشئی. خلق به د حضرت ابراهيم ؑ خواله لاړشی او وائی به تاسو د الله ﷻ نبی ئی د الله ﷻ خليل ئی آياتاسو زمونږ دا تکليف نه ګورئی؟ حضرت ابراهيم ؑ به اوفرمائی چه نن زما رب ډير غصه دې چه نه د دې نه وړاندې دومره غصه وو اونه به د دې نه پس وی. بيا به هغوی خپل دروغ رايادکړی او نفسی نفسی به وائی.هغه به وائی چه زمانه بغيرچرته بل چاله لاړشئ حضرت موسی ؑ له لاړشئی. خلق به حضرت موسی ؑ له لاړشی او وائی به ای موسی ؑ ته د الله ﷻ رسول ئی او الله ﷻ تاسره کلام کړې دې تاسو زمونږ پروردګار له زمونږ شفاعت يوسئی اوګورئی چه په څنګه سخت آفت کښې يو؟ هغوی به فرمائی چه نن خو زمونږ رب سخت خفه دې داسې چه دومره کله هم نه دې خفه شوې اونه به دې نه پس داسې خفه شی.ما دالله ﷻ د حکم نه بغيريوانسان وژلې وونفسی نفسی تاسو ماپريږدئی بل چاته اووائې حضرت عيسی ؑ له لاړشئی. خلق به حضرت عيسی ؑ له راشی او وائی به ای عيسی ؑ ته رسول الله کليم الله او روح الله ئی کوم چه حضرت مريم له ليګلې شوې وو. په وړوکوالی کښې تا په زانګوکښې خبرې شروع کړې وې. لاړشه زمونږ رب ته زمونږ شفاعت اوکړه. خيال خو اوکړه چه مونږ څومره بې آرامه يو؟ حضرت عيسی ؑ به فرمائی چه د نن په شان غصه خو نه مخکې وو اونه به دې نه پس وی نفسی نفسی نفسی. هغوی به د يوې ګناه ذکر هم او نه کړی وائی به تاسو بل چاله لاړشئی. ګورئی زه درته ښايم حضرت محمدﷺ له لاړشئی نو هغوی ټول به حضورﷺ له راشی او وائی به ای محمدﷺ تاسو رسول الله ئی تاسو خاتم الانبياءئی الله ﷻ ستاسو

١) احمد:٥/١٩٩.

تول مخکې روستي ګناهونه معاف کړخولي تاسو زمونږ شفاعت اوکړئي اوګورئي مونږ ځومره په سختوکښې راګيريو، زه به اودريږم اود عرش لاندې به لاړشم او د خپل رب په وړاندې به سجده کښې راپريوځم. بيا به الله ﷻ په ماباندې هغه د حمد اوثناء الفاظ کولاوکړي چه مانه وړاندې به په چا باندې نه وي کولاوشوي. بيا به ماته اوفرمائيلې شي اې محمدﷺخپل سر اوچت کړه غواړه تاته به ملاويږي شفاعت کوه منظورکيږي به زه به خپل سر د سجدې نه اوچت کړم اووايم به اې زما پروردګار زما امت زماامت زما ربه زماامت اې الله زما امت. اوبه فرمائيلې شي چه لاړشه خپل امت کښې چه په چاباندې څه حساب نه وي جنت ته ئي بوزه هغوي د جنت د ښي طرف دروازې ته اورسوه د نورو ټولودروازو نه هم هغه ته منع نشته. د الله ﷻ قسم دچا په لاس کښې چه دمحمد (ﷺ)خان دې دجنت په دوو چوکاټونو کښې دومره فاصله ده ځومره چه په مکه اوحمير کښې يا مکه او بصره کښې. داحديث په بخاري اومسلم کښې هم شته.([1])مسلم کښې دی چه د قيامت په ورځ به د آدم ﷺ د اولاد سردار زه يم. په هغه وخت به د ټولو نه وړاندې زما د قبرزمکه شليږي.هم زه ړومبې شفاعت کونکې يم اوهم زما به ړومبې شفاعت قبليږي.([2])ابن جريرکښې دی چه دحضورﷺ نه ددې آيت د مطلب تپوس اوکړې شو نو حضور ﷺ اوفرمائيل دا شفاعت دې. ([3]) مسنداحمدکښې دی چه مقام محمودهغه مقام دې په کوم کښې چه به زه د خپل امت شفاعت کوم. ([4])

عبدالرزاق کښې دی د قيامت په ورځ به الله ﷻ د ځرمنې په شان دا زمکه راکاږي. ترڈې چه د هر سړي د دوو قدمونود کيخودو ځائ به پاتې شي. د ټولونه اول به زه راوغوښتې شم حضرت جبرائيل ﷺ به د الله ﷻ ښي طرف ته وي د الله ﷻ قسم دې نه وړاندې هغه دې نه وو ليدلې زه به وايم اې الله ﷻ دې فرښتې ماته وئيلې وو چه تا دې زما طرف ته راليګلې وو الله ﷻ به اوفرمائي ده رښتيا وئيلې وو. اوس به زه دې وينا کولو سره شفاعت کوم اې الله ستا بنديګانودزمکې په مختلفو حصو باندې ستا عبادت کړې دې. حضورﷺ فرمائي چه هم دا مقام محمود دې.([5]) داحديث مرسل دې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَقُلْ | رَّبِّ | اَدْخِلْنِيْ | مُدْخَلَ | |
| اواووايه | چې اے ربه زما | داخل کړې ما | په داخليدو | |
| او اووايه چې ائې زما ربه! ما (په مدينه کښې) | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| صِدْقٍ | وَّاَخْرِجْنِيْ | مُخْرَجَ | صِدْقٍ | وَّاجْعَلْ لِّيْ | مِنْ لَّدُنْكَ |
| رښتياووځ سره | اواوباسې ما | په ايستلو | رښتياوځ سره | اوجوړ کړه مالره | دطرف خپل نه |
| په ښه شان داخل کړه او (له مکې نه) ما په عزت سره اوباسه او ماله دخپل طرفنه غلبه | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سُلْطٰنًا | نَّصِيْرًا ﴿٨٠﴾ | وَقُلْ | جَآءَ الْحَقُّ | وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ط | اِنَّ الْبَاطِلَ | كَانَ |
| يواقتدار | مددګار | اووايه | چې راغې حق | او ختم شو باطل | بيشکه باطل | دې |
| اومدد راکړه او دا اعلان اوکړه چې حق (بس دادې چې) راغلو اوباطل لاړو ورک شو بيشکه باطل خو (هسې هم) | | | | | | |

[1]) صحيح بخاری کتاب التفسير سورت بنی اسرائيل باب ﴿ذرية من حملنا مع نوح انه کان عبداشکورا....﴾:٤٧١٢،صحيح مسلم:١٩٤،
[2]) صحيح مسلم کتاب الفضائل باب تفضيل نبيناﷺ على جميع الخلائق:٢٢٧٨.
[3]) الطبری:٥٢٩/١٧.
[4]) احمد:٤٤١/٢.
[5]) حاکم:٥٧٠/٤.

Scanned with Ca

| |
|---|
| زَهُوقًا ﴿٨١﴾ |
| ځیز دختمیدو |
| د ورکیدو ځیز دې |

**قوله تعالی:- وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ**

**حضورﷺ ته دهجرت حکم:-** مسنداحمدکښې د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ په مکه مکرمه کښې وو بیا هغوی ته دهجرت حکم اوشو اودا آیاتونه نازل شو.امام ترمذی رحمه الله فرمائی داحدیث حسن صحیح دې[1] حضرت حسن رحمه الله فرمائی دمکې کافرانو مشوره اوکړه چه حضورﷺ قتل کړی یانی اوباسی یائی قیدکړی نود الله ﷻ هم دا اراده اوشوه چه د مکې والا ته دهغوی د بدعملو مزه وراوڅکی. هغه خپل پیغمبر ته دمدینې دتلو حکم اوفرمائیلوهم داپه دې آیت کښې بیانیږی[2] قتاده رحمه الله فرمائی دمکې نه وتل او مدینې ته داخلیدل هم دا قول د ټولونه زیات مشهور دې[3] د ابن عباس ﷺ نه روایت دې دصداقت دداخلې نه مرادمرګ دې اود صداقت نه د وتلو مراد د مرګ نه پس ژوندون دې.نوراقوال هم دی خوډیر صحیح هم رومبې قول دې.امام ابن جریر رحمه الله هم دا اختیاروی.

**غلبه د دین په حکم سره ممکن ده:-**بیا حکم اوشو چه د غلبه او امداد دعاهم زمونږ نه کوه. په دې دعا باندې الله ﷻ دروم ملك فارس اود عزت ورکولو وعده ئې اوفرمائیله. دومره خوحضورﷺ هم معلومه کړې وه چه بغیرد غلبه نه د دین خورول او زور ناممکن دې د دې د پاره ئې د الله ﷻ نه امداد اوغلبه اوغوښتله دې دپاره چه دالله ﷻ دکتاب اودالله ﷻ دحدودو دشریعت فرائض اوددین قایمول اوکړې شی دا غلبه هم د الله ﷻ یوزبردست رحمت دې که چرې دا نه وه نویوبل به ئې خوړلې وې هریوزورور به د کمزوری ښکارکولو[4] دسلطان نصیر نه مراد ښکاره دلیل هم دې خو رومبې قول اولی دې ځکه چه حق سره غلبه اوطاقت هم ضروری ځیز دې چه دحق مخالفین دباؤ وی ددې دپاره الله ﷻ د اوسپنې نازلولو احسان په قرآن پاك کښې په خاص توګه ذکرکړو.یوحدیث کښې دی دبادشاهئی په وجه الله ﷻ ډیر بدکارونه رابندکړې وی چه صرف په قرآن سره نه شورابندیدلې. دابالکل واقعه ده ډیر خلق دی چه د قرآن پاك نصیحتونه دهغې وعدې وعیدونه هغوی دبدوکارونونه نه شی اخواکولې خوداسلامی طاقت نه په رعب کښې شی اود بدو نه منع کیږی.

**حق قایم پاتې کیدونکې او باطل ختمدونکې :-** بیا د کافرانو غوږونه راښکلې شی چه د الله ﷻ د طرف نه حق راغلې دې رښتیاراکوزشوی دی په کوم کښې چه هیڅ شك شبه نشته. قرآن ایمان نفع ورکونکې رښتونې عمل د الله ﷻ د طرف نه راغلو کفر تباه برباد او بې نوم اونښې شو هغه د حق په مقابله کښې بغیر پښواولاسونوثابت شو حق د باطل دماغ ذره ذره کړل اوهغه نابود اوبې وجودشو.په صحیح بخاری شریف کښې دی رسول الله ﷺ مکې ته راغلو بیت الله ﷻ کښې خواوشا درې سوه شپیته بتان وو حضورﷺ د خپل لاس په لرګی باندې هغې له دیکې ورکولې اوهم دا آیت به ئې لوستلو او فرمائیلوبه ئې حق راغلوباطل نه دوباره راتلې شی او نه واپس کیدې شی[5] ابویعلی کښې دی چه مونږ دحضورﷺ سره

---

[1] ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورت بنی اسرائیل:٣١٣٩.

[2] الطبری:١٧/٥٣٣.

[3] الطبری:١٧/٥٣٥.

[4] الطبری:١٧/٥٣٦.

[5] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة بنی اسرائیل باب ﴿وقل جاء الحق وزهق الباطل﴾:٤٧٢٠، صحیح مسلم:١٧٨١، ترمذی: ٣١٣٨،

Scanned with Ca

مکې ته راغلو د بیت الله نه چاپېره درې سوه شپېته بتان وو د کومو چه عبادت کېدلو حضورﷺ زر حکم ورکړو چه دا ټول پرمخې راګذار کړئی بیا حضورﷺ دا آیت تلاوت اوفرمائیلو.

| |
|---|
| وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَاۗءٌ وَّرَحْمَةٌ |
| او نازلوؤ مونږه \| د قرآن نه \| هغه څيز \| چې هغه شفاده \| او رحمت دي |
| او مونږ په قران کښې داسې څیزونه رالیږو چې دمومنانو دپاره شفا |
| لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا۝ |
| دپاره دمومنانو \| او نۀ زیاتوی \| ظالمانو لره \| مګر \| خساره \| |
| او رحمت دي او دظالمانو په حق کښې له دې نه هم نقصان زیاتیږي |

**قوله تعالی:- وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَاۗءٌ**

**قرآن د مؤمنانو د پاره شفاده:-** الله ﷻ دخپل کتاب باره کښې کوم چه دباطل یوه شبه هم نشته فرمائی چه هغه دایماندارانو دزړونو دټولو بیمارو دپاره شفاده.شك نفاق شرك کوږوالې اوباطل سره مینه ټول پهدې سره لرې کیږي.ایمان حکمت ښیګړه رحمت او دنیکوطرف ته رغبت دې سره حاصلیږي څوك هم چه په دې باندې ایمان اویقین راوړي دارښتیااوګڼري ددې تابعداري اوکړي نوداهغه د الله ﷻ درحمت لاندې راولی اودروی.اوچه څوك ظالم او جابر وی اودې نه انکاری وی هغه دالله ﷻ نه نورهم لرې کیږي قرآن اوریدو سره د هغه کفر نورهم زیاتیږي.نودا آفت د کافر دخپل طرف نه دهغه دکفر په وجه سره کیږي نه چه د قرآن د طرف نه ځکه چه هغه خو سراسر رحمت او شفاده.دقرآن پاك په یو بل آیت کښې دی ﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَاۗءٌ ۭ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۭ اُولٰۗىِٕكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ۝﴾([1])اووایه دا د ایماندارودپاره هدایت اوشفاده اودبې ایمانانوپه غوږونوکښې کوڼوالې دې اودهغوی په سترګو کښې ړوندوالې دې هغوی له دلرې لرې نه آوازونه ورکولې شی.بل آیت کښې ارشاد دې﴿وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ۝﴾([2])چه کله هم یو سورت نازل شو یوې ډلې ټپوسونه کول شروع کړه چه په تاسوکښې چادا په ایمان کښې زیات کړل؟ واورئی دایماندارو ایمان خو زیاتیږي اوهغوی ښه تازه کیږي اودچاپه زړونوکښې چه بیماری ده د هغوی په ګندګوباندې نورې ګندګئی زیاتیږي اوترمرګه پورې په کفر باندې قایم وی. د دې مضمون نورهم ډیرآیاتونه دی.غرض دا چه مؤمن ددې کتاب په اوریدوباندې نفع اوچتوی داپه یادوباندې یادوی ددې خیال ساتی. بې انصاف خلق نه دې نه نفع حاصلولې شی نه دا یادوی نه د دې خیال ساتی.الله ﷻ داشفا اورحمت صرف د مؤمنانو د پاره جوړکړې دې.

| |
|---|
| وَاِذَآ اَنْعَمْنَا |
| او کله چې اِنعمت اوکړو مونږه |
| او هر کله چې مونږ یو |

([1]) ٤١/فصلت:٤٤.
([2]) ٩/التوبه:١٢٤.

Scanned with Ca

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَا بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

په انسان باند | نو مخ ئې واړوو | او تاؤ ئې کړو اړخ | او کله چې اورسيدو هغه ته | مصيبت

انسان له نعمتونه ورکړو (نوبيازمونږ د حکمونو) نه هغه مخ اړوی او ډډه کوی او چې لږ تکليف ورته اورسيږی

كَانَ يَئُوْسًا ۝ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ

نوشو | نااميده | ورته اووايه | هر څوك عمل كوی | په طريقه خپله باند | نو رب ستاسو

نو زرنااميده شی ائې نبی ﷺ ! دوئ ته اووايه چې هرڅوک په خپله طريقه باندې عمل کوی بيشکه ستا رب

اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ اَهْدٰى سَبِيْلًا ۝ ع

ښه پوهيږی | په هغه چا | چی هغه | زيات صحيح روان دې | په نيغه لار |

هغه څوک ښه پيژنی کوم چې دټولو نه زيات په سمه لار باندې دې

**قوله تعالى:-** وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ

**د انسان خودغرضی:-** خيراوشر نيکی بدی کښې په عام توګه د انسان کوم عادت دې هغه قرآن کريم بيانوی.مال عافيت فتح رزق نصرت تائيد کولاووالې آرام ليدلو سره سترګې اړوی.د الله ﷻ نه لرې کيږی لکه چه ده ته هډو بدی رسی نه. د الله ﷻ نه اړخ بدلوی لکه چه هډو څه پيژند ګلوئی نه وی اوچه کوم ځائ مصيبت تکليف دردآفت حادثه راورسی اودې نااميده شی نوپوهيږی چه اوس نيکی خلاصې آرام راحت هډو ملاويږی نه.

په قرآن کريم کښې بل ځائ ارشادباری تعالی دې ﴿وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ۚ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ۝ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ؕ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ﴾ ([1]) انسان له راحتونه ورکولوسره هغه مونږ بياواخلو نو چه دې صرف مايوس نااميده او ناشکره جوړ شی اوچه کله مونږ د ده نه مصيبتونه لرې کړل نواسوده شو اوغرورکښې راغلو اوداخيال ئې کووچه بس اوس خو بدی مانه لرې شوه.فرمائی چه هرسړې په خپل خپل طريقه په خپل طبيعت او په خپل نيت خپله طريقه او خپل دين باندې عمل کونکې دې او لګيادې. ([2])د دې علم چه حقيقت کښې په نيغه لار څوك دې صرف يو الله ﷻ ته دې. په دې کښې مشرکانو ته تنبيه ده چه که هغوی په خپل مسلك باندې کلك ولاړ وی اوهغه ښه ګڼړی خو چه الله ﷻ له لاړشی نو ښکاره به شی چه هغوی څومره په خطرناکه لار باندې وو.لکه چه ارشاد دې چه دې بې ايمانانوته اووايه چه ښه ده په خپل ځائ کارکونی. ([3])د بدلې وخت دا نه دې دقيامت ورځ ده د نيکئی او بدئی فرق به په هغه ورځ وی ټولو ته به بدله ملاويږی دالله ﷻ نه هيڅ يوکارپټ نه دې.

وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ؕ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ

او تپوس کوی دا خلق ستا نه په باره د روح کښی | اووايه | اچی روح | په حکم سره د رب زما دې | اونهٔ دې درکړې شوې تاسو ته

او خلق له تانه د روح په حقله تپوس کوی (دوئ ته) اووايه چې روح زما د رب د حکم نه پيدا دې او تاسو ته

---

[1] ١١/هود: ١٠-١١.

[2] الطبری: ١٧/٥٤١.

[3] ١١/هود: ١٢١. الخ

| | | | |
|---|---|---|---|
| مِّنَ الْعِلْمِ | إِلَّا | قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ | |
| دعلم نه | مګر | لږ | |
| خو ډير لږ علم درکړې شوې دې | | | |

**قوله تعالى:- وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ط**

**کله چه د حضورﷺ نه د روح باره کښې تپوس اوشو:-** بخاري وغيره کښې د ابن مسعود ﷺ نه روايت دې چه حضورﷺ دمدينې په پټوکښې روان وو دحضورﷺ په لاس کښې لرګې وو زه هم حضورﷺ سره ووم. د يهوديانو يوې ډلې حضورﷺ اوليدلو نو پټې پټې خبرې شروع کړې چه راځئ چه د ده نه د روح باره کښې تپوس اوکړو. چا تپوس اوکړوشه ده که څوك بندکړې چاوئيل ستاسو په دې څه؟چاوئيل چه کيدې شي څه داسې جواب راکړې چه ستاسو خلاف وي، پريږدئې تپوس ترې مه کوئې. آخر هغوی راغله اود حضورﷺ نه ئې تپوس اوکړو حضورﷺ په خپل لرګي باندې ډډه اووهله اودريدو. زه پوهه شوم چه وحي نازليږي چپ اودريدم. دې نه پس حضورﷺ د دې آيت تلاوت اوکړو[1] دې نه خودا ښکاره معلوميږي چه دا آيت مدني دې اوسره د دې چه ټول سورت مکي دې.خو دا هم کيدې شي چه په مکه کښې نازل شوی آيت سره په دې موقع دمدينه يهوديانوته د جواب ورکولو وحی نازل شوې وي. يادا چه په دويم ځل دا آيت نازل شوی وي.دمسنداحمدپه روايت سره هم د دې آيت هم مکه کښې نازليدل معلوميږي. ابن عباس ﷺ فرمائي چه قريشو يهوديانوته درخواست اوکړوچه څه ګران شان سوال اوښائې چه مونږ د ده نه تپوس اوکړو نو هغوی داسوال اوخودلواوددې په جواب کښې دا آيت نازل شو نودې سرکشو وئيل مونږ ته ډير علم دې تورات مونږ ته ملاوشوې دې اوچاسره چه تورات وي هغه ته ډير زيات خير ملاو شو. الله ﷻ دا آيت نازل کړو ﴿ قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا ﴾ [2] يعنى که دټولو سمندرونو سياهي ملاوشي اودې سره د الله ﷻ کلمات ليکل شروع شي نودا سياهي به ټوله ختمه شي اود الله ﷻ کلمات به باقي پاتې شي. سره ددې که تاسو د دې د امداد پاره داسې نورهم راوړئې[3] عکرمه رحمه الله د يهوديانوپه دې سوال باندې ددې آيت نازليدل اود هغوی په مکروه قول باندې دويم آيت ﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ [4] نازلول بيان کړی دی.يعنی د مخ د زمکې د ونوقلمونه اود مخ د زمکې د سمندرونو سياهي اوچه دې سره سره داسې نور سمندرونه هم وي خوبياهم دالله ﷻ کلمات پوره کيدې نه شي. په دې کښې شك نشته چه د تورات علم کوم چه د دوزخ نه بچ کونکې دې لوئ څيز دې خود الله ﷻ د علم په مقابله کښې ډير لږ څيز دې. [5]

امام محمدبن اسحاق رحمه الله ذکر کړې دې چه په مکه کښې دا آيت نازل شوې دې چه تاسو ته ډير لږ علم درکړې شوې دې. کله چه حضورﷺ هجرت اوکړو مدينې ته لاړو نود مدينې يهوديان عالمان حضورﷺ له راغله او وئې وئيل چه مونږ اوريدلی دی تاسو داسې وائې چه تاسوته ډير کم علم درکړې شوې دې دې نه مراد ستاسوقوم دې که مونږ؟ حضورﷺ اوفرمائيل چه تاسو هم اوهغوی هم. هغوی وئيل واوره

[1] صحيح بخارى كتاب التفسير سورة بنى اسرائيل باب ﴿ ويسئلونك عن الروح.... ﴾:٤٧٢١، صحيح مسلم:٢٧٩٤.
[2] ١٨/الكهف:١٠٩.
[3] ترمذى كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة بنى اسرائيل:٣١٤٠ وسنده صحيح، احمد:٢٥٥/١، مسندابى يعلى:٢٥٠١.
[4] ٣١/لقمان:٢٧.
[5] الطبرى:٥٤٢/١٧.

Scanned with Ca

ته ښځبله قران لولې چه مونږ ته تورات ملاوشوې دې اوداهم په قران پاك كښې دی چه په دې كښې د هرڅيز علم دې. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د الله ﷻ د علم په مقابله كښې داهم ډير كم دې. اوبې شكه تاسو ته الله ﷻ دومره علم دركړې دې كه تاسوپدې باندې عمل اوكړونوتاسو ته به ډيره نفع دركړي اودا آيت نازل شو ﴿وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ ([1])

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه يهوديانود حضور ﷺ نه دروح باره كښې سوال اوكړوچه دې سره بدن ته ولې عذاب وركولې شی؟هغه خودالله ﷻ د طرف نه دې. دې باره كښې په حضور ﷺ باندې وحی نه وه نازل شوې حضور ﷺ هغوی ته څه اوفرمائيل نو هم دې وخت كښې حضرت جبرائيل عليه السلام تشريف راوړو اودا آيت ئې نازل كړو.دې اوريدو سره يهوديانووئيل تاته ددې خبرچادركړو؟حضور ﷺ اوفرمائيل جبرائيل عليه السلام د الله ﷻ د طرف نه دا فرمان راوړو. هغوی وئيل هغه خوزمونږ دښمن دې. په دې باندې دا آيت ﴿قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ ([2])نازل شو يعنی د جبرائيل عليه السلام دښمن دې اوداسې سړې كافردې. ([3])

**د روح متعلق اقوال:-** يوقول دا هم دې چه دلته د روح نه مراد حضرت جبرائيل عليه السلام دې.يوقول داهم دې چه دې نه مراد يوداسې عظيم الشان فرښته ده چه د ټول مخلوق برابر ده يوحديث كښې دی چه د الله ﷻ يوه فرښته داسې هم ده كه هغه ته اووه واړه آسمانونه او اووه واړه زمكې يوه نوړئی كول اووئيلې شی نو هغه به ئې جوړكړي. د هغې تسبيح دا دی(**سبحانك حيث كنت**)ياالله ته پاك ئې چرته چه هم ئې. دا حديث غريب دې بلكه منكر دې. د حضرت علی رضی الله عنه نه روايت دې چه دا يوه فرښته ده د كومې چه اويا زره خُلې دی او په هره خُله كښې اويا زره ژبې دی او په هره يوه ژبه باندې اويا زره لغته دی هغه به دې ټولو ژبو باندې په هرقسم ژبه كښې د الله ﷻ تسبيح كوی. د هغې د هرې يوې تسبيح نه الله ﷻ يوه فرښته پيداكوی چه د نورو فرښتو سره د الله ﷻ په عبادت كښې د قيامت پورې لګياوی. دا اثر هم عجيبه او غريب دې. والله اعلم.

د سهيلی په روايت كښې دی چه د هغې يولاكه سرونه دی او په هريوسر كښې يولاكه خُلې دی او په هره خُله كښې يو لاكه ژبې دی. په كومو سره چه په مختلفو ژبوكښې دالله ﷻ پاكی بيانوی. دا هم وئيلې شوی دی چه دې نه مراد د فرښتو هغه ډله ده كوم چه په انسانی صورت كښې دی. يوقول داهم دې چه دا هغه فرښتې دی چه نورو فرښتو ته خو هغوی ګورې ولې نورې دوی ته نه ګوری نو هغوی د فرښتودپاره بس داسې دی لكه زمونږ د پاره دا فرښتې.

**د روح حقيقت صرف الله ﷻ ته معلوم دې:-** بيافرمائی چه دوی ته جواب وركړه روح د الله ﷻ امر دې يعنی د هغه د شان نه دې. د دې علم صرف هغه ته دې تاسو كښې چاته هم نشته. تاسو سره چه كوم علم دې هغه هم د الله ﷻ دركړې شوې دې. نو هغه خو ډير كم دې مخلوق ته خو صرف هم هغه معلوم دی كوم چه ورته هغه معلوم كړې دی.د خضر عليه السلام او حضرت موسی عليه السلام په قصه كښې راروان دی چه كله دا دواړه بزرګان په كشتئ كښې سوريدل هغه وخت يوه مرغئی د كشتئ په تخته باندې كيناسته او خپل مښوكه ئې په اوبوباندې لمده كړه اولاړه. نو حضرت خضر عليه السلام اوفرمائيل اې موسی عليه السلام زما ستا اود ټول مخلوق علم د الله ﷻ د علم په مقابله كښې دومره دې څومره چه دې مرغئی د سمندر نه اوبه يوړې والوته. (اوكماقال)

---

[1] ٣١/لقمان:٢٧.
[2] ٢/البقره:٩٧.
[3] الطبری:٥٤٢/١٧.

د سهیلی په قول بعضې خلق وائی چه د هغوی د سوال کولو جواب ئی ورنه کړوځکه چه د هغوی سوال کول د ضد اونه منلو په توګه وو. داهم وئیلی شوی دی چه جواب ئی اوشو. مطلب دا چه روح د الله ﷻ د شریعت نه دې تاسو له په دې کښې نه دی تلل پکار تاسو ته پته ده چه د دې د پیژندګلو څه طبعی او فلسفی لار نشته بلکه هغه د شریعت د طرف نه دې نوتاسو شریعت قبول کړئی خو مونږ له خودا طریقه د خطرې نه خالی نه ښکاری. والله اعلم.

**روح کښې د علماء کرامو اختلاف دې:-** بیاسهیلی د علماو اختلاف بیان کړې دې چه روح نفس دې یاد دې نه سوا ئی نوره داخبره ثابته کړې ده چه روح په بدن کښې په مثال دهوا جاری دې. اوډیر لطیف څیز دې لکه چه د ونو په رګونوکښې اوبه پورته خیژی. اوکوم روح چه فرښته د مور په خیټه کښې په ماشوم کښې پوك وهی هغه بدن سره ملاویدلو کښې نفس جوړیږی اود کوم په مدد سره چه هغه ښه اوبد صفتونه په خپل ځان کښې حاصلوی. یاخو الله ﷻ سره مطمئن کیدونکې جوړشی یاد بدو حکم کونکې جوړشی. مثلاً اوبه د ونو ژوند دې. د دې ونې سره ملاویدلوکښې هغه په ځان کښې یو خاص خبره پیداکوی. انګورپیداشو بیا ئی د دې نه اوبه اوویستلې یاترې شراب جوړکړې شو نو هغه اصلی اوبه چه په کوم صورت کښې راغلې اوس هغې ته اصلی اوبه نه شی وئیلې. دغه شان اوس د بدن د یوځائ کیدو نه پس روح ته اعلی روح نه شی وئیلې. دغه شان دې ته نفس هم نه شی وئیلی دا وینا کوم هم انجام ته د رسولو په توګه ده. د کلام حاصل دا شو چه روح د نفس اومادې اصل دې اونفس د دې نه اود دې بدن سره ملاویدلو نه مرکب دې نو روح نفس دې خو په یوه وجه سره نه چه په ټولو وجو سره، داخبره خو زړه ته لګی خود حقیت علم صرف الله ﷻ ته دې([1])خلقو د دې باره کښې ډیر کلام کړې دې او لوئ لوئ مستقل کتابونه ئی په دې باندې لیکلی دی. په دې مضمون باندې بهترین کتاب د حافظ ابن منده کتاب الروح دې.

وَلَئِنْ | شِئْنَا | لَنَذْهَبَنَّ | بِالَّذِيٓ
| اوکه چری | اوغواړومونږ | نو وابه خلو | هغه (څیز)
اوکه چرې مونږاوغواړو
اَوْحَيْنَآ | اِلَيْكَ | ثُمَّ لَا تَجِدُ | لَكَ | بِهٖ
چی وحی کړې دې مونږ | تاته | بیا به نۀ مومې تۀ | دپاره دځان خپل | په هغه څیز باندې|
نوکومه وحی چې مو تاته درکړې ده هغه به درنه واپس کړو بیا به درته د دې پحقله زمونږ
عَلَيْنَا | وَكِيْلًا ﴿٨٦﴾ | اِلَّا | رَحْمَةً | مِّنْ رَّبِّكَ ؕ
په مقابله زمونږ کښې|څوك مددګار| مګرځه چی ملاودی تاته|په وجه درحمت دی|دطرفه درب ستانه
په مقابله کښې هیڅوک مددګار پیدانشی خو دا په تاباندې دخپل رب ډیرې لوئې رحم دې
اِنَّ فَضْلَهٗ | كَانَ | عَلَيْكَ | كَبِيْرًا ﴿٨٧﴾ | قُلْ | لَّئِنِ | اجْتَمَعَتِ
حقیقت دادې چی فضل دهغه| دې | په تاباندې| ډیر لوئ | ورته اووایه | که چری | راجمع شی
(چې تاته ئې وحی کړې ده) بیشکه په تادهغه فضل ډیر لوئې دې(ائې نبی ﷺ) ته اووایه که ټول

[1] الطبری:١٧/٥٤٣.

Scanned with Ca

الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ

ټول انسانان| اوپیریان |په دې کارباند| چې راوړي| پشان | ددې قرآن | نو رابه نوړي

بنیادم اوپیریان رایوځائي شي چې ددې قرآن پاک پشان یو بل قرآن جوړ کړي نو

بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا

پشان ددې |اگر که وی | ځینې دهغوئ| دپاره دځینو | مددګاران | او بار بار بیان کړل مونږه

هیڅرې ددې په شان جوړولې نشي اگر که دوئ ټول دیو بل مددګاروی او مونږ خلقو ته

لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ

دپاره دخلقو |په دې قرآن کښې |دهر قسم مثال نه| خوغاړه کینښوده| زیاتوخلقوا

په دې قرآن کښې هر قسم ښه ښه مضمونونه په رنګ رنګ بیان کړې دی خو بیاهم اکثر خلق ترې نه

اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٨٩﴾

مګر| په ناشکرئ اوانکارباند|

بغیر دانکار کولونه پاتې نه شول

قول تعالى:- وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَا

**قرآن پاک یقینا معجزه او د الله ﷻ ډیره لویه مهرباني ده:**-الله ﷻ خپل یوزبردست احسان او یولوئی نعمت بیانوی کوم چه هغه په خپل حبیب سرورکائنات حضرت محمدمصطفی ﷺ باندې کړې دې. یعنی په هغوی باندې هغه پاك کتاب نازل کړې دې په کوم کښې چه په یووخت کښې هم د باطل د ګډوډکیدل ناممکن دی که هغه اوغواړی نو دا وحی سلب کیدې هم شی.ابن مسعود ﷛ فرمائی په آخره زمانه کښې به یوه سره هواچلیږی د شام د طرف نه به دا راوچتیږی هغه وخت به د قرآن پاك د پاڼونه اودحافظانود زړونونه قرآن ختم شی یوټکې به هم باقې پاتې نه شی بیا هغوی د دې آیت ([1]) تلاوت اوکړو.بیا خپل فضل کرم او احسان بیانوی چه ددې قرآن پاك یوه بزرګی داهم ده چه ټول مخلوق د دې د مقابله کولونه عاجزدې د هیڅ چا په وس کښې د دې په شان کلام نشته. څنګه چه الله ﷻ بې مثله بې مثاله او بې شریك دې دغه شان د هغه کلام هم د خپل ځان په شان د کیدونکی کلام نه پاك دې. ابن اسحاق وارد کړی دی یهودیان راغلې وو او هغوی وئیلې وو چه مونږ هم د دې په شان کلام جوړوو راوړو نودا آیت نازل شو خومونږ ته د دې په منلوکښې لږتامل شته ځکه چه دا مکی سورت دی اود دې ټول بیان قریښوته دې هم هغوی مخاطب دی اود یهودیانوسره د حضور ﷺ یوځائ کیدل په مکه کښې نه دی شوی مدینه کښې هغوی سره یوځائ شوی وو. والله اعلم.مونږ په دې پاك کتاب کښې هرقسم دلیلونه بیانولوسره حق واضحه کړلو اوهره خبره ښه په وضاحت سره بیان کړه. سره د دې هم ډیر خلق د حق مخالفت کوی اوحق له دیکې ورکوی اود الله ﷻ په ناشکرئی کښې لګیادی.

وَقَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى

|اووې وئیل| هرګزایمان نه راوړومونږ| په تا | ترهغې پورې|

اودوئ وائی چې مونږ په تاهیڅرې ایمان نه راوړو ترڅو

[1] الطبری:١٧/٥٤٦.

Scanned with Ca

تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ﴿٩٠﴾ اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ

چي جاري کړې ته | دپاره زمونږ | د زمکې نه | چينه | ياوې | تالره | يو باغ

چي ته مونږ له دزمکې دتل نه يوه چينه راونه باسې يا ستا د

مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٩١﴾

دکجورو | اودانګورو | او روان کړې ته | نهرونه په منځ دهغې کښې | په روانولو سره

کهجورو اوانګورو باغ وي اوته دهغې په مينځ کښې ځائي په ځائي نهرونه اوبهيوې

اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ

يااوغورزوې ته | اسمان | لکه څنګه چي | ګمان کوې ته | په مونږباند | ټوټې | يارواولې ته

يا څنګه چي ته وائې چې په مونږ باندې داسمان نه ټکړې راوغورزوې يا

بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا ﴿٩٢﴾ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ

الله | او فرښتې | مخامخ | يا وي | تالره | يوکور | د سروزرو

الله ﷻ او فرښتې مونږ ته مخامخ راولې يا داچې د سرو زرو يو کور وي

اَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَآءِ ؕ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى

يااوخيژې ته | په اسمان کښې | اوهرګز ايمان نۀ راوړومونږ | په ختلوستا | ترهغې پورې

يا دا چې ته بره اسمان ته اوخيژې او مونږ به ستا اسمان ته ختل هم نه منو

حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ؕ قُلْ سُبْحٰنَ رَبِّيْ

چي نازل کړې ته | په مونږ باند | يو کتاب | چې اولولو مونږه هغه | ورته اووايه | پاک دې | رب زما

تر څو چې ته په مونږ يو کتاب راونه ليږې کوم چې مونږ اولولو ته ورته اووايه چې زما رب پاک دې

هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾

نۀ يم زۀ | مګر | يو انسان | پيغام راوړونکې يم |

زۀ خو صرف يو پيغام رسوونکې انسان يم

**قوله تعالى:- وَقَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ**

**دمشركانو عجيبه غوښتنې او درسول كريم ﷺ جوابونه:**حضرت ابن عباس ﷺ فرمائى چه د ربيعه دواړه خامن عتبه او شيبه او ابوسفيان بن حرب او د بنى عبدالدار قبيلې دوه سړى اوابوالبخترى بن اسد او اسودبن مطلب بن اسد او زمعه بن اسود او وليدبن مغيره ابوجهل بن هشام عبدالله بن ابى اميه اميه بن خلف او عاص بن وائل او نبيه او منبه سهمى دحجاج ځامن دا ټول يا د دوى نه څه كسان د نمر د ډوبيدونه پس د كعبة الله نه شاته راجمع شو او ونى ونيل څوك اوليګئى اومحمد ﷺ راوغواړئى او هغه ته اووائې چه نن فيصله كوو چه بيا څه عذر پاتې نه شى. قاصد لاړو او خبرئى وركړوچه ستاسو د قوم شريفان خلق راجمع شوى دى اوتاسو ئى يادكړى ئى.دحضور ﷺ به هروخت د دې خلقو خيال وو نود حضور ﷺ په زړه كښې راغله چه ممكن ده الله ﷻ هغوى ته صحيح پوهه وركړې وى او هغوى په نيغه لار راشى نوزر ئى تشريف راوړو. قريشو چه حضور ﷺ اوليدلو نو وئى ونيل واوره نن مونږ په تاباندې

Scanned with Ca

حجت پوره کوودې د پاره چه په مونږ باندې بیاځه قسم الزام رانه شی په دې وجه مونږ ته راوغوښتې. والله چابه هم خپل قوم په داسې مصیبت کښې نه وی اچولې کوم مصیبت چه تاپه مونږ باندې راوستلې دې. ته زمونږ پلارانو نیکونوته کنځلې کوې، زمونږ دین ته بد وائی.زمونږ برزګانوته بې وقوفان وائی، زمونږ معبودانو ته بد وائی تا په مونږ کښې جدائی اچولې ده.جنګونه دې راپیداکړل. والله تامونږ ته د یوې بدئی نه رسولوکښې هیڅ کمې نه دې پریخې. اوس صفاصفا واوره او ښه په سوچ اوفکر سره جواب راکړه. که ستا اراده د دې ټولوخبرونه د مال جمع کول دی نومونږ موجود یو او پخپله به تاته دومره مال راجمع کړو چه ستا برابر به په مونږ کښې یومالدارهم نه وی. اوکه ستا اراده د دې نه داوی چه ته په مونږ باندې سرداری اوکړې نومونږ د دې د پاره هم تیاریو اوستا سرداری منو او ستا تابعداری منظور کوو. که ته د بادشاهت غوښتنه کوې نو په خدائی چه مونږ ستا د بادشاهت اعلان کوو اوکه په حقیقت کښې ستا په دماغوکښې څه فرق وی کوم یوپیرې چه تا تنګوی نو مونږ موجود یو د زړه د اخلاصه به مال دولت خرچ کړو اوستا علاج به اوکړو ترهغه وخته پورې چه تاته شفا حاصله شی یا مونږ مجبوره پاتې شو. د دې ټولو خبرو اوریدو سره د رسولانو سردار او شفیع پیغمبر ﷺ جواب ورکړو چه واورئی د الله ﷻ په حکم ماته هیڅ دماغی بیماری نشته یاځه خلل یا غوټه وغیره نه په دې خپل رسالت باندې مالداریدل غواړم نه د سردارئی څه طمع لرم نه بادشاه جوړیدل غواړم بلکه زه الله ﷻ د ټولوطرف ته په حقه سره رسول جوړکړې رالیګلې یم او په ماباندې ئی خپل کتاب نازل کړې دې اوماته ئی حکم راکړې چه زه تاسوته زیری واوروم اوتاسو اوویروم.مادخپل رب پیغامونه تاسوته رسولی ستاسو مې رښتونې خیرخواهی کړې که تاسوئی قبلوئی نوبه دواړه جهانه کښې به دنصیب خاوندان جوړشئ اوکه نه ئی منظوره وئی نوزه به صبراوکړم ترهغه وخته پورې چه الله ﷻ زما اوستاسو په مینځ کښې رښتونې فیصله اوکړی.(اوکماقال). اوس د قوم سردارانو اووئیل محمد ﷺ که تاته زمونږ په دې خبروکښې یوه هم منظورنه وی نواوس نور هم واوره دا خوتاته پخپله معلومه ده چه زمونږ نه زیات تنګ ښار دچانشته زمونږ نه د ډیرکم مال والا قوم نشته اوډیرزیات خیټه خیټه یادولوسره ډیر کم رزق حاصلونکې قوم هم نشته. نو ته دخپل رب نه چا چه ته خپل رسول رالیګلې ئې دعا اوکړه چه داغرونه ددې ځائ نه اخواکړی چه زمونږ داعلاقه ارته شی زمونږ ښارونه کولاوشی په دې کښې نهرونه چینې دریابونه روان شی لکه چه په شام اوعراق کښې دی اودا هم دعااوکړه چه زمونږ پلاران نیکونه راژوندی شی اوپه هغوی کښې قصی بن کلاب خامخا وی چه په مونږ کښې یوبزرګ سړې وو مونږ به د هغه نه تپوس اوکړو اوچه ستا باره کښې څه اووائی زمونږ به تسلی اوشی.که چرې تاداسې اوکړه نو زمونږ به ستا په رسالت یقین راشی اومونږ به د زړه نه ستا تصدیق اوکړو اوستاد بزرګئی به منونکی شو. حضور ﷺ اوفرمائیل زه دې څیزونو سره نه یم رالیګلې شوې په دې کښې یوکار هم زما د وس نه دې زه خو د الله ﷻ خبرې تاسو ته د رسولود پاره راغلې یم که تاسو قبولې کړې نو په دواړه جهانه کښې به خوشحاله شئ. که نه ئی قبلوئی نو زه به صبراوکړم اود الله ﷻ حکم ته به په انتظار یم ترهغه وخت پورې چه پروردګار عالم تاسو او زما په مینځ کښې فیصله اوکړی. هغوی وئیل چه ښه ده دا هم نه سهی مونږ پخپله ستاد پاره دا تجویزکوو چه ته د الله ﷻ نه دعااوکړه چه هغه یوه فرښته تاله راولیګی چه هغه ستا د خبرو تصدیق اوکړی ستاد طرف نه دې مونږ له جواب راکړی او هغې ته اووایه چه هم ستا دپاره دې باغونه خزانې دسرو اوسپینو زرو محلونه جوړکړی دې دپاره چه پخپله خو ستا حالات ښه شی په بازارونوکښې ګرځیدل زمونږ په شان درزق لټیون کښې وتلونه خوخلاص شئ.که چرته داهم اوشی نو مونږ به اومنو چه واقعی الله ﷻ سره ستا عزت شته اوته واقعی د الله ﷻ رسول ئې. د دې په جواب کښې حضور ﷺ اوفرمائیل چه نه زه دا کوم اونه د خپل رب نه دا غواړم نه دې سره زه رالیګلې شوې یم زه خو الله ﷻ بشیراونذیر جوړکړې یم بس نورهیڅ هم نه که تاسو ئی منئی نو په

Scanned with Ca

دواړه جهانه کښې به خپله ښیګړه اوکړئی اوکه نه منئی نومه نی منئی زه ګورم چه زما پروردګار ستاسو اوزماپه مینځ کښې څه فیصله کوی. هغوی وئیل چه ښه ده بیامونږ وایوچه لاړشه او خپل پروردګارته اووایه چه په مونږ باندې آسمان راګذار کړه او ته خوداسې وائی هم چه که الله غواړی نو داسې به اوکړی نواوس خو هم مونږ وایوچه نور مهلت مه راکوه. حضورﷺ اوفرمائیل چه دا د الله ﷻ د اختیارخبره ده چه څه غواړی کوی به که نه غواړی نو نه به کوی. مشرکانو وئیل چه الله ﷻ ته دا معلومه نه وه چه دې وخت کښې به مونږ تاسره کینو اوتانه به داڅیزونه غواړو اوچه کله مونږ ستا اونه منو نو هغه به مونږ سره څه کوی. واوره مونږ خو اوریدلی دی چه تاته د ټول هرڅه د یمامه یوسړې رحمان نومې ښائی په الله ﷻ قسم مونږ خو په رحمان باندې ایمان نه راوړو دا ناممکن دی چه مونږ هغه اومنو مونږ تانه خلاص یو چه څه مو اوریدل او وئیل هغه مو واوریدل او تا زمونږ واجبي اود انصاف خبرې واونه ریدلې اوس غوږونه کولاوکړه ښه هوښیارشه واوره تا په دې حالت کښې آزاد نه شو پریخودې اوس خو به یا مونږ تا هلاك کوو یا ته مونږ تباه کړه. چا په کښې وئیل چه مونږ خود فرښتو عبادت کوو چه د الله ﷻ لونړه دی چا وئیل چه ترکومې ته الله ﷻ اود هغه فرښتې مونږ له ښه په ښکاره رانه ولې مونږ به ایمان نه راوړو بیا مجلس ختم کړې شو. عبدالله بن ابی، امیه بن مغیره بن عبدالله بن مخزوم چه د حضورﷺ د ترور عاتکه رضی الله عنها بنت عبدالمطلب څوئ وو حضورﷺ سره شو او وئی وئیل چه داخوډیره د بې انصافئی خبره ده چه قوم څه اووئیل هغه هم تامنظور نه کړل بیائی چه څه اوغوښتل هغه هم تا پوره نه کړل بیا چه د کوم څیز نه تا هغوی ویرول هغه نی اوغوښتل نو هغه هم تا اونه کړل. اوس خو به زه د الله ﷻ قسم په تاباندې ایمان راونړم ترکومې چه ته یوه پاوړئی اونه لګوې او د آسمان نه څه کتاب راونړئی او څلور فرښتې خپل ځان سره ګواه رانه ولې. حضورﷺ په دې خبرو باندې ډیر زیات خفه شو په دې شوق سره راغلې وو چه کیدې شی د قوم سرداران زما څه خبره اومنی خو چه کله د هغوی سرکشئی اود ایمان نه لریوالې ئی اولیدو نوډیر زیات خفه شو اوخپل کورته واپس لاړو[1]

**د مشرکانو دا ټولې پوښتنې په بغض اوعناد منبی وې**:-خبره داده چه د هغوی داټولې خبرې دکفرعناد او د حضورﷺ دښکنځه کولو په توګه اوبې جوابه کولو دپاره وې ګنی که دایمان راوړلودپاره نی په نیك نیتئی سره داسوالونه وې نوډیر ممکن ووچه الله ﷻ هغوی ته دامعجزې خودلې وې.حضورﷺ ته اوفرمائیلې شو چه که ستاسودا غوښتنه وی کوم چه دوی غواړی نوزه به ئی اوښایم خودا یادساته که بیائی هم ایمان راونړلو نوهغوی ته به هغه عبرت ورکونکې سزاګانې ورکړم چه بل چاته به نه وی ورکړې شوی. اوکه ته غواړې نو زه به د هغوی د پاره د توبه د قبلیدو او رحمت دروازه کولاواوساتم نو حضورﷺ دویمه خبره خوښه کړه[2] الله ﷻ دې پخپل نبی رحمت او نبی توبه باندې درود اوسلام ډیر ډیر نازل کړی هم د دې خبرې اود دې حکمت ذکر په دې آیت ﴿وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِالْآيٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا الْأَوَّلُونَ ۚ وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا بِهَا ۚ وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا﴾[3] اوآیت ﴿وَقَالُوا مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِى فِى الْأَسْوَاقِ ۙ لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ نَذِيرًا﴾[4].کښې هم دې چه داټول څیزونه زمونږ په قدرت کښې دی اودا ټول ممکن دی خود دې وجه نه چه د هغې د ښکاره کیدونه پس ایمان نه راوړونکی بیامونږ نه پریږدو. مونږ

---

[1] الطبری:١٧/٥٥٧.
[2] احمد:١/٢٤٢ مسندعبدبن حمید:٧٠٠، دلائل النبوة:٢/٢٧٢ وهوحدیث صحیح.
[3] ١٧/بنی اسرائیل:٥٩.
[4] ٢٥/الفرقان:٧

Scanned with Ca

دا نښې رامنع کړې دی اودې کافرانو ته مو مهلت ورکړې دې اود هغوی اخری ځائ مو دوزخ جوړکړې دې. نود هغوی سوال وو چه د عربو په شګوکښې دې نهرونه روان شی دریابونه راوخوټیږی وغیره. ښکاره خبره ده چه په دې کښې یوکار هم په هغه قادر اوقیوم الله ﷻ باندې ګران نه وو ټول هرڅه د هغه د قدرت لاندې اود هغه د حکم لاندې دی خوهغه ښه پیژنی چه دا ازلی کافران د معجزو په کتوسره هم ایمان نه راوړی لکه چه ارشاددې ﴿إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾[1] یعنی په چاباندې چه ستا د رب دا خبره ثابته شوې ده هغوی ته سره دټولو معجزود کتلوهم ایمان نه نصیب کیږی تردې چه هغوی د سختوعذابونو کتل اونه کړی ﴿وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَٰئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ﴾[2] کښې فرمائی ای نبیﷺ ددوی دخواهش مطابق که مونږ په دوی باندې فرښتې هم نازل کړو اومړی هم دوی سره خبرې اوکړی اودا هم نه که د غیبو ټول څیزونه دوی ته ښه ښکاره مخامخ کړې شی نو بیاهم دا کافران بغیرد الله ﷻ د رضا نه ایمان راوړونکی نه دی دوی کښې اکثر د جهالت شکلونه دی. د خیل ځان د پاره دریاب غوښتلونه پس هغوی اووئیل چه ښه ده ستاد پاره باغونه اونهرونه دې اوبهیږی بیانی اووئیل چه ښه ده دا هم نه سهی ته خووائې چه د قیامت په ورځ به آسمان شلیږی ټکرې ټکرې کیږی به نو ته هم نن په مونږ باندې د هغه ټکرې راګذار کړه اوهغوی پخپله هم د الله تعای نه دا دعااوکړه چه یاالله که دا هرڅه هم ستا د طرف نه په حقه دی نو په مونږ باندې د آسمان نه کانړی راووره وه. الخ.[3]

د شعیب ؑ قوم هم داخواهش کړې وود کوم په وجه چه په هغوی باندې د سائبان د ورځې عذاب نازل شو. زمونږ نبی کریم ﷺ رحمة للعالمین وو اونبی التوبه وو حضورﷺ د الله ﷻ نه دعااوکړه چه هغوی د هلاکت نه بچ کړی ممکن ده که دوی نه وی نود دوی اولاد به ایمان قبول کړی توحید به اختیارکړی اوشرك به پریږدی.دحضورﷺدا خواهش پوره شو عذاب نازل نه شوپخپله هم په هغوی کښې ډیرو ته د ایمان دولت نصیب شو تردې چه عبدالله بن ابی امیه چا چه په آخره کښې حضورﷺ ته خبرې اوروليې وې اود ایمان نه راوړو قسم ئې خوړلې وو هغه هم د اسلام د جهنډې لاندې راغلوؓ. د زخرف نه مراد سره زر دی[4] بلکه د ابن مسعودؓ په قراءت کښې لفظ ﴿من ذهب﴾ دې[5] د کافرانو یوه غوښتنه دا وه چه ستادې د سروزرو کور وی یا زمونږ د سترګو په وړاندې ته پاوړئی اولګوې آسمان ته اورسې اود هغه ځائ نه یوکتاب راوړې چه د هر یود نوم جدا جدا وی. هم په شپه شپه د هغوی سر ته دا پرچې راورسې او په هغې باندې د دوی نومونه لیکلې وی.د دې په جواب کښې حکم اوشوچه دوی ته اووایه چه د الله سبحانه وتعالی په وړاندې د هیڅ چا څه هم نه چلیږی.هغه دخپل سلطنت او مملکت ځان له مالك دې چه څه غواړی کوی چه څه نه غواړی نه کوی ستاسو د خُلې غوښتلې شوې څیز ښکاره کړی که نه داد هغه د اختیارخبره ده زه خو صرف د الله ﷻ پیغام رسونکې رسول یم ما خپل فرض اداکړل یاداللهﷻ احکام مې تاسو ته دراورسول اوس چه څه تاسو غوښتې هغه د الله ﷻ د قدرت کاردې نه چه زما د وس. مسنداحمد کښې دی حضورﷺ فرمائی د بطحامکه بابت ماته اوفرمائیلې شو که ته غواړې نودا زه د سرو زرو جوړکړم؟ ماوئیل نه یاالله زما خوداخواهش دې چه یوه ورځ په خیټه موړ یم اودویمه ورځ وږې یم په ولګه کښې تاته ټیټ شم. تضرع او زاری اوکړم او په کثرت سره ستا یاد اوکړم. که په

---

[1] ١٠/یونس:٩٦-٩٧.

[2] ٦/الانعام:١١١.

[3] سورة انفال.

[4] الطبری:٥٥٣/١٧.

[5] الطبری:٥٥٣/١٧

Scanned with Ca

مره خیټه شم نو چه ستا حمداوکرم اوستا شکر په ځای راوړم. (¹)په ترمذی کښې هم داحدیث شته دی اوامام ترمذی رحمه الله دی ته ضعیف وئیلی دی.

| |
|---|
| وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا |
| او منع نه کړل \| خلقو لره \| چې ایمان راوړی |
| اودوئ څه بلې غتې خبرې دایمان نه راوړلو نه منع نه کړه |
| اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ |
| کله چې \| راغې هغوئ ته \| هدایت \| مګردې خبرې \| چې اووئیل هغوئ \| ایا راولیږو \| الله |
| څه وخت چې هدایت ورته راغلو خو بس دې خبرې چې دوئ اووئیل ایا الله ﷻ |
| بَشَرًا رَّسُوْلًا ۝ قُلْ لَّوْ كَانَ فِى الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ |
| یوانسان \| رسول \| ورته اووایه \| که چرې وې \| په زمکه کښې \| فرښتې \| چې ګرزیدلې |
| یوبنیادم پیغمبر راولیږلو؟ ته ورته اووایه چې که په زمکه باندفرښتې ګرځیدلې |
| مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا |
| په اطمینان سره \| نوخامخابه مونږ نازل کړې وه \| په دوئ باند \| داسمان نه \| یوه فرښته |
| اوارام سره اوسیدلې نو مونږ به ضرور فرښته رسول |
| رَّسُوْلًا ۝ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ بَيْنِىْ وَبَيْنَكُمْ |
| په حیثیت درسول \| اووایه \| کافی دې \| الله \| په حیثیت دګواه \| په منځ زما \| او په منځ ستاسو کښې |
| راکوز کړې وو ته ورته اووایه چې زما اوستاسو ترمینځه الله ﷻ دګواهئ دپاره کافی دې |
| اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ۝ |
| بیشکه هغه(الله) \| دې \| په بندګانو خپلو \| خبردار \| لیدونکې \| |
| الله ﷻ دخپلو بندګانو په حال ښه خبر دې هرڅه وینی ګوری څوک چې |

**قوله تعالی:- وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا**

**اکثروخلقو دپیغمبر د بشرکیدو په وجه ایمان راوړلو:-** اکثرخلق دایمان نه اودرسولانو د تابعدارئی نه په دې وجه منع شوچه دهغوی په پوهه کښې دارانغله چه یوانسان هم رسول جوړیدې شی هغوی په دې باندې ډیرزیات حیران شواوآخرئی انکاراوکړواوصفائی اووئیل چه آیایوانسان به زمونږلارخودنه کوی؟ فرعون اود هغه قوم هم دا وئیلې وو چه مونږ دخپل ځان په شان په دوو انسانانو باندې ایمان څنګه راوړوخاص کر په داسې صورت کښې چه دهغوی ټول قوم زمونږ ماتحت وی.دوی اونورو امتونو په خپله زمانه کښې نبیانو ته وئیلې ووچه تاسوخو هم زمونږ په شان انسانان ئی دې نه علاوه هیڅ نه ئی تاسومونږ دخپل مشرانود خدایانونه دهوکه کوئی.ښه ده راوړه یوه زبردسته غلبه پیش کړه.نورهم د دې مضمون آیاتونه شته.

**د پیغمبر بشریت په انسانیت باندې د الله ﷻ یولوئ احسان دې:-** دې نه پس الله ﷻ خپل لطف اوکرم اود

¹) ترمذی کتاب الزهد باب ماجاء فی الکفاف والصبرعلیه:۲۳۴۷.

Scanned with Ca

انسانانونه د رسول لیګلو وجه بیان فرمائی اودا حکمت ظاهره وی که چرې فرښتود رسالت دا کار پوره کولې نونه تاسو هغوی سره کیناستې شوئی اونه تاسو د هغوی خبرو باندې پوره پوهیدې شوئی. انسانی رسول خو هم ستاسودجنس نه وی تاسو هغوی سره ملاویدې راملاویدې شئي د هغوی عادتو نه اوطریقې لیدلې شئي او په یوځایْ کیدوسره دهغه نه په خپله ژبه کښې تعلیم حاصلولې شئي. د هغوی په عمل لیدوباندې پخپله زده کولې شئي لکه چه ارشاد دې ﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾(١) بل آیت کښې دی ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾(٢) په یوبل آیت کښې دی ﴿كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ﴾(٣) مطلب د ټولوهم دا دې چه داخود الله ﷻ یوزبردست احسان دې چه هغه هم تاسو نه خپل رسول راولیږی چه هغوی د الله ﷻ آیاتونه تاسو ته تلاوت کړی ستاسو پاکوالې اوکړی اوتاسوته کتاب اوحکمت اوښائی اود کومو څیزونو چه تاسو ناخبره وئی په هغې تاسو عالمان کړی. نو تاسو له زما یادول ډیر په کاردی دې د پاره چه زه هم تاسو یادکړم. تاسو له زما شکر کول پکار دی اوزما د ناشکرئی نه بچ کیدل پکاردی. دلته فرمائی که چرته د زمکې آبادی د فرښتو وه نو بې شکه مونږ به یوه آسمانی فرښته هغوی کښې رسول جوړکړې لیګلې وو.تاسو پخپله انسانان ئی نو مونږ هم په دې مصلحت تاسو انسانانو ته رسول جوړ کړو او تاسو ته مو اولیګلو.

**د پیغمبرانو علیهم السلام د ټولولونه لوئې ګواه هم الله ﷻ پخپله دې**:-په خپل صداقت باندې زه نور ګواهان ولې اولټوم؟ هم د الله ﷻ ګواهی کافی ده.که زه د هغه په پاك ذات باندې تهمت اولګوم نو هغه به پخپله ماته انتقام واخلی.دقرآن پاك په سورت الحاقة کښې بیان دې که چرې داپیغمبر یوه خبره په زبردستئی سره زمونږ په سر راتپله نو مونږ به د ده ښې لاس نیولې وو اود هغه نه به مود ستې کټ کړې وو او مونږ به دې نه چا هم نه وو رابندکړې.(٤) بیا فرمائی چه د یوینده حال د الله ﷻ نه پټ نه دې هغه د احسان او انعام هدایت او مهربانی قابل خلق اود ګمراهئی او بدبښتئی قابل خلق ښه پیژنی.

| | |
|---|---|
| وَمَنْ | يَّهْدِ |
| او چاته چې | لاره اوښائی |

څوک چې

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اللّٰهُ | فَهُوَ | الْمُهْتَدِ ۚ | وَمَنْ يُّضْلِلْ | فَلَنْ تَجِدَ |
| الله | نوهغه | هدایت موندونکې دې | او څوک چې ګمراهه کړی هغه | نوهرګزبه ته بیانهٔ مومې |

الله ﷻ په سمه لار روان کړی نوهغه سمه لار بیا مومی او څوک چې بې لارې کړی نو هیڅوک به

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لَهُمْ | اَوْلِيَآءَ | مِنْ دُوْنِهٖ ۭ | وَنَحْشُرُهُمْ | يَوْمَ الْقِيٰمَةِ |
| دپاره د هغوئ | دوستان | ماسوا دهغه نه | او راجمع به کړو مونږ هغوئ لره | په ورځ دقیامت |

دالله ﷻ نه بغیر دهغوئ مددګار بیانه مومی اومونږ به دوئ دقیامت په ورځ پرمخې

(١) ٣/آل عمران:١٦٤،
(٢) ٩/التوبه:١٢٨.
(٣) ٢/البقرة:١٥١.
(٤) ٢٩/الحاقة:٤٤-٤٦.

Scanned with Ca

عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ؕ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ

په مخونو دهغوئ باند | ړانده | اوګونګيان | او کاڼره | خانئ دهغوئ | دوزخ دي

ړانده ، ګونګيان ، اوکاڼره راپاڅوؤ ددوئ ټيکاؤنړه جهنم ده

كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿۹۷﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ

هرکله چي | کمې شي لمبې ددوزخ | زيات به کړو هغوئ ته مونږ | اور | دا بدله دهغوئ ده

اوهرکله چي دهغې لمبې په کميدو راشي نو مونږ به ئي نورې زياتې غرغرنډې کړو دادهغوئ سزاده

بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا

په سبب ددې چي هغوئ | انکاراوکړو | دايتونوزمونږنه | اووې وئيل | آياهرکله چي | شومونږه | هډوکي

څکه چي هغوئ زمونږ دآيتونو نه انکار کړي وو اودا بهٔ ئي وئيل چي هرکله مونږ هډوکي

وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۹۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

اوخاورې ذره ذره | آيامونږبه بيا | خامخاراپورته کړې کيږو | په پيدا وښت | نوى سره | آيانهٔ ويني دوئ

اوريزه ريزه شو نو آيا بيا به دنوى سره راپيدا کيږو آيادوئ دې خبرې ته نه ګورى

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ عَلٰٓى

چي بيشکه الله | هغه | چي پيدا کړى ئې دى | آسمانونه | او زمکه | قادردې | په دې باند |

چې هغه الله ﷻ ټول آسمانونه اوزمکه پيدا کړې دى په دې هم قادر دى

اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ

چې پيدا کړې | مثل ددوئ | اوهغه مقرر کړې دې | دپاره ددوئ | يو وخت | چي نشته شك |

چې ددوئ غوندې خلق پيدا کړې هغه دوئ له يوه نيټه مقرر کړې ده چي هيڅ شک په

فِيْهِ ؕ فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۹۹﴾

په هغې کښې | نومنع اوکړه | ظالمانو | مګرمنع نې اونهٔ کړه | دانکارنه |

کښې نشته نوظالمانو دانکار نه سوا بل هيڅ قبول نه کړل

**قوله تعالی:- وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ؕ**

**هدايت کول او ګمراه کول د الله ﷻ اختيار کښې دى:-** الله ﷻ داخبره بيانوى چه په ټول مخلوق کښې د تصرف اختيار صرف هغه ته دى د هغه يوحکم هم روستوکيدې نه شى دهغه لارخودلې شوې څوک بې لارې کولې نه شى.نه دهغه بې لارې کړې شوې څوك په لارکولې شى دهغه ولى اومرشدڅوك هم نه شى جوړيدې. مونږ به هغه پرمخې دقيامت ميدان کښې د محشر ګنړې ته راولو.دحضور ﷺ نه سوال اوکړې

Scanned with Ca

شو چه دا څنګه کیدې شي؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغه پښوسره روان کړې دی هغه ئې د سرپه طرف هم روانولې شي. داحدیث بخاری اومسلم کښې هم دې. ([1]).

**قیامت کښې به خلق درې قسمه وي:**-مسندکښې دی ابوذر ﷺ اودریدو وئې فرمائیل اې بنی غفار (دقبیلې خلقو)وائې اوقسمونه مه خورئې صادق مصدق پیغمبر ﷺ ماته دا حدیث اورولې دې چه خلق به په درې قسمه سره کولې شي اومحشرته به راوستلې شي یوفوج خوبه دخوراك څښاك اغوستلو والا،یو تللو اومنډې وهلووالا یوهغه کوم چه به فرښتې پرمخې راکاږی اود دوزخ مخې ته به ئې راجمع کوي. خلقو وئیل دا دوه قسمه خو مو په پوهه کښې راغلل خودا تلونکی او منډې وهونکې په پوهه کښې نه راځي. هغوی اوفرمائیل چه په سورلوباندې آفت راشي تردې چه یوانسان به خپل تك شین باغ ورکړي د کجاوې والا اوښه به اخلي خونه به ملاویږي([2]) دې به هغه وخت نابینا وي ګونګ به وی هیڅ به هم نه اوري. غرض مختلف احوال به وی د ګناهونو په شان به د ګناهونو مطابق راګیروی. په دنیاکښې د حق نه کاڼه ړانده او ګونګیان وو نن دسختې محتاجئې په ورځ به رښتیا ړانده کاڼه او ګونګیان به جوړولې شي.دهغوی د اوسیدوهروخت د تلوراتلو اغوستو سملاستو حصاریدو ځائ دوزخ ګرځولې شوې دې. د هغه ځائ اُورکله چه په سړیدوراغلولمبه کړې شواوسورکړې شو لکه چه ارشاددې ﴿فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا﴾([3])یعنې اوس سزابرداشت کړئې دعذاب نه علاوه بل هیڅ څیز به نه شي زیاتولې.

**کافران د بیاراژوندی کیدو قائل نه وو:**-ارشاد دې چه پورته د کومو منکرانو د کومې سزاذکر اوشو هغوی هم د دې قابل وو هغوی به زمونږ دلیلونه دروغ ګڼړل اود قیامت هډو قائل نه وو او صفا به ئې وئیل چه سخا هډوکی کیدو نه پس اود خاورې ذروسره ملاویدونه پس د هلاکت او بربادیدونه پس بیا راژوندی کیدل خود عقل نه بهر خبره ده.نود هغوی په جواب کښې قرآن پاك د هغې یودلیل دا پیش کړو چه دهغه زبردست قدرت مالك چه زمکه او آسمان بغیرد څه څیز نه اول ځل بغیرڅه نمونې پیدا کړې دی دچاقدرت چه دا اوچت اولوئ لوئ کولاو اوسخت مخلوق په اول ځل پیداکولونه عاجز نه کړې شو هغه به تاسو په دویم ځل پیداکولو باندې عاجز شي؟دآسمان اوزمکې پیداکول خو ستاسو د پیدا کولونه ډیر زیات لوئ دی هغه د دې په پیداکولوکښې سترې نه شو آیا هغه به د مړو په ژوندی کولو باندې بې قدرته شي؟ آیا د زمکې اوآسمانونو خالق د انسانانو په شان نور پیداکولې نه شي؟ بې شکه کولې شي دهغه صفت دې چه هغه خلاق یعنی پیداکونکې دې هغه علیم دې هغه د قدرتونومالك دې. د کوم څیز متعلق چه اووائې شه نو هغه هم هغه وخت کیږي. د هغه حکم کول د یوڅیز د پیدا کیدو د پاره کافي وافي دې.هغه به د قیامت په ورځ هغوی خامخا په دویم ځل پیداکولوسره قطعاً راپیداکوی. هغه د دوی د دوباره ژوندی کولو اود هغوی د قبرونو نه د راوتلو او اودریدلو وخت مقرر کړې دې هغه وخت به داهرڅه کیږي. د دې ځائ دالږ شان تاخیرصرف د هغه وخت د پوره کولود پاره دې. افسوس د څومره واضحه دلیلونو نه پس هم خلق کفر اوضلالت نه پریږدي.

| قُلْ | لَّوْ | أَنتُمْ | تَمْلِكُونَ | خَزَآئِنَ رَحْمَةِ | رَبِّيٓ | إِذًا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دوئ ته اووایه | که چرې | تاسو | مالکان وئ | دخزانو درحمت | درب زما | نو بیابه |
| اووایه چې که تاسوزمادرب درحمت دخزانو مالکان شوی وې نوبیا به تاسو | | | | | | |

[1]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الفرقان باب قوله ﴿الذین یحشرون علی وجوههم الی جهنم﴾: ٤٧٦٠،صحیح مسلم:٢٨٠٦، احمد:١٦٧/٣، ابن حبان:٧٣٢٣

[2]) نسائی کتاب الجنائز باب البعث:٢٠٨٨ وسنده حسن، احمد:١٦٥/٥، حاکم:٣٦٧/٢.

[3]) ٧٨/النباء:٣.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لَّاَمْسَكْتُمْ | خَشْيَةَ | الْاِنْفَاقِ ؕ | وَكَانَ الْاِنْسَانُ | قَتُوْرًا ۧ |
| خامخا بندي كړې وې تاسو | ديرې | دخرچ كيدونه | اودې انسان | زړه تنګې |
| دهغې دختميدو دويرې نه لاسونه نيولي وو او انسان ډير زړه تنګې دې | | | | |

**قوله تعالى:- قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ**

**الله ﷻ د خزانو مالک يوانسان ولې نه دې جوړ كړې:-** د انساني طبيعت خاصه بيانولې شي كه د الله ﷻ د رحمت غونډې نه كميدونكې خيز باندې هم دوی قابض شي نو هلته به هم خپل بخل او زړه تنګی نه پريږدی لكه چه بل آيت كښې ارشاد دې كه د ملك د يوې حصې دوی مالكان شي نو چاته به يوه پيسه هم ورنه كړي[1] نودا انساني طبيعت دې اوداده چه چاله دالله ﷻ دطرف نه هدايت وركړې شي او د خير توفيق وركړې شي نوهغوی د دې بد خوئي نه نفرت اوكركه كوی. هغه سخي اود خلقو ښيګړه كونكې وی. انسان ډير سخت تندی كونكې دې اود تكليف په وخت كښې په جنګ باندې اودريږی اود راحت اوخوشحالئي په وخت كښې مخ اړوی اودنورو نه رابنديږی.اومونځ ګذارخلق دې نه خلاص دی[2] داسې آياتونه په قرآن پاك كښې نور هم ډير دی. د دې نه د الله ﷻ فضل اوكرم د هغه د ښېنې او رحم پته هم لګی. د بخاری اومسلم په حديث كښې دی چه د الله ﷻ دواړه لاسونه دی د ورځې او شپې خرچ په دې كښې څه كمې نه راولی د شروع نه واخله تراوسه پورې خرچ هم د هغه خزانو كښې څه كمې رانه وستو.[3]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَقَدْ اٰتَيْنَا | مُوْسٰى | تِسْعَ اٰيٰتٍ | بَيِّنٰتٍ | فَسْئَلْ | |
| اوورکړې وې مونږه | موسی ته | نهه نښې | ښكاره | نو تپوس اوكړه ته | |
| اوبيشكه مونږ موسی ﷺ ته نهه څرګنده نخښې وركړې وې نو بنی اسرائيلو نه | | | | | |
| بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ | اِذْ جَآءَهُمْ | فَقَالَ | لَهٗ | فِرْعَوْنُ | |
| دبنی اسرءيلو نه | كله چې راغې (موسی) هغوئ ته | نواووئيل | هغه ته | فرعون | |
| پوښتنه اوكړه هركله چې موسی ﷺ دوئ ته راغلو نو فرعون دهٔ ته اووئيل | | | | | |
| اِنِّیْ | لَاَظُنُّكَ | يٰمُوْسٰى | مَسْحُوْرًا | قَالَ | |
| چې بيشكه زهٔ | خامخا ګمان كوم په تا | اے موسی | چې په تاجادو شوې دې | اووئيل موسی | |
| اۓ موسی ﷺ ! زما خيال دې چې په تاباندې چا جادو كړې دې (موسی ﷺ) اووئيل | | | | | |
| لَقَدْ عَلِمْتَ | مَآ اَنْزَلَ | هٰٓؤُلَآءِ | اِلَّا | رَبُّ السَّمٰوٰتِ | |
| معلومه ده تاته | چې نهٔ دی نازل كړی | دانښې | مګر نازلې كړی دی | رب دآسمانونو | |
| چې تاته ښه معلومه ده چې دآسمانونو او زمكې دپروردګار نه سوا دا نخښې بل چا نه دی نازلې كړې | | | | | |

[1] ٤/النساء:٥٣.
[2] ٧٠/المعارج:١٩-٢٢،الخ
[3] صحيح بخاری كتاب التوحيد باب قول الله تعالى ﴿لماخلقت بيدی﴾: ٧٤١١، صحيح مسلم:٩٩٣.

Scanned with Ca

وَالْاَرْضِ بَصَآىِٕرَ وَاِنِّیْ لَاَظُنُّكَ یٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا
اودزمکي | ښکاره | نوبیشکه زهٔ | خامخا ګمان کوم په تا | اے فرعونه |دهلاك شوی
دا (تاسودپاره) دپوهې خبرې دی او اې فرعونه بیشکه څهٔ خیال کوم چې ته به هلاک شې

فَاَرَادَ اَنْ یَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ
نو اراده اوکړه فرعون | چې اوباسی دوئ | د زمکې نه |نو غرق کړو مونږ هغه | اوهغه څوك
فرعون اراده اوکړه چې هغوئ دمصر دملک نه اوباسی نومونږ هغه اودهغه ټول

مَّعَهٗ جَمِیْعًا ۙ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اسْكُنُوا
چې دهغه سره وؤ | ټول | اواووئیل مونږه | روستو ددې نه بنی اسراءیلو ته |چې اوسیږئ تاسو
ملګری په یو ځائې غرق کړل اودهغه نه پس مونږ بنی اسرائیلو ته اووئیل چې په دې

الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِیْفًا ؕ
(په دې) زمکه کښې | نو کله چې | راشی | وعده دآخرت | رابه ولومونږ | تاسولره | په جمع
ملک کښې اوسیږئ نوهرکله چې دآخرت دوعدې وخت راشی نو مونږ به تاسو ټول راغونډ کړو

**قوله تعالی:- وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسٰی تِسْعَ اٰیٰتٍ بَیِّنٰتٍ**

**دحضرت موسی ﷺ نهه معجزې:-** حضرت موسی ﷺ ته داسې نهه معجزې ملاو شوې چه دهغه د نبوت دصداقت او په نبوت باندې ښکاره دلیل وو.همسا سپین ،لاس قحط کالی دریاب طوفان ملخان سپګې چینډخې او وینه.دا وو تفصیل وار آیاتونه ([1])د محمدبن کعب قول دې چه دامعجزې دی د لاس پرېڅیدو،دلرګی نه مارجوړیدل او پنځه هغه د کومو ذکر چه په سورت اعراف کښې دې اود مالونو ختمیدل اوکاڼړې([2]) حضرت ابن عباس ﷺ وغیره نه روایت دې چه دا معجزې د هغه لاس د هغه همسا د قحط کالونه د میووکمې طوفان ملخان سپګې چینډخې او وینې دی([3])داقول ډیرښکاره صفا بهتر او قوی دې. حسن بصری ﷫ دې نه قحط او د میوو کمې یوشمیرلې دې او نهمه معجزه ئې د هغوی د همسا نه د جادوګرو ماران خوړل بیان کړی دی خود دې ټولومعجزو باوجود فرعونیانو کبر اوکړو او د خپل ګناه په کارونو باندې کلك ولاړ وو سره د دې چه د زړه یقین ئې راغلې وو خو ظلم او زیاتې کولوسره په کفر انکار باندې کلك ولاړ وو.د وړاندینو آیاتونوسره د دې آیاتونو ربط دادې چه څنګه ستا قوم تاند معجزې غواړی دغه شان د موسی ﷺ نه هم فرعونیانو معجزې غوښتې وې چه ښکاره شوې خوهغوی ته ایمان نصیب نه شو اوآخر هلاك کړې شو. هم دغه شان که چرې ستا قوم هم د معجزو ښکاره کیدو نه کافران پاتې شو نو بیابه مهلت نه ملاویږی اوډیر زر به تباه برباد کړې شی. پخپله فرعون معجزې لیدلونه پس حضرت موسی ﷺ ته جادوګر اووئیلو اوځان ئې ترې خلاصولو. نودا دلته چه د کومو نهو نښوذکردې دا هم هغه دی اود دې بیان ﴿وَاَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰی مُدْبِرًا وَّلَمْ یُعَقِّبْ ؕ

---

[1]) الطبری:١٧/٥٦٤.
[2]) الطبری:١٧/٥٦٥.
[3]) الطبری:١٧/٥٦٥-٥٦٦.

Scanned with Ca

يٰمُوسٰى لَا تَخَفْ ۖ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُونَ ۝ إِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا بَعْدَ سُوءٍ فَإِنِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝ وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ ۖ فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ۝﴾ ([1])پورې دې. په دې آياتونوکښې د همسا او لاس ذکر موجود دې اود باقی آياتونو بيان په سورت اعراف کښې دې.د دې نه علاوه هم الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته ډيرې معجزې ورکړې وې مثلاً دهغوی همسا لګيدو باندې په يوکاڼړې دولس چينې راښکاره کيدل ياد اوريځوسورې کول من اوسلوانازليدل وغيره وغيره دا ټول نعمتونه بنی اسرائيلو ته دمصر ښار پريخودو نه پس ملاوشو. دامعجزې دلته ځکه بيان نه کړې شوې چه هغه فرعونيانونه وې ليدلې. دلته صرف دهغه نهه معجزو ذکر دې کومې چه فرعونيانو ليدلې وې او دروغ ئې ګنړلې وې.

**د يهوديانو دضداود دروغ وئيلو واقعه اود تسع ايات نه مراد:**-مسنداحمدکښې دی چه يويهودی خپل ملګری ته اووئيل ځه چه لاړشو اود دغه نبی نه دهغه دقرآن ددې آيت باره کښې تپوس کوو چه حضرت موسی ﷺ ته هغه نهه نښې څه ملاوشوې وې؟ بل وئيل نبی مه وايه اوری نو د هغه سترګې به ځلور شی. اوس دې دواړو د حضور ﷺ نه سوال اوکړو حضور ﷺ اوفرمائيل الله ﷻ سره څوک مه شريك کونی غلا مه کوئی زنا مه کوئی څوك ناحقه قتل ګوئی مه جادو مه کوئی سود مه خورئی بې ګناه خلق په نيولو سره د بادشاه دربار ته مه بوځئی چه دې قتل کړی اوپه پاکو ښځو باندې بهتانونه مه تړئی وئی فرمائيل د جهاد نه مه تختئی اواې يهوديانو په تاسو خو خاص داحکم هم وو چه د هفتې په ورځ زياتې مه کوئی.اوس خوهغوی دنه غوښتوباوجود دحضور ﷺ پښې لاسونه ښکلول او وئی وئيل چه زمونږ ګواهی ده چه تاسودالله ﷻ نبی ئی.حضور ﷺ اوفرمائيل بياتاسو زماتابعداری ولې نه کوئی؟وئيل داؤد ﷺ دعاکړې وه چه نبی به ضرور زما په نسل کښې وی اومونږ ويريږو چه ستاسو تابعداری کولوسره به يهوديان مونږ ژوندی پرينږدی.ترمذی نسائی او ابن ماجه کښې هم دا حديث دې([2])امام ترمذی دې ته حسن صحيح وائی خودې لږ شان ګران کار ځکه چه د دې راوی عبدالله بن سلمه په حافظه کښې لږشان قصور دې او په هغه باندې جرح هم ده. ممکن دی چه د نهه کلماتو شك نهه آياتونو سره ده ته شوې وی ځکه چه دا د تورات احکام دی په فرعون باندې حجت قايمونکی څيزونه دا نه دی. والله اعلم.

ددې دپاره فرعون ته حضرت موسی ﷺ اوفرمائيل اې فرعونه دا خوتاته هم معلوم دی چه دا ټولې معجزې رښتيادی اودې نه يوه يوه زما د صداقت ژوندې اوښکاره دليل دې. زما خيال دې چه ته هلاك کيدل غواړې د الله ﷻ لعنت په تاباندې راکوزيدل غواړې ته به مغلوب شې او تباهئی ته به اورسې. ([3])د مثبور معنی د هلاك کيدونکی ده چه په دې شعرکښې هم ده -:

**اذاجاري الشيطن فی سنن الغی ومن مال ميله مثبور**

يعنی د شيطان دوستان هلاك کيدونکی دی د ﴿عَلِمْتَ﴾ دويم قراءت ﴿عَلِمْتُ﴾ د "ت" د زبر په بدله کښې د "ت" پيش سره هم دې خود جمهورو قراءت هم د "ت" په زبر سره دې. اودا معنی ئی په دې آيت کښې په وضاحت سره بيان کړې ده.﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ۝﴾([4])يعنی چه کله هغوی ته زمونږ ښکاره اودپوهې نه ډکې نښې وراورسيدې نوهغوی اووئيل چه داخو ښکاره جادو دې. دې ويناکولو سره منکران کيناستل سره د دې چه د هغوی زړه ته يقين راغلې وو خوصرف په ظلم اوزياتی سره ئی دالار اونه منله الخ. غرض دا چه صفا خبره ده د کومو نهو نښو ذکر چه اوشو دا همسا لاس قحط د ميوو کمې ملخان سپږې چيندخې وينې وې چه د فرعون اود هغه د قوم د پاره د الله ﷻ د

([1]) ٢٨/القصص:٣١-٣٢.
([2]) احمد:٢٣٩/٤ کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة بنی اسرائيل:٣١٤٤ وهوحسن، نسائی:٤٠٨٣، ابن ماجه٣٧٠٥وسنده حسن
([3]) الطبری:٥٧٠/١٧-٥٧١.
([4]) ٣٧/النمل:١٤.

Scanned with Ca

طرف نه دليل او ثبوت وو اود هغه معجزې وې چه د هغوی په صداقت اود الله ﷻ په وجودباندې دلائل وو. د دې نهو نښونه مراد هغه احکام نه دی کوم چه پورته په حديث کښې بيان شو ځکه چه هغه په فرعون اوفرعونيانو باندې حجت نه وو بلکه په هغوی باندې حجت کيدل اود هغوی احکام بيانيدلو په مينځ کښې څه مناسبت نشته. دا وهم صرف د عبدالله بن سلمه د حديث راوی په وجه سره خلقو ته پيدا شوې دې. دهغه بعضې خبرې واقعی دانکار قابلې دی.والله اعلم.

ډير ممکن دی چه دې دواړو يهوديانو د لسو کلمو سوال کړې وی اوراوی ته د نهو آياتونو وهم شوې وی. فرعون اراده اوکړه چه دوی د وطن نه اوشړی خو مونږ پخپله هغه د کبانو خوراك جوړکړو اود هغه ټول ملګری هم. دې نه پس مونږ بنی اسرائيلو ته اوفرمائيل چه اوس زمکه ستاسو ده خورئی ځکنی او اوسيږئی.په دې آيت کښې حضور ﷺ ته هم يوزبردست بشارت ورکړې شوې دې چه مکه به هم ستا په لاس فتح کيږی. سره د دې چه سورت مکی دې د هجرت نه اول نازل شوې دې. په واقعه کښې اوشو همداسې.دمکې خلقوحضور ﷺ دمکه شريفې نه ويستل غوښتل لکه چه قرآن په آيت ﴿وَاِنۡ كَادُوۡا لَيَسۡتَفِزُّوۡنَكَ مِنَ الۡاَرۡضِ لِيُخۡرِجُوۡكَ مِنۡهَا وَاِذًا لَّا يَلۡبَثُوۡنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيۡلًا﴾ (١)کښې بيان فرمائيلی دی. بيا الله ﷻ خپل نبی کريم ﷺ غالب کړواود مکې مالك ئې جوړکړو اوفاتحانه حيثيت سره مکې ته راغلو دلته ئې خپله قبضه واخسته اوبيا د خپل حلم اوکرم نه کاروا خستو د مکې مجرمانو اوخپل ځانی دښمنانوته ئې په عام توګه معافی ورکړه.الله ﷻ سبحانه وتعالی د بنی اسرائيلو غوندې کمزورې اوضعيف قوم په زمکه د مشرق او مغرب وارثان جوړکړې وو اود فرعون په شان سخت او متکبره بادشاه مال زمکه ميوې فصلونه اود خزانو مالکان ئې جوړکړل.لکه چه آيت ﴿ وَاَوۡرَثۡنٰهَا بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ ﴾(٢) کښې بيان فرمائيلې دې دلته هم فرمائی چه د فرعون د هلاکت نه پس مونږ بنی اسرائيلوته اوفرمائيل اوس تاسو دلته اوسيږئی د قيامت د وعدې په ورځ تاسو اوستاسو دښمنان ټول به زمونږ په وړاندې راجمع کړې شی مونږ به تاسو ټول راجمع کوو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَبِالۡحَقِّ | اَنۡزَلۡنٰهُ | وَبِالۡحَقِّ | نَزَلَ ؕ | وَمَاۤ |
| او دحق سره | نازل کړې دې مونږه داقرآن | اوهم دحق سره | نازل شوې دې | اونه ئې |

اومونږ داکلام په حقه نازل کړې دې اودا په حقه نازل شوې دې اومونږ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَرۡسَلۡنٰكَ | اِلَّا | مُبَشِّرًا | وَّنَذِيۡرًا | وَقُرۡاٰنًا | فَرَقۡنٰهُ |
| ليږلې مونږته | مګر | زيرې ورکونکې | اويرونکې | اوداقرآن چې دې | لږلږنازل کړې دې مونږدا |

ته زيرې ورکونکې اوويرونکې جوړ کړې راليږلې يې اوداقرآن چې دې نو دامونږ جدا جدا برخې کړې دې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِتَقۡرَاَهٗ | عَلَى النَّاسِ | عَلٰى مُكۡثٍ | وَّنَزَّلۡنٰهُ | تَنۡزِيۡلًا |
| دپاره ددې چې اولولې ته داقرآن | په خلقوباندې | په ارام سره | اونازل کړې دې مونږداقرآن | په نازلولوسره |

چې ته ئې خلقوته په قلاره قلاره اولولې اومونږ راليږلې هم لږلږ دې

(١) ١٧/بنی اسرائيل:٧٦.
(٢) ٢٦/الشعراء:٥٩.

Scanned with Ca

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْلَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ

اووایه اے نبی | که ایمان راوړئ تاسو | په دې قران | او که نۀ راوړئ | بیشکه هغه کسان

رائې نبیﷺ دې خلقوته اووایه چې که تاسو پرې ایمان راوړئ او که نه راوړئ بیشکه کومو خلقوله

اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ

چې ورکړې شوې دې | علم | مخکښې ددې نه | کله چې | لوستلې کیږي | په هغوئ باند (داقران) |

چې له دې نه وړاندې علم دکتاب ورکړې شوې دې هر کله چې دهغوئ په وړاندې اولوستلې شي

يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ۙ﴿١٠٧﴾ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ

نوپریوزي هغوئ | په زنوباندپړمخې | سجده کونکی | اووائی هغوئ | پاك دې | رب زمونږ

نو هغوئ ورته پړمخې په سجده پریوزی اوداوائی چې زمونږ رب پاک دې

اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ

بیشکه ده | وعده درب زمونږ | خامخا کیدونکی | او پریوزی هغوئ | په زنواندې پړمخې |

بیشکه زمونږ درب وعده پوره کیدونکې ده او هغوئ پړمخې پریوزی

يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ﴿١٠٩﴾

ژاړی هغوئ | او زیاتوی هغوئ ته | عاجزی |

او ددې قران په اوریدو دهغوئ عاجزی نوره هم زیاتنه شي

**قوله تعالى:- وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ**

**قرآن حق دې:-** ارشاددې چه قرآن پاك په حقه سره نازل شوې دې داسراسر هم حق دې الله ﷻ د خپل علم سره نازل کړې دې ددې په حق کیدوباندې هغه پخپله کواه دې اوفرښتې هم کواه دی په دې کښې هم هغه دی کوم چه دخپلې پوهې سره نازل کړی دی ددې ټول حکم احکام نهی اوممانعت هم د هغه د طرفنه دی حق سره ئی نازل کړو او په حق سره ئی تاته دراورسولو. نه په لار کښې څه باطل ملاو شواونه د باطل داشان دې چه دې سره یوځائ شی. دا بالکل محفوظ دې اود کمی زیاتی نه بالکل پاك دې. د پوره طاقت والا امانت داره فرښتې په ذریعه نازل شوې دې چه په آسمانونوکښې د عزت خاوند او د هغه ځائ سردار دې.ستا کار مؤمنانوته خوشحالی اوزیرې اورول دی اوکافران ویرول دی. دا قرآن پاك مونږ د لوح محفوظ نه بیت العزت ته نازل کړو چه په اول آسمان کښې دې. د هغه ځائ نه لږ لږ او جدا جدا کولوسره د واقعاتو مطابق ٢٣کاله کښې دنیاته نازل کړو([1]) ددې دویم قراءت ﴿فرقناه﴾ دې یعنی یویوآیت کولوسره په تفسیر تفصیل اوبیانولوسره نازل کړو([2]) چه ته ئی خلقو ته په آسانتی سره اورسوې او په مزه مزه ئی هغوی ته واوروې. مونږ دا لږ لږ کولوسره نازل کړې دې

**دقرآن پاك اوریدوسره د مؤمنانوکیفیت څه وی؟:-** أرشاد دې چه ستاسوپه ایمان باندې دقرآن پاك صداقت موقوف نه دې که تاسو منئی اوکه نه منئی خوقرآن پاك فی نفسه د الله ﷻ کتاب دې او بې شکه حق

[1] الطبری:١٧/٥٧٤.
[2] الطبری:١٧/٥٧٣.

Scanned with Ca

دي.ددي ذکر خود همیشه نه په پخوانو کتابونو کښې هم راروان دې.کوم اهل کتاب چه صالح او عامل د الله ﷻ د کتابونودی اوچا په وړاندینو کتابونو کښې څه تحریف او تبدیل نه دې کړې هغوی خود قرآن پاك اوریدو سره بې آرامه شی اود شکریه سجده کوی چه یاالله شکر دې چه تازمونږ په موجودګئ کښې رسول راولیګلو او کتاب دې نازل کړو.د رب خپل په کامل قدرت باندې د هغې تعظیم او درانوې کوی. پیژندل ئی چه د الله ﷻ وعده ربښتونې ده غلطه نه ده. نن دا پوره کیدونکې وینی نو خوشحالیږی. د خپل رب تسبیح بیانوی اود هغه د وعدې د صداقت اقرار کوی. په خشوع خضوع انکسارئی عاجزئی سره په ژړا اوزارئی سره د الله ﷻ په وړاندې په د خپل څنو په مخ په سجده کښې پراته دی.د ایمان اوتصدیق کلام الله اورسول الله په وجه په دین اواسلام کښې هدایت تقوی کښې ویره کښې نور هم وړاندې کیږی. دا عطف د صفت په صفت باندې دې د ذات په ذات باندې نه دې.

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ
| اووایه | که رااوبلئ تاسو | الله |
اووایه چې که تاسو د الله ﷻ په نوم

اَوِادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۚ
یا رااوبلئ تاسو | رحمان | په کوم نوم چې | رابلئ تاسو هغه | نودی هغه لره | نومونه | ښه |
بلنه اوکړئ اوکه د رحمان په نوم بلنه اوکړئ په کوم نوم چې ئې اوبلئ نو دهغه ټول نومونه ښائسته دی

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ
او ډیر په اوچت اوازمه وایه | مونځ خپل | اومه ډیر په رواوازسره وایه | دی مانځه لره | اولټوه |
اوته خپل مونځ ډیر په اوچت اواز هم مه لوله او بالکل چپ ئې هم مه لوله بلکه ددې

بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ لَمْ يَتَّخِذْ
په منځ ددې کښې | یوه لار | اواووایه | چې ثناه ده | الله لره | هغه الله | چې نهٔ ئې دې نیولې څوک
ترمینځه طریقه اختیار کړه اوته اووایه چې ټول تعریفونه د الله ﷻ دپاره دی کوم چې نه څو

وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيْكٌ فِى الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ
ولد | اونشته | دهغه سره | څوک شریك | په بادشاهئ کښې | اونهٔ شته | هغه لره
څوک خوئې جوړ کړې دې او نه ددهٔ په بادشاهئ کښې څوک شریک شته اونه هغه

وَلِىٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿١١١﴾ ع
څوک دوست | دوجې دعاجزئ نه | اولوئی بیانوه دهغه | په لویئ کاملې سره |
کمزورې دې چې څوک ئې مددګار شی اودهغه لوئې ډیره ډیره بیانوه

**قوله تعالی:-** قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ

**د الله ﷻ د اسماء حسنی په واسطه سره دعاګوئی:-** کافران د الله ﷻ درحمت د صفت نه منکر وود هغه نوم به ئی رحمن نه ګنړلونو الله ﷻ د خپل ځان دپاره دا نوم ثابتوی اوفرمائی صرف هم دانه چه د الله ﷻ نوم الله وی رحمن وی ددې نه سوا نور هم ډیر ښکلې اواحسن نومونه دی. په کوم یوپاك نوم سره چه غواړې د هغه نه دعاکوه.د سورت حشر په آخره کښې هم د هغه ډیرنومونه بیان شوی دی. یومشرك د حضور ﷺ نه دسجدې په حال کښې یارحمن یارحیم واوریدو نوونی وئیل ګوره داموحددې اودوه خدایان

Scanned with Ca

رابلي په دې باندې دا ایت نازل شو.[1] بیافرمائي چه خپل مونځ دومره په اوچت اواز سره مه واني. د دې آیت دنازلیدو په وخت کښې حضورﷺ په مکه کښې پټ وو کله چه به ئې صحابه کرام ﷺ ته مونځ ورکولونو په اوچت آواز سره به ئې په دې کښې قراءت کولو نو مشرکانو به قرآن ته اورسول الله ﷺ ته کنځلې کولې په دې وجه حکم اوشوچه دومره په اوچت آوازسره د لوستلوضرورت نشته چه مشرکان ئې واوري اوکنځلې اوکړي. اوداسې په مزه ئې هم مه لوله چه ستا ملګری ئې هم اونه اوریدې شي بلکه په درمیانه آوازسره تلاوت کوه.[2] بیاچه کله حضورﷺ هجرت اوکړو مدینې ته راغلونودا تکلیف لاړو او چه اوس ئې څنګه غواړې لوله.[3] مشرکانو به چه چرته هم د قرآن پاك تلاوت شروع کیدو تیخته کوله. که چا به اوریدل هم غوښتل نوپټ پټ په خیال خیال سره به ئې څه اوریدلوخو چه کوم ځائ مشرکانو ته معلومه شوه نوهغوی به دوی ته سخته سزا ورکوله. اوس که ډیر په تیزه آواز اوکړې نود هغوی چیړ اود هغوی دکنځلوخیال اوکه ډیر ئې په مزه کړې نو چه څوك ئې په پټه اوري هغوی محروم. په دې وجه د درمیانه قراءت کولو حکم اوشو[4] غرض دا چه د مانځه د قراءت باره کښې دا آیت نازل شوې دې.[5]

**د ابوبکرصدیق ﷺ اود عمرفاروق ﷺ د قراءت باره کښې د رسول کریم ﷺ هدایت:**-روایت دې چه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ به په خپل مونځ کښې په رو آوازسره قراءت کولو اوحضرت عمر ﷺ به په اوچت آواز سره قرآن لوستلو نودحضرت صدیق اکبرﷺ نه تپوس اوشو چه تاسو ئې ولې په مزه لولئې؟ هغوی وئیل دخپل رب سره غوږایستني دی هغه زمادحاجتونونه خبردې. نواوفرمائیلې شو چه دا ډیر ښه دی. د حضرت عمر ﷺ نه تپوس اوشو چه تاسوئې ولې په تیز آواز سره لولئې؟ هغوی اوفرمائیل چه شیطان تختوم او اوده راویښوم. نو هغوی ته هم اوفرمائیلې شو چه ډیرښه. خوچه کله دا آیت نازل شو نو ابوبکر ﷺ ته لږ شان په تیزه اوعمر ﷺ ته لږ شان په مزه آوازسره تلاوت کولوله اوفرمائیلې شو.[6]

**دا ایت د مانځه باره کښې دې اوکه دعاء باره کښې؟** ابن عباس ﷺ فرمائي دا آیت د دعا باره کښې نازل شوې دې دغه شان ثوری رحمه الله مالك رحمه الله هشام بن عروه رحمه الله نه او هغه د خپل پلار نه اوهغه د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها نه روایت کوی هغوی فرمائي چه دا آیت د دعاباره کښې نازل شوې دی[7] هم دا قول دحضرت مجاهد رحمه الله حضرت سعیدبن جبیر رحمه الله حضرت ابوعیاض رحمه الله حضرت مکحول رحمه الله او حضرت عروه بن زبیرﷺ هم دې. روایت دې چه د بنو تمیم قبیلې یو اعرابی کله هم چه حضورﷺ د مانځه نه سلام ګرځولو دا دعاکوله چه اې الله ماته اوښ راکړې ماته اولاد راکړې نو بیادا آیت نازل شو. یوبل قول داهم دې چه دا آیت د تشهدباره کښې نازل شوې دې[8] داهم وئیلې شوی دی چه دې نه مراددا دې چه مه ریاکاری کوئې اومه عمل پریږدئې داهم مه کوئې چه په ښکاره باندې خوئې ښه کوئې اوپټ ئې خراب اداکړئې اهل کتابوبه پټ وئیلو او په دې مینځ کښې به ئې یوه فقره په ډیر اوچت آواز سره په چغه د ژبې نه ویستله په دې باندې به ټول یوځائ شو اوشور به ئې کولو نوددوی دمنافقت نه ممانعت اوشو اوچه څنګه به نورو خلقو ښوالې کولودې نه هم منع کړې شوبیا ددې دمینځ والا لار

---

[1] الطبری:١٧/٥٨٠.

[2] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورت بنی اسرائیل باب ﴿ولاتجهربصلاتك ولاتخافت بها﴾ :٤٧٢٢، صحیح مسلم:446، ترمذی:٣١٤٦

[3] الطبری:١٧/٥٨٤.

[4] الطبری:١٧/٥٨٥.

[5] الطبری:١٧/٥٨٧.

[6] ابوداؤد کتاب التطوع باب رفع الصوت بالقراءة فی صلاة اللیل:١٣٢٩ وسنده حسن، ترمذی:٤٤٧ مختصراً.

[7] صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة بنی اسرائیل باب﴿ولاتجهر بصلاتك ولاتخافت بها﴾:٤٧٢٣

[8] حاکم:١/٢٣٠.

Scanned with Ca

حضرت جبرائیل ﷺ اوخودله نوحضور ﷺ مسنون اوفرمائیله.د الله ﷻ حمد کوئی په کوم کښې چه د هغه ټول کمالات او پاك صفتونه دی د چاچه ټول نومونه ډیر بهترین دی د ټولونقصانونونه پاك دې د هغه اولاد نشته د هغه شریك نشته. هغه واحد دې هغه احد دې صمد دې نه د هغه پلارشته نه مور نه اولاد نه د هغه په شان څوك شته اونه هغه دومره سپك چه د چاد حمایت محتاج وی یاد وزیراومشیر هغه ته حاجت وی بلکه د ټولو څیزنو خالق اومالك هم هغه یو ذات دې. د ټولو مدبر اومقتدر هم هغه دې هم د هغه رضا په ټول مخلوق کښې چلیږی هغه وحده لاشریك له دې نه هغه د چاسره رورولی کړې ده اونه د چا د امداد طلب ګار دې[1] ته هروخت د هغه لوئ پاکی عظمت او جلالت بیانوه او مشرکان چه کوم تهمتونه په هغه باندې تړی ته د هغوی نه د هغه زیاته لوئ او بزرګی بیانوه. یهودیانو اونصاری خویه وئیل چه دالله ﷻ اولاددې مشرکانو به وئیل ((لبيك لاشريك لك الاشريكا هولك تملكه وماملك))یعنی موږ حاضر غلامان یویاالله ستا څوك شریك نشته خو هغه چه ستا په ملکیت کښې دی هم ته د هغوی اود هغوی دملکیت مالك ئی. صابی اومجوسیانو به وئیل که اولیاء الله نه وې نو الله ﷻ ټول انتظام نه شی کولې. په دې باندې دا آیت نازل شو اود ټولو باطلانو تردید اوکړې شو. [2]

**هرمسلمان ته دا ایت زده کول پکاردی:**-نبی کریم ﷺ به دخپل کور ټولولویوړوته داآیت خودلو حضور ﷺ د دې آیت نوم آیت العز یعنی دعزت والا آیت کیخودې دې[3]په بعضې آثارو کښې دی په کوم کور کښې چه د شپې دا آیت اولوستلې شی په هغه کور کښې به څه آفت یا غلا نه شی کیدې. والله اعلم.

حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی زه حضور ﷺ سره وتلې ووم زمالاس دحضور ﷺ په لاس کښې وو دحضور ﷺ لاس زما په لاس کښې وو په لار روان یوسړې حضور ﷺ اولیدو ډیر په بد حال کښې وو هغه نه ئی تپوس اوکړو څه خبره ده؟هغه وئیل حضور ﷺ بیمارو اونقصانونو زماداحال کړې دې. حضور ﷺ اوفرمائیل چه زه تاته څه وظیفه اوښایم چه دا تکلیف اوبیماری هرڅه درنه لاړشی؟ هغه وئیل او او یارسول الله ﷺ خامخا اوښائې په احد او بدرکښې ستاسود ملګرتیانه کولو افسوس به زمانه لړې شی. په دې باندې حضور ﷺ مسکې شوونی فرمائیل ته د بدر او احد د صحابه کرامو ﷺ مرتبه ته چرته رسیدې شې ته د هغوی په مقابله کښې خالی لاس او بې سرمایه ئی. حضرت ابوهریره ﷺ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ دې پریږده ماته ئی اوښائې حضور ﷺ اوفرمائیل ابوهریره ﷺ داسې وایه ((توكلت على الحي الذي لايموت الحمدلله الذي لم يتخذ ولدا))ماداوظیفه کول شروع کړو یوڅو ورځې تیرې وې چه زما حالت ډیر ښه شو.حضور ﷺ زه اولیدم نو وئی فرمائیل ابوهریره ﷺ داڅه دی؟ ماوئیل د هغه کلمو په وجه د الله ﷻ د طرف نه برکت دې کومې چه تاسو ماته خودلې وې. [4]د دې سندضعیف دې اود دې په متن کښې هم نکارت دې دا حافظ ابویعلی رحمه الله په خپل کتاب کښې راوړې دې. والله اعلم.

**(الحمدلله)** د سورت بنی اسرائیل تفسیرختم شو.

.....................

**د دې سورت دفضیلت بیان خاص کر د اول لسو آیاتونو د فضیلت بیان:**-بله داخبره چه دا سورت د دجال د فتنه نه محفوظ ساتونکې دې.

---

[1] الطبری: ۵۹۰/۱۷.

[2] الطبری: ۵۹۰/۱۷.

[3] احمد:۴۳۹/۳، ۴۴۵.

[4] مسندابی یعلی: ۶۶۷۱.

Scanned with Ca

**د سورت کهف د فضیلت بیان:**-مسنداحمد کښې دی یوصحابی ﷛ ددې سورت تلاوت شروع کړو د هغه په کور کښې یواس وو هغه ټوپونه شروع کړه. صحابی ﷛ چه کله اوکتل نوهغه ته د تنبوغوندې یوه اوریخ ښکاره شوه کومې چه په هغه باندې سورې کړې وو.هغه حضورﷺ ته ذکر اوکړو حضورﷺ اوفرمائیل لوله دا هغه سکینه ده چه د الله ﷻ د طرف نه د قرآن پاك په تلاوت کولو باندې نازلیږی. (١) بخاری اومسلم کښې هم دا روایت شته.دا صحابی اسید بن حضیر ﷛ وو لکه څنګه چه د سورة بقره په تفسیر کښې مونږ بیان کړې دې.(٢) مسنداحمد کښې دی کوم سړی چه د سورت کهف د شروع لس آیاتونه یادکړل هغه د دجال د فتنه نه بچ شو. په ترمذی شریف کښې د دریوآیاتونو بیان دې(٣)په مسلم کښې دلسوآخری آیاتونوذکردې. (٤) نسائی کښې د لسو آیاتونو مطلق بیان دې. (٥)

مسنداحمد کښې دی چه څوك د دې سورت کهف اول اوآخر اولولی د هغه د پاره به د پښونه ترسره پورې نور وی اوچه څوك دا ټول سورت اولولی دهغه دپاره د زمکې نه ترآسمانه پورې نور به وی. (٦) په یوغریب سندسره په ابن مردویه کښې دی چه د جمعه په ورځ څوك داسورت کهف اولولی دهغه د پښود تلونه واخله دآسمان داوچتوالی پورې به نور وی چه دقیامت په ورځ به ښه روښانه وی اود دویمې جمعه پورې به د هغه ټول ګناهونه معاف کیږی. (٧)د دې حدیث په مرفوع کیدوکښې نظر دې اوډیر ښه د دې موقوف کیدل دی. د حضرت ابوسعیدخدری ﷛ نه روایت دې چاچه سورت کهف د جمعه په ورځ اولوستلو دهغه د خوانه واخله تربیت الله شریف پورې به نورانیت وی.

مستدرك حاکم کښې مرفوعًا روایت دې چاچه د جمعه په ورځ سورت کهف اولوستلو د هغه د پاره به د دوو جمعود مینځ پورې د نوررڼړا وی(٨)بیهقی کښې دی چا چه سورت کهف داسې اولوستلو څنګه چه نازل شوې دې د هغه د پاره دقیامت په ورځ به نور وی(٩)دحافظ ضیاءمقدسی رحمه الله کتاب المختاره کښې دی چه کوم سړې د جمعه په ورځ د سورت کهف تلاوت کوی هغه به اتو (٨) ورځوپورې د هرقسم فتنونه محفوظ وی تردې که چرې دجال هم په دې زمانه کښې راوځی نود هغه نه به هم بچ کولې شی.

| آیاتونه | | سورة الکهف مکیة وهی مائة وعشر ایات واثنا عشر رکوعات | | رکوع ګاني |
|---|---|---|---|---|
| | | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | | |
| ١١٠ | | شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې | | ١٢ |

| اَلۡحَمۡدُ | لِلّٰهِ | الَّذِیۡۤ | اَنۡزَلَ | عَلٰی عَبۡدِهِ | الۡكِتٰبَ |
|---|---|---|---|---|---|
| هره ثناه | الله لره ده | هغه(الله) | چې نازل ئې کړو | به بنده خپل باندې | دا کتاب |
| ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی چې پخپل خاص بنده ئې داکتاب رانازل کړو | | | | | |

(١) صحیح بخاری کتاب المناقب باب علامات النبوة فی الاسلام:٣٦١٤،صحیح مسلم:٦٧٩٥، احمد: ٢٣١/٤، ترمذی: ٢٨٨٥،
(٢)صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین، باب فضل سورة الکهف وآیة الکرسی:٨٠٩، احمد:١٩٦/٥، ابوداؤد:٤٣٢٣ عمل الیوم واللیلة للنسائی:٩٥١.
(٣) ترمذی کتاب فضائل القرآن باب ماجاء فی فضل سورة الکهف:٢٨٨٦.
(٤) صحیح مسلم:٩٠٩.
(٥) السنن الکبری للنسائی:١٠٧٨٥، وسنده صحیح.
(٦) احمد:٤٣٩/٣.
(٧) ابن مردویه،.
(٨) حاکم:٣٦٨/٢ وسنده حسن: بیهقی:٢٣٩/٣.
(٩) حاکم:٥٦٤/١ وسنده حسن، شعب الایمان:٢٤٤٦، المعجم الاوسط:١٤٧٨.

Scanned with Ca

وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۟ؕ قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ

او جوړنې نه كړو | دې كتاب لره | كوږوالې | صحيح خبره كوونكې كتاب دې | دپاره ددې چې خبردار كړي خلق

او په هغې ئې دذرې هومره كږليچ پرې نخودو سمه نيغه لاره خودونكې كتاب

بَاْسًا شَدِيْدًا مِّنْ لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ

دعذاب | سخت نه | دطرفه دالله نه | اوزيرې وركړي | مومنانولره | هغه |

چې دهغې سخت عذاب نه خلق وويرېږي چې دالله ﷻ دطرفنه دې او هغه مومنانو له زيرور كړي

يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا ۟ۙ

چې هغوئ عمل كوى | نيك | چې بيشكه | ده هغوئ لره | بدله | ښه |

څوک چې نيک كارونه كوى چې دهغوئ دپاره ډير ښه اجرمقرر دې

مّٰكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۟ۙ وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا

چې اوسيدونكې به وى | په هغې كښې | هميشه | او چې اويروى | هغه خلق | چې وائى

چې تل عمرى به په كښې اوسيږى اوچې هغه كسان دالله ﷻ دنيوكې نه اوويروى چې داوائى

اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۟ۙ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ

چې نيولې دې الله | څوئې | نشته دې دوئ لره | په دې خبره | هيڅ علم | اونه پلارانو ددوئ لره

چې الله ﷻ خان له يوڅوئې جوړ كړې دې ذدې خبرې نه دوئ ته علم شته او نه ددوئ پلار نيكه ته

كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۟

لويه ده | هغه خبره | چې راوځى | دخلو ددوئ نه | نۀ وائى دوئ | مګر | دروغ

دا ډيره سخته خبره ده چې ددوئ دخلو نه اوځى يقينا داخلق سراسر دروغ وائى

**قوله تعالى:- وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ**

**الله ﷻ قرآن پاک د نور ذريعه جوړ كړې دې:-** مونږ اول دا بيان كړى چه الله ﷻ د هرامر د شروع كولونه او دهغې په ختمولوباندې خپل حمد اوثنا بيانوى. په هرحال كښې هغه دحمدوثنااوتعريف لائق دې. اول اوآخر هم د هغه ذات والاصفات دحمدوثنا مستحق دې.هغه په خپل رسول كريم ﷺ باندې قرآن پاك نازل كړو چه دهغه ډير لوئ نعمت دې د څه په ذريعه چه د الله ﷻ ټول بنديګان د تيارو نه راوځى او د نور طرف راتلې شى.هغه داكتاب ټيک ټاک سيدا او نيغ ساتلې دې په كوم كښې چه هيڅ كوګوالى كسر او كمې نشته.د صراط مستقيم طرف ته لارخودنه صفااوښكاره ده. بدكاران ويرونكى نيكانوته خوشخبرى اوزيرى اوروونكې معتدل نيغ مخالفينو اومنكرينوته خطرناك عذابونو خبروركونكې دا كتاب دې. كوم عذابونه چه د دې طرف نه دى په دنياكښې هم او په آخرت كښې هم داسې عذابونه دى چه نه د دې په شان څوک په عذاب شوى دى اونه د دې په شان د چا نيول شوى دى. اوچه څوک په دې باندې يقين اوكړى نيك عمل اوكړى ايمان راوړى هغه له داكتاب يوعظيم خوشحالى وركوى. كوم ثواب له چه هميشه والې او دوام دې هغه جنت به ورته ملاويږى په كوم كښې چه كله هم فنانشته اود هغې نعمتونه غيرفانى دى. اوهغوى هم دهغه عذابونونه خبروى څوک چه د الله ﷻ د پاره اولاد ګرځوى

Scanned with Ca

لکه د مکې مشرکان چه هغوی به فرښتې د الله ﷻ لونړه ګنړلې. ([1])په بې علمنې او جهالت نه د خلې نه راوباسی اودا خوبه دهغوی مشرانو هم په بې علمنی کښې ګولې د﴿كلمة﴾ نصب دتميز په وجه دې. تقدیرد عبارت داسې دې ﴿كبرت كلمتهم هذه كلمة﴾ اووئيلې شوی دی چه دادحيرانتياپه توګه دې تقديرعبارت دا دې﴿اعظم كلمتهم كلمة﴾ لکه چه وئيلې شی ﴿اكرم بزيد رجلا﴾ د بعضې بصريانو هم دا قول دې. بعضې قاريانودا ﴿كلمة﴾لوستلې دې لکه چه وائی ﴿عظم قولك وكبر شانك﴾ د جمهورو په قراءت خو معنی بالكل ښکاره ده چه د هغوی د دې کلمه بد او ډيره خرابه کلمه کيدل بيانيږی چه بالکل بې دليل ده صرف دروغ او د ځان نه خبره ده. د دې د پاره ئې اوفرمائيل چه صرف دورغ وائی.

**د سورت کهف شان نزول**:- ددې سورت شان نزول دابيان کړې شوې دې چه قريشو نضربن حارث او عقبه بن ابی معيط د مدينې د يهوديانو علماؤله اوليږل چه تاسو لاړشئی او د محمد ﷺ باره کښې تول حالات هغوی ته بيان کړئی هغوی سره د مخکينو پيغمبرانو علم دې د هغوی نه تپوس اوکړئی چه د هغوی دده باره کښې څه رائې ده؟دا دواړه مدينې ته لاړل اودمدينې احبارسره ملاوشو د حضور حالات اوصاف ئې بيان کړل د حضورﷺ د تعليم ذکر ئې اوکړو او وئې وئيل چه تاسو د علم خاوندان ئې مونږ ته اوښائې چه د ده متعلق ستاسو څه خيال دې؟ هغوی وئيل ګورئی مونږ تاسو ته يوفيصله کړې شوې خبره ښايو.تاسو لاړشئی دهغه نه ددريو سوالونو تپوس اوکړئی که جواب ئې درکړونودهغه په رښتونی کيدو کښې هيڅ شك نشته بې شکه هغه د الله ﷻ نبی اورسول دې اوکه جواب ئې درنه کړونود هغه په دروغژن کيدو کښې هم څه شك نشته بياچه تاسو څه کول غواړئی کوئی. هغه نه تپوس اوکړئی چه پخوانئی زمانه کښې کوم ځوانان تلی وو هغه واقعه بيان کړئی ډيره عجيبه واقعه ده اود هغه سړی حالات معلوم کړئی چاچه د ټولې زمکې ګشت لګولې وو او مشرق اومغرب ته تلې راغلې وو اود روح اصليت ترې معلوم کړئی که وئی خودل نودې نبی اومنئی او د ده تابعداری اوکړئی که وئی نه خودل نو هغه سړې بيادروغژن دې چه څه غواړئی کوئی. دادواړه واپس راغلل اوقريشوته ئې اووئيل چه روره آخری او د انتهائی فيصله خبره هغوی اوخودله اوس راځئی چه د حضورﷺ نه تپوسونه اوکړو. دا ټول حضورﷺ له راغله او د دې دريو سوالونوتپوسونه ئې ترې اوکړه. حضورﷺ اوفرمائيل چه تاسو صباله راشئی زه به جوابونه درکړم. خوان شاء الله ترې هير شو پنځلس ورځې تيرې شوې نه وحی راغله اونه د الله ﷻ د طرف نه د دې سوالونو جوابونه معلوم کړې شو. د مکې خلق لاړل اووئی وئيل ګوره صاحبه د صباوعده وه اونن پنځلسمه ورځ ده خوهغه دې اونه خودلې شو.بل خواهغوی په ډېل غم کښې راګير شوپه جواب نه ملاويدلو د هغوی د خبرو اوريدلو اود وحی بنديدلو. بياحضرت جبرائيل ﷺ راغلو سورت کهف نازل شو هم په دې کښې ان شاء الله نه وئيلو باندې حضورﷺ ته زورنه ورکړه د هغه ځوانانو قصه ئې بيان کړه اود هغه سيلانی ذکر اوکړې شو او په آيت ﴿وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ۖ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَاۤ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ ([2])کښې د روح باره کښې جواب ورکړې شو. ([3])

| اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا | عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ | نَّفْسَكَ | بَاخِعٌ | فَلَعَلَّكَ |
|---|---|---|---|---|
| که ايمان رانوړی دوئ | روستو په دوئ پسې | ځان خپل لره | هلاکونکې ئې | نوشايد چې ته |
| نوشايد چې ته (ای پيغمبره) ځان خپل هلاکونکې ئې روستو په دوئ پسې که ايمان رانوړی دوئ ← رائې پيغمبره) که چرې دوئ په دې کلام ايمان نه راوړی نو شايد چې ته ددوئ په | | | | |

---

([1]) الطبري:١٧/٥٩٥.

([2]) ١٧/بنی اسرائيل:٨٥.

([3]) الطبري:١٧/٥٩٢.

Scanned with Ca

بِهٰذَا الْحَدِيْثِ | اَسَفًا⑥ | اِنَّا جَعَلْنَا | مَا | عَلَى
په دې خبره باندا | دوجې دافسوس نه| | بيشكه جوړ كړي دي مونږه | هغه څه | چې په
غم كښې ځان هلاک كړې بيشكه څه چې په زمكه دي

الْاَرْضِ | زِيْنَةً | لَّهَا | لِنَبْلُوَهُمْ | اَيُّهُمْ
زمكه باندي | ښائست | دې زمكې لره | دپاره ددې چې وازمايو مونږ دوئ لره | چې كوم يو دوئ لره
مونږ هغه دزمكې دپاره ښائست جوړ كړې دې دپاره ددې چې مونږ په هغه خلقوازميښت اوكړو

اَحْسَنُ | عَمَلًا⑦ | وَاِنَّا | لَجٰعِلُوْنَ | مَا | عَلَيْهَا
زيات بهتردې | په لحاظ دعمل سره | او بيشكه مونږه | خامخا جوړونكي يو | هغه څه لره | چې په زمكه دي
چې څوک ښه عمل كوؤنكى دى او (هغه وخت ربه راشي چې) مونږ به ددې زمكې په مخ موجود ټول څيزونه

صَعِيْدًا جُرُزًا⑧
ډاګ | خالى |
په سپينه ډاګه پريږدو

**قوله تعالى:-فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ**

**نبى كريم ﷺ ته تسلي:**-مشركان چه د حضورﷺ نه به لرې تختيدل په هغوى باندې د ايمان نه راوړو چه كوم غم اوخفګان په حضورﷺ باندې وو په هغې باندې الله ﷻ حضورﷺ ته تسلي وركوى لكه چه په بل آيت كښې دي چه په دوى باندې دومره خفګان مه كوه([1]) بل ځائ دي چه په دوى باندې دومره غمګين كيږه مه([2])بل ځائ دي چه د دوى په ايمان نه راوړو باندې خپل ځان په تكليف كښې مه اچوه. ([3]) دلته ئې هم دا اوفرمائيل كه دوى په دې قرآن پاك باندې ايمان راونړو نو ته خپل زړه مه خوره اودومره غم خفګان غصه افسوس مه كوه مه ويريږه اومه زړه تنګه وه خپل كاركوه([4])په تبليغ كښې كوتاهي مه كوه خپله ښه كاركوه ګمراه به خپل بدكاركوى د هريوعمل هم هغه سره دې.

**د دنيادا زينتونه ختميدونكى دي:**-بيافرمائى دنيافانى ده د دې دا ښائست د زوال والا دې آخرت باقي دې د دې نعمتونه د هميشه دپاره دي.رسول الله ﷺ فرمائى دنياخوږ او شين رنګ دې په دې كښې الله ﷻ تاسوخليفه جوړوى اوكتل غواړى چه تاسوڅنګه عملونه كوئى؟ نود دنيانه ښځو نه بچ شئ. په بنى اسرائيلوكښې رومبنى فتنه هم د ښځو وه([5])دا دنياختميدونكې ده اودادنيا خرابيدونكې ده. تباه برباد كيدونې ده زمكه به صفاهواره شي او په كومه چه به هيڅ قسم پيداوارنه كيږى كله چه په بل آيت كښې دى آيا داخلق نه ګورى چه مونږه غيرآبادې شاړې زمكې ته اوبه بوځو اود دې نه فصل پيداكوو كوم چه هغوى پخپله هم خورى اود هغوى ځاروى هم. آيابياهم د هغوى سترګې نه ګولاويږى ([6])زمكه

---

[1] ٣٥/فاطر:٨.
[2] ١٦/النحل:١٢٧.
[3] ٢٦/الشعراء:٣.
[4] الطبرى:١٧/٥٩٧-٥٩٨.
[5] صحيح مسلم كتاب الرقاق باب اكثر اهل الجنة الفقراء:٢٧٤٢، ترمذى:٢١٩١، ابن ماجة: ٤٠٠٠، احمد:١٩/٣، مسندابى يعلى:١١٠١،
[6] ٣٢/السجدة:٢٧.

Scanned with Ca

او په زمکه چه څه دي ټول فناکيدونکي دي اوخپل حقيقي مالك ته پيش کيدونکي دي. نوکه ته د هغوی نه څه هم واورې هغوی په کوم حال کښې هم ګورې خو افسوس او خفګان مه کوه.

اَمۡ حَسِبۡتَ اَنَّ اَصۡحٰبَ الۡكَهۡفِ

آیا ګمان کوې ته | چې بيشکه | ملګرې | دغار |

آيا ستا دا خيال دې چې دغار اودليکلې تختې خاوندان

وَالرَّقِيۡمِ ۙ كَانُوۡا مِنۡ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ۝٩ اِذۡ اَوَى

او دليکلې شوې تختې | وو | دنښو زمونږ نه | ډيرعجيبه | کله چې | پناه واغستله

زمونږ (دقدرت) په نخښو کښې يوه ډيره عجيبه نخښه وو؟ څه وخت چې دغې

الۡفِتۡيَةُ اِلَى الۡكَهۡفِ فَقَالُوۡا رَبَّنَاۤ اٰتِنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ

يو ځوخوانانو | غارته | نو وې وئيل | اے ربه زمونږه | راکړه مونږ ته | دطرفه خپل نه

ځلمو په غار کښې پناه واخسته نو وې وئيل چې ائې زمونږ ربه! مونږ ته دخپل طرفنه

رَحۡمَةً وَّهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ اَمۡرِنَا رَشَدًا ۝١٠ فَضَرَبۡنَا عَلٰۤى

رحمت | او تيار کړه | مونږ لره | دکار زمونږ نه | صحيح والې | نوکيښنوده مونږه | په

رحمت راکړه اوزمونږ دې کار له دسمون خوروسامان راپيدا کړه نومونږ دهغوئ په غوږونو باندې

اٰذَانِهِمۡ فِى الۡكَهۡفِ سِنِيۡنَ عَدَدًا ۝١١ ۙ ثُمَّ بَعَثۡنٰهُمۡ

غوږونو دهغوئ باندې دخوب پرده | په غار کښې | څوکلونه | په شمار | بيا | راپورته کړل مونږ هغوئ

په دغه غار کښې ډيرو کلونو دخوب پرده واچوله بيامو راپاڅول

لِنَعۡلَمَ اَىُّ الۡحِزۡبَيۡنِ اَحۡصٰى لِمَا

چې معلوم کړو مونږه | چې کومه يوه ددووډلو نه | ښه حساب کونکې ده | هغه

چې په دغه دوارو ټولو کښې کوم يو ټولې په دې حالت کښې دپاتې کيدو

لَبِثُوۡۤا اَمَدًا ۝١٢ ع

چې تيره کړه هغوئ | موده |

دمودې نه زيات واقف دې

**قوله تعالى:- اَمۡ حَسِبۡتَ اَنَّ اَصۡحٰبَ الۡكَهۡفِ وَالرَّقِيۡمِ ۙ**

**د اصحاب کهف پيژندګلو اوقصه:-** داصحاب کهف قصه په اجمال سره بيانيږې بياپه تفصيل سره بيانيږي فرمائي چه داواقعه زمونږ د قدرت د بې شميره واقعاتونه يوه ډيره معمولي واقعه ده د دې نه لوئ لوئ نښې هره ورځ ستاسو په وړاندې وي.دزمکې اوآسمان پيداکول دشپې ورځې اوړيدل راوړيدل نمر سپوږمئ اطاعت کول وغيره د قدرت بې شميره نښې کوم چه ښائي د الله ﷻ قدرت بې اندازې شته او هغه په هريوڅيز باندې قادر دې هغه ته يوکار هم ګران نه دې. داصحاب کهف نه خو ډير زيات

Scanned with Ca

حيرانونكې او اهم نښه د قدرت ستاسو په وړاندې د شپې ورځې ده[١] دكتاب او سنت كوم علم ما تاته دركړې دې هغه د اصحاب كهف د شان نه ډيرزيات دې[٢] ډير حجتونه ماپخپلو بنديګانو باندې د اصحاب كهف نه ډيرواضحه كړې دى[٣] كهف وائى د غر غارته هلته دا ځوانان پټ شوې وو.

**درقيم حقيقت څه شئ دې:-** "رقيم" خويادايله سره خواكې د وادئى نوم دې يادهغوى د ځائ ددې عمارت نوم دې[٤] ياد يوې آبادئى نوم دې يادغه غر نوم دې ددغه غر نوم نجلوس هم راغلې دې. د غارنوم ته خيروم ونيلې شوې دې اود هغوى د سپى نوم ئى حمران خودلې دې. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائى چه ټول قرآن زه پيژنم خو لفظ حنان اواه او لفظ رقيم ماته نه دې معلوم چه رقيم د يوكتاب نوم دې يادآبادئى. په يوبل روايت كښې دهغوى نه نقل دى چه داكتاب دې. سعيد رحمه الله وائى چه دا د كاڼړى يوه تختنى ده په كوم چه د اصحاب كهف قصه ليكلې وه اود غاريه دروازه كښې ئى لګولې وه.[٥] عبدالرحمن رحمه الله وائى قرآن كښې دى﴿كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ﴾[٦] د آيت ظاهرى الفاظ خود دې تائيدكوى او هم دا د امام ابن جرير رحمه الله مختار قول دې چه رقيم د فعيل په وزن باندې د مرقوم په معنى كښې دې لكه مقتول قتيل اومجروح جريح. والله اعلم.

داځوانان دخپل دين دبچ كولودپاره دخپل قوم نه تختيدلې وو چه هغوى چرته دوى ددين نه وانړوى. د يوغر په غار كښې ننوتل اود الله ﷻ نه نى دعااوكړه ياالله مونږ له د خپل حضور نه خپل رحمت راكړه. مونږ دخپل قوم نه پټ كړه زمونږپه دې كاركښې انجام ښه كړه. دحديث په يوه دعاكښې دى اې ربه ته چه كومه فيصله زمونږ په حق كښې اوكړې هغه د انجام لحاظ سره ښه اوكړه[٧] مسند كښې رسول الله ﷺ په خپله دعاكښې عرض كوى اې ربه زمونږ د ټولو كارونو انجام ښه كړه اومونږ د دنياد رسوائى اود آخرت دعذابونونه بچ كړه.[٨] دوى چه غارته لاړل او اوده شو نوكالونه پرې تيرشو بيا مونږ هغوى بيداركړل. يوصاحب درهم راواخستو او بازارنه ئى سودا اخستلوله لاړو لكه چه رارروان دى. دا د دې د پاره چه هغوى دلته څومره موده تيره كړه هغه په دواړو ډلوكښې څوك ډير زيات يادونكې دې؟ هغوى ته به مونږ هم معلوم كړو﴿امدا﴾ معنى شمير ده اوونيلې شوى دى چه د غايت په معنى كښې هم دا لفظ راغلې دې لكه چه د عربوشاعرانو په خپلوشعرونوكښې د غايت معنى تړلې ده.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نَحْنُ | نَقُصُّ | عَلَيْكَ | نَبَاَهُمْ | بِالْحَقِّ ؕ |
| مونږه | بيانوؤ | په تاباندې | قيصه دهغوئ | په حقه سره |

مونږ تاته ددوئ حالت صحيح صحيح بيانوؤ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اِنَّهُمْ | فِتْيَةٌ | اٰمَنُوْا | بِرَبِّهِمْ | وَزِدْنٰهُمْ |

بيشكه هغوئ | يوځوځوانان ووچې ايمان ئې راوړې ووپه رب خپل باند | اوزيات كړي وومونږهغوئ

بيشكه دايو څو ځوانان وو چې په خپل رب باندې ئې ايمان راوړې وو اومونږ دوئ ته

---

[١] الطبرى:١٧/٦٠١.
[٢] الطبرى:١٧/٦٠١.
[٣] الطبرى:١٧/٦٠١.
[٤] الطبرى:١٧/٦٠٧.
[٥] الطبرى:١٧/٦٠٣.
[٦] ٨٣/امطففين:٩.
[٧] ابن ماجه كتاب الدعاء باب الجوامع من الدعاء:٣٨٤٦، وسنده صحيح، احمد:٦/١٤٧.
[٨] احمد:٤/١٨١ وسنده حسن، طبرانى:١١٩٦، ابن حبان:٩٤٩، مجمع الزوائد:١٠/١٧٨.

Scanned with Ca

هُدًى ﴿١٣﴾ وَّرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا

په لحاظ دهدایت سره | او مضبوط کړل مونږه | ازړونه دهغوئ | اکله چې | راپاسیدل هغوئ | نووې ونیل

نورزیات هدایت ورکړې ووا ومونږ ددوئ زړونه (په صبر) سره مضبوط کړي وو څه وخت چې دوئ تیارشوا و وې ونیل

رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖٓ

رب زمونږه | رب د اسمانونو | اودزمکې دې | هرګزبه اوازنه کړومونږ | ماسوادهغه نه

چې زمونږ رب داسمانونو او زمکې رب دې مونږ به هیڅکله بې دهغه نه بل څوک

اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا

بل معبودته | نوونیلی به وی مونږ | بیا | بې ځایه خبره | داخلق | چې قوم زمونږدې |

په معبود کیدو نه بلو ګنی ډیره بې ځایه خبره به موکړې وی دې خلقو زمونږ خپل قوم

اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ

نیولی دی دوئ | ماسوادالله نه نورخدایان | ولې نه راوړی دوئ | په معبودیت دهغوئ باندې |

دالله ﷻ نه سوا نورخلق ځان له معبودان نیولی دی دوئ په دغه فرضی معبودانو باندې ولې

بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾

یودلیل | ښکاره | نوڅوک دې | ډیرظالم | دهغه چانه | چې تړی | په الله پورې | دروغ |

یوڅرګند دلیل نه وړاندې کوی اودهغه چا نه زیات ظالم څوک کیدیشی چې په الله ﷻ باندې د دروغو تهمت لګوی

وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ

اواوس چې کله | تعلق ختم کړو تاسو دهغوئ سره | اودهغه معبودانوسره | چې عبادت ئې کوی دوئ

اوهرکله چې تاسو هغوئ (مشرکان) اودکومو چې هغوئ دالله ﷻ نه سوا

اِلَّا اللّٰهَ فَاْوٗٓا اِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ

بې دالله نه | نوپناه واخلئ | غار ته | راخوبه کړي تاسو لره | رب ستاسو |

عبادت کوی پریخو دل نو په غار کښې پناه واخلئ ستاسو رب به تاسو دپاره

مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾

درحمت خپل نه | او پیدا به کړي | دپاره ستاسو | دکار ستاسو نه | اسباب دګزران |

خپل رحمت خور کړي اوستاسو کارونو کښې به دآسانئ (سامان) پیدا کړي

**قوله تعالى:-** نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ

**د اصحاب کهف تفصیلی واقعه:-** د دې ځائ نه په تفصیل سره د اصحاب کهف قصه شروع کیږی چه دا یو څو خوانان وو چه د حق دین طرف ته مائل شو اوپه هدایت باندې راغله. په قریشوکښې هم داسې شوې وو چه څوانانو خود حق په آواز باندې لبیك وئیلې وو خوبغیرد یوڅو بوډاګانونه نور پوره د اسلام طرف ته مائل نه شو. وانی چه په دوی کښې د بعضو په غوږونوکښې والئی وې. دا د متقی او لارموندونکو ډلې څوانان وو د خپل رب وحدانیت ئې منلو د هغه د توحید قائل شوی وو او ورځ په ورځ په ایمان کښې وړاندې کیدل. د دې اود دې په شان نورو آیاتونو نه استدلال کولو سره د امام بخاری رحمه الله وغیره

محدثینو کرامو مذهب دادې چه په ایمان کښې زیاتوالې کیږی په دې کښې درجې دی دا کم او زیاتیږی([1]) د دې ځائ نه مونږ هغوی په هدایت کښې زیات کړل بل ځائ ارشاد دې ﴿وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ﴾([2]) د هدایت والا هدایت زیاتیږی الخ. بل ارشاد دې ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾([3]) د ایمان والا ایمان زیاتوی الخ. بل آیت کښې دی ﴿لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ﴾([4]) دې د پاره چه هغوی د خپل ایمان سره په ایمان کښې نور هم زیات شی. هم د دې مضمون نور هم ډیر آیاتونه دی.

**د اصحاب کهف زمانه:**-ذکر دې چه دا خلق د حضرت مسیح عیسی بن مریم ﷺ په دین باندې وو. والله اعلم. خو دا ښکاره معلومیږی چه دا د مسیح ﷺ د زمانې نه وړاندې واقعه ده د دې یو دلیل دا هم دې که چرې دا خلق نصرانیان وو نو یهودیانو به نه د دوی دومره په توجه سره د هغوی حالات معلومول اونه به ئی د معلومولو هدایت کولو. حالانکه دا بیان تیرشوې دې چه قریشو خپله جرګه د یهودیانو علماؤ له لیګلې وه چه تاسو مونږ ته څه داسې خبرې اوښائې چه مونږ رسول الله ﷺ ازمیښت کړو هغوی اووئیل چه تاسو د اصحاب کهف او ذوالقرنین قصه د هغه نه معلومه کړئی او د روح متعلق سوال ترې اوکړئی نو معلومه شوه چه د یهودو په کتابونو کښې د دې ذکر وو او هغوی ته د دې واقعه علم وو چه کله دا ثابته شوه نو دا خو ښکاره خبره ده چه د یهودو کتاب د نصرانیت نه وړاندې دې. والله اعلم. بیا فرمائی چه مونږ هغوی ته د قوم په مخالفت باندې صبر ورکړو او هغوی د قوم هیڅ پرواه اونه کړه بلکه وطن راحت او آرام ئی هم پریخودو.

**ددې ځوانانو د ایمان واقعه:**-د بعضې سلفوو بینا ده چه دا خلق د روم د بادشاه اولاد او د روم سرداران وو. یو ځل قوم سره اختر کولو د پاره تلې وو د هغه زمانې د بادشاه نوم دقیانوس وو ډیر سرکشه او سخت سړې وو ټولو ته به ئی د شرك تعلیم کولو او په ټولو به ئی د بتانو عبادت کولو. دا ځوانان چه د خپلو پلارانو او نیکونو سره دې میلې ته تلی وو هغوی چه کله هلته دا تماشه اولیدله نو د هغوی په زړه کښې دا خیال راغلو چه دا بت پرستی خو یو فضول او بې کاره څیز دې. عبادتونه او حلالې خو صرف د یو الله ﷻ په نوم باندې کیدل پکار دی چه د آسمان او زمکې خالق او مالك دې. نو دا خلق یو یو شو او د دې ځائ نه لاړل دیوې ونې لاندې یو صاحب کیناستو نور هم دلته راغله دریم هم راغلو څلورم هم راغلو غرض دا چه یو یو ټول دلته راجمع شو سره ددې چه یو بل ئی نه پیژندلو خود ایمان رڼړا یو بل سره یو ځائ کړل. حدیث شریف کښې دی چه روحونه هم یو جمع شوې لښکر دې په روز ازل کښې د هغوی پیژند ګلو شوې ده هغوی دلته هم یو ځائ او سیږی او کوم هلته نابلده دی دلته هم په هغوی کښې اختلاف دې([5]) (بخاری ومسلم) عرب وائی چه په جنس کښې کیدل دیو ځائ کیدو علت دې. ټول خاموش وو یو د بل نه ویریدو که زه خپل د ضمیر راز اوښایم نو دې به مې دښمن شی دیو بل نه خبرنه وو هغه هم د دوی په شان د قوم د دې بې وقوفتوب او مشرکانه رسم نه ویزاره وو. آخر یو هوښیار او تکړه ځوان اووئیل دوستانو څه نه څه خبره خو خامخا شته چه د خلقو د دې عام شغل نه ځان له تاسو راغلې ئی جدا ناست ئی زما خو زړه غواړی چه هرسړې دې خپله خبره ښکاره کړی د څه په وجه چه هغه قوم پریخې وی. په دې باندې یو کس وئیل روره خبره دا ده چه زما خو د خپل قوم دا رسم یو ذره هم نه دې خوښ چه کله زمونږ

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الایمان باب قول النبی ﷺ بنی الاسلام علی خمس قبل حدیث:٨.

[2]) ٤٧/محمد:١٧.

[3]) ٩/التوبه:١٢٤.

[4]) ٤٨/الفتح:٤.

[5]) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب الارواح جنود مجندة:٣٣٣٦، صحیح مسلم:٢٦٣٧، الادب المفرد:٩٠١، ابوداؤد:٤٨٣٤، احمد:٢/٥٢٧، ابن حبان:٦١٦٨.

Scanned with Ca

اوستاسو د زمکې اواسمان خالق او مالك صرف هم يوالله دې نوبيا مونږدهغه نه بغيرد نوړ چا عبادت ولې اوکړو؟دې اوريدو سره بل کس اووئيل په الله ﷻ مې دې قسم وی چه دې نفرت زه دلته راوستلې يم دريم هم دا اووئيل چه کله ټولوهم داوجه بيان کړه نود هريو په زړه کښې د خوشحالئی او مينې يوه چپه راغله اودا ټول روشن خيال او مؤحد په خپل مينځ کښې رښتونې دوستان اود يوې مور نه پيدا شوی رونړو نه زيات د يوبل خيرخواه جوړشو او په خپل مينځ کښې اتحاد او اتفاق اوکړو. اوس هغوی يوځائ مقررکړو اوهم هلته به ئې د يو الله ﷻ عبادت کولو. په مزه مزه هغه قوم ته هم پته اولګيده او دوی ئې راونيول اوهغه ظالم بادشاه ته ئې پيش کړل اوشکايت ئې اوکړو. بادشاه د هغوی نه تپوس اوکړو اوهغوی په ډيره بهادرئی سره د خپل توحيد او خپل مسلك بيان اوکړو بلکه بادشاه ته درباريانو ته او ټولې دنياته ئې د دې دعوت ورکړو زړه ئې مضبوط کړو اوصفانی اووئيل زمونږ رب هم هغه دې چه د زمکې او آسمانونومالك اوخالق دې.داناممکن دی چه مونږ د هغه نه بغيربل څوك معبود جوړکړو. مونږ نه به داچرې هم اونه شي چه د هغه نه بغيربل څوك رابلو ځکه چه شرك ډير باطل څيز دې مونږ هيڅ کله هم د دې کارکونکی نه يو.دا ډيره بې ځايه فضول خبره او کږه لارده. دا زمونږ قوم مشرك دې د الله ﷻ په ځائ نورو ته چغې وهی د نورو په عبادت کښې مشغول دی د څه چه دوی هيڅ دليل نه شي پيش کولې نودوی ظالمان اودروغژن دی.وائي چه ددوی په دې صفا خبروکولو سره بادشاه ډير وران شو هغوی ئې اوويرول او حکم ئې ورکړو چه د دوی جامې اوباسئې اوکه دوی منع نه شو نو زه به دوی ته سخته سزا ورکړم. اوس د دې خلقو زړونه نور هم مضبوط شوځوهغوی ته دامعلومه شوه چه دلته په اوسيدوباندې مونږ په ديندارئی باندې قايم نه شو پاتې کيدې په دې وجه هغوی قوم وطن رشتې اوخاندان پريخودو پوره پخه اراده اوکړه. هم دا حکم هم دې چه انسان دې د دين د ويرې په وخت کښې هجرت اوکړي. حديث شريف کښې دی چه د انسان بهترين مال ممکن ده چه چيلئی وی کومې چه هغه واخلي اودغره لمن کښې په شينکو کښې اوسيږی اودخپل دين دبچ کولوپه خاطر منډې وهی[1] په داسې حال کښې دخلقو نه جدا اوځان له اوسيدل مشروع امر دې. اوکه چرې داسې حالت نه وی د زبردستئ اوبربادئی ويره نه وی نوبيا ځنګلونوته وتل مشروع نه دی ځکه چه د جمعه او جمع فضيلت د لاس نه ځی. کله چه داخلق د دين په خاطر د دومره قربانئی ورکولود پاره تيارشو نوپه هغوی باندې درب رحمت نازل شو. اوفرمائيلې شو چه ټيك ده کله ته ددوی د دين نه جداشوی نوبهترده چه بدنی توګه باندې هم د دوی نه جداشی. لاړشئی تاسو په يوغرکښې چرته په غارکښې پناه واخلئی په تاسوبه د رب د رحمت سورې وی. هغه به تاسو ستاسود دښمن د سترګونه پټ کړی او ستاسو په کارکښې به آسانی اوراحت راپيداکړی.دې خلقو موقع بيامونودسره دې ځائ نه تيښته اوکړه اودغريه يوډډکښې ئې پناه واخستله .بادشاه اوقوم ډير لټون اوکړو خو پته اونه لګيده.الله ﷻ په هغوی باندې ړوندتوب واچولو.

**د اصحاب کهف په پشان زمونږدنبی ﷺ واقعه هم ده:-**اوګورئی هم دابلکه د دې نه ډيره حيرانونکې واقعه زمونږ نبی حضرت محمدﷺ سره پيښه شوه. حضورﷺ سره د خپل رفيق خاص او رفيق غار ابوبکر صديق ؓ په غارثورکښې پټ شول مشرکانو ډيرې منډې ترړې او هلې ځلې کولوکښې هيڅ کمې پرينخودو خوحضورﷺ هغوی ته سرد پوره کوشش کولو ملاوئنه شو. الله ﷻ د هغوی نظرواخستو خواوشاکښې به تيريدل سترګې به ئې برندې کړې کتل حضورﷺ موجود دې اوهغوی ته نه ښکاری. صديق اکبرؓ پريشانه شو او عرض ئې اوکړو چه حضورﷺ که چرې څوك خپلو پښوته هم اوګوری نو

[1]) صحيح بخاری کتاب الايمان باب من الدين الفرار من الفتن:١٩، ابوداوٗد:٤٢٦٧، احمد:٤٣/٣، مسندابي يعلي:٩٨٣، السنن الکبری للنسائي:١١٧٦٧، ابن ماجه:٣٩٨، ابن ابي شيبه:٤٤٨/٧.

Scanned with Ca

مونږ به ورته ښکاره شو.حضورﷺ ډير په تسلئي سره جواب ورکړو ابوبکر ددې دوو باره کښې ستاځه خيال دې د چا چه دريم پخپله الله ﷻ دې؟(١)قرآن کريم فرمائي که تاسو زما د نبي امدادنه کوئي نوځه اوشو؟ کله چه کافرانو هغوی اوويستل نو ما پخپله د هغوی امداد اوکړو کله چه هغه په دوو کښې دويم وو اوهغه دواړه په غارکښې وو کله چه هغه خپل ملګری ته وئيل خفه کيږه مه الله ﷻ زمونږ سره دې نو الله ﷻ د خپل طرف نه په هغوی سکنيت نازل کړواو په داسې لښکر سره ئې د هغوی امداد اوکړو کوم چه تاسو نه شوليدلې. آخرهغه د کافرانو خبره ښکته کړه او خپله کلمه ئې اوچته کړه الله ﷻ د عزت اوحکمت والا دې(٢)رښتيا خودادی چه داواقعه داصحاب کهف دواقعه نه هم زياته حيرانونکې او عجيبه ده.يوقول داهم دې چه داخوانان بادشاه او قوم اوليدل.کله چه ئې په غارکښې اوليدل نو هغوی وئيل چه بس مونږ خو هم داغوښتل. هغوی د دې خُله په يوديوال وهلوسره بنده کړه چه هم دلته مړه شي خودا قول تامل طلب دې.د قرآن پاك فرمان دې چه سحر ماښام په هغوی باندې نمر ځي راځي والله اعلم.

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ

اوته به وينې | نمر | کله چې | راخيژي | نوبيچ بيچ راخيژي | دغاردهغوئ نه | ښی طرفته |

اوچې نمر راخيژی نو ته بهٔ ئې ګورې چې دهغوئ غار نه ښی اړخ ته بيچ کيږی

وَإِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ

اوکله چې پريوزی| نوبيچ بيچ پريوزی دهغوئ نه| ګس طرفته | اوهغوئ |په فراښه ځائې کښې دی

او چې ډوبيږی نو دهغوئ نه ګس اړخ ته ډډه کوی او هغوئ د غار په ارت بيرت ځائې کښې

مِّنْهُ ط ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللهِ ط مَنْ يَّهْدِ اللهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ج

ددغه غار | دا | دنښو د الله نه | چاته چې | لاره اوښودله الله | نو هغه | لارمندونکې دې |

وو دا دالله ﷻ دنخښو نه يوه نخښهٔ ده څوک چې الله ﷻ په سمه لار واچوی نو هغه په سمه لار روان شي

وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ع ﴿١٧﴾

او څوک چې بې لارې کړی الله | نوهرګز به تهٔ اونهٔ مومې | دپاره دهغه | څوك دوست | لارښودونکې

او څوک بې لارې کړی نو هيڅوک دهغه مددګار لاره خودونکې بيا نه مومې

**قوله تعالى:- وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ**

**څه د غار متعلق:-** -دادليل دې د دې خبرې چه ددې غار خُله د شمال طرف ته وه د نمر د راختلو په وخت د دوی ښی طرفته به دنمر سورې تيتيدلواودغرمې په وخت کښې به هلته بالکل نمرنه وودنمرد اوچتيدو په وخت کښې به دداسې ځائ نه د نمر شغلې کميدلې اود نمر د ډوبيدو په وخت کښې به نمر د هغوی د غارطرف ته د هغې د دروازې شمالی طرف نه ځی.د مشرق طرف نه د علم هيئت پيژندونکی په دې ښه پوهيږی چاته چه د نمرسپوږمئی او ستورو د چال علم دې. که چرې دغار د دروازې مخ مشرق طرف ته وونود نمر د ډوبيدو په وخت کښې به نمر بالکل نه تلو اوکه د قبله طرف ته وو نود نمر د راختلو په وخت کښې به نمر نه رسيدلو اونه به د ډوبيدو وخت کښې رسيدلو او نه به

(١) صحيح بخارى كتاب فضائل النبى باب مناقب المهاجرين وفضلهم:٣٦٥٣، صحيح مسلم:٢٣٨١.
(٢) ٩/التوبه:٤٠.

سورې ښی یاګس طرف ته تیتیدو اوکه دروازه د مغرب طرف ته وه نو بیابه هم د نمر د راختلویه وخت کښې دننه تپ نه شو تلې بلکه د زوال نه پس به دننه تلو اوبیابه برابر ترماښام پورې وو. نو ټیك خبره هم هغه ده کومه چه موږ بیان کړه.فلله الحمد (تقرضهم) معنی حضرت ابن عباس ﷺ د ترك کولو او پریخودلو سره کړې ده. (١)

الله ﷻ جل شانه خو موږ ته دااوخودل چه موږ پوهه شو اوسوچ اوکړو ولې دائې اونه خودل چه هغه غار د کوم ښار په کوم غرکښې دې دا ځکه چه د دې نه موږ ته څه فائده نشته اونه د دې سره د څه شرعی مقصد حاصلیدلې کیږی. بیاهم بعضې مفسرینو په دې کښې تکلف اوچت کړې دې. څوك وائی چه هغه دایله سره نیزدې دې. څوك وائی نینوی سره نیزدې دې څوك وائی په روم کښې دې اوڅوك وائی بلقاء کښې دې. اصل علم هم الله ﷻ ته دې چه هغه چرته دې که په دې کښې څه دینی مصلحت یازموږ څه دینی فائده وه نو یقیناً الله ﷻ به موږ ته خودلې وو یادخپل رسول ﷺ په ژبه مبارکه به ئی موږ ته بیان کړې وې. د حضور ﷺ فرمان دې تاسو ته چه کوم کوم کار او څیزونو جنت ته نیزدې کونکی او ددوزخ نه لرې کونکی وو په هغې کښې یوهم ما بغیرد پریخودو نه اوخودل. نو الله ﷻ د دې صفت بیان کړو اود هغې ځایْ ئی اونه خودلو. وئی فرمائیل چه د نمر د راختلویه وخت کښې د هغوی ښی طرف ته هغه تیتیدلو اود ډوبیدو په وخت کښې به ئی هغوی ګس طرف ته پریخودل هغوی ددې نه فراخئی کښې دی. هغوی ته د نمر ګرموالې نه رسی اونه د هغوی بدن او کپړې سوزیږی.

داالله ﷻ یوه نښه ده چه رب هغوی دې غارته اورسول چرته چه ئی هغوی ژوندی اوساتل نمر هم ورشی هوا هم ورشی رڼړا هم وی دې د پاره چه نه ئی په خوب کښې خلل وی اونه نقصان وراورسی. په حقیقت کښې داهم د الله ﷻ د طرف نه یوه د هغه د قدرت یوه کامله نښه وه چه د دې ځوانانو مؤحدینو هدایت پخپله الله ﷻ کړې وو دوی په نیغه لارشوې وو د چا په وس کښې نه وه چه دوی ئی ګمراه کړې وې د دې برعکس چاته چه الله ﷻ لار اونه ښائی د هغه هادی څوك نشته.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَتَحْسَبُهُمْ | أَيْقَاظًا | وَّهُمْ | رُقُودٌ | وَّنُقَلِّبُهُمْ | ذَاتَ الْيَمِينِ |
| اوته به ګمان کوې په هغوئ | دويخو | حال دا چې هغوئ | اوده دی | اوارووموږ هغوئ | ښی طرفته |
| او (ائې مخاطبه) تا به خيال کولو چې دوئ ويښ دی حال دادې چې دوئ اوده دی او موږ دوئ ښی | | | | | |
| وَذَاتَ الشِّمَالِ | وَكَلْبُهُمْ | بَاسِطٌ | ذِرَاعَيْهِ | بِالْوَصِيدِ | |
| اوګس طرفته | اوسپې دهغوئ | غوړونکې وو | دخنګلوخپلو | په خله دغارکښې | |
| اوګس طرفته اړوو رااړوو اوددوئ سپې په درشل باندې خورې څنګلې ناست وو | | | | | |
| لَوِ اطَّلَعْتَ | عَلَيْهِمْ | لَوَلَّيْتَ | مِنْهُمْ | فِرَارًا | وَّلَمُلِئْتَ |
| که تاسرورښکاره کړو | اهغوئ ته | نومخ به اوګرزوې ته | ادهغوئ نه | په تيښته | اوخامخابه ډك شې ته |
| که تاورته (هيله غونډې) سرورښکاره کړې وې نو پسته به ترې نه تښتيدلې وې اودهغوئ | | | | | |
| مِنْهُمْ | رُعْبًا ⑱ | | | | |
| دهغوئ نه | په يره سره | | | | |
| رعب به درباندې خور شوې وو | | | | | |

(١) الطبری:٦٢١/١٧.

Scanned with Ca

**قوله تعالى:-** وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَّهُمْ رُقُودٌ

**ددوئ دخوب کیفیت:-** دوی اوده دی خو کتونکی دوی بیدارګڼری ځکه چه د هغوی سترګي کولاودي. ذکرشوي دي چه کله ليوه اوده کيږي نو يوه سترګه کولاو ساتي يوه بنده بياهغه بله کولاوکړي او دا بنده کړي. لکه چه يوشاعر ونيلي دي -:

ينام باحدى مقلتيه ويتقي باخري الرزايا فهو يقظان نائم

د ښاوروچينجو مينجو اودښمنانونه د بچ کولو دپاره الله ﷻ په خوب کښې هم د هغوی سترګي کولا وساتلي دی اوزمکه ئي نه خوری اړخونه ئي اوده کيږی نه ځکه چه الله ﷻ د هغوی اړخونه بدلوی وائي چه په کال کښې دوه ځل اړخ بدلوی.

**د اصحاب کهف سپي :-** د هغوی سپي هم خوبولي دروازي سره خاوروکښې چوکاټ سره نيزدي د څوکي په توګه لاسونه په زمکه باندي خواره کړي ناست دي اود دروازي نه بهر په دي وجه دي چه په کوم کور کښې سپي تصوير جنبي اوکافر سړي وی هغه کورته فرښتي نه ځی لکه څنګه چه په يوحسن حديث کښې نقل دی([1])دي سپی له هم په دي حال کښې خوب راغلو.رښتيادی چه دخو خلقو ناسته هم ښيګړه پيداکوی.ګورئی ددي سپی څومره شان شوچه په کلام الله کښې دهغه ذکرراغلو وائی چه په دوی کښې دچا داساتلي شوي ښکاری سپي وو.يو قول داهم دي چه د بادشاه د باورچی دا سپي ځکه چه هغه هم د دوی په مسلك وو دهغوی سره په هجرت کښې وو اودهغه سپي هغه پسي شاته لګيدلي وو. والله اعلم.

**يو څو بې دليله خبري:-** وائی چه دحضرت ابراهيم عليه السلام په لاس باندي دحضرت ذبيح الله عليه السلام په بدله کښې کوم ګډ حلال شود هغه نوم جرير وو. حضرت سليمان عليه السلام ته چه کوم ملاچرګك د ملکه بلقيس خبر ورکړي وو د هغه نوم غنفز وو اود اصحاب کهف د دي سپي نوم قطميروو او بنی اسرائيلو چه د کوم سخی عبادت شروع کړي وود هغه نوم يهموت وو. حضرت آدم عليه السلام د جنت نه هندکښې کوز شوي وو حضرت حوا عليها السلام په جده کښې ابليس د بيسان په دشت کښې او ماريه اصفهان کښې.

يو قول دي چه د دي سپی نوم حمران وودي سره د دي سپی په رنګ کښې هم ډير اقوال دی خومونږ حيران يو چه د دي نه څه نتيجه او د دي نه څه فائده؟څه ضرورت دي؟ بلکه عجيبه نه دی چه داسې بحثونه منع وی ځکه چه داخو په پټوسترګوباندي کانړی ويشتل دی. بې دليل ژبه کولاوول دی. بيا فرمائی چه مونږ هغه ته داسې رعب ورکړوچه چا هغه ته کتلي نه شو. داځکه چه خلق د ده تماشه جوړه نه کړی څوك بهادری اونه کړی اودي له خواله لاړنه شی څوك دي سره لاس اونه لګوی. هغوئ په آرام او حوصلي سره ترکومي چه د الله ﷻ حکمت دي اوده وی. څوك چه دي ته ګوری د ويري نه لړځيږی هم هغه وخت په اولټه پښو واپس ګرځی هغوئ ته په يونظر کتل هم د خلقو د پاره ګران دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَكَذٰلِكَ | بَعَثْنٰهُمْ | لِيَتَسَآءَلُوْا | | |
| او همدا رنګې | راپاسول موږه هغوئ | دپاره ددې چې تپوس اوکړی ديو بل نه | | |
| او دغه شان مونږ دوئ راويښ کړل | | | | |
| بَيْنَهُمْ ط | قَالَ قَآئِلٌ | مِّنْهُمْ | كَمْ لَبِثْتُمْ ط | قَالُوْا |
| په خپل منځ کښې | اووئيل يو ويونکی | دهغوئ نه | څومره وخت تيرکړو تاسو | اووئيل هغوئ |
| چې په خپل مينځ کښې ديوبل نه تپوس اوکړی نو يوتن په کښې اووئيل چې تاسو به څومره موده دلته تيره کړې وی دوئ اووئيل | | | | |

[1] ابوداؤد كتاب الطهارة باب الجنب يؤخر الغسل:٢٢٧ وسنده حسن، لسائى ٢٦٢، ابن ماجه: ٣٦٥، بدون ذكر الكافر.

Scanned with Ca

لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْبَعْضَ يَوْمٍ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ

وخت تير كړو مونږه |يوه ورځ|يا يوه حصه دورځې| اووئيل هغوئ| رب ستاسو| ښه عالم دي|

چې مونږ يوهٔ ورځ يا ديوې ورځې يوه حصه تيره كړه پس دوئ اووئيل چې ستاسو رب ښه پوهه دې

بِمَا لَبِثْتُمْ فَابْعَثُوْا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖ

په هغه وخت| چې تاسوتير كړو |نو اوليږئ| يو تن له تاسو نه | دسپنو زرو خپلو سره | چې دادى

چې تاسوڅومره موده تيره كړې ده (نو دا بحث پريږدئ خوهٔ يوتن ديوې روپئ روپئ سره

اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا

دي ښارته | اودې دګورى هغه |چې كوم يو ځائې ددغه ښار نه | زيات پاكيزه دې | په لحاظ دطعام سره

ښار طرفته اوليږئ نو اودې ګورى چې دكوم خوراک پاكيزه دې نودهغې نه دې

فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ

نو راوړى تاسوته | خوراك |دهغه ځائې نه | اوبه كار دى چې هغه دهوښيارتيانه كار واخلى |

څه لږډير خوراک تاسو له راوړى اوخلقو سره دې خوږې پستې خبرې كوى

وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ﴿١٩﴾ اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ

او خبرنهٔ كړى هرګز | په تاسو باند هيڅوك| بيشكه هغوئ| كه غالب شوا په تاسوباندې|

اوستاسو حال دې چاته نه وائى كه هغوئ درباندې خبر شو

يَرْجُمُوْكُمْ اَوْيُعِيْدُوْكُمْ فِيْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْا

نوسنګسار به كړى تاسو| يابه واپس راړوى تاسو |ملت خپل ته | اوهرګز به كامياب نشئ تاسو |

نو سنګسار به موكړى اوخپل مذهب ته به مو بياواپس كړى او كه چرې داسې اوشو نو تاسو

اِذًا اَبَدًا ﴿٢٠﴾

بيا | هيڅكله |

به چرې هم كامياب نه شئ

**قوله تعالى:- وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ**

**درې سوا كاله نه پس چه د اصحاب كهف رابيدارشونو؟**:-ارشاد كولې شى لكه څنګه چه مونږهغوى په خپل قدرت كامله سره اوده كړې وو هم هغه شان مونږ په خپل قدرت سره راپاسول. درې سوه نهه كاله پورې اوده وو خوچه كله راپاسيدل نو چه څنګه اوده شوې وو نوهم هغه شان وو لكه څنګه چه د اوده كيدو په وخت كښې ووبدن څرمن ويښته ټول هرڅه ئې په اصلى حالت كښې وو. لكه څنګه چه د اوده كيدو په وخت وو اوس هم هغه شان وو هيڅ قسم بدلون په كښې نه وو. خپل مينځ كښې وئيل ولې جى څومره موده اوده وو؟ جواب ملاوشو چه يوه ورځ ياد دې نه هم كم ځكه چه د سحر په وخت كښې دوى اوده شوې وو اوهغه وخت د ماښام وخت ووپه دې وجه دهغوى دا خيال پيداشو خو بيا پخپله د هغوى دا خيال شو داسې خو نه ده. په دې وجه هغوى ذهن جنګول پريخودل اويوفيصله كونكې خبره ئې اوكړه

چه د دې صحيح علم صرف هم الله ﷻ ته دې. دې وخت ولړه تنده معلوميده د دې وجه هغوی د بازار نه سودا راغوښتل تجويزکړل. پيسې هغوی سره وې په کومو کښې چه ئې څه د الله ﷻ په لارکښې خرچ کړې وې څه ورسره وې نو وئيل هم دې ښارکښې چاله پيسې ورکړئې اود هغه ځائ نه دې د خوراك ښاك څه پاك څيز راوړې يعنې ښکلې ښائسته څيز لکه چه په آيت کښې ارشاد دې ﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا﴾[1] يعنې که د الله ﷻ فضل اوکرم په تاسو باندې نه وو نو تاسو نه به څوك هم پاك نه وو.بل آيت کښې دی ﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا﴾[2] هغوی خلاصې بيامونددوڅوك چه پاك شو. زکوة ته هم زکوة په دې وجه وائې چه هغه مال پاك صفا کوی. دويم قول دا دې چه دې نه مراد ډير زيات خوراك راوړل دی لکه دفصل لوئيدو په وخت کښې عرب وائې ((زكا الزرع)) او لکه د شاعر وينا ده -:

قبائلنا سبع وانتم ثلثة وللسبع ازكى من ثلاث واطيب

دلته هم دا لفظ دزياتوالي اوکثرت په معنی کښې دې خواولنې قول صحيح دې ځکه چه داصحاب کهف مقصد ددې قول نه حلال څيز راوړل وو که هغه زيات وی که کم.

وائې چه تلونکی له ډيراحتياط کول پکار دی چه په تلوراتلواوسودا اخستلوکښې دهوښيارتې نه کار واخلی ترکومې پورې چه کيدې شی نودخلقو په نظرکښې دې نه راځی.کوره هسې نه چه چاته پته اولګی اوکه هغوی ته معلومه شوه نو بيامو خير نشته. که ددقيانوس سړو ستاسود ځائ معلومات اوکړو نوهغوی به تاسو له سختې سختې سزاګانې درکړی ياخوبه تاسو دهغوی نه اوويرېږئې اوحق دين به پرېږدئې اوبيابه کافران شئې يا هم په دې سزاګانې هغوی ستاسو کار خلاص کړی. که تاسو د هغوی دين کښې يوځائ شوئې نوپوهه شئې چه تاسو د خلاصې نه لاس راښکلو بياخوبه د الله ﷻ سره ستاسو خلاصيدل ډير ګران شي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَكَذٰلِكَ | اَعْثَرْنَا | عَلَيْهِمْ | لِيَعْلَمُوْٓا | |
| او په دې طريقه | خبرکړل مونږه | په هغوئ باند | دپاره ددې چې معلومه شي خلقوته | |
| اودغه شان مونږ خلق دهغوئ په حال خبر کړل چې په دې پوهه شي | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اَنَّ | وَعْدَ اللّٰهِ | حَقٌّ | وَّاَنَّ | السَّاعَةَ | لَا رَيْبَ | |
| چې بيشکه | وعده دالله | ربښتينې ده | او بيشکه | قيامت چې دې | نشته شك | |
| چې دالله ﷻ وعده ربښتونې ده و دا چې دقيامت په راتلو کښې هيڅ شک | | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فِيْهَا | اِذْ | يَتَنَازَعُوْنَ | بَيْنَهُمْ | اَمْرَهُمْ | |
| په راتلودهغې کښې | کله چې | هغوئ جګړې کولې | په خپل منځ کښې | په دې کار خپل کښې | |
| نشته هرکله چې (دهغې زمانې خلقو) ددوئ په حقله په خپل مينځ کښې جګړه کوله | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فَقَالُوا | ابْنُوْا | عَلَيْهِمْ | بُنْيَانًا | رَبُّهُمْ | اَعْلَمُ | |
| نو اووئيل څه خلقو | چې جوړکړئ | په دوئ باند | يو ديوال | رب ددوئ | ښه عالم دې | |
| نودوئ اووئيل چې په دوئ باندې يو عمارت جوړ کړئ دهغوئ رب ته دهغوئ حال ښه | | | | | | |

[1] ٢٤/النور:٢١.
[2] ٨٧/الاعلى:١٤.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بِهِمْ ط | قَالَ | الَّذِيْنَ | غَلَبُوْا | عَلٰٓى اَمْرِهِمْ |
| په حال ددوئ باند | اووئيل | هغه كسانو | چې غالب وو | په معاملاتو دهغوئ باند |

معلوم دي نوڅوک چې په خپل کار باندې غالب وو هغوئ اووئيل چې مونږ خو به

| | | |
|---|---|---|
| لَنَتَّخِذَنَّ | عَلَيْهِمْ | مَّسْجِدًا﴿۲۱﴾ |
| خامخا به جوړ وو مونږه | په دوئ باند | يوه عبادت خانه |

دلته يوه عبادت خانه جوړه وو

**قوله تعالى:- وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْٓا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ**

**د اصحاب كهف واقعه د مرګ نه پس د ژوندي كيدو ښكاره دليل دې:-** ارشاد دې چه هم دغه شان مونږ په خپل قدرت باندې دهغوی په حال باندې خلق خبرکړل.دې دپاره چه د الله ﷻ دوعدې او قيامت د راتلوصداقت هغوی ته معلوم شي.وائي چه په هغه زمانه كښې خلقو ته د قيامت په راتلوكښې څه شك پيداشوې وو. يوې ډلې خو به وئيل چه صرف روحونه به بياژوندي كيږي د بدن واپس كيدل به نه كيږي نو الله ﷻ د سوونوكالو نه پس اصحاب كهف راپاسول د قيامت د كيدو او د بدن دوباره ژوندي كيدو حجت ئې واضح كړو او د سترګوليدلې دليل ئې وركړو.

**كوم سړې چه د خوراک څيزونه راوړله لاړوهغه څه اوليدل؟**:-بيان دې چه كله د هغوی نه يوصاحب پيسې واخستې اودسودا د اخستلودپاره د غارنه بهرراووتلو نو چه وئې كتل دهغه دكتلې شوې څيزونو كښې يو څيزهم نه ووټوله نقشه بدله شوې وه. د هغه ښار نوم افسوس ووزمانې تيرې شوې وې كلې بدل شوې ووپه سوونو كالونه تيرشوی وو اودوی خوخپل ځان سره هم دا ګڼړل چه مونږ دلته په رسيدو باندې يوه ورځ يا نيمه تيره شوې ده. دلته د زمانې انقلاب اوڅه نور څه شوی وو. لكه څنګه چه د چا وينا ده:-

امّاالديارفانهاكديارهم وارې رجال الحی غيررجاله

كورونه خو هم هغه شان دی خود قبيلې خلق څه نور شان دی هغه اوكتل چه نه خو د ښار يوڅيز په خپل حال دې نه دښاريوكس پيژندګلو دې نه دې څوك پيژنی اونه نورخلق دې پيژنی. ټول عام اوخاص بل شان دی. دې په خپل زړه كښې حيران وو سرپرې تاويدلوچه پرون ماښام خو دا ښار مونږ پريخې دې دا ناڅاپی څه اوشو؟ ډير سوچونه ئې كول خو څه خبره ئې په ذهن كښې نه راتله. آخر ئې خيال اوكړو چه زه ليونې شوې يم يازما عقل په ځائ نه دې يا ماته څه مرض لګيدلې دې يا زه اوده يم. دا خيالونه ئې ډير زربدل شو خو څه خبره ترې نه شوه جوړيدې. په دې وجه ئې اراده اوكړه چه سودا اخلم اودا ښار ډير زر پريخودل پكار دی. يودوكان ته لاړو پيسې وركړې اود خوراك څښاك سودا ئې اوغوښتله. دوكاندار چه هغه وخت دا پيسه اوكتله نو ډير زيات حيران شو او هغه ئې خپل ګاونډی ته وركړه چه اوګوره دا سكه څنګه ده؟ د كوم وخت ده؟ د كومې زمانې ده؟ هغه بل ته وركړه اود هغه نه بل چا د كتلو د پاره اوغوښتله.غرض داچه دې نه خويوه تماشه جوړه شوه د هريود خلې نه وتل چه ده د پخوانې زمانې خزانه موندلې د هغې نه ئې دا راوړې ده. ده نه تپوس اوكړنی دا څوك دې ؟ د كوم ځائ؟ دا پيسه ئې د كوم ده؟ خلقو دې راګيركړو خلق راجمع شو اودريدو اولاندې باندې كاږه نيغ سوالونه كول شروع شو. هغه وئيل زه خوهم د دې ښار اوسيدونكې يم. پرون ماښام زه د دې ځائ نه تلې يم د دې ځائ بادشاه دقيانوس دې. دې وخت كښې ټولو اوخاندل او وئې رونړو دا څوك ليونې دې. آخر ئې بادشاه ته مخامخ كړو د هغه نه ئې تپوسونه اوكړه هغه ټول حال بيان كړو. اوس يوطرف ته بادشاه او ټول خلق حيران دی

Scanned with Ca

بل طرف ته دي په شش وپنج كښې حيران ولاړدي. اخر ټول خلق هغه سره شو چه مونږ ته خپل نور ملګرى اوښايه او خپل غارهم راته اوښايه. ده هغوى بوتله. هغه وئيل تاسو لږ شان اودريږئى زه هغوى ته خبر وركوم. د هغه په اخواكيدو سره الله ﷻ په هغوى د بې خبرې پردې راخورې كړې دوى ته معلومه نه شوه چه هغه چرته لاړو؟ الله ﷻ بيا داراز پټ كړو. په يوروايت كښې داهم راغلى دى چه خلق سره د بادشاه لاړل. هغوى سره ملاوشو سلام عليك اوشو غاړې ملاوكړې دا بادشاه پخپله هم مسلمان وو د هغه نوم تيودوسيس وو. اصحاب كهف هغه سره ملاوشو ډير خوشحاله شو او په مينه اومحبت سره ملاوشو خبرې اوشې بيا واپس خپل خپل ځائ ته لاړل بيا الله ﷻ هغوى مړه كړل. والله اعلم.

وائى چه حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه د حبيب بن مسلمه رضي الله عنه سره يوغزوه كښې ووهلته هغه د روم په ښاركښې يوغار اوليدو په كوم كښې چه هډوكى وو خلقو وئيل داهډوكى د اصحاب كهف دى. هغوى اوفرمائيل چه درې سوه كاله تيرشوى چه د هغوى هډوكى ډډشوى خاورى شوى. (ابن جرير)

نو فرمائى چه څنګه مونږ هغوى په عجيبه طريقه سره اوده كړى وو اوبالكل په يو نوې طريقه سره مو راپاسول دغه شان بالكل په يو نابلده طريقه سره د ښار باشندګان د هغوى په حالاتو خبركړل دې د پاره چه هغوى ته د الله ﷻ د وعدو د حقانيت علم اوشى اود قيامت په كيدو كښې اود دې په حق سره كيدو كښې هيڅ شك نشته. هغه وخت هغوى په خپل مينځ كښې سخت مخالف وو اوجنګك جګړې كولې. بعضې د قيامت قايل وو بعضې منكر وو. د اصحاب كهف ښكاره كيدل په منكرانو باندې حجت اود منونكو دپاره دليل جوړشو.اوس دهغه كلى والا دا اراده اوكړه چه دهغه غارخُله بندكړى اوهغوى په خپل حال باندې پريږدى چاته چه د كار غلبه حاصله وه هغوى خو اراده اوكړه چه مونږخود دوى نه چاپيره جمات جوړ وو. امام ابن جرير رحمه الله د هغه خلقو باره كښې دوه اقوال نقل كوى يو دا چه په هغوى كښې مسلمانانو وئيلې وو دويم دا چه داقول د كافرانو وو. والله اعلم.

**قبرپوخ مه جوړوئى:-** په ظاهرى توګه خوهغوى مسلمانان معلوميدل چه د دې كلمه قائل او ويونكى وو دا يوه بله خبره ده چه د هغوى دا وينا ښه وه كه بده؟ نو په دې باره كښې صفاحديث موجود دې رسول الله ﷺ فرمائيلى الله ﷻ دې په يهوديانواونصارى باندې لعنت اوكړى چه هغوى د خپلو انبياؤكرامو اولياؤكرامو قبرونه جماتونه جوړكړل.[1] كوم چه هغوى كړى وو د هغې نه حضورﷺ خپل امت بچ كول غوښتل.ددې د پاره د اميرالمؤمنين حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه په زمانه كښې كله د حضرت دنيال عليه السلام قبرپه عراق كښې بياموندې شو نو اوفرمائيلې شو چه دا پټ كړئى اوكومه رقعه چه ملاوشوې چه په كښې د بعضو جنګونو وغيره ذكر دې دا خښه كړئى.

سَيَقُوْلُوْنَ ثَلٰثَةٌ
وائى به څه خلق | چې هغوئ درې وۆ |
اوس څوک چې وائى چې هغوئ درې تنه وو

رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ
څلورم دهغوئ اسپې دهغوئ وۆ | اوڅوك به وائى| چې پنځه وۆاو شپږم دهغوئ اسپې دهغوئ وۆ
او څلورم ئې سپې وو اوڅوک چې وائى چې پنځه تنه وو او شپږم ئې سپې وو

---

[1] صحيح بخارى كتاب الجنائز مايكره من اتخاذ المساجدعلى القبور:١٣٣، صحيح مسلم:٥٣١، احمد:٦/٨٠.

Scanned with Ca

رَجۡمًۢا بِالۡغَيۡبِ ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ سَبۡعَةٌ وَّثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ؕ

دا ويشتل دی | په غيبو سره | اووائی ځينی نورخلق | چی اوه ووز | اواتم دهغوئ | سپې دهغوئ وو

داتولې بې تحقيقه خبرې دی اوځوک به وائی چې اووۀ تنه وو او اتم ددوئ سپې وو

قُلۡ رَّبِّيۡۤ اَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِمۡ مَّا يَعۡلَمُهُمۡ اِلَّا

ورته اووايه | چی رب زما | ښه عالم دې | په شماره دهغوئ | نۀ دې معلوم دوئ ته | مګر

(اَئی پيغمبره) ته ورته اووايه چې زما رب ته دهغوئ شميرښه معلوم دې په دوئ صرف لږ غوندې

قَلِيۡلٌ ۟ۙ فَلَا تُمَارِ فِيۡهِمۡ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۪

ډيرولږوخلقوته | پس جګړه مۀ کوه تۀ | په باره دهغوئ کښی | مګربحث | سرسری |

خلق پوهه دی پس ته د سر سری بحث نه سواددوئ په باره کښې زيات تحقيق مه کوه

وَّلَا تَسۡتَفۡتِ فِيۡهِمۡ مِّنۡهُمۡ اَحَدًا ﴿۲۲﴾ وَلَا تَقُوۡلَنَّ

او تپوس مه کوه تۀ | په باره دهغوئ کښی | په دوئ کښی | دهيچانه | او مۀ وايه تۀ هرګز

او ددوئ په حقله په دې خلقو کښې دهيچا نه تپوس مه کوه اودهيڅ څيز په حقله

لِشَايۡءٍ اِنِّيۡ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۫

دهيڅ څيز په حقله | چی بيشکه زۀ | کونکې يم | ددغه کار | صباله | مګروايه | چی اوغواړی الله

دامه وايه چې زه به ئې صباله کوم سوا ددې نه چې الله ﷻ ئې غواړی

وَاذۡكُرۡ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيۡتَ وَقُلۡ عَسٰۤى اَنۡ يَّهۡدِيَنِ رَبِّيۡ

اويادکړه | رب خپل | کله چی | هيرشی ستا | اووايه | اميد دې | چی اوښائی ماته | رب زما

اوخپل رب يادوه هرکله چې خبره درنه هيره شی اووايه چې اميد دې چې زما رب ماته داسې لار اوښائی

لِاَقۡرَبَ مِنۡ هٰذَا رَشَدًا ﴿۲۴﴾

زياته نزدې (خبره) | ددې نه | صحيح والی ته |

چې ددې نه ډيره نزدې خبره راته سمه کړی

**قوله تعالی:- سَيَقُوۡلُوۡنَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ۚ**

**داصحاب کهف شميراودهغوئ نومونه:-** خلقو به داصحاب کهف په شمير کښې څه اوڅه وئيل.درې قسمه خلق وو څلورم شميرنه دې بيان شوې. دوه ړومبنی اقوال خو ئی ضعيف کړل چه دا د خان نه اټکلی خبرې دی. بې نښې کانړی دی که چرته اولګی نوکمال نه دې اوکه اونه لګی نو زوال نشته اودريم قول بيانولوسره خاموشی اختيارکړه نه ئی ترديد اوکړو يعنی اووه او اتم د هغوی سپې. دې خو معلوميږی چه هم دا خبره صحيح ده او په واقع کښې هم داسې ده. بيا ارشاد مبارك دې چه په داسې موقعوباندې بهترهم دادی چه داالله ﷻ دعلم طرف ته دااوګرځولې شی پداسې خبرو کښې سره د صحيح علم د نشت والی غوراو سوچ کول عبث دی که ديوې خبرې علم اوشی د خلې نه دې اوباسی ګنی خاموش دې شی.

Scanned with Ca

د دې شمير صحيح علم ډيرو کموخلقوته دې. ابن عباس ؓ فرمائی زه هم د هغوی نه يم ماته معلومه ده هغوی اووه وو[1] د حضرت عطاء خراسانی ؒ هم دا قول دې [2] اوهم دا مونږ اول ليکلي وو. په دوی کښې خو بعضې ډير کم عمر وو په عنفوان ځوانئی کښې وو. دا خلق به شپه ورځ دالله ﷻ په عبادت کښې وو او ژړل به ئې او الله ﷻ ته به ئې فرياد کولو. روايت دې چه دا نهه وو او په دوی کښې چه کوم لوئ وو د هغه نوم مکسلمين وو هغه بادشاه سره خبرې کړې وې او هغه ته ئې د الله ﷻ واحد د عبادت دعوت ورکړې وو. د باقی نومونه دا دی يمليخ، مرطونس، کسطونس، بيرونس، ونيموس، يطبونس او قابوش. اود ابن عباس ؓ صحيح روايت هم دا دې چه دا اووه کسان وو اود آيت د ظاهری الفاظونه هم دامعلوميږی. شعيب جبائی ؒ وائی د هغوی دسپی نوم حمران وو. خود دې نومونو په صحت کښې نظر دې. والله اعلم. په دې کښې ډير څيزونه د اهل کتاب نه اخستې شوی دی. بيا خپل نبی ؑ ته ارشاد فرمائی چه ته د دوی باره کښې ډير بحث مباحثه مه کوه. دا يو ډير سپک کاردې په کوم کښې چه څه غټه فائده نشته اومه د دوی باره کښې د چانه تپوس کوه ځکه چه هغوی عموما د ځان نه خبرې جوړوی اوکوی. هيڅ صحيح او رښتونې دليل هغوی سره نشته او الله ﷻ چه کوم څه ستا په وړاندې بيان کړی دی دا د دروغونه پاك دی او د شك شبه نه لرې دی د ايمان او يقين قابل دی بس هم دا حق دی اود ټولونه مقدم دی.

**د هرکارنه وړاندې ان شاء الله وئيل پکاردی**:-الله ﷻ تبارك وتعالی خپل خوږ نبی ختم المرسلين ﷺ ته ارشاد فرمائی چه کوم يوکار صباله کول غواړې نوداسې مه وايه چه صبابه ئې کوم بلکه دې سره ان شاء الله وايه ځکه چه صبابه څه کيږی د دې علم صرف الله ﷻ ته دې. علام الغيوب او په ټولو څيزونو باندې صرف هم هغه قادر دې د هغه نه امدادغواړه. بخاری اومسلم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د حضرت سليمان بن داؤد ؑ لس کم سل بيبيانې وې په يو روايت کښې دی سل وې يو کښې دوه اويا وی نو هغه اووئيل چه نن شپه کښې به زه دوی ټولوله ورځم د هرې يوې ښځې به بچی کيږی اوهغه به د الله ﷻ په لارکښې جهاد کوی. هغه وخت فرښتې اووئيل چه ان شاء الله اووايه خو حضرت سليمان ؑ اونه وئيل. د خپلې ارادې مطابق هغه ټولو بيبيانوله لاړو خوبغيرد يوې بی بی نه د يوې هم بچې اونه شواود کومې يوې چه اوشو هغه هم نيم بدن وو. حضور ﷺ فرمائی دالله ﷻ قسم د چا په لاس کښې چه زما ځان دې که هغه ان شاء الله وئيلې وونود هغه به دا اراده پوره شوې وه او د هغه حاجت به پوره شوې وو اودا ټول بچې به ځوانان شوی وواود الله ﷻ د لارې مجاهد به جوړشوی وو.[3] هم د دې سورت په شروع کښې د دې آيت شان نزول بيان شوې دې چه کله د حضور ﷺ نه د اصحاب کهف قصه معلومه کړې شود نو حضور ﷺ اوفرمائيل چه زه به صباله تاسو ته جواب درکړم ان شاء الله ئې اونه وئيل په دې وجه پنځلس ورځې وحی نازل نه شوه[4] داحديث پوره مونږ د دې سورت د تفسير په شروع کښې بيان کړې دې دلته بياد بيان ضرورت نشته. بيا فرمائی چه کله درنه هيره اوشی نو بيا هم خپل رب يادکړه يعنی ان شاء الله وايه که په موقع ياد نه شی خو چه کله هم ياد شی وايه. [5]

**په څه کاردقسم اخستو نه پس هم انشاء الله وئيل پکار دی**:-حضرت ابن عباس ؓ د هغه سړی باره کښې فرمائی چه څوك قسم اوخوری نو هغه له بيا هم ان شاء الله وئيلو حق شته که يوکال په تيرشوې هم

[1] الطبری:۱۷/٦٤۲.
[2] الطبری:۱۷/٦٤۲.
[3] صحيح بخاری کتاب الجهاد باب من طلب الولدللجهاد:۲۸۱۹، صحيح مسلم:۱٦٥٤، مسندابي يعلى:٦۲٤٤.
[4] الطبری:۱۷/٦٤۲.
[5] الطبری:۱۷/٦٤۲.

Scanned with Ca

وي[1] مطلب دا دې چه په خپل کلام کښې یاقسم کښې انشاء الله ونیل هیرشونو چه کله هم یاد راشي اودې واني که هرڅومره موده هم تیره شوې وي اودهغې خلاف هم شوي وي ددې دا مطلب نه دې چه اوس به په ده باندې د قسم کفاره نه وي اوده له د قسم ماتولو اختیاردې. هم دا مطلب د دې قول امام ابن جریر رحمه الله بیان کړې دې چه مراد ان شاء الله ونیل هیرول دي. په یوبل روایت کښې د دې نه پس دا هم دي چه دامخصوص دې. یومطلب دا هم دې چه کله یوه خبره هیره شي نود الله ﷻ ذکر کوه ځکه چه هیرول د شیطان حرکت دې اود الله ﷻ ذکر هم د یادولو ذریعه ده. بیافرمائي چه تاته دځه داسې خبرې تپوس اوشي چه تاته د هغې علم نه وي نود الله ﷻ نه معلومول کول اود هغه طرف ته توجه کوه هغه به تاته صحیح او د هدایت والا لار درښائي. په دې کښې نوراقوال هم شته. والله اعلم.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَلَبِثُوْا | فِيْ كَهْفِهِمْ | | | | | | | |
| اووخت تیر کړو هغوئ | په غار خپل کښې | | | | | | | |
| اودغه خلق په خپل غار کښې نهه کاله دپاسه | | | | | | | | |
| ثَلٰثَ مِائَةٍ | سِنِيْنَ | وَازْدَادُوْا | تِسْعًا ﴿٢٥﴾ | قُلِ اللّٰهُ | اَعْلَمُ | بِمَا | | |
| درې | سوه | کلونه | او زیات کړل خلقو | نهه کاله | اووایه چې الله | ښه عالم دې | په هغه موده | |
| درې سوه کاله (اودهٔ) پاتې شول ته اووایه چې الله ﷻ ته ښه معلوم دی چې څومره موده | | | | | | | | |
| لَبِثُوْا | لَهٗ | غَيْبُ السَّمٰوٰتِ | وَالْاَرْضِ | اَبْصِرْ بِهٖ | | | | |
| چې هغوئ تیر کړو | هغه ته معلوم دي | پټ حالونه دآسمانونو | اودزمکې | اځنګه ښه لیدونکې دې هغه | | | | |
| پاتې شوي وو هغه ته دآسمانونو اوزمکې ټولې غیبي خبرې معلوم دي هغه هرڅه لیدونکې | | | | | | | | |
| وَاَسْمِعْ | مَا لَهُمْ | مِّنْ دُوْنِهٖ | مِنْ وَّلِيٍّ | وَّلَا يُشْرِكُ | | | | |
| او ښه اوریدونکې دې | نشته دوئ لره | ماسوا د هغه نه | څوک دوست | اونهٔ شریکوي هغه | | | | |
| اوهرڅه اوریدونکې دې الله ﷻ نه سوا بل ملګرې نشته او نه هغه په خپل حکم کښې | | | | | | | | |
| فِيْ حُكْمِهٖٓ | اَحَدًا ﴿٢٦﴾ | | | | | | | |
| په حکومت خپل کښې | هیڅوک | | | | | | | |
| بل څوک شریکوي | | | | | | | | |

**قوله:- وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا﴿٢٥﴾**

**داصحاب کهف د حصاریدو موده:-** الله ﷻ خپل خوږ نبي ﷺ ته د دې مودې خبر ورکوي کومه چه اصحاب کهف پخپلواوده کیدو کښې تیره کړې وه هغه موده دنمر په حساب سره درې سواکاله وه او د سپوږمۍ په حساب سره درې سوه اونهه کاله وه. في الواقع په شمسي او قمري کال کښې د هرو سلو کالونه پس درې کاله فرق پریوځي په دې وجه درې سوه ئې جدا بیان کړل اوبیائي نهه جدا بیان کړل.
بیافرمائي چه کله تاته د دوی د اوده کیدو د مودې تپوس اوشي اوتاسره د دې څه علم نه وي او الله ﷻ ته خبرکړې نې نووړاندې مه څه او په داسې امورو کښې جواب ورکوه چه هم الله ﷻ ته صحیح علم دې. د آسمان اوزمکې غیب هم هغه پیژني چاته چه هغه کومه خبره اوښائي هم هغه پیژني. حضرت قتاده

[1] الطبري: ٦٤٢/١٧.

Scanned with Ca

رحمه الله فرمائي داوينا چه هغوى درې سوه كاله پورې حصار وود اهل كتاب وينا ده او الله ﷻ د دې ترديد كړې دې اوفرمائيلي دى چه هم الله ﷻ ته د دې پوره علم دې(١)د حضرت عبدالله رضي الله عنه نه هم د دې معنى قراءت روايت دې خود قتاده رحمه الله دا قول تامل طلب دې ځكه چه د اهل كتابو په نيز د شمسي كال روان دې اوهغوى درې سوه كاله منى ددريوسوو اونهه كالو نه.كه هم د هغوى قول نقل كيدلو نو بيا به الله ﷻ دا نه فرمائيل اونور نهه كاله ئې زيات كړل. په ظاهره خو هم دا صحيح معلوميږى چه پخپله الله ﷻ تبارك وتعالى د دې خبرې خبر وركوى نه چه د چا قول فرمائى. هم دا اختيارد امام ابن جرير رحمه الله دې. دقتاده رحمه الله اود ابن مسعود رضي الله عنه قراءت دواړه منقطع دى اوبياشاذ هم دى.دجمهورو قراءت هم هغه دې كوم چه د قرآن دې اوهغه د شاذ دليل قابل نه دې. والله اعلم.

الله ﷻ خپل بنديكانوته ښه ګورى اود هغوى آواز ښه اورى په دې الفاظوكښې د تعريف مبالغه ده او په دې دواړو الفاظوكښې د مدح مبالغه ده يعنى هغه ښه اوريدوكې او كتونكې دې. (٢)هريو موجود څيزته ګورى او هريوآواز اورى هيڅ يوكار ياكلام د هغه نه پټ نه دې. هيڅ څوك د هغه نه زيات اوريدونكې او ليدونكې نه دې. (٣)د ټولوعمل ګورى اود ټولوخبرې اورى. د مخلوق خالق اود امرمالك هم هغه دې د هغه فرمان څوك بندولې نه شى د هغه څوك وزير اوامدادى نشته نه څوك شريك اونه څوك مشير شته هغه د دې ټولوكمونه پاك دې د دې ټولونقصاناتو نه لرې دې.

| |
|---|
| وَاتْلُ مَآ أُوْحِيَ إِلَيْكَ مِنْ كِتٰبِ |
| \| اواوڅروه\| هغه\| چې وحى شوى ده\| تاته \| دكتاب |
| اوته اولوله كومه وحى چې درته دخپل رب دكتاب په ذريعه |
| رَبِّكَ ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ |
| درب ستانه \|نشته هيڅوك بدلونكې\| حكمونودهغه لره\| اوهرګزبه ته بيانهٔ مومې\| ماسوادهغه نه |
| راغلې ده دغه خبرو هيڅ بدل پيداكيدې نشى اودهغه نه بغير به هيڅرې ته |
| مُلْتَحَدًا ۝ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ |
| خانې دپناه \|اوصبركړه \|نفس خپل \| دهغه كسانوسره\| چې رابلى هغوى\| رب خپل\| |
| پناه بيا نه مومې(ائې پيغمبره) ته خپل ځان په هغه چا پورې تړلې ساته |
| بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ |
| په صبا كښې\| اوپه بيګاه كښې\|چې غواړى هغه \| رضا دهغه \| اومهٔ اړوه تهٔ \| ستركې خپلې \| |
| چې سحر ماښام خپل پروردګار يادوى او دهغه رضا مندى غواړى او خپلې ستركې دهغوئ نه |
| عَنْهُمْ ۚ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا |
| دهغوئ نه\| چې غواړې تهٔ \| ښائيست دژوند ددنيا \| او اطاعت مهٔ كوه\| دهغه چاچې غافله كړې دې مونږه |
| مه اړوه چې ددنيا دژوند دښائست طلب ګار شې اودهغه چا خبره مه منه چې دهغه زړه مونږ دخپل |

(١) الطبرى:١٧/٦٤٧.

(٢) الطبرى:١٧/٦٥٠.

(٣) الطبرى:١٧/٦٥٠.

Scanned with Ca

| قَلْبَهٗ | عَنْ ذِكْرِنَا | وَاتَّبَعَ | هَوٰىهُ | وَكَانَ | اَمْرُهٗ |
|---|---|---|---|---|---|
| زړه دهغه | دياد زمونږ نه | او پيروي ئې کړې ده | اوخواهشاتو خپلو | او دې | کار دهغه |
| ذکر نه غافله کړې دې اوهغه دخپل خواهش پيروي اوکړه اودهغه کار د حد نه تير | | | | | |
| فُرُطًا۝ | | | | | |
| اوړيدل دحق نه | | | | | |
| شوې دې | | | | | |

**قوله تعالى:- وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ**

**د کمزورو صحابه کرامو رضي الله عنهم د فضيلت بيان:**-الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته د خپل کلام تلاوت اود هغې د تبليغ هدايت کوی ددې کلمات نه څوك بدلولې شی نه ئې روستوکولې شی نه ئې اخواديخواکولې شی پوهه شه چه د هغه نه علاوه د پناه ځائ نشته. که تلاوت او تبليغ دې پريخودو نو بيا د بچ کيدو څه صورت نشته([1])لکه چه يوبل ارشاد دې اې رسولﷺ کوم څه چه ستا طرف ته ستادرب نه نازل شوی دی د هغې تبليغ کوه. که اودې نه کړو نو تا د رسالت حق ادانه کړو. د خلقو د شر نه به الله ﷻ تا بچ ساتی([2]) په يوبل روايت کښې دی ﴿اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ۭ قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى وَمَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ۝﴾ ([3])يعنى الله ﷻ به تانه ستادمنصب باره کښې دقيامت په ورځ خامخاتپوس کوی دالله ﷻ ذکر دهغه تسبيح اوحمد لوئی اوبزرگی بيانونکوسره کينه چه سحر مابنام دالله ﷻپه يادکښې لګيادی که هغه فقير وی که امير وی که رذيل وی که شريف وی که طاقتور وی که کمزوری.

قريشودرخواست کړې وو چه تاسو ورو خلقو سره مجلس کښې مه کينئی لکه بلال عمار صهيب خباب ابن مسعود رضي الله عنهم وغيره او زمونږ مجلسونوکښې کينه نو الله ﷻ دهغوی د درخواست ردکولو حکم اوکړو لکه بل آيت کښې چه ارشاد دې ﴿وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ۭ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ۝﴾([4])يعنى سحر مابنام د الله ﷻ ديادونکو د مجلس نه مه اخواکيږه. په صحيح مسلم کښې دی چه مونږ شپږ غريبانان دحضورنبی کريم ﷺ په مجلس کښې ناست وو سعد بن ابی وقاص، ابن مسعود، د قبيله هذيل يوسړې، بلال رضي الله عنهم اودوه کسان نور او په دې کښې معزز مشرکان راغله اووئی وئيل چه دوی ځان سره په خپل مجلس کښې داسې نيغ مه کينوه. هم الله ﷻ بهتر پيژنی چه د حضور ﷺ په زړه کښې څه راغله؟ چه هم هغه وخت آيت ﴿ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ۭ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ۝﴾ نازل شو. ([5])

**دالله ﷻ د ذکر فضيلت:**-مسنداحمد کښې دی يوواعظ قصه بيانوله چه حضور ﷺ تشريف راوړو. هغه چپ شو نو حضور ﷺ اوفرمائيل ته بيان کوه زه خوبه د سحر د مانځه نه واخله د نمردراختلوپورې په دې مجلس کښې ناست يم اوداد ځان دپاره دڅلورو غلامانود آزادولونه بهترګنړم([6]) يوبل حديث کښې

---

[1]) الطبری:١٧/٦٥١.
[2]) ٥/المائدة:٦٧.
[3]) ٢٨/القصص:٨٥.
[4]) ٦/الانعام:٥٢.
[5]) صحيح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب فضل سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه:٢٤١٣.
[6]) احمد:٥/٢٦١.

دی چه حضورﷺ فرمائيل چه زه په دې مجلس كښې كينم نودا زما د پاره د څلورو غلامانو ازادولو نه خوښ دی(١)ابوداؤدطيالسي كښې دی دالله ﷻ ذكر كونكوسره د سحردمانځه نه واخله تر نمر راختلو پورې ناسته ماته د ټولې دنيا نه خوښه ده اودمازيگر دمانځه نه واخله ترنمر ډوبيدوپورې د الله ﷻ ذكركول ماته داتوغلامانوآزادولونه ډير خوښ دی كه هغه غلام داسماعيل د اولاد نه قدردان او قيمتي ولې نه وی.د هغوی د يويو ديت دولس دولس زره(٢)وی نوټول قيمت څلور كم سل زره شو. بعضې خلق څلور غلامان يادوی خو حضرت انس ﷺ فرمائي والله حضورﷺ اته غلامان يادكړی دی. بزاركښې دی چه حضورﷺ راغلو يوصاحب د سورت كهف تلاوت كولو حضورﷺ ئې چه اوليدلو نو چپ شو حضورﷺ اوفرمائيل چه هم د دغه خلقو مجلس دې چرته چه ماله د خپل ځان حصارولود پاره د الله ﷻ حكم دې. (٣) بل روايت كښې دی چه د سورت حجر تلاوت ئې كولو ياد سورت كهف. (٤)

مسنداحمد كښې دی فرمائي د الله ﷻ د ذكر د پاره چه كوم مجلس راجمع شوې وی او د هغوی نيت هم د خيروی نودآسمان نه يوآوازكونكې آوازكوی پاسئی الله ﷻ تاسو اوبښلئی ستاسو بدئی په نيكو بدلې كړې شوې(٥) طبرانی كښې دی چه كله دا آيت نازل شو نوحضورﷺ په خپل يوكوركښې ووهم هغه وخت د داسې خلقو په لټيون كښې اووتلونوڅه خلق ئې د الله ﷻ په ذكركښې اوليدل د چا وېښته چه خواره واره ووخرمنې ئې اوچې وې په مشكله هغوی ته يوه يوه كپړا حاصله وه زرد هغوی په مجلس كښې تشريف كيخودو اووئې فرمائيل د الله ﷻ شكر دې چه هغه زما په امت كښې داسې پيداكړی دی د چا سره چه د كيناستو ماته حكم اوشو. بيافرمائي چه دوی نه دې ستا سترگې تجاوز اونه كړی دا د الله ﷻ ذكر كونكی پريخودل اومالدارانو پسې لگيدل پريږده څوك چه د دين نه باغيان دی. څوك چه د عبادتونونه لرې دی د چا بدئی چه زياتې شوی دی د عملونونه چه بې وقوفان دی ته دوی پسې تگ مه كوه دهغوی طريقه مه خوښه وه په هغوی باندې دپسخيدو نظر مه اچوه دهغوی نعمتونوته د خوندپه نظر مه گوره لكه چه ارشاد دی ﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ﴾(٦) مونږ چه دوی ته كوم دا دنياوی عيش اوعشرت وركړې دې دا صرف د هغوی د ازمېښت د پاره دې ته د محتاجئی په نظر دوی ته مه گوره دراصل خو ستا رب سره رزق بهتر او ډير باقي دې.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَقُلِ | الْحَقُّ | مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ | فَمَنْ | شَآءَ | |
| اوورته اووايه | چي داحق دې | دطرفه درب ستاسو نه | نو هغه څوك | چي غواړي | |
| اودا اووايه چي داقرآن پاک ستاسو درب دطرفنه برحق دې نو څوک چي غواړي | | | | | |
| فَلْيُؤْمِن | وَّمَنْ | شَآءَ | فَلْيَكْفُرْ ۚ | إِنَّآ | أَعْتَدْنَا |
| نو ايمان دی راوړی | او هغه څوك | چي غواړي | نوانكارداوكړي | بيشكه مونږ | تياركړې دي |
| ايمان دې راوړی او څوک غواړی چي كفر دې اوكړی مونږ ظالمانوله داسې | | | | | |

(١) احمد:٣/٤٤٧.

(٢) مسندالطيالسي:٢١٠٤،

(٣) مسندالبزار:.

(٤) مسندالبزار:٢٣٢٦.

(٥) احمد:٣/١٤٢ وسنده حسن، مسندابي يعلى:٤١٤١، المعجم الاوسط:١٥٧٩، مجمع الزوائد:١٠/٧٦.

(٦) ٢٠/طه:١٣١.

Scanned with Ca

لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ۙ اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ؕ وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا

دپاره دظالمانوا ووړ اچې چاپيره شوي دي ادهغوئ نه اپردې دهغې ووړ اوكه فرياداوكړي هغوئ ا

اور تيار كړې دې چې دهغې پردې به ترې نه دهرې غاړې چاپيره وي او كه چرې هغوئ (دتندې) فرياد كوي

يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي

نو جواب دفرياد به وركړې شي | په داسې اوبو سره اچې وي به پشان دتيلودويخ دخيرى ا چې وريتوي به

نو دويلې شوې تانبې په شان ويشيدلې اوبه ورته ملا ويږي چې مخونه به وريت كړي

الْوُجُوْهَ ؕ بِئْسَ الشَّرَابُ ؕ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾

مخونه | ډيربدخيزدې دڅكلو او ډير بددې | ځائې دآرام

څومره خراب څښل به وي او څومره خراب ځائې به وي

**قوله‌تعالى:- اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ؕ**

**د دوزخ خطرناك كيدو ذكر:-** اووايه كوم څه چه ماد خپل رب د طرف نه راوړى دى هم هغه حق صدق او رښتيا دى دشك شبه نه خالى دى. اوس چه د چا زړه غواړى اودې منى اوچه نه غواړى نه دې منى. د نه منونكو د پاره د دوزخ اُور تياردې د كوم د چاپيره ديوالونوپه قيدخانه كښې چه به دوى بې وسه وى. حديث شريف كښې دى چه د دوزخ د چاپيره ديوالونو پلنوالې د څلويښتو څلويښتو كالو د لارې دې. (١) (مسنداحمد) اوپخپله ديوالونه ئى هم د اُوردى(٢)بل روايت كښې دى چه سمندرئى هم دوزخ دې بيائى ددې آيت تلاوت اوفرمائيلو. بيائې اوفرمائيل والله نه به دې ته لاړشم اوچه تركومې هم ژوندې يم د دې يوڅاڅكې به هم ماته راونه رسى(٣)

**مهل څه ته وائى:-** ؟مهل وائى ګنده اوبوته لكه د زيتونو د تيلو خيرې.(٤) اولكه وينه او نوونه چه ګرم وى (٥)حضرت ابن مسعودؓ يو ځل سره زر ګرم كړل كله چه هغه داُوبوپه شان شوه او جوش ئى اووهلو نو وئى فرمائيل د مهل يوشان والې داسې دې(٦)ددوزخ اُوبه هم تورې دى هغه پخپله هم تور دې دوزخيان هم تور دى. مهل تور رنګ سخا بوئى مردار ګنده اوسخت ګرم څيز دې. مخ له تلوسره څرمن سوزوى او مخ سوزوى.

مسنداحمد كښې دى د كافرمخ له تلوسره به د هغه د مخ څرمن اوسيزى اوپه دې كښې به راپريوځى. (٧) قرآن پاك كښې دى چه هغه نوونه به پرې څكولې شى.(٨)ډير په ګرانه به د هغوى د حلق نه تيريږى د هغوى مخ له نيزدې كيدوباندې به د هغوى څرمن اوسوزى او راپريوبه ځى څكوسره به ئى كولمې پرې كړى د هغوى په چغوصورو باندې او شور زوګ باندې به په هغوى دا اوبه څكولې شى. (٩)د ولږې په

(١) احمد:٢٩/٣، ترمذى كتاب صفة جهنم باب ماجاء فى صفة شراب اهل النار:٢٥٨٤مسندابى يعلى:١٣٨٩، حاكم:٦٠٠/٤.
(٢) الطبرى:١١/١٨.
(٣) حاكم:٥٩٦/٤ ، ٨٧٦٢.
(٤) الطبرى:١٣/١٨.
(٥) الطبرى:١٣/١٨.
(٦) الطبرى:١٣/١٨.
(٧) ترمذى كتاب صفة جهنم باب ماجاء فى صفة شراب اهل النار:٢٥٨١، احمد:٣/٧٠-٧١.
(٨) ٤٧/محمد:١٥.
(٩) الطبرى:١٤/١٨.

Scanned with Ca

شکایت به ورته د زقوم د ونې خوراك ورکولې شي په کوم سره چه به د هغوی دمخ څرمنې د هغوی بدن داسې پريږدی راوبه خی چه د هغوی پيژندګلوکسان په د هغوی دمخ څرمنې کتوسره هم اوپيژنی بيا به د تندې په شکایت باندې ورته داسې ګرمې اوخوټيدلې اوبه ملاويږی په خُلې ته په رسيدو به نی د مخ ټوله غوښه وريته شی( [1] )افسوس دې چه څومره خرابې اوبه دی اودا به هغه ګرمې اوبه وی چه د هغوی کولمې پريکيږی اودسخت ګرم بهيدونکې لختی نه به په دوی باندې اوبه څکولې شي. د هغوی ټکانه دهغوی منزل د هغوی کور اود هغوی د اوسيدو خایٔ به ډير خراب وی لکه چه بل آيت کښې ارشاد دې ﴿إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا﴾( [2] ) هغه ډير خراب خایٔ او ډير سخت منزل دی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

| بيشکه هغه کسان چې ايمان راوړی

بيشکه چا چې ايمان راوړې دې

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ

او عمل او کړی نيک | نو بيشکه مونږه | نهٔ ضائع کوؤ | بدله | دهغه چا | چې ډير نيک وی

او نيک کارونه ئې کړی دی نو مونږ دهغه چا اجر هيڅکله نه ضائع کوؤ چې نيک

عَمَلًا ۝ أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي

په لحاظ دعمل سره | داکسان چې دی | دی ددویٔ دپاره | جنتونه | دهميشه سيرلی | اچی بهيږی به

کارونه کوی داهغه خلق دی چې دویٔ له هميشه سمسورپاتې کيدونکی باغونه دی

مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ

لاند دباغونو ددویٔ نه | نهرونه | اچولې کيږی به دویٔ ته | په هغې کښې | بنګړی | دسرو زرو

چې لاندې به ترې ولې بهيږی دسروزرو بنګړی به ورته په لاسونو کښې اچولې شی

وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَّكِئِينَ

او اغوندی به | جامې | شنې | دباريکوريښمو | اودغتوريښمو | تکيه وهونکې به وی

اوشنې نرئ اوغټې ريښيمو جامې به اغوندی په تختونو به ئې

فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ۚ نِعْمَ الثَّوَابُ ۚ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ۝

په هغې کښې | په تختونوباند | ډيره ښه بدله ده | اوډيرښه دی | ځائې دآرام

تکيه لګولې وی څنګه ښه بدله ده اوڅنګه ښه ځائې دی

**قوله تعالى:- أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ**

**د حکم منونکوډپاره د جنت نعمتونه:**-دجنت ذکردهغې خوشحالی اوپورته دخرابوخلقوحال اومال بيان اوفرمائيلې شواوس د نيکانو انجام او شروع بيانولې شي.داالله ﷻ رسول الله ﷺ او کتاب الله منونکی اوعمل کونکی دی. ددوی د پاره دهميشه والی اومدام والی باغونه دی.دهغوی دبالاخانواد

[1] الطبری:١٨/١٤.
[2] ٢٥/الفرقان:٦٦.

باغونولاندې نهرونه بهيږي هغوی ته به کالی اوخاص کردسرو زرو بنګړې اچولې شی دهغوی لباس به هلته د خالص ريښمو وی.نرم او نری او نرم او پيړو ريښمين لباس به وی دوی به په آرام سره د بادشاهانو په شان په تکيه ګانو باندې کومې چه به په تختونوباندې پرتې وی تکيه لګولې ناست وی. ونيلې شی چه د سملاستو او په پړلت غزولوسره ناستې ته هم اتکا واني ممکن دی چه هم دغه مراد دلته هم وی.په حديث کښې دی زه پړلت غزولو سره خوراك نه کوم(١)په دې کښې هم دا دوه اقوال دی ﴿ارائك﴾جمع ده د﴿اريكة﴾ تخت او پالنګ وغيره ته واني. ځومره ښه بدله ده اوځومره ښه د آرام ځایٔ دې په خلاف د دوزخيانو چه د هغوی د پاره خرابه سزا ده اوخراب ځایٔ دې. په سورت فرقان کښې هم د دې دوو ډلو دغه شان د مقابلې بيان دې.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ

اوبيان کړه| دویٔ ته| يومثال | ددووسړو | چې ورکړل مونږه| يوددې دواړوته| دوه باغونه|

او (ائي پيغمبره) ته دویٔ ته دهغه دوه کسانو حال واوره چې مونږ په کښې يو تن له د انګورو دوه

مِنْ أَعْنَابٍ وَّحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا

دانګورونه | اوچاپيره شپول اولګوو مونږه ددواړونه | دکجورو | اوپيداکړومونږه| په منځ ددواړوکښې

باغونه ورکړی وو اوهغه مو دکهجورو په ونو کښې راګير کړی وو او دهغه باغونوترمينځه مو

زَرْعًا ۝ كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَيْـًٔا

فصل |دواړو باغونو |ورکړې |ميوې خپلې| اوکم نې نۀ کړو| دبارنيولونه| هيڅ څيزا

شنه زرغونه پتی جوړ کړی وو دواړو باغونو به خپلې پوره پوره ميوې ورکولې او دواړو نه به هيڅ قسم له کمې نه راتلو

وَّفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ۝ وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ

اوجاری کړومونږه |په منځ ددواړوباغونوکښې| يونهر | اووه | هغه لره| ډيره ميوه|

اومونږدغې دواړو باغونو ترمينځه داوبو يو لښتې بهيولې وو اوددې سرې نوره هم ميوه وغيره وه

فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ

نواووئيل هغه| ملګری خپل ته |اوهغه| خبری کولې دهغه سره| زۀ |زيات يم | ستانه

نوهغه خپل ملګری ته په خبرو خبرو کښې اووئيل چې زه ستانه په مال کښې هم

مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا ۝ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ

په لحاظ دمال سره| او ډيرطاقتوريم| په لحاظ دسړو سره | اوننوتوا باغ خپل ته|اوهغه| ظالم وو

زيات يم اوپه متهو کښې هم درباندې غالب يم اوهغه خپل باغ ته ورننوتو اوهغه په خپل

لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ۝

دپاره دځان خپل |اووئيل هغه| نۀ کوم ګمان زۀ| چی هلاك به شی | داباغ هيڅکله

ځان زياتې کولو وې وئيل چې زه خيال نه کوم چې دا باغ به برباد شی

(١) صحيح بخاری کتاب الاطعمة باب الاکل متکئا:٥٣٩٨، ترمذی:١٨٣٠،ابن ماجه ٣٢٦٢، احمد:٤/٣٠٩؛ ابن حبان:٥٢٤.

Scanned with Ca

وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّىْ

اونه کوم گمان زهٔ | په قیامت | دقائیمیدلو | او که چرې واپس کړې شوم زهٔ | رب خپل ته |

اونه زماداخیال دي چې قیامت به راشي اوکه زه خپل رب ته پستنه اورسیدم

لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ۝

نوزهٔ به بیا مومم | بهتره | دهغې نه | ځائې دروتلو

نو ددې باغ به هم بهتر ځائې بیاموم

**قوله تعالیٰ:- وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ**

**د دووباغونووالا د سړی واقعه:**-پورته دغریبانانو مسلمانانواو مالداره کافران ذکر شوې وو دلته د هغوی یومثال بیانولې شی دوه سړی وو په هغوی کښې یومالدار وود انګوروباغ او چاپیره د کهجورو ونې په مینځ کښې فصل ونې خورې شوې زیلئی شنې فصل شین ښه ډیرګلونه د هیڅ قسم نقصان نه اخوا دیخوانهرونه روان. دې مالدار سړی سره هروخت قسم قسم پیداوار موجود. ددې دویم قراءت ﴿ثُمُر﴾ هم دې دا جمع ده د ﴿ثمرة﴾ لکه ﴿خشبة﴾ جمع ﴿خشب﴾ ده. غرض دا چه ده یوه ورځ خپل دوست ته د فخر اوکبر په انداز اووئیل زه مالدار دعزت اولاد خاوند شان شوکت نوکران خادمان زه ستانه په ډیر اوښه حیثیت کښې یم. د یوفاجر سړی خواهش خو هم دغه وی چه د دنیادا ځیزونه هغه سره ښه ډیر وی دې خپل باغ ته لاړو اوپه خپل ځان باندې ظلم کونکې یعنی کبر جبر انکار د قیامت اوکفر کونکې دومره مست ووچه دهغه د ژبې نه اووتل نامکنه ده چه زما دا شنه فصلونه دا میوه دارې ونې دا روان نهرونه دا آبادې زیلئی کله فنا شی په حقیقت کښې دا د هغه بې ایمانی کم عقلی او د دنیاخرمستی اود الله ﷻ سره د کفر وجه وه. په دې وجه به ئې وئیل چه زما په خیال خو قیامت هډو راتلونکې نه دې اوکه چرې راهم غلونوښکاره خبره ده چه زه الله ﷻ ته ګران یم ګنې هغه به ماله دومره مال حال ولې راکولو؟ هلته به هم هغه ماله د دې نه ښه راکړی لکه چه بل آیت کښې ارشاددې ﴿وَلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّىْٓ اِنَّ لِىْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى﴾(١) که زه واپس کړې شوم نوهلته زماد پاره نور ښه ځیزونه دی په یوبل آیت کښې دی ﴿اَفَرَءَيْتَ الَّذِىْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ۝﴾(٢) یعنی تاخوهغه هم اولیدو چه کوی خوزمونږ د آیاتونو انکاراوسره د دې د هغه داخواهش دې چه ماته به د قیامت په ورځ هم ډیرمال اولادملاویږی. داد الله ﷻ په وړاندې بهادری کوی او په الله ﷻ پسې خبرې جوړوی. د دې آیت شان نزول عاص بن وائل دې لکه چه په خپله موقع باندې به راځی انشاء الله وبه الثقة.

قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ

| اووئیل | هغه ته | ملګری دهغه

په دې باندې هغه ملګری ورته اووئیل چې کوم

وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَكَفَرْتَ بِالَّذِىْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ

او هغه | خبرې کولې دهغه سره | ایا تاکفر اوکړو | دهغه ذات سره اچې پیدا ئې کړې ته | دخاورې نه

ورسره خبرې کوې چې آیا ته دهغه ذات نه انکار کوې چې کوم ته دښاورې نه پیدا کړې؟

(١) ٤١/حم السجده:٥٠.

(٢) ١٩/مریم:٧٧.

ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ

بيا د نطفې نه | بيا ئې برابر كړې ته | سړې | ليكن | هم دغه الله | رب زما دې |

بيا ئې د څاڅكى اوبه نه روغ كړې او بيا ئې سم دم سړې جوړ كړې ليكن زه خو دا وايم چې هم الله ﷻ زما رب دې

وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿٣٨﴾ وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ

اونۀ شريكوم زۀ | ادرب خپل سره | هيڅوك | اوولې نۀ | كله چې | ننوتې تۀ | باغ خپل ته

او زۀ خپل رب سره څوک نه شريكوم او هر كله چې ته خپل باغ ته ورننوتې

قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اِنْ تَرَنِ

وئيل تا | هغه كيږي چې اوغواړي الله | نشته دې قوت | مگر | په توفيق دالله | كه وينې تۀ مالره |

نوتا داسې ولې اونه وئيل چې الله ﷻ څه غواړي نو هغه كيږي دالله ﷻ دمددنه بغير هيڅ طاقت نشته كه چرې ته

اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يُّؤْتِيَنِ

چې زۀ لږ يم | ستانه | په لحاظ دمال اواولاد سره | نو اميد دې | چې رب زما | راكړې ماته |

ما په مال او اولاد كښې خپل ځان نه كم گورې نو نزدې ده چې زما رب ماته ددې نه

خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ

بهتره | دباغ ستانه | او رااوليږې | په دغه باندې | افت | داسمان نه | او شي باغ ستا

ښه باغ راكړې او په دې باغ باندې دبره نه يو غيبي افت رااولي او دا باغ اوار

صَعِيْدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ اَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِيْعَ

ميدان | خوئينده | يا | شي | اوبه دهغې | وچې | نو هر گز تۀ بيا طاقت نۀ شې لرلې

خوئينده ميدان پاتې شي يا د دې باغ اوبه په كوزه لاړې شي او بيا ئې ته دراخيژولو

لَهٗ طَلَبًا ﴿٤١﴾

دغه اوبو لره | په طلب كولو سره |

هيڅ كوشش اونه كړې شې

**قوله تعالى :-** قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ

**دغريب مالدار ته جواب او نصيحت:-** دې كافر مالدار ته چه كوم جواب دې غريب مؤمن وركړو دهغې بيان كولې شي چه څنگه هغه د وعظ او نصيحت ايمان اويقين هدايت اوكړو اود گمراهئى او غرور نه ئې اخواكولو.وئې فرمائيل چه ته الله ﷻ سره كفر كوې چا چه د انسان پيدائش د خاورې نه شروع كړو بيائې دهغه نسل دگدووډو شوو اوبونه روان كړو.لكه چه آيت ﴿كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ [1] كښې دى تاسو الله ﷻ سره څنگه كفر كوې؟ تاسو خو مړ وې هغه ته ژوندې كړې تاسو د هغه د ذات اود هغه دنعمتونو څنگه انكار كولې شې؟ د هغه دنعمتونو او قدرتونو

[1] ٢/البقرة:٢٨.

Scanned with Ca

بې شمیره نمونې پخپله په تاسوکښې اواوتاسو باندې موجود دی.څوك كم عقل به داسې وی چه نه پوهیدلوچه هغه اول څه وو الله ﷻ هغه موجود کړو.او پخپله د کیدو باندې قادر نه ووهم الله ﷻ دهغه وجود پیداکړوبیا هغه دانکار څنګه لائق شو؟دهغه د توحید او الوهیت نه څوك څنګه انكار كولې شی. زه خو ستاپه مقابله کښې په کولاو او واضح الفاظوکښې وایم چه زما رب هم هغه وحده لاشریك له دې زه د خپل رب سره شرك كول ناخوښوم. بیا خپل ملګری ته نیك رغبت ورکول سره وائی چه خپل شین اوآباد فصل او د شنو میوونه ډك دې باغ ته دې اوګوره ته د الله ﷻ شكر ولې نه كوې؟ ولې ماشاء الله لاقوة الابالله نه وائې؟

**خپل مال او اولاد خوښ کیدو سره ماشاء الله وئیل پکار دی:**-هم د دې آیت په رڼاکښې بعضې سلف وائی چه خپل مال اولاددې خوښ شی نوهغه له داکلمه وئیل پکاردی.ابویعلی موصلی([1])کښې دی حضورﷺ فرمائی په کوم بنده باندې چه الله ﷻ د یونعمت انعام اوفرمائی بال بچ وی مالداری یا څامن وی بیا هغه دا کلمه اووائی نو په دې کښې به هیڅ نقصان نه راځی بغیردمرګ نه بیابه هغوی ددې آیت تاویل کولو. حافظ ابوالفتح رحمه الله وائی داحدیث صحیح نه دی.

مسنداحمدکښې دی حضورﷺ فرمائی آیازه تاسو ته د جنت یوه خزانه اوښایم؟ هغه خزانه لاحول ولاقوة الا بالله وئیل دی([2])یوبل روایت کښې دی چه الله ﷻ فرمائی زما دې بنده اومنل اوحواله نی کړل. دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه بیا تپوس اوکړې شو هغوی اوفرمائیل صرف لاحول الخ نه بلکه هغه چه په سورت کهف کښې دی.یعنی ﴿ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ ﴾([3])بیافرمائی چه دې نیك سړی اووئیل زما د الله ﷻ نه دا امید دې چه هغه به ماته په آخرت کښې ښه نعمتونه راکړی اوستا دا باغ کوم چه ته د همیشه والی والا ګڼړې تباه کړی د آسمان نه به په دې عذاب راشی په زوره به باران اوطوفان راشی ټول پټې او باغ به دې ختم کړی اوچ به شی او صفا زمکه به پاتې شی لکه چه دلته هډوڅه څیز راټوکیدلې نه وو یا به د دې د نهرونو اوبه ورخښې کړې. غور مصدر دې په معنی کښې د غانرد مبالغه په توګه راوړلې دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | وَاُحِيْطَ | بِثَمَرِهٖ | فَاَصْبَحَ |
| | | اوچاپیره کړې شوعذاب | په میووِدهغه سره | نوشوهغه |
| نو دهغه میوؤ نه عذاب راچاپیره شو نوهغه په هغه سرمایه | | | | |
| يُقَلِّبُ | كَفَّيْهِ | عَلٰى مَآ | اَنْفَقَ | فِيْهَا |
| چی مرورل ئي | دواړه لاسونه خپل | په هغه مال باند | چی خرچ کړې ئي ووُ | په هغه باغ کښې |
| لاسونه اومرورل کومه چې هغه په هغې کښې لګولي وه اودهغه باغ ټول | | | | |
| وَهِيَ | خَاوِيَةٌ | عَلٰى عُرُوْشِهَا | وَيَقُوْلُ | يٰلَيْتَنِيْ |
| اوهغه باغ | پاستر پریوتي ووُ | په سپرونوخپلوباند | اووئیل ئي | اے افسوس دي مالره |
| څپرونه راپریوتی وو اودا به ئې وئیل چې ائي کاش ما دخپل رب سره | | | | |

[1] المعجم الصغير: ٢١٢/١ والمعجم الاوسط: ٥٩٩٢.

[2] احمد: ٤٦٩/٢، صحيح بخاري كتاب الدعوات باب الدعاء اذا علاء عقبة: ٦٣٨٤، صحيح مسلم: ٢٧٠٤، ابوداؤد: ١٥٢٨، ترمذى: ٣٣٧١، مسندابي يعلى: ٧٢٥٢.

[3] احمد: ٣٣٥/٢ وسنده حسن، مسند البزار: ٣٠٨٦، مجمع الزوائد: ٩٩/١٠.

Scanned with Ca

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَمْ أُشْرِكْ | بِرَبِّيْٓ | اَحَدًا | وَلَمْ تَكُنْ | لَّهٗ | | فِئَةٌ |
| چې مانډ وې شريك كړې | ادرب خپل سره | هيڅوك | اونۀ شوه | دۀ لره | | يوه ډله |

هيڅوک شريک کړې نه وې اوهيڅ يو داسې ټولې ورسره ملګرې نه شو چې

| | | | |
|---|---|---|---|
| يَّنْصُرُوْنَهٗ | مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ | وَمَا كَانَ | مُنْتَصِرًا |
| چې امدادئې كړې وې دهغه سره | ماسواد الله نه | اونۀ وو هغه | مددګاردخان خپل |

دالله ﷻ په مقابله کښې دهغه مدد کړې وې اونه ئې زمونږ نه بدله اخستې شوه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| هُنَالِكَ | الْوَلَايَةُ | لِلّٰهِ | الْحَقِّ | هُوَ خَيْرٌ |
| په دې وخت كښې | دکارونوسمولواختيار | الله لره دې | چې حق دې | هغه بهتر دې |

په داسې وخت کښې کارونه سمول دبرحق الله ﷻ کار دې هم هغه بهتر ثواب

| | | |
|---|---|---|
| ثَوَابًا | وَّخَيْرٌ | عُقْبًا |
| په لحاظ دثواب سره | او بهتر دې | په لحاظ دورکولو دښه انجام سره |

ورکوؤنکې اوغوره بدله ورکوؤنکې دې

**قوله تعالى:-وَاُحِيْطَ بِثَمَرِهٖ**

**دکافرانو د باغونو انجام:-** د هغه ټول مال او ټول باغ غرق شو هغه مؤمن چه د کومې خبرې نه ويرولو هم هغه اوشو اوس هغه د خپل مال په تباهئ باندې د افسوس نه خپل تلې مړل او خواهش او تمنا ئې کوله چه افسوس ما د الله ﷻ سره کفر نه کولې[1] په څه چه به ئې فخر کولو په هغې کښې هيڅ هم پکار رانغله. خامن قبيله هرڅه ترې پاتې شو فخر او غرور هر څه ئې مات شو نه بل څوك اودريدو اونه په کښې پخپله څه همت پاتې شو بعضې خلق په ﴿هنالك﴾باندې وقف کوی اودا د اولنۍ جمله سره يوځائ کوی يعنی هلته هغه خپله بدله وانخستې شوه.

اوبعضې ﴿منتصرا﴾ باندې آيت کوی د وړاندې نه د نوې جمله شروع کوی. د ﴿وِلاية﴾ دويم قراءت ﴿وَلاية﴾ هم دې په ړومبی قراءت باندې مطلب دا شو چه هريومؤمن اوکافر هم الله ﷻ ته رجوع کونکې دې. ددې نه بغيرد پناه ځائ نشته. د عذاب په وخت کښې څوك هم د هغه نه بغيرپه کار نه شی راتلې لکه چه فرمائی ﴿فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ﴾[2] يعنی زمونږ عذابونه ئې اوليدل نو وئې وئيل چه مونږ په الله ﷻ چه واحد دې ايمان راوړو او انکار کوؤ په هغه چه کوم الله تعاليس سره شريك جوړوی لکه چه فرعون د ډوبيدو په وخت کښې وئيلې وو زه په هغه الله ﷻ باندې ايمان راوړم په کوم چه بنی اسرائيلو ايمان راوړې دې اوزه په مسلمانانوکښې شامل کيږم. هغه وخت جواب ملاوشو دا وخت د ايمان قبليدو نه دې. دې نه اول خو ته نافرمان وې په مفسدانوکښې شامل وې.[3] د واؤ د کسره په قراءت دا معنی شوه چه هلته حکم په صحيح توګه هم د الله ﷻ د پاره دې﴿لله الحق﴾ دويم قراءت د قاف په پيش سره هم دې ځکه چه داد﴿الولاية﴾ صفت دې لکه چه دالله ﷻ فرمان ﴿ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ﴾

---

[1] الطبری:١٨/٢٧.

[2] ٤٠/المؤمن:٨٤. الخ

[3] ١٠/يونس:٩٠-٩١.

Scanned with Ca

وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا﴾(¹)كښې دى بعضې خلق د قاف زير لولى دهغوى په نيز دا صفت دې د الله ﷻ. بل آيت كښې دى ﴿ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ۭ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۣ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ﴾(²)هم د دى د پاره بيافرمانى چه كوم اعمال صرف هم د الله ﷻ د پاره وى د هغې ثواب ډيرزيات وى اود انجام په لحاظ سره هم هغه ډير بهتر دى.

وَاضْرِبْ لَهُمْ

| او بيان كړه | دوئ ته

او (اې نبى ﷺ) ته دوئ ته

مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَاۗءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَاۗءِ

مثال| دژوند د دنيا| پشان داوبودې| چې نازلې كړې مونږه هغه | د آسمان نه

ددنياد ژوندمثال بيان كړه (هغه داسې دې) چې اوبه كومې چې مونږ د آسمان نه راووروليے

فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ

نوګنړزرغون شو| په هغه اوبو سره| بوټى د زمكې |بياشى | وچه ذرې ذرې| چې الوزوى هغې لره

بيادهغې په وجه ښه ګورشينكې راووتو كيږى اوبيا هغه ذرې ذرې شى چې بادونه ئې اخواديخوا

الرِّيٰحُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ۝ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ

هواګانې | او دې الله | په هر ځيزباند | قدرت لرونكې | مال او خامن | ښائيست

الوزوى او الله ﷻ په هرځيز پوره پوره قدرت لرى مال او اولاد خو تش ددنيا د

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ

دژوند د د نيادې| اوباقى پاتې كيدونكې| نيكيانې | بهتر دى |په نزدرب ستا|

ژوندون ښائست دې اوباقى پاتې كيدونكې نيک عملونه چې دى نوهغه ستا درب سره

ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ۝

په لحاظ دثواب سره |اوبهتردى| په لحاظ دامید سره |

دثواب په حقله ښه دې او دامید ساتلو په حقله هم ښه دې

**قوله تعالى:- وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا**

**د دنياد زوال مثال:-** دنياد خپل زوال فنا اوخاتمې اوبربادئى په لحاظ سره د آسمانى باران په شان ده چه د زمكې دانووغيره سره ملاويږى اوپه زرګونو بوټې شنې چېچې وهى تازه اودژوند آثارد هرځيز نه ښكارى خويوځو ورځې تيريدو سره هغه اوچ كلك شى او چورى چورى شى اوهواګانې هغه اخواديخوا الوزوى. په دې حالت باندې چه څوک قادر وو هغه په دې حال باندې هم قادرچه ددنيامثال عموماً د باران سره بيان فرمانى.لكه چه سورت يونس كښې آيت ﴿ اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَاۗءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَاۗءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ۭ حَتّٰٓي اِذَآ اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّھُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىھَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰھَا حَصِيْدًا كَاَنْ

---

(¹) ٢٥/الفرقان:٢٦.

(²) [٦/الانعام:٦٢.

Scanned with Ca

لم تغن بالامس كذلك نفصل الايت لقوم يتفكرون﴾(١) اولكه د سورت زمر په آيت ﴿ الم تر ان الله انزل من السماء ماء فاخرجنا به ثمرت مختلفا الوانها ومن الجبال جدد بيض وحمر مختلف الوانها وغرابيب سود﴾(٢). كنبي اولكه د سورت حديد په آيت كنبي اوصحيح حديث كنبي هم دي. دنياشين رنګ خوږه ده. (٣)الخ بيا فرمائي مال اوخامن د دنياد ژوند ښائست دي لكه چه فرمان دي ﴿ زين للناس حب الشهوت من النساء والبنين والقناطير المقنطرة من الذهب والفضة والخيل المسومة والانعام والحرث ذلك متاع الحيوة الدنيا والله عنده حسن المآب﴾ (٤)د انسان د پاره دخواهشاتو محبت مثلاً ښځې خامن خزانې وغيره ښائسته كړې شوي دي بل آيت كښې دي ﴿انما اموالكم واولادكم فتنة وان الله عنده اجر عظيم﴾ ٥)ستاسومالونه اوستاسواولاد ازمينبت دي اودالله ﷻ په نيز اجرعظيم دي.يعني د هغه طرف ته تيتيږه اودهغه عبادت كولوكښې مشغول اوسيدل ددنيا طلب كولو نه بهتردي. ددې دپاره دلته هم ارشادكولې شي چه باقيات صالحات په هرلحاظ سره ښكلي څيزدي مثلاً د پنځوو ختونومونځ او(سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر) او(لااله الاالله)او(سبحان الله والحمدلله) (٦)(الله اكبر) او (لاحول ولاقوة الابالله العلى العظيم)

**د مونځونو فضيلت:**-مسنداحمدكښې دي د حضرت عثمان ﷺ غلام فرمائي چه حضرت عثمان ﷺ يوځل خپلوملګروسره ناست ووكله چه مؤذن راورسيدوهغوى اوبه راوغوښتې نويه يولوښى كښې تقريباً درې پاوه اوبه راغلې. هغوى اودس اوكړو وئى فرمائيل چه حضور ﷺ دغه شان اودس اوكړوئى فرمائيل څوك چه زما ددې اودس په شان اودس اوكړي اودماسپښين مونځ اوكړي نود سحر نه واخله تر ماسپښين پورې ټول ګناهونه معاف كيږي. بيائى مازيګرهم دغه شان مونځ اوكړو نودماسپښين نه د مازيګرپورې ټول ګناهونه معاف. بيائى د ماښام مونځ اوكړو نود مازيګرنه واخله ترماښامه پورې ټول ګناهونه معاف بيائى د ماسخوتن مونځ اوكړو نود ماښام نه واخله تر ماسخوتن پورې ګناه معاف بيا د شپې هغه اوده وو اوسحر پاسيدو مونځ ئى أدا كړو نود ماسخوتن نه واخله تر سحره پورې ګناه معاف هم دغه هغه نيكئى دي چه بدونه منع كول كوي. خلقو تپوس اوكړو چه دا خوشونى نيكئى اوس اې حضرت عثمان ﷺ باقيات او صالحات څه دي؟ هغوى اوفرمائيل (سبحان الله والحمدلله والله اكبرولاحول ولاقوة الابالله العلى العظيم)(٧)

**باقيات صالحات څه څيز دي؟**:- -حضرت سعيدبن مسيب رحمة الله فرمائى باقيات صالحات دا دى (سبحان الله والحمدلله والله اكبرولاحول ولاقوة الابالله)حضرت سعيدبن مسيب رحمة الله دخپل شاګرد نه تپوس اوكړو چه اوښايه باقيات صالحات څه دي؟ هغه جواب وركړو مونځ او روژه. هغوى اوفرمائيل تا صحيح جواب رانه كړو.بيا اووئيل زكوة حج وئى فرمائيل اوس هم جواب ټيك نه دي. واوره هغه پنځه كلمې دي(لااله الا الله والله اكبرسبحان الله والحمدلله ولاحول ولاقوة الابالله )حضرت ابن عمر ﷺ نه تپوس اوشو هغوى بغيرد الحمدلله نه څلور نورې كلمې اوخودلې. حضرت مجاهد رحمة الله بغيرد لاحول الخ نورې څلور كلمې ښائى. حضرت حسن او قتاده رحمهما الله هم دا څلور كلمې باقيات او صالحات ښائى. ابن جرير رحمة الله فرمائى رسول

---

(١) ١٠/يونس:٢٦.
(٢) ٣٩/الزمر:٢١
(٣) صحيح مسلم كتاب الرقاق باب اكثر اهل الجنة الفقراء:٢٧٤٢.
(٤) ٣/آل عمران:١٤.
(٥) ٦٤/التغابن:١٥. الخ
(٦) الطبرى:٣٣/١٨.
(٧) احمد:٧١/١ وهوحسن، مجمع الزائد:٢٩٧/١.

Scanned with Ca

الله ﷺ فرمائيلی دی (سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر) دادی باقيات صالحات. حضور ﷺ فرمائی د باقيات صالحات كثرت كوئی. تپوس اوشو هغه څه دی؟يارسول الله ﷺ حضور ﷺ اوفرمائيل تكبير تهليل تسبيح او الحمدلله اولاحول ولاقوة الابالله[1] (احمد) دسالم بن عبدالله رحمه الله مولی عبدالله بن عبدالرحمن رحمه الله وائی چه زه حضرت سالم محمدبن كعب قرظی له د څه كارد پاره اوليګلم نو هغوی اووئيل چه سالم ته وايه چه د فلانكی قبر په ګوټ كښې ماسره ملاقات اوكړی زماهغه سره څه كاردې. د دواړو هلته ملاقات اوشو سلام عليك اوشو نوسالم رحمه الله تپوس اوكړو چه ستا په نيز باقيات صالحات څه څيز دې؟ هغه اوفرمائيل ( لااله الاالله والله اكبر، سبحان الله، لاحول ولاقوة الابالله) سالم رحمه الله وئيل چه دا آخری كلمه په كښې تاد كله نه زياته كړه؟ قرظی رحمه الله وئيل چه زه خو هميشه نه دا كلمه شميرم. دوه درې ځل هم دا سوال جواب اوشو نوحضرت محمدبن كعب رحمه الله اوفرمائيل آياستاد دې كلمه نه انكاردې؟ هغه جواب وركړو چه اوانكاردې وئيل واوره ماد حضرت ابوايوب انصاری ﷺ نه اوريدلی دې هغه د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی حضور ﷺ فرمائيل چه كله په ماباندې معراج اوكړې شو ماپه آسمان كښې حضرت ابراهيم عليه السلام اوليدلو هغه دجبرائيل عليه السلام نه تپوس اوكړو دا تاسره څوك دې؟ حضرت جبرائيل عليه السلام جواب وركړو دا محمد ﷺ دې هغه ماته په خيرراغلې او مرحبا اووئيل اوونی فرمائيل چه ته خپل امت اووايه چه هغوی دې په جنت كښې ځان له ښه ډير باغونه اولګوی دهغې خاوره پاكه ده زمكه نی ارته ده. ماوئيل هلته د باغونولګولوڅه صورت دې؟ ونی فرمائيل ((لاحول ولاقوة الابالله )) په كثرت سره لولئی.

مسنداحمد كښې د نعمان بن بشير رضی الله عنه نه روايت دې چه يوځل حضور ﷺ د ماسخوتن د مانځه نه پس مونږ له راغلود آسمان طرف ته اوكتل نظر نی ښكته كړو. زمونږ خيال پيدا شو چه په آسمان كښې څرته نوې خبره شوې ده. بياحضور ﷺ اوفرمائيل زما نه پس دروغ ويونكی او ظلم كونكی بادشاهان به وی څوك چه دهغوی دروغ رښتياكړی اود هغوی په ظلم كښې د هغوی طرفداری اوكړی هغه زمانه نه دې اونه زه د هغه يم اوڅوك چه د هغوی دروغ رښتيانه كړی اونه د هغوی د ظلم طرفداری اوكړی هغه زما دې اوزه دهغه نه يم. خلقو واورئی((سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اكبر)) دا باقيات صالحات يعنی باقی پاتې كيدونكی نيكئی دی. ([2]) مسندكښې دی حضور ﷺ فرمائی واه واه پنځه كلمې دی اود نيكئی په تله كښې ډيرې درنې دی((لااله الاالله والله اكبروسبحان الله والحمدلله)) او هغه ماشوم چه د هغه په مرګ باندې د هغه پلار صبر اوكړی او طلب د اجر اوكړی. واه واه پنځه څيزونه دی څوك چه د هغې يقين لری الله ﷻ سره دې ملاقات اوكړی هغه قطعاً جنتی دې په الله ﷻ باندې د قيامت په ورځ په جنت دوزخ باندې د مرګ نه پس راژوندی كيدو باندې او په حساب باندې ايمان اولری. ([3])

مسنداحمد كښې دی چه حضرت شدادبن اوس ﷺ په يوسفر كښې وويوخای كښې راكوزشو اوخپل غلام ته نی اووئيل چاړه راوړه لوبه كوو. حسان بن عطيه رحمه الله وائی ما هغه وخت اووئيل تاسو څه اووئيل؟ هغوی اوفرمائيل واقعی ما غلطی اوكړه واوره د اسلام راوړو نه پس نه واخله ترنن پورې ما څرته داسې كلمه د خپلې ژبې نه نه ده ويستلې چه هغه زما واګه جوړه شي بغيرد دې يوې كلمه نه. تاسو خلق دا هيره كړئی اوچه اوس زه څه وايم دا ياد اوساتئی ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه كله خلق د سرو اوسپينو زرو په جمع كولو كښې اخته شی نو تاسو هغه وخت داكلمات ډير په كثرت سره لولئی. ((اللهم انی اسئلك الثبات فی الامر والعزيمة علی الرشد واسئلك شكر نعمتك واسئلك حسن عبادتك واسئلك قلبا سليما واسئلك لسانا صادقا

---

[1] احمد: ٧٥/٣.

[2] احمد: ٢٦٧/٣-٢٦٨.

[3] احمد: ٤٤٣/٣، ٢٣٧/٤ وهوصحيح بالشواهد، حلية الاولياء: ٢٦٦/١.

واسئلك من خير ماتعلم واعوذبك من شر ماتعلم واستغفرك لماتعلم انك انت علام الغيوب)) يعني اي الله زه تانه د خپل نيکئ په کاربانديٌ ثابت قدمي اودنيکئ دکار پوره اراده اوستاد نعمتونو د شکرکولو توفيق غواړم او تانه دعا ده چه ته ماته دسلامتياوالا زړه او رښتوني ژبه راکړې.ستا په علم کښې چه کومه ښيګړه ده زه د هغې غوښتونکې يم اوستاپه علم کښې چه کومه بدی ده زه د هغې نه ستا پناه غواړم. پروردګارد هرې هغه بدئی نه زما توبه ده کوم چه ستا په علم کښې ده بې شکه په غيبوبانديٌ هم ته خبردار ئې. ([1])

حضرت سعدبن عباده ﷺ فرمائي چه د طائف په خلقو کښې د ټولونه وړاندې زه دحضور پاك ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم زه د خپل کور نه سحر وختې اووتلم اومازيګر منی ته اورسيدم په غرباندې او ختم بياراکوز شوم. بيا حضور ﷺ له راورسيدم او اسلام مې قبول کړو. حضور ﷺ ماته سورت ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴾ اوسورت ﴿ اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴾اوخودلو اود دې کلماتو تعليم ئې راکړو((سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر)) هم دا دې باقي پاتې کيدونکې نيکنې.

هم په دې سندسره روايت دې کوم سړې چه د شپې ښه اودس اوکړي غرغړې اوکړي بيا سل ځل ((سبحان الله والحمدلله والله اكبرلا اله الا الله)) اولولې د هغه ټول ګناهونه معاف کيږي بغيرد قتل او وينې تويولو هغه نه معاف کيږي. ابن عباس ﷺ فرمائي چه باقيات صالحات د الله ﷻ ذکر دې او((لا اله الا الله والله اكبرسبحان الله والحمدلله تبارك الله ولا حول ولا قوة الا بالله واستغفرالله وصلى الله على رسول الله)) دې او هغه روژه مونځ حج صدقه غلامان آزادول جهاد صله رحمي اوټولې نيکنې دا ټول باقيات اوصالحات دی د کومې ثواب چه به دجنت والا ته ترکومې چه آسمان اوزمکه وی ملاويږي.فرمائي چه پاکيزه کلام هم په دې کښې داخل دې([2])حضرت عبدالرحمن رحمه الله فرمائي چه ټول نيك اعمال په دې کښې داخل دی. ([3])امام ابن جرير رحمه الله هم دې ته مختار وائي.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | وَيَوْمَ | نُسَيِّرُ |
| | | | | | اوپه کومه ورځ | چې روان کړومونږه |
| | | | | | اوپه کومه ورځ چې مونږ غرونه | |
| الْجِبَالَ | وَتَرَى | الْاَرْضَ | بَارِزَةً | وَّحَشَرْنٰهُمْ | فَلَمْ نُغَادِرْ | |
| غرونه | اوته اووينې | زمکه | لغړه | اوراجمع به کړومونږه داخلق | چې پرې به نۀ ږدومونږه | |
| لرې کړو او ته به اووينې چې ټوله زمکه يو هوار ميدان پاتې شوې دې او مونږبه خلق جمع کړو نوهيڅوک به په کښې | | | | | | |
| مِنْهُمْ | اَحَدًا | وَعُرِضُوْا | عَلٰى رَبِّكَ | صَفًّا | لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا | |
| ددوئ نه | هيڅوك | اووړاندې به کړې شي | رب ستاته | په قطارونو کښې | په تحقيق راغلئ تاسومونږته | |
| پاتې پرې نه ږدو اوټول به ستادرب په وړاندې په قطارونو کښې ولاړ پيش کولې شي او ورته وئيلې شي خنګه چې مونږ | | | | | | |
| كَمَا | خَلَقْنٰكُمْ | اَوَّلَ مَرَّةٍ | بَلْ زَعَمْتُمْ | | | |
| لکه څنګه چې | پيداکړې وې مونږ تاسو | په اول ځل | بلکه ګمان کوئ تاسو | | | |
| تاسو په اول ځل پيداکړې وې هغه شان نن تاسو زمونږ مخې ته راغلې يئ ليکن ستاسو خوداخيال وو | | | | | | |

[1]) احمد:٤/١٢٣ ، ابن ابي شيبه: ١٠/٢٧١، حلية الاولياء:١/٢٦٦.
[2]) الطبري:١٨/٣٥.
[3]) الطبري:١٨/٣٥.

Scanned with Ca

أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ الْكِتَٰبُ

چې هډو مقرر کړې نه دې مونږ | ستاسو دپاره | وخت دوعدې | اوکیښه خودلې شي | کتاب

چې مونږ به دربانديې دامقرر وخت نه راولو او عمل نامه بهٔ کېښودلې شي

فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ

نوته به اووینې مجرمان خلق| یریدونکي | دهغې نه| چې په هغې کښې وي| اووائي به|

نوته به مجرمان اووینې چې دهغې دلیک نه ویریږي او دابهٔ وائي چې

يَٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا الْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا

اے افسوس دې مونږلره| څه شوي دي دې کتاب لره | چې نهٔ پریږدي | وړه | اونهٔ

هائې زمونږ بده نصیبه ددې عمل نامې خو عجیبه حال دې چې هیڅ یو ګناه نه وړه او نه

كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا ۚ وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا ۗ

لویه | مګر | حساب کړې ئې دی هغه ټول | او بیا به مومي هغوئ | هغه څه | چې کړې وي هغوئ | حاضر

لویه باقي پریخودې ده خو هره یوه لیکلې ده اوکوم عملونه چې ئې کړي دي هغه بهٔ موجود بیامومي

وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾

او نهٔ کوی ظلم | رب ستا | په هیچا |

او ستارب په هیچا زیاتې نه کوی

**قوله تعالى:- وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ**

**د قیامت د تباهواو حساب کتاب ذکر:-** الله ﷻ دقیامت د تباهوذکر فرمائی اوچه کوم حیرانونکې لوئ لوئ کارونه به په هغه ورځ وی د هغې ذکر کوی چه آسمان به اوشلیږی غرونه به والوزی که هر څومره کلك درنه ښکاری خو په هغه ورځ به د اُوریځو په شان په تیزئی سره روان وی زمکه به صفا کولاو میدان شی په کوم کښې چه به هیڅ ښکته والې پورته والې نه وی نه به په دې کښې چرته څه کور وی نه څېر. ټول مخلوق به بغیر د پردې د الله ﷻ په حضورکښې مخامخ ولاړ وی هیڅ څوك به د مالك نه یوځائ هم پټ نه شی هیڅ د پناه او سرپټولوځائ به نه وی. هیڅ ونه غنه یا وابنه وغیره به نه ښکاری ټول د اول نه تراخره پورې خلق به راجمع شی هیڅ یو وړوکې یا لوئ به غیرحاضر نه وی. ټول وړاندې روستو به په دغه مقرره ورځ راجمع کولې شی. په هغه ورځ به ټول حاضرشوی او موجود وی. ټول خلق به د الله ﷻ په وړاندې صفونه تړلې ولاړ وی او روح او فرښتې به په صفونوکښې ولاړوی. د چا به هم د خبرې کولو طاقت نه وی بغیرد هغوی نه چاته چه الله الرحمن اجازت ورکړی اوهغه به خبره هم معقوله کوی نو یا خوبه دټولویوصف وی یابه په صفونوکښې وی لکه چه دقرآن پاك ارشاددې ستارب به راځی او فرښتې صف په صف. هلته به د قیامت منکران د ټولوپه وړاندې رټلې شی اورته به وائی چه اوګورئی چه څنګه په اول خل مونږ تاسو پیداکړی وئی هغه شان بیاهم راپیداکړئی او ځان ته مخامخ اودرولې. دې نه اول خو تاسوددې قائل نه وئی عمل نامه به ورته وړاندې کړې شی په کوم کښې چه به هر وړوکې لوئ پټ ښکاره عمل لیکلې شوې وی.خپلې بدعملو ته چه اوګوری ګناهګاران به حیران اواوویریږی اود افسوس اوخفګان نه به وائی مونږخپل عمر څنګه په غفلت کښې تیرکړو افسوس په بدوعملونوکښې

لګیاواوګوره دې کتاب خو یوه معامله هم داسې نه ده پریخودې چه لیکلې نې نه وي. لوئ واړه ټول ګناهونه په دې کښې لیکلې دي.

**دګناه هونو راجمع کیدلو یو مثال:**-طبرانی کښې دي چه د غزوه حنینین نه فارغ شو نو مونږ روان شو په یو میدان کښې رسول الله ﷺ دیره شو مونږ ته نې اوفرمائیل چه څنې لاړشئ که چاته څه لرګې ټکړه ډکې واښه وغیره ملاوشي نو راوړنې. مونږ ټول اخوا دیخوا خواره شو څه ښاخونه لختې ازغی اود ونو جاړې مارې او پانړې وغیره چه څه ملاو شوې راوړلې شوې یو ډیرې اولګیدونو حضور ﷺ اوفرمائیل ګورئې؟ دغه شان ګناه راجمع کیږي ډیرې جوړیږي. د الله ﷻ نه ویرېږئې د لویو وړو ګناهونونه بچ اوسیږئې څکه چه دا ټول لیکلې کیږي.(١)اوشمیرلې کیږي کوم خیراوشر نیکی بدی چاچه دچا کړې وي هغه به موجود مومی.لکه چه آیت ﴿يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ ۗ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ﴾(٢)بل آیت ﴿يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾(٣)اوبل آیت ﴿يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ﴾ (٤)کښې چه ټول پټ رازونه به ښکاره کړې شي. (٥)

**د بدعهدئی سزا:**-رسول الله ﷺ فرمائی د هریوبدعهد د پاره به د قیامت په ورځ یوه جهنډا وي د هغه د بدعهدئی په مطابق چه په هغې سره به د ده پیژندګلی کیږي. یوبل حدیث کښې دي چه دا جهنډا به د هغه کوناټو سره وي او اعلان به کیږي چه دا د فلانکی ځوئ د فلانکی بدعهدی ده. (٦)ستا رب داسې نه دې چه په مخلوق کښې په چا ظلم اوکړي اودا ده چه معاف کول پریخودل دا د هغه صفت دې او بدکارانو ته دخپل قدرت حکمت عدل اوانصاف سره هغه سزا هم ورکوی. دوزخ به د ګناهګارانو او نافرمانانونه ډک شي بیا به د کافرانو اومشرکانونه علاوه ګناهګاران مؤمنان خلاص کړې شي. الله ﷻ دیوې ذرې برابرهم بې انصافی نه کوی نیکئی زیاتوی او ګناهونه برابر ساتی دانصاف تله به په هغه ورځ مخامخ وي هیڅ چا سره به څه بدسلوکی نه کیږي. الخ. (٧)

**قیامت کښې به هریوته پوراپورا انصاف ملاویږي:**-مسنداحمد کښې دی حضرت جابربن عبدالله ﷺ فرمائی ماته روایت رارسیدلې دې چه یو سړی د حضور ﷺ نه یوحدیث واوریدو چه هغه بیان کوی ما د هغه نه خاص د دې حدیث اوریدو د پاره یواوښ واخستو او سامان د سفرمې اوتړلو روان شوم. د یوې میاشت سفرکولونه پس شام ته اورسیدم نومعلومه شوه چه هغه حضرت عبدالله بن انیس ﷺ دې ما څوکیدار ته اوونیل چه لاړشه خبر نې کړه جابر په دروازه کښې دې هغه تپوس اوکړو چه آیا جابربن عبدالله ﷺ؟ دې اوریدو سره ډیر د تندئی د لاسه نې څادر سم کړوزر بهر راغلو اوماپورې اونختو اود غاړې ملاویدونه چه فارغ شو نومااوونیل ماته دا روایت رارسیدلې دې چه تاد قصاص باره کښې د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دې نو ماغوښتل چه پخپله هغه حدیث تاسو نه واورم څکه دلته راغلم او اوریدوسره مې سفرشروع کړو په دې ویره چه هسې نه د دې حدیث د اوریدونه وړاندې زه مې نه شم یاته مې نه شي. اوس تاسو واورونئ هغه حدیث کوم یو دې؟ هغوی اوفرمائیل ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی الله ﷻ عزوجل به دقیامت په ورځ دخپلو ټولوبندیګانوخپلې مخې ته حشر کوی برینډ بدن ناسونته بې آسرې

(١) طبرانی:٥٤٨٥.

(٢) ٣/آل عمران:٣٠.

(٣) ٧٥/القیامة:١٣.

(٤) ٨٦/الطارق٩.

(٥)صحیح بخاری کتاب الجزیة باب اثم الغادر للبروالفاجر:٣١٨٧، صحیح مسلم:١٧٣٧، احمد:١٤٢/٣، مسندابی یعلی:٣٣٨٢.

(٦) صحیح بخاری کتاب الادب باب مایدعی الناس بآبائهم:٦١٧٧، صحیح مسلم:١٧٣٥.

(٧) ٢١/الانبیاء:٤٧.

Scanned with Ca

اوسامانه. بیا به هغوی ته اواز کوی کوم چه به د لرې اونیزدې والا تول یوشان اوری فرمانی به زه مالك یم زه د بدلوورکونکې یم هیڅ یو دوزخی به تر هغه وخت پورې دوزخ ته نه ځی ترکومې چه دهغه څه حق په یوجنتی وی اوزه هغه ورنه کړم اونه څوك جنتی په جنت کښې داخلیدې شی ترکومې چه دهغه څه حق په دوزخی باندې دې زه ئی ورنه کړم که هغه یوه څپیړه ولې نه وی. مونږ ونیل حضورﷺ داحقونه به څنګه ورکړې کیدې شی سره د دې چه هلته خو به مونږ بربنډ بدن بربنډې پښې بې اسرې او بې اسباب یو. حضورﷺ اوفرمائیل چه او په هغه ورځ به حق د نیکو نه ادا کولې شی. (١) یو بل حدیث کښې دی حضورﷺ فرمائی چه که بې ښکرو چیلنی یوې ښکرورې چیلنی وهلې وی نو هغې ته به هم بدله ورکولې شی. (٢)د دې نور هم ډیر شواهد دی کوم چه مونږ په تفصیل سره د آیت ﴿ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ۗ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ۝ ﴾ (٣) په تفسیر کښې او آیت ﴿ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ۗ مَا فَرَّطْنَا فِى الْكِتٰبِ مِنْ شَىْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ۝ ﴾ (٤). په تفسیر کښې بیان کړې دې.

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ

اوکله چې | اووئیل مونږه | فرښتوته

اوهرکله چې موونږ فرښتو ته حکم اوکړو چې تاسو

اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۗ كَانَ مِنَ الْجِنِّ

چې سجده اوکړئ | آدم ته | نو سجده اوکړه هغوئ | مګراونۀ کړه | ابلیس | ووهغه | دپیریانونه

آدم عليه السلام ته سجده اوکړئ نو ټولو سجده اوکړه خو ابلیس اونه کړه هغه پیرې وو

فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ۗ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ

اونافرمانی اوکړه هغه | دحکم درب خپل نه | آیانوتاسو جوړوئ هغه لره | اواولاد دهغه لره | دوستان

نودخپل درب حکم نافرمانی ئې اوکړه نو اوس تاسو هغه او دهغه اولاد زما په مقابله کښې

مِنْ دُوْنِىْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ۗ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ

غیر زمانه | حالانکه هغوئ | ستاسو دپاره | دشمنان دی | ډیرخراب دې | دپاره دظالمانو

په دوستئ نیسئ حال دا چې هغوئ خوستاسو څرګند دښمنان دی ظالمانو له څومره خرابه

بَدَلًا ۝ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا

په لحاظ دبدل سره | نۀ ووحاضرکړی ماهغوئ | پیداکولوا | دآسمانونو | اودزمکې ته | اونۀ

بدله ورکړې شوه ما نه خو دوئ داسمانونو او دزمکې دپیداوخت په وخت کښې رابللی وو

خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ۖ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا ۝

پیداکولوا | دځانونو ددوئ ته | اونۀ یم زۀ | جوړونکې | ګمراهه کونکو خلقولره | مضبوطیادمتوخپلو

او نه ددوئ دخپل پیداوخت په وخت کښې اوزه داسې (عاجزه) نه وم چې ګمراه کوونکی به مې خپل مددګاران جوړول

(١) احمد:٣/٤٩٥.

(٢) احمد:١/٧٢.

(٣) ٢١/الانبیاء:٤٧.

(٤) ٦/الانعام:٣٨.

**قوله‌تعالى: -وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ**

**شيطان د انسان دښمن دي**:-بيان دې چه ابليس ستا بلكه ستاسو د اصلي پلار حضرت آدم ﷺ هم زوړ دښمن دي.خپل خالق اومالك پريخودوسره تاسوله د هغه خبره نه دي منل پكار.د الله ﷻ احسان اكرام لطف اوكرم ته اوګورئې هغه تاسو پيداكړئې ستاسو پالنه ئې اوكړه بيا هغه پريخودو سره د هغه بلكه خپل دښمن دوست جوړول څومره خطرناكه غلطي ده د دې پوره تفسيرد سورت بقره په تفسيركښې تيرشوې دي. الله ﷻ حضرت آدم ﷺ پيداكړو او ټولو فرښتو ته ئې دهغه د عزت په توګه د تعظيم او تكريم دپاره د هغه په وړاندې دسجدې كولو حكم اوكړو. ټولو حكم اومنلو خو ابليس بداصل وو د اُور نه پيدا كړې شوې وو هغه انكار اوكړو اوفاسق جوړشو. د فرښتو پيدائش نوراني وو.

**هرڅيز خپل اصل ته ګرځي**:-صحيح مسلم كښې حديث دې فرښتې دنورنه پيداكړې شوې دي او ابليس د شغلې وهونكي اُور نه او آدم ﷺ د هغې نه د كوم بيان چه ستاسو په وړاندې اوكړې شو.[1] ښكاره خبره ده چه هريوڅيز په خپل اصليت كښې راځي او په وخت چه په لوښي كښې څه وي نو هم هغه ترې څاڅي ګنې ابليس د فرښتو په شان اعمال كول هم د هغوي مشابهت ئې كولو اود الله ﷻ په رضامندئې كښې شپه ورځ مشغول وو د دې د پاره د هغوي په خطاب كښې دې هم راغلو خوده اوريدو سره په خپل اصليت كښې راغلو كبردهغه په طبيعت كښې ځائ شواوصفاانكارئې اوكړو. د ده پيدائش هم د اُور نه وو لكه څنګه چه هغه پخپله ونيلي تازه د اُور نه جوړكړې يم دې دې دخاورې نه. ابليس كله هم د فرښتونه نه وو.هغه دپيريانو اصل دې لكه چه حضرت آدم ﷺ چه دانسانانو اصل دې.داپيريان يو قسم وود فرښتو چه د تيزاُور نه پيداكړې شوې وو. د ده نوم حارث وو د جنت داروغه وو د دې ډلې نه علاوه نورې فرښتې نوري وې د پيريانو پيدائش د اُور د شغلې نه وو.

**شيطان اول كښې څه وو؟**:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائي ابليس دشريفانو فرښتونه وو اودبزرګ قبيلې وو د جنتيانو داروغه وو د دنياد آسمان بادشاه وو د زمكې هم بادشاه وو. دې سره د هغه په زړه كښې څه غروړراغلوچه هغه د ټول آسمان والا نه شريف دې هغه غرور ئې زياتيدلودهغه صحيح اندازه خو صرف هم الله ﷻ ته وه اودهغې د ښكاره كولو د پاره ئې ورته حضرت آدم ﷺ ته د سجدې كولو حكم اوكړونود هغه غرور ښكاره شو. د تكبر په وجه ئې صفا انكار اوكړو او كافرانوكښې يوځائ شو. ابن عباس ﷺ فرمائي چه هغه جن وو يعني د جنت خازن وو لكه چه خلقوته د ښارونو طرف ته نسبت كولې شي او وائي چه مكي مدني بصري كوفي دې د جنت خازن اود دنيا د آسمان په كارونو باندې مشر وو. د دې ځائ د فرښتو سردار وو. د دې ګناه نه اول هغه په ملائكو كښې داخل وو خو اوسيدلو به په زمكه باندې. د ټولو فرښتونه زيات په عبادت كښې كوشش كونكې او د ټولونه زيات علم والا هم په دې وجه كبرژن شو د هغه د قبيلې نوم جن وو. د زمكې او آسمان په مينځ كښې تګ راتګ لرلو د رب په نافرماني سره په غضب كښې راغلو اوشيطان رجيم جوړشو اوملعون شو نود كبرژن سړي نه د توبه اميد نه شي كيدلې او كه تكبر نه وي څه بله ګناه ترې شوې وي نو د هغه نه نااميده كيدل نه دي پكار.دې خو په جنت كښې دننه د كار روزګاركولوالا وو.ددې باره كښې دسلفو نه نورهم ډير آثار نقل دي خودا اكثر اسرائيلي دي صرف په دې وجه نقل كړې شوي دي چه دنظر نه تيرشي هم الله ﷻ ته د دې داكثر صحيح حال معلوم دي.

اود بني اسرائيلوروايتونه خو قطعًا قابل ترديددي.كوم چه زمونږ په نيز د دلائلو خلاف وي. خبره دا ده چه قرآن خو كافي او وافي دې مونږ ته د وړاندينو كتابونوضرورت نشته مونږ دهغې نه بالكل بې

---

[1] صحيح مسلم كتاب الزهدباب في احاديث متفرقة: ٢٩٩٦، احمد: ١٥٣/٦، ابن حبان: ٦١٥٥.

نیازیو ځکه چه هغه د بدلون او کمی زیاتي نه خالی نه دی ډیر د ځان نه څیزونه په هغې کښې ورداخل کړې شوی دی او په هغوی کښې داسې خلق نه شی موندلې چه د اوچتې درجه حافظان وی چه خیرې میرې لرې کړی اوکره اوکوټه جدا کړی د زیاتي او باطل یوځائ کونکو مخ نیوې اوکړی.

**د محدثینو اصحاب الجرح والتعدیل په امت باندې عظیم احسان:-** -لکه څنګه چه الله الرحمن په دې امت کښې په خپل فضل اوکرم سره داسې امامان علماء سادات بزرګان اومتقیان پاك حافظان پیداکړی دی چاچه احادیث راجمع کړی دی تحریرکړی دی صحیح، حسن، ضعیف، منکر، متروك او موضوع ټول ئې جدا جداکړی خودلی دی. د ځان نه جوړکړې شوی دروغ ویونکی ئې چانړکړی جدا کړی دی دې د پاره چه د ختم المرسلین رحمة للعلمین ﷺ پاك اومتبرك كلام محفوظ کړې شی اود باطل نه بچ شی او دچاهم وس اونه چلیږی چه دحضورﷺپه نوم دروغوله رواج ورکړی اوباطل په حق کښې ګډوډکړی. زمونږ دعاده چه پدې ټوله طبقه دې الله ﷻخپل رحمت اورضامندی نازله کړی اوددې ټولونه دې خوشحاله شی.آمین ثم آمین.

الله ﷻ دې دوی ته جنت الفردوس ورکړی اویقیناًدهغوی منصب ددې لائق دې.غرض داچه ابلیس د الله ﷻ د اطاعت نه اووتلو نوتاسو له پکار دی چه خپل دښمن سره دوستی اونه کړئی اوما پریخودو سره هغه سره تعلق مه جوړوئی ظالمانوته به ډیره خرابه بدله ملاویږی. دا مقام هم بالکل داسې دې لکه سورت یسٓ کښې د قیامت د هغې د تباهو نیکانو اوبدانو خلقو د نتیجوذکر کولوسره فرمائی چه اې مجرمانو تاسو په نن ورځ جداشئ. الخ. (١)

**د الله ﷻ هیڅ څوک وزیریامشیر نشته:-** کوم کوم چه تاسو د الله ﷻ نه بغیرخپل اولیاء جوړکړی دی هغه ټول ستاسو په شان زما غلامان دی. هغوی ته د هیڅ څیز ملکیت نشته. د زمکې اوآسمان په پیدا کولو کښې ما هغوی نه ووشامل کړې بلکه هغه وخت خو هغوی موجود هم نه وو. ټول څیزونه صرف ما پیدا کړی دی د ټولو تدبیرصرف زما په لاس کښې دې زما هیڅ څوك شریك وزیر مشیراو نظیر نشته لکه چه بل آیت کښې ارشاد دې ﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ﴾ (٢) کوم کوم چه تاسو په خپل ګمان کښې څه ګنړئی هغه ټول بغیرد الله ﷻ نه راوبلئی اوګورئی یادساتئی دوی ته په آسمان اوزمکه کښې د یوې ذرې برابر هم اختیارنشته نه په دې کښې څوك د هغه ملګرې اونه څوك د الله ﷻ امدادی شته نه په دې کښې څوك شفاعت کولې شی ترکومې چه د الله ﷻ اجازت اونه شی الخ. زما د پاره دا لائق نه دی نه ماته د دې ضرورت شته چه خاص کر ګمراه کونکی خپل دوست متې او امدادی جوړکړم.

| وَيَوْمَ | يَقُوْلُ | نَادُوْا | شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ | زَعَمْتُمْ |
|---|---|---|---|---|
| اوپه کومه ورځ | چي اووائي الله | چي اواز اوکړئ | اشریکانوزماته | هغه چي ګمان کړي ووتاسوپه هغوئ دخدايئ |

او په کومه ورځ چي الله ﷻ اوفرمائی چي زما هغه شریکان راوغواړئ په کومو چي تاسو (دمعبودانو) خیال کولو

| فَدَعَوْ | هُمْ | فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا | لَهُمْ | وَجَعَلْنَا |
|---|---|---|---|---|
| نو آواز به اوکړي | دوی هغوئ ته | نو جواب به ورنهٔ کړي هغوئ | دوئ لره | او شريك به کړو مونږ |

نودوئ به راوبلي هغوئ خوهغوئ به هډو جواب ورنه کړي اومونږ به ددوئ (اومعبودانو)

(١) ٣٦/يس:٥٩.
(٢) ٣٤/سبا:٢٢.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بَيْنَهُمْ | مَّوْبِقًا | وَرَاَ | الْمُجْرِمُوْنَ | النَّارَ | فَظَنُّوْٓا |
| به منځ ددوئ کښې | خائي دهلاکت | اواوبه ويني | مجرمان خلق | وور | اويقين به ئي راشي |
| ترمينځه يوه پرده اودروؤ اومجرمان به (پخپلو سترګو) دوزخ اووينى اودا يقين | | | | | |
| اَنَّهُمْ | مُّوَاقِعُوْهَا | وَلَمْ يَجِدُوْا | عَنْهَا | مَصْرِفًا | |
| چې بيشکه دوئ | واقع کيدونکی دی په هغې کښې | اووبه نه مومی دوی | دهغه ورنه | خائي دبچ کيدو | |
| به ئي راشي چې دوئ په کښې ورغوزيدونکی دی اودهغې نه دبچ کيدو به هيڅ لار نه مومی | | | | | |

**قوله تعالي:- وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا**

**د قيامت په ورځ به مجرمان چرته تختيدې نه شي:-** ټول مشرکانوته به د قيامت په ورځ شرمنده کولو دپاره د ټولوخلقو په وړاندې اووئيلې شي چه خپلوشريکانوته آوازکړئ کوموته چه تاسو په دنيا کښې آوازونه کول چه هغوی دنن ورځې مصيبتونونه تاسوبچ کړی هغوی به چغې وهی خوهيڅ څوك به جواب نه ورکوی لکه چه بل آيت کښې ارشاد دې ﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ﴾[1] مونږ ته تاسو دغه شان خان له خان راوړئ لکه څنګه چه مونږ تاسو په اول ځل پيداکړی وئ اوکوم څه چه مونږه په دنيا کښې تاسو ته درکړی وو هغه ټول مو خپل شاته پريخودل نن خو مونږ تاسوته سره د دې شريکانويوته هم نه ګورو کوم چه تاسو د الله ﷻ شريکان ګرځولي وو اود چا د شفاعت چه تاسو يقين کړې وو. تاسو اودوی کښې تعلقات ختم شو اوستاسو ګمان باطل ثابت شو الخ. يوبل آيت کښې دی﴿وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ﴾[2] وئيلې به شي چه خپل شريکان راوبلئ خوهغوی به جواب نه ورکوی الخ همدا مضمون دلته آيت ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ۝ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ﴾[3] کښې بيان فرمائيلې دې.

سورت مريم کښې ارشاد دې چه هغوی د خپل عزت د پاره د الله ﷻ نه بغير ډير معبودان جوړ کړی ساتلی دی خوداسې کيدونکې نه دی هغوی خو به ټول د دوی د عبادت منکر شی اواولټه به هغوی دښمنان شی[4] په دوی کښې اود دوی په باطلومعبودانو کښې به حجاب پرده اود هلاکت کنده جوړه کړو دې د پاره چه هغوی دوی سره او دوی هغوی سره ملاونه شی. نيکې لارې اوګمراه لارې جدا جدا شی د دوزخ دا کنده به ئې په خپل مينځ کښې يوځائ نه کړی. وائی چه دا کنده به د وينو اونووونو وی د دوی به په خپل مينځ کښې په دغه ورځ دښمنی وی.په ظاهره معلوميږی چه موبقا نه مراد هلاکت دې اودا هم کيدې شی چه د دوزخ يوکنده هم وی يا بله څه د فاصلې کنده وی. مقصد دادې چه دې عبادت کونکوته به هغه معبودان جواب قدرې نه ورکوی نه به دوی په خپل مينځ کښې يوبل سره ملاوشی څکه چه د دوی په مينځ کښې به هلاکت وی او خطرناك امور به وی. عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمائيلی دی مراد دادې چه په مشرکانو اومسلمانانو کښې به مونږ پرده کوو.[5]

---

[1] ٦/الانعام: ٩٤.

[2] ٢٨/القصص: ٦٤.

[3] ٦٤/الاحقاف: ٥-٦.

[4] ١٩/مريم: ٨١-

[5] الطبری: ١٨/ ٤٦.

Scanned with Ca

لکه چه آیت ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴾[1] او آیت ﴿ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴾[2] او آیت ﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾[3] او آیت ﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ۖ وَقَالَ شُرَكَاؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴾[4] وغیره کښې دی ګناهګاران به دوزخ اووینی په اویا زړه واګوکښې به هغه راګیرکړې شوې وی په هره یوه واګه به اویا اویا زره فرښتې وی کتوسره به پوهه شی چه زمونږ قیدخانه هم دا ده چه بغیرد داخلیدو نه به هم زیات سخت غم درد تکلیف مصیبت ورکوی. د عذاب یقین کیدل دعذاب نه اول عذاب دې خو هیڅ د خلاصی لار به نه بیامومی اود نجات به هیڅ صورت نه ښکاری. حدیث شریف کښې دی چه پنځه زره کاله به داکافران په دې تراره کښې وی چه دوزخ دهغوی مخې ته دې اودهغوی زړه دقابونه بهردې.[5]

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ

او په تحقیق سره | باربار بیان کړل مونږه | په دې قرآن کښې | دپاره دخلقو | دهر قسم مثال نه

اومونږ په دې قرآن پاک کښې دخلقو (دپوهولو) دپاره رنګ رنګ مثالونه بیان کړل

وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ۝ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ

اودې انسان | زیات دهرڅیزنه | په لحاظ دجګړې سره | اومنع کړل | ٠ داخلق |

خوانسان په جګړه کولو کښې دهرڅا نه سوا دې اودا خلق دهدایت راتلونه پس

أَن يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ إِلَّا

چې ایمان راوړی | کله چې | راغې دوی ته | هدایت | او چې ښښانه اوغواړی | درب خپل نه | مګر

نور څه څیز دایمان راوړلونه او دخپل رب دبخښنې غوښتلو منع کړې دی خو بس

أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ۝ وَمَا نُرْسِلُ

چې راشی دوئ ته | طریقه داولنو خلقو | یاراشی دوئ ته | عذاب | مخامخ | اونه لیږو مونږه

داچې (دوئ انتظار کوی) چې دپخوانو خلقوغوندې معامله دې ورسره اوشی یاد ورباندې مخامخ عذاب راشی

الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ

رسولان | مګر | زیری ورکونکی | او یرونکی | اوجګړه کوی | هغه کسان |

اومونږ پیغمبران صرف په دې وجه رالیږو چې خلقو ته زیرې واوروی اوعذاب نه ئې اوویروی او کوم

كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ

چې کفر ئې کړې دې | په ذریعه دباطل | دپاره ددې چې ښکته کړی | په هغې سره | حق

خلق چې منکر دی په ناحقه جګړې کوی چې حق پرې بې اثره کړی

[1] ٣٠/الروم: ١٤.
[2] ٣٠/الروم: ٤٣.
[3] ٣٦/یس: ٥٩.
[4] ٦/الانعام: ٢٢.
[5] احمد: ٣/٧٥ ح ١١٧١٤ مسندابي يعلى: ١٣٨٥، حاكم: ٤/٥٩٧.

Scanned with Ca

وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَمَآ اُنْذِرُوْا هُزُوًا۝

او نیولي نې دی | آیتونه زما |او هغه خبر |چې دوئ ترې یرولې شوی دی | په ټوقوسره|

اوهغوئ خو زما د(قدرت) نخښې اودکوم څیز نه چې ویرولې شوی (هغه ټول) ټوقې مسخرې ګڼړی

**قوله تعالى:- وَكَانَ الْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا۝**

**انسان ډیر جګړه مار دې** :-د انسانانود پاره مونږ په خپل کتاب کښې هره خبره ښه کولاو کولاو ښکاره کړې ده دې د پاره چه خلق د حق لارې نه وانوړی د هدایت د لارې نه دهوکه اونه خوری خوسره د دې بیان اوفرقان نه بیا هم د هدایت موندونکونه بغیرخلق ټول په ټول د خلاصې د لارې نه اخواشوی دی. مسنداحمد کښې دی چه یوه شپه رسول الله ﷺ دحضرت فاطمه بی بی رضی الله عنها اوحضرت علی رضی الله عنه کورته تشریف راوړو وئی فرمائیل چه تاسو اوده شوی ئی په مانځه نه ئی؟په دې باندې علی رضی الله عنه جواب ورکړویارسول الله ﷺزمونږ ساه دالله ﷻپه لاس کښې ده هغه چه کله مونږ اوچتول غواړی راپاسوی مو. حضورﷺ داوریدوسره بغیرد څه فرمائیلوواپس شو خوپخپلوزنګونوباندې لاس وهونکې روان وو فرمائیل ئی انسان د ټولوڅیزونونه ډیر جګړمار دې. ([1])

**خلق دعذاب کتلوغوښتنه کوی اودحق نه انکارکوی**:دپخوانې زمانې اوددې وخت دکافرانود سرکشئی بیان کولې شی چه د حق ښکاره کیدونه پس هم د دې د تابعدارئی نه منع کیږی غواړی چه د الله ﷻ عذابونه په خپلو سترګوسره اوګوری. چا غوښتنه کوله چه آسمان دې په مونږ راپریوځی چا وئیل راوړه چه څنګه عذاب راوړلې شې راوړه. قریشو دا هم وئیلې اې الله که دا رښتونې اوحق وی نو په مونږ باندې د آسمان نه کاڼړی راآوروه یا په مونږ باندې څه نور دردناك عذاب راوله.هغوی داهم وئیلې چه اې نبی مونږتالیونې ګڼړواوکه حقیقت کښې ته رښتونې نبی ئی نوزمونږ مخې ته فرښتې ولې نه راولې وغیره وغیره دالله ﷻ دعذاب په انتظارکښې اوسیږی اوددې کتلوپسې لګیدلې دی.د رسولانوکارخو صرف مؤمنانوته زیرې ورکول اوکافران ویرول دی خلق ناحقه حجتونه کوی اوحق د خپل ځائ نه خوئیول غواړی خودهغوی داغوښتنه کله هم دپوره کیدونه ده.حق دهغوی په باطلوخبرو باندې نه ښکته کیږی دوی زماآیاتونه اودویرولوخبرې صرف ټوقې سخرې ګڼړی وپخپله بې ایمانئی کښې زیاتیږی

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ فَاَعْرَضَ

اوڅوك دې ډیرظالم |دهغه چانه|چې نصیحت اوکړې شی هغه ته|په ذریعه دایتونو|درب خپل |نوهغه مخ واړوئ

اودهغه چا نه غټ ظالم څوک کیدیشی چې دخپل رب دقدرت دنخښو په ذریعه ورته نصیحت اوکړې

عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ ؕ اِنَّا

دهغې نه | اوهیر شوترې| هغه انجام | چې مخکښې لیږلې دې | لاسونو دهغه | بیشکه مونږه

شی نو هغوئ ترې نه مخ واړوی اوخپل دګناه کارونه هیر کړی او مونږ

جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ

اچولې دی | په زړونو دهغوئ باند| پردې | چې پوهه شی په هغې |او په غوږونو دهغوئ کښی

ددوئ په زړو نو باندې پردې راغوړولې دی چې ګنې په دې (قران) دې پوهه شی اودوئ مو په

[1] صحیح بخاری کتاب التهجد باب تحریض النبی ﷺ علی قیام اللیل والنوافل.....١١٢٧وصحیح مسلم:٧٧٥،احمد:٩١/١،

Scanned with Ca

وَقْرًا ط | وَاِنْ | تَدْعُهُمْ | اِلَى الْهُدٰى | فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا
درون والي دي | اوكه چري | ته راوبلي هغوئ | هدايت ته | نوهرګز به هدايت اونه مومي
درانه كړي دي او كه ته ئي هرڅومره سمې لارې ته راوبلې نودوئ به هيچرې سمې

اِذًا | اَبَدًا ﴿٥٧﴾ | وَرَبُّكَ | الْغَفُوْرُ | ذُوالرَّحْمَةِ ط | لَوْ
په دې حالت كښې | هميشه | او رب ستا | ښښونكې دې | خاوندد رحمت دې | كه چرې
لارې ته رانشي او ستارب بخښوونكې ډير رحم كوونكې دې كه

يُؤَاخِذُهُمْ | بِمَا | كَسَبُوْا | لَعَجَّلَ | لَهُمُ
الله نيولي هغوئ لره | په سبب دهغه عمل | چې كوې ئي هغوئ | نو زربه ئې راليږلي وو | هغوئ ته
الله ﷻ ددوئ په عملونو باندې ددوئ نيول كولې نو سمدستي به ئې پرې

الْعَذَابَ ط | بَلْ | لَّهُمْ | مَّوْعِدٌ | لَّنْ يَّجِدُوْا | مِنْ دُوْنِهٖ
عذاب | بلكه مقرردي | دپاره دهغوئ | وخت دوعدې | چې هرګزبه اونه مومي هغوئ | ماسوادهغې نه
عذاب راوستې ووخو دوئ له داسې نيټه مقرر كړې ده چې دهغې نه په هيڅ ځائې كښې

مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ | وَتِلْكَ الْقُرٰٓى | اَهْلَكْنٰهُمْ | لَمَّا | ظَلَمُوْا
لار دتيښتې | او دغه | كلي | هلاك كړل مونږه هغوئ | هر كله چې | ظلم اوكړو هغوئ
پناه موندلې نشي او دغه كلي هركله چې ظلم اوكړو مونږ تباه كړل

وَجَعَلْنَا | لِمَهْلِكِهِمْ | مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾ ع
او مقرر كړې وه مونږ | دپاره دهلاكت دهغوئ | يوه وعده |
اومونږ ددوئ دتباهئ دپاره يووخت مقرر كړې وو

**قوله تعالى:- وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ**

**لوئ ظالم څوك دې ؟**:-په حقيقت كښې د دې نه زيات ګناهګار څوك دې؟دچا په وړاندې چه دهغوی د ساتونكي پالونكي كلام وئيلې كيږي اوهغوی د دې طرف ته هډو څه خيال اونه كړی دې سره بلد نه شي بلكه مخ واړوی اوانكاراوكړی اوچه كومې بدعملئی اوګناهونه ددې نه وړاندې دی هغه هم هير كړی نود دې باتورئي بې باكئ سزا دا وی چه په زړونوباندې پردې واچولې شی بيا د قرآن اوبيان په پوهه كښې راتلل نه تصيب كيږی غوږونه ئې درنيږی د ښو خبرو طرف ته توجه نه پاتې كيږی اوس كه په لاكهونو دعوت د هدايت وركړې خولار موندل ګران او محال دی.اې نبی ﷺ ستارب ډير مهربان او ډيرداوچت رحمت والا دې كه هغه ګناهګاران زرسزا كول نو په زمكه به يو ساه لرونكې نه بچ كيدو والا دې داخود هغه حلم دې پرده اچول دی معافی كول دی دې د پاره چه د ګمراهئی والا په نيغه لار راشی د ګناهونووالا توبه اوكړی اود هغه د رحمت لمن اونيسی خوچه چا د دې حلم نه فائده اوچته نه كړه اوپخپله سركشئی باندې كلك ولاړوو نودهغه رانيولو ورځ نيزدې ده چه دومره سخته به وی چه ماشومان به بوډاګان شی د ښځو حملونه به پريوځی په هغه ورځ به دپناه هيڅ ځایٔ نه وی د خلاصی به

هيڅ صورت نه وی. دا دی ستاسو نه اولنی امتونه چه هغوی هم ستاسو په شان په كفر اوانكاركښې پربوتل او آخر ختم كړې شو.د هغوی د هلاكت مقررشوې وخت راورسيده اوهغوی تباه برباد كړې شو نواې مشركانوتاسوهم اوويرېږئ تاسو اشرف الرسل اعظم نبی په تكليف كوئ هغه دروغ ګڼړئ سره د دې چه د وړاندينوكافرانونه تاسو په طاقت قوت سازوسامان كښې ډير كم يئ زما د عذابونونه اوويرېږئ زما د خبرونه نصيحت واخلئ.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

| او كله چې | اووئيل | موسى

اوهركله چې موسى ﷺ خپل

لِفَتٰىهُ لَآ اَبْرَحُ حَتّٰٓى اَبْلُغَ مَجْمَعَ

خوان خادم خپل ته | نۀ واپس كيږم زۀ | تر هغې | چې اورسم زۀ | ځائې دجمع كيدو

شاګرد ته اووئيل چې زه به روان يم تردې چې زه دوبندئ ته

الْبَحْرَيْنِ اَوْ اَمْضِىَ حُقُبًا (٦٠) فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ

ددوؤ دريابو ته | يابه ځم زه | ډيره موده | نو هركله چې | اورسيدل دواړه | ځائې دجمع كيدو

اورسم ګنی په كلونو كلونو به دغسې مزل كوم نوهركله چې دواړه تنه هغې دوبندئی ته اورسيدل

بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوْتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِى الْبَحْرِ

ددواړو دريابونو | هير كړو دواړو | مهې خپل | نو اونيوله هغه مهی | لاره خپله | په درياب كښې

نو خپل مهې ترې هير شو نو هغه په درياب كښې (ځان له) لار اونيوله چې يو

سَرَبًا (٦١) فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا

پشان دسرنګ | نوهركله چې | وړاندلاړل دواړه | نواووئيل موسى | ځلمی خادم خپل ته | راوړه مونږ ته

سرنګ ئې جوړولو نوهركله چې دواړه وړاندې تيرشول نو موسى ﷺ خپل شاګرد ته اووئيل

غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا (٦٢)

دصباخوراك زمونږه | بيشكه پيښنه شوه مونږ ته | ددې سفرزمونږ نه | دا | ستومانی |

چې ناشته راوړه مونږ خو په دې ننني مزل باندې ډير ستړی شو

قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّىْ نَسِيْتُ

خادم اووئيل | اياولیدل تا | كله چې | پناه واغسته مونږه | هغه ګټ ته | نوبيشكه هيرشوزما |

هغه ورته اووئيل چې ايا تا اونه ليدل چې هر كله مونږ دهغه ګټ خواته ناست وو نو زما نه

الْحُوْتَ وَمَآ اَنْسٰنِيْهُ اِلَّا الشَّيْطٰنُ اَنْ اَذْكُرَهٗ وَاتَّخَذَ

هغه مهې | او هير نۀ كړو زمانه هغه | مګر شيطان | چې يادكړم هغه تاته | اواونيوله هغه مهی

كب (هم هلته) هير شو اوزمانه (تاته) دهغې ذكر كول شيطان هير كړل او كب په

Scanned with Ca

| |
|---|
| سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا⊕ قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا |
| لاره خپله\| په درياب كښې\| په عجيبه طريقې سره\| اووئيل موسى\| دغه هغه ځائې وو\| چې وو موږ |
| درياب كښې ځان له په عجيبه شان لار جوړوله موسى ﷺ اووئيل چې هم دا خو هغه ځائې |
| نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا⊕ |
| چې طلب كوؤ موږ\| نو واپس رااوگرزيدل دواړه \| په قدمونو خپلو\|تلاش كونكي ښاپونو دخپلو لره |
| ووچې موږ لټولو نودواړه په خپلو قدمونو پسې ارلو روان شو |
| فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا |
| نو بيا موندو دواړو \|يوبنده\| دبندگانوزموږنه\| چې وركړې ووموږهغه ته\| رحمت\| دطرفه زموږنه |
| نوهغوئ زموږ په بنديانو كښې يو بنده بياموندو چې موږ وربانديې خپل فضل كړې وو اودخپل |
| وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا⊕ |
| اوښودلې ووموږهغه ته\| دطرفه زموږ نه \| (خاص) علم \| |
| طرفنه مو ورته يو خاص علم خودلې وو |

**قوله‌تعالى: - وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ**

**دحضرت موسى ﷺ اوحضرت خضر ﷺ واقعه**:-حضرت موسى ﷺ ته ذكر اوكړې شو چه د الله ﷻ يو بنده د دريابونوملاويدو په ځائ كښې دې هغه سره هغه علم دې چه تاسره نشته. هغوى هم هغه وخت د ده د ملاقات كلكه اراده اوكړه. اوس خپل ملگرى ته فرمائى چه زه خو به د هغه ځائ د رسيدونه بغيرساه وانخلم. محل وقوع ده،دوه سمندرونه يوخودې بحيره فارس اودويم بحيره روم مغربى.دا ځائ د طنجه سره مغرب طرف ښارونوپه آخركښې دې . والله اعلم. فرمائى چه ماله د مودو پورې تگ وى خو هيڅ حرج نشته.

**حقب څومره زمانه ده؟** ①-: وائى چه د قيس په لغت كښې كال ته حقب وائى[1] ② عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائى دحقب نه مراد اتياكاله دى[2] ③ مجاهد رحمه الله اوياكاله وائى[3] ④ ابن عباس ﷺ زمانه ښائى.[4] حضرت موسى ﷺ ته حكم ملاوشوې وو چه خپل ځان سره يوكب مالگه لگيدلې يوسه چرته چه هغه ورك شى هم هلته به زموږ بنده ملاوشى. دې دواړ كب ځان سره واخستو روان شو د سمندرونويوځاى كيدو ځائ ته اورسيدل هلته نهرحيات وو دواړه سملاستل د دې نهر د اوبوڅاڅكى په دې كب باندې پريوتل كب په خوزيدو شو. د هغه د ملگرى حضرت يوشع ﷺ په تيلئى كښې داكب پروت وو اوهغه د سمندر په غاړه وو.كب دهغه دسترگو په وړاندې اوبوته لاړو اوپه اوبوكښې نيغ سورې اوشواخوا ديخوا اوبه اودريدې او هغه سورې بالكل نيغ پاتې شو د كاڼړى په شان په اوبوكښې چاودې اوشو[5] كوم

---

[1] الطبرى:٥٦/١٨.
[2] الطبرى:٥٦/١٨.
[3] الطبرى:٥٦/١٨.
[4] الطبرى:٥٦/١٨.
[5] الطبرى:٥٨/١٨.

Scanned with Ca

ځایٔ کښې چه اوبوسره داکب اولګیدو هغه اوبه دکاڼي په شان شوې اوپوره سوره جوړه شوه. محمدبن اسحاق مرفوعاً راوړی دی چه حضورﷺ د دې خبرې بیان کولو سره اوفرمائیل اوبه د شروع نه چرته داسې نه دی کلکې شوې بغیرد دې کب د تلود ځایٔ نه ګیرچاپیره داوبو نښه په شان د زمکې د سوری برابر. د موسی ﷺد واپس رسیدو پورې وو. دا نښه لیدوسره موسی ﷺاوفرمائیل هم د دې په لټون کښې خو مونږ وو. کله چه ئې کب هیرکړودوی وړاندې لاړل دلته داخبره یادساتل پکار دی چه د یو کار د دواړو ملګرو طرف ته منسوب شوې دې اود هیرې والا صرف یوشع ﷺ وو لکه چه ارشاد دې ﴿يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ﴾[1] ددې دواړوسمندرونونه غمی اومرغلرې راوخی حالانکه د دواړو اقوالونه یودا دې چه لؤلؤ اومرجان د ترخو اوبونه راوخی. چه دهغه ځایٔ نه یوه مرحله نورمخکې شو نو حضرت موسی ﷺدخپل ملګری نه خوراك اوغوښتو اود سفرتکلیف ئې هم بیان کړو داتکلیف د مقصدنه وړاندې تلونه پس اوشو پدې باندې دهغه ملګری ته دکب تلل رایادشو ونی ونیل دکوم کاڼي سره چه مونږ حصار شوې وو هغه وخت مانه کب هیرشو اوتاته ذکر کول هم رانه شیطان هیرکړل. د ابن مسعودﷺ په قراءت کښې(ان اذکره)دې فرمانی چه مونږ خو هم هغه دواړه په خپله هم هغه لاره د خپلوپښو په چاپونو لټولو باندې واپس شو هلته ئې زمونږ د بندیګانونه یوبنده اوموندلو چاته چه مونږ د خپل رحمت نه اود خپل علم نه علم ورکړې وو. داحضرت خضرﷺ دې.

**د بخاری شریف روایت:** بخاری شریف کښې دی سعیدبن جبیر ﷺ حضرت عبدالله بن عباسﷺ ته اووئیل چه حضرت ادنوف خیال دې چه حضرت خضرﷺ سره ملاویدونکې موسی دبنی اسرائیل موسیﷺ نه وو.ابن عباس ﷺ اوفرمائیل هغه دالله ﷻ دښمن دروغژن دې مونږ ته ابی بن کعب ﷺ فرمائیلی دی درسول الله ﷺنه هغه اوریدلی دی حضرت موسی ﷺ اودریدواو بنی اسرائیلوته ئې خطبه ورکوله چه دهغه نه سوال اوکړې شو د ټولونه لویٔ عالم څوك دې؟ هغه جواب ورکړو زه. هغوی د دې په جواب کښې دا اونه فرمائیل چه الله ﷻ پوهیږی په دې وجه د رب دا کلمه خوښه نه شوه. هم هغه وخت دا وحی راغله چه په مجمع البحرین کښې زمونږ یوبنده دې چه تانه هم زیات عالم دې. په دې باندې حضرت موسی ﷺ اوفرمائیل پروردګار زه به هغه ته څنګه اورسم؟ حکم اوشو ځان سره یوکب کیږده هغه په توښه دان کښې واچوه کوم ځایٔ چه داکب ورك شی هم هغه ځایٔ کښې به ملاوشی. هغه خپل ملګرې یوشع بن نون ﷺخپل ځان سره واخستو لاړو کاڼي ته اورسیدل او په هغې باندې سر کیخودو لږ ساعت اوده شو کب د هغه لوښی نه اودانګل اووتلو اوسمندر ته داسې لاړو لکه چا چه سورنګ ویستې وی او په زمکه کښې کوزشوې وی. د اوبو تلل روانیدل الله ﷻ اودرول اود روزان په شان هغه سورې باقی پاتې شو. حضرت موسی ﷺ چه کله راپاسیدو نود هغه ملګری هغه ته د دې ذکر کول هیرکړل هغه وخت د هغه ځایٔ نه روان شو. د ورځ پوره کیدو نه پس ټوله شپه روان وو سحرحضرت موسی ﷺ ستړې شو او ولږه ئې محسوس کړه الله ﷻ چه دکوم ځایٔ د تلوحکم کړې وو ترکومې چه دهغه ځایٔ نه وړاندې شوی نه وو د ستړې کیدو هډو نوم نه وو. اوس ئې خپل ملګری نه خوراك اوغوښتو اوتکلیف ئې ورته بیان کړو. هغه وخت د هغه ملګری اووئیل چه دهغه کاڼي سره مونږ آرام کړې وو هم هغه ځایٔ کښې خو هغه وخت کب مانه هیرشو اود هغې ذکر رانه هم شیطان هیرکړو. هغه کب خو په سمندرکښې د ځان د پاره یوه عجیبه لار جوړه کړه. د کب د پاره سورنګ جوړ شو اودهغه د پاره د حیرانتیا ذریعه. حضرت موسی ﷺاوفرمائیل چه هم د دغې خو لټون وو.

خپل د قدمونو نښې په کتلوسره دواړه واپس شو. هم هغه کاڼي ته راورسیدل ونی کتل چه صاحب په

[1] ٥٥/الرحمن:٢٢.

Scanned with Ca

كېږا كښې پټ ناست وو. هغوی سلام اوکړو هغه وئيل تعجب دې ستاسو په زمكه كښې دا سلام چرته دې؟ هغه اوفرمائيل زه موسی يم. هغه تپوس اوکړو د بني اسرائيل موسی عليه السلام؟ هغوی اوفرمائيل او. زه د دې د پاره راغلې يم چه ته ماته هغه ښيګړه اوښايه كوم چه الله جل جلاله تاسو ته خودلی دی.هغه اوفرمائيل موسی ته ماسره صبر نه شې كولې ځكه چه ماته كوم علم دې هغه تاته نشته او تاته چه كوم علم دې دهغې ماته پته نشته الله جل جلاله دواړو ته جدا علم راكړې دې. حضرت موسی عليه السلام اووئيل ان شاء الله تاسوبه اوګورئ چه زه به صبركوم اوستاد يوفرمان به هم نافرمانی نه كوم. حضرت خضر عليه السلام اووئيل چه كه ته ماسره پاتې كيدل غواړې نو مانه به پخپله د څه خبرې سوال نه كوې ترهغه وخته پورې چه زه درته پخپله خبر دركړم دومره خبرې كولوسره دواړه روان شو. د درياب په غاړه باندې يوه كشتئ وه د خان سره د تلو خبره ئې ورسره اوكړه. هغه حضرت خضر عليه السلام اوپيژندو او بغيرد كرايه اخستو ئې دواړه سواره كړل. لږ شان لرې تلي وو چه حضرت موسی عليه السلام اوكتل چه حضرت خضر عليه السلام چپ چاپ د كشتئ تخته په تبرماتوی. حضرت موسی عليه السلام اوفرمائيل دا څه دی؟ دې خلقو خو مونږ سره احسان اوكړو بغير كرايه اخستو ئې كشتئ كښې سواره كړو اوتاد هغې تختې ماتول شروع كړل كوم سره چه به ټول كشتئ والا ډوب شي داخودې ډير خراب كار اوكړو. هم هغه وخت حضرت خضر عليه السلام اوفرمائيل ګوره ماتاته وړاندې وئيلې وو چه ته ماسره صبر نه شې كولې. حضرت موسی عليه السلام معذرت اوكړوچه خطا اوشوه په هيره سره مې تپوس اوكړو معافی اوكړه سختئ مه كوه. حضور ﷺ اوفرمائيل چه واقعي رومبئ غلطي د هم د هيرې په وجه وه فرمائي دكشتئ په يوه تخته باندې يوه مرغئ راغله كيناسته او په سمندركښې ئې مښوكه وركړه اوبه ئې يوړې والوته. هغه وخت حضرت خضر عليه السلام حضرت موسی عليه السلام ته اوفرمائيل زما اوستاعلم د الله جل جلاله دعلم نه دومره كم كړې دې څومره اوبه چه د سمندرنه دې مرغئ په خپله مښوكه سره كمې كړې. اوس كشتئ غاړې له راغله او دواړه روان شو د حضرت خضر عليه السلام نظر په يوڅوماشومانو لوبې كونكو پريوتلو په هغوی كښې يوماشوم د سرنه راونيولو حضرت خضر عليه السلام د هغه سټ داسې راتاؤكړو چه هم هغه وخت ئې ساه اووتله. حضرت موسی اوويريدلو وئې فرمائيل چه بغير د څه قتل نه تادا ماشوم ناحقه مړكړو؟ تاخوډير منكر كار اوكړو. حضرت خضر عليه السلام اوفرمائيل ګوره هم دا مادرته وړاندې وئيلې وو چه زه اوته نه شو چليدلې. هغه وخت حضرت خضر عليه السلام د اول نه هم ډيره سختئ اوكړه حضرت موسی عليه السلام اوفرمائيل چه ښه ده كه دې ځل ما څه سوال اوكړو نو بې شكه ته ما خپل ځان سره مه ساته يقيناً اوس هغه معذور شو بيا دواړه يوځائ روان شو. يوكلي ته اورسيدل او دهغوی نه ئې خوراك اوغوښتو ولې هغوی د ميلمستيانه صفاانكاراوكړو. يوديوال ئې اوليدلوچه راتيټ شوې وو او پريوتو ته نيزدې وو. هغه وخت حضرت خضر عليه السلام لاس يوړواورانبغ او صحيح ئې كړو. حضرت موسی عليه السلام اوفرمائيل چه خيال خواوكړه چه مونږ دلته راغلو دوی نه مو خوراك اوغوښتلو هغوی رانه كړه اود ميلمستياخلاف ئې اوكړه د هغوی دا كاروو تا د هغوی نه اجرت هم اخستې شو. حضرت خضر عليه السلام اوفرمائيل چه بس هم دا ده زما اوستا په مينځ كښې جدائي. اوس زه تاته د دې كارونواصليت ښايم. حضور ﷺ فرمائي چه افسوس كه موسی عليه السلام لږ شان صبركړې وو نود دې دواړونورې خبرې به هم زمونږ په وړاندې الله جل جلاله مونږ ته خودلې وې.دحضرت ابن عباس ؓ په قراءت كښې ﴿وكان ورآئهم﴾([1]) په بدله كښې ((وكان امامهم)) دې او﴿سفينة﴾ نه پس ﴿صالحة﴾ لفظ هم دې او ﴿اما الغلام﴾نه پس ((فكان كافراً)) لفظ هم دې([2])په بل سندسره هم دا حديث نقل دې په دې كښې دی چه

---

[1]) ١٨/الكهف:٧٩.

[2]) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة الكهف باب قوله ﴿اذقال موسى لفتاه لاابرح حتى ابلغ......﴾٤٧٢٥، صحيح مسلم: ٢٣٨٠، ابوداؤد:٤٧٠٧،ترمذی:٣١٤٩، ابن حبان: ٦٢٢٠.

حضرت موسی ﷺ دې کانړي سره اودريدو يوه چينه وه چه دهغې نوم نهر حيات وو د دې اوبه چه کوم څيز سره لګيدې هغه به ژوندې کيدو په دې کښې دمرغنی د اوبو اوړو نه پس د حضرت خضر ﷺ قول نقل دې چه زما ستا او ټول مخلوق علم د الله ﷻ د علم په مقابله کښې دومره دې څومره چه د دې مرغنی منبوکه د دې سمندرد اوبو په مقابله کښې الخ.([1])

**دصحيح بخاری بل روايت** :-صحيح بخاری شريف کښې يوبل حديث دې حضرت سعيدبن جبير ﷺ فرمائی چه زه دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ سره د هغه په کورکښې ووم هغوی اوفرمائيل چه څوك څه سوال کوی نو اودې کړی. ما ونيل الله ﷻ دې ما په تاسو باندې قربان کړی په کوفه کښې يوواعظ دې دهغه نوم نوف دې. بيا پوره حديث بيان کړو لکه څنګه چه پورته تيرشو په هغې کښې دی چه د حضرت موسی ﷺ په دې خطبه سره سترګې بهيدلې وې زړه نرم شوې وو کله چه هغوی لاړل نو يوسړې هغوی له راغلو دهغه نه ئی سوال اوکړو چه په مخ دزمکې باندې ستانه هم څوك لوئ عالم شته؟ هغوی اوفرمائيل نه. په دې باندې الله ﷻ دهغوی زورنه اوکړه څکه چه هغه علم دالله ﷻطرف ته اونه ګرځولو. په دې کښې دی چه حضرت موسی ﷺ نښه اوغوښتله نو ارشاد اوشوچه يو مرکب خان سره کړه په کوم ځائ کښې چه هم په ده کښې ساه راغله هغه سړې به هم هلته ملاوشی. هغوی کب واخستو او په تيلئی کښې ئی واچولو اوخپل ملګری ته ئی اووئيل چه ستاصرف هم دومره کار دې چه کوم ځائ دا کب تانه لاړو هلته ماته خبر اوکړه هغه ونيل چه داخو ډيره آسانه خبره ده. د هغه نوم يوشع بن نون وو ﴿لفته﴾ نه هم دا مراد دې دوی دواړه په ډير بزرګ ځائ کښې د يوې ونې لاندې ووحضرت موسی ﷺ له خوب راغلې وو اوحضرت يوشع ﷺ ويښ وو چه کب ټوپ کړو. هغه ونيل چه راپاسول خو ټيك نه دی چه پاسی نو خبربه ئی کړم. په دې کښې داهم دی چه اوبوته دتلو په وخت کښې کومه سوړه شوې وه هغه د حديث راوی عمرودخپل غټې ګوتې اودې سره خواکې دواړوګوتو يوه حلقه شان جوړه کړې وه اوخودلې وه چه داسې وه لکه څنګه چه په کانړی کښې وی. واپسئی کښې حضرت خضر ﷺ د سمندر په غاړه باندې په يوه شنه ګدئی خورکړې په څادرکښې راغونډشوې وو دهغې يوسر ئی ددواړو پښو لاندې ايخودې وو اودويمه غاړه ئی د سرلاندې وه. د حضرت موسی ﷺپه سلام کولوسره هغه څله کولاوکړه دې کښې داهم وو چه حضرت خضر ﷺ اوفرمائيل چه ستا په لاس کښې تورات موجود دې وحی دآسمان نه راځی دا کافی نه دی؟اوزما علم ستا لائق هم نه دې اونه زه ستا د علم قابل يم. په دې کښې دی چه د کشتئی تخته ئی ماته کړه نوهغه د يوتناؤ (پړی) سره اوتړله. په اول ځل سوال کول خو دهغوی د هيرې په وجه سره وو په دويم ځل د شرط په توګه وو د دريم ځل سوال کول قصداً د جدا کيدلو په وجه سره وو. په دې کښې چه په هلکانوکښې يوهلك وو کافر هوښيار هغه حضرت خضر ﷺ راسملولو په چاړه ئی حلال کړو. په يوقراءت کښې ﴿زاكية مسلمة﴾ هم دې. د ﴿وراءهم﴾ قراءت ﴿امامهم﴾ هم دې. د دې ظالم بادشاه نوم په دې کښې بدد بن بدد دې اوکوم ماشوم ئی چه قتل کړې وو د هغه نوم جيسور وو. وائی چه د دې هلك په بدله کښې هغوی کره يوه جينئی اوشوه([2])په يوروايت کښې دی حضرت موسی ﷺ خطبه ورکوله چه الله ﷻ اود هغه امر زمانه څوك هم زيات نه پيژنی الخ. دا نوف د کعب ﷺ د ښځې څوئ وودهغه قول وو دکوم موسی ﷺ چه په دې آياتونوکښې ذکر دې دا موسی بن ميشا وو.

**بل روايت** :-يوبل روايت کښې دی چه حضرت موسی ﷺ د الله ﷻ په درباركښې سوال اوکړو اې الله که ستاپه بنديګانوکښې زمانه لوئ عالم څوك وی نو ماته ئی اوښائې. پدې کښې دی چه مالګه اچولې

---

[1]) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة الكهف باب قوله تعالى ﴿قال ارايت اذاوينا الى الصخرة....﴾:٤٧٢٧.

[2]) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة الكهف باب قوله ﴿فلما بلغامجمع بينهما نسياحوتهما.......﴾:٤٧٢٦.

شوې كب هغوى سره وو. په دې كښې داهم دى چه حضرت خضر﵇ اوفرمائيل چه ته دلته ولې راغلې؟ ته خو اوس هم په بنى اسرائيلوكښې مشغول ئې. په دې كښې دى چه پټې خبرې به حضرت خضر﵇ ته ښكاره كولې شوې نوهغوى فرمائيل چه ته ماسره نه شې حصاريدلې خكه چه ته خوبه ظاهر ته گورې اوفيصله به كوې اوماته په راز باندې خبرشوې دې. شرط دااوشو كه تا هرڅومره خلاف ليدل اوكړه خوشونډې به نه خوزوې تركومې چه حضرت خضر پخپله درته اونه ښائى. وائى چه كشتنى په تولو كشتوكښې مضبوطه ښكلې او ښه وه هغه ماشوم يوبې مثاله ماشوم وو ډير ښكلې ډيرهوښيار او تيز.حضرت خضر ﵇ هغه راونيولو او په كانړى سره ئې د هغه سر چخنړى كړو مړئى كړو. حضرت موسى ﵇ د الله ﷻ د ويرې نه اوړچيدو وړوكې شان ښكلې بې گناه ماشوم دومره په بې دردئى سره بغيرد څه وجه حضرت خضر﵇ قتل كړو. ديوال راپريوتونكې كنلوسره ئې اول هغه راگذار كړو او بيائى په آرام سره جوړكړو. حضرت موسى ﵇ ستړې شو چه په ناسته ناسته ئى ښه مشقت پيداكړو. ابن عباس ﵁ فرمائى د دې ديوال لاندې خزانه صرف علم وو.

**بل روايت** :-يوبل روايت كښې دى كله چه حضرت موسى ﵇ اود هغه قوم مصرباندې غالب شو اودلته راغلو هغه په آرام سره اوسيدلو نود الله ﷻ حكم اوشو چه دوى ته د الله ﷻ احسانونه ورياد كړه. هغوى د خطبه د پاره اودريدل اود الله ﷻ احسانات ئى بيان كول شروع كړه چه الله ﷻ تاسو ته داسې داسې نعمتونه دركړل. اهل فرعون نه هغه تاسو ته خلاصې دركړو ستاسو دښمنان ئى تباه او غرق كړل بيائى تاسو دهغوى دزمكو مالكان كړئى ستاسو نبى سره ئى خبرې اوكړې هغه ئى د ځان د پاره خوښ كړو په هغه باندې ئى خپل محبت واچولو ستاسو ټول حاجتونه ئى پوره كړل ستاسو نبى د ټولې زمكې والا نه افضل دې. هغه تاسو ته تورات دركړو. غرض دا چه په پوره زور سره ئى د الله ﷻ بې شميره نعمتونه هغوى ته ورياد كړل. په دې باندې يواسرائيلى اووئيل چه په حقيقت كښې خبره هم داسې ده خواې نبى الله په زمكه باندې ستانه زيات علم والا څوك شته؟ هغوى زر جواب وركړونه. هم هغه وخت الله ﷻ حضرت جبرائيل ﵇ راوليگلو چه ده ته اووايه تاته څه پته ده چه زه خپل علم كوم كوم ځائ ساتم؟ بې شكه د سمندرپه غاړه باندې يوسړې دې چه هغه تانه هم زيات عالم دې. ابن عباس ﵁ فرمائى دې نه مراد حضرت خضر﵇ دې. نوحضرت موسى ﵇ د الله ﷻ نه سوال اوكړو چه هغه خو زه اووينم. وحى اوشوه چه ښه ته د سمندرپه غاړه باندې څه هلته به تاته يوكب ملاوشى هغه واخله. خپل ملگرى له ئى وركړه او بياد سمندر په غاړه غاړه څه. كله چه ته كب هيركړې او هغه تانه ورك شى نو هلته به زما دا نيك بنده اوموميې. حضرت موسى ﵇ چه په تلو تلوستړې شو نو خپل ملگرې نه چه دهغه غلام وو د كب متعلق تپوس اوكړوهغه وئيل چه د كوم كانړى سره مونږ حصارشوې ووهم هلته مانه كب هيرشو او تاسو ته ذكر كول رانه شيطان هيركړل. مااوكتل چه كب خولكه چه سورنگ جوړكړې په اوبوكښې روان وى. حضرت موسى ﵇ چه دا واوريده نو ډير حيران شو كله چه واپس شو راغلو نووئى كتل چه كب په اوبوكښې تنگ شروع كړې دې. حضرت موسى ﵇ هم خپله همساباندې اوبه ځيرلې او هغه پسې لاړو كب چه به كوم ځائ ته تلو دهغه ځائ اوبه به لكه د كانړى شوې دې سره هم د الله ﷻ نبى ډير حيران شو اوس كب هغوى يوې جزيرې ته بوتله. الخ.ابن عباس ﵁ او حربن قيس ﵀ كښې اختلاف وو چه د موسى ﵇ داملگرې څوك وو؟ دابن عباس﵁ فرمان دې چه داحضرت خضر﵇ وو هم غه وخت دوى سره حضرت ابى بن كعب ﵁ تيرشو. ابن عباس﵁ هغوى راوغوښتل اوخپل اختلاف ئى ورته بيان كړو. هغوى د رسول الله ﷺ نه اوريدلې هغه حديث بيان كړو چه تقريباً اوس پورته تيرشو. په دې كښې د سوال كونكى دسوال الفاظ دادى چه آيا ته ددغه سړى كيدل هم پيژنې چه تانه دزيات علم والا دې؟[1]

---

[1]) صحيح مسلم كتاب الفضائل باب من فضائل خضر: ٢٣٨٠.

Scanned with Ca

قَالَ لَهٗ مُوْسٰى

| اووئيل | هغه ته | موسى |

موسى عليه السلام هغه ته اووئيل

هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ

ايا زهٔ تابع شم ستا | په دې شرط چې ته تعا راكړې ماته | دهغې نه | چې ښودلې شوې ده تاته

چې ايا زه تاسره لاړشم په دې شرط چې ته ماته دښيګړې هغه خبرې اوښائې كوم چې تاته خودلې شوې دي

رُشْدًا ۝ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ۝

كومه پوهه | اووئيل هغه بنده | بيشكه تهٔ | هرګز طاقت نشې لرلې | زماسره | دصبر كولو |

(خضر عليه السلام) اووئيل چې ته ماسره په پاتې كيدو به صبر اونه كړې شې

وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ۝ قَالَ

اوځرنګې | به صبراوكړې تهٔ | په هغه كارباند | چې احاطه نهٔ وې ستا | په هغې باند | دخبر | اووئيل

اودكومې خبرې چې تاته خبر نشته نو ته په هغې څنګه صبر كولې شې موسى عليه السلام اووئيل

سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَّلَآ اَعْصِيْ لَكَ

تهٔ به بيامومې ماله | كه اوغواړي الله | صبركونكې | اونه به كوم نافرمانى زهٔ | ستا

كه الله ﷻ اوغواړي نو ته ماصابره بيامونديې شې او څه به هيڅ كار ستا د مرضئ نه خلاف نه كوم

اَمْرًا ۝ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ فَلَا تَسْئَلْنِيْ عَنْ شَيْءٍ

په هيڅ كاركښې | اووئيل بنده | نوكه تهٔ پيروى كوې زما | نونهٔ به كوې تپوس زمانه | په باره دڅه څيزكښې

(خضر عليه السلام) اووئيل چې ښه كه ته ماسره پاتې كيدل غواړې نوځما نه د هيڅ څيز په حقله تپوس مه كوه

حَتّٰٓى اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ۝ ع

ترهغې پورې | چې زهٔ بيان كړم | تاته | په باره دهغې كښې ذكر |

ترڅو چې څه په خپله د هغې ذكر تاته اونه كړم نودواړه روان شو

قوله تعالى:- قَالَ لَهٗ مُوْسٰى

**دحضرت موسى عليه السلام اوحضرت خضر عليه السلام خبرې اترې** :-دهغه خبرو اتروذكركولې شى كومې چه دحضرت موسى عليه السلام اوحضرت خضر عليه السلام په مينځ كښې شوې وې. حضرت خضر عليه السلام په دې علم سره خاص كړې شوې ووكوم چه حضرت موسى عليه السلام ته نه وو اوحضرت موسى عليه السلام سره هغه علم وو كوم نه چه حضرت خضر عليه السلام خبرنه وو. حضرت موسى عليه السلام په ادب سره اود دې د پاره چه هغه مهربانى اوكړى د حضرت خضر عليه السلام نه سوال كوى. شاګرد له دغه شان په ادب سره د استاذ نه سوال كول پكاردى. تپوس كوى چه كه اجازت وى نو زه به تاسو سره شم. ستاسو خدمت به كوم تاسونه به علم حاصلوم دكوم نه چه ماته نفع راورسى اوزما عمل نيك شي. حضرت خضر عليه السلام د دې په جواب كښې فرمائى چه ته زما سره نه شې چليدې زما كار به تاته د خپل علم په رڼا كښې خلاف ښكارى زما علم تاته نشته اوتاسره چه كوم علم دې هغه ماته نه دې خودلې شوې نو زه په خپل يو جدا خدمت باندې لګيايم اوته په جدا خدمت باندې ممكن دى چه ته د خپلومعلوماتو خلاف زما كارونه اوګورې او بياصبربه اوكړې شې او په واقع

Scanned with Ca

كښې ته په دې حال كښې معذور هم ئې ځكه چه باطنى حكمت او مصلحت تاته معلوم نه دې اوما الله ﷻ په هغې باندې خبردار كوى. په دې باندې حضرت موسى عليه السلام جواب وركړو چه ته څه هم كوې زه به ئې په ښه صبرسره برداشت كوم په يوه خبره كښې به ستا خلاف نه كوم. بيا حضرت خضر عليه السلام يو شرط پيش كړوچه ښه ده ديوځيزباره كښې به ته مانه تپوس نه كوې زه چه څه وايم هغه اوره اوته به دخپل ځان نه د يوسوال شروع نه كوې.

ابن جرير كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه يوقول دې چه حضرت موسى عليه السلام د الله ﷻ عزوجل رب العالمين نه سوال اوكړو چه تاته په خپلو ټولوبنديگانو كښې څوك گران دې؟ جواب ملاو شو چه څوك هروخت زما په يادكښې وى اوما نه هيروى. تپوس ئى اوكړو چه په ټولو بنديگانوكښې ښه فيصله كونكې څوك دې؟ وئى فرمائيل چه څوك په حق سره فيصله اوكړى اوپه خواهشاتوپسې نه وى. تپوس ئى اوكړو چه د ټولونه لوئ عالم څوك دې؟ وئى فرمائيل هغه چه سره د عالم كيدو په علم پسې وى اود هريوند زده كړه كوى چه ممكن دى چرته د هدايت كلمه ملاوشى اوممكن ده چه يوه خبره د گمراهئى نه د بچ كيدو په لاس راشى.حضرت موسى عليه السلام معلومه كړه چه ښه ده په زمكه باندې هم زمانه څوك زيات علم والاشته؟ وئى فرمائيل او تپوس ئى اوكړو څوك؟ وئى فرمائيل خضر.عرض ئى اوكړو زه هغه چرته اولټووم. وئى فرمائيل د درياب په غاړه گانړى سره چرته چه كب اوتختى.نوحضرت موسى عليه السلام د هغه په لټون كښې لاړو بيا هم هغه اوشو دكوم ذكر چه په قرآن كريم كښې دې هم د هغه گانړى سره د دواړو ملاقات اوشو.په دې روايت كښې داهم دى چه د سمندرد يوځائ كيدو مقام دكوم ځائ نه چه زياتې اوبه چرته هم نشته مرغئى په مښوكه كښې اوبه اخستې وې الخ.

فَانْطَلَقَا حَتّٰىٓ
| نوروان شو دواړه | تر هغې پورې
تر دې چې

اِذَا رَكِبَا فِى السَّفِيْنَةِ خَرَقَهَا ۭ قَالَ اَخَرَقْتَهَا
كله چې | سواره شو دواړه | په كشتئ كښې | نوسورئ ئې كړه هغه | اووئيل موسى | آيا تاسورئ كړه دا
په يوه كشتئ كښې سوارۀ شونو (خضرعليه السلام) په كښتي سورې اوكړومو سى عليه السلام ورته اووئيل چې

لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ۚ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا اِمْرًا ۝
دپاره ددې چې تۀ ډوب كړې | خلق دهغې | په تحقيق سره راغلې تۀ | يو كار | ناكاره ته |
تاپه دې كښتې سورې اوكړو چې په دې كښې سوارۀ خلق ډوب كړې داخو تا عجيبه كار اوكړو

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِىَ صَبْرًا ۝
اووئيل هغه | آيا مانۀ وۀ وئيلى | چې بيشكه تۀ | هرگز طاقت نشى لرلې | زما سره | دصبر كولو
(خضر عليه السلام) اووئيل چې ما نه وئيل چې ته بۀ ماسره په پاتې كيدو صبر اونه كړې شې

قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِىْ بِمَا نَسِيْتُ وَلَا تُرْهِقْنِىْ
اووئيل موسى | چې مۀ نيسه مالره | په هغه كار | چې هير شو زما | او مۀ راڅوه په ما
موسى عليه السلام اووئيل چې زما په هيره مامه نيسه او زما په دې معامله كښې

Scanned with Ca

| | |
|---|---|
| مِنْ اَمْرِيْ | عُسْرًا |
| ددې كارزمانه | سختي |
| ماسره سختي مه کوه | |

**قوله تعالى:-** حَتّٰى اِذَا رَكِبَا فِي السَّفِيْنَةِ خَرَقَهَا

**حضرت خضر عليه السلام كشتئ ماته كړه:-** په دواړوكښې چه كله شرط اولګيدوچه ته سوال مه كوه تركومې چه زه پخپله دهغې راز درښكاره نه كړم.نودواړه يوځائ روان شو تفصيلي روايتونه تيرشو چه د كشتئ والا هغوى اوپيژندل او بغيركرايه اخستوئى سواره كړل. كله چه كشتئ روانه شوه اود سمندر مينځ ته اورسيدله نو حضرت خضر عليه السلام د هغې يوه تخته راوويستله بيا نى هغه هم د پاس نه يوځائ كړه دې كتلو سره موسى عليه السلام نه صبراونه شو شرط ترې هيرشو او زر نى اووئيل داڅه فضول كاردې. د **(لتغرق)** لام لام عاقبت دې لام دتعليل نه دې لكه د شاعرپه دې قول كښې **(لدواللموت وابنواللخراب)** يعنى د هريو پيداشوى ساه لرونكى انجام مرګ دې اود هريوجوړشوى عمارت انجام نړيدل دى. **(امرا)** معنى منكر اوعجيب ده. دې اوريدو سره حضرت خضر عليه السلام هغه ته خپله وعده ورياده كړه چه تاد خپل شرط خلاف اوكړو ماخوتاته اول نه وئيلي وو چه تاته د دې خبرو علم نشته ته چپ اوسيږه ماته څه مه وايه سوال مه كوه د دې كارونو مصلحت او حكمت ماته الله ﷻ ښائى اوتاته دا څيزونه پټ دى. موسى عليه السلام معذرت اوكړو چه دا هيره معاف كړه اوماسره سختي مه كوه. اول چه كوم اوږدحديث دواقعه په تفصيل سره بيان كړې شو په هغې كښې دى چه داړومبې سوال په حقيقت كښې هيرې سره شوې وو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَانْطَلَقَا | حَتّٰى | اِذَا | لَقِيَا | غُلٰمًا |
| نوروان شودواړه | ترهغې پورې | كله چې | مخامخ شو دواړه | ديوهلك سره |
| نوبيا دواړه روان شو نر دې چې يو هلک سره ملاؤ شو | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَقَتَلَهٗ | قَالَ | اَقَتَلْتَ | نَفْسًا زَكِيَّةً | بِغَيْرِ نَفْسٍ |
| نوقتل ئې كړو هغه | اووئيل موسى | ايا تا قتل كړو | يو نفس پاك | بې دبدل دبل نفس نه |
| نوخضر عليه السلام هغه قتل كړو موسى عليه السلام اووئيل چې ښه تايوبې ګناه روح بغير دبدل نه اووژلو | | | | |

| | | |
|---|---|---|
| لَقَدْ جِئْتَ | شَيْئًا | نُّكْرًا |
| په تحقيق سرا راغلې ته | يو كار | ناكاره ته |
| داخو دې ډير خراب كار اوكړو | | |

**قوله تعالى:-** حَتّٰى اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ

**حضرت خضر عليه السلام يوماشوم قتل كړو:-** فرمان دې چه د دې واقعه نه پس دواړه يوځائ روان شو يوكلي كښې څوماشومانو لوبې كولې په دوى كښې يوډير تيز ډير ښكلې اوچالاك ماشوم وو هغه حضرت خضر عليه السلام راونيولو اود هغه سرئى په كاڼړى باندې مات كړو يا په لاس سره ئى سټ راتاوكړو ماشوم هم هغه وخت مړ شو. موسى عليه السلام اوړچيدلو او په ډيره سخته لهجه كښې نى اووئيل دا څه فضول كار دې ورو كې بې ګناه ماشوم دې بغيرد څه شرعى سبب نه اووژلوداكومه ښيګړه ده؟ بې شكه ته ډير منكر كار كوې.

د پنځلسمې سپارې تفسير ختم شو. **(الحمدلله)**

Scanned with Ca

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿۷۵﴾

هغه اووئيل ا ايا مانه وو وئيلى ا تاته ا چه بيشكه ته اهرگز طاقت نشې لرلې ا ما سره ا دصبر كولو ا

خضر ورته اووئيل چه ما درته (وړاندې) وئيلى نه وو چه ستا اشنا زما سره گزاره نشي كيدې

قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍۢ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ

اووئيل موسى اكه تپوس اوكړو ما ستا نه ا په باره ديوڅيز كښې ا پس ددې نه ا نوبيا مه ملګرې كوه ما

(موسى) اوفرمائيل(ښه) كه د دې نه پس ما ستا نه دڅه ځيز په باره كښې تپوس اوكړونو بيا ما خان سره مه

قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ﴿۷٦﴾ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ

(اوس خو) اورسيدو تاته ا د طرفه زما نه عذر ا نوبيا روان شو دواړه ا تردې پورې ا چه كله ورغلل دواړه

ملګرې كوه بيشكه زما په باره كښې به ته معذوره ئې ا بيا دواړه روان شول تردې چه يو كلي ته راغلل

اَهْلَ قَرْيَةِ ۨ اسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا فَاَبَوْا

ا خلقو ديو كلي ته ا نوخوراك اوغوښتودواړو ا داوسيدونكو دهغه كلي نه ا خوهغوئ انكار اوكړو

(دوى ورې شوى وو) نو د هغوى نه ئې روټۍ اوغښتله (چه مونږ مسافر يو ميلمستيا راكړئ) خو هغوئ

اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا

اچه ميلمستيا وركړي هغوئ دغه دواړو ته ا نوبياموندو دې دواړوا په دغه كلي كښې ا يوديوال

د دوى د ميلمستيا نه انكار اوكړو ا (خو د دې نه پس) دې دواړو په هغه كلي كښې يو ديوال بياموندلو

يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ؕ قَالَ لَوْ شِئْتَ

انزدې ووچه | چه راپريوزي | نوهغه اودرولوهغه ديوال | اووئيل موسى | كه اراده كړې وې تا

چه غورزيدو ته ورنزدې وو نو (خضرعليه السلام) هغه (ديوال) نيغ كړو ا نو موسى اوفرمائيل كه تا

لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ﴿۷۷﴾ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ

ا نوخامخا اخستې شوه تا په دې كار مزدوري ا اووئيل(خضر) ا دا جدائى ده ا په مينځ زما كښې

غوښتې وې نو په دې (ديوال نيغولو) به دې لږ ډيراجر اخستې وې | خضر اوفرمائيل دا زما او ستا په

وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ

او په مينځ ستا كښې ا او خبر به دركړم څه تاته ا په حقيقت ا دهغې كارونو ا چه طاقت اونه لرلې شو تا ا

مينځ كښې د جدائې موقع ده | اوس زه تاد هغه واقعاتو په حقيقت باندې خبروم اچه تا د هغې د برداشت

عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۷۸﴾

په هغې باندې ا دصبر كولو ا

كولو صبر نه لرلو ا

**قوله تعالى:- قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍۢ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ**

**د حضرت موسى عليه السلام معذرت:-** حضرت خضر عليه السلام په دې دويم ځل په تاكيد سره حضرت موسى عليه السلام دهغه منظوركړې شوى شرط خلاف كولوباندې خبرداري وركړو. ددې دپاره حضرت موسى عليه السلام هم يو بله لار اختياركړه او وئى فرمائيل ښه دا ځل مې هم پريږده كه بيا ما په تا باندې اعتراض اوكړو نو ته ما خپل



Scanned with Ca

خان سره مه پریږده. یقیناتاسو باربار ماته خبرداری راکړو اودخپل طرف نه مو هیڅ کمی نه دی پریخی. که دی خل می خطا اوکړه نو سزا به خورم.

ابن جریرکښې دی حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی رسول الله ﷺ ته به چه کله څوك یادراتلل اوهغه ته به ئی دعاغوښتله نواول به ئی خان ته کوله. یوه ورځ ئی فرمائیل چه په مونږ دې دالله ﷻ رحمت وی اوپه موسی ﷺ باندې افسوس چه هغه خپل ملګری سره صبرکړې وې اولږ نور هم حصار شوې وونور به هم حیرانونکی معلومات شوې وو ولې هغه خودې ویناکولو سره چهټی واخسته. چه که دې خل مې تپوس اوکړو نوما پریږده اوس په نور تکلیف کښې تا اچول نه غوارم.([1])

**دحضرت خضر ﷺ دیوال جوړول**:-د دویم خل دې واقعه نه پس بیا دواړه ملګری یوځائ شویوکلی ته اورسیدل روایت دې چه دا ایله کلې وواردې ځائ خلق ډیر بخیلان وو([2]) انتها داوه چه دوه اوګی مسافرد روټي په غوښتلو سره هم هغوی په دوی دخوراك کولو نه صفاانکار اوکړو. هلته ئی اوکتل چه یودیوال دې راپریوځی ځائ ئی بریخې دې اوټیټ شوې دې.د دیوال طرف ته د ارادې اسناد د استعارې په توګه دی. د هغې په لیدو باندې :ه ملا اوتړله اود سترګو په رپ کښې هغه مضبوط کړو او بالکل ئی صحیح کړو.

اول حدیث تیرشوې دې چه هغه په خپلودواړولاسونو باندې راواپس کړوګوګوالي ټیك شو دیوال نیغ شو. دې وخت کښې بیا کلیم الله ګویان شو چه سبحان الله دې خلقو خو زمونږ د خوراك قدرې تپوس اونه کړو او په غوښتلو باندې هم اوتختیدل اوس چه تاد دې خلقو دا مزدوری اوکړه په دې باندې څه اجرت ولې وانخستلو؟ کوم چه بالکل زمونږ حق وو. دې وخت کښې هغه د الله ﷻ بنده اووئیل چه ملګری اوس زمااوستاپه مینځ کښې داقرار مطابق پخپله جدائي اوشوه څکه چه د ماشوم په قتل کولو دې سوال کړې وو هغه وخت چه ما په دې غلطئی باندې اوټوکلې نوتا پخپله وئیلې ووکه دې خل مې د څه خبرې تپوس اوکړونو ته ما د خپل ځان نه جدا کړه. اوس واوره په کومو خبروچه تاد حیرانتیا سوال کړې وو او برداشت دې نه کړې شود هغې اصلی حکمت تاته ښکاره کوم.

| |
|---|
| اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ |
| ا هرچه هغه کشتئ وه ا نووه هغه ا دیو څوغریبانانوکسانو ا چه کار به کوؤ هغوئ ا |
| ا هغه بیړه (کومه چه ما ماته کړه) د څه غریبانانو وه چه هغوی به په هغې په دریاب |
| فِي الْبَحْرِ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ |
| په دریاب کښې ا نواراده اوکړه ما ا چه څۀ عیب ژنه کړم هغه ا او وؤ ا وړاندې دهغوئ ا یوبادشاه |
| دریاب کښې کار کولونو ما د دې وجې د هغې د خرابولو اراده اوکړه چه د هغوی نه وړاندې یو بادشاه |
| يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ |
| ا چه اخستله به ئې ا هره کشتئ ا په زور ا اوهر چه ووهغه هلک ا نو وؤ ا مور پلار دهغه ا مومنان |
| وو هغه به هره روغه بیړئ په زور سره اخستله ا اوهغه هلک (کوم چه ما قتل کړو) دهغه مورپلار مومنان |

([1]) صحیح مسلم کتاب الفضائل باب فضائل الخضر: ٢٣٨٠، ابوداؤد: ٣٩٨٤، السنن الکبری للنسائی: ١١٣١٠، ابن حبان: ٩٨٩.

([2]) احمد: ٥/١١٩، صحیح مسلم: ٢٣٨٠.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَخَشِينَآ | اَنْ يُّرْهِقَهُمَا | | | طُغْيَانًا | وَّكُفْرًا ﴿٨٠﴾ |

ا نو ویریدو مونږ ا چه تنګ به کړی هغوئ لره ا په سرکشئ خپلې سره ا او په کفر خپل سره

وو نو مونږ ته معلومه شوه چه په دغه دواړه مور پلار به دغه هلک د سرکشئ اوکفر اثر اوکړی

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَاَرَدْنَآ | اَنْ يُّبْدِلَهُمَا | رَبُّهُمَا | خَيْرًا | مِّنْهُ | زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ |

نو اراده اوکړه مونږ ا چه بدل ورکړی هغوئ ته ا رب د هغوئ ا بهتر ا په پاکئ کښې ا او زیات نزدې دې

نو مونږ اراده اوکړه چه د ده په ځائې به ورته الله ﷻ داسې اولاد ورکړی چه زیات پاکان او زیات

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| رُحْمًا ﴿٨١﴾ | وَاَمَّا الْجِدَارُ | فَكَانَ | لِغُلٰمَيْنِ | يَتِيْمَيْنِ |

په لحاظ دصله رحمئ سره ا او هر چه وو هغه دیوال ا نو وؤ هغه ا د دوؤ هلکانو ا یتیمانو

مینه ناک به وی ا او باقی پاتې شو هغه دیوال (کوم چه مونږ نېغ کړو) نو هغه په ښار کښې د دوو

**قوله تعالى:- اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ**

**کشتئ د یتیمانو ماشومانووه:-** خبره دا ده چه الله ﷻ حضرت خضر ﷺ په دې خبروباندې خبر کړې وو او هغه ته چه کوم حکم ملاوشوې ووهغه ئې پوره کړې وو. حضرت موسی ﷺ ته ددې راز علم نه وو په دې وجه به هغه دظاهر نه خلاف اوګنړلو اوپدې باندې به ئې انکار کولو. اوس حضرت خضر ﷺ په اصلي معامله باندې پوهه کړو. فرمائی چه کشتئ خرابولو کښې مصلحت دا ووکه چرته صحيح سالم تلې وه نو وړاندې یوظالم بادشاه وو چه هره یوه ښه او جوړه کشتئ به ئې په ظلم سره اخستله. کله چه هغه دا ماته ګوډه اووینی نودا به پریږدی اوکه داصحیح اوبرابره ثابته شوې وه نودا کشتئ به ددې مسکینانو نه تلې وه اودا دهغوی د رزق یوه ذریعه وه چه بالکل به تله. روایت دې چه د دې کشتئ مالکان یو څو یتیمان ماشومان وو. ابن جریج رحمه الله وائی چه د دې بادشاه نوم هددبن بدد وو. د بخاری شریف په حواله داروایت وړاندې تیرشوې دې([1])تورات کښې دی چه دادعیص بن اسحاق دنسل نه وو. په تورات کښې چه دکومو بادشاهانوواضحه ذکردې په هغوی کښې یو دې هم دې. والله اعلم.

**د ماشوم د قتل وجه:-** اول بیان تیرشوې دې چه د دې ځوان نوم جیسور وو په حدیث شریف کښې دی چه د ده په فطرت کښې کفروو.([2]) حضرت خضر ﷺ فرمائیل چه ډیر ممکن وو چه د دې ماشوم مینه د ده موریلار هم دکفر طرف ته مائل کړې وو. قتاده رحمه الله فرمائی چه ددې ماشوم په پیداکیدوباندې د ده مور پلار ډیرخوشحاله شوې وو اود ده په هلاکت سره هغوی ډیر زیات خفه شو سره د دې چه د ده ژوند د هغوی د پاره هلاکت وو.

**هر انسان رضا بالقضا پکار ده:-** نوانسان له پکاردی چه دالله ﷻ په قضادې د ده رضا وی. رب د یوخبرې انجام پیژنی اومونږ ددې نه غافل یو. د مؤمن چه کوم یوکاردخان د پاره خوښوی دهغه په خپله خوښه باندې هغه ښه دې اوچه کوم الله ﷻ د هغه دپاره خوښوی.([3])په صحیح حدیث کښې دی د مؤمن د پاره چه کومې فیصلې د الله ﷻ وی هغه بالکل د ده د پاره بهتر او ښکلې وی.([4])

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورت الکهف باب قوله(فلما بلغامجمع بینهماتسیاحوتهمافاتخذ سبیله...)٤٧٢٦.

[2]) صحیح مسلم کتاب القدر باب معنی کل مولد یولد علی الفطرة وحکم موتی اطفال الکفارواطفال المسلمین:٢٦٦١، ابوداؤد:٤٧٠، ترمذی٣١٥٠.

[3]) الطبری: ٨٦/١٨.

[4]) احمد:١١٧/٣وسنده حسن.

Scanned with Ca

په قرآن کریم کښې دی ﴿وَعَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾(۱) ډیر ممکن دی چه تاسو یو کار د خپل ځان د پاره خراب او نقصاني ګنړې او هم هغه ستاسو دپاره فائده مند او ښه وی. حضرت خضر علیه السلام فرمائی چه مونږ او غوښتل چه الله ﷻ هغه ته یو داسې ماشوم ورکړی چه هغه ډیر پرهیزګار وی او په کوم چه د مور پلار ډیره مینه وی یا دا چه خپل مور پلار سره ښه سلوك کوی. اول بیان شوې دې چه ددې ماشوم په بدله کښې الله ﷻ دوی ته یوه ماشومه ورکړه. روایت دې چه ددې ماشوم د قتل په وخت د ده د مور په حمل کښې یو مسلمان هلك وو او هغه حامله وه.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَاَمَّا الْجِدَارُ | فَكَانَ | لِغُلٰمَيْنِ | يَتِيْمَيْنِ | |
| او هر چه وو هغه دیوال | نو وؤ هغه | د دوؤ هلکانو | یتیمانو | |

او باقي پاتې شو هغه دیوال (کوم چه مونږ نیغ کړو) نو هغه په ښار کښې د دوو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فِى الْمَدِيْنَةِ | وَكَانَ تَحْتَهٗ | كَنْزٌ | لَّهُمَا | وَكَانَ | اَبُوْهُمَا |
| په دغه ښار کښې | او وه لاندې دهغې دیوال نه | خزانه | ددغه دوارو | او وؤ | پلار دهغوئ |

یتیمانو هلکانو وو او د هغې د لاندې د دغه دوارو خزانه وه (چه د هغوی پلار خښه کړې وه) او د هغوی

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صَالِحًا ۚ | فَاَرَادَ | رَبُّكَ | اَنْ يَّبْلُغَآ | اَشُدَّهُمَا | وَيَسْتَخْرِجَا | كَنْزَهُمَا ۖ |
| نیک سړې | انو اراده او کړه | رب ستا | چه اورسیږی دواړه | قوت خپل ته | او را او باسي دواړه | خزانه خپله |

دوارو پلار نیک وو نو ستا رب دا اراده او کړه چه دواړه بالغان شی نو دغه خزانه به راؤباسی

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| رَحْمَةً | مِّنْ رَّبِّكَ ۚ | وَمَا فَعَلْتُهٗ | عَنْ اَمْرِىْ ۭ | ذٰلِكَ | تَاْوِيْلُ | |
| داکار رحمت وو | د طرفه د رب ستا | او نه دې کړې ما دا کار | په اختیار خپل سره | دادې | حقیقت | |

دا هرڅه ستا د رب په مهربانئ کیدل او دا کارونه ما په خپل حکم نه دی کړی دا د هغه واقعاتو حقیقت

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مَا | لَمْ تَسْطِعْ | عَّلَيْهِ | صَبْرًا ۝ | |
| دغه کار | چه طاقت اونشو ستا | په هغې باندې | د صبر کولو | |

وو د کومو په برداشت کولو چه تا صبر نشو کولې

قوله تعالى:- وَاَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ

**دیوال د دوو ماشومانو یتیمانو وو:-** ددې آیت نه ثابتیږی چه په لوئی ښار باندې هم دکلی اطلاق کیدې شی خکه چه اول ﴿حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَيَاۤ اَهْلَ قَرْيَةِ﴾(۲) فرمائیلې وو او دلته ﴿فی المدینة﴾ او فرمائیلې شو. دغه شان مکه ته هم قریه یعنی کلې فرمائیلې شوې دې. ارشاد دې ﴿وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِىَ اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِىْۤ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ۝﴾(۳) په آیت کښې مکه او طائف دوارو ښارونو ته قریه فرمائیلې شوې ده. دغه شان ارشاد دې ﴿وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ۝﴾(۴) په آیت کښې بیان کولې شی چه په دې دیوال صحیح کولو کښې د الله ﷻ مصلحت دا وو چه دا د دې ښار د دوو یتیمانو وو او د دې لاندې د هغوی مال خښ

---

(۱) ۲/البقرة: ۲۱۶.
(۲) ۱۸/الکهف: ۷۷.
(۳) ۴۷/محمد: ۱۳.
(۴) ۴۳/الزخرف: ۳۱.

Scanned with Ca

وو(¹) صحیح تفسیرهم دا دې خوداهم روایت دې چه هغه علمي خزانه وه بلکه په یومرفوع حدیث کښې دی دکومې خزانې ذکر چه په کتاب الله کښې دې داخالص د سرو زرو تختئی وې چه په هغې لیکلي ووحیرانتیا ده په هغه سړی چه د تقدیرقائل کیدوسره خپل ځان په محنت او مشقت کښې اچوی او غم تکلیف برداشت کوی. حیرانتیاده په هغه سړی چه د دوزخ عذابونه منونکې وی بیاهم په خندا او لوبو کښې مشغول دې. حیرانتیاده چه د مرګ یقین لری او په غفلت کښې پروت دې"**لااله الاالله محمدرسول الله**"(²)داعبارت په دې تختوباندې لیکلې وو خو په دې کښې یو راوی بشربن منذر دې وئیلې شوی دی دادمصیصه قاضي وو.دده په حدیث کښې وهم دې.دسلفونه هم دده باره کښې بعضې آثار نقل دی.

حسن بصری رحمه الله فرمائی دا د سروزرو تختئی وې په کوم کښې چه "**بسم الله الرحمن الرحیم**" نه پس نیزدې نیزدې هم دا پورتنی نصیحتونه وو اوآخر کښې کلمه طیبه وه. د عمر مولی غفره رحمه الله نه هم تقریباًهم دا روایت دې. امام جعفربن محمد رحمه الله فرمائی په دې کښې دوه نیمې کرښې وې پوره درې نه وې. روایت دې چه دا دواړه یتیمان په وجه د خپلو اووم نیکه دنیکو محفوظ ساتلې شوې ووکومو بزرګانو چه دا تفسیرکړې دې هغه هم د اول تفسیرخلاف نه دی ځکه چه په دې کښې هم دی چه دا علمي خبرې د سرو زرو په تختو باندې لیکلې وې او ښکاره خبره ده چه د سرو زرو تختئی پخپله مال دې اود ډیرو پیسو څیز دې. والله اعلم.

د دې آیت نه دا هم ثابتیږی چه د انسان د نیکو په وجه د هغه بال بچ هم په دې دنیاکښې او هم په آخرت کښې د الله ﷻ مهربانی حاصلولې شی لکه چه قرآن اوحدیث کښې په وضاحت سره ذکر دی. ګورئی په آیت کښې د دې هیڅ صلاحیت نه دې بیان شوې. اود هغوی د پلار نیک بختی او نیک عملی بیان شوې ده او اول تیرشوی دی چه د دې پلار د نیکئی په وجه د دې حفاظت اوکړې شو. دا د دې ماشومانو اووم نیکه وو. والله اعلم.

**دې ایت کښې خاص الله ﷻ ته د نسبت وجه:**-په آیت کښې دی چه ستا رب غوښتل اسناد د الله ﷻ طرف ته په دې وجه اوکړې شو چه دځوانئی پورې رسولو باندې دهغه نه بغیرهیڅ څوک هم قادر نه دی. ګوره چه دماشوم باره کښې اود کشتئی باره کښې د ارادې نسبت خپل ځان طرف ته کړې دې. **(فاردنا)** او **(فاردت)** الفاظ دی. والله اعلم.

بیا فرمائی چه په اصل کښې دا دریواړه خبرې کومې چه تاخطرناکې اوګنړلې سراسر رحمت وو. کشتئی والا ته خو لږ شان نقصان اوشو خودې سره پوره کشتئی بچ شوه. دماشوم په مړه کیدو باندې مور پلار خفه شو خود همیشه د خفګان او د الله ﷻ د عذاب نه بچ شو او بیا د نیکئی بدله لاس په لاس ملاوشوه اودلته د هغه نیک سړی داولاد ښیګړه وه. دا کارونه ما د خپلې خوښئی نه نه دی کړی بلکه د الله ﷻ احکام مې په ځای راوړل.

**خضر علیه السلام نبی وو که وو ؟ اودده نوم:**-ددې نه بعضې خلقودحضرت خضر علیه السلام دنبوت استدلال کړې دې اوپوره بحث اول تیرشوې دې اوخلق وائی چه دې رسول وو.یوقول دا دې وو دا فرښته وه خود اکثرو بزرګانو فرمان دې چه دا و ولی الله وو.امام ابن قتیبه رحمه الله په معارف کښې لیکلی دی د هغه نوم بلیا بن ملکان بن فالغ بن عامر بن شالخ بن ارفحشد بن سام بن نوح وو. د هغه کنیت ابوالعباس دې لقب خضر دې. امام نووی رحمه الله په تهذیب الاسماء کښې لیکلی دی چه دا شهزاده وو.

---

(¹) الطبری:۱۸/۹۰.

(²) مسندالبزار:۲۲۲۹.

Scanned with Ca

**د خضر ؑ دحیات متعلق احادیث صحیح نه دی:**-دې اوابن صلاح رحمه الله خو قائل دې چه هغه تراوسه پورې ژوندې دې اودقیامت پورې به ژوندې وی.په بعضو احادیثوکښې هم دا ذکر راغلې دې خو په دې کښې یوهم صحیح نه دې. دټولونه زیات مشهور حدیث په دې باره کښې هغه دې په کوم کښې چه دی دحضورﷺ دپوښتنې دپاره هغوی تشریف راوړې وو.خوددې سندهم ضعیف دې.اکثر محدثین حضرات د دې خلاف دی اوهغوی دخضر د حیات قائل نه دی. دهغوی یودلیل د قرآن پاك آیت(٣٤)[1] یعنی تانه اول هم مونږ د همیشه د پاره چاته ژوندنه دې ورکړې اودلیل په غزوه بدرکښې د حضورﷺ دا ارشاد فرمائیل یاالله که چرې زما دا ډله هلاك کړې شوه نو په زمکه به بیاستا عبادت اونه کړې شي[2] یودلیل داهم دې که چرې حضرت خضر ؑ ژوندې وونودحضورﷺپه خدمت کښې به خامخ حاضریدلو اواسلام به ئې قبلولو اودحضورﷺ په صحابه کرامو ږ په ټولی کښې به ملاویدلوځکه چه حضورﷺ د ټولوانسانانو او پیریانوطرف ته رسول جوړکړې رالیګلې شوې وو.حضورﷺ خو تردې فرمائیلې دی که موسی ؑ اوعیسی ؑژوندې(په زمکه) وې نود هغوی هم بغیرزما د تابعدارنی بله لار نه وه. حضورﷺ د خپل وفات نه یو څوورځې وړاندې فرمائیل چه نن څوك په زمکه باندې دی د نن نه به سل کاله پس یو هم باقی نه وی.[3] دې نه علاوه نور هم ډیر دلائل دی.

**د خضر د نوم وجه:**-مسنداحمد کښې دی چه حضرت خضر ؑته په دې وجه خضر ونیلې شی چه هغه په سپین رنګ اوچو وابښو باندې ناست وو تردې چه د هغه لاندې شینکې راټوکیدو اوممکن ده چه دې نه مراد وی چه هغوی په اوچه زمکه ناست ووا‌و بیاهغه شنه خوزیدله.[4]غرض داچه کله حضرت خضر ؑ دحضرت موسی ؑ په وړاندې داپټ رازونه ښکاره کړل اوددې کارونو اصل حکمت ئې ورته بیان کړو نوونی فرمائیل دا هغه رازونه وو د کوم د ښکاره کولو د پاره چه تا تندی کوله. د اول نه شوق او مشقت زیات وو د دې دپاره لفظ ﴿لم تستطع﴾ اونیلې اواوس د بیان کولونه پس هغه خبره پاتې نه شوه نو لفظ ﴿لم تسطع﴾ ئې اوونیل.هم داصفت په آیت ﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ﴾[5] کښې دې یعنی یاجوج ماجوج نه په دې دیوال ختلې شی اونه په دې کښې څه سورې کولې شی په ختلوکښې تکلیف د سورې کولو په نسبت کم دی ځکه چه د ثقیل مقابله په ثقیل سره او د خفیف مقابله په خفیف سره اوکړې شوه او لفظی اومعنوی مناسبت قایم شو.والله اعلم. دحضرت موسی ؑ د ملګری ذکرخودقصه په اول کښې ووخوبیانه ځکه چه مقصد د حضرت خضر ؑ او حضرت موسی ؑ واقعه بیانول وو.

په احادیثوکښې دی چه د موسی ؑ هغه ملګرې حضرت یوشع بن نون ؑ وو. هم دې دحضرت موسی ؑ نه پس د بنی اسرائیلو والی جوړکړې شوې وو. په یوروایت کښې دی هغه آب حیات څکلې ووددې دپاره ئې هغه په یوه کشتئی کښې کینولو اود سمندرپه مینځ کښې ئې پریخودو. هغه کشتئی به هم داسې د د چپو په تلاطم کښې وی. دا بالکل ضعیف دې ځکه چه د دې په راویانوکښې یوخو حسن بن عماره دې چه متروك دې اودویم د ده پلار دې چه غیرمعروف دې دا واقعه سندا ټیك نه ده.

---

[1] ٢١/الانبیاء:٣٤.

[2] صحیح مسلم کتاب الجهاد باب الامداد بالملائکة فی غزوة بدر وإباحة الغنائم:١٧٦٤.

[3] صحیح بخاری کتاب العلم باب سمر فی العلم:١١٦، صحیح مسلم:٢٥٣٧، ابوداؤد:٤٣٤٨، ترمذی:٢٢٥١،احمد:٨٨/٢

[4] صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب حدیث الخضر مع موسی علیهما السلام٣٤٠٢، ترمذی:٣١٥١، احمد:٣١٢/٢، ابن حبان:٦٢٢٢.

[5] ١٨/الکهف:٩٧.

Scanned with Ca

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ

اوتپوس کوي دا خلق ستانه | په باره دذوالقرنين کښې اورته اووايه | زر به واورم | تاسوته په باره دهغه کښې

او دوی ستا نه د ذوالقرنين په باره کښې تپوس کوي | ته (ورته) اووايه چه زه به تاسوته د هغه

ذِكۡرًا ۝ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ۝

څه حال | بيشکه مونږ | طاقت ورکړې وو | هغه ته | په زمکه کښې | او ورکړې وو مونږ هغه ته | د هر څيز نه | وسائل

(د ژوند) څه حالات بيان کړم | مونږ هغه ته په زمکه کښې بادشاهي ورکړې وه | او هغه ته مو د هر (هغه) څيز نه سامان ورکړې وو (چه ضرورت ورته پيښيدې

قوله تعالى:- وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ

**د حضرت ذوالقرنين واقعه:-** اول تيرشو چه دمکې کافرانو اهل کتابوته وئيلي وو چه مونږ ته څه داسې خبرې اوښائې چه مونږ ئې دحضرت محمد ﷺ نه معلومات اوکړو او دهغې جواب مونږ ته رانه کړې شي نوهغوی ورخودلي ووچه د هغه نه د هغه سړي واقعه تپوس اوکړئ چه ددنياسيل ئې کړې وو. بل سوال د هغه نه دهغه خوانانو متعلق اوکړئ چه بالکل ورك شوي وو او دريم سوال دهغه نه د روح باره کښې اوکړئ. دهغوی ددې سوالونو په جواب کښې داسورت کهف نازل شو. دا هم روايت دې چه د يهوديانو يوه ډله دحضور ﷺ نه د ذوالقرنين باره کښې دقصه معلومولود پاره راغلې وه. نوحضور ﷺ هغوی ته په کتلو سره اوفرمائيل چه تاسو دې له راغلي ئې بيا حضور ﷺ هغه واقعه بيان کړه. دې کښې دی چه هغه يو رومي خوان وو هغه اسکندريه جوړه کړه. هغه له يوه فرښته تر آسمانه پورې د ختلو د پاره راغلې وه اود ديوال پورې ئې بوتلي وو. هغه څه خلق اوليدل چه د هغوی خُلې د سپو په شان وې. وغيره خوېه دې کښې ډير اوږدوالي دې اونکارت هم دې اودا ضعيف دې. د دې مرفوع کيدل ثابت نه دی او په اصل کښې دا د بني اسرائيلو واقعات دی.

**ذوالقرنين څوک دې؟:-** حيرانتياده چه داامام ابوزرعه رازي غوندې دزمانې علامه داپه خپل کتاب دلائل نبوت کښې پوره وارد کړې دی. في الواقع دا بيان د داسې بزرګ د حيرانتياځيز خو دې چه دا رومي ووخوداتيك نه دی چه اسکندر ثاني هم رومي وو هغه د فيلپس مقدوني خوئ دې د چا نه چه د روم تاريخ شروع کيږي او اسکندر اول خو د ازرقي وغيره په قول د حضرت ابراهيم عليه السلام په زمانه کښې وو. هغه حضرت ابراهيم عليه السلام سره د بيت الله د جوړولونه پس د بيت الله طواف اوکړو او په هغوی باندې ئې ايمان راوړې وو د هغوی تابعدار جوړشوې وو او د ده وزير حضرت خضر عليه السلام وو د اسکندرثاني وزير ارسطاطاليس مشهور فيلسوفي وو. والله اعلم. د هغه د مملکت روم تاريخ اوليکلو دا د حضرت مسيح عليه السلام نه تقريبا درې سوه کاله وړاندې وو او اسکندر اول د کوم ذکر چه په قرآن کريم کښې دې دا د حضرت ابراهيم عليه السلام په زمانه کښې وو کوم چه ازرقي وغيره ذکر کړې دې. کله چه حضرت ابراهيم عليه السلام بيت الله شريف جوړ کړو نوهغه ابراهيم عليه السلام سره طواف کړې وواود الله ﷻ په نوم ئې ډيرې قربانئ کړې وې. مونږ د الله ﷻ په فضل سره د ده ډير واقعات خپل کتاب البدايه والنهايه کښې ذکر کړی دی.

**د ذوالقرنين د تسميه وجه:-** وهب رحمه الله وائي دابادشاه وو دهغه د سردواړوطرفوته به تانبه وه په دې وجه هغه ته ذوالقرنين اووئيلې شو اودهغه دسر يوطرف وهلې شوې وونوشهيد کړې شو الله ﷻ بيا راژوندې کړو قوم بيا د سر بل طرف دومره اووهلو په څه سره چه هغه بيا مړشو نو ځکه ده ته ذوالقرنين وائي. حضرت علي رضي الله عنه فرمائي چه د دې نوم وجه دا ده چه ده د مشرق نه ترمغرب پورې سيل کړې وو. په دې وجه هغه ته ذوالقرنين وئيلې شي. مونږ هغه ته ډيره لويه بادشاهي ورکړې وه. دې سره د لښکرقوت او

Scanned with Ca

د جنګ سامان هرڅه مو ورکړې وو د مشرق نه ترمغرب پورې د هغه سلطنت وو، عرب او عجم ټول د ده ماتحت وو. هغه ته د هرڅيز علم ورکړې شوې وو دزمکې اعلى اوادنى نښې ورته خودلې شوې وې[1] په ټولو ژبو باندې پوهيدلو کوم قوم سره چه به ئې جنګ وو په هغه ژبه به پوهيدلو. يوځل د حضرت کعب احبار ﷺ ته حضرت اميرمعاويه ﷺ فرمائيلې وو آياته داوائې چه ذوالقرنين خپل اس د ثريا سره تړلې وو؟ هغه جواب ورکړو که چرې تاسودا فرمائې نوواوره الله ﷻ فرمائيلى دى چه مونږ هغه ته دهرڅيزسامان ورکړې وو. په حقيقت کښې معاويه ﷺ پدې کښې په حقه وو ددې دپاره هم چه حضرت کعب ﷺ ته کوم څه هم چرته ليکلې ملاويدل هغه به ئې روايت کول که هغه دروغ ولې نه وى. په دې وجه هغه فرمائيل چه د کعب دروغ خو څو ځل مخې ته راغلى دى يعنى پخپله خو به ئې دروغ نه سازول کوم روايت چه به ورته ملاويدلو نو که هغه به بې سند وو نو هم به ئې بيانولو. اودا خو ښکاره خبره ده چه دبنى اسرائيلو روايات د ځان نه خبرو تحريف نه بدلون نه محفوظ نه وو. خبره دا ده چه مونږ ته ددې اسرائيلى رواياتوطرف ته توجه کولو څه ضرورت دې؟ سره ددې چه زمونږ په لاس کښې د الله ﷻ کتاب اودرسول الله ﷺ ربښتونى او صحيح احاديث موجود دى.

**داسرائيلى رواياتو خرابى:**-افسوس دې اسرائيلى رواياتو په مسلمانانوکښې ډيرې خرابئ اچولې دى او ډير فساد ئې خورکړې دې. حضرت کعب ﷺ چه د دې اسرائيلى رواياتو په ثبوت کښې د قرآن پاك دا آيت کوم آخرى حصه پيش کړې ده داهم څه ټيك نه دى ځکه چه داخو بالکل ښکاره خبره ده چه يو انسان ته هم الله ﷻ د آسمانونو او ثريا پورې د رسيدلو طاقت نه دې ورکړې. اوګورئ دبلقيس متعلق هم قرآن دا الفاظ وئيلى دى ﴿وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ﴾[2] هغې ته هرڅيز ورکړې شوې وو. دې نه هم مرادصرف دومره قدرې دې چه بادشاهانو سره په عام توګه کوم څه وى هغه ټول دې سره هم وو. دغه شان حضرت ذوالقرنين ته الله ﷻ ټولې لارې او ذرائع ورکړې وې چه هغه خپلو فتوحاتو ته وسعت ورکړې اوزمکه د سرکشو اوکافرانو نه خالى کړى اود هغه د توحيد سره د موحدينو بادشاهى په دنيا کښې خوره کړى اود الله ﷻ والا حکومت کلك کړى. په دې کارونوکښې چه د کوم څيز ضرورت وو الله ﷻ هغه ټول ذوالقرنين ته ورکړې وو. والله اعلم. حضرت على ﷺ نه تپوس کولې شى چه دې مشرق او مغرب ته څنګه اورسيدلو؟هغوى اوفرمائيل سبحان الله الله ﷻ اوريځې دهغه د پاره مسخر کړې وې او ټول اسباب ئې هغه ته ورکړې وو او پوره قوت او طاقت ئې ورکړې وو.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَاَتْبَعَ | سَبَبًا﴿٨٥﴾ | حَتّٰٓى | اِذَا | بَلَغَ | مَغْرِبَ الشَّمْسِ |
| نو روان شو (مغرب ته) | په يولار | ترديې پورې | چه کله | اورسيدو هغه | ځائې د ډوبيدو دنمرته |

نوهغه (مغرب طرف ته) روان شو تردې چه هغه ځائې ته اورسيدو چرته چه نمر ډوبيدلو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَجَدَهَا | تَغْرُبُ | فِىْ عَيْنٍ | حَمِئَةٍ | وَّوَجَدَ | عِنْدَهَا |
| نوبيا ئې موندو هغه نمر | چه ډوبيږى | په چينه کښې | دتورو ختو | اووې موندو | هلته دهغه چينې سره |

څه ګورى چه هغه نمر د تورو ختو په يوه چينه کښې ډوبيږى او دهغې (چينې) سره ئې څه خلق بيا مندل

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قَوْمًا ۬ۥ | قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ | اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ | وَاِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ | فِيْهِمْ | |
| يوقوم | اووئيل ذوالقرنين | يا که ته عذاب ورکوې (دوى ته) | اويا که اختيار وې ته | په دوى کښې | |

(دهغه خلقو به پاره کښې) مونږ ورته اووئيل يا خو ته (دوى ته) عذاب ورکړه او يا دوى سره ښه سلوك

[1] الطبرى:١٨/٩٤.
[2] ٢٧/النمل:٢٣.

Scanned with Ca

حُسْنًا۝ قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ
|ښه طريقه| اوونيل هغه | هرچه وى | هغه څوک | چه ظلم ئې کړې وى |نوزر ده چه
اوکړه | هغه (ذوالقرنين) اوونيل چا چه (په شرک کولو سره په خپل ځان) ظلم اوکړو| نو زرده چه
نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ
|عذاب به ورکړو مونږهغه ته| بيا به واپس کړې شى|رب خپل ته |نوهغه به عذاب ورکړى هغه ته
مونږ به ورته عذاب ورکړو| او بيا به خپل رب ته واپس شى | نو هغه به ورته (د هغه د عمل مطابق)
عَذَابًا نُّكْرًا۝ وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨالْحُسْنٰى ۚ
عذاب سخت|اوهرچه وى هغه څوک | چه ايمان ئې راوړو| اوعمل ئې اوکړو نيک| نوهغه لره جزاء نيکه ده
سخت عذاب ورکړى | اوچا چه ايمان راوړلو او نيک عمل ئې اوکړو| نو دهغه دپاره ښکلې بدله ده
وَسَنَقُوْلُ لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا۝
|اووايو به مونږ| هغه ته |په کار خپل کښې| داسان (کار) |
اومونږ به هغه ته په خپلو کارونو کښې د اسان کار اووايو|

**قوله تعالى:-حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ**

**ذوالقرنين دنمر د ډوبيدو ځائې ته اورسيدلو:**-ذوالقرنين په يوه لار اولګيدلو اود زمکې يوطرف ته يعنى مغرب طرف ته لاړو([1])کومې نښې چه په زمکه وې دهغې په امداد لاړو ترکومې پورې چه دمغرب طرف ته تلې شو لاړو تردې چه دنمر د ډوبيدو ځائ ته اورسيدو.اوپه دغه طرف باندې په زمکه تلل ممکن دى اوذوالقرنين اورسيدلو.اودا چه کومې قصې مشهورې دى چه د نمر د ډوبيدو د ځائ نه هم وړاندې شو اونمر دهغه شاته په مودو پورې ډوبيدو. پاتې شوې دابې بنياده خبرې اوداعموماداهل کتابو خرافات دى اوپه دې کښې هم د بددينه خلقو د ځان نه خبرې دى اوصرف دروغ بې لګنى دى.

**نمر کوم ځائې کښې ډوبيږى:**-غرض داچه کله دمغرب آخرى طرف ته اورسيدلو نودا معلومه شوه لکه چه په بحر محيط کښې دا نمر ډوبيږى. څوك هم چه د سمندرپه غاړه ولاړوى او نمر په ډوبيدو باندې اووينى نوپه ظاهره به هم دا نظاره د هغه په وړاندې وى لکه چه نمر په اوبوکښې ډوبيږى. حالاتکه دا نمر په څلورم آسمان باندې دې اودې نه کله هم نه جدا کيږى.**(حمئة)** ياخو مشتق دې د **(حمأة)** نه يعنى متينه ختيه. د قرآن آيت **( اِنِّىْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ۝ )**([2]) کښې د دې بيان تيرشوې دې. هم دا مطلب د حضرت ابن عباس ﷛ نه په اوريدو باندې نافع ﷬ واوريده چه حضرت کعب ﷛ فرمائيل چه ته زمونږ نه د قرآن پاك زيات عالم نې خو زه په کتاب کښې ګورم چه هغه به د تور رنګ په خاوره کښې ډوبيدو په يوقراءت کښې **(فى عين حامية)**دې يعنى په ګرمه چينه کښې ډوبيدل ښکاره شو. دا دواړه قراءتونه مشهوردى او دواړه ټيك دى. كه هريوقراءت اولولى خود دې په معنى کښې هم لږ والې نشته ځکه چه د نمردنيزديکيدو په وجه اوبه ګرمې وى اود هغه ځائ د خاورې د تور رنګ په وجه د دغه اوبو رنګ د ختو په شان وى. حضور ﷺ يوځل نمر په ډوبيدو ليدو سره اوفرمائيل که د الله ﷻ په سورکړې شوى اور کښې د د هغه په حکم سره د ده تاؤ کم شوې نه وو نوده به د زمکې ټول څيزونه

---

[1] الطبرى:١٨/٩٥.
[2] ١٥/الحجر:٢٨.

Scanned with Ca

سیزلي وو([1])ددې په صحت کښې نظردې.(په مرفوع کیدوکښې)ډیرممکن دی چه دادعبدالله بن عمرو ﷺ خپل کلام وی اود هغه دوو تیلودکتابونونه اخستې شوې وی چه هغه ته په یرموك کښې ملاوشوې وې. والله اعلم.

ابن ابی حاتم کښې دی چه یوځل حضرت امیرمعاویه بن ابی سفیان ﷺد سورت کهف هم دا آیت تلاوت کړونوهغوی ﴿عين حامية﴾اولوستلوېدې باندې حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه مونږخو﴿حمئة﴾ لولو. حضرت معاویه ﷺ دحضرت عبدالله بن عمرﷺ نه تپوس اوکړوتاسونی څنګه لولئی؟ هغوی جواب ورکړو چه څنګه ئی تاسو لولئی. په دې باندې حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائیل زما په کورکښې قرآن کریم نازل شوې دې . حضرت معاویه ﷺ حضرت کعب ﷺ له سړې اولیګلوچه اوښایه نمر کوم ځائ پریوځی؟ په تورات کښې د دې متعلق څه شته؟ حضرت کعب ﷺ جواب ورکړو دا د عربیت والا نه تپوس کول پکار دی هم هغوی د دې پوره عالمان دی اوپه تورات کښې خوما دا لیدلی دی چه هغه په اوبو اوخاوره کښې یعنی په چقړو کښې پټیږی اود مغرب طرف ته ئی په خپل لاس سره اشاره اوکړه. دا ټوله قصه اوریدو سره ابن حاضر اووئیل چه که زه دغه وخت کښې موجود ووم نو: دې په تائیدکښې به مې دتبع دوه دوه شعرونه لوستل په کوم کښې چه هغه د ذوالقرنین ذکر کولوسره وئیلی چه هغه د مغرب اومشرق پورې اورسیدلو ځکه چه الله ﷻ کریم ذات هغه ته هرقسم سامانونه ورکړې وو. هغه اوکتل چه نمر د تورې خاورې په شان چقړوکښې ډوبیدونکې ښکاری. ابن عباس ﷺ اوفرمائیل په دې شعرکښې درې الفاظ دی خلب ثاط او حرمد. ددې څه معنی ده؟ وئی خاوره چقړې اوتورې. هم هغه وخت حضرت عبدالله ﷺ خپل غلام یابل سړی ته اوفرمائیل څه چه وائی لیکه. یوځل دابن عباس ﷺ د سورت کهف تلاوت حضرت کعبﷺ واوریدواوچه کله هغوی ﴿حمئة﴾ اولوستلونو اووئیل والله چه څنګه په تورات کښې دی هم هغه شان ما ستاسو نه واوریدو په تورات کښې هم دا دی چه هغه په توررنګ چقړوکښې ډوبیږی. یوښار وو چه ډیر لوئ وو دهغې دولس زره دروازې وې که هلته شورزوګ نه وی نو څه عجیبه ده چه خلق به د نمر د ډوبیدو آواز هم واوری. هلته هغه یوډیر لوئ امت آباد اولیدلو الله ﷻ دهغې په اوسیدونکو باندې هم هغوی ته غلبه ورکړه اوس دهغوی په اختیار کښې ووچه په هغوی باندې ظلم اوجبر اوکړی یا په هغوی کښې عدل اوانصاف اوکړی په دې باندې ذوالقرنین دخپل عدل اوانصاف ثبوت ورکړو اوعرض ئی اوکړو چه کوم سړې په خپل کفر اوشرك باندې کلك وی نو مونږ به سزا ورکوو په قتل اوتباهئی سره یا به د تانبې لوښې ګرم کړو په اور او په هغې کښې به نی واچوو. هم هلته به مردار شی یادا چه د سپیانو په لاس به ورته سخته سزا ورکړو.والله اعلم.او چه بیا کله هغه د خپل رب طرف ته واپس کولې شی نو هغه به هغوی ته ډیرسخت او دردناك عذاب ورکوی. د دې نه د قیامت د ورځ ثبوت هم کیږی. څوك چه ایمان راوړی اوزمونږ د توحید دعوت قبول کړی د الله ﷻ نه بغیردنورود عبادت نه لاس واخلی هغه له به الله ﷻ بهترین بدله ورکوی او پخپله به مونږ هم دهغه عزت کوو او ښه خبره به ورته کوو.

| سَبَبًا ﴿٨٩﴾ | أَتْبَعَ | ثُمَّ |
| --- | --- | --- |
| په بله لار | روان شو (مشرق ته) | بیا |
| بیا ذوالقرنین په یوه بله لار روان شو | | |

[1] احمد:۲/۲۰۲، الطبری:۱۶/۱۲، مجمع الزوائد:۸/۱۳۱،

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| حَتّٰٓى | اِذَا | بَلَغَ | مَطْلِعَ الشَّمْسِ | وَجَدَهَا | تَطْلُعُ |
| تردي پورې | چه كله | اورسيدو هغه | ځاني د راختلو دنمر ته | بيا موندو هغه نمر | چه راخيژي |

تردې چه د مشرق آخرى حد ته اورسيدو نو څه گورى نمر په داسې خلقو راخيژي چه د هغوى اونمر په

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عَلٰى قَوْمٍ | لَّمْ نَجْعَلْ | لَّهُمْ | مِّنْ دُوْنِهَا | سِتْرًا ۙ |
| په يو داسې قوم باندې | چه نه وه جوړه كړې مونږ | دپاره دهغوى | لاندې دهغې (نمرنه) | څه پرده |

مينځ كښې مونږ هيڅ پرده نه وه گرځولې (بلكه نمر به په هغوى باندې مخامخ لگيدلو)

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| كَذٰلِكَ ؕ | وَقَدْ اَحَطْنَا | بِمَا | لَدَيْهِ | خُبْرًا |
| دا رنگې حال وو (دهغوى) | او احاطه كړې وه مونږ | په هغه څه | چه وو دهغوى سره | په حيثيت دخبردارئ |

هم دغه شان وه او د هغه (ذوالقرنين) سره چه (د حكومت د ضرورياتو كوم) څيزونه وو هغه مونږ ته معلوم وو

**قوله تعالى:- ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا**

**ذوالقرنين د نمر دراختلوځائې ته اورسيدلو:-** ذوالقرنين د مغرب نه بيا مشرق ته لاړو په لاركښې چه به كوم خلق ملاويدل دالله ﷻ دعبادت اودهغه دتوحيد دعوت به ئې وركولو. كه هغوى به قبلولو نو ډيره ښه ده كنې هغوى سره به جنگ كيدلو هغوى به بيللواو د دوى ماتحت به راتلل اودهغه ځائ مال متاع او څاروى وغيره به ئې ځان سره بوتلل او وراندې كيدل به. په اسرائيلى خبروكښې دى چه هغوى يوزر او شپږ سوه كاله ژوندې وو اوبرابر په زمكه باندې دالله د تبليغ په سلسله كښې وواودې سره ئې بادشاهى هم خوريدله. كله چه هغوى د نمر د راوتلوځائ ته اورسيدلوهلته ئې اوكتل چه يوكلې آباد دې خود هغه ځائ خلق نيم ځناوران شان دى نه هغوى كورونه جوړوى اونه هلته څه ونې شته د نمر د تاؤ نه هلته څه څيز په نظر نه راځى. دهغوى رنگونه سره وو ټيټ قدونه ئې وو اوعام خوراك د هغوى كب وو.

**نمر چرته نه راخيژى؟:-** حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى چه د نمر د راختلوپه وخت كښې هغه به په اوبوكښې تللو د ډوبيدو په وخت كښې به لكه د ځناورو يوخوابله خواكيدل. د قتاده رحمه الله قول دې چه هلته خو څه راټوكيدل نه. د نمر د راوتلو په وخت كښې به هغوى اوبوته تلل اود زوال په وخت كښې به هغوى په خپلو پټو وغيره كښې مشغول كيدل.[1] د سلمه رحمه الله قول دې چه د هغوى غوږونه لوئ لوئ وو يوبه ئې خورولو او بل به ئې اغوستلو. قتاده رحمه الله وغيره وائى چه دا وحشى حبشيان وو.

ابن جرير رحمه الله فرمائى چه هلته چرته كور ديوال ياراگيرونكې څيز نه وو جوړشوې. د نمر د راختلو په وخت كښې به دا خلق په اوبوكښې ننوتل هلته چرته غر هم نشته. اول په يووخت كښې هغوى له لښكر اورسيدلونوهغوى دوى ته اووئيل چه گورئ چه د نمر د راوتلو په وخت كښې مه حصاريږئ خو هغوى وئيل چه نه مونږخو به هم شپه په شپه ددې ځائ نه خو خوداخو راته اوښائې چه دادهډوكې پرقيدونكې ډيرې ځنگه دې؟ هغوى وئيل چه دلته يولښكرراغلې وو د نمر د راوتلو په وخت كښې هغوى دلته حصارشو نو ټول مړه شو. دا د هغوى هډوكى دى دې اوريدو سره هغوى د هغه ځايه واپس لاړل. بيا فرمائى چه دذوالقرنين اودهغه د ملگرو هيڅ حركت خبرې تگ راتگ زمونږ نه پټ نه وو. د هغه لښكر

[1] الطبرى:١٨/١٠٠.

Scanned with Ca

وغيره ډيرزيات وودزمكې په هره يوه حصه كښې خواره شوي وو خوزمونږ علم په اسمان او زمكه باندې حاوي دې زمونږ نه هيڅ هم پټ نه دي.([1])

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ

| بيا | روان شو (غرونوته) | په بله لار | تردې پورې | چه كله | ا ورسيدو هغه | مينځ د دوو غرونو ته

بيا هغه په بله لار روان شو تردې چه هغه د دوو غرونو مينځ كښې خائې ته اورسيدو (چه دره ورته وائي)

وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾

| نوبيامونډو هغه | اخواه د دغه دواړو غرونو نه | څه خلق | چه نزدې نه وو | چه پوهه شي | په څه خبره |

نو دهغې نه اخوا ئې داسې خلق بيا مونډلو چه قريب نه وو چه په څه خبره باندې پوهه شوي وو

قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ

اووئيل هغوئ | ائې ذوالقرنين | بيشكه ياجوج | اوماجوج | فساد كونكي دى | په زمكه كښې

هغوي اووئيل اې ذالقرنين ياجوج اوماجوج په دې زمكه كښې ډيرخرابي كوي (اومونږ دهغوي د مقابلې وس نه لرو)

فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا

| نوايا مقرر كړو مونږ | تالره | ټكس (محصول) | په دې كار | چه ته جوړ كړې | په مينځ زمونږ

نوايا مونږ ستا دپاره څه چنده راجمع كړو چه ته زمونږ او د هغوي په مينځ كښې څه بند جوړ كړې

وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ

| اوپه مينځ دهغوئ كښې | يو بند | اووئيل هغه | هغه څه | چه اختيار را كړې دې ماته | په هغې كښې

ذوالقرنين اووئيل الله ﷻ چه ماته كوم مال دولت راكړې دې هغه ډير ښه دې

رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ

| رب زما | (هغه) كافي دې | پس امداد اوكړې زما | په محنت سره | جوړوم زه | په مينځ ستاسو

(زما ستاسو چندې ته څه ضرورت نشته البته) ما سره د متو په زور سره مدد اوكړئ نو زه به ستاسو

وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا

| او په مينځ دهغوئ كښې | يو ديوال (بند) | راوړئ ماته | تختې د اوسپنې | تردې پورې | چه كله

او د هغوي په مينځ كښې يو ديوال اووهم بس ماته د اوسپنې تكړې راكوئ (هغوي وركول شروع كړل

سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا ۖ حَتَّىٰ إِذَا

| هغه برابر كړو | مينځ د دواړو غرونو | نواووئيل هغه | چه اوپوكئ اور | تردې پورې | كله چه

تردې چه د دواړو غرونو په مينځ كښې ئې برابر كړونو هغه حكم اوكړو چه پوك په اووهئ تردې چه

جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ

| هغه اوګرځوي (داوسپنې ديوال) | پشان د اور | اووئيل ذوالقرنين | راوړئ ماته | چه واړوم څه | په دې باندې

ئې د اور غوندې سور كړلو (د دې نه پس ذوالقرنين) اووئيل چه (اوس) وټيلې شوې تانبه راوړئ چه زه

([1]) الطبرى: ١٨/١٠١.

Scanned with Ca

| |
|---|
| قِطۡرًا ﴿٩٦﴾ |
| اوبلي كړې شوې تانبا |
| د دې دپاسه واچوم |

**قوله تعالى:-** حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيۡنَ السَّدَّيۡنِ

**ذوالقرنين دوو ديوالونوله اورسيدو:-** خپل دمشرق سفرئې ختم كړونو ذوالقرنين د هغه ځايه د شمال طرف ته يوه لار اونيوله چه وئې كتل دوه غرونه وو چه په خپلو كښې يوځائ شوي ووخودهغوي په مينځ كښې يوه لار وه دكوم ځائ نه چه به ياجوج اوماجوج راوتل اوپه تركيانوباندې به ئې تباهي اچوله هغوي به ئې قتل كول پټي باغونه به ئې تباه كول بال بچ به ئې ورله هم هلاك كولو او سخت فساد به ئې پيداكولو.

**ياجوج ماجوج هم انسانان دي:-** ياجوج ماجوج هم انسانان دي لكه چه د بخاري او مسلم د حديث نه ثابت دي. رسول الله ﷺ فرمائي الله ﷻ به حضرت آدم ﷺ ته اوفرمائي اې آدم! هغه به په لبيك او سعديك سره جواب وركوي. حكم به اوشي چه د اُورحصه جدا كړه تپوس به كوي څومره حصه؟ حكم به اوشي په هرو زروكسانو كښې نهه سوه او يوكم سل په دوزخ كښې او يو په جنت كښې. هم دغه به هغه وخت وي چه ماشومان به بوډاګان شي اودهرې يوې حمل والا ښځې حمل به پريوځي. بيا حضور ﷺ فرمائي په تاسو كښې دوه امتونه دي چه هغه په چا كښې هم وي نو هغوي ته به كثرت رسوي. يعني ياجوج ماجوج.[1] امام نووي رحمه الله شرح صحيح مسلم كښې يوه عجيبه خبره ليكلې ده. هغه ليكي د حضرت آدم ﷺ خاص اوبو يوڅوقطرې كومې چه په خاوره كښې پريوتلې وې هم د هغې نه ياجوج اوماجوج پيداكړې شوي دي نولكه هغوي د حضرت آدم ﷺ اوحضرت حوا بي بي د نسل نه نه دي بلكه د آدم ﷺ دنسل نه دي. خودا ياد ساتئي چه دا قول ډير غريب دې نه په دې باندې څه عقلي دليل شته اونه نقلي اوداسې خبرې چه داهل كتابونه رارسي هغه دِمنلوقابلې نه دي بلكه هغوي سره داسې ملاوتې اوبناوټي قصې دې والله اعلم. مسنداحمد كښې حديث دې دحضرت نوح ﷺ درې ځامن وو سام حام اويافث؟ دسام د نسل نه ټول عرب دي اود حام دنسل نه ټول حبشان دي اود يافث دنسل نه ټول ترك دي.[2] دبعضو علماؤ قول دې چه ياجوج اوماجوج هم دتركوداعلى نيكه يافث اولاد دې. دوي ته ترك په دې وجه ونيلې شوي دي چه هغوي دخپل فساد اوشيطانوپه وجه دانسانانودنورې ابادئي نه شاته په غورونوكښې پريخودې شوي وو.

**د ذوالقرنين دسفر واقعات:-** امام ابن جرير رحمه الله دذوالقرنين دسفرمتعلق اود هغه ديوال متعلق اود ياجوج ماجوج د بدنونو دهغوي دشكلونو غوږونو وغيره متعلق د وهب بن منبه نه يوه ډيره اوږده واقعه په خپل تفسير كښې بيان كړې ده چه دعجائبو او غرائبونه علاوه دصحت نه هم لرې ده.ابن ابي حاتم كښې هم داسې ډير واقعات دي خوټول غريب او غير صحيح دي. د دې غرونو په دره كښې ذوالقرنين د انسانانو يوه آبادي اوليدله چه په وجه د لريوالي د نورو خلقو ددنيا اود هغوي خپله يوه خاص ژبه چه دنوروژبه باندې هم نه پوهيدل. دې خلقود ذوالقرنين قوت طاقت عقل اوهنركتلوسره هغه ته درخواست اوكړو كه ته رضامندئې نو مونږ به تاله ډير زيات مال راجمع كړو اوتاسو ددې غرونو په مينځ كښې دا دره په يومضبوط ديوال سره بندكړئې چه مونږ د دې فسادیانو د هرې ورځ تكليفونو نه بچ شو. ددې په

[1] صحيح بخاري كتاب الرقاق باب ﴿إن زلزلة الساعة شئ عظيم﴾ :٦٥٣٠، صحيح مسلم:٢٢٢، ترمذي:٣١٦٩، احمد:٣٢/٣.
[2] احمد:١١/٥، ترمذي كتاب تفسير القرآن باب ومن سورة والصافات:٣٢٣١، المعجم الكبير:٦٨٧١.

Scanned with Ca

جواب کښې ذوالقرنين اوفرمائيل ما ته ستاسو د مال هيڅ ضرورت نشته د الله ﷻ هرڅه راکړې شوی دی او هغه ستاسو دمال نه ډير بهتر دی.هم دا جواب دحضرت سليمان ؈ د طرف نه د سبا دملکه قاصدانو ته هم ورکړې شوې وو.ذوالقرنين د خپل دې جواب نه پس اوفرمائيل چه اوتاسو ماسره په خپل طاقت قوت او کار روزګار سره امداد اوکړئ نوزه به تاسو اوهغوی په مينځ کښې يومضبوط ديوال اودروم. ﴿زبر﴾جمع د ﴿زبرة﴾ ده. ذوالقرنين فرمائی چه د اوسپنې ټکړې د خښتو په شان ماله راوړئ کله چه دا ټکړې راجمع کړې شوې نوهغه ديوال جوړول شروع کړه هغه په اوږدوالی او پلنوالې کښې دومره شو چه هغه ځائ راګير کړو اود غرد څوکې پورې اورسيدو. د هغې د اوږدوالی پلنوالی او پيړوالی باره کښې مختلف اقوال دی.

**ذوالقرنين د ويلې کړې اوسپنې ديوال جوړ کړو:**-کله چه دا ديوال بالکل جوړشونوحکم ورکړې شو اوس د دې څلورو واړوطرفوته اُوربل کړئ کله چه هغه د اوسپنې ديوال لکه د سروټکې په شان سور شو نو حکم اوکړې شو چه اوس ويلې کړې تانبه راوړئ اودهرطرف نه ئې په دې باندې رابهيونی نوچه کله دا هم اوکړې شو اودا ديوال يخ شو نودا ديوال ډير مضبوط اوپوخ شو اوپه کتوکښې داسې معلوميدو لکه تيره څادرچه وی.

**دا ديوال چا ليدلې دې:**-ابن جرير کښې دی يوصحابی ؓ حضورﷺ ته عرض اوکړوچه ما هغه ديوال ليدلې دې. حضورﷺ اوفرمائيل څنګه دې؟هغه وئيل د کرخيدار څادرغوندې دې کوم کښې چه تورې اوسرې کرخې دی نو حضورﷺ اوفرمائيل ټيک دی خودا روايت مرسل دې.خليفه واثق په خپله زمانه کښې خپلوامير انوته يولوئ لښکر اوسازوسامان ورکولوسره روان کړې ووچه ددې ديوال خبرراوړئ دې لښکردوه کالوپورې سفراوکړو و په ملکونوملکونو باندې ګرځيدل آخر دې ديوال ته اورسيدل وئې کتل چه د اوسپنې اوتانبې ديوال دې په دې کښې يوه ډيره لويه عظيم الشان دروازه هم د دې ده په کوم چه په منونووزنی تالې لګيدلې دی اوچه کوم مال مساله د دې ديوال نه بچ شوې ده هم هلته په يوبرج کښې کيخودې شوې ده کوم ځائ چه څوکئی اوپهره لګيدلې ده. ديوال ډير اوچت دې چه څومره هم کوشش اوکړې شی خو په دې باندې ختل ناممکن دی. دې سره يوځائ ملاوشوې د غرونوسلسله دواړو طرفوته برابر روانه ده اونور ئې هم عجيبه او حيرانونکی امور اوکتل چه هغوی واپس راغله او خپل خليفه ته ئې بيان کړل.

| اَنْ يَّظْهَرُوْهُ | فَمَا اسْطَاعُوْٓا |
|---|---|

| نو نه طاقت لري ياجوج ماجوج | چه وراوخيژي په هغې باندې

| نو هغوی (ياجوج ماجوج) به د دې طاقت نه لري چه د دې دپاسه راوخيژي

| رَحْمَةٌ | هٰذَا | قَالَ | نَقْبًا ﴿٩٧﴾ | لَهٗ | وَمَا اسْتَطَاعُوْا |
|---|---|---|---|---|---|

| اونه طاقت لري (هغوی) | په هغې کښې | دسوري کولو | اووئيل (ذوالقرنين) | دا | رحمت دې

اونه به دا طاقت لرلی شی چه په دې کښې سورې اوکړی | (د دې تکميل نه) پس هغه اووئيل دا (جوړول)

| وَكَانَ | دَكَّآءَ | جَعَلَهٗ | وَعْدُ رَبِّيْ | جَآءَ | فَاِذَا | مِّنْ رَّبِّيْ |
|---|---|---|---|---|---|---|

| د طرفه د رب زما | نو هر کله | چه راشي | وعده د رب زما | کړې به دې لره | ذرې ذرې | او ده

زما د رب مهربانی ده (خو) کله چه زما د رب وعده (چه قيامت دې) راشي نو دا (ديوال) به ذرې ذرې کړی

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَعْدُ رَبِّيْ | حَقًّا﴿٩٨﴾ | وَتَرَكْنَا | بَعْضَهُمْ | يَوْمَئِذٍ | يَّمُوْجُ |
| وعده د رب زما | حقه | او پرې به ږدو مونږ | بعضې دهغوی نه | په دغه ورځ | چه دسمندر دڅپو پشان به ښوخي |
| او زما د رب وعده (د قیامت) رشتینې ده | | اومونږ به هغه ورځ هغوی د یو بل سره ګډوډ کړو | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فِيْ بَعْضٍ | وَّنُفِخَ | فِي الصُّوْرِ | فَجَمَعْنٰهُمْ | جَمْعًا﴿٩٩﴾ |
| په بعضې نورو کښې | او پوکې به اووهلې شی | په شپیلۍ کښې | نو راجمع به کړو مونږ هغوی لره | ټول |
| او(په دغه ورځ به) په شپیلۍ کښې پوک وهلی شی نو مونږ به (دوی ټول) په جمع کولو سره راجمع کړو | | | | |

**قوله تعالى:- فَمَا اسْطَاعُوْا أَنْ يَّظْهَرُوْهُ**

**یاجوج ماجوج او دیوال:**-په دیوال باندې خو نه د ختلو یاجوج ماجوج ته طاقت شته اونه په دې کښې څه سورې کولې شی چه د هغه ځائ نه راوځی. ختل په نسبت د ماتولو زیات آسان دی د دې د پاره په ختلوکښې د ﴿ماسطاعوا﴾لفظ استعمال شوې دې او په ماتولوکښې د ﴿مااستطاعوا﴾لفظ راوړلې شوې دې. غرض داچه نه هغوی راختلې شی چه راشی اونه سورې کولې شی. مسنداحمدکښې حدیث دې حضور ﷺ فرمائی هره ورځ یاجوج ماجوج دادیوال کنی تردې چه نیزدې شی اود نمر شعاګانې هغوی ته ښکاره شی ورځ تیره شی په دې وجه د هغوی د سردارحکم وی چه اوس ئې پرېږدئی صباله به ئې ماتوو خو چه کله بله ورځ راشی نو هغه د اولنئی ورځې نه زیات مضبوط محسوس کوی د قیامت سره نیزدې چه کله الله ﷻ ته دهغوی راوتل منظور وی دوی چه په کنستلو سره لکه د پوستکی په شان کړی نود هغوی سرداربه وائی چه اوس ئې پرېږدئی صبابه ان شاء الله دامات کړو.دان شاء الله وئیلو په برکت به بله ورځ چه کله هغوی راشی نوچه څنګه ئې پریخودې وی هم هغه شان به وی زر به ئې راغوزارکړی او بهر به راوځی ټولې اوبه به اوڅښی خلق به تنګ شی او قلعه ګانوکښې به پناه واخلی. دوی به خپل غشی د آسمانونوطرف ته اولی او په شان د وینوککړ به دا غشی د هغوی طرف ته واپس کولې شی نو دوی به وائی چه د زمکې والا خو ټول اوویریدل په آسمانونوباندې هم مونږ غالب راغلو. اوس به د هغوی په ستونوکښې غوټې راوځی او ټول په ټول به هم د دې وبا نه هلاک کړې شی.دهغه ذات قسم د چا په لاس کښې چه زما ځان دې دزمکې د ځناورو خوراك به د هغوی بدنونه او وینې وی په کوم سره چه به هغوی ښه تکړه اوتازه شی( ) په ابن ماجه کښې هم دا روایت دې.امام ترمذی رحمه الله هم داراوړې دې او فرمائیلې دی چه دا روایت غریب دې بغیرد دې سند نه مشهور نه دې. د دې سند ډیر قوی دې خود دې عبارت دنکارت نه خالی نه دې. ځکه چه د آیت ظاهری الفاظ صفا دی چه نه هغوی راختې شی اونه هغوی سورې کولې شی ځکه چه دیوال ډیر مضبوط ډیر پوخ او سخت دی.

کعب احبار رضی الله عنه نه روایت دې چه یاجوج ماجوج روزانه دا څټی او بالکل د پوستکی په شان ئې کوی بیا وائی چه راځئی صبابه ئې مات کړو. دویمه ورځ باندې راځی نو چه څنګه په اصل کښې وو هم هغه شان وی. په آخری ورځ د الله ﷻ په الهام باندې هغوی د تلو په وخت کښې به انشاء الله وائی بله ورځ چه راشی نو چه څنګه ئې چه پریخې وی هم هغه شان به وی او مات به ئې کړی. ډیر ممکن دی چه هم د دې کعب رضی الله عنه نه حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا خبره اوریدلې وی اوبیانئی بیان کړې وی یا یوراوی ته وهم شوې وی اوهغه د حضور ﷺ فرمان ګڼړلوسره دا مرفوعًا بیان کړې وی والله اعلم. دا مونږ وایو د دې تائید د دې حدیث نه هم کیږی کوم چه په مسنداحمدکښې دې. یوځل حضور ﷺ د خوب نه رابیدارشو مخ

---

[1]) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الکهف:۳۱۵۳ وهوصحیح، ابن ماجه :۴۰۸۰، احمد:۲/۵۱۰، حاکم:٤/٤٨٨.

Scanned with Ca

مبارك نى سور كيدلو او فرمائيل به ئى ﴿لااله الاالله﴾ د عربود خرابيدو وخت رانيزدې شو نن د ياجوج ماجوج په ديوال كښې دومره سورې اوشو. بيا حضور ﷺ د خپلو گوتونه حلقه جوړه كړه او وئى خودله. په دې باندې حضرت ام المؤمنين زينب بنت جحش k سوال اوكړو آيا زمونږ دخوخلقو په موجودگنى كښې به هم هلاكت كولې شى؟ وئى فرمائيل اوخوچه كله دخبيثوخلقو كثرت اوشى.(١) داحديث بالكل صحيح دې بخارى اومسلم دواړو كښې دې. اوپه بخارى كښې د راويانو په ذكر كښې دام حبيبه k ذكر نشته په مسلم كښې دې نورې هم د دې په سندكښې داسې ډيرې خبرې چه ډيرې كمې موندلې شوى دى.مثلاً دزهرى رحمه الله روايت د عروه رحمه الله نه حالانكه دا دواړه بزرگان تابعى دى اود څلورو ښځو په خپل مينځ كښې ديوبل نه روايت كول بيا څلور ښځې صحابيه بيا په دې كښې هم دوه د حضور ﷺ د بيبيانو لونړه رضى الله عنهم. بزاركښې هم دا روايت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم نقل دې.(مترجم وائى ددې تكلف اود دې مرفوع احاديثو متعلق د دې قول څه ضرورت دې؟ مونږ د قرآن پاك اودې صحيح مرفوع احاديثو په مينځ كښې ډير په آسانئى سره دا تطبيق كولې شو هغوى څه داسې سورې نه شى كولې دكوم نه چه راوځى. نرې كول يادحلقې برابر سورې كول بله خبره ده.دذوالقرنين چه كوم مقصد ددې ديوال دجوړولو نه ووهغه خود الله ﷻ په فضل سره حاصل شوچه نه هغوى د بره نه كوزيدې شى اونه سورې كولې شى چه راوځى اود دې خبرېه آيت كښې دې اود دې خلاف هيڅ حديث هم نشته. والله اعلم.مترجم)د دې ديوال جوړولونه پس د ذوالقرنين تسلى كيږى د الله ﷻ شكر كوى او فرمائى چه اې خلقو داهم د رب رحمت دې چه ما د دې شيطانانونه مخلوق ته اوس امن وركړو. اوچه كله د الله ﷻ وعده راشى نو دا به راپريوځى اودا به زمكه كښې خښ شى مضبوطيابه هيڅ په كاررانه شى. داوښې قوب چه كله د هغې شاسره ملاوشى نو عرب كښې دې ته ﴿ناقة دكاء﴾ وائى.

**قيامت سره نيزدې به داديوال دړې وړې شى:-** قرآن پاك كښې بل ځائ كښې ارشاددې چه كله په غر باندې د موسى عليه السلام په مخامخ رب تجلى اوكړه نوهغه غر په زمكه راپريوتلوهلته هم لفظ﴿جعله دكا﴾ دې نوقيامت سره نيزدې به دا ديوال دړې وړې شى اود هغوى د وتلود پاره به لارشى.د الله ﷻ وعدې اټل دى اوقيامت يقينى راتلونكې دې.ددې ديوال په ماتيدوسره به داخلق راوځى اونوروخلقو كښې به ورننوځى د خپلو پردو تميزبه ختم شى داواقعه به ددجال د راتلونه پس اود قيامت د قايميدونه وړاندې به وى اود دې پوره بيان آيت ﴿حَتّٰىٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ﴾(٢) په تفسيركښې به ان شاء الله راځى.

**كله چه شپيلئى پوك وهلې شى:-**دې نه پس به شپيلئى پوك وهلې شى او ټول خلق به راجمع كړې شى اودا هم وئيلې شوى دى چه دې نه مراد دادې د قيامت په ورځ به ټول انسانان او پيريان گډوډ كړې شى د بنى فزاره د يوشيخ بيان ابن جرير كښې دې چه كله پيريان اوانسانان يوبل سره يوځائ كړې شى نو هغه وخت به ابليس وائى زه ورځم چه پته اولگوم دا څه خبره ده؟ د مرق طرف ته به منډه كړى نو هلته به د فرښتو ډله اووينى رامنع به شى واپس به شى مغرب ته به اورسى هلته به هم دا رنگ وينى نو ښى طرف ته اوگس طرف ته به منډې وهى خو هرطرف ته به فرښتو محاصره كړې وى كټلوسره به نااميده شى او چغې صورې به شروع كړى ناڅاپى به هغه ته يوه وړه غوندې لارښكاره شى خپل ټول اولاد سره به په دې لار وررون شى وړاندې تلوسره به گورى چه دوزخ شغلې وهى. د دوزخ يوداروغه به ورته وائى

(١) صحيح بخارى كتاب احاديث الانبياء باب قصة ياجوج ماجوج:٣٣٤٦، صحيح مسلم:٢٨٨٠، ترمذى:٦٨٧، ابن ماجه: ٣٩٥٣، احمد:٦/٤٢٨.

(٢) ٢١/الانبياء:٩٦.

Scanned with Ca

اې موذی خبیث ولې الله ﷻ ستا مرتبه اوچته کړې نه وه؟ته د جنتیانونه نه وې؟ نن چغې صورې ولې وهې،شیطان ورته وائی نن رابانديې غصې ولې کوئې،دا ورځ خو د ملامت کولو ورځ نه ده. نن خوراته دخلاصې لار اوښایه. زه د الله ﷻ د عبادت د پاره تیاریم که حکم وی نودومره اوداسې عبادت به اوکړم چه په مخ د زمکې به چا هم نه وی کړې. داروغه به فرمائی چه الله ﷻ تاد پاره یوه فریضه مقررکړې ده. هغه خوشحاله شی چه زه ئی کوم اود هغې د پوره کولود پاره ښه تیار ولاړیم حکم به اوشی چه هم دا تاسو ټول دوزخ ته لاړشئ.اوس به دا خبیث حیران او پریشان پاتې شی نو فرښته به په خپل وزر سره دې اود ده اولاد راکاږی او دوزخ کښې به ئې واچوی. دوزخ به دې راونیسی او زور به ورکړی یوځل به دې چغې اووهی ټولې فرښتې او ټول رسولان او انبیاء علیهم السلام په زنګونونو د الله ﷻ په وړاندې عاجزئ کښې پراته دی. طبرانی کښې حضورﷺ فرمائی یاجوج ماجوج د حضرت آدم ؑ د نسل نه دی که هغوی پریخودې شی نوددنیاپه ژوندکښې به فساد واچوی یویوخپل شاته په زرګونو بلکه ډیرپریږدی او مړه کیږی بیاد دوی نه علاوه درې امتونه نوردی تاویل تالیس اومنسك[1]دا حدیث غریب دې بلکه منکر اوضعیف دې.اوپه نسائی کښې دی د دوی ښځې اوبچی دی اویویوزرز بلکه دې نه هم زیات پریږدی اومړه کیږی. [2] بیافرمائی شپیلئی به پوك وهلې شی. حدیث کښې دی چه هغه یوقرن دې په کوم کښې چه به پوکې وهلې شی.[3]دپوکی وهونکې به حضرت اسرافیل ؑ وی. لکه څنګه چه اوږد حدیث شریف بیان شوې دې. اود نورو هم ډیرواحادیثونه ددې ثبوت دې. حضورﷺ فرمائی زه څنګه په آرام او سکون سره کینم دشپیلئی والا فرښتې شپیلئی خپلې خُلې سره لګولې تندې ښکته کړې شوې غوږ لګولې په انتظار ناسته ده چه کله به حکم اوشی اوزه به شپیلئی پوك وهم. خلقو وئیل حضورﷺ بیا مونږ څه اووایو؟ وئی فرمائیل ﴿حسبنا الله ونعم الوکیل علی الله توکلنا﴾[4]
بیا فرمائی چه مونږ ټول به د حساب د پاره راجمع کړو د ټولوحشر به زمونږ په وړاندې وی لکه چه په سورت واقعه کښې دی چه وړاندې روستوټول به په مقرر ورځ اووخت رایوځائ کولې شی.[5] یوبل آیت کښې دی ﴿ وَّحَشَرۡنٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ اَحَدًا ﴾[6] مونږ به ټول راجمع کړو یوبه هم باقی پاتې نه شی.

| الَّذِيۡنَ | عَرۡضَا | لِّلۡكٰفِرِيۡنَ | يَوۡمَئِذٍ | جَهَنَّمَ | وَّعَرَضۡنَا |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| هغه کافران | په وړاندې کولو سره | دپاره دکافرانو | په دغه ورځ | دوزوخ | او مخې ته به راولو مونږ |

اومونږ به د قیامت په ورځ جهنم کافرانو ته مخامخ کړو | هغه کافران (چه په دنیا کښې)

| لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ | وَكَانُوۡا | عَنۡ ذِكۡرِيۡ | فِيۡ غِطَآءٍ | اَعۡيُنُهُمۡ | كَانَتۡ |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| چه طاقت ئې نه لرلو | اووو هغوئ | دیاد زمانه | په پرده کښې | سترګې دهغوئ | چه وې |

د هغوی سترګې زما د یاد (توحید) نه په پرده کښې وې | اود (خپلو ګناهونو په وجه ئې) اوریدو طاقت

[1] الطیالسی:۲۲۸۲.
[2] السنن الکبری:۱۱۳۳٤.
[3] ابوداؤد کتاب السنة باب ذکر البعث والصور:۲۷٤۲وسنده صحیح، ترمذی:۲٤۳۰، دارمی:۳۲۵/۲، ابن حبان:۲۵۷۰، حاکم:٤۳۶/۲،احمد:۱۶۲/۲.
[4] ترمذی کتاب صفة القیامة باب ماجاء فی (شان) الصور:۲٤۳۱، السنن الکبری:۱۰٤۶۲، احمد:۲۵/۶.
[5] ۵۶/الواقعة:٤۹-۵۰.
[6] ۱۸/الکهف:٤۷.

Scanned with Ca

سَمۡعًا ﴿١٠١﴾ اَفَحَسِبَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اَنۡ يَّتَّخِذُوۡا عِبَادِىۡ

داودریدو | ایا ګمان کوی | هغه کسان | چه کفر ئې کړې دی | چه جوړ کړی هغوئ | بندګان زما

نه لرلو (ځکه چه اوریدو استعداد ئې تباه کړې وو) ایا کافران ددې نه پس هم دا ګمان کوی چه زما

مِنۡ دُوۡنِىۡۤ اَوۡلِيَآءَ ؕ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾

| ماسوا زمانه | دوستان | بیشکه مونږ | تیار کړې دې | دوزخ | دپاره دکافرانو | میلمستیا

عبادت پریږدی اوزما بندګان د خپلو ځانونو دپاره کارساز جوړ کړی مونږ د کافرانو د میلمستیا دپاره

قُلۡ هَلۡ نُـنَبِّئُكُمۡ بِالۡاَخۡسَرِيۡنَ اَعۡمَالًا ؕ﴿١٠٣﴾

| ورته اووایه | ایا مونږ خبر درکړو تاسوته | په زیات نقصان موندونکو خلقو باندې | په لحاظ دعمل سره

جهنم تیار کړې دې ته ورته اووایه ایا زه تاسو ته دهغه چا خبر درکړم چه په خپل عمل کښې زیات تاوانیان دی

اَلَّذِيۡنَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَهُمۡ

| داهغه خلق دی | چه ضائع دی | کوششونه دهغوئ | په ژوند ددنیا کښې | اوهغوئ

دا هغه خلق دی چه د دوی کوششونه په دنیاوی ژوند کښې ضائع شول او دوی (اوس هم) په خپلو اعمالو

يَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ يُحۡسِنُوۡنَ صُنۡعًا ﴿١٠٤﴾ اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

| ګمان کوی | چه بیشکه هغوئ | (ښه) ټیک ټیک کوی | هرکار | دا هغه کسان دی | چه انکار ئې اوکړو

د نیکو ګمان کوی | چه دوی ښه کارونه کوی | ........................ دا هغه خلق دی چه د خپل رب

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ فَلَا نُقِيۡمُ

| دایتونو درب خپل نه | اود ملاقات دهغه نه | نوضائع شول | عملونه دهغوئ | پس نه به ودروؤ مونږ

د ایاتونو اود هغه د ملاقات نه ئې انکار کړې دې | نو د دوی (نیک) عملونه ضائع شول | او مونږ به

لَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَزۡنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوۡا

| هغوئ دپاره | په ورځ دقیامت | څه وزن | دا بدله دد وی | دوزخ دې | په سبب دهغې | چه کفراوکړو دوئ

د قیامت په ورځ د هغې تول دپاره تله نه لګوو | دا جهنم د دوی د کفر په وجه د دوی سزا ده

وَاتَّخَذُوۡۤا اٰيٰتِىۡ وَرُسُلِىۡ هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

| او اونیول دوی | ایتونه زما | اورسولان زما | په ټوقو سره |

اوپه دا چه زما په ایاتونو او په پیغمبرانو پورې به ئې ټوقې کولې |

**قوله تعالی:-** وَعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡكٰفِرِيۡنَ عَرۡضَا ﴿١٠٠﴾

**کافرانوته به اول دوزخ خودلې شی:-** -کافران به دوزخ ته ځی اوددې نه وړاندې به دوزخ اود هغې عذابونه وینی اودې یقین کولوسره چه دې کښې به دوی داخلیږی دداخلیدونه اول به ترقیږی او سوزیږی د غم تکلیف ویرې د وجه نه به همت بیلی. د صحیح مسلم شریف په حدیث کښې دی دوزخ به د قیامت په ورځ په راښکوسره راوستلې شی دکوم چه به اویا زره واګې وی اوپه هره یوه واګه به اویااویا زره

Scanned with Ca

فرښتې وي.([1]) دې كافرانو په ټول عمر كښې خپلې سترګې او غوږونه بې كاره كړي ناست دي نه ئې حق اوليدلو نه ئې حق واوريدلو اونه ئې عمل اوكړو. د شيطان ملګرتيائي اوكړه اودرحمن دذكرنه ئې غفلت اوكړو. دالله ﷻ احكام اوممانعتونه ئې شاته اوغورزول او دائې ګڼړل چه د هغوی د دروغو معبودان به هغوی ته دا ټولې نفع رسوي او ټولې سختئې به لرې كوي صرف د هغوی غلط خيال دې بلكه هغوی خو به د دوی دعبادتونو نه هم منكران شي اود هغوی دښمنان به جوړشوي ولاړ وي. د دې كافرانو منزل خوهم جهنم دې چه هم د اوس نه تيار دې.

**د اعمالو په لحاظ سره د ډير تاوان والا څوک دی؟**:-دحضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ نه دهغوی ځوئ مصعب رحمه الله سوال اوكړو چه دې آيت نه خواء مراد دی؟هغوی اوفرمائيل چه نه بلكه دې نه مراد يهود اونصاری دی.هم يهوديانو پيغمبرﷺ دوروغ ګڼړلې وواونصاری جنت رښتيانه منلواووائی چه هلته خوراك څښناك هيڅ هم نشته.او خارجي خلقود الله ﷻ وعده د مضبوتيانه پس ماته كړه حضرت سعدﷺ به خارجيانوته فاسقان وئيل.([2]) حضرت علی ﷺ وغيره فرمائي چه دې نه مراد خارجي دی.([3]) مطلب دا دې چه څنګه داآيت يهوديانو اونصاری ته شامل دې دغه شان د خارجي حكم هم دې كښې دې ځكه چه آيت عام دې څوك چه هم دالله ﷻ عبادت او اطاعت په داسې طريقه راوړي چه د الله ﷻ ناخوښه وي نوكه هغه په خپل عمل باندې خوشحاله وي اودا ګڼړي چه ما د آخرت توښه اوښنګه ډيرڅه راجمع كړل زما نيك اعمال د الله ﷻ خوښ دی اوښاته به په دې باندې اجر اوثواب خامخاملاويږي خود ده ګمان غلط دی. د ده اعمال قبول نه دی بلكه مردود دی اوهغه د غلط ګمان كونكې سړې دې. دا آيت مكی دې اوښكاره خبره ده چه په مكه كښې يهود اونصاری مخاطب نه وواودخارجيانوخوپه دغه وخت كښې وجودهم نه وو. نوددې برزګانو هم دا مطلب دې چه دآيت الفاظ عام دې دوی ته اود دوی په شان ټولوته شامل دی.

**كافران او مشركان به سره د اعمالو جهنم ته ځی**:-لكه چه په سورت غاشيه كښې دی د قيامت په ورځ به ډيرمخونه خوار اوذليل وی چه په دنياكښې ډير محنتونه كونكی بلكه په عملونوباندې سترې شوی وو اوسخت تكليفونه ئې اوچت كړی وو.([4]) نن به هغوی سره د عبادت اورياضت دوزخ ته ورځی او په سوركړې شوی اُوركښې به اچولې شی. يوبل آيت كښې دی ﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا﴾([5]) دهغوی كړې شوی اعمال مونږ په وړاندې كيدو سره ردی او بې كاره كړل. بل آيت كښې دی دكافرانود اعمالو مثال داسې دې لكه چه يوتګې د لرې نه د شګو غونډئی د لرې نه اوبه ګڼړي خو چه كله خواته راشی نو يوڅاڅكې اوبه هم نه وی.([6]) دا هغه خلق دی چه په خپله طريقه سره عبادتونه كوی او په زړه كښې هم دا ګڼړی چه مونږ ډير ښه كارونه كوواوهغوی مقبول او د الله ﷻ خوښ دی خو هغوی د الله ﷻ په طريقوباندې نه وو د نبيانو د فرمان مطابق نه وو په دې وجه دمقبول كيدو په ځائ مردود شو اوهغوی دمحبوب كيدوپه ځائ باندې مبغوض شو. ځكه چه هغوی د الله ﷻ آياتونه دروغ ګڼړل د الله ﷻ دوحدانيت اودهغه د رسولﷺ د رسالت ټول ثبوتونه د هغوی په وړاندې وو خوهغوی سترګې بند كړې وې او هډوونی نه منل. د هغوی د نيكئی چابړې به بالكل خالی وی.

[1]) صحيح مسلم كتاب الجنة باب جهنم اعاذناالله منها:٢٨٤٢.
[2]) صحيح بخاری كتاب التفسيرسورة الكهف باب قوله ﴿قل هل ننبئكم بالاخسرين اعمالا﴾:٤٧٢٨.
[3]) الطبری:١٢٨/١٨.
[4]) ٨٨/الغاشية:٢-٣.
[5]) ٢٥/الفرقان:٢٣.
[6]) ٢٤/النور:٢٩.

Scanned with Ca

د بخاري شريف په حديث كښې دي د قيامت په ورځ به يوچاق اوتازه سړې راشي خود الله ﷻ په نيز به دهغه وزن ديوماشي د وزر برابر هم نه وي بيا حضورﷺ اوفرمائيل كه تاسو غواړئ نود دې آيت تلاوت اوكړئ ﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾ (١) دابن ابي حاتم په روايت كښې دي ډير زيات خوراك څښناك كونكې چاق او تازه سړې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ مخې ته راوستلې شي خود هغه وزن به د غلې د يوې داني برابر هم نه وي. بيا هغوي هم د دې آيت تلاوت اوكړو(٢) بزاركښې دي قريشي كافر په خپله حليه كښې په فخر سره دحضورﷺ مخې ته تيريدلو نو حضورﷺ حضرت بريده ﷺ ته اوفرمائيل دا د هغوي نه دي چه دقيامت په ورځ به د ده د الله ﷻ په نيزهيڅ وزن نه وي.(٣) دمرفوع حديث په شان د حضرت كعب ﷺ قول هم نقل دې دا بدله ده د هغوي د كفر اود الله ﷻ آياتونه اود هغه د رسولانو سپكاوې كول اود هغوي نه منل بلكه هغوي دروغ ګنړل.

<table>
<tr><td>إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا</td></tr>
<tr><td>| بيشكه هغه كسان| چه ايمان ئې راوړو</td></tr>
<tr><td>| بيشكه كومو كسانو چه ايمان راوړې دي</td></tr>
<tr><td>وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خَالِدِينَ</td></tr>
<tr><td>اوعمل ئې اوكړو نيك| وي به | دپاره دهغوئ | باغونه دفردوس | ميلمستيا|هميشه به وي |</td></tr>
<tr><td>اونيك عملونه ئې كړي دي | د دوي د ميلمستيا دپاره د فردوس باغونه دي | دوي به په هغې كښې</td></tr>
<tr><td>فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾ قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ</td></tr>
<tr><td>په هغې كښې |نه به طلب كوي | دهغې نه | وتل (بل ځائې ته) | ورته اووايه | كه چرې شي | درياب |</td></tr>
<tr><td>هميشه دپارد وي | د هغې نه د وتلو خواهش به نه كوي | ته ورته اووايه كه چرته د سمندر اوبه</td></tr>
<tr><td>مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ</td></tr>
<tr><td>سياهي | دپاره دصفتونو ليكلو| درب زما | نوختم به شي درياب | مخكښې ددې نه | چه ختم شي |</td></tr>
<tr><td>زما د رب د صفتونو ليكلو دپاره سياهي شي | نو د سمندر اوبه به زما د رب د صفتونو ليكلو نه</td></tr>
<tr><td>كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ</td></tr>
<tr><td>صفتونه | درب زما | اواګر كه راوړو مونږ | په شان دهغې درياب| سياهي (نوره)| ورته اووايه|</td></tr>
<tr><td>وړاندې ختمې شي|اګر چه مونږ (د نوروصفتونو ليكلو دپاره ) د دې پشان نوره سياهي راوړو| ته اووايه</td></tr>
<tr><td>إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ</td></tr>
<tr><td>بيشكه | چه زۀ انسان يم| په شان ستاسو| چه وحې كيږي | ماته |چې بيشكه | معبود ستاسو| معبود|</td></tr>
<tr><td>بيشكه زه ستاسو پشان يو انسان يم | (خو) ماته وحې كولې شي چه ستاسو د عبادت مستحق صرف</td></tr>
</table>

(١) صحيح بخاري كتاب التفسير سورة الكهف ﴿اولئك الذين كفروا بايات ربهم ولقائه فحبطت اعمالهم..﴾:٤٧٢٩،صحيح مسلم: ٢٧٢٥.
(٢) الطبري:١٢٩/١٨.
(٣) مسندالبزار:٢٩٥٦ مجمع الزوائد:١٢٥/٥.

Scanned with Ca

وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا

یو دې | نوهغه څوک| چه وی| چه امید لری | دملاقات| درب خپل| نوهغه دې عمل کوی| عمل نیک |

یو الله دې | نو څوک چه د خپل رب د ملاقات یقین ساتی | هغه دې نیک عمل کوی

وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾

اونه دې شریکوی | په عبادت | درب خپل کښې | هیڅوک|

او د خپل رب په عبادت کښې دې (ورسره) هیڅوک نه شریکوی

قوله تعالى:- اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

**دنیکانوخلقو میلمستیا:-** په الله ﷻ باندې ایمان لرونکی دهغه رسولان رښتونی منونکی اودهغوی په خبرو باندې عمل کونکی به بهترینوجنتونوکښې وی. بخاری اومسلم کښې دی کله چه تاسو د الله ﷻ نه د جنت سوال کونی نو جنت الفردوس غواړئی دا د ټولونه اوچت او بهترجنت دې هم د دې نه د نورو جنتونونهرونه بهیږی.(۱) هم دا به د هغوی د میلمستیاځائې وی دوی به دلته د همیشه د پاره اوسیږی. نه به ویستلې شی اونه به د وتلوخیال ورځی نه به د دې نه بهتر ځائ بل وی اونه به د هغه ځائ د اوسیدونه ویریږی. ځکه چه د هرقسم اوچت عیش ورته حاصل وی یوپسې بل رحمت ملاویږی. ورځ په ورځ رغبت محبت او مینه الفت زیاتیږی د دې وجه نه طبیعت ستړې کیږی نه زړه مړیږی بلکه نور شوق هم زیاتیږی او نوې نعمت ملاویږی.

**د اووه سمندرونوسیاهی هم د رب تعریف نه شی لیکلې :-** حکم کولې شی چه د الله ﷻ د عظمت باره کښې د پوهه کولودپاره په دنیاکښې اعلان اوکړئی چه دزمکې سمندرونه سیاهی جوړه شی او بیا د الله ﷻ کلمات د الله ﷻ د قدرتونو ځرګندونه د الله ﷻ خبرې اود الله ﷻ حکمتونه لیکل شروع کړی نودا ټوله سیاهی به ختمه شی خو د الله ﷻ تعریفونه به ختم نه شی. که بیا دغه شان نور دریابونه راوړلې شی بیاراوړلې او بیا راوړلې شی خوناممکن دی چه د الله ﷻ قدرتونه د هغه حکمتونه اود هغه دلیلونه ختم شی. د الله ﷻ ﷻ فرمان دې ﴿وَلَوْ اَنَّ مَا فِى الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ﴾(۲) یعنی که په مخ دزمکې دونونه قلمونه جوړ کړې شی اودټولوسمندرونونه سیاهی جوړه شی دې نه پس اووه سمندرونه نورهم راوړلې شی نوناممکن دی چه دالله ﷻ کلمات پوره اولیکی. د الله ﷻ عزت اود هغه حکمت د هغه غلبه او قدرت هم هغه پیژنی د ټولوانسانانوعلم د الله ﷻ د علم په مقابله کښې دومره هم نه دې څومره چه د سمندرپه مقابله کښې څاڅکې. د ټولو ونوقلمونه به په سولیدو سولیدوختم شی د ټولو سمندرونو سیاهی به ختمه شی خودالله ﷻ کلمات به هم داسې باقی پاتې شی لکه څنګه چه وې اوهغه بې شمیره او بې تعداده دی.څوک دی چه د الله ﷻ صحیح او پوره قدر اوعزت پیژندې شی؟څوک دې چه د هغه پوره ثنااوصفت په ځائ راوړې شی؟ بې شکه زمونږ رب هم هغه شان دې څنګه چه هغه پخپله فرمائی مونږ چه د هغه کوم تعریفونه اوکړو هغه د دې ټولونه زیات دې اود دې ټولونه لوئ دې. یادلرئی څنګه چه د ټولې زمکې په مقابله کښې یوه د اوری دانه ده دغه شان د جنت او آخرت د نعمتونو په مقابله کښې د ټولې دنیانعمتونه دی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب درجات المجاهدين في سبيل الله: ۲۷۹۰، احمد: ۲/۳۳۵، ابن حبان: ٤٦١١.

(۲) ۳۱/لقمان: ۲۷.

Scanned with Ca

**ټول پیغمبران علیهم السلام بشردی:-** د حضرت معاویه بن ابی سفیان ﷛ فرمان دې چه دا د ټولونه آخری آیت دې کوم چه په حضور ﷺ باندې نازل شوې دې. حکم کولې شی چه تاسو خلقوته اوفرمائې چه زه هم ستاسو په شان یو انسان یم تاسوهم انسانان ئی که ما دروغ ګنړئی نو راوړئی د دې قرآن په شان یو قرآن تاسوهم جوړ کړئی اوپیش کړئی. ګورئی زه چرته په غیببوپوهیدونکې نه یم تاسوزما نه د ذوالقرنین د واقعه تپوس اوکړو د اصحاب کهف قصې تپوس مو اوکړونوما د هغې صحیح واقعات تاسو ته بیان کړل کوم چه د نفس الامر مطابق دی که ماله د الله ﷻ وحی نه راتله نوما به دا تیرشوی واقعات څنګه چه هغه شوی دی څنګه بیانولې شو؟ واورئی د ټولې وحی خلاصه دا شوه چه تاسو مؤحد جوړشئی شرک پریږدئی زمادعوت هم دغه دې څوك چه هم په تاسوکښې دالله ﷻ نه اجراوثواب اخستل غواړی هغه له د شریعت مطابق عمل کول پکاردی اود شرك نه بالکل بچ کیدل پکار دی. بغیرد دې دواړو کارونونه یوعمل الله ﷻ ته قبول نه دې چه په خلوص سره وی اود سنتومطابق وی.

**هر عبادت کښې یو ذره ریاکارئی نه ځان ساتل ضروری دی:-** یوسړی دحضور ﷺ نه تپوس کړې وو چه په ډیرونیکوکارونوکښې باوجوددالله ﷻ د رضالتیون سره زما اراده داهم وی چه خلق زما دا نیکی اوګوری نوزما د پاره څه حکم دې؟ حضور ﷺ خاموش پاتې شو نودا آیت نازل شو.(١) داحدیث مرسل دی.د حضرت عباده بن صامت ﷛ نه یوسړی تپوس اوکړو چه یوسړې مونځ روژه صدقه خیرات حج زکوة ادا کوی د الله ﷻ رضامندی هم لټوی او په خلقو کښې نیك نامی او لوئی هم. حضور ﷺ اوفرمائیل د هغه ټول عبادت بې کاره دې. الله ﷻ د شرك نه ویزاره دې چه څوك د هغه عبادت کوې اوبل نیت هم کوی نو الله ﷻ فرمائی چه دا ټول هم هغه ته ورکړئی ماته د ده د څه څیز ضرورت نشته.(٢)
دحضرت ابوسعیدخدری ﷛ بیان دې چه مونږ به حضور ﷺ له په نمبرنمبر راتلواو شپه به موتیروله کله چه به د حضور ﷺ څه کار وونوفرمائیل به ئی.داسې خلق ډیر زیات وو یوه شپه مونږ په خپل مینځ کښې خبرې اترې کولې چه رسول مقبول ﷺ تشریف راوړو وئی فرمائیل داڅه پس پس کوئی مونږ جواب ورکړویارسول الله ﷺ زمونږ توبه ده مونږ دمسیح دجال ذکرکولو اوزمونږ زړونه ویریدل.حضور ﷺ اوفرمائیل زه تاسو ته د دې نه هم خطرناکه خبره اوښایم؟ هغه پټ شرك دې چه یوانسان د بل انسان د خودنې د پاره مونځ اوکړی.(٣) مسنداحمدکښې دی چه ابن غنم وائی زه اوحضرت ابوالدرداء ﷛ د جابیه جمات ته لاړوهلته مونږ ته عباده بن صامت ﷛ ملاوشو په ګس لاس خو هغه زما ښې لاس اونیولواو پخپل ښی لاس باندې ئی دابوالدرداء ګس لاس اونیولو اودغه شان مونږ دریواړو هلته خبرې کولې روان وو هغوی اوفرمائیل چه ګورئی که تاسو دریواړه یا په تاسو کښې یوکس هم ژوندې پاتې شو نوممکن دی چه هغه هغه وخت هم اووینی چه دحضور ﷺ د ژبې مبارکې نه قرآن زده کړې شوې ښه سړې حلال حلال ګنړل اوحرام حرام ګنړلووالاسرې اودغه شان هرحکم په مناسب موقعه باندې ساتونکې اودهغه قدرت اوعزت په خلقو کښې داسې وی لکه دمرخر دسر.اوس لا دا خبرې کیدلې چه حضرت شدادبن اوس ﷛ اوحضرت عوف بن مالك ﷛ راغلو اوکیناستلو سره شداد ﷛ اوفرمائیل خلقوزما خو په تاسو د ټولونه زیاته ویره د هغه څیز ده کوم چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی یعنی پټ خواهش او شرك. په دې باندې حضرت عباده اوابوالدرداء ﷛ اوفرمائیل الله ﷻ دې مونږ معاف کړی مونږ ته حضور ﷺ فرمائیلی دی چه په دې خبره باندې شیطان ناامیده شوې دې چه په دې جزیره عرب کښې د هغه عبادت اوکړې شی او پټ خواهشات خو هم دغه د شهوت او خواهش څیزونه ښځې وغیره دی. دا

(١) الطبری:٢٣٤٣٧.
(٢) الطبری:١٣٦/١٨.
(٣) ابن ماجه کتاب الزهد باب الرياء والسمعة:٤٢٠٤وهوحسن، احمد:٣/٣٠، مجمع الزوائد:١/٣١٥.

Scanned with Ca

شرك خو زمونږ په پوهه كښې رانغلو د كوم نه چه ته مونږ ويروې. شداد ﷺ اوفرمائيل ښه ده اوښائي چه يوسړې د بل د خودنې د پاره مونځ روژه صدقه زكوة خيرات كوى ددې حكم ستاسو په نيز څه دې؟ آيا هغه شرك اوكړو؟ ټولوجواب وركړو بې شكه دغه سړې مشرك دې. څوك چه د دنياد خودنې د پاره روژې اوساتى هغه مشرك دې چه په خلقو كښې خپل سخاوت خودلودپاره صدقه اوخيرات كوى هغه هم مشرك دې. په دې باندې حضرت عوف بن مالك ﷺ اووئيل آيا دا نه شى كيدې چه په داسې اعمالوكښې كوم چه د الله ﷻ د پاره وى الله ﷻ هغه قبول كړى او چه كوم د نورو د پاره وى هغه رد كړى. حضرت شداد ﷺ اوفرمائيل دا هيڅ كله نه شى كيدې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه د الله ﷻ ارشاد دې چه زه د ټولونه بهترحصې والا يم څوك هم چه ما سره په يوعمل كښې څوك شريك كړى زه هغه خپله حصه هم هغه دويم ته ورسپارم او ډير په بې پرواهئى سره لږ او ډير هر څه پريږدم.(١)

**عمل كښې ريا كارى پټ شرك دې**:-يوبل روايت كښې دى چه حضرت شداد بن اوس ﷺ يوه ورځ ژړل مونږ تپوس اوكړوحضرت تاسو ولې ژاړئ؟ وئى فرمائيل چه يوحديث راياد شواوهغه اوژړولم. ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى ماته په خپل امت باندې د ټولونه زياته ويره د شرك اود پټ شهوت ده. ما تپوس اوكړويارسول الله ﷺ ستاسوامت به تاسونه پس شرك كوى؟حضور ﷺ اوفرمائيل چه او واوره هغوى به دنمر سپوږمئى كانړى اوبتانو عبادت نه كوى بلكه په خپلو عملونوكښې به ځان خودنه كوى. پټ شهوت دا دې چه سحر په روژه كښې دې اوڅه خواهش ئى مخې ته راغلو روژه ئى پريخوده. (٢)
(ابن ماجه ومسند احمد)

رسول الله ﷺ فرمائى چه د الله ﷻ فرمان دې چه زه د ټولوشريكانونه بهتريم ما سره چه څوك هم څه شريك كړى زه خپله حصه هم هغه ته وركوم. بل روايت كښې دى چه څوك بل كس زما سره په عمل كښې شريك كړى زه دهغه نه خلاص يم اود هغه ټول عمل د دغه غيرد پاره دې.(٣)بل حديث كښې دى ماته ستاسو په نسبت د ټولونه زياته ويره د وړوكى شرك ده.خلقو تپوس اوكړو چه هغه وړوكې شرك څه څيز دې؟ وئى فرمائيل رياكارى. د قيامت په ورځ به رياكارانوته جواب ملاويږى چه ځئى د چاد پاره چه موعمل كولودهغوى نه بدله اوغواړئى اوګورئى چه ملاويږى هم؟(٤)دابوسعيدبن ابى فضاله انصارى صحابى ﷺ نه روايت دې فرمائى چه ما درسول الله ﷺ نه اوريدلى چه كله الله ﷻ د ټولو وړاندې روستونى خلق راجمع كړى د كومې ورځې په راتلو كښې چه څه شك شبه نشته په هغه ورځ به يو آواز كونكې آواز كوى كوم سړى په كوم عمل كښې دالله ﷻ سره څوك شريك يوځائ كړې وى هغه له پكاردى چه دخپل هغه عمل بدله هم د هغه دويم نه اوغواړى ځكه چه الله ﷻ دحصه دار نه بې پرواه دې.(٥) ابوبكر ﷺ فرمائى رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه الله تعالى به رياكارعذاب هم ټولوته ښائى او نيك عمل خلقوته اورونكې عذاب ب هم هم ټولوته اوروى.(٦)(مسند احمد)
دحضرت ابوسعيدخدرى ﷺ نه هم روايت نقل دې(٧)ابن عمر ﷺ فرمائى چه حضور ﷺ فرمائيلى دى خپل نيك اعمال ښكاره كونكې به الله ﷻ خامخارسوا كوى.داچه دهغه اخلاق به خراب شى اوهغه به د

---

(١) احمد:٤/١٢٥-١٢٦ وسنده حسن، مجمع الزوائد:١٠/٢٢١.
(٢) ابن ماجه كتاب الزهد باب الرياء والسمعة: احمد:٤/١٢٤.
(٣) احمد:٥/٤٢٨، ابن ماجه كتاب الزهد باب الرياء والسمعة:٤٢٠٢وهوحسن صحيح، الطيالسي:٢٥٥٩، ابن حبان:٣٩٥،د.
(٤) احمد:٥/٤٢٨، شرح السنة:٤/٢٠١وسنده حسن.
(٥) ترمذى كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة الكهف:٣١٥٤وسنده حسن، ابن ماجه: ٤٢٠٣، شعب الايمان:٢٨١٧، احمد:٣/٤٦٦،
(٦) احمد:٥/٤٥وهوصحيح بالشواهد، مسندالبزار:٣٦٩١.
(٧) ترمذى كتاب الزهد باب ماجاء فى الرياء والسمعة:٢٣٨١وهوصحيح، احمد:٣/٤٠.

Scanned with Ca

خلقو په نظر کښې ذليل اوخواروی. دې بيان کولوسره عبدالله ﷺ په ژړا شو.(۱) (مسند احمد) حضرت انس ﷺ روايت کوی چه حضور ﷺ فرمائيل د قيامت په ورځ به د انسان د نيکواعمالو مهر لګيدلې پاڼړې د الله ﷻ په وړاندې پيش کولې شی. دا لړه کړه دا قبول کړه، دا لړه کړه او دا قبول کړه. هغه وخت به فرښتې عرض کوی اې الله ﷻ ترکومې چه زمونږ علم دې دا سړې خو مونږ نيک ګڼړلو جواب به ملاؤ شی چه کوم زه لړه کوم دا هغه اعمال دی په کوموکښې چه صرف زما رضامندی مطلوب نه وه بلکه په دې کښې رياکاری وه. نن خو به زه صرف هغه اعمال قبلوم چه صرف هم زما د پاره کړې شوی وی.

**ريا چې څومره پورې عبادت کښې مشغول د الله ﷻ په غضب کښې وی** - ارشاد دې چه څوك د خودنې اوروني دپاره اودريږی هغه چه ترکومې کينه نی دالله ﷻ په غصه اوغضب کښې وی دابويعلی په حديث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم سړې دخلقو په وړاندې په کتلوسره په مزه مزه ښه ښکلې مونځ اداکوی او په ځان له ځایٔ کښې خراب او په تندئی سره بې زړه ادا کوی هغه د خپل پروردګاربې عزتی اوکړه.(۲) اول بيان شوې دې چه دا آيت معاويه ﷺ د قرآن پاك آخری آيت ښائی خودا قول د اشکال نه خالی نه دې ځکه چه سورت کهف ټول په ټول هم په مکه کښې نازل شوې دې. او ښکاره خبره ده چه دې نه پس برابر لسوکالوپورې قرآن پاك نازليدلو. نو په ظاهره خو دامعلوميږی چه د حضرت معاويه ﷺ مطلب دا وی چه دا آيت آخری دې يعنی په بل آيت سره منسوخ کيږی نه په دې کښې چه کوم حکم دې هغه به ترآخره پورې بدل کړې شوې نه دې د دې نه پس څه داسې آيت نه دې نازل شوې چه په دې کښې بدلون او جداوالې اوکړی. والله اعلم. يوډير زيات غريب حديث حافظ ابوبکر بزار ﷫ په خپل کتاب کښې راوړی دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه کوم سړې آيت ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا﴾ الخ د شپې په آخر وخت کښې اولولی الله ﷻ به هغه ته دومره لوئ نور ورکوی چه د عدن نه به مکې ته اورسی.(۳)

﴿الحمد لله﴾ د سورت کهف تفسيرختم شو.

..............................

## ﴿تفسيرسورت مريم﴾

| ايا تونه | | | سورة مريم مكية وهي ثمان وتسعون اية وست ركوعات | | | ركوع ګانې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | | | |
| | | | شروع کوم په نوم د الله چه ډيرمهربان زيات رحم کونکې دې | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| كٓهٰيٰعٓصٓ ① | ذِكْرُ | رَحْمَتِ | رَبِّكَ | عَبْدَهٗ | زَكَرِيَّآ ② | اِذْ |
| ك ه ی ع ص | دا ذکر دې | د نعمت | درب ستا | په بنده خپل | زکريا باندې | کله چې |

کاف، ها، يا، عين، ص. دا ستا د رب د هغه احسان ذکر دې کوم چه هغه په خپل بنده حضرت زکريا باندې کړې وو

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نَادٰى | رَبَّهٗ | نِدَآءً | خَفِيًّا ③ | قَالَ | رَبِّ | اِنِّىْ |
| اواز اوکړو هغه | رب خپل ته | اواز | پټ | اوويل هغه | اې ربه زما | بيشکه زه چې يم |

څه وخت چه هغه خپل رب ته پټ اواز اوکړو اوعرض ئې اوکړو چه اې زما ربه زما د بدن هډوکی

(۱) احمد:۲/۱٦۲ وهوصحيح، حلية الاولياء:٤/۱۲۳-۱۲٤، امعجم الكبير كماق مجمع الزوائد:۱۰/۲۲۲.
(۲) مسندابي يعلى:٥۱۱۷ عبدالرزاق:۲/۳٦۹، بيهقی:۲/۲۹۰.
(۳) حاكم:۲/۳۷۱ البزار:۸:۳۱۰.

Scanned with Ca

| |
|---|
| وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا |
| كمزوري شو \| هډوكي \| زما \| او سپينه شعله شوه \| ويخته دسر(زما) \| دوجې دبوډاوالى نه \| |
| ضعيف شوى دى او د سر ويخته مې د بوډاوتوب په وجه سپين شوى دى |
| وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآىِٕكَ رَبِّ شَقِيًّا﴿۴﴾ وَاِنِّيْ |
| او نه يم زه(پاتې شوې ) \| په غوښتلو ددعا سره ستا نه \| اے ربه زما \| نامرداه \| او بيشكه زه |
| اې ربه زه كله هم ستانه په دعا غوستلو كښې نامراده شوې هم نه يم \| اوزه د خپل مرګ نه پس د خپلو |
| خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ |
| يريږم(دبد عملئ) \| دخپلو رونړو عزيزانو نه ورستوزما \| او ده \| ښځه زما \| شنډه \| نو راكړه \| ماته |
| وارثانونه يريږم \|او زما بى بى شنډه ده \| نو ماته د خپل طرفه يو وارث راكړه چه (په نبوت كښې) |
| مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا﴿۵﴾ يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ |
| دطرفه ستانه \| يو وارث \| چې وارث شى زما \| او وارث شى داولاد ديعقوب \| او جوړ كړه هغه |
| زما او د يعقوب ﷷ (دعلومو) وارث وى \|او زما ربه هغه خپل بهترين بنده اوګرځوه \| |
| رَبِّ رَضِيًّا﴿۶﴾ |
| اے ربه زما \|غوره انسان \| |

**قوله تعالى:-** ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا﴿۲﴾

**د سورت تعارف:**-ددې سورت د شروع آياتونه حضرت جعفر بن ابى طالب ﷛ دحبش دبادشاه په دربار كښې د بادشاه د درباريانو په وړاندې تلاوت فرمائيلې وو(1)(مسند احمد وسيرت محمد بن اسحاق)

**د حضرت زكريا ﷷ ذكر:-** -ددې سورت په شروع كښې چه كوم پنځه حروف دى دې ته حروف مقطعه وائى ددې تفصيلى بيان د سورت بقرې د تفسير په شروع كښې مونږ كړې دې. د الله ﷻ بنده حضرت زكرياء نبى ﷷ باندې چه دالله ﷻ كوم لطف نازل شودهغې واقعه بيانولې شى په يوقراءت كښې زكريادې.دالفظ په مدسره هم دې اوپه قصرسره هم دواړه قراءتونه مشهور دى.هغوى ﷷ د بنو اسرائيلو يو زبردست پيغمبرو.په صحيح بخارى كښې دى چه هغوى به د تركانۍ پيشه كولوسره خپله خيټه ساتله.(2) د رب نه به ئې دعاكوله خوپه دې وجه دا دخلقو په نيز يوه حيرانونكې دعاوه چاچه به اوريدله نو وئيل به ئې كورنى بوډاوالى كښې داولاد غوښتنه كوى اوداوجه هم وه چه پټه دعاالله ﷻ ډيره خوښه وي او قبوليت سره ډيره نيزدې وى. الله ﷻ پرهيزګاره زړه ډيرښه پيژنى او په مزه آواز ډيرښه اورى.(3)

دبعضو سلفوقول دې چه څوك د خپل پوره خوب نه راپاسى او پټ الله ﷻ ته زارى اوكړى چه اې زما پروردګاراې زما پالونكيه اې زماربه نو الله ﷻ هم هغه وخت جواب وركوى چه لبيك عبدى اې زما

---

(1) احمد:۱/۲۰۲-۲۰۳ ابن هشام:۱/۳۵۷، حلية الاولياء:۱/۱۱۵ مختصرًا دلائل النبوة:۲/۳۰۱.

(2) صحيح مسلم كتاب الفضائل باب من فضائل زكريا ﷷ:۲۳۷۹،ابن ماجه:۲۱۵۰، احمد:۲/۲۹۶،مسندابى يعلى:۶۴۲۶.

(3) الطبرى:۱۸/۱۴۲.

Scanned with Ca

بنده زه حاضریم تاسره موجود یم. په دعاکښې وائی چه یاالله زما طاقت کمزورې دې زما هډوکی ډډ شوی دی زمادسردویښتو توروالې په سپینوالی کښې بدل شوې دې یعنی ظاهری او باطنی ټول طاقت ختم شوې دې دننه او بهر کمزورتیا راګیرکړې یم. زه خوستا د ددرنه چرې هم خالی لاس نه یم تلې. کله چه مې ستا کریم ذات نه څه غوښتی دی تاراکړی دی. ﴿موالیّ﴾کسائی ﴿موالیْ﴾ لوستلې دې دې نه مراد عصبه دي.([1])

**د انبیاء کرامو سره دنبوت فکر وی د مال او دولت وغیره نه وی**:-دامیرالمؤمنین حضرت عثمان بن عفان ﷺ نه﴿خِفّتُ﴾په﴿خَفّتُ﴾سره لوستل مروی دی یعنی زمانه پس زماخلق ډیر کم دی.په اولنی قراءت باندې مطلب دا دې چه زما اولاد نشته اوکوم چه زما خپلوان دی هغوی زمانه ویریده چه هسې نه زمانه پس څه خراب تصرف اونه کړی ماته اولاد راکړه چه زما نه پس زما نبوت راټینګ کړی. داهیڅ کله نه دی ګنړل پکار چه دخپل مال حال اواملاك د اخواديخوا تلوويره وه.انبیاءکرام علیهم السلام دې نه ډیر پاك دی د هغوی مرتبه د دې نه ډیره زیاته لرې ده چه هغوی دې د دې د پاره اولاد اوغواړی چه که اولاد اونه شی نوزما میراث به د لرې رشته دارانوته پاتې شی.

بل په ظاهره داهم دی چه حضرت زکریا ﷺ ټول عمر خپل هډوکی سولولې وواود ترکانی کار کولوسره نی خپله خیټه په خپل کار روزګارسره ساتله هغه سره به داسې کوم یولوئ دولت ووچه د هغې د میراث د پاره به هغه دومره پریشانه وو چه چرته دادولت مې دلاس نه اونه اوځی.انبیاء کرام علیهم السلام خو هسې هم ددنیاد زیات مال نه بې رغبت او د دنیاپرهیزګاران وی. دریمه وجه داهم ده. بخاری اومسلم کښې په ډیروسندونوسره حدیث شریف دې چه رسول الله ﷺ فرمائیل زمونږ میراث به نه شی تقسیم کولې مونږ نه چه څه پاتې شی هغه ټوله صدقه ده.([2])ترمذی شریف کښې په صحیح سندسره روایت دې مونږ دانبیاؤ علیهم السلام ډله یوزمونږ میراث نه تقسیمیږی.نوثابته شوه چه د حضرت زکریا ﷺ داعرض کول چه ماته څوئ راکړه چه زما وارث وی دې نه مطلب د نبوت وراثت دې نه چه د مال. د دې د پاره هغوی دا هم فرمائیل چه هغه زما او د آل یعقوب وارث وی. لکه چه ارشاد دې ﴿وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ۝﴾([3]) سلیمان ﷺ دداؤد ﷺ وارث شویعنی دنبوت وارث شونه چه دمال ګنی په مال کښې نور اولادکښې هم شریك وی تخصیص نه وی.څلورمه وجه دا هم وه اودا هم معقول وجه ده چه د اولاد وارث کیدل خو عام دی په ټولوکښې دی او په ټولومذهبونوکښې دی بیاخو هیڅ ضرورت نه وو چه حضرت زکریا ﷺ په خپله دعاکښې داوجه بیان فرمائیله.دې نه صفاثابت دی چه هغه میراث څه خاص میراث وواوهغه د نبوت وارث جوړیدل وو. نو په دې ټولو وجو سره ثابته ده چه دې نه مراد د نبوت میراث دې لکه چه په حدیث کښې دی زمونږ د انبیاؤ کرامو علیهم السلام میراث نه تقسیمیږی مونږ چه څه پریږدو هغه صدقه ده.([4]) مجاهد رحمه الله فرمائی دې نه مراد د علم وراثت دې. زکریا ﷺ دیعقوب ﷺ د اولادنه وو([5]) ابوصالح رحمه الله فرمائی دې نه مرادداې چه هغه هم دخپلو مشرانو په شان نبی جوړشی.([6]) حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه د نبوت او علم وارث جوړ شی.دسدی رحمه الله قول دې چه زما اود آل یعقوب د نبوت وارث جوړ شی. زیدبن اسلم

---

[1]) الطبری:۱۴۴/۱۸.
[2]) صحیح بخاری کتاب فرض الخمس:۳۸۰۴،صحیح مسلم:۱۷۵۸، ابوداؤد:۲۹۶۳، ترمذی:۱۶۱۰، مسندابی یعلی:۲.
[3]) ۲۷/النمل:۱۶.
[4]) احمد:۴۶۳/۲ وهوصحیح.
[5]) الطبری:۱۴۶/۱۸.
[6]) الطبری:۱۴۶/۱۸.

Scanned with Ca

رحمه الله هم دا فرمائی. د ابوصالح رحمه الله داهم قول دې چه زما د مال خاندان اود حضرت یعقوب د نبوت وارث وی.عبدالرزاق کښې حدیث دې الله ﷺ دې په حضرت زکریا علیه السلام باندې رحم اوکړی د هغه د مال وارث ته څه غرض وو الله ﷺ دې په لوط علیه السلام باندې رحم اوکړی هغه د یوې مضبوطې قلعه خواهش کړې وو. ابن جریرکښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل زما په رور حضرت زکریا علیه السلام باندې دې د الله ﷺ رحم وی وئیل اې الله ماله د خپل ځان نه ولی راکړه چه زما اود آل یعقوب وارث جوړشی.([1]) خودا ټول احادیث مرسل دی چه د صحیح احادیث معارضه نه شی‌کولې. والله اعلم. اواې الله هغه خپل خوښ کړې شوې غلام جوړکړه اوداسې دیندار او دیانتدار نی جوړکړه چه ستا د محبت نه علاوه ټول مخلوق د هغه سره مینه کوی د هغه دین او اخلاقوته هریو د خوښنې او مینې په نظرسره ګوری.

یٰزَكَرِيَّآ | اِنَّا نُبَشِّرُكَ | بِغُلٰمِ
اے ربه زما |غوره انسان | اې زکریا | بیشکه مونږه زیرې درکوؤ تاله | د یوهلك |
(الله اوفرمائیل) اې زکریا مونږ تاته د یو هلک زیرې درکوو |چه د هغه نوم به یحیی وی

اِسْمُهٗ يَحْيٰى لا | لَمْ نَجْعَلْ | لَّهٗ | مِنْ قَبْلُ | سَمِيًّا⑦
چی نوم دهغه به یحیی وی | نهٔ دې ګرځولې مونږ | دهٔ لره |مخکښی ددې نه | په نوم کښې شریك څوك
موږ د هغه نه وړاندې د هغه هم نام هیڅوک نه دې پیدا کړې

قَالَ | رَبِّ | اَنّٰى يَكُوْنُ لِىْ | غُلٰمٌ | وَّكَانَتِ | امْرَاَتِىْ | عَاقِرًا
اووئیل هغه | اې ربه زما |څرنګ به شی | زما | هلك | اوده | ښځه زما | شنډه
زکریا اووئیل اې زما ربه ! زما ځوئې به څنګه پیدا شی حال دا دې چه زما بی بی شنډه ده

وَّقَدْ بَلَغْتُ | مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا⑧ | قَالَ | كَذٰلِكَ ج | قَالَ
اورسیدلې یم زهٔ | دزوړوالی نه وچ والی ته | اووئیل فرښتې | هم دارنګې به کیږی | وئیلی دی
| او د بوډاتوب اخری مرحلې عمر ته رسیدلې یم |فرشتې اووئیل | هم دغه شان به کیږی |ستا رب

رَبُّكَ | هُوَ | عَلَىَّ هَيِّنٌ | وَّقَدْ خَلَقْتُكَ | مِنْ قَبْلُ | وَلَمْ تَكُ
رب ستا | چی دا کار | په ماباند اسان دې | او بیشکه پیدا کړې ئې ماتهٔ |مخکښی ددې نه|او نهٔ وې ته
فرمائیلی دی چه دا کار ماته څه ګران نه دې | او(ته ګوری نه) | د دې نه وړاندې ماتهٔ هم پیدا کړې وې|

شَيْـًٔا⑨
هیڅ څیز |
حال داچه ته هډو موجود نه وې |

**قوله تعالی:- يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ**

**د زکریا علیه السلام ددعا د قبولیت ذکر**:-دحضرت زکریا علیه السلام دعا قبلیږی او فرمائیلې کیږی ته د یوماشوم زیرې واوره دهغه نوم یحیې دې. لکه چه بل ځایٔ کښې ارشاد دې ﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ هَبْ لِىْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ﴾([2])هم هلته زکریا علیه السلام د خپل رب نه دعا اوکړه اې الله ماله ته بهترین اولاد راکړې

[1]) الطبری:۱۰/۱٤٦.
[2]) ۳/آل عمران:۳۸.

Scanned with Ca

ته ددعاګانو اوريدونكې ئى.فرښتوهغه ته اواز وركړواوهغه دهغه وخت دمانځه په ځاى كښې په مانځه كښې ولاړ ووچه الله ﷻ هغوى ته د خپلې يوې كلمې زيرې وركوى چه سردار به وى پاك به وى نبى به وى پوره نيك اود اوچتې درجې دخوخلقو نه به وى. دلته فرمائى د ده نه اول د دې نوم چرته يوانسان هم نه وو شوې(¹)داهم وئيلې شوى دى چه د ده په شان به نورڅوك نه وى.هم دغه معنى ﴿سميا﴾ آيت ﴿ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا﴾ (²)كښې ده.دامعنى هم بيان كړې شوې ده چه دې نه وړاندې د داسې شنډې ښځې داسې بچې نه دې شوې. دزكريا ﷺ هيڅ اولاد نه وو شوې د هغوى بى بى صاحبه د شروع د وخت نه بې اولاد وه. حضرت ابراهيم ﷺ اوحضرت ساره بىبى هم چه دماشوم زيرې واوريدو نو ډيره حيرانتيانى كړې وه د هغوى دحيرانتيا وجه د هغوى اولادنه كيدل يا شنډيدل نه وو بلكه په ډير بوډاوالى كښې د اولاد كيدل دهغوى د حيرانتيا وجه وه. او د زكريا ﷺ خو ددې پوره بوډاوالى پورې اولاد نه وو شوې. د دې د پاره حضرت خليل الله ﷺ فرمائيلې ووچه ماته په دې دومره بوډاوالى كښې د اولاد زيرې څنګه راكوې؟دې نه ديارلس كاله وړاندې اسماعيل ﷺ شوې وو.د هغوى بى بى هم چه دا خبر واوريدونو په حيرانتياسره ئى اووئيل چه په دې بوډاتوب كښې به زما اولاد كيږى؟سره د دې چه زما خاوند هم پوره درجه كښې بوډا دې داخو ډير حيرانونكې څيزدې. دې اوريدو سره فرښتو وئيلى وو چه ستاسو د الله ﷻ په امرباندې حيرانتياده. اې د ابراهيم ﷺ كوروداني په تاسو باندې د الله ﷻ رحمتونه او بركتونه دى الله ﷻ د تعريفونو او بزرګومالك دې.

**دځوې په زيرى د حضرت زكريا ﷺ حيرانيدل:-** حضرت زكريا ﷺ چه د خپلې دعاقبليدو او د هغه د ځوئ ګيدوزيرې اوريدو سره د خوشحالئى او حيرانيدو نه كيفيت معلومول چه په ظاهرى اسبابو خو دا امرمستبعد او نامكن معلوميږى ددواړو طرفونه خو حال د خالص د نااميدئى دې. بى بى شنډه چه د هغې داوسه پورې اولاد نه دې شوې اوزه بوډا اوداسې بوډا د چا په هډوكې چه اوس هيڅ طاقت نه دې پاتې.داوچ خاښ په شان شوې يم.دكوروالامې هم بوډئى شوې ده بيا به زمونږ اولاد څنګه كيږى؟ غرض د رب العالمين نه ئى د خوشحالئى او حيرانيدو سره معلومات كولو.د ابن عباس ﷺ نه روايت دې زه ټول سنت پيژنم خو ماته دا معلومه نه شوه چه حضور ﷺ به ماسپښين او مازيګركښې لوستل كولو اوكه نه؟ اودا معلومه نه شوه چه لفظ ﴿عتيا﴾به لوستلو كه﴿سَمِيًّا﴾(³)(احمد)فرښتې جواب وركړو چه وعده خو اوشوه. هم په دې حالت كښې به هم د دې بى بى نه ستا ځوئ كيږى. الله ﷻ ته داكار ګران نه دې د دې نه د زيات حيرانيدو او لوئ قدرت كار خو تاسو پخپله ليدلى دې اوهغه پخپله ستاسو وجود دې چه هيڅ نه وواو الله ﷻ جوړكړئى. نو چه هغه ستاسو په پيداكول قادر وو نوهغه تاسو له په اولاد دركولوهم قادردې.لكه چه ارشاد دې ﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا﴾ (⁴) يعنى يقينًا په انسان باندې د هغه د زمانې داسې وخت هم تيرشوې دې په كوم وخت كښې چه هغه د ذكر قابل څيز نه وو.

| قَالَ | رَبِّ | اجْعَلْ لِّيْ | اٰيَةً ط | قَالَ | اٰيَتُكَ |
|---|---|---|---|---|---|
| اووئيل زكريا | اې ربه زما | مقرر كړه مالره | يوه نښه | اووئيل الله | چې نښه ستا (داده) |
| زكريا اووئيل زما دپاره څه نښه اوګرځوه الله اوفرمائيل ستا نښه دا ده | | | | | |

(¹) الطبرى:١٨/١٤٨.
(²) ١٩/مريم:٢٥)
(³) احمد:١/٢٥٧-٢٥٨، ابوداؤد كتاب الصلوة باب قدرالقراءة فى صلوة الظهر والعصر:٨٠٩مختصرًا وسنده صحيح.
(⁴) ٧٦/الدهر:١.

Scanned with Ca

اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ

چې ته به خبرې نشې کولې | خلقو سره | درې شپې ورځې | پرله پسې | نو رااووتو هغه

چه درې شپې ورځې به د خلقو سره خبرې نشې کولې | او روغ رمټ به ئې | نو هغه د عبادت خانې نه

عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰۤى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً

په قوم خپل باندې | دعبادت خانې نه | نو اشاره ئې اوکړه | هغوئ ته | چې تسبيح وايئ | سحر

اووتلو او خپل قوم ته ورغلو | نو هغه ته ئې په اشاره سره اووئيل چه صبا او بيګاه (د الله ﷻ)

وَّعَشِيًّا ﴿١١﴾

او ماښام |

تسبيح وائې

**قوله تعالى:- قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْۤ اٰيَةً ط**

**د حضرت زکريا ﷺ نخښه غوښتل:** حضرت زکريا ﷺ د خپلې نورې تسلئی د پاره اود زړه د تشفی د پاره د الله ﷻ نه دعاکوی چه په دې خبره باندې څه نښه رابنکاره کړه. لکه چه خليل الله ﷺ د مړو د بيا راژوندی کيدو کتلو خواهش د دې د پاره ښکاره کړې وو. ارشاد اوشو چه ته به نه ګونګاکيږې اونه به بيمارېږې خو ته به خلقو سره خبرې نه شې کولې. دريوورځوپورې به هم داحال وی.(١)
هم دا شان شوې هم وو چه په تسبيح استغفار اوحمدوثناوغيره باندې به ئې ژبه چليدله خوخلقو سره به ئې خبرې نه شوې کولې.(٢) د ابن عباس ﷛ نه داهم روايت دې چه د ﴿سويا﴾ معنی وار په وار ده. يعنی مسلسل يوشان برابر درې شپې ورځې به ستا ژبه د دنياوی خبرو نه بنده وی. رومبې قول هم د هغوی نه نقل دې اود جمهورو تفسيرهم دا دې اوهم دا ډير صحيح هم دی. په سورت آل عمران کښې د دې بيان هم تيرشوې دې. چه علامت غوښتلو باندې ارشاد اوشو چه دريوورځوپورې به ته صرف په اشارو وغيره خلقو سره خبرې کولې شې.(٣) اود خپل رب ياداوذکر په کثرت سره کوه او سحر ماښام د هغه پاکی بيانوه. نو په دې دريو شپوورځوکښې هغوی چاانسان سره خبرې نه شوې کولې. او په اشارو سره به ئې خپل مطلب ورخودلو. خوداخبره نه وه چه هغه ګونګې شوې وو. اوس چه هغوی دخپلې حجرې نه کوم ځائ کښې په يواځيوالی کښې د خپل اولاد د کيدو دعاکړې وه بهرراغلو او چه رب کوم نعمت په هغوی باندې انعام کړې وو اود کوم تسبيح اوذکر هغوی ته حکم شوې وو هم هغه قوم ته هم حکم اوشو خبرې نه شوې کولې نو په دې وجه نې هغوی ته په اشاروسره پوهه کړل يائی په زمکه باندې په ليکلو سره پوهه کړل.(٤)

يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ط وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ

| اې يحيى | اونيسه | دا کتاب | مضبوط | او ورکړو مونږ هغه ته حکم

(بيا ورته مونږ اووئيل) اې يحيى! دا کتاب کلک اونيسه | او مونږ هغه ته په ماشوموالی

(١) الطبری:١٨/١٥٢.
(٢) الطبری:١٨/١٥٢.
(٣) ٣/آل عمران:٤١.
(٤) الطبری:١٨/١٥٣.

Scanned with Ca

| |
|---|
| صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ۭ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَّبَرًّۢا |
| په وړوکوالي کښې \| او نرموالي دزړه \| دخپل طرفنه \| او پاکي \| اووۀ هغه \| پرهيزګاره \|او نيك وۀ |
| کښې پوهه ورکړې وه \| اود خپل طرفه مو ورته زړه خوږي او پاکي ورکړې وه \| او هغه ډير تقوی دار وو \| |
| بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ |
| د مور او پلار خپل دپاره\| او نه وۀ هغه \| سرکشه \| نافرمانه \| او سلام وو \| په هغه باند \| په کومه ورځ |
| اود خپل مورپلارپه حق کښې ډيرنيک وو او سرکش اونافرمانه نه وو او په هغه دې سلام وی په کومه |
| وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾ |
| چی پيدا کړې شو هغه \|اوپه کومه ورځ \|چی به مری هغه\|او په کومه ورځ\| چی به راپاسولې شی\|ژوندې |
| ورځ چې پيدا شو اوپه کومه ورځ چې به مری اوپه کومه ورځ چې به دوباره ژوندې راپاڅولې شي |

**قوله تعالى:- وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾**

**دحضرت يحيى ؑ صفات** :-دالله ﷻ دزيری او بشارت مطابق حضرت زکرياؑ کره حضرت يحيى ؑ پيداشو.الله ﷻ هغوی ته تورات اوخودلوچه په هغوی کښې به ئی لوستلواودکوم احکام چه انبياء کراموانيکانوخلقو نوروته خودل.هغه وخت د هغوی عمر هم دوړوکوالی وو. په دې وجه نی د خپل دې حيرانونکی نعمت ذکرئی هم اوکړوچه بچې ئی هم ورکړواوهغه ته ئی دآسمانی کتاب علم هم په وړوکوالی کښې ورکړو اوحکم ئی ورکړو چه حرص اجتهاد کوشش اوقوت سره د الله ﷻ کتاب زده کړه.دې سره مونږ هم په هغه عمرکښې د پوهې علم طاقت کلکه اراده هوښيارتوب اوحلم ورکړو.د نيکوطرف ته د وړوکوالی نه آماده وو او په کوشش اوخلوص سره به ئی دالله ﷻ عبادت اودمخلوق خدمت کښې جداشوې وو.ماشومانو به هغوی ؑ سره د لوبوکولود پاره وئيل خوهغوی به دا جواب اوريدلوچه مونږ د لوبود پاره نه يو پيداکړې شوې.دحضرت يحيى ؑ وجودد حضرت زکرياؑ د پاره زمونږ د رحمت يوه کرشمه وه. په کوم باندې چه بغير زمونږ نه بل څوك قادر نه دی. دحضرت ابن عباس ؓ نه دا هم روايت دې چه والله زه پوهيږم چه د حنان څه مطلب دې. په لغت کښې د مينې شفقت او رحمت وغيره په معنی کښې راځی. په ظاهره هم دا مطلب معلوميږی چه مونږ هغه ته د وړوکوالی نه حکم ورکړې وواوهغه ته مو شفقت محبت او پاکوالې ورکړې وو.دمسنداحمد په يوحديث کښې دی يوسړې به په دوزخ کښې دزروکالوپورې يا حنان يا منان چغې وهی([1])دهرخيری ميری نه دهرې ګناه نه اومعصيت نه هغوی بچ کړې شوی وو.صرف نيك اعمال د هغوی د ژوند خلاصه وه. هغوی د ګناهونونه د الله ﷻ دنافرمانونه لرې وو.دې سره دمور پلار حکم منونکی اوهغوی سره ښه سلوك کونکې وو.هيڅ کله ئی دخپل مورپلارپه خبره کښې مخالفت نه دې کړې.کله هم دهغوی دفرمان نه بهرشوې نه دې. کله هم دهغوی دمنع کولونه پس يوکارنه دې کړې.هيڅ سرکشی نافرمانئی خوئی په هغوی کښې نه وو.

**دويرې درې واقعات**:-د دې خوصفتونواوښکلې خصلتونو په بدله کښې په دريواړو حالتونوکښې هغوی ته د الله ﷻ دطرف نه امن امان اوسلامتی ملاوشوه.يعنی د پيدائش والاورځ دمرګ ورځ او د حشرورځ دغه دريواړو خايونوکښې ويره وی اوناآشناوی.دموردخيټې نه راوتلوسره يوه نوې دنيا ګوری چه د هغه ترنن ورځې پورې د دنيا نه عظيم الشان او بالکل مختلف وی.دمرګ په ورځ د هغه مخلوق سره

[1]) احمد:۳/۲۳۰ مسندابی يعلی:۴۲۱۰، مجمع الزوائد:۱۰/۳۸۴۰،

Scanned with Ca

مخ کیږي چه په ژوند کښې ورسره کله هم نه مخامخ شوې اونه ئې کله هم هغوی لیدلي. د محشر په ورځ هم علی هذا القیاس خپل خان به په یوه ډیره لویه ګنړه کښې چه بالکل نوې ځیز به وی کتلو سره به حیرانیږي. نو په دې دریواړو وختونو کښې د الله ﷻ د طرف نه یحیی ﷺ ته سلامتی ملاوشوه. په یومرسل حدیث کښې دی حضورﷺ فرمائیلی ټول خلق به د قیامت په ورځ څه ناڅه ګناه وړی ځی به بغیر د حضرت یحیی ﷺ. حضرت قتاده رحمه الله وائی چه هغه ګناه خوځه چه د ګناه اراده ئې هم چرته نه ده کړې. داحدیث مرفوعًا(۱)اوپه دووسندونوسره هم نقل دې خوهغه دواړه سندونه هم ضعیف دی. والله اعلم.حضرت حسن رحمه الله فرمائی دحضرت یحیی ﷺاوحضرت عیسیﷺ ملاقات اوشونو حضرت عیسی ﷺحضرت یحیی ﷺ ته اوفرمائیل تاسو زمادپاره استغفاراوکړئی تاسوزما نه بهترئی. حضرت یحییﷺ جواب ورکړوتاسومانه بهترئی. حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل ماخوپخپله په خپل ځان باندې سلام وئیلې دې اوپه تاسو باندې پخپله الله ﷻ سلام وئیلې. اوس د دې دواړو د الله ﷻ په نیز فضیلت ښکاره دې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَاذْكُرْ | فِي الْكِتٰبِ | مَرْيَمَ | اِذِ انْتَبَذَتْ | مِنْ اَهْلِهَا |
| او بیان کړه | په دې کتاب کښې | (واقعه د) مریم | کله چې هغه یو طرفته لاړه | داهل خپل نه |

(ائې نبی) کتاب (یعنی قرآن) کښې دمریم هم ذکر اوکړه څه وخت چې دکور دخلقو نه جدا شو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَكَانًا | شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾ | فَاتَّخَذَتْ | مِنْ دُوْنِهِمْ | حِجَابًا | فَاَرْسَلْنَآ |
| یو ځائې ته | چې نمر خاته طرف ووّ | او جوړه ئې کړه | طرفه ددوئ ته | یوه پرده | نو اولیږو مونږه |

دنمر خاته اړخ یو مکان ته لاړه نودخلقو دمخې نه ئې پرده اوکړه نومونږ ورته خپله خاص فرښته اولیږله

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اِلَيْهَا | رُوْحَنَا | فَتَمَثَّلَ | لَهَا | بَشَرًا | سَوِيًّا ﴿١٧﴾ | قَالَتْ |
| هغې ته | روح خپل | نو شکل جوړ کړو هغه فرښتې | هغې(مریم) ته | انسان | پوره | اووئیل مریم |

چې دهغې په وړاندې دسم دم بنیادم په شان ښکاره شوه هغې اووئیل چې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اِنِّيْٓ | اَعُوْذُ | بِالرَّحْمٰنِ | مِنْكَ | اِنْ كُنْتَ | تَقِيًّا ﴿١٨﴾ |
| چې بیشکه زهٔ | پناه غواړم | په رحمن سره | ستا نه | که ئې ته | یریدونکې دالله نه |

زهٔ تانه درحمان (په نامه) پناه غواړم که ته دالله ﷻ نه ویریږې

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قَالَ | اِنَّمَآ | اَنَا | رَسُوْلُ | رَبِّكِ | لِاَهَبَ | لَكِ | غُلٰمًا | زَكِيًّا ﴿١٩﴾ |
| اووې هغه فرښتې | بیشکه | زهٔ | استازې یم | درب ستا | چې درکړم | تاته | هلك | پاك(صالح) |

فرښتې اووئیل چې زه ستا درب رالیږلې شوې فرښته یم چې زه تاته یو پاکیزه هلک درکړم

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قَالَتْ | اَنّٰى يَكُوْنُ | لِيْ | غُلٰمٌ | وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ | بَشَرٌ |
| اووئیل مریم | څنګه به پیدا شي | زما | هلك | حال دا چې ګوتې نهٔ دی راوړی ماته | هیڅ یو انسان |

هغې اووئیل چې زما لا څنګه هلک کیدیشی حال دادې چې نه راله بنیادم لاس راوړې دې

(۱) احمد:۲۵٤/۱ مسندابی یعلی:۲٥٤٤،مجمع الزوائد:۲۰۹/۸.

Scanned with Ca

| |
|---|
| وَلَمْ اَكُ بَغِيًّا۝ قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ |
| اونهٔ يم زهٔ \| زناكاره(بنځه) \| اوونيل فرښتې \| هم دغسې به كيږي \| فرمائيلي دي رب ستا \| دا كار |
| اونه زه بدكاره يم فرښتې اووئيل چې دغسې به كيږي ستارب فرمائيلي دي داكار |
| عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً لِّلنَّاسِ |
| په ما باند\| آسان دې \| او كوؤ دا كار دپاره ددې چې اوګرځوو هغه هلك \| يوه نښه \| دپاره دخلقو |
| ..........ماته ډيراسان دې اودا ځكه چې مونږ.................. داخلقو دپاره يو نخښه او(ذريعه د) |
| وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا۝ |
| او رحمت \| دخپل طرفنه \| او دې دا كار \| خامخا كيدونكې |
| رحمت جوړ كړو اودايوه فيصله شوې خبره ده |

**قوله تعالى:- وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ**

**د حضرت مريم ام عيسى عليهما السلام ذكر:-** پورته د حضرت زكريا ﷺ ذكر شوې وو اودا بيان فرمائيلې شوې ووچه هغه د خپل ټول بوډاوالى پورې بې اولاد وو اود هغه د بى بى هيڅ هم نه وو شوى. بلكه د اولاد صلاحيت په كښې نه وو. په دې باندې الله ﷻ هم په دې عمر كښې هغه له په خپل قدرت سره اولاد وركړو.حضرت يحيى ﷺ پيداشو چه نيكوكار اووفاشعاروو.د دې نه پس د دې نه هم دخپل لوئ قدرت څرګندونه كوى. دِ حضرت بى بى مريم واقعه بيانوى چه هغه پيغله وه د يوسړى لاس هم هغې پورې نه وولګيدلې اوبغيردسړى نه الله ﷻ په خپل قدرت كامله سره هغې ته اولاد وركړ. د حضرت عيسى ﷺ غوندې خوئ هغې ته وركړو چه د الله ﷻ غوره پيغمبر روح الله اوكلمة الله وو. په دې دواړو قصوكښې پوره مناسبت دې د دې د پاره دلته هم اوسورت آل عمران كښې هم اوپه سورت انبياء كښې هم دا دواړه په تفصيل سره بيان كړې دې د پاره چه بنديګان د الله ﷻ د قدرت او عظيم الشان سلطنت كتنه اوكړى. بى بى مريم د عمران لور وه د داؤد ﷺ دنسل نه وه.په بنى اسرائيلوكښې دا كورنئ طيب اوپاكه وه.په سورت آل عمران كښې دهغوى ﷺ دپيدائش وغيره تفصيلى بيان تيرشوې دې.

د هغه زمانې د دستوراورواج مطابق د هغې مور بى بى هغه د بيت المقدس د مسجدمقدس د خدمت د كار د پاره د دنياوى كارونونه آزاده كړې وه. الله ﷻ دانذر قبول كړو اودحضرت بى بى مريم پالنه په ښه توګه باندې اوشوله. هغه د الله ﷻ په عبادتونو رياضتونو اونيكوكښې مشغوله شوه. د هغې عبادت رياضت تقوى او پرهيزګارى د هر چا په ژبه وه. هغه د خپلې ترور د خاوند حضرت زكريا ﷺ په پالنه او تربيت كښې وه چه هغه د بنى اسرائيلو نبى وو. ټول بنى اسرائيل په دينى كارونوكښې هم د دوى د حكم تابعدارو. حضرت زكريا ﷺ ته د حضرت بى بى مريم ډيرزيات كرامتونه ښكاره شوې وو خاص كر چه كله به هغه د دې عبادت خانې ته ورتلو نود نوى قسم بې موسمه ميوې به هلته موجود وې. معلومات نې اوكړو مريم دا د كوم ځاىٔ نه راځى؟ جواب ملاو شود الله ﷻ د طرف نه. هغه داسې قادردې چه چاله غواړى نو بې حسابه رزق وركوى.اوس د الله ﷻ اراده اوشوه چه د حضرت بى بى مريم د خيټې نه حضرت عيسى ﷺ راپيداكړى چه د ټولو اولوالعزم پنځوپيغمبرانونه يودې. هغه د مسجدمقدس مشرقى طرف ته لاړه ياخود حيض راتلو په وجه ياپه بل څه وجه. ابن عباس ﷺ فرمائى چه په اهل كتاب باندې دالله ﷻ دطرف نه بيت الله ته متوجه كيدل اوحج كول فرض كړې شوى ووخوبى

Scanned with Ca

بي مريم د بيت المقدس نه مشرق طرف ته تلې وه لکه چه د الله ﷻ ارشاد دې په دې وجه دغه خلقو د مشرق طرف ته مونځ کول شروع کړه. د عيسى ؑ د پيدائش ځائ هغوى پخپله قبله جوړه کړه.[1] روايت دې چه کوم ځائ ته هغه تلې وه هغه ځائ د دې ځائ نه لرې او غيرآباد وو. وائى چه هلته د هغې پتې ووکوم ته چه د اوبوورکولودپاره هغه تلې وه. دا هم وئيلى شوېدى چه هلته ئى حجره جوړه کړې وه. د دې د پاره چه د خلقو نه ځان د الله ﷻ په عبادت کښې په اوزګارتياسره مشغول کړم. والله اعلم.

**دحضرت جبرائيل ؑ په انسانى شکل کښې راتلل:**-کله چه هغه د خلقو نه لرې شوه او د هغوى اود دې په مينځ کښې پرده راغله نو الله ﷻ خپله امين فرښته حضرت جبرائيل ؑ راوليګلو. هغه په پوره انسانى شکل کښې هغې ته ښکاره شو دلته د روح نه مراد هم دغه بزرګ فرښته ده.[2] لکه چه په آيت ﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ﴾[3] الخ کښې دى.ابى بن کعب ؓ وائى چه په روز ازل کښې کله دبنيادمو د ټولوروحونونه د الله ﷻ دالوهيت اقراراخستې شوې ووپه هغه روحونوکښې د حضرت عيسى ؑ روح هم وو. هم دا روح په انسانى شکل کښې الله ﷻ راليګلې وو اوهم دې روح هغې سره خبرې کړې وې او د هغې بدن ته ورننوتلې وو خودا قول د غريب کيدونه علاوه منکرهم دې ډير ممکن دى چه دا بنى اسرائيلى قول وى. هغې چه په دې ځان له ځائ کښې يوغيرسړې اوليدونو داخيال ئى راغلوچه دا چرته خراب سړې نه وى هغه ته ئى دالله ﷻ ويره وراوړاندې کړه. که ته پرهيزګارئې نودالله ﷻ نه اوويرېږه اوزه دالله ﷻ پناه غواړم. دومره پته خوهغې ته د ده بشره نه ليګيدلې وه چه يوښه انسان دې اودې ته معلومه وه چه نيک انسان د پاره د الله ﷻ ويره اوخطره کافى ده. فرښتې د هغې ويره حيرانيتا اوخطره لرې کولودپاره صفااووئيل بل هيڅ ګمان مه کوه زه د الله ﷻ راليګلې شوې فرښته يم.

وائى چه دالله ﷻ نوم ئى واوريدونوحضرت جبرائيل ؑ اوړچيدو او په خپل اصلى صورت کښې راغلو اوونى وئيل زه د الله ﷻ راليګلې شوې يم د دې د پاره الله ﷻ زه راليګلې يم چه تاته يوپاک نفس ځوئ درکول غواړى. د ﴿لِأَهَبَ﴾ دويم قراءت ﴿لِيَهَبَ﴾ دې ابوعمرو بن علاء چه يومشهور اومعروف قارى دې د هغه دغه قراءت دې د دواړو قراءتونوتوجيه او مطلب بالکل صفادې اوپه دواړو کښې استلزام هم دې. دې اوريدو سره بى بى مريم ته نوره هم حيرانتيا اوشوه سبحان الله زما به بچې څنګه کيږى؟زما خو نکاح نه ده شوې اود بدکارنى خو زما خيال هم نه دې. زما بدن سره تراوسه پورې د يوانسان لاس هم نه دې لګيدلې . بدکاره نه يم نو څنګه به زما بچې کيږى. ﴿بغيا﴾ نه مراد زناکارى ده.

**دانسان دپيدائش څلور طريقې:**-لکه څنګه چه په حديث کښې هم دا لفظ په دې معنى کښې راغلې دې چه ﴿مهرالبغى﴾د زناکارې ښځې ګټه حرام ده.[4] فرښتې د هغې حيرانتيالرې کولودپاره اوفرمائيل چه دا ټول رښتيادى خوالله ﷻ په دې قادر دې چه د بغيرخاوند اوبغيرد څه بلې خبرې هم اولاد ورکړى هغه چه څه غواړى کيږى.الله ﷻ به داواقعه اوداماشوم دخلقو د تذکيرسبب جوړوى. دا به د الله ﷻ د قدرت يوه نښه وى دې د پاره چه خلقو ته پته اولګى چه هغه خالق په هرقسم پيداکولوباندې قادر دې. آدم ؑ ئى بغيرد ښځې اوسړى نه پيداکړو حوا بى بى ئى صرف دسړى نه بغيرد ښځې پيداکړه اوباقى ټول انسانان ئى دښځې اوسړى نه پيداکړل اوعيسى ؑ ئى بغيرد سړى صرف هم د ښځې نه راپيداکړو.

---

[1] الطبرى:۱۸/۱۶۲.

[2] الطبرى:۱۸/۱۶۳.

[3] ۲۶/الشعراء:۱۹۳.

[4] صحيح بخارى کتاب البيوع باب ثمن الکلب:۲۲۳۷،صحيح مسلم:۱۵٦۷، ابوداؤد:۳٤۸۱، ترمذى:۱۲۷٦، ابن ماجه :۲۱۵۹، احمد:٤/۱۱۹، ابن حبان:۵۱۵۷.

Scanned with Ca

د تقسیم هم دا ځلور صورتونه کیدې شی کوم چه ټول پوره کړې شو اود خپل قدرت کمال او د عظیم سلطنت مثال نی قایم کړو. فی الحقیقت کښې نه د هغه نه بغیرېل څوك معبود اونه پروردګارشته. دا ماشوم به د الله ﷻ رحمت جوړیږی او د الله ﷻ پیغمبر به وی. د الله ﷻ د عبادت دعوت به مخلوق ته ورکوی لکه چه بل آیت کښې دی چه فرښتو اووئیل اې مریم الله ﷻ تاته د خپلې کلمې یو زیرې اوروی د کوم نوم چه به مسیح عیسی بن مریم ﷺ وی چه په دنیااو آخرت کښې به د عزت خاوندوی اووی به هم د الله ﷻ مقرب. هغه به هم په زانګوکښې خبرې کوی او په زیات عمر کښې هم اووی به هم د نیکانو خلقو نه یعنی په وړوکوالی او بوډاوالی کښې به د الله ﷻ د دین دعوت ورکوی.([1])

روایت دې چه حضرت مریم علیها السلام اوفرمائیل د خلوت اویواځیوالی په موقعه به ماسره حضرت عیسی ﷺ خبرې کولې او چه زه به په ډله کې اووم نود الله ﷻ تسبیح به ئې بیانوله.داحال د هغه وخت دې کله چه دې زما په خیټه کښې وو. یعنی دا خبرې او تسبیح د هغه ځما په خیټه کښې ووبیا فرمائی چه داکار د الله ﷻ په علم کښې مقدر اومقررشوې دې هغه به په خپل قدرت سره دا کارپوره کوی. ډیر ممکن دی چه داقول هم د حضرت جبرائیل ﷺ وی اوداهم کیدې شی چه دا فرمان د الله ﷻ حضور ﷺ ته وی اودې نه مراد د روح پوك وهل وی. لکه چه ارشاد دې د عمران لور بی بی مریم ډیره پاك دامنه بی بی وه. هم مونږ په هغې کښې روح پوك وهلې وو([2]) یوبل آیت کښې دی چه هغه پاکه بی‌بی په کومه کښې چه مونږ خپل روح پوك وهلو.([3]) نود دې جمله مطلب دا دې چه دا خو به کیږی الله ﷻ د دې اراده کړې ده. والله اعلم.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَحَمَلَتْهُ | | | | |
| نو امیدواره شوه مریم په هلك سره | | | | |
| نو دهغې په ګیډه شو نو د خپل(حمل) سره یولرې | | | | |
| فَانْتَبَذَتْ | بِهٖ | مَكَانًا | قَصِيًّا ⑫ | فَاَجَآءَهَا |
| نو لاړه یوې ډډې ته مریم | دغه حمل سره | یو ځائي ته | چې لرې وۀ | پس راوسته هغه |
| .........ځائي ته لاړه نود زیږون دردونو............ دکهجورې یوې ونې ته راوستله | | | | |
| الْمَخَاضُ | اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ | قَالَتْ | يٰلَيْتَنِيْ | |
| دردونو دبچی دپیدا کیدلو | تنې دونې دکجورې ته | اووئیل هغې | افسوس دې په مابانديٍ | |
| او هغې اووئیل چې هائې افسوس که زه ددې نه پخوا مړه شوې | | | | |
| مِتُّ | قَبْلَ هٰذَا | وَكُنْتُ | نَسْيًا مَّنْسِيًّا ⑬ | |
| چې مړه وې زۀ | وړاندې ددې نه | اووې زۀ • | هیره دزړونونه وتلی | |
| او هیره تیره شوې وې | | | | |

**قوله تعالی:- فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ⑫**

**حضرت بی بی مریم د کهجورې د ونې خواله لاړه:-** روایت دې چه کله هغې د الله ﷻ فرمان واوریدو اود هغې په وړاندې نی ستې تیټ کړونوجبرائیل ﷺ دهغې د قمیص په ګریوان کښې پوکې اووهلو: په دې

[1] ۳/آل عمران:۴۵-۴۶.
[2] ۲۶/التحریم:۱۲.
[3] ۲۱/الانبیاء:۹۱.

سره د الله ﷻ په حکم سره د هغې حمل شو. اوس ډيره اوويريدله او دې خيال سره به نى زړه خوړلو چه زه به خلقو ته څه مخ ښايم؟ که هرڅومره خپل خلاصوالې پيش کړم خودا عجيبه خبره به څوك منى؟ هم په دې ويره کښې هغه وه اوچاته نى هم داواقعه نه وه بيان کړې اوچه هغه کله خپلې ترور دحضرت زکريا ﷺ بى بى له راغله نوهغې ورسره غاړه ملاوکړه او وئى وئيل بچې دالله ﷻ په قدرت سره اوسنا د تروردخاوندپدعا سره زه په دې عمرکښې حامله شوې يم ځکه چې زکريا ﷺ دنيك ولد دعا غوښتلې نو بى بى مريم هغې ته اوئيل تروري ماسره خوهم داسې واقعه پيښه شوه اوزه هم خپل ځان ستا پشان حالت کښې ګڼړم. داګورنئى د نبى‌ګورنئى وه هغوى د الله ﷻ په قدرت او د بى بى مريم په صداقت باندې ايمان راوړو. د دې نه پس دا حالت وو چه کله په دې دواړو پاکو بيبيانو ملاقات کولو نو ترور به نى دامحسوس کول چه دهغې ماشوم دهغې دخورځې دماشوم مخې ته ټيټيږى اودهغه عزت کوى.(۱) د هغوى په مذهب کښې دا جائزهم وو په دې وجه د حضرت يوسف رونړو او پلار هغه ته سجده کړې وه او الله ﷻ فرښتوته دحضرت آدم ﷺ په وړاندې د سجدې حکم کړې وو. خوزمونږ په شريعت کښې دا تعظيم صرف د الله ﷻ د پاره خاص کړې شو اوبل چا ته سجده کول حرام کړې شو. ځکه چه دا د الله ﷻ د تعظيم نه خلاف ده اود هغه شان سره مناسب نه ده. امام مالك رحمه الله فرمائى چه حضرت عيسى ﷺ او حضرت يحيى ﷺ د ترور ځامن وو. خودا دواړه دترور ځامن نه وو بلکه مامااوخورئې وو اودواړه هم په يووخت کښې په حمل کښې وو. دحضرت يحيى ﷺ موربه اکثر حضرت بى بى مريم ته فرمائيل چه ماته خوداسې معلوميږى چه زما دا بچې ستا بچى ته سجده کوى. امام مالك رحمه الله فرمائى چه د دې نه دحضرت عيسى ﷺ فضيلت ثابتيږى. ځکه چه الله ﷻ دهغه په لاس باندې پخپل حکم سره مړى‌ژوندى کول د مورنه پيداشوى ړانده او برګيان به نى ښه کول.

**عيسى ﷺ څومره موده د مور په خيټه کښې وو:**-د جمهوروقول خودا دې چه هغه نهه مياشتې په خيټه کښې وو. حضرت عکرمه رحمه الله فرمائى چه اته مياشتې وو. د دې د پاره د اتومياشتو د حمل ماشوم عموما ژوندې نه پاتې کيږى. ابن عباس رضى الله عنه فرمائى چه دحمل کيدو سره ماشوم اوشو. داقول غريب دې ممکن دى چه هغه د آيت ظاهرى لفظ سره داګڼړلې وى چه دحمل کيدو جدااود ماشوم د پيداکيدوذکر په دې آياتونوکښې "ف" سره دې او "ف" د تعقيب د پاره راځى خوتعقيب د هرڅيز د هغه په اعتبارسره کيږى لکه د عامو انسانانو د پيداکيدوحال د قرآن آيت ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ۚ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۚ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا ۚ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ۗ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ۚ﴾(۲) کښې شوې دې چه مونږ انسان د ګړنګيدلې خاورې پيداکړې دې بيامو هغه دنطفه په شکل کښې په رحم کښې حصار کړو بيامود نطفه نه چکنى جوړه کړه بياد دې چکنى نه دغوښې ټکړا جوړه کړه بياددې غوښې ټکړې نه هډوکى پيداکړه. دلته هم په دوو ځايونو کښې "ف" ده اوده هم د تعقيب د پاره. خود حديث شريف نه ثابت دى د دواړو حالتونو په مينځ کښې د څلويښتو ورځو فاصله وى.(۳) د قرآن کريم په بل آيت کښې دى ﴿اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۖ فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ۚ﴾(۴) آيا تاونه ليدل چه الله ﷻ د آسمان نه باران ورووى؟ نوزمکه آباديږى، ښکاره خبره ده چه د اوبووريدونه ډيره موده پس شينکې راټوکيږى. حالاتکه "ف" دلته هم ده نوتعقيب د هرڅيز د هغه څيز په اعتبارسره کيږى. نيغه شان خبره خوداده چه په مثال د عادت د ښځو د خپل حمل زمانه پوره تيره شوه.

---

(۱) حاکم: ۲/۵۹۳ ح ۴۱۵۶ وسنده حسن وهومن الاسرائيليات.
(۲) ۲۳/المؤمنون: ۱۲.
(۳) صحيح بخارى کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائکة صلوات الله عليهم: ۳۲۰۸، صحيح مسلم: ۲۶۴۳.
(۴) ۲۲/الحج: ۶۳.

Scanned with Ca

**د بی بی مریم سره د مسجد دخادم مکالمه اودهغې جوابونه:**-دبی بی مریم سره په مسجد مقدس کښې. د جمات یوخادم اویوصاحب بل هم وود هغه نوم یوسف نجاروو هغه چه کله د حضرت بی بی مریم داحال اوکتلونو اول خو ئې دا حالت بد اوګڼړلو د حضرت بی بی مریم د تقوی پرهیزګارئی عبادت اوریاضت د رب نه ویریدل اوحق کتلوته خیال کولوسره هغه د زړه دا خرابې ویستل غوښتل خو چه څنګه څنګه ورځې تیریدلې حمل ښکاره کیدلو بس اوس خو چپ پاتې نه شو یوه ورځ ئې ډیر په ادب سره اووئیل بی بی مریم زه تانه د یوې خبرې تپوس کوم خفه کیږه مه. آیا بغیرد تخم نه د یوې ونې کیدل بغیرد دانې فصل کیدل بغیرد پلار نه ماشوم هم کیدې شي؟ هغه د ده په مطلب پوهه شوه اوجواب ئې ورکړو چه دا هرڅه ممکن دی. دټولونه اول چه الله ﷻ کومه ونه پیداکړې وه هغه بغیرد تخم نه وه. د ټولونه اول چه الله ﷻ کوم فصل راټوکولې وو هغه بغیرد دانې نه وو دټولونه اول الله ﷻ حضرت آدم ؊ پیداکړو هغه بغیرد پلار نه وو بلکه بغیرد مور نه هم وو. د هغه په عقل کښې خودا خبره راغله اوبی بی مریم او د الله ﷻ قدرت ئې دروغ اونه ګڼړلو. اوس چه بی بی مریم صدیقه دا اوکتل چه د قوم خلق به په هغې باندې تهمت لګوی نوهغې دا ټول پریخودل اوډیره لرې چرته لاړه.

**دخلقود تهمتونو په وجه بی بی مریم چرته لرې لاړې:**-امام محمدبن اسحاق ؒ فرمائی کله چه د حمل حالات ښکاره شو نوقوم دمسخرو آوازونه کول اوخبرې جوړول ئې شروع کړې اوپه حضرت یوسف نجارغونډې صالح سړی باندې دا تهمت اولګولو نو هغه د دې ټولونه چرته غاړې ته شوه چه نه څوک ګوری او نه څوك دا اوګوری. کله چه د ماشوم پیداکیدو درد شروع شو نوهغه د یوې کهجورې بیخ ته کیناستله وائی چه داخلوت خانه د بیت المقدس مشرقی طرف ته حجره وه.(۱)داهم یوقول دې چه کله هغه دشام اومصر مینځ ته راورسیده هغه وخت دماشوم کیدو دردشروع شو(۲) بل یوقول دې چه د بیت المقدس نه هغه اته میله تلې وه دهغه کلی نوم بیت اللحم وو(۳) اول دمعراج دواقعه په بیان کښې یو حدیث تیرشوې دې په کوم کښې چه دی د عیسی ؊ پیدائش ځائ هم بیت اللحم وو.(۴)( والله اعلم.

**حیاناکه او پاکدامه ښځه په تهمتونو مرګ ته ترجیح ورکوی:**-مشهوره خبرهم دا ده اود نصرانیانوخو په دې خبره باندې اتفاق دې اوپه دې حدیث کښې هم دی که دا صحیح وی. دې وخت کښې هغې د مرګ غوښتنه کوله. څکه چه د دین دفتنې په وخت کښې داخواهش کول هم جائز دی. پوهیدله چه څوك به هغې ته ربښتونې نه.وائې. دهغې بیان کړې شوې واقعه به هرڅوك دروغ ګڼړی دنیابه هغه پریشانه کوی اوپه عبادت او اطمینان کښې به ئې خلل پریوځی. هرسړې به ئې په بدوسره یادوی اوپه خلقو به خراب اثر پریوځی.نووئی فرمائیل چه افسوس زه ددې حالت نه وړاندې اوچته کړې شوې ووم.(۵)بلکه افسوس چه زه خوهډو پیداشوې نه وې. دومره د حیانه شرمیدله چه هغې په دې تکلیف باندې مرګ ته ترجیح ورکړه اوخواهش ئې کولو چه افسوس زه چرته ورك شوې اود یاد نه وتلې څیز وې چه نه ئې څوك یادکړی نه ئې لټون اوکړی او نه ئې ذکر اوکړی. په احادیثوکښې د مرګ غوښتلونه ممانعت دې. مونږ داروایتونه د آیت ﴿ تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ﴾(۶)الخ په تفسیرکښې بیان کړې دې.

---

(۱) الطبری:۱۶۱/۱۸.
(۲) الطبری:۱۷۰/۱۹.
(۳) الطبری:۱۷۰/۱۹.
(۴) نسائی کتاب الصلوة باب فرض الصلوه.....۴۵۱ وسنده حسن.
(۵) الطبری:۱۷۲/۱۸.
(۶) ۱۲/یوسف:۱۰۱.

Scanned with Ca

فَنَادٰىهَا

انو فرښتي اواز اوکړو هغې ته

بیا (فرښتي) ورته دلاندې نه اړخ ته آواز اوکړو چي هیڅ غم مه

مِنْ تَحْتِهَآ | اَلَّا تَحْزَنِيْ | قَدْ جَعَلَ | رَبُّكِ | تَحْتَكِ | سَرِيًّا ﴿۲۴﴾

دښکته طرف دهغې نه | چي مهٔ غمژنه کیږه | پیدا کړي ده | رب ستا | ښکته طرف ستانه | یوه چینه

کوه ستارب ستا در ښو لاندې یوه چینه راپیدا کړې ده

وَهُزِّيْٓ | اِلَيْكِ | بِجِذْعِ النَّخْلَةِ | تُسٰقِطْ | عَلَيْكِ | رُطَبًا | جَنِيًّا ﴿۲۵﴾

او اوخوزوه تهٔ | خان خپل ته | تنه دوني دکجورې | رااوبه غورزوي | تاته | کجورې | تازه

اود کهجورې دابوټې خپل ځان ته راوښوره ددې نه به درته تازه کهجور راوغورزیږي

فَكُلِيْ | وَاشْرَبِيْ | وَقَرِّيْ | عَيْنًا | فَاِمَّا | تَرَيِنَّ | مِنَ الْبَشَرِ | اَحَدًا

پس خوره | او څکه | او یخې کړه | سترګې | نوکه چرې | او لیدلو تا | دانسانانو نه | یو کس

نو ته خوره اوڅښه اوخپلې سترګې (دځوئې په دیدن) یخوه اوکه چرته یو بنیادم اووینې

فَقُوْلِيْٓ | اِنِّيْ نَذَرْتُ | لِلرَّحْمٰنِ | صَوْمًا | فَلَنْ اُكَلِّمَ

نو اووایه(ورته ) تهٔ | چي بیشکه نذر منلي دي ما | دپاره درحمن | دروژې | انوهرګز به خبرې نهٔ کوم زهٔ

نو(په اشارت) ورته اووایه چي مادرحمان (اللهﷻ) په نامه دروژې نذر منلي دي نو زه نن دهیچا بنیادم

الْيَوْمَ | اِنْسِيًّا ﴿۲۶﴾

نن ورځ | دیو انسان سره |

سره خبرې اترې نه کوم

قوله تعالى:- فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِيْ

**د حضرت مریم علیها السلام د پاره د الله ﷻ د طرف نه انعامات:-** د ﴿مِنْ تَحْتِهَا﴾ دویم قراءت ﴿مَنْ تَحْتَهَا﴾ هم دې. داخطاب کونکې حضرت جبرائیل ﷺ وو(١) دحضرت عیسى ﷺ خو رومبې کارهم هغه وو چه هغه د خلقو په وړاندې دخپلې مور د خلاصى د پاره اوپاکدامنئى د پاره کړې وو. د هغه وادئى د لاندې غاړې نه د دې ویرې او خطرې په عالم کښې حضرت جبرائیل ﷺ دا آسانې ورکړې وه. دا قول هم ونیلې شوې دې چه داخبره هم حضرت عیسى ﷺ کړې وه. آواز راغلو چه خفه کیږه مه ستاد ښپولاندې ستارب د صفا ښکلې اوخوږو اوبو چینه روانه کړې ده دا اوبه ته اوڅکه.(٢) یوقول دا دې چه د دې چینې نه مراد پخپله حضرت عیسى ﷺ دې.خواولنې قول ډیر ښکاره دې. د دې اوبودذکرنه پس هم دخوراک ذکر دې چه د کهجورې دا ونه اوخوزوه د دې نه به تازه اومزیدارې کهجورې راپریوځي هغه خوره.

**دا ونه بالکل خالي وه په ځنډولو سره میوې راتلې:-** وائي چه دا ونه اوچه پرته وه اوداقول هم دې چه میوه داره وه. په ظاهره داسې معلومیږي چه دغه وخت دا ونه د کهجورونه خالي وه خود هغوى په خوزولوسره د دې نه د الله ﷻ په قدرت سره کهجورې راځنډلې کیدې. خوراک څښاک هرڅه موجود شو او اجازت هم

(١) الطبرى:١٨/١٧٣.

(٢) الطبرى:١٨/١٧٥.

ورکړې شو اوفرمائیلې شو خوره څکه اوزړه خوشحاله ساته.دحضرت عمرو بن میمون رحمة الله علیه فرمان دې چه دنفاس والا ښځود پاره د لمدواواوچوکهجورونه بل بهتر هیڅ څیزنشته.([1]) یو حدیث کښې دی د کهجورې د ونې اکرام کوئی.دادهغه خاورې نه پیداکړې شوې ده دکوم نه چه آدم علیه السلام پیدا کړې شوې وو دی نه بغیر هیڅ یوه ونه د نر اوښځې یوځائ کولونه نه لوئیږی. د ښځو د ماشوم د پیدا کیدو په وخت کښې هغوی ته لمدې کهجورې ورکونی که ملاونه شی نو اوچې صحیح دی. هیڅ یوه ونه د الله ﷻ په نیز د دې نه زیاته د مرتبې والا نشته.ددې د پاره ئې ددې لاندې حضرت بی بی مریم راکوزه کړه([2])داحدیث بالکل منکردې. د ﴿تسقط﴾ دویم قراءت ﴿تساقط﴾ او﴿ تسقط﴾هم دې. مطلب د دې ټولوقراءتونوهم یودې.بیا ارشاد اوشو چه چاسره خبرې مه کوه په اشاره ئې پوهه کوه چه زه نن روژه یم. یاخومراددادې چه دهغوی په روژه کښې کلام کول ممنوع وویاداچه هم دخبروکولونه روژه ساتلې ده.([3])

**زمونږ په شریعت کښې د خبرو نه روژه نشته:**-حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه له دوه سړی راغله یوسلام اوکړو بل اونه کړو. هغوی تپوس اوکړوددې څه وجه ده؟ خلقو وئیل چه ده قسم خوړلې چه نن به چاسره خبرې اونه کړم. هغوی اوفرمائیل دا مات کړه اوسلام کلام شروع کړه داخو صرف هم د حضرت بی بی مریم د پاره وو څکه چه الله ﷻ ته دهغې صداقت کرامت ثابت کول منظوروودې دپاره ئې داعذر جوړ کړې وو. حضرت عبدالرحمن بن زید رحمة الله علیه فرمائی کله چه حضرت عیسی علیه السلام خپل مور ته اوونیل ته مه ویریږه نو هغې وئیل زه څنګه نه ویریږم زه د خاوند والا نه یم د چا د ملکیت وینځه نوکره نه یم ماته به دنیاڅه وائی چه دا بچې د چا دې؟ زه به خلقوته څه جواب ورکولې شم؟ کوم یوعذربه ورته پیش کولې شم هائی افسوس چه زه د دې نه وړاندې مړه شوې ووم اوکاش چه زه نسیامنسیا یعنی هیره کړې شوې جوړه شوې ووم. هغه وخت حضرت عیسی علیه السلام وئیل مورې تاله چاسره د خبروکولو ضرورت نشته پخپله به دې ټولو سره اوګورم. ته خوهغوی ته صرف دا ښایه چه نن ما د چپ پاتې کیدونذر منلې دې.

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَأَتَتْ | بِهِ | قَوْمَهَا | تَحْمِلُهُ ط |
| نو راغله | سره ددغه بچي | قوم خپل ته | چي راغستي ئې وو هغه |

بیا هغې ماشوم په غیږ کښې واخستو او خپل قوم ته ورغله

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قَالُوا | يٰمَرْيَمُ | لَقَدْ جِئْتِ | شَيْـًٔا | فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ | يٰٓأُخْتَ هٰرُوْنَ | مَا كَانَ |
| اوونیل خلقو | اے مریم | بیشکه راغلې ته | یو کار | ناکاره ته | اے خور دهارون | نۀ وو |

هغوئ ورته اوونیل چې اې مریم! تا ډیر بدکار کړې دې اې دهارون خورې!

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| أَبُوكِ | امْرَأَ | سَوْءٍ | وَّمَا كَانَتْ | أُمُّكِ | بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ | فَأَشَارَتْ |
| پلار ستا | سړي | دبدئ | اونۀ وه | مور ستا | بدکاره | نو اشاره اوکړه هغې |

ستاپلار څۀ خراب سړي نه وو اونه ستامور بدکاره وه په دې باندې مریم دماشوم طرفته اشاره اوکړه

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| إِلَيْهِ ط | قَالُوا | كَيْفَ | نُكَلِّمُ | مَنْ | كَانَ | فِي الْمَهْدِ |
| هغه بچي ته | اوونیل خلقو | څنګه | خبرې اوکړو مونږه | دهغه چاسره | چې دې هغه | په زانګو کښې(پروت) |

هغوئ اوونیل چې مونږ په زانګو کښې پروت ماشوم سره څنګه خبرې اوکړو

[1]) الطبری:۱۷۹/۱۸.
[2]) مسندابی یعلی ٤٥٥.
[3]) الطبری:۱۸۲/۱۸.

صَبِيًّا (٢٩) قَالَ اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ۗ اٰتٰنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِيْ

يو ماشوم | اووئيل ماشوم | بيشكه زهٔ بنده دالله يم | هغه راكړو ماته كتاب | او جوړ ئي كړم زهٔ

عيسى ؑ اووئيل چې بيشكه زه دالله ﷻ بنده يم هغه ماله كتاب راكړې دې او زه ئې نبى جوړ كړې يم

نَبِيًّا (٣٠) وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ ۖ وَاَوْصٰنِيْ

نبى | اووې گرځولم زهٔ | بركتى | هر چرته چې | يم زهٔ | او حكم ئې اوكړو ماته |

او زه ئې بركتى كړې يم په هر ځائې كښې چې زه يم اوهغه ماته دمونځ كولو اودزكوة وركولو

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا (٣١) وَّبَرًّا

په مانځه سره | او په زكاة سره | تر څو چې يم زهٔ | ژوندې | او جوړ ئې كړم زهٔ نيكى كونكې

حكم راكړې دې ترڅو پورې چې ژوندې يم او زه دخپلې مور خدمت گزار جوړ كړې يم اوسركش

بِوَالِدَتِيْ ؗ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا (٣٢) وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ

دمورخپلې سره | اوگرځولې ئې نه يم زهٔ | سركشه | بدبخته | او سلام دې | په ما باند | په كومه ورځ

اوبدبخت ئې نه يم پيدا كړې اوپه ما باندې سلام دې په كومه ورځ چې زه پيدا شوې يم

وُلِدْتُّ وَيَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا (٣٣)

چې پيدا شوم زهٔ | او په كومه ورځ | چې به مرم زهٔ | او په كومه ورځ | چې به راپاځولې كيږم زهٔ | ژوندې

اوپه كومه ورځ چې به زه مړ كيږم |.........................او په كومه ورځ چې به زه دوباره ژوندې كولې شم

قوله تعالى:- فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ؕ

**مريم عليها السلام حضرت عيسى ؑ راوړې راځى:-** حضرت مريم بى بى د الله ﷻ داحكم هم اومنلو او خپل ماشوم ئې په غيږ كښې راوړو اوخلقو له راغله. كتلوسره هريوګوته په خُله شواو دهرې خُلې نه اووتل مريم تاخو ډير خراب كاراوكړو.([1]) نوف بكالى رحمه الله فرمائى چه خلق دحضرت بى بى مريم په لټون كښې وتلې ووخود الله ﷻ شان وو چه دهغې چرته هم پته اونه لګيده. په لاركښې يوښاروان ملاوشو هغه نه ئې تپوس اوكړو چه په لاره كښې تاداسې داسې ښځه ليدلې ده؟ هغه وئيل چه نه خو ماد شپې يوه عجيبه خبره دا اوكتله چه زمادا ټولې غواګانې ددې وادئى طرف ته په سجده كښې راپريوتلې. ما ددې نه وړاندې داسې قسم واقعه نه ده ليدلې اوماپخپلوسترګواوكتل چه دې طرفته يونور ښكاريدو. نو هغوئ په دغه طرف روان شو چه مخامخ دعيسى ؑ مور ماشوم په غيږ كښې راخستې ښكارى.د دوى په كتلوسره هغې خپل ماشوم په غيږ كښې كيناستله دې ټولو هغه راګيره كړه او خبرې جوړولې.

**د اخت هارون څه مطلب دې؟:-** دهغوى دا وينا چه اې د هارون خور دې نه مراد دا دې چه هغه د حضرت هارون ؑ دنسل نه وه.([2]) يادهغوى په كوركښې هارون نومې يونيك سړې وواوهم دهغه په شان عبادت اورياضت د حضرت بى بى مريم هم وو. په دې وجه هغې ته د هارون خور اووئيلې شوه. څوك وائى چه هارون نومې يوبدكاره سړې وو په دې وجه خلقو د پيغور په توګه هغې ته د هغه خور اووئيل.

**د هارون خور ئې ورته ولې اووئيل:-** ددې ټولواقوالونه لوئ يوغريب قول داهم دې چه هغه دحضرت هارون ؑ اوحضرت موسى ؑ هم هغه سكه خورده كومې له چه دحضرت موسى ؑ مور كله حضرت موسى

---

[1] الطبرى:۱۸/۱۸۵.

[2] الطبرى:۱۸/۱۸۷.

Scanned with Ca

ﷺ په پیټئی کښې واچولو او په درياب کښې ئې پريخې وو نوهغې ته ئې وئيلې وو چه دې سره شاته شاته په غاړه غاړه ځه چه د چا خيال هم رانه شي. دا قول خو بالکل غلط معلوميږي ځکه چه په قرآن پاك کښې دی چه حضرت عيسیٰﷺ د نبی اسرائيلوآخری نبیوو. د هغوی نه پس صرف خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفیٰﷺ نبی شوې وو. په صحيح بخاری کښې چه حضورﷺ فرمائی چه د عيسى بن مريم ﷺ سره د ټولونه زيات نيزدې زه يم ځکه چه زما اود هغه په مينځ کښې بل څوك نبی نه دې تيرشوی([1])که دمحمدبن کعب قرظی رحمه الله داقول چه هغه د هارون ﷺ سکه خوروه ټيك وی نو دا به منلې کيږی چه هغه دحضرت داوُد ﷺ اوحضرت سليمان ﷺ نه هم وړاندې وو ځکه چه په قرآن مجيد کښې موجود دی حضرت داوُد ﷺ د حضرت موسى ﷺ نه پس وو. اوګورئی آيت ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَىٰ ﴾([2])په دې آياتونو کښې د حضرت داوُد ﷺ واقعه اود هغه د جالوت قتل کولو بيان شوې دې اولفظ موجود دې چه دا د موسى ﷺ واقعه ده. هغه ته چه کومه غلطی لګيدلې ده هغه د تورات هغه عبارت دې په کوم کښې چه دی کله چه موسى ﷺ سره د بنی اسرائيلويه درياب پورې وتلو اوفرعون سره دخپل لښکره ډوب شو اومړه شو هغه وخت مريم بنت عمران چه د موسى ﷺ اوهارون ﷺ خوره وه په نغاره باندې د الله ﷻ د شکر ترانه وئيله اوهغې سره نورې ښځې هم وې. د دې عبارت نه قرظی رحمه الله داګنړلی چه دحضرت عيسى ﷺ مور بی بی مريم ده حالانکه دا غلطه ده. ممکن ده چه د حضرت موسى ﷺ د خور نوم هم مريم وی خودا چه هم دغه مريم د حضرت عيسى ﷺ مور وه د دې هيڅ ثبوت نشته بلکه دا ناممکن دی. داکيدې شی چه د دواړونومونه يو وی په يو نوم باندې نور نومونه کيخودې شی او په بنی اسرائيلوکښې خودا عادت وو چه خپل نومونه به ئې دانبياوُ کرامو اولياوُکرامو په نومونوباندې کيخودل.

مسنداحمدکښې مغيره بن شعبه ﷺ نه روايت دې زه رسول الله ﷺ نجران ته اوليګلم هلته مانه بعضې نصرانيانوتپوس اوکړو چه تاسو﴿يَا أُخْتَ هَارُونَ﴾ لولئی حالانکه موسىﷺ خودحضرت عيسى ﷺ نه ډير وړاندې تيرشوی دې. ماخوڅه جواب ورنه کړې شو. کله چه زه مدينې ته راغلم نود حضور ﷺ په وړاندې مې داذکر اوکړو نو حضورﷺاوفرمائيل تا هغوی ته هم په هغه وخت ولې جواب ورنه کړو چه هغه خلقو به د خپلو انبياوُ او نيکانو خلقو نومونه په خپل اولاد باندې برابر د هغوی په نومونوباندې کيخودل([3]) په صحيح مسلم کښې هم دا حديث شته. امام ترمذی دا حسن صحيح غريب ښائی. يوځل حضرت کعب ﷺ وئيلې ووچه دا هارون د موسى ﷺ رور هارون ﷺ نه دې. په دې باندې حضرت ام المؤمنين حضرت عائشه k انکار اوکړو نو هغه اووئيل که تاسود رسول الله ﷺ نه څه اوريدلی وی نو اووايه نو مونږ ته منظور دی ګنی په تاريخی توګه خود هغوی په مينځ کښې شپږ سوه کاله فاصله ده. دې اوريدو سره حضرت عائشه k چپ شوه. په دې تاريخ کښې زمونږ لږ شان تامل دې. قتاده رحمه الله فرمائی دمريم کورنئی د بره نه نيك صالح او ديندار وه اوواديندارۍ لکه برابره دوراثت راروانه وه. بعضې خلق داسې هم وی اوبعضې کورنئی ددې خلاف هم وی چه د بره نه د ښکته پورې ټول هم بدوی. دا هارون ډير بزرګ سړې وو په دې وجه په بنی اسرائيلوکښې د هارون نوم کيخودو رواج روان شوې وو. دلته دا هم ذکر دې چه په کومه ورځ د حضرت هارون ﷺ جنازه اووتله د هغوی په جنازه کښې هم د دې هارون نوم څلويښت زره سړی وو.

---

[1] ) صحيح بخارى كتاب احاديث الانبياء باب قول الله تعالى ﴿واذكرفى الكتاب مريم اذانتبذت من اهلـها...﴾:٣٤٤٢،صـحيح مـسلم٢٣٦٥، احمد:٢/٤٦٣، ابن حبان:٦١٩٥.

[2] ) ٢/البقرة:٢٤.

[3] )صحيح مسلم كتاب الادب باب النهى عن التكنى بابى القاسم.....:٢١٣٥، ترمذى:٣١٥٥، السنن الكبرى: ١١٣١٥، احمد:٤/٢٥٢.

Scanned with Ca

**حضرت عیسی علیه السلام د مور په غیا کښې خبرې کولوسره ګواهي ورکړه:**-غرض دا چه هغه خلقو ملامته کوله چه تانه دا بدکارځنګه اوشو ته خود نیکې مور لورئی مور پلار دواړه نیکان تول کورنئی پاکه نو بیا تا داځنګه حرکت اوکړو؟دقوم د ترخې اوخرابې خبرې اوریدوسره هغې دارشاد مطابق خپل بچی ته اشاره اوکړه چه ده نه تپوس اوکړئ. دې خلقو له په تاؤ باندې نور هم تاؤ ورغلوچه ګوره ځنګه په کلکه باندې جواب ورکوی او مونږ پاګلان جوړه وی. ښه ده اوس به مونږ د غیږې د ماشوم نه څه تپوس کوو اوهغه به مونږ ته څه اووانی؟

**د عیسی علیه السلام ماشوموالی کښې د توحید اود خپلې مور د براءت بیان:**-پدې کښې بغیرد غوښتلونه هغه خبرې شروع کړې خلقوزه د الله ﷻ یوبنده یم د تولونه رومبې کلام دحضرت عیسی علیه السلام هم دا وود الله ﷻ پاکی اوتعظیم ئی بیان کړو اود خپلې غلامئی او بندګئی اعلان ئی اوکړو.د الله ﷻ ذات ئی د اولاد نه پاك اوخودلو بلکه ثابته ئی کړه ځکه چې دالله ﷻ اولاد نه وی. بیائی د خپل نبوت اظهار اوکړو چه ماته هغه کتاب راکړې دې او زه ئی خپل نبی جوړکړې یم. په دې کښې دخپل مور بې ګناهی بیان کړه بلکه دلیل ئی هم ورکړو چه زه خود الله ﷻ پیغمبریم. رب ماته خپل کتاب هم رانصیب کړې دې. وائی چه کله خلقود هغوی مور بی بی پسې خبرې کولې هغه وخت هغه پئی ځکل هغه ئی پریخودل او په اړخ شو د هغوی طرف ته متوجه جواب ئی ورکړو. وائی چه د دې قول په وخت کښې د هغوی ګوته اوچته وه او لاس ئی د اوږې پورې اوچت کړې وو. عکرمه رحمه الله فرمائی چه ماته ئی کتاب راکړو د دې دا مطلب دې چه د راکولواراده ئی کړې ده دا به پوره کیږی. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه هم هغه وخت هغه ته یاد وو تول ئی زده کړې پیدا شوې وو. خود دې قول سره تیك نه دې. زه چه چرته هم یم خلقو ته نیکی ښایم او هغوی ته نفع رسونکې یم.([1]) یوعالم د ځان نه لوئ عالم سره ملاو شو اومعلومات ئی اوکړه چه ماته د خپل کوم یوعمل د اعلان کولو اجازت دې؟ وئی فرمائیل د ښې خبرې کولو اود خرابې خبرې د نه کولو ځکه چه هم دا اصل دین دې اوهم دا د انبیاء الله میراث دې. هم دا کار هغوی‌ته حواله کیده نو اجماعی مسئله ده چه د حضرت عیسی علیه السلام د دې عام برکت نه مراد د نیکئی حکم کول او بدئی نه منع کول دی.کوم ځائ کښې چه په ناسته ولاړه تګ راتګ دا شغل برابر جاری وی([2]) کله هم د الله ﷻ د خبرورسیدونه نه منع کیږی. فرمائی ماته حکم ملاوشوې دې چه د پوره زندګنی پورې د مونځ او زکوة پابندیم. هم دا حکم زمونږ نبی ﷺ ته ملاوشو.ارشاد دې ﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴾([3]) ترمرګه پورې د الله ﷻ په عبادت کښې لګیااوسه نوحضرت عیسی علیه السلام هم اوفرمائیل چه هغه دا دواړه کارونه زما د ژونددآخری ساعت پورې اولیکل.(ددې نه د تقدیر ثبوت او منکرانود تقدیر تردیدهم کیږی) د رب داطاعت د دې حکم سره ماته د خپلې موردخدمت کولو هم حکم ملاوشوې دې.عموماً په قرآن پاك کښې داواړه څیزونه په یوځائ بیانیږی. لکه چه ارشاد دې ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾([4]) بل آیت ﴿اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ۭ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ﴾([5]) کښې.هغه زه سرکش نه یم جوړکړې زه د هغه د عبادت نه یا د مورد اطاعت نه سرکش او کبرکونکې جوړیدو سره بدبخت جوړ شم. وائی چه جبار او شقی هغه دې چه په غصه کښې راشی او وینې تویوی. فرمائی چه دمور پلارنافرمانه هم هغه وی چه بدبخت او سرکش وی. بداخلاق هم هغه وی چه کبر او غرور کوی.

---

[1] الطبری:۱۸/۱۹۱.
[2] الطبری:۱۸/۱۹۱.
[3] ۱۵/الحجر:۹۹.
[4] ۱۷/الاسراء:۲۳.
[5] ۳۱/لقمان:۱٤.

Scanned with Ca

ذکر دې چه یوخل د هغه معجزې کتلوسره یوې ښځې په حیرانتیاسره اووئیل مبارکه ده هغه خیټه په کومه کښې چه پاللې شوې ئې اومبارکه ده هغه سینه کومې چه تاله پئې درکړې دی. هغوی جواب ورکړو چه مبارك دې هغه چا چه د الله ﷻ د کتاب تلاوت اوکړو بیائې تابعداری اوکړه اوسرکش او بدبخت جوړنه شو.

بیا فرمائی زما د پیداکیدود مرګ نه پس د بیا راژوندی کیدو په ورځ باندې په ماسلامتی ده. دې نه هم د هغوی د بندګئی اود ټول مخلوق د یو الله ﷻ مخلوق کیدل ثابتیږی چه هغوی د انسانانو په شان د عدم نه په وجود کښې راغله بیا به د مرګ خوند هم څکې او د قیامت په ورځ به دوباره هم راپاسی. او دادریواړه موقعه سختې او ګرانې دی په هغوی باندې به آسانې وی نه به څه ویره وی نه څه پریشانی بلکه امن آرام اوسلامتی اوهم سلامتی به وی. صلوة الله وسلامه علیه.

| |
|---|
| ذٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾ |
| دغه \| عیسی (خوئې) دمریم دې \| او دا ده خبره \| حقه \| هغه \| چې په هغې کښې \| خلق شك کوی |
| دا عیسی ابن مریم ووا دا هغه رښتیا حقیقت دې \| په کوم کښې چې خلق شک کوی |
| مَا كَانَ لِلَّهِ أَنْ يَتَّخِذَ مِنْ وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا |
| نهٔ ښائی الله لره \| چې اونیسی \| خوئې \| پاك دې هغه \| کله چې \| هغه حکم اوکړي \| دیو کار |
| دالله ﷻ سره نه ښائی \| چې هغه دې ځان دپاره اولاد اونیسی \| هغه پاک دې \| کله چې د یو کار فیصله |
| فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾ وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي |
| نو بیشکه \| هغه وائی \| هغه کار ته \| موجود شه \| نوهغه موجود شی \| او بې شکه الله \| رب زما دې |
| اوکړي \| نو دومره ورته اووائی چې موجود شه \| نو هغه کار موجودشی \| اوبیشکه الله ﷻ زماهم رب دې |
| وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ |
| اورب ستاسو دې \| پس عبادت کوئ د هغه \| دا \| الار ده \| نیغه \| نو اختلاف اوکړو |
| او ستاسو هم رب دې \| نوصرف د هغه عبادت کوئ \| هم دغه (دشریعت) سمه لار ده \| بیا داهل کتابو ډلې |
| مِنْ بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا |
| ډلو \| په منځ خپل کښې \| نو تباهی ده \| دپاره د هغه کسانو \| چې کفر ئې اوکړو \| |
| په خپل مینځ کښې سره مختلف شوې \| نوهغه خلقو دپاره افسوس دې \| چې په لویه ورځ (دقیامت) دالله |
| مِنْ مَشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾ |
| دحاضریدو \| دورځې لوئې نه \| |
| د حاضرئ نه ئې انکار کړې دې \| |

**قوله تعالى:- ذٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ**

**دحضرت عیسی ﷺ اصل واقعه:-** الله ﷻ خپل رسول محمد ﷺ ته فرمائی دعیسی ﷺ په واقعه کښې چه دکوموخلقو اختلاف وو په هغوی کښې چه کومه خبره صحیح وه نوهغه هم دومره وه څومره چه مونږ

Scanned with Ca

بيان اوفرمائيلو.دقول دويم قراءت قول هم دي. دابن مسعود ﷺ په قراءت كښې ﴿قول الحق﴾ دي.[1] د قول رفع ډيره ښكاره ده.لكه ﴿الحق من ربك﴾[2] الخ كښې دابيان فرمائيلوسره چه عيسى ﷺ د الله ﷻ نبي وو اودهغه بنده او بيا دخپل نفس پاكوالي بيان فرمائي چه دالله ﷻ د شان نه پريوتلي خبره ده چه دهغه اولاد وى.دا جاهلان ظالمان چه دڅان نه كومې خبرې خوروى د هغې نه الله ﷻ پاك او لرې دي. هغه چه كوم يوكاركول غواړي نوهغې له دسامان يا اسبابوضرورت نه وى.فرمائى چه اوشه نوهم هغه وخت هغه كاراوشي يوخواحكم اوشي اوبل خوا څيز تيار وى. لكه چه ارشاد دي ﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ۝ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ الْمُمْتَرِينَ ۝﴾[3] يعنى دعيسى ﷺ مثال د الله ﷻ په نيز لكه د حضرت آدم ﷺ دي. آدم ﷺ ئې د خاورې نه جوړكړو وئې فرمائيل اوشه هم هغه وخت هغه اوشو دا بالكل رښتيا دى اود الله ﷻ فرمان دي. تاله په دې كښې هيڅ قسم شك نه دى كول پكار. حضرت عيسى ﷺ خپل قوم ته دا هم فرمائيل چه زمااوستاسودټولورب الله ﷻ دي تاسو ټول هم د هغه عبادت كوئې نيغه لار كومه چه ما د الله ﷻ د طرف نه راوړې ده هم دا ده چه دهغه تابعدارى كونكى په هدايت باندې دى اود هغه خلاف كونكى د ګمراهئى په لار دى. دا فرمان هم د هغه د مور د غيږ نه وو.

**د عيسى ﷺ پحقله د كافرانو ګډې وډې خبرې او مؤمنانورښتيا وينا:**-دحضرت عيسى ﷺ په خپل بيان باندې اود حكم په خلاف روستوراتلونكو خلقو خبرې كړې دى اود هغوى باره كښې د مختلفو ډلو په شكل كښې داخلق تقسيم شوى دى يهوديانو وئيل چه عيسى ﷺ نعوذبالله ولدالزنا دې د الله ﷻ لعنتونه دې وى په هغوى چه هغوى د الله ﷻ په يوبهترين رسول باندې يو بدترين تهمت اوالزام اولګولو اووئى وئيل چه د هغه داكلام وغيره ټول د جادو كار دي. دغه شان نصارى هم دهوكه شو وئې وئيل چه داهم پخپله الله ﷻ دي اوداكلام هم د الله ﷻ دي. چا وئيل دا د الله ﷻ خوئ دې چا اووئيل چه دا په دريو معبودانوكښې يو دي. اويو ډلې دواقعه مطابق اووئيل دالله ﷻ بنده اودهغه رسول دي هم داقول صحيح دې د اهل اسلام عقيده دعيسى ﷺ متعلق هم داده اوهم دا تعليم د الله رب العزت دې.

**د رفع عيسى نه پس د بنى اسرائيلو غونډه او ګنده رائې:**-وائى چه د بنى اسرائيلو ګنړه راجمع شوې وه او خپل څان نه ئې څلور زره سرى راغونډكړل. هريوقوم خپل خپل يوعالم پيش كړو دواقعه د حضرت عيسى ﷺ د آسمان ته اوچتيدو نه پس ده. د دې خلقو په خپل مينځ كښې اختلاف اوشو.يوې خو وئيل چه داپخپله الله ﷻ دي تركومې پورې چه هغه غوښتل په زمكه اوسيدو څوك ئې چه غوښتل وئې سوزول څوك ئې چه غوښتل وئې وژل بيا آسمان ته لاړو.دې ډلې ته يعقوبيه وائى. خو نورو دريواړو دا دروغ اوګنړله چه تاسو دروغ وائې. اوس دې دوو دريم ته اووئيل چه ښه ده تاسو څه وائې اوڅه خيال مو دې؟ هغوى وئيل چه هغه د الله ﷻ خوئ وو د دې ډلې نوم نسطوريه شو. هغه دوه چه كومې پاتې شوې نوهغوى هم اووئيل چه تاهم دروغ اووئيل.بيا دې دوو كښې يووئيل چه ته څه وايه هغه وئيل چه زه خودا عقيده لرم چه هغه په دې دريوكښې يو دې. يوخو الله چه معبود دې دويم هم دې معبود دې اودريم دهغه مور چه معبوددې دا اسرائيليه ډله شوه اوهم دې د نصرانيانو بادشاه وو عليهم لعائن الله.

**د مسلمانانو رائې:**-څلورمې وئيل تاسو ټول دروغژن ئى حضرت عيسى ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دې هم د الله ﷻ كلمه ده اود هغه د طرف نه راليګلې شوې روح دې. هم داخلق مسلمانان خودلې شى او هم دا رښتونى وو.پدې كښې چه څوك د چا تابع وو هم په هغه قول باندې شو او په خپلوكښې ښه اختلاف

---

[1] الطبرى:١٨/١٠٤.
[2] ٣/آل عمران:٦٠.
[3] ٣/آل عمران:١٤٧.

Scanned with Ca

اوکړو.ربښتونی اسلام خوښونکی خلق په هره زمانه کښې په شمیرکښې کم وی په هغوی باندې دا ملعونان خواره شو او هغوی راګیرکړل هغوی وهل ټکول او قتل کول ئې شروع کړه.

**عیسایانو د عیسی ﷺ دین بدل کړو:-** د اکثرومؤرخینوبیان دې چه قسطنطین بادشاه درې خل عیسایان راجمع کړل. دآخری خل په اجتماع کښې د هغوی دوه زره یوسل اویا علماء راجمع شوې وو خودا ټول د حضرت عیسی ﷺ باره کښې مختلف الخیال وو. سلو به څه وئیل او اویاؤ به نورڅه وئیل. پنځوسو به څه بل څه وئیل نودشپیتو به څه بله عقیده وه. د هریوخیال بل سره ټکراوخوړلو. د ټولونه لویه ډله د دریوسووشپیتووه. بادشاه هغه طرف ته کثرت اولیدونو هم د هغوی ملګرتیائی اوکړه. ملکی مصلحت هم په دې کښې وو چه د دې لوئې ډلې طرف داری اوکړې شي. نود هغه پالیسئی هم د هغوی طرف ته متوجه کړواوهغه باقی ټول خلق ئې اوویستل اود هغوی دپاره ئې دامانت کبری رسم ایجادکړوچه په اصل کښې دټولونه لوئ خیانت دې. اوس ئې دشریعت د مسئلوکتابونه په دغه علماؤ باندې اُولیکل او ډیرو ملکی اود ښاریوضرورتونوته ئې شرعی شکل ورکړواودې کښې ئې داخل کړل. ډیرې نوې نوې خبرې ئې راپیداکړې او اصل مسیحی دین ئې وران کړو اویوه مجموعه ئې جوړه کړه اودا ئې قانوناً په خلقو کښې جاری کړه اود هغه وخت نه هم دا مسیحی دین ګڼړلې شی. کله چه ئې په دې باندې ټول رضامندکړل نوځلورو واړوطرفوته ئې کنسې ګرجې عبادت خانې جوړکړې اوهلته ئې د دغه علماؤ د کینولو اود خپل نوی پیداکړې مسیحیت خوررولوکښې لګیاشو.په شام کښې جزیره کښې روم کښې تقریباً دولس زره داسې مکانونه په هغه زمانه کښې جوړکړل.دهغه مور هیلانه کوم ځائ چه سولئی لګولې شوې وه هلته ئې یوګنبد جوړکړو نود هغې باقاعده عبادت شروع کړې شو او ټولو یقین اوکړو چه حضرت عیسی ﷺ په سولئی کړې شوې دې. خود هغوی دا قول غلط دې الله ﷻ خپل دا عزت مندبنده خپل ځان طرف ته آسمان ته اوچت کړې دې دا دې د عیسائی مذهب یووړوکې غوندې مثال. داسې خلق چه په الله ﷻ باندې دروغ اودخان نه خبرې اوتړی او هغه له اولاد شریکان اوملګرې ثابت کړی هغوی به په دنیاکښې مهلت اومومی خو په هغه عظیم الشان ورځ به د هغوی هلاکت دټولو ځلورو واړوطرفونه هغوی راګیرکړی او تباه به کړې شی.که الله ﷻ خپلو بندیګانوته په عذاب ورکولو کښې تندی نه کوی خو بالکل ئې پریږدی هم نه.

**الله ﷻ اول ظالم ته مهلت ورکوی بیا ئې رانیسی:-** بخاری اومسلم کښې حدیث دې چه الله ﷻ ظالم ته مهلت ورکوی خوچه کله دهغه نیول رانازل شی نوبیا د پناه هیڅ ځائ باقی نه پاتې کیږی. دې فرمائیلو سره رسول الله ﷺ دقرآن پاک دا آیت ﴿وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ﴾ ([1])تلاوت اوفرمائیلویعنی ستادرب دنیولوطریقه هم داسې ده.کله چه هغه په ظلم سره ککړ کلې رانیسی نویقین اوکړئی چه دهغه نیول ډیرخطرناک اوډیر سخت دی([2])دبخاری اومسلم په حدیث کښې دی ناخوښه خبرې اوریدوسره صبرکونکې دالله ﷻ نه زیات بل څوک نشته.خلق دهغه اولاد ښائی اوهغه دوی ته رزق ورکوی اوعافیت هم.([3])پخپله قرآن پاک فرمائی ﴿وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ﴾ ([4]) دډیروکلوولا هغه دی دچادظالم کیدوسره چه ما وخت ورکړو او بیامو راګیرکړل. آخر واپس راګرځیدل خو هم زما طرف ته دی. یوبل آیت کښې دی چه ظالمان خلق دې په خپلواعمالو باندې الله ﷻ غافل نه

[1] ۱۱/هود:۱۰۲.
[2] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة هودباب قوله ﴿وکذلك اخذ ربك اذا اخذ القری وهی ظالمة﴾:٤٦٨٦، صحیح مسلم:۲۵۸۳،ابن ماجه:٤٠١٨، ابن حبان:۵۱۷۵، بیهقی:۹٤/٦.
[3] صحیح بخاری کتاب الادب باب الصبر فی الاذی:۶۰۹۹،صحیح مسلم:۲۸۰٤،الاسماء والصفات للبیهقی:۱۰٦٤.
[4] ۲۲/الحج:٤٨.

Scanned with Ca

کنړی. هغوی ته چه کوم مهلت دی دهغه ورځ پوری دی په کومه ورځ چه به سترګی پورته اوخیژی.(۱) هم دغه فرمان دلته هم دی چه په هغوی به د هغی لوئی ورځ حاضریدل ډیرسخت ګران وی. صحیح حدیث کښی دی کوم سړی چه ددی خبری ګواهی ورکړی چه الله ﷻ هم یودی اوهم هغه د عبادت لائق دی بل هیڅ څوک نشته اوداچه محمدﷺ د الله ﷻ رسول اوبنده دی. اودا چه حضرت عیسی ﷺ د الله ﷻ بنده اود هغه پیغمبردی اود هغه کلمه ده کومه چه نی د حضرت مریم طرف ته اچولی وه. هغی له رالیګلی شوی روح دی اودا چه جنت حق دی اودوزخ حق دی. د هغه که هرڅنګه اعمال وی الله ﷻ به هغه خامخا جنت ته اورسوی.(۲)

| |
|---|
| اَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَاَبۡصِرۡ ۙ |
| څه ښه اوریدونکی به وی هغوئ \| او څه ښه لیدونکی به وی \| |
| \| په کومه ورځ چی به دوئ مونږ ته واپس راشی \| (په دغه ورځ به) څومره |
| يَوۡمَ يَاۡتُوۡنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوۡنَ الۡيَوۡمَ فِىۡ ضَلٰلٍ |
| په کومه ورځ \| چی به هغوئ راځی مونږ ته \| لیکن دا ظالمان \| نن ورځ (په دنیا کښی) \| په ګمراهئ |
| ښه اوریدونکی اولیدونکی وی \|.........خو نن ورځ (په دنیا کښی) ظالمان په ښکاره ګمراهئ کښی دی |
| مُّبِيۡنٍ ۞ وَاَنۡذِرۡهُمۡ يَوۡمَ الۡحَسۡرَةِ اِذۡ قُضِىَ |
| ښکاره کښی (پراته دی) \| او اویروه دوئ \| دورځی دافسوس نه \| کله چی \| فیصله کړې شی \| |
| اوته دوئ د افسوس د ورځی (د عذاب) نه اوویروه \| کله چی به آخری فیصله اوکړې شی |
| الۡاَمۡرُ وَهُمۡ فِىۡ غَفۡلَةٍ وَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۞ اِنَّا |
| کار (دحساب کتاب) \| حال دا چی دوئ \| په غفلت کښی دی \| او دوئ \| ایمان نهٔ راوړی \| بیشکه |
| ..........(خو) دوئ په غفلت کښی پراته دی \| اودوی (اوس) ایمان نه راوړی \| بیشکه مونږ به |
| نَحۡنُ نَرِثُ الۡاَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَاِلَيۡنَا |
| هم مونږه \| په میراث کښی اوړو \| زمکه \| اوهغه څه \| چی په دی زمکی باند دی \| او خاص مونږ ته به |
| زمکه او په دی باندی چی څوک اوسیږی دهغی وارثان یو \| اوهم مونږ طرفته به دوئ راواپس کولی شی |
| يُرۡجَعُوۡنَ ۞ ع |
| واپس کولی شی \| |

**قوله تعالى:- اَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَاَبۡصِرۡ ۙ**

**ظالمان به د قیامت په ورځ هر څه اووینی:-** ارشاددی چه په دنیاکښی دی کافرانو سترګی پټی کړی دی او په غوږونوکښی مالوچ لګولی خودقیامت په ورځ به د دوی سترګی ښه روښانه وی غوږونه به نی هم ښه کولاؤ شولکه چه د الله ﷻ ارشاددی ﴿وَلَوۡ تَرٰٓى اِذِ الۡمُجۡرِمُوۡنَ نَاكِسُوۡا رُءُوۡسِهِمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ رَبَّنَاۤ اَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَارۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَالِحًا اِنَّا مُوۡقِنُوۡنَ ۞﴾(۳) افسوس چه تا لیدلی کله چه داګناهګاران خلق دخپل رب په وړاندی دشرم نه سرونه ټیټ

(۱) ۱٤/ابراهیم:٤۲.

(۲) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قوله تعالی ﴿یاهل الکتاب لاتغلوا فی دینکم﴾:۳٤۳۵، صحیح مسلم۲۸، احمد:۵/۳۱۳.

(۳) ۳۲/السجده:۱۲.

Scanned with Ca

نیولې به ولاړ وی چه اې الله موږ اوکتل موږ واوریدل الخ.په هغه ورځ به نه کتل په کارراځی نه اوریدل نه ارمان اوافسوس نه ژړا. که دې خلقو په دنیاکښې د خپلو سترګو اوغوږونو نه کار اخستې وې اود الله ﷻ دین ئې منلې وې نو نن به دوی ارمان او افسوس نه کولو. په هغه ورځ به ئې سترګې کولاؤ کړې وی اونن ړانده ګانړه جوړشوی ګرځی نه هدایت طلب کوی اونه ګوری نه ښې خبرې اوری اونه ئې منی. مخلوق دې د ارمان اوافسوس والا ورځې نه خبردارکړه کله چه ټول کارونه فیصله کولې شی.جنتیان به جنت ته اودوزخیان دوزخ ته اولیګلې شی.د هغه حسرت او ارمان د ورځې نه نن دا خلق غافل دی بلکه ایمان اویقین هم نه لری. حضورﷺ فرمانی چه د جنتیانو جنت کښې اود دوزخیانو په دوزخ کښې د تلونه پس به مرګ د یو ګډ په شکل کښې راوستلې شی اود جنت او دوزخ په مینځ کښې به ئې اودروی بیا به د جنتیانو تپوس کولې شی چه دا پیژنئ؟ هغوی به په کتلوسره پوهه شی چه اودا مرګ دې. دوزخیانونه به هم دا تپوس کولې شی هغوی به هم دا جواب ورکړی. اوس به حکم اوکړې شی چه دامرګ حلال کړئ او آوازبه کولې شی چه اې جنتیانوستاسو دپاره همیشه والې دې مرګ نشته اودوزخیانوستاسو د پاره هم همیشه والې دې اومرګ نشته.بیاحضورﷺ هم داایت ﴿وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ (١) تلاوت کړو اوحضورﷺ اشاره اوکړه اهل دنیا د دنیاپه کښې دی(٢)(مسنداحمد) ابن مسعودؓ یوه اوږده واقعه بیانولو سره فرمانی چه هرسړې به خپل د دوزخ اوجنت کور وینی اوهغه ورځ د ارمان اوافسوس ورځ ده دوزخیان به خپل جنتی کور ته ګوری فرمائیلې به شی که د الله ﷻ احسان په تاسویاندې نه وو نوتاسو به دلته وئی.(٣) یوبل روایت کښې دی چه کله مرګ حلال کړې شی اود همیشه والی آواز اولګولې شی نو په هغه وخت کښې خو به جنتیان دومره خوشحاله شی که الله ﷻ ئې نه بچ کوی نودخوشحالئی نه به مړه شی اودوزخیان به دومره چغې صورې وهی که چرته مرګ وئې نودوی به مړه شوی وو. نوددې آیت هم دامطلب دې چه دا وخت به دحسرت اوارمان به هم وی اودخاتمې وخت به هم دغه وی.یوم الحسرت هم دقیامت په نومونو کښې یونوم دې.یوبل ایت کښې دی ﴿أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَا حَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنبِ اللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ السَّاخِرِينَ﴾(٤)

**دزمکې اصل وارث الله ﷻ دې** :-بیا فرمانی چه خالق مالك هم الله ﷻ دې ټول د هغه ملکیت دې او هرڅه فانی دی،اوباقی صرف هم الله ﷻ جل شانه دې. څوك هم د ملکیت اوتصرف رښتونې دعویدار نشته د ټول مخلوق وارث اوحاکم هم هغه دې اودهغه ذات د ظلم نه پاك دې. امیرالمؤمنین حضرت عمر بن عبدالعزیزؒ عبدالحمیدبن عبدالرحمنؒ ته کوفې کښې یوخط اولیکلو په کوم کښې چه لیکلې وو دحمد اوصلوة نه پس د اولې ورځ نه په ټول مخلوق باندې فنالیکلې ده. ټول به د هغه طرف ته رسی. هغه خپل دې نازل شوی دې رښتونی کتاب کښې کوم چه هغه په خپل علم سره محفوظ کړې دې اودکوم ساتنه چه د خپلو فرښتو په ذریعه کوی لیکلی دی چه دزمکې اود دې د پاسه چه څه دی د هغې وارث هم هغه ذات دې او هم د هغه طرف ته به ټول واپس کولې شی.

---

(١) ١٩/مریم:٣٩.

(٢) احمد:٣/٩،صحیح بخاری کتاب التفسیرسورت کهیعص باب قوله عزوجل ﴿وانذرهم یوم الحسرة﴾:٤٧٣٠ صحیح مسلم ٢٨٤٩،

(٣) الطبری:٨/٢٤٤.

(٤) ٣٩/الزمر:٥٦.

Scanned with Ca

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۬ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا

او ياد كړه | په كتاب كښې | ابراهيم | بيشكه هغه | وو | يو رښتني انسان

.........اوته په دې كتاب (قرآن) كښې د ابراهيم ﷺ ذكر اوكړه | بيشكه هغه ډير رښتوني نبي وو

نَّبِيًّا ۝٤١ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا

اويو نبي وو | كله چې | اووئيل هغه | پلار خپل ته | اے پلاره | ولې ته عبادت كوې | دهغه څه

........كله چې هغه پلار ته اووئيل | ائي زما بابا جانه ته ولې د داسې څيز عبادت كوې | چې نه اورى

لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْئًا ۝٤٢ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ

چې نه اورى | او نه وينى | اونهٔ لرې كولې شى | ستانه | څه څيز | اے پلاره | بيشكه زهٔ چې يم

او نه وينى |.............. اونه ستا نه څه تكليف لرې كولې شى | اې زما بابا جانه بيشكه ماته هغه علم

قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْٓ

په تحقيق سره راغلې دې ماته | علم (وحى) | هغه | چې نهٔ دې راغلې تاته | نو تابعدارى اوكړه زما

نصيب دې | چې هغه تاته نه دې نصيب شوې |.............................. نو زما تابعدارى اوكړه

اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ۝٤٣ يٰٓاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ

چې اوبنايم تاته | لاره | نيغه | اے پلاره | عبادت مهٔ كوه تهٔ | دشيطان | بيشكه شيطان

زه بهٔ درته برابره لار اوښايم | ائي زما پلاره د شيطان عبادت مه كوه | بيشكه شيطان

كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ۝٤٤ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يَّمَسَّكَ

دې | رحمان لره | نافرمانه | اے پلاره | بيشكه زهٔ | يريږم | چې اوبه رسيږى تاته

د رحمان نافرمان دې | . ائي زما بابا جانه ماسره دا ويره ده چې چرته په تا باندې د رحمان د طرفنه عذاب

عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ۝٤٥

عذاب | د رحمان نه | نوشې به تهٔ | د شيطان | ملګرې |

رانشى | نوته به دشيطان ملګرې پاتې شې |

**قوله تعالى:- اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ**

**د ابرهيم ﷺ دپلارسره خبرې اترې** :- دمكې مشركان چه بت پرست وواوخپل ځان ته به ئې د خليل الله ﷺ تابعدار وئيل دهغوى په وړاندې اې نبى ﷺ پخپله دابراهيم ﷺ واقعه بيان كړه. هغه رښتونى نبى دخپل پلار هم پرواه اونه كړه اود هغه په وړاندې ئې حق ثابت كړواود بت پرستئى نه ئې منع كړو. صفائى ورته اووئيل چه ته ولې د دې بتانوعبادتونه كوې چه نه نفع رسولې شى اونه نقصان.ونى فرمائيل چه زه بې شكه ستا خوئ يم خوالله ﷻ چه ماته كوم علم راكړې دې هغه تاسره نشته ته زما تابعدارى اوكړه زه به تاته نيغه لاراوښايم دبدونه به دې بچ كړم اونيكوته به دې اورسوم. باباجى دابت پرستى خودشيطان تابعدارى ده هم هغه ددې لاره ښائى اوهم هغه په دې باندې خوشحاليږى.

Scanned with Ca

لکه سورت یسٓ کښې ارشاد دې ﴿اَلَمۡ اَعۡهَدۡ اِلَیۡكُمۡ یٰبَنِیۡۤ اٰدَمَ اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوا الشَّیۡطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِیۡنٌ ۝﴾ (۱) الله ﷻ به اوفرمائي اې انسانانو آیاماتاسوته دا وعده نه وه اخستې چه دشیطان عبادت به نه کوئی هغه ستاسو ښکاره دښمن دې. بل آیت کښې دی﴿اِنۡ یَّدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا ۚ وَ اِنۡ یَّدۡعُوۡنَ اِلَّا شَیۡطٰنًا مَّرِیۡدًا ۝﴾ (۲) داخلق خو ښخوته چغې وهی اوالله ﷻ ئې پریخې دې. په اصل کښې دوی د سرکشه شیطان رابلونکی دی. هغوی اوفرمائیل شیطان خود الله ﷻ نافرمانه دې مخالف دې د هغه د فرمانبردارئی نه کبرکونکې دې په دې وجه دالله ﷻ ددربارنه شړلې شوې دې که تا هم د هغه تابعداری اوکړه نوهغه به تاهم خپل حالت ته اورسوی.پلاره زما ستا په دې شرك او ګناه باندې داویره ده چه الله ﷻ په تاباندې چرته عذاب رانه ولی اوته دشیطان دوست اودهغه ملګرې جوړنه شې د الله ﷻ امداد اود هغه ملګرتیاتانه پاتې نه شې. ګوره شیطان پخپله بې کس اوبې بس دې د هغه تابعداری به تاخراب خائ ته اورسوی.لکه چه بل خائ ارشادمبارك دې ﴿تَاللّٰهِ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰۤی اُمَمٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ فَزَیَّنَ لَهُمُ الشَّیۡطٰنُ اَعۡمَالَهُمۡ فَهُوَ وَلِیُّهُمُ الۡیَوۡمَ وَ لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ۝﴾ (۳) یعنی دایقینی اوقسمیه خبره ده چه تانه وړاندې قومونوته هم مونږ رسولان لیګلی خوشیطان دهغوی بد عملنی هغوی ته ښائسته کړې خودلې وې اوهم هغه دهغوی ملګرې جوړشو خوهیڅ په کار رانغلو او د قیامت په ورځ په دردناك عذاب کښې راګیرشو.

قَالَ اَرَاغِبٌ

| اوونیل پلار | آیا مخ اړونکی ئې

| (پلارورته) اوونیل چې ښه ابراهیم ؑ کنی ته زما د معبودانونه

اَنۡتَ عَنۡ اٰلِهَتِیۡ یٰۤاِبۡرٰهِیۡمُ ۚ لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ لَاَرۡجُمَنَّكَ

ته | دمعبودانو زمانه | اے ابراهیم | که چرې | منع نهٔ شوې تهٔ | نو زهٔ به په کاڼړو اوولم تا

مخ اړونکې یې | .........................که ته (دخپلو خبرونه) منع نه شوې | نو زه به دې په کاڼړو اولم

وَاهۡجُرۡنِیۡ مَلِیًّا ۝ قَالَ سَلٰمٌ عَلَیۡكَ ۚ سَاَسۡتَغۡفِرُ لَكَ

او جدا شه زما نه | ډیره موده | اوونیل ابراهیم | سلام دې وی | په تاباندې | زهٔ به ښښنه غواړم | ستا دپاره

اوزما د مخې نه همیشه دپاره لرې شه | ابراهیم اوونیل چې په تا دې سلام وی زه به ستا دپاره دخپل

رَبِّیۡ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِیۡ حَفِیًّا ۝ وَاَعۡتَزِلُكُمۡ

درب خپل نه | بیشکه الله | دې | په ماباندې | ډیر مهربان | او زهٔ جدا کیږم ستاسو نه

رب نه بخښنه غواړم | بیشکه هغه په ماډیر مهربان دې | او زه تاسو اوتاسو چې د الله ﷻ نه سوا کوم

وَمَا تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَاَدۡعُوۡا رَبِّیۡ ۫ۖ عَسٰۤی

او دهغې نه چې رابلئ ئې تاسو | ماسوا دالله نه | او زهٔ رابلم | رب خپل | امید دې

بتان رابلئ د هغې نه په ډډه کیږم | او زه خپل رب رابلم |.... امید دې چې زه به د خپل رب نه په غوښتلو

(۱) ۳۶/یسٓ:۶۰.
(۲) ٤/النساء:۱۱۷.
(۳) ۱٦/النحل:٦۳.

Scanned with Ca

| | | |
|---|---|---|
| اَلَّآ اَكُوْنَ | بِدُعَآءِ رَبِّیْ | شَقِیًّا﴿۴۸﴾ |
| چې نه به شم زه | په رابللو درب خپل سره | بدبخته |
| کښې محروم پاتې نشم | | |

**قوله تعالی:-** قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِیْ

**دپلار یوې وقوفانه جواب:-** دحضرت ابراهیم ﷺپدې طریقه باندې پوهه کولونه پس دهغه پلارد جهالت چه کوم جواب ورکړې دهغې بیان کولې شي. هغه وئیل چه ابراهیم ﷺ ته زما د معبودانو ویزاره ئې ددوی دعبادت نه ستا انکاردې ښه ده واوره که ته د خپل دې حرکت نه منع نه شوې اودوی ته دې بد وئیل،دهغوی عیبونه لټولواوهغوی ته کنځلې کولونه منع نه شوې نوزه به تاسنګسارکړم.ماته مه تکلیف راکوه اومه ماته څه وایه هم دا به ښه وی په سلامتیاسره مانه جدا شې ګنی زه به تاله سخته سزادرکړم. زما نه ته اوس د همیشه د پاره څه. حضرت ابراهیم ﷺ وئیل چه ښه ده خوشحاله اوسه زما د طرف نه به تاته هیڅ تکلیف نه وی ځکه چه ته زما پلارئې اود الله ﷻ دعاکوم چه هغه تاته نیك توفیق درکړی اوتا اوبښی.

**مومن له پکار دی چې جاهلانو سره ډیر زیات نه انخلي:-**دمؤمنانو هم دغه طریقه وی چه هغوی جاهلانو سره اینخلی نه لکه چه قرآن کښې بل ارشاد دې ﴿وَاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا﴾ [1]کله چه جاهلانوسره د هغوی ملاویدل وی نو ورته وائی چه سلام. بل آیت کښې دی د فضول خبرونه هغوی مخ اوړوی اوورته وائی چه زمونږ عملونه مونږ سره اوستاسو عملونه تاسوسره دی مونږ جاهلانوسره نه لګو. ماته د هغه د خپلې دعادقبیلیدو امید دې. هم ددې وعدې برابر هغه د ده دپاره ښښنه غوښتله.د شام د هجرته نه پس هم اود مسجدحرام د جوړولونه پس هم اود هغه اولاد کیدلونه پس هم حضرت ابراهیم ﷺ به وئیل چه ای الله زما مور پلار اوټول د ایمان والا دحساب قایمیدوپه ورځې اوبښې. آخرد الله ﷻ د طرف نه وحی راغله چه د مشرکانود پاره ښښنه مه غواړه. هم د هغوی په اقتداء کښې اول اول مسلمانانو هم د اسلام دشروع په زمانه کښې دخپلو خپلوانو مشرکانود پاره دښښنې دعاګانې کولې.آیت نازل شو چه بې شکه د ابراهیم ﷺ تابعداری کوئی هم په دې خبره کښې د هغه کار د دې قابل نه دې.بل آیت کښې ارشاد دې﴿ مَاكَانَ لِلنَّبِیِّ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ یَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِیْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِیْ قُرْبٰی مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِیْمِ﴾ [2] یعنی نبی اوایماندارانوله دمشرکانودپاره استغفارنه دی کول پکار.اووئی فرمائیل چه دابراهیم ﷺ استغفار صرف په دې وجه وو چه هغه د خپل پلارسره وعده کړې وه خوچه کله په هغه باندې واضحه شوه چه هغه دالله ﷻدښمن دې نوهغه دده نه ویزاره شو.ابراهیم ﷺخودلوئ رب دوست اوحلم والا وو.بیافرمائی چه زه تاسو نه اوستاسود دې معبودانونه جدا کیږم. زه صرف د هغه واحد رب عابدیم د هغه په عبادت کښې څوك نه شریك کوم.زه صرف د هغه نه دعاګانې او زاریګانې کوم اوزما یقین دې زه به پخپلو دعاګانوکښې محروم نه یم.واقعه هم دا ده. دلته لفظ عسی د یقین په معنوکښې دې د دې د پاره حضور ﷺ نه پس سیدالانبیاء دې.

| | |
|---|---|
| فَلَمَّا | اعْتَزَلَهُمْ |
| نو هر کله چې | په جدا شو دهغوئ نه |
| بیا چې ابراهیم ﷺ دهغه خلقو نه اودهغوئ دمعبودانو نه په ډډه شو | |

[1] م ۲۵/الفرقان:۶۳.
[2] م ۹/التوبه:۱۱۳.

Scanned with Ca

وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ

او دهغې بتانونه | چې هغوئ ئې عبادت کولو | ماسوا د الله نه | نو ورکړل مونږه | هغه ته | اسحاق

........نو مونږ ورته اسحاق ﷺ (خوې) او (د هغه نه) يعقوب ﷺ (نمسے)

وَيَعْقُوْبَ ؕ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ۝ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا

او يعقوب | او هر يو | اوګرځولو مونږه | پیغمبر | او ورکړو مونږه | هغوئ ته | د رحمت خپل نه

ورکړل|........او په دواړو کښې مو هر يو نبي جوړ کړو| او مونږ په دوئ باندې خپل رحمت کړې وو

وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ۝

او ورکړو مونږ | هغوئ ته | ښتني شهرت | او چت |

او د دوئ ذکر خير مو ډير اوچت کړې دې|

قوله تعالى:- وَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

**ابراهيم ﷺ ته حضرت اسحاق ﷺ اوحضرت يعقوب ﷺ ورکړې شو:-** خليل الله ﷺ دخپل مور پلار رشتي خاندان قوم اوملك د الله ﷻ په دين باندې قربان کړو دټولونه جدا شو.دخپل خان د خلاصولو او جدائې اعلان ئې اوکړونو الله ﷻ دهغه نسل جاري کړو.هغوی کره حضرت اسحاق ﷺ پیدا شو اوحضرت اسحاق ﷺ کره حضرت يعقوب ﷺ اوشو لکه چه ارشاد دې ﴿وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ۭ وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ۝﴾ ([1])بل آيت کښې دی﴿ وَمِنْ وَّرَاۗءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ۝﴾([2])يعنی دحضرت اسحاق ﷺ نه پس يعقوب ﷺ بياحضرت اسحاق ﷺ دحضرت يعقوب ﷺ پلاروو. لکه چه د سورت بقره آيت ﴿اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاۗءَ اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِيْ ۭ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَاۗىِٕكَ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰــهًا وَّاحِدًا ښ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝﴾([3])کښې صفالفظ دي چه حضرت يعقوب دخپل وفات په وخت کښې خپل بال بچ نه تپوس اوکړوتاسو ټول به زمانه پس د چا عبادت کوئی؟هغوی جواب ورکړو چه هم دهغه الله ﷻ د کوم چه ته عبادت کوې اوستا پلارد ابراهيم ﷺ اواسماعيل ﷺ او اسحاق ﷺ.دلته مطلب دادې چه مونږ دهغه نسل جاري اوساتلوخوئ مو ورکړو بيادهغه خوئ خوئ اودواړپيغمبران کړل اوستاسترګې موپرې يخې کړې.داښکاره خبره ده چه د حضرت يعقوب ﷺ نه پس دهغه خوئ حضرت يوسف ﷺ هم نبي جوړکړې شوې وودهغه ذکر دلته نشته. خکه چه دحضرت يوسف ﷺ دنبوت په وخت کښې خليل الرحمن ژوندې نه وو. دا دواړه نبوتونه يعنی حضرت اسحاق ﷺ اودحضرت يعقوب ﷺ نبوت د هغوی په ژوندکښې د هغوی د سترګو په وړاندې وو.ددې دپاره ئی ددې احسان ذکر بيان کړو.کله چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه د ټولونه بهترسړې څوك دې؟ نوحضور ﷺ اوفرمائيل يوسف نبي الله ابن يعقوب نبي الله ابن سحاق نبي الله ابن ابراهيم نبي الله خليل الله.([4])بل حديث کښې دی الكريم بن الكريم بن الكريم بن الكريم يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام دی.([5]) مونږ هغوی ته خپل ډيرزيات رحمتونه ورکړی اود

---

[1] ۲۱/الانبياء:۷۲.

[2] ۱۱/هود:۷۱.

[3] ۲/البقرة:۱۳۲.

[4] صحيح بخاری کتاب احادیث الانبياء باب قول الله تعالی ﴿لقدکان في يوسف واخوته آيات للسائلين....﴾: ۳۳۸۲،صحيح مسلم:۲۳۷۸، احمد:۲/۲۵۷، الطيالسی:۷۱، مسند حميدی:۱۰۴۵، ابن حبان:۹۲.

[5] صحيح بخاری کتاب احادیث الانبياء باب قول الله تعالی ﴿لقدکان في يوسف واخوته آيات للسائلين....﴾: ۳۳۹۰، احمد:۲/۱۹۶

هغوی د خیرذکر اوښکلې ثنا په دنیاکښې د هغوی نه پس په اوچتوالی سره باقی اوساتل. ترڅو چه د هرمذهب والا د هغوی تعریفونه کوی. **فصلوة الله وسلامه عليهم اجمعين.**

| |
|---|
| وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ |
| او بیان اوکړه \| په کتاب کښې |
| او (محبوبه) ته په دې کتاب (قرآن) کښې |
| مُوسٰىٓ ۚ اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ۞ وَنَادَيْنٰهُ |
| دموسی \| بیشکه هغه \| وُ \| خالص کړې شوې \| او وُ \| رسول \| نبی \| او آواز او کړو مونږ هغه ته |
| دموسی ذکر هم اوکړه \| بیشکه هغه دالله ﷻ خاص بنده اورسول اونبی وو \| اومونږ هغه ته دکوه طور |
| مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ۞ |
| دطرفه د کوه طور \| ښی نه \| او رانزدې کړو مونږ هغه \| دراز په خبرو کولو سره |
| د ښی طرفنه آواز کړې وو \| اوهغه ته د راز د خبرو کولو په وجه خپل نزدیکت ورکړې وو \| |
| وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ۞ |
| او ورکړو مونږ \| هغه ته \| درحمت خپل نه \| رور دهغه \| هارون \| په حیثیت دنبی \| |
| اوهغه ته مودخپلې مهربانۍ په وجه دهغه رورهارون عليه السلام د نبی په حیثیت ورکړې وو \| |

**قوله تعالى:- وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوسٰىٓ**

**د موسی عليه السلام ذکر:-** دخپل خلیل عليه السلام د بیان کولونه پس اوس دخپل کلیم عليه السلام بیان کوی د **﴿مُخْلَصًا﴾** دویم قراءت **﴿مُخْلِصًا﴾** هم دې یعنی هغه په اخلاص سره عبادت کونکې وو. روایت دې چه حواریانودحضرت عیسی عليه السلام نه تپوس اوکړو اې روح الله مونږ ته اوښایه چه مخلص سړې څوك دې؟ هغوی عليه السلام اوفرمائیل چه صرف دالله ﷻ د پاره عمل اوکړی دهغه ددې خبرې غوښتنه نه وی چه خلق دې زماتعریفونه اوکړی. دویم قراءت کښې **﴿مُخْلَصًا﴾** دې یعنی د الله ﷻ خوښ کړې شوې بزرګ بنده حضرت موسی عليه السلام وو. لکه چه د الله ﷻ فرمان دې ﴿اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِيْ وَبِكَلَامِيْ ۖ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ۞﴾ ([1]) حضور ﷺ د الله ﷻ نبی اورسول وو. په پنځولویو لویو جلیل القدر اواولوالعزم پیغمبرانوکښې یو هغوی دی یعنی نوح، ابراهیم، موسی عیسی اومحمد **صلوت الله وسلامه عليهم وسائر الانبياء اجمعين.** مونږ هغه ته د غرد ښی طرف نه آواز ورکړو اوغوږایستنې کولوسره خپل ځان ته نیزدې کړو. داواقعه د هغه وخت ده چه موسی عليه السلام د اورپه لټون کښې د کوه طور طرف ته اُور لیدلې وو ورااوراندې شوې وو.

ابن عباس رضي الله عنه وغیره فرمائی چه دومره نیزدې شوچه د قلم آواز ئې واوریدو([2]) دې نه مراد د تورات لیکلو قلم دې. سدی رحمه الله وائی آسمان ته لاړواود الله ﷻ کلام سره مشرف شو. وائی چه په دې خبروکښې هغه فرمان هم دې چه اې موسی عليه السلام چه زه ستا زړه شکر کونکې اوستا ژبه خپل ذکر کونکې جوړه کړم اوتاته داسې بی بی درکړم چه د نیکئی په کارونوکښې ستا امدادی وی نو پوهه شه چه ما ستانه هیڅ ښیګړه نه ده اوچته کړې. اوچاته چه زه دا ځیزونه ورنه کړم پوهه دې شی چه هغه ته هیڅ ښیګړه نه ده

---

[1] ۷/الاعراف:۱٤٤.
[2] حاکم:۲/۳۷۳.

Scanned with Ca

ملاوشوې. په هغه باندې مونږ يوه مهرباني داهم اوكړه چه دهغه رورهارون عليه السلام مونږ نبي جوړكړواود هغه د امداد پاره مو هغه سره كړو. لكه څنګه چه دهغه خوښه او دعا وه. فرمائيلي وو ﴿وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ﴾ ([1]) يوبل روايت كښي دى ﴿قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى﴾ ([2]) موسى عليه السلام ستاسوال مونږ پوره كړو. د هغوى ددعادا لفظ هم روايت دي ﴿فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ﴾ ([3]) الخ هارون هم رسول جوړكړه. وائي چه ددې نه زياته بهتره دعااود دې نه زيات شفاعت چاد چا د پاره په دنياكښې نه دي كړي. حضرت هارون عليه السلام دحضرت موسى عليه السلام نه مشر وو. صلوة الله وسلامه عليهما.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ | اِسْمٰعِيْلَ | اِنَّهٗ | كَانَ | صَادِقَ الْوَعْدِ | وَكَانَ | رَسُوْلًا |
| او بيان اوكړه په كتاب كښي | داسماعيل | بيشكه هغه | وو | رښتيني دوعدې | او وو | رسول |
| او (محبوبه) ته په دې كتاب (قران) كښې داسماعيل عليه السلام ذكر هم اوكړه بيشكه هغه دوعدې (ډير رښتوني) وواو رسول | | | | | | |
| نَّبِيًّا | وَكَانَ | يَاْمُرُ | اَهْلَهٗ | بِالصَّلٰوةِ | وَالزَّكٰوةِ | |
| نبي | او وو هغه | چې حكم به ئې كولو | خپل كوروالو ته | دمانځه | او د زكاة | |
| اونبي وو | اوهغه به دخپل كور خلقو ته دمونځ اداكولو او د زكوة وركولو حكم كولو | | | | | |
| وَكَانَ | عِنْدَ رَبِّهٖ | مَرْضِيًّا | | | | |
| او وو هغه | په نز د رب خپل | خوښ كړې شوې | | | | |
| او د خپل رب په نزد ډير غوره وو | | | | | | |

قوله تعالى:- اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ

**حضرت اسماعيل عليه السلام د وعدې كلك وو:**-دحضرت اسماعيل عليه السلام بن ابراهيم عليه السلام د خيرذكر كولې شي. هغه د ټول حجاز پلار دي. كوم نذر چه به ئې د الله جل جلاله د نوم منلو دكوم عبادت كولوچه به ئې اراده كوله پورد كولويه ئې. هغه به حق اداكولو هره وعده به ئې پوره كوله. يوسړي سره ئې وعده اوكړه چه زه به فلانكي ځاې كښې ملاوېږم ته هلته راشه اسماعيل عليه السلام دوعدې مطابق هلته لاړوخوهغه سړې رانغلو. هغوى ددغه سړي په انتظار كښې هم هلته حصارشوتردې چه يوه پوره شپه ورځ تيره شوه. هغه سړې راغلو ورئې كتل چه هغوى هم هلته انتظار كښې دى تپوس ئې اوكړوتاسو د پرون نه دلته ئې؟ هغوى اوفرمائيل چه وعده مې كړې وه نوبيازه ستاسودراتلونه بغيرڅنګه اخواكيدې شوم. هغه معذرت اوكړو چه مانه بالكل هيرشوې وو. سفيان ثورى رحمه الله وائي چه هم دلته په انتظاركښې په هغوى باندې پوره يو كال تيرشوې وو.

**زمونږ رسول هم د وعدې پابند وو:**-ابن شوذب رحمه الله وائي چه هلته ئې كورجوړكړو. عبدالله بن ابوالحمساء رضي الله عنه وائي د حضور ﷺ د نبوت نه وړاندې ما حضور ﷺ سره څه تجارتي لين دين كړې وو زه لاړم او دامې اووئيل چه تاسو دلته اودرېږئ زه اوس واپس راځم. بيازما هډوخيال نه شو هغه ورځ اوشپه تيره شوه دويمه ورځ هم تيره شوه او په دريمه ورځ زما خيال راغلوچه اومې كتل نوحضور ﷺ هم هلته تشريف ايخودې ووهغوى ﷺ اوفرمائيل تاخوزه په مشقت كښې واچولم. زه دلته د دريوورځونه ستا انتظاركوم. ([4]) (خرائطي) داهم وئيلې شوى دى چه دا د هغه وعدې ذكر دې چه هغوى په وخت د حلالولوكښې كړې

[1] ۲۸/القصص: ۳٤.
[2] ۲۰/طه: ۳٦.
[3] ۲٦/الشعراء: ۱۳.
[4] ابوداؤد كتاب الادب باب فى العدة: ٤۹۹٦

Scanned with Ca

وه پلاره ته به ما د صبر کونکونه اوومومې نو په حقیقت کښې هغه د وعدې پوره کول اوکړه اود صبر اوبرداشت نه ئې کار واخستو. د وعدې پوره کول نیك کار دې اووعده خلافي ډیر خراب څیز دی. قرآن کریم فرمائی اې ایمان والا هغه خبرې د ژبې نه ولې اوباسئی په کوم چه پخپله عمل نه کوئی د الله ﷻ په نیز داخبره ډیره د غضب ده چه تاسوهغه وائې چه نه ئې کوئی.[1] رسول الله ﷺ فرمائی د منافق درې نښې دی په خبروکښې دروغ وعده خلافی او په امانت کښې خیانت.[2] دې آفتونونه مؤمن ځان له او جدا وی. هم دا د وعدې رښتونوالې په حضرت اسماعیل ؑ کښې وو اوهم دغه پاك صفت په حضرت محمد مصطفی ﷺ کښې وو کله هم حضورﷺ چاسره دوعدې خلاف نه دی کړی.

یوځل حضورﷺ دحضرت ابوالعاص بن ربیع ؓ تعریف کولو سره اوفرمائیل ده چه ماسره کومه خبره اوکړه رښتیائی اوکړه کومه وعده چه هغه ماسره اوکړه پوره ئې کړه[3] حضرت صدیق اکبرؓ د خلافت په تخت قدم کیخودوسره اعلان اوکړو چاسره چه نبی کریم ﷺ څه وعده کړې وی زه دهغې دپوره کولو د پاره تیاریم اوپه حضورﷺ باندې چه د چا قرض وی زه دهغې د اداکولود پاره موجود یم. دې کښې جابر بن عبدالله ؓ تشریف راوړو عرض ئې اوکړو چه ماسره رسول الله ﷺ وعده فرمائیلې وه که د بحرین مال راغلو نو زه به تاته درې لپې ډکې درکوم. حضرت صدیق اکبرؓ له چه کله د بحرین مال راغلو نوهغوی جابرؓ راوغوښتواو ورته ئې اوفرمائیل چه واخله درې لپې ډکې کړه.د هغه په لپه کښې پنځه سوه درهم راغله. حکم ئې اوکړو چه د دریو لپو پنځلس سوه درهم ورکړئی.[4] بیائی د اسماعیل ؑ دنبی اورسول کیدو بیان اوفرمائیلو.اوداسحاق ؑ ئې صرف نبی کیدل بیان کړل په دې سره د هغه په خپل رور باندې فضیلت ښکاره کیږی. د مسلم شریف په حدیث کښې دی دابراهیم ؑ په اولاد کښې الله ﷻ اسماعیل ؑ خوښ کړو.[5] بیا دهغه نور تعریف بیانولې شی هغوی د الله ﷻ په اطاعت باندې صابروو اوخپلې کورنئی ته به ئې هم دا حکم فرمائیلو هم دا فرمان د الله ﷻ حضورﷺ ته دې.

**هرمسلمان ته دخپل بال بچ د مانځه فکر کول پکار دی:-** ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا ۖ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى﴾[6] خپل بال بچ ته د مانځه حکم کوه په خپله هم په دې باندې په مضبوتیاسره عمل کوه. یوبل آیت کښې دی ﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا قُوٓا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَّقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللّٰهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾[7] اې ایماندارو خپل ځان او خپل بال بچ داُورنه بچ کړئی دکوم خشاك چه انسانان دی او کاڼی دی چرته چه عذاب ورکونکې فرښتې د رحم نه خالی زور آورې ډیرې سختې دی.نامکن دی چه هغوی دالله ﷻ دحکم نه خلاف اوکړی بلکه هغوی ته چه څه وئیلې شوی دی هم دهغې په تابعدارئی کښې مشغول دی. مسلمانانوته د الله ﷻ حکم کیږی چه خپلې کورنئی ته د الله ﷻ دخبرو هدایت کوئی د ګناهونونه ئې راېندونی هسې بې تعلیم ئې مه پریږدئی چه د دوزخ نوړنی جوړشی.رسول الله ﷺ فرمائی په هغه سړی دې د الله ﷻ رحم وی چه دشپې د تهجد د پاره د خپلې بسترې نه راپاسی بیا خپله ښځه راوچتوی اوکه هغه نه راپاسی نود هغې په مخ باندې اوبه وراچوی

[1] ٦١/الصف:٢-٣.

[2] صحیح بخاری کتاب الایمان باب علامات المنافق:٣٣، صحیح مسلم:٥٩.

[3] صحیح بخاری کتاب فرض الخمس باب ماذکر من درع النبیﷺ وعصاه وسیفه وقدحه وخاتمه...٣١١٠، صحیح مسلم: ٢٤٤٩ .

[4] صحیح بخاری کتاب المغازی باب قصة عمان والبحرین: ٤٣٨٣،صحیح مسلم :٢٣١٤.

[5] صحیح مسلم کتاب الفضائل بـاب فـضل نـسب النبی ﷺ وتسلیم الحجر علیه قبل النبوة:٢٢٧٦،ترمذی: ٣٦٠٥، احمد :١٠٧/٤،مسندابی‌یعلی:٧٤٨٥،دلائل النبوة:١٦٦/١.

[6] ٢٠/طه:١٣٢.

[7] ٦٦/التحریم٦.

Scanned with Ca

اودخوب نه ئې رابیداره وي. په هغه ښځه دې هم د الله ﷻ رحمت وي چه د شپې د تهجدد پاره راپاسي بیاخپل خاوندراپاسوي که هغه نه راپاسي نودهغه په مخ داوبوڅاڅکي اچوي.([1])(ابوداؤد ابن ماجه). د حضورﷺ ارشاد دې کله چه انسان د شپې راپاسي خپله بي بي هم راپاسوي او دواړه دوه دوه رکعته مونځ هم اوکړي نود الله ﷻ په نیزدالله ﷻ ذکر کونکوسړواو ښځوکښې د دواړونومونه لیکلې کیږي.([2])

| | | |
|---|---|---|
| وَاذۡكُرۡ | فِي الۡكِتٰبِ | |
| او بیان او کړه | په کتاب کښې | |
| او ته په دې کتاب (قران) کښې د ادریس | | |

| إِدۡرِيسَ | إِنَّهُ | كَانَ | صِدِّيقًا | نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾ | وَّرَفَعۡنٰهُ | مَكَانًا | عَلِيًّا ﴿٥٧﴾ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دادریس | بیشکه هغه | وو | ربښتینې انسان | (او) نبی | او پورته کړې وو مونږ هغه | مقام | لوړ ته |
| ذکر هم اوکړه | بیشکه هغه ډیر ربښتونې نبی وو | | | | اومونږ هغه ډیرې اوچتې مرتبې ته رسولې وو | | |

**قوله تعالیٰ:-وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ إِدۡرِيسَ**

**د حضرت ادریس ﷺ د اوچتې مرتبې ذکر:-** دحضرت ادریس ﷺ بیان کولې شي چه هغه ربښتونې نبي وو.دالله ﷻ خاص بنده وومونږ هغه اوچت مکان ته پورته کړو.دصحیح حدیث په حواله سره اول تیر شوی دی چه په څلورم آسمان باندې حضورﷺ حضرت ادریس ﷺ سره ملاقات اوکړو.

**د ادریس ﷺ متعلق کمزورې واقعه:-** د دې آیت په تفسیر کښې حضرت امام ابن جریر رحمه الله یو ډیرعجیبه اثر وړاندې کړې دې چه حضرت ابن عباس رضي الله عنه د حضرت کعب رضي الله عنه نه سوال اوکړو چه د دې آیت مطلب څه دې؟ هغوی اوفرمائیل حضرت ادریس ﷺ له وحی راغله چه د ټول اولاد آدم ﷺ برابر صرف ستا په نیکو اعمالوکښې هره ورځ زیاتوالې کوم. په دې باندې هغوی له خیال راغلوچه په عمل کښې نور هم وړاندیوالې اوکړي.کله چه هغه له د هغه ملګرې فرښته راغله نو هغې ده سره یاداشت اوکړو ماله داسې وحی راغلې ده اوس ته ملك الموت ته اووایه چه هغه زما په مرګ کښې روستوالې اوکړي نوزه به نیك اعمال نورهم زیات کړم.فرښتې د حضرت ادریس ﷺ د خبرې باره کښې ویناأوکړه نوملك الموت اوونیل هغه چرته دې؟هغې ونیل دا دې زما په لاس ناست دې هغه اوونیل سبحان الله ماته اوس حکم اوشو چه د ادریس ﷺ روح په څلورم آسمان باندې قبض کړه.زه فکرمند ووم چه هغه په زمکه دې اوماته د هغه د روح قبض کولو د پاره ددې آسمان حکم کولې شي. هم هغه وخت دهغه روح قبض کړې شو دا د دې آیت معنی ده.

خودایادساتنې چه د کعب رضي الله عنه دا بیان د اسرائیلیاتونه دې اود دې په بعضو خبروکښې نکارت دې. والله اعلم. هم دا روایت په بل سندسره دې او په هغې کښې داهم دی هغه د دې فرښتې په ذریعه معلومه کړې وه چه زماعمر څومره باقي دې؟یوبل روایت کښې دی چه دفرښتې په دې سوال باندې ملك الموت جواب ورکړو چه زه ګورم.وئې کتل نووئې ونیل صرف دیوې سترګې رپولو برابر.اوس چه کومې فرښتې لاندې کتل د حضرت ادریس ﷺ روح قبض شوې هم وو.د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې چه هغه درزی وو.دستنې په یوه یوه ټانکه باندې به ئې سبحان الله ونیل. ماښام به د هغه نه زیات نیك عمل آسمان ته نه ختلو.مجاهد رحمه الله خو وائي چه حضرت ادریس ﷺ آسمانونوته خیژولې شوې دې هغه

---

[1]) ابوداؤد کتاب الوتر باب الحث علی قیام اللیل: ۱۴۵۰، وهوحسن،نسائی:۱۶۱۱، ابن ماجه:۱۳۳۶،احمد:۲/۲۵۰،ابن حبان:۲۵۶۷، حاکم:۱/۳۰۹.

[2])ابوداؤد کتاب التطوع باب قیام اللیل:۱۳۰۹ السنن الکبری:۱۳۱۰، ابن حبان:۲۵۶، بیهقی:۲/۵۰۱، حاکم:۱/۳۱۶.

Scanned with Ca

مړشوي نه دي بلکه دحضرت عيسي ﵇ په شان بې مرګه اوچت کړې شوې دې. د ابن عباس ؓ نه په روايت د عوفي نقل دی چه شپږم آسمان ته اوچت کړې شوې دې اوهلته وفات شوې دې. حسن ؒ وغيره وائي چه د اوچت مکان نه مراد جنت دې.

| |
|---|
| أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم |
| دا کسان چې دی \| دا هغه کسان دی \| چې انعام اوکړو \| الله \| په هغوئ باند \| |
| \| دا هغه پيغمبران دی په کومو چې الله ﷻ په پيغمبرانو کښې (خصوصی) انعام کړې وو |
| مِّنَ النَّبِيِّينَ مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا |
| چې دپيغمبرانو نه وو \| د اولاد دآدم نه وو \| او د(نسل) دهغه چانه وو \| چې سواره کړی وو مونږه \| |
| يعنی د دآدم ﵇ په اولاد کښې اود هغه چانه چې مونږ نوح ﵇ سره (په بيړئ کښې) سواره کړی وو |
| مَعَ نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ |
| د نوح سره \| او داولاد دابراهيم نه وو \| او داسرائيل دنسل نه وو \| او دهغه کسانونه وو \| |
| او څه په کښې دابراهيم ﵇ اويعقوب دنسل نه وو\| اودا (ټول) په هغه خلقو کښې وو چې مونږ ورته هدايت کړې |
| هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ |
| چې لارښودلی وه ورته مونږه \| او خوښ کړی وو مونږه \| کله چې به لوستلې کيدل \| په هغوئ باندې\| |
| وو\| او مونږ غوره کړی وو\| هرکله چې به دهغوئ په مخکښې د رحمان آيتونه اولوستلې شو |
| آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۩ ﴿٥٨﴾ |
| آيتونه درحمن \| نو پريوتل به \| په سجده \| په ژړا ژړا \| |
| نو په سجده به پريوتل \| او ژړيدل به \| |

**قوله تعالى:-** أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم

**په انبياء کرامو عليهم السلام باندې د الله ﷻ د فضل تذکره او دهغوئ نسب نامه:-** دالله ﷻ فرمان دې چه داد انبياؤ کرامو عليهم السلام ډله ده د چا ذکر چه په دې سورت کښې دې يا وړاندې تيرشوی يا دې نه پس به راځي. دا خلق د الله ﷻ انعام ورکړې شوی دی اوس دلته دشخصيت نه د جنس طرف ته اشاره ده، دوی د آدم ﵇ داولاد نه دی يعنی دحضرت ادريس ﵇ اولاد نه د هغوی نه کوم چه حضرت نوح ﵇ سره په کشتئی کښې سواره کړې شوی وو دې نه مراد ابراهيم خليل الله ﵇ دې اود ابراهيم ﵇ د ذريت يعنی اولاد نه حضرت اسحاق حضرت يعقوب حضرت اسماعيل عليهم السلام دی اود اسرائيل د اولاد نه مرادموسی ﵇ حضرت هارون ﵇ حضرت زکريا ﵇ حضرت يحيی ﵇ اوحضرت عيسی ﵇ دې. هم دا قول دې د سدی ؒ او امام ابن جرير. د دې د پاره د دوی نسب جدا بيان کړې شو.

د انبياء عليهم السلام نسل د آدم ﵇ نه دې خو دوی کښې بعضې هغه هم دی چه د دې بزرګانو دنسل نه نه دی کوم چه دنوح ﵇ ملګری وو ځکه چه ادريس ﵇ خودنوح ﵇ نيکه وو. زه خووايم چه په ظاهره هم دا ټيک دی چه د نوح ﵇ نه پورته په نسب کښې د الله ﷻ پيغمبر ادريس ﵇ دې. اود بعضې خلقوداخيال دې چه ادريس ﵇ هم د بنی اسرائيلو نبی دې. داوائی چه د معراج په حديث کښې دادريس ﵇ هم حضور ﷺ ته دا وينا کول نقل دی چه مرحبادې وی نبی صالح ته او مرحبا دې وی

Scanned with Ca

صالح رور ته. نو رور صالح ئې ورته اوفرمانيلو نه چه خوږ صالح لکه چه ابراهيم ﷺ او ادم ﷺ چه ونيلي وو. روايت دې چه ادريس ﷺ د نوح ﷺ نه وړاندې دې. هغوی خپل قوم ته فرمائيلي وو چه د لااله الاالله ونيلو قائل او معتقد جوړشئ بياچه څه غوارئ کوئ. خوهغوی د دې نه انکاراوکړو. الله ﷻ هغوی ټول هلاك کړل. مونږ دا آيت د انبياءکرام عليهم السلام د جنس د پاره ګرځولې دې.ددې دليل د سورت انعام هغه آياتونه دی په کوم کښې چه حضرت ابراهيم ﷺ حضرت اسحاق ﷺ حضرت نوح ﷺ حضرت داؤد ﷺ حضرت سليمان ﷺ حضرت يوسف ﷺ حضرت موسى ﷺ حضرت هارون ﷺ حضرت زکريا ﷺ حضرت يحيى ﷺ حضرت عيسى ﷺحضرت الياس ﷺ حضرت اسماعيل ﷺ حضرت يسع ﷺ او دحضرت يونس ﷺ وغيره ذکر اوتعريف کولونه پس اوفرمائيل ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ﴾ (١)هم دا هغه خلق دی چاته چه الله ﷻ هدايت ورکړې دې ته هم د دوی د هدايت اقتداء اوکړه اودائې هم فرمائيلې دی چه د نبيانو بعضې واقعات مونږ بيان کړی دی اود بعضو واقعات تاته رسيدلې هم نه دی.(٢)

**د صاد دپه سجده باندې د علماء کرامو اتفاق دې**:-صحيح بخاری کښې دی چه حضرت مجاهد رحمه الله د حضرت ابن عباس ﷺ نه سوال اوکړوپه سورت "ص" کښې سجده شته هغوی اوفرمائيل اوبيائې د دې آيت تلاوت اوکړو وئې فرمائيل ستاسو نبی ته د دوی د اقتداء حکم کړې شوې دې اوحضرت داؤد ﷺ هم د مقتداء انبياء کرامو عليهم السلام نه دې.(٣) فرمان دې چه د دې پيغمبرانو عليهم السلام په وړاندې د کلام الله شريف آياتونه تلاوت کيدل نود هغې دلائل او ثبوتونه اوريدوسره به په خشوع اوخضوع سره د الله ﷻ شکر اواحسان منلوسره ژړل او په ژړا اوزارئې سره به په سجده کښې پريوتل په دې وجه په دې آيت کښې د سجده کولوحکم د علماؤ کرامو متفق عليه مسئله ده دې دپاره چه د دې پيغمبرانو اقتداء او اتباع اوشي. اميرالمؤمنين حضرت عمر بن الخطاب ﷺ د سورت مريم تلاوت اوکړو اوچه کله دې آيت ته راورسيدو نوسجده ئې اوکړه. بيائې اوفرمائيل چه سجده خومې اوکړه خو هغه ژړاد کوم ځائې نه راوړم؟(ابن ابی حاتم او ابن جرير)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | فَخَلَفَ | | مِنْ بَعْدِهِمْ | |
| | | بيا راغلل | | روستو دهغوئ نه | |
| بيا دهغوئ نه پس ځينې داسې نااهله جانشين شول | | | | | |
| خَلْفٌ | أَضَاعُوا | الصَّلَوٰةَ | وَاتَّبَعُوا | الشَّهَوٰتِ | |
| داسې بدعمله جانشينان | چې ضائع کړو هغوئ | مونځ | او روان شو | په خواهشاتو پسې | |
| .......چې مونځونه ئې ضائع کړل اود خواهشاتو تابعداری ئې شروع کړه | | | | | |
| فَسَوْفَ | يَلْقَوْنَ | غَيًّا | إِلَّا | مَنْ | تَابَ |
| نو زر ده | چې مخ به شي هغوئ | د ګمراهئ دانجام سره | مګر | هغه څوك | چې توبه ئې اوويستله |
| ...........نوډيرزر به د ګمراهئ سزا بيا مومی البته چا چې توبه اوويستله | | | | | |

(١) ٦/الانعام:٩٠.

(٢) ٤٠/المؤمن:٧٨.

(٣) صحيح بخاری کتاب التفسيرسورة ص:٤٨٠٧.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَاٰمَنَ | وَعَمِلَ | صَالِحًا | فَاُولٰٓئِكَ | يَدْخُلُوْنَ |
| او ايمان ئې راوړو | او عمل ئې اوکړو | نيک | نو دغه کسان چې دی | دا خليږي به هغوئ |
| او ايمان ئې راوړو | اونيک عملونه ئې اوکړل | .............دا خلق به جنت ته داخليږي | | |
| اَلْجَنَّةَ | وَلَا يُظْلَمُوْنَ | شَيْئًا ﴿۶۰﴾ | | |
| جنت ته | او نه به پرې کيږي ظلم | هيڅ | جنتونه دي | دهميشه اوسيدو |
| او په دوئ به هيڅ ظلم نه شي کيدې | د هميشه اوسيدو په باغونو کښې به وی | | | |

**قوله تعالى:- فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ**

**نااهل جانشين:-** -دنيکانوخلقو خاص کر دانبياء کرام عليهم السلام ذکر اوکړې شو چه د الله ﷻ د حدودو محافظ د نيکوعملونونمونې د بدونه به بچ کيدل. اوس دخرابوخلقو ذکر کولې شی چه د هغوئ نه پس دزمانې خلق داسې شو چه هغوی دمونځونه بې پرواه شو. اوچه کله ئې د مانځه غوندې فريضې اهميت هيرکړو نوبشکاره خبره ده چه دنورو واجباتو به ئې څه پرواه کوله؟ ځکه چه مونځ خود دين بنياد دې اود ټولو عملونونه ښه اوبهتردې. دا خلق نفسانی خواهشاتو پسې پريوتل.اود دنيا په ژوندون کښې په تسلئی سره وراخته شو. دوی ته به د قيامت په ورځ سخته خساره وی او په تاوان کښې به وی. د مونځ ضائع کولونه مراد دا بالکل پريخودل دی. ددې وجه نه د امام احمد رحمه الله سلفو اوخلفو مذهب دې چه د مونځ پريخودونکې کافر دې. هم دا يوقول د امام شافعي رحمه الله هم دې.

## د مونځ پريخودونکی حکم

**مسلک حنفی:-** دحنفيانو په نيز کوم کس چه د ناراستئ په وجه مونځ پريږدی دې فاسق دې قيد کولې به شی او وهلې به شی تردې چه وينه ترې روانه شی دا به تردې پورې وی چې توبه اوباسی او يا په جيل کښې مړ شی او قتلولې به نشی ابته دا که د دې د فرضيت نه انکار اوکړی او يا مونځ سپک اوګڼړی (الفقه الاسلامي وادلته ناقلا عن الدرالمختار (۳۲۲/۱) ومراقی الفلاح (ص، ۲۰)-

ځکه چه په حديث کښې دی چه د بنده او شرک په مينځ کښې مونځ پريخودل دی.([1]) دويم حديث کښې دی چه په مونږ اوهغوی کښې فرق د مانځه دې چاچه مونځ پريخودو هغه کافر شو.([2])د دې مسئله په وضاحت سره د بيانولودا مقام نه دې. ياد مونځ ترک کولونه مراد د مانځه د وخت په صحيح توګه پابندی نه کول دی ځکه چه ترک مونځ خوکفر دې.([3]) د حضرت ابن مسعود ﷺ نه تپوس اوکړې شو په قرآن کريم کښې د مانځه ذکر ډير زيات دې چرته په مانځه کښې دسستئی کونکو د عذاب ځه بيان شته چرته په مانځه باندې داموالی فرمان شته اوياچرته دمحافظت بيان شته. هغوی اوفرمائيل دې نه مراد په وختونوکښې سستی نه کول اود وختونو پابندی کول دی. خلقو خو وئيل چه مونږ داګڼړل چه دې نه مراد دمونځونو پريخودل او نه پريخودل دی. هغوی اوفرمائيل دا خوکفر دې.([4])حضرت مسروق رحمه الله فرمائی چه دپنځو واړو مونځونو حفاظت کونکې په غافلانوکښې نه شی ليکلې.دهغې ضائع کول خپل ځان هلاک کول دی.اودهغې ضائع کول دهغې دوختونوپابندی نه کول دی([5])خليفة المسلمين

---

[1]) صحيح مسلم كتاب الايمان باب بيان اطلاق اسم الكفر على من ترك الصلاة:۸۲، ابوداؤد:۲۶۲۰، ترمذی:۲۶۱۸،ابن ماجه:۱۰۷۸،

[2]) ترمذی كتاب الايمان باب ماجاء فى ترك الصلاة:۲۶۲۱،وسنده صحيح.

[3]) الطبری:۲۱۵/۱۸.

[4]) الطبری:۲۱۶/۱۸.

[5]) الطبری:۲۱۶/۱۸.

Scanned with Ca

امیرالمؤمنین حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د دې ایت تلاوت کولوسره اوفرمائیل چه دې نه مراد د سر نه مونځ پریخودل نه دی بلکه د مانځه وخت ضائع کول دی.(۱) حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دابدترین خلق به قیامت سره نیزدې راشي اود دې امت نیکان خلق به باقي نه وي. هغه وخت به داخلق د ځناورو په شان ټوپونه اومنډې ترړې وهي.

**دا ناأهل خلق به کله وي:-؟ اود قاریانو درې قسمونه:-** عطاء بن ابی رباح رحمه الله هم دا فرمائی چه دا خلق به په آخري زمانه کښې وي.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی دا به هم د دې امت خلق وي چه د ځاروو په شان به په لاروکښې ټوپونه اومنډې وهي اود الله ﷻ نه چه په آسمان کښې دې به نه ویرېږي اونه به دخلقو نه شرمیږي. د ابن ابی حاتم په حدیث کښې دی حضورﷺ فرمائی داناخلف خلق به د شپیتوکالو نه پس وي کوم چه به مونځونه ضائع کوي او په شهوتونوکښې به اخته شي اود قیامت په ورځ به سزا خوري. بیابه د هغوی نه پس هغه نالائق خلق راشي چه د قرآن تلاوت خو به کوي ولې دهغوی د حلق نه به لاندې نه تیرېږي.یادساتئی چه قاریان درې قسمه وي مؤمن، منافق او فاجر.د حدیث د راوي ولید رحمه الله نه چه کله د هغه شاګرد د دې تفصیل تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل چه ایماندارخو به د دې تصدیق کوي اومنافق به په دې باندې عقیده نه لري. او فاجر به دې نه خپله خېټه ډکه کړي.(۲) ابن ابی حاتم کښې یوغریب حدیث کښې دی چه حضرت عائشه صدیقه k به د اصحاب صفه د پاره څه خیرات لیګلونورته به ئې وئیل چه بربری سړواوبښځوله مه ورکوه څکه چه ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هم دا هغه ناخلف دی د کوموذکر چه په دې آیت کښې دې.(۳) د محمد بن کعب قرظي رحمه الله فرمان دې چه دې نه مراد د مغرب بادشاهان دی چه ډیرخراب بادشاهان دی.کعب احبار رحمه الله فرمائی د الله ﷻ قسم چه زه د منافقانو صفت په قرآن کریم کښې وینم دا نښه کونکی مونځونه پریخودونکی شطرنج او جوارئي وغیره لوبې کونکي دماسخوتن د مانځه په وخت کښې اوده کیدونکي په خوراك څښاك کښې مبالغه اوتکلف سره خېټوان جوړیدونکي خوراك کونکي ډله پریخودونکي دی. حضرت حسن بصري رحمه الله فرمائی جماتونه د دې خلقو نه خالي ښکاري او بیټکونه اوحجرې ډکې دي.

ابوالشهب عطاردي رحمه الله فرمائی په حضرت داؤد علیه السلام باندې وحي راغله چه خپل ملګري هوښیارکړې چه هغوی دې د خپلو نفساني خواهشاتونه منع شي د چا زړونه چه د خواهشاتو چاپیره دی د هغوی په زړونوبردې اچوم. کله چه یوسړې په شهوت کښې ړوندشي نود ټولونه سپکه سزا هغه ته زه داورکوم چه د خپلې تابعدارئي نه هغه زه محروم کوم.مسنداحمدکښې دی ماته په خپل امت باندې د دوو څیزونو ډیره ویره ده. یودا چه خلق به دروغوشهوت پسې اولګي اومونځونه به پریږدی بل دا چه منافقان خلق به د دنیاد خودلود پاره د قرآن پاك عاملان جوړشي اود ربښتونومؤمنانوسره به جنګ جګړې کوي.(۴)

**د غیا معنی اومطلب:-** د(غَيًّا) معنی تاوان نقصان او بدی ده.(۵) د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې(غَيٌّ) د دوزخ دیوې کندې نوم دې چه ډیره ژوره ده اود ډیروسختو عذابونو(۶) والا اوپه دې کښې وینې اونوونه ډك شوي دی. ابن جریرکښې دی چه لقمان بن عامر رحمه الله فرمائی چه حضرت ابوامامه صدی بن عجلان باهلي رضی الله عنه له لاړم او هغه ته مې سوال اوکړو چه د رسول الله ﷺ نه اوریدلې شوې حدیث ماته واوروه.

(۱) الطبری:۲۱۶/۱۸.
(۲) احمد:۳۹/۳-۳۹ وسنده حسن.
(۳) حاکم:۲/۲۴۴.
(۴) احمد:۱۵۶/۴ وسنده حسن، مجمع الزوائد:۱/۱۸۷.
(۵) الطبری:۲۱۸/۱۸.
(۶) الطبری:۲۱۸/۱۸.

Scanned with Ca

هغوی اوفرمائیل چه واوره حضورﷺ فرمائیل که د لس اوقیه وزن کانړې د دوزخ د غاړې نه دوزخ ته اوغورزولې شی نوهغه خود پنځوسو کالوپورې د دوزخ بیخ ته نه شی رسیدلې بیا به هغه غی او اثام ته اورسی. غی اواثام د دوزخ لاندې دوه کوییان دی کوم ځائ چه د دوزخیانو وینې نوونه راجمع کیږی. د غی ذکر په آیت ﴿ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴾ کښې دې اود اثام ذکر ایت ﴿وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا﴾ کښې دی.(۱) داحدیث په فرمان رسول سره روایت کول منکر دی. اوداحدیث دسندپه روسره هم غریب دې بیا فرمائی چه څوك د دې کارونونه توبه اوکړی یعنی د مونځونوسستی او دخواهشاتونفسانی تابعداری پرېږدی الله ﷻ به د هغوی توبه قبوله کړی د هغوی آخرت به ښه کړی هغوی به د دوزخ نه خلاص کړی او جنت ته به ئې اورسوی. توبه د دې نه وړاندې ټول ګناهونه معاف کوی. یوبل حدیث کښې دی چه توبه کونکې داسې دې لکه چه بې ګناه وی.(۲) داخلق چه کومې نیکئی کوی د دې اجربه دوی ته ملاویږی. د یوې نیکئی ثواب به نه شی کمولې.د توبه نه وړاندې ګناهونوباندې به هیڅ نیول نه کیږی. دا دې کرم د هغه کریم اودادې حلم د هغه حلیم چه د توبه نه پس هغه ګناه بالکل ختموی ورکوی. په سورت فرقان کښې د ګناهونوذکر کولوسره د هغې د سزابیان کولونه پس ئې بیا استثنااوکړه او وئې فرمائیل چه الله ﷻ غفور او رحیم دې.

جَنّٰتِ عَدْنِ الَّتِيْ

| جنتونه دی | دهمیشه اوسیدو | هغه

| د همیشه اوسیدو په باغونو کښې به وی | هغه چې رحمان

وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

چې وعده کړی ده رحمن(دهغې) | دبندګانو خپلو سره | په غیبو | بیشکه شان دادې | چې ده

ئې د خپلو بندګانو سره غائبانه وعده کړې ده| .............. بیشکه د هغه وعده

وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ۞ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا اِلَّا

وعده دهغه | پوره کیدونکی | نه به اوری هغوئ | په هغې کښې | څه فضول خبره | مګر |

خامخا پوره کیدونکې ده | په هغې کښې به فضول خبره نه اوری | سلام لفظ به وی (چې یو بل ته به

سَلٰمًا ؕ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ۞

دسلامتیا خبره | اووی به دپاره دهغوئ | رزق دهغوئ | په هغې کښې | صبا | بیګاه

د ملاقات په وخت کښې وائی) | اوهغوئ ته به په کښې سحر ماښام روزی ورکولې شی

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ

دادې | جنت | هغه | چې په میراث کښې به ئې ورکوؤ مونږه | دبندګانو خپلو نه | هغه چاته

دا هغه جنت دې چې په خپلو بندګانو کښې به ئې مونږ هغه څوک وارث جوړوو

كَانَ تَقِيًّا ۞

چې وی هغه | پرهیزګار |

چې پرهیزګار وی |

(۱) طبراني: ۷۷۳۱.

(۲) ابن ماجه كتاب الزهد باب ذكرالتوبه: ۴۲۵ حلية الاولياء: ۴/۲۱۰.

Scanned with Ca

**قوله‌تعالی:- اَلَّتِیْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَیْبِ ط**

**مؤمنان به د جنت وارثان وی:-** په کومو جنتونوکښې چه به توبه ویستونکی داخلولې شی دا جنتونه به د همیشه د پاره وی دکومې چه غائبانه وعده د هغوی رب هغوی سره کړې ده. دا جنتونه هغوی لیدلې نه دی خود کتلونه هم زیات یقین اوایمان د هغوی دې. خبره هم دغه ده چه د الله ﷻ وعدې اټل وی هغه حقائق دی چه ضرور به رامخامخ کیږی. نه به الله ﷻ وعده خلافی کوی اونه به وعده بدلوی. داخلق به هلته خامخارسولې شی اودوی به هغه ضرور مومی.د﴿مَاْتِیًّا﴾ معنی ﴿اٰتِیًا﴾هم راغی اودا هم دی چه چرته مونږ خو هغه زمونږ مخې ته راغلو لکه چه وائی په ماپنخوس کاله راغله زه پنځوسو کالوته اورسیدم. د دواړوجملو مطلب هم یو دې. نامکمن دی چه په دې جنتونوکښې د هغوی په غوږونوکښې څه فضول اوبې کاره خبره اورسی. صرف دمبارك سلامت آوازونه به څلوروواړوطرفونوته وی أوخاص کړ د فرښتو د پاکو ژبونه به دامبارك آوازونه د هغوی په غوږونوکښې کړنګیږی. لکه چه په سورت واقعه کښې دی ﴿لَا یَسْمَعُوْنَ فِیْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِیْمًا اِلَّا قِیْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا﴾(۱)هلته به هیڅ بې هوده اود طبع خلاف څه خبره نه اوری بغیرد سلام اوسلامتیانه دااستثنا منقطع ده سحرمابنام پاك مزیدارخوندناك خوراکونه بې تکلف اوبې تکلیفه بې مشقته او بې زحمته به راروان وی

**جنت کښې شپه ورځ نشته اونه حسد او کینه:-**خودا مه ګڼړئی چه په جنت کښې به هم ورځ اوشپه وی نه بلکه دې أنواروسره به هغه وختونوته جنتیان اورسی کوم چه دالله ﷻدطرف نه مقرر دی. مسند احمد کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی اولنئی ډله چه جنت ته ځی د هغوی مخونه به د څوارلسمې د سپوږمئی په شان روښانه اونورانی وی. نه به هلته هغوی له لاړې راځی نه پوزه نه غټې وړې متیازې. د هغوی لوښی او سامانونه به د سرو زرو وی خوشبودار بخور به وی اود هغوی خولې به د مشك په شان وی. د هر یوجنتی سرې دوه بیبیانې خوبه داسې وی چه د هغوی د پنډو دصفائې نه به دهغوی دپنډو د هډوکی مازغه د بهر نه ښکاری. دې ټولوجنتیانوکښې به د یوجنتی بل سره هیڅ دښمنی نه وی نه به څه بغض وی ټول به د یوزړه په شان وی. په خپل مینځ کښې به ئی هیڅ اختلاف نه وی. سحر مابنام به د الله ﷻ په تسبیح کښې تیریږی.(۲)حضورﷺ فرمائی شهیدان خلق به هغه وخت د جنت د یونهر په غاړه د جنت دروازوسره د سور رنګ په ګنبدونوکښې وی هغوی ته سحر مابنام رزق رسولې شی.(۳)

سحرمابنام د دنیاپه اعتباردی هلته شپه نشته بلکه هروخت به نوروی. پردې رااچولوسره اودروازې بندیدلوسره به جنتیان مابنام اودغه شان د پردواوچتیدوسره او دروازو کولاویدوسره به د سحر وخت پیژنی. ددې دروازو کولاویدل او بندیدل به هم د جنتیانوپه اشارو او حکمونوسره کیږی. دا دروازې هم داسې صفاسترا اودشیشو په شان دی چه د بهر څیزونه دننه ښکاری. په دنیاکښې د شپې ورځې عادت وو نود دې د پاره چه کوم یووخت کله غواړی موجود به وی. عرب سحر مابنام خوراك کولوعادت وو په دې وجه دجنتی خوراك وخت هم هغه اوخودلې شو ګنی جنتیان چه څه غواړی اوکله ئی غواړی موجود به وی. په یوغریب منکر حدیث کښې دی چه د سحر مابنام څه خبره ده رزق خو بې شمیره اوهروخت موجود دې. د الله ﷻ دوستانوله به په دې وخت کښې حورې راځی په کوموکښې چه به د ښکته درجې والا هغه وی چه صرف د زعفران نه پیداکړې شوی دی. دا د نعمتونو والا جنتونه به هغوی ته ملاویږی چه په ظاهراو باطن کښې د الله ﷻ تابعدارو غصه څکونکې او خلق معاف کونکی

(۱) ۵۶/الواقعه:۲۵-۲۶.
(۲) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب ماجاء فی صفة الجنة وانها مخلوقة:۳۲۴۵، صحیح مسلم۲۸۳۴،ترمذی:۲۵۳۷، احمد:۳۱۶/۲،
(۳) احمد:۲۶۶/۱وسنده حسن، طبرانی:۱۰۸۲۵، ابن حبان۴۶۵۸،حاکم:۱۷۴/۲ وصححه ووافقه الذهبی، مجمع الزوائد:۲۹۸/۵.

Scanned with Ca

وو د چا صفتونه چه ﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴾([1]) په شروع کښې بيان شوی دی اوفرمائيلي شوی دی چه هم دا د فردوس برين وارثان دی د چا پاره چه د هميشه په توګه الله ﷻ جنت الفردوس ليکلي دي. (اې الله مونږ ته هم ته د خپل رحمت کامله نه فردوس برين ته اورسوې. آمين)

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمۡرِ رَبِّكَ ۖ لَهُۥ مَا
| او نه نازليږو مونږه | مګر په حکم | درب ستا | هغه لره دی | هر هغه څه
| او (جبرئيل اووئيل) مونږد خپل رب د حکم نه بغير نه نازليږوا چې زمونږ په وړاندې

بَيۡنَ أَيۡدِينَا وَمَا خَلۡفَنَا وَمَا بَيۡنَ ذَٰلِكَ ۚ
څه زمونږ په وړاند دی | او هغه څه | چې روستو زمونږ نه دی|اوهغه څه | چې په منځ ددې کښې دی
څې دی اوڅه چې زمونږ نه شاته دی اوڅه چې د دې په مينځ کښې دی هغه ټول د هغه ملکيت دی

وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ۝٦٤ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
او نه دې | رب ستا | هيرونکې | رب داسمانونو دې | او دزمکې دې |
اوستارب (هيڅ) خبره هيرونکې نه دې | هغه د اسمانونو او د زمکې او څه چې د دې دواړو په مينځ

وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦ ۚ
او دهغې چې په منځ ددې دواړو کښې دی | نو بندګی کوه دهغه | او صبر کوه | په عبادت دهغه |
کښې دی د ټولو څيزونو رب دې | نود هغه عبادت کوه | اوهم د هغه په عبادت ټينګ ولاړ اوسيږه

هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا ۝٦٥ وَيَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ
ايا ته پوهيږې | چې هغه لره شته | شريك په نوم | او وائي | انسان | ايا هر کله چې | مړ شم زهٔ
ايا تاته د هغه (الله سره په خدايې کښې) څوک همنام معلوم دې؟! اوانسان وائي چې ايا هرکله زه مړشم

لَسَوۡفَ أُخۡرَجُ حَيًّا ۝٦٦
نو راوبه ويستلې شم زهٔ | ژوندې |
نولابيا به هم ژوندې (دقبرنه) راويستې شم |

قوله تعالى:- وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمۡرِ رَبِّكَ ۖ

**فرښتې د الله ﷻ د حکم نه بغير نه نازليږي:** صحيح بخاری کښې دی حضرت رسول مقبول ﷺ يوځل حضرت جبرائيل ؑ ته اوفرمائيل ته چه څومره راځې د هغې نه زيات ولې نه راځې؟ د دې په جواب کښې دا آيت نازل شو([2]) دا هم روايت دې چه يوځل دحضرت جبرائيل ؑ په راتلو کښې ډيرتاخير اوشو په څه سره چه حضور ﷺ ډير خفه وو. بيا هغوی دا آيت راوړو نازل شو([3]) روايت دې چه دولس ورځې يا د دې نه څه کم نه وو راغلې نو حضور ﷺ اووئيل چه دا دومره تاخير ولې اوشو؟ مشرکانو خو څه نورې خبرې کولې په دې باندې دا آيت نازل شو([4]) نولکه دا آيت **(والضحی)** د آيت په شان دې.

---

[1]) ۲۳/المؤمنون:۱.
[2]) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة مريم باب قوله ﴿ومانتنزل الابامرربك له مابين......﴾۴۷۳۱، ترمذی:۳۱۵۸.
[3]) الطبری:۲۲۲/۱۸.
[4]) الطبری:۲۲۳/۱۸.

Scanned with Ca

واني چه څلویښت ورځې ملاقات نه ووشوې کله چه ملاقات اوشو نو حضورﷺ اوفرمائیل زما شوق خو ډیر زیات بې آرام کړې ووم. حضرت جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل چه د دې نه ډیر شوق زما ستاسو د ملاقات وو خوزه دالله ﷻ د حکم مامور اوپابندیم کله چه دهغه ځائ نه رالیګلې شم نو هله راتلې شم ګنی نه شم راتلې. هم هغه وخت دا وحی نازل شوه. خودا روایت غریب دې. ابن ابی حاتم کښې دی حضرت جبرائیل علیه السلام په راتلوکښې وخت اولګولو بیا چه کله راغلو نوحضورﷺ د بندیدو د وجه تپوس اوکړو هغوی جواب ورکړوچه کله خلق دګوتو نوکونه وانخلی ګوتې اوبندونه صفااونه ساتی بریتونه کم نه کړی مسواك اونه کړی نومونږ څنګه راتلې شو؟ بیا هغوی دا آیت تلاوت کړو.

مسنداحمد کښې دی یوه ورځ حضورﷺ حضرت ام سلمه k ته اوفرمائیل مجلس درست او ټیك ټاك کړنی نن هغه فرښته راروانه ده چه د نن نه وړاندې په زمکه نه ده راغلې.([1])زمونږ وړاندې روستو ټول څیزونه دهغه الله ﷻ دی یعنی دنیاآخرت اود دې په مینځ کښې یعنی د دواړو شپیلو په مینځ کښې چه کوم څیزونه دی هغه هم د هغه تملیك دی.راتلونکی امورد آخرت اوتیرشوی امور د دنیا اود دنیا او آخرت امورپه مینځ کښې ټول هم دهغه په قبضه کښې دی([2]) ستارب هیرونکې نه دې هغه ته د خپل یادنه هیرکړې نه ئی اونه د هغه داصفت دی. لکه چه ارشاد دې﴿وَالضُّحٰى ۝ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى﴾([3])قسم دې دچاشت د وخت اود شپې چه کله پټ کړی نه خوستارب تانه لاس اخستې دې نه خفه دی.

ابن ابی حاتم کښې حضورﷺ فرمائی کوم څه چه الله ﷻ په خپل کتاب کښې حلال کړی دی هغه حلال دی اوچه کوم ئی حرام کړی دی هغه حرام دی اود کومونه چه خاموش شوې دې هغه عافیت دې. ته د الله ﷻ عافیت قبلوه الله ﷻ د یوڅیز هیرونکې نه دې.بیا هغوی هم دا جمله تلاوت کړه.([4]) د آسمان زمکې اوټول مخلوق خالق مالك مدبر متصرف هم هغه ذات دې.هیڅ څوك نشته چه د هغه یوحکم روستوکړې شی ته هم د هغه عبادت کوه او په هغې کلك اوسیږه.دهغه په شان د هغه برابر اود هغه په نوم باندې هیڅ څوك نشته.هغه د برکت خاوند دې هغه اوچت دې دهغه په نوم کښې ټولې خوبیانې دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَوَلَا يَذْكُرُ | الْاِنْسَانُ | اَنَّا | خَلَقْنٰهُ | |
| ایا نه یادوی | انسان | چی بیشکه مونږ | پیدا کړي دي هغه | |
| ایاانسان دا نه یادوی چی د دې نه وړاندې په هغه وخت کښې | | | | |
| مِنْ قَبْلُ | وَلَمْ يَكُ | شَيْـًٔا ۝ | فَوَرَبِّكَ | لَنَحْشُرَنَّهُمْ |
| مخکښې ددې نه | اونه وو هغه | هیڅ څیز | نوقسم دې په رب ستا | چی ضرور به مونږ ه راجمع کړو دوئ |
| مونږ دې پیدا کړو چې لاهیڅ څیز هم نه وو ..... نو ستا په رب قسم مې دې چې مونږ به دوئ | | | | |
| وَالشَّيٰطِيْنَ | ثُمَّ | لَنُحْضِرَنَّهُمْ | حَوْلَ جَهَنَّمَ | جِثِيًّا ۝ |
| او شیطانان | بیا | به خامخا حاضر کړو دوئ | چاپیره ددوزخ نه | په زنګنانو پراته پړمخي |
| اوشیطانان خامخا راجمع کوو بیا به دوی د دوزخ نه ګیرچاپیره حاضروو چې په ګوډوبه(غورزیدلی) پراته وی | | | | |

[1]) احمد:۶/۲۹۶.
[2]) الطبری:۱۸/۲۲۴.
[3]) ۹۳/الضحی:۱-۳.
[4]) البزار:۱۲۳ مجمع الزوائد:۷/۵۵،حاکم:۲/۳۷۵.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ثُمَّ | لَنَنۡزِعَنَّ | مِنۡ كُلِّ شِيۡعَةٍ | اَيُّهُمۡ | | اَشَدُّ |
| بيا | په اوباسو مونږه | دهرې ډلې نه | هر هغه سړې ددوئ | | چې هغه زيات سخت وي |

بيا به د هرې يوې ډلې نه هغه کسان بيل کړو چې د رحمان نه په سرکشئ کولو کښې د ټولو نه وړاندې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عَلَى الرَّحۡمٰنِ | عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ | ثُمَّ | لَنَحۡنُ | اَعۡلَمُ | بِالَّذِيۡنَ | هُمۡ |
| په مقابله د رحمن کښې | په لحاظ دسرکشئ سره | بيا | مونږه | ښه پيژنو | هغه کسان | چې هغوئ |

وو | ...............بيا مونږ هغه څوک ښه پيژنو چې دې دوزخ ته د داخليدو زيات قابل دي

| | | |
|---|---|---|
| اَوۡلٰى | بِهَا | صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ |
| ښه مستحق دي | ددغه دوزخ | په لحاظ دغورزولو |

**قوله تعالى:-فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَالشَّيٰطِيۡنَ**

**په الله ﷻ قسم چه محشربه کيږي:**-بعضې د قيامت منکران د قيامت راتلل په خپل نيز محال ګڼړي او د مرګ نه پس ژوندی کيدل د هغه په خيال کښې ناممکن وواود قيامت اود هغه ورځې دويم اود نوی سر نه دژوندون حال اوريدوسره په ئې سخت تعجب کولولکه چه دقرآن پاك ارشاددې﴿وَاِنۡ تَعۡجَبۡ فَعَجَبٌ قَوۡلُهُمۡ ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِىۡ خَلۡقٍ جَدِيۡدٍ ۬ؕ اُولٰٓـئِكَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِرَبِّهِمۡ‌ۚ وَاُولٰٓـئِكَ الۡاَغۡلٰلُ فِىۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ‌ۚ وَاُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ‌ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ﴾ ([1])يعنی که چرته ستا حيرانتيا وی نودهغوی داحال هم دحيرانتيانه خالی نه دې آياچه کله مونږ مړه شواوخاورې شونوبيابه مونږ په نوی پيداکيدو سره راپيداکولې شو؟ په سورت يس کښې فرمائيلی دی چه انسان دانه ګوری چه مونږ هغه دنطفه نه پيداکړوبياهغه مونږسره صفاصفاجګړه اوکړه او هم په مونږ پسې خبرې جوړې کړې او خپل پيداکيدل ئې هيرکړه ونې وئيل چه داهډوکی ګوم چه سخاشوی وی څوک به ئې راژوندی کړې؟نوجواب ورکړه هغه خالق حقيقی به پيداکوی چاچه په اول ځل پيدا کړی وو هغه د هريو د هرقسم پيداکيدونه خبردې.([2]) دلته هم د دغه کافرانود دې اعتراض ذکر دې چه مونږ مړه شوبيابه راژوندی شو نو څنګه به اودريدې شو؟ په جواب کښې فرمائيلې شی چه آيا دوی ته دا هم معلوم نه دی چه هغوی هيڅ هم نه وواو مونږ راپيداکړل. د شروع د پيدائش قائل او د دويم ځل پيدائش منکرچه کله هيڅ هم نه وو نو په هغه وخت کښې الله ﷻ دې دځه کولوباندې قادروواومونږ هغه راپيدا کړو نواوس چه څه ناڅه شو نوآيا الله ﷻ قادر نه دې چه هغوی بيارا پيداکړی؟ نود اول ځل پيداکول دليل دی په دويم ځل پيداکولوباندې. چا چه شروع کړې ده هم هغه به ئې دوباره کوی او دوباره کول په نسبت د شروع کولو هميشه آسان وی.

**يو حديث قدسي:**-په صحيح حديث کښې دی چه الله ﷻ فرمائی ما بنيادم دروغ ګڼړی اود هغه د پاره دا لائق نه وو. ماته بنيادم تکليف راکوی اوهغه له داهم لائق نه دی. د هغه زما دروغژن ګڼړل دا دی چه وائی لکه څنګه چه الله ﷻ زما د شروع اعاده نه کوی حالاتکه ښکاره خبره ده شروع په نسبت د دوباره کولو ګرانه وی اود هغه ماته تکليف راکول دا دې زما اولاد ګڼړی سره د دې چه زه احد يم صمديم نه زما مورپلارنه اولاداونه زما د جنس نه بل څوك.([3])زما دې په خپل ځان قسم وی چه زه به دا ټول راجمع کړم اودکوموکوموشيطانانوچه دوی زمانه بغيرعبادت کولوهغوی به هم راجمع کړم بيابه دوی دوزخ ته

---

[1]) ۱۳/الرعد:۵.

[2]) ۳۶/يس:۷۷-۷۹.

[3]) صحيح بخاری کتاب التفسيرسورة ﴿قل هوالله احد﴾:٤٩٧٤، احمد:۳۹۳/۲، ابن حبان:۲۵۷.

Scanned with Ca

مخامخ راوړم کوم ځایٔ چه به په زنګونونو باندې راپریوځی لکه چه ارشاددې ﴿ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۫ كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰٓى اِلٰى كِتٰبِهَا ۭ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾[1] هریوامت به ته وینې چه د زنګونونو په مخ به پراته وی.[2]
یوقول داهم دې چه د قیام په حالت کښې به د دوی حشر وی کله چه ټول اول او آخر راجمع کړې شي نو مونږ به په دوی کښې لویٔ لویٔ مجرمان اوسرکشه جداکړو د هغوی سرداران اوامیران ګناهونه او بدنی خورونکی د هغوی مشران اوهغوی ته د کفر اوشرك تعليم ورکونکی هغوی د الله ﷻ ګناهونوطرف ته مائل کونکی به جدا کړې شی لکه چه ارشاد دې ﴿حَتّٰٓى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ اُخْرٰىهُمْ لِاُوْلٰىهُمْ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ڛ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ ﴾[3] کله چه هلته ټول راجمع شی نو روستونی به د وړاندینو باره کښې وائی اې الله هم دې خلقو مونږ دهوکه کړې وو ته دوی له دوچند عذاب ورکړه بیا په خبرباندې دخبرعطف اچولوسره فرمائی چه الله ﷻ ته ښه معلومه ده چه د ټولونه زيات د عذابونو اود دوزخ د اُوردسزا حقدار څوك څوك دی. لکه چه بل آيت کښې ارشاد دې ﴿لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ﴾[4]
د هریود پاره ډبل عذاب دې تاسو دعلم نه خالی ئی.

<table>
<tr><td>وَاِنْ مِّنْكُمْ   اِلَّا وَارِدُهَا ۚ   كَانَ   عَلٰى رَبِّكَ   حَتْمًا</td></tr>
<tr><td>او نشته هیڅوك په تاسو کښې | مګر تیریدونکې دې په دوزخ | دې(داکار) | په رب ستا باندې | یقینی</td></tr>
<tr><td>اوپه تاسو کښې به هریو کس په هغې (دوزخ باندې د پل صراط په ذريعه) تیریدونکی وی | داستاسو په</td></tr>
<tr><td>مَّقْضِيًّا ۚ   ثُمَّ نُنَجِّي   الَّذِيْنَ   اتَّقَوْا   وَّنَذَرُ</td></tr>
<tr><td>فیصله شوې | بیا به بچ کړو مونږه | هغه خلق | چې متقیان وؤ | او پرې به ږدو |</td></tr>
<tr><td>رب باندې یقینی فیصله شوې خبره ده چې خامخا به پوره کیږی | بیا به مونږ هغه کسان بچ کړو چې</td></tr>
<tr><td>الظّٰلِمِيْنَ   فِيْهَا   جِثِيًّا</td></tr>
<tr><td>ظالمان خلق | په هغې کښې (پرمخې)غورزیدلی|</td></tr>
<tr><td>پرهیزګاران دی | اوظالمان به په کښې دننه په ګوډو غورزیدلی پریږدو |</td></tr>
</table>

**قوله تعالى:- وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ**

**هريوبه په دوزخ باندې تيريږی:-** دمسندامام احمدبن حنبل رحمه الله په يوغريب حديث کښې دې ابو سميه فرمائی د کوم ورود چه په دې آيت کښې ذکر دې ددې باره کښې په مونږ کښې اختلاف اوشو چا به وئيل مؤمن به په دې کښې نه داخليږی چا به وئيل داخليږی خو به ولې د خپلې تقوی په سبب به خلاصې بیاموسی.ما حضرت جابر رضي الله عنه سره ملاقات اوکړو اوداخبره مې معلومه کړه نو هغوی اوفرمائيل چه واريديږی خو به ټول.يوبل روايت کښې دی چه داخليږی خويه ټول هريونيك هم او بدهم خو په مؤمنانوباندې به هغه اُور يخ او د سلامتياوالا جوړيږی. لکه چه په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې وو تردې چه د دې اُور د يخوالي شکايت به پخپله اُور کوی بیا به ددې پرهيزګارانو خلقوخلاصې دهغه ځایٔ نه اوشی.[5] خالدبن معدان رحمه الله فرمائی چه کله جنتيان جنت ته اورسی وائی به چه الله ﷻ خو فرمانيلې

[1] ۴۵/الجاثية:۲۸.
[2] الطبری:۱۸/۲۲۷.
[3] ۷/الاعراف:۳۸.
[4] ۷/الاعراف:۳۸.
[5] احمد:۲/۳۲۸-۳۲۹ وهوحسن بالشاهد، حاکم:۴/۵۸۷،ح ۸۷۴۴وسنده حسن،مجمع الزوائد:۷/۵۵، شعب الايمان :۱/۳۳۶،.

Scanned with Ca

وو چه هريوبه دوزخ ته مخامخ کيږي اومونږ خو ورمخامخ نه شو نودوی ته به فرمائيلې شی چه تاسو خو هم د هغه ځائ نه راتيرشوئې خو الله ﷻ هغه وخت اُور يخ کړو.

حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ يوځل د خپلې بی بی په زنګون باندې سر ايخودې ملاست وو چه په ژړا شو دهغوی بی بی هم په ژړا شوه نو هغوی ددې نه تپوس اوکړو چه تاولې اوژړل؟ هغې جواب ورکړوچه ته مې په ژړا باندې اوليدې. هغوی جواب ورکړو چه ماته خو آيت ﴿وَإِنْ مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾[1] رايادشو او ژړا راغله ماته څه پته ده چه زه به خلاصې بيامومم که نه. هغه وخت دوی بيمار وو.حضرت ابوميسره ﷺ چه به کله خپلې بسترې له د اوده کيدو د پاره تلونو ژړل به ئی اود ژبې نه به ئی ناخاپې وتل چه افسوس زه پيداشوې نه ووم.

يوځل دهغوی نه تپوس اوشو آخرستاد دې ژړا فرياد څه وجه ده؟ نووئی فرمائيل چه دا آيت دې. داخو ثابته ده چه هلته خو به تلل وی اودانه دی معلوم چه خلاصی به وی اوکه نه؟ يوبزرګ سړی خپل رور ته اوفرمائيل تاته خودا پته ده چه مونږ به په دوزخ باندې تيرولې شو هغه جواب ورکړو او يقيناً معلومه ده.بيائی تپوس اوکړوچه داهم درته معلومه ده چه په هغه ځائ به تيرهم شې؟هغه اوفرمائيل ددې خوراته هيڅ علم نشته. نوبرزګ اووئيل بيازمونږ د خنداخوشحالی د کومې؟ دې اوريدوسره د هغه وخت نه واخله ترمرګه پورې د هغه په شونډو خندا رانغله. نافع بن ازرق دحضرت ابن عباس ﷺ په دې باره کښې مخالف وو چه دلته د ورود نه مراد داخليدل دی نوهغه په دليل کښې د قرآن آيت ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ﴾[2] پيش کولوسره اوفرمائيل ګوره دلته دورودنه مراد داخليدل دی که نه دی؟ دويم آيت ئی اوفرمائيلو ﴿يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ﴾[3] اووئی فرمائيل اوښايه فرعون به خپل قوم دوزخ ته بوځی که نه؟ نواوس غوراوکړئی چه مونږ خو به په دې کښې داخليږو خامخا نوراوځوبه هم که نه؟ غالباً تاخوبه الله ﷻ نه راوباسی د دې د پاره چه ته د دې نه منکرئې.دې اوريدو سره نافع روان شو او وئی خندل. دا نافع خارجی وو د ده کنيت ابوراشدوو. بل روايت کښې دی ابن عباس ﷺ هغه پوهه کولو دپاره آيت﴿وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا﴾[4]هم لوستلې وو اودائی هم فرمائيلې وو چه اول د بزرګانو خلقو يوه دعاداهم وه ﴿اللهم اخرجني من النار سالما وادخلني الجنة غانما﴾ اې الله مادجهنم نه صحيح سالم راوباسې اوجنت ته مې په خندا خوشحالئی اورسوه. دحضرت ابن عباس ﷺ نه په ابوداؤد طيالسی کښې داهم روايت دې چه ددې مخاطب کفار دی.عکرمه رحمه الله فرمائی دا ظالمان خلق دی دغه شان به مونږ دا آيت لوستلو.داهم د حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه نيك او بدبه ټول ورمخامخ کيږی. ګورئی د فرعون اود هغه د قوم د پاره او نورو ګناهګارانو د پاره هم د ورود لفظ د دخول په معنی کښې پخپله په قرآن کريم دوو آياتونوکښې وارد دې. ترمذی وغيره کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی واردکيږی خو به ټول بيابه تيريدل د خپلو خپلو عملونو مطابق وی.[5]

**د پل صراط ذکر او په هغې تيريدل:-** حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه په پل صراط باندې به ټول تيريږی هم دغه اُور سره به اوديدل وی نو بعضې به دبجلئی په شان تيريږی بعضې د هوا په شان بعضې د مرغو په شان بعضې دتيزو اسونوپه شان بعضې د تيزواوښان په شان بعضې د تيزو تلونکی پيدل انسان په شان اوتردې چه د ټولونه آخری مسلمان په دې باندې تيريږی دابه هغه وی د چا چه صرف د

[1] ۱۹/مريم:۷۱.

[2] ۲۱/الانبياء:۹۸.

[3] ۱۱/هود:۹۸.

[4] ۱۹/مريم:۸۶.

[5] ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة مريم:۳۱۵۹، وسنده حسن، احمد۱/۴۳۵، دارمی:۲/۳۲۹، حاکم:۲/۳۷۵.

Scanned with Ca

ښنو په ګوتوباندې نور وی پرېوتونکې راپرېوتونکې به خلاصې بیاموم‌ي.پل صراط خوئيدونکې دې په کوم چه د کیکر په شان یاد مال کونډې په شان ازغی دی دواړو طرفو ته به د فرښتو صفونه وی د چا په لاسونوکښې چه به د دوزخ ځوکیدار ستك(کرخ) وی په کومو سره چه به په نیولونیولو سره خلق دوزخ ته دیکه کوی الخ. حضرت عبدالله ﷺ فرمائی دا د تورې د مخ نه تیره دې. اولنئ ډله خو به د بجلی د پرق په شان تیرشی دویمه ډله به د هوا په شان تیره شی دریمه د تیز اس په شان څلورمه د تیز ځناور په شان. فرښتې به دهرطرف نه دعا کوی یا الله سلامت ئې اوساته بچ ئې کړه.([1])

**دجهنم د هولناکئ بیان:**-دبخاری اومسلم په ډیرومرفوع احادیثوکښې هم دا مضمون واردشوې دې. د حضرت کعب ﷺ بیان دې چه دوزخ به ټول خلق په خپله شا راباركړی کله چه نیك او بدراجمع شی نود الله ﷻ حکم به کیږی چه ستاخپل خو راونیسه اوجنتیان پرېږده. اوس به دوزخ دټولوبدو خلقو یوه نواله جوړه کړی. هغه بدان خلق داسې پیژنی لکه تاسو چه خپل اولاد پیژنئ بلکه دې نه هم زیات. مؤمنان به صفابچ شی.واورئ ددوزخ د داروغه ګانو قدونه دسلوکالود لارې په فاصله دی‌دوی کښې هريوسره ګرز دې یوراخلاص کړی نو اووه لاکهه خلق ذره ذره کړی. مسند کښې دی حضور ﷺ فرمائیلی زما د خپل رب چه پاك ذات دې نه دا امیددې چه د بدراوحدیبیه په جنګ کښې کوم ایماندارشريك وو هغوی کښې به یوهم دوزخ ته نه ځی.دې اوریدوسره حضرت حفصه k وئیل داځنګه؟قرآن خو فرمائی چه په تاسو کښې به یو دوزخ ته مخامخ کیدونکې دی نوحضور ﷺ د دې نه پس دویم آیت اولوستلو چه متقیان خلق به دې نه خلاصې بیاموم‌ی اوظالمان خلق به هم دې کښې پاتې شی.([2]) بخاری اومسلم کښې دی دچاچه درې بچی مړه شوی وی هغه سره به اُور نه لګی مګرصرف دقسم پوره کیدو په توګه. ([3]) دې نه مراد هم دا آیت دې. ابن جريركښې دی چه یوصحابی ﷺ تبې نیولې وود هغه د تپوس د پاره رسول الله ﷺ زمونږ سره راغلو حضور ﷺ اوفرمائیل چه رب العزت فرمان دې چه دا تبه هم یواُور دې زه خپل مؤمنان بندیګان په دې کښې ځکه راګیروم چه داد دوزخ د اُور بدله شی.([4]) داحدیث غریب دې.
حضرت مجاهد ﷫ هم دې فرمائیلو سره د دې آیت تلاوت اوکړو. مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړې چه سورت اخلاص لس ځل اولولی د هغه د پاره په جنت کښې یومحل جوړولې شی. حضرت عمر ﷺ اوفرمائیل چه بیاخو به مونږ ډیرزیات محلونه تیارکړو. حضور ﷺ جواب ورکړو چه الله ﷻ سره هیڅ کمې نشته هغه د بهتر نه بهتر او د ډیر نه ډیر ورکونکې دې. او کوم سړې چه د الله ﷻ په لارکښې زر آیاتونه اولولی الله ﷻ به دقیامت په روځ هغه د انبیاؤکرامو علیهم السلام، صدیقینو شهیدانو صالحانوکښې اولیکی په حقیقت کښې د هغوی ملګرتیا دبهترین ملګرو ملګرتیاده اوچه کوم سړې دځه تنخواه په وجه نه بلکه د الله ﷻ د خوشحالئ دپاره دمسلمان لښکردهغوی د شانه حفاظت کولود پاره ځوکئ کوی هغه به په خپلو سترګو باندې هم د دوزخ اُور نه وینی مګرصرف د قسم پوره کولود پاره ځکه چه د الله ﷻ فرمان دې په تاسو کښې به هريوپه دې باندې تیریدونکې دې. د الله ﷻ په لارکښې دهغه ذکر کول دخرچ کولونه هم اووه سوه چنده زیاته درجه لری او په یو روایت کښې اووه زره دی.([5])ابوداؤد کښې دی چه مونځ روژه اوداالله ﷻ ذکر دالله ﷻ په لارکښې په خرچ کولو

---

[1]) الطبری:۲۳۲/۱۸.
[2]) احمد:۲۸۵/۶، ابن حبان: ۴۸۰۰،ابن ماجه:۴۲۸۱،وهوحدیث صحیح، له شاهد فی صحیح مسلم :۲۴۹۶.
[3]) صحیح بخاری کتاب الجنائزباب فضل من مات له ولد فاحتسب:۱۲۵۱،صحیح مسلم:۲۶۳۲، ترمذی: ۱۰۶۰، احمد:۲۳۹/۲، ابن حبان:۲۹۴۲.
[4]) الطبری:۲۳۳/۱۸.
[5]) احمد:۴۳۷/۳-۴۳۸.

باندې اووه سوه درجې لرې.([1])
قتاده فرمائی چه دې آیت نه مراد تیریدل دی. عبدالرحمن رحمه الله وائی مسلمانان خو به په پل صراط باندې تیرشی اومشرکان به دوزخ ته ځی.حضور ﷺ فرمائی په هغه ورځ به ډیر ښځې اوسړی په هغې باندې اوخوئیږی.ددې په دواړو غاړوبه د فرښتوصفونه تړلی وی چه د الله ﷻ نه به د سلامتیا دعاګانې کوی.([2]) داد الله ﷻ قسم دې چه پوره کیږی به. د دې فیصله شوې ده او الله ﷻ دا په ځان لازم کړې دی.([3])په پل صراط باندې د تلونه پس پرهیزګاران خو به تیرشی او کافران ګناهګاران به د خپلې خپلې ګناه خطامطابق دوزخ ته پریوځی. مؤمنان به هم د خپل خپل عمل مطابق خلاصې بیامومی څنګه چه عمل وی هم دومره وخت به هلته لګی. بیادا خلاصې بیاموندونکی به د خپل رونړومسلمانانو سفارش کوی ملائکې به هم شفاعت کوی اوانبیاء کرام هم. بیابه ډیرزیات خلق د دوزخ نه په داسې حالت کښې راوځی چه اُور به هغوی خوړلې وی خود مخ د سجدې ځایونه به ئې بچ وی. بیابه د خپل خپل باقی ایمان په حساب سره د دوزخ نه راویستلې شی. د چا په زړه کښې چه د دینار برابر ایمان وی هغوی به اول راوځی بیا دې نه د کم اوبیا دې نه د کم تردې چه د اُوری د دانې هومره ایمان والا هم. بیا دې نه د کم او بیا هغې نه د کم هم بیاهغه چه په ټول عمر کښې یوځل لااله الا الله وئیلی وی اوهیڅ نیکی ئې هم نه وی کړې. بیا خو به په دوزخ کښې هم هغوی پاتې شی په کومو چه همیشه والې اودوام لیکلې شوې دې. دا ټوله خلاصه ده د هغه حدیثونو کوم چه په صحت سره راغلی دی نو په پل صراط باندې د تلونه پس به نیك خلق تیرشی ګناهګاران خلق به په پرې کیدو سره دوزخ ته پریوځی.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ

اوکله چې الوستلې کیږی|په دې خلقو باندې|ایتونه زمونږ|چې واضحه اوښکاره دی
| اوهرکله چې دوئ ته زمونږ ښکاره آیاتونه واورولی شی (نود هغې په اوریدو دایمان

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ

نو وائی | هغه کسان | چې انکار ئې کړې دې | هغه کسانوته | چې ایمان ئې راوړې دې| کومه یوه
راړو په ځائې ) کافران مومنانوته وائی | ..............................چې په(مونږ) د دواړو

الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ۝

ددې دواړو ډلونه | بهتره ده | په لحاظ دمقام سره | او زیات شاندار دی | په لحاظ دمجلس
ډلو (د کافرانو او مسلمانانو) کښې د چا ځائې بهتر دې | اود چا مجلس ډیر ښائسته دې

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا

اوڅومره|هلاك کړی دی مونږ|مخکښې ددوئ نه|دقومونونه|چې هغوئ|زیات ښه وو|په لحاظ دسامانونو
| ود دوئ نه وړاندې مونږ څومره ډیر امتونه هلاک کړی وو| چې (ددوئ نه) په سازوسامان اوظاهری شکل

وَرِئْيًا ۝

او په لحاظ دظاهری شان وشوکت س
صورت کښې ډیر ښه وو

---

[1] ابوداؤد کتاب الجهاد باب فی تضعیف الذکر فی سبیل الله عزوجل:۲٤۹۸
[2] الطبری:۱۸/۲۳۳.
[3] الطبری:۱۸/۲۳۷.

Scanned with Ca

**قوله تعالی:-** اَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ خَیْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِیًّا۞

**کافران به مومنانو پورې خنداګانې کوي:-** د الله ﷻ دصفااوواضحه آیاتونونه دپروردګاردلیل او برهان والا کلام نه کافرانوته هیڅ فائده اونه رسیده. هغوی د دې نه مخ اړوی سترګې ترې اړوی او په خپل ظاهری شان اوشوکت سره هغوی مرعوب کول غواړي. وائي چه اوښائي د چاکورونه پرتکلف دی اود چا بیټکونه ښائسته کړې شوی دی؟ آباد او ښکلی دی؟ مونږ چه مال اولاد دولت شان اوشوکت عزت او قدر کښې دهغوی نه زیات یومونږ الله ﷻ ته ګران یو؟یادا چه څوک پټ ګرځی راګرځی اوخوراك څښاك نه بیامومی کله د ارقم بن ابوارقم ﷺ په کورکښې پټیږي اوکله اخوادیخواتختی راتختی. لکه چه په بل آیت کښې دی کافرانو اووئیل ﴿خَیْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَیْهِ﴾([1]) که دا دین بهتروو نودا به اول مونږ منلوکه دوی؟د حضرت نوح ﷺ قوم هم دا وئیلي ووچه﴿ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ۞﴾([2])ستامنونکی خو ټول غریب محتاج خلق دی مونږ ستا تابعداران نه شو جوړیدې.

**د کافرانو دخندګانو جواب:-** یوبل آیت کښې دی چه داسې هغوی دهوکه کیږي اووائي چه آیا هم دغه د الله ﷻ خوښ بندیګان دی چاته چه الله ﷻ په مونږ باندې فضیلت ورکړې دې؟([3]) بیا د دوی د دې غلطئی جواب ورکړو د دوی نه اول د دوی نه هم په ظاهری شان اوشوکت کښې زیات او په مالدارئی کښې ډیر وړاندې خلق وو.خود هغوی دبدعملو په وجه مونږهغوی تهس نهس تباه اوبربادکړل. د هغوی مجلسونه د هغوی کورونه د هغوی مالدارئی د دوی نه زیاتې وې.([4]) په شان شوکت ظاهری لباس تکلفات کښې په امارت اوشرافت کښې ددوی نه څومره زیات وو د هغوی د کبر او دښمنئی په وجه سره مونږ هغوی تباه بربادکړل.فرعونیانو ته اوګوره د هغوی باغونه دهغوی نهرونه دهغوی فصلونه دهغوی اوچت مکانونه د هغوی عالیشان محلونه تراوسه پورې موجوددی اوهغوی غرق کړې شو اودکبانو خوراك جوړشول.دمقام نه مرادمسکن اونعمتونه دی.نَدِیّ نه مرادمجلسونه اوبیټکونه دی.عربوکښې بیټکونو ته اود خلق دراجمع کیدو ځائ ته نادی اوندی وائی([5])لکه آیت ﴿وَتَاْتُوْنَ فِیْ نَادِیْکُمُ الْمُنْکَرَ ۖ فَمَا کَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنْ کُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ۞﴾([6])کښې دی.همدا ددې مشرکانوقول ووچه مونږددنیا په اعتبار سره تاسونه ډیروړاندې یو.په لباس کښې مال اومتاع کښې شکل اوصورت کښې مونږتاسو نه غوره یو

| | | |
|---|---|---|
| قُلْ | مَنْ كَانَ | فِي الضَّلٰلَةِ |
| ورته اووایه | هغه څوك چې وی | په ګمراهئ کښې |
| (ائې محبوبه) ته ورته اووایه څوک چې په ګمراهئ کښې دی | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فَلْيَمْدُدْ | لَهُ | الرَّحْمٰنُ | مَدًّا | حَتّٰٓى | اِذَا | رَاَوْا |
| نو مهلت ورکوی | هغه ته | رحمان | په مهلت ورکولو سره | تردې پورې | کله چې | اووینی |
| نو رحمان (الله ﷻ)هغوئ ته پوره مهلت ورکوی ......... تردې چې کله هغه څیز ووینی دکوم څیز | | | | | | |

[1] ۴۶/الاحقاف:۱۱.
[2] ۲۶/الشعراء:۱۱۱.
[3] ۶/الانعام:۵۳.
[4] الطبری:۱۸/۲۳۹.
[5] الطبری:۱۸/۲۳۹.
[6] ۲۹/العنکبوت:۲۹.

Scanned with Ca

مَا يُوعَدُونَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ط

هغه خيز | چی وعده ئې شوې ده (دهغوئ سره) | يا كه عذاب وی | او يا كه | قيامت وی |

چې ورسره وعده شوې ده | يا (په دنيا كښې ) عذاب (پرې راشي) اويا قيامت (پرې راشي)

فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا

نو معلومه به شي هغوئ ته | چی څوك دې | هغه | چی ناكاره دې | په لحاظ دځائې سره |

نو بيا به ورته معلومه شی چې څوک د ځائې په اعتبار سره خراب دې | او د چا لښكر كمزورې دې

وَّاَضْعَفُ جُنْدًا۝ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ط

او ډير كمزورې دې | په لحاظ دلښكر سره | او زياتوی الله | هغه كسان | چی په نيغه لاره دی هدايت كښې

.................. ............او الله ﷻ هدايت يافته خلق په هدايت كښې نور هم زياتوی

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا

او باقی پاتی كيدونكی | نيكيانې | بهترې دی | په نيز درب ستا | په اعتبار دجزا سره |

اوهغه نيک عملونه چې باقی پاتې كيدونكې دی ستا د رب په نيز د ثواب

وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا۝

او بهترې دی | په اعتبار دواپس ورتلو سره

او دانجام په اعتبار سره بهتر دی |

**قوله تعالي:-** قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ

**گمراهي اوهدايت موندونكی خلق:-** داكافران چه خپل ځان پحق اوتاسوپه ناحقه گڼړی اوپخپله خوشحالئ اوازگارتياباندې په تسلئ سره ناست دی دوی ته اووايه چه د گمراهورسئی اوږده وی دوی ته د الله ﷻ د طرف نه وخت وركولې شی تركومې چه قيامت رانه شی يادهغوی مرگ رانه شی. هغه وخت به دوی ته پوره پته اولگی چه په حقيقت كښې خراب سړې څوك وو اود چا ملگرې كمزورې وو. دنياخو زياتيدونكی او كميدونكې سورې دې نه پخپله د دې اعتبار اونه د دې د سامان او اسبابو اعتبار. دوی خو به په خپله سركشئی كښې وراندې كيږی لكه چه په دې آيت كښې مشركانو سره مباهله ده. لكه يهوديانوسره چه په سورت جمعه كښې د مباهله آيت دې چه راشئی زمونږ مقابله د مرگ غوښتنه اوكړئی.([1]) دا شان په سورت آل عمران كښې د مباهله ذكر دې كله چه تاسو د خپل ځان خلاف دليلونه هم واورئی د عيسى عليه السلام د الله ﷻ د ځوئ كيدو دعوی گيرئی نوراشئی د بال بچ سره په ميدان كښې په دروغژن باندې د الله ﷻ لعنت وئيلو دعااوكړئی.([2]) نونه خو مشركان د مقابله د پاره راغله نه د يهوديانو حوصله پيداشوه اونه نصرانيان په ميدان كښې نران شو.

څنگه چه د گمراهانو گمراهی زياتيږی دغه شان د هدايت والا هدايت زياتيږی لكه چه ارشاد دې كله چه يوسورت نازليږی بعضې خلق وائی چه په تاسو كښې كوم يو دې په ايمان كښې زيات كړو؟([3]) د

---

[1] ) ۶۲/الجمعة:۶.

[2] ) ۳/آل عمران:۶۱.

[3] ) ۹/التوبة:۱۲۴. الخ

Scanned with Ca

باقيات صالحات پوره تفسير هم د دې الفاظو په تشريح کښې سورت الکهف کښې تيرشو. دلته فرماني چه هم دغه پاتې کيدونکې نيکئي د اجر او ثواب په لحاظ اود انجام او بدله په لحاظ سره د نيکانو د پاره بهتر دی

عبدالرزاق کښې دی يوه ورځ حضورﷺ د يوې وچې ونې لاندې تشريف کيخودې وو ناست وو د هغې ښاخ ئې اونيولو او وئې خوزولو وچې پاڼې راورژيدې نو حضورﷺ اوفرمائيل گورئې دغه شان د انسان گناه ﴿لااله الاالله والله اکبرسبحان الله والحمدلله﴾ وئيلوسره رژيږی اې ابوالدرداء ﷺ دا وايه د هغې نه وړاندې چه هغه وخت راشی چه ته دا اونه وئيلې شې هم دغه باقيات صالحات دی هم دغه د جنت خزانې دی. د دې اوريدو سره د ابوالدرداء ﷺ به دا حال وو چه دا حديث به ئې بيان فرمائيلو سره ئې اووئيل والله زه خو به هم دا کلمې وايم کله به هم د دې نه ژبه منع نه کړم که خلق ماته ليونې ولې اونه وائی.(۱) په ابن ماجه کښې هم داحديث په بل سند سره دی.

| |
|---|
| أَفَرَءَيْتَ الَّذِي كَفَرَ |
| \| ايا نو تا اوليدو \| هغه سړې \| چې انکار ئې کړې دې \| |
| \| ايا تاهغه سړې ليدلې دې چې زمونږ دحکمونو نه ئې انکار کړې دې |
| بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ۝ أَطَّلَعَ |
| د ايتونو زمونږ نه \| اووې وئيل \| خامخا به راکړې کيږی ماته \| مال او اولاد \| ايا خبر شوې دې دهٔ ته |
| او دا وائی چې ماته به (په اخرت کښې هم که چرته وی) مال او اولاد راکولې شی \| ايا ده ته دغيبو |
| الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ۝ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا |
| دغيبو \| يا ئې اخستی ده \| د رحمن نه \| وعده \| هرگز نهٔ \| ليکو به مونږه \| هغه څه |
| خبرې معلومې دی \| اوکه دهٔ د رحمان نه څه وعده اخيستې ده؟ \| هرگز داسې نه ده \| څه چې دې |
| يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ۝ |
| چې وائی ئې دې \| او زيات به کړو مونږ \| دپاره دهغه \| عذاب \| په زياتولو سره \| |
| وائی مونږ هغه (د فرشتو په ذريعه) ليکو \| او د دهٔ په عذاب کښې به عذاب زياتوالې کوو |
| وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ۝ |
| او مونږ به ميراث اخلو د دهٔ نه \| د هغه څه \| چې وائی ئې دې \| او راځئ به مونږ ته \| يوازې |
| اودې چې د کوم مال او اولاد ذکر کوی مونږ به هغه هم په ميراث کښې اوړوا اودې به مونږ ته يوازې راځی |

**قوله تعالى:- أَفَرَءَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِـَٔايَـٰتِنَا**

**د عاص بن وائل سرکشي:** حضرت خباب بن ارت ﷺ فرمائی زه لوهار ووم اوزما څه قرض په عاص بن وائل باندې وو زه د هغه نه د غوښتلو دپاره لاړم نوهغه وئيل چه زه خو به ستا قرض ترهغه وخته پورې نه اداکوم ترکومې چه ته د حضورﷺ د تابعدارئی نه اونه خې. ما وئيل چه زه خودا کفر ترهغه وخت پورې هم نه شم کولې چه ته مړ شې او بيا راژوندې شې. په دې باندې دې کافر وئيل چه ښه ده ته بس هم دلته اوسيږه چه زه مړشم او بيا راژوندې شم نوخامخابه ماته زما مال او اولاد ملاوشی نو هلته به

(۱) ابن ماجه کتاب الادب باب فضل التسبيح:۲/۲۴۸ مختصراً.

Scanned with Ca

ستا قرض هم اداکړم ته راشه. په دې باندې دا ايت نازل شو([1])بل روايت کښې دی چه ما په مکه کښې د هغه توره جوړه کړې وه دهغې پيسې پاتې وې([2]) فرمائی آيا ده ته د غيب خبرملاو شو؟ يا هغه د رب رحمن نه څه قول اوقرار واخستو؟ يوبل روايت کښې دی چه په ده باندې زما ډير دراهم د قرض په توګه ورختلې وو.هغه چه ماته کوم جواب راکړوهغه مارسول الله ﷺ ته اووئيل پدې باندې داآياتونه نازل شو. يوبل روايت کښې دی چه ډيرو مسلمانانو قرض د هغه په ذمه وو د هغې په غوښتلو باندې ده اووئيل ايا ستاسو په دين کښې دانه دی چه جنت کښې به سره زر سپين زر ريښم ګلونه اوميوې وغيره وی؟ مونږ وئيل چه اودی نوهغه وئيل چه داځيزونه به ماته خامخاملاويږی زه به ئی هلته تاسوتولوله درکړم. نودې آياتونوپورې ﴿فردا﴾ نازل شو﴿وَلَدًا۝کښې﴾ دويم قراءت د واوپه پيش سره هم دې. معنى د دواړو هم يوه ده اودا هم وئيلی شوی دی چه د زبر سره خودمفردپه معنى کښې ده اودپيش سره دجمع په معنى کښې ده.د قيس قبيلې هم دا لغت دې. والله اعلم.دې مغرور ته جواب ورکولې شی چه ولې ده ته د غيبوخبرداري شته؟ ده ته د خپل آخرت د انجام خبر شته؟ چه دادې قسمونه خوری وائی؟ياده دالله ﷻ نه څه قول اوقرار ياوعده اخستې ده؟ياهغه د الله ﷻ توحيدمنلې دې؟ چه دهغې په وجه هغه ته د جنت د داخليدويقين دې. آيت ﴿ اَمِ اتَّخَذَ عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا۝ ﴾([3]) کښې د الله ﷻ دوحدانيت د کلمه قائل کيدل مراد اخستې شوی دی بياد ده دکلام د تاکيد د پاره نفی کولې شی اود ده خلاف مؤکد بيانولې شی چه د ده د دې غرور دا کلمه هم زمونږ سره ليکلې شوې ده د ده کفر هم مونږ ته ښکاره دې او په آخرت کښې خو د ده د پاره هم عذاب اوعذاب دې چه هروخت به زياتيږی ده ته هلته مال اولاد ملاويدل خو لاڅه کوې؟ د دې په خلاف د دنيامال اومتاع اولاد او تير به هم د ده نه واخستې شی اويك يواخې به مونږ ته پيش کيږی.دابن مسعود﷛ په قراءت کښې ﴿ونرثه ماعنده﴾ دې.دده جمع شوې عمل زمونږ په قبضه کښې دې دې خوبه خالی لاس هرڅه پريخودې زمونږ مخې ته پيش کيږی.

| وَاتَّخَذُوۡا | مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ | اٰلِهَةً | لِّيَكُوۡنُوۡا | لَهُمۡ |
|---|---|---|---|---|

او نيولی دی دې خلقو | ماسوا دالله نه | نور خدايان | دپاره ددې چی شی هغوئ | دپاره ددوی |
اودوئ دالله ﷻ نه سوا خان دپاره نور معبودان جوړ کړی دی | چې د دوئ دپاره دعزت باعث وی

| عِزًّا۝ | كَلَّا | سَيَكۡفُرُوۡنَ | بِعِبَادَتِهِمۡ | وَيَكُوۡنُوۡنَ | عَلَيۡهِمۡ |
|---|---|---|---|---|---|

مددګاران |هرګز نهٔ |انکار به اوکړی هغوئ | دعبادت ددوئ نه |اوشی به(دغه معبودان ) |ددوئ
هيڅکله نه دوئ به ډير زر ددوئ دعبادت نه انکار اوکړی | اوددوئ مخالفين (دوشمنان ) به شی

| ضِدًّا۝ | اَلَمۡ تَرَ | اَنَّاۤ | اَرۡسَلۡنَا الشَّيٰطِيۡنَ | عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ |
|---|---|---|---|---|

دشمنان(مخالفان) | ايا نهٔ ګورې تهٔ | چی بيشکه | اليږلی دی مونږه | شيطانان | کافرانوته
......ائې محبوبه) آياته نه ګورې چې مونږ شيطانان په کافرانو باندې وراپريښی (مسلط کړی) دی

| تَؤُزُّهُمۡ | اَزًّا۝ | فَلَا تَعۡجَلۡ | عَلَيۡهِمۡ | اِنَّمَا | نَعُدُّ |
|---|---|---|---|---|---|

چی تيزوی هغوئ لره | په تيزولو سره |نو تلوارمهٔ کوه تهٔ |په دوئ باند |بيشکه|شمارو مونږه(ورځې)
(چې هغوئ (کفراوګناه ته) ښه تيزوی |نو ته په دوئ د عذاب راتلو تلوارمه کوه | مونږ پخپله ددوئ

[1] صحيح بخاری کتاب التفسير سورة کهيعص باب ﴿اطلع الغيب ام اتخذ عندالرحمن عهدا﴾:٤٧٣٣، صحيح مسلم:٢٧٩٥، ترمذی:٣١٦٢
[2] صحيح بخاری:حواله سابق.
[3] ١٩/مريم:٧٨.

Scanned with Ca

| | |
|---|---|
| لَهُمْ | عَدًّا ۝ |
| دپاره ددوی | په شمارولو سره |
| کارونه شمیرو | |

قوله‌تعالی:- كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ

**د قیامت په ورځ باطل معبودان به د عبادت کونکو نه د بې تعلقۍ څرګنده کوی:-** -دکافرانو خیال دې چه د هغوی دالله ﷻ نه علاوه کوم معبودان دی د هغوی حامی اوامدادی به وی غلط خیال دې بلکه ناممکن دی اومعامله ددې بالکل خلاف ده.دهغوی دپوره محتاجئی په ورځ یعنی دقیامت به دوی صفا منکر شی اود خپلو عابدانو به دښمنان جوړشی. لکه چه فرمائی د دوی نه به نور دبدې لار او د ورکې شوې لارې والابه نورڅوك وی چه الله ﷻ پرېږ دی اوهغه خلقوته چغې وهی چه د قیامته پورې به جواب ورنه کړې شی. د هغوی د دعانه بالکل غافل دی اودمحشر په ورځ به د هغوی دښمنان جوړشی اود هغوی د عبادت به بالکل انکاراوکړی.( [1] )د ﴿كَلَّآ﴾ دویم قراءت ﴿كُلًّا﴾ هم دې.پخپله به داکافران هم په هغه ورځ د الله ﷻ نه سوا د نورو دعبادت نه انکار اوکړی. داټول عابدان اومعبودان به دوزخیان وی د یوبل به ملګری وی هغوی به په دوی‌او دوی به په هغوی باندې لعنت وائی هریوبه په بل باندې وراچول کوی. یوبل ته به بد وائی سختې جګړې به وی ټول تعلقات به ئی ختم شی د یوبل به ښکاره دښمنان شی او امدادبه چرته وی؟هیڅ مروت به نه وی معبودان به د عابدانو دپاره اوعابد د معبودانو د پاره د یوبل نه نابلده اوزیات په حسرت کښې وی( [2] ) آیاتاته نه ده معلومه چه داشیطانان هروخت کافران په نافرمانو باندې تیاروی( [3] ) مسلمانانوخلاف ئی راپاسوی خواهشات ورله زیاتوی په نه منلو او سرکشو کښې وراندې کوی.لکه چه فرمان دې د رب رحمن د ذکر نه مخ اوړونکې د شیطان حواله کیږی.( [4] ) ته تندی مه کوه د هغوی د پاره بددعا مه کوه مونږ پخپله په ارادې سره هغوی ته وخت ورکړې دې هغوی وراندې کیدو ته پرېږده آخر به په مقرر وخت باندې راګیرکړې شی الله ﷻ د دې ظالمانو د کارونونه ناخبر نه دې. دوی ته خو ئی هسې لږ وخت ورکړې دې په کوم کښې چه دوی په خپلو ګناهونوکښې وراندې کیږی.آخر به سختو عذابونوکښې بې وسه پریوځی. تاسو فائده حاصله کړئی خو ولې یاد ساتئی چه ستاسو اصلی ځائ هم دوزخ دې. مونږ د هغوی کالونه میاشتې ورځې او وخت شمیرو. د هغوی ساګانې هم مونږ شمیرلې دی. د مقرر وخت پوره کیدو سره به په عذابونوکښې اونخلی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| يَوْمَ | نَحْشُرُ | الْمُتَّقِيْنَ | اِلَى الرَّحْمٰنِ |
| هغه ورځ | چې جمع به کړو مونږه | پرهیزګاران | رحمان ته |
| په کومه ورځ چې به مونږ ټول پرهیزګاران ډلې ډلې رحمان ته (دمیلمستیا | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَفْدًا ۝ | وَّنَسُوْقُ | الْمُجْرِمِيْنَ | اِلٰى جَهَنَّمَ | وِرْدًا ۝ |
| ډلې ډلې | او اوبه شړو مونږه | نافرمان خلق | دوزخ ته | پشان دتږی څناورو |
| دپاره ) جمع کړو\| اومجرمان به اوږی تږی دوزخ ته اوشړو | | | | |

[1] ) ٤٦/الاحقاف: ٥-٦.
[2] ) الطبری:١٨/٢٥١.
[3] ) الطبری:١٨/٢٥٢.
[4] ) ٤٣/الزخرف:٣٦.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لَا يَمْلِكُونَ | الشَّفَاعَةَ | إِلَّا | مَنِ | اتَّخَذَ | عِنْدَ الرَّحْمَٰنِ |
| اختيار به نه لري خلق | دسفارش | مگر | هغه څوك | چې اخستې ئې وي | د رحمان |
| د هغه چا نه سوا د سفارش اختيار به هيچا ته نه وي چې درحمان نه ئې اجازت غوښتې وي | | | | | |
| عَهْدًا ۝ | وَقَالُوا | اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ | وَلَدًا ۝ | | |
| اجازت نامه(وعده) | او وائي دوئ | چې نيولې دې رحمان | خوئي | | |
| ...........او(داخلق) وائي چې رحمان خان دپاره اولاد نيولې دې | | | | | |

**قوله تعالى:- يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ۝**

**پرهيزګاران به د الله ﷻ ميلمانه وي:-** -کوموخلقوچه د الله ﷻ په خبروايمان راوړې د پيغمبرانو تصديق ئې کړې د الله ﷻ حکم منل ئې کړي د ګناهونونه بچ شوى د الله ﷻ ويره ئې په زړه کښې وه هغوى به د الله ﷻ په نيز د هغه د معززه ميلمنوپه توګه راجمع کيږي.په نورانى سورلئ به سواره راځي اود الله ﷻ د ميلمنوپه ځاى کښې به په عزت سره داخليږي.ددوى په خلاف ناخداترس ګناهګاران د رسولانو دښمنان به ډيکو سره پرمخې راښکونکې د تندې د لاسه ژبه راويستونکې په زور سره دوزخ ته راجمع کولې شي(۱) اوس اوښايه چه څوك دمرتبې والا او څوك د خو ملګرووالا دې؟ مؤمن به د خپل قبرنه مخ اوچت ګورى به چه د هغه په وړاندې به يوښکلې ښانسته سړې پاکې جامې اغوستې خوشبولګولې خوشحاله پرقيدونکې مخ ولاړ وى. تپوس به کوى ته څوك ئې؟هغه به وائي تازه اونه پيژندم زه خو ستاد نيکو عملونو شکل يم. ستاعمل نورانى ښکلې مزيدار وو راځه چه اوس زه تا په خپلو اوږو باندې سوركړم اوپه عزت اواکرام دې محشر له بوځم. ځکه چه د دنياپه ژوندکښې زه په تاسور ووم نومؤمن به د الله ﷻ په حضورپه سورلئى سورشى. د هغوى د سورلئى د پاره به نورانى اوښان هم موجود وى. دا ټول په خنداخوشحالئى په عزت اوقدر سره جنت ته ځي.حضرت على ﷺ فرمائى چه د وفد دادستور نه دې چه پيدل دې راځى دامتقيان حضرات به په داسې نورانى اوښانوباندې سواره وى چه د مخلوق په نظر کښې به د دې نه بهتر سورلى هيڅ کله هم نه وى راغلې.دهغوى کجاوې به دسروزرو وى دوى به د جنت ددروازوپورې هم دې سورلوباندې سواره ځى.دهغوى پيزوانونه به د زبرجدو وى(۲)په يومرفوع روايت کښې دى خوحديث ډير غريب دې.

**د جنت د نعمتونو بيان:-** د ابن ابى حاتم روايت دې حضرت على ﷺ فرمائى يوه ورځ مونږ رسول الله ﷺ سره ناست وو ماد دې آيت تلاوت اوکړو اواومې وئيل يارسول الله ﷺوفدخو په سورلئى باندې سور راځى حضور ﷺ اوفرمائيل قسم دې د هغه الله ﷻ د چا په لاس کښې چه زما ځان دې چه دا نيکو کار خلق به دقبرونونه راپاسوى اوهم هغه وخت دسپين رنګ نورانى اودوزرو والا اوښې به دخپلې سورلئى دپاره موجود وينى په کومو چه به د سرو زرو کجاوې وى د کومو د وزرو نه چه به نور راوچتيږى. او يو يو قدم به دومره لرې ايږدى ترکوم ځاى پورې چه نظر کار کوى. دوى به په هغې سواره شى اود يوې جنتى ونې خواته به اورسى دکوم ځاى نه چه به دوه نهرونه روان اووينى.ديو اوبه به اوڅکى په کومو سره چه به د هغوى دزړونو خيرې لرې شى په دويم کښې به غسل کوى په څه سره چه به د هغوى بدنونه نورانى شى او ويښته به ئې کلك شى. دې نه پس به نه د هغوى ويښته وران شى اونه به ئې بدن ګنده شى.دهغوى مخونه به پرقيږى اودوى به د جنت دروازې ته اورسى. دسروياقوتو يوه کړئى به د سرو زرو

(۱) الطبرى:۱۸/۲۵۱.
(۲)احمد:۱/۱۵۵.

په دروازه وی کومه چه به دوی اوکړنګوی. دې نه به ډیر خوږ اواز راوځی اوحوروته به معلومه شی چه د هغوی خاوندان راغله. د جنت خازنان به راشی دورواز په کولاوکړی جنتیان چه د هغوی نورانی بدنونوته ښکلې مخونوته اوګوری نوپه سجده کښې به راپریوتل غواړی خوهغوی به ورته زر اووائی زه خوستا تابع یم ته حکم کوه. دوی به هغوی سره روان شی. د هغوی حورې به صبر نه شی اود خیمونه به راوځی اودوی پورې به اونخلی او ورته به وائی چه ته زمونږ د سرتاج ئی زمونږ محبوب ئی زه د همیشه د پاره یم چه د مرګ نه لرې یم زه د نعمتونو والایم کله به هم زما نعمتونه نه ختمیږی زه خوشحاله اوسیدونکې یم کله به هم خفه نه شم. زه هم دلته اوسیږم کله به هم تانه لرې نه شم. دوی به دننه داخل شی ګوری به چه سل سل ګزه بالاخانې دی لؤلؤ مرغلرو باندې زیړ شین رنګ دیوالونه د سرو زرو دی هریودیوال د بل په شان دې په هرمکان کښې اویاتختونه دی. په هریو تخت باندې اویاحورې دی په هره یوه حوره باندې اویاجوړې دی. خو بیاهم د هغوی بدن ښکاری د هغوی د جماع مقدار به د دنیا د یوې پوره شپې برابر وی. صفاښکلې اوبه خالص پئی کوم چه د څاروو د غولانځو نه نه دی راوتلې بهترین خوندناک اوبې ضرره پاك شراب کوم چه یوانسان نه دی نچوړی کړی ښکلې مزیدار شات چه د مچو د خیټې نه دی راوتلی نهرونه به بهیږی. میوه دارې ونې به د میونه ډکې خوزیږی. که غواړی نو په ولاړه ولاړه دې میوې راشوکوی اوکه غواړی نو په ناسته ناسته یا ملاسته ملاسته. سپینې او شنې مرغئی الوزی د کومې غوښه خوړلوته چه زړه اوشی نو هغه به پخپله حاضره شی. د کوم ځائ غوښه ئی چه خوړله وئی خوړله اوبیا هغه د الله ﷻ په قدرت سره ژوندئی لاړه. د څلورو واړو طرفونه فرښتې راځی اوسلامونه وائی اوزیری اوروی چه په تاباندې دې سلامتی وی دا هغه جنت دې د کوم چه تاسو له زیری درکولې شو اونن د هغې مالکان جوړکړې شوې ئی.دادستاسو دنیکوعملونو چه تاسو په دنیا کښې کول.که د هغوی د حورونه د یو یوویښته هم زمکې ته ښکاره کړې شی نود نمر رڼا به تته شی. دا حدیث خو مرفوع بیان شوې دې خوتعجب نه دې چه موقوف وی لکه چه د حضرت علی ﷺ د خپل قول نه هم نقل دې. والله اعلم.

**د جهنم په حالت باندې تذکره:-** بالکل ددې برعکس به ګناهګاران خلق پړمخې په زنځیرونوکښې تړلې شوی د څناور په شان دیکې خوری اودوزخ طرف ته به راجمع کولې شی. هغه وخت به د تندې نه د هغوی خراب حالت وی. څوك به هغوی شفاعت کونکې یا دهغوی په حق کښې یولفظ ویونکې نه وی. مؤمنان خو به د یوبل شفاعت کوی خودا بدنصیبه به د دې نه محروم وی.دوی به پخپله وائی ﴿فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ﴾[1] زمونږ هیڅ څوك سفارشی نشته نه زمونږ څوك رښتونې دوست شته اوچه چا د الله ﷻ سره وعده کړې ده دا استثنا منقطع ده. دې وعدې نه مراد د الله ﷻ د توحید ګواهی ورکول او په دې باندې کلك پاتې کیدل دی. یعنی صرف د یو الله ﷻ عبادت کول اود نورود عبادتونونه خلاصیدل د امداد طمع د هغه نه د ټولو خواهشاتو پوره کولو تمنا او ارزو هم د هغه نه.[2] حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه دې موحدینود الله ﷻ وعده حاصله کړې ده قیامت کښې به الله ﷻ فرمائی چاسره چه زما وعده ده هغه دې اودریږی.

خلقو ونیل حضور ﷺ مونږ ته هم هغه اوښایه حضور ﷺ اوفرمائیل داسې وائې ﴿اللهم فاطر السموت والارض عالم الغیب والشهادة فانی اعهد الیك فی هذه الحیوة الدنیا انك ان تکلنی الی عمل یقربنی من الشر ویباعدنی من الخیروانی لاائق

[1] ۲٦/الشعراء:۱۰۰.
[2] الطبری:۲۵۷/۱۸.

Scanned with Ca

الابرحمتك فاجعل لى عندك عهدا اتوديه الى يوم القيمة انك لاتخلف الميعاد﴾(١) په يوبل روايت كښې دې سره دا هم دى ﴿خائفا مستجيرا مستغفرا راهبا راغبا اليك﴾(ابن ابى حاتم)

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ

| او وائي دوئ | چې نيولې دې رحمان | خوئې | بيشكه چې راتګ اوكړل تاسو

او(داخلق) وائي چې رحمان خان د پاره اولاد نيولې دې | تاسو ډيره خرابه خبره كړې ده | نزدې ده

شَيْئًا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ

يو څيز ته | چې ډير بد دې | قريبه ده | چې اسمانونه | اوشليږي | ددې خبرې نه

..........چې په دې وينا باندې اسمانونه اوشليږي | اوزمكه څيرې شي

وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ

او اوچوي | زمكه | او راپريوزي | غرونه | ټوټې ټوټې | چې رااوبللو دوئ | د پاره درحمن

اوغرونه ريزه ريزه راوغورزيږي | ځكه چې هغوئ درحمان د پاره خوئې

وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِنْ كُلُّ مَنْ

خوئې | او نه ښائي | د پاره درحمان | چې اونيسي | خوئې | نه دى ټول | هغه څوك

ګرځولې دې | حال دا چې درحمان د پاره څوك خوئې جوړول مناسب نه دى | چې څوك هم په

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾

چې په اسمانونو كښې دى | اوپه زمكه كښې دى | مګر | راتلونكې دى | رحمان ته | په حيثيت دبنده

اسمانونو اوپه زمكه كښې موجود دى هريو به رحمان ته د بنده په حيثيت حاضريږي

لَقَدْ أَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ

بيشكه احاطه كړې ده الله دهغوئ | او شمارلې ئې دى هغوئ | په شمارلو سره | او هغوئ ټول

هغه دا ټول څيزونه احاطه كړې دى | او ښه ئې شميرلې دى |..........اوهريو به ورته دقيامت په ورځ

اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾

راتلونكې دى هغه ته | په ورځ دقيامت | يوازې |

ايكې يوازې حاضريږي |

**قوله تعالى:- وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا﴿٨٨﴾**

**د الله ﷻ په ذات باندې بهتان:-** د دې مبارك سورت په شروع كښې د دې خبرې ثبوت تيرشو چه حضرت عيسى عليه السلام د الله ﷻ بنده دې. هغه الله ﷻ بغيرد پلانه په خپل حكم سره د حضرت بى بى مريم د خيټې نه راپيدا كړې دې. په دې وجه دلته د دغه خلقو كم عقلتوب بيانولې شى چه هغه د الله ﷻ خوئ ګڼرى د څه نه چه د الله ﷻ ذات پاك دې. دهغوى قول ئې بيان كړو بيافرمائى دا ډيره لويه خبره ده. ﴿اِدًّا﴾، ﴿اَدًّا﴾او﴿اُدًّا﴾دريواړه لغته دى يعنى كسرالهزة خو مشهور﴿اِدًّا﴾دې.دهغوى داخبره دومره خرابه ده. نزدې

(١) حاكم:٢/٣٧٧.

Scanned with Ca

ده چه اسمان راورژی اومات شی اوزمکه په جتکوجتکو اوشلیږي. د دې د پاره چه زمکه او اسمان د الله ﷻ عزت اوعظمت پیژني په دې کښې د رب توحید خائ شوې دې ته معلوم دی چه بدکاره ناپوهه انسانانو د الله ﷻ په ذات باندې تهمت لګولي دي. نه د هغه د جنس نه څوك شته نه د هغه مور پلار نه اولاد نه څوك شريك او نه څوك د هغه په شان. ټول مخلوق د هغه د وحدانيت ګواه دي. د کائنات هره يوه ذره دهغه په توحيد باندې دلالت کوي.الله ﷻ سره شرك کونکو په شرك باندې ټول مخلوق رچيږي. نيزدې چه د کائناتو دا نظام درې ورې شي. شرك سره يوه نيکي هم په کار نه راځي. څه عجيبه ده چه د دې برعکس د توحيدسره ګناه الله ﷻ ټول په ټول معاف کړي.

لکه چه په حديث شريف کښې دی خپلو مړو ته د﴿لااله الاالله﴾ د شهادت کولوتلقين کوئي. د مرګ په وخت کښې چه چا دا اووئيل د هغه د پاره جنت واجب شو. صحابه کرام ؓ اووئيل حضورﷺ چا چه په ژوندکښې اووئيل وئې فرمائيل د هغه د پاره نورهم زيات واجبيږي. د الله ﷻ قسم د چا په لاس کښې چه زما ځان دې زمکه او آسمان اود دې په مينځ کښې اود دې نه لاندې ټول ځيزونه که د تلې په يوچابړې کښې واچولې شي ﴿لااله الاالله﴾ ګواهي په بل چابړې کښې واچولې شي نو دا به د دې ټولونه په وزن کښې زيات شي.([1]) ددې نور دليل هغه حديث شريف دې په کوم کښې چه د توحيد د يوې وروکې غوندې پرچې د ګناهونود لويولويو دفترونو نه په وزن کښې زياتيدل دی راغلي دی.([2]) والله اعلم.

د دوی دا خبره کول دومره بده ده چه آسمان د الله ﷻ د عظمت د وجه رچې اوزمکه د هغه د غضب په وجه اوشليږي اوغرونه ذره ذره شي. حضرت عبدالله ؓ فرمائي يوغرد بل غر نه معلومات کوي آيانن په تاباندې داسې هم يوانسان ختلې دې چه هغه د الله ﷻ ذکر کړې وی؟ هغه په خوشحالئي سره جواب ورکوي چه او. نو غر هم باطل او دروغ خبره اوښه خبره اوری او نورې خبرې نه اوری. بيا هغوی هم د دې آيت تلاوت اوکړو.

**اول زمکې صرف ميوې اوګلونه راټوکول:**-روايت دې چه کله الله ﷻ زمکه اود دې ونې راپيداکړې نو هرې ونې به بنيادم ته ميوې ګلونه او فائدې ورکولې. خوچه کله نه په زمکه باندې اوسيدونکو خلقو د الله ﷻ د پاره اولاد اوګرځولو نوزمکه اوخوزيده او په ونوکښې ازغي پيداشو.حضرت کعبؓ فرمائي چه زمکه په غصه شوه او دوزخ په ډير تاوسره شغلې اووهلې. مسنداحمدکښې د رسول الله ﷺ فرمان دې چه په تکليف ورکونکو خبروباندې د الله ﷻ نه زيات صبرکونکې څوك نشته خلق دهغه سره شريك ګرځوي د هغه اولاد مقررکوي اوهغه دوی ته عافيت ورکوی رزق وررسوی اوګناهونه دهغوی نه اخواکوی.([3])نود دوی په دې خبره چه دالله ﷻ اولاددې زمکه آسمان اوترغرونو پورې تنګ دی.د الله ﷻ عظمت او شان سره لائق نه دی چه دهغه اولاد وی هلکان جينکئي وی د دې د پاره چه ټول مخلوق د هغه په غلامئي کښې دې.دهغه دجوړيادهغه په شان څوك نشته.په زمکه اوآسمان کښې چه څه دی ټول دهغه دحکم تابع دی اوحاضر شوی غلامان دی.هغه دټول آقادټول پالونکې اودټولو خبر اخستونکې دې.دټول شميرهغه سره دې. ټول د هغه علم راګيرکړی دی اوټول د هغه د قدرت په احاطه کښې دی. د هريوښځې سړی لوئ وړوکې هغه ته خبر دې. د پيدائش د شروع نه د دنياد ختميدو پورې هغه ته علم دې.دهغه هيڅ څوك امدادی نشته نه شريك اونه ملګرې.هريو بې يار اومددګار به دهغه په وړاندې د

---

[1]) الطبری:۲۵۸/۱۸.

[2])ترمذی کتاب الايمان باب ماجاء فيمن يموت وهويشهدان الااله الاالله:۲۶۳۹وسنده صحيح، ابن ماجه:۴۳۰۰، احمد: ۲۱۳/۲، حاکم:۶/۱دا روايت امام حاکم او ذهبی صحيح الاسناد ګڼلي دې.

[3]) احمد:۳۹۵/۴، صحيح بخاری کتاب الادب باب الصبرفي الاذی:۶۰۹۹، صحيح مسلم:۲۸۰۴، السنن الکبری:۱۱۴۴۵، مسند حميدی:۷۷۴، المعجم الاوسط:۳۴۹۴،الاسماء والصفات للبيهقي:۱۰۶۴.

قیامت په ورځ پیش کیدونکې دې.دټول مخلوق فیصلې د هغه په لاس کښې دی.هم هغه وحده لاشریك له به د ټولوبې باکی کوی اوځه چه غواړی کوی به. عدل کونکې دې ظالم نه دې د چا حق وهل د هغه د شان نه لرې دی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

| بیشکه هغه کسان | چی ایمان ئې راوړو

بیشکه کومو کسانو چې ایمان راوړې دې

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾

او عمل ئې اوکړو نیك | اوبه ګرځوی | دپاره دهغوئ | رحمان | محبت(په زړونو دخلقو کښې)

او نیک عملونه ئې کړی دی | رحمان به دهغوئ دپاره (دخلقو په زړونو کښې) محبت پیدا کوی

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ

پس بیشکه | اسان کړو مونږه دا کلام | په ژبه ستا | دپاره ددې چی ته زیرې ورکړې | په دې سره

نو مونږ دا (قرآن) ستا په ژبه ځکه اسان کړې دې اچې ته ددې په ذریعه پرهیزګارانو ته زیرې ورکړې .

الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا

پرهیزګارو خلقو ته | او ویروې ته | په دې سره | قوم | ضدیان | او څومره ډیر هلاك کړل مونږه

اوددې په ذریعه جګړمار خلق اوویروې |اومونږ ددې خلقو نه وړاندې څومره ډیرې ډلې هلاکې کړې

قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ

مخکښې ددوئ نه | قومونه | ایا محسوسوې ته | دهغوئ نه | یو کس | یا اورې ته

دی | نو ایاتن ته په هغوئ کښې څوک (باقی پاتې) وینې | یا د هغوئ

لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾

هغوئ لره | څه کشار (ګنګوسه)

ګنګوسې قدرله اورې (نه بلکه ټول خاوره سره خاورې شو)

**قوله تعالی:- سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا﴿٩٦﴾**

**موحدینوته به د الله ﷻ محبت ملاویږی:**-ارشاد دې دچا په زړونوکښې چه توحید دې او د چا په اعمالو کښې چه دسنتونوردی. ضروری خبره ده چه مونږ به دخپلو بندیګانوپه زړونوکښې دهغوی محبت پیدا کړو. په حدیث شریف کښې دی کله چه الله ﷻ یوبنده سره محبت کول غواړی نو حضرت جبرائیل ؑ راوغواړی ورته فرمائی زه فلانکی سره محبت کوم ته هم هغه سره مینه اوساته. د الله ﷻ دا امانت داره فرښته هم هغه سره مینه کوی.بیاپه آسمانونوکښې آواز کولې شی الله ﷻ فلانکی انسان سره مینه کوی اې فرښتو تاسوهم هغه سره مینه اوساتئی نودټولو آسمانونو فرښتې هغه سره مینه کوی.بیادهغه مقبولیت په زمکه راکوزولې شی.اوچه کله د یوبنده نه الله ﷻ خفه شی نوجبرائیل ؑ ته فرمائی ده نه زه خفه یم ته هم ده سره دښمنی کوه حضرت جبرائیل ؑهم د هغه دښمن جوړشی بیا په آسمانونوکښې

Scanned with Ca

اواز کولې شي چه فلانکې د الله ﷻ دښمن دی تاسو ټول د هغه نه ویزاره اوسئی نود اسمانونوو الا د هغه سره وران شي بیا هغه غضب او خفګان زمکې ته راکوزولې شي.[1] (بخاري ومسلم وغیره)

مسنداحمد کښې دی چه کوم بنده د خپل مولا د رضاطلبګار شي او دهغه د خوشحالئي په کارونوکښې مشغول شي نو الله ﷻ حضرت جبرائیل ﷺ ته فرمائی زما فلانکې بنده ما خوشحالول غواړی واوره زه د هغه نه خوشحاله شوم. ما خپل رحمتونه په هغه باندې نازلول شروع کړه. نو حضرت جبرائیل ﷺ آواز کوی په فلانکی باندې د الله ﷻ رحمت اوشو. بیاد عرش حاملانې فرښتې هم دا آواز کوی بیا د هغوی سره خواکې اوغرض دا په اووه آسمانونوکښې دا آواز تاویږی. بیا په زمکه باندې د ده مقبولیت راکوزیږی.[2] داحدیث غریب دې. هم داسې یوبل حدیث کښې هم په مسند احمد کښې د غرابت والا دې په کوم کښې چه داهم دی چه محبت یاشهرت د چا ښیګړه یابدئی سره دا د آسمانونونه د الله ﷻ دطرف نه راکوزیږي.[3]. ابن ابی حاتم کښې د دې قسم حدیث نه پس د حضورﷺ د دې آیت قرآنی لوستل هم مروی دې.[4]

**دیو عابد قصه**:-حضرت حسن رحمه الله فرمائی یوسړی اراده اوکړه چه زه به د الله ﷻ داسې عبادت کوم چه په ټولوخلقو کښې زما نیك نامی اومشهورتیااوشي.اوس هغه د الله ﷻ عبادت طرف ته ورتیټ شو کله چه ګوری په مانځه کښې د ټولونه وړاندې راځی اود ټولونه روستوځی. دغه شان په هغه باندې اووه میاشتې تیرې شوې خوچه کله ئی هم اوریدلی نوهم دا چه خلق هغه ته ریاکاروائی. هغه چه داحال اوکتلونو په زړه کښې ئی وعده اوکړه چه زه به صرف دالله ﷻ د خوشحالولود پاره عبادت اوعمل کوم. په یوعمل کښې هم وړاندې نه شو خو په خلوص سره ئی عمل شروع کړو.نتیجه داشوه چه په لږو ورځوکښې دهرسړی په ژبه باندې دا وو چه الله ﷻ دې په فلانکی سړی باندې رحم اوکړی اوس خو هغه واقعی الله والاجوړشو.بیا هغوی داآیت تلاوت کړو.ابن جریرکښې دی چه دا آیت د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ د هجرت باره کښې نازل شوې دې خودا قول صحیح نه دې ځکه چه دا پوره سورت مکه کښې نازل شوې دې. د هجرت نه پس د دې سورت د یوآیت نازلیدل ثابت نه دی. اوچه کوم اثر امام صاحب واردکړې دې هغه سنداً هم صحیح نه دې. والله اعلم.

**قران کریم په اسانه ژبه راغلې دې**:-مونږ دا قرآن پاك اې نبی ستا په ژبه یعنی عربی ژبه کښې بالکل آسانولو سره نازل کړې دې چه د فصاحت او بلاغت والا بهترین ژبه ده د دې د پاره چه هغوی ته کوم چه په زړه کښې د الله ﷻ ویره لری او په ظاهره نیك عملونه لری د الله ﷻ زیری واوروې اوخوك چه د حق نه اخواشوی په باطل باندې خان مرکوی اود استقامت نه لرې په خان خودلوکښې نشه دی جګړې کوی دروغژن رانده کانړه فاسق فاجرظالم ګناهګار بدکرداردی هغوی دالله ﷻ په نیولو اودهغه د عذابونونه خبردارکړه لکه چه د قریشوکافران وغیره ډیرو امتونو چاچه د الله ﷻ سره کفر کړې وو د نبیانو نه ئی انکار کړې وو مونږ هلاك کړل او په هغوی کښې یوهم باقی پاتې نه شو د یوآواز هم په دنیاکښې پاتې نه شو. د (رِکز) لفظی معنی سپك او مدهم آواز دې.

(الحمدلله) د سورت مریم تفسیرختم شو.

...........................

[1] صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائکة صلوات الله علیهم: ۳۲۰۹، صحیح مسلم ۲۶۳۷،ترمذی:۳۱٦۱، احمد:۲/۲٦۷، ابن حبان:۳٦٤.

[2] احمد:۵/۲۷۹ وسنده حسن، مجمع الزوائد۱۰/۲۰۲، المعجم الاوسط:۱۲٦۲.

[3] احمد: ۵/۲٦۳ وسنده ضعیف، طبرانی: ۷۵۵۱، مجمع الزوائد:۱۰/۲۷۱

[4] ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة مریم:۳۱٦۱، صحیح مسلم:۱٦۳۷ بدون ذکر الایة.

Scanned with Ca

| آياتونه | سورة طه مكي دي | ركوع ګاني |
|---|---|---|
| | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | |
| ۱۳۵ | شروع كوم په نوم د الله چه پرمهربان زيات رحم كونكې دې | ۸ |

طٰهٰ ۞ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ۞ اِلَّا

طه | نه دې نازل كړې مونږه | په تاباندې | دا قرآن | چې ته په مشقت كښې پريوزې | مګر

مونږ داقران مجيد دې دپاره نه دې نازل كړې چې ته دې په مشقت كښې اخته شې بلكه دا خوهغه

تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ۞ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ

دا خو يوه يادګيرنه ده | دپاره دهغه چا | چې ېرېږي | نازل شوې دې | دطرفه دهغه ذات نه

دچا دپاره نصيحت دې چې ېرېږي | دهغه(رب) دطرفه نازل كړې شوې دې

خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ۞ اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ

چې پيدا ئې كړه | زمكه | او آسمانونه | اوچت | هغه رحمان | په عرش باندې |

چې زمكه او دنګ آسمانونه ئې پيدا كړې دی | هغه رحمان (چه دهغه حكومت) په عرش

اسْتَوٰى ۞ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَمَا

قائم دې | هغه لره دى | هغه څه | چې په آسمانونو كښې دى | اوهغه | چې په زمكه كښې دى | او هغه

باندې قائم دې | هرهغه څه دهغه دى كوم چې په آسمانونو كښې دى اوكوم چې په زمكه كښې دى

بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ۞ وَاِنْ تَجْهَرْ

چې په منځ دددې دواړو كښې دى | او هغه | چې لاندې | دخاورونه دى | او كه په زوره كوې |

څه چې ددې دواړو په مينځ كښې دى او څه چې د زمكې نه ښكته پراته دى | او كه ته په زوره

بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ۞ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ

خبره | پس بيشكه | هغه پوهيږي | په رو خبره | او په زياته پټ خبره | الله(داسې ذات دې چه) | نشته لائق دعبادت

خبرې اوكړې نو هغه په پټو خبرو او په ښه پټو رازونو باندې هم پوهيږي | (هغه) الله ﷻ دې چې دهغه نه

اِلَّا هُوَ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۞

مګر | هم هغه دې | هغه لره دى | نومونه | نيك(ښه) |

سوا بل څوك د عبادت لائق نشته | هم دهغه ښه ښه نومونه دى |

**د سورت تعارف:-** امام الائمه حضرت محمدبن اسحاق بن خزيمه رحمه الله پخپل كتاب التوحيد كښې حديث راوړلې دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى الله تبارك وتعالى د حضرت آدم عليه السلام د پيدائش نه زر كاله وړاندې دسورت طه اوسورت يس تلاوت اوفرمائيلو دكوم په اوريدوسره چه فرښتواووئيل هغه امت ډيرخوش نصيب دې په كوم چه به داكلام نازليږى اوهغه ژبې يقيناًمستحق دمباركې دى د كومو

نه چه به داالله ﷻ دکلام دا الفاظ اداکيږي.[1] دا روايت غريب دې او په دې کښې نکارت هم دې اود دې راوی ابراهيم بن مهاجراود هغه په استاذ جرح هم ده.

**قوله تعالي:-** تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمَٰوَاتِ الْعُلَى ﴿٤﴾

**د الله ﷻ صفات عاليه او دطه مطلب:-** -دسورت بقره په شروع کښې د سورتونو د اول حروفو مقطعات تفسيرپه پوره توګه بيان کړې شوې دې د کوم چه دوباره بيانولوضرورت نشته. داهم روايت دې چه د طه نه مراد "اې سړيه"دې. وائی چه دا نبطی کلمه ده څوك وائی معرب ده. داهم روايت دې چه حضورﷺ به په مانځه کښې يوه پښه مبارکه په زمکه باندې کيخوده او بله به ئی اوچتوله نو الله ﷻ دا آيت نازل کړو يعنی طه په زمکه باندې دواړه پښې ايږده. مونږ داقرآن پاك په تاباندې ددې دپاره نه دې نازل کړې چه تاپه مشقت اوتکليف کښې واچوو. وائی چه کله به قرآن پاك حضورﷺاود هغه صحابه کرامو ژ شروع کړونومشرکانو وئيل چه داخلق خو په ښه پوره مصيبت کښې پريوتل. په دې باندې الله ﷻ دا آيت نازل کړو چه داپاك کلام تاسو په مشقت کښې اچولود پاره نه دې نازل کړې بلکه دا خود نيکانودپاره عبرت دې. دا خدائی علم دې چاته چه داملاؤشو هغه ته ډير لوئ دولت ملاوشو. بخاری او مسلم کښې دی چاسره چه د الله ﷻ اراده د ښيګړې وی هغه ته د دين پوهه ورنصيب کوی.[2]

**قيامت کښې علماء کرامو ته دالله تعالي خطاب:-** حافظ ابوالقاسم طبرانی رحمه الله يو مرفوع صحيح حديث راوړلې دې د قيامت په ورځ چه کله الله ﷻ دخپلو بنديګانو فيصله کوی په خپله کرسئی به د خپل شان برابرکينی نو علماؤ ته به اوفرمائی چه ماتاسوته خپل علم درنصيب کړې وو او خپل حکمت مې د دې د پاره درکړې ووچه ستاسو ګناهونه معاف کړم او هيڅ پرواه اونه کړم چه تاسو څه څه کړی؟[3] اول به خلقو د الله ﷻ عبادت کولوکښې خپل ځانونه په رسو تړلو اوزوړندولو. الله ﷻ دامشقت د دی کلام په ذريعه باندې آسان کړو اووئی فرمائيل چه داقرآن تاسو په مشقت کښې اچول نه غواړی. لکه چه ارشاددې څومره په آسانئی سره چه ئی لوستلې شئی لولئی[4] داقرآن د شقاوت او بدبختئی څيز نه دې بلکه رحمت نور اودليل د جنت دې دا قرآن پاك د نيکانوخلقو د پاره د چا په زړونوکښې چه د الله ﷻ ويره وی تذکره وعظ اوهدايت او رحمت دې. د دې په اوريدوباندې د الله ﷻ نيك انجام خلق د حلال اوحرام نه واقف کيږی اوخپل دواړه جهانه ښکلې کوی. دا قرآن پاك ستا د رب کلام دې. هم د هغه د طرف نه نازل شوې دې چه دهرڅيز خالق مالك او رازق قادر دې. چا چه زمکه لاندې او درنه پيدا کړې ده اوچا چه آسمان اوچت اومزيدار جوړکړې دې.د ترمذی وغيره په صحيح حديث کښې دی د هرآسمان بيروالې د پنځو سوو کالو فاصله ده اود هريوآسمان نه د بل آسمان فاصله هم پنځه سوه کاله ده.[5] دحضرت عباس ﷺ والا حديث امام ابن ابی حاتم رحمه الله هم د دې آيت په تفسيرکښې نقل کړې دې. هغه رحمن الله پخپل عرش باندې دې د دې پوره تفسير په سورت اعراف کښې تيرشوې دې.دلته دنقل کولوضرورت نشته.دسلامتئی نه ډکه طريقه هم دغه ده چه آياتونه اواحاديث صفات په طريقه د سلفو صالحينو اودهغې د ظاهری الفاظومطابق اومنلې شی.بغيرد کيفيت دغوښتلواوبغيرتحريف او تشبيه تعطيل او تمثيل څيزونه هم د الله ﷻ ملك دې. هم د هغه په قبضه اراده او غوښتلولاندې دی هم هغه د

[1] دارمی:۲/۴۵۶ ح ۳۴۱۷.
[2] صحيح بخاری کتاب العلم باب ﴿من يرد الله خيرًا يفقه في الدين﴾:۷۱، صحيح مسلم:۱۰۳۷.
[3] طبرانی:۱۳۸۱.
[4] ۷۳/المزمل:۲۰.
[5] ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة حديد:۳۲۹۸.

Scanned with Ca

ټولومالك خالق اله اورب دې. د هيڅ چا دهغه سره د هيڅ قسم شركت نشته. د اوومې زمكې لاندې چه هم څه دى ټول هغه ټول د هغه دى.

**دزمكې لاندې څه دي؟** :-كعب ﷺ وائي چه د دې زمكې لاندې اوبه دى د اوبولاندې بيا زمكه ده بيا د هغې لاندې اوبه دى.دغه شان به مسلسل بيا د هغې لاندې يوكاڼړې دې. د هغې لاندې يوه فرښته ده د هغې لاندې يوكب دې د كومې چه دواړه لاسونه دعرش پورې دى. د هغې لاندې هوا او تياره ده. هم د دغه ځاى پورې د انسان علم دې باقي الله ﷻ پوهيږي.

په حديث كښې دى د هرودوو زمكو په مينځ كښې د پنځوسووكالو فاصله ده. د ټولونه پاس زمكه د كب په شا ده دكوم دواړه لاسونه چه آسمان سره ملاوشوى دى داكب په يوكاڼړې باندې دې هغه كاڼړې د فرښتې په لاس كښې دې. دويمه زمكه د هواګانو خزانه ده. دريمه كښې د دوزخ كاڼړې دى په څلورمه كښې د دوزخ ګوګړ(كندهك) دى پنځمه كښې د دوزخ ماران دى شپږمه كښې دوزخي لړمانان دى او په اوومه كښې دوزخ دې. هلته ابليس راګيركړې شوې يولاس ئې وړاندې او يوروستو دې. كله چه الله ﷻ غوارى هغه پريږدى(۱)مسندابويعلى كښې دى حضرت جابربن عبدالله ﷺ فرمائي مونږ د غزوه تبوك نه راواپس كيدو. سخته ګرمي وه دوه دوه او څلورڅلور سړى ګډوډ روان وو. زه د لښكر په شروع كښې ووم ناڅاپى يوسړې راغلواوسلام كولوسره ئې تپوس اوكړوتاسو كښې محمد ﷺ كوم يودې؟ زه هغه سره يوځاى شوم. زما ملګرى وړاندې شو. كله چه د لښكر د مينځ حصه راغله نو هم په هغې كښې حضور ﷺ وو. ماوښيل دا حضور ﷺ دې چه په دې سره اوښه باندې سوردې. په سرباندې د ګرمئ په وجه كپړا اچولې وه. هغه د حضور ﷺ سورلئ ته نيزدې شو او جلب ئې اونيولوعرض ئې اوكړوچه هم تاسو محمد ﷺ ئې؟ حضور ﷺ جواب وركړواو. هغه وښيل زه تاته يوڅوخبرې معلومول غواړم كومې چه د زمكې والا كښې د يو دوو كسانو نه بغيربل څوك نه پيژنى. حضور ﷺ اوفرمائيل چه ته څه تپوس كوې اوكړه.هغه وښيل دالله ﷻ انبياء عليهم السلام اوده كيږى هم؟حضور ﷺ اوفرمائيل دهغوى سترګې اوده كيږى‌خو زړه ئې بيدار وى. هغه وښيل صحيح دې اوفرمائيل. اوس دا اوفرمائي چه څه وجه ده چه ماشوم كله د پلار په شان وى اوكله د مور په شان وى؟ حضور ﷺ اوفرمائيل واوره د سړى اوبه سپينې او تينګې دى او د ښځې اوبه نرې دى كومې اوبه چه غالب راشى شكل هم هغه طرف ته ځى. هغه وښيل دا دې هم ټيك اوفرمائيل. هغه وښيل چه ښه ده دا اوفرمايه چه د ماشوم كوم اندامونه د سړى د اوبونه جوړيږى اوكوم د ښځې د اوبونه؟ وئى فرمائيل د سړى داوبونه هډوكى رګونه اوپټې جوړيږى اود ښځې د اوبونه غوښه وينه اوويښته. هغه وښيل داهم صحيح جواب دې. ښه ده دا اوښائې چه د دې زمكې لاندې څه څيز دې؟ وئى فرمائيل يومخلوق دې. وښيل د هغې د لاندې څه دى؟ وئى فرمائيل زمكه. وښيل دهغې لاندې څه دى؟وئى فرمائيل اوبه. وښيل داوبولاندې څه دى؟وئى فرمائيل تياره.وښيل دهغې لاندې؟ وئى فرمائيل هوا. وښيل دهوالاندې؟ وئى لمده خاوره. وښيل د هغې لاندې؟ د حضور ﷺ اوښكې مباركې روانې شوې او ارشاد ئې اوفرمائيلو د مخلوق علم خو هم دې ځاى ته اورسيدو ختم شو اوس خالق ته د دې نه وړاندې علم دې.اې سوال كونكيه ددې باره كښې چه ته د چا نه سوال كوې هغه ستانه زيات پيژندونكې نه دې.هغه دحضور ﷺ دصداقت ګواهي وركړه.حضور ﷺ اوفرمائيل داپيژنې هم؟خلقو وښيل هم الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ته پوره علم دې. هغوى اوفرمائيل داحضرت جبرائيل ﷺ وو. دا حديث هم ډيرغريب دې اوپه دې كښې چه كومه واقعه ده ډيره عجيبه ده.د دې په راويانوكښې د قاسم بن عبدالرحمن تفرد دې كوم ته چه يحيى بن معين رحمه الله وائي چه داد هيڅ څيز برابر نه دې. امام ابوحاتم رازى رحمه الله هم ده ته ضعيف وائي. امام ابن عدى رحمه الله فرمائي دامعروف سړې نه دې اوبه دې

۱) حاكم: ۴/۵۹۴

Scanned with Ca

حديث كښې ګډوډ كړې شوې دې. الله ﷻ ته معلومه ده چه ده د قصد نه داسې كړې دى يانى داسې د ځانه اخستې دې الله ﷻ خو هغه دې چه ظاهر باطن اوچت ښكته لوئ وړوكې هر څه پيژنى.

لكه چه ارشاد دې اعلان اوكړه چه دا قرآن پاك هغه ذات نازل كړې چه د زمكې اوآسمان د پټو رازونو نه خبر دې اوغفور اورحيم دې.(۱) بنيادم چه پخپله څه پټوى يا د هغه نه څه پټ وى هغه ټول الله ﷻ ته ښكاره دى.داعمل دهغه د علم نه هم اول الله ﷻ ته معلوم دى.(۲)ټول تيرشوى موجوده راتلونكى مخلوق علم هغه سره هم داسې دې لكه چه ديوسړې علم. د ټولو پيدائش وژل او سوزول هم د هغه په نيزد يويوسړى پيدائش اود هغه د مرګ نه پس د دويم ځل ژوندپه شان دې. ستاد زړه خيالات اوكوم خيالات چه نه راځى هغه هم پيژنى. تاته به زيات نه زيات د نن پټ اعمالوخبر وې اوهغه ته خو صبا كړې شوې اعمال كولو د هغې علم هم دې. ارادې صرف نه بلكه وسوسې هم په هغه باندې ښكاره دى. كړې شوې عمل اوچه كوم كوى هغه ټول عملونه په هغه ښكاره دى. هم هغه معبود برحق دې. اعلى صفتونه او ښكلې نومونه د هغه دى. د سورت اعراف د تفسير په آخره كښې اسمائې حسنى متعلق احاديث تيرشوى دى. فلله الحمد والمنة.

وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ

او ايا راغلې دې تاته | خبر

| او اياتا ته د موسى د واقعى خبر راغلې دې

مُوْسٰى (٩) اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا

دموسى | كله چې اوليدو هغه | اور | نو اووئيل هغه | خپلې بى بى ته | لږ وخت تير كړئ(دلته)

هركله چې هغه اور اوليدو نو خپلې بى بى ته اووئيل | چې تاسو دلته ايسارشئ

اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ

بيشكه زهٔ چې يم |اوليدو ما | اور | دې دپاره چې زهٔ | راوړم تاسو ته | دهغه اور نه | يوه لنبه |

بيشكه ما اور اوليدلو | ..................كيدې شى چې زه ترې نه ستاسو دپاره يوه شغله راوړم

اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى (١٠) فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ

يا بيا مومم زهٔ | په اور باندې | دلارې پته | نو هر كله چې | راغې هغه اور ته | اواز او كړې شو

يا داور په خوا كښې د لارې درك اولګوم نو كله چې هلته اورسيدو نو اواز ورته اوشو

يٰمُوْسٰى (١١) اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ اِنَّكَ

چې اے موسى | بيشكه زهٔ چې يم | زهٔ رب ستا يم | نو او باسه | پيزار خپل | بيشكه تهٔ |

چې ائې موسى ! بيشكه څه ستا پروردیګار يم انو ته خپلې دواړه پنړې اوباسه | بيشكه ته په يو پاک

بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى (١٢) وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا

په ميدان پاك كښې ئې | دطوى | او ما | غوره كړې ئې تهٔ | نو غوږ كيږده | هغې ته |

ميدان يعنى په طوى كښې(ولاړ) ئې | اوماته منتخب كړې ئې نو څه حكم چې درته كولې شى هغه واوره

---

(۱) ۲۵/الفرقان:٦.

(۲) الطبرى:۱۸/۲۷۲، حاكم:۲/۳۷۸.

Scanned with Ca

يُوْحٰى ﴿۱۳﴾ اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا

چي وحی کیږی تاته | بیشکه زهٔ چي یم | زهٔ الله یم | نشته دي لائق دعبادت | مګر | زهٔ یم |

بیشکه هم زه ستا الله (پروردیګار) یم | ...................زما نه سوا بل معبود نشته دي

فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿۱۴﴾ اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ

نوعبادت کوه زما | اوقائم کړه مونځ | دپاره دیاد زما | بیشکه وخت دقیامت | ضرور راتلونکی دي

نو زما عبادت کوه| او زماد یاد دپاره مونځونه کوه | بیشکه قیامت راتلونکي دي

اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا

زهٔ غوارم | چي پټ او ساتم دغه وخت | دپاره ددې چي بدله ورکړې شي | هر نفس ته | دهغه عملونو

څه غوارم چي هغه پټ اوساتم| ..............چي هر کس ته د خپل کوشش

تَسْعٰى ﴿۱۵﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا

چي کوی ئې هغه | نو منع دې نکړی تا | ددغه وخت د تیارئ نه | هغه څوك | چي ایمان نهٔ راوړی| په هغې

بدله ملاؤشی| نوهغه څوک چي ایمان نه راوړی| اودخپلو خواهشاتو تابعداری کوی

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿۱۶﴾

اوتابعداری ئې اوکړه | دخواهشاتوخپلو | ګنی هلاك به شي تهٔ|

چرته تا ددي(حقې لارې) نه منع نکړی| ګنی ته به هلاک شې |

قوله‌تعالی:- وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿۹﴾

**د حضرت موسی ﷺ واقعه:**-دحضرت موسی ﷺ واقعه شروع کیږی. دا دهغه وخت قصه ده چه کله هغه هغه موده پوره کړې وه کومه چه د ده اوسخرصاحب په مینځ کښې تاکلې شوې وه. او هغه خپله بی بی واخسته اودلسوکالونه زیاته موده پس خپل وطن مصر ته روان وو.د یخنئ شپه وه لارئ هیره کړې وه دغرونوپه مینځ کښې په لاره ووتیاره خوره شوې وه.که هرڅومره ئې دکانړوپه ټکولوسره اورد اویستلوخودهغې نه بالکل اُور را اونه وتلو.اخوادیخوا ئې نظر اوزغلولونو ښې طرفته په غر باندې څه اُوربښکاره شونو بی بی ته ئې اووئیل دغه طرف ته اُورشان ښکاری زه ورځم چه د هغه ځائ نه څه انګار راوړم دې دپاره چه ته خان تودکړې او څه رنړاهم اوشي. اودا هم ممکن دی چه هلته څوك سړې ملاوشی او لار هم راته اوښائی بهرحال د لارې پته یا اُور به ملاؤشي. (۱)

**حضرت موسی ﷺ ته پیغمبری ملاوشوه:**- -کله چه حضرت موسی ﷺ اُور ته اورسیدو نود هغه مبارک میدان ښې طرف ته د ونونه آواز راغلو اې موسی ﷺ زه ستا رب یم څپلنې اوباسه. یاخو په دې وجه دا حکم اوشو چه د هغوی څپلنې د خرد څرمن وې(۲)یا په دې وجه چه تعظیم کول ئې مقصدوو(۳) لکه څنګه چه کعبه ته دتلوپه وخت کښې خلق څپلنې اوباسی ځی.یا په دې وجه چه دبرکت نه ډك خاې باندې پښې اولګی.نورې وجې هم بیان کړې شوی دی. طوی د هغه وادئی نوم وو(۴)یادا مطلب چه خپل

---

۱) الطبری:۱۸/۲۷۷.
۲) حاکم:۲/۳۷۹.
۳) الطبری:۱۸/۲۷۸.
۴) الطبری:۱۸/۲۸۱.

Scanned with Ca

قدمونه دې زمکې سره اولګوه یادا مطلب چه دا زمکه څوڅو ځل پاکه کړې شوې ده او په دې کښې برکتونه اچولې شوی دی بیا بیادوباره شوی دی. خو ډیر صحیح قول هم ړومبې دې لکه چه آیت کښې دی ﴿اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾(۱)ماته خپل ډیرغوره کړې ددنیانه مې ته خوښ کړې. په خپل رسالت اوخپل کلام باندې تا ممتاز کوم. ددې وخت د زمکې د مخ د ټولوخلقو نه ستا مرتبه اوچتوم.
ونیلی شوی دی چه حضرت موسی ﷺ ته اوونیلې شو چه ته پیژنې هم ماتا لره او د ټولوخلقو نه مختار اوخوښ کړې شوې تاته ولې دخبروکولو عزت درکړو؟ هغه جواب ورکړو اې الله ماته د دې وجه معلومه نه ده. اوفرمائیلې شو په دې وجه چه ستا په شان نور څوك ماته داسې نه ټیټیږی. اوس زما وحی ته غوږکیږده خیال کولوسره ئې واوره. هم زه معبود یم بل څوك نشته.هم دا ړومبنۍ فریضه ده ته صرف هم زما عبادت کوه. دبل چا هیڅ قسم عبادت مه کوه. زما د ذکر د پاره مونځونه قایمه وه زما د ذکر دا بهترین او غوره طریقه ده.یادا مطلب چه کله هم زه یادشم نو مونځ کوه. لکه چه په حدیث شریف کښې دی په تاسو کښې که چاله خوب راشی یاپه غفلت کښې شی نوچه کله یادراشی نو مونځ دې اوکړی ځکه چه د الله ﷻ فرمان دې زماد یاد په وخت کښې مونځ کوه.(۲)بخاری اومسلم کښې دی چه کوم سړې د خوب د وجه یا د هیرې په وجه دمونځ وخت تیرکړی نود دې کفاره هم دا ده چه کوم وخت وریادشی نوهم هغه وخت دې مونځ اوکړی. د دې نه علاوه بل څه کفاره نشته.(۳)
**قیامت د الله ﷻ نه سوا هیچاتا نه د ې معلوم**:-قیامت یقینًا راتلونکې دې ممکن دی چه زه دهغې صحیح علم ښکاره نه کړم. په یوقراءت کښې ﴿اُخْفِيْهَا﴾ نه پس ﴿من نفسی﴾لفظ هم دې ځکه چه د الله ﷻ د ذات نه هیڅ څیز پټ نه دې. یعنی د هغې علم به دځان نه بغیربل چاته ورنه کړم. نو په مخ د زمکه داسې څوك نشته چاته چه د قیامت مقرر وخت معلوم وی. دایوداسې څیز دې چه کیدې شوه نود خپل ځان نه به هم مادا څیز پټ کړې وو خود رب نه هیڅ څیز پټ نه دې. دا د ملاتکونه پټ دې او پیغمبران هم د دې نه بې علم دی.لکه چه ارشاد دې ﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ﴾ (۴) د زمکې اوآسمان والا نه بغیردرب واحد نه بل څوك په غیبوباندې پوهیدونکې نشته. بل آیت کښې دی چه قیامت به په زمکه آسمان باندې ډیردروند پریوزی هغه به ناڅاپی راځی.(۵)یعنی د دې علم چاته هم نشته. په یوقراءت کښې ﴿اُخْفِيْهَا﴾ دې رقاء فرمائی ماته حضرت سعیدبن جبیرؓ دغه شان لوستلې دې د دې معنی ده ﴿اظهرها﴾په هغه ورځ به هریوعمل کونکی ته دخپل عمل بدله ورکولې شی. که یوه ذره نیکی وی که بدی وی. دخپلو کړو بدله به په دغه ورځ ضرور ملاویږی نوڅوك دې هم بې ایمانه خلق دهوکه نه کړی. د قیامت منکران د دنیا مفتون د مولا نافرمان د خواهش غلام د الله ﷻ کوم یو بنده چه په دې پاکه عقیده کښې دې هغه ګډوډنه کړی. که هغه په خپله خوښه کښې کامیاب شو نو دې غرق شو او په نقصان کښې پریوتلو.

| بِيَمِيْنِكَ | وَمَا تِلْكَ |
|---|---|
| په ښی لاس ستا کښې. | اواوخه دی دغه |
| اواوائې موسی دا ستا په ښی لاس کښې | |

(۱) ۷۹/النازعات:۱۶.
(۲) احمد:۱۸۴/۳،صحیح مسلم کتاب المساجد باب قضاء الصلاة الفائتة واستحباب تعجیل قضائها:۶۸۴ بتصرف یسیر.
(۳) صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب من نسی صلاة فلیصل اذا ذکر....:۵۹۷، صحیح مسلم:۶۸۴، ابوداؤد:۴۴۲، ترمذی:۱۷۸،
(۴) ۲۷/النمل:۶۵.
(۵) ۷/الاعراف:۱۸۷.

Scanned with Ca

يٰمُوْسٰى ۞ قَالَ هِيَ عَصَايَ ۚ أَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَأَهُشُّ

اے موسی | اووئیل موسی | دا | همسا زما ده | زۀ تکیه وهم | په دې باندې | او راخنډم (پاڼې)

څه څیزدی ؟ موسی ﷺ اووئیل دا زما همسا ده | زۀ په دې باندې تکیه وهم | او خپلو چیلو

بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ أُخْرٰى ۞

په دې سره | ګډو خپلو ته | او دی زمادپاره | په دې کښې | ضروری کارونه | نور هم (ډیر)

دپاره پرې پاڼې راخنډم | اوزما دپاره په دې کښې نورې هم ډیر فائدې دی (څه به درته یوه یوه شمارم)

قَالَ أَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ۞ فَأَلْقٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ

اووئیل الله | اوغورزوه دا | اې موسی | نو وې غورزوله هغه | نو یو دم شو | هغه | مار

الله ﷻ ورته اوفرمائیل چې ائې موسی دا اوغورځوه | چه هغه اوغورځول نوناګهانه هغه مار وو چه

تَسْعٰى ۞ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۗ سَنُعِيْدُهَا

چې منډې ئې وهلې | اووئیل الله | او نیسه دا | او مۀ یریږه | اوبه ګرزوو مونږ دغه همسا

منډې ئې وهلې | نو الله ﷻ اوفرمائیل | چې دا اونیسه او یریږه مه | مونږ دا اوس

سِيْرَتَهَا الْأُوْلٰى ۞

شکل خپل | رومبی ته |

بیا داول په شان (همسا) ګرځوو |

**قوله تعالى:- وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ۞**

**د حضرت موسی ﷺ د همساذکر:-** دحضرت موسی ﷺ دیوې ډیرې لوئې او صفاښکاره معجزې ذکر کولې شی چه دالله ﷻ د قدرت نه بغیرناممکن اود غیرنبی په لاس باندې هم ناممکن ده.په کوه طور باندې داتپوس کیږی چه ستا په ښی لاس کښې څه دی؟دا سوال د دې دپاره وو چه دحضرت موسی ﷺ ویره لاره شی داهم وئیلې شوی دی چه دا سوال د تقریرپه توګه دې یعنی ستا په لاس کښې هم لرګې دې دا چه څنګه دې هم داسې تاته معلومیږی اوس چه به دا څه کیږی هغه ګوره.د دې په جواب کښې کلیم الله عرض کوی دا زما خپل لرګې دې په کوم چه زه ډډه لګوم یعنی په تلو کښې دا ماته امداد راکوی ددې په ذریعه زه د خپلو چیلود پاره د ونونه ګیاپاڼې راخنډم. داسې لرګوکښې اوسپنه لګولې شی دې دپاره چه پاڼې اومیوه په آسانئی سره راوشوکولې شی اولرګې مات هم نه شی.(1) نورې هم ډیرې فائدې په دې کښې دی.

**د موسی علیه السلام د همسا باره کښې اسرائیلی خبرې:-** د دې فائدو په بیان کښې بعضې خلقو داهم وئیلې دی چه هم دالرګې به د شپې یوروښانه چراغ جوړیدلو. د ورځې چه به هغوی اوده کیدل نو هم دې لرګی به دچیلو خیال ساتلوچرته به چه دسوری ځائ نه وو نوموسی ﷺ به داخښولو دې به د خیمې په شان په هغوی سورې کولو وغیره وغیره. په ظاهره داقول د بنی اسرائیلو قصه معلومیږی. ګنې بیا نن چه موسی ﷺ دمار په شکل کښې لیدلو نو ولې به دومره ویریدلو؟ هغه خود دې لرګی عجائبات کتونکې راروان وو.بیاد بعضو دا قول دې چه دا لرګې د حضرت آدم ﷺ وو. خوك وائی چه هم دا لرګې

(1) الدرالمنثور:٥/٥٦٤.

به د قیامت نیزدې دابته الارض په شکل کښې ښکاره کیږي. وائي چه د دې نوم ماشا وو. هم الله ﷻ ته معلومه ده چه په دې اقوالوکښې ترکوم ځائ پورې حقیقت دې؟ حضرت موسی ﷺ ته د لرګی هم لرګي خودلوسره دښه بیدارولو او هوښیاریدلو حکم ملاو شو چه دا په زمکه باندې اوغورزوه. په زمکه باندې غورزولوسره هغه یوزبردست اژدها جوړه شوه او پونکارکولو سره اخوادیخوا ګرځیده بلکه منډې وهلې. داسې خوفناکه اژدها دې نه وړاندې چا هډو لیدلې نه وه. دهغې خو داحال وو چه یوه ونې مخې ته راغله هغه ئې هضمه کړه. یود غرکاڼړې په لار کښې راغلو هغه ئې یوه نوړنی کړه. دې حال کتوسره حضرت موسی ﷺ اولته پښې رامنډې کړې آواز ورکړې شو موسی ﷺ راونیسه خوهمت ئې اونه شو. بیائې اوفرمائیلې شو موسیﷺ ویریږه مه راونیسه. بیاهم ویره باقی وه. په دریم ځل ئې ورته اووئیل ته زمونږ په امن کښې ئې اوس ئې لاس وړاندې کړووئی نیوله. ونیلې شی چه د الله ﷻ فرمان کیدوسره هغه همسا په زمکه باندې راغوزارکړه او بیائې سترګې اخودیخوا شوې. اوس ئې چه خیال اوکړونود لرګی په ځائ یوډیر خوفناك مار ښکاری اوداسې ګرځی لکه چه د چا په لټون کښې وی. د بلاربې اوښې غوندې لوئ لوئ کاڼړی آسمان سره خبرې کونکی او اوچتې اوچتې ونې یوه نوړنی کوی اوخپلې خیتې ته ئې رسوی.سترګې داُورد سروټکو په شان پړقیږی .دې هیبت ناك او تباهی راوستونکې اژدهاته ئې چه اوکتل حضرت موسی ﷺ غلې شوشائی کړه او په منډه اوتختیدو.

بیاد الله ﷻ سره خبرې کول یاد شو نواوشرمیدو اودریدو. هم هلته آواز راغلوموسی ﷺ واپس شه هلته راشه کوم ځائ چه وې. هغه واپس شوخوډیر ویریدلې وو. حکم اوشوچه په خپل ښی لاس سره ئې راونیسه هیڅ ویره مه کوه. مونږ به دا د دې په خپل اصلی حالت کښې راواپس کړو. هغه وخت موسی ﷺ د وړنی کمبل په سرکړې وه کومه چه ئې هغه وخت یوازغی سره زوړند کړې وه. هغه هم دا کمبل د خپل لاس نه راتاوړکړه او دا خطرناکه اژدهائی رانیول غوښتل. فرښتې وئیل موسی ﷺ که الله ﷻ دی ته ستا د ټك درکولو حکم اوکړی نوآیا ستادا کمبل تا بچ کولې شی؟ هغه جواب ورکړو هیڅ کله نه. دا حرکت زما نه زما دکمزورئی په وجه اوشو.زه ضعیف اوکمزورې پیداکړې شوې یم.اوس ئې په بهادرئی سره لاس وړاندې کړو اودسرنه ئې راونیوله. هغه وخت هغه اژدهابیالرګې شو لکه چه څنګه وه. هغه وخت چه دې په دې غونډئی ورختلو اود هغه په لاس کښې هغه همسا وه په کوم ئې چه ډډه لګولې وه په دې حال کښې هغه اول لیدلې وه هم په هغه حال کښې اوس دهغه په لاس کښې همسا موجود وه.

وَاضۡمُمۡ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخۡرُجۡ

اوجوخت کړه | لاس خپل | ترخ خپل ته | را اوبه وځی |

| اوته خپل لاس په خپل ترخ کښې ورکړه | هغه به بغیر د څه عیب نه سپین

بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوۡٓءٍ اٰيَةً اُخۡرٰى ۲۲ لِنُرِيَكَ

تك سپین (ځلیدونکې | بغیر دڅه خرابئ نه | (دا) یوه نښه ده | بله | دپاره ددې چې اوښایو تاته

پړقیدونکې راوځی | دا دویمه نښه ده ددې دپاره چې مونږ تاته خپلې لوئې

مِنۡ اٰيٰتِنَا الۡكُبۡرٰى ۲۳ اِذۡهَبۡ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ اِنَّهٗ طَغٰى ۲۴

دنښو خپلو نه | لوئې | اوس لاړ شه | فرعون ته | بیشکه هغه | سرکشه شوې دې

لوئې نخښې اوښایو | ......... اوس ته فرعون ته ورشه ځکه چې هغه ډیر سرکشه شوې دې

Scanned with Ca

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ ﴿۲۵﴾ وَيَسِّرْ لِیْۤ اَمْرِیْ ﴿۲۶﴾

اووئیل موسی | اے ربه زما | فراخه کړې | زمادپاره | سینه زما | او آسان کړې ماته | کار زما

موسی دعا اوکړه ائې زماپروردیګاره ؛ زما سینه پرانیزه | ..................او زما کار آسان کړه

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ ﴿۲۷﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِیْ ﴿۲۸﴾ وَاجْعَلْ لِّیْ

او پرانیزه | غوټه | د ژبې زما | چې پوهیږی خلق | په خبره زما | او مقرر کړه | زماسره

او زما د ژبې لقنت لرې کړه | چې خلق زما په خبره ښهٔ پوهیږی | او زما دکور په خلقو

وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِیْ ﴿۲۹﴾ هٰرُوْنَ اَخِی ﴿۳۰﴾ اشْدُدْ بِهٖۤ اَزْرِیْ ﴿۳۱﴾

یو مددګار(وزیر) | دخاندان زما نه | هارون | رور زما | مضبوطه کړه | په هغه سره | شا زما

کښې زما یو مددګار جوړ کړه یعنی هارون | چې زما رور دې دهغه په ذریعه زما ملا مضبوطه کړه

وَاَشْرِكْهُ فِیْۤ اَمْرِیْ ﴿۳۲﴾ كَیْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿۳۳﴾

او شریك کړه هغه | په کار زماکښی | دپاره ددې | چې مونږ پاکی بیان کړو ستا | ډیره

اوهغه راسره په دې کار(د نبوت) کښې شریک کړه | چې مونږ ستا ډیره ډیره پاکی بیانوو

وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿۳۵﴾

اومونږ ذکر کوو ستا | ډیر | بیشکه تهٔ | خاص هم تهٔ | په حال زمونږ باند | الیدونکې(خبردار) ئې

اومونږ تاډیر ډیر یادوو | بیشکه ته زمونږ حالات ګورې وینې (ستا نه زمونږ یو حرکت هم پټ نه دې)

**قوله تعالى:-** وَاضْمُمْ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ

**د حضرت موسی ؑ معجزې :-** حضرت موسی ؑ ته دویمه معجزه ورکولې شی. حکم کولې شی چه خپل لاس په خپل ترخ کښې واچوه اوبیائی راوباسه نوهغه به د سپوږمئی په شان پړقیدونکې راوخی. دا نه چه د برګی مرض یا د بلې بیمارئی عیب به وی.[1] نوچه کله حضرت موسی ؑ لاس ورکړو اوبیائی راوویستلو نو د چراغ په شان پړقیدو. په کوم سره چه د هغه یقین اوشو چه هغه د الله ﷻ سره کلام کوی اووروراندې شو.[2] دا دواړه معجزې دلته ځکه ملاوشوې چه هغه د الله ﷻ دا زبردستې نښې اووینی اویقین ئې اوشی. بیاحکم اوشو فرعون زمونږ په دښمنئی ملا تړلې ده هغه له لاړشه او هغه پوهه کړه.

**موسی علیه السلام ته د الله ﷻ وحی او هدایات:-** حضرت وهب ؒ وائی الله ﷻ حضرت موسی ؑ ته د نیزدې کیدوحکم ورکړوچه هغه د هغه ونې تنې سره اولګیدواودریدو. زړه ئی اودریدو ویره او خطره ترې لرې شوه. دواړه لاسونه ئی په خپله همساباندې کیخودل سرئی ښکته کړو سټ ئی ټیټ کړوپه ادب سره ئی دالله ﷻ ارشاد اوریدو. ونی فرمائیل چه دملك مصر بادشاه فرعون له زمونږ پیغام یوسه لاړشه. هم ددغه ځائ نه ته تختیدلې راغلې وې. هغه ته اووایه چه زمونږ عبادت کوی او څوك دې شریك نه

---

[1] الطبری:۱۸/۲۹۷.

[2] الطبری:۱۸/۲۹۸.

Scanned with Ca

منی.بنی اسرائیلو سره دې ښه سلوك او احسان كوى هغوى ته دې تكليفونه او سزاگانې نه وركوى. فرعون ډیرباغی شوې دې د دنیامفتون جوړشوې آخرت ترینه هیرشوې دې اوخپل پیدا كونكې نی هیركړې دې. ته زما رسالت یوسه اوهغه له لاړشه زماسترگې اوزماغوږونه تاسره دی.زه تاته گورم او خیال كوم ستاخبرې اورم اوتاته به اوروم. زما امداد به تاسره وی او ماتاته حجتونه دركړی دی هغې ته قوی اومضبوط كړې نی. ته هم یوازې زماپوره لښكر نی.خپل یوضعیف بنده له تاورلیكم زما نعمتونو ورلیكلوسره هغه پلن شوې دې اوزمارانیول نی هیركړی دی.پدنیاكښې راگیرشوې دې اوپه كبراوغرور كښې ورخښ شوې دې.زماد ربوبیت نه ویزاره شوې اوزمادالوهیت سره مقابله كوی.زما نه نی سترگې اړولی دی سترگې بدلی كړی دی. زما د راگیرولونه غافل شوې دې . زما د عذابونو نه بې ویرېشوې دې. زما دې په خپل عزت قسم وی كه ما هغه ته وخت وركول نه غوښتل نو آسمانونه به په هغه رامات شوې وې. زمكې به هغه راښكلې وو دریابونو به هغه ډوب كړې وو نوهغه زما د مقابلې نه دې هر وخت زما په وس كښې دې هم ما هغه ته وخت وركړې دې اود هغه نه بې پرواهی كوم. اوزه یم هم د ټول مخلوق نه بې پرواه. حق خو دا دې چه بې پرواه كیدل خو صرف هم زما صفت دې ته زما رسالت اداكړه. هغه ته زما د عبادت هدایت اوكړه هغه ته دتوحیداو اخلاص دعوت وركړه. زما نعمتونه وریادكړه. زما د عذابونونه ئې اوویروه زما په غضب باندې خبر كړه.كله چه زه غصه كوم نو امن نه پاتې كیږی. هغه په نرمئی سره پوهه كړه چه د نه منلوعذر ئې مات شی.زما د ښښنې او زما د رحم او كرم خبرهغه ته وركړه. ورته اووایه كه اوس هم زما طرف ته تیټ شوې نو زه به درته هغه ټولې بدعملنې پریږدم. زما رحمت زمادغضب نه ډیر زیات كولاودې. خبردار د هغه دنیاوی دبدبه كتلوسره په رعب كښې مه راځه د هغه مرئی زما په لاس كښې ده د هغه ژبه روانیدې نه شی د هغه لاس اوچتیدې نه شی هغه سترگه رپولې نه شی د هغه سا روانیدې نه شی تركومې چه زما اجازت نه وی. هغه پوهه كړه چه زما اومنی نو زه به هم ورسره په مغفرت سره مخ شم. څلور سوه كاله د هغه په سركشئی زما په بندیگانو باندې په ظلم كولو اوزما د عبادت نه خلق منع كولوكښې تیرشو. خو بیاهم ما نه په هغه باندې باران بندكړو نه مې پرې پیداوار بندكړو نه مې بوډاكړو نه مې مغلوب كړو.كه غوښتل مې نوپه ظلم سره به مې رانیولې وو خوزما حلم ډیر زیات دې. ته د خپل زور سره یوځائ شه هغه سره پوره جهاد اوكړئې اوزما په امدادباندې یقین ساتئې. كه زه اوغواړم نو خپل لښكر به وراولیكم او د هغه بنیاد به ختم كړم خوده ته زه دا ښایم چه زما د ډلې یوكس هم په مخ د زمكه په طاقت سره غالب راتلې شی. امداد زما په لاس كښې دې اود دنیاوی شان اوشوكت ته پرواه مه كوه بلكه یونظر ورته گوره هم مه. كه زه غواړم نوتاته به دومره دركړم چه د فرعون دولت به د هغې پارسنگ هم نه وی.خو زه خپل بندیگان عموماً غریب ساتم دې دپاره چه دهغوی آخرت ښه وی. دا په دې وجه نه وی چه هغوی زما په نیز قابل اكرام نه وی بلكه صرف د دې وجه نه چه د دواړوجهانو نعمتونه په راتلونكی جهان كښې راجمع ملاوشی. زما په نیز دبنیادم یوعمل ددومره وقعت والانه دې څومره چه دزهداودنیانه لریوالې.زه خپلو خاص بندیگانو ته سكینه اود خشوع اوخضوع لباس وراغوندم. د هغوی مخونه د سجدو په پړق سره روښانه كیږی. هم دغه رښتونی اولیاءالله دی. د هغوی په وړاندې هریوله پكار دی چه په ادب سره اوسی. آیا ماسره د جنگ كولواراده لرونكې كامیاب كیدې شی؟ كه ما د قهر په نظر هغه ته اوكتل نوهغه به تهس نس شی. زما دښمنان په ما غالب نه شی راتلې.زما هیڅ نه شی كولې زه د خپلو دوستانو پخپله امداد كوم.هغوی د دښمن ښكار كوم نه. په دنیااوآخرت كښې هغوی كامیاب كوم اود هغوی امداد كوم.

**سوانح موسی علیه السلام او فرعون ته ورتگ:**-حضرت موسی ﷺ د خپل وړوكوالی زمانه هم د فرعون په كور كښې تیره كړې وه بلكه د هغوی په غیږو كښې ئې تیره كړې وه. د ځوانئی پورې د هغه په ملك

Scanned with Ca

مصر کښې د هغه په بادشاهئی کښې اوسیدلې وو. بیا یو قبطی بې ارادې د هغه د لاسه مړشوې وو د څه په وجه چه هغه د دې ځایٔ نه تختیدلې وو. نو د هغه وخت نه واخله تراوسه پورې ئې د مصر شکل نه وو لیدلې. فرعون یوسخت زړه والا بداخلاق کبرژن مزاج اوبدعمله انسان وو. کبر او غرور ئې دومره زیات شوې وو چه وئیل به ئې زه رب نه پیژنم. خپلو خلقو ته به ئې وئیل ستاسوغټ رب زه یم. په ملك اومال دولت او سامانونوکښې لښکرو او وسلوکښې په مخ د زمکې د هغه د مقابله څوك نه وو. کله چه حضرت موسی ﷺ ته د هغه دهدایت کولو حکم اوشو نو هغه د الله ﷻ نه دعا اوکړه چه زما سینه کولاوکړې اوزما په کارکښې آسانی پیداکړې. د هغوی په وړوکوالی کښې د هغوی مخې ته کهجورې او سروټکې کیخودې شوې وې هغه سروټکه اوانګار په خپله خُله کښې اچولې وه په دې وجه ئې په ژبه کښې تتوالې شوې وو نودعا ئې اوکړه چه زما د ژبې دا غوټه کولاوکړې.

**انبیاء علیهم السلام صرف د خپل حاجت مطابق الله ﷻ نه سوال کوی زیات نه :-** دحضرت موسی ﷺ دې ادب ته اوګوره چه د حاجت مطابق سوال کوی داعرض نه کوی چه زما ژبه دې بالکل صفاشی بلکه دا دعاکوی چه هغه دې کولاوشی دې دپاره چه خلق زماپه خبره پوهه شی. انبیاءکرام علیهم السلام د خپل حاجت مطابق دالله ﷻ نه سوال کوی وړاندې کیږی نه. نو د هغوی په ژبه کښې بیا هم څه اثر پاتې شوې وو لکه چه فرعون وئیلې وو چه زه بهتریم که دې؟ څوك چه صفاخبرې هم نه شی کولې. حسن بصری رحمه الله وائی چه د یوې غوټې دکولاویدو دعائی کړې وه چه پوره شوه. که پوره دعائی کړې وه نوهغه به هم پوره شوې وه. هغوی صرف د دې دعاکړې وه چه دهغوی ژبه داسې شی چه خلق د هغه په خبره پوهیږی.

**د موسی علیه السلام دعاګانې:-** حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی ویریدلو چه هغه د قتل په الزام کښې قتل نه کړی. د هغې دعائی اوکړه چه قبوله شوه. په ژبه کښې تتوالې وو د هغې دعائی اوکړه چه ژبه مې دومره صفا شی او خلق مې په خبره پوهه شی دا دعائی هم پوره شوه. دعائی اوکړه چه هارون هم نبی جوړکړه نو هغه هم پوره شوه. حضرت محمدبن کعب رضی الله عنه له د هغه یورشته دار راغلو اووئی وئیل دا خو ډیر کمې دې چه ته په خبرو کښې خبرې کوې هغه وئیل وراره ولې ته زما په خبره نه پوهیږې؟ وئیل او په پوهه کښې خو مې راخی نوونی فرمائیل چه دا کافی دی. حضرت موسی ﷺ هم د الله ﷻ نه دغه دعاکړې وه. بیائی نوره دعااوکړه چه زما دخارجی او داظاهری امداد د پاره زما وزیر جوړکړه اوهغه دې هم زما د خاندان نه وی یعنی زما رور هاورن ته نبوت ورکړه. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی هم هغه وخت حضرت هارون ﷺ ته د حضرت موسی ﷺ سره پیغمبری ملاوشوه.

**کوم رور د خپل رور پحقله دټولو نه ښکلې دعا کړې ده :-؟** حضرت عائشه صدیقه k د عمرې د پاره تله نو د یواعرابی کره ډیره شوه چه اوریدل ئې چه یوسړی تپوس کولو چه په دنیاکښې کوم یو رور د خپل رور د پاره د ټولو نه زیاته نفع رسولې ده؟ په دې سوال باندې ټول چپ شو اووئیل مونږ ته د دې علم نشته. هغه وئیل په الله ﷻ باندې قسم ماته د دې علم شته. صدیقه k فرمائی چه ما په زړه کښې وئیل ګوره داسړې خومره بې خایه زړه ورتیاکوی. بغیرد ان شاء الله نه قسم خوری. خلقو د هغه نه تپوس اوکړو چه اوښایه هغه وئیل حضرت موسی ﷺ خپل رور ته په خپله دعاسره نبوت ورکړو. ماهم دا واوریده او په زړه کښې ډیره حیرانه شوم چه خبره خوده رښتیااوکړه. په حقیقت کښې یو رور هم بل رور ته د دې نه زیات نفع نه شی رسولې. الله ﷻ رښتیافرمائیلی چه حضرت موسی ﷺ د الله ﷻ په نیز ډیر عزت دارو. د دې دعا په وجه سره بیان کوی چه زما ملامضبوطه شی اوزما په مشاورت کښې وی. زما په کارکښې هغه هم زما ملګرې جوړکړه دې د پاره چه مونږ ستا تسبیح په ښه شان سره بیان کړو. هروخت ستا پاکی بیانوو او ستا ذکر په کثرت سره کوو.

حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه بنده د الله ﷻ ډیرذکرکونکې هغه وخت کیدې شی چه هغه په ناسته

Scanned with Ca

ملاسته ولاړه د الله ﷻ په ذکر کښې مشغول وی چه ته مونږ ته ګورې دا ستا رحم اوکرم دې چه تامونږ غوره کړو مونږ ته دې نبوت راکړو اومونږ دې د خپل دښمن په وړاندې پیغمبران جوړ کړو اود هغه د هدایت د پاره دې اولیګلو. ستا شکر دې او هم ستا د پاره دی ټول تعریفونه. ستا په دې نعمتونو باندې مونږ ستا شکر کونکی یو.

قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى ۝ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ

اوونیل الله | درکړې شوه تاته | غوښتنه ستا | اې موسی | او احسان اوکړو مونږ | په تاباندې

الله ﷻ ! تاچې څه اوغوښتل هغه تاته درکړې شو|او مونږ (ددې نه مخکښې) په تاباندې

مَرَّةً اُخْرٰٓى ۝ اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ۝

یو ځل| بیا | یاد کړه کله چې | اشاره اوکړه مونږه | مور ستا ته | هغه چې د وحی په ذریعه کیدې شی

یوبل ځل هم احسان کړې وواچې ستا مور ته مو د هغې خبرې الهام اوکړو چې دالهام قابله وه

اَنِ اقْذِفِيْهِ فِى التَّابُوْتِ فَاقْذِفِيْهِ فِى الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ

چې واچوه دې|په صندق کښې | او واچوه دغه صندق |په دریاب کښې| نو اوبه غورزوی هغه صندق لره

یعنې داچې موسی په یو صندق کښې واچوه| او بیا هغه (صندق) په دریاب کښې لاهو کړه| نو دریاب

الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّىْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ؕ وَاَلْقَيْتُ

دریاب| په غاړه باندې |چې رااوبه نیسی دهٔ لره | دشمن زما | او دشمن دهغه| اوواچوهٔ ما

به ئې په خپله غاړې ته راولی | اوهغه څوک بهٔ اونیسی چې زما هم دښمن دې او ددهٔ هم دښمن دې

عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّىْ ۚ وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِىْ ۝ اِذْ

په تاباند | محبت | دخپل طرفه | او چې تربیت اوشی ستا | وړاند دسترګو زما | یاد کړه کله چې

اومايه تاندې د خپل طرفه د خلقو مینه پیدا کړې وه| اوداچې خاص زما په نګرانئ کښې ستا پالنه اوشی|ه کله چې

تَمْشِىْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ يَّكْفُلُهٗ ؕ

روانه وه | خور ستا | نو وې وئیل هغې | آیا زهٔ اوښایم تاسو ته | هغه څوك | چې پالنه اوکړی ددهٔ

ستا خور ورغله او او وې وئیل| چې آیا زه درته دداسې خلقو خبر درکړم چې هغوئ به ئې (دیره ښهٔ) پالنه اوکړی

فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا

دغه شان واپس راوستې مونږ تهٔ | مور ستا ته | دپاره ددې | چې یخې شی | سترګې دهغې |

نومونږ ته خپلې مور ته بیا وزواپس کړې.........اچې دهغې سترګې درباندې یخې شی

وَلَا تَحْزَنَ ۬ؕ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ

او غمژنه نشی | او مړ کړو تا | یو سړې | نو خلاص کړې مونږ تهٔ |ددې غم نه |او ازماتیلې مونږ ته

اوغمژن کیږی نه | اوتایو سړې قتل کړې ووا نو تاته مې ددغه غم نه نجات درکړو| اوته مو په قسم قسم

Scanned with Ca

| |
|---|
| فُتُونًا ۵ |
| په آزمښتونو سره |
| امتحانونو کښې واچولې |

**قوله تعالى:- قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَٰمُوسَىٰ**

**دحضرت موسى عليه السلام تفصيلي حالات:-** دحضرت موسى عليه السلام ټولې دعاګانې قبولې شوې او اوفرمائيلې شو چه ستا درخواست منظور دې.ددې احسان سره ئې ديوبل احسان ذکرهم اوکړوچه مونږپه تاباندې يوځل بل لوئ احسان هم کړې دې بيائې داواقعه په مختصرتوګه باندې وريادکړه چه مونږ ستا په ووکوالي کښې ستامور ته وحى راوليګله د کوم ذکر چه اوس تاته کولې شي. ته هغه وخت پنې روونکې بچې وې ستا مور فرعون اوفرعونيانو راګيره کړې وه ځکه چه په هغه کال هغه د بنى اسرائيلو هلکان قتل کول. ددې ويرې به هغه هروخت رچيده نومونږ وحى اوکړه چه صندوق جوړکړه. پنې ورکړه او داماشوم په دې صندوق کښې سملاوه. په دريائى نيل کښې داصندوق پريږده. هغې هم داسې کول يوه رسئى ئى په دې پورې ترلې وه د کوم يو سرچه به ئى خپل کور سره تړلو. يوه ورځ ئى تړلو چه رسى د لاس نه خلاصه شوه او صندوق چپو يوړو. اوس ئى وارخطا شو.دومره خفه شوه چه صبر ناممکن شو.راز ئى ښکاره کولو خومونږ ورله زړه مضبوط کړو.صندوق په اوبو کښې د فرعون محل سره تيريدو. آل فرعون هغه راوچت کړو د کوم غم نه چه هغه ځان محفوظ ساتل غوښتل هغه د هغه مخې ته راغلو. د کوم ژوند شمع چه مړه کولو د پاره هغه بې ګناه ماشومان قتل کول هغه هم دهغه په تيلو سره هم هغه کره روښانه شوه. اود الله ﷻ ارادې به بغيربنديزنه پوره کيږى.د هغه دښمن هم د هغه په لاس کښې لوئيږى هم د هغه خوراك کوى او هم د هغه په تربيت کښې دې.

**موسى عليه السلام د فرعو په په کور کښې بيا دمور په غيږ کښې:-** پخپله فرعون اود هغه بى بى چه کله ماشوم اوليدو نو د هغوى په رګ رګ کښې ورسره مينه پيدا شوه اوچت ئى کړو او پالنه ئى شروع کړه. دسترګو ستورې ئى ګڼړلو.دشهزادګانو په شان په نازونعم کښې لوئيدلو.په بادشاهى درباركښې اوسيدلو. الله ﷻ خپله مينه په تاباندې درواچوله. سره د دې چه فرعون ستا دښمن وو خود رب خبره څوك بدلولې شي؟ په فرعون باندې څه سخته وه چه ته ئى اخستې او په تاباندې قربانيدل. داد دې د پاره چه ستا پالنه زما د سترګو په وړاندې وى.[1]بادشاهى خوراکونه کوه او په عزت اوقدر سره اوسيږه. فرعونيانو صندوقچه راوچته کړه کولاوئې کړه وئې کتله ماشوم ئى اوليدو نو د پالنې اراده ئى اوکړه. هغه د يوې دائى پئى نه اخستل بلکه خُلې ته ئى نه پريخودل. خورئى صندوقچه سره په غاړه غاړه روانه وه هغه هم په موقعه باندې اورسيدله وئې وئيل که تاسود ده دپالنې خواهش کوئى او معقول اجرت هم ورکوئى نوزه درته يوکورنئى اوښايم چه دې به په مينه پالى او دخيرخواهئى سلوك به ورسره هم کوى. ټولو وئيل اومونږ تياريو دوى ئى واخستل او خپلې مور له ئى بوتلل کله چه ماشوم په غيږ کښې واچولو نو هغه زر خُله کيخوده اوپئى څکل ئى شروع کړه. په دې باندې فرعون کره ډيرې خوشحالئى اوکړې شوې اوډير انعام اواکرام ورکړې شو. تنخواه مقرره شوه هم خپل بچى باندې پئى څکوى تنخواه انعام عزت اواکرام ئى هم بيامونده. دنياهم ملاوشوه او دين هم زيات شو.

په دې وجه په حديث شريف کښې دى چه څوك خپل کاراوکړى او په نيك نيتئى سره ئى اوکړى د هغه مثال دموسى عليه السلام د مور په شان دې. چه هم خپل خوئ باندې پئى څکوى او مزدورى هم ملاوشى او دا

[1] الطبرى:۱۸/۳۰۳.

Scanned with Ca

هم زمونږ مهرباني ده چه مونږ ته هم دخپلې مورغیږ ته حواله کړې دې دپاره چه دهغې غم کم او سترګې یخې وی. بیاستادلاسه یو فرعونی قبطی اووژلې شو نو بیا هم مونږ ته بچ کړې. فرعونیانو ستادقتل اراده کړې وه رازښکاره شوې وو. تاته مود دې ځائ نه خلاصې درکړو. ته اوتختیدې د مدین کوهی ته لاړې سادې واخسته. زمونږ یونیك بنده تاته خوشخبری واوروله. اوس هیڅ ویره نشته د دې ظالمانونه تاخلاصې بیاموندو ته مونږ د ازمیښت په توګه په نورو فتنوکښې هم واچولې.

(وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا) څه وو ؟دهغې تفصیلات .اوله فتنه:-حضرت سعیدبن جبیر رحمه الله فرمائی چه ما د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه د دې باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل اوس خو ورځ په ډوبیدوده واقعات ډیردی بیا به ګورو.ما په دویم سحرکښې بیاسوال نو هغوی اوفرمائیل واوره د فرعون په دربارکښې یوه ورځ د دې خبرې چیړ چاړ اوشو چه د الله ﷻ وعده حضرت ابراهیم عليه السلام خلیل الله سره دا وه چه د هغوی په اولاد کښې به انبیاء او بادشاهان وی نو اسرائیلان ترننه پورې ډیر په انتظاردی اود هغوی دا یقین دې چه دمصرحکومت به بیا د هغوی لاس ته ورځی. اول خود دوی خیال وو چه دا وعده دحضرت یوسف عليه السلام باره کښې وه خوچه کله د هغوی د وفات پورې دا وعده پوره نه شوه نواوس هغوی عقیده لری چه الله ﷻ به په دوی کښې یوپیغمبر رالیګی دچا په لاس چه به هغوی ته سلطنت هم ملاویږی اودهغوی قومی اومذهبی ترقی به هم کیږی.دې خبروکولوسره فرعونیانودمشاورت یو مجلس مقررکړو چه اوس څه اوکړوچه آئنده خطرې نه محفوظ پاتې شو.آخر په دې جلسه کښې دا قرار داد منظور شو چه د پولیس یوه محکمه مقررکړې شی چه د ښار ګشت دې لګوی او په بنی اسرائیلو کښې چه کوم نارینه اولاد پیدا کیږی هغه دې هم هغه وخت په سرکار کښې دې پیش کړی اوحلال دې کړې شی. خوچه کله یوه موده تیره شوه نود هغوی خیال رابیدار شو چه داسې خو به بنی اسرائیلیان تباه شی اوچه کوم ذلیل خدمتونه د هغوی نه اخستې شی اوکوم بیګارونه د هغوی نه حاصلیږی ټول به اودریږی. په دې وجه دا تجویزاوکړې شو چه اوس یوکال د هغوی ماشومان پریږدئی اویوکال د هغوی ځامن قتل کوئې. دغه شان به د موجوده بنی اسرائیلو تعدادهم نه زیاتیږی اونه به دومره کمیږی چه مونږ ته دخپل خدمت کولو د پاره هم ملاؤنه شی.

**دهارون علیه السلام پیدائش په هغه کال وو چې ماشومان نه قتلیدل:**-څومره بوډاګان چه په دووکالوکښې مړه شی دومره ماشومان به په یوکال کښې پیداشی.په کوم کال چه قتل وقوف شوې وو په هغه کال خو حضرت هارون عليه السلام پیداشو اوپه کوم کال کښې چه دعاموماشومانو قتل روان وو هغه کال کښې حضرت موسی عليه السلام پیداشو. هغه وخت د موسی عليه السلام د مور د ویرې او پریشانئی به څه تپوس کوې؟ بې اندازې وه اویوه فتنه خودا وه.

**دویمه فتنه** :-دا خطره خو هغه وخت لرې شوه کله چه الله ﷻ وحی اوکړه هغې له راغله چه خطره او ویره مه کوه مونږ به دې تاته بیٰا راواپس کړو اودې به خپل رسول جوړوو. د الله ﷻ په حکم سره ئی خپل ماشوم په صندوقچه کښې رابندکړه او په دریاب کښې لاهوکړه. کله چه صندوق د نظر نه پناه شو شیطان ورته په زړه کښې وسوسې اچول شروع کړه چه افسوس دې نه خو هم دابهتره وه چه هم زما په وړاندې ئی حلال کړې وې نو ما به هغه پخپله کفن دفن کړې وو ولې اوس خو هغه ماد خپله لاسه د کبانوښکارجوړکړو. دا صندوق هم داسې روان وو اوخاص د فرعون ګودرسره اولګیدو. هلته دغه وخت د محل نوکرانې موجود وې هغوی دا صندوق اوچت کړو او غوښتل ئی چه دا کولاوکړیوئی ګوری خو بیا اوویریدې چه هسې نه څه غلا وی. هم داسې ئی تاله کړې صندوق د فرعون بیګم صاحبې له اورسولو. هغه د بادشاه او بیګم په وړاندې کولاوکړې شو نود هغې نه یود سپوږمئی په شان وړوکې ماشوم راووتلودهغه په کتوسره دفرعون دښځې زړه د هغه په مینه کښې د خوشحالئی نه په ټوپونوشو.

Scanned with Ca

بل طرف ته د موسی ﷺ دمور حالت خراب شو. د خپل دې ماشوم د خیال نه د هغې په زړه کښې بل څه تصور نه وو. بل خواهغه قصابان چه د حکومت د طرف نه د ماشومانو د قتل کولو په محکمه کښې نوکران وو چه هغوی دې خپلې چړې تیرې کړی وړاندې دې شی اود ملکه نه ئې غوښتنه اوکړه چه دا ماشوم هغوی ته حواله کړی چه هغوی ئې حلال کړی. اې ابن جبیر رحمه الله دا دویمه فتنه وه.

**دریمه فتنه:**-آخر ملکه جواب ورکړو چه صبراوکړئې زه بادشاه سره پخپله خبره کوم اودا ماشوم ترې غوارم. که هغه ماله راکړو نوصحیح ده که نه وی نو تاسو ته اختیار دې. هغه راغله او بادشاه ته ئې اووئیل چه داماشوم خو به زما اوستا د سترګو یخوالې ثابت شی. هغه خبیث وئیل چه بس هم ته پرې خپلې سترګې یخه وه زما به هغه څنګ یخوالې شی. ماته د دې هیڅ ضرورت نشته. رسول الله ﷺ په قسم سره فرمائی که هغه هم دا وئیلې وې چه اوزما دسترګو یخوالې هم دې نو الله ﷻ الله ﷻ به هغه ته هم خامخا نیغه لار خودله لکه څنګه چه د هغه بی بی په هدایت باندې مشرف شوه. هغه پخپله د دې نه ځان محروم ساتل غوښتل نو الله ﷻ هم هغه محروم کړو.

آخر ئې فرعون په اخوادیخواسره راضی کړواود ماشوم د پالنې اجازت ئې حاصل کړو. اوس چه دمحل څومره دایانې نوکرانې وې ټولې راجمع کړې اود یوې یوې په غیږ کښې دا ماشوم ورکړو خو الله ﷻ د ټولو پئی په هغه باندې حرام کړل هغه د هیڅ چا پئی هم په خُله نه کړه. دې سره ملکه اوویریدله چه دا خو ډیرداوشو دا ښکلې ماشوم به داسې هلاک شی. آخر ئې حکم اوکړو چه دې بهر بوځئی او یواخوابل خوا لټون اوکړئی که د چا پئی دا ماشوم قبول کړی نو هغوی ته ئې په منت او زارئی سره ورکړئی. بهر په بازار کښې یو میله غونډې اولګیدله هرسړې د دې نیک بختئی نه ځان پوره کول غوښتل خوحضرت موسی ﷺ د چا پئی هم اونه څکل. د هغوی مور خپله مشره لور د هغه خور بهر رالیګلې وه چه بهر ګوره چه څه کیږی. هغه په دې ګڼړه کښې موجود وه اوداهر څه ئې کتل اواوریدل.کله چه داخلق عاجز راغله نوهغې اووئیل که تاسو غواړئی نو زه به تاسو ته یو داسې کور اوښایم چه د ده پالنه اوکړی او هغوی به وی هم د ده خیرخواه. دې وینا سره خلقو ته شك شو چه دا جینئی خامخا دا هلك پیژنی اود ده کور هم پیژنی. اې ابن جبیر رحمه الله دا وه دریمه فتنه.

**څلورمه فتنه:**-خو الله ﷻ دې جینئی ته پوهه ورکړه اوهغې زر اووئیل ښه ده تاسو دومره هم نه پوهیږئی چه څوك بدنصیب به وی چه د دې ماشوم په خیر خواهئی یا پالنه کښې به کمې اوکړی کوم ماشوم چه زمونږ د ملکه مینه وی. څوك به دا نه غواړی چه دا دې مونږ کره لاړشی چه د انعام اواکرام سره د هغوی کور ډك شی.دې اوریدو سره د ټولو په پوهه کښې راغله اودائی پریخوده. وئی وئیل چه ښه ده وایه ته کومه یوه دائی د ده دپاره تجویز کوې هغې وئیل زه ئې اوس راولم. په منډه لاړه او خپل مور ته ئې زیرې ورکړو مور ئې ښه په شوق او په امید راغله. خپل خوږ بچې ئې په غیږ کښې واخستو خپل پئی ئې په خُله کښې ورکړه ماشوم په ډکه خیټه اوڅکل. هم هغه وخت په شاهی محلونوکښې دا زیری اوګرځولې شو. ملکه داحکم اوکړو ډیر زردادائی اوماشوم ماله راولئی. کله چه مور اوخوئ لاړل نود خپل وړاندې ئې په هغه باندې پئی اوڅکل اودې کتوسره چه ماشوم په ښه شان سره پئی څکی ډیره خوشحاله شوه او وئی وئیل دائی مورې زما دې ماشوم سره هغه محبت دې چه د دنیا بل څیز سره نه دې ته هم دلته په محل کښې اوسیږه اود دې ماشوم پالنه کوه.

خودحضرت موسی ﷺ موربی بی ته د الله ﷻ وعده یاده وه اود هغې پوره یقین وود دې وجه نه لړه شان اودریده او وئی فرمائیل چه دا خوناممکن دی چه زه خپل کور او بچی پریږدم او دلته اوسیږم. که چرې تاسو غواړئی نودابچې ماته حواله کړئی زه به ئې خپل کورته بوځم اود ده په پالنه کښې به هیڅ قسم کوتاهی نه کوم. ملکه صاحبې مجبوراداخبره هم اومنله اوهغې پدغه ورځ په خوشحالئی

خوشحالۍ سره خپل بچې خپل کور ته راوستلو.ددې ماشوم په وجه د دې محله بنی اسرائیلوهم د فرعونی ظلمونونه خلاصې بیاموندو. کله چه وخت تیرشو نود بادشاه بیگم حکم راولیگلو چه یوه ورځ زما بچې ماله راوله.یوه ورځ مقرره شوه ټول درباریانود سلطنت حکم اوشو چه نن به زما بچې ماله راځی. تاسو ټول قدم په قدم باندې د هغه استقبال اوکړئی او په ښه دهوم دهام سره نذرونه ورکولوسره هغه زما محل ته راولئی. کله چه سورلی روانه شوه نو د هغه ځایٔ نه دسلطانی محل پورې برابر تحفې تحائف نذرونه او هدیې پیش کولې شوې او په ډیر عزت او اکرام سره هغه دلته راورسیدو. پخپله بیگم صاحبه هم ډیر لوئی رقم پیش کړو اوډیره خوشحالی اوکړه. بیانی ونیل چه زه خو به دا بادشاه له بوځم هغه به هم ده ته انعام او اکرام ورکوی. بوئی تلو اود بادشاه په غیږ کښې سملولو. حضرت موسی ﷺ دهغه ږیره اونیوله او په زوره نې راښکله. فرعون غصه شو اود هغه درباریانواوونیل څه عجیبه ده چه داهم هغه هلك وی دا فوراً قتل کړه.

**پنځمه فتنه**:-اې ابن جبیردا وه څلورمه فتنه. ملکه بې تابه شوه اوزرئی اوونیل اې بادشاه دا څه اراده کوې؟ تا دا ماله راکړې دې او ماداخپل خوئ جوړکړې دې بادشاه ونیل دا ټول ټیك دی خو گورې نه چه په راتلوسره زما ږیره اونیوله او زما بې عزتی اوکړه لکه چه هم دازماراغورزونکې اوما تباه کونکې دې.بیگم صاحبه اوفرمائیل بادشاه ماشومان پدې څیزونوڅه پوهیږی.گوره زه درته یوه فیصله کونکې خبره ښایم دده مخې ته یودوه سروټکې دأورسرې کیږده اودوه مرغلرې داوبوپه شان پړقیدونکې کیږده بیاگوره چه دې څه اوچتوی؟که مرغلرې اوچتې کړې نوپوهه شه چه په ده کښې عقل دې اوکه د أور سروټکې اوچتې کړې نو په ده کښې عقل نشته. چه کله عقل او تمیز نشته نو بیا د ده په ږیره نیولو باندې دا دومره لوئ خیالات کولو سره د ده د ځان دښمن کیدل د کوم ځایٔ عقل مندی او هوښیار توب دې؟ هم دغه شان اوشو او دواړه څیزونه د هغې مخې ته کیخودې شو. هغه سرې کړې سروټکې اوچتې کړې او هم هغه وخت نې ترې واخستې چه هسې نه لاس ئې اوسوزی اوس د فرعون غصه یخه شوه او بدل شو دهوا رخ ټیك شو. حق خبره خودا ده چه الله ﷻ ته کوم یوکار منظور وی هغې د پاره قدرتی اسباب راپیدا کیږی. د حضرت موسی ﷺ د فرعون په دربارکښې خاص محل اود هغه د ښځې په غیږ کښې د هغه تربیت او پالنه کیږی تردې چه هغه ښه عمر ته اورسیدو اوبالغ شو.

اوس خودفرعونیانو چه کوم ظلمونه په بنی اسرائیلوکیدل په هغې کښې هم کمې راغلو ټول په امن او امان کښې وو. یوه ورځ حضرت موسی ﷺ چرته روان وو د یوفرعونی او اسرائیلی جنګ وو. اسرائیلی حضرت موسی ﷺ ته فریاد اوکړو هغه له سخته غصه ورغله ځکه چه دغه وخت کښې دې فرعونی دا بنی اسرائیلی راگیر کړې وو.هغه ده له یوه موکه ورکړه اود الله ﷻ شان وو چه هغه مړشو. دا خو خلقو ته معلومه وه چه حضرت موسی ﷺ د اسرائیلی خلقو طرفداری کوی خوخلقو د دې وجه تراوسه پورې هم داګنړله چه هغه هم ددوی نه پئی ځکلی دی په دې وجه د هغوی طرفدار دې. د اصلی راز علم خو صرف د هغه مور بی بی ته وو اوممکن دی چه الله ﷻ خپل کلیم ته هم معلوم کړې وی. دې نی چه مړا ولیدونوموسی ﷺ اوویریدو چه داخو شیطانی حرکت دې او هغه دهوکه کونکې اوښکاره دښمن دې. بیانی د الله ﷻ نه معافی اوغوښتله چه اې الله ما په خپل ځان باندې ظلم اوکړو ما معاف کړه. پروردګارهم د هغه د دې خطا نه معافی اوکړه اوهغه خو هم غفور اورحیم دې. د قتل معامله وه نوهغه بیا هم ویریدلو په دې خیال کښې ووچه معامله خو چرته ښکاره شوې نه ده. هلته فرعون ته شکایت اوشوچه یوقبطی یوبنی اسرائیلی وژلې دې.فرعون حکم جاری کړوچه د واقعه پوره تحقیق اوکړئی قاتل پوره لټون اوکړئی رائی ولئی اود جرم ثابتیدلو په صورت کښې هغه هم قتل کړئی. پولیس هر قسم کوشش اوکړو خود قاتل څه پته اونه لګیده. اتفاقی خبره وه چه بله ورځ موسی ﷺ بیا چرته روان

ووچه هم هغه بني اسرائيلي يوبل فرعوني سره لګيادې جګړه کوي.دموسی ﷺ په ليدو باندې هغه فرياد شروع کړوخوهغه دا محسوس کړه چه کيدې شي موسی ﷺ په خپل پروني کار باندې پښيمانه دی. حضرت موسی ﷺ ته هم د هغه هروخت جنګ جګړې ښه معلوم نه شوې نو ورته ئې اوونيل ته ډير جنګالي ئې.دې وينا کولوسره هغه دا فرعوني راښيول غوښتل خو دې اسرائيلي بزدل دااوګڼړل چه ګني دې مانه خفه دې اوهم ما راښيول غواړي.

دادهغه صرف بزدلانه خيال وو هغه خو هم هغه فرعوني راښيول غوښتل اودې ئې بچ کول غوښتل خود ويرې او وارخطاکيدو په وجه د هغه د خُلې نه ناڅاپي دا اووتل لکه تاچه پرون کوم سړې قتل کړې نن ما هم هغه شان وژل غواړې؟دې اوريدو سره هغه فرعوني دې پريخودواومنډه ئې کړه اوتختيدو او سرکاري سپاهيانوته ئې ددې خبر ورکړو.فرعون ته هم قصه معلومه شوه اوهم هغه وخت ئې جلاديانو ته حکم ورکړوچه موسی ﷺ راونيسئي او قتل ئې کړئي.دا خلق په عامه لار د هغه په لټون کښې لاړل. بل خوا يويني اسرائيلي لار پريخوده او په يوه لنډه لار ئې موسی ﷺ ته ځان اورسولو او موسی ﷺ ئې خبرکړو. اې ابن جبيردا شوه پنځمه فتنه.

**شپږمه فتنه:-** موسی ﷺ دې اوريدو سره خپل موتې بندکړل او د مصر نه اوتختيدو. نه چرته پيدل تلې وو اونه چرته څه مصيبت کښې راګيرشوې وو د شهزادګانو په شان په مينه محبت کښې لوئې شوې وو نه د لارې نه خبرو اونه چرته د سفر موقع راغلې وه. په رب باندې يقين اوکړو او دا دعائې اوکړه اې الله ماته نيغه لار اوښايه او روان شو.تردې چه د مدين حدودوته اورسيدو. دلته ئې چه اوکتل خلقو خپلو څاروو ته اوبه ورکولې. هلته ئې دوه جينکئي اوليدلې چه خپل څاروی رامنع کړې ولاړې وې. تپوس ئې اوکړو چه تاسو خپلو څاروو ته د دوی سره ولې اوبه نه ورکوئي؟ځان له ولاړې دا ولې مو رايسار کړي دي؟ هغوی وئيل په دې رش کښې مونږ څاروو ته اوبه ورکولې نه شومونږ خوچه داخلق اوبه ورکړي نو باقي بياخپلو څاروو ته ورکوو هغه وراوړاندې شو اود هغوی څاروو باندې ئې اوبه اوڅکلې. ډير زر ئې اوبه راښکلې هغه ډير طاقت کښې سړې وو د ټولونه وړاندې ئې د هغوی څاروی خړوب کړل. دوی خپلې چيلئي واخستې او خپل کورته روانې شوې. اوهغه د يوې ونې لاندې کيناستو او الله ﷻ ته ئې دعاکوله زه ستادښولو مهربانو محتاج يم. کله چه دا دواړه جينکئي خپل پلار له اورسيدې نو هغه اوونيل چه دا نن څه خبره ده چه تاسودوخت نه وړاندې راغلئي اوچيلئي هم ښه مړې اوډکې معلوميږي.

دې جينکو ورته ټوله واقعه بيان کړه. هغه حکم اوکړو چه تاسو کښې يوه لاړه شئي او هغه ماله راولئي هغه راغله اوحضرت موسی ﷺ ئې خپل پلار له بوتلو هغه د سرسری ملاقات نه پس د واقعه تپوس اوکړو نو هغه ټوله واقعه واوروله هغوی اوفرمائيل چه اوس د ويرې څه خبره نشته ته د دغه ظالمانونه خلاص شوې مونږ خلق د فرعون رعايانه يو اونه په مونږ باندې د هغه څه دباوشته. هم هغه وخت يوې جينئي خپل پلار ته اووئيل باباجي ده خو هسې هم زمونږ کاراوکړو اودا طاقت کښې هم دې امانت دار سړې دې ښه به وی که تاسودې خپل ځان سره مقررکړئي دې به په مزدورئي باندې زمونږ چيلئي څروي. پلارته ئې غصه ورغله اوتپوس ئې اوکړو چه لوړې تاته څنګه پته اولګيده چه دا طاقتور او امين دې؟ هغې جواب ورکړو چه طاقت خو ئې هغه وخت معلوم شو چه کله ده زمونږ چيلوته اوبه ورکړې دومره لويه ډولچه ئې په يوازې ځان راښکله اوډير په چالاکئي اوآسانئي سره. امانتداري ئې راته هغه وخت معلومه شوه چه کله ماده ته آواز اوکړو نو ده نظر اوچت کړو اوچه ورته معلومه شوه چه زه ښځه ذات يم نو بياخپل نظر ښکته کړو او لاندې کتلو سره ئې زما خبرې واوريدې. والله ستاسو پوره پيغام اوريدو پرې هغه پورته نظر نه دې اوچت کړې بيائې ماته اوفرمائيل چه ته زما نه شاته شاته راځه

Scanned with Ca

او د لرې نه ماته لاربنايه. داهم دليل دې د ده د الله ﷺ نه د ويرې او امانتدارئى. د پلار غيرت اوحجت هم لاړو او د لور د طرف نه ئى هم زړه صفاشو اود حضرت موسى ﷺ مينه ئى په زړه كښې ځائ شوه. اوس ئى حضرت موسى ﷺ ته اوفرمائيل زما اراده ده چه زما په دې دواړو لونړوكښې د يوې نكاح تاسره اوكړم په دې شرط باندې چه ته به اته كاله ماسره كار روزګار كوې. اوكه د لسوكالوپورې دې اوكړو نونوره به هم ښه وى. ان شاء الله تاسو به اوګورئى چه زه به ښه سړې يم. دا معامله مقرر شوه اود الله ﷺ پيغمبر د اتو كالوپه ځائ لس كاله پوره كړل.

حضرت سعيدبن جبير رحمه الله فرمائى چه اول ماته دا معلومه نه وه اويونصرانى عالم مانه تپوس كړې ونوما هغه ته جواب نه وو وركړې. بيا چه كله ما دحضرت ابن عباس ﷺ نه تپوس اوكړواو هغوى ماته جواب راكړو نوهغه ته مې ذكر كړو. هغه وئيل ستا استاذ لوئ عالم دې. ما وئيل چه او هغه خو دې.

اوس موسى ﷺ داموده پوره كړه او خپله بى بى ئى ځان سره واخسته دې ځائ نه لاړو. بياهغه واقعات اوشوكوم چه دې آياتونوكښې دى. اور ئى اوليدو الله ﷺ سره ئى كلام اوكړود لرګى اژدها جوړيدل د لاس نورانى جوړيدل ئى اوكتل. نبوت ورته ملاو شو فرعون له لاړو د قتل د واقعه انديښنه ئى ښكاره كړه ددې نه تسلى حاصله كړه دژبې تتوالې نه ئى خلاصې اوغوښتلودې نه فارغ شواود خپل رورهارون ﷺ همدردى او كاركښې شراكت اوغوښتلو.دا ئى هم حاصل كړل اوهمسائى واخسته اود مصر بادشاه له لاړل.

بل خواحضرت هارون ﷺ له وحى راغله چه دخپل رور ملګرتيا اوكړه اوهغه سره شه. دواړه رونړه يوځائ شو اود فرعون دربارته لاړل. خبر ئى اوكړو په ډير ساعت كښې اجازت ملاوشو فرعون ته ئى اووئيل چه مونږ د الله ﷺ رسولان جوړشوى تاله راغلې يو. اوس چه كوم سوال جواب اوشو هغه په قرآن مجيدكښې موجود دې. فرعون وئيل ښه ده تاسو څه غواړئى؟اود قتل واقعه ئى ورته ياده كړه د كوم عذر چه موسى ﷺ بيان كړو چه په قرآن پاك كښې موجود دې او وئى وئيل زمونږ اراده دا ده چه ته ايمان راوړې اوزمونږ سره بنى اسرائيلوته د خپلې غلامئى نه آزادى وركړې هغه انكار اوكړو او وئى وئيل كه رښتونى ئى نو څه معجزه اوښائى. هغوى هغه وخت خپله همسا په زمكه باندې اوغورزوله اوپه زمكه پريوتوسره هغه يوه زبردسته اژدها جوړه شوه خُله ئى كولاوكړې آوازونه ئى ويستل د فرعون طرف ته ئى ورټوپ كړو د ويرې په وجه فرعون د تخت نه ټوپ كړو او تختيدو سره ئى فرياد اوكړو موسى ﷺ درب په خاطر دا اونيسه. هغه لاس اولګولو او هم هغه وخت په خپل اصلى حالت كښې شوه بيا هغه خپل لاس په خپل ګريوان كښې وركړونو هغه بغيرد څه مرض د داغ پرقيدو. د كوم په كتو چه هغه حيران شو هغه بيا لاس دننه كړو او راويستلو نو په خپل اصلى حال كښې وو. اوس فرعون خپلو درباريانوته اوكتل او وئى وئيل تاسو اوكتل دا دواړه جادوګردى غواړى چه دخپل جادو په زور باندې تاسو د خپل ملك نه بهر اوباسى اوستاسو په ملك باندې قبضه اوكړى اوستاسو طريقې ختمې كړى.

بيا ئى حضرت موسى ﷺ ته اووئيل مونږ ته ستا د نبوت منلو نه هم انكاردې او مونږ ستا هيڅ يوه مطالبه هم نه شوپوره كولې. بلكه مونږ خپل جادوګرستا دمقابله د پاره راغواړو چه ستا په دې جادو باندې به غالب راشى. دا خلق په خپل دې كوششونوكښې لګياشو اود ټول ملك نه ئى جادوګرډير په درناوى سره راجمع كړل كله چه ټول راجمع شو نو هغوى تپوس اوكړو چه د هغه جادو څه قسم دې؟ فرعونيانو وئيل د لرګى نه مارجوړوى. دوى وئيل په دې كښې څه دى؟ مونږ به د لرګو او رسونه داسې ماران جوړكړو چه په مخ د زمكه به د هغې څوك مقابله نه شى كولې. خوزمونږ د پاره انعام مقرر كول پكاردى. فرعون هغوى سره دا اقرار اوكړوچه انعام څه زه به تاسو خاص نيزدې درباريان جوړكړم او تاسو به داسې آزادكړم چه څه غواړئى دركولې به شى. هغوى اعلان اوكړو چه د اخترپه ورځ سحر به

Scanned with Ca

فلانکی میدان کښې مقابله وی. روایت دې چه د هغوی دااخترد عاشورې په ورځ وو.
په هغه ورځ هم سحرسحر خلق هغه میدان ته راورسیدل چه نن څو ګورو چه څوك غالب راځی. مونږ خود جادوګرو قائل یو هم هغوی به غالب راځی اومونږ خو به هم د هغوی منو. په مسخرو سره به ئی دا خبره بدلولوسره وئیل چه راځئی هم د دغه دواړو جادوګرو منوتکی به جوړشو که هغوی غالب شو. میدان ته چه راغله نو هغه جادوګرو د الله ﷻ نبی ته اووئیل اوس اوښایه چه ته اول خپل جادو ښکاره کوې که مونږ اول شروع اوکړو؟ موسی ﷺ وئیل چه هم تاسو اول شروع اوکړئی چه ستاسوحوصله راوځی.هغوی خپل ټول لرګی اورسئی په زمکه اوغورزولې او هغه ټول ماران شو اود الله ﷻ د نبی طرف ته راپه منډه شو د هغې نه اوویریدو او روستوشو. نو الله ﷻ وحی راولیګله چه ته خپله همسا په زمکه راګذار کړه هغه اوغورزوله یوه خوفناکه عظیم الشان اژدها جوړه شوه اود هغوی طرف ته ئی ورمنډه کړه دا لرګی اورسئی ګډې وډې شوې او هغه ټول ئی راتاؤکړل یوه نوړئی کړل. جادوګر پوهه شو چه دا جادو نه دې داخود الله ﷻ دطرف نه د رښتیاؤ نښه ده. په جادوکښې داخبره چرته ده؟ ټولو د ایمان اعلان اوکړو چه مونږ د موسی ﷺ په رب باندې ایمان راوړې دې اومونږد دې دواړو رنړو نبوت منو. مونږ د خپلو تیروشوو ګناهونونه توبه اوباسو.
د فرعون اوفرعونیانو ملاماته شوه رسوا شو مخونه ئی تور شو په ذلت سره خاموش شو د وینو ګوټونه نی اوڅکل او چپ پاتې شو. دیخوا دا اوشو اوبل خوا د فرعون بی بی چه موسی ﷺ ئی لکه د خپل سکه ځوئی ساتلې وو بیقراره ناسته وه اود الله ﷻ نه ئی دعاګانې غوښتلې چه ای الله ﷻ خپل نبی غالب کړه. فرعونیانو هم داحال لیدلې ووخو هغوی داخیال کړې ووچه د خاوندپه طرفدارئی کښې دا حال دې.د دې ځائ نه ناکام تلو باندې فرعون په بې ایمانئی باندې ملااوتړله. د الله ﷻ د طرف نه د موسی ﷺ په لاس ډیرې نښې ښکاره شوې. کله چه به څه مصیبت راغلو اودې به ئی راګیرکړو نو ویریدوبه او په زارو اومنتونو باندې به ئی دا وعده کوله چه د دې مصیبت په لرې کیدو باندې به زه بنی اسرائیل تاسره کړم. خوچه کله به داعذاب لرې شو نو سرکشه به شواومنکر کیدوسره به ئی وئیل چه ستا رب ددې علاوه نورهم څه کولې شی؟په هغوی باندې طوفان راغلو ملخان راغله سپګې راغلې چیندخې راغلې وینې راغلې اوډیرې صفاصفا نښې ئی اولیدلې. چه کله به آفت راغلو منډې به ئی کړې وعده به ئی اوکړه اوچه هغه به اخواشو نو منکر به شوکبربه ئی اوکړو. اوس د الله ﷻ د طرف نه حکم اوشو چه بنی اسرائیل واخله اود دې ځائ نه اوځه. هغوی شپه په شپه هغوی واخستل اولاړل.
سحر فرعونیانواوکتل چه ټول بنی اسرائیل تلې دی. فرعون ته ئی اووئیل هغه حکم اوکړواود هر طرف نه ئی فوځونه راجمع کړل او په یوه ډیره لویه اجتماع سره هغوی پسې شو. په لارکښې دریاب راتلو د هغې طرف ته د الله ﷻ حکم اوشو په تاچه زما د بنده موسی ﷺ همسااولګی نوته هغه ته لارې ورکړه. په تاکښې دې دولس لارې وی چه د بنی اسرائیلودولس جدا جداقبیلې په خپلو خان له خان له لارو باندې اولګی بیا چه کله دوی پوریوځی اوفرعونیان راشی نوته رایوځائ شه اوپه هغوی کښې یو هم ژوندې پرینږدې. موسی ﷺ چه کله دریاب ته اورسیدو چه ونی کتل نو هغې موجونه وهل اوبه راختلې وې شو راوچت شو اوویریدل لرګې وهل ترې هیر شو دریاب داسې بې قراره وو چه هسې نه چه د دې په یوه حصه حضرت موسی ﷺ لرګې اووهی اوهغه ته پته نه وی نو د الله ﷻ په عذاب کښې به د الله ﷻ دنافرمانئی په سبب به راګیرشو.په دې د فرعون لښکرد بنی اسرائیلو سر ته راورسیدلو دوی اوویریدل او ونی وئیل موسی ﷺ مونږ خو دلته راګیرکړې شو. اوس ته هم هغه اوکړه د کوم چه الله ﷻ تاته حکم کړې دې یقینًا نه الله ﷻ دروغژن دې اونه ته.
هغه اوفرمائیل چه ماته خو دا فرمائیلې شوې دی چه ته کله دریاب ته اورسې هغه به تاله دولس لارې

درگړی ته په هغې باندې تیر شه. هم هغه وخت وریاد شو چه د لرگی وهلو حکم شوې وو. په همسانی اووهلو اخوا د فرعون د لښکر اوله حصه د بنی اسرائیلو د لښکر آخری حصې له راغلې وه. دریاب اوچ شو اوپه هغې کښې لارې جوړې شو اوهغوی خپل قوم په دې کښې بې خطرې ورکوز کړو اوپه آرام لاړل. کله چه دوی تیرشو د فرعون لښکر دوی پسې شاته په دریاب کښې راکوز شو. کله چه دا ټولې لښکرې راکوزې شوې نود الله ﷻ د فرمان مطابق دریاب روان شو او ټول نې په یووخت کښې غرق کړل. بنی اسرائیلودا واقعه په خپل سرگو لیدله خو بیاهم هغوی اوئیل چه یارسول الله مونږ ته به څه پته وی چه فرعون هم مړشو که نه. موسی ﷺ دعااوکړه نودریاب د فرعون بې ساه نعش په غاړه راگذار کړو د کوم په کتلوچه د هغوی پوره یقین اوشو چه د هغوی خپل سازوسامان اولښکرسره د دښمن تباه شو. اوس چه د دې ځایٔ نه وړاندې شونوونی کتل چه یوقوم دخپلو بتانو سره منجاوران ناست دی نو هغوی وئیل چه اې د الله ﷻ نبی زمونږ د پاره هم یوداسې معبود مقررول پکار دی.
حضرت موسی ﷺ ډیر خفه شو چه تاسو ډیرلوئ جاهلان خلق ئی الخ تاسودومره لوئی نښې اولیدلې دې داسې اهم واقعات مو واوریدل خوتراوسه پورې نه عبرت شته اونه غیرت. د دې ځایٔ نه وړاندې هغوی په مقام کښې قیام اوکړواودلته ئی خپل خلیفه خپل رورهارون ﷺمقررکړوقوم ته ئی اوفرمائیل چه زما د واپسئی پورې د دوی حکم منئی زه خپل رب له ځم. د دیرشو ورځو د هغه وعده وه. د قوم نه جدا شو او د وعدې ځایٔ ته اورسیدو دیرش ورځې شپې روژې ئی پوره کړې اود الله ﷻ سره دخبرو خیال ئی پیداشوخودائی اوکتل چه دروژو په وجه به د خلې نه بوئی اوخی لړ شان وابه هغه راواخستل هغه ئی اوچیچول. الله ﷻ سره دعلم د هغه نه تپوس اوکړو داسې دې ولې اوکړه؟ هغه جواب ورکړوتاسره د خبروکولوپه وخت کښې چه زما خُله خوشبوداره وی. الله ﷻ اوفرمائیل تاته پته نه ده چه د روژه دار د خُلې بوئی ماته د مشکو اوعنبرو نه زیاته خوشبوداره لگی اوس ته لس روژې نورې اونیسه نو بیا ما سره خبرې اوکړه. هغه روژې ساتل شروع کړې. په قوم باندې چه کله دیرش ورځې تیرې شوې اود وعدې مطابق حضرت موسی ﷺ واپس نه شونو هغوی خفه شو.
حضرت هارون ﷺ هغوی ته خطبه اوکړه او ونی فرمائیل کله چه تاسو د مصر نه تلې وئی نود قبطیانو پیسې په تاسو کښې بعضوباندې قرض پاتې وې دغه شان په تاسو باندې د هغوی امانتونه هم پاتې شو. داخومونږ هغوی ته د واپس کولودپاره نه دی خوزه داهم نه غواړم چه هغه دې زمونږ ملکیت کښې پاتې وی. پدې وجه.تاسویوه ژوره کنده اوکنئی اوچه کوم لوښی سامان کالی سره زراو سپین زر وغیره د هغوی تاسو سره دی هغه ټول په دې کښې واچوئی او بیا اور ورته کړئی. نو هم دغه شان اوکړې شو هغوی سره یوسامری نومې سړې وو.دا دغواسخی عبادت کونکوکښې وو د بنی اسرائیلو نه نه ووخود گاونډی کیدو په وجه اود فرعون د قوم نه د نه کیدو په وجه دې هم د هغوی سره د هغه ځایٔ نه راوتلې وو.هغه دیوې نښې نه په موټی کښې څه خاوره اوچته کړې وه.حضرت هارون ﷺ اوونیل ته هم دا په دې کښې واچوه هغه جواب ورکړو چه داخود هغه اثر نه دې چه تاسونی ددریاب نه پورې ویستئی. خیر دا زه وراچوم خو په دې شرط چه تاسو د الله ﷻ نه دعااوکړئی چه دې نه هغه څیز جوړ کړی کوم چه زه غواړم.هغه دعااوکړه او د ده په موټی کښې چه څه ووهغه ئې ورواچول ونیل زه غواړم چه د دې نه یو سخې جوړشی.دالله ﷻ په قدرت سره په هغه کنده کښې چه څه وو دهغې نه دسخی شکل جوړشو. دننه نه ډډروخو روح په کښې نه ووخوهوا به دهغه د شانه تله اوبه خُله به ترې وتله.دې نه به یوآواز وتلو بنی اسرائیلو تپوس اوکړوسامری دا څه دی؟ هغه بې ایمان اوونیل هم دا ستاسو د ټولورب دې خو موسی ﷺ لار هیره کړې ده او بل ځایٔ ته د رب په لټون کښې تلې دې. دې خبرې په بنی اسرائیلوکښې ډیرې فرقې جوړې کړې یوې ډلې خو اوونیل د حضرت موسی ﷺ د راتلوپورې هغوی هیڅ خبره نه شی

Scanned with Ca

کولې. ممکن دی چه هغه رب وی نوموږ د دې بې ادبی ولې اوکړو؟ اوکه دا رب نه وی نود حضرت موسی ﷺ په راتلو به هرڅه ښکاره شی. دویمې ډلې وئیل دا فضول څیز دې شیطانی حرکت دې موږ په دې لغو څیز باندې هډو ایمان نه لرو. نه دا زموږ رب دې اونه موږ په دې ایمان لرو. یوې ډلې دا د زړه نه اومنلو اود سامری په خبره ئی ایمان راوړوخو په ظاهره ئی د هغه خبره دروغ اوګڼله. هارون ﷺ په هغه وخت ټول راجمع کړل ورته ئی اوفرمائیل اې خلقو دا د رب د طرف نه ستاسو امتحان دې تاسو پدې جګړه کښې ولې اونختئی ستاسورب خورحمن دې.تاسوزماتابعداری اوکړئی اوزماوینا اومنئ. هغوی وئیل آخر د دې څه وجه ده چه موسی ﷺ د دیرشو ورځو وعده کړې وه اونن څلوېښت ورځې پوره کیدونکې دی اوتراوسه پورې واپس نه شو. بعضې بې وقوفانو وئیل د هغه نه د هغه رب خطا شوې اوس هغه په لټیون کښې دې. هلته لس روځې نورې پوره شوې او موسی ﷺ ته د الله ﷻ سره د کلام شرف حاصل شو. هغه ته اوخودلې شو چه ستانه پس ستا د قوم څه حال شو. هغه هم هغه وخت په افسوس غم غصه کښې واپس شواودلته په راتلوسره ئی د قوم نه ډیر واوریده.دخپل رور د سرویښته ئی اونیول او رائی ښکلو د غصې د زیاتی په وجه تختئی ترې هم پریوتلې.

بیاد اصل حقیقت معلومیدونه پس ئی د خپل رور نه معذرت اوکړو د هغه د پاره ئی استغفار اوکړو او د سامری طرف ته متوجه شو وئی فرمائیل تا داسې ولې اوکړه؟ هغه جواب ورکړو د الله ﷻ د رالیګلې شوی د پښې لاندې ما یوموټې خاوره اوچته کړې وه. دې خلقو هغه نه وه پیژندلې اوما پیژندلې وو. ما هغه یوموټې خاوره په دې اُورکښې اچولې وه زما په خیال کښې هم دا خبره راغلله. هغه اوفرمائیل چه زه د دې سزا په دنیاکښې دا ده چه ته به هم دا وائې چه لاس لګول نه دی بیا یود وعدې وخت دې د کوم خلاف کول چه ناممکن دی او ستاپه کتوبه موږ ستا دا معبود اوسوزوواو د هغه خاوره به هم په دریاب کښې لاهوکړو.نو هغوی هم دغه شان اوکړه. هغه وخت بنی اسرائیلویقین اوکړو چه واقعی دا رب نه وو.اوس هغوی ډیرپښیمانه شو اوبغیرد دې مسلمانانو کوم چه حضرت هارون ﷺ سره د هغه په عقیده باندې پاتې شوی وو.باقی خلقو عذر معذرت اوکړو او وئی وئیل اې نبی الله ﷺ نه دعااوکړه چه هغه زموږ دپاره د توبې دروازه کولاوکړی. هغه چه څه وائی موږ به ئی په ځایٔ راوړو دې د پاره چه زموږ دا زبردسته خطامعاف شی.

هغه د بنی اسرائیلو د ډلې نه اویا سړی راغونډکړل او جدائی کړل اود توبه د پاره ئی بوتلل. هلته زمکه اوشلیده اودهغه اویا واړه ملګری په کښې ورغرق کړې شو. حضرت موسی ﷺ سره دافکر ملګرې شو چه زه به بنی اسرائیلو ته څه مخ ښایم؟ هغه سوال زاری شروع کړه اودعائی اوکړه اې الله که تاغوښتل دې نه وړاندې به دې زه اودا ټول هلاک کړې وو.زموږ دبې وقوفانو د ګناه په بدله کښې خوموږ مه هلاک کوه. هغه خو به د دوی ظاهر کتل اود الله ﷻ د دوی په باطن باندې نظروو په هغوی کښې داسې هم وو چه په ظاهره باندې مسلمانان جوړ شوی ووخو په اصل کښې دزړه عقیده دهغوی هم دهغه سخی د رب کیدووه. هم د دې منافقانو په وجه هغه ټول د زمکې لاندې کړې وو. د الله ﷻ د نبی په دې سوال زار ئی باندې د الله ﷻ رحمت په جوش کښې راغلو اوجواب ملاوشو چه هسې خو زما رحمت په ټولو باندې خور دې خو زه به دا دهغوی په نوم باندې هبه کړم کوم چه متقیان اوپرهیزګاروی د زکوة ادا کونکې وی زما په خبروباندې ایمان راوړی او زما د دې رسول اونبی تابعداری اوکړی د چا صفتونه چه هغوی په کتاب کښې لیکلې شوی ګوری یعنی په تورات او انجیل کښې.

حضرت کلیم الله عرض اوکړو اې الله ﷻ ماخود خپل قوم د پاره توبه غوښتې وه اوتا جواب راکړو چه ته به خپل رحمت د هغوی د پاره کوې کوم چه وړاندې راتلونکی دی. بیا الله ﷻ ماهم ته د هغه رحمت والا نبی په امت کښې پیداکړې. رب العالمین اوفرمائیل واوره د هغوی توبه به هغه وخت قبلیږی چه

داخلق په خپل مینځ کښې یوبل قتل کول شروع کړي. نه پلار خوئ ته اوګوري اونه خوئ پلار ته اوګوري خپل مینځ کښې دې اونخلی او یوبل دې قتل کول شروع کړي. نو بنواسرائیلو هم داسې اوکړه او چه کوم منافقان وو هغوی هم په صداقت سره توبه اوکړه الله ﷻ د هغوی توبه قبوله کړه. چه کوم بچ شو هغه هم اوبښلې شو اوکوم چه قتل شو هغه هم اوبښلې شو. حضرت موسی ﷺ اوس د دې ځائ نه د بیت المقدس طرف ته لاړو د تورات تختئی ئې ځان سره یوړې اوهغوی ته ئې د الله ﷻ احکام واورول کوم چه په هغوی باندې ډیر درانه پریوتل اوهغوی صفاانکاراوکړو. یوغرد هغوی په سرباندې زوړند کړې شو هغه د تنبویه شان د هغوی په سرونوباندې وو هروخت به ورته یره وه چه اوس به راپریوځی. هغوی اوس اقرار اوکړو او تورات ئې واخستو. غر لرې شو او هغوی دې پاکې زمکې ته اورسیدل چرته چه کلیم الله هغوی بوتلل غوښتل چه ونې کتل هلته د یوزبردست طاقتور قوم قبضه وه.
د حضرت موسی ﷺ په وړاندې په ډیره نامردئی سره اوونیل چه دلته خویوډیر لوئ زور اور قوم دې په مونږ کښې د هغوی د مقابلې طاقت نشته. که دوی اووتل نو مونږ به دې ښارته داخل شو. دوی خو هم داسې نامردي او بزدلی ښکاره کوله. الله ﷻ دې سرکشونه دوو کسانوته هدایت ورکړوهغوی د ښارنه اووتل اودحضرت موسی ﷺپه قوم کښې شامل شواوهغوی ئې پوهه کول چه تاسو د هغوی په بدنونواو شمیرسره مه مرعوب کیږئی دا بهادران خلق نه دی د دوی زړونه ګردې کمزورې دی تاسو خو لږ شان وروړاندې شئی د هغوی د ښار دروازې ته اورسیږی اود هغوی پښې لاسونه سست شوی یقیناً تاسو به په هغوی باندې غالب راشئی اوداهم وئیلې شوی دی چه دا دواړه کسان کومو چه بنی اسرائیل پوهه کړې وو اوهغوی ئې بهادران کړې وو پخپله هم د بنی اسرائیلونه وو. والله اعلم. خود هغوی په پوهیولو د الله ﷻ حکم کیدلو اود حضرت موسی ﷺ په وعده هم په هغوی باندې هیڅ اثر اونه شو اوهغوی صفا جواب ورکړو چه ترکومې داخلق په ښارکښې دی مونږ خود دې ځائ نه د خوزیدوهم نه یو. موسی ﷺ ته پخپله خپل رب ځان سره کړه او لاړ شه اوهغوی سره جنګ جګړه اوکړه مونږ دلته ناست یو.
حضرت موسی ﷺ نه صبر اونه شو. د هغه د خُلې نه د دې بزدلانو او بې قدرو په حق کښې بد دعا اووتله اوهغه د دوی نوم فاسقان کیخودلو د الله ﷻ د طرف نه هم د هغوی د پاره هم دغه نوم مقررکړې شواو هغوی په هم دې میدان کښې راقید کړې شو.
څلویښت کاله هغوی هم دلته تیرکړل یوځائ کښې ورته هم قرار نه وو هم په دې بیابان کښې پریشانه سرګردانه ګرځیدل. هم د دې قید په میدان کښې په هغوی د وریځو سورې اوکړې شو اومن اوسلوی پرې نازله شوه کېږې ئې نه شلیدې نه به خیرنیدې یوڅلورګوټیزکانړې ئې ایخودې ووپه کوم چه موسی ﷺ همسا اووهله نو د هغې نه دولس چینې روانې شوې. د هر طرف نه درې درې.دا خلق روان وو په تلوتلوکښې وړاندې کیدل چه سترې به شو نودمه به ئې کوله. چه سحر به راپاسیدل نوهغه کانړی چه به چرته پراته وو هم هلته به وو. حضرت ابن عباس دا حدیث مرفوع بیان کړې دې حضرت معاویه ﷺ چه کله دا بیان د حضرت ابن عباسﷺ نه واوریدو نووئی فرمائیل چه دا په دې کښې کوم دی‌چه دې فرعونی د حضرت موسی ﷺ د وړاندینئی ورځې د قتل خبر خورکړې ووداخبره په ذهن کښې نه راځی څکه چه د قبطی د قتل په وخت کښې بغیرد دې بنی اسرائیلی یوسړی نه کوم چه قبطی سره جنګ کولو هلته بل څوک نه وو. په دې باندې حضرت ابن عباس ﷺ ډیرزیات غصه شو اودحضرت معاویه ﷺ لاس ئې اونیولو او حضرت سعدبن مالکﷺ له ئې بوتلو اوهغه ته اوونیل چه تاته یاددی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ ته د هغه سړی حال بیان کړې ووچه هغه د حضرت موسی ﷺ د قتل راز ښکاره کړې

Scanned with Ca

وو؟ اوښایه بنی اسرائیلی سړې ووکه فرعونی؟ حضرت سعد ﷺ اووئیل د بنی اسرائیلی نه هغه فرعونی واوریده بیاهم هغه لاړو اوحکومت ته ئی اووئیل او پخپله د دې ګواه جوړشو.(¹) (سنن الکبری نسائی) هم دا روایت په نوروکتابونوکښې هم دې. د حضرت ابن عباس ﷺ د خپل کلام نه ډیره لږه حصه مرفوع بیان کړې شوې ده. ډیر ممکن دی چه هغوی د بنواسرائیلو د چانه دا روایت اخستې وی. ځکه چه د دوی نه روایت اخستل مباح دی. یاخوبه هغوی د کعب احبار رحمة الله علیه نه دا روایت اوریدلی وی اویاممکن ده چه دبل چانه ئی اوریدلی وی. والله اعلم. ماد خپل استاذ شیخ حافظ ابوالحجاج مزی رحمة الله علیه نه هم دا اوریدلې دې.

| |
|---|
| فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ ثُمَّ جِئْتَ |
| او وخت تیر کړو تا \| ډیر کلونه \| په خلقو د مدین کښې \| بیا(اوس) \| راغلې ته |
| نو ته څو کاله دمدین په خلقو کښې پاتې شوې\| بیا ائې موسی ! ته په |
| عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ۝ وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِيْ ۝ اِذْهَبْ اَنْتَ |
| په ټیك اندازه \| اې موسی \| او جوړ کړې ماته \| دپاره دکار خپل \| لاړشه \| ته |
| خپل مقرر وخت دلته راغلې \| اوبیا ما ته د خپل ځان دپاره منتخب کړې \| نو اوس ته اوستا |
| وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ۝ اِذْهَبَآ |
| او رور ستا \| په نښنو زما سره \| او مه کوئ سستی \| په یادولو زما کښې \| لاړ شئ دواړه \| |
| رور(هارون) زما په نښنو(معجزاتو) سره لاړشئ \| اوزما په ذکر کښې سستی مه کوئی \| تاسو دواړه |
| اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ۝ فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا |
| فرعون ته \| بیشکه هغه \| سرکشی کړی ده \| نو اوکړئ دواړه \| هغه ته \| خبره \| نرمه |
| فرعون ته لاړ شئ \| ځکه چې هغه (په خپله سرکشئ کښې) دحدنه تیر شوې دې \| نو هغه سره نرمې خبرې اوکړئ |
| لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى ۝ |
| کیدې شی چې هغه \| نصیحت قبول کړی \| یا اویریږی \| |
| کیدې شی چه نصیحت قبول کړی\| یا (زما دنیولونه) اویریږی \| |

**قوله تعالی:- فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ**

**حضرت موسی علیه السلام په مدین کښې :-** حضرت موسی علیه السلام ته الله ﷻ جل شانه بیان فرمائی چه ته د فرعون نه اوتختیدې او مدین ته اورسیدې هلته دې سخرګنئی ملاوشوه اود شرط مطابق دې د هغوی چیلئی څوکالونو پورې څرولې. بیا د الله ﷻ په اندازه اود هغه په مقرر وخت باندې ته هغه له اورسیدې. دهغه رب هیڅ خوښه نه پاتې کیږی هیڅ فرمان ئی نه ماتیږی د هغه دوعدې مطابق اود هغه په مقرر وخت باندې ستا هغه له رسیدل یو ضروری امر وو. داهم مطلب دې چه ته خپل قدر او منزلت ته اورسیدې یعنی نبوت اورسالت درته ملاوشو. ما ته خپل یوډیر غوره پیغمبر جوړکړې. صحیح بخاری کښې دی چه عالم امثال کښې د حضرت آدم علیه السلام اوحضرت موسی علیه السلام خپل مینځ کښې ملاقات اوشو نو حضرت

¹) السنن الکبری:۱۱۳۲۶، مسندابی یعلی:۲۶۱۸وسنده حسن وهومن الاسرائیلیات.

موسی ﷺ ورته اووئیل چه تاسو خلق په مشقت کښې واچول اود جنت نه دې راوویستل. حضرت ادم ﷺ هغه ته اوفرمائیل چه ته الله ﷻ په خپل رسالت سره ممتاز کړې اود خپل ځان د پاره نې خوښ کړې اوتورات نې درکړو.آیاپه هغې کښې تا دا نه دی لوستلي چه زما د پیدائش نه مخکښې دا ټول مقدر شوی وو؟ وئیل او. غرض داچه حضرت آدم ﷺ په موسی ﷺ باندې په دلیل کښې غلبه بیاموندہ.(۱)
زمادرکړې شوې دلیلونه اومعجزې واخلئې ته اوستا روردواړه فرعون له لاړشئې زماپه یادکښې غفلت مه کوه سترې کیدوسره کینه مه. دغه شان د فرعون په وړاندې دواړه د الله ﷻ په ذکر کښې لګیاشو دې د پاره چه د الله ﷻ امدادهغوی سره شی هغوی کلك اومضبوط جوړکړې اود فرعون شان ختم کړې.
په حدیث شریف کښې هم دی زما پوره اوربښتونې بنده هم هغه دې چه څوك پوره عمر ما یادوی.(۲)
فرعون له تاسو زماپیغام اورسوئی لاړشئی هغه ډیرسر اوچت کړې دې دالله ﷻ په نافرمانوباندې بهادرشوې دې ډیر زیات خورشوې دې اوخپل خالق اومالك نې هیرکړې دې.هغه سره نرمې خبرې اترې اوکړئی. ګورئی فرعون څومره خراب دې حضرت موسی ﷺ څومره ښه دې ولې حکم ورته داسې کیږی چه په نرمئی سره نې پوهه کړئی. حضرت یزید رقاشی رحمه الله دې آیت لوستلو سره فرمائی ﴿یامن یتحبب الی من یعادیه فکیف من یتولاه ویناديه﴾ یعنی اې الله، هغه الله ﷻ چه دښمنانوسره هم نرمی اومحبت کوی ستا به څنګه سلوك وی هغه سره چه تاسره محبت کوی،او تارابلی. حضرت وهب رحمه الله فرمائی چه د نرمو خبرو اترونه مراد دا دې چه هغه ته اووایه زما د غضب اوغصې نه زما رحمت اومغفرت ډیر زیات دې.
**تبلیغ په نرمه لهجه سره ګوئی:-** ① عکرمه رحمه الله فرمائی چه د نرمې خبرې کولونه مراد د الله ﷻ طرف ته د وحدانیت دعوت ورکول دی چه هغه د لااله الاالله قائل شی.② حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی هغه ته وائی چه ستا رب دې ته به مرکیږی اود الله ﷻ وعدې ته به رسې کوم ځائ چه جنت اودوزخ دواړه دی. ③ حضرت سفیان ثوری رحمه الله فرمائی هغه زما په دروازه کښې راوله اودروه. غرض دا چه ته هغه سره په آرام او نرمئی سره خبرې اترې اوکړه دې د پاره چه د هغه په زړه کښې ستا خبرې کینی لکه چه د الله ﷻ ارشاددې ﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ﴾(۳)یعنی دخپل رب دلارې دعوت هغه ته په حکمت او ښه طریقه سره ورکړه اوهغه په ښه طریقه سره پوهه راپوهه کړه دې د پاره چه هغه پوهه شی اود خپل ضلالت اوهلاکت نه واورې یاد خپل رب نه اوویریږی اودهغه اطاعت او عبادت طرف ته متوجه شی. لکه چه ارشاد دې﴿لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا﴾(۴)دانصیحت د هغوی دپاره دې چه عبرت حاصل کړی یاشکر کونکې جوړشی. نود عبرت حاصلولو نه مراد د بدو نه اود ویرې د څیزونونه اخواکیدل اود ویرې نه مراد د اطاعت طرف ته مائل کیدل.
حسن بصری رحمه الله فرمائی چه د هغه د هلاکت دعامه کوه ترکومې چه د هغه ټول عذرونه ختم شوې نه وی. د زید بن عمرو بن نفیل یا د امیه بن ابی صلت په شعرونوکښې دی چه اې الله ﷻ ته هغه ذات نې چا چه په خپل فضل اوکرم سره حضرت موسی ﷺ ته دا وینا کولوسره باغی فرعون له اولیګلو چه هغه ته اووایه چه آیا دا آسمان تا بغیرستنواودرولې دې؟ او تادا جوړکړې دې؟ او آیا هم تا ددې په مینځ کښې دا منور نمر راخیژولې دې؟ چه تیارې په رڼا سره بدلوی.اخوا دسحر په وخت کښې هغه راوختلو

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة طه (واصطنعتك لنفسی):۴۷۳۶،صحیح مسلم:۲۶۵۲.
۲) ترمذی کتاب الدعوات: ۳۵۸۰
۳) ۱۶/النحل:۱۲۵.
۴) ۲۵/الفرقان:۶۲.

Scanned with Ca

اودیخواد دنیانه تیارې لرې شوي. ښه ده دااوښایه چه دي خاورې نه دادانې راویستونکې څوك دې؟ بیا په دې کښې غونچې پیداکونکې څوك دې؟ آیاد دې ټولو نښنو سره هم ته الله ﷻ نه شې پیژندلی؟

قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا

اوونیل دواړو | اې ربه زمونږ | بیشکه مونږه

دواړو اووئیل چې ائې زمونږه ربه ا مونږ

نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى قَالَ

یریږو | چې هغه به ظلم اوکړی | په مونږ باندې | یا | دا چې سرکشی به اوکړی | اووئیل الله

یریږوا چې چرته په مونږ باندې زیاتې اونکړې | یا دا چه زیات سرکشه شی | الله ﷻ اوفرمائیل

لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى فَاْتِيٰهُ

مهٔ یریږئ دواړه | بیشکه زهٔ | ستاسو سره یم | اورم | اووینم | نو ورشئ دواړه هغه ته |

تاسودواړه مه یریږئ | زه ستاسو ملګرې یم | زه هر څه وینم ګورم | .............نودواړه هغه ته ورشئ

فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا

او ورته اووایئ | بیشکه مونږه | دواړه رسولان یو | درب ستا | نو اولیږه | مونږ سره |

او ورته اووائې چې مونږ دواړه ستا د رب رالیږلې شوی یو | ............نو ته مونږ سره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ جِئْنٰكَ بِاٰيَةٍ

بنی اسرائیل | او مهٔ ورکوه تکلیفونه دوئ لره | راغلی یو مونږ تاته | په نښې سره |

بنی اسرائیل پریږده (چه شام ته لاړ شو) | اوهغوئ ته (نور) تکلیفونه مه رسوه | مونږ تاته ستا د رب

مِّنْ رَّبِّكَ ؕ وَالسَّلٰمُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى اِنَّا

د طرفه درب ستانه | او سلامتیا ده | په هغه چا | چې تابعداری ئې اوکړه | د نیغې لارې | بیشکه مونږه چې یو

د طرفه یوه نښه راوړې ده | اوسلامتیا دې په هغه چا وی چې په سمه لار روان شی | بیشکه مونږ ته خو

قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى

وحی شوی ده | مونږ ته | چې بیشکه عذاب | په هغه چا دې | چې دروغ ئې اوګڼړو | او مخ ئې واړلو |

وحی شوې ده | چې (دهغه) عذاب هغه چا دپاره مقرر دې | چې (پیغمبر) دروغژن ګڼړی او د (حق) نه مخ ګرزوی

قوله تعالى:- قَالَ لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ

**د الله ﷻ نه بغیرچانه هم اونه ویریږی** :-د الله ﷻ دې دواړو پیغمبرانو د الله ﷻ پناه غوښتلوسره خپله کمزوری د رب په وړاندې پیش کړه چه مونږ ویریږو چه فرعون په مونږ باندې څه ظلم اونه کړی او په بدسلوکئی سره پیش نه شی زمونږ آواز بندولود پاره په تندئی کښې مونږ په څه مصیبت کښې راګیرنه کړی او مونږ سره په ناانصافئی پیش نه شی.د الله ﷻ د طرف نه د دې تشفی اوکړې شوه چه دهغه نه هیڅ ویره مه کوئی زه پخپله تاسو سره یم ستاسو او د هغه خبره به اوروم اوستاسو حال به ګورم هیڅ خبره مانه پټه نه شی پاتې کیدې. دهغه مرئی زما په لاس کښې ده هغه زما د اجازت نه بغیرساهم نه شی اخستې. زما د قبضې نه بهر نه شی وتلې. زما حفاظت ملګرتیا او امداد تاسو سره دې.

حضرت عبدالله ؓ فرمائی چه حضرت موسی ؑ د الله ﷻ په دربار کښې دعا اوکړه چه ماته هغه دعا

Scanned with Ca

راﻭﺑﺸﺎئي چه زه فرعون له د تلو په وخت کښې لولم نو الله ﷻ دادعا وراوخودله ﴿اهیاشراهیا﴾ دکوم معنی چه په عربي کښې ﴿اناالحی قبل کل شئ والحئی بعد کل شئ﴾ یعنی هم زه یم د ټولونه اول ژوندې او هم د ټولو نه پس هم ژوندې. بیائی هغه ته اوخودل چه دې فرعون ته به څه وائې؟حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دې لاړو دروازې سره اودریدو او اجازت ئی اوغوښتلو د ډیر ساعت نه پس اجازت ملاوشو. محمدبن اسحاق ﷫ فرمائی چه دواړه پیغمبران به هره ورځ دوه کاله سحر اوماښام فرعون له تلل. درباریانوته به ئی وئیل زمونږ د دواړو پیغمبرانو د راتلوخبر بادشاه ته اوکړه خود فرعون د ویرې نه چاهم خبر اونه کړو. دوه کاله پس د بادشاه یوبې تکلفه دوست خنداګانې او ټوقې کولې هغه اووئیل ستا دروازې سره یوسړې ولاړدې اویوعجیبه اود مزې خبره کوی.هغه وائی چه ستانه بغیرد هغه بل څوك رب دې اود هغه رب هغه ستاطرف ته رسول جوړکړې رالیګلې دې. هغه وئیل چه څه زما دروازه کښې دې؟ هغه وئیل او. حکم ئی اوکړو دننه ئی راولئی. سړې لاړو اودواړه پیغمبران دربارته راغله.حضرت موسی ﷵ اوفرمائیل زه د رب العالمین رسول یم فرعون هغه اوپیژندوچه داخو حضرت موسی ﷵ دې.

**دموسی علیه السلام د فرعون دربار کښې دبهادرئی بیان:**-دسدی ﷫ بیان دې چه هغه په مصرکښې هم په خپل کور کښې حصار وو.مور او رور خواول هغه اونه پیژندلو. کورکښې چه څه پاخه وو هغه ئی د میلمستیا په توګه هغه ته وراندې کړل دهغې نه پس ئی اوپیژندو او سلام ئی اوکړو. حضرت موسی ﷵ اووئیل چه ماته د الله ﷻ حکم شوې دې چه زه دغه بادشاه د الله ﷻ طرف ته راوبلم او ستامتعلق حکم دې چه ته زما ملګرتیااوکړه. حضرت هارون ﷵ اوفرمائیل بسم الله کړه. دواړه د شپې بادشاه له لاړل. حضرت موسی ﷵ په خپله همسابانډې زنځیر اوکړنګولو. بادشاه سخت غصه شوچه دومره لوئ سړې څوك راغلو؟ چه داسې د دربارد آدابوخلاف په خپله همسابانډې ماهوښیاروی؟ درباریانو وئیل حضرت هیڅ نه دی صرف یولیونې سړې دې وائی اوګرخی چه زه رسول یم. فرعون حکم اوکړو دې ماته پیش کړئی. حضرت هارون ﷵ سره هغه بادشاه له لاړل اوهغه ته ئی اوفرمائیل مونږ د الله ﷻ رسولان یوته مونږ سره بنی اسرائیل پریږده هغوی له سزاګانې مه ورکوه. مونږ د رب العالمین دطرف نه دخپل رسالت دلیلونه او معجزې راوړې راغلې یوکه ته زمونږ خبره اومنې نود الله ﷻدطرف نه به په تا سلامتی نازله شی.رسول الله ﷺ هم چه کوم خط د روم بادشاه هرقل په نوم لیکلې وو په هغې کښې دبسم الله الرحمن الرحیم نه پس دامضمون وو چه داخط دمحمد ﷺ رسول الله ﷺ د طرف نه د شاه روم هرقل په نوم دې چه د هدایت پیروی کوی نو په هغه بانډې سلام دې.دې نه پس دا چه ته اسلام قبول کړه نوسلامت به ئې الله ﷻ به درته دوچنده اجر درکړی.(١)

**د مسیلمه کذاب درغون خط درسول کریم صلی الله علیه وسلم په نوم او دهغې جواب:**-مسیلمه کذاب صادق مصدوق ختم المرسلین حضور اکرم ﷺ ته یوخط لیکلې وو په کوم کښې چه دا لیکلې وو داخط د الله ﷻ د رسول مسیلمه د طرف نه د الله ﷻ رسول محمدﷺ په نوم دې. په هغوی بانډې سلام وی. ما ته ځان سره په کارکښې شریك کړې ئی.ښاریې ستاسو د پاره او کلیوال زماد پاره دا قریشیان خو ډیر لوئی ظالمان دی.ددې په جواب کښې حضور ﷺ اولیکل داخط دمحمد رسول الله ﷺ دطرف نه د مسیلمه کذاب په نوم دې. سلام دې وی په هغوی څوك چه د هدایت تابعداری کوی. واوره زمکه د الله ﷻ ملکیت دې هغه په خپلوبندیګانوکښې چه څوك غواړی د دې وارث ئی جوړوی. د انجام په لحاظ سره ښه خلق هغه دی د چا زړونه چه د الله ﷻ د ویرې نه ډك وی(٢)غرض دا چه کلیم الله د الله ﷻ پیغمبر هم فرعون ته داسې اووئیل سلامتی دې په هغوی وی چه د هدایت منونکی وی بیافرمائی چه

(١) صحیح بخاری کتاب بدء الوحی باب کیف کان بدء الوحی الی رسول الله ﷺ:٧، صحیح مسلم:١٧٧٣.
(٢) الطبقات:٢٥٩/١ تاریخ الاسلام للذهبی.

Scanned with Ca

مونږ ته د وحی په ذریعه داخبره خودلې شوې ده چه د عذاب لائق صرف هم هغه خلق دی څوك چه د الله ﷻ كلام دروغ اوګڼړی اود الله ﷻ د خبرومنلونه انكاراوكړی لكه چه ارشاد دې ﴿فَاَمَّا مَنْ طَغٰىۙ وَاٰثَرَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَاۙ فَاِنَّ الْجَحِیْمَ هِیَ الْمَاْوٰىؕ﴾(۱)كوم سړې چه سركشی اوكړی اود دنیا په ژوندون باندې فخر اوكړی داخوښ كړی د هغه آخری ځائ هم دوزخ دې. په نورو آياتونوكښې دی زه تاد شغلې وهونكی اُور د دوزخ نه ويروم په كوم كښې چه به صرف هم هغه بدبخت داخليږی چه دروغ ګڼړل كوی او مخ اړوی.د هغه آخری ځائ هم دوزخ دې. په نورو آياتونوكښې دی زه تاد شغلې وهونكی اُور د دوزخ نه ويروم په كوم كښې چه به صرف هم هغه بدبخت داخليږی چه دروغ ګڼړل كوی او مخ اړوی.(۲) بل آيت كښې دی چه هغه خونه اومنل اونه ئی مونځ اداكړو بلكه دې نه منكر شو اوكار ئی د فرمان خلاف اوكړو.(۳)

قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ﴿۴۹﴾ قَالَ رَبُّنَا

(نو) اووئيل فرعون | څوك دې | رب ستاسو ددواړو | اې موسى | اووئيل موسى | رب زمونږه |

فرعون اووئيل چې ستاسو رب څوك دې اې موسى! ؟| موسى ﷺ اوفرمائيل چې زمونږ رب

الَّذِیْٓ اَعْطٰى كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿۵۰﴾ قَالَ

هغه دې | چې ورئې كړو | هر څيز ته | شكل د هغه | بيا ئې ورته لار اوښودله دګزران | اووئيل فرعون

هغه دې |چې هر څيز ته ئې د هغه صورت وركړې دې| اوبيا ئې ورته سمه لار خودلې ده |فرعون اووئيل

فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿۵۱﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّیْ

نو څه دې حال | دخلقو | تيرو شوؤ(پخوانو) | اووئيل موسى | علم دهغوئ | زما درب سره

د تيرو قومو نو څه حال شو؟.....................موسى ﷺ اوفرمائيل چې دهغې علم خو زما رب سره

فِیْ كِتٰبٍۚ لَا يَضِلُّ رَبِّیْ وَلَا يَنْسَى ﴿۵۲﴾ الَّذِیْ

په كتاب كښې محفوظ دې | نهٔ خطا كيږی | رب زما | او نهٔ ئې هيريږی | هغه رب

(په لوح محفوظ كښې درج) دې | زما رب نه غلطی كوی او نه ترې څه هيريږی | (الله) هغه ذات دې

جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ

چې جوړه ئې كړه | ستاسو دپاره | زمكه | يو فرش | او راونې ئې كړې | ستاسو دپاره |

چې زمكه ئې ستاسو دپاره فرش ګرځولې ده| اوستاسو دپاره ئې په هغې لارې جوړې

فِيْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًؕ فَاَخْرَجْنَا

په هغې كښې | لارې | او نازلې ئې كړې | د اسمان نه | اوبهٔ | نو رااوويستل مونږه |

كړې دی | اود اسمان نه ئې اوبه رااورولې دی|...................بيا مونږ په هغې سره قسم قسم

---

(۱) ۷۹/النازعات:۳۷-۳۹.
(۲) ۹۲/الليل:۱۴-۱۶.
(۳) ۷۵/القيامة:۳۱-۳۲.

بِهٖٓ أَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ﴿٥٣﴾ كُلُوْا وَارْعَوْا
په هغې اوبو سره | ډېر قسمونه | دبوټو | مختلف مختلف | خورئ | او څروئ |
شینکې رازرغون کړې دي | ............ (پخپله ئې) خورئ او خپل څاروي په کښې څروئ

أَنْعَامَكُمْ ۭ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي النُّهٰى ﴿٥٤﴾
څاروي خپل | بیشکه | په دې کار کښې | ډیرې نښې دي | دپاره دخاوندانو | دعقل |
بیشکه په دې کښې د عاقلانو دپاره ډیرې نخښې دي ........................

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ
ددې زمکې نه | پیدا کړي یئ مونږه تاسو | او هم په دې زمکه کښې | واپس کوو تاسو |
مونږ تاسو ددې زمکې نه پیدا کړي یئ | او تاسو به په دې کښې واپس کوو

وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ أَرَيْنٰهُ
او د دې زمکې نه | به رااوباسو تاسو | یو ځل | بیا یعنی دوباره | او اوښودلې مونږه فرعون ته |
او هم ددې نه به مو یو ځل بیا بهر رااوباسو | اوهغه (فرعون) ته خپلې ټولې نښې ښودلې

اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبٰى ﴿٥٦﴾
نښې خپلې | ټولې | خو هغه دروغ اوګڼړلې | او انکار ئې اوکړو |
اوخودلې | خوهغه دروغ اوګڼړلې | اوانکاری ئې اوکړو |

قوله تعالى:- اَلَّذِيْٓ أَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿٥٠﴾

**ټول صورتونه هم الله ﷻ جوړ کړې دي:**-دانامنونکې یعنی فرعون مصر د الله ﷻ د وجود انکاری وو د الله ﷻ پیغام د کلیم الله په ژبه سره اوریدو سره د خالق د وجود نه د انکار په توګه سوال کوی چه ستا رالیګونکې اوستا رب څوك دې؟زه خو هغه نه پیژنم اونه ئې منم بلکه زما په خیال کښې خو د ټولو رب زمانه بغیربل څوك نشته د الله ﷻ رښتونی رسول جواب ورکړو چه زمونږ رب خو هغه دې چه هغه هرڅیز ته د هغه جوړه ورکړې.([1]) انسان ته د انسان په شکل خر ته د هغه په صورت چیلئی ئې په یوجدا صورت پیداکړې ده.هریوئی دهغه په مخصوص صورت کښې پیداکړې دې دهریوپیدائش ئې د هغه په ښکلې شکل باندې صحیح کړې دې. د انسانی پیدائش طریقه جدا ده څاروی په بل صورت باندې دی اوخناور په خان طریقه. د هریوجوړې هیئت ترکیبی جدادې. خوراك څښاك د خوراك څښاك څیزونه ټول جدا جدا ممتاز اومخصوص دی. د هریواندازه ئې مقررکړې اوبیائې د هغې ترکیب هغه ته خودلې دې.

**د هریو څیزعلم الله ﷻ ته دې:**- عمل اجل رزق مقررکولوسره هم په هغې باندې لګولې شوې دې.نظام سره د ټول مخلوق کارخانه روانه ده څوك د دې نه اخوادیخوانه شی کیدې. دمخلوق خالق د تقدیرونو مقرر کونکې په خپله اراده باندې د مخلوق پیداکونکې هم زمونږ رب دې. دا ټول اوریدوسره هغه ناپوهه تپوس اوکړو دهغوی څه حال شوې وو کوم چه مونږ نه وړاندې وو اود الله ﷻ د عبادت منکر وو؟داسوال هغه په اهمیت سره اوکړو خود الله ﷻ پیغمبر داسې جواب ورکړوچه عاجزشو. وئې فرمائیل د دې ټولوعلم زما رب سره دې. په لوح محفوظ کښې د هغوی اعمال لیکلې دی اود بدله اوسزا ورځ

[1] الطبری:۳۱۶/۱۸.

مقرره ده نه هغه غلطي كوي اونه لوئ او وړوكي به د هغه د نيولونه خلاص شي نه د هغه نه هيريږي چه
مجرم د هغه د نيولونه پاتې شي. د هغه علم ټول ځيزونه په خپل ځان كښې راګيركړي دي د هغه ذات د
هيرې وغيره نه پاك دې. نه د هغه د علم نه يوڅيز بهردې اونه د علم نه پس د هيرولودهغه صفت دې
هغه د علم د كمې او د علم د نقصان او هيرولو د نقصان نه پاك دې.

**ټول نعمتونه هم الله ﷻ وركوي:**-موسى عليه السلام دفرعون دسوال په جواب كښې د الله ﷻاوصاف بيانولوسره فرمائي چه هم هغه الله ﷻ زمكه دخلقو دپاره فرش جوړكړې دې.د﴿مهدًا﴾دويم قراءت ﴿مهادًا﴾ دې زمكه الله ﷻ د فرش په توګه جوړه كړې ده چه تاسو په دې باندې په مزه پراته ئې. هم په دې باندې كينئي اوده كيږئي او اوسيږئي.هغه په زمكه كښې ستاسو دتګ راتګ دپاره د سفر د پاره لارې جوړې كړې دي دې دپاره چه تاسولارهيره نه كړئي اومنزل مقصودته په آسانئي سره اورسئي. هم هغه د آسمان نه باران راوروی اود هغې په ذريعه د زمكې نه هرقسم پيداوار راټوكوي. فصلونه باغونه ميوې قسم قسم خوندناكې چه تاسوئې پخپله هم اوخوړئي او ځناوروته ګياهم وركوئي. ستاسوخوراك اوميوې ستاسود ځناورو ګيااوچه اولمده ټول هم د دې نه الله ﷻ راپيداكوي. د چاعقلونه چه صحيح سالم دي د هغوی د پاره خود قدرت دا ټولې نښې دليل دې د الله ﷻ د الوهيت او د هغه وحدانيت اود هغه وجود هم په دې زمكه باندې مونږ پيداكړي دی ستاسو شروع هم ددې نه ده ځكه چه ستاسو پلار حضرت آدم عليه السلام هم ددې نه پيداكړې شوې دې. هم دې ته به تاسو واپس كيږئي دمرګ نه پس هم په دې كښې خښيږئي اوهم ددې نه به د قيامت په ورځ بيارپاسولې شئي.زمونږ په آواز به هم زمونږ تعريف كوئي راوچتيږئي به او يقين به كوئي چه تاسو ډير لږ وخت پورې وئي.(١) لكه چه په بل آيت كښې دی هم په دې زمكه به ستاسو ژوند تيريږي. مړه كيدو سره به هم دې له ځئې اوبيا به هم د دې نه راويستلې شئي.(٢)دسنن په حديث كښې رسول الله ﷺ د يومړي د خښولونه پس دهغه په قبرباندې خاوره اچولوسره اول ځل اوفرمائيل ﴿مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ﴾ دويمه ليه اچولوسره ئې اوفرمائيل﴿وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ﴾اودريم ځل باندې اوفرمائيل ﴿وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى﴾(٣)غرض دا چه فرعون له دليلونه راغله هغه معجزې اونښې اوليدې خودټول انكار اوتكذيب ئې كولو.دكفرسركشئ ضداو تكبرنه منع نه شو لكه چه ارشاد دې ﴿وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ؕ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ﴾(٤) يعنى سره د دې چه دهغوی په زړونو كښې يقين راغلې ووخوبياهم دظلم اوزياتى په وجه دانكار نه منع نه شو.

| | |
|---|---|
| قَالَ | اَجِئْتَنَا |
| اووئيل هغه | آيا راغلي ئې ته مونږ ته |
| هغه (فرعون) اووئيل چې ائې موسى! آيا | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لِتُخْرِجَنَا | مِنْ اَرْضِنَا | بِسِحْرِكَ | يٰمُوْسٰى | فَلَنَاْتِيَنَّكَ |
| چې اوباسې مونږه | دزمكې زمونږ نه | په جادو خپل سره | اې موسى | نو رابه وړو مونږه تاته |

ته مونږ ته د دې دپاره راغلې ئې اچې ته دخپل جادو په زور مونږ دخپل ملك نه اوباسې انو اوس به

(١) ١٧/الاسراء:٥٢.
(٢) ٧/الاعراف:٢٥.
(٣) احمد:٥/٢٥٤وسنده ضعيف، حاكم:٢/٣٧٩، بيهقي:٣/٩.
(٤) ٢٧/النمل:١٤.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بِسِحْرٍ | مِّثْلِهٖ | فَاجْعَلْ | بَيْنَنَا | وَبَيْنَكَ | مَوْعِدًا |
| جادو | په شان ددې | نو مقرر کړه | په منځ زمونږ | او منځ خپل کښې | ځائې دوعدې |

مونږ ستا په مقابله کښې دغسې جادو وړاندې کړو | نو ته زمونږ اوخپل مينځ يو داسې ځائې مقرر کړه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لَّا نُخْلِفُهٗ | نَحْنُ | وَلَآ اَنْتَ | مَكَانًا سُوًى﴿۵۸﴾ | | قَالَ |
| چې نۀ به کوو مخالفت دهغې نه | مونږه | اونۀ ته | يو | ځائې هوار | اووئيل موسى |

چې نه به ترې مونږ خلاف کوو اونه بۀ ترې ته | چه په يو هموار ميدان کښې دامقابله وی|موسى اووئيل

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مَوْعِدُكُمْ | يَوْمُ الزِّيْنَةِ | وَاَنْ يُّحْشَرَ | النَّاسُ | ضُحًى﴿۵۹﴾ |
| وخت دوعدې ستاسو | ورځ د ميلې ده | او راجمع دې کړې شي | خلق | په وخت دڅاښت کښې |

ښه ده تاسو سره دميلې ورځ نيتهٔ شوه | اوداچې خلق دې د څاښت په وخت کښې راجمع شي

قوله تعالى:- لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى﴿۵۷﴾

**فرعون معجزوته جادو اووئيل:-** دحضرت موسى ؑ معجزه د لرګی نه مارجوړيدل د لاس روښانه کيدل وغيره ليدو سره فرعون وئيل داخوجادودې لوته خو د جادو په زور سره زمونږ ملك اخستل غواړې نو ته مغروره کيږه مه. مونږ هم په دې جادوکښې ستا مقابله کولې شو.ورځ او مقام مقررکړه چه مقابله اوکړو.مونږ به هم په هغه ورځ هم دې ځائ ته راشو اوته هم هسې نه چه څوك رانه شي. په کولاوميدان کښې د ټولوخلقو په وړاندې به د ګټې بيلات فيصله اوشي.حضرت موسى ؑ وئيل ماته منظور ده اود دې د پاره هم ستاسو د اختر ورځ مناسب ده ځکه چه د فرصت ورځ ده ټول به راشي اوکتلوسره به په حق او باطل کښې تميز اوکړي. د معجزې اوجادوفرق به معلوم شي. وخت دسحر کيخودل پکاردی دې دپاره چه کوم څه ميدان ته راشي نوټول ئې اوکتلې شي.

حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه د هغوی د زينت او اختر ورځ د عاشورې ورځ وه. دايادساتنې چه انبياء کرام عليهم السلام په داسې موقعوباندې چرته هم نه روستوکيږی. داسې کار کوی چه په هغې سره حق واضحه شي او هريوته ښکاره شي. په دې وجه هغه د دوی د اخترورځ مقرره کړه او وخت ئې د ورځې د راختو يعنې سحر کيخودواوصفاهوار ميدان ئې مقررکړو د کوم ځائ نه چه ئې هريواوليدې شي اوچه کومې خبرې وی چه هغه واوريدې شي.(١)وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چه فرعون مهلت اوغوښتو.حضرت موسى ؑ انکاراوکړو. په دې باندې وحی نازل شوه چه وخت مقررکړه فرعون د خلويښتو ورځو وخت اوغوښتلوچه منظورکړې شو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ | فَجَمَعَ | كَيْدَهٗ | ثُمَّ | اَتٰى﴿۶۰﴾ |
| نو واپس شو فرعون | او راجمع ئې کړل (اسباب) دمکر فريب خپل | | بيا | راغلې(مقابلې له) |

غرض دا چې فرعون واپس شو | نو خپل دمکر سامان ئې ټول راغونډ کړو | نو بيا موسى ؑ هغه خلقو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قَالَ لَهُمْ | مُّوْسٰى | وَيْلَكُمْ | لَا تَفْتَرُوْا | عَلَى اللّٰهِ | كَذِبًا |
| اووئيل هغوئ ته | موسى | هلاکت دې تاسو دپاره | مه ترئ | په الله باندې | دروغ |

ته اووئيل | چې هلاک شئ | تاسو په الله ﷻ باندې د درغو بهتانونه مه ترئي

(١) الطبرى: ۱۸/۳۲۳.

Scanned with Ca

فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾

کنی هلاك به کړی تاسو | په عذاب سره | اونامراده شو | هغه څوك | چې دروغ ئې جوړ کړل |

کنی هغه به تاسو په عذاب سره هلاک کړی | اوڅوک چې دروغ جوړوی هغه نامراده پاتې شوې دي

فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا

نواختلاف راغې دهغوئ | په کار خپل کښې | په منځ خپل کښې | او پټې پټې ئې شروع کړې |

بیا هغوئ په خپل مینځ کښې په خپله خبره کښې په جنګ شو | او پټې مشورې ئې اوکړې

النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾ قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ

دغوړ خبری | اووئیل هغوئ | دا دواړه | جادوګران دی | غواړی دوئ دواړه | چې اوباسی تاسو |

بیا ئې اووئیل چې دا دواړه رونړه هم جادوګر دی | اودا غواړی چې تاسو دخپل ملک

مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾

د زمکې ستاسو نه | په جادو خپل سره | او ختمې کړی | لارې (دژوند) ستاسو | غوره

نه دجادو په ذریعه اوباسی | اوستاسو بهترینه لاره چاره ورانه کړی | نوټول سره رایوځائې

فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ

نو راجمع کړئ | تدبیرونه خپل | بیا راشئ | قطار قطار (په اتفاق) | او کامیاب شو | نن ورځ

شئ | اودخپل فن مظاهره اوکړئی | نوبیا قطار قطار راشئ | اځکه چې نن به هغه څوک میدان ګټی

مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾

هغه څوك | چې غالب شو |

چې غالب راشی |

قوله تعالی:- فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾

**فرعون جادوګرراواوغوښتل اود مقابله کولوکوشش ئی اوکړو:-** کله چه د مقابله میعاد مقررشو ورځ وخت اوځائ اوټاکلې شو نوفرعون داخوادیخوانه جادوګرراجمع کول شروع کړه.په هغه زمانه کښې د جادو ډیر زور وو لوئ لوئ جادوګرموجود وو او فرعون عام حکم جاری کړې ووچه ټول هوښیار جادوګرماله راولیګئی.هغه وخت پورې ټول جادوګرراجمع کړې شو.فرعون هم په هغه میدان کښې خپل تخت راوویستلو او په هغې کیناستو.ټول امیران اووزیران په خپل خپل ځائ کیناستل. خلق ټول راجمع شو. د جادوګرو صفونه صفونه جوړکړې شو اوتخت سره اودریدل.فرعون دهغوی ملاتړول شروع کړه اوورته ئی اووئیل چه ګورئی نن خپل هغه هنر اوښائې چه په دنیاکښې یادګارپاتې شی.جادوګرووئیل چه که مونږبازی اوګټو نوڅه انعام به هم ملاویږی؟وئیل ولې نه زه خوبه تاسوخپل خاص درباریان جوړ کړم.

**جادوګرو ته میدان کښې د موسی علیه السلام نصیحت:-** بل خواحضرت کلیم الله ﷺ هغوی ته تبلیغ شروع کړو چه ګورئی په الله ﷻ باندې دروغ مه تړئی ګنی دا عملونه به مو تباه کړی. دخلقو په سترګو کښې دوړې مه اچوئی په حقیقت کښې هیڅ هم نه وی او تاسو د جادو په زور ډیر څه اوښائې. د الله ﷻ نه بغیر هیڅ څوك خالق نشته چه په حقیقت کښې څه پیداکړې شی یادساتئی داسې دروغژن اوبهتان

Scanned with Ca

لګونکي خلق خلاصې نه شي موندلې.دې اوریدو سره په هغوی کښې په خپل مینځ کښې پس پس شروع شو.بعضې خو پوهه شو او وئې وئیل چه دا کلام د جادوګرونه دې.دې خو په ربښتیاسره د الله ﷺ رسول دې.

**د جادوګرو مینځ کښې اول اختلاف بیا اتفاق**:-بعضو وئیل چه نه جادوګردې مقابله اوکړئی. دا خبرې ډیر په احتیاط اوپټې اوکړې شوې. د ﴿ان هذن﴾ دویم قراءت ﴿ان هذین﴾هم دې.مطلب اومعنی ددواړو قراءتونو هم یوه ده. اوس ئې په اوچت آواز سره اووئیل چه دا دواړه رونړه هوښیار او رسیدلې جادوګر دی.دې وخته پورې خو ستاسوهوابنده اود بادشاه سره نیزدې ئې مال اودولت دېښې لاندې لوټ کونې خوکه نن دوی داباژی یوړه نو ښکاره خبره ده چه بادشاهی به هم د دوې شی تاسو به د ملك نه اوباسی عوام به د دوی ماتحت شی.د دوی زور به جوړشی بادشاهت به درنه واخلی اودې سره به ستاسو مذهب ختم کړی. بادشاهت عیش او آرام ټول څیزونه به درنه واخلی.شرافت عقل مندی ملك ټول هرڅه به د دوی په قبضه کښې راشی تاسو به هم داسې خوارزار شئی ستاسواشراف خلق به ذلیل شی امیران به فقیران شی ټول رونق اوسپرلې به لاړشی. دا بنی اسرائیل چه ستاسو وینځې غلامان جوړشوی دی ټول به دوی سره شی اوستاسوحکومت به دړې وړې شی.تاسو ټول اتفاق اوکړئی د دوی په مقابله کښې صف بندی اوکړئی او هیڅ یوفن باقی مه پریږدئی په کولاو زړه او هوښیارتوب سره د خپل جادوپه زور دوی ښکته کړئی.هم په یوځل هریواستاذخپله استاذی اوښائی چه میدان هم زمونږ دجادونه ډك شی. ګورئی که هغوی اوګټله نو دا ټول ملك به د هغوی شی اوکه مونږ غالب راغلو نوتاسو اوریدلی دی چه بادشاه به مونږ خپل مقرب او د دربار خاص اراکین جوړکړی.

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ

| اووئیل(جادوګرانو) | اې موسی | یا به ته غورزوې(همساخپله) |

| هغوئ (جادوګرو) اووئیل چې ائې موسی یا خو ته ړومبې خپله (همسا) اوغورزوه او

وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ

او یا به شو مونږه | اول | هغه څوك | چې غورزوی(جادوخپل) | اووئیل موسی | بلکه

یا ئې هم مونږ ړومبې غورزؤ| ..............موسی ؑ اووئیل چې تاسو اول اوغورزوئی

اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ

اوغورزونی تاسو | نو فورا | رسۍ. دهغوئ | او همساګانې دهغوئ | په خیال کښې راتلې هغه ته |

نوناګهانه دهغوئ رسۍ او همساګانې دموسی ؑ په خیال کښې دجادو په زور سره

مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾ فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ

دوجې د جادو دهغوئ نه|داسې لکه چې هغه|(ماران دی) منډې وهی | نو اومندله | په زړه خپل کښې

داسې ښکاره شوې لکه چې منډې وهی | په دې باندې موسی ؑ په خپل زړه کښې

خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿٦٨﴾ وَاَلْقِ

یره | موسی | اووئیل مونږه | مه یریږه | بیشکه ته | هم ته | به غالب ئې | او اوغورزوه

ویره محسوس کړه| مونږ ورته اووئیل چې مه ویریږئی هم ته به برې بیا مومې|او داستا

Scanned with Ca

مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْاؕ

هغه څه | چې په ښي لاس ستا کښې دی | تیر به کړي | هغه څیزونه | چې جوړ کړي دي دوئ

په ښي لاس کښې چې (همسا) ده دا اوغورزوه | ددوئ جوړ کړي ټول څیزونه بهٔ تیر کړي

اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍؕ وَلَا يُفْلِحُ

بیشکه هغه څه | چې جوړ کړي دي دوئ | مکر (فریب) | دجادوګر دي | او بري نهٔ شي موندې

دوئ چې څه جوړ کړي دي دا خو تش دجادو فریب دي | . او جادوګر چې هر ځائې ته لاړشي نو

السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى۝۶۹ فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْٓا

جادوګر | په هر شان سره چې راشی | پس اوغورزولې شو | جادوګران | سجده کونکی | وې وئیل

کامیابیدې نشی | ........................بیا جادوګر په سجده پریوتل او دائې اووئیل چې

اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى۝۷۰

ایمان راوړو مونږ | په رب دهارون | او دموسی |

مونږ خو د هارون ﷺ او موسی ﷺ په رب باندې ایمان راوړو

**قوله تعالی:- قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى۝**

**د جادوګرو موسی ﷺ ته اختیار ورکول او دموسی ﷺ جواب** :-جادوګرو موسی ﷺ ته اووئیل چه اوس وایه ته خپل وار اول کوې که مونږ ئې اوکړو؟ په دې باندې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ اوفرمائیل چه هم تاسو اول د خپل زړه بړاس اوباسئی دې دپاره چه دنیا اوګوری چه تاسو څه اوکړه اوبیا الله ﷻ ستاسو کړه ځنګه ختم کړل.هم هغه وخت هغوی خپل لرګی اورسئی په میدان کښې اوغورزولې څه داسې معلو میدل لکه چه هغه ټول ماران جوړشوی ګرځی راګرځی او په میدان کښې تر لرې لرې تختی. وئی وئیل د فرعون په برکت به هم مونږ غالب راځو.دخلقو په سترګوباندې جادو اوکړو هغوی اوویرول اود جادو زبردست چلونه ئې اوخودل. داخلق ووهم ډیر زیات دهغوی په غورزولې شوی لرګو او رسو باندې ټول میدان دمارانو نه ډک شو. هغوی په خپل مینځ کښې ګډوډ شو اولاتدې باندې شو. دې منظر حضرت موسی ﷺ لږ شان اوویرولوچه هسې نه داخلق د دوی په دې کرتب باندې قائل نه شي او په دې باطل کښې رااونخلی.هغه وخت الله ﷻ وحی اوکړه چه دخپل ښی لاس داهمسا دې میدان کښې اوغورزوه ویریږه مه. هغه حکم په ځائ راوړو.

**په جادوګرو باندې د موسی علیه السلام اوچتوالی**:-د الله ﷻ په حکم دا لرګې یوزبردست او بې مثال اژدها جوړه شوه د هغې پښې هم وې سرجامنې او غاښونه ئې هم وو دې د ټولو په وړاندې ټول میدان صفا کړو. په دې کښې چه د جادوګرو څومره کرتبونه وو ټول ئې الواق تیر کړل. اوس ټولوته حق ښکاره شو اومعجزه اوجادو کښې تمیز اوشو. په حق اوباطل کښې پیژندګلو اوشوه. ټولوته پته اولګیدله چه د جادوګرو په کارکښې هیڅ اصلیت نه وو.په حقیقت کښې جادوګریوچال اوچلولوخو په هغې کښې غالب نه شو.ابن ابی حاتم کښې حدیث دې ترمذی کښې هم موقوفاً او مرفوعاً نقل دې چه جادوګر کوم ځائ وینئ رانیسئ او وژنئ[1] بیاهغوی هم دا جمله تلاوت اوفرمائیله. یعنی چه کوم ځائ کښې

[1] دَ دې معنی روایت په دې ځایونوکښې موجود دې. ترمذی کتاب الحدود باب ماجاء فی حدالساحر:۱٤٦٠ وسنده ضعیف دارقطنی:۱۱٤/۳،حاکم:٤/۳٦۰،بیهقی:۱۳٦/۸،مسندالفردوس:۲۷۰۸).

Scanned with Ca

وینئی امن مه ورکوئی.جادوګروچه کله دا اولیده نو دهغوی یقین پیداشو چه داکارد انسانی طاقت نه خارج دې. هغوی د جادود کار نه خبرووپه یونظرئی اوپیژندوچه واقعی دادهغه الله کاردې دکوم فیصله چه اټل ده.هغه چه څه غواړی د هغه په حکم سره کیږی د هغه د ارادې نه مراداومقصدجدا نه دې. د هغه دوی ته دومره کامل یقین اوشو چه هم په هغه وخت په هغه میدان کښې د ټولو په وړاندې دبادشاه په موجودګئی کښې الله ﷻ ته سرپه سجده شو اوچغې کړې چه مونږ په رب العالمین یعنی د هارون اوموسی ﷺ په رب باندې ایمان راوړې دې. سبحان الله سحر کافران او جادوګران وو اومابنام پاك مؤمنان اود الله ﷻ د لارې شهیدان وو. وائی چه دهغوی شمیر اتیازره یا اویا زره یاڅه د پاسه دیرش زره یانورلس زره یا پنځلس زره یادولس زره وو.داهم روایت دې چه دا اویا ووسحرجادوګر اومابنام شهیدان[1] روایت دې چه کله دوی په سجده کښې پریوتل نو الله ﷻ هغوی ته جنت اوخودلو اوهغوی خپل منزلونه په خپلو سترګوسره اولیدل.[2]

| |
|---|
| قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ |
| اووئیل فرعون \| ایمان راوړلو تاسو \| په هغه باند |
| فرعون اووئیل زما د اجازت نه وړاندې |
| قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ |
| مخکښې ددې نه \| چې اجازت کړې ووما \| تاسو ته \| بیشکه چې هغه \| خامخا مشر دې ستاسو |
| تاسو په ده ایمان راوړو \|............ بیشکه چې دا ستاسو هغه مشر(استاد)دې |
| ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ |
| هغه(مشر) \| چې ښودلې ئې دې تاسو ته \| جادو \| نو خامخا پریکوم زۀ \| لاسونه ستاسو |
| چې تاسو ته ئې هم جادو خودلې دې \| نو اوس زۀ ستاسو لاس او پښې ادل بدل پریکوم |
| وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَـٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ |
| او خپې ستاسو \| ادلې بدلې \| او خامخا په سولئ کوم تاسو \| په تنو کښې \| د کجورو |
| اودکهجورو ونو کښې مو په سولئ خیژوم اودابه درته معلوم شی چې په |
| وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿۷۱﴾ |
| او پته به اولګی تاسو ته \| چې کوم یو زمونږ نه \| زیات سخت دې په لحاظ دعذاب سره \| او باقی پاتې کیدونکې دې |
| مونږ دواړو کښې دچا عذاب سخت دې \| او زیاتې پاتې کیدونکې دې \| هغوئ(جادوګرو) ورته |

**قوله تعالی:- قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ**

**جادوګرو ته د فرعون خطاب اود هغوئ جواب:-** د الله ﷻ شان ته ګوره په کار خوداوو چه فرعون اوس په لار راغلې وې کوم چه هغه د مقابله د پاره راوستې وو هغوی په عام مجمع کښې بیلات اوکړو. هغوی خپل بیلات اومنلو خپل کارته نی جادو اودموسی ﷺ کارته نی دالله ﷻ دطرفنه معجزه او هغه معجزه

---

[1] الطبری:۱۸/۳٤۰.
[2] الطبری:۱۸/۳٤۲.

Scanned with Ca

نې اومنله. پخپله هغوی ایمان راوړو چه د مقابلې دپار راوستلې شوی وو. په عام مجمع کښې د ټولو په وړاندې بغیرد ویرې هغوی حق دین قبول کړو خودې په خپل شیطانت کښې نور هم وړاندې شو او خپل طاقت اوقوت ئې ښکاره کول شروع کړه. خود حق والا مادی طاقت چرته منی؟ اول خوئی د جادوګرو دې مسلمان ټولی ته اوونیل چه زما د اجازت نه وړاندې تاسو په ده باندې ایمان ولې راوړ؟ بیانی داسې بهتان اوتړلوچه د هغې دروغ کیدل بالکل واضحه دی چه موسی ﷺ خوستاسو استاذ دې. هم د ده نه تاسو جادو زده کړې دې. تاسو ټول په خپل مینځ کښې یونی. په مشوره کولوسره زمونږ د تباهئی د پاره اول تاسو دې راولیګلو بیا د ده په مقابله کښې پخپله راغلئی اود خپل مینځ پټه سمجوته باندې تاسو مخامخ بیله اوپه ده باندې مو اوګټله بیامو د ده دین قبول کړو چه ستاسو په کتو سره زما داخلق هم په دې چکرکښې اونخلی. خواوس به تاسو ته د خپل دې سازباز کولو انجام معلوم شی.زه به ستاسو ښې اوګس پښه لاس پرې کړم او دکهجورو په تنوکښې به مو په سولئی کړم او دومره په خرابه طریقه به ستاسو ساه اوباسم چه د نورو دپاره عبرت شی. بادشاه د ټولونه اول داسزا ورکړه. چه دا تاسو خپل ځان په هدایت باندې اوما اوقوم په ګمراهئی باندې ګنړئی د دې حال به اوس تاسو ته معلوم شی چه د همیشه عذاب په چا باندې راځی؟ د دې بدمعاشئی د الله ﷻ په دې دوستانو باندې التیه اثر اوشو هغوی په خپل ایمان کښې کامل شو او ډیر په بې پرواهئی سره ئې جواب ورکړو د دې هدایت اویقین په مقابله کښې چه مونږ ته د الله ﷻ د طرف نه اوس حاصل شوې مونږ ستا مذهب په هیڅ شان سره د قبلولونه یو. نه تا مونږ د خپل رښتونی مالك اوخالق په وړاندې څه څیز ګنړو اودا هم ممکن دی چه داجمله قسم وی یعنی د هغه الله ﷻ قسم چاچه مونږ په اول ځل پیداکړو مونږ په دې واضحه دلیلونوباندې ستا ګمراهئی ته ترجیح ورکولې نه شو.که ته مونږ سره هرڅه اوکړې. د عبادت حقدارهم هغه دې. چه هغه مونږ پیداکړی یو اونه ته چه پخپله هم هغه پیداکړې نی.ته چه څه کوې په هغې کښې کمې مه کوه. ته خو مونږ له هغه وخت سزاراکولې شې چه ترکومې مونږ ددې دنیاد ژوند په قید کښې یوزمونږ یقین دې چه ددې نه پس به دهمیشه راحت اوغیرفانی خوشحالی اومسرت رانصیب کیږی. مونږ په خپل رب باندې ایمان راوړې زمونږ امید دې چه هغه به زمونږ د وړاندې قصور معافی اوکړی. خاص کرداقصورچه مونږ دالله ﷻ د رښتونی نبی په جادوګرئی سره مقابلې کولو کارسرزد شو.

**د جادوګرو د جادو تعلیم هم د فرعون په حکم وو:**-ابن عباس ﷺ فرمائی چه فرعون د بنی اسرائیلو څلویښت ماشومان واخستل اوجادوګروته ئې حواله کړه چه دوی ته د جادو پوره تعلیم ورکړئی. اوس داهلکان دامقوله وائی چه تازمونږنه په زور باندې دجادوګرئی داخدمت واخستو.دحضرت عبدالرحمن بن زید رحمه الله قول هم دا دې([1])بیافرمائی زمونږ دپاره په نسبت ستا الله ﷻ ډیر بهتردې اود همیشه بدله اوثواب ورکونکې دې. نه زمونږ ستا د سزاګانو نه ویره اونه ستا د انعام لالچ. هم د الله ﷻ ذات د دې لائق دې چه د هغه عبادت او تابعداری اوکړې شی. د هغه عذابونه د همیشه د پاره دی او ډیر دردناك دی او سخت خطرناك دی. که د هغه نافرمانی دې اوکړه. نو فرعون هم د هغوی سره دا اوکړه چه د ټولو پښې لاسونه ئې اولټه او سیدا پریکړل او په سولئی ئې اوځیژول. هغه ډله چه د نمر راختو سره کافران وو د نمر د ډوبیدونه اول مؤمنان او شهیدان وو.

| قَالُوْا | لَنْ نُّؤْثِرَكَ | عَلٰى مَا | جَآءَنَا |
|---|---|---|---|
| اوونیل جادوګرانو | هر ګز به ترجیح درنه کړو تالره | په هغې باند | چې راغلی دی مونږ ته |
| اووئیل چې مونږبه تا هیڅ کله غوره نه کړو ادهغې ښکاره دلیلونو نه پس چې مونږ ته راغلی دی | | | |

[1] الطبری:۱۸/۳٤۱.

Scanned with Ca

مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِيْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ

دروښانه نښو نه | قسم دې په هغه ذات | چې پيدا کړي ئې يو مونږ | پس اوکړه | هغه څه | چې ته

اودهغې الله ﷻ په مقابله کښې چې مونږ ئې پيدا کړي يو | ته چې هر څه فيصله کول غواړې

قَاضٍ ط اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝ اِنَّآ اٰمَنَّا

کونکې ئې | بيشکه | ته فيصله کولې شې | ددې ژوند ددنيا | بيشکه مونږه | ايمان راوړې دې

هغه اوکړه | ته خوبس ددې دنيا په حقله (چې څه غواړې هغه) کولې شې | مونږ خو پخپل رب ايمان راوړو

بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا

په رب خپل | دپاره ددې چې اوبښي | مونږ لره | خطاگانې زمونږه | او هغه | چې مجبوره کړي يو تا مونږه

چې هغه زمونږ گناهونه معاف کړي | او کوم د جادو کولو په باره کښې چه تا په مونږ کوم زياتې کړې دې

عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ط وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۝ اِنَّهٗ

په هغې باند | چه جادو دې | او الله | بهتر دې | او باقي پاتې کيدونکې دې | بيشکه شان دادې

هغه (هم راته اوبخښي) | او الله ﷻ هرچانه غوره دې او باقي پاتې کيدونکې دې | ياد ساتئ

مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ط لَا يَمُوْتُ

چې څوک ورشي | رب خپل ته | په حيثيت دمجرم | نو بيشکه | دپاره دهغه | دوزخ دې | چې نۀ به مرې

چې څوک خپل رب ته د مجرم په حيثيت راشي | نو بيشکه هغه دپاره جهنم دې | چې نه به په کښې مرې

فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ۝ وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ

په هغې کښې | او نۀ به ژوندې اوسي | او څوک چې ورشي هغه ته | په حيثيت دمومن | چې کړي ئې وي

او نه به رغيږي | او څوک چې ورته ايماندار ورشي | چې دنيکئ کارونه ئې کړي وي

الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ۝ لا جَنّٰتُ

نيک عملونه | نو دغه کسان چې دي | دي دهغوئ دپاره | مرتبې | اوچتې | باغونه دي

نوداسې خلقو دپاره اوچتې اوچتې درجې مقرر دي | (يعنی) ......... د هميشه استوگنې باغونه

عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط

دهميشه استوگنې | چې بهيږي به | لاندې د ونود هغې نه | نهرونه | هميشه به وي | په هغې کښې

چې دهغې لاندې به ولې بهيږي | دوئ بۀ په کښې تل ترتله اوسيږي (چه د وتو ويره به ئې نه وي)

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ۝ ع

او دا جزا ده | دهغه چا | چې پاکوالې ئې اختيار کړو |

اوهم دغه انعام دې د هغه چا چې پاک شو |

**قوله تعالىٰ:- لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ۝**

**په دوزخ کښې به مرگ نه راځي:-** په ظاهره معلوميږي چه جادوگرو ايمان قبول کړو فرعون ته ئې کوم

Scanned with Ca

نصیحتونه اوکرل هم په هغې کښې دا اياتونه هم دی. هغه د الله ﷻ د عذابونونه ويروی اود الله ﷻ د نعمتونو لالچ ورکوی. د ګناهګارانو ځائ دوزخ دې کوم ځائ چه به مرګ هم نه راځي خو ژوندون به هم ډير سخت دمشقت والا د مرګ نه خراب. لکه چه ارشاد دې ﴿لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذٰلِكَ نَجْزِىْ كُلَّ كَفُوْرٍ﴾[1] يعنى نه به مرګ راځي اونه به عذاب سپکيږی کافرانوته مونږ هم داسې سزا ورکوو. په نورو آيانونوکښې دی[2] يعنى د الله ﷻ د نصيحتونونه به هغه خلق بې فيض پاتې وی ځوك چه ازلي بدبخت وی آخر به په ډير سخت أور کښې ورااوغوزولې شی کوم ځائ چه به نه مرګ راځي او نه به د آرام ژوند نصيب کيږی. بل آيت کښې دی چه په دوزخ کښې به خوښيدونکی وائی به ای د دوزخ داروغه ته دعااوکړه چه الله ﷻ مونږ ته مرګ راکړی خوهغه به جواب ورکړی چه نه تاسو له مرګ راځي اونه وتلې شئ[3] مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی اصلی دوزخيان خو به په دوزخ کښې پراته وی نه به هغوی له هلته مرګ راځي اونه به د آرام ژوندملاويږی.اوداسې خلق به هم وی چه هغوی به د هغوی دګناهونو په وجه دوزخ کښې اچولې شی کوم ځائ چه به هغوی اوسوزی او سکاره به شی. ساه به ترې اوخی اوبيا به د شفاعت د اجازت نه پس د هغوی چوری ذرې راويستلې شی اود جنت د نهرونو په غاړو به شيندلې شی اوجنتيانوته به اوفرمائيلې شی چه په دوی باندې اوبه واچوئی.نوچه څنګه تاسو دنهرونو په غاړو د فصل دانې په راټوکيدو باندې ليدلې دی دغه شان به هغوی راټوکيږی دې اوريدو سره يوسړی اووئيل يارسول الله ﷺ مثال خودې داسې ورکړولکه چه تاسو څه زمانه په ځنګل کښې تيره کړې وی.[4]

**د نيک عمل کونکی د پاره جنت:**-په يوبل حديث کښې دی چه په خطبه کښې د دې آيت د تلاوت نه پس حضورﷺ فرمائيلې ووځوك چه الله ﷻ سره د قيامت په ورځ په ايمان اونيك عمل سره ملاوشی هغه ته به داوچتو بالاخانو والا جنت ملاويږی. رسول الله ﷺ فرمائی د جنت سل درجې دی او په هره درجه کښې دومره فاصله ده څومره چه په زمکه اوآسمان کښې ده. د ټولونه پاس جنت الفردوس دې د دې نه څلور نهرونه روان دی. ددې چت د رحمن عرش دې. تاسو چه د الله ﷻ نه کله هم جنت غواړئ نود جنت الفردوس سوال کوئ.[5] (ترمذیوغيره). ابن ابی حاتم کښې دی چه وئيلې شوی ووچه د جنت سل درجې دی اوبيا دهرې درجې سل درجې دی په دوو درجوکښې دومره لريوالی دې څومره چه په زمکه او آسمان کښې دې. په دې کښې ياقوت مرغلرې اوکالی هم.په هرجنت کښې اميردې د کوم د فضيلت اوسردارئ چه ټول قائل دی.د بخاری اومسلم په حديث کښې دی چه د اوچت عليين والا داسې ښکاری لکه څنګه چه تاسو خلق د آسمان ستوروته ګورئ.خلقو وئيل چه بياخويه دااوچتې درجې د انبياء کرامو د پاره وی؟ ونی فرمائيل واورئ د چا په قبضه کښې چه زما ځان دې داهغه خلق دی چه په الله ﷻ باندې ايمان راوړې او نبيان ئی رښتونې ګڼړلی.[6] د سنن په حديث کښې داهم دی چه ابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم د دوی نه دې. او څومره د ښه مرتبې والا دی.[7] داجنتونه د هميشه د اوسيدود پاره دی. کوم ځائ چه به دوی د هميشه اومدام د پاره وی. کوم خلق چه خپل نفس پاك ساتی دګناهونو او

[1] ) ۳۵/فاطر:۳٦.
[2] ) ۸۷/الاعلى:۱۱. الخ
[3] ) ٤۳/الزخرف:۷۷.
[4] )صحيح مسلم کتاب الايمان باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدين من النار:۱۸۵، احمد:۱۱/۳، ابن ماجه:٤۳۰۹، ابن حبان:۱۸٤.
[5] )ترمذی کتاب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة درجات الجنة: ۲۵۳۱ وسنده صحيح، احمد: ۳۱٦/۵، حاکم:۸۰/۱.
[6] )صحيح بخاری کتاب بدء الخلق باب ماجاء فی صفة الجنة وانها مخلوقة:۳۲۵٦، صحيح مسلم۲۸۳۱، احمد:۳٤۰/۵، ابن حبان:۷۳۹۳.
[7] )ابوداؤد کتاب الحروف والقراءات:۳۹۷۸ ترمذی :۳٦۵۸، ابن ماجه: ۹٦، احمد:۲۷/۳، مسندابی يعلى:۱۱۳۰.

Scanned with Ca

خباثت نه د گندګئی نه دشرك اوكفر نه ئې لرې ساتي دالله ﷻ چه واحد ذات دې عبادت كوي د رسولانو په تابعدارئ كښې خپل ژوندون تيركړي د هغوی د پاره هم دغه د فخر مقامات او قابل د صد مباركباد انعام دې. رزقنا الله اياها.

| |
|---|
| وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ |
| او بيشكه وحی اوكړه مونږ \| موسی ته |
| او مونږ موسی ﷺ ته خپله وحی اوليږله چې زما بندګان |
| أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى فَٱضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِى ٱلْبَحْرِ يَبَسًا |
| چې بوزه دشپې \| بندګان زما \| او جوړه كړه \| دپاره دهغوئ \| لاره \| په درياب كښې \| وچه \| |
| شپه په شپه دمصر نه بهر بوزه \| بيا ورله په سمندر كښې (دهمسا په وهلو) يوه اوچه لار جوړه كړه |
| لَّا تَخَٰفُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ۝ فَأَتْبَعَهُمْ |
| نۀ دې وی يره تاته \| ددرسيدو (دفرعون نه) \| او نۀ دې راشي يره په تا \| پس وراورسيدو په هغوئ پسې |
| مه د (چا) د رالاندې كولو ويره كوه \| او مه نوره ويره (په زړه كښې ساته) \| نو فرعون |
| فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ۝ |
| فرعون \| سره دلښكرو خپلو \| نو پټ كړې هغوئ لره \| درياب \| هغه چې پټ ئې كړل هغوئ |
| وريسې خپلې لښكرې روانې كړې \| نود درياب چپې په دوئ راوختلې \| اودوئ ئې پټ كړل (يعنې ډوب |
| وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ۝ |
| او بې لارې كړې وؤ \| فرعون \| قوم خپل \| او نۀ ئې وه ورته ښودلې نيغه لار \| |
| ئې كړل) \| او فرعون خو خپل قوم ګمراه كړې وو \| او سمه لار ئې ورته خودلې نه وه \| |

**قوله تعالى:- لَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى**

**دحضرت موسی ﷺ قوم اخستل اود شپې وتل:-** دحضرت موسی ﷺ دافرمان هم فرعون روستو كړې ووچه هغه دې بنی اسرائيل د خپلې غلامئ نه آزادكړي اوهغه دې حضرت موسی ﷺ ته حواله كړي. په دې وجه الله ﷻ تبارك وتعالى هغه ته حكم اوكړوچه هم د شپې شپې په بې خبرئ كښې ټول بنی اسرائيل چپ چاپ ځان سره كړه اود دې ځائ نه لاړشه لكه څنګه چه د دې تفصيلي بيان په قرآن مجيد كښې په مختلفو موقعوباندې شوې دې. دارشاد مطابق هغه بنی اسرائيل ځان سره كړل اود دې ځائ نه ئې هجرت اوكړو. سحر چه كله فرعونيان راپاسيدل اوپه ښاركښې يوبنی اسرائيلی اونه ليدلو نو فرعون له ئې خبروركړو هغه په غصه كښې تاوړاتاوشو او هرطرف ته ئې كسان اوزغلول چه لښكرې راجمع كړي او غاښونه په چيچلوچيچلو سره ئې اوونيل چه دې يوموټې خلقو خو مونږ ډيرتنګ كړې يو. نن دا ټول قتل كړئی دنمر راختوسره لښكر موجودشو هم هغه وخت پخپله مشرئی كښې لښكر واخستو او هغوی پسې شاته روان شو. بنی اسرائيل د درياب غاړې له رسيدلې وو چه د فرعون لښكر هغوی اوليدو.اوويريدل او خپل نبی ﷺ ته ئې اوونيل حضرت اوس به څه كيږی وړاندې درياب دې اوشاته فرعونی لښكر. هغوی جواب وركړو چه د ويريدلو هيڅ خبره نشته زما په امدادباندې پخپله زما رب دې هغه به اوس ماته لار اوښائی. دې كښې د الله ﷻ د طرف نه وحی راغله چه موسی ﷺ درياب په خپل لرګی باندې اووهه هغه به اخواشی اولار به دركړی. نو هغه دې وينا سره چه د الله ﷻ په

Scanned with Ca

حکم اې دریابه اخواشوه او. هم هغه وخت د هغې اوبه لکه د کاڼرې یوخوابل خوا اودریدې او په مینځ کښې لارې ښکاره شوې. اخوادیخوا اوبه لکه د لویولویو غرونو په شان اودریدې اوتیزو او اوچې هوا دا لارې بالکل لکه د اوچې زمکې د لارې په شان کړې. نه د فرعون د راګیرولو ویره پاتې شوه اونه د دریاب ډوبولو خطره پاتې شوه. فرعون اود هغه لښکر دا حال لیدلو. فرعون حکم اوکړو چه هم په دې لارو باندې تاسو هم ورپورې اوځئ. سره د خپل لښکر هم په دې لارو ورکوز شو د هغوی په کوزیدو سره اوبوته دروانیدو حکم اوشو دسترګو په رپ کښې ټول فرعونیان ډوب کړې شو.د دریاب چپوهغوی راپټ کړل. دا دلته چه کوم اوفرمائیلې شو چه هغوی هغه څیز راپټ کړل چه کوم څیز پټ کړل دا د دې د پاره چه دا مشهور اومعروف دې د نوم اخستلوضرورت نشته یعنی د دریاب موجونو.

هم د دې په شان آیت ﴿وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوٰى ۝ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ۝﴾([1])یعنی د قوم لوط کلی هم هغه دغه شان راخلاص کړل بیاچه په هغوی باندې کومه تباهی راغله نوبس راغله،دعربوپه شعرونوکښې داسې مثالونه موجود دی.غرض دا چه فرعون خپل قوم دهوکه کړو اونیغه لارئی هغوی ته اونه خودله. لکه څنګه چه په دنیا کښې هغه وړاندې شو او په دریاب کښې لاهوکړل دغه شان به وړاندې کیږی د قیامت په ورځ به ئی په دوزخ کښې هم ورټوښی چه ډیر بدترین ځائ دې.([2])

| |
|---|
| يٰبَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ |
| اې بنی اسرائیلو \| مونږ تاسو ستاسو ددښمن نه خلاص کړئی \| او وعده اوکړه مونږ تاسو سره \| په طرف |
| ائې بنی اسرائیلو خلاصې درکړو مونږ تاسو ته \| ددشمن ستاسو نه \|اومونږ د کوه طور ښی طرفته تاسو سره |
| الطُّوْرِ الْاَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۝ |
| دکوه طور \| ښی \| او نازل کړل مونږه \| په تاسو باندې \| من(ترنجبین) \| او سلوی(مرزان) \| |
| (دتورات درکولو) وعده اوکړه\| اومونږ په تاسو باندې من اوسلوی نازل کړل کړو(اوحکم مو اوکړو چې) |
| كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا |
| خورئ \| دپاکو څیزونو \| هغو نه \| چی درکړی دی مونږ تاسو ته \| او سرکشئ مه کوئ \| |
| کوم پاکیزه څیزونه مونږ تاسو ته درکړی دی هغه خورئی \|او په دې کښې له حد نه مه تیریږئی |
| فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ |
| په(خوراک د) هغې کښې \| ګنی واقع به شی \| په تاسو باند \| غضب زما \| او هغه څوک چی واقع شو |
| ګنی په تاسو باندې به زما غضب نازل شی \| ..............او په چا چې زما غضب نازل شو |
| عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ۝ وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ |
| په هغه باند\| غضب زما \| نو یقینا هغه هلاک شو\| او بیشګه زهٔ \| خامخا ډیر ښښونکې یم\| |
| نو هغه هلاک شو.......................\|او زه به ضرور د هغه چا ښښونکې یم\| |
| لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ |
| هغه چا لره \| چی توبه ئې اوویستله \| او ایمان ئې راورو\| او عمل ئې اوکړو نیک \| بیا |
| ..........چه ایمان راوړی \|اونیک عمل اوکړی \|اوبیا په سمه لار قائم پاتې شی |

([1]) ۵۳/النجم:۵۳-۵٤.

([2]) ۱۱/هود:۹۸.

| |
|---|
| اهْتَدٰى﴿۸۲﴾ |
| په نيغه لار روان شو ا |

قوله تعالى:- يٰبَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ

**دالله ﷻ د انعاماتو ذکر او ورسره خبرداري:-** الله ﷻ چه په بنى اسرائيلو باندې کوم لوئ لوئ احسانونه کړی ووهغه وريادوی. په هغې کښې يوداوو چه هغوی ته ئی د دښمنانونه خلاصې ورکړو اوداهم نه بلکه د هغوی دښمنانو ئی د هغوی د سترګويه وړاندې په درياب کښې ډوب کړل يوهم د هغوی نه باقی بچ پاتې نه شو. لکه چه ارشاددې ﴿وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ﴾([1])يعنى مونږ ستا د سترګو وړاندې فرعون ډوب کړو. په صحيح بخارى شريف کښې دی د مدينې منورې د يهوديانود عاشورې په ورځ روژې ساتلوسره اوکتل نورسول الله ﷺ د هغوی نه ددې د سبب معلومات اوکړه. هغوی جواب ورکړو چه هم په دې ورځ موسى ﷺ له الله ﷻ په فرعون باندې کاميابى ورکړې وه. حضورﷺ اوفرمائيل چه ستاسو په نسبت خو هغه مونږ ته ډيرنيزدې دې. حضورﷺ مسلمانانوته د دغه ورځ د رژوې ساتلو حکم ورکړو([2]) بيا الله ﷻ خپل کليم ته د کوه طور د ښى طرف ته وعده ورکړه. هغه هلته لاړو او شاته بنى اسرائيلو د سخى عبادت شروع کړو.دکوم بيان چه به هم وړاندې راشى. ان شاء الله ﷻ.دغه شان يواحسان ئى په هغوی باندې د من اوسلوى خوراك ورکول اوکړو. د دې پوره بيان په سورة بقره وغيره په تفسيرکښې تيرشوې دې. من دايوخوږ څيز وو چه د هغوی د پاره به د آسمان نه راکوزيدو اوسلوى يوقسم مرغئى وې چه د الله ﷻ په حکم به د هغوی مخې ته راتلې.دوی به د يوې ورځې د خوراك په اندازه د هغې نه اخستلو.زمونږ دا درکړې شوې رزق خورئى اود حد نه مه وړاندې کيږئى. په حرام څيز يا په حرامه لار دا مه غواړئى ګنى زما غضب به نازل شى. او په چاچه زماغضب نازل شو يقين اوکړئى هغه بدبخت شو.([3]) حضرت شفيع بن مانع رحمه الله فرمائى په دوزخ کښې يواوچت ځائ جوړشوې دې د کوم ځائ نه چه به کافر دوزخ ته راغورزولې شى نود زنځيرونو ځائ ته په څلوېښت کاله کښې رارسى. د دې آيت هم دامطلب دې چه هغوی په کنده کښې راپريوتل او چه څوك هم زما په وړاندې د خپلې ګناه نه توبه اوکړى زه د هغه توبه قبلوم.ګورئى بنى اسرائيلوکښې چه چا د سخى عبادت کړې وو د هغوی د توبه نه پس الله ﷻ هغوی هم اوبښل. غرض چه په کوم کفرشرك اوګناه باندې څوك وی بيا هغه د الله ﷻ د ويرې نه پريږدی الله ﷻ هغه معاف کوی. اودا ده چه د شروع نه ئی ايمان وی اونيك عمل کوی اووی هم په نيغه لاره شکى نه وی د رسول الله ﷺ په سنتواود صحابه کرامو ﷺ په طريقه وی او په دې کښې ثواب ګنړى. دلته د ثم لفظ د خبر په خبر ترتيب کولود پاره راغلې دې. لکه ارشاد دې ﴿ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ﴾([4])

| قَالَ | يٰمُوْسٰى﴿۸۳﴾ | عَنْ قَوْمِكَ | اَعْجَلَكَ | وَمَآ |
|---|---|---|---|---|
| اووئيل موسى | اې موسى | دقوم ستانه | راګرندي کړې ته | او څه څيز |
| اوموسى ﷺ دا ته ولې د خپل قوم نه په تلوار رامخکښې شوې اموسى ﷺ اووئيل | | | | |

[1]) ۲/البقره:۵۰.
[2]) صحيح بخارى کتاب التفسير سورة طه باب ﴿ولقد اوحينا الى موسى ان اسربعادى فاضرب لهم....﴾:۴۷۳۷، صحيح مسلم:۱۱۳۰، ابوداؤد:۲۴۴۴، احمد:۱/۲۹۱، ابن حبان:۳۶۲۵.
[3]) الطبرى:۱۸/۳۴۷.
[4]) ۹۰/البلد:۱۷.

Scanned with Ca

هُمْ أُولَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِىْ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿٨٤﴾

هغوئ | دغه دي | چه روستو زما روان دي | او په تلوار راغلم زۀ | تاته | اې ربه | چې راضي شې ته

زما ربه هغه ټول ما پسې (راروان دي) او ما ستا طرفته دراتلو تلوار ځکه اوکړو چې ته خوشحاله شې

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ

اووئيل الله | نو بیشکه مونږه | په امتحان کښې واچولو | قوم ستا | روستو ستا نه |

الله ﷻ اوفرمائيل چې مونږ ستا قوم ستا (د راتلو) نه پس په امتحان کښې اچولې دې | او هغوئ خو

وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَانَ

او گمراهه کړل هغوئ لره | سامري | نو واپس راغې | موسى | قوم خپل ته | سخت غصه

سامري گمراه کړي دي انو موسى علیه السلام دغصې او افسوس په حالت کښې خپل قوم ته واپس راغلو

أَسِفًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ

افسوس کوونکې | اووئيل موسى | اې قومه زما | آيا نۀ وه کړې تاسو سره | رب ستاسو |

...............او وې فرمائيل ائې زما قومه آيا ستاسو رب تاسو سره يو ښه وعده نه وه کړې

وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ

وعده | نيکه | آيا وږده شوه | په تاسو باند | زمانه | يا | غوارئ تاسو | چې راشي

بيا آيا په تاسو باندې ډير زيات وخت تير شوې وو | يا دامو خوښه ده چې په تاسو دې

عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴿٨٦﴾

په تاسو باندې | غضب | دطرفه درب ستاسو | چې خلاف اوکړو تاسو | دوعدې زما |

ستاسو درب غضب خامخاه راشي انو ځکه مو ماسره د پخې وعدې کولو نه مخالفت اوکړو

قَالُوا۟ مَآ أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا

اووئيل هغوئ | چې خلاف نۀ دې کړې مونږه | دوعدې ستا | په اختيار خپل سره | ليکن مونږه

هغوئ ورته اووئيل چې مونږ تاسره د خپلې وعدې نه په خپله خوښه اوريدلې نه يو اخو خبره داده

حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ

بار کړې شوی وو | په | پيټو | دکالو | د خلقو | نو اوغورزول مونږه هغه | نو دارنگې

چې په مونږ باندې د(قبطی) قوم (پاتې شوی) کالی درانه شوی وو | نو مونږ هغه اوغورزول انو دغه شان

أَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ

او غورزول | سامري(هم) | نو راوويستو هغه | دپاره دهغوئ | يو سخې | يوه جوسه | چې وۀ هغه لره

سامری هم اوغورزول انو بيا (سامري) هغې خلقو ته يو سخې راښکاره کړو | چې هغه تش کالبوت وو

Scanned with Ca

خُوَارٌ فَقَالُوْا هٰذَآ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾

اواز(دسخي) | نو اوونيل هغوئ | دادي |معبود ستاسو | او معبود | دموسى | نو هغه هير كړي دي

خو اواز به ئي كولو |نو هغوئ( بنى اسرائيلو) اووئيل چي هم دا ستاسومعبود دي |او د موسى هم معبود دي خو

اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا ۙ وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ

آيا نه گوري دوئ | چي جواب نه وركوى | دوئ ته | د خبري | او نه اختيار لرى | دپاره ددوئ |

موسى ﷺ هير كړو | آيا دا خلق نه گورئى چي هغه بت دهغوئ دخبري جواب نه وركوى| اونه هغوئ ته

ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ ع

دنقصان| او نه دنفعي |

دنقصان رسولو اختيار لرى|

قوله تعالى:- قَالَ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾

**د موسى ﷺ د قوم ازميښت:** حضرت موسى ﷺ چه كله د درياب نه پورې وتلو نو يوځاىٔ ته اورسيدل دكوم ځاىٔ خلق چه د خپلو بتانو منجوران جوړ شوى ناست وو. بنى اسرائيلو وئيل موسى ﷺ زمونږ د پاره هم داسې يومعبود مقرركړه. هغوى اوفرمائيل تاسو ډير جاهلان خلق ئى دا خو بربادشوى خلق دى اوددوى عبادت هم باطل دې. بيا الله ﷻ هغه ته د ديرشو روژو حكم اوكړو بيائى دا زياتې كړې او پوره څلويښت شوې. شپه ورځ به روژه وو. هغه زركوه طورته لاړو په بنى اسرائيلو باندې نى خپل رور هارون ﷺ خليفه مقرركړو. هلته چه اورسيدو نو الله ﷻ د دې زر راتلود وجه تپوس اوكړو هغه جواب وركړو چه هغه هم كوه طور سره نيزدې دې راځى. ماتندى اوكړه چه ستا رضامندى حاصله كړم او په هغې كښې وړاندې شم. الله ﷻ اوفرمائيل ستاپه زر راتلوكښې ستاقوم په يوه بله فتنه كښې اخته شو او هغوئ د سخي عبادت شروع كړو. داسخې سامرى جوړكړو اوهغوى نى د دې په عبادت كښې اخته كړل. په اسرائيلى كتابونوكښې دى چه د سامرى نوم هم هارون وو. حضرت موسى ﷺ له د وركولود پاره دتورات تختنې ليكلې شوې وې لكه چه فرمان دې ﴿وَكَتَبْنَا لَهٗ فِى الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ۚ سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ﴾ (١) يعنى مونږ د هغه دپاره دهرڅيز باره كښې تذكره اودهر څيز تفصيل ليكلې وو او ورته مو وئيلې وو چه دا مضبوطې اونيسه اوخپل قوم ته هم اووايه چه په دې ښه عمل اوكړى. زه به تاته ډير زر د فاسقانو انجام اوښايم. حضرت موسى ﷺ ته چه كله د خپل قوم د مشركانه كار خبر اوشو نو سخت خفه شو او په ډير غم اوغصه كښې د هغه ځاىٔ نه واپس د قوم طرف ته لاړو چه اوگورى هغوى د الله ﷻ د دې دومره نعمتونوسره داسې سخت د بې وقوفتيا اومشركانه فعل مرتكب شو. غم خفگان او تكليف اوغصه هغه ته ډيره زياته ورغلې وه واپس راتلوسره نى اووئيل گورئى الله ﷻ تاسو سره ټولې نيكې وعدې كړې وې تاسوته يىٔ ددنيا او آخرت خيرونه او انعامونه دركړه خو په لږ شان وخت كښې تاسو د الله ﷻ نعمتونه هيركړل بلكه تاسو خو هغه حركت اوكړو په كوم سره چه د الله ﷻ غضب په تاسو نازل شو تاسو چه ماسره كومه وعده كړې وه د هغې مو بالكل لحاظ اونه ساتلو. (٢) اوس بنى اسرائيلومعذرت اوكړوچه مونږ داكار په خپل اختيار سره نه دې

(١) ٧/الاعراف:١٤٥.

(٢) الطبرى:١٨/٣٥٠.

Scanned with Ca

کړې خبره دا وه چه کوم سره زر د فرعونيانو مونږ سره قرض اخستې شوی پاتې شوې وو مونږ بهترهم دا اوګنړل چه دا چرته اوغورزوو نو مونږ ټول په ټول دپرهيزګارئي په توګه هغه اوغورزول.

**دسر زرو و سپينو زرو د سيزلو حکم هم هارون ؈ کړې وو:**-يوروايت کښې دی چه حضرت هارون ؈ پخپله يوه کنده اوکنستله په هغې کښې ئې اُور بل کړو او هغوی ته ئې اوفرمائيل چه هغه ټول کالي په دې کښې واچوئې.دابن عباس ﷺ بيان دې چه د هارون ؈ داارادہ وه چه دا ټول کالي يوځائ شي ويلې شي او يو غونډارې جوړشي. بيا چه کله موسی ؈ راشي اوځنګه وائي نو هغه شان به اوکړو. سامری په دې کښې هغه موټې واچولوکوم چه هغه د الله ﷻ د قاصد د نښې نه ډک کړې وو اوحضرت هارون ؈ته ئې اووئيل چه ته د الله ﷻ نه دعااوکړه چه هغه زما خواهش قبول کړي. هغه ته څه خبر وو دعائي اوکړه. هغه داخواهش کړې ووچه ددې نه يوسخې جوړشي دکوم نه چه دسخی په شان آواز هم اوځي نو هغه جوړشو اود بنی اسرائيلو د فتنه سبب جوړشو. نوارشاددې چه هم دغه شان سامری هم ورواچول (¹)هارون ؈ يوځل سامری سره خواکې تيريدوهغه هغه سخې ټيک ټاک کولو. هارون ؈ تپوس اوکړو څه کوې؟هغه وئيل چه هغه څيز جوړوم کوم چه نقصان به ورکوی او فائده به نه ورکوی.هغه دعااوکړه يا الله دې پخپله داسې کړې اودهغه ځائ نه ئې تشريف يوړو،سامری دعااوکړه چې ياالله دا څخې داسې کړې چې آواز کوی.دسامری په دعاسره دا سخې جوړشو او آوازبه ترې راوتلو.بنی اسرائيل په دهوکه کښې راغله او د دې عبادت ئې شروع کړو.د ده په آواز به هغوی ده ته په سجده پريوتل او په دويم آواز به ئې سر د سجدې نه اوچتولو. دې ټولې نورمسلمانان هم دهوکه کول چه په اصل کښې الله هم دا دې موسی؈ نه چرته هيرشوې دې او بل ځائ کښې دده په لټون کښې ګرځی.هغه نه داوينا کول هير شوی دی چه داستاسو رب دې.داخلق منجوران جوړشو اود ده نه چاپيره ناست وو.د هغوی بې وقوفتياته ګوره چه دوی دومره نه ګوری چه هغه سخې خوصرف بې ساځيز دې.نه د هغوی ديوې خبرې جواب ورکولې شي اونه اوری.نه هغه ته د دنيااودآخرت د څه خبرې اختياراونه د ده په لاس کښې څه نفع اونه څه نقصان شته آواز چه به ترې کوم راوتلو ددې وجه هم صرف دا وه چه د روستو سورې نه به ئې هواتيريدله اوپه خُله به وتله نود هغې آوازبه راتلو.ددې سخی نوم هغوی بهموت کيخودلې وو.

**د باران نه بچ کيدو پرنالې ته اودريدو:**-بل د هغوی دې بيوقوفتياته اوګوره چه د وړې ګناه نه د بچ کيدود پاره ئې لويه ګناه اوکړه. د فرعونيانود امانتونو نه د آزاديدلو د پاره ئې شرك شروع کړو. داخو هم هغه مثال شو چه يوعراقی دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه تپوس اوکړو که په کپړا باندې د ماشی وينه اولګی نو مونځ پرې کيږی که نه؟ نوهغوی اوفرمائيل چه دې عراقيانوته ګوره د رسول الله ﷺ د لور د ځيګر ټکره خو ئې قتل کړه اود ماشی د وينې د مسئلوتپوسونه کوی.(²)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَقَدْ | قَالَ لَهُمْ | هٰرُوْنُ | مِنْ قَبْلُ | يٰقَوْمِ | اِنَّمَا |
| او وئيلي وو | دوئ ته | هارون | دمخکښې نه | اي قومه زما | بيشکه |
| اونه دنفع ورکولو او ددې نه وړاندې هارون هغوئ ته وئيلي هم وو چې ائي زما قومه | | | | | |
| فُتِنْتُمْ | بِهٖ | وَاِنَّ | رَبَّكُمُ | الرَّحْمٰنُ | |
| په فتنه کښې اچولې شوی يئ تاسو | په دې (سخی) سره | او بيشکه | رب ستاسو | رحمن دې | |
| د دې سخی په سبب په تاسو امتحان کړې شوې دې ........ او بيشکه ستاسو رب رحمن دې | | | | | |

¹) الطبری: ۱۸/۳۵۵.

²) صحیح بخاری کتاب الادب باب رحمة الولدوتقبیله ومعانقته: ۵۹۹۴، ترمذی: ۳۷۷۰، ابن ابی یعلی: ۵۷۳۹.

Scanned with Ca

فَاتَّبِعُوْنِيْ وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ

نو تابعداري اوکړئ زما | او اطاعت اوکړئ | دحکم زما | اوونيل هغوئ | چې هميشه به اوسو مونږ

نو زما تابعداري کوئ |اوزما حکمونه منئ |هغوئ اووئيل چې مونږ خو به دده په عبادت کښې

عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى ﴿٩١﴾ قَالَ

په عبادت ددې سخې | محکم ولاړ | تردې پورې|چې واپس راشي|مونږ ته | موسى | اووئيل موسى

مشغول يو| ........................ تر دې چې موسى ؈ راته واپس راشي |موسى ؈ اووئيل چې

يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ﴿٩٢﴾

اې هارونه | څه څيز منع کړې وې ته | کله چې | اوليدل تا دوئ | چې ګمراهان شول |

ائې هارونه ته ماپسې ولې نه راتلې کله چې تا دا اوليدل چې دوئ ګمراهان شول ؟

اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ﴿٩٣﴾ قَالَ

چې عمل دې اونکړلو په طريقه زما | ايا خلاف ورزى اوکړه تا | دحکم زما | اووئيل هارون |

........................ ايا تاهم زما د حکم نافرمانى اوکړه ؟| (هارون) اووئيل چې ائې زما دمور

يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ

اې خويه دمور | مه نيسه | ږيره زما | اونه سر زما | بيشکه زه | يريدم | چې ته به اووائې

خويه (روره) |زما ږيره او زما سر مه رانيسه |ما سره دا ويره شوه چې ته به دا او وائې|چې

فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿٩٤﴾

چې اختلاف دې پيدا کړو| په منځ | دبني اسرائيلو کښې | او لحاظ دې اونکړو|دخبرې زما |

تا په بني اسرائيلو کښې اختلاف پيدا کړو| اوزما د راتلو انتظار دې اونه کړو|

قوله تعالى:- اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ

**د باطل معبودعبادت کول فتنه ده:**-حضرت موسى ؈ راغلو دې نه وړاندې حضرت هارون ؈ هغه ډير پوهه کړو چه ګوره په فتنه کښې مه پريوځى د رب رحمن نه بغيرد بل چا مخې ته مه ټيټيږه. هغه د هرڅيز خالق اومالك دې.دټولواندازه مقررکونکې هم هغه دې. هم هغه د عرش مجيدمالك دې. هم هغه چه څه غواړى کونکې دې. تاسو زما تابعدارى اوحکم منل کوئى. زه چه څه وايم هغه په ځائ راوړئى د کوم نه چه منع کوم منع شئى خودې سرکشوجواب ورکړوچه د موسى ؈ خبره خو به مونږ اومنو. نود هغه وخت پورې به مونږ د دې عبادت پرينږدو نود جنګيدلو مړه کيدلود پاره تيارشو.

**د حضرت موسى ؈ د حضرت هارون ؈ نه خفګان:**- حضرت موسى ؈ په سخته غصه اوغم کښې راواپس شوې ووتختئى ئى په زمکه باندې واچولې اوخپل رور هارون ؈پسې په غصه کښې ورغلو اود سر د ويښتونه ئى اونيولواوخپل طرف ته ئى راښکلو. د دې تفصيلى بيان د سورت اعراف په تفسيرکښې تيرشوې دې اوهلته هغه حديث هم بيان شوې دې چه اوريدل د ليدلومطابق نه دى. هغه خپل روراوخپل جانشين ملامت کول شروع کړه چه د دې بت پرستئى شروع کيدو په وخت کښې تاماته ولې خبر اونه کړو؟ آياچه څه ماتاته وئيلې ووته هم د هغې مخالف شوې؟ ماخوصفاوئيلې ووچه زماپه قوم کښې زماجانشينى کولوسره اصلاح کوه اودفساديانومه منه.

Scanned with Ca

**د هارون ؑ حقیقت اظهار:-** حضرت هارون ؑ جواب ورکړو چه اې زما د مورخویه روره دا صرف د دې
دپاره چه حضرت موسی ؑ باندې ډیره مینه اورحم غالب راشی نه نی پلار جداجدا ووهم د یوپلارنه
وودواړه سکه رونړه وو. هغه عذرپیش کولو چه ګوره په زړه کښې خوزما هم راغلې ووچه تاله راشم
اوتاخبرکړم خوبیاخیال راغلو چه دوی یوازې پریخودل ښه نه دی چرته ته مانه نورخفه نه شې چه هغوی
دې یوازې ولې پریخودل. دیعقوب ؑ په اولادکښې دې دا جدائی ولې واچوله؟ اوخه چه ماونیلی وو د
هغې ساتنه اوخیال دې ولې اونه ساتلو؟ خبره داده چه په هارون ؑ کښې د تابعدارئی پوره ماده وه
اود حضرت موسی ؑ به نی ډیر عزت هم کولو اود هغه به نی ډیرلحاظ هم ساتلو.[1]

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ۝ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا
اووئیل موسی نو څه کار دې ستا | اې سامریه | اووئیل (سامري) | لیدلې ووما | هغه څیز | چې لیدلی نه وو خلقو
موسی ؑ اووئیل چې ښه سامریه ته اووایه چې ستا څه قصه ده | هغه اووئیل چې ماته یو داسې څیز ښکاره شو چې

بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا
هغه څیز | نو راواخستلو ما | یو موټې (خاوره) | دقدم دښېپ | د رسول نه | پس ورواچوله ما هغه
هغه بل چاته نه ښکاریدو | ما د فرښتې د قدمونو نه یو موټې خاوره راوچته کړه | بیا مې هغه په دې بت

وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ۝ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ
او دارنګې | ښه ښکاره کړو | ماته | نفس زما (دا کار) | اووئیل موسی | نو څه (لرې شه) | بیشکه
کښې ورواچوله | اوهم دا خبره زما نفس ماته ښه ښکاره کړې وه | موسی ؑ اوفرمائیل چې څه تول

لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ۠ وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا
مقرره ده تادپاره | په ژوند کښې | چې وائې به ته | مه لګیږه (ماسره) | او بیشکه | دې تالره | وخت مقرر
عمر به ته هم دا وائې | چې ماته لاس مه راوړئی | ............ اوتاسره یوه بله وعده (دعذاب هم) ده

لَنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰۤى اِلٰهِكَ الَّذِيْ
چې هرګز به روستو نشي ته د هغې نه (بلکه هم په هغې به هلاکیږې) | او اوګوره ته | خپل معبود ته | هغه
چې دهغې نه روستو کیدې نشي | ............ اوخپل دې معبو د ته اوګوره دکوم چې ته

ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ؕ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ
چې وې ته | په هغه باند | محکم ولاړ | خامخا به مونږ سوزوو هغه | بیا به خامخا ذره ذره کوو هغه
عبادت کوې | ............ مونږ به دا اوسیزو | اوبیا (ددې یره یه) په دریاب کښې

فِي الْيَمِّ نَسْفًا ۝ اِنَّمَاۤ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ لَاۤ
په دریاب کښې | په ذره کولو سره | بیشکه | معبود ستاسو | الله دې | هغه (الله) | چې نشته دې
اوبهي وو | ............ ستاسو معبود خو بس یو الله جل جلاله دې | چې هغه نه سوا بل

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۝
لائق دعبادت | مګر | هم هغه دې | فراښه دې | د هر څیز نه | په لحاظ دعلم سره |
معبود نشته | هغه هر څیز په خپل علم کښې راګیر کړی دی |

[1] الطبری:۱۸/۳۵۹.

Scanned with Ca

**قوله‌تعالى:- قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَامِرِيُّ﴿٩٥﴾**

**سامري سره د موسى ؑ خبرې اوبددعا:-** موسى ؑ د سامري‌نه تپوس اوکړوچه تا دا فتنه ولې جوړه کړه.داسړې دباجرما اوسيدونکې وو د هغه قوم د غوا عبادت کولو.دهغه په زړه کښې هم د غوامينه وه. هغه بني اسرائيلوسره د خپل ايمان اظهارکړې وو. د هغه نوم موسى بن ظفروو. په يو روايت کښې دى چه داکرماني وو په يوبل روايت کښې دى چه د ده کلي نوم سامراوو.(١) هغه جواب ورکړوچه کله دفرعون دهلاکت دپاره جبرائيل ؑ راغلونومادهغه د اس دنوکې لاندې نه لږه شان خاوره واخسته.

د اکثرومفسرينوپه نيز مشهوره خبره هم دا ده. د حضرت على ؓ نه روايت دې چه کله حضرت جبرائيل ؑ راغلواوموسى ؑ ئې واخستو ختلو نوسامري اوليدلو.هغه زر د اس د نوکې لاندې نه خاوره اوچته کړه. حضرت موسى ؑ جبرائيل ؑ د آسمانه پورې بوتلو الله ﷻ تورات اوليکلو حضرت موسى ؑ د قلم د ليکلو آواز اوريدو. خو چه کله هغوى ته د خپل قوم مصيبت معلوم شو نولاندې راغلو او هغه سخې ئې اوسوزولو خود دې اثر سندغريب دې هم د دې خاورې يوه چونډئې ياموټې هغه د بني اسرائيلوجمع کړې شوو کالود سوزولوپه وخت کښې په هغې کښې واچوله چه د هغې نه ښکلې سخې جوړشو. او دننه نه ډډ وو نو هوابه ورننوتله او د دې نه د وتلو په وخت کښې به آواز وتلو. د حضرت جبرائيل ؑ په کتلوسره د هغه داخيال راغلې ووچه زه د ده د اس د نوکې لاندې خاوره اوچتوم زه چه څه غواړم هغه به د دې خاورې په اچولوسره جوړيږى. د هغه ګوتې هم هغه وخت اوچې شوې وې. کله چه بني اسرائيلو اوکتل چه دوى سره د فرعونيانو کالي پاتې شوى دى اوفرعونيان هلاک شو اودا هغوى ته واپس کيدې نه شي نوپريشانه شو.

سامري وئيل چه ګورئې د دې په وجه په تاسو مصيبت نازل شوې دې دا راجمع کړئې اُور ورته کړئې. کله چه هغه راجمع شو او اُورئې اولګولو اوويلې شونود هغه په زړه کښې خيال راغلوچه هغه خاوره په دې باندې ورواچوى هغه د سخى په شکل کښې جوړشى. هم داسې اوشو اوهغه اووئيل چه ستاسو اود موسى ؑ رب دا دې. هم دغه هغه جواب ورکوى چه مادې کښې واچول اوزما زړه هم دا ترکيب ماته اوخودلو. کليم الله ؑ اوفرمائيل چه تاد نه اخستوڅيز په لاس کښې واخستو ستا سزا په دنياکښې اوس هم دا ده چه ته به نه په دنيا کښې چاسره لاس لګولې شې اونه به بل څوک تاسره لاس لګولې شي باقي سزا به ستا په قيامت کښې وى د کوم نه چه خلاصيدل ممکن نه دى د هغه بقايا تراوسه پورې وائى چه لاس مه راوړه.

اوس د خپل معبود حشر هم اوګوره چه د کوم په عبادت باندې به روند پروت وې مونږ هغه سيزو چه ايره شى. هغه د سرو زرو سخې داسې اوسوزيدولکه چه د وينې اوغوبنې سخې څنګه سوزى. بيائى د هغې ايره په تيزه هواکښې په سمندرکښې ذره ذره والوزوله. روايت دې چه هغه د بني اسرائيلو د ښځو چه ټرکومې پورې ممکن وه کالي وغيره راغونډکړل د هغې نه ئى سخې جوړکړو کوم ته چه حضرت موسى ؑ د سوزيدلونه پس پوکې ورکړو اوپه درياب کښې د هغې خاوره او ايره اوبهيوله. چا هم چه د هغې اوبه اوڅکلې د هغه مخ زيړشو.دې سره ټول د سخى عبادت کونکى معلوم شو.اوس هغوى توبه اوکړه اوحضرت موسى ؑ ته اووئيل چه زمونږ توبه به څنګه قبليږى؟ حکم اوشو چه يوبل قتل کړئى(٢) د دې پوره بيان تيرشوې دې بيا هغوى اوفرمائيل ستاسو معبوددا نه دې. دعبادت مستحق خو صرف الله ﷻ دې باقي ټول جهان د هغه محتاج دې اود هغه ماتحت دې اوهغه د هرڅيز عالم دې.

(١) الطبرى:۳۶۳/۱۸.
(٢) حاکم:۳۷۹/۲-۳۸۰.

Scanned with Ca

د هغه علم ټول مخلوق راګیرکړي دي. د هريو څيز شمير هغه ته معلوم دي. يوه ذره هم د هغه د علم نه بهر نه ده. د هرې پاڼې او هرې دانې هغه ته علم دي. بلکه هغه سره چه کوم کتاب دې هغې کښې داليکلې شوی موجود دی. د زمکې ټول ساه لرونکوته رزق هم هغه وررسوی د ټولوځایٔ هغه ته معلوم دې. هرڅه کولاؤ اوواضح په کتاب کښې ليکلې شوی دی. د الله ﷻ علم محيط کل او په ټولو باندې حاوی دی. د دې مضمون نور هم ډير آياتونه دی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| كَذٰلِكَ | نَقُصُّ | عَلَيْكَ | مِنْ اَنْۢبَآءِ | مَا | قَدْ سَبَقَ ۚ |
| هم دارنګې | بيانوو مونږ | په تاباندې | دخبرونونه | هغه خبرونه | چې مخکښې تير شوی دی |
| ائې پيغمبره) هم دغه شان مونږ تاته د پخوانو واقعاتو خبرونه اوروؤ ...............او مونږ | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ | مِنْ لَّدُنَّا | ذِكْرًا ۚ﴿۹۹﴾ | مَنْ | اَعْرَضَ | عَنْهُ | فَاِنَّهٗ |
| او درکړې دې مونږ تاته | دخپل طرف نه | يو ذکر(نصيحت) | هغه چا | چې مخ واړولو | ددې نه | نو بيشکه هغه |
| درته دخپل طرفنه يوه نصيحت نامه درکړې ده | ځوک چې ددې نه مخ اوګرزوی | هغه به دقيامت په | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ | وِزْرًا ۙ﴿۱۰۰﴾ | خٰلِدِيْنَ | فِيْهِ ؕ | وَسَآءَ | |
| باروی په ورځ دقيامت | لوئ بار(دګناهونو) | هميشه به وی | په هغې کښی | او ډير بد دې(دا بار) | |
| ورځ خراب پنډ بار کړی | او په دغه ځائې کښې به هميشه اوسيږ ی | او دغه | | | |

| | | |
|---|---|---|
| لَهُمْ | يَوْمَ الْقِيٰمَةِ | حِمْلًا ۙ﴿۱۰۱﴾ |
| دپاره دهغوئ | په ورځ دقيامت | دحيثيته دبارنه |
| ډير بد ځائې دې | په اعتبار د بار کولو | |

**قوله تعالی:- فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ۙ﴿۱۰۰﴾**

**دقيامت په ورځ به خپل خپل بوج اوچتول وی:-** ارشاد دې چه څنګه دموسی ﷺ قصه په اصلی رنګ کښې ستاپه وړاندې بيانولې شي هم داسې نورتيرشوی حالات هم مونږ ستاپه وړاندې بالکل هم هغه شان بيانوو. مونږخوتاته قرآن عظيم درکړې دې. کوم سره چه باطل نه شی ورلنډې دې څکه چه مونږ دحکمت اوحمدوالايو(۱)هيڅ يونبی ته څه کتاب د دې نه زيات د کمال والا ددې نه زيات جامع اود دې نه زيات دبرکت نه دې ملاو. دهرقسم اودټولونه اوچت کتاب هم داکلام الله دې. په کوم کښې چه تيرشوی خبرونه راتلونکی امور اود کار طريقې ذکردی دا نه منونکې اودې نه مخ اړونکې او د دې د احکامونه تيخته کونکې د دې نه بغيرپه بل څه کښې هدايت لټونکې ګمراه دې اودوزخ ته تلونکې دې. په قيامت کښې به هغه خپل بوج پخپله اوچتوی او په دې کښې به ډوب شی. دې نه چه ځوک هم انکاراوکړی هغه دوزخی دې. کتابی وی که غيرکتابی عجمی وی که عربی ددې منکردوزخی دې. لکه څنګه چه ارشادباری تعالی دې چه زه تاهم هوښيارونکې يم او چاته چه هم اورسی(۲)نو ددې تابعدار هدايت والا اوددې مخالف د ضلالت اوبدبختئی والا کوم چه دلته برباد شو اوهلته دوزخی شو. ددې عذاب نه خو به نه هغه ته خلاصې ملاو شی اونه بچ کيدې شی برابر بوج دې چه په ده باندې به په هغه ورځ وی.

(۱) ٤١/فصلت:٤٢.
(۲) ٦/الانعام:١٨.

Scanned with Ca

يَوْمَ يُنْفَخُ

په هغه ورځ | چې پوکې به اووهلې شي

|..................په کومه ورځ چې شپېلئ پوک وهلې شي او

فِي الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾

په صور(شپېلئ) کښې | او مونږ به راجمع کړو | مجرمان | په دغه ورځ | شين سترګې بې نظيره

ټول مجرمان به په دغه ورځ داسې رايوځائې کړو چې شنې سترګې به ئې نيولې وي | په

يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾

چې پټې خبرې به کوي | په منځ خپل کښې | چې وخت نۀ دې تير کړې تاسو | مګر | لس ورځې

خپل مينځ کښې بۀ پټې پټې خبرې کوي | چې تاسو خو بۀ صرف لس ورځې په دنيا کښې پاتې شوې يئ

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ

مونږ ته ښۀ معلوم دي | هغه څه | چې وائې به هغوئ | کله چې | به اووائې | کامل سړې د هغوئ

مونږ د دوي په وينا باندې ښه پوهيږو | دغه وخت به په دوئ کښې زيات عقل مند اووائې | چې

طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾

په عقل کښې | چې وخت نۀ دې تير کړې تاسو | مګر | يوه ورځ |

تاسو خو صرف يوه ورځ په دنيا کښې پاتې شوې يئ |

قوله تعالى:- يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ

**کله چه شپيلئ پوک وهلې شي:-** د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه دا صور يعنى شپيلئ څه څيز دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل چه دا يوقرن(نل-شپيلئ) ده چه پوك وهلې به شي.([1]) يو بل حديث کښې دى چه د دې ګولائى د آسمانونو او زمکو په مقدار ده. حضرت اسرافيل عليه السلام به داپوك وهى. يوبل روايت کښې دى چه زه څنګه آرام حاصلولې شم څکه چه د شپيلئ پوك وهونکې فرښتې شپيلئ خُله کښې ورکړې ده تندې نى ښکته کړې دې او په انتظاردې چه کله به حکم کيږى. خلقو وئيل حضور ﷺ بيامونږ څه اولولو وئى فرمائيل چه وائې ﴿حسبنا الله ونعم الوكيل على الله توكلنا﴾([2]) په دغه وخت به د ټولوخلقو حشر وى. د ويرې اوخطرې نه د ګناهګارانو سترګې به هم داسې کولاوپاتې کيږى. يوبل ته به پټ پټ وائى په دنياکښې خو مونږ ډيرکم پاتې شو دزيات نه زيات لس ورځې به تيرې شوى وى مونږ د هغوى د راز دارنى خبروباندې هم پوهيږو. اوپه دوى کښې به ډيرعقل منداو کامل انسان دا وائى چه لس چرته وې؟ مونږ خو په دنياکښې صرف يوه ورځ پاتې شو.

غرض دا چه کافرانوته به د دنياداژوند يوخوب غوندې معلوميږى. هغه وخت به هغوى قسمونه خورى وائى به چه صرف يوساعت به مونږ په دنياکښې پاتې شوى يو. يوبل آيت کښې دى ﴿اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ ۖ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ﴾([3]) مونږ تاسو ته دعبرت حاصلولوقابل عمر هم درکړې

---

[1]) ابوداؤد كتاب السنة باب ذكر البعث والصور:٤٧٤٢وسنده صحيح، ترمذى:٣٢٤٤، ابن حبان:٧٣١٢، حاكم:٤٣٦/٢، احمد:١٦٢/٢.

[2]) د دې تخريج هم د سورت الكهف آيت نمبر ٨٨ لاندې تيرشوې دې.

[3]) ٣٥/فاطر:٣٧.

Scanned with Ca

وو بیاخبرداري کونکی هم تاسو له راغلي وو. په نورو ایاتونوکښې دی چه د دې سوال په جواب کښې چه تاسو څومره موده په زمکه تیره کړې راغلی نی؟ د دې جواب دې یوه ورځ یاد دې نه هم کم[1] په حقیقت کښې دنیاده هم د آخرت په مقابله کښې هم دومره ده خوکه په دې خبره باندې نی د وړاندې نه یقین کړې وې نودا فانی به په هغه باقی او دا لږ به په هغه ډیرباندې نه خوښولو بلکه د آخرت سامان به ئی په دې دنیاکښې کولو.

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ

| او تپوس کوی ستا نه دا خلق

| او(ائې زما محبوبه) خلق ستا نه د

عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ۝ فَيَذَرُهَا

دحال دغرونو |نو ورته اووایه |ذره ذره به کړی هغه |رب زما | په ذره کولو سره| نو پرې به ږدی دا زمکه

دغرونو په باره کښې تپوس کوی |نو ور ته اووایه چې زما رب به دغه غرونه والوزوی| او زمکه

قَاعًا صَفْصَفًا ۝ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ۝ يَوْمَئِذٍ

میدان | هموار |چی نهٔ به وینی تهٔ | په هغې کښی | څه کوږ والې | اونهٔ لوړ والې | په دغه ورځ

به هموار میدان پریږدی | ته به په دې کښې نه څه کوږوالئ اووینې اوه نه لوړوالئ|...... په دغه ورځ

يَتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ

به پیروی کوی ټول خلق | دبلونکی |چی نهٔ به وی | کوږوالې | دغه بلونکی ته | او چپ به شی |

به ټول خلق په بلونکی پسې روان شی|چې دهغې نه به هیڅوک مخالفت کولې نشی | او ټول

الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ۝

اواز ونه | رحمن ته | نو تهٔ به نهٔ اورې | مګر | کشار(دقدمونو) |

اوازونه به د رحمان الله ﷻ داواز په وړاندې ټیټ شی | نو ته به د پښو د کشاری د آواز نه سوا بل آواز نه

قوله‌تعالی:- فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ۝

**غرونه به ذره ذره شی:**-خلقوتپوس اوکړوچه د قیامت په ورځ به داغرونه هم داسې باقی وی‌که نه؟ د هغوی سوال نقل کولوسره جواب ورکوی چه دابه اخواشی اوختم به شی ګرخیدونکی به ښکاری او آخر به ذره ذریعه شی.زمکه به دصفا هوارمیدان په شان شی.د**(قاع)** معنی هوارصفامیدان**(صفصفًا)** هم ددې تاکیددې اودصف صف معنی بغیرراتوکیدونکې زمکه هم ده.خواولننی معنی ډیره ښه ده او دویمه معنی مرادی لازمی ده نه به په دې کښې څه کنده پاتې شی نه غونډئی نه اوچت ځائ نه ښکته ځائ.([2])ددې خطرناکواموروسره به یوآوازکونکې آواز ورکوی چه د هغه په آوازکولوسره به ټول مخلوق په منډه شی د فرمان مطابق به ټول هم یوطرف ته روان وی. نه به اخواخی نه دیخوا نه کوږ سیدا به روان وی. افسوس چه هم دا طریقه ئی د الله ﷻ د امورو په ځائ راوړلوسره داسې مشغول وې. خود نن دا طریقه بالکل بې فائدې ده.

---

[1] ۲۳/المؤمنون:۱۱۳.

[2] الطبری:۳۷۲/۱۸.

Scanned with Ca

په هغه ورځ خو به ښه کتونکي اوريدونکي جوړشي او اواز سره به حکم مني. په تياره ځای کښې به حشر وی آسمان به راغوند کړې شي ستوري به راوړژی نمر سپوږمنی به ختم شي د آواز کونکي په آواز باندې به ټول روان شي. هم په دې يو ميدان کښې به ټول مخلوق راجمع شي خو دومره د غضب خاموشي به وی چه د رباني رعب د وجه نه به يوآواز نه راوځي. بالکل سکون او خاموشي به وی. صرف د پښو کشار به وی او غوږايستنې به وی.(¹) چه روان وی ځي نود پښو کشار خو به خامخا وی او په اجازت د الله ﷻ به کله ناکله په يوحال کښې خبرې هم کوی خو تګ ئي هم په ادب او خبرې کول هم په ادب لکه چه ارشاد رباني دې ﴿يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ۝ فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ۝﴾(²) يعنې په کومه ورځ چه هغوی زما په وړاندې حاضريږی د چا به هم طاقت نه وی چه زما د اجازت نه بغيرژبه کولاوکړی. بعضې به نيکان وی اوبعضې به بدان وی.

يَوْمَئِذٍ
| په دغه ورځ به |

لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُ
نۀ رسوی فائده سفارش | مګر | دهغه چا | چې اجازت اوکړو | هغه ته رحمن | اوراضي شو | دهغه نه
اوري | په د غه ورځ به سفارش چا ته فائده نه رسوی | خوهغه چاته چې رحمان ورته اجازت ورکړې وی

قَوْلًا ۝ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ
په لحاظ دخبرې کولو سره | معلوم دی الله ته | هغه څه | چې په منځ دلاسونو دهغوئ کښې دی |
اودهغه دپاره ئې (د شفارس) اجازت کړې وی | هغه دټولو خلقو وړاندې روستو حالات ډيرښه پيژنی

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ۝
او هغه څه | چې روستو دهغوئ نه دی | او احاطه نشي کولې دا خلق | په هغه باند | دحيثيته دعلم نه |
..........اوخلق په خپل علم سره د هغه (الله ﷻ دمعلوماتو) احاطهٔ نشي کولې

وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ
او ذليله شول | مخونه | هميشه ژوندی قائم الله ته | او خراب(ناکام) شو | هغه څوک |
اومخونهٔ بهٔ تل ژوندی اودنظام چلونکي الله ﷻ په وړاندې ټيټ شي | او چاچې ..............

حَمَلَ ظُلْمًا ۝ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ
چې پورته ئې کړو | بار دظلم | او هغه څوک چې کوی عمل | دنيکو عملونو نه | او هغه |
دنافرمانئ بوج اوچت کړو هغه به ناکامه وی | او څوک چې نيک کار اوکړی اوهغه

مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ۝
مومن هم وی | نو نۀ دې يريږی | دظلم نه | او نۀ دکمولو دنيکو نه |
مومن وی | نو هغه سره به نه دظلم څۀ ويره وی اونه دنقصان |

(¹) الطبری:۱۸/۳۷٤.
(²) ۱۱/هود:۱۰۵-۱۰٦.

Scanned with Ca

**قوله تعالى:- يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ**

**د قيامت په ورځ د شفاعت بيان:**-د قيامت په ورځ به د چاهم څه مجال نه وى چه د چا به شفاعت اوکړى مګر چاته چه الله ﷻ اجازت اوکړى. نه به د آسمان فرښتې بغيرد اجازت نه د چا سفارش کولې شى او نه بل څوك بزرګ. ټولو ته به پخپله ويره لګيدلې وى بې اجازته به د چا سفارش نه وى. فرښتې او روح به په صفونوکښې ولاړوى بغيردرب داجازت نه به څوك شونډې نه شى کولاووهلې.پخپله به سيدالناس اکرم الناس رسول الله ﷺهم د عرش لاندې د الله ﷻ په وړاندې به په سجده پروت وى. د الله ﷻ به ښه حمداوثنا اوکړى د ډير وخته پورې به په سجده پروت وى بيا به الله ﷻ فرمانى اې محمدﷺ سراوچت کړه څه وئيل غواړې ستا خبره به اوريدې شى. شفاعت کوه ستا شفاعت به قبولولې شى. بيابه حد مقرر شى حضورﷺ به د هغوى شفاعت اوکړى جنت ته به ئى بوځى. بيا به واپس شى او بيابه هم داسې وى څلور ځل به هم داسې وى() صلوات الله وسلامه عليه وعلى سائرالانبياء. يوبل حديث کښې دى حکم به اوشى چه د دوزخ نه هغه خلق هم راوباسه د چا په زړه کښې چه يومثقال ايمان وى. نو ډير خلق به راوويستلى شى دچا په زړه کښې چه د دې نه هم کم وى د دې نه هم کم اود دې نه هم کم وى هغه هم د دوزخ نه آزادکړه الخ. ([2]) هغه په خپل علم سره د ټول مخلوق احاطه کړې ده.مخلوق د هغه د علم احاطه نه شى کولې لکه چه ارشاد دې د هغه د علم نه صرف هم هغه معلومولې شى کوم چه هغه غواړى. دټول مخلوق مخونه د هغه په وړاندې عاجز ښکته خوار او نرمنى سره ټيټ دى. ځکه چه هغه د مرګ وغيره نه پاك دې. د هميشه نه دې او هميشه به وى نه خوب ورځى اونه پرکالې. پخپله په خپل ځان باندې قايم اوسيدونکې اوهريوڅيز د خپل تدبرنه قايمونکې دې. د ټول ساتنه پالنه او حفاظت هم هغه کوى هغه ټول کمالات لرى اوټول مخلوق د هغه محتاج دې. بغيرد رب د مرضئى نه نه څه څيز پيداکيدې شى اونه باقى پاتې کيدې شى. چاچه دلته ظلم کړې هغه به هلته بربادوى. ځکه چه هريوحقدارته به الله ﷻ په هغه ورځ د هغه حق ورکوى. تردې چه بغيرښکرو چيلئى له به يه ښکره وره چيلئى باندې هم د هغې بدله ورکوى. حديث قدسى کښې دى چه الله ﷻ به اوفرمائى زما دې په خپل عزت او جلال باندې قسم وى د ظالم ظلم به زه خپلې مخې ته په تيريدو پرينږدم.([3]) صحيح حديث کښې دى خلقو د ظلم نه بچ شئى ظلم به د قيامت په ورځ تياره جوړيږى راځى به([4]) اود ټولو نه به نقصان ورکونکې وى. څوك چه الله ﷻ سره په شرك باندې ملاوشو هغه تباه برباد شو ځکه چه شرك خو عظيم ظلم دې. د ظالمانو بدله بيانولوسره دمتقيانو ثواب بيانولې شى چه نه به دهغوى بدى زياتولې شى اونه به دهغوى نيکئى کمولې شى.([5]) د ګناه د زياتوالى او د نيکئى د کمى نه هغوى بې ويرې دى.

| وَكَذٰلِكَ | اَنْزَلْنٰهُ | قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا | وَّصَرَّفْنَا | فِيْهِ |
|---|---|---|---|---|
| او دارنګې | نازل کړو مونږه دا کتاب | دقرآن عربى په حيثيت | او بار بار بيان کړل مونږه | په دې کښې |
| اودغه شان مونږ دا قران پاك په عربۍ ژبه کښې نازل کړې دې | | او په دې کښې موهر قسم سزاګانې اوروولې | | |

[1]) صحيح بخارى كتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار:٦٥٦٥، صحيح مسلم:١٩٣.
[2]) صحيح بخارى كتاب التوحيد باب قول الله تعالى ﴿وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة﴾:٧٤٣٩، صحيح مسلم:٨٣.
[3]) مسندشامين:٢٠٦/١.
[4]) صحيح مسلم كتاب البر، باب تحريم الظلم:٢٥٧٨.
[5]) الطبرى:٣٧٩/١٨.

Scanned with Ca

مِنَ الْوَعِيْدِ | لَعَلَّهُمْ | يَتَّقُوْنَ | اَوْ يُحْدِثُ

دا یتونو یرونکو نه | دپاره ددې چې هغوئ | ځان اوساتي دغلط عمل نه | یا پیدا کړي دا قرآن |

دی | چې خلق اوویریږي | یا دا چې دا (قران) په کښې پوهه پید اکړي ..........

لَهُمْ | ذِكْرًا ﴿۱۱۳﴾ | فَتَعٰلَى اللّٰهُ | الْمَلِكُ | الْحَقُّ | وَلَا تَعْجَلْ

دپاره دهغوئ | نصیحت | پس او چت دې الله | چې بادشاه دې | حق دې | او مهٔ کوه تلوار |

اوډیر لوئې دې هغه الله ﷻ چې حقیقي بادشاه دې | اوته د قران په لوستلو کښې

بِالْقُرْاٰنِ | مِنْ قَبْلِ | اَنْ يُّقْضٰى | اِلَيْكَ | وَحْيُهٗ | وَقُلْ

په لوستلو دقران | مخکښې دهغې نه | چې پوره کړې شي | تاته | وحی دهغې | اووایه |

تلوار مه کوه (چه زر زر ئې لولې) | ددې نه مخکښې چې ددې وحی درباندې پوره رانازله شي | اودا وایه

رَّبِّ | زِدْنِيْ | عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

اے ربه زما | زیات کړې مالره | په لحاظ دعلم سره |

چې ائي زما ربه زما علم زیات کړه |

قوله تعالى :- وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا

**قرآن پاک حق اود الله ﷻ د طرف نه وحی ده:-** د قیامت ورځ خو راتلونکې ده او په هغه ورځ به د نیکو او بدو اعمالو بدله ملاویږي. دخلقو هوښیارولو د پاره مونږ دزیرې ورکونکې اوویرونکې خپل کلام په صفاعربي ژبه کښې نازل کړو دې دپاره چه هرسړې پوهه شي او په دې کښې په مختلفو طریقوسره خلق اوویرولې شو د قسم قسم یرې مو واورولې دې د پاره چه خلق د بدو نه بچ شي او نیکئی حاصلولو کښې اخته شي. یادهغوی په زړونو کښې غوراوفکراونصیحت پیداشی. داطاعت طرفته راتیټ شي د نیکوکارونوکوشش اوکړي. نو بس پاک دې هغه الله ﷻ چه حقیقی بادشاه دې. ددوارو جهانونیوازې مالك دې هغه پخپله حق دې اود هغه وعده حق ده دهغه وعید حق دې اود هغه رسولان حق دی جنت او دوزخ حق دې دهغه ټول ارشادات اودهغه د طرف نه چه څه وی انصاف اوحق دی. د هغه ذات د دې نه پاك دې چه د خبرولونه بغیرچاته سزا ورکړي. هغه د ټولو عذر ختموی د چا شك باقی نه پریږدی حق واضحه کوی.بیا سرکشوته په انصاف سره سزا ورکوی. کله چه زمونږ وحی نازلیږی هغه وخت ته زمونږ په کلام لوستلو کښې تندی مه کوه اول ئی پوره اوره.لکه سورت قیامة کښې چه ارشاد دې ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿۱۶﴾﴾ (۱) یعنی تندی کول د هیریدلو دویرې دوحی نازلیدوسره سره دا مه لوله داستا په سینه کښې جمع کول اوستا په ژبه تلاوت کول زمونږ په ذمه دی. کله چه مونږ دا لولونو ته ددې لوستلو تابع اوسیږه. بیا په دې باندې پوهه کول هم زمونږ ذمه واری ده.په حدیث کښې دی اول به حضور ﷺ د جبرائیل علیه السلام سره سره لوستلوپه کوم کښې چه به حضور ﷺ ته مشکل وو.کله چه داآیت نازل شونو حضور ﷺ د دې تکلیف نه خلاص شو (۲) اوتسلی اوشوه چه دالله ﷻ وحی څومره نازلیږی ماته به یادیږی یوحرف به هم نه هیروم ځکه چه د الله ﷻ وعده شوې ده. هم دا فرمان دلته دې چه د فرښتې قراءت چپ اوره کله چه هغه اولولی بیا ئی ته لوله اوزمانه د خپل علم د زیاتوالی دعاکوه.نوحضور ﷺ دعا اوکړه

(۱) ۷۵/القيامة:۱۶.
(۲) صحيح بخاری كتاب بدء الوحی باب كيف كان بدء الوحی الی رسول الله: ۵،صحيح مسلم، كتاب الصلاة:۴۴۸.

Scanned with Ca

او الله ﷻ قبوله کړه او تروفات پورې په علم کښې زیاتیدلو.(ﷺ) حدیث کښې دی چه وحی به وار په وار برابره راتله تردې چه په کومه ورځ حضور ﷺ وفات کیدلو په هغه ورځ هم په کثرت سره وحی نازل شوه.(١)د ابن ماجه په حدیث کښې د حضور ﷺ دادعا نقل ده ﴿اللهم انفعنی بما علمتنی وعلمنی ماینفعنی وزدنی علما والحمدلله علی کل حال﴾ ترمذی کښې هم داحدیث دې او په آخره کښې دا الفاظ زیات دی ﴿واعوذ بالله من حال اهل النار﴾(٢)

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ

| او په تحقیق سره حکم کړی وو مونږه |

| .........او مونږ ددې نه مخکښې دادم ؑ

اِلٰٓى اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِیَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

| دم ؑ ته | مخکښې ددې نه | نو هیر شو دهغه | اواونۀ موندو مونږه | هغه لره | کلکه اراده |

نه وعده اخستې وه| خو دهغه نه غفلت اوشو| او مونږ په هغه کښې (د نافرمانۍ) کلکه اراده نه موندلې

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ

او کله چی | اووئیل مونږه | فرښتو ته | سجده اوکړئ | ادم ته | نو سجده اوکړه هغوئ | مګر نه

| اویادکړه هغه وخت چې هرکله مونږ فرښتوته اووئیل | چې تاسو ادم ؑ ته سجده اوکړئی

اِبْلِیْسَ ؕ اَبٰى ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا یٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ

ابلیس | انکارئې اوکړو | نو اووئیل مونږه | اې ادمه | بیشکه | دا دشمن دې | ستا

نوټولو سجده او کړه |خو ابلیس اونه کړه | هغه انکار اوکړو | نو مونږ اووئیل چې ائې ادم ؑ! داستا

وَلِزَوْجِكَ فَلَا یُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴿١١٧﴾ اِنَّ

او دښځې ستا | پس اونۀ باسی تاسو دواړو لره | دجنت نه | نوپه مشقت کښی به پریوزئ | بیشکه

اوستا د ښځې دښمن دې| نو هسې نه تاسودواړه د جنت نه بهر اوباسی| نو په مصیبت کښې به اخته

لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِیْهَا وَلَا تَعْرٰى ۙ﴿١١٨﴾ وَاَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا

دې تالره | چې نۀ به وږې کیږې | په هغې کښی | اونۀ به بربنډیږې | اوبیشکه تۀ | نۀ به تږې کیږې

شئ دلته (په جنت) کښې به نه ته اوږې کیږې| اونه به چرې بربنډیږې |اودا هم ده چې نه به چرې تږې

فِیْهَا وَلَا تَضْحٰى ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ اِلَیْهِ الشَّیْطٰنُ قَالَ

په هغې کښی | اونۀ به دې ګرمی کیږی | نو وسوسه واچوله | هغه(ادم) ته | شیطان |اووئیل هغه

کیږې | اونه به د ګرمۍ نه تنګیږې | نوشیطان دهغوئ په زړه کښې وسوسه واچوله | هغه اووئیل چې

یٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا یَبْلٰى ﴿١٢٠﴾

اې ادمه | ایا اوښایم تاته | اونه دهمیشوالی | او بادشاهی | چی نۀ به ختمیږی |

ائې ادم ؑ! ایا زه تاته دهمیشه پاتې کیدو ونه اوښایم| اوداسې بادشاهی چې کمزورې کیږې به نه

---

(١) صحیح بخاری کتاب فضائل القرآن باب کیف نزل الوحی واول ما نزل:٤٩٨٢، صحیح مسلم:٣٠١٦.
(٢) ترمذی کتاب الدعوات باب (سبق المفردون...):٣٥٩٩.

Scanned with Ca

| |
|---|
| فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا |
| نو اوخوړه دواړو سره \| دهغې ونې نه \| نو په نتيجه کښې ښکاره شو \| دواړو ته \| دپردې ځايونه د دواړو |
| نو دواړو دهغې ونې نه خوراک اوکړو \| نو خپل د پردې ځايو نه (شرمګاهونه) ورته ښکاره شو |
| وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصَىٰ |
| او شروع اوکړه دواړو \| چې نښلولې ئې \| په ځان پورې \| دپاڼړو (دونو) دجنت نه \| او نافرمانی اوکړه |
| اودواړو په ځان پورې د جنت پاڼړې انښلول شروع کړل \| او آدم ﷺ نه د خپل رب په |
| آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ ﴿۱۲۱﴾ ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ |
| آدم \| درب خپل \| نو بې لارې شو \| بيا \| غوره کړو هغه لره \| رب دهغه \| نو رجوع ئې اوکړه |
| په حکم کښې تقصير اوشو \| اوهغوئ په غلطئ کښې واقع شول \| بيا خپل رب هغه مقبول کړونودهغه توبه ئې |
| عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴿۱۲۲﴾ |
| په هغه باند \| او هدايت ئې اوکړو هغه ته \| |
| قبوله کړه \| اوسمه لار ئې ورته اوخودله . |

قوله‌تعالى :- وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ

**انسان د خطا او نسيان جوړه دې** :-ابن عباس ﷺ فرمائی انسان ته انسان ځکه وائی چه ده ته د ټولو نه اول کوم حکم ملاوشو هغه ده هيرکړو.([1])مجاهد رحمه‌الله اوحسن بصرى رحمه‌الله فرمائی چه داحکم آدم ﷺ پرېخودو([2])بيا دآدم ﷺ د بزرګئ اوشرافت بيان کولې شی.سورة بقره، اعراف،حجر او سورة کهف کښې دشيطان آدم ﷺته دسجدې نه کولوپوره تفصيلی بيان تيرشوې دې او په سورة "ص" کښې به هم د دې بيان راځی. ان شاء الله ﷻ. په دې ټولوسورتونو کښې د آدم ﷺ د پيدائش بيا دهغوی د بزرګئ د ځرګندونې د پاره د فرښتو هغه ته د سجدې کولو د حکم اود ابليس د پټې دښمنئ د اظهاربيان شوې دې. هغه تکبراوکړو اود الله ﷻ د حکم نه ئی انکاراوکړو.هم هغه وخت حضرت آدم ﷺ پوهه کړې شو چه ګوره دا ستا اوستا دبی بی حوا دښمن دې دده په دهوکه کښې مه راځه ګنی محروم به کړې شی اودجنت نه به اوويستلې شې اوپه سخت تکليف کښې به واچولې شې.د رزق د لټون محنت به دې په سرراشی دلته خوبې محنت اوبې مشقت رزق دررسی.دلته خو ناممکن دی چه وږې پاتې شې. ناممکن دی چه بربنډپاتې شې د دننه اوبهر تکليفونو نه بچ يئی. دلته به دې نه تنده اونه ګرمی په دننه توګه په تکليف کړی نه به دې د ګرمئ تيزوالې په بهرنی توګه پريشان کړی.که دشيطان په دهوکه کښې راغلې نو دا مزې به درنه واخستلې شی اود دې مقابل چه کوم تکليفونه دی هغه به مخې ته راشی.خو شيطان هغه په مختلفو چالونوسره راګيرکړواو په مکرسره ئی په خپلو خبروکښې راوستو.په قسمونو قسمونو ئی هغه ته دخپلې خيرخواهئ يقين ورکړو. هم په اول ځل الله ﷻ هغه ته فرمائيلې ووچه د جنت ټولې ميوې خوره خودې ونې ته نيزدې کيږه هم مه. خوشيطان هغه دومره دهوکه کړو چه آخرنی ددې ونې نه خوراك اوکړو.هغه دهوکه کولوسره ورته اووئيل چه څوك د دې ونې ميوه اوخوری هغه به د هميشه دپاره دلته وی. صادق مصدوق حضوراکرم ﷺ فرمائی په جنت کښې يوه ونه ده چه که

---

[1] الطبری:۱۸/۳۸۳.
[2] الطبری:۱۸/۳۸۳.

Scanned with Ca

يوسوردهغې دسورى لاندې دسلوكالوپورې روان وى نوهغه به ختم نه شى د هغې نوم شجرة الخلد دې.
([1]) (مسنداحمد ، ابوداؤد ،طيالسى)

**اخر كار دواړه دهوكه شو او ونه ئې اوخوړله**:-دواړود ونې نه څه خوړلې ووچه جامې ترې كوزې كړې شوې اواندامونه ئى ښكاره شو.ابن أبى حاتم كښې دى رسول الله ﷺ فرمائى آدم ؏ نى غنم رنگى اوږد قد،قامت اوډيرو ويښتووالا جوړكړې وو.دكهجورې د ونې په شان قدئى وو. ممنوع ونې نه خوړلو سره لباس كوزكړې شو خپل ستر ته په كتلوسره د شرم نه اخوا ديخوا پټيدلو او په يوه ونه كښې ويښته او نختل زر ئى د ځان خلاصولوكوشش كولو چه الله ﷻ آواز اوكړو اې آدم آيا ته زما نه تختې؟ الله ﷻ كلام اوريدوسره ئى په ادب باندې عرض اوكړواې پروردگار د شرم د وجه نه چرته سر پټوم. ښه ده دا خواوفرمايه چه د توبه اورجوع نه پس هم جنت ته رسيدې شم؟جواب ملاؤشو او([2]) هم دا معنى ده د الله ﷻ د دې فرمان چه آدم ؏ د الله ﷻ نه يوڅوكلمې واخستلې د كوم په وجه چه الله ﷻ بيا هغه په خپله مهربانئى كښې واخستلو.دارِوايت منقطع دې اوددې په مرفوع كيدلوكښې هم كلام دې.كله چه د آدم ؏ او بى بى حوا نه لباس واخستلې شو نو دې وخت كښې دجنت د ونوپاڼرې په ځان پورې اونخلولې.
ابن عباس ؓ فرمائى چه دانځرپاڼرو باندې خپل ځان پټ كړو.دالله ﷻ د نافرمانئى په وجه دنيغې لارې نه اخواشو.خوآخر الله ﷻ بيادهغوى لارخودنه اوكړه توبه ئى قبوله كړه او په خپلو خاص بنديگانو كښې ئى شامل كړل.

**د ادم ؏ او موسى ؏مينځ كښې مكالمه**:-په صحيح بخارى وغيره كښې دى حضورﷺ فرمائى چه د حضرت موسى ؏ اوحضرت آدم؏ په مينځ كښې خبرې اترې اوشوې. حضرت موسى ؏ اوفرمائيل چه تا د خپلې خطا په وجه ټول انسانان د جنت نه راوويستل او هغوى دې په مشقت كښې واچول. حضرت آدم ؏ جواب وركړو اې موسى ؏ ته الله ﷻ په خپل كلام او خپل رسالت سره ممتاز كړې. ته ماته په دې خبره باندې الزام راكوې كومه چه الله ﷻ زما د پيدائش نه وړاندې مقدر او مقرركړې وه. نو آدم ؏ موسى ؏ په دې خبرواتروكښې لاجواب كړو.([3]) په يوبل روايت كښې دموسى ؏ داهم فرمان دې چه ته الله ﷻ په خپل لاس باندې پيداكړې وې او په تاكښې هغه خپل روح پوك وهلې وو او ستا په وړاندې ئى په خپلو فرښتو باندې سجده كړې وه اوته ئى په خپل جنت كښې ځائ كړې وې. د آدم ؏ په دې جواب كښې داهم روايت دې چه الله ﷻ تاته هغه تختئى دركړې په كوم كښې چه د هرڅيز بيان وو اوپه غوركښې خبرې كولوسره ځان ته نيزدې كړې. اوښايه الله ﷻ تورات كله ليكلې وو؟ جواب ملاوشو څلويښت كاله وړاندې. تپوس ئى اوكړو چه په دې كښې داليكلې وو چه آدم ؏ د الله ﷻ نافرمانى اوكړه او لار ئى هيره كړه. وئيل او. ونى فرمائيل چه ته بياماته د دې امر الزام ولې راكوې؟ چه زما په تقدير كښې الله ﷻ زما د پيدائش نه هم څلويښت كاله وړاندې ليكلې وو.([4])

| مِنْهَا | اهْبِطَا | قَالَ |
|---|---|---|
| ددې جنت نه | كوز شئ دواړه(دلې ) | اووئيل الله |

الله ﷻ ورته اوفرمائيل چې تاسو دواړه اوس

---

([1]) احمد:٢/٤٥٥.
([2]) ابن ابى حاتم:١/٩٩، الطبرى:١٢/٣٥٤
([3]) صحيح بخارى كتاب التفسير سورة طه باب (فلايخرجنكمامن الجنة فتشقى....):٤٧٣٨، صحيح مسلم:٢٦٥٢، ابوداؤد :٧٠١، احمد:٢/٢٤٨، ابن حبان:٦١٨٠.
([4]) صحيح مسلم كتاب القدر باب حجاج آدموموسى؏:٢٦٥٢.

Scanned with Ca

جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِّنِّي

ټول | بعضې ستاسو | دپاره د بعضو | دشمنان يئ | نو كه چرې | راشي تاسو ته | زما د طرف نه

دجنت نه كوزشئ په يو ځل | تاسو به ديو بل دښمنان يئ | بيا كه چرې زما د طرفه تاسو ته

هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا

هدايت | نو هغه چاچې | تابعداري اوكړه | دهدايت زما | نو نۀ به بې لارې كيږي هغه | او نۀ به

هدايت درشي | نو څوك چې زما دهدايت پيروي اوكړي | نو هغه بۀ نه ګمراه كيږي

يَشْقَىٰ (١٢٣) وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ

بدبخته كيږي | او هغه څوك | چې مخ ئې واړولو | دنصيحت زمانه | نو بيشكه | وى به هغه لره

اونه بۀ محرومه پاتې كيږي | اوڅوك چې زما د ياد نه مخ واړوى | نو بيشكه دهغه

مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ (١٢٤) قَالَ

ژوند | لنډتنګ | او راپورته به كړو مونږ هغه | په ورځ دقيامت | ړوند | اوبه وائى هغه

ژوندون به لنډتنګ وى | اودقيامت په ورځ به مونږ هغه ړوندراپاسوؤ | هغه به اووائى

رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا (١٢٥) قَالَ

اې ربه زما | ولې راپورته كړم تا زۀ | ړوند | او بې شكه وم زۀ | ليدونكې | اوبه وائى الله

چې ائې زما ربه تازه ړوند ولې راپاسوم | حالانكه زه په دنيا كښې دستركو خاوند وم | حكم به اوشى چې

كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ

همدارنګې | راغلى وۀ تاته | آيتونه زمونږ | نو هير كړل تا هغه | او همدارنګې | نن ورځ

چې دغه شان تاته زمونږ ايتونه درغلي وې | خو تادهغې پرواه اونه كړه | او دغه شان به

تُنسَىٰ (١٢٦)

تۀ(هم) هيروله كيږې |

تۀ نن هير كړې شې |

**قوله تعالى:-** قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا

**حضرت آدم ﷺ اوحضرت بى بى حوا د جنت نه اوويستلې شول:**-حضرت آدم ﷺ بى بى حوا اوابليس لعين ته هغه وخت اوونيلې شوچه تاسو ټول د جنت نه اوځئى. په سورت بقره كښې د دې پوره تفسير تير شوې دې. تاسو په خپل مينځ كښې د يوبل دښمنان ئى يعنى اولاد آدم ﷺ او اولاد ابليس. تاسو له به زما رسولان او زما كتابونه درځى.

**دقران پاك د مخ اړونكى بد حالت:**-زما د خودلې شوې لارې منونكى به نه په دنياكښې رسواكيږى او نه په آخرت كښې ذليل كيږى اودحكمونومخالف زما د رسولانو د لارې نه رامنع شوى اود نور لارو سالك به په دنياكښې هم تنګ وى اوتسلى اود زړه كولاووالې به ورته حاصل نه وى اودخپلو ګمراهوپه وجه به تنګوسختوكښې اوسيږى. سره د دې چه په ظاهره به ورته د خوراك څښاك اوسيدو اغوستو فراخى

Scanned with Ca

وی خو په زړه کښې یقین اوهدایت د نشتوالی په وجه همیشه په شك شبه تنګ والی اوقلت کښې اخته وی. بدنصیب د الله ﷻ د رحمت نه محروم د خیرنه خالی ځکه چه په الله ﷻ باندې ایمان نه وی د هغه د وعدې یقین نه وی دمرګ نه پس په نعمتونوکښې به ئی هیڅ حصه نه وی. الله ﷻ سره بدګمانه دی تلونکې خیز راتلونکې نه ګڼړی ګنده روزئی دی ګنده عملونه ئی دی قبر ئی تنګ اوتیاره دې.هلته به داسې راټینګولې شی چه ښئې پوښتئی به ئی په ګسه کښې اوګسه په ښئی کښې ورننوځی.رسول الله ﷺفرمائی چه دمؤمن قبرتکه شنه باغیچه وی اویا لاسه کولاووی. داسې معلومیږی لکه چه سپوږمئی په دې کښې وی. ښه رڼا او نور خوریږی لکه چه د څوارلسمې شپې سپوږمئی چه راختلې وی. ددې آیت شان نزول معلوم دې چه زما د ذکر نه مخ اړونکو ژوند به تنګ وی د دې نه مراد دکافر په قبرکښې په هغه عذاب دې. په الله ﷻ قسم چه په هغه باندې یوکم سل اژدهاګانې مقررولې شی.دهرې یوې اوه اوه سرونه وی چه هغه به د قیامته پورې ټکونه ورکوی.(۱)ددې حدیث مرفوع کیدل بالکل منکر دی.په یوښکلې سندسره هم روایت دې چه دې نه مراد د قبرعذاب دې.(۲) دې به د قیامت په ورځ ړوندراوچتولې شی. بغیرد دوزخ نه به هغه ته هیڅ څیز نه ښکاری. نابینا به وی اود حشر میدان ته به روان وی اود دوزخ مخې ته به اودرولې شی. لکه چه ارشاد دې ﴿وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ۖ مَّأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا﴾ (۳)یعنی مونږ به دوی د قیامت په ورځ پرمخې ړانده ګونګیان او کاڼه جوړولوسره حشر ته راولو. د دوی اصلی ځائ دوزخ دې دوی به وائی چه ماخو به په دنیاکښې ښه کتل اوپوهیدلم بیازه ولې ړوندکړې شوم؟ جواب به ملاوشی چه دا بدله ده د الله ﷻ د آیاتونونه د مخ اړولو اوداسې کیدلو لکه چه څه خبر نه وی. نونن به مونږ هم تاسره هم داسې معامله کوو لکه چه ته زمونږ د یادنه کوزشوې. لکه چه بل ځائ ارشاد دې ﴿فَالْيَوْمَ نَنسَاهُمْ كَمَا نَسُوا لِقَاءَ يَوْمِهِمْ هَٰذَا وَمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ﴾(۴) نن به مونږ هغوی بالکل هم هغه شان هیرکړو لکه چه هغوی د نن ورځې ملاقات هیرکړې وو. نودابرابر اود عمل مطابق بدله ده. په قرآن باندې ایمان لرلوسره د دې د احکامو عامل کیدوسره که د یوسړی د دې الفاظ د یاد نه اوځی نوهغه په دې وعیدکښې داخل نه دې د ده د پاره رسول الله ﷺ فرمائی چه هغه به د قیامت په ورځ الله ﷻ سره د جذامی په حالت کښې ملاویږی.(۵)

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَكَذَٰلِكَ | نَجْزِي | مَنْ | أَسْرَفَ |
| او همدارنګې | بدله ورکوو مونږ | هغه چاته | چې اسراف ئې اوکړو |

اودغه شان مونږ هر هغه چالره سزا ورکوو چې د حد نه وړاندې تیر شی

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَلَمْ يُؤْمِن | بِآيَاتِ | رَبِّهِ | وَلَعَذَابُ | الْآخِرَةِ | أَشَدُّ | |
| او ایمان ئې رانوړو | په آیتونو | درب خپل | او خامخا عذاب | دآخرت | زیات سخت دې | |

اود خپل رب نخښې اونه منی اودآخرت عذاب ډیر سخت اوډیر پاتې کیدونکې دې آیا دوئ

---

(۱) ابن حبان: ۳۱۲۲.
(۲) حاکم:۲/۳۸۱ وسنده حسن.
(۳) ۱۷/الاسراء:۹۷.
(۴) ۷/الاعراف:۵۱.
(۵) احمد:۵/۲۸۵، ابوداؤدکتاب الوتر باب التشدیدفیمن حفظ القرآن ثم نسیه:۱۴۷۴

Scanned with Ca

وَاَبْقٰى (۱۲۷) اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا

او زيات باقي پاتې كيدونكې دې | آيا ښكاره شوې نه ده | دوئ ته | چې څومره ډير | هلاك كړل مونږه

ددې نه هم سبق وانه خستلو چې مونږ تراوسه دد وئ نه وړاندې څومره ډير قومونه تباه كړي دی

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ

مخكښې ددوئ نه | دزمانې دخلقو نه | چې(نن) ګرزی دوئ | په كورونو دهغوئ كښې | بيشكه

چې دهغوئ په كورونو كښې اوس دوئ ګرځی | بيشكه په دې كښې

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى (۱۲۸) وَلَوْلَا

په دې(هلاكت دمنكرينو) كښې | ډيرې نښې دی | دپاره دخاوندانو | دعقلونو | او كه چرې نۀ وې

دعقل دخاوندانو دپاره نخښې پرتې دی اوكه چرې ستا درب

كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا

خبره | چې مخكښې شوې ده | دطرفه د رب ستا نه | نو خامخا وۀ به |(عذاب) لازم |

د طرفنه يوه خبره داول نه خلاصه شوې نه وې اويو وخت مقرر نه وې نو په دوئ به

وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى (۱۲۹) فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ

او كه نۀ وې يوه نيټه | مقرره | نو صبر كوه | په هغه څه باند | چې وائی دوئ | او تسبيح وايه |

عذاب راتلل لازم شوی وونوته ددوئ په خبرو باندې صبر اوكړه اودخپل رب پاكی دهغه

بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ

سره دحمد | درب خپل | مخكښې | د راختلو | د نمر نه | او مخكښې | دپريوتلو دهغې نه |

دتعريفونو سره بيانوه دنمر دختلو نه مخكښې اود ډوبيدو نه وړاندې

وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ

او په ځينو وختونو دشپې كښې | نو تسبيح وايه | او په طرفونو | د ورځ كښې | شايد چې تۀ |

اودشپې په ځينو وختونو كښې ئې هم تسبيح كوه او د ورځې په اول او په آخر كښې هم دپاره ددې

تَرْضٰى (۱۳۰)

راضی شې |

چې خوشحاله اوسيږې

قوله تعالى: - وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى

**د آخرت عذابونه اير سخت دی:** ـڅوك چه د الله ﷻ د حدونوپرواه اونه كړی د الله ﷻ آياتونه دروغ اوګڼړی هغه مونږ هم دغه شان د دنيااوآخرت په عذابونوكښې راګيروو. خاص كر د آخرت عذاب خو ډير دروندديې اوهلته به هيڅ څوك نه وی چه بچ ئی كړې شی. ددنياعذابونه خونه د هغې د سختئی د مقابلې دیاونه په موده كښې هغه د هميشه د پاره او د غم نه ډك دی.ملاعنه كونكو ته د پوهه كولو

Scanned with Ca

سره رسول مقبول ﷺ هم دا فرمائيلي وو ددنياسزا داخرت د عذابونوپه مقابله کښي بالکل سپکه او هيڅ څيز نه دي. (١)

**د ړومبنوقومونود تباهئ ذکر:-** کوم خلق چه تانه مني اوستادشريعت نه انکارکوی آياهغوی د دې خبرې نه هم عبرت نه حاصلوی چه ددوی نه وړاندې کوموخلقو دا طريقه راويستې وه مونږ هغه تباه برباد کړل. نن د هغوی يوه سترګه رپيدلې يوه ساه روانه اويوه ژبه خبرې کونکې باقی نه ده پاتې. د هغوی اوچت او پاخه کولاو اوښائسته محلونه وراني کنډرې پرتې دی کوم ځای نه چه به د هغوی تګ راتګ کيدلو. که چرې د دوی عقل وې نوداسامان دهغوی د عبرت دپاره ډيرځه وو. آيادوی پدې زمکه باندې په تلوراتلوسره دقدرت په دې نښو باندې د زړه نه غورنه کوی؟ آياپه غورړونوباندې دهغوی د درد نه ډکې قصه اوريدوسره عبرت نه حاصلوی؟آيادهغوی وران شوی کلو ته په کتوسره سترګې نه کولاوېږي ؟ دوی دسترګو ړانده نه دی بلکه د زړه هم ړانده دی(٢)په سورت الٓمٓ السجده کښې هم د دې پورتني آيت په شان آيت دی. الله ﷻ داخبره مقررکړې ده چه ترکومې په بنديګانوباندې خپل حجت ختم نه کړی هغوی نه په عذاب کوی. دهغوی د پاره هغه يووخت مقررکړې دی. هم هغه وخت به د هغوی د اعمالو سزا هغوی ته ملاوېږي. که داخبره نه وه نو يوخوابه ئې ګناه کوله اوبل خوابه راګيريدل ته ددوی په تکذيب باندې صبرکوه. د دوی په فضول خبروباندې برداشت کوه او تسلی ساته چه دوی زما د قبضې نه بهرنه دی. د نمر د راختلونه د وړاندې نه مراد دسحر مونځ دې اود نمر د ډوبيدونه د وړاندې نه مراد د مازيګرمونځ دې.

**د سحرمابښام ذکر اودعا:-** بخاری اومسلم کښې دی چه مونږ يوځل رسول مقبول ﷺ سره ناست وو حضور ﷺ دڅوارلسمې شپې سپوږمئی ته اوکتل وئی فرمائيل چه تاسوبه زرخپل رب داسې وينئی څنګه چه دا سپوږمئی بغيرد مزاحمت اوتکليف نه ګورئی. نوکه تاسو نه کيدې شی نود نمر د راختونه د وړاندې اود نمر د ډوبيدونه وړاندې مانځه پوره شان سره حفاظت کوئی. بياحضورﷺ هم د دې آيت تلاوت اوفرمائيلو.(٣) د مسنداحمدپه حديث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د دغه دواړو وختونو والا مونځ ګذاربه اُورته نه ځی(٤) مسنداوسنن کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه د ټولونه د کمې درجې جنتی هغه دې چه د دوو زرو کالود لارې فاصلې پورې به هم خپل ملکيت ګوری. د ټولونه لرې څيز به د هغه د پاره داسې وی لکه چه د ټولونه نيزدې اود ټولونه د اوچت منزل والا خوبه په ورځ کښې دوه ځل د الله ﷻ ديدارکوی.(٥) بيافرمائی چه د شپې په وختونوکښې هم تهجدکوه. بعضې وائی چه دې نه مراد د مابښام اوماسخوتن مونځ دې. اود ورځې په وختونوکښې هم د الله ﷻ پاکوالې بيانوه دې د پاره چه د الله ﷻ په اجر اوثواب باندې ته خوشحاله شې. لکه چه ارشاد دې چه ډير زر به ستا الله ﷻ تاته هغه څه درکړی چه ته به خوشحاله شې.(٦)

**جنتيانو ته د الله ﷻ خطاب:-** صحيح حديث کښې دی الله ﷻ به اوفرمائی اې جنتيانو هغوی به وائی ﴿لبيك ربنا وسعديك﴾ الله ﷻ به اوفرمائی آياتاسو خوشحاله شوئی؟ دوی به وائی اې الله ﷻ مونږه ډير

---

(١) صحيح مسلم کتاب اللعان:١٤٩٣.

(٢) ٢٢/الحج:٤٦.

(٣) صحيح بخاری کتاب مواقيت الصلاة باب فضل صلاة العصر:٥٥٤، صحيح مسلم:٦٣٣، ابوداؤد٤٧٢٩، ترمذی:٢٥٥١، ابن ماجة:١٧٧، احمد:٤/٣٦٠، ابن حبان:٧٤٤٢.

(٤) صحيح مسلم کتاب المساجد باب فضل صلاتی الصبح والعصر٦٣٤، ابوداؤد:٤٢٧، احمد:٤/١٣٦، ابن حبان .١٧٤٠.

(٥) ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة القيامة:٣٣٣.

(٦) ٩٣/الضحی:٥.

Scanned with Ca

خوشحاله يو.تامونږ ته هغه نعمتونه راکړي دي چه په خپل مخلوق کښې دې چاته هم نه دي ورکړي. بياڅه وجه ده چه مونږ به راضي نه يو. الله ﷻ چه ارحم الرحمين دې به فرمائي واخلئ زه تاسو ته د دې نه غوره څيز درکوم. تپوس به کوي الله عزوجل د دې نه غوره څيز به څه وي؟ فرمائي به زه تاسو ته خپله رضامندي درکوم چه اوس به زه په يووخت کښې هم تاسو نه خفه نه شم.(۱) بل حديث کښې دي چه جنتيانوته به اوفرمائيلې شي الله ﷻ چه تاسو سره کومه وعده کړې وه هغه د هغې پوره کونکې دې. وائي به دالله ﷻ ټولې وعدې رښتونې دي زمونږ مخونه روښانه دي زمونږ د نيکو تله درنه شوه. مونږ د دوزخ نه اخواکړې شو. په جنت کښې داخل کړواوس کوم يوڅيز باقي دې؟هم هغه وخت به پردې اوچتې شي اودالله ﷻ ديداربه اوشي.د الله ﷻ قسم ددې نه به زيات هيڅ نعمت نه وي هم دا زياتوالې دې.(۲)

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ

| او مهٔ اوږدوه | سترګې خپلې | هغه څيزونو ته | چې نفع ورکړې ده مونږه | په هغه څيز سره

اوهيڅرې په هغه څيزونو پسې سترګې مه پورته کوه چې

أَزۡوَٰجًا مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا لِنَفۡتِنَهُمۡ

مختلف قسم خلقو ته | ددوئ نه | شان وشوکت | د ژوند دد نيا | دپاره ددې چې امتحان اوکړو په دوئ

مونږ ددوئ څينو ټولګو له ورکړې دا تش ددنيا دژوند رونق دې چې مونږ په دې کښې

فِيهِۚ وَرِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ ۝ وَأۡمُرۡ

په هغې سره | او رزق | د رب ستا | بهتر دې | او باقي پاتې کيدونکې دې | او حکم کوه |

ددوئ ازميښت اوکړو اوستا د رب ورکړې رزق غوره او زيات باقي پاتې کيدونکې دې

أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ

بال بچ خپل ته | د مانځه | او پابند اوسه | په هغې باند | نهٔ غواړو مونږه ستا نه | رزق |

او خپلو خپلوانوته دمونځ حکم ورکوه او پخپله هم د مونځ پابند اوسيږه مونږ ستا نه روزي نه غواړو

نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ۝

مونږه ارزق درکوو تاته | او ښهٔ انجام | دپاره دتقوى دې |

بلکه مونږ تاتهت رزق درکوو اوښه انجام دپرهيزګارئ دې

**قوله تعالى:- وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ**

**ددنيالالچ مه کوه:**-ددې کافرانو دنياوى ښائست او تش تپاس ته د حسرت په نظرسره مه ګوره داخود لږ شان وخت څيزدې. داصرف د هغوى د ازميښت دپاره هغوئ‌ته دلته ملاوشوې دې چه اوګوري شکر او تواضع کوي که ناشکري او تکبرکوي؟ په حقيقت کښې د شکر کونکو کمې دې. د هغوى مالدارانو ته چه کوم څه ملاوشوي دي دهغې نه خوتاته ډير بهترنعمت ملاوشوې دې. مونږ تاته اووه آياتونه درکړي دي چه سردوباره کولې شي. اوقرآن عظيم مو درکړې دې.نوخپلې سترګې دهغوى ددنياوى سازو

(۱) صحيح بخارى كتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار:۶۵۴۹،صحيح مسلم:۲۸۲۹، ترمذى:۲۵۵۵،احمد:۸۸/۳.
(۲) صحيح مسلم كتاب الايمان باب اثبات روية المؤمنين فى الاخرة ربهم سبحانه وتعالى:۱۸۱، ابن ماجه: ۱۸۷،

سامان طرف ته مه ګرخوه.(١) دغه شان اې پيغمبرﷺ ستاد پاره چه الله ﷻ سره کومه ميلمستياده نه خودهغې څه انتهاء شته اونه دهغې چاسره په دې وخت کښې دبيانولوطاقت شته.تاته به ستا پروردګار دومره څه درکړی چه ته به راضي رضامند شې.(٢) د الله ﷻ دين بهتراوباقي دې.

**د رسول کريم صلى الله عليه وسلم ددنيا نه د بې رغبتۍ انتها:-** حضورﷺخپلو ازواج مطهرات نه ايلاء کړې وه او په يوه بالاخانه کښې اوسيدلو.عمر ﷺ چه هلته اورسيدو نو وئې کتل حضورﷺ په يوه زګه بوجئې باندې پروت وودخرمن يوه ټکړه ئې يوطرف ته ايخودې وه اوڅه مشکونه زوړندوو.داد بې سرو ساماني حالت په کتلوسره د هغه په سترګوکښې اوښکې راغلې.حضورﷺ تپوس اوکړو څنګه ژاړې؟ جواب ملاوشو حضورﷺ داقيصر اوکسرى په څنګه عيش اوعشرت کښې پراته دي او تاسو سره د دې چه د الله ﷻ په مخلوق کښې د ټولونه بزرګ هستى په څنګه حال کښې ئې؟حضورﷺ اوفرمائيل اې د خطاب ځويه آيا تراوسه پورې ته په شك کښې ئې د دې خلقو ښيګړو هم په دنياکښې تندى کړې ده.(٣) رسول الله ﷺ سره د قدرت او طاقت د دنيانه ډيرزيات بې رغبت وو.کوم څه چه به په لاس ورتله هغه به ئې د الله ﷻ په لارکښې ورکول اود خپل ځان د پاره به ئې يوه پيسه هم نه کيخودله.

ابن ابى حاتم کښې د حضورﷺ ارشاد نقل دې چه حضورﷺ فرمائيل زماپه تاسو باندې د ټولونه زياته ويره په هغه وخت ده چه دنيابه ستاسو په قدمونوکښې خپل ټول سازوسامان واچوى اوخپل برکتونه به په تاسو راواړوى.(٤) غرض دا چه کافرانوته د دنياد ژوندښانست صرف دازميښت د پاره ورکولې شى. د خپلې کورنئى خلقو ته د مانځه تاکيد کوه چه هغوى د عذاب نه بچ شى اوپخپله هم د دې په پابندئى سره اداکول کوه.خپل ځان اوخپل بال بچ د دوزخ نه بچ کړه. د حضرت عمر فاروق ﷺ عادت مبارك وو چه د شپې به کله تهجدو له پاسيدو نود خپل کور والا به ئې هم پاسول او د آيت تلاوت به ئې کولو. مونږ تانه د رزق طلب کونکى نه يو د مانځه پابندى کوه رب به تاله د داسې ځائ نه رزق دررسوى چه ستا په خواب اوخيال کښې به هم نه وى. الله ﷻ د پرهيزګارانو دپاره خلاصې کوى اود بې شان او ګمان د ځائ نه رزق وررسوى. ټول پيريان اوانسانان صرف د الله تعلى د عبادت د پاره پيداکړې شوى دى. رزاق اود زبردست طاقتونومالك هم الله ﷻ دې. فرمائى چه مونږ پخپله د ټول مخلوق روزى رسونکې يو. مونږ تاله د غوښتلو تکليف نه درکوو. د حضرت هشام رحمه الله پلار چه به کله د مالدارانو کورونوته تلو اود هغوى شان به ئې اوکتلو نوواپس به خپل کورته راغلو اوهم داآيت به ئې تلاوت کړو اووئيل به ئې زماد کورنئى خلقو د مانځه حفاظت کوئى د مانځه پابندى کوئى الله ﷻ به تاسوباندې رحم اوکړى.

**کوروالا ته د مانځه تاکيدکول:-** ابن ابى حاتم کښې دى چه کله به حضورﷺ ته څه تنګوالې اوشو نود خپل کور ټولوخلقوته به ئې فرمائيل اې زما دکورخلقو مونځ کوئى مونځ قايم کړئى. دټولو انبياء کرام عليهم السلام دغه طريقه وه چه دخپل هر ويريدو او هرکار په وخت کښې به ئې مونځ شروع کولو.(٥) د ترمذى او ابن ماجه وغيره په حديث قدسى کښې دى الله ﷻ فرمائى اې بنيادمه زما د عبادت د پاره ځان اوزګارکړه زه به ستا سينه د نورې بې پرواهئى نه ډکه کړم. ستا غريبى اوفقيرى به لرې کړم. او که تاداسې اونه کړه نوزه به ستا زړه د اشغال نه ډك کړم اوستا فقيرى به هډو بندوم نه.(٦) ابن ماجه کښې

---

(١) ١٥/الحجر:٨٧-٨٨.
(٢) ٩٣/الضحى:٥.
(٣) صحيح بخارى كتاب المظالم باب الغرفة والعلية والمشرفة...:٢٤٦٨، صحيح مسلم ١٤٧٩.
(٤) صحيح بخارى كتاب الرقاق باب مايحذر من زهرة الدنيا:٦٤٢٧، صحيح مسلم:١٠٥٢.
(٥) ابن ابي حاتم.
(٦) ترمذى كتاب صفة القيامة باب احاديث ابتلينا بالضراء ومن كانت الاخرة همه......٢٤٦٦ وسنده حسن، ابن ماجه:٤١٠٧، احمد:٢/٣٥٨

Scanned with Ca

دی رسول الله ﷺ فرمائی چاچه خپل ټول فکر غورقصد اوخیال رایوځائ کړواوداخرت خیال نی اوتړلواوهم په دې کښې مشغول شو الله ﷻ به هغه ددنیادټولو پریشانونه محفوظ کړی. اوچاچه د دنیا فکرونه خپل کړل اود دې ځائ غمونه ئی واخستل الله ﷻ ته په د ده بالکل پرواه نه وی که هغه په څه حیرانئی کښې هلاك شی.(¹) یوبل روایت کښې دی د دنیاپه غمونوفکرونوکښې اخته کیدونکی په ټولو کارونوکښې الله ﷻ پریشانئی اچوی اود هغه فقیری به د هغه د سترګو په وړاندې کړی اودنیابه ورته هم دومره ملاویږی چه څومره ئی په تقدیرکښې ده. څوك چه د خپل زړه مرکز آخرت جوړکړی خپل نیت کښې هم هغه ساتی نو الله ﷻ به د هغه په هرکارکښې تسلی نصیب کړی. د هغه زړه به موړاو بهادر جوړکړی اودنیابه د هغه د قدمونو نه په تندکونوسره راځی.(²) بیافرمائی په دنیاآخرت کښې نیك انجام هم پرهیزګار خلق دی. رسول الله ﷺ فرمائی مانن شپه په خوب کښې اولیدل لکه چه مونږ د عقبه بن رافع په کورکښې یو هلته مونږ ته د ابن طاب د باغ لمدې کهجورې پیش کړې شوې. ماد دې تعبیردا واخستو چه په دنیاکښې به هم د انجام په لحاظ هم زمونږ پانړې درنه وې اوچتوالی او غوره والې به هم مونږ ته ملاویږی اوزمونږ دین پاك صفا طیب طاهرکامل اومکمل دې.(³)

وَقَالُوْا لَوْلَا يَأْتِيْنَا
او وائی دوئ | ولې نۀ راوړی دې مونږ ته
اودا خلق وائی چې دې مونږ ته دخپل

بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِى الصُّحُفِ
یوه نښه | دطرفه درب خپل نه | آیا رانغې دوئ ته | واضحه بیان | دهغې ټولو تعلیماتو | چې په صحیفو
رب دطرفنه یوه نخښه ولې نه راوړی آیا دوئ ته هغه خبرې څرګند رانغلې چې پخوانو صحیفو کښې

الْاُوْلٰى ۝ وَلَوْ اَنَّاۤ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ
اولنو کښې وو | اوکه چرې مونږه | هلاك کړې وې دوئ | په عذاب سره | مخکښې دراتلو ددې قرآن نه
لیکلې شوې پرتې وې اوکه مونږ دوئ ددې (قرآن پاك) نه وړاندې په عذب باندې هلاك کړې وې

لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَاۤ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا
نو خامخا به وئیل دوئ | اے ربه زمونږه | ولې رانۀ لیږلو تا | مونږ ته | یو رسول
نو دوئ بۀ وئیل چې ائې زمونږه ربه ! تامونږ ته ولې یو رسول راونه لیږلو چې مونږ ستا

فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ
چې تابعداری کړې وې مونږه | دآیتونو ستا | مخکښې ددې نه | چې ذلیله شوې وې مونږه
دحکم پیروی کړې وې وړاندې ددې نه چې بې قدره او رسوا

¹) ابن ماجه کتاب الزهد باب الهم بالدنیا:٤١٠٦.
²) ابن ماجه حواله سابق:٤١٠٥، وسنده صحیح، ابن حبان:٦٨٠، المعجم الاوسط:٧١٦٧، شعب الایمان:١٧٣٦.
³) صحیح مسلم کتاب رویا النبی ﷺ:٢٢٧٠، ابوداؤد:٥٠٢٥، احمد:٢٨٦/٣، مسندابی یعلی:٣٥٢٨.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَنَخْزٰى ﴿۱۳۴﴾ | قُلْ | كُلٌّ | مُّتَرَبِّصٌ | فَتَرَبَّصُوْا |
| او شرمنده شوي وي مونږه | ورته اووايه | هر سړي | انتظاركونكي دي (دانجام) | نو تاسو هم انتظار كوئ |

دي شو ورته اووايه چي هريو انتظار كونكى دى نو تاسو هم انتظار كوئ ډير زر به درته

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَسَتَعْلَمُوْنَ | مَنْ | اَصْحٰبُ | الصِّرَاطِ | السَّوِيِّ | وَمَنِ |
| ډير زربه معلوم شي تاسو ته | چي څوك دي | ملگري | دلاري | نيغي | او څوك دي |

معلوم شي چي څوك په سمه لاره روان دي او څوك هدايت

اهْتَدٰى ﴿۱۳۵﴾

چي روان دي په نيغه لار |

موندونكي دي

قوله تعالى:-وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ

**كافران د پيغمبرﷺ نه نخښي غواړي:-** كافرانو به داهم وئيل چه آخر څه وجه ده چه دانبي مونږ ته د خپل صداقت هيڅ معجزه نه ښائي؟جواب ملاويږي چه دادي قرآن كريم چه د وړاندينوكتابونود خبر مطابق الله ﷻ په خپل دې نبي امي باندې نازل كړې دې چه نه ليكل پيژني اونه لوستل. گورئ په دې كښې د وړاندينوخلقو حالات دى اوبالكل د هغه كتابونومطابق د الله ﷻ د طرف نه د دې نه اول نازل شوى دى. قرآن پاك دټولوساتونكې دې وړانديني كتابونودكمي زياتي نه پاك پاتې نه شويدې وجه قرآن پاك نازل شو چه دده صحت غيرصحت ممتازكړي.په سورت عنكبوت كښې دكافرانود دې اعتراض په جواب كښې اوفرمائيل ﴿قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ﴾(۱) اووايه چه الله ﷻرب العالمين په هر قسم معجزو ښكاره كولو باندې قادردې. زه خو صرف د خبرداري كولووالا رسول يم. زما په قبضه كښې هيڅ معجزه نشته. نوولې ددوى دپاره دامعجزه كافي نه ده چه مونږ په تادا كتاب نازل كړوچه د هغوى په وړاندې برابرتلاوت كولې شي.په كوم كښې چه دهريويقين لرونكي دپاره رحمت اوعبرت دې.

**د رسول كريم صلى الله عليه وسلم ابدى او لويه معجزه:-** صحيح بخاري اوصحيح مسلم كښې دى رسول الله ﷺ فرمائي چه هريونبي ته داسې معجزې ملاوشوې چه د هغې په كتو هغه خلقو په هغه نبي باندې ايمان راوړو خوماته ژوندئ اود هميشه والا معجزه راكړې شوې ده يعني دالله ﷻ داكتاب قرآن مجيد چه د وحى په ذريعه په ماباندې نازل شوې دې. ماته دا يقين دې چه د قيامت په ورځ به د ټول انبياؤ عليهم السلام دتابعدارانونه زما تابعداران زيات وى.(۲) داياداساتئى چه دلته درسول الله ﷺ د ټولونه لويه معجزه بيان شوې ده. ددې دامطلب نه دې چه د حضورﷺ نورې معجزې نه وې. د دې نه علاوه د دې پاكې معجزې دقرآن د حضورﷺ لاس نه دومره معجزې ښكاره شوى دى چه په شميركښې نه شى راتلې.خوددې ټولومعجزو نه لويه اوزياته دحضورﷺ د ټولونه اعلى معجزه هم دا قرآن كريم دې كه چرې مونږدامحترم ختم المرسلين آخرى پيغمبر ﷺ دليگولونه وړاندې مونږدانه منونكي په خپل عذاب سره هلاك كړې وې نوددوى به داعذر به باقي پاتې شوې ووكه زمونږپه وړاندې يوپيغمبر راغلې وې يوه وحى رباني نازل شوې وې نو مونږ به خامخا په هغې ايمان راوړې وې اود هغې په تابعدارئى او حكم په ځائ راوړلوكښې به لگياشوى وو اود دې ذلت او رسوائې نه به بچ شوې وو. د دې د پاره مونږ

---

(۱) ۲۹/العنكبوت:۵۰.

(۲) صحيح بخارى كتاب فضائل القرآن باب كيف نزل الوحي واول مانزل:۴۹۸۱، صحيح مسلم:۱۵۲.

Scanned with Ca

ددوی داعذر هم ختم کړو.رسول مواولیګلوکتاب مونازل کړو هغوی ته ایمان نصیب نشو.د عذابونو مستحق شواوعذر ئی هم لرې شو. مونږ ته ښه معلومه ده چه یو نه په زرګونو آیاتونه او نښې کتلو سره هم دوی ایمان نه راوړی. اوچه کله عذابونه په خپلوسترګو اووینی هغه وخت به ایمان راوړی خوهغه به بې فائدې وی.لکه چه ارشاددې مونږ داپاك اوبهترکتاب نازل کړې دې کوم چه دبرکت دې تاسو دا اومنئ اوددې حکم په ځائ راوړئی نو په تاسوبه رحم اوکړې شی.() هم دا مضمون په آیت ﴿وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءَتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ ۖ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾(١)کښې دی وائې چه د رسول په راتلوبه مونږ مؤمنان جوړشو. معجزه لیدلو سره به ایمان قبول کړو. خومونږ د دوی د ختې نه خبریو. دوی به ټول آیاتونه لیدلوسره هم ایمان نه راوړی. بیاارشاد کولې شی چه اې نبی دې کافرانوته اووایه چه دلته تاسو هلته به مونږ په انتظاریو. اوس به حال ښکاره شی چه په صراط مستقیم باندې څوك دی؟دحق طرف ته څوك روان دی؟ عذابونه کتلوسره به ئی سترګې کولاؤشی.هغه وخت په معلومه شی چه په ګمراهوکښې څوك اخته وو. ویریږه مه هم اوس به درته معلومه شی چه دروغژن اوشیطان څوك وو؟ یقینا مسلمانان په نیغه لار دی اوغیرمسلم د دې نه اخواشوی دی.

﴿الحمدلله﴾ د شپاړسمې سپارې تفسیرختم شو.

..............................

(١) ٦/الانعام:١٥٥.

Scanned with Ca

**د سورت تعارف:-** صحیح بخاری کښې دحضرت عبدالله ﷺ نه روایت دې چه سورة بنی اسرائیل، سورة کهف، سورة مریم، سوره طه او سورة انبیاء دعتاق اول نه دی اوهم دا تلادی دی. (۱)

| آیاتونه | | سورة الانبیاء مکی دې | | رکوع گانې |
|---|---|---|---|---|
| | | بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | | |
| ۱۱۲ | | شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان زیات رحم کونکې دې | | ۷ |

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ①

نزدې شو | خلقو ته | (وخت د) حساب ددوئ | او دوئ | په غفلت کښې | مخ اړونکی دی |

خلقو ته ددوئ (دعملونو) حساب (وخت) رانزدې شو | اودوئ په غفلت کښې مخ اړولې پراته دی

مَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ

نۀ راځی دوئ ته | یو نصیحت | دطرفه درب ددوئ نه | نوې (تازه) | مگر | اوری دوئ هغه |

دوئ ته چې ددوئ درب د طرفه کوم یو نوې نصیحت هم راشی نو دوئ ئې واوری خوداسې لکه

وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ② لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ط وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ

حال دا چې دوئ | لوبې کوی | بې پروا دی | زړونه ددوئ | او پټې کوی | دغوږ خبری | هغه کسان

چې دوئ په لوبو کښې مشغوله وی | ددوئ زړونه غافله دی | او دې ظالمانو پټې پټې مشورې اوکړې

ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ج اَفَتَاْتُوْنَ

چې ظلم ئې کړې دې | نه دې دا سړې | مگر | یو انسان دې | په شان ستاسو | آیا نو راځئ تاسو |

چې دې خو بس هم ستاسو په شان یو سړې دې | نو آیا تاسود جادو په خبرو پسې روان ئې

السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ③ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ

جادوته | حال داچې تاسو | ښۀ گورئ (چې جادو دې) | اووئیل رسول | رب زما | علم لری |

حال دا چې تاسو ئې په سترگو وینئ گورئ | ............ پیغمبر اووئیل چې زما رب دآسمان اوزمکې

الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ز وَهُوَ السَّمِيْعُ

په هغه خبره | چې اوشی په آسمان کښې | او په زمکه کښې | او هغه | هر څه اوریدونکې دې |

په هره خبره باندې عالم دې | ............ او هغه هر څه اوریدنکې

الْعَلِيْمُ ④ بَلْ قَالُوْا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ بَلِ افْتَرٰىهُ

او په هر څه پوهه دې | ابلکه | وائی دوئ | (دا قرآن) گډوډ خوبونو دی | بلکه | دۀ دغه جوړ کړې دې

په هر څه عالم دې | ابلکه دوئ خو وائی چې دا (قرآن) بعضې گډوډ خوبونه دی | ابلکه (پیغمبر) دغه

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الانبیاء:۴۷۳۹.

Scanned with Ca

بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚ فَلْيَأْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ

بلکه دي | شاعر دي | پس رادوړی دي مونږ ته | څه نښه | لکه څنګه چی | رالیږلي شوی وؤ |

جوړ کړي دي ابلکه دي شاعر دي انوده دپاره پکار دی چې داسي نښه مونږ ته راوړی الکه څنګه چې

الْاَوَّلُوْنَ ۝ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ

اولنی (پیغمبران دنښو سره)| نهٔ وؤ راوړې ایمان | مخکښې ددوئ نه | هیڅ یو کلی |

پخوانو پیغمبرانو راوړې وې | ددوئ نه وړاندې چه کوم خلق مونږ هلاک کړی وو هغوی خو هم

اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝

چی هلاك كړو مونږ هغه کلي | آیا نو دوئ (به ګنی) | ایمان راوړی |

ایمان نه وو راوړې | ........نو آیا داخلق بهٔ ایمان راوړی څهٔ؟ |

**قوله تعالى:- اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ**

**قیامت نیزدې راغلې دې** :-الله ﷻ خلق خبردارکوی چه قیامت نیزدې راغلې دې خوبیاهم دخلقو په غفلت کښې کمې رانغلو اونه هغوی د دې دپاره څه تیارې کوی چه د هغوی په کارراشی بلکه په دنیا کښې اینختی دی اوداسې مشغول او اخته شوی دی چه دقیامت نه بالکل غافل شوی دی. لکه چه بل آیت کښې ارشاد دې ﴿اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝﴾[1] دالله ﷻ امرراغلواوس ولې تندی کونئی؟ بل آیت کښې فرمانیلی شوی دی ﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ۝﴾[2] قیامت نیزدې راغلواو سپوږمئی اوشلیده.الخ. د ابونواس شاعریوشعر بالکل هم ددې معنې دې -:

الناس فی غفلاتهم :- ورحی المنیة تطحن

دمرګ میچن په زوره زوره روانه ده اوخلق په غفلتونوکښې پراته دی. حضرت عامربن ربیعه ﷺ کره یو صاحب میلمه راغلو هغه په ډیر اکرام اواحترام سره هغه خپل کورکښې دیره کړواودهغه باره کښې رسول الله ﷺ ته هم سفارش اوکړو.یوه ورځ دا بزرګ میلمه هغه له راغلو وئی وئیل رسول الله ﷺ ماته فلانکئی وادی راکړه زه داغواړم چه د دې بهترینې زمکې یوه ټکړه ستا په نوم کړم ته به هم مشغول ئی او تانه پس به ستا بال بچ هم په دې سره اسوده وی.عامر ﷺ جواب ورکړو روره ماته ددې څه ضرورت نشته.نن یوسورت نازل شوې دې مونږ ته خودا دنیاترخه غوندې معلومه شوه بیا هغوی هم دا ﴿اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِىْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ۝﴾ تلاوت اوفرمانیلو. ([3])

دې نه پس د قریشوکافران اوهم د دوی په شان د کافرانو باره کښې فرمائی چه داخلق د الله ﷻ کلام او د الله ﷻ وحی ته هډو غوږ نه ایږدی. دوی تازه اونوې راغلې شوې ذکر زړه لګولوسره هډو اوری نه په یوغوږ ئی اوری اوپه بل ئی اوباسی.زړه ئی په خندا او لوبوکښې مشغول کړې دې. بخاری شریف کښې دی حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی تاسو ته د اهل کتابود خبرو دپوښتنو څه ضرورت دې؟ هغوی خود الله ﷻ په کتاب کښې ډیر بدلون او تحریف کړې دې کمې زیاتې ئی کړې دې اوتاسو سره خو د

[1] ) ١٦/النحل:١.

[2] ) ٥٤/القمر:١-٢.

[3] )دې روایت کښې موسی بن عبیده اوعبدالرحمن بن زید بن اسلم دواړه ضعیف راویان دی.(میزان الاعتدال:٢/٢٥٦رقم:٣٦٣٦ ٢/٥٦٤ رقم:٤٨٦٨).

Scanned with Ca

الله ﷻ اوسني نازل کړې شوې خالص کتاب موجود دې. په کوم کښې چه هيڅ کږوږوالې نه دې شوې. داخلق د الله ﷻ د کتاب نه بې پرواهي کوی خپل زړونه د دې د اثر نه خالي ساتل غواړي. اودا ظالمان نور هم غولوی چه د خپل ځان په شان د يوانسان ماتحتي خو مونږ نه شو کولې تاسو څنګه خلق ئې چه په غړيدلوسترګو جادو منئ. دا ناممکن ده چه هم زمونږ په شان انسان له الله ﷻ رسالت او وحی سره مختص کړې بيا حيرانيتا ده چه خلق سره د علم نه د ده په جادوکښې راځي.د دې بدکردارو په جواب کښې الله ﷻ فرمائي دوی تهمت تړی اودوی ته اووايه چه کوم الله ﷻ د زمکې اوآسمان ټولوخبرو باندې پوهيږی اوډانه چه يوه خبره هم پټه نه ده هم هغه الله ﷻ داقرآن پاك نازل کړې دې. په دې کښې د تيرو شوو او راتلونکو خبرو موجود کيدل د دې خبرې دليل دې چه د دې نازل کونکې د غيب عالم دې هغه ستاسو ټولې خبرې اوريدونکې دې اوستاسو د ټول حالات علم لرونکې دې نوتاسوله د هغه ويره ساتل پکار دی.

**دکافرانو د رسول کريم ﷺ په حقله مختلف بکواسونه:**-بيادکافرانوضد ناپوهي دحجت نه منل بيانوی د څه نه چه صفابښکاره دی چه هغوی پخپله حيران دی اوپه يوه خبره اودريدې نه شی کله د الله ﷻ کلام ته جادووائی نوکله ورته شاعری وائی کله ورته فضول او بې معنې خبرې وائی اوکله ئې داخبرې د حضورﷺ د خپل ځان نه جوړې شوی ښائي. خيال کوئی په خپل ځان باندې يقين نه ساتونکوته چه ژبه څه راځي هغه دوړونوی نوداسې خلق د مستقل مزاج وئيلو حقدار دی؟ کله به ئې وئيل چه ښه ده که دا ريښتونې نبی وو نو د حضرت صالحؑ په شان به ئې يوه اوښه راوړې وه دحضرت موسیؑ په شان به ئې يوه معجزه خودلې وه د حضرت موسیؑ يومعجزه به ئې خودلې وه. بې شکه الله ﷻ په دې څيزونوخو قادردې خو که ښکاره شوې وې او بياهم دوی د خپل کفر نه نه وو څوزيدلې نود الله ﷻ دعادت په شان به د هغه په عذابونوکښې راګيريدل اوميده کړې شوی به وو.په عام توګه ورانډينو خلقويه هم داوئيل ايمان ورته نصيب نه شونوغرق به کړې شو.دغه دوی هم دامعجزې غواړی که ښکاره شی اوايمان راونړی نوتباه به کړې شی.

لکه چه ارشاددې ﴿ إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (١)په چا چه ستا درب خبره ثابته شوې ده که هغوی ټولې معجزې هم اوګوری خوايمان به قبول نه کړی اود دردناك عذاب په کتلو به ئې ډيرزر قبول کړی خوهغه به صرف يوبې فائدې خبره وی. خبره هم دا ده چه دوی ايمان نه راوړو ګنی د حضورﷺ بې شميره معجزې هره ورځ دهغوی دسترګو په وړاندې وې بلکه حضورﷺ ته د نوروانبياء کرامو عليهم السلام نه ډيرې زياتې او ښکاره معجزې ورکړې شوې وې.

**دمنافق ابی بن سلول معجزه طلب کول:**-د ابن ابی حاتم په يوډيرغريب روايت کښې دی چه د صحابه کرامو ﷺ يوه ډله په جمات کښې ناسته وه.ابوبکرصديق ﷺ د قرآن پاك تلاوت کولو.دې کښې عبدالله بن ابی بن سلول منافق راغلو خپله ګدئی خوره کړه تکيه ئې اولګوله په شان سره کيناستو. وو هم ښه تك سپين غټې غټې د فصاحت خبرې جوړونکې. وئی وئيل ابوبکرﷺ ته حضور ﷺ ته اووايه چه هغوی مونږته څه نښه اوښائی لکه چه دهغوی نه وړاندې پيغمبرانونښې خودلې وې مثلاًموسیؑ تختنی راوړې، داؤدؑ زبور راوړو، صالحؑ اوښه راوستله، حضرت عيسیؑ انجيل او آسمانی دسترخوان. حضرت ابوبکرﷺ دې اوريدو سره په ژړا شو. په دې کښې حضورﷺ د کورنه تشريف راوړو نوهغوی نورو صحابه کرامو ﷺ ته اوفرمائيل دحضورﷺ د تعظيم دپاره اودريږئی اودې منافق غوښتنه ئې درسالت دربارته اورسوله. حضورﷺارشاد اوفرمائيل زماد پاره مه اودريږئی صرف دالله

(١) ١٠/يونس:٩٦.

Scanned with Ca

ﷺ دپاره اودریږنی.صحابه کرامو رضي الله عنهم اووئیل حضورﷺ مونږ ته ددې منافق نه سخت تکلیف رسی.
حضوراکرم ﷺاوفرمائیل چه اوس حضرت جبرائیل علیه السلام ماله راغلو راته ئی اوفرمائیل چه بهر لاړشه او
خلقو ته خپل دافضائل بیان کړه اود دې نعمتونو بیان اوکړه چه رب تاته درکړی دی. زه ټولې دنیاته
رسول جوړکړې رالیګلې شوې یم. ماته داحکم دې چه پیریانوته هم د الله ﷻ پیغام اورسوم. ماته رب
خپل پاك کتاب رانصیب کړې دې سره د دې چه ما لیك لوستل نه دی کړی زما ټول وړاندې روستو
ګناهونه معاف کړې شوی دی. زما نوم ئی په اذان کښې کیخودې دې زما امدادئی په فرښتوسره کړې
دې. ماته ئی خپل امداداونصرت راکړې دې زما رعب ئی زما نه وړاندې وړاندې کړې دې ماته حوض
کوثر راکړې شوې دې چه د قیامت په ورځ به د نورو ټولوحوضونونه به لوئې وی. ماته الله ﷻ د مقام
محمود وعده راکړې ده. هغه وخت چه ټول خلق به حیران اوپریشان ولاړ وی سرونه به ئی ښکته کړې
وی. زه الله ﷻ د هغه ړومبئی ډلې نه کړې یم چه د خلقو نه به راوځی. زما په شفاعت به زما د امت اویا
زره کسان بغیر دحساب کتاب نه جنت ته ځی. ماته ئی غلبه او سلطنت راکړې دې ماته به د جنت نعیم
هغه اوچته اواعلی بالاخانه ملاویږی چه د دې نه به اعلی مقام بل چاته نه ملاویږی. زما د پاسه به
صرف دوه فرښتې وی چه د الله ﷻ عرش به ئی اوچت کړې وی. زما اوزما د امت د پاره د غنیمت مال
حلال کړې شوې دې اوزما نه وړاندې دا د هیڅ چا د پاره هم حلال نه وو.

وَمَآ أَرْسَلْنَا
| اونۀ وو لیږلی مونږه |
|او ستا نه وړاندې مونږ هم سړی

قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِيٓ إِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوٓا۟
مخکښی ستا نه | مګر | انسانان | چې مونږ به وحی کوله | هغوئ ته | پس تپوس اوکړئ |
پیغمبران جوړکړی لیږلی وو| چا ته چې مونږ وحی لیږله وه|که چرې تاسو په دې خبره

أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ٧ وَمَا جَعَلْنَٰهُمْ جَسَدًا
داهل کتابونه | که یئ تاسو | چې نۀ پوهیږئ | اونۀ وو جوړ کړې مونږ هغوئ لره | داسې بدن
نه پوهیږئ |نودعلم د خاوندانو تپوس او کړئی| اومونږ ددې پیغمبرانو داسې بدنونه نه دی جوړ کړی

لَّا يَأْكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُوا۟ خَٰلِدِينَ ٨ ثُمَّ صَدَقْنَٰهُمُ
چې نۀ به ئې خوړو | خوراك | اونۀ وو هغوئ | همیشه ژوندی | بیا | رښتیا کړه مونږه دهغوئ سره
چې ګنی خوراکونه دې نه کوی | اونه هغوی همیشه دپاره ژوندی پاتې شوی دی| بیا مونږ هغوی سره

ٱلْوَعْدَ فَأَنجَيْنَٰهُمْ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا
وعده | نو بچ کړل مونږه هغوئ | او هغه څوك |چې غوښتلومونږه نجات دهغوئ|اوهلاك کړل مونږه
خپله وعده رښتیا کړه | نوهغوئ ته او نورو هغه چاته چه مونږ غوښتله نجات ورکړو | اودحد نه

ٱلْمُسْرِفِينَ ٩
دحد نه اوړیدونکی خلق |
تیریدونکی مو هلاک کړل

Scanned with Ca

**قوله تعالی:- وَمَآ اَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ**

**ټول پیغمبران علیهم السلام سړي او بشر وو:-** مشرکان د دې منکر ووچه په انسانانوکښې څوك انسان د الله ﷻ رسول وی په دې وجه الله ﷻ د هغوی تردیدکوی فرمائی تانه وړاندې چه څومره رسولان راغلی هغه ټول انسانان وو په هغوی کښې یوفرښته نه وو لکه چه بل ځایٔ کښې ارشاد دې ﴿وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡقُرٰی ؕ اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ فَیَنۡظُرُوۡا کَیۡفَ کَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ خَیۡرٌ لِّلَّذِیۡنَ اتَّقَوۡا ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ۝﴾([1])یعنی تانه وړاندې چه مونږ څومره رسولان لیګلی دهغوی طرف ته وحی نازل شوې ټول هم د ښارونواوسیدونکی وو.بل آیت کښې دی ﴿قُلۡ مَا کُنۡتُ بِدۡعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَاۤ اَدۡرِیۡ مَا یُفۡعَلُ بِیۡ وَلَا بِکُمۡ ؕ اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا یُوۡحٰۤی اِلَیَّ وَمَاۤ اَنَا اِلَّا نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ۝﴾([2])یعنی ورته اووایه چه زه خو چرته نوې یوازې عجیبه او رومبی رسول نه یم ددې کافرانوته وړاندې کافرانوهم د نبیانو د نه منلوهم دغه بهانه کړې وه لکه چه قرآن پاك ارشادکړې دې چه هغوی ونیلي وو﴿اَبَشَرٌ یَّهۡدُوۡنَنَا ۫ فَکَفَرُوۡا وَتَوَلَّوۡا وَّاسۡتَغۡنَی اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِیٌّ حَمِیۡدٌ ۝﴾([3])آیا یوانسان به زمونږلار خودونکې وی؟الله ﷻ په دې آیت کښې فرمائی ښه ده تاسو اهل علم نه یعنی یهودیانو نصرانیانو نه او نورو خلقو نه تپوس اوکړئی چه دوی له انسانان رسولان جوړکړې رالیګلي شوې ووکه فرښتې؟ داهم د الله ﷻ احسان دې چه انسانانوته هم د هغوی په شان انسانان رسولان جوړوی رالیګی دې دپاره چه خلق هغوی سره کیناستې پاسیدې شی د هغوی تعلیم حاصل کړې شی اود هغوی په خبرو باندې پوهه شی. هغه وړاندې پیغمبران ټول په ټول داسې جثې والا نه ووچه دخوراك څښاك حاجت ئې نه لرلو بلکه هغوی د خوراك څښاك محتاج وو. لکه چه ارشاد دې ﴿وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اِلَّاۤ اِنَّهُمۡ لَیَاۡکُلُوۡنَ الطَّعَامَ وَیَمۡشُوۡنَ فِی الۡاَسۡوَاقِ ؕ وَجَعَلۡنَا بَعۡضَکُمۡ لِبَعۡضٍ فِتۡنَةً ؕ اَتَصۡبِرُوۡنَ ۚ وَکَانَ رَبُّكَ بَصِیۡرًا ۝﴾([4])یعنی تانه وړاندې چه څومره رسولان مونږ لیګلي دی هغوی ټولو به خوراك کولو په بازاراونوکښې به ګرځیدل هم یعنی هغوی ټول انسانان وو د انسانانو په شان به ئی خوراك څښاك کولو کار روزګاراودتجارت دپاره به بازارونوته هم تله راتله. دا خبره د دې پیغمبرئی خلاف نه ده لکه چه دمشرکانو قول وو﴿وَقَالُوۡا مَالِ هٰذَا الرَّسُوۡلِ یَاۡکُلُ الطَّعَامَ وَیَمۡشِیۡ فِی الۡاَسۡوَاقِ ؕ لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ اِلَیۡهِ مَلَكٌ فَیَکُوۡنَ مَعَهٗ نَذِیۡرًا ۝﴾([5]) یعنی داڅنګه رسول دې چه خوراك څښاك کوی او بازارونوته ځی ده له یوه فرښته ولې نه رانازلیږی که هغې هم د ده د دین تبلیغ کولو. ښه ده چه دا نشته نو دې د یوې خزانې مالك کوی ولې نه. یابه ئی ده ته یوباغ ورکړې وو چه د هغې نه ده په ارت مټ خوراك کولو الخ. دغه شان نور پیغمبران هم په دنیاکښې پاتې نه شو راغله او لاړه لکه چه ارشاددې ﴿وَمَا جَعَلۡنَا لِبَشَرٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ الۡخُلۡدَ ؕ اَفَا۠ئِنۡ مِّتَّ فَهُمُ الۡخٰلِدُوۡنَ ۝﴾([6])یعنی تانه وړاندې هم مونږ دیوانسان دپاره همیشه والې نه دې کړې. هغوی له دالله ﷻ وحی راتله فرښتو به د الله ﷻ حکم احکام رسول. بیاچه هغوی سره د رب کومه وعده وه هغه پوره شوه یعنی د هغوی مخالفین د ظلم په وجه تباه کړې شو او هغوی خلاصې بیاموندلو د هغوی تابعدار هم کامیاب شواود حدنه وړاندې کیدونکی یعنی د نبیانو دروغ ګڼرونکی الله ﷻ هلاك کړل.

---

([1]) ۱۲/یوسف:۱۰۹.

([2]) ۴۶/الاحقاف:۹.

([3]) ۶۴/التغابن:۶.

([4]) ۲۵/الفرقان:۲۰.

([5]) ۲۵/الفرقان:۷.

([6]) ۲۱/الانبیاء:۳۴.

Scanned with Ca

لَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكُمۡ كِتٰبًا فِيۡهِ

| نازل کړې دي مونږ | تاسو ته | يو کتاب | چې په هغې کښې

| (خلقو) مونږ په تاسو يو کتاب (قران پاک) نازل کړې دې | په کوم کښې چې

ذِكۡرُكُمۡ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰﴾ وَكَمۡ قَصَمۡنَا مِنۡ قَرۡيَةٍ

ذکر ستاسو دې | آيا نه پوهيږئ تاسو | او څومره ډير | ريز مريز کړل مونږه | د کلونه

ستاسو دپاره نصيحت دې | نو آيا تاسو پوهيږئ نه ؟ (چه نصيحت قبول کړئ) او مونږ ډير کلي تباه کړل

كَانَتۡ ظَالِمَةً وَّاَنۡشَاۡنَا بَعۡدَهَا قَوۡمًا اٰخَرِيۡنَ ﴿۱۱﴾ فَلَمَّاۤ

چې وو | ظالمان | او راپورته کړل مونږه | روستو دهغې نه | قوم | نور | پس هر کله چې

چې دهغې خلق ظالمان وو | او دهغوئ نه پس مو يو بل قوم پيدا کړو | نو هر کله چې

اَحَسُّوۡا بَاۡسَنَاۤ اِذَا هُمۡ مِّنۡهَا يَرۡكُضُوۡنَ ﴿۱۲﴾ؕ لَا تَرۡكُضُوۡا

اوليدو هغوئ | عذاب زمونږ | نو بيا | هغوئ | دهغې نه | تبنتيدل | مهٔ تبنتئ نواز

هغوئ زمونږ عذاب اوليدو | نو دهغه کلي نه په تيښته شروع شول | (مونږ ورته اووئيل اوس) مه تبنتئ

وَارۡجِعُوۡۤا اِلٰى مَاۤ اُتۡرِفۡتُمۡ فِيۡهِ وَمَسٰكِنِكُمۡ

او واپس لاړ شئ | هغه ځائې ته | چې ښه ژوند درکړې شوې وو | په هغې کښې | او کورونو خپلو ته |

او کوم نعمتونه چې تاسو ته درکړې شوې وو | هغې ته او خپلو کورونو طرفته واپس لاړ شئ

لَعَلَّكُمۡ تُسۡـَٔلُوۡنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوۡا يٰوَيۡلَنَاۤ اِنَّا كُنَّا

شايد چې ستاسو نه | تپوس اوکړې شي | اووئيل هغوئ | اے هلاکته زمونږه | بيشکه مونږه | وو

کيدې شي چې ستاسو نه تپوس اوشي | هغوئ اووئيل چې افسوس بيشکه هم مونږ

ظٰلِمِيۡنَ ﴿۱۴﴾ فَمَا زَالَتۡ تِّلۡكَ دَعۡوٰىهُمۡ حَتّٰى جَعَلۡنٰهُمۡ

ظالمان | پس هميشه وه | دغه | بلنه دهغوئ | تر دې پورې | چې کړل مونږه هغوئ

ظالمان وو | نو هم دغه شان چغې ئې وهلې اتر دې چې هغوئ مو دريبلي شوي

حَصِيۡدًا خٰمِدِيۡنَ ﴿۱۵﴾

ريبلي شوي | يخ پراته | |

فصل او د مړاور په شان کړل |

قوله تعالى:- لَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكُمۡ كِتٰبًا فِيۡهِ ذِكۡرُكُمۡ ؕ

**قرآن پاک نصيحت دې** :- الله ﷻ دخپل کلام پاک فضيلت بيانولوسره د دې قدراومنزلت طرف ته رغبت ورکولودپاره فرمائي چه مونږ داکتاب ستاطرف ته نازل کړې دې په کوم کښې چه ستاسو بزرګي ده. (1)ستاسو دين ستاسوشريعت اوستاسوخبرې دی بياخوحيرانتياده چه ته د دې نعمت قدراونه کړې اود

(1) الطبرى:۲۱/۶۱۱.

Scanned with Ca

دومره شرافت والا کتاب نه غفلت کوې لکه چه ارشادباری تعالی دې ﴿وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ﴾ (۱) ستاسودپاره اوستاسودقوم دپاره نصیحت دې اوتاسو نه به د دې باره کښې سوال کولېش شی. بیا فرمائی چه مونږ دډیروکلوظالمان چوری کړی دی. یوبل آیت کښې دی مونږ دنوح علیه السلام نه پس هم ډیر کلی تباه کړی دی (۲) یوبل آیت کښې دی چه څومره کلی دی ډیرپه ترقئی اورونق کښې ووخوبیادهغه ځایٔ دخلقودظلم په وجه مونږ هغوی تباه کړل (۳) بوس والوزولې شوآبادئی په تباهئ اورونق په خاموشئ کښې بدل کړې شوې د هغوی د هلاکت نه پس نور خلق د هغوی په ځایٔ کینولې شو. د یوقوم نه پس دویم او ددویم نه پس دریم اودغه شان داسې راتلل. کله چه دې خلقودعذابونوراتلل اولیدل او یقین ئې اوشو چه دالله ﷻ د نبی دفرمان مطابق د الله ﷻ په عذاب کښې هغوی راغله نوهغه وخت اوویریدل اود تیختې لارئی لټوله اواخوا دیخواپه منډو تررو کښې اخته شو. اوس تختئی راتختئی مه بلکه په خپلو محلونوکښې اودخپل عیش اوعشرت په سامانونوکښې بیاراشئی دې دپاره چه تاسوسره سوال او جواب خواوشی چه تاسو د الله ﷻ دنعمتونو شکر اداکړې هم دې اوکه نه؟ دا فرمان د رټنې او غصې په توګه دې اودهغوی د خوار اوذلیل کولود پاره به وی. دغه وخت به هغوی د خپلو ګناهونواقرار کوی صفابه وائی چه بې شکه مونږ ظالمان وو خود هغه وخت اقرار بالکل بې فائدې دې. بیا به هم دا اقرار وی تردې چه هغوی به تباه کړې شی د هغوی آواز به دباؤکړې شی اودوی به اومړلې شی دهغوی تګ راتګ تلل راتلل خبرې کول به یودم بندشی.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا

| اونهٔ دې پیدا کړې مونږه | اسمان | او زمکه | او هغه |

او مونږ اسمان اوزمکه اوڅه چې ددې په مینځ کښې دی

بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا

چې په منځ ددواړو کښی دی | لوبې کونکی | که اراده لرلې مونږه | چې اونیسو مونږه | لوبه

لوبه تماشه نه ده جوړه کړې | ..............که چرې لوبه تماشه مو جوړول غوښتلې

لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۷﴾

نو خامخا نیولې به وې مونږه هغه لوبه | دخپل طرف نه دڅان سره | که وې مونږه | کونکی ددې کار

نو هم دخپل څان نه به مو جوړه کړې وې | که مونږ خامخا داسې کونکی وو

بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ

بلکه مونږه ګوزار ورکووا | په حق سره | په باطل باندې | نو سرماتوی دهغه (باطل) | نو بیا | هغه

بلکه مونږ خو حق د باطل دپاسه وراچووا | نو هغه دهغې سرماتوی | نوهغه (باطل) ورک شی

زَاهِقٌ ۭ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ

په خائې ورك شی | او ستاسو دپاره | تباهی ده | دهغې خبرو | چې تاسو ئې بیانوئ | او هغه لره دی

.........اوتاسو چه کوم تاسو دروغ بیانوئی د هغې په وجه به هلاک شئ | ............او په آسمانونو

۱) ٤٣/الزخرف:٤٤.الخ

۲) ۱۷/الاسراء:۱۷.

۳) ۲۲/الحج:٤٥.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مَنْ | فِي السَّمٰوٰتِ | وَالْاَرْضِ ؕ | وَمَنْ | عِنْدَهٗ |
| هغه مخلوق اچې په آسمانونو کښې دی | او په زمکه کښې دی | | او هغه (فرښتې) | اچې دهغه سره دی |
| اوزمکه کښې ټول هرڅه دهغه ملکیت دې | | | او کومې (فرښتې) | چې هغه سره دی |
| لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ | عَنْ عِبَادَتِهٖ | وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ۚ | يُسَبِّحُوْنَ | |
| خان غټ نه ګڼړی | دعبادت دهغه نه | او نه ستومانه کیږی | هغوئ تسبیح وائی | |
| نه دهغه دعبادت نه خان لوئې حسابوی | اونه (د هغه په عبادت) ستړې کیږی | د شپې او ورځې د | | |
| الَّيْلَ وَالنَّهَارَ | لَا يَفْتُرُوْنَ | | | |
| دشپې او دورځې | سستی نه کوی | | | |
| هغه پاکی بیانوی او سستی نه کوی | | | | |

**قوله تعالی:- وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ**

**د آسمان تخلیق د الله ﷻ عجیبه قدرت دې:-** آسمان اوزمکه الله ﷻ په عدل سره پیداکړی دی دې دپاره چه بدانوته سزا اونیکانوته بدله ورکړی هغه دا بې کاره د لوبې تماشې په توګه نه دی پیداکړی. یو بل آیت کښې ددې مضمون سره بیان دې چه داګمان خودکافرانودې دچاد پاره چه د دوزخ اورتیار دې(¹)
د دویم آیت یوه معنی خودا ده که چرته مونږ لوبه اوتماشه غوښتله نودابه موجورکړی وو یوه معنی دا ده چه که مونږ ښځه غوښتلې.د (لَهْوًا) معنی داهل یمن په نیزدښځې هم راځی.یعنی که مونږښځه جوړول غوښتل نوحورعین نه چه مونږ سره دی څوك جوړوله.یوه معنی داهم ده که چرې مونږ اولادغوښتلې. دا دواړه معنې یوبل سره لازم اوملزوم دی هم ښځې سره اولاد دې لکه چه ارشاد دې ﴿لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾ (²)یعنی که الله ﷻ ته هم دامنظور وه چه دهغه اولاد وې نو په خپل مخلوق کښې به ئې چرته د اوچتې درجې مخلوق ته دا منصب ورکړې وې خو هغه د دې خبرې نه پاك اوډیر لرې دې د هغه د توحید اوغلبه خلاف دی چه د هغه دې اولاد وی. نوهغه مطلق د اولادنه پاك دې.نه عیسی ؑ دهغه ځوئ دې اونه عزیر ؑ نه فرښتې دهغه لونړه دی.ددې عیسایانو یهودیانو او مکې د کافرانو د دې فضول خبرې اوتهمت نه رب واحد قهار پاك دې اوډیر اوچت دې.
﴿اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ﴾ کښې "اِن" ته نافیه وئیلې شوې ده یعنی مونږ داکونکې هډو وو نه(³) بلکه د مجاهد ؒ قول دې په قرآن مجید کښې هریو ځائ کښې "اِن" د نفی د پاره دې.(⁴)مونږ حق واضح کوواوهغه ښکاره بیانوو په کوم سره چه باطل ښکته شی مات شی ذره ذره شی اوډیراخوا شی هغه دې هم ددې لائق نه اودریدې اونه کلکیدې شی اونه د ډیر وخت دپاره پاتې کیدې شی.د الله ﷻ د پاره چه کوم خلق اولادګرځوی دهغوی ددې فضول وینا په وجه دهغوی د پاره "ویل" دې اوهغوی دپاره پوره خرابی ده.
**فرښتې د الله ﷻ بندګان دی:-** بیاارشاد کولې شی چه کومې فرښتې تاسود الله ﷻ لونړه ګڼړئ د هغوی حال واورئ د الله ﷻ الوهیت او عظمت ته اوګورئ آسمان او زمکه ټول څیزونه د هغه په ملکیت کښې دی د هغه په عبادت کښې مشغول دی ناممکن دی چه یووخت سرکشی اوکړی. نه عیسی ؑ

(¹) ۳۸/ص:۲۷.
(²) ۳۹/الزمر:۴.
(³) الطبری:۱۸/۴۲۰.
(⁴) الدرالمنثور:۵/۶۲۰.

Scanned with Ca

ته د الله ﷻ په بنده کيدو کښې څه شرم دې اونه فرښتو ته د الله ﷻ په عبادت کولوکښې څه شرم نه په هغوی کښې څوك تکبر کوی ياد عبادت نه پټيږی اوچه څوك هم داسې اوکړی نويووخت راروان دې چه هغوی به دالله ﷻ په وړاندې دمحشر ميدان کښې دټولوسره وی او خپل کړه به زغمی. دابزرګ فرښتې د هغه په عبادت باندې ستړې کيږی هم ويريږی هم نه سستی اوکمې هغوی له خواته هم نه راځی. شپه ورځ دالله ﷻ په حکم منلوکښې دی. د هغه په عبادت د هغه په تسبيح کښې لګيادی نيت اوعمل دواړه موجود دی د الله ﷻ هيڅ نافرمانی نه کوی اونه د يوفرمان د پوره کولو نه منع کيږی.

**د فرښتو هر وخت تسبيح وئيل**:-ابن ابی حاتم کښې دی يوځل رسول الله ﷺ دصحابه کرامو ﷡ په ټولی کښې وو وئی فرمائيل خلقو چه داڅه زه اورم هغه تاسو هم اورئی خلقو جواب ورکړو چه حضور ﷺ مونږ خو څه هم نه اورو.حضور ﷺ اوفرمائيل زه د آسمانونو چغار اورم اوحق خودې هم دا چه دوی دې چغيږی ځکه چه دې کښې ديوې لويشت ځائ داسې نشته چرته چه د يوې نه د يوې فرښتې سر په سجده کښې پروت نه وی. (۱) عبدالله بن حارث بن نوفل رحمه الله فرمائی زه حضرت کعب احبار رحمه الله سره ناست ووم هغه وخت زما عمر کم وو.ما دهغوی نه د دې آيت مطلب معلوم کړو خبرې کول تلل د الله ﷻ پيغام وړل اوتلل عمل کول هم دوی د دې تسبيح نه نه بندوی؟ زما په دې سوال کولوسره هغه بيدار شان شو او وئی فرمائيل دا ماشوم څوك دې؟ خلقو وئيل د بنوعبدالمطلب نه دې هغوی زما تندې ښکل کړو وئی فرمائيل خوږه بچيه تسبيح د دې فرښتو د پاره داسې دی لکه زمونږ د پاره ساه اخستل ګوره تلوراتلو خبرو وغيره کښې ستا ساه برابر ځی راځی دغه شان د فرښتو تسبيح هر وخت جاری وی.

| |
|---|
| أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً مِّنَ الْأَرْضِ هُمْ |
| \| ايا نيولي دی دوئ \| خدايان \| دزمکې نه \| چی هغوئ |
| \|........... ايا دې خلقو په زمکه کښې داسې ځيزونه |
| يُنشِرُونَ ﴿٢١﴾ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ |
| را ژوندی کوی مړی \| که چری وې \| په دې دواړو کښې \| نور خدايان \| ماسوا دالله نه \| |
| معبودان جوړ کړی دی اچې هغوی پيدا کولې شی؟ که چرې په زمکه او آسمان کښې دالله نه سوا نور |
| لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا |
| نو خامخا به خراب شوې وې نظام ددواړو \| پس پاکی ده الله لره \| چی رب دعرش دې \| دهغې خبرونه |
| معبودان وې \| نودواړه به تباه شوی وو \| الله دهغه خبرو نه پاک دې کومې چې دهغه دپاره بيانوی \| دعرش مالك |
| يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾ لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ ﴿٢٣﴾ |
| چی دوئ ئې بيانوی \| تپوس نهٔ کيږی \| دهغه کارونو \| چی کوی ئې هغه \| او ددوئ نه به تپوس کيږی |
| .......... .... هغه ذات چې هر څه کوی نو پوښتنه ترې نه نشی کيدې \|اودخلقو نه به تپوس پوښتنه کولی شی |

قوله تعالى:- لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا ۚ

**د الله ﷻ نه بغيربل معبودنشته**:- -دشرك ترديدکولې شی چه دکوموکوموتاسودالله ﷻ نه بغيرعبادت کونی په هغوی کښې يوهم داسې نه دې چه مړی بيا ژوندی کوی. په چا کښې په ټولوکښې په يوځائ دا طاقت نشته نو بيا هغوی د دې قدرت والا سره برابر منل ياد هغوی هم عبادت کول څومره بې

(۱) مشکل الاثار: ۲/ ٤۳، المعجم الکبير: ۱/ ۳۱۲۲.

Scanned with Ca

انصافی ده. بیا فرمائی واورئی که دا اومنلې شی چه واقعی خدایان ډیردی نولازم به راځی چه زمکه آسمان دې تباه اوبرباد شی لکه چه ارشاد دې ﴿مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۢ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴾ (۱) د الله ﷻ اولاد نشته او نه هغه سره څوك بل معبود شته كه چرې داسې وې نو هر معبود به خپل خپل مخلوق اخستلو ګرځیدلو او هریو به په بل باندې دغالب راتلو كوشش كولو. الله ﷻ د هغوی د بیان كړې شوو صفتونو نه مبرا او منزه دې.

دلته بیان فرمائی چه الله ﷻ دعرش مالك دهغوی د وئیلی شوی فضول صفتونو نه یعنی ځامنو اولونړو نه پاك دې. د الله ﷻ ذات اوچت دې اود هغه شان خودا دې چه هغه خوعلی الاطلاق حقیقی شهنشاه دې په هغه باندې څوك حاكم نشته. ټول د هغه دغلبې اوقهر لاندې دی نه خود هغه په حكم پسې څوك لګیدلې شی او نه د هغه فرمان څوك روستو كولې شی. د هغه لوئی عظمت جلال حكومت علم حكمت لطف رحمت بې پایانه دې. د هیڅ چا د هغه په وړاندې لكې خوزولو مجال نشته. ټول ښكته اوعاجزدی كمزورې اوبې وسه دی هیڅ څوك نشته چه د هغه په وړاندې خبره یا د خبرې مجال اوكړی هیڅ څوك نشته چه دهغه په وړاندې خبره قدرې اوكړې شی هیڅ څوك نشته چه هغه د څه اختیار وی چه د هغه نه تپوس اوكړی چه داكار دې ولې اوكړو یاداسې دې ولې اوكړو؟ هغه دټول مخلوق خالق دې د ټولو مالك دې هغه ته اختیاردې چه د چانه څه تپوس كوی دهریود اعمالوتپوس پوښتنه به كوی. لكه چه ارشاد دې ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ﴾ (۲) ستاد رب قسم چه مونږ به د دې ټولو نه تپوس كوو د هریو هغه كار كوم چه دوی كړې دې هم هغه دې چه د ده په پناه كښې راغلو د ټولوشرونونه بچ شو او هیڅ څوك نشته چه د هغه مجرم له پناه وركړې شی.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| أَمِ اتَّخَذُوْا | مِنْ دُوْنِهٖٓ | اٰلِهَةً ؕ | قُلْ | هَاتُوْا | بُرْهَانَكُمْ ۚ | هٰذَا |
| یا نیولی دی دوئ | بې دهغه نه | نور خدایان | ورته اووایه | راورئ | دلیل خپل | دا قران |

ایا دوئ د الله ﷻ نه سوا (ځان دپاره) نور معبودان جوړ كړی دی | ته ورته اووایه چې تاسو خپل یو دلیل

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ذِكْرُ | مَنْ | مَّعِيَ | وَذِكْرُ | مَنْ | قَبْلِيْ ؕ |
| نصیحت دې | هغه چاته | چې زما سره دی | او نصیحت دې | هغه چاته | چې مخكښی زمانه ووٴ |

خو پیش كړئی | دا دهغه خلقو ذكر دې چې ماسره دی | او دهغوئ ذكر دې كوم چې زما نه وړاندې وو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بَلْ اَكْثَرُ | هُمْ | لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ | الْحَقَّ | فَهُمْ | مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾ |
| بلكه زیات خلق | ددوئ نه | نهٔ پوهیږی | په حق باند | نو هغوئ | مخ اړونكی دی (دقران نه) |

خو په دوئ كښې زیات خلق په حقه خبره نه پوهیږی انو (ځكه) دهغې نه مخ اړوی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَمَآ اَرْسَلْنَا | مِنْ قَبْلِكَ | مِنْ رَّسُوْلٍ | اِلَّا | نُوْحِيْٓ | اِلَيْهِ |
| اونهٔ دي لیږلي مونږه | مخكښی ستا نه | یو رسول | مګر | مونږه وحی كړی ده | هغه ته |

او مونږ ستا نه وړاندې داسې هیڅ یو پیغمبر نه دې لیږلې مګر هغه ته مو دا وحی كړې وی

(۱) ۲۳/المؤمنون: ۹۱.

(۲) ۱۵/الحجر: ۹۲.

Scanned with Ca

| |
|---|
| اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ﴿۲۵﴾ |
| چې بیشکه \| نشته لائق دعبادت \| مګر زهٔ يم \| نو خاص زما عبادت کوئ \| |
| چې زما نه سوا بل معبود نشته \| نو صرف هم زما عبادت کوئی \| |

قوله تعالى:- اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً

**د باطلو معبودانو حقيقت:-** دې خلقوچه دالله ﷻ نه کوم کوم معبودان جوړکړی دی دهغوی دعبادت کولو دوی سره هيڅ دليل نشته اوموږ چه دکوم الله ﷻ عبادت کووپه هغې کښې رښتونې يو زموږ په لاس کښې اوچت دليل د الله ﷻ کلام موجود دې اوددې نه اول ټول د الله ﷻ کتابونه هم د دې دليل دې په اوچت آوازسره ګواهي ورکوی کوم چه د توحيد په موافقت اود کافرانود ځان نه عبادتونه کولو په خلاف کښې دی.کوم کتاب چه په کوم پيغمبر باندې نازل شو په هغې کښې دا موجود پاتې دی چه د الله ﷻ نه بغيرد عبادت څوك لائق نشته خو اکثرمشرکان د حق نه غافل دی اود الله ﷻ د خبرونه منکر دی. ټول رسولانوته هم دالله ﷻ دتوحيد تلقين شوې دې.ارشاد باری تعالی دې ﴿تُسْئَلُوْنَ۝ وَسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ۝﴾[1]تانه وړاندې چه کوم پيغمبران تيرشوی دی ته پخپله تپوس اوکړه چه موږ دهغوی دپاره دځان نه بغيربل څوك معبود ګرځولې ووچه هغوی دې دهغه عبادت کوی. بل آيت کښې دی ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ؕ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ۝﴾[2] موږ هريو امت ته خپل يوپيغمبر ليګلې کوم چه په خلقوکښې اعلان کړې دې چه تاسو ټول ديو الله ﷻ عبادت اوکړئی اود هغه نه بغيردهرچادعبادت نه جدا شئی.د انبياء کرامو شهادت هم دادې اوپخپله دالله ﷻ فطرت هم ددې ګواه دې اود مشرکانو هيڅ دليل نشته دهغوی ټول حجتونه بې کاره دی او په هغوی باندې د الله ﷻ غضب دې او دهغوی دپاره سخت عذاب دې.

| |
|---|
| وَقَالُوا اتَّخَذَ |
| او وائی دوئ \| نيولې دې |
| \| اودوئ وائی چې رحمن (الله ﷻ) |
| الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ۝ۙ۲۶ |
| رحمان \| اولاد (فرښتو لره) \| پاك دې هغه (ددې نه) \| بلکه \| هغوئ خو بندګان دی \| چې عزت ورکړې شوې دې |
| اولاد نيولې دې \| حال داچې هغه ددې نه پاک دې \| بلکه (فرښتې خو) دهغه ډيرمعزز مخلوق دې |
| لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ۝۲۷ يَعْلَمُ |
| نهٔ رومبنې کيږی دهغه نه \| په خبره سره \| او هغوئ \| په حکم دهغه \| عمل کوی \| معلوم دی هغه ته |
| دهغه نه وړاندې خبره قدر نه کوی \| اود هغه په حکم پوره پوره عمل کوی \| هغه ته هر هغه څه معلوم دی |
| مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ |
| هغه څه \| چې وړاند ددوئ دی \| او هغه څه \| چې روستو ددوئ دی \| او نهٔ هغوئ سفارش کوی (دچا) |
| کوم چه د دوی نه وړاندې دی \| اوکوم چې ترې شاته دی \| او هغوئ دچا سفارش هم نه کوی |

[1] ۴۳/الزخرف:۴۵.
[2] ۱۶/النحل:۳۶.

Scanned with Ca

| |
|---|
| اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ﴿۲۸﴾ |
| مګر کوی \| دپاره دهغه چا \| چی راضی وی ترې الله \| او هغوئ \| دهیبت دهغه نه \| ډیرې یریدونکی دی |
| سوا د هغه چا نه دچا چې الله ﷻ راضی وی\| او هغوئ ټول دالله ﷻ دهیبت نه همیشه یریدونکی وی |
| وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ |
| اوهغه څوك چی اووائی \|دهغوئ نه \|چی بیشکه زهٔ \|معبود یم \|سوادهغه نه \|نو دغه ویونکې چی دې |
| اوپه دوئ کښې چې څوک داسې اووائی چې دهغه نه سوا زهٔ معبود یم \| نو هغه له مو مونږ |
| نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ﴿۲۹﴾ |
| بدله به ورکوؤ مونږ هغه له \| دوزخ \| دارنګې \| بدله ورکوؤ مونږه \| ظالمانو له \| |
| ددوزخ سزا ورکووا\| مونږ ظالمانو ته هم دغه شان سزا ورکووا\| |

قوله تعالى:- وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۭ

**دمکې دکافرانو بهتانونه تړل او د هغې جواب:-** -دمکې دکافرانو داخیال ووچه دافرښتې دالله ﷻ لونړه دی د هغوی ددې خیال تردیدکولوسره الله ﷻ فرمائی دابالکل غلط دې اوفرښتې د الله ﷻ بزرګ بندیګان دی ډیرداوچتو درجو والا دی اودعزت مالکان دی قولاً اوفعلاً هروخت دالله ﷻ په اطاعت کښې مشغولې دی. نه په څه کارکښې د هغه نه وړاندې کیږی اونه په څه کارکښې د هغه د حکم خلاف کوی بلکه چه هغه څه فرمائی دوی په منډه باندې هغه حکم په ځائ راوړی د الله ﷻ په علم کښې راګیرې دی دهغه نه هیڅ خبره پټه نه ده د وړاندې روستوښی اوکس طرف هغه ته پوره علم دې دذرې ذرې نه هغه خبر دې. دا پاکې فرښتې هم دومره مجال نه لری چه د الله ﷻ دیومجرم په وړاندې د هغه د مرضئی خلاف د هغه سفارش کولود پاره شونډې اوخوزولې شی. لکه چه ارشاد دې﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۭ﴾(۱) هغه څوك دی چه د هغه د اجازت نه بغیر د چا سفارش هغه له یوړلې شی.
بل آیت کښې دی ﴿وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ۭ حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ۭ قَالُوا الْحَقَّ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ﴾(۲)یعنی هغه سره دچا شفاعت بغیردهغه دخپل اجازت نه نه شی چلیدې. هم د دې مضمون نور هم آیاتونه په قرآن کریم کښې موجود دی. فرښتې اود الله ﷻ مقرب بندیګان ټول په ټول د الله ﷻ د ویرې اود الله ﷻ د هیبت نه هروخت رچیږی. په هغوی کښې چه څوك هم د رب کیدو دعوی اوکړی مونږ به هغه دوزخ ته ورسیده کړو د ظالمانو به مونږ خامخابدله اخلو. داخبره د شرط په توګه ده اود شرط دپاره دا ضروری نه دی چه هغه دې واقع هم شی یعنی دا ضروری نه دی چه د الله ﷻ د بندیګانو نه څوك داسې ناپاکه دعوی اوکړی اوداسې سخته سزا اوخوری. هم د دې په شان آیت ﴿قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ڰ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ﴾(۳)او﴿لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾(۴) نونه درحمن اولاداونه د نبی کریم ﷺنه شرك ممکن دې.

---

(۱) ۲/البقرة:۲۵۵.
(۲) ۳۴/سبا:۲۳.
(۳) ۴۳/الزخرف:۸۱.
(۴) ۳۹/الزمر:۶۵ الخ.

Scanned with Ca

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا

آیا نه گوري هغه کسان | چې دمنلو نه ئې انکار کړې دې | چې بیشکه آسمانونه | او زمکه | وو دواړه

آیا کافرانو ته داخبره نه ده معلومه چې آسمانونه او زمکه په خپل مینځ کښې ملاؤ وو

رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ

پیوست | پس جدا جدا کړل مونږه هغه | او پیدا کړل مونږه | داوبو نه | هر څیز | ژوندي

نوبیامونږ هغه جدا جدا کړل | اومونږ داوبو نه هر ژوندي څیز را پیدا کړي دي

أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ۝ وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ ۠

آیا نو نه مني دوئ | او ودرول مونږه | په زمکه کښې | غرونه | چې اونه خوزي (دا زمکه په دوئ باند

نوآیا دوئ ایمان نه راوړي | او مونږ په زمکه کښې غرونه جوړکړل | ددې دپاره چې اونه خوزي

وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝

او جوړې کړې مونږه | په دې زمکه کښې | فراخه | لارې | دپاره ددې چې دوئ لارې معلوم کړي

اوپه دې زمکه کښې مو ارتې بیرته لارې جوړې کړې دی ادې دپاره چې خلق پرې ځی راځی

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۚ وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُونَ ۝

او جوړکړو مونږه | اسمان چت | محفوظ (ډېرېوتلونه) | او دوئ | دنښو دهغې نه | مخ اوړونکي دي

اومونږ اسمان یو محفوظ چت جوړکړو | په دې باندې هم دوئ (اسماني) نښو نه ډډه کوي (اوسوچ فکر نکوي)

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ

او هغه | هغه ذات دې | چې پیدا ئې کړه | شپه | او ورځ | او نمر | او سپوږمۍ | دا تول

اوالله ﷻ هغه ذات دې چې شپه ورځ او نمر او سپوږمۍ ئې پیدا کړې دی | هریو په خپله

فِي فَلَكٍ يَّسْبَحُونَ ۝

په فلك کښې | لامبو وهي یعنې گرزي |

خپله دائره کښې لامبووهي |

**قوله تعالى:- أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا**

**د الله ﷻ د قدرت تذکره:-** الله ﷻ داخبره بیان کوي چه د هغه قدرت پوره دې اود هغه زبردسته غلبه ده. فرمائي چه کوم کافران د الله ﷻ نه بغیرد چا عبادت کوي آیا دوی ته دومره هم علم نشته چه د ټول مخلوق پیداکونکې هم الله ﷻ دې اود ټولوڅیزونوساتندونکې هم هغه دې. بیادهغه سره د نورو عبادت ولې کوئي. د زمکې او آسمان د شروع نه یوبل سره یوځائ انختلی قط په قط وو الله ﷻ دا جدا جدا کړل زمکې ئی لاندې او آسمانونه ئی پورته په فاصله باندې اوپه حکمت سره قائم کړل. اووه زمکې پیداکړې اوهم اووه آسمانونه ئی پیداکړل. دزمکې اوروميي آسمان په مینځ کښې جوف اوخلا اوساتله دآسمان نه ئی اوبه راووروليې اود زمکې نه ئی پیداوار راوټوکولو او هرژوندي څیزئي د اوبونه پیدا کړو. آیادا ټول څیزونه په کوم کښې چه د هر یوه یوصانع خودمختاري قدرت او وحدت باندې دلالت کوي خپلې مخې ته موجود موندلوسره هم داخلق د الله ﷻ د عظمت قائل کیدو سره شرك نه پرېږدي؟

Scanned with Ca

**ففي كل شيء له اية تدل على انه واحد**

**اول شپه وه که ورځ:-** يعني په هريوڅيز کښې د الله ﷻ ربوبيت او د هغه د وحدانيت نښې موجود دی. د حضرت ابن عباس ﷺ نه سوال اوشو چه اول شپه وه که ورځ؟ نو هغوی اوفرمائيل چه اول زمکه او آسمان يوځای قط په قط ملاوشوې وو نو ښکاره خبره ده چه په دې کښې به تياره وه اود تيارې نوم هم شپه نوثابته شوه چه هم شپه وړاندې وه. (۱)

**د(رتقا) تفسير اومطلب:-** دابن عمر ﷺ نه چه کله ددې آيت تفسيرتپوس اوشو نوهغوی اوفرمائيل چه تاسو د حضرت ابن عباس ﷺ نه تپوس اوکړئ چه هغه کوم جواب درکړي نوهغه ماته هم اوښايئ. حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائيل زمکه اوآسمان يوځای وونه به باران وريدلواونه به پيداوار راتوکيدلو. کله چه الله ﷻ ژوندې مخلوق پيداکړو نو آسمان ئې اوشلولواود هغې نه ئې اوبه راووروليې اوزمکه ئې اوڅيرله اود هغې نه پيداوار راوتوکولو. کله چه سوال کونکې حضرت ابن عمر ﷺ ته دا جواب بيان کړو نوهغوی ډيرخوشحاله شو او وئې فرمائيل نن ماته نور هم يقين پيدا شوچه د قرآن په علم کښې حضرت عبدالله ﷺ ډير وړاندې دې زما په زړه کښې به کله داخيال راغلو چه چرته داسې خوبه نه وی چه د عبدالله ﷺ جراءت زيات شوې وی خونن هغه وسوسه د زړه نه لاړه. آسمان ئې اوشلولواووه آسمانونه ئې جوړکړل د زمکې مجموعه ئې اوڅيرله اووه زمکې جوړې کړې.

د مجاهد رحمه الله په تفسيرکښې داهم دی چه دا ملاوشوې وو يعنی اول اووه واړه آسمانونه يوځای وو اودغه شان اووه واړه زمکې هم يوځای وې بيادا جداجداکړې شو. دحضرت سعيدبن جبير رحمه الله تفسيردې چه دا دواړه اول يووو بياجداجدا کړې شو. دزمکې آسمان په مينځ کښې خلا کيخودې شوه اوبه د ټولوسا لرونکو اصل جوړکړې شو. حضرت ابوهريره ﷺ يو ځل حضور ﷺ ته عرض اوکړو چه کله زه تاسو ته ګورم زما زړه خوشحاليږی اوزما سترګې يخيږی تاسو مونږ د ټولو څيزونود اصليت نه خبر کړئ. حضور ﷺ اوفرمائيل ابوهريره ټول څيزونه د اوبونه پيداکړې شوی دی. يوبل روايت کښې دی چه بيا ما اووئيل يارسول الله ﷺ ماته څه داسې عمل اوښائې په کوم سره چه زه جنت ته داخل شم. حضور ﷺ اوفرمائيل خلقو ته سلام کوه په خلقو خوراك خوره صله رحمی کوه اودشپې چه خلق اوده شی نوته د تهجدمونځ کوه دې د پاره چه په سلامتياسره جنت ته داخل شې. (۲)

**دزمکې درې حصې اوبو کښې دی او يوه حصه ښکاره ده:-** زمکه الله ﷻ عزوجل وتبارك وتعالی د غرونو په ميخونوسره مضبوطه کړه دې د پاره چه هغه په خوزيدو راخوزيدو سره خلق پرشانه نه کړی مخلوق په زلزله کښې وانچوی. دزمکې دريمه حصه خو په اوبوکښې ده او صرف يوه څلورمه حصه دنمر اوهواد پاره کولاوشوې ده دې د پاره چه خلق آسمان او د دې عجائبات په خپلو سترګو سره اوليدې شی. بيا په زمکه کښې الله ﷻ په خپل رحمت کامله سره لارې جوړې کړې چه خلق په آسانئی سره خپل سفراوکړې شی اولرې ملکونوته هم اورسی.

د الله ﷻ شان ته اوګوره په دې ټکره کښې اوچت غرونه حائل دی د دې ځای نه هغه ځای ته رسيدل په ظاره سخت او ګران ښکاری خود الله ﷻ قدرت پخپله په دې غرونوکښې لارې جوړوی چه د دې ځای خلق هلته اود هغه ځای خلق دلته اورسی اوخپل کار روزګار پوره کړی. آسمان ئې په زمکه په شان د ګنبد جوړکړو لکه چه ارشاد دې چه مونږ آسمان په خپلو لاسونو جوړکړو اومونږ د وسعت اوکشادګئی والايو (۳) فرمائی قسم دې د آسمان اودهغې دجوړځ (۱) ارشاددې چه آياهغوی اونه ليدل چه مونږ دهغوی

(۱) الطبری: ۱۸/۴۳۳.
(۲) احمد: ۲/۲۹۵ حاکم: ۴/۱۶۰، مجمع الزوائد: ۵/۱۶، ابن حبان: ۶۴۲.
(۳) ۵۱/الذاريات: ۴۷.

Scanned with Ca

په سرونوباندې اسمان په کوم حیثیت سره جوړکړې دې او څنګه موورته ښانست ورکړې دې اود مزې خبره خودا ده چه په دومره لوئ آسمان کښې یوسورې هم نشته. ([2])
بنا وائی دګنبد اوخیمې اودرولوته. لکه چه رسول الله ﷺ فرمائی داسلام بنا پنځه دی([3])لکه چه په پنځوستنوباندې یوګنبد یا خیمه ولاړه وی. بیا آسمان چه په شان د چت دې.دادې هم محفوظ اوچت د څوکنی والا چه دیوځای نه دې ته څوك نقصان اونه رسوی اوچت او اعلی صفا دی لکه حدیث کښې چه دی یو سړی د حضورﷺ نه سوال اوکړو چه آسمان څه څیز دې حضورﷺ اوفرمائیل رامنع شوې چپه ده. ([4]) دا روایت سنداً غریب دې.
خوخلق د الله ﷻ د دې زبردستونښونه هم بې پرواه دی لکه چه ارشاد دې د زمکې اوآسمان ډیرې نښې دی چه د پر خلقو د نظرلاندې دی خوبیاهم هغوی دې نه مخ اړولې دی. ([5]) څوك غور اوفکر نه کوی څوك سوچ نه کوی چه داڅومره خورشوې دې څومره اوچت څومره عظیم الشان آسمان زمونږ په سرونو باندې بغیرد ستنو الله ﷻ څنګه قایم ساتلې دې. بیا څومره په ښکلې طریقه سره دا ستوری پیللې شوی دی په دې کښې هم څه ولاړ دی اوڅه روان دی. بیا د نمر چال مقرر دې د دی موجودګی ورځ ده د دې په نظر نه راتلل شپه ده د پوره آسمان یوچکر په یوه شپه او ورځ کښې پوره کوی. د دې چال د دې تیزی بغیرد الله ﷻ نه بل څوك نه پیژنی اوهسې اټکلې اواندازې کول بله خبره ده.
**د بنی اسرائیلو د یو عابد واقعه:**-د بنی اسرائیلوعابدانوکښې یوخپل دیرش کاله موده دعبادت پوره کړه خو چه څنګه به د نورو عابدانود پاره دیرش کاله عبادت کولونه پس اوریځ سورې کولو په ده باندې اونه شو نوهغه خپلې مور ته داحال بیان کړو. هغې وئیل بچې تابه د دې عبادت په موده کښې څه ګناه کړې وی هغه وئیل مورې یوه هم نه. وئی وئیل بیا به تا چرته د ګناه کولو پوره قصد اواراده کړې وی. جواب ئی ورکړو چه داسې هم بالکل نه دی شوی. مور ئی وئیل ممکن دی چه تاآسمان ته کتلې وی اود غور اوفکر کولونه د بغیرسترګې ښکته کړې وی عابد وئیل چه داسې خو برابر کیدل وئی فرمائیل بس هم دا وجه ده. بیائی د خپل قدرت کاملهٔ بعضې نښې اوخودلې چه شپې اود دې تیارې ته اوګوره اود دې په رنړا باندې نظرواچوه. بیا د یو بل پسې وار په وار راتللو انتظام او په اهتمام سره راتلل ګوره چه د یو کمیدل دبل زیاتیدل. ګوره نمر او سپوږمئی ته د نمر رنړا یوه خاص رنړا ده اود دې آسمان د دې حرکت اود دې چال جدا دې. د سپوږمئی نور جدا دې آسمان ئی جدا دې چال ئی جدا دې اندازې جدا دی او هریو لکه چه په خپل آسمان کښې روان وی ګرځی.([6])
اود الله ﷻ دحکم په ځای راوړلو کښې مشغول دی لکه چه ارشاد دې هم هغه سحر روښانه کونکې دې هم هغه شپه په سکون او آرام کونکې دې هم هغه د نمر اوسپوږمئی اندازه مقررکونکې دې هم هغه د عزت غلبه او د علم والا دې.([7])

---

[1]) ۹۱/الشمس:۹۱.
[2]) ۵۰/قٓ:۶.
[3]) صحیح بخاری کتاب الایمان باب دعاؤکم ایمانکم:۸، صحیح مسلم:۱۶،ابن حبان:۱/۳۷۴، ترمذی:۲۶۰۶،مجمع الزوائد:۱/۴۷، بیهقی ۱:/۳۵۸،مصنف عبدالرزاق:۵/۱۷۴.
[4]) ابن ابی حاتم وسنده حسن، العظمة لابی الشیخ:۵۳۹، الاحادیث المختاره:۱/۱۸ح۱۱۷.
[5]) ۱۲/یوسف:۱۰۵.
[6]) الطبری:۱۸/۵۲۰.
[7]) ۶/الانعام:۹۶.

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ

او نه دي جوړ کړي مونږه | دپاره ديو انسان | مخکښې ستا نه

او مونږستا نه وړاندې هم دهيڅ يو انسان دپاره هميشه پاتې کيدل نه دي

الْخُلْدَ ط أَفَإِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

هميشوالي | آيا پس که چرې | مړ شې ته | نو دوئ به ګڼې | هميشه وی | هر نفس | څکونکي

جوړ کړي | نو آيا که ته وفات شې | نو داخلق بۀ دلته هميشه پاتې شی | هريو نفس به دمرګ

الْمَوْتِ ط وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ط

د مرګ دي | او ازمايو مونږ تاسو | په بدو حالاتو کښې | او په ښه حالاتو کښې | په ازمائيلو سره

مزه څکی | او مونږه امتحان دپاره په تاسو باندې سختي او راحت راولو | او زمونږ طرف ته به

وَإِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٥﴾

او خاص مونږ ته به | راوستلې کيږئ تاسو |

تاسو ټول راواپس کيږئي |

قوله‌تعالی:- كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ط

**مرګ اټل حقيقت دي** :-څومره هم چه خلق دی دا ټول مرګ يوه ورځ مړه کونکی دی دمخ د زمکې ټول مخلوق به مرګ سره مخ کيدونکی دی اودرب دشان اوجلال والا ذات هميشه دپاره ژوندې پاتې کيدونکې دې. هم د دې ايت نه علماؤ استدلال کړې دې چه حضرت خضر ﷺ مړشوې دې. داغلط دی چه هغه تراوسه پورې ژوندې دې ځکه چه هغه هم انسان وو اود الله ﷻ ولی وو يانبی يا رسول وو خو هم انسان وو. د دې کافرانو دا آرزو څومره ناپاکه ده چه ته به مړشې نو ولې دا د هميشه اوسيدو د پاره دې؟ داسې خو ناممکن دی دنياخو روانه ده چاله هم بغيرد الله ﷻ نه هميشه والې نشته څوك وړاندې دې څوك روستو.

**مرګ ژوند ،تنګی ،فراخی ټول امتحان دی**:-بيافرمائی دمرګ خوند به هرکس څکی. حضرت امام شافعی رحمه الله به دافرمائيل چه خلق زمادمرګ خواهش مندی نوآيا دې باره کښې هم زه يوازې يم؟ داهغه خوند نه دې چه څوك به پريږدی. بيافرمائی د نيکئی بدئی آرام او بی آرامی خواږه تراخه وسعت اوتنګئی سره مونږ خپل بنديګان ازميښت کوو دې د پاره چه شکر کونکې اونه شکرکونکې صابر اوناامیده معلوم شی. صحت بيماری مالداری اوفقيری سختی اونرمی حلال اوحرام هدايت اوګمراهی اطاعت اوګناه ټول ازميښتونه دی په دې کښې ښه اوخراب ښکاره کيږی ستاسود ټولو راواپس کيدل هم زمونږ طرف ته دی هغه وخت چه څنګه وی ښکاره به شی بدانوته به سزا او نيکانوته بدله به ملاويږی. (۱)

وَإِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

او کله چې | اووينې تا | هغه کسان | چې دحق نه انکاريان دی

اوهر کله چې کافران تا اووينی نو نور څه نه

(۱) الطبری:۱۸/٤٤۰.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اِنۡ يَّتَّخِذُوۡنَكَ | اِلَّا | هُزُوًا ؕ | اَهٰذَا | الَّذِىۡ | يَذۡكُرُ | اٰلِهَتَكُمۡ ۚ |
| نه نيسي دوئ تالره | مګر | په ټوقوسره | آيا دا دي | هغه څوك | چي يادوي | خدايان ستاسو |

خو ټوقي درپوري شروع کوي | چي آيا دا هغه (سړي) دي چي ستاسو دمعبودانو ذکر (په بدئي) کوي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَهُمۡ | بِذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ | هُمۡ | كٰفِرُوۡنَ ۝ | خُلِقَ | الۡاِنۡسَانُ |
| او حال دا چي دوئ | په ذکر درحمان سره | پخپله | انکاريان دي | پيدا کړي شوي دي | انسان |

اوحال دادي چي دوئ پخپله د رحمان د ياد نه انکاريان دي | د انسان په پيدائش (فطرت) کښي

| | | | |
|---|---|---|---|
| مِنۡ عَجَلٍ ؕ | سَاُورِيۡكُمۡ | اٰيٰتِىۡ | فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنِ ۝ |
| دتلوار (بي صبرئ) نه | ډير زر به اوښايم زۀ تاسو ته | نښي زما | پس تلوار مۀ کوئ (دعذاب) زما |

تندی ايښودې شوي ده | زه به ډير زرتاسو ته خپلي نخښي اوښايم | نو تاسو تندی مه کوئ

**قوله تعالى:- اِنۡ يَّتَّخِذُوۡنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ**

**د کافرانو ټوقي مسخري کول:-** ابوجهل او د قريشو کافران وغيره به حضورﷺ ته په کتلو سره خنداکاني اومسخري شروع کولي اودحضورﷺ په شان کښي به ئې بې ادبي کوله وئيل به ئې چه ښه ده ګورئې دغه دي چه زمونږمعبودانوته بدي ردي وائي.ستاسو مشرانوته بي وقوفان وائي يوخوددوی دا سرکشي ده اوبل پخپله د رحمن د ذکر نه منکر دی دالله ﷻ منکردی اود رسول الله ﷺ منکر دی. په بل آيت کښي د دوی هم د دي کفر بيان کولوسره فرمائيلي دی ﴿اِنۡ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنۡ اٰلِهَتِنَا لَوۡلَاۤ اَنۡ صَبَرۡنَا عَلَيۡهَا ؕ وَسَوۡفَ يَعۡلَمُوۡنَ حِيۡنَ يَرَوۡنَ الۡعَذَابَ مَنۡ اَضَلُّ سَبِيۡلًا ۝﴾[1] يعني هغه خودي وائي خومونږ کلك ولاړيوګني هغه خو مونږدخپل معبودانو نه زړه توری کولوکښي هيڅ کمي نه دي پريخي.خيردوی ته به د عذاب په کتلوسره معلومه شی چه ګمراه څوك ووانسان ډيرجلدبازدي.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی الله ﷻ دټولوڅيزونود پيدا کولو نه پس آدم عليه السلام پيداکول شروع کړو. ماښام سره نيزدي چه په هغه کښي روح ورپوك وهلي شو په سر ژبه اوسترګوکښي کله روح راغلو نو وئی وئيل يا الله ﷻ چه د ماښام نه وړاندي زما پيدائش مکمل شی.

حضورﷺ فرمائی په ټولوورځوکښي بهتراوغوره ورځ د جمعه ورځ ده. هم په دي ورځ حضرت آدم عليه السلام پيداکړي شو هم په دي جنت ته داخل کړي شو هم د هغه ځائ نه راکوزکړي شو هم په دي کښي به قيامت قايمولي شی هم په دي ورځ کښي يوساعت دي په هغه وخت کښي چه کله بنده په مانځه کښي وی اود الله ﷻ نه څه غواړی نو الله ﷻ هغه ورکوی. حضورﷺ په خپلو ګوتومبارکوسره اشاره اوکړه وئی خودل چه دا ساعت ډير کم دي. حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه فرمائی ماته معلومه ده هغه ساعت کوم يودي هغه د جمعه د ورځ آخری ساعت دي هم دغه وخت الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام پيداکړو.[2]

**موحدانو ته تسلی او زغم کول:-** په اول آيت کښي د کافرانود بدبختئی ذکرکولوسره د دي نه پس د انسان د تندئی کولوپه دي حکمت سره دي لکه چه د کافرانو سرکشی اوريدوسره د مسلمانانو د انتقام جذبه راوچتيږی اوهغوی ډير زربدله اخستل غواړی په دي وجه چه انسان پيدائشی جلدباز دي خود الله ﷻ عادت دا دي چه هغه ظالمانوته وخت ورکوی خوچه بيائی کله رانيسی نو پريږدی نه. د دي د پاره ئې اوفرمائيل چه زه تاسو ته خپلي نښي خودونکي يم چه په ګناهګارانو باندي به څنګه سختی وی.زماپه

---

[1] ۲۵/الفرقان:٤٢.

[2] ابوداؤد كتاب الجمعة باب فضل يوم الجمعة وليلة الجمعة:١٠٤٦ وسنده صحيح،ترمذی: ٤٩١،احمد:٤٨٦/٢، حاكم:٢٧٨/١

نبی ﷺ پورې توقې کونکې ځرمن خنګه اوباسم تاسو به هم اوس اوګورئ چغې مه وهئ دير شته خو اندهير نشته په مهلت سره هيريږی نه.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ لَوْ يَعْلَمُ

او وائی دا خلق | کله به وی | دا وعده | که يئ تاسو | رښتينی | افسوس که معلوم وې

او دوئ وائی چې دا وعده به کله پوره کيږی که تاسو رښتونی يئ (نورائې ولئ) | کاش ! منکرانو ته

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا يَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ

هغه کسانو ته | چې کافران دی | کوم وخت چې | نۀ به شی منع کولې | دمخونو خپلو نه | وور

هغه وخت معلوم وې | چې دوئ به نه دخپلو مخونو نه اور منع کولې شی

وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ | وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝ بَلْ تَاْتِيْهِمْ

او نۀ دشاګانو خپلو نه | او نۀ به ددوئ سره | امداد اوکړې شی | بلکه رابه شی دوئ ته |

او نه به دخپلو شاګانو نه نه | او نه بۀ ورسره څه قسم مدد کولې شی | نور څه نه خو دغه اور

بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ رَدَّهَا

(عذاب) ناڅاپه | پس حيران به کړی دوئ | او طاقت به نشی لرلې دوئ | د واپس کولو دهغې |

به پرې ناګهانه راشی | او دوئ بۀ حيران کړی | نو بيا به ترې نه هغه اور لرې کولې شی | او نه به ورته

وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

اونۀ به دوئ ته | مهلت ورکړې شی | او بيشکه توقې شوی دی | په رسولانو پورې | مخکښې ستا نه

(دتوبې ويستلو) مهلت ورکولې شی | او ستانه وړاندې هم دپيغمبرانو پورې توقې شوې وې

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا

پس چاپيره شو | په هغه کسانو باندې | چې توقې ئې کولې | په دوئ پورې | هغه څيز اچې وو هغوئ

نو چا چې ورپورې خندګانې کولې | دهغوئ نه هم هغه عذاب راتاؤ شو | په کوم پورې

بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ

په هغې پورې | چې توقې به ئې کولې | ورته اووايه | څوك دی | چې بچ کوی تاسو | په شپه کښې

چې دوئ خندل | (ائې پيغمبره) ورته اووايه چې څوک به د رحمان دعذاب نه ستاسو د شپې

وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝

او په ورځ کښې | درحمان نه | بلکه دوئ | دذکر | درب خپل نه | مخ اړونکی دی |

او د ورځې حفاظت اوکړی | (که هغه اوغواړی) خبره داده چې دوئ دخپل رب د ياد نه مخونه اړوی

اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ

ايا | شته دوئ لره | خدايان | چې منع کړی دوئ | زمونږ نه | دوئ طاقت نۀ لری | دامداد

ايا دوئ سره زمونږ نه سوا داسې معبودان شته | چې ددوئ حفاظت اوکړی ؟ هغوئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَنْفُسِهِمْ | وَلَا هُمْ | مِّنَّا | يُصْحَبُوْنَ ۝ |
| دنفسونو خپلو | اونهٔ به ددوئ سره | دطرفه زمونږ نه | ملګرتيا اوکړې شي |
| خو دخپلو ځانونو مدد هم نشي کولې اونه زمونږ په مقابله کښې دهغوی ملګرتيا کولې شي. | | | |

**قوله تعالى:-** وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝

**د کافرانو د قيامت غوښتنه او هغوئ ته رټنه:-** دالله ﷻ عذاب راتلل د قيامت راتلل دې خلقو محال ګڼړلو په دې وجه به ئې په کبرسره وئيل اوښايه ستاداويرول به کله پوره کيږی؟دوی ته جواب ورکولې شی که تاسوپوهيدلئی اود هغه ورځ دتباهونه خبر وئی نوتندی به مونه کوله هغه وخت به دالله ﷻعذاب لاندې باندې راغونډکړې وی.طاقت به ئی نه وی چه د الله ﷻ عذاب د ځان نه وړاندې روستو کړې شی. د ګوګړو(ګندهك) جامې به وی په کوم کښې چه به اُور لګيدلې وی اوپه ولاړه به سوزيږی.دهرطرف نه به دوزخ راګيرکړې وی هيڅ څوك به نه وی چه امداد ئی اوکړی. هيڅ بهانه به نه ملاويږی چه دا لرې کړی. دې نه به نه بچ کيږی اونه به ورته د يوساعت ډهيل اومهلت ملاويږی.

**مخکينوخلقوهم رسولانوپورې ټوقې کولې:-** الله ﷻ خپل پيغمبرﷺ ته تسلی ورکولوسره فرمائی تاسو چه تنګوی ياټوقېکوی اودروغ وائی پدې پريشانه کيږه مه د کافرانودازوړعادت دې.مخکينو پيغمبرانو سره هم دوی داسې کړی دی د څه په وجه چه آخر په عذاب کښې راګيرکړې شو لکه چه فرمائی ﴿وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰى اَتٰهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِى الْمُرْسَلِيْنَ ۝﴾ ([1]) تانه وړاندې انبياء کرام هم دروغ ګڼړلې شوی دی اوهغوی په خپل تکذيب باندې صبرکړې دې تردې چه هغوی له زمونږ امداد راغلو. د الله ﷻ خبرې څوك بدلونکی نشته مونږ له د رسولانو خبرې راغلې دی.بيا خپل نعمت بيانوی چه هغه ستاسودټولو حفاظت شپه ورځ په خپلو سترګو سره کوی چه نه اوده کيږی اونه ستړې کيږی. ﴿من الرحمن﴾معنی د رحمن بدلې يعنی د رحمن نه بغيردی. عربی شعرونوکښې هم "من"دبدل په معنی کښې دې.هم پدې يواحسان باندې څه موقوف دی داکافران خود الله ﷻ د هريو احسان ناشکری کوی بلکه د هغه د نعمتونومنکردی اود هغې نه مخ اړونکی دی. بيا د انکار په توګه په هغوی باندې غصه کولوسره فرمائی آيادهغوی معبودان چه دالله ﷻنه بغيردی هغوی پخپل حفاظت کښې ساتی يعنی هغوی داسې نه شی کولې د هغوی صرف داګمان کول غلط دی بلکه د هغوی باطل معبودان پخپله د خپل امداد او حفاظت هم مالکان نه دی بلکه هغوی زمونږ نه بچ کيدې هم نه شی. زمونږ دطرف نه هيڅ يو خبرد هغوی په لاس کښې نشته. يوه معنی د دې جمله داهم ده چه نه خو هغوی څوك بچ کولې شی اونه ځان بچ کولې شی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بَلْ مَتَّعْنَا | هٰٓؤُلَآءِ | وَاٰبَآءَهُمْ | حَتّٰى | طَالَ | عَلَيْهِمُ |
| بلکه ښه سامانونه ورکول مونږ | دوئ ته | او پلارانو ددوئ ته | اتر دې پورې | چې اوږده شو | په دوئ باند |
| مونږ دوئ او ددوئ پلار نيکه ته دنياوی نعمتونه ورکړل تردې چې په دوی باندې يوه اوږده موده تيره | | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الْعُمُرُ ط | اَفَلَا يَرَوْنَ | اَنَّا | نَاْتِي الْاَرْضَ | نَنْقُصُهَا |
| عمرونه | ايا نهٔ وينی دوئ | چې بيشکه مونږه | راځو زمکې ته | چې کموژ مونږه هغه |
| شوه ايا دوئ نه ګوری چې مونږ(ددوئ دقبضې لاندې) زمکه (په اسلامی فتوحاتو سره) د هرطرفه | | | | |

[1] ٦/الانعام:٣٤.

مِنْ اَطْرَافِهَا ۖ اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ

د طرفونو دهغې نه | آيا نو ګنی دوئ به | غالب شي | دوئ ته اووايه | بيشکه چي | زۀ يروم تاسو

راټنګوؤ| نو آيا د دې باوجود هم دوئ غلبه بيامونديشی | ته ورته اووايه چې زه خو تاسو صرف

بِالْوَحْيِ ۖ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَئِنْ

په ذريعه دوحی | اونۀ اوری | کاڼره خلق | آواز (بلنه) | کله چي | هغوئ يرولې کيږی | او که چرې

د وحی په ذريعه (د الله ﷻ دعذاب نه يروم) | او کاڼره چې څه وخت ويرولې شی |نو هغوی هډو آواز نه

مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ

اورسيږی دوئ ته | لږ شان | دعذاب درب ستا نه | نو خامخا وائی دوئ | اے هلاکته زمونږه |

اوری| او که چرې ستادرب له طرفنه دوئ ته دعذاب يوه چپه راشی |نو دوئ وائی چې هائې زمونږ

اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ

بيشکه مونږه | وؤ | ظالمان | او مونږه به کيږدو | تلې | دانصاف | دپاره دورځې

بدبختئ |بيشکه مونږ په ځانونو باندې ظلم کړې وو| او مونږ به دقيامت په ورځ د انصاف تلې اولګوو

الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ۖ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ

دقيامت |پس ظلم به نۀ کيږی | ديو نفس سره | هيڅ قدرله | او که چرې وی | په قدر | ديوې دانې |

نو په چا به ذره برابر هم ظلم نشی کولې |او که (دچا عمل) دا اوری ددانې هومره هم وړوکې وی |نو هم

مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ۖ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾

داوری | رابه وړو مونږه | هغه | او کافی يو مونږه | حساب کونکی |

به هغه بيش کړو| او د حساب اخستلو دپاره مونږ يوازې بس يو |

قوله تعالى:- بَلْ مَتَّعْنَا هٰؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ

**د کافرانو او الله ﷻ بعضې نخښې** :- دکافرانو د کينې او دهغوی پخپله ګمراهئی باندې د کلکيدلو وجه بيان فرمائی دوی ته دخوراک څښاك دپاره ملاويږی هغوی ته اوږده اوږده عمرونه ملاو دی. هغوی دا اوګڼړل چه زمونږ داکړه وړه د الله ﷻ خوښ دی. دې نه پس هغوی ته نصيحت کوی ولې هغوی دا نه ګوری چه مونږ کلی په کلی دهغوی دکفر په وجه تباه کړه. د دې جمله نورې هم ډيرې معنې کړې شوی دی. کومې چه مونږ په سورت رعد کښې بيان کړی دی خو ډيره صحيح معنی هم دا ده لکه چه فرمائی ﴿وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ﴾ ([1]) مونږ ستاسو خواکې کلی تباه کړل او خپلې نښې په اړولو راړولو تاسو ته اوخودلې دې دپاره چه خلق د خپلو بدونه واوړی. حسن بصری رحمه الله د دې يوه معنی دا هم بيان کړې ده چه مونږ په کفر باندې اسلام غالب کړې دې. ([2])

آيا تاسو د دې نه عبرت نه حاصلونی چه څنګه الله ﷻ دوستان په دښمنانو باندې غالب کوی او څنګه تکذيب کونکی وړاندينی امتونه هغه تباه برباد کړل او مؤمنانو بنديګانو ته خلاصې ورکړې شو. آيا اوس هم دا خلق خپل ځان هم غالب ګڼړی؟ داسې نه ده بلکه دا مغلوب دی ذليل دی رذيلان دی او په نقصان

[1]) ٤٦/الاحقاف:٢٧.

[2]) الطبرى:٤٩٤/١.

کښې دی. دبربادئی لاندې دی زه خود الله ﷻ د طرف نه مبلغ یم د کومو عذابونو نه چه تاسو خبردارکوم دازما دخپل طرف نه نه دی بلکه د الله ﷻ د طرف نه دی اوچه د چا سترګې الله ﷻ ړندې کړی دی زړه اودماغ ئې بندکړی دی هغوی ته د الله ﷻ داخبرې سودمندنه پریوځی. کاڼړه خبرول بې کاره دی ځکه چه هغوی خواوری نه. که په دې ګناهګارانوباندې یووړوکې غوندې عذاب هم راشی نو چغې صورې کوی اوهغه وخت ډیر زرد خپل قصور اقرارکوی. د قیامت په ورځ به د انصاف تله قایمولې شی دا تله هم یوه وی خوچه کوم عملونه په دې کښې تللې شی هغه به ډیرزیات وی په دې اعتبارسره ئې د جمع لفظ راوړې. په هغه ورځ به په چا باندې هیڅ ظلم هم نه شی کولی ځکه چه د حساب اخستونکې الله ﷻ پخپله دې چه هم ځان له د ټول مخلوق دحساب اخستلو د پاره کافی دې. د هروړوکی نه وړوکې عمل به هلته موجودشی.

بل آیت کښې فرمائیلی دی ستارب به په چاباندې ظلم نه کوی. ارشاددې ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ ﴾ ([1]) الله ﷻ د اوری د یوې دانې هومره هم ظلم نه کوی. نیکی زیاتوی اوددې اجر دخپل ځان نه ډیر زیات ورکوی. حضرت لقمان ؑ په خپلو وصیتونوکښې خپل ځوئ ته فرمائیلې وو بچې که د اوری د یوې دانې برابر هم عمل وی که په کاڼړی کښې وی که په آسمانونو کښې وی یاپه زمکه کښې وی الله ﷻ به هغه راوړی او ډیر باریك بین او خبردې. بخاری اومسلم کښې رسول الله ﷺ فرمائی دوه کلمې دی چه په ژبه باندې سپکې دی په تله کښې ډیرې درنې دی الله ﷻ ته ډیرې خوښې دی. ﴿سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم﴾ ([2])

**د لااله الا الله د ذکر فضائل:**-مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی زما د امت یوسړې به د قیامت په ورځ الله ﷻ د ټول اهل محشرپه وړاندې خپل ځان له راوغواړی اود هغه د ګناه به یوکم سل دفتری د هغه په وړاندې راکولاوکړی د کوم ځائ پورې چه نظرکارکوی دومره دومره به یویو دفتر وی بیا به الله ﷻ د هغه نه تپوس اوکړی چه آیاتاته په دې خپلوکړې شوو ګناهونوکښې د یوې نه څه انکارشته؟ زما د طرف نه چه کومې حفاظت کونکې فرښتې ستا په اعمالولیکلوباندې مقررکړې شوې وې هغوی په تاباندې څه ظلم خونه دې کړې؟ جواب به ورکړی اې الله نه د انکارګنجائش شته اونه داونیلې شم چه په ظلم سره ئې لیکلې دی الله ﷻ به فرمائی چه ښه ده تاسره څه عذرشته یاڅه نیکی شته؟ هغه به ویریدلې وی وائی به هیڅ هم نشته. رب العالمین به اوفرمائی ولې نه بې شکه ستایوه نیکی مونږ سره شته اونن به په تاباندې هیڅ ظلم نه شی کولې. یوه وړه شان پرچه به راوویستلې شی په کوم کښې چه به ﴿اشهدان لااله الاالله وان محمدارسول الله﴾ لیکلې وی الله ﷻ فرمائی چه دا پیش کړئی هغه به وائی اې الله ﷻ داپرچه به د دې دفترو په مقابله کښې څه اوکړی؟ الله ﷻ به فرمائی په تا باندې به ظلم نه شی کولې. اوس به ټول په ټول دفترونه د تلې په یوچاړی کښې کیخودې شی اوهغه پرچه به د تلې په بل چاړی کښې کیخودې شی نود دې پرچه وزن به د هغه دفترونونه زیات شی. دا به ښکته شي اوهغه به اوچت شی. د رب رحمن او رحیم د نوم نه به بل هیڅ وزنی څیز نه وی. ابن ماجه او ترمذی ([3]) کښې هم روایت دی.

---

[1]) ٤/النساء:٤٠.

[2]) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿ونضع الموازین القسط لیوم القیامة﴾:٧٥٦٣،صحیح مسلم:٢٦٩٤، ترمذی:٣٤٢٧، ابن ماجه:٣٨٠٦، احمد:٢/٢٣٢، ابن حبان:٨٣١.

[3]) احمد:٢/٢١٣، کتاب الایمان باب ماجاء فیمن یموت وهو یشهد ان لا اله الاالله:٢٦٣٩وسنده صحیح،ابن ماجه:٤٣٠٠، حاکم: ٦/١، ابن حبان:٢٢٥.

Scanned with Ca

مسنداحمد کښې دی د قیامت په ورځ چه کله تلې کیخودې شی نویوسړې به راویستلې شی او په بوچابړی کښې به کیخودلې شی اوکوم څه چه په هغه باندې شمیرلې شوی دی هغه به هم کیخودې شی نو هغه چابړې به ښکته شی اودې به د دوزخ طرف ته اولیګلې شی. اوس به هغه شا کړې وی چه د الله ﷻ د طرف نه به یوه فرښته آواز ورکړی تندی مه کوئی یوڅیز د ده پاتې دې بیا به یوه پرچه راوویستلې شی په کوم کښې چه به﴿لااله الاالله﴾ وی اوهغه به ددې سړی سره په تله کښې کیخودې شی او دا د نیکو چابړې به تیټ شی. (١)

د مسنداحمد په یوحدیث کښې یوصحابی ﷛ رسول الله ﷺ سره کیناستو وئی وئیل یارسول الله ﷺ زما غلام دې چه زما تکذیب هم کوی زما خیانت هم کوی زما نافرمانی هم کوی اوزه هم هغه وهم ټکوم او بدې ردې هم ورته وایم. اوس تاسواوفرمائې چه زما اود هغه به څه حال وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د هغه نافرمانی دروغژن ګنړل اوخیانت هرڅه به راجمع کړی اوستا وهل ټکول بدې ردې وئیل اوس که ستاسزا دهغه د خطا برابره شوه نو ته خلاص شوې نه عذاب نه ثواب اوکه چرته ستا سزا کمه پاتې شوه نوتاته به د الله ﷻ فضل اوکرم ملاوشی اوکه ستا سزا د هغه کړو نه زیاته شوه نوتانه به د دې زیاتې شوې سزابدله اخستې شی.دې اوریدوسره هغه صحابی ﷛په ژړا شو اوچغې ئې شروع کړې نوحضور ﷺ اوفرمائیل په ده څه اوشو؟ آیا ده په قرآن کریم کښې دا نه دی لوستلې ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ؕ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ﴾(٢)دې اوریدوسره هغه صحابی ﷛ اووئیلې یارسول الله ﷺ دا معاملات اوریدوسره خو زما زړه غواړی چه خپل ټول غلامان آزاد کړم تاسو ګواه اوسیږئی دا ټول د الله ﷻ په لار کښې آزاد دی. (٣)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَقَدْ اٰتَيْنَا | | | | | |
| او په تحقیق ورکړې وو مونږه | | | | | |
| او مونږ موسی ﵇ او | | | | | |
| مُوْسٰى | وَهٰرُوْنَ | الْفُرْقَانَ | وَضِيَآءً | وَّذِكْرًا | |
| موسی او هارون ته | فرق کونکې په منځ دحق او دباطل کښې | او رڼا | او نصیحت | | |
| هارون ته (تورات) ورکړې وو | چې په حق اوباطل کښې فرق کوونکې او رڼا وه اود پرهیزګارو | | | | |
| لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ | الَّذِيْنَ | يَخْشَوْنَ | رَبَّهُمْ | بِالْغَيْبِ | |
| دپاره دپرهیزګارانو | هغه پرهیزګاران | چې هغوئ یریږي | درب خپل نه | په غیب سره (بې لیدو) | |
| دپاره نصیحت وو | ..............هغه خلق چې دخپل رب نه غائبانه ویریږي | | | | |
| وَهُمْ | مِّنَ السَّاعَةِ | مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ | وَهٰذَا | ذِكْرٌ | مُّبٰرَكٌ |
| او هغوئ | دحساب کتاب دوخت نه | یریدونکې وي | او دا (قران) | نصیحت دې | برکتناک |
| دقیامت نه هم ویره کوي | او دا (قران پاک) بابرکته نصیحت دې | کوم چې مونږ نازل | | | |

(١) احمد: ٢/٢٢١-٢٢٢، الترمذی: ٢٦٣٩ وهوحدیث صحیح، مجمع الزوائد:٦/٢٨٠.
(٢) ٢١/الانبیاء:٤٧.
(٣) احمد: ٢/٢٨٠،ترمذی کتاب تفسیرالقرآن، باب ومن سورة الانبیاء:٣١٦٥.

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُنۡكِرُوۡنَ۠ | لَهٗ | اَفَاَنۡتُمۡ | اَنۡزَلۡنٰهُ ؕ |

نازل كړي دي موږه دا | آيا تاسو | ددي نه | انكار كونكي يئ |

كړي دي | نو آيا تاسو ددي نه انكار كوئی |

**قوله تعالى:-** وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى وَهٰرُوۡنَ الۡفُرۡقَانَ

**د تورات فضيلت:-** موږ اول هم داخبره خودلي ده چه دحضرت موسیٰ ﷺ اوحضرت هارون ﷺ ذكر يوځائ راخي اودغه شان د تورات او قرآن پاك ذكر هم عموماً يوځائ راخي. فرقان نه مراد كتاب (۱) يعنى تورات دي چه په حق اوباطل حلال اوحرام كښي فرق كونكي وو(۲) هم په ده سره حضرت موسیٰ ﷺ ته امدادملاوشو. ټول په ټول آسماني كتابونه حق اوباطل، هدايت ګمراهی ښه بدحلال حرام كښي جدائي كونكي وي. دي سره په زړونو كښي نورانيت په اعمالوكښي حقانيت دالله ﷻ ويره او د الله ﷻ طرفته رجوع حاصليږي چه هغوی دخپل رب نه په غائبانه توګه هم ويريږي. لكه چه د جنتيانو صفتونه بيانولو سره اوفرمائيل ﴿مَنۡ خَشِيَ الرَّحۡمٰنَ بِالۡغَيۡبِ وَجَآءَ بِقَلۡبٍ مُّنِيۡبِ ۟﴾(۳) څوك چه د رحمان نه بغيركتلو ويريږي اوتيتيدونكي زړه لري. يو بل آيت كښي دی كوم خلق چه د خپل رب غائبانه ويره لري د هغوی دپاره ښښنه اوډير لوئ اجردي.(۴) ددي پرهيزګارانودويم صفت دادي چه دوی دقيامت ويره لري دهغي د تباهونه لړزيږي او رچيږي. بيا فرمائي چه داقرآن عظيم خوموږ هم اوس نازل كړي دي دكوم خواته چه هم باطل نه شي راتلي دحكمتونو او تعريفونووالا الله ﷻ د طرف نه نازل شوي دي. افسوس! آيادومره وضاحت حقانيت صداقت اونورانيت والا قرآن پاك هم ددي قابل نه شوچه تاسو ددي نه منكر شوئی.

| |
|---|
| وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَآ |

او په تحقيق سره وركړي وه موږه |

اوموږ ابراهيم ﷺ ته د دي (قرآن) نه وړاندي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بِهٖ | وَكُنَّا | مِنۡ قَبۡلُ | رُشۡدَهٗ | اِبۡرٰهِيۡمَ |

ابراهيم عليه السلام ته | ښۀ پوهه دهغه | مخكښي دهغي نه هم | او وو موږه | په ابراهيم عليه السلام باندي |

هدايت وركړي وو او موږ د هغه (ابراهيم د صلاحيتونو) نه ښه خبر وو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| التَّمَاثِيۡلُ | مَا هٰذِهِ | وَقَوۡمِهٖ | لِاَبِيۡهِ | قَالَ | اِذۡ | عٰلِمِيۡنَ ۚ |

ښۀ پوهه | كله چي | اووئيل هغه | پلار خپل ته | او قوم خپل ته | چي څه دی دا | شكلونه

هركله چي ده خپل پلار اوخپل قوم ته اووئيل اچي دا څه (واهيات) شكلونه دی

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَجَدۡنَآ | قَالُوۡا | عٰكِفُوۡنَ ۟ | لَهَا | اَنۡتُمۡ | الَّتِىۡۤ |

هغه | چي تاسو | هغي ته | تينګ ولاړ يئ په عبادت سره | اووئيل هغوئ | موندلي وؤ موږه |

چي ددي دعبادت دپاره تاسو ډيري لګولی دی | هغوئ ورته اووئيل چي موږ خو خپل پلاران

---

(۱) الطبري:۱۸/۴۵۳.

(۲) الطبري:۱۸/۲۸۰.

(۳) ۵۰/ق:۳۳.

(۴) ۶۷/الملك:۱۲.

Scanned with Ca

اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ۝ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

پلاران خپل | دې ته | عبادت کونکی | اوونیل هغه | بیشکه یئ تاسو | او پلاران ستاسو

نیکونه ددوئ عبادت کونکی موندلي دی | ابراهیم ﷺ اووئیل چې تاسو اوستاسو پلاران نیکونه

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ۝ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ

په گمراهئ ښکاره کښې | اووئیل هغوئ | آیا تاسو مونږ ته راوړې دې حق | یا ته ئې

هم په ښکاره گمراهئ کښې پراته وو| هغوئ ورته اووئیل چې آیا ته مونږ ته رشتیا وایې

مِنَ اللّٰعِبِيْنَ۝ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

دلوبو کونکو نه | اووئیل هغه | بلکه رب ستاسو | رب دآسمانونو | او دزمکې دې |

اوکه هسې ټوقې راسره کوئ ؟ | ابراهیم ﷺ اووئیل چې (دځه ټوقې) ستاسو رب خو

الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ۝

هغه رب | چې پیدا کړې ئې دی دا | او زۀ | په دې باند تاسو ته | دگواهی کونکونه یم |

دآسمانونو اودزمکې رب دې اچې هغه ټول ئې پید! کړی دی| او زۀ په دې خبره گواه یم

قوله تعالى:- وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ۝

**ابراهیم ﷺ د وړکوالې نه په هدایت وو:-** ارشاد دې چه ابراهیم خلیل الله ﷺته خو الله ﷻ د وړوکوالی نه هدایت ورکړې ووهغه ته ئی خپل دلیلونه الهام کړې وو اونیکی ورته خودلې وه. لکه چه ارشاد دې ﴿وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ۚ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ۗ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ۝﴾ ([1]) دادی زمونږ زبردست دلیلونه چه مونږ حضرت ابراهیم ﷺ ته ورکړې وودې د پاره چه هغه خپل قوم قائل کړې شی.

**دابراهیم ﷺ په وړکواوالی کښې دغارقصه اسرائیلی ده:-**داچه کومې قصې مشهورې دی د ابراهیم ﷺ هم دښیو ځکلو د زمانې نه دهغه مور دې په یوغارکښې ساتلې وودکوم ځائ نه چه د مودو پس هغه راووتلواودالله ﷻپه مخلوقاتو خاص په نمرسپوږمئی ستوروغیره باندې نظراچولوسره الله ﷻ اوپیژندلو دا ټولې د بنی اسرائیلو قصې دی.قاعده دا ده چه په دې کښې کومه یوه واقعه د دې مطابق وی کوم حق چه زمونږ په لاس کښې دې یعنی کتاب اوسنت هغه رښتونې ده اود قبلیدو قابله ده ځکه چه هغه د صحت مطابق ده اوچه کومه خلاف وی هغه مردود ده اود کوم مطابق چه زمونږ شریعت خاموش دې برابروالې اومخالفت هیڅ هم نه وی نودهغې روایت کول په قول داکثرومفسرینو جائزدی خونه مونږ هغې ته رښتونې وئیلې شو اونه دروغ.

اوداښکاره خبره ده چه هغه واقعات زمونږ د پاره هیڅ سند نه لری نه په هغې کښې زمونږ څه دینی فائده شته که چرې داسې وه نو زمونږ جامع نافع اوکامل شامل شریعت به د دې په بیان کښې کوتاهی نه کوله زمونږ خپل مسلك خو په دې تفسیرکښې دا دې چه مونږ داسې بنی اسرائیلی روایات نه وارد کووځکه چه په هغې کښې صرف د وخت ضائع کولونه بل هیڅ نفع نه وی اود نقصان احتمال زیات دې ځکه چه زمونږ یقین دې چه بنی اسرائیلو کښې د روایت ښه کتلو هغه ماده نه وه چه په رښتیاؤ او دروغوکښې تمیز پیژندلو په هغوی کښې دروغ ورننوتلې وولکه څنګه چه زمونږ حافظانو امامانو

---

[1]) ٦/الانعام:٨٣.

Scanned with Ca

تشريح کړې ده. غرض دا دې چه په دې ايت کښې د دې امر بيان دې چه مونږ دې نه وړاندې حضرت ابراهيم ﷺ ته هدايت ورکړې وو او مونږ ته پته وه چه هغه د دې قابل دې. هم په وړوکوالی کښې هغه د خپل قوم د غيرالله عبادت کول نه خوښول او ډيرپه بهادرنی سره اوسختنی سره ئی د دې نه انکار اوکړو او قوم ته ئی ښه ښکاره اووئيل چه تاسو څه د دې بتانونه چاپيره ناست ئی تاتونه مو لګولې دی؟
حضرت علی ﷺ په لار تيريدو چه جوار ګرخلق ناست وو شطرنج ئی لګولې وو لوبه ئی کوله هغوی هم دا آيت تلاوت کړو وئی فرمائيل چه په تاسو کښې دې څوك په خپل لاس کښې سره کړې شوې سروټکه واخلی دا د شطرنج د ګيټو د اخستلونه ښه دی.
د حضرت ابراهيم ﷺ د دې ښکاره دليل هغوی سره څه جواب ووچه ورکړې به ئی وې وئيل داخو زړه طريقه ده دپلارانو نيکونونه راروانه ده. هغوی اوفرمائيل داڅه دليل شو؟ زمونږ چه په تاسو باندې کوم اعتراض دې هغه په هغه وړاندينوباندې هم دې. په يوه ګمراهئی کښې ستاسو مشران لګياوو نو تاسو هم په هغې کښې لګيائې نو دې کښې څه ښيګړه اوشوه. زه وايم چه تاسو اوستاسوپلاران اونيکونه ټول د حق لارې نه اخواشوې وو او په ښکاره ګمراهئی کښې ډوب شوې وو. اوس د هغوی غوږونه اودريدل څکه چه هغوی د خپلو عقلمندو خلقو بې عزتی اوليدله د خپل پلارانواونيکونو باره کښې ئی دنه اوريدو خبرې واوريدې د خپلومعبودانو سپکاوې ئی اوليدو نواوويريدل او وئی وئيل
ابراهيم ﷺ واقعی ته ټيك وائې كه ټوقې کوې مونږ خوداسې خبره چرته نه ده اوريدلې. هغوی ته د حق د تبليغ موقعه ملاوشوه اوصفا اعلان ئی اوکړو چه رب خو صرف د زمکې او آسمان خالق دې. د ټولو څيزونومالك او خالق هم هغه ذات دې.ستاسو دا معبودان د يومعمولی څيز د پيداکولو هم نه خالق دی اونه مالك بيامعبودان اومسجودان څنګه شوزما ګواهی ده چه خالق اومالك هم الله ﷻ د عبادت لائق دې د هغه نه بغير نه څوك رب شته اونه معبود.

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا
او قسم دې په الله | خامخا به څه تدبير اوکړم | دبتانو ستاسو | روستو ددې نه چې | اوګرځئ تاسو |
اوپه الله ﷻ قسم کله چې تاسو (ددوئ نه بتانونه) لاړشئ | نو زۀ بۀ ستاسو بتانو سره يو چل

مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ
شاکونکی (بتانو ته) | نو کړل ئې هغه بتان | ټوټې ټوټې | مګر نۀ | لوئ بت | دهغوئ |
کوم | .......... نو (ابراهيم ﷺ) هغه بتان ټوټې ټوټې کړل | خو يو لوئې بت ئې سلامت پريخودو |

لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾ قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا
دپاره ددې چې هغوئ | دې (لوئ بت) ته | واپس راشی | اووئيل هغوئ | چاوکړو | دا کار |
کيدې شی چې خلق هغه ته رجوع اوکړی | هغوئ اووئيل زمونږ د معبودانو سره دا کار چا کړې دې

بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا سَمِعْنَا
دخدايانو زمونږ سره | بيشکه هغه | دظالمانو نه دې | اووئيل هغوئ | اوريدلی وؤ مونږه
بيشکه هغه خو ډير لوئې ظالم دې | چا په کښې اووئيل چې مونږ ديوځلمی دخولې نه ددوئ

فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ
چې يو ځلمئ | يادول دوئ | چې وئيلی شی | هغه ته | ابراهيم | اووئيل هغوئ | نو راولئ هغه
بدی اوريدلې وه | چې هغه ته ابراهيم ﷺ وئيلې شی | خلقو اووئيل چې ښه ده

Scanned with Ca

عَلٰٓى اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ۝۶۱ قَالُوْٓا ءَاَنْتَ

په سترګو دخلقو | دپاره ددې چې خلق | اووینی (سزا دهغه) | تپوس تر اوکړو خلقو | آیا تا کړې دې

نو هغه دټولو مخامخ پیش کړئ | چې هغوئ پرې ګواهان شي | هغوئ تپوس اوکړو چې ائې ابراهیم

فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۝۶۲ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ

دا کار | دخدایانو زمونږ سره اے ابراهیمه | اووئیل ابراهیم | بلکه | کړې دې داکار | مشر ددوئ

ﷺ آیازمونږ دخدایانو سره داکار تا کړې دې | اده اووئیل چې نه دا کار دې لوئې (بت) کړې دې

هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ۝۶۳

چې دادې | نو تپوس اوکړئ ددوئ نه | که وی دوئ | چې خبری کوی |

که چرې دوئ خبرې کوی | نو ددوئ نه تپوس اوکړئ |

**قوله تعالي:- فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا**

**ابراهیم ﷺ بتان مات کړل:-** پورته ذکر اوشو چه خلیل الله ﷺ خپل قوم دبت پرستئی نه منع کړو اود توحیدپه جذبه کښې راغلو اوقسم ئې اوخوړلو چه زه به خامخاستاسو د دې بتانوڅه علاج کوم. داهم د قوم بعضې کسانو واوریدل. د هغوی د اختر چه کومه ورځ مقرر وه خلیل الله ﷺ وئیل چه تاسو د خپل اختر د رسمونوکولود پاره لاړشئ نوزه به ستاسو دابتان ټیك کړم. د اختر نه وړاندې یوه ورځ دوه د هغوی پلار هغه ته اووئیل چه بچیه ته هم مونږ سره د اختر د پاره لاړشه تاته به زمونږ د دین ښه والې او رونق معلوم شی. هغه دې بوتلوخولږمزل کولونه پس حضرت ابراهیم ﷺ راپریوتلو وئی پلاره زه بیمار یم پلار هغه پریخودو اود کفر رسمونو اداکولود پاره لاړو کوم خلق چه به په لار تیریدل د هغه نه به ئې تپوس کولو چه په لارکښې څنګه ناست ئې؟
جواب به ئې ورکولوچه زه بیماریم. کله چه عام خلق لاړل اوبداګان پاتې شو نوهغه اوفرمائیل ستاسو د تولودتلونه پس به نن زه ستاسود دې خدایانو مرمت اوکړم. داچه هغه اوفرمائیل زه بیماریم نوواقعه دې نه یوه ورځ وړاندې هغه لږ شان بیمار هم وو. کله چه هغه خلق لاړل اومیدان خالی شو نوهغوی خپله اراده پوره کړه او لوئ بت ئې پریخودو باقی ئې ټول بتان ذره ذره کړل. لکه چه په نورو آیاتونو کښې د دې تفصیلی بیان موجود دې چه په خپل لاس ئې دا بتان ټکړې ټکړې کړل. د دې لوئ بت په پریخودوکښې حکمت اومصلحت دا ووچه اول خوبه ددې خلقو ذهن ته داخیال لاړشی چه کیدې شی دې لوئ خدائې داواړه خدایان تباه کړی وی ځکه چه هغه ته به غیرت شوې وی چه زمادلوئ په موجودګنی کښې داواړه څنګه د خدائې لائق شو داخیال دهغوی په ذهنونوکښې پخولودپاره هغوی تبر د هغه لوئ په غاړه کښې زوړندکړو لکه څنګه چه روایت دې. کله چه دا مشرکان دخپلې میلې نه واپس راغله وئی کتل چه دهغوی ټول خدایان پړمخې پراته دی اود خپل حالت نه دا ښائی چه هغوی صرف بې ساه بې نفع اوبې نقصانه خوار او ذلیل څیزونه دی او په دې خپل حالت باندې ئې د خپل ځان د عبادت کونکو په بې وقوفتیاباندې مهر لګولو خو په دې بې وقوفانوباندې اولټه اثر اوشو وئیل دا څوك ظالم سړې وو چه زمونږ د معبودانو ئې داسې سپکاوې اوکړو؟
**د قوم مشوره او دابراهیم علیه السلام ډلې ته راغوښتل:-**هغه وخت چه کوموخلقو دابراهیم ﷺ هغه خبرې اوریدلې وې دهغوی خیال راغلو او وئی وئیل چه هغه خوان د کوم چه ابراهیم نوم دې هغه مونږ د

Scanned with Ca

خپلو خدایانودخرابې بیانولوسره اوریدلې وو. حضرت ابن عباس ﷺ به دا ایت لوستلو او فرمائیل به ئې چه کوم نبي جوړشو نو ځوان چه کوم عالم جوړشونو ځوان د الله ﷻ شان ته ګوره چه کوم مقصدد خلیل الله ﷺ وو هغه پوره کیږي.د قوم داخلق مشوره کوی چه راشئې ټول راجمع کړئې هغه راوغواړئې اوبیاهغه ته سزا واوروئې. ابراهیم ﷺ هم داغوښتل چه یوه داسې ګنړه وی اوزه د هغوی غلطي په هغوی باندې ښکاره کړم اوهغوی ته دتوحید تبلیغ اوکړم. هغوی ته اوښایم چه دا څنګه ظالمان جاهلان دی چه د دوی عبادت کوئې چه د نفع نقصان مالکان نه دی بلکه دخپل ځان هم اختیار نه لری. ګنړه پیدا شوه او ټول لوئ واړه راغله. حضرت ابراهیم ﷺ هم د ملزم په حیثیت کښې پیش کړې شو د هغه نه تپوس اوکړې شو چه زمونږ دې خدایانوسره دا فضولیات تا کړی دی؟ په دې باندې خلیل الله ﷺ د هغوی قائل معقول کولود پاره اوفرمائیل چه داکار خودې لوئ بت کړې دې اود هغې طرف ته ئې اشاره اوکړه کوم چه هغوی مات کړې نه وو. بیا ئې اوفرمائیل چه مانه څه تپوس کوئې ددې خپلو خدایانونه تپوس اوکړئې چه ستاسو ټکړې ټکړې کونکې څوك دې؟ددې نه دخلیل الله ﷺ مقصددا وو چه داخلق هم پخپله پوهه شی چه په دې کاڼرو کښې څه دی چه خبرې به اوکړی اوچه کله هغه دومره عاجزدی نو بیادعبادت څنګه لائق کیدې شی نودامقصدهم دالله ﷻپه فضل سره دهغوی پوره شواودا دویم ګذار پرې هم ډیر سخت اولګیدو.

د بخاری اومسلم په حدیث کښې دی خلیل الله ﷺ درې ځل دروغ وئیلی دی چه دوه د الله ﷻ په لار کښې دې د هغوی دا فرمائیل چه د هغوی دا بتان دې لوئ مات کړی دی بل دا فرمائیل چه زه بیمار یم او یوځل حضرت خلیل الله ﷺ ساره بی بی سره په سفروو اتفاقی توګه سره هغوی د یوظالم بادشاه په علاقه تیریدل هغه هلته څوکئې لګولې وه چابادشاه ته اووئیل چه یومسافر سره ښکلې ښځه ده او هغه دې وخت زمونږ په سلطنت کښې دې. بادشاه ډیر زر یوسپاهی اولیګلو چه هغه دې بی بی ساره راولی هغه تپوس اوکړوچه دا تاسره څوك دی؟حضرت ابراهیم ﷺ وئیل زما خورده نوده وئیل د بادشاه دربارته ئې اولیګه هغه حضرت ساره بی بی له لاړو او ورته ئې اووئیل چه واوره دې ظالم بادشاه ته غوښتې ئې او ماته خپله خور خودلې ئې که تانه تپوس اوکړی نو هم دا وایه ځکه چه د دین په اعتبارسره ته زما خور ئې او په مخ د زمکې زما اوستانه بل څوك مسلمان نشته. دې ویناسره هغه لاړو حضرت ساره اخوا لاړه او حضرت ابراهیم ﷺ په مانځه اودریدو.کله چه دې ظالم حضرت ساره اولیدله او دهغې طرف ته ئې ورټوپ کړو هم هغه وخت د الله ﷻ عذاب هغه راګیرکړو او پښې لاسونه ئې شل شو اوویریدو او په عاجزئې سره ئې اووئیل اې نیکې بی بی الله ﷻ ته دعااوکړه چه ما پریږدی زه وعده کوم چه تاته به لاس هم نه لګوم. هغې دعااوکړه هم هغه وخت صحیح شو خوښه کیدو سره هغه بیا اراده اوکړه چه هغه راونیسی بیا د الله ﷻ عذاب راغلو اودې ځل ئې د اول ځل نه هم په سختئې سره راګیرکړو بیائې عاجزی اوکړه غرض دا چه درې ځل داسې اوشو په دریم ځل خلاصیدو سره هغه خپلې خواته یونوکر ته آواز اوکړو تاخو ماله انسانی ښځه نه ده راوستلې بلکه شیطانه (نعوذبالله) دې راوستې ده لاړه شه دا اوباسه اوهاجره ورسره کړه چه ځی. هم هغه وخت اوویستلې شوه او هاجره ورته حواله کړې شوه. حضرت ابراهیم ﷺ د هغوی په کش کړپ پوهیدوسره د مانځه نه ځان فارغ کړو او تپوس ئې ترې اوکړو چه وایه څه اوشو؟ هغې وئیل الله ﷻ د هغه کافر دهوکه هم په هغه باندې ورواروله او هاجره ئې زما د خدمت د پاره راکړه. حضرت ابوهریره داحدیث بیانولوسره فرمائی داد ستاسومور اې د آسمانی اوبوځامنو. (١)

(١) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی ﴿واتخذالله ابراهیم خلیلا﴾:۳۳۵۸، صحیح مسلم ۲۳۷۱، ابوداؤد:۲۲۱۲، احمد:۴۰۳/۲، ابن حبان:۵۷۳۷، بیهقی:۳۲۶/۷.

Scanned with Ca

فَرَجَعُوٓا

نو رجوع اوکړه هغوئ |

| هر کله چې هغوئ خپل مينځ کښې

إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا

خانونو خپلو ته | پس اووئيل هغوئ | بيشکه تاسو | يئ ظالمان | بيا | نسکور کړې شو هغوئ

سوچ اوکړو | نو وې وئيل چې بيشکه هم تاسو يئ بې انصافه يئ | بيا هغوئ (دشرم نه) خپل

عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ

په سرونو خپلو | (اووې وئيل) چې پوهه ئې ته | چې نه دی دا (بتان) | چې خبرې کوی | اووئيل ابراهيم

سرونه ښکته کړل | (او وې وئيل) چې تا ته خو معلومه ده چې دوئ خبرې نشی کولې | ابراهيم ﷺ

أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا

آيا تاسو عبادت کوئ | ماسوا دالله نه | دهغه څيزونو | چې نفع نشی رسولې تاسو ته | دهيڅ څيز |

اووئيل چې آيا تاسو دالله ﷻ نه سوا دداسې څيزونو عبادت کوئ | چې نه فائده دررسوی

وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا

اونه نقصان دررسولې شی تاسو ته | لعنت دوی | په تاسو باند | او په هغه معبودانو باند |

اونه نقصان درکولې شی | افسوس دې په تاسو او په هغه بتانو دکومو چې

تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا

چې تاسو ئې عبادت کوئ | بې دالله نه | آيا تاسو دعقل نه کار نه اخلئ | اووئيل هغوئ |

تاسو دالله ﷻ نه سوا عبادت کوئ | آيا تاسو د سوچ او عقل نه کار نه اخلئ | هغوئ اووئيل چې

حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓا ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا

اوسوزوئ دې | او امداد اوکړئ | دخدايانو خپلو | که يئ تاسو | کونکی دڅه کار | اووئيل مونږه |

دې (په اور کښې) اوسوزوئ | او دخپلو معبودانو مدد اوکړئ | که تاسو څه کول غواړئ | مونږ حکم

يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ وَأَرَادُوا بِهِۦ

اے اوره | شه ته | يخ | او سلامتيا والا | په ابراهيم باندې | او اراده اوکړه هغوئ | په ده باند

اوکړو ائې اوره ته په ابراهيم باندې يخ شه | او بې ضرر شه | او خلقو هغه ته د نقصان رسولو

كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾

دبدئ کولو | نو کړل مونږه هغوئ | نقصان موندونکی (ناکام) |

منصوبه جوړه کړه | خو مونږ هغوی نامراده کړل |

Scanned with Ca

قوله تعالى:- ﴿قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ﴾

**څوک چه د نفع نقصان مالک نه وی هغه معبودنه دی:-** بيان دي چه دخليل الله ﷺ په خبرو اوريدو سره خو د هغوی خيال پيداشواوخپل خانونه ئی په خپله بې وقوفتياباندې ملامت کول ډيرپښيمانتيا ئی اوچته کړه او پخپل مينځ کښې خو ئی اووئيل چه مونږ غټه غلطی اوکړه چه خپلو خدايانوسره مو څوک د حفاظت دپاره پرينخودل او لاړو.بيائی په غور اوفکر کولوسره خبره جوړه کړه چه دا ته مونږ ته وائې چه مونږ ددوی نه تپوس اوکړو چه تاسو چا مات کړی نې نوولې تاته معلومه نه ده چه دابتان بې زبانه دی. په عاجزئی حيرانيتا اوډير بې جوابئی په حالت کښې ددې خبرې اقرار اوکړو.اوس خليل الله ﷺ ته پوره موقعه ملاوشوه نو زرئی اوفرمائيل نودبې زبانه بې نفع اوبې ضررڅيز عبادت څنګه؟تاسو ولې دومره ناپوهه کيږئ.بلادې وی په تاسواوستاسو په دې دروغژنو خدايانو افسوس څومره د ظلم او جهل خبره ده چه دداسې څيزونوعبادت کولې شي اويوالله موپريښې دې هم دادی هغه دليلونه دکوم ذکر چه اول شوې ووچه مونږ ابراهيم ﷺ ته هغه دليلونه اوخودل په کوم سره چه قوم حقيقت ته اورسيدو.

**حضرت ابراهيم ﷺ اوور ته غورځول:-** داقاعده ده چه کله انسان په دليل سره عاجز شی نوياخو نيکی هغه راکاړی او يابدی په هغه باندې غالب راځی دلته دا خلق د هغوی بدبختئی راګيرکړل اوبه دليل سره عاجز راتلوسره بې جوابه پاتې شو نو خپل دباؤ ئی ښکاره کړو. خپل مينځ کښې مشوره اوکړه چه ابراهيم ﷺ په اور کښې واچوئی اومړئی کړئی دې د پاره چه زمونږ ددې خدايانوعزت پاتې شي..په دې خبره ټولواتفاق اوکړو اولرګی راوړل ئی شروع کړه. تردې پورې چه بيمارانو ښځو به هم نذر منلو چه که هغه جوړه شوه نود ابراهيم ﷺ دسيزلودپاره به لرګی راوړی. په زمکه کښې يوه ډيره لويه اوژوره کنده اوکړه او هغه ئی دلرګونه ډکه کړه او يولوئې ډيرې ئی جوړکړو اودې ته ئی اور اولګولو. په مخ د زمکه کله هم داسې اور نه دې ليدلې شوې چه کله د اور شغلې آسمان سره خبرې کولې اودې له تلل هم محال شو نوبيا اوويريدل چه خليل الله ﷺ به دې کښې څنګه اچوو؟آخرديوکردی فارسی اعرابی په مشوره باندې چه دهغه نوم بيزن وو يومنجنيق (ټال) تيارکړو چه په دې کښې کينوئی روان ئی کړئی ورونی غورزوئی.روايت دې چه دا سړې هم هغه وخت الله ﷻ په زمکه کښې ورننوستلو اود قيامت پورې هغه لاندې روان دې([1])کله چه هغه اورکښې اوغورزولې شونوهغوی اوفرمائيل﴿حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾ حضور ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ ته هم چه کله د خبراورسيدو د عربويولوئ لښکردهغوی د مقابلې دپاره راروان دې نوحضور ﷺ هم دا لوستلې وو. ([2])

**د غورزولو په وخت کښې د ابراهيم عليه السلام دعاګانو حالت:-** داهم روايت دې چه کله هغوی په اور کښې واچولې شو نوهغوی اوفرمائيل اې الله ته په آسمانونوکښې يوازې معبودئې اوتوحيدسره پرې زمکه ستاعبادت کونکې صرف يوزه يم.([3])

روايت دې چه کله کافر هغه اوتړلو نو هغوی اوفرمائيل ياالله ستا نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته ستا ذات پاک دې ټول حمداو ثنا هم ستا دپاره دې د ټول ملک هم ته يوازې مالك ئې څوك هم ستا شريك او ملګرې نشته. حضرت شعيب جبائی ﷫ فرمائی دغه وخت د هغوی عمر صرف شپاړس کاله وو. والله اعلم. د بعضې سلفونه نقل دی چه دغه وخت حضرت جبرائيل ﷺ د هغوی مخې ته د آسمان

---

[1]) الطبری:۱۸/٤٦٥.

[2]) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة آل عمران باب قوله ﴿الذين قال لهم الناس ان الناس....﴾:٤٥٦٣.

[3]) مسندالبزار:۲۳٤٩حلية الاولياء:۱/۱۹.

Scanned with Ca

اوزمکې په مينځ کښې ښکاره شو او وئې فرمائيل چه څه حاجت شته. هغوی جواب ورکړو چه تاسو ته خو هيڅ حاجت نشته البته د الله ﷻ نه حاجت شته.

**په ابراهيم عليه السلام باندې هغه اوور يخ کړې شو:**-حضرت ابن عباس ﷜ فرمائی د باران داروغه فرښتې غوږ لګولې تياره وه چه کله به د الله ﷻ حکم اوشي اوزه به په دې اُور باران اووروم دا به يخ کړم خونيغ په نيغه حکم هم اُور ته اوشو چه زما په خليل باندې ته سلامتياوالا اويخ شه. فرمائی چه هم دې حکم سره په مخ د زمکې ټول اُور يخ شو.(١) حضرت کعب احبار ﷫ فرمائی په هغه ورځ په زمکه باندې چا هم د اُور نه فائده نه ده اخستې اود ابراهيم ﷺ رسئی خو اُور اوسوزولې خود هغوی يوويښته ته هم اُور اونه لګيدو. حضرت علی ﷜ فرمائی چه اُور ته حکم اوشوچه هغه دې خليل الله ﷺ ته هيڅ نقصان اونه رسوی.

د ابن عباس ﷜ نه روايت دې که اُورته صرف د يخيدو حکم شوې وونو بيابه يخوالی هم هغوی ته نقصان رسولو(٢)ددې دپاره ئې ورسره دا اوفرمائيل چه يخيدوسره د سلامتياوالا جوړشه. ضحاک ﷫ چه ډيره لويه کنده وه اوډيره ژوره ئې کنستلې وه اوهغه ئې د اُور نه ډکه کړې وه. هر طرف ته د اُور شغلې راوتلې په دې کښې ئې خليل الله ﷺ واچولو ولې اُور هغوی پورې اوهم نه لګيدو تردې چه الله ﷻ عزوجل هغه بالکل يخ کړو. ذکر دې چه په دې وخت کښې حضرت جبرائيل ﷺ هغوی سره وو هغوی د مخ نه صرف خوله اوچوله د دې نه سوا اُور هغوی ته هيڅ نقصان اونه رسولو.

سدی ﷫ فرمائی چه دسوری فرښته هغوی سره وه. روايت دې چه هغوی په دې کښې څلويښت يا پنځوس ورځې وو. فرمائيل به ئې چه ماته په هغه زمانه کښې کوم راحت اوخوندحاصل ووهغه شان د دغې نه دراوتلونه پس حاصل نه شو.څومره به ښه وه چه زماټول ژوند په هغې کښې تيرشوې وو.

ابوهريره﷜ فرمائی چه دحضرت ابراهيم ﷺ پلارکومه ښه کلمه وئيلې ده هغه دا چه کله هغوی د اُور نه ژوندې او صحيح سالم راووتلو هغه وخت د تندی نه خوله اوچولوسره اوکتلو نو وئې وئيل ابراهيم ستا رب ډير بزرګ او لوئ دې. قتاده ﷫ فرمائی په هغه ورځ چه کوم څناور راووتل د اُور مړه کولوکوشش ئې کولو بغيرد چمچورکئی نه(٣)زهری ﷫ فرمائی چه رسول الله ﷺ دچمچورکئی دوژلوحکم فرمائيلې دې اوهغه ته ئې فاسق وئيلې.(٤)عائشه ﵂ په کورکښې يوه نيزه ليدلو سره يوې ښځې تپوس اوکړوچه دامو څه له ساتلې ده؟هغوی وئيل دچمچورکود پاره.دحضور ﷺ ارشاددې چه کوم وخت حضرت ابراهيم ﷺ په اُورکښې واچولې شو هغه وخت ټولوځناورو دا اُورمړه کولوبغيرد چمچورکئی نه چه نور پوکی هم ورکول نو حضور ﷺ د دې دوژلوحکم ورکړو. (٥) بيافرمائی چه د هغوی مکر مونږ په هغوی باندې اولټه کړو کافرانودالله ﷻ انبی ﷺ ښکته کول غوښتل الله ﷻ هم هغوی لاندې اوخودل. عطيه عوفی ﷫ بيان دې چه دابراهيم ﷺ په اُورکښې دسوزيدوتماشه دکتلودپاره ددې کافرانو بادشاه هم راغلې وو.اخوا خليل الله ﷺ په اُورکښې اچولې شو اوديخواد اُور نه يوبڅرې الوزی اود دې کافربادشاه په ګوته پورې لګی اوهلته په ولاړه ولاړه د ولوپه وراندې داسې سوزوی لکه چه روټئی اوسوزی.

---

(١) الطبری:١٨/٤٦٦.

(٢) الطبری:١٨/٤٦٥.

(٣) الطبری:١٨/٤٦٧.

(٤) الطبری:١٨/٤٦٧.

(٥) ابن ماجه کتاب الصيد باب قتل الوزغ:٣٢٣١وسنده حسن.

Scanned with Ca

وَنَجَّيْنٰهُ

او بچ اوویستل مونږه ابراهیم |

او مونږ هغه اولوط دواړه |

وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

او لوط | زمکې ته | هغه (زمکې ته) | چې برکت ایښې دې مونږه | په هغې کښې |

بچ اوویستل | داسې ملک ته چې مونږ د ټولې دنیا دخلقو دپاره برکتی کړې دې |

لِلْعٰلَمِيْنَ ۝ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَكُلًّا

دپاره دخلقو (ددنیا) | او ورکړو مونږ | هغه ته | اسحاق | او یعقوب | پرې زیات دپاسه | او دا ټول

اومونږ ابراهیم ته اسحاق (ځوئې) ورکړو | اوددې نه علاوه یعقوب (نمسې) مو ورته هم دانعام په طور اوټول

جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ۝ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ

جوړ کړل مونږه | صالحان | او جوړ کړل مونږه هغوئ | اماماں | چې ) ددین) لار به ئې ښودله

نیکان کړل | اوهغوئ مو د (ټولو) خلقو پیشوایان جوړ کړل | چې زمونږ په حکم به ئې

بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ

په حکم زمونږ سره | او وحی اوکړه مونږه | هغوئ ته | دکولو دنیکو کارونو | او دقائمولو دمونځ |

( خلقو ته) ددین لار خودله | اوهغوئ دوحی په ذریعه د نیکئ کارونه کول | دمونځ کولو

وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ۝ۙ وَلُوْطًا

او دورکولو دزکات | او وو هغوئ | مونږ لره | عبادت کونکی | او (اولیږو مونږه ) لوط |

دزکوة ورکولو حکم مو ورته کړې وو | اوهغوئ هم زمونږ عبادت کولو | اولوط ﷺ ته مونږ

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ

او ورکړو مونږه هغه ته | حکم (نبوت) | او علم | او نجات ورکړو مونږ هغه لره | دکلی نه |

حکمت او علم ورکړې وو | او دهغه کلی نه مو بچ راوویستلو | دکوم اوسیدونکی چې

الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا

دهغه کلی نه | چې وو خلق دهغه کلی | چې کولې به ئې | بدکاریانې | بیشکه هغوئ | وو

د بې حیایۍ د کارونو کونکی وو | ..........بیشکه هغه خراب او

قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ۝ۙ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهٗ

قوم دبدئ | فاسقان | او داخل کړو مونږ هغه | په رحمت خپل کښې | بیشکه هغه |

بدکاره خلق وو | اوهغه (لوط ﷺ) مونږ پخپل رحمت کښې داخل کړو | یقینی ده چه هغه په

Scanned with Ca

| |
|---|
| مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ ع |
| دصالحانو نه وو \| |
| نيکانو خلقو کښې شامل وو |

**قوله تعالي**:- اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ﴿۷۱﴾

**د شام ملک اومکه مکرمه** :- د الله ﷻ فرمان دې چه هغه خپل خليل د کافرانونه بچ کړو اود شام مقدس ملك ته اورسولو.ابى بن کعب ﷺ فرمائى ټولې خوږې اوبه د شام د صخره د لاندې نه راوځى. قتاده ﷺ فرمائى چه هغه له الله ﷻ د عراق د زمکې نه خلاصې ورکړو اودشام زمکې ته ئې اورسولو هم شام دانبياءکرامودهجرت ځائ دې.د زمکې نه چه څه کميرئ هغه په شام کښې زياتيږى اود شام کمې په فلسطين کښې زياتيږى. هم شام دمحشرزمکه ده. هم دلته به حضرت عيسى ﷺ راکوزيږى هم دلته به دجال قتل کولې شى.دکعب ﷺ په قول چه خليل الله ﷺ خزان طرف ته تلې وو دلته په راتلوسره هغوى ته معلومه شوه چه د دې ځائ د بادشاه لوردخپل قوم د دين نه ويزاره ده اود هغوى نه نفرت لرى بلکه په هغوى باندې پيغورونه کوى نو هغوى دې سره په دې اقرار نکاح اوکړه چه هغه به ده سره د دې ځائ نه هجرت کوى څې به هم ددې نوم ساره بى بى ده.دا روايت غريب دې او مشهور دا دې حضرت ساره بى بى د هغوى دتره لوروه اوهغوى سره ئې هجرت کړې ووراغلې وه.ابن عباس ﷺ فرمائى دا هجرت په مکه کښې ختم شو.هم د مکه په نسبت الله ﷻ فرمائيلى دى دا د الله ﷻ رومبې کور دې چه دبرکت اوهدايت والا دې([1])په کوم کښې چه بغيرددې يرو نښونه مقام ابراهيم ﷺ هم دې دې ته راتلونکې په امن اوسلامتياکښې راځى. بيافرمائى مونږ ده ته حضرت اسحاق ﷺ ورکړويعقوب ﷺ ورکړو لکه خوئ او نمسى لکه چه ارشاددې﴿فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ﴾([2])دخليل الله ﷺ په سوال کښې هم ديوهلك غوښتنه وه دعائى کړې وه چه ﴿رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ﴾([3])الله ﷻ دادعاهم قبوله کړه اوخوئى له ئى خوئ هم ورکړو کوم چه د سوال نه زيات وو اوټول ئى نيکوکار جوړکړه.دا ټول ئى ددنيامقتداء او پيشوا جوړ کړه د الله ﷻ په حکم سره دمخلوق د خالق اودالله ﷻ دلارې دعوت ئى کولو.هغوى ته مونږ د نيکو کارونوحى اوکړه. په دې عام خبره باندې عطف اچولو سره بياخاص خبرې يعنى مونځ روژه ئى بيان کړه اوارشاداوشوچه هغوى دې ددې نيکو کارونونه علاوه دنيکوکارونودحکم پخپله هم پدې نيکو باندې عمل کونکې وو.بيادلوط ﷺ ذکر شروع کيږى لوط بن هاران بن آزر.هغوى په ابراهيم ﷺ باندې ايمان راوړې وو اوهم د هغوى په تابعدارئى کښې هغوى سره هجرت کړې وولکه چه کلام الله کښې دى﴿فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾([4])په هغوى باندې ايمان راوړو وئى فرمائيل زه دخپل رب طرف ته هجرت کونکې يم.نو الله ﷻ هغوى ته حکمت اوعلم ورکړو اووحى نازله کړه اود نبيانو په پاکه سلسله کښې ئى داخل کړواود سدوم او دې سره خواوشا کلوته ئى دليګلو حکم اوشو. هغوى اونه منلواوپه مخالفت باندې ئى ملاوتړله د کوم په وجه چه د الله ﷻ په عذاب کښې راګيرکړې شواوفناکړې.شود کومو د بربادئى واقعات چه د الله ﷻ په کتاب عزيزکښې څوځائ بيان

---

([1]) ۳/آل عمران:۹۶.

([2]) ۱۱/هود:۷۱.

([3]) ۳۷/الصافات:۱۰۰

([4]) ۲۹/العنکبوت:۲۶.

Scanned with Ca

شوی دی دلته فرمائی چه مونږ هغوی له د ډیر خراب کار کونکوفاسقانود کلی نه خلاصې ورکړو اوهغه خو اوچت اونیکوکار وو مونږ هغه په خپل رحمت کښې داخل کړو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَنُوحًا | إِذْ | نَادَىٰ | مِن قَبْلُ |
| او (دا نعمت مونږ ورکړو) نوح علیه السلام له | کله چی | آواز اوکړو هغه | مخکښی دهغوی نه |
| او ددې نه وړاندې کله چې نوح علیه السلام آواز اوکړو | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَاسْتَجَبْنَا | لَهُ | فَنَجَّيْنَاهُ | وَأَهْلَهُ |
| نو دعا قبوله کړه مونږه | هغه لره | نو خلاصې ورکړو مونږ هغه ته | او کوروالو دهغه ته |
| نو مونږ دهغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه اود هغه اهل ته د ډیرلوئې غم | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مِنَ الْكَرْبِ | الْعَظِيمِ | وَنَصَرْنَاهُ | مِنَ الْقَوْمِ | الَّذِينَ |
| دمصیبت | لوئ نه | او امداد اوکړو مونږ دهغه | په مقابله دقوم کښی | هغه قوم |
| نه نجات ورکړل اومونږ د نوح علیه السلام بدله دهغه خلقو نه واخسته | چې زمونږ حکمونه ئې دروغ | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| كَذَّبُوا | بِآيَاتِنَا ط | إِنَّهُمْ | كَانُوا | قَوْمَ سَوْءٍ | فَأَغْرَقْنَاهُمْ |
| چې دروغ اوګنړل هغوئ | ایتونه زمونږه | بیشکه هغوئ | ووئ | قوم بد | نو غرق کړل مونږ هغوئ |
| ګنړل بیشکه چې دغه خلق ډیرخراب خلق ووا. نومونږ دوئ ټول | | | | | |

| |
|---|
| أَجْمَعِينَ |
| ټول |
| غرق کړل |

**قوله تعالی:- وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ**

**د نوح علیه السلام دعا:-** نوح نبی علیه السلام خپل قوم تنګولوتکلیفونه ئې ورکړه نوهغوی الله ﷻ ته فریاداوکړواې الله ﷻ زه عاجزراغلم ته زما امداد اوکړې په زمکه باندې د دې کافرانونه یوکس هم پرینږدې ګنی دوی به ستا بندیګان غولوی اود دوی اولاد به هم داسې فاجر اوکافر وی. الله ﷻ د خپل نبی علیه السلام دعاقبوله کړه هغوی ته اومؤمنانوته ئې خلاصې ورکړو اود هغوی اهل هم بغیرد هغوی نه د چانوم چه په بربادکیدو کښې راغلې وو. په هغوی باندې د ایمان راوړونکو شمیرډیرکم ووداقوم دسختئې سزا ورکول اود تکلیف نه د عالم رب خپل نبی بچ کړو.نهه نیم سوه کاله(۹۵۰) هغوی په دې قوم کښې وو اوهغوی ئې د اسلام طرف ته راغوښتل خوبغیرد یوڅوکسانو باقی ټول دکفر اوشرک نه اخوانه شو بلکه هغوی ته ئې سختې سزاګانې ورکړې اویوبل ئې هغوی ته تکلیف ورکولود پاره وینا کوله مونږ د هغوی امداد اوکړو اوپه عزت او قدر سره د کافرانود تکلیفونو ورکولونه خلاصې ورکړو اوهغه خراب خلق مو سنبال کړل اود نوح علیه السلام د دعامطابق په مخ د زمکې یوکافر هم پاتې نه شو ټول ډوب کړې شو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَدَاوُودَ | وَسُلَيْمَانَ | إِذْ | يَحْكُمَانِ |
| او (دا نعمت مونږ ورکړو) داود له | او سلیمان له | کله چی | فیصله کوله دواړو |
| اوداود علیه السلام او سلیمان علیه السلام هم یادکړه | کله چې دوئ د | | |

فِي الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا

په باره دفصل كښې | كله چې | دشپې ورګډې شوې | په هغې كښې | ګډې ديو قوم | او وو مونږه

...... پتی په معامله كښې فيصله كوله | په كوم كښې چې د يوې ډلې بيزې ځريدلې وې

لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِينَ ۝٧٨ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا

فيصلې دهغوئ ته | كتونكي (پخپله) | نو پوهه وركړه مونږه دهغه فيصلې | سليمان له | او هر يو له

او مونږ ته دهغوئ فيصله ښكاره وه | نو مونږ دهغې فيصلې پوهه سليمان ته وركړه

اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۫ وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ

وركړې وو مونږه | حكم او علم | او تابع كړې وو مونږه | دداود سره | غرونه |

او حكمت او علم مو هر يو ته وركړې وو | او مونږ داود ﷺ سره غرونه مسخر كړې وو

يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فٰعِلِينَ ۝٧٩ وَعَلَّمْنٰهُ

چې تسبيح به ئې وئيله | او مارغان هم | او وو مونږه | كونكي (ددې كار) | او ښودلې وو مونږ هغه ته

چې هغې (غرونو) او مارغانو به زمونږ پاكي بيانوله | او دا كار مونږ (پخپل قدرت) كړې وو |

صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ بَأْسِكُمْ ۚ

جوړول | دجامو (زغرو) | ستاسو دپاره | دپاره ددې چې بچ كړي تاسو | دجنګ ستاسو نه

او مونږ هغه ته دزغرو جوړول ستاسو (دفائدې) دپاره خودلې وو | چې تاسو د حملونه بچ كوي

فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ۝٨٠ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً

نو ايا يئ تاسو | شكر ايستونكي | او دپاره دسليمان | مونږ مسخر كړې وه) هوا تيزه

نو ايا تاسو شكر نه اداكوئى | او مونږ د سليمان ﷺ دپاره تيزې هواګانې مسخر كړې وې

تَجْرِي بِاَمْرِهٖ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ۭ

چې تلله به | په حكم دهغه سره | هغه زمكې ته | چې بركت ايښې وو مونږه | په هغې كښې

چې دهغه په حكم به هغې زمكې طرفته چليدې | په كومه كښې چې مونږ بركتونه اچولې وو

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ۝٨١ وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ

او وو مونږه | په هر څيز باندې | عالمان | او دشيطانانو نه (تابع كړې وو مونږه) | ځينې هغه

او مونږ ته خو هر يو څيز معلوم دې | او په شيطانانو كښې داسې هم وو | چې دهغه

يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا

چې غوپې به ئې وهلې | دپاره دهغه | او كول به ئې | نور كارونه هم | علاوه ددې نه | او وو مونږ

دپاره ئې (په دريابونو كښې) غوپې وهلې | او ددې نه علاوه نور كارونه به ئې هم كول | او مونږ

لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ۝٨٢

هغوئ لره | ساتونكي

به دهغوئ حفاظت كولو

Scanned with Ca

**قوله تعالى:-إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ**

**د داود ﷺ او سليمان ﷺ يوه فيصله:**-ابن مسعود ﷺ فرماني چه دافصل د انګورو وود کومې غونچې چه زوړندوې.**(نفشت)**معنى د شپې په وخت کښې دڅاروو څرولو ته اود ورځې په وخت کښې څاروو څرولو ته عربي کښې**(همل)** وائی.([1])ابن مسعود ﷺ فرمائي داباغ چيلوتباه کړو.داؤد ﷺدا فيصله اوکړه چه دباغ دنقصان په بدله کښې دې داچيلئي هغه باغ والا ته ورکړې شي.سليمان ﷺ چه دافيصله واوريده نو عرض ئي اوکړواې د الله ﷺ نبي د دې نه علاوه هم د فيصله څه صورت شته؟ هغوى اوفرمائيل هغه څه؟ چه چيلئي دې د باغ والاته حواله کړې شي هغه دې د دې نه فائده اخلي اوباغ دې دچيلووالا ته حواله کړې شي په دې کښې دانګورودځيلوحفاظت دې کوى تردې چه ځيلئي بنه برابرې شي انګور اولګي اوبياپه دې حالت کښې راشي په کوم کښې چه وونود باغ والا ته به دې خپل باغ ورکړې او د باغ والا دې هغه ته چيلئي حواله کړي. هم دامطلب د دې آيت دې چه مونږ د دې جګړې بنه فيصله حضرت سليمان ﷺ ته اوخودله.([2])

ابن عباس ﷺ فرمائي د حضرت داؤد ﷺ دې فيصلې اوريدو سره د چيلووالا مخ زړوندکړو او صرف سپى ځان سره واخستل او واپس روان وو حضرت سليمان ﷺ د هغه نه تپوس اوکړو چه ستاڅه فيصله اوشوه؟ هغه خبرورکړو نو هغوى اوفرمائيل چه که زه په دې ځائ کښې موجود وې نودا فيصله به مې نه ورکوله څه بله فيصله به مې ورکوله.داؤد ﷺ ته چه کله داخبر اورسيدونوهغه ئي راوغوښتو او تپوس ئي ترې اوکړوچه بچې تابه څه فيصله کوله؟هغوى هم داپورتنئي فيصله واوروله. مسروق ﷺ فرمائي چه دې چيلو غونچې او پاڼې هره څه خوړلې وونود داؤد ﷺ فيصله خلاف سليمان ﷺ فيصله ورکړه چه د دغه خلقو چيلئي دې د باغ والا ته ورکړې شي اودا باغ دې دوى ته حواله کړې شي ترکومې چه باغ په خپل اصلي حال کښې راشي نوترهغې پورې دې د چيلونه بچي پئي اود دې تولې فائدې د باغ والا اخلي بيا دې هريوته خپل څيز ورکړې شي.

**که دپې چيلئ وغيره باغ خراب کړي نو تاوان شته د ورځې نشته:**-قاضي شريح له هم يوه دا جګړه راغلې وه نو هغوى دا فيصله اوکړه که د ورځې دې چيلونقصان کړې وى نوهيڅ معاوضه نشته اوکه د شپې ئي نقصان رسولې وى نود چيلووالا ذمه واردې بياهغوى هم د دې آيت تلاوت اوکړو.د مسند احمدپه حديث کښې دى چه د براء بن عازب ﷺ اوښه يوباغ ته تلې وه اوهلته ئي دباغ ډېر نقصان کړې وو نورسول الله ﷺ دا فيصله اوفرمائيله چه په باغ والا باندې دورځې حفاظت دې اوکوم نقصان چه د څاروو نه د شپې شوې دې دهغې جرمانه په څارووالاباندې ده.([3])پدې حديث کښې علتونه راويستلې شوى دى او مونږ په کتاب الاحکام کښې د الله ﷺ په فضل سره د دې پوره تفصيل بيان کړې دې.

**د اياس بن بن معاويه واقعه:**-روايت دې چه کله د حضرت اياس بن معاويه ﷺ ته د قاضي جوړيدو درخواست اوکړې شونوهغه حضرت حسن ﷺ له راغلو وئي ژړل او تپوس ئي ترې اوکړو چه اې ابوسعيد ته ولې ژاړې؟ وئي فرمائيل ماته دا روايت رسيدلې دې که چرې قاضي اجتهاد اوکړو بياني هم غلطي اوکړه نو دوزخي دې اوکوم خواهش د نفس طرف ته تيټ شو هغه هم دوزخي دې. او چا چه اجتهاد اوکړو اوصحت ته اورسيدو هغه جنت ته اورسيدو.حضرت حسن ﷺ چه دا واوريده نو وئي فرمائيل چه واوره الله ﷺدحضرت داؤد ﷺ اوحضرت سليمان ﷺ دفيصلې ذکرفرمائيلې دې

[1] الطبرى:١٨/٤٧٧.

[2] الطبرى:١٨/٣٧٥، حاکم:٢/٥٨٨.

[3] احمد:٥/٤٣٥، ابوداؤد کتاب البيوع باب المواشي تفسدزرع قوم:٣٥٦٩ابن ماجه:٢٣٣٢، ابن الجارود:٧٩٦،حاکم:٢/٤٧

Scanned with Ca

اوښکاره خبره ده چه انبياء عليهم السلام حکم دې د هغوی په قول سره د دې خلقو خبرې ردکيدلې شی الله ﷻ خود حضرت سليمان ؑ تعريف هم کړې دې ولې دحضرت داؤد ؑ خرابوالې ئی نه دې بيان فرمائيلې. بل دا چه د خپل زړه په ارادو اوخواهشاتو پسې مه کيږئی دريم دا چه د الله ﷻ نه بغيرد بل چا نه مه ويريږئی بيائی دا آيت تلاوت کړو. ﴿يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِي الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ﴾[1] يعنی اې داؤد ؑ مونږ ته دزمکې خليفه جوړکړې ته دخلقو په مينځ کښې دحق فيصلې کوه اوپه خواهشاتو پسې مه لګه د الله ﷻ د لارې نه به واوړې. بل ځاې ارشاددې ﴿فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾[2] دخلقو نه مه ويريږه هم زما نه ويريږه بل ارشاد دې ﴿وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾[3] زما آياتونه په معمولی ګټه باندې مه خرڅوه. زه وايم چه د انبياء عليهم السلام په معصوميت کښې اود هغوی دالله ﷻ د طرف نه هروخت تائيدکيدلوکښې خود چا اختلاف نشته اودصحيح بخاری حديث دې رسول الله ﷺ فرمائی کله چه حاکم اجتهاد اوکوشش اوکړې بيا صحت ته هم اورسې نوهغه ته دوچنده اجرملاويږی اود پوره کوشش کولونه پس هم غلطی اوکړی نو غه ته اجر ملاويږی. ([4]) داحديث صفا ښائی چه حضرت اياس رحمه الله ته چه کوم وهم ووچه سره د پوره کوشش نه هم خطا اوکړی نو دوزخی دې دا غلطه ده. والله اعلم.

**دقاضی دې قسمونه**:-دسنن په يوبل حديث کښې دی چه قاضی درې قسمه دی يوجنتی اودوه دوزخيان .کوم چه حق معلوم کړواوهم پدې ئی فيصله اوکړه هغه جنتی دې اوچاچه په جهالت سره فيصله اوکړه هغه دوزخی دې اوچاچه دحق پيژندلو سره ددې خلاف فيصله اوکړه هغه هم دوزخی دې. ([5])

**د وينځو د فيصلې قصه**:-د قرآن کريم بيان کړې شوې دې واقعه سره نيزدې هغه قصه ده کومه چه په مسنداحمد کښې ده رسول الله ﷺ فرمائی دوه ښځې وې هغوی سره خپل بچی هم وو شرمخ راغلو يو ماشوم ئی اوچت کړو اوس هرې يوې ښځې وئيل چه ستا بچې يوړو اوچه کوم پاتې دې هغه زما بچې دې. آخر دا قصه حضرت داؤد ؑ ته پيش کړې شوه هغې مشرې ښځې ته فيصله ورکړه چه دا ماشوم ستا دې هغه د دې ځاې نه لاړه په لارکښې حضرت سليمان ؑ وو هغه دواړه راوغوښتې ورته ئی اووئيل چاړه راوړئی زه دا ماشوم دوه ټکړې کوم او هرې يوې ته به نيمه ټکړه ورکړې شی په دې باندې هغه مشر خو چپ شوه ولې کشرې چغې صورې شروع کړې الله ﷻ دې په تاسو باندې رحم اوکړې تاسو داسې مه کوئی دا هلك هم د دې مشرې دې هم دې ته ئی ورکړئی. حضرت سليمان ؑ په دې معامله باندې پوهه شو اوماشوم ئی کشرې ته ورکړو. دا حديث په بخاری اومسلم کښې هم شته. ([6]) امام نسائی رحمه الله په دې باندې باب تړلې دې چه حاکم له جائز دی چه خپله فيصله په زړه کښې اوساتی اوحقيقت معلوموولو د پاره دې د هغې خلاف څه اووائی.

---

[1] ۳۸/ص:۳٦.
[2] ٥/المائده:٤٤.
[3] ٥/المائده:٤٤.
[4] صحيح بخاری کتاب الاعتصام باب اجر الحاکم اذااجتهدفاصاب اواخطا:۷۳٥۲، صحيح مسلم:۱۷۱٦، ابوداؤد:۳٥۷٤، احمد:۹۸/٤
[5] ابوداؤد کتاب القضاء باب القاضی يخطی:۳٥۷۳ وسنده ضعيف خلف بن خليفه راوی حافظه خرابه وه، ترمذی:۱۳۲۲، ابن ماجه:۲۳۱٥ شعب الايمان:۷٥۳۱، حاکم:٤/۹۰.
[6] احمد:۲/۳۲۲، صحيح بخاری:کتاب احاديث الانبياء باب قوله تعالی ﴿ووهبنا لداؤد سليمان نعم العبد....﴾:۳٤۲۷، صحيح مسلم:۱۷۲۰، ابن حبان:٥۰٦٦.

Scanned with Ca

**بله عجیبه قیصه:**-هم داسې یوه واقعه په ابن عساکر کښې هم ده چه یوې ښائسته ښځې سره یورنیس ملاویدل غوښتل خوښځې اونه منل دغه شان درې نورو کسانو هم دې سره د بدکارئ اراده اوکړه خو هغه منع پاتې شوه. په دې باندې هغه رئیسان کلك شو او په خپل مینځ کښې اتفاق کولوسره د داؤد ﷺ په عدالت کښې تپولودا ګواهي ورکړه چه هغه ښځه خپل سپی سره داسې کارکوی. د څلورو وارو په اتفاقی بیان سره داحکم اوکړې شو چه دا رجم کړې. هم هغه ماښام حضرت سلیمان ﷺ د خپل عمر هلکانو سره ناست وو حاکم جوړشوې ووڅلورو هلکانو د دغه خلقو په شان هغوی له دامقدمه راوړه او د یوې ښځې په نسبت ئې داسې وینا اوکړه. حضرت سلیمان ﷺ حکم اوکړو څلور واړه جدا جدا کړې. بیا ئې یویو خپل ځان له راوغوښتلو او تپوس ئې ترې اوکړو چه د هغه سپی رنګ څنګه دې؟ یوئیل تور،بیائې دویم ځان له راوغوښتو د هغه نه ئې هم دا سوال اوکړو هغه وئیل سور دریم وئیل خاکي او څلورم وئیل سپین. هغوی په دغه وخت دا فیصله اوکړه چه دا په دې ښځه هسې تهمت دې اوهغه څلور واړه ئې قتل کړل. حضرت داؤد ﷺ ته هم دا واقعه بیان کړې شوه نو هغوی هم هغه وخت زر هغه څلور امیران راوغوښتل اوهمدغه شان ئې دهغوی نه د سپي درنګ باره کښې تپوس اوکړو دوی ګډوډشو چا یوڅه اووئیل او چا بل څه.داؤد ﷺ ته دهغوی دروغ معلوم شواو حکم ئې اوکړو چه دوی قتل کړې.

**د داؤد علیه السلام ښکلې اواز:**-بیا بیان فرمائي چه حضرت داؤد ﷺ ته هغه نوراني مرتبې ورکړې شوې وه اوهغوی به داسې په خوږ آواز او خلوص سره زبور تلاوت کولو چه مرغو به هم خپلې وزرې اودرولې اوداللہ ﷻ تسبیح به ئې بیانولې اودغه شان غرونه هم. یوروایت کښې دی چه د شپې حضرت ابوموسی اشعري ﷺ د قران کریم تلاوت کولو رسول الله ﷺ د هغه خوږ مزیدار اود خلوص نه ډك آواز اوریدو سره اودریدو اود ډیر وخت پورې ئې اوریدو بیائې اوفرمائیل چه ده خود آل داؤد د آواز خوږوالي راکړو. (¹)

حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ته چه کله معلومه شوه نووئې فرمائیل چه که ماته معلومه وه چه حضور ﷺ زما قراءت اوري نوما به نور هم ښه لوستلو. (²)

حضرت ابوعثمان نهدی رحمه الله فرمائي ما خود چا د ښه نه ښه باجه کښې هم داسې آواز کښې مزه نه ده اخستې کومه چه د ابوموسی ﷺ په آواز کښې وه. دومره خوږ آواز چه حضور ﷺ د حضرت داؤد ﷺ د آواز یوه حصه اوګرځوله. اوس ګوره چه پخپله به د داؤد ﷺ آواز څنګه وو. بیا خپل یوبل احسان ښائي چه حضرت داؤد ﷺ ته زغرې جوړول هم مونږ خودلې وو. د هغوی د زمانې نه وړاندې به بغیرکونډو اوبغیرکړو زغرې جوړیدلې دکونډو والا او کړیدارې زغرې به هم هغوی جوړولې(³)لکه چه بل آیت کښې دی مونږ حضرت داؤد ﷺ ته اوسپنه نرمه کړه چه هغه بهترین زغرې تیارې کړې اوپه ټیك اندازه په هغې کښې کړئې جوړې کړې. دا زغرې به په میدان جنګ کښې په کارراتلې. نوداهغه نعمت ووچه په دې باندې خلقو له د الله ﷻ شکر کول پکار دی.

**د سلیمان ﷺتابع څیزونه:**- مونږ زوروره هوادسلیمان ﷺ ابع کړې وه چه هغه به ئې دهغه دحکم مطابق دبرکت والا زمکې یعنې شام ته به ئې رسولو. مونږ ته د هریوڅیز علم دې. هغوی به په خپل تخت باندې د خپل سازوسامان اولښکرکیناستو بیاچه به ئې چرته تلل غوښتل هوابه هغوی د حکم مطابق په یوساعت کښې هلته رسولود تخت د پاسه به مرغو وزرې خورې کړې سورې کولو لکه چه ارشاد دې ﴿فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً حَيْثُ أَصَابَ﴾ (⁴)یعنی مونږ هوادهغه تابع کړې وه چه چرته به ئې تلل غوښتل

---

¹) صحیح بخاری کتاب فضائل القرآن باب حسن الصوت بالقراءة للقرآن :۵۰۴۸، صحیح مسلم:۷۹۳، احمد:۳۴۹/۵.

²) حاکم:۴۶۶/۳ وسنده ضعیف، مجمع الزوائد:۱۷۱/۷.

³) الطبری:۴۸۰/۱۸.

⁴) ۳۸/ص:۳۶.

Scanned with Ca

هم هغه طرف ته به ئې په نرمئی سره روانولو سحر ماښام به ئې د میاشتو میاشتو مزلې کولې.

سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی شپږ زره کرسئی به ئې لګولې. نیزدې به مؤمنان انسانان ناست وو هغوی پسې شاته به مسلمانان پیریان ناست وو بیا به د هغوی په حکم باندې په ټولومرغوسورې کړې ووچه بیا به ئې حکم کولونوهوابه هغوی روانول. (١)

عبدالله بن عبیدبن عمیر رحمه الله فرمائی حضرت سلیمان عليه السلام به هوا ته حکم کولو هغه به د یوې لوئ ډیرئی غوندې جمع کیدله لکه چه غر دې بیا به ئې د هغې په اوچت مکان باندې د اودریدلوحکم کولوبیابه د وزرو په اس باندې سوریدو او په خپله فرش باندې به ورختلوبیابه ئې هوا ته حکم کولو نو هغې به اوچت ځائ ته اوړلو دغه وخت به هغوی سربښکته کولو اواخوادیخوابه ئې بالکل نه کتل په دې کښې به د هغوی عاجزی اود الله ﷻ شکرکولو مقصدوو. ځکه چه هغوی ته د خپلې عاجزئی علم وو بیا به چه کوم ځائ هغوی حکم کولو هم هلته به هوا کوزولو. دغه شان سرکشه پیریان هم الله ﷻ د هغوی په قبضه کښې کړې وو چه په سمندرکښې به ئې غوپې لګولې او مرغلرې او قیمتي کاڼرې به ئې راویستل او نور به ئې ډیر کارونه روزګارونه کول. لکه چه ارشاد دې ﴿ وَالشَّيٰطِيْنَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍۙ وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ۝ هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ۝ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ۝ ﴾ (٢) مونږ سرکشه پیریان د هغوی تابع کړې وو چه ګلکاران وو غوپې وهونکی وو اودې نه علاوه نورشیطانان هم د هغوی ماتحت ووچه په زنځیرونوکښې به تړلې شوی وواوهم مونږدسلیمان عليه السلام محافظ او ساتندونکی ووهیڅ یوشیطان به هغوی ته بدی نه شوه رسولې بلکه ټول په ټول د هغوی ماتحت حکم منونکی او تابعدار ووځوك به هغوی ته نیزدې هم نه تلل د هغوی بادشاهی به په هغوی چلیدله څوك چه به ئې غوښتل قیدکول به ئې اوڅوك چه به ئې غوښتل نو آزادول به ئې هم دائی اوفرمائیل چه څه نور پیریان به وو چه تړلې شوی وو.

وَاَيُّوْبَ اِذْ

| او (دحکم او دعلم دا نعمت مونږ ورکړې وو) ایوب له | کله چې

اوایوب عليه السلام یاد کړه | ..........................څه وخت چه

نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ

آواز اوکړو هغه | رب خپل ته | بیشکه زهٔ چې یم | رسیدلې دې ماته | ضرر (تکلیف) | او تهٔ

هغه خپل رب ته زاری اوکړه |چې ماته تکلیف رارسیدلې دې || و ته دټولونه زیات

اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا

ډیر مهربانه ئې | دټولو مهربانانو نه | پس قبوله کړه مونږه | دعا دهغه | نو لرې کړو مونږه

رحم کونکې ئې انومونږ دهغه دعا قبوله کړه | او دهغه تکلیف مو لرې کړو| اوهغه ته

مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ

هغه | چې وؤ په هغه | دضرر نه | او ورکړو مونږ هغه ته | اهل وعیال دهغه | او په مثل دهغوئ

مو خپله کورنئ واپس کړه |او ددوئ په شان مور نور خلق هم ورته

(١) حاکم: ٥٨٩/٢ عن ابن عباس رضي الله عنه.
(٢) ٣٨/ص: ٣٧-٤٠.

Scanned with Ca

مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾

مو ورسره نور هم ورکړل | خاص د رحمت په طور | د طرفه زمونږ نه | او نصیحت | د پاره د عبادت کونکو

په خپل رحمت سره ورکړل | او د عبادت کونکو د پاره نصیحت وو

**قوله تعالی:- وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّىْ مَسَّنِىَ الضُّرُّ**

**د حضرت ایوب ؑ بیماری صبراو د صحت دعا:-** د حضرت ایوب ؑ د تکلیفونو بیان کولې شي کوم چه بدني مالي او د اولاد وو. د هغوی ډېر قسم قسم ځاروي وو فصلونه باغونه وغیره وو او د اولاد بیبیانې وینځې غلامان ځناور مال متاع هرڅه د الله ﷻ ورکړې شوې موجود وو. اوس چه کله د رب د طرف نه آزمېښت راغلو نو هم دیو سر نه هرڅه فنا شو تردې چه په بدن کښې جذام اولګیدو او دژبې نه بغیرد بدن ټولې حصې ئې د دې بیماری نه محفوظ پاتې نه شوې تردې پورې چه د خواوشا خلقو ترې کرکه کوله. د ښار په شاړ کوټ کښې ئې استوګنه اختیار کړه. بغیرد یوې بی بی نه بل ځوك هغه سره پاتې نه شو د دې مصیبت په وخت کښې ترې ټولو ډډه اوکړه. هم دغه یوه وه چه د هغوی خدمت به ئې کولو او دې سره به خواری مزدوری هم کوله او د خیټې ساتلو د پاره به ئې راوړله. حضور ﷺ رښتیا فرمائیلی دی چه د ټولونه سخت ازمېښت هم د نبیانو علیهم السلام وی بیا د نیکانو خلقو بیا د هغوی نه د ښکته درجې د خلقو او بیا د هغوی نه د کمې درجې د خلقو.(۱) یو بل روایت کښې دی چه د هرسړی امتحان د هغه د دین په اندازه کیږی که هغه په خپل دین کښې مضبوط وی نو امتحان ئې هم سخت وی. (۲)

**د ایوب ؑ د صبر بیان او د هغه دعاګانې:-** حضرت ایوب ؑ ډېر زیات صابر وو تردې چه د هغه صبر د عامو خلقو په ژبه هم مشهوردې. یزیدبن میسره فرمائی کله چه د هغوی ازمېښت شروع شو یا بچ ئې مړشو مال فنا شو هیڅ څیز ئې په لاس کښې پاتې نه شو هغه د الله ﷻ په ذکر کښې نورهم زیات شو وئې فرمائیل اې د ټولو پالونکو پالونکیه تا په ما باندې لوئ لوئ احسانونه کړی مال دې راکړو اولاد دې راکړو هغه وخت زما زړه ډېر مشغول وو اوس تا هر څه واخستل اوزما زړه دې د دې ټولو فکرونو نه خالی کړو اوس زما په زړه او تا کښې هیڅ څیز مینځ کښې نشته که زما دښمن ابلیس ستا دا مهربانی پیژندلې وه نو هغه به زما سره ډېر حسد کولو. ابلیس لعین په دې وینا کولو سره او د دې وخت حمد سره لوليه شو. د هغوی په دعاګانو کښې دا هم دعاوه اې الله تا چه زه مالدار اولاد والا او یا ل بچ والا جوړ کړې ووم تاته ښه پته ده چه هغه وخت ما هیڅ کبر او غرور نه دې کړې کله مې هم په چا ظلم نه دې کړې زما ربه تاته معلومه ده چه زما نرمه اوګرمه بستره به تیاره وه ما به شپې ستا په عبادت کښې تیرولې خپل نفس ته به مې داسې رټنه ورکوله چه ته دې له نه ئې پیدا کړې شوې. ستا د رضا په طلب کښې ما خپل راحت او آرام پریخودې وو. (ابن ابی حاتم) د دې آیت په تفسیر کښې ابن ابی حاتم او ابن جریر کښې یوه ډیره اوږده قصه ده کومه چه وړاندینو ډیرو مفسرینو هم ذکر کړې ده خو په دې کښې غربت دې او دې د اوږدوالی په وجه هغه مونږ پریخوده. د مودو پورې هغوی په مصیبتونو کښې راګیر وو.

حضرت حسن رحمه الله او حضرت قتاده رحمه الله فرمائی اوه کاله او څو میاشتې هغوی دې کښې اخته وو. د بنی اسرائیلو د ګندګرېل د غورزولو ځائ (ډیران) کښې هغوی اچولې وو په بدن باندې چینجی شوې وو (۳) بیا الله ﷻ په هغوی باندې رحم اوکرم اوکړو د ټولو مصیبتونو نه ئې خلاصې ورکړو اجرئی ورکړو او

(۱) ترمذی کتاب الزهدباب ماجاء فی الصبرعلی البلاء:۲۳۹۸وهوحسن، ابن ماجه:۴۰۲۳-۴۰۲۴، احمد:۱/۱۷۲، حاکم : ۱/۴۱، المختار:۱۰۵۶.

(۲) حواله سابق.

(۳) دا خبره اسرائیلی روایت دې د انبیاء کرامو سره مناسبت نه دی ، حاشیه ابن کثیر.

Scanned with Ca

تعریفونه ئې اوکړې شودوهب بن منبه ﷺ بیان دې چه پوره دیرش کاله هغوی په دې تکلیفونوکښې وو.
ټوله غوښه ترې رژیدلې وه صرف هډوکی او څرمن پاتې وه هغوی به په ایرو کښې پراته وو اوصرف یوه
بی بی ئې وه چه هغوی سره وه. کله چه ډیره موده تیره شوه نو یوه ورځ ئې اوونیل اې د الله ﷻ نبی ته د
الله ﷻ نه دعاولې نه کوې چه هغه دا مصیبت زمونږ نه لرې کړی هغوی اوفرمائیل چه بی بی اویاکاله
الله ﷻ زه په صحت اوعافیت کښې اوساتلم نوکه اویا کاله هم زه په دې حالت کښې پاتې شم او صبر
اوکړم نودا هم ډیرکم دې. په دې باندې بی بی اورچیده او هغه به ښار ته تله د خاوند او خپل کار
روزګاربه ئې کولو اوچه څه به ملاویدل نو هغه به ئې راوړل او په هغوی باندې به ئې خوړل څکل.

**د شیطان دهوکه:**-دهغوی یودوه د زړه پورې دوستان وو هغوی په فلسطین کښې شیطان خبرکړل چه
ستاسو دوست په سخت مصیبت کښې اخته دې تاسو لاړشئی اود هغه پوښتنه اوکړئی اود ځان سره څه
شراب یوسئی هغه پرې اوڅکوئی نو دې سره به هغه ته شفاملاوشی.دا دواړه راغلل اودحضرت ایوب
ﷺداحالت ئې چه اولیدلو نود سترګونه ئې اوښکې لاړې او په چغو ئې اوژړل.هغوی تپوس اوکړو
تاسو څوك ئې؟ هغوی وریادکړل نوخوشحاله شو هغوی ته ئې پخیرراغلې اوونیل.هغوی ونیل جناب
تاسو لکه چه څه پټوئې او په ښکاره ددې خلاف کوئې.ایوب ﷺ خپلې سترګې دآسمان طرف ته اوچتې
کړې ونې فرمائیل الله ﷻ ښه پوهیږی چه مابه څه پټول اوڅه به مې ښکاره کول. زما رب زه په دې
کښې اخته کړم چه اوګوری زه صبر کوم که بې صبری. هغوی ونیل چه ښه ده مونږ تاله څه دارو راوړی
دی تاسودا اوڅکئی شفابه ملاوشی.شراب دی مونږ دخپل خائ نه راوړی دی.دې اوریدوسره هغه
سخت غصه شواوونی ونیل تاسوشیطان خبیث راوستې ئې تاسو سره خبرې کول ستاسو خوراك څښاك
په ماباندې حرام دې. دا دواړه د هغوی د خوانه لاړل.

**د شیطان بله دهوکه:**-یوځل د هغوی بی بی د کوردخلقو روټئی پخې کړې د هغوی یوماشوم اوده وو نو
هغوی د دې ماشوم دحصې ټیکلی هغې ته ورکړې دائی راوړې او حضرت ایوب ﷺ له راغله نوهغوی
اوفرمائیل چه دانن دې د کوم خائ نه راوړی دی هغې ټوله قصه بیان کړه. هغوی اوفرمائیل چه هم
اوس اوس لاړه شه ممکن ده چه هغه ماشوم راپاسیدلې وی اوهم د دې ټیکلو ضد کوی او په ژړا ژړا
ئې ټول کور پریشانه کړې وی. هغې روټئی واپس یوړې لاړه د هغوی په دروازه کښې یوه چیلئی ترلې
شوې وه هغه ئې په داسې زور سره دیکه کړه هغې ونیل ګوره دا ایوب د داسې غلط خیال والا دې. بیا
پورته لاړه چه ونې کتل نوواقعی ماشوم راپاسیدلې وو اوهم د دې ټیکلود پاره ئې شور کولو اوټول کور
ئې سخت تنګ کړې وو. دې کتلوسره ئې اوونیل الله په ایوب باندې رحم اوکړې په ډیره ښه موقعه
باندې راورسیدم ټیکلی ئې ورکړه او واپس راغله. په لارکښې شیطان د طبیب په شکل کښې ملاو شو
ونیل ستاخاوند په سخت تکلیف کښې دې مودې تیرې شوې ته هغه ته اووایه چه د فلانکې قبیلې د
بت په نوم دې یومچ مړکړی شفابه ورته اوشی بیادې توبه اوکړی. کله چه داحضرت ایوب ﷺ له راغله
نوهغوی ته ئې دا آوونیل. هغوی اوفرمائیل د شیطان خبیث جادو په تا اوچلیدو که زه کله ټیك شوم نو
سل دورې به دې وهم.یوه ورځ هغه دهرې ورځ په شان د روزګارپه لټون کښې کورپه کورګرځیدله خو
چرته هم کارملاونه شونو ناامیده شوه. د ماښام واپس راتلوپه وخت کښې ورته دحضرت ایوب ﷺ د
ولکې خیال راغلو نوهغې دخپلو ویښتویوه کمځئی پریکړه اود یومالداره جینئی په لاس ئې خرڅه کړه
هغې دې ته د خوراك څښاك ډیر سامان ورکړو کوم چه هغې کورته راوړه. حضرت ایوب ﷺ تپوس
اوکړو دا نن دومره ډیره اودومره ښه خوراکونه د کوم خائ نه راغله؟ ونې فرمائیل د یومالداره کور
کارمې کړې نوهغوی اوخوړله. بله ورځ هم اتفاقی هم داسې اوشو اوهغې د خپلو ویښتو دویمه کمځئی
پرې کړه خرڅه ئې کړه اوخوراك ئې راوړونو نن ئې هم داسې خوراك لیدوسره اوفرمائیل والله زه به ئې

Scanned with Ca

چرې هم اونه خورم چه ترڅودې ماته صحيح خبره نه وي څودلې چه دادې څنګه راوره؟ اوس هغې خپله لوپټه د سر نه کوزه کړه چه وئې کتل نودسر ويښته ئې پرې شوې ووهم هغه وخت اوويريدلو اوبې آرامه شو د الله ﷻ نه سوال اوکړوماته ضرر رسيدلې دې اوته د ټولونه ډير رحيم ذات ئې.حضرت نوف رحمه الله فرمائي کوم شيطان چه حضرت ايوب عليه السلام پسې لګيدلې وو د هغه نوم مبسوط وو. دحضرت ايوب عليه السلام بي بي به عموماً هغوی ته عرض کولو د الله ﷻ نه دعااوغواړه خو هغه به نه غوښتله ترڅو چه يوځل د بنواسرائيلوڅه خلق هغوی له راغله او وئې وئيل چه دې سړي ته دا تکليف او ضرر خامخا د څه ګناه په وجه سره شوې دې هغه وخت ناڅاپې د هغوی د خلې مبارکې نه دادعااووتله.

**د ايوب عليه السلام او دوؤ رونړو قصه:**-حضرت عبدالله بن عبيد بن عمير رحمه الله فرمائي دحضرت ايوب عليه السلام دوه رونړه وو يوه ورځ هغوی د ملاقات د پاره راغلل خود بدن د بدبوئي په وجه نيزدې رانغله اوهم د لرې نه په ولاړه ئې يوبل ته اووئيل که په دې سړي کښې څه نيکي وه نو الله ﷻ به دې په دې مصيبت کښې نه اخته کولو.دې خبرې ايوب عليه السلام ته هغه خفګان وراورسولو چه ترنن ورځې پورې په يوڅيز باندې هم داسې خفګان نه ووکړې. هم هغه وخت ئې عرض اوکړو اې الله ﷻ يوه شپه په ماداسې نه ده تيره شوې چه يواوګې سړې زماپه علم کښې وو اوما خيټه مړه کړې وي.پروردګار که زه ستا په نيز پدې خبره کښې رښتونې يم نوزماتصديق اوکړه نوهم هغه وخت دآسمان نه دهغه تصديق اوشواوهغه دواړو اوريدل. بيائې اوفرمائيل پروردګارکله هم داسې نه دې شوی چه ماسره ديوې نه زياتې کپړې وی اوما يويرنډته نه وي ورکړې که زه پدې ويناکښې رښتونې يم نوزماتصديق د آسمان نه اوکړه په دې باندې هم دهغوی تصديق ددوی په اوريدوسره اوکړې شو.بيائې دادعااوکړه اوپه سجده کښې راپريوتلو وئې فرمائيل اې الله اوس به زه د سجدې نه سر اوچت نه کړم ترکومې چه دې دا مصيبت زما نه اخواکړې نه وی کوم چه په ما باندې نازل شوې. ستا دعاقبوله شوه اوته سراوچت کړه هغه ټول تکليفونه او بيمارئې د هغوی نه لرې شوې کومې چه په هغوی باندې راکوزې شوې وې.ابن ابی حاتم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائي ايوب عليه السلام اتلس کاله په مصيبتونوکښې راګيرووبيادهغه ددوودوستانودراتلو اوبدګمانئې کولو ذکردې د څه په جواب کښې چه هغوی اوفرمائيل چه زماخوداحالت ووچه په لارکښې به مې دوه سړې په جګړه ليدل او په هغې کښې به مې چه کوم سړې په قسم خوړلو اوريدلو نو کورته په راتلوبه مې دهغه کفاره ورکوله چه هسې نه ده د الله ﷻ نوم په ناحقه سره اخستې وی. هغوی په خپله بيمارئې کښې دومره کمزورې شوې وو چه د هغوی بي بي به د هغوی لاس نيولو او قضائي حاجت له به ئې بوتلو.يوه ورځ هغوی ته حاجت وو آواز ئې اوکړو خود هغوی بي بي په راتلوکښې لږ شان وخت اولګولو هغوی ته سخت تکليف اوشو هم هغه وخت د آسمان نه آواز راغلو اې ايوب عليه السلام خپله پونده په زمکه اووه هم دا اوبه اوڅکه او هم دې سره غسل هم اوکړه. [1] د دې حديث مرفوع کيدل بالکل غريب دی.

**په ايوب عليه السلام باندې د الله ﷻ خصوصي مهرباني:**-ابن عباس رضی الله عنه فرمائي هم هغه وخت الله ﷻ د هغوی د پاره جنتي حله نازله کړه د کوم په اغوستو چه هغوی څان له شو کيناستو کله چه د هغوی بي بي راغله او وې نه پيژندلې شو نو هغوی نه ئې تپوس اوکړو اې د الله ﷻ بنده دلته يوبيمار بې کسه بې وسه وو تاته معلومه ده هغه څه شو؟ هغه وئيل چرته شرمخ به اوړې وی يا به سپی مات کړې وی. بيائې اوفرمائيل چه نه نه هم هغه بيمارايوب زه يم. بي بي ئې اوفرمائيل اې سړيه ته يودردمندې ښځې پورې ټوقې کوې اوما بې وقوفه جوړوې. هغوی وئيل نه نه ماته الله ﷻ شفاراکړه اودا رنګ او شکل هم.دهغوی مال هغوی ته واپس ورکړې شو اود هغوی هم هغه اولاد واپس دوی ته ملاوشو اوهغې

---

[1] حاکم:۲/۵۸۱-۵۸۲ سنده ضعيف الزهری عنعن،مسندالبزار:۲۳۵۷، مسندابی يعلی: ۳۶۱۷، ابن حبان:۲۸۹۸، حلية اولياء:۳/۳۷۴.

Scanned with Ca

سره دغه شان نور هم. په وحی کښې دازیرې هم هغوی ته اورولې شوې وو قربانی اوکړه استغفاراوکړه د کور والا ستا باره کښې زما نافرمانی کړې وه.

**د سرو زرو د ملخانو راوتل:**-یوبل روایت کښې دی چه کله الله ﷻ حضرت ایوب ؑ ته عافیت ورکړو د آسمان نه د سرو زرو ملخان راووریدل. کوم چه هغوی راواخستل او په خپله کپړه کښې جمع کول شروع کړل نوآوازراغلوچه اې ایوب ته تراوسه پورې اسوده شوې نه نی؟هغوی جواب ورکړو اې پروردګار ستا په رحمت سره څوک کله اسوده کیدې شی.(۱)

**د ایوب علیه السلام د بی بی نوم:**-بیا فرمانی چه مونږ هغه ته د هغه اهل ورکړو. ابن عباس ؓ فرمائی چه هم هغه خلق ور واپس کړې شو(۲) دهغوی د بی بی نوم رحمت وو.که دا قول چرې د آیت نه فهم شوې وی نو دا هم دورازکار امر دې اوکه د اهل کتابونه اخستې شوی وی نوهغه د تصدیق اوتکذیب قابل ځیز نه دې. ابن عساکر د هغې نوم په خپل تاریخ کښې "لیا" خودلې دې دا د میشابن یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم لور ده.یوقول داهم دې چه حضرت "لیا"د حضرت یعقوب ؑ لور او حضرت ایوب ؑ بی بی ده چه د ثنیه په زمکه کښې هغوی سره وه. یوروایت کښې دی چه اوفرمائیلې شوستا ټول اهل جنت کښې دې که ته غواړې نوټول دلته په دنیاکښې راولم اوکه وائې نو هم هلته دې وی اوپه دنیاکښې د هغې عوض درکړم نوهغوی دویمه خبره خوښه کړه. نود آخرت اجر اود نیابدله دواړه هغوی ته ملاوشو. دا هر څه زمونږ د رحمت ښکاره کونه وه اوزمونږ د رښتونی عبادت کونکو د پاره نصیحت اوعبرت وو. هغوی داهل بلاپیشواوداهرڅه ځکه اوشوچه په مصیبتونو کښې اینختی خلق د خپل ځان د پاره د هغوی په ذات کښې عبرت اوګوری او بې صبری اوناشکری اونه کړی او نور خلق هغوی د الله ﷻ خراب بندیګان اونه ګنړی. حضرت ایوب ؑ د صبر یوغر وواود ثابت قدمئ یو نمونه وو. د الله ﷻ په تقدیر باندې د هغه په امتحان باندې انسان له صبر اوبرداشت کول پکار دی نه ده معلومه چه قدرت خپل پټ پټ کوم کوم حکمتونه ښائی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ | وَذَا الْكِفْلِ ۭ | كُلٌّ | مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٨٥﴾ |
| او (دا نعمت مونږه) اسماعیل او ادریس له ورکړوا | او ذوالکفل له هم | دا ټول وو | دصبر کونکو نه |
| او اسماعیل ؑ او ادریس ؑ او ذالکفل ؑ یادکړه | دا ټول د صبرکونکو ځنی وو | | |
| وَاَدْخَلْنٰهُمْ | فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ | اِنَّهُمْ | مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٦﴾ |
| او داخل کړل مونږه هغوئ | په رحمت خپل کښی | بیشکه هغوئ | وؤ دصالحانونه |
| اودوئ مونږ په خپل رحمت کښې داخل کړل | بیشکه چې دغه ټول نیکان خلق وو | | |

**قوله تعالیٰ:**-وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ ۭ

**دحضرت اسماعیل، ادریس او ذوالکفل علیهم السلام تذکره:**- حضرت اسماعیل ؑ دحضرت ابراهیم ؑ ځوئ وو په سورت مریم کښې د هغه بیان شوی دې. د حضرت ادریس ؑ هم ذکر شوې دې.

**ذوالکفل نبی ووکه ولې؟ دده د بزرګئ قصه:**-ذوالکفل خو په ظاهره نبی معلومیږی ځکه چه د نبیانو په ذکر کښې دهغه نوم راغلې دې اوخلق وائی چه دانبی نه وو.بلکه یو نیک سړې وو دخپلې زمانې بادشاه

(۱) حاکم:۲/۵۸۲.
(۲) الطبری:۱۸/۹۰۶.

وو ډير عادل اود مروت سړې وو. امام ابن جرير په دې کښې توقف کوی. (۱) والله اعلم.
مجاهد رحمه الله فرمائی دا يونيك بزرګ وو چاچه د خپل وخت نبی سره وعده اوکړه اوپه هغې باندې قايم پاتې شو.په قوم کښې به ئی عدل اوانصاف کولو. روايت دې چه حضرت يسع علیه السلام ډير بوډا شوې وو نواراده ئی اوکړه چه زه هم په خپل ژوند کښې خپل څوك خليفه جوړکړم چه اوګورم هغه څنګه عمل کوی. خلق ئی راجمع کړل او ورته ئی اوفرمائيل چه کوم سړې درې خبرې منظورکړی هغه ته زه خلافت ورکوم. ټوله ورځ روژه وی ټوله شپه قيام کوی اوهيڅ کله هم غصه نه کوی. نور خو څوك اونه دريدل ولې يو سړې کوم چه خلقو ډيردسپکې درجې والا ګڼړلواودريدوچه زه به داشرط پوره کړم.هغوی تپوس اوکړوچه ته به د ورځې روژه ئی د شپې به تهجد کوې او په چابه غصه نه کوې؟ هغه وئيل او نوحضرت يسع علیه السلام وئيل چه ښه نوصبا صحيح. په دويمه ورځ هم هغوی دغه شان په عام مجلس کښې سوال اوکړو خود هغه سړی نه علاوه بل څوك اونه دريدلو نوهم هغه خليفه جوړکړې شو. اوس شيطان واړه واړه شيطانان د دې بزرګ د دهوکه کولود پاره راليګل شروع کړه خود چا هم څه داؤ اونه چليدو نو ابليس پخپله راغلو غرمه د قيلولې د پاره هغوی ملاست وو چه دې خبيث کنډه ټکول شروع کړه. هغوی تپوس اوکړوچه څوك ئی؟ هغه وئيل زه يومظلوم يم يوفريادی يم زما قوم ما تنګوی ماسره هغوی داکړی داکړی هغه يوه ډيره اوږده قصه اوروول شروع کړه نو په يوشان ئی هم نه ختموله د خوب ټول وخت په دې کښې تيرشو او حضرت ذوالکفل به په شپه ورځ کښې صرف هم دې وخت کښې لږ شان ساعت د پاره اوده کيدلو. هغه وئيل ښه ده ماښام راشه زه به ستاسره انصاف اوکړم. اوس چه د ماښام هغوی فيصلې کولې نو هر طرف ته ئی هغه کتلو خود هغه چرته هم پته اونه لګيدله تردې چه پخپله هم لاړو اواخواديخوائی اوکتلو خوپيدانه شو بل سحر هم هغه رانغلو. بيا چه هغه د لږساعت د آرام دپاره سملاستونودا خبيث راغلو او دروازه ټکول ئی شروع کړه هغوی کولاوکړه ورته ئی اوفرمائيل چه ماخوتاته ماښام د راتلووئيلې وو زه په انتظاروم خوته رانغلې. هغه وئيل حضرت څه اوکړم چه ماکله ستاسوطرف ته دراتلواراده اوکړه نوهغوی وئيل ته مه ورځه مونږبه ستا حق اداکړو زه حصارشوم اوس هغوی بياانکاراوکړو. دې وخت کښې ئی څه اوږدې قصې شروع کړې اود نن خوب هم لاړو. اوس ئی ماښام بياانتظاراوکړو نه هغه راتلو اونه راغلو. په دريمه ورځ باندې هغوی يوسړې مقرر کړو چه ګوره څوك دروازې له رانه شی دخوب نه زما حالت خرابيږی.هغوی لاملاست نه وو چه هغه مردود بياراغلو څوکيدارهغه رامنع کړو خوهغه په يوه سوړه دننه راغلو اود دننه نه ئی دروازه ټکول شروع کړه. هغوی راپاسيدل او څوکيدار ته ئی اووئيل چه ګوره ما تاته وئيلې وو بيادې هم دروازې ته څوك راپريخودل هغه وئيل زمادطرف نه خو څوك هم نه دی راغلی.اوس چه هغه په غورسره اوکتل نو دروازه بنده وه اوهغه سړې دننه موجود وو. هغوی ته پته اولګيده چه داشيطان دې. هغه وخت شيطان اووئيل اې د الله ﷻ ولی ما بيله نه تا د شپې قيام پريخودو نه ته په دې نوکر باندې په داسې حال کښې غصه شوې نو الله ﷻ د هغه نوم ذوالکفل کيخودو ځکه چه د کومو خبرو هغه کفالت کړې وو هغه ئی پوره کړې.(ابن ابی حاتم)دابن عباس نه هم په څه تفسيرسره داقصه نقل ده په دې کښې دی چه د بنواسرائيلو يوقاضی د مرګ په وخت کښې وئيلې وو چه زما نه پس زما منصب څوك سنبالولې شی؟ هغه وئيل چه زه نودهغه نوم ذوالکفل شو.په دې کښې دی چه کله شيطان دهغه د آرام په وخت کښې راغلو څوکيدار منع کړو نوهغه دومره شور اوکړو چه هغوی راپاسيدل او په دويمه ورځ ئی هم داسې اوکړه په دريمه ئی هم دغه شان اوکړه. اوس هغه د ده سره د تلود پاره تيارشو زه تاسره ځم او ستا حق درکوم خو په لار کښې هغه خپل لاس خلاص کړو او اوتختيدو.حضرت اشعری رضی الله عنه په منبر باندې اووئيل چه ذوالکفل

---

(۱) الطبری:۱۸/۵۰۷.

نبي نه وو دبنواسرائیلو یونیك سړې وو چه هره ورځ به ئې سل مونځونه کول دې نه پس هغه هم د دې په شان د عبادت ذمه اوچته کړه په دې وجه هغه ته ذوالکفل اووئیلې شو. په یومنقطع روایت کښې دی د حضرت ابوموسی اشعری ﷺ نه هم نقل دی یوغریب حدیث په مسنداحمد کښې دی په دې کښې د کفل یوه واقعه بیان ده ذوالکفل ئې ورته نه دې وئیلې ډیر ممکن دی چه دا څوك بل صاحب وی. په دې حدیث کښې واقعه دا ده چه کفل نومې یوسړې وو چه د یوې ګناه نه نه بچ کیدو. یوځل هغه یوې ښځې له شپیته دیناره ورکړه اود بدکارئی د پاره ئې تیاره کړه کله چه د خپلې ارادې پوره کولود پاره تیارشو نو هغه ښځه په ژړا شوه او په ړچیدو شوه. هغه وئیل چه ماخوږه تا څه زبردستی نه ده کړې چه ته ژړا کوې بیا د دې ژړا او ړچیدو څه وجه ده؟ هغې وئیل چه ما ترننه پورې د الله ﷻ داسې هیڅ نافرمانی نه ده کړې دې وخت کښې زما محتاجئی دا بده ورځ ماته اوخودله. کفل وئیل چه ته په یوه ګناه باندې دومره په ترددکښې ئې سره د دې چه دې نه وړاندې کله هم تا داسې نه دی کړې. هم هغه وخت ئې پریخوده اود هغې نه جداشو او ورته ئې اووئیل څه دا دینار ماتاته اوبښل په الله ﷻ قسم د نن نه پس به زه د الله ﷻ هیڅ قسم نافرمانی اونه کړم. د الله ﷻ شان وو چه هم په هغه شپه وفات شو سحر خلق ګوری چه د هغه په دروازه باندې قدرتی توګه باندې لیکل شوی ووچه الله ﷻ کفل اوبښلو. (١)

| |
|---|
| وَذَا النُّوْنِ . اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ |
| او دا (نعمت مونږ ورکړو) مهی والاله \| کله چې \| لاړو هغه \| په غصه \| نو ګمان ئې اوکړو \| |
| اودمهی والا (یونس ؑ) یادکړه \| څهٔ وخت چې هغه خفه قهریدلې روان شو\|او داخیال ئې اوکړو چې مونږ |
| اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَیْهِ فَنَادٰی فِی الظُّلُمٰتِ |
| چې هر ګزتنګسیارانولو \| په ده باندې \| نو اواز اوکړو هغه \| په تیرو کښې |
| به په ده تنګسیا نه راولو\|........نو په تورو تیارو کښې ئې اواز اوکړو \| چې (ائې الله ﷻ) |
| اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ |
| چې نشته لائق دعبادت \| مګر \| هم تهٔ ئې \| پاك دې ذات ستا \| بیشکه زهٔ \| ووم |
| ستا نه بغیر بل معبود نشته \| ته پاك ئې \| بیشکه چې هم زه زیاتې کونکې یم |
| مِنَ الظّٰلِمِیْنَ (٨٧) فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَنَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ |
| دظالمانونه \| پس دعا قبوله کړه مونږه \| دهغه \| او خلاصې ورکړو مونږ هغه لره \| دغم نه |
| نو مونږ دهغه دعا قبوله کړه \|.........او هغه مو دغم نه خلاص کړو |
| وَكَذٰلِكَ نُنْجِی الْمُؤْمِنِیْنَ (٨٨) |
| او دارنګې\| خلاصې ورکوؤ مونږ \| مومنانو له \| |
| اومونږ ایماندار خلق هم داشان د غم نه خلاصوو\| |

قوله‌تعالی:-وَذَا النُّوْنِ

**دحضرت یونس ؑ ذکر:-** -داواقعه دلته هم ذکر ده اوسورة صافات کښې هم ده اوسورة نون کښې هم ده.داپیغمبرحضرت یونس بن متی ؑ وو.هغه د موصل دعلاقې د نینوی طرف ته نبی جوړکړو الله ﷻ

(١) احمد:٢/٢٣، ترمذی کتاب صفة القیامة باب فیه اربعة احادیث:٢٤٩٦ حاکم:٤/٢٥٢ (التقریب:١/٢٩٠ رقم:١١٢)

ليګلي وو. هغوی د الله ﷻ د لارې دعوت ورکولوخو خلقو ايمان راونړلو هغوی د هغه ځائ نه خفه شو لاړو اوهغه خلقو ته ئې اووئيل په دريوورځوکښې به د الله ﷻ عذاب په تاسو راځي. کله چه هغوی ته د دې خبرې حقيقت معلوم شو اوهغوی ته پته اولګيده چه پيغبران عليهم السلام دروغژن نه وی دا ټول په ټول سره دلويو ورو او ښناوروڅاروو ځنګل ته اووتل بچی د مښيندونه جدا کړل او په چغوچغو ئې الله ﷻ ته زاری اوفريادونه اوکړل. يو خواد دوی چغې ويناګانې بل طرف ته د هغوی د څارووعجيبه آوازونه غرض داچه د الله ﷻ رحمت متوجه شو عذاب اوچت کړې شو لکه چه ارشاددې ﴿فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّا آمَنُوا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ﴾([1])يعنى د عذابونو د تحقيق نه پس ايمان چاته فائده نه ده ورکړې بغيرد يونس ﷺ دقوم نه چه د هغوی د ايمان په وجه مونږ دهغوی نه عذاب اخوا کړو اوددنيادرسوائې نه هغوی مونږبچ کړل اودمرګه پورې موورته مهلت ورکړو.

**يونس عليه السلام د قوم نه خفه لاړو کشتئ کښې سور شو:**-حضرت يونس ﷺ د دې ځائ نه لاړو او په يوه کشتئی کښې سور شو وړاندې تلوسره د طوفان آثار ښکاره شو او نيزدې وه چه کشتئی ډوبه شوې وه نومشوره اوکړې شوه چه يوسړې په درياب کښې غورزول پکاردی. چه دا وزن کم شی نو خسنړې د حضرت يونس ﷺ په نوم راووتلو چا هغه په درياب کښې غورزول خوښ نه کړه يه دويم ځل خسنړې اوشو هم د هغه نوم راووتلو بيا په دريم ځل هم دهغه نوم راووتلوپخپله په قرآن کښې دی ﴿فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ﴾([2])دې ځل حضرت يونس ﷺپخپله تيارشواوکپړې ئې اوويستلې اودرياب ته ئې ورټوپ کړو. دبحر اخضر نه يوکب اوبه شلونکې راغلو هغوی ئې يوه نوړئې کړل خود الله ﷻ په حکم ئې نه څه هډوکې مات کړو اونه ئې بدن ته څه نقصان اورسولو دې د هغه خوراك نه وو بلکه د ده خيټه د هغه قيدخانه وه. هم په دې وجه دهغوی نسبت د کب طرف ته اوکړو. عربی کښې کب ته نون وائی د هغه غضب اوغصه په قوم باندې وه([3])خيال دا وو چه هغه به الله ﷻ زرنه رانيسی نودلته د ﴿نقدر﴾هم دا معنى ابن عباس رضي الله عنه مجاهد رحمه الله ضحاك رحمه الله کړې ده.([4])امام ابن جرير رحمه الله هم داخوښوی اوددې تائيد په آيت ﴿ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا﴾([5]) نه هم کيږی. عطيه عوفی رحمه الله دامعنى کړې ده چه مونږ به په ده باندې نه مقدرکوو﴿قَدَرَ﴾ او﴿قَدَّرَ﴾ دواړه لفظونوهم په يوه معنى کښې وئيلې شی. ددې په سندکښې د عربی ديوشعر نه علاوه ﴿فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ﴾ ([6]) هم پيش کولې شی.

**د مهی په خيټه کښې د يونس ﷺ دعا او تسبيح:**-په دې تياروکښې راګيريدو سره حضرت يونس ﷺ خپل رب رابللو.دسمندر لاندې تياره بيا د کب د خيټې تياره بيا دشپې تياره دا ټولې تيارې راجمع شوې وې([7])هغوی د سمندرپه بيخ کښې د کاڼړو تسبيح واوريده او پخپله ئې هم تسبيح کول شروع کړو.هغه د کب خيټې ته لاړو اول خو ئې خيال کوو چه مړشوم بيائی پښې اوخوزولې نواوخوزيدې يقين ئې اوشوچه ژوندې دې هم هلته په سجده کښې پريوتلواو وئيل اې الله ما ستا د پاره هم دا ځائ جمات

---

[1]) ۱۰/يونس:۹۸.

[2]) ۳۷/الصافات:۱٤۱.

[3]) الطبری:۱۸/٥۱۱

[4]) الطبری:۱۸/٥۱٤.

[5]) ٦٥/الطلاق:۷.

[6]) ٥٤/القمر:۱۲.

[7]) حاکم:۲/۳۸۳.

Scanned with Ca

جوړکړو چاچه دې نه وړاندې په داسې ځایْ د سجدې نه وی جوړکړې.(۱)حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه ځلوېښت ورځې هغوی د کب په خیټه کښې وو.ابن جریرکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی کله چه الله ﷻ دحضرت یونس علیه السلام د قید کولواراده اوکړه نوکب ته حکم اوشو نوهغه تیرکړی خوداسې چه نه ئې هډوکی مات شی اونه ئې په بدن باندې څه کرځې راشی.کله چه هغه د سمندرېیخ ته اورسیدو اوتسبیح ئې واوریده نو حیران شو وحی اوشوه چه دا د سمندرد ښناورو تسبیح ده نوهغوی هم د الله ﷻ تسبیح شروع کړه. دې اوریدو سره فرښتو وئیل یا الله دا خود ډیر لرې نه دې ډیر کمزورې دا د چا دې مونږ خوئې نه پیژنو. جواب ملاو شو دا زما د بنده حضرت یونس علیه السلام آواز دې هغه زما نافرمانی اوکړه ما هغه د کب په خیټه کښې قیدکړو هغوی وئیل اې ربه دهغه اعمال خو به شپه ورځ هروخت راختل الله ﷻ د هغوی سفارش قبول کړو کب ته حکم اوشو چه هغه دې غاړې ته اوغورزوی(۲)په تفسیر ابن کثیر په یوه نسخه کښې دارِوایت هم دې حضورﷺ اوفرمائیل چه هیڅ چا له لائق نه دی چه هغه ځپل ځان ته د یونس بن متی نه غوره اووائی دالله ﷻدې بنده په تیاروکښې دځپل رب تسبیح بیان کړې ده(۳)پورته چه کوم یوروایت تیرشود هغې هم دا یو سنددې.ابن ابی حاتم کښې دی حضورﷺ فرمائی کله چه حضرت یونس علیه السلام دا دعااوکړه نودا کلمات د عرش نه چاپیره تاویدل فرښتو وئیل د ډیر لرې آواز دې خوغوږونه مو دې سره د وړاندې نه بلد دی آواز ډیر کمزورې دې الله ﷻ اوفرمائیل ولې تاسو اونه پیژندلو؟ هغوی وئیل نه الله ﷻ اوفرمائیل دا زماد بنده یونس آواز دې.فرښتو وئیل هم هغه یونس د چا پاك عمل او قبول شوې به هره ورځ ستا طرف ته راختلواود چا دعاګانې چه تاته قبولې وې اې الله چه څنګه هغه دآرام په وخت کښې نیکی کوله نو د دې مصیبت په وخت کښې په هغه رحم اوکړه. هم هغه وخت الله ﷻ کب ته حکم اوکړو چه بغیر تکلیف نه هغه غاړې ته اوغورزوه.(۴) بیا فرمائی چه مونږ دهغه دعاقبوله کړه اودغم نه موورته خلاصې ورکړودتیارونه موراوایستلوهم دغه شان مونږ ایماندارو ته خلاصې ورکوو.هغوی په مصیبتونو کښې چه راګیرشی نوهم مونږ ته آوازکوی اومونږدهغه دست ګیری کوواوټول مشکلات ورته آسانوو. خاص کر چه څوك دا د یونس علیه السلام دعا اولولی دکوم چه سید الانبیاء رسول الله ﷺ ترغیب ورکړې دې.

**دیونس علیه السلام والا دعا مقبوله دعا ده**:-مسنداحمد اوترمذی وغیره کښې دی حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائی زه جمات ته لاړم هلته حضرت عثمان رضی الله عنه موجودوو. ما سلام اوکړو هغوی ماته په غورسره اوکتل اوزما دسلام جواب ئې رانه کړو.ماامیرالمؤمنین عمررضی الله عنه ته شکایت اوکړوهغوی عثمان راوغوښتو اود واقعه تپوس ئې ترې اوکړو چه تاسود یومسلمان رور د سلام جواب ولې ورنه کړو؟ هغوی اوفرمائیل نه دې راغلې نه ده سلام کړې اونه دا چه ماده له جواب نه دې ورکړې. په دې باندې ما قسم اوخوړو نوهغه هم زما په مقابله کښې قسم اوخوړلو بیا څه خیال کولوسره حضرت عثمان رضی الله عنه توبه اواستغفار اوکړو او وئې فرمائیل ټیك ده چه ته وتلې وې خوهغه وخت ما ځپل زړه سره هغه خبره کوله چه ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلې وه. والله کله چه هغه ماته یاده شی نوزما په سترګونه بلکه زماپه زړه باندې هم پرده پریوځی. حضرت سعد رضی الله عنه اوفرمائیل زه تاته د هغې خبر درکوم رسول الله ﷺ زمونږ په وړاندې اول هم د دعاذکر کړې وو چه یواعرابی راغلو اوحضورﷺ ئې په ځپلو خبروکښې مشغول

(۱) الطبری:۱۸/۵۱۸، حاکم:۲/۵۸۵.
(۲) الطبری:۱۸/۵۱۸ مجمع الزوائد:۷/۱۰۱.
(۳) مصنف ابن ابی شیبة:۳۱۸۵٤،موقوفًا علی علی رضی الله عنه وسنده حسن دَ سبح الله فی الظلمات نه علاوه دا روایت په صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی ﴿وهل اتاك حدیث موسی﴾:۳۳۹۵.
(۴) ابن ابی حاتم.

Scanned with Ca

کړو ډیر زیات وخت تیرشو بیاحضورﷺ د هغه ځائ نه پاسیدواوکورته ئی تشریف یوړو. زه هم
حضورﷺ پسې شاته ووم. کله چه حضورﷺ کورته نیزدې اورسیدو نوماسره ویره وه چه.حضورﷺ چرته
کورته لاړنه شی اوزه پاتې شم نوما په زوره زوره په زمکه پښې وهلوسره تلل شروع کړه. حضورﷺ زما
د څپلوکشار واوریدو نوزما طرف ته ئی اوکتل او وئی فرمائیل څوك ابواسحاق؟ ماوئیل اوجی
یارسول الله ﷺ! هم زه یم. حضورﷺ اوفرمائیل څه خبره ده ماوئیل حضورﷺ تاسو د اول دعاذکر اوکړو
بیا هغه اعرابی راغلو اوتاسو مشغول شونی. حضورﷺ اوفرمائیل او او هغه دعا د حضرت ذوالنون
عليه السلام وه چه هغه د کب په خیټه کښې کړې وه یعنی ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ﴾ (١) واوره کوم
یومسلمان چه په کومه یوه معامله کښې هم د خپل رب نه دا دعا اوکړی الله ﷻ هغه ضرور قبلوی. (٢)
دې دعا سره دعااوکړی د هغه دعابه خامخا عليه السلام ابن ابی حاتم کښې دی څوك هم چه د حضرت یونس
فرمائی هم پدې آیت کښې ددې نه پس فرمان دې چه مونږهم دغه شان رحمة الله عليه قبلولې شی(٣)ابوسعید
هغه نوم په کوم سره چه راوبللې ﷻ فرمائی دالله ﷺمؤمنانوته خلاصې ورکوو.ابن جریرکښې دی حضور
په دعاکښې دې. عليه السلام شی اوقبول ئی کړی اوچه څه اوغوښتې شی هغه ورکوی هغه د یونس بن متی

**دیونس علیه السلام دعاټولومسلمانانو دپاره عامه ده:-** حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائی ماوئیل
یارسول الله ﷺ هغه صرف د حضرت یونس عليه السلام د پاره خاص وه یاد ټولومسلمانانود پاره عام ده. وئی
فرمائیل دهغه دپاره خاص اود ټولومسلمانانود پاره عام ده څوك هم چه دادعااوکړی. آیاتا په قرآن پاك
کښې نه دی لوستلی چه مونږ دهغه دعا قبوله کړه هغه مو د غم نه خلاص کړواودغه شان مونږ مؤمنان
خلاصوو. نوچه څوك هم دا دعااوکړی د هغه د پاره د الله ﷻ د قبلولووعده شوې ده. (٤)
ابن ابی حاتم کښې دی چه کثیر بن معبد فرمائی ما د امام حسن بصری رحمة الله عليه نه تپوس اوکړو ابوسعید!
د الله ﷻ هغه اسم اعظم چه کله د هغې سره د هغه نه دعااوکړې شی او الله ﷻ ئی قبوله کړی اوچه کله
د هغه نه هغې سره سوال اوکړې شی نوهغه ئی ورکوی کوم یودې؟ هغوی جواب ورکړو وراره آیا تا په
قرآن کریم کښې د الله ﷻ دا فرمان نه دې لوستلې؟ بیاهغوی هم دا دوه آیاتونه اولوستل اوونی
فرمائیل وراره دا د الله ﷻ اسم اعظم دې کله چه دې سره دعااوکړې شی هغه قبلوی اوکله چه د هغه نه
په دې سره غوښتنه اوکړې شی هغه ئی ورکوی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَزَكَرِيَّآ | | | | | اِذْ |
| او (دا نعمت ورکړو مونږ) زکریا له | | | | | کله چې |
| او زکریا عليه السلام یاد کړه څه وخت چې | | | | | |
| نَادٰى | رَبَّهٗ | رَبِّ | لَا تَذَرْنِیْ | فَرْدًا | وَّاَنْتَ |
| آواز اوکړو هغه | رب خپل ته | اے ربه زما | مهٔ پریږده ما | یوازې | او هم ته ئې |
| هغه د خپل رب نه دعا اوکړه اچې ائې زما ربه ! ما یوازې لاوارثه مه پریږده | | | | | اوهم ته |

(١) ٢١/الانبياء:٨٧.
(٢) احمد:١/١٧٠، كتاب الدعوات باب فی دعوة ذی النون....٣٥٠٥وسنده صحيح، مسندابی يعلی:٧٧٢،السنن الكبری للنسائی:١٠٤٩٢
(٣) حاكم:٢/٣٨٢وسنده صحيح، مسند ابی يعلی:٧٠٧.
(٤) الطبری:١٨/٥١٩، حاكم:١/٥٠٦،

Scanned with Ca

خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ﴿٨٩﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى

بهتره دوارثانو نه | نو دعا قبوله كړه مونږه | دهغه | او وركړو مونږ | هغه ته | يحيى

دټولو نه بهتر وارث ئې| نومونږ دهغه دعا قبوله كړه |او ورته مو يحيى ؑ وركړو

وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ

اواصلاح اوكړه مونږ | دده دپاره | ددهٔ دښځې | بيشكه هغوئ | وو | چې تلوار به ئې كوله |

اودده بى بى مو ددهٔ دپاره داولاد قابله كړه |بيشكه هغوى به دنيكئ په كارونو كښې

فِى الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ وَكَانُوْا لَنَا

په نيكو كارونو كښې | او آواز به ئې كوهٔ مونږ ته | په مينه | او په يره سره | او وو هغوئ | مونږ ته

دتلوار كولو|......اومونږ به ئې په اميد اوويره سره يادولو| او مونږ ته به ئې عاجزى

خٰشِعِيْنَ﴿٩٠﴾ وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا

تيټيدونكى | اوياده كړه قيصه دهغه جينى|چې حفاظت ئې كړې ووٰدشرم دځائې خپل|نوپو كړو مونږ

كوله | ...او د هغې زنانه (مريم) ذكر اوكړه |چا چې خپل عزت بچ كړې وو| نو مونږ په

فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ﴿٩١﴾

په هغې كښې | دروح خپل نه | او اوګرزوله مونږه هغه | او ځوئې دهغې | نښه | دپاره دخلقو |

هغې كښې خپل روح پوک وهل| اوهغه ښځه اودهغې ځوئې مو دټولې دنيا دپاره يو نښه اوګرځوله |

**قوله تعالى:- وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ**

**دحضرت زكريا ؑ واقعه:-** -الله ﷻ دحضرت زكريا ؑ قصه بيانوى چه هغه دعا اوكړه چه زما دې اولاد وى چه زمانه پس نبى جوړشى.په سورت مريم اوسورت آل عمران كښې داواقعه په تفصيل سره ده. هغوى دادعاد خلقونه پټه كړې وه. مايوازې مه پرېږده يعنى بې اولاده. ددعانه پس ئې دالله ﷻ ثنا اوكړه ځنګه چه ددې دعا لائق وه. الله ﷻ د هغوى دعاقبوله كړه اود هغوى بى بى د چا چه د بوډيوالى پورې اولاد نه وو شوې د اولاد قابله ئې جوړه كړه. (١)

بعضې خلق وائى چه د ژبې اوږدوالې ئې بندكړو اوبعضې وائى د اخلاقوكمې ئې پوره كړو خود قرآن الفاظوته نيزدې هم ړومبنى معنى ده. دا ټول بزرګان د نيكوطرف ته اود الله ﷻ د حكم منلوطرف ته منډوترړو والا وو. (٢) او په لالچ او ويرې سره به ئې د الله ﷻ نه دعاګانې كولې او رښتونى مؤمنان د رب خبرې منونكى اود الله ﷻ ويره لرونكى تواضع عاجزى او كونكى اود الله ﷻ په وړاندې خپله عاجزى ښكاره كوله. (٣)

**دعاء كښې ديره عاجز پكار ده :-** روايت دې چه حضرت ابوبكرصديق ؓ په خپله يوه خطبه كښې فرمائيل خلقو زه تاسوته د الله ﷻ نه دويريدلو اود هغه پوره ثناوصفت بيانولو اوپه لالچ اوويرې سره د دعاګانو غوښتلو او په دعاګانوكښې خشوع اوخضوع كولووصيت كوم. ګورئې الله ﷻ د حضرت زكريا ؑ د

(١) الطبرى:١٨/٥٢٠.
(٢) الطبرى:٢/١٦.
(٣) الطبرى:٢/١٦.

Scanned with Ca

کورنئی هم دا فضیلت بیان فرمائیلې دې بیا هغوی دا ایت مبارك تلاوت کړو. (۱) ګرخولې دې.

**د حضرت مریم بی بی د خیرذکر:-** د حضرت بی بی مریم اوحضرت عیسی ﷺ قصه بیانوی. په قرآن کریم کښې عموماد حضرت زکریاﷺ اوحضرت یحیی ﷺ قصه سره هم دهغوی قصه بیانیږی ځکه چه په دې خلقو کښې پوره ربط دې. حضرت زکریاﷺ د پوره بوډاوالی په حال کښې دهغوی بی بی د خوانئی دعمر نه راتیره شوې پوره عمر بې اولاده وه هغې له ئی اولاد ورکړو اود دې قدرت د خودلو سره بیا صرف یوې ښځې ته بغیرد خاوندنه اولاد ورکول دا د نور قدرت کمال ښکاره کوی. په سورت آل عمران او سورت مریم کښې هم دا ترتیب دې د عصمت والا د ښځې نه مراد بی بی مریم ده. لکه چه ارشاد دې ﴿وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ﴾ (۲) یعنی دعمران لور چه مریم وه پاکه بی بی وه هغه اود هغې ځوئ حضرت عیسی ﷺنی د خپل قدرت بې مثاله نښه جوړه کړه چه مخلوق ته د الله ﷻ د هرقسم قدرت اود هغه د پیداکولو کولاو اختیارات اوتصرف په خپله اراده سره څیزونه جوړول معلوم شی.عیسی ﷺ د الله ﷻ دقدرت یوه نښه وود پیریانو دپاره هم اود انسانانو د پاره هم.

اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۹۲﴾

بیشکه | دا امت ستاسو | امت یو دې | او زه | رب ستاسو یم | نو پس عبادت کوئ زما

بیشکه ستاسو دا امت هم یو امت دې | او زه ستاسو رب یم | نو تاسوهم زما عبادت کوئی

وَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ۭ كُلٌّ اِلَيْنَا رٰجِعُوْنَ ﴿۹۳﴾

او ټوټې ټوټې کړو دې خلقو | کار ددین خپل | په منځ خپل کښې | ټول | مونږ ته | واپس راتلونکی دی

اودې خلقو په خپل دین کښې اختلافات اوکړو | ............ هر یو به مونږ ته پیش کیږی

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ

نو څوك چې عمل کوی | دنیکو کارونو نه | او هغه وی | مومن | پس نهٔ به کیږی ناقدری

نوڅوک چې دنیکئ کارونه کوی | او هغه مومن هم وی | نودهغه د کوشش به هیڅکله ناقدری اونشی

لِسَعْيِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿۹۴﴾ وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ

دکوشش دهغه | او بیشکه مونږه | دغه کار لره | لیکونکی یو | او حرام دی | په هغه کلی باند

او مونږ دهغه عملونه لیکو | ............ اوکومه ښاریه چې مونږ تباه کړې ده

اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾ حَتّٰٓى اِذَا

چې هلاك کړې وی مونږ هغه | چې بیشکه هغوئ | به واپس نهٔ راځی | تر هغې پورې | کله چې

دهغې داوسیدونکو دپاره ممکن نه ده | چې هغوئ به بیا دنیا ته واپس راشی | تر دې چې

فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ

پرانستې شی | یاجوج او ماجوج | او هغوئ | دهرې لورې نه | په جلتی راکوزیږی |

یاجوج او ماجوج راخواره شی | او هغوئ به د هرې لورې نه په منډه کوزیږی

---

(۱) حاکم:۲/۳۸۳

(۲) ۶۶/التحریم:۱۲.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَنْسِلُوْنَ﴿۹۶﴾ | وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ | فَاِذَا | هِيَ | شَاخِصَةٌ |
| او رانزدې شي | وعده حقه (قیامت) | نو یو دم به | حالت داسې وی | چې تیغی به راوتلی وی |

او ربښتینې وعده رانزدې شوه| نو ددغې کافرانو خلقو سترګې به وازې پاتې شي

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَبْصَارُ | الَّذِيْنَ كَفَرُوْا | يٰوَيْلَنَا | قَدْ كُنَّا | |
| سترګې | دهغه کسانو | چې کفر ئې کړې وی | (او وائی به ) اے هلاکته زمونږه | وو مونږه |

...........(بیا به هغوئ وائی چې) افسوس مونږ ددې حقیقت نه په غفلت کښې پاتې شوې وو

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فِيْ غَفْلَةٍ | مِّنْ هٰذَا | بَلْ كُنَّا | ظٰلِمِيْنَ﴿۹۷﴾ | |
| په غفلت کښې | ددې (بدانجام ) نه | بلکه وو مونږه | ظالمان | |

.............نه ا بلکه په ځان مونږ ظلم کړې وو|

**قوله تعالى:-اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً**

**امت یو رب یو:-** ارشاددې چه ستاسو د ټولوهم یودین دې د کولواونه کولو احکام په تاسو ټولوکښې یو شان دی.﴿هٰذِهٖٓ﴾ اسم دې د﴿اِنَّ﴾او﴿اُمَّتُكُمْ﴾خبر دې او﴿اُمَّةً وَّاحِدَةً﴾حال دې یعنی داشریعت کوم چه بیان شو ستاسو دټول متفق علیه شریعت دې دکوم چه اصلی مقصد دالله ﷻ توحیددې.لکه آیت ﴿يٰٓاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ۭ اِنِّىْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ﴿۵۱﴾ وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ﴿۵۲﴾﴾پورې([1])دې.رسول الله ﷺ فرمائی زمونږدانبیاؤکرامو ډله داسې ده لکه دیوپلارخامن چه دین دټولویودې یعنی الله وحده لاشریك له اګرچه د شریعت احکام عبادت دی([2])د قرآن پاك ارشاد دې ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ۭ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ﴿۴۸﴾﴾ ([3])دهر یو لاراوطریقه ده.بیا خلقواختلاف اوکړو بعضې پخپلو نبیانو ایمان راوړواوبعضو نه دې راوړې. د قیامت په ورځ د ټولوواپس کیدل هم زماطرف ته دی هریوته به دهغوی د عملونو بدله ورکوی نیکانو ته نیکه بدله اوبدانوته بده سزا.د چا په زړه کښې چه ایمان وی اود چا اعمال نیك وی د هغوی عملونه به ضائع کیږی نه.لکه چه ارشاددې ﴿اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا﴿۳۰﴾﴾([4])دنیك کارکونکو اجرمونږ نه ضائع کوود داسې اعمالو قدردانی کوودیوې ذرې برابرمونږظلم نه کوو.ټول اعمال لیکلې کیږی هیڅ څیز پریخودې کیږی نه.

**د یأجوج ماجوج تذکره:-** د هلاك شووخلقوبیاواپس دنیاته راتلل محال دی داهم مطلب کیدې شی چه د هغوی توبه قبوله نه ده خواولنئی قول اولی دې. یاجوج ماجوج د آدم ﷺ د نسل نه دی بلکه دا د حضرت نوح ﷺ دځوئ یافث د اولاد نه دی د چا د نسل نه چه ترك دی اودا هم د هغوی یوه ډله ده. دوی د ذوالقرنین د جوړکړې شوی دیوال نه بهر پریخودلې شوی وو هغه دیوال جوړولوسره فرمائیلې وو دا زما د رب رحمت دې اود الله ﷻ په مقررشوی وخت به دوی ذره ذره کړې شی اوزما د رب وعده حق ده. ([5])

---

[1] ) ۲۲/المؤمنون:۵۱-۵۲.
[2] ) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قوله تعالی مختلف ﴿واذکر فی الکتاب مریم.....﴾:۳۴۴۳،صحیح مسلم:۲۳۶۵.
[3] ) ۵/المائدة: ۴۸.
[4] ) ۱۸/الکهف:۳۰.
[5] ) ۱۸/الکهف:۹۸. الخ

Scanned with Ca

یاجوج ماجوج به قیامت سره نیزدې د هغه ځایٔ نه راوځی او په زمکه کښې به فساد خوروی. هر اوچت
ځایٔ ته عربی کښې حدب وائی د هغوی د راوتلوپه وخت کښې به د هغوی داحال وی نوداخبرته داسې
واوره لکه چه اوریدونکی په خپلو سترګوسره وینی او په واقعې کښې د ټولونه رښتونې خبرد الله ﷻ نه
زیات د چا به وی چه د غیب اوحاضر پیژندونکې، د شوو او کیدونکوخبرونه خبر دې. ابن عباس ﷺ
هلکان په ټوپونو منډو تررواوپه شاباندې سورلی اخستل اوکتل نو وئی فرمائیل چه دغه شان به یاجوج
ماجوج راځی. (۱)
په ډیروزیاتو احادیثوکښې ددوی دراوتلوذکردې. مسنداحمدکښې رسول الله ﷺ فرمائی یاجوج ماجوج
به کولاوولې شی اوهغوی به خلقو له رارسی لکه چه د الله ﷻ فرمان دې ﴿ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ۝ ﴾(۲)
هغوی به خواره شی او مسلمانان به په خپلو ښارونو او قلعه ګانوکښې راغونډشی او ځناور به هم هلته
یوسی او خپلې اوبه به په دوی باندې څکی. یاجوج ماجوج چه په کوم یونهرباندې تیریږی د هغې اوبه
به صفا اوڅټی تردې چه په هغې کښې به دوړې الوزی.دهغوی چه کله بله ډله هلته راورسی هغوی به
وائی چه کیدې شی په څه زمانه کښې په دې کښې اوبه وې.کله چه دااوګوری په مخ دزمکې به څوک
هم نه وی وائی به چه دزمکې والا نه اوزګارشوراځئی چه د آسمان والا خبرواخلو.نو په دوی کښې به یو
شیطان خپله لنده راتاوکړی او دآسمان طرف ته به یوغشې اوغورزوی دالله ﷻ په قدرت به هغه د وینو
ککړهغه له واپس راشی دابه هم یوقدرتی ازمیښت وی بیابه د هغوی په ستونوکښې غوټې اوشی او هم
په دې وباکښې به دا ټول په ټول په یوځل مردارشی یوبه هم باقی پاتې نه شی ټول شور ژوګ به ختم
شی. مسلمانان به وائی چه څوك شته چه زمونږ د پاره خپل ځان په لاس کښې کیږدی اود ښار نه بهر
لاړ شی اودادښمنان اوګوری چه په کوم حال کښې دی؟یوصاحب به د دې دپاره تیارشی او خپل ځان به
قتل شوې اوګڼړی اودمسلمانانو دخدمت د پاره به راوځی.ګوری به چه ټول ډیرې شوی دی اوټول هلاك
شوی پراته دی.دی به هم هغه وخت آواز اوکړی مسلمانانو خوشحاله شئی الله ﷻ پخپله ستاسو
دښمنان تباه کړل دادی ډیری شوی پراته دی.اوس به مسلمانان بهرراشی اوخپل څاروی به بهر راوباسی
د هغوی د پاره به ګیاه صرف د هغوی د غوښې نه بغیر بل هیڅ نه وی دوی به د هغوی غوښې خوری او
ښه به چاق اوتازه شی. (۳)

**ددجال ذکر او دهغه فساد:**-مسنداحمدکښې دی حضورﷺ یوځل سحر سحر د دجال ذکر اوکړواوداشان
چه مونږ وئیل که ددې ونوشاته دې اوهم اوس راوتل غواړی. حضورﷺ اوفرمائیل چه ماته د دجال نه
زیاته ویره په تاسوباندې دهغه څیز ده که دجال زماپه موجودګئی کښې هم راووتلو زه به هغه سره پوهه
شم خو په تاسوکښې هرسړې دهغه نه بچ شئی زه تاسو دالله ﷻ په امان کښې ورکوم. هغه به عمر کښې
ځوان ګورګوتی ویښته کاڼړې راوتلې سترګې والا دې هغه به دشام او عراق د مینځ نه راوځی ښی او
ګس طرف ته به ګرځی اې د الله ﷻ بندیګانوتاسو ثابت قدم اوسیږئی.مونږ وئیل یارسول الله ﷺ هغه به
څومره حصاروی. حضورﷺ اوفرمائیل څلویښت ورځې او یوه ورځ به د یوکال په مثال وی یوه ورځ د
یوې میاشتې په مثال او یوه ورځ د یوې جمعه په مثال او باقی ورځې د نورو ورځو په شان. مونږ تپوس
اوکړویارسول الله ﷺ چه کومه ورځ د کال برابره وی په هغې کښې به مونږ له هم دا پنځه مونځونه کافی
وی؟ وئی فرمائیل چه نه تاسو په خپله اندازه باندې په خپل وخت مونځ اداکوئی مونږ تپوس اوکړو چه

(۱) الطبری:۵۲۸/۱۸.
(۲) ۲۱/الانبیاء:۹۶.
(۳)احمد:۷۷۰/۳، ابن ماجه کتاب الفتن باب فتنة الدجال وخروج عیسی بن مریم:۴۰۷۹ وسنده حسن،مسندابی یعلی:۱۳۵۱، حاکم:۴۸۹/۴،
ابن حبان:۶۸۳.

Scanned with Ca

د هغه رفتاربه څنګه وی؟وئی فرمائیل لکه چه اوریځ وی او هوائی د یوخوانه بل خواته اوړی ځی. یوې قبیلې له به لاړشي هغوی به خپل ځان له راوغواړي هغوی به د ده اومنی آسمان ته به حکم اوکړي چه په دوی باندې باران راووروه زمکې ته به وائي چه دوی له پیداوار راوټوکوه. ددوی څناور اوڅاروی به بیا تازه چاق او ماړه دوی ته واپس راشي. یوقبیلې له به لاړشي اوخپل ځان به پرې منل غواړي هغوی به انکار اوکړی دې به د هغه ځائ نه اوځی نود هغوی ټول مال به هم هغه پسې شي او دوی به خالی لاس پاتې شي.هغه به غیرآباد څنګلوته ځی او زمکې ته به وائي خپلې ټولې خزانې راوباسه هغه به نی راوباسي اوټولې خزانې به په هغه پسې داسې روانې وی لکه د شاتومچنی چه خپل سردارپسې وی. دا به هم ښائی چه یوسړی به په توره باندې بالکل دوه ټکړې کړی اواخوادیخوالرې لرې به نی اوغورزوی بیا به د هغه نوم واخلي او هغه به بیا ژوندې د هغه خواله راشي. دې به هم په دغه حال کښې وی چه الله ﷻ به مسیح بن مریم ﷺ راولیګی هغه به دمشق سره نیزدې د سپینې منارې سره راکوزیږی خپل دواړه لاسونه به نی د دوو فرښتو په وزرو باندې ایخودې وی دې به هغه پسې شي او مشرقی باب لد سره به نی قتل کړی. بیا به حضرت عیسی بن مریم ﷺ طرف ته به الله ﷻ وحی اوکړی چه زه خپل داسې مخلوق درلیګم چه د هغوی سره د جنګ کولو به په تاسوکښې تاب اوطاقت نه وی زما بندیګان د کوه طور طرف ته راغونډکړه. بیا به الله تبارك وتعالی یاجوج ماجوج راولیګی لکه چه ارشاد دې ﴿وَهُمۡ مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ﴾ دهغوی نه به تنګ راشي حضرت عیسی ﷺ اود هغه ملګری به الله ﷻ ته سوال اوکړی نو الله ﷻ به هغوی پسې د غوټو بیماری راولیګی چه د هغوی په ستونوکښې به راوځی اوټول په ټول به لاندې باندې مردارشي بیا به حضرت عیسی بن مریم ﷺ د مؤمنانوسره راشي ګوری به چه ټوله زمکه به د هغوی نه ډکه پرته وی اود هغوی د خراب بوئی نه به اودریدې نه شی. هغوی به بیادالله ﷻ نه دعااوکړی نو هغه به د بختی اوښانو په شان مرغنی راولیګی چه هغوی به اوچت کړی او الله ﷻ ته معلومه ده چه چرته به نی اوغورزوی رابه شی. حضرت کعب ﷺ فرمائی چه په سهیل یعنی دنمر دراختلو په ځائ کښې به نی اوغورزوی. بیا به په ټوله زمکه باندې یوشان باران وی زمکه به اووینځلې شی اود لاس د تلی په شان به پاکه شي.بیابه دالله ﷻ په حکم خپل برکتونه راوباسی. په هغه ورځ به یوه پوره ډله په یوانارباندې ماړه شی اود هغې د پوستکی نه لاندې به سورې هم حاصلوی. د یوې اوښې پئی به د مسلمانانو د پوره ډلې د پاره اود یوې غواپئی به د یوې قبیلې د پاره اودیوې چیلئی پئی به دیوکوردپاره کافي وی.بیابه یوه صفا غونډې هوا روانه شی اود مسلمانانو د ترخونونه به اوځی اود هغوی روح به قبض شی. بیا به په مخ د زمکه کښې ډیر خراب شیطانان باقی پاتې شی چه د خرو په شان به ټوپونه وهی هم په هغوی باندې به قیامت قایمیږی.(۱) امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وائی.

**د یاجوج ماجوج متعلق بل حدیث:**-مسنداحمدکښې دی یولړم حضور ﷺ خوړلې وو نوحضور ﷺ په خپله ګوته باندې پټئی تړلې خطبه ته ولاړ وو او وئی فرمائیل چه اوس دښمن نشته خوتاسو به دښمنانوسره هم جهادکوئی تردې چه یاجوج ماجو راشی اود پلنومخونو والا د وړو سترګووالا د هغوی مخونه به قط په قط د ډهال په شان وی. (۲)

دا دسورت اعراف د تفسیرپه آخره کښې بیان کړې شوی دی. مسنداحمدکښې دی حضور ﷺ فرمائی چه د معراج په شپه د حضرت ابراهیم ﷺ حضرت موسی ﷺ او حضرت عیسی ﷺ سره د قیامت د ورځې مذاکره شروع شوه. حضرت ابراهیم ﷺ د دې د علم نه انکاراوکړو اودغه شان حضرت موسی

(۱) صحیح مسلم کتاب الفتن باب ذکر الدجال:۲۹۳۷، احمد:۱۸۱/۴، ترمذی:۳۲۴، ابن ماجه۴۰۷/۵، ابوداؤد:۴۳۲۱، مختصراً.
(۲) احمد:۲۷۱/۵ ح۲۲۳۳۱وسنده حسن، خالدبن عبدالله بن حرمله صدوق وثقه الامام مسلم وابن حبان مجمع الزوائد:۸/۶.

Scanned with Ca

ﷺ هم. حضرت عيسى ﷺ اوفرمائيل چه د دې د واقع کيدو د وخت نه خو بغيرد الله ﷻ نه څوك هم نه دی خبر او ماته الله ﷻ دا فرمائيلی دی دجال راوتونکې دې ماسره به دوه څانګې وی هغه به زما کتلو سره د سيسې په شان ويلی کيږی تردې چه الله ﷻ به هغه هلاك کړی. تردې چه هغه ما اووينی نو کاڼړی او بوټی به هم وائی اې مسلمانه دا زما لاندې کافر دې راشه داقتل کړه نو الله ﷻ به هغه هلاك کړی اوخلق به خپلو ښارونواو وطنونوته واپس شی. دغه وخت به ياجوج ماجوج راوځی اود هراوچت ځائ نه به ټوپونه وهی راځی به او چه څه وينی تباه کوی به ئې. څومره اوبه چه وينی څکی به ئې. خلق به بيا تنګ شی او په خپلو وطنونو کښې به راګيرکينی. شکايت به کوی نو زه به بيا د الله ﷻ نه دعاوکړم چه اې الله دا تباه کړې الله ﷻ به هغوی تباه کړی او په ټوله زمکه به د هغوی بدبوئی خوره شی بيابه باران راوريږی اود اوبوچپې به د هغوی مردار جوسې ځان سره اوبهيوی او درياب ته به ئې يوسی. زما رب ماته فرمائيلی دی کله چه دا هرڅه ښکاره شی نو بياخود قيامت راتلل هم داسې دی لکه چه د پوره ورځو د حمل ښځه د حمل کيدو د پاره د کور والا ته فکر وی چه سحر به ماښوم اوشی يامابښام به اوشی د شپې به اوشی يا د ورځې[1] (ابن ماجه)د دې تصديق د کلام الله په دې آيت کښې موجود دې په دې باره کښې احاديث هم ډيرزيات دی اود سلفوآثار هم ډير دی.

**د قيامت د نوروعلاماتو ذکر**:-د حضرت کعب ﷺ قول دې چه د ياجوج ماجوج د راوتلوپه وخت کښې هغوی به هغه ديوال اوکنی تردې چه د هغوی د کودالو آوازونه به خواوشا خلق هم اوری چه شپه شی نو په دې کښې به يووائی چه اوس سحر به دا مات کړو اوراوبه څو.کله چه دوی سحر راشی نو هم هغه شان به وی لکه چه پرون وو. غرض دا چه هم دغه شان به کيږی او چه الله ﷻ ته دهغوی وتل کوم وخت کښې منظور وی نود يوکس د خلې نه به اوځی چه ان شاء الله صبا به ئې ماتوو. اوس چه راشی نو چه څنګه ئې پريخودې وو هم هغه شان به ئې اووينی نو اوبه ئې کنی او مات به ئې کړی او بهر به راوځی. د هغوی رومبنی ډله به بحيره له راشی ټولې اوبه به اوڅکی بله چه راشی نو ختې به هم اوڅټې. دريمه به راشی چه اوګوری نو وائی به کيدې شی دلته چرته اوبه وې. خلق به د دوی نه په منډو منډو تختی پټيږی به. کله چه دوی ته څوك هم ښکاره نه شی نودوی به خپل غشی آسمان طرف ته اولی د هغه ځائ نه به داد وينوککړدوی ته واپس راشی. دوی به فخرکوی چه مونږ دزمکې اوآسمان والاباندې غالب شو.عيسى بن مريم ﷺ به دوی ته خيرې اوکړی چه اې الله په مونږ کښې ددوی دمقابلې طاقت نشته اوپه زمکه باندې تګ راتګ کول هم ضروری دی ته چه څنګه هم غواړې ددوی نه مونږ ته خلاصی راکړې.الله ﷻ به دوی په طاعون کښې اخته کړی غوټې به په کښې راوځی اوټول په ټول به مړه شی. بيا به يوقسم مرغنی راشی دوی به په خپلو منښوکو کښې اوچت کړی او سمندرکښې به ئې اوغورزوی. بيابه الله ﷻ نهر حيات روان کړی چه زمکه به اووينځی اوصفاً به ئې کړی زمکه به خپل برکتونه راوباسی يوانار به يوې کورنئی له کافی وی ناڅاپه به يوسرې راشی او آواز به اوکړی چه ذوالسويقتين راوتې دې عيسى ﷺ به د اووه اته سوو لښکر اوليګی دوی به لاپه لارکښې وی چه يمنی پاکه صفا هوابه روانه شی اود ټولومؤمنانو روحونه به قبض کړی.بيا به په مخ د زمکه ګډوډخلق پاتې شی د څاروو په شان به وی په هغوی باندې به قيامت قايم شی. دغه وخت کښې به قيامت دومره نيزدې وی لکه د پوره ورځو اسپه چه د بچی پيداکيدو ته نيزدې وی اود اسپې والا خواوشا ګرځی چه کله به بچې پيدا کيږی.کعب ﷺ دا بيان فرمائيلو سره اوفرمائيل اوس چه يوسړې زماددې قول او علم نه روستو هم څه وائی نوهغه تکلف اوکړو.دکعب ﷺ داواقعه بيانول بهترين واقعه ده ځکه چه ددې شهادت په صحيح احاديثوکښې هم موندلې شی.په احاديثوکښې داهم راغلی دی چه عيسى ﷺ به پدغه زمانه

[1] احمد:١/٣٧٥، ابن ماجه کتاب الفتن باب فتنة الدجال وخروج عيسى بن مريم:٤٠٨١وسنده صحيح حاکم:٤/٤٨٨.

کښې حج هم کوی.مسنداحمدکښې داحديث مرفوعاروايت دې چه هغه به دياجوج ماجوج دخروج نه پس يقينادبيت الله حج کوی(¹)داحديث په بخاری کښې هم شته.کله چه داتباهئی دازلزلې دابلا گانې اودا آفتونه راشی نوهغه وخت به قيامت بالکل نيزدې راشی.دهغې په کتلوسره به کافران وائی دا خو ډيره سخته ورځ ده دهغوی سترګې به اوشليږی اووائی به افسوس مونږخو په غفلت کښې ووافسوس مونږخوخپل ځان پخپله خراب کړودګناهونواقرار او پدې باندې به ملامته وی خواوس بې فائدې دی.

وَمَا | إِنَّكُمْ

او هغه خدايان | بيشکه تاسو |

او د الله ﷻ | بيشکه چې تاسو |

تَعْبُدُونَ | مِنْ دُونِ اللَّهِ | حَصَبُ | جَهَنَّمَ ط | أَنْتُمْ | لَهَا

چې تاسو ئې عبادت کوئ | ماسوا دالله نه | خشاك دې | دوزخ | تاسو | دغه دوزخ ته

نه بغير چې تاسو د چا عبادت کوئی |هغه ټول هم د دوزخ خشاک دی |تاسو ټول

وٰرِدُونَ ﴿٩٨﴾ | لَوْ | كَانَ | هٰٓؤُلَآءِ | اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ط | وَكُلٌّ

ورتلونکی يئ |که چری وې | دوئ | معبودان | نه به وؤ ننوتی هغې ته | او ټول به |

به هغې ته ننوځئ |......... که دوئ په (رښتيا) خدايان وې نو (دوزخ) ته به ولې ورننوتل| خو ټول

فِيهَا | خٰلِدُونَ ﴿٩٩﴾ | لَهُمْ | فِيهَا | زَفِيرٌ

په دې دوزخ کښې| هميشه (پراته وی) | وی به دپاره دهغوئ | په دغه دوزخ کښې| زبيرګې (فرياد)

به په کښې هميشه اوسيږی | په هغې کښې دننه به چغې سورې وهی

وَّهُمْ | فِيهَا | لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ | إِنَّ الَّذِينَ | سَبَقَتْ

اوهغوئ به | په هغې کښې |هيڅ نهٔ اوری (دشور دلاسه) |بيشکه هغه کسان |چې داول نه به شوی وی

او بل هيڅ خبره به نه اوری| هغه خلق د کومو دپاره چې زمونږ

لَهُمْ | مِّنَّا | الْحُسْنٰىٓ لا | أُولٰٓئِكَ | عَنْهَا | مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لا

په حق دهغوئ کښې | دطرفه زمونږ نه | فېصله دخير | هغوئ به | دهغې عذاب نه|لرې ساتلې کيږی

د طرف د وړاندې نه دنيکئ فيصله شوې ده | هغوئ بهٔ ددې عذاب نه لرې ساتلې شی

لَا يَسْمَعُونَ | حَسِيسَهَا ج | وَهُمْ | فِيمَا | اشْتَهَتْ

نهٔ به اوری هغوئ | کشار دهغې | او هغوئ به | په هغه څيزونو کښې | چې غواړی ئې

دهغې کشار قدرې به هم نه اوری |او دخپلې خوښې په ژوند کښې به هميشه دپاره

أَنْفُسُهُمْ | خٰلِدُونَ ﴿١٠٢﴾ ج | لَا يَحْزُنُهُمُ | الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ

زړونه دهغوئ | هميشه اوسيږی | نهٔ به غمژن کوی هغوئ لره | دغه وخت لويه ويره

اوسيږی | دقيامت لويه ويره به ئې (دذرې هومره) په غم کښې نه غورزوی

¹) احمد:۳/۲۸ صحيح بخاری کتاب الحج باب قول الله تعالى ﴿جعل الله الكعبة البيت الحرام.....﴾:۱۵۹۳، صحيح ابن خزيمه

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| كُنْتُمْ | الَّذِيْ | هٰذَا يَوْمُكُمُ | الْمَلٰٓئِكَةُ ط | وَتَتَلَقّٰهُمُ |
| چې وئ تاسو | هغه | (او ورته وائی به) دا ستاسو ورځ ده | فرښتې | او ملاقات به کوی دهغوئ سره |

اوفرښتې بهٔ ورله مخې ته راځی اچې دانن ستاسو هغه ورځ ده چې وعده بهٔ

تُوْعَدُوْنَ۝

چې ستاسو سره به وعده کيدې شوه دهغې|

درسره کولې شوه|

**قوله تعالی:-** اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ط

**د باطلومعبودانو انجام:-** بت پرستوته الله ﷻ فرمائی تاسو اوستاسوبتان به ددوزخ خشاك وی لکه چه ارشاد دي ﴿ وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ۝ ﴾([1])ددې خشاك انسان اوکاڼی دی.په حبشی ژبه کښې حطب ته حصب وائی([2])یعنی لرګی. بلکه په یوقراءت کښې د حصب په ځائ حطب دې. تاسو ټول عابد اومعبودان دوزخیان ئی اوهغه هم دهمیشه د پاره.که چرې دا رښتونی معبودان وو نوولې به په اُورکښې سوزیدل دلته خو به عبادت کونکی اود چا چه عبادت شوې دې ټول به همیشه په دوزخ کښې وی هغوی به په اولته ساه ګانوکښې چغې وهی لکه چه ارشاد دې ﴿ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ۝ ﴾ ([3]) هغوی به په سیده اواولته ساه ګانوکښې چغې وهی اودچغونه بغیربه د هغوی په غوږونوکښې نورهیڅ آواز نه راځی. دحضرت ابن مسعود ﷺ نه روایت دې چه کله صرف مشرکان په دوزخ کښې پاتې شی هغوی به د اورپه صندوقونوکښې قیدکولې شی په کوم کښې چه به د اُور سرونه وی په هغې کښې به د هریودا ګمان وی چه په دوزخ کښې د هغه نه بغیربل څوك نشته. بیا هغوی هم دا آیت تلاوت اوفرمائیلو. (ابن ماجه)

**د نیکانو د بدلې ذکر:-** دحسنی نه مرادرحمت او نیك بختی ده([4])ددوزخیانو اود هغې د عذابونوذکر کولو نه پس دنیکانو اود هغوی دبدلو ذکرکولې شی.دا خلق ایماندار وود هغوی د نیکو عملونوپه وجه نیك بختې د هغوی په استقبال کښې تیاره وه. لکه چه ارشاد دې ﴿ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ط وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ط اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ۝ ﴾ ([5]) دنیکانود پاره نیکه بدله ده اوزیات اجر هم. ارشاد دې ﴿ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ۝ ﴾([6]) دنیکئی بدله هم نیکی ده. د هغوی ددنیا اعمال نیك وو نوپه آخرت کښې ثواب اونیکه بدله ملاوشوه. دعذاب نه بچ شو اود الله ﷻ په رحمت باندې کامیاب شو.دوی د دوزخ نه لرې کړې شوی دی چه د هغې کش کړپ هم واونوری. نه د دوزخیانو سوزیدل هغوی واوری. په پل صراط باندې دوزخیانو له زهریلا ماران ټکونه ورکوی او دوی هلته حس حس کوی. جنتی خلق د دې دردناك آوازونونه ناخبره دی دومره هم نه دی چه د ویرې نه هغوی اخواشوی دی بلکه دې سره راحت او آرام هم ورته حاصل دې. د خوښې ځیزونه حاضر اود همیشه راحت حاضر.

[1] ۲۶/الحجر:۶.

[2] صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الانبیاء:۴۷۳۹.

[3] ۱۱/هود:۱۰۶.

[4] الطبری:۵۴۱/۱۸.

[5] ۱۰/یونس:۲۶.

[6] ۵۵/الرحمن:۶۰.

Scanned with Ca

حضرت علي ﷺ يوه شپه د دې ايت تلاوت اوكړووني فرمائيل زه عمر عثمان زبير طلحه او عبدالرحمن رضي الله عنهم ددې خلقو نه يو ني دحضرت سعد ﷺ نوم واخستو.پدې كښې دمانځه تكبيراوشونوهغوى په څادر رابنكلوسره ﴿لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا﴾ لوستلوسره پاسيدواودريدو.يوبل روايت دې چه هغوى اوفرمائيل عثمان اود هغه ملګرى هم داسې دى. ابن عباس ﷺ فرمائي هم دغه خلق اولياء الله دى د بجلئي نه به هم په پل صراط باندې تيز تيريږى اوكافران به په زنګونونو باندې راپريوځى. بعضې خلق وائي چه دې نه مراددين هغه بزرګان دى چه د الله ﷻ والا وو اود شرك نه ويزاره وو خود هغوى نه پس د هغوى د مرضئي نه خلاف خلقو د هغوى عبادتونه شروع كړى وو لكه حضرت عزير ﷺ اوحضرت عيسى ﷺ فرښتې نمر سپوږمئى اوحضرت بى بى مريم وغيره.

حضرت عبدالله بن زبعرى رسول الله ﷺ له راغلواووئى وئيل چه ستاخيال دې چه الله ﷻ ايت ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ نازل كړې دې؟كه چرې داربنتيا دى نوآيا نمر سپوږمئى فرښتې عزير ﷺ عيسى ﷺ به زمونږ بتانوسره تهول دوزخ ته ځى؟د دې په جواب كښې آيت ﴿وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ﴾ (۱)نازل شو او آيت ﴿إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ﴾ نازل شو.په سيرت ابن اسحاق كښې دى چه حضور ﷺ يوه ورځ وليد بن مغيره ﷺ سره په جمات كښې ناست وو نونضر بن حارث راغلو او هغه وخت په جمات كښې نور ډيرقريش هم ناست وو. نضر بن حارث رسول الله ﷺ سره خبرې كولې خوهغه لاجوابه شو نوحضور ﷺ آيت ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ۝ لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا وَكُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ۝ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ۝﴾ تلاوت كړوكله چه هغه ددې مجلس نه لاړونوعبدالله بن زبعرى راغلوخلقوهغه ته اووئيل چه نن نضربن حارث خبرې اوكړې خوډيرخراب راګيرشواوحضور ﷺ دې فرمائيلوسره لاړوهغه وئيل كه چرې زه وې نوجواب به مې وركولوچه مونږ دفرښتو عبادت كوو يهوديان عزير ﷺ نصرانيان حضرت مسيح ﷺ نوآيا دا تهول به هم دوزخ ته ځى؟ تپولوته دا جواب ډير خوښ راغلوكله چه حضور ﷺ سره ددې ذكر اوشونوحضور ﷺ اوفرمائيلچا چه عبادت اوكړو هغه به د عابدانو سره دوزخ ته ځى. دې بزرګانو به پرې خپل عبادتونه نه كول بلكه دوى خودهغوى نه د شيطان عبادت كولو هم هغه دوى ته د هغوى د عبادت كولو لار اوخودله.دحضور ﷺ جواب سره د قرآني جواب دې نه پس آيت ﴿إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ﴾ نازل شونود كوموخلقو جاهلانوعبادت كړې وو هغوى ددې نه خلاص شو.په قرآن پاك كښې . دى ﴿وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَٰهٌ مِّن دُونِهِ فَذَٰلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ﴾ (۲)يعنى په دوى كښې چه څوك خپل معبوديت په دوى باندې منل غواړى د هغې بدله دوزخ دې مونږ ظالمانوته هم داسې سزا وركوو. يوبل آيت ﴿وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ﴾ (۳) نازل شو چه د دې خبرې په اوريدوسره هغه خلق حيران شو وئى وئيل چه زمونږ معبودان ښه دى كه هغه دا خو صرف فساد دې اوداخلق جګړې كونكى دى هغه زمونږ انعام كړې شوې بنده وو هغه مونږ د بنى اسرائيلو دپاره نمونه جوړه كړې وه. كه چرې مونږ غوښتل نو ستاسو جانشين به مونږ فرښتې كړې وې حضرت عيسى ﷺ د قيامت يوه نښه ده د هغوى په لاس چه كومې معجزې صادر شوى دى هغه څه شكى څيزونه نه دى هغه د قيامت دليل دې. تاته په دې كښې شك نه دى كول پكار. هم زما منه هم دا صراط مستقيم دې.دابن زبعرى دې جراءت ته ګوره چه خطاب اهل مكه ته دې اودهغه ددې تصويرونو

(۱) ٤٣/الزخرف:٥٧.
(۲) ۲۱/الانبياء:۲۹.
(۳) ٤٣/الزخرف:٥٧. اخ

اوددې کانړو دپاره ونیلې شوی دی کوم چه هغوی دالله ﷻ نه بغیرعبادت کولو اونه چه حضرت عیسی ﷺ او پاك نفوس به راګیرولې شی چا چه به د غیرالله د عبادتونونه رامنع کول.

امام ابن جریر رحمة الله فرمائی لفظ ماجوج چه کوم دلته دې هغه په عربوکښې د هغې د پاره راځی کوم چه بې جان او بې عقل وی.دا ابن زبعری د دې نه پس مسلمان شوې وو.دا ډیر مشهور شاعر وو او هغه د مسلمانانو په کولاوزړه سره بې عزتی کړې وه خود مسلمانیدو نه پس د ډیر معذرت وکه د مرګ، ویرې،شپیلئی د ویرې،دخلقو دوزخ کښې دداخلیدو دوخت د ویرې دهغه وخت دویرې کله چه په دوزخ باندې سر پخولې شی. کله چه مرګ د دوزخ او جنت په مینځ کښې حلالولې شی غرض دا چه په هغه باندې د څه اندیښنې ویره نه وی هغوی به د هریو غم او ویرې نه لرې وی پوره په شوق کښې به وی خوشحاله به وی اود خفګان نه به په میلونولرې وی. د فرښتو ډلې ډلې به هغوی سره ملاقاتونه کوی هغوی ته به تسلی ورکولوسره وائی چه هم د دې ورځې وعده تاسو سره کیدله دې وخت کښې تاسو د قبرونونه د پاسیدود ورځې په انتظار شئی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَوْمَ | نَطْوِي | السَّمَآءَ | كَطَيِّ السِّجِلِّ | |
| هغه ورځ | چې راونغاړو مونږ | اسمان | پشان درانغښتلو | |
| هغه ورځ (یاده کړه) چې مونږ بهٔ اسمان راونغاړو لکه چې لیکلې شوې کاغذ | | | | |
| لِلْكُتُبِ ط | كَمَا بَدَأْنَآ | أَوَّلَ | خَلْقٍ | |
| د کاغذ دپاره دلیکلو | لکه څنګه چې شروع کړی ده مونږه | داول | پیداوښت | |
| رانغښتلې شی | .........څنګه چې مو اول ځل پیدا کړې وو | | | |
| نُّعِيدُهُ ط | وَعْدًا | عَلَيْنَا ط | إِنَّا كُنَّا | فَٰعِلِينَ ۝ |
| دغه شان به ئې دوباره پیدا کوو مونږ | داوعده ده | په ذمه زمونږ | ابیشکه یو مونږه | کونکي ددې کار |
| دغسې به ئې دوباره پیدا کړو | دا زمونږ په ذمه پرته وعده ده | چې مونږ به ئې خامخا پوره کوو | | |

**قوله تعالى:- يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ط**

**آسمان به راغونډ کړې شی:**-دابه د قیامت په ورځ وی کله چه مونږ آسمان راغونډ کړو لکه چه ارشاد دې ﴿مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ ط إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝﴾[1] دې خلقو دالله ﷻ داسې قدرچه څنګه کول پکارووااونه کړو ټوله زمکه به دقیامت په ورځ د هغه په موټی کښې وی او ټولوآسمانونه به د هغه په ښی لاس کښې راغونډ شوې وی هغه پاك او اوچت دې د هر هغه څیز نه کوم چه خلق د هغه شریك ګرځوی. بخاری شریف کښې دی حضور ﷺ فرمائی الله ﷻ به د قیامت په ورځ زمکې په موټی کښې واخلی او آسمانونه به د هغه په ښی لاس کښې وی [2] ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه اووه واړه آسمانونه اود هغه ځائ ټول مخلوق، اووه واړه زمکې اود هغې ټول مخلوقات به الله ﷻ په خپل ښی لاس کښې راغونډ کړی اود هغه په لاس کښې به داسې وی لکه د اوری دانه.

**د سجل نه څه مراد دی؟**:-دسجل نه مراد کتاب دې اوونیلې شوی دی چه دلته مراد یوه فرښته ده چه کله دچااستغفارخیژی نوهغه وائی چه دانوراولیکه.دافرښته په عمل نامه باندې مقررده. کله چه انسان

---

[1] ۳۹/الزمر:۶۷.

[2] صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿لماخلقت بیدی....﴾:۷۴۱۲.

Scanned with Ca

وفات شی نوداکتاب سره د نوروکتابونو رانغاړی اوهغه د قیامت دپاره ایږدی دانوم دې دهغه صحابی ﷺ چه دحضورﷺ دوحی لیکونکې وو(۱) خودارِوایت ثابت نه دې.دحدیث اکثرو حافظانودې ټولوته موضوع وئیلې دې خاص کرزمونږ استاذ حافظ کبیر ابوالحجاج مزی رحمه الله.مادا حدیث په یوجدا کتاب کښې لیکلې دې امام ابن جعفر ابن جریر رحمه الله هم په دې حدیث باندې ډیر انکار کړې دې اود دې نی بنه تردیدکړې دې اوفرمانی چه د سجل نوم یوصحابی هم نشته.دحضورﷺ د ټولومنشیانو نومونه مشهور اومعروف دی دیونوم هم سجل نه دې. په حقیقت کښې امام صاحب صحیح او درست فرمائیلی دی. ددې حدیث د منکر کیدو دا لویه وجه ده بلکه داهم یادساتنی چا چه د دې صحابی ذکر کړې دې هغه په دې حدیث باندې په اعتماد کولوسره ذکر کړې دې. کله چه داثابت نه دې نوبیا د ذکر شوې د سر نه واخله ترپښوپورې غلط اوګرځیدو، صحیح هم دا دی چه د سجل نه مراد صحیفه ده. (۲) لکه چه داکثرومفسرینوقول دې اولغهٔ هم داخبره ده.نو ارشاد دې په کومه ورځ چه مونږ آسمان راونغاړوپه مثال دکتاب دلیکلې شوی لام دلته معنی کښې علی دې لکه ﴿وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ﴾(۳)کښې لام دلته په معنی کښې دعلی دې او په لغت کښې ددې مثالونه هم دی. والله اعلم.دابه یقینًا کیږی اوپه هغه ورځ به الله ﷻ دنوې سر نه مخلوق داول په شان راپیداکوی ځوك چه په شروع کښې قادرووهغه په دوباره کولو باندې د دې نه زیات قادر دې. دا د الله ﷻ وعده ده اود هغه وعدې اټلې وی هغه نه چرته بدلیږی اونه په هغې کښې اختلاف وی هغه په ټولوځیزونوباندې قادردې. هغه به داپوره او ثابته وی. حضورﷺ په ولاړه باندې پخپل یووعظ کښې اوفرمائیل تاسوخلق به دالله ﷻ په وړاندې جمع کیدونکی ئی بربنډې پښې بربنډبدن ناسونته لکه څنګه چه مونږ په اول ځل پیداکړئی دغه شان به مو دوباره واپس کوو دازمونږ وعده ده اودا به مونږ پوره کوو. (۴) (بخاری) ټول ځیزونه به ختم شی بیا به جوړولې شی.

| وَلَقَدْ كَتَبْنَا | فِي الزَّبُوْرِ | مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ | اَنَّ الْاَرْضَ |
|---|---|---|---|
| او لیکلی دی مونږه | په زبور کښی | روستو دنصیحت نه | چی بیشکه دا زمکه چی ده |
| او مونږ د لوح محفوظ د لیک نه پس په آسمانی کتابونو کښې لیکلی دی چې (دجنت) دزمکې وارثان | | | |

| يَرِثُهَا | عِبَادِيَ | الصّٰلِحُوْنَ۝ | اِنَّ فِيْ هٰذَا | لَبَلٰغًا |
|---|---|---|---|---|
| وارثان کیږی به ددې | بندګان زما | نیکان | بیشکه په دې (بیان) کښی | یو لوئ خبر دې |
| بهٔ (صرف) زما نیکان بندګان وی | په دې (قران پاک) کښې دعبادت کونکو دپاره ډیر کافی | | | |

| لِّقَوْمٍ | عٰبِدِيْنَ۝ | وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ | اِلَّا | رَحْمَةً | لِّلْعٰلَمِيْنَ۝ |
|---|---|---|---|---|---|
| دپاره دخلقو | عبادت کونکو | اونهٔ ئې لیږلی مونږ تهٔ | مګر | رحمت ئې | دپاره دمخلوقاتو |
| مضمون دې | ...............او مونږ ته دټولو جهانونو دپاره رحمت جوړ کړې لیږلی ئې | | | | |

---

(۱) ابوداؤد کتاب الخراج باب فی اتخاذ الکاتب:۲۹۳۵.
(۲) الطبری:۵۴۳/۱۸ صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الانبیاء: ۴۷۳۹.
(۳) ۳۷/الصافات:۱۰۲.
(۴) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورت الانبیاء:۴۷۴۰، صحیح مسلم:۲۸۶۰، احمد:۲۳۵/۱.

Scanned with Ca

**قوله تعالی:-** أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ۝

**د زمکې وارثان به د الله ﷻ نیکان بندګان وی:-** الله ﷻچه خپلوبندیګانوته څنګه آخرت کښې ورکوی دغه شان په دنیاکښې هم ملك اومال ورکوی.دالله ﷻ وعده آخری اوفیصله ربښتونې وی. لکه چه ارشاد دې ﴿اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۖ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ۝﴾ (۱)زمکه دالله ﷻ ده څوك چه غواړی دهغې وارث ئې جوړوي.انجام کارد پرهیزګارانوحصه ده اوارشاددې چه مونږدخپلو رسولانو اوایماندارانو په دنیا کښې اوپه آخرت کښې امداد کوو(۲) یو بل ارشاد دې په تاسوکښې ایماندارانو اونیکانو خلقو سره د الله ﷻ وعده ده چه هغه به دوی په زمکه کښې غالب جوړوی لکه څنګه چه د هغوی نه وړاندینی جوړ کړې اود هغوی د پاره ئې د هغوی دین مضبوط کړو په کوم سره چه هغوی خوشحال دی. (۳)

**د ذبور او ذکر نه څه مراد دی؟:-** نورفرمائی چه د په شرعی او تقدیری کتابونوکښې لیکلې شوی دی چه دابه یقیناً کیږی.دزبور نه مراد دسعیدبن جبیر رحمه الله په قول تورات انجیل او قرآن پاك دې(۴) مجاهد رحمه الله وائی دې نه مرادکتاب دې(۵)بعضې خلق وائی چه زبور د هغه کتاب نوم دې چه په حضرت داؤد ﷺ باندې نازل شوې وو.دذکرنه مراددلته تورات دې.ابن عباس رضی الله عنه فرمائی دذکرنه مرادقرآن پاك دې. سعید رحمه الله فرمائی ذکرهغه دې چه په آسمانونو کښې دې یعنی دالله ﷻ سره ام الکتاب ړومبې کتاب یعنی لوح محفوظ. فرمائی په تورات زبور او علم الهی کښې هم اول دا فیصله شوې وه چه امت محمدیه ﷺ به د زمکې بادشاه جوړیږی نیك کیدو سره به جنت ته ځی اوداهم وئیلې شوی دی چه د زمکې نه مراد د جنت زمکه ده.(۶)ابوالدرداء رضی الله عنه فرمائی صالحان خلق هم مونږ یودې نه مراد ایماندار خلق دی په دې قرآن پاك کښې چه کوم په نبی آخرالزمان ﷺ باندې نازل شوې دې پوره نصیحت اوکفایت دې د هغوی د پاره چه زمونږ عبادت کونکی بندیګان دی چه زمونږ منی خپل خواهش زمونږ په نوم باندې قربانی کوی. بیافرمائی چه مونږ دخپل ځان داخپل نبی رحمة للعالمین جوړکړې لیکلې دې نوددې نعمت شکرکونکی په دنیا اوآخرت کښې کامیاب دی اوناقدری کونکی په دواړو جهانوکښې ناکام او بردباد دی لکه چه ارشاد دې چه تا هغوی نه دی کتلی کومو چه دالله ﷻ دنعمت ناشکری اوکړه اوخپل قوم ئې غرق کړو(۷)د دې قرآن پاك په نسبت ئې اوفرمائیل چه دادایماندارودپاره هدایت او شفاده اوبې ایمانه کانړه اوړانده دی(۸)په صحیح مسلم کښې دی چه په یوه موقعه باندې د رسول الله ﷺ صحابه کرامو عرض اوکړوحضور ﷺ ددې کافرانودپاره بددعااوکړه حضور ﷺ اوفرمائیل زه لعنت کونکې نه یم رالیګلې شوې بلکه رحمت او هدایت یم.(۹) یوبل حدیث کښې دی چه دې سره داهم دی چه زه د یو قوم د ترقئی او د بل د تنزلئی د پاره لیګلې شوې یم

**د نبی علیه السلام دهجرت نه پس د ابوجهل خپل قوم ته خطاب او هدایت:-** طبرانی کښې دی ابوجهل اووئیل اې قریشیانومحمد یثرب له تلې دې خپل ګشتی لښکرې اخوادیخوا ستاسو په لټون کښې رالیګی.ګورئی هوښیار اوسئی هغوی د اوږې شرمخانوپه شان په شیش کښې ناست دی چه هغوی خار

(۱) ۷/الاعراف:۱۲۸.
(۲) ۴۰/غافر:۵۱.
(۳) ۲۴/النور:۵۵.
(۴) الطبری:۱۸/۵۴۷.
(۵) الطبری:۱۸/۵۴۷.
(۶) الطبری:۱۸/۵۴۹.
(۷) ۱۴/ابراهیم:۲۸.
(۸) ۴۱/فصلت:۴۴.
(۹) صحیح مسلم کتاب البر باب النهی عن لعن الدواب وغیرها:۲۵۹۹، مسندابی یعلی:۶۱۷۴.

Scanned with Ca

خوړلي دي ځکه چه تاسو هغوی ويستلي دی. والله هغه جادوګر بي مثال دی زه خو چه هغه يا د هغه په ملګروکښې څوك هم وينم نوماته دهغوی سره شيطان ښکاری تاسوته پته ده چه اوس او خزرج قبيلې زمونږ دښمنان دی.دې دښمن ته هغه دښمنانوپناه ورکړې ده.په دې باندې مطعم بن عدی اووئيل ابو الحکم واوره ستاسوداروركوم چه تاسودوطن نه ويستې دې ماڅوك دده نه زيات رښتوني اود وعدې پوره کونکې نه دې ليدلې اوس چه دومره ښه سړی سره تاسو داسې سلوك کړې دې نو اوس خو هغه پريږده اوتاسو له پكار دی چه د هغوی نه جدا اوځان له شئی په دې باندې ابوسفيان بن حارث اووئيل تاله په هغوی باندې پوره سختی کول پکار دی يادساتئی که چرته د ده طرفدار په تاسو غالب راغله نو تاسوبه ديوخایٔ هم پاتې نه شئی نه به رشته اوګورئی اونه خاندان زماپه رائې کښې خوتاسوله د مدينې والا تنګول پکاردی چه یاخو هغوی محمد(ﷺ) اوباسی اوهغه ځان له یوازې پاتې شی یاخود دې مدينې والا ختمول پکار دی که تاسو تيارشئی نوزه به د مدينې په ګوټ ګوټ کښې لښکرې کينوم او هغوی به سخت تنګ کړم.

**ددې خبرې په جواب کښې درسول ﷺارشاد:-** کله چه حضورﷺ ته داخبرې اورسيدې نو وئې فرمائيل په الله ﷻ باندې قسم دې د چا په قبضه کښې چه زما ځان دې چه هم زه به هغوی قتل او غرق کړم او په قيدکولو سره به ئې بياپريږدم سره د احسانه. زه رحمت يم زما ليګونکې الله ﷻ دې هغه به ماد دې دنيانه نه اوچتوی ترکومې چه ماخپل دين په دنياباندې غالب کړې نه وی زما پنځه نومونه دی محمد، احمد،ماحی چه زما په وجه به الله ﷻ کفر ختموی. حاشر چه خلق به زماپه قدمونوکښې راجمع کوی او عاقب[1] مسنداحمد کښې دی حضرت حذيفه ﷺ مدائن کښې ووهروخت به د احاديثو مذاکره کيدله. يوه ورځ حضرت حذيفه ﷺ حضرت سلمان ﷺ له راغلو نوحضرت سلمان اوفرمائيل اې حذيفه يوه ورځ حضورﷺپه خپله خطبه کښې اوفرمائيل چاته چه ما په غصه کښې بدې ردې وئيلي وی يا مې په هغه باندې لعنت کړې وی نو اوګنړئی چه زه هم ستاسو په شان يوانسان يم ستاسو په شان ماته هم غصه راتلې شی.اوزه رحمة اللعالمين يم نوزمادعاده چه الله ﷻ دې زمادا الفاظ هم ددغه خلقودپاره د رحمت ذريعه اوګرځوی[2] پاتې شوه داخبره چه حضورﷺ دکافرانو دپاره څنګه رحمت وو؟ د دې جواب دادې چه په ابن جريرکښې دحضرت ابن عباسﷺ نه هم ددې آيت په تفسيرکښې روايت دې چه د مؤمنانودپاره خوحضورﷺ په دنيااوآخرت کښې رحمت وو اودغيرمؤمنانودپاره حضوراکرم ﷺ په دنيا کښې رحمت وو چه هغوی په زمکه کښې ورخښولو نه اود آسمان نه کانړی راوريدلونه بچ شولکه څنګه چه د وړاندينوامتونوپه منکرانو باندې عذاب راغلو. [3]

قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰۤى اِلَىَّ اَنَّمَاۤ اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ

ورته اووايه | بيشکه | وحی کيږی | ماته | چی بيشکه معبود ستاسو | معبود يو دې | نو آيا تاسو

(اې پيمغبره) ته اووايه چې ما ته خو بس دا وحی راغلې ده | چې ستاسومعبود بس يو معبود دې | نو

مُّسْلِمُوْنَ۝ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ

منونکی يئ؟ | نو که مخ واړوؤ دوی | نو ورته اووايه | چې خبردار کړی يئ ما تاسو | ښه ښکاره

آيا تاسو هم منئ که نه؟ | نو که بيا هم مخونه واړوی | نو ته ورته اووايه چې ما خو تاسو پوره

[1] طبرانی:۱۵۳۲وسنده ضعيف.
[2] ابوداؤد كتاب السنة باب فی النهی عن سب اصحاب رسول الله:٤٦٥٩ وسنده حسن، احمد:۵/٤٣٧.
[3] الطبری:۱۸/۵۵۲.

Scanned with Ca

وَاِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٩﴾

اونه پوهیږم زه | چې آیا نزدې دې | یا لرې دې | هغه څیز | چې تاسو سره ئې وعده کیږي

خبرکړئی | اوماته دامعلومه نه ده چې کومه وعده تاسو سره شوې ده چې هغه نزدې ده او که لرې

اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿١١٠﴾

بیشکه الله | پوهیږي | په اوچت آواز | دخبری نه | او پوهیږي | په هغه خبرو | چې پټوئ ئې تاسو

بیشکه چې الله ﷻ په څرګنده خبره هم پوهه دې |او په هغې هم پوهه دې چې تاسوئې پټوئی

وَاِنْ اَدْرِيْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ

او څومره چې پوهیږم زه | نو شاید چې دا تا خیر | یوه فتنه ده | ستاسو دپاره | او سامان دژوند دې

اوزهٔ نه پوهیږم | اکیدې شي چې دا (تاخیر) ستاسو دپاره یو امتحان وی او تاسو ته ترڅهٔ

اِلٰى حِيْنٍ ﴿١١١﴾ قٰلَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ۭ وَرَبُّنَا

دخاص وخته پورې | اخر اووئیل رسول | اے ربه | فیصله اوکړه | په حقه سره | او رب زمونږه

وخت پورې فائده رسول دی | پیغمبر اووئیل چې ائې زما ربه ! ته دحق مطابق فیصله کوه | اوزما رب

الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿١١٢﴾ ع

رحمان دې | چې امداد تر غوښتلې کیږی | په مقابله دهغه خبرو کښی | چې تاسو ئې بیانوئ

درحمتونو خاوند دې | مونږ ترې نه مدد غواړو | دهغې خبرو په مقابله کښې چې کومې تاسو بیانوئ

**قوله تعالى:-** اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

**الله ﷻ یودې :-** -الله ﷻ سبحانه وتعالی خپل نبی ﷺ ته حکم ورکوی چه ته مشرکانوته اوفرمایه چه زما طرف ته هم داوحی کولې شی چه صرف هم الله ﷻ معبودبرحق دې تاسو ټول هم هغه اومنئی او که تاسو زما په خبره یقین نه کوئی نومونږ اوتاسو جدایو تاسو زمونږ دښمنان ئی اومونږ ستاسو.لکه چه یوبل روایت کښې دی که دروغ ګڼړی نو اووایه چه زماد پاره زما عمل دې او ستاسود پاره ستاسو عمل دې. تاسوزمادعمل نه خلاص ئې اوزه ستاسودکړونه ویزاره یم(١)بل آیت کښې دی ﴿وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ﴾(٢)یعنی که چرته تاته دیوقوم نه دبې وعدګئی خیانت اندیښنه وی نوزر هغوی ته د خپلې وعدې ماتولو خبر ورکړه.

دغه شان دلته هم دی که چرې تاسو جداوالې اختیارکړئی نوزمونږ او ستاسو تعلقات ختم دی یقین کوئی چه کومه وعده تاسوسره کولې شی هغه خو به ضرور پوره کیږی که هم اوس وی اوکه څه وخت پس دهغې ماته پخپله علم نشته. د ظاهر اوباطن عالم صرف الله ﷻ دې چه تاسوکوم ښکاره کړنی او کوم پټ کړئی هغه ته دهرڅه علم دې دبندیګانو ټول علم دظاهری اوپټو اعمالوهغه ته ښکاره دې وړوکې لوئ پټ ښکاره هرڅه باندې پوهیږی. ممکن دی چه دهغه تاخیرهم ستاسو ازمیښت وی اوتاسو

(١) ١٠/یونس:٤١.
(٢) ٨/الانفال:٥٨.

Scanned with Ca

نه ستاسو ژوندپورې نفع درکوي. انبياء کرامو عليهم السلام ته چه د ومې دعاتعليم کړې شوې ووچه اې الله په مونږکښې اوزمونږ په قوم کښې ته رښتونې فيصله اوکړه اوهم ته بهترفيصله کونکې ئې. نبي کريم ﷺ ته هم د دې قسم دعاحکم اوشو. حضوراکرم ﷺ چه به کومې يوې غزوې.ته تلو نودعابه ئې کوله اې زما ربه ته رښتونې فيصله اوفرمائې مونږ د خپل مهربان رب نه امدادغواړو چه هغوی ستاسو دروغ اود ځان نه خبرې مونږ نه واړوی اوپه دې کښې زمونږ امدادکونکې هم هغه دې.

﴿الحمدلله﴾ د الله ﷻ په فضل اوکرم سره د سورت انبياء تفسيرختم شو.

..................................

| رکوع ګانې | | سورة الحج مدني دې | | آياتونه |
|---|---|---|---|---|
| | | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | | |
| ۱۰ | | شروع کوم په نوم د الله چه ډيرمهربان زيات رحم کونکې دې | | ۷۸ |

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ ۚ اِنَّ زَلۡزَلَةَ السَّاعَةِ شَىۡءٌ عَظِيۡمٌ ①

اے خلقو | اويريږئ | دغضب درب خپل نه | بيشکه |زلزله دقيامت |څيز دې |الوئ(هيبتناک)

اې خلقو! دخپل رب نه ويره کوئ | (ځکه چې) دقيامت (دورځې) زلزله يوډير لوئې څيز دې

يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّاۤ

په کومه ورځ | چې تاسو اووينئ هغه زلزله | ناخبره به شي | هره تې ورکونکې ښځه | دهغه بچې نه |

په کومه ورځ چې به تاسو هغه (زلزله) اووينئ انوهره يوه تې ورکونکې (مور) به خپل

اَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى النَّاسَ

چې تې ئې ورکوي هغه ته | او اوبه غورزوي | هره | حملداره ښځه | حمل خپل | او تاته به. خلق

دتې ماشوم نه غافله شي | اوهره حملداره زنانه به خپل حمل اوغورزوي |او ته به خلق نشه

سُكٰرٰى وَمَا هُمۡ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيۡدٌ ②

بې هوشه ښکاري | اونه به وي هغوئ | بې هوشه | ليکن | عذاب دالله | دې ډير سخت

نشه وينئ | خو هغوی به نشه نه وي | ليکن دالله ﷻ عذاب به ډير سخت وي

قوله تعالى:- اِنَّ زَلۡزَلَةَ السَّاعَةِ شَىۡءٌ عَظِيۡمٌ ①

**د قيامت تباهئ:-** الله ﷻ خپلو بنديګانوته دتقوی حکم ورکوی اود راتلونکو خطرناکو امورونه ئې ويروی خاص کر د قيامت د زلزلې نه. دې نه مراد ياخوهغه زلزله ده چه قيامت د قايم کيدوسره به وی لکه چه ارشاددې ﴿اِذَا زُلۡزِلَتِ الۡاَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ۙ﴾ (۱) زمکه به ښه پوره اوجړقولې شی بل ارشاددې ﴿وَّحُمِلَتِ الۡاَرۡضُ وَالۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ۙ﴾ (۲) يعنی زمکه او غرونه به اوچتولوسره اوجنګولې شی او ټکړې ټکړې به کړې

---

(۱) ۹۹/الزلزال: ۱. الخ

(۲) ۶۹/الحاقة: ۱۴. الخ

Scanned with Ca

شي يو بل ارشاددي ﴿إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا﴾([1]) يعني زمکه به په ډير زور سره خوزيږي او غرونه به ذره ذره شي. د صورپه يوحديث کښې دی الله ﷻ چه کله د آسمان اوزمکې پيدائش اوکړو نو صور(شپيلئ)پيداکړه دائی اسرافيل عليه السلام ته ورکړه او هغه په خُله کښې نيولې سترګې د عرش طرف ته پورته کړې ګوری چه درب حکم به کله وی چه هغه شپيلئ پوك وهی.ابوهريره رضي الله عنه تپوس اوکړو يارسول الله ﷺ دا صور يعنی شپيلئ څه څيز دې؟ حضورﷺ اوفرمائيل د پوك وهلو يو څيز دې ډير لوئ چه په هغې کښې به درې ځل پوکې وهلې شی په کوم سره چه به ټول د زمکې اوآسمان والا اوويريږی بغير د هغوی نه څوك چه الله ﷻ غواړی بغير دبنديدواوبغيردساه اخستوبه ئې ډيروخته پورې برابر وهی.هم د دې رومبئ شپيلئ ذکر.په آيت ﴿وَمَا يَنظُرُ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ﴾ ([2]) کښې دې.پدې سره به غرونه ذره ذره شی اوزمکه به اوړچيږی لکه چه ارشاددې﴿يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ﴾([3])کله چه به زمکه لړزيږی يوبل پسې به زبردستې جټکې لګی اوزړونه به درزيږی. دزمکې به داسې حالت شی لکه د کشتئ چه په طوفان غولئ کښې وی اويايوقنديل فانوس په چت کښې زوړند وی اوهغه هواځلورو واړو طرفونوته زنګوی. افسوس هم دغه وخت به وی چه پئی ورکونکې ښځې به خپلو بچوته پئی ورکول هيرکړی اود حامله ښځې حملونه به پريوځی اوماشومان به بوډاګان شی شيطانان به اوتختی د زمکې د غاړو پورې به اورسی خود هغه ځائ نه به د فرښتو په وهلوسره راواپس کړې شی. خلق به اخواديخوا حيران اوپريشان منډې ترړې وهی يوبل ته به آوازونه کوی هم د دې وجه نه قرآن پاك د دې ورځ نوم يوم التناد کيخودې دی. هم په دغه ورځ به زمکه د يو طرف نه د بل طرفه پورې اوشليږی د هغه وخت د ويريدو اندازه نه شی کيدې.بيا په آسمان کښې بدلونونه ښکاره شی نمرسپوږمئی به بې نوره کړې شی ستوری به راو رژيږی اوځمکې به راوځی ژوندی خلق به دا هرڅه وينی او مړه خلق به د دې نه بې خبره وی.د قرآن پاك آيت﴿ فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ﴾([4])کښې د کوموخلقو استثناء کړې ده چه هغوی به بې هوشه نه وی.دې نه مراد شهيدان خلق دی دا ويره به په ژوندوخلق باندې وی شهيدان د الله ﷻ په نيز ژوندی دی او رزق حاصلوی الله ﷻ به هغوی ته د دې ورځې د شر نه خلاصې ورکوی او هغوی به په امن کښې ساتی د الله ﷻ دا عذاب به صرف خراب مخلوق د پاره وی. هم دا الله ﷻ د دې سورت د شروع په آياتونوکښې بيانوی.([5]) داحديث طبرانی ابن جرير ابن ابی حاتم وغيره کښې دې او ډير اوږد دې د دې حصې د نقل کولونه دلته مقصد دا دې چه په دې آيت کښې د کومې زلزلې ذکر دې دا به د قيامت د قايميدونه اول وی اود قيامت طرف ته د دې اضافت د وجه د نيزديوالی د قيامت دې لکه چه وائی اشراط الساعة وغيره والله اعلم. ياد دې نه مراد هغه زلزله ده چه د قيامت نه پس به په ميدان محشرکښې وی کله چه خلق د قبرونونه راوځی اود محشر ميدان کښې جمع کيږی. امام ابن جرير رحمه الله هم دا خوښوی. د دې په دليل کښې ډير احاديث دی.

**د محشرميدان اودهغه متعلق احاديث**:-حضور ﷺ په يوسفرکښې وو صحابه کرام رضي الله عنهم ډير تيز تيز روان وو.حضور اکرمﷺ دې دواړوآياتونوپه اوچت آوازسره تلاوت اوکړو.دصحابه کرام رضي الله عنهم په غوږونو کښې د آواز پريوتلوسره ټولوخپلې سورلئ واخستې اود حضورﷺ نه چاپيره جمع شو چه کيدې شی حضور ﷺ نور هم څه اوفرمائی. حضوراکرم ﷺ اوفرمائيل معلومه ده چه دابه کومه ورځ وی؟ دابه هغه ورځ وی

---

[1] ) ٥٦/الواقعه:٤. الخ

[2] ) ٣٨/صٓ:٥١.

[3] ) ٧٩/النازعات:٦. الخ

[4] ) ٢٧/النمل:٨٧.

[5] ) ابن ابی حاتم:١٦٣/١٢، الطبری:٥٥٩/١٨.

Scanned with Ca

په کومه ورځ چه به الله ﷻ آدم ؑ ته فرمائي اې ادم ددوزخ حصه راوباسه نوهغه به وائي یاالله دڅومره نه څومره؟ فرمائي به دهریوزرو نه یوکم زر د دوزخ د پاره او یود جنت د پاره. دې اوریدو سره د صحابه کرام ؓ زړونه اودریدو چپ شو.حضورﷺ چه داحالت اوکتلو نو وئې فرمائیل غم مه کوئې خوشحاله شئې اوعمل کوئې د هغه ذات قسم دچا په لاس کښې چه زما ځان دې تاسو سره د مخلوق هغه شمیردې چه کوموسره هم وی هغه به زیاتوی. یعنی یاجوج اوماجوج د بنیادمونه چه کوم هلاك شوی دی اودابلیس اولاد.اوس دصحابه کرامو ؓ ویره لږه شان کمه شوه نوحضورﷺ اوفرمائیل چه عمل کوئې اوزیرې واورئې د هغه قسم دچا په لاس کښې چه دمحمدﷺ ځان دې تاسو خود نورو خلقو په مقابله کښې داسې ئې لکه د اوښ د اړخ یا د ځناور د لاس داغ(۱) هم د دې روایت په بل سند کښې دی چه داآیت د سفرپه حالت کښې نازل شوېه دې کښې دی چه صحابه کرامو ؓ د حضورﷺ دافرمان واوریدونوپه ژړاشو.حضورﷺ اوفرمائیل نیزدې نیزدې اوسیږئې اوټیك ټاك اوسیږئې دهریونبوت نه وړاندې دجاهلیت زمانه پاتې ده هم هغه به دا شمیرپوره کوی ګنی نود منافقانونه به داشمیرپوره کولې شی.په دې کښې دی چه حضورﷺ اوفرمائیل زما خودا امیددې چه د جنت څلورمه حصه به هم تاسو ئې دې اوریدو سره صحابه کرامو ؓ الله اکبر اووئیل ارشاد اوشو څه عجیبه ده چه تاسودریمه حصه ئې. په دې باندې هغوی بیاتکبیراووئیل حضورﷺ اوفرمائیل چه زما امید دې تاسو به نیم په نیم ئې هغوی بیاتکبیراووئیل راوی وائي چه ماته یادنه دی چه حضورﷺ بیا دویمه حصه هم اوفرمائیله که نه. (۲)
یوبل روایت کښې دی چه د غزوه تبوك نه په واپسئې باندې مدینې سره نیزدې حضورﷺ د آیت تلاوت شروع کړو.په یوبل روایت کښې دی کوم چه هلاك شو د پیریانونه اوانسانانونه(۳)یوبل حدیث کښې دی تاسو په زرو جزونوکښې یوجز ئې. (۴)
په صحیح بخاری کښې د دې آیت په تفسیرکښې دی چه د قیامت په ورځ به الله ﷻ حضرت آدم ؑ راوغواړی هغه به جواب ورکړی﴿لبيك ربنا وسعديك﴾بیا به آواز راشی الله ﷻ تاته حکم درکوی چه د خپل اولاد نه د دوزخ حصه راوباسه هغه به تپوس کوی یاالله څومره؟ حکم به کولې شی په هرو زروکښې یو کم زر.هغه وخت به د حامله ښځو حمل پریوځی ماشومان به بوډاګان شی خلق به وارخطاشی د څه نشې په وجه نه بلکه دالله تعالی د عذابونود سختئې په وجه. دې اوریدو سره د صحابه کرامو ؓ مخونه بدل شان شو نوحضورﷺ اوفرمائیل د یاجوج ماجوج نه یوکم زر اوتاسو نه یو. تاسو خوداسې ئې لکه د سپین رنګ په غوایه کښې توروېښته چه د هغه په اړخ کښې وی یا په شان د یوڅو سپینو وېښتو چه د تورو وېښتو دغوائې په اړخ کښې وی. بیائې اوفرمائیل چه زما امید دې چه په ټولوجنتیانوکښې به ستاسو شمیر د څلورمې حصې وی مونږ په دې باندې تکبیراووئیل. بیائې اوفرمائیل نیم شمیرکښې ټول اوپه نیم کښې صرف تاسو(۵) یوبل روایت کښې دی چه صحابه کرام ؓ اووئیل حضورﷺ بیا به هغه خوش نصیب په مونږ کښې څوك وی چه کله داحالت دی(۶)یوبل روایت کښې دی تاسو به د الله ﷻ په وړاندې بربنډې پښې بربنډ بدن اوناسونته راجمع کولې شئې.حضرت عائشه ؓ اوفرمائیل حضورﷺ ښځې اوسړی په یوځای؟ په یوبل به ئې نظر پریوځی. حضورﷺ اوفرمائیل عائشه هغه وخت

(۱) احمد:۴/۴۳۵، ترمذي كتاب تفسير القرآن باب ومن سورة الحج۳۱۶۹والحاكم:۱/۲۸.
(۲) ترمذی كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة الحج:۳۱۶۸ احمد:۴/۴۳۲، مسندحمیدی:۸۳۱.
(۳) مسند ابي يعلى:۳۱۲۲.
(۴) وسنده.
(۵) صحيح بخارى كتاب التفسيرسورة الحج باب قوله ﴿وترى الناس سكرى﴾:۴۷۴۱، صحيح مسلم:۲۲۲، احمد:۲/۳۲.
(۶) احمد:۱/۳۸۸.

به ډيرسخت اوخطرناك وی(۱)(صحيحين)مسنداحمد کښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمانی ماوئيل يارسول الله ﷺآيا دوست به د قيامت په روځ خپل دوست يادوی؟ حضورﷺ اوفرمائيل عائشه په دريو موقعو باندې به څوك هيڅ څوك هم يادنه کړی د عملونود تول په وخت کښې ترکومې چه کمې زياتې معلوم نه شی. د عمل نامو د ورکولو په ځائ اووخت کښې ترکومې چه په ښی اوګس لاس کښې ملاونه شی.

**جهنم به درې قسمه خلق راګيروی**:-هغه وخت چه د دوزخ نه به يوه غړانګه راوځی چه راګيروی به او په سخت غضب اوغصه کښې به وی اووائي به چه زه په درې قسم خلقو باندې مسلط شوې يم يوخو هغه خلق چه دالله ﷻ نه بغيرنورو خلقو ته آوازونه کوی.دويم هغه چه د حساب په ورځ ئی ايمان نه وی راوړې اوپه هرسرکش کبرژن ضدی اوبيا به هغه دوی راغوندکړی او په راټولولو سره به ئی خپلې خيټې ته اورسوی. په دوزخ باندې به پل صراط وی چه د ويښته نه به نرې او تورې نه تيره وی په دې باندې به ازغی او رکاوټونه وی څوك چه الله ﷻ غواړی اوبه ئی نيسی په دې باندې تيريدونکی به د بجلئی په شان وی دسترګو رپولو په شان او په شان د هوا اوپه شان د تيزو اسونو اوښانو. فرښتې به څلور واړه طرفونوته ولاړې دعاګانې کوی الله سلامتيا ورکړې الله ﷻ بچ ئی کړې نو بعضې خو به صحيح سالم تيرشی اوبعضې به څه ناڅه زخم اوخوری بچ به شی او بعضې به پړمخې دوزخ ته پريوځی(۲) د قيامت آثار اوددې په تباهوکښې نور هم ډير احاديث دی د کوموچه ځائ بل دې. دلته اوفرمائيلې شو دقيامت زلزله ډيره خطرناکه ده ډيره سخته ده زړه درزونکې ده تباه کونکې ده او اينه الوزونکی ده. زلزله د رعب او ويرې په وخت کښې زړه خوزيدلو ته وائی لکه چه په آيت کښې دی په دې ميدان جنګ کښې مؤمنان اخته کړې شو اوسخت اوجړقولې شو(۳) کله چه تاسودا اووينئی دا ضمير شان د قسم نه دې په دې وجه د دې نه پس د دې تفسيردې. د دې سختنې په وجه پئی څکونکې منيندې خپل بچی هيرکړی او دحامله حمل به پريوځی خلق به وارخطاشی داسې به ښکاری لکه چه په نشه کښې بدمست وی خو په اصل کښې به هغوی په نشه کښې نه وی بلکه د عذابونوسختو به هغوی بې هوشه کړې وی.

| وَمِنَ النَّاسِ | مَنْ | يُّجَادِلُ | فِي اللهِ | بِغَيْرِ عِلْمٍ | وَّيَتَّبِعُ |
|---|---|---|---|---|---|
| او ځينی دخلقو نه | هغه دی | چې جګړه کوی | په باره دالله کښې | بغير دعلم نه | او پيروی کوی |

اوبعضې خلق داسې هم دی اچې دالله ﷻ په باره کښې بغير د علم (اودليل) نه جګړې کوی او

| كُلَّ | شَيْطٰنٍ | مَّرِيْدٍ ۝ | كُتِبَ | عَلَيْهِ |
|---|---|---|---|---|
| دهر | شيطان | سر کشه | حال دا چې ليکلې شوی ده (دا خبره) | په حق ددغه شيطان کښې |

د هر يو سرکش شيطان تابعداری کوی اچې چا په باره کښې چې دا ليکلی شوې دې چې

| اَنَّهٗ | مَنْ | تَوَلَّاهُ | فَاَنَّهٗ | يُضِلُّهٗ |
|---|---|---|---|---|
| چې بيشکه | هغه څوك | چې دوست کوی ده لره | نو بيشکه | به بې لارې کوی هغه (تابع خپل) |

څوک هغه سره ملګرې شی ا ......................نو هغه ئې ګمراه کړی

| وَيَهْدِيْهِ | اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝ | يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ | اِنْ كُنْتُمْ | فِيْ رَيْبٍ |
|---|---|---|---|---|
| اولار به ښائی هغه ته | دعذاب د وورکرم | اے خلقو | که يئ تاسو | په شک کښې |

اود دوزخ د عذاب لار ورته سموی ا ......................ائې خلقو! که تاسو دبيا ژوند په باره کښې شکمن

(۱) صحيح بخاری كتاب الرقاق باب الحشر:۶۵۲۷ صحيح مسلم:۲۸۵۹.
(۲) احمد:۵/۱۱۰.
(۳) ۳۳/الاحزاب:۱۱.

Scanned with Ca

مِّنَ الۡبَعۡثِ فَاِنَّا خَلَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ تُرَابٍ ثُمَّ مِنۡ نُّطۡفَةٍ

ددوباره ژوندی کیدونه | پس بیشکه | پیدا کړی یئ مونږ تاسو | دخاورو نه | بیا | دنطفې نه

یئ | نو (لږ فکر اوکړئ) چې مونږ تاسو (اول) دښاورې نه پیدا کړئی | بیا د یو څاڅکی اوبونه

ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنۡ مُّضۡغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيۡرِ مُخَلَّقَةٍ

بیا دوینې دټوټې نه | بیا دغوښې دټوټې نه | چې پوره شکل والا هم وی | او نیمګړی شکل والا هم وی

بیا د چکه وینې نه | بیا دغوښې دټوټې نه | چې (بعضې) پوره وی او (بعضې) ناپوره وی

لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡ ؕ وَنُقِرُّ فِى الۡاَرۡحَامِ

دپاره ددې چې واضحه کړو مونږ | تاسو ته (حقیقت) | او قرار ورکوؤ مونږ | په رحمونو (دمیندو) کښې

چې تاسو ته خپل قدرتونه اوښائی | او مونږ چې دچا په باره کښې اوغواړو نو تر

مَا نَشَآءُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلًا

هغه چې خوښه شی زمونږه | دنیټې خاصې پورې | بیا | راوباسو مونږ تاسو | په شکل دبچی کښی

یوې مودې پورې هغه دمور په رحم کښې ځائې کړو | بیا تاسو د پوره ماشوم په صورت کښې پیدا کړو

ثُمَّ لِتَبۡلُغُوۡۤا اَشُدَّكُمۡ ۚ وَمِنۡكُمۡ مَّنۡ

بیا (پالو تاسو) | دپاره ددې چې اورسئ تاسو | پوره ځوانی خپلې ته | او ځینی ستاسو نه | هغه دی

او چې بیا د ځوانئ زور ته اورسئ | او په تاسو کښې څوک داسې دی | چې (په پوخ عمر کښې) مړه شی

يُّتَوَفّٰى وَمِنۡكُمۡ مَّنۡ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ

چې وفات کړې کیږی | او ځینی ستاسو نه | هغه دی | چې واپس کړې کیږی | بدترین عمر ته

او بعضې داسې وی | چې (دبوډاتوب) غورزیدلی عمر ته اورسی

لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۡۢ بَعۡدِ عِلۡمٍ شَيۡــًٔا ؕ وَتَرَى الۡاَرۡضَ هَامِدَةً

دپاره ددې چې پوهه نشی | روستو دپوهیدو نه | په څه څیز باند | او ته وینې | زمکه | اوچه کلکه

چې دپوهې نه پس یو ځل بیا په څه نه پوهیږی |..........اوته وینې ګورې چې زمکه اوچه مړه پرته وی

فَاِذَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡهَا الۡمَآءَ اهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَاَنۡۢبَتَتۡ

نو هر کله چې | نازل کړو مونږه | په هغې باند | اوبه | نو اوخوزیږی | او اوپړسیږی | او زرغون کړی

نو کله چې مونږ په هغې اوبه راوروؤ | نو راویښه شی | او زرغونه شی | او دهر قسم

مِنۡ كُلِّ زَوۡجٍۢ بَهِيۡجٍ‏ ۞ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡحَـقُّ

دهر قسم | بوټو ښائیستو نه | دا کار | په سبب ددې چې بیشکه | الله | هم هغه حق دې |

ښائسته شینکئ راوټوکوی | دا ځکه چې الله ﷻ حق دې | او هم هغه پخپله

وَاَنَّهٗ يُحۡيِ الۡمَوۡتٰى وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌۙ ۝٦ وَّاَنَّ

او بیشکه هغه | ژوندی کوی | مړی | او بیشکه هغه | په هر څیز باند | قادر دی | او بیشکه

مړو کې ساه اچوی | او هغه په هر څیز باندې قدرت لری | او دا (څکه) چې

السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيۡبَ فِيۡهَاۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبۡعَثُ

قیامت | راتلونکې دي | نشته هیڅ شك | په راتلو دهغې کښې | او بیشکه چې الله | به راژوندی کوی

قیامت راتلونکې دې | په دې کښې هیڅ شک نشته | او الله ﷻ به په قبرونو کښې پراته مړی

مَنۡ فِى الۡقُبُوۡرِ ۝٧

هغه څوك | چې په قبرونو کښې دی |

يو ځل بیا راژوندی کوی |

قوله تعالى:-وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ

**په الله ﷻ باندې بهتانونه لګول:**-کوم خلق چه دمرګ نه پس د ژوندون منکردی او الله ﷻ په دې باندې قادرنه منی اودالله ﷻ دفرمان نه اخواکیږی دنبیانوتابعداری پریږدی اودسرکش انسانانو اوپیریانو ماتحتی کوی دهغوی الله ﷻ تردیدبیانوی. تاسوګورئی چه څومره بدعتی اوګمراه خلق دی هغوی د حق نه مخ اړوی د باطل په تابعدارئی کښې لګیاکیږی دالله ﷻ کتاب اودهغه د رسول ﷺ سنت پریږدی او د ګمراه سردارانو منی.دهغوی په رائې او خواهش باندې عمل کوی. د دې د پاره ئی اوفرمائیل چه دوی سره صحیح علم نشته. دوی چه د چا منی هغوی ازلی سپیره دی خپل تقلیدکونکی دهوکه کوی او آخر هغوی په عذاب کښې راګیروی کوم چه د دوزخ سوزونکې اُوردې.

**ددې ایت مبارک شان نزول:**-دا آیت د نضربن حارث باره کښې نازل شوې دې[1] دې خبیث وئیلې وو چه لږ خواوښایه چه الله ﷻ دسرو زرو دې سپینوزرودې که دتانبې دې.دهغه په دې سوال کولوسره آسمان اولړزیدو اودهغه کوپړئی والوته.یوروایت کښې دی چه یو یهودی هم داسې سوال کړې وو هم هغه وخت آسمانی ګړز(تندر) هغه هلاك کړو.

**د انسانی پیدائش مختلف ادوار:**-د قیامت د مخالفینواومنکرینو وړاندې دلیل بیانولې شی که ستاسود دویم ځل دژوندون نه انکار دې نومونږ د دې په دلیل کښې تاسوته ستاسو د اول ځل پیدائش دریادوو. تاسو په خپل اصلیت غور اوکړئی اوګورئی چه مونږ تاسو د خاورې نه پیداکړی ئی یعنی ستاسو پلار حضرت آدم ؑ د چا نسل چه تاسو ټول ئی تاسو ټول مو د اوبود یو ذلیل څاڅکی نه پیداکړئی کوم چه اول دچك وینې شکل اختیارکړو بیاد غوښې یوه ټکړه جوړه شوه.دڅلویښتو ورځوپورې خو نطفه په خپل شکل کښې وړاندې کیږی بیاد الله ﷻ په حکم سره د وینې سوروالی راپیداشی بیا څلویښت ورځې پس هغه د غوښې یوه ټکړې شکل اختیارکړی په کوم کښې چه څه شکل اوصورت نه وی بیا الله ﷻ دې ته صورت ورکوی سرسینه خیټه پنډئی پښې او ټول اندامونه جوړیږی کله د دې نه وړاندې حمل ساقط کیږی کله د دې نه پس ماشوم پریوځی داستاسو د مشاهدې خبره ده اوکله پاتې کیږی. کله چه په دې ټکړه باندې څلویښت ورځې تیرې شی نو الله ﷻ فرښته راولیګی هغه ټیک ټاك او صحیح کولوسره په دې کښې روح وروپوك وهی اوچه څنګه د الله ﷻ خوښه وی هم هغه شان ښائسته یا بدرنګه ښځه یاسړې جوړوی. رزق اجل نیکی بدی هم دغه وخت لیکلې کیږی. بخاری اومسلم شریف کښې

[1] الطبری:۱۸/۵۶۶.

Scanned with Ca

دي رسول الله ﷺ فرمائي په تاسوکښې دهريو پيدائش ستاسودموريه خېټه کښې ترڅلوېښتو ورځو پورې جمع کيږي.بيادڅلوېښتو ورځونه پس چك ويني شكل اختياروي بياڅلوېښت ورځې پس د غوښې ټکړه بيا فرښتې ته دڅلورو څيزونوليکلوحکم ورکولوسره راليګی. رزق عمل اجل نيك بخت او بدبخت ليکلې کيږي بيا په دې کښې روح پوك وهلې شي. (۱)

**دپيداګيدو نه وړاندې دتقدير ليکل:-** عبدالله ﷺفرمائي چه په رحم کښې نطفه حصاريدوسره فرښته تپوس کوي چه اې الله ﷻ دابه مخلوق وي که نه؟که انکاراوشي نو هغه کلکيږي نه هم د وينې په شکل کښې درحم نه خارج کيږي اوکه حکم ملاوشي چه دده پيدائش به کولې شي نوفرښته معلومات کوي چه هلك به وي که جينئ؟نيك به وي که بد؟اجل به ئې څه وي؟ اثربه څه وي؟چرته به مري؟بيادنطفه نه تپوس کولې شي ستارب څوك دې؟هغه وائي الله.تپوس کوي چه رازق څوك دې؟وائي الله.بيا فرښتې ته وائي چه لاړشه اوپه اصل کتاب کښې اوګوره دده ټول حال به ملاوشي.بيا هغه پيداکولې شي اوليکلې شوې ژوندون تيروي. تقديراو رزق بياهومې مقرر ځائ ته ځې راځې بيامرګ راځې او خښولې شي کوم ځائ چه خښيدل مقرر وي.بياحضرت عامر رحمه الله دغه آيت تلاوت کړو.د غوښې ټکړه جوړيدونه پس د څلورم پيدائش طرفته واپس کولې شي اوژوندئې ساه جوړيږي.دحضرت حذيفه بن اسيد ﷺ نه يومرفوع روايت دې چه څلوېښت پنځه څلوېښت ورځې په نطفه باندې تيرې شي نوفرښته معلوموي چه داجنتې دې که دوزخې؟چه جواب ملاوشي نو ليکلې کيږي بيا تپوس کوي چه هلك به وي که جينئ؟ کوم جواب چه ملاويږي نو ليکي. بيا عمل اثر رزق او اجل ليکلې شي اوکتاب راغونډولې شي په کوم کښې چه نه کمې ممکن دې اونه زياتې(۲)بيا ماشوم شي اوپه دنيا کښې پيداشي نه په کښې عقل وي نه پوهه کمزورې وي او ټول اندامونه ئې ضعيف وي بيائي الله ﷻ لويوي.مورپلار پرې مهربان کوي شپه ورځ هغوی ته د ده فکر وي په تکليفونواوچتولوسره پالنه کوي او الله ﷻ هغه لويوي اود تازه ځوانئي زمانه راځي ښانسته او صحت مند کيږي بعضې خو په ځوانئي کښې لاړشي او بعضې بوډاګان کيږي.

**د انسان ضعيف العمرې:-** چه بيا عقل او پوه ترې لاړه شي اود ماشومانو په شان کمزورې شي په حافظه او پوهه کښې کمې راشي دعلم نه پس بې علم شي لکه چه ارشاد دې﴿اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَيْبَةً ۭ يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ﴾(۳) الله ﷻ مونږ په کمزورئي کښې پيدا کړو بيائي زوراوطاقت راکړاوددې قوت اوطاقت نه پس ضعف او بوډاوالې راغلو.کوم چه هغه غواړي پيداکوي هغه د پوره علم او کامل قدرت مالك دې.

**دانسان د عمر متعلق مرحلې:-** مسند حافظ ابويعلی موصلي کښې دی رسول الله ﷺ فرمائي ماشوم چه تر کومې بالغتوب ته اونه رسي د هغه نيکئي د هغه د پلار يا مور پلار په عمل نامه کښې ليکلې کيږي او بدئ نه په هغوی باندې وی اونه په هغه باندې. بلوغت ته په رسيدوباندې قلم په هغه باندې روان شي اودهغه سره فرښتو ته د هغه دحفاظت اوهغه د صحيح ساتلوحکم ملاويږي.کله چه هغه په اسلام کښې دڅلوېښتو کالو عمر ته رسي نوالله ﷻ هغه له ددريو بلاګانونه خلاصې ورکوي.دليونتوب نه جذام نه او برص (برګی مرض) نه.کله چه په هغه باندې دالله ﷻ په دين کښې پنځوس کاله تيريږي نو الله ﷻدهغه په حساب کښې سپکوالې کوی کله چه هغه دشپيتوکالوشي نوالله ﷻهغه دخپلې رضا مندئي کارونوطرف ته طبيعت ورکرځوی اوهغه خپل طرف ته راغب کوی.کله چه هغه د اوياؤ کالوشي

(۱) صحيح بخاری کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائكة صلوات الله عليهم:۳۲۰۸، صحيح مسلم:۲۶۴۳، ابوداوٗد:۴۷۰۸، ترمذی:۲۱۳۷
(۲) صحيح مسلم کتاب القدر باب كيفية خلق آدمی فی بطن امه....:۲۶۴۴، احمد:۶/۴، مشكل الاثار:۲۶۶۳، السنة لابن ابی عاصم:۱۷۹، ابن حبان:۶۱۷۷.
(۳) ۳۰/الروم:۵۴. اځ

Scanned with Ca

نو اسماني فرښتې هغه سره محبت کوي اوکله چه هغه د اتيا ؤکالوشي نو الله ﷻ دهغه نيکئي خوليکي ولې د بدونه ئې تجاوز کوي. کله چه هغه دلس کم سلوکالوعمرته اورسي نوالله ﷻدهغه وړاندې روستو ګناهونه معاف کوي د هغه د کور دخلقو د پاره هغه سفارشي او شفيع جوړوي هغه ته د الله ﷻ په نيز د امين الله خطاب ملاويږي او په زمکه کښې د الله ﷻ د قيديانو په شان اوسيږي.

کله چه هغه ډيرناکاره عمر ته اورسي اود علم نه پس بې علم شي نوکوم څه چه هغه د خپل صحت او هوش په زمانه کښې نيکئي کولې تولې برابر هم د هغه په عمل نامه کښې ليکلې کيږي. اوکه يوه بدي د هغه نه اوشي نو نه ليکلې کيږي(١) داحديث ډيرغريب دې او سخت نکارت په کښې دې سره د دې نه دا امام احمد بن حنبل ؒ په خپل مسندکښې موقوفًا هم او مرفوعًا هم راوړلې دې. د حضرت انس ؓ نه موقوفًا نقل دې اود حضرت عبدالله بن عمربن الخطاب ؓ نه درسول الله ﷺ فرمان اوبيا د حضرت انس ؓ نه په دويم سندسره مرفوعًا هم دا وارد دې(٢) حافظ ابوبکربن بزار ؒ هم دا په روايت د حضرت انس بن مالك ؓ نه په حديث مرفوع کښې بيان کړې دې. (٣) (او په مسلمانانوباندې د رب د مهربانئي تقاضا هم دا ده. الله ﷻ دې زمونږ په عمر کښې په نيکئي سره برکت واچوي. آمين)

**د مرګ نه پس د ژوندې کيدو يوبل دليل:**-دمړودژوندی کولويودليل بيانولوسره بيادا دويم دليل بيانوي چه هوارميدان بغيرد راټوکيدو اوچه اوسخته زمکه مونږ په آسماني اوبوباندې خروب کولوسره شنه او تازه کوو.قسم قسم ګلونه ميوې دانې خوږې تروې ښکلې مزيدارې رنګ او شکل والا ميوو نه ډکې شوې ښائسته لونې وړې ونې په خوزيدو خوزيدو سره د سپرلي مزه ښائي.هم دا هغه مړه زمکه وه چه د پرون پورې ئې خاورې الوزولې اونن د زړه خوند او د سترګو نور جوړيدو سره د خپل ژوند او ځوانئي مزه ورکوي.دګلونوواړه واړه بوټي دماغو له تازګي ورکوي د لرې نه د نسيم سپکې سپکې چپې څومره ښکلې معلوميږي.فسبحان الله وبحمده.رښتيادی چه خالق مدبر د خپلې خوښې مطابق کونکې خود مختاره حاکم حقيقي هم الله ﷻ دې. هم هغه د مړو ژوندی کونکې دې اود هغې نښه د مړې زمکې ژوندی کيدل د مخلوق د سترګو په وړاندې دی هغه په هريوانقلاب او هر زړه په حال باندې قادر دې. څه چه غواړې کيږي دکوم کار چه اراده کوي واني چه اوشه نوبيانامِمکن دی چه هغه ويناکولوسره اونشي.يادساتئ چه قيامت بې شکه اوشبهې راتلونکې دې اودقبرونو مړي به هغه قديرالله ﷻ ژوندي کولوسره رااوچتوي. هغه د عدم نه په وجودکښې په راوستلوباندې قادر دې او وي به. په سورت يس کښې هم دبعضو خلقو داعتراض ذکرکولوسره هغوی ته دهغوی ړومبې پيدائش وريادولوسره قائل کړې دی اودې سره د شنې ونې نه د اور پيداکولو قلب ماهيت هم په دليل کښې پيش کړې دې. (٤) نور آياتونه هم په دې باره کښې ډير دی.

**د الله ﷻ د ديدار مثال په دنيا کښې:**-حضرت لقيط بن عامر ؓ چه د ابورزين عقيلي په کنيت سره مشهور دې يوځل د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړوچه آيا مونږ خلق به ټول په ټول خپل رب تبارك وتعالى ليدلې شو؟ اود هغه په مخلوق کښې د دې ليدلو څه مثال شته؟ حضور ﷺ اوفرمائيل چه ولې تاسو ټول په ټول سپوږمئي ته نه ګورئي؟ مونږ وئيل او نو بيا الله ﷻ خو د لوئ شان خاونددې. بيائي عرض اوکړوچه حضور ﷺ دمړو ژوندی کولوهم څه مثال په دنياکښې شته؟جواب ملاوشو ولې پدې ځنګلو

---

(١) مسندابي يعلى:٣٦٧٨.
(٢) احمد:٢/٨٩.
(٣) احمد:٣/٢١٧-٢١٨.
(٤) ٣٦/يسين:٧٨-٨٠.

Scanned with Ca

کښې تاسو نه تیرېږي کوم چه غیرآباد او وران پراته وي خاورې الوزي اوچ او مړه کېږي بیا تاسو ګورئ چه هم هغه ټکړه تکه شنه اوقسم قسم ونونه شنه آباده په نوي ژوندسره پیداکېږي ښکلې کېږي دغه شان به الله ﷻ مړي راژوندي کوي او په مخلوق کښې هم کتلې شوي مثالونه د دې پوره نمونه اوثبوت موجود دي[۱] (ابوداؤد وغیره) حضرت معاذ بن جبل ﷺ فرمائي څوك چه د دې خبرې یقین اوساتي چه الله ﷻ حق دې اوقیامت خامخا بې شکه راتلونکې دې او الله ﷻ به مړي د قبرونو نه بیا راژوندي کوي هغه یقیني جنتي دې.

| |
|---|
| وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ |
| او ځیني دخلقو نه \| هغه څوك دي \| چې جګړه کوي |
| اوپه خلقو کښې بعضې داسې هم شته \| چې دالله ﷻ په باره کښې |
| فِي اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿٨﴾ ثَانِيَ |
| په باره دالله کښې \| بغیر دعلم نه \| او بغیر دهدایت نه \| او بغیر دکتاب روښانه نه \| تا وونکې وی |
| بې دڅه علم نه اوبې د څه دلیل نه اوبې د یوروښانه کتاب نه جګړې کوي\|............. په تکبر سره |
| عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ ۭ لَهٗ فِي الدُّنْيَا |
| ددې خپلې لره \| دپاره ددې چې بې لارې کړي خلق \| دالله دلارې نه \| دپاره دهغه \| په دنیا کښې |
| څټ ګرځوي \|.............. چې (خلق) دالله ﷻ دلارې نه ګمراه کړي \|داسې بنده دپاره په دنیا کښې |
| خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿٩﴾ |
| شرمندګي ده \| اووربه څکوو مونږ هغه ته مزه \| په ورځ دقیامت \| دعذاب سوزونکې \| |
| هم رسوائي ده \| او دقیامت په ورځ به مونږ دوئ ته د سوزونکې عذاب مزه اوڅکوو |
| ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللهَ |
| دا عذاب \| په سبب دهغې عمل دې \| چې مخکښې لیږلې وو \| لاسونو ستا \| او بیشکه چې الله \| |
| دادهغه عملونو سزا ده \| چې تا وړاندې لیږلې وو \| اوالله ﷻ په خپلو بندګانو چرې هم |
| لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿١٠﴾ ع |
| نه دې \| ظلم کونکې \| په بندګانو (خپلو) باند \| |
| ظلم نه کوي \| اوپه خلقو کښې بعضې هغه هم شته \| |

**د جاهلانو مقلدانو حالت:** پورتنو آیاتونوکښې دګمراه جاهلانو تقلید کړل شوؤحال بیان شوې وودلته د هغوی دپیرانو مرشدانو ګمراهانو مبتدعینوحال بیانولې شي چه هغوی په بې عقلئي اوبې دلیلئي سره په صرف رائې قیاس او نفساني خواهشاتوسره دالله ﷻ باره کښې کلام کوي دحق نه ډډه کوي په کبرسره سټ اړوي دحق قبلولونه بې پرواهئي سره انکارکوي. لکه څنګه چه فرعونیانودموسی ﷺ ښکاره معجزې کتلو سره هم انکار بې پروائي اوکړه او وئې نه منلې. بل آیت کښې دی کله چه هغوی ته د الله ﷻ د وحی د تابعدارئی د پاره اوونیلې شي اود رسول الله ﷺ فرمان طرف ته رابللې شي نوته

۱) احمد: ۴/۱۱، ابوداؤد کتاب السنة باب في الرؤية: ۴۷۳۱ وسنده حسن، ابن ماجه: ۱۸۰ مختصرًا.

Scanned with Ca

خو به اوګورې اې رسول ﷺ دامنافقان تانه منع کيږي. په سورت منافقون کښې ارشاد اوشو چه کله دوی ته وئيلې کيږي چه راشئی د خپل ځان د پاره په رسول الله ﷺ باندې استغفار اوکړئی نوهغوی خپل سر راتاوکړي او په غرور کښې راشي او بې نيازئی سره انکار کوی. (۱)

حضرت لقمان ﷺ خپل ځوئ ته نصيحت کولوسره اوفرمائيل ﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾(۲) دخلقو نه خپل اننګی مه خوره وه يعنې خپل ځان لوئ ګڼړلو سره کبر مه کوه. بل آيت کښې دی زمونږ آياتونه اوريدو سره دکبر نه مخ اړوی(۳) د ﴿ليضل﴾ لام خو يالام عاقبت دې يالام تعليل دې د دې د پاره اکثر د دې مقصد دنورو ګمراه کول نه وی اوممکن ده دې نه مراد معاند او انکارهم وی اوکيدې شی چه دامطلب وی چه مونږ هغوی دا داسې بداخلاقه په دې وجه سازکړل چه دوی د ګمراهانوسردار شی. د دوی د پاره په دنياکښې هم ذلت اوخواری ده چه بدله ده د ده د تکبر. ده دلته کبر کولو اولوئ جوړيدل ئی غوښتل مونږ به دې نور هم وړوکې کړو. دلته به هم په خپله غوښتنه کښې ناکام او بې مراده به وی اوپه آخرت کښې به هم د دوزخ د اور نوړنی وی.دابه د غصې او رټنې په توګه وئيلې کيږي چه دا ستاد عمل نتيجه ده د الله ﷻ ذات د ظلم نه پاك دې. لکه چه ارشاد دې فرښتو ته به وئيلې شی دې اونيسئی او په راښکو ئی دوزخ ته بوځئی اود ده په سرباندې د اور په شان اوبه اوبهيوئی. واخله اوس د خپلې لوئې خپل عزت اود لوئې بدله واخله څه. هم دغه هغه څه دی چه په کوم سره په ټول عمر کښې په شك شبه کښې پاتې وی(۴)حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی ماته دا روايت راو رسيدو په يوه يوه ورځ به هغوی اويا اويا ځل په اورکښې به اوسوزی او يقينی به شی بيابه ژوندی کولې شی او بيا به سوزولې شی.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ

اوځينی دخلقو نه|هغه څوك دی|چې بندګی کوی دالله

اوپه خلقو کښې بعضې هغه هم شته|چې دالله عبادت (دشک شبهې) په غاړه (ولاړ) کوی

عَلَىٰ حَرْفٍ ۖ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ ۖ وَإِنْ أَصَابَتْهُ

په غاړه باند | نو که اورسيږی دۀ ته | فائده | نو مطمئن شی په هغې باند| او که اورسيږی دۀ ته

(داسې کس ته) که چرې فائده اورسيږی|نو هغه ددې نه مطمئن شی|او که چرې په څۀ مصيبت کښې

فِتْنَةٌ انْقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ۚ ذَٰلِكَ

مصيبت | نو واپس اوګرځی | په مخ خپل باند| نقصانی شو دې په دنيا | او په اخرت کښې | دادې

اخته شی|نومخ اوچت کړی | (اود کفرطرفته) بيرته ګرځی |نودۀ په دنيا کښې او اخرت دواړو کښې نقصان

هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ۝ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ

هغه نقصان | ښکاره | رابلی هغه |ماسوا دالله نه |هغه څه |چې نۀ ضرر رسولې شی هغه ته

بيامونډو | هم دا ښکاره نقصان دې | دوی دالله ﷻ نه سوا داسې (معبودان) رابلی|چې نه دۀ ته نقصان

---

(۱) ٦٣/المنافقون:٥.

(۲) ٣١/لقمان:١٨.

(۳) ٣١/لقمان:٧.

(۴) ٤٤/الدخان:٥٠.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَمَا | لَا يَنْفَعُهٗ ط | ذٰلِكَ | هُوَ الضَّلٰلُ | الْبَعِيْدُ ﴿١٢﴾ | يَدْعُوْا |
| او هغه څه | چې نه نفع رسولې شي هغه ته | داده | هغه گمراهي | لرې | عبادت كوي هغه |
| رسولې شي | اونه ورته نفع رسولې شي | هم دغه يوه لويه گمراهي ده | هغه داسې (دروغو معبود) بلي | | |
| لَمَنْ | ضَرُّهٗ | اَقْرَبُ | مِنْ نَّفْعِهٖ ط | لَبِئْسَ | الْمَوْلٰى |
| دهغه چا | چې نقصان دهغه | ډير نژدې دي | دفائدې دهغه نه | ډير بد دي | دا مددگار |
| دكوم نقصان چې ددهٔ دنفعې نه زيات نژدې دي | ............بې كاره مولى دي | | | | |
| وَلَبِئْسَ | الْعَشِيْرُ ﴿١٣﴾ | | | | |
| او ډير بد دي | دا ملگري | | | | |
| اوداسې ملگري بد ملگري دي | | | | | |

**قوله تعالى:-وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ**

**د مفادپرستو اومنافقانو خلقو تذكره:-**دحرف معنى شك د([1])يوطرف ده لكه چه هغوى د دين په يوه غاړه باندې ولاړ دى كه فائده ملاوشى نود خوشحالئى نه پلنيږى كه نقصان اووينى نو تختى. په صحيح بخارى كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې هجرت به ئى كولو مدينې ته رسيدل او بال بچ ئى پيدا شو اوپۀ څاروو كښې بركت اوشونووائى چه دادين ډيرښه دې اوكه چرته اونه شى نووائى چه دادين خو ډير خراب دې.([2])

**دا ايت مبارك دچاپاره كښې دې ؟:-**ابن ابى حاتم كښې هم دهغوى نه روايت دى چه بانډچيان به حضور ﷺ له راتلل اسلام به ئى قبلولو واپس به تلل نوچه كله به تى د باران اوبه بيامونډلې په څناورو كور مال حال كښې بركت كتلونو په تسلئى سره به ئى وئيل ډير ښه دين دې اوكه چرې د دې خلاف به ئى كتل نو ډير زر به ئې وئيل چه په دې دين كښې خود نقصان نه بغيرهيڅ هم نشته په دې باندې دا آيت نازل شو. د عوفى رحمه الله په روايت د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل دى چه داسې خلق هم وو چه مدينې ته به رسيدل دلته به راتلوبه هغه كره هلك يا د اوښې بچې اوشو اوهغوى به جوړشو نو خوشحاله به شو اود دې دين تعريفونه به ئى كول اوكه چرې به څه مصيبت راغلو اود مدينې هوا به برابر پرې رانغله په كور كښې جينئى پيداشوه د صدقې مال ورته حاصل نه شو نو په شيطانى وسوسه كښې به راتلل او صفا به نى وئيل چه په دې دين كښې خو بس سختى او سختى ده. ([3])

د عبدالرحمن رحمه الله بيان دې چه داحال د منافقانودې كه دنياورته ملاوشى نو په دين خوشحاليږى اوچه كله ملاونه شوه ياڅه ازميښت راغلو نوزر څادر راكاږى او مرتداوكافركيږى.([4])پوره بدنصيب دى دنيا اوآخرت دواړه تباه كوى د دې نه زياته بربادى به څه وى. دكومو خلقو بتانواو بزرگانونه چه دوى امداد غواړى چاته فريادونه كوى اوچاله خپل حاجتونه اوړى د چانه چه رزق غواړى هغوى خو صرف عاجز دى نفع نقصان خود هغوى په لاس كښې شته نه لويه گمراهى هم دا ده. په دنياكښې هم د هغوى په عبادت سره د نفع نقصان نه وړاندې كيږى اوپه آخرت كښې چه به د هغوى نه كوم نقصان ملاويږى نو

[1] الطبرى:۱۸/۵۷۶.
[2] صحيح بخارى كتاب التفسير سورة الحج باب ﴿ومن الناس من يعبدالله على حرف﴾:۴۷۴۲.
[3] الطبرى:۱۸/۵۷۵.
[4] الطبرى:۱۸/۵۷۶.

Scanned with Ca

دهغې به څه وائي. دابتان خود هغوی ډیر خراب ولیان او ډیر خراب ملګری ثابتیږی. (۱) یادا مطلب چه داسې کونکی پخپله ډیر بدکار او ډیر زیات خراب دی. دا اولنی تفسیرډیر ښه دی. والله اعلم.

| |
|---|
| إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا |
| بیشکه الله \| دا خلوی \| هغه کسان \| چې ایمان ئې راوړو \| |
| بیشکه الله ﷻ به هغه خلق چې ایمان ئې راوړې دي |
| وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ |
| او عملونه ئې اوکړل \| نیک نیک \| داسې باغونو ته \| چې بهیږی به \| لاند دهغې نه \| نهرونه |
| او نیک کارونه کوی داسې باغونو ته داخل کړی اچې لاندې به ترې ولې بهیږی |
| إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ۞ مَن كَانَ يَظُنُّ |
| بیشکه الله \| کوی \| هغه څه \| چې غواړی ئې هغه \| هغه څوک \| چې ګمان لری \| |
| بیشکه الله چې څه غواړی هغه کوی \| څوک چې داخیال کوی چې الله ﷻ به دنیا |
| أَن لَّن يَنصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ |
| چې هر ګز به امداداونه کړی دهغه سره الله \| په دنیا کښې \| او په آخرت کښې \| نو پکاردی چې اورسی |
| او آخرت کښې دخپل پیغمبر مدد نه کوی \| نو هغه له پکار دی چې یوه رسۍ تر آسمانه |
| بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ |
| په یوه ذریعه رسۍ سره \| آسمان ته \| بیا \| دپریکړی (دغه رسۍ) \| بیا داوګوری \| چې آیا لرې کولې شی |
| پورې اوغزوی \| بیا (دې اوخیژی او) دوحی سلسله دې پرېکړی \| بیا دې اوګوری چې آیا دهغه دا طریقه |
| كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ۞ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ آيَاتٍ |
| تدبیر ددهٔ \| هغه څیز لره \| چې غصه کوی دې \| او دارنګې \| نازل کړې دې مونږ دا قران \| ایتونه |
| هغه څیز ختمولې شی چې دې ئې په غصه کړې دې؟ \| اوهم دغه شان مونږ دا (قران) د ښکاره ننبو په صورت |
| بَيِّنَاتٍ وَأَنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يُرِيدُ ۞ |
| واضحه \| او بیشکه الله \| هدایت کوی \| هغه چاته \| چې اراده اوکړی هغه \| |
| کښې نازل کړې دې \| اوچاته چې الله اوغواړی هدایت ورته کوی \| |

**قوله تعالى:- إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ**

دخرابوخلقوبیان سره دخوخلقوبیان کولې شی دچاپه زړونوکښې چه دیقین نوردې اود چا په اعمالو کښې دسنتو ظهوردې د نیکوخواهش منداود بدونه لرې دی دوی به په اوچتو محلونواو اعلی درجو کښې وی څکه چه دوی لارموندونکی دی اود هغوی نه سوا نورخلق بې لارې دی اوس چه څه غواړی کوی دې اوچه څه غواړی پریږدی دې.

---

(۱) الطبری:۱۸/۵۷۹.

Scanned with Ca

**د قرآن پاک احکام واضحه دي:**-یعنی کوم خلق چه دا واني چه الله ﷻ به د خپل نبي ﷺ امدادنه په دنیا کښې کوی اونه په آخرت کښې هغوی دې یقین اوکړی چه د هغوی داخیال صرف هم خیال دې د حضور ﷺ به امداد کولې شی دوی که په خپله غصه کښې مره هم شی یا هغوی له پکاردی چه په خپل ورکښې رسئی زوړند کړی او خپل ځان پهانسی کړی اوخپل ځان هلاك کړی.(۱) ناممکن دی چه هغه څیزیعنی دالله ﷻ امداد دهغه نبی ﷺ له رانه شی که دوی په سوزیدو سوزیدو مره شي خود دوی دا خیالونه کول به غلط ثابتیږی.دامطلب هم کیدې شی چه ددوی دخیالونوخلاف به کیږی دالله ﷻ امداد به د آسمان نه نازلیږی که د دوی په وس کښې وی نودوی دې یوه رسئی په آسمان کښې زوړندکړې او آسمان ته دې اوخیژی اود آسمان نه نازل شوې امداد دې بندکړی. خواولنئی معنی ډیره ظاهره ده اویه دې کښې دهغوی پوره عاجزی او نامرادئی ثبوت دې چه الله ﷻ به خپل دین خپل کتاب او خپل نبی ﷺ ته ترقی ورکوی اودا خلق دا لیدلې نه شی په دې وجه دوی له پکاردی چه دوی مره شي اوخپل ځان پخپله هلاك کړی.لکه چه ارشاد دې ﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾(۲)مونږ دخپلو رسولانو اوایماندارانو امداد کوو په دنیا کښې هم اوپه آخرت کښې هم.دلته فرمائی چه دوی په پهانسئی کښې زوړند شی اودې گوری چه د محمد ﷺ شان څنگه کمولې شی؟ د خپلې سینې اُوړ څنگه مرکولې شی؟ داقرآن مونږ نازل کړې دی اود دې آیاتونه د دې الفاظ د معنې په لحاظ سره ډیر واضحه دی د الله ﷻ د طرف نه د هغه په بندیگانو باندې داحجت دې. هدایت او گمراهی هم د الله ﷻ په لاس کښې دی اوهم هغه د دې حکمت پیژنی هیڅ څوك د ده نه تپوس پوښتنه نه شی کولې هغه د ټولو حاکم دې هغه درحمتونووالا غلبه والې حکمت والا عظمت والا علم والا دې هیڅ څوك په هغه باندې مختار نشته چه څه غواړی کوی هغه د ټولونه حساب اخستونکې دې او هغه هم ډیر زر.

إِنَّ الَّذِينَ

| بیشکه هغه کسان |

بیشکه کوم خلق چې

آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَىٰ

چې ایمان ئې راوړو | او هغه کسان | چې یهودیان شو | او صابیان | او نصارئ |

مومنان دی اوکوم چې یهودیان دی او صابیان او عیسایان دی

وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

اومجوسیان | او هغه کسان | چې شرك ئې اوکړو | بیشکه الله | فیصله به اوکړی | په منځ ددوئ کښې

اود اورعبادت گذار دی | اوخوك چې مشركان دی | الله ﷻ به دقیامت په ورځ ددې ټولو په مینځ

يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ

په ورځ دقیامت | بیشکه الله | په هر څیز باند | نظر لرونکې دې | آیا نه وینې ته | چې بیشکه الله چې دې

کښې فیصله اوکړی | الله ﷻ ته هر څیز ښکاره دې | آیا ته نه گورې چې ټول الله ﷻ

(۱) الطبری:۱۸/۵۸۱، حاکم:۲/۳۸۶ مختصراً.
(۲) ۴۰/غافر:۵۱. الخ

Scanned with Ca

يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ
سجده کوی هغه ته | هغه ټول | چې په آسمانونو کښې دی | او څوک چې | په زمکه کښې دی
ته سجده (اطاعت) کوی اکوم مخلوقات چې په آسمانونو اوزمکه کښې دی

وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ
او نمر | او سپوږمۍ | او ستوری | او غرونه | او ونې | او خناور
اونمر او سپوږمۍ اوستوری اوغرونه او ونې او ځاروی

وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ ۭ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۭ
او ډیر | دخلقو نه | او ډیر (هغه خلق هم) | چې ثابت شوې دې | په هغه باند | عذاب
اوډیر انسانان هم سجده کوی| اوډیر په کښې داسې هم دی چې عذاب پرې ثابت شوې دې

وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ
او هغه څوک چې ذلیله ئې کړی الله | نو نشته | هغه لره | څوک عزت ورکونکې | بیشکه الله |
اوڅوک چې الله ﷻ ذلیله کړی |نو هغه له څوک عزت ورکونکې نشته | الله ﷻ

يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۭ ۝۱۸
کوی هغه | چې غواړی هغه |
چې څه غواړی نو هغه کوی

**قوله تعالی:-وَالصّٰبِئِيْنَ وَالنَّصٰرٰى**

د صابئینو بیان سره داختلاف د سورت بقره په تفسیر کښې تیرشوې دې دلته فرمائی چه د دې مختلف مذهبونوالافیصله به دقیامت په ورځ صفا شی.الله ﷻ به ایماندارانوله جنت ورکوی اوکافران به دوزخ ته اورسوی. د ټولوافعال او اقوال ظاهر او باطن الله ﷻ ته ښکاره دی.

**هریو څیز الله ﷻ ته سجده کوی:**-دعبادت مستحق هم هغه یووحده لا شریك له دې د هغه د عظمت په وړاندې هرڅیزسر ښکته کړې دې که په خوشحالئی وی که په خفګان دهرڅیز سجده په خپل طریقه ده. قرآن پاك د سوری ښی اوګس طرف ته کیدل هم د الله ﷻ په وړاندې سر په سجده کیدل آیت ﴿اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَهُمْ دٰخِرُوْنَ﴾[1] کښې بیان کړی دی.د آسمانونو فرښتې د زمکې ځاروی انسانان پیریان مرغئی ښناوران ټول د هغه مخې ته سر په سجده دی او د هغه تسبیح اوحمد کوی. نمر سپوږمئی اوستوری هم هغه ته په سجده کښې پراته دی.دا درویواړه څیزونه د دې د پاره جدابیان کړل چه بعضې خلق د دې عبادت کوی سره د دې چه هغوی د الله ﷻ په وړاندې ټیټ دی. د دې د پاره اوفرمائیلې شو چه نمر سپوږمئی ته سجدې مه کوئی هغه ته سجدې کوئی چه د دې خالق دې.بخاری اومسلم کښې رسول الله ﷺ دحضرت ابوذر ﷺ نه تپوس اوکړو پوهیږې چه دا نمر چرته ځی؟ هغه جواب ورکړو الله ﷻ ته اودهغه نبی ﷺ ته علم دې.حضورﷺ اوفرمائیل دا دعرش لاندې ځی او الله ﷻ ته سجده کوی بیاد هغه نه اجازت غواړی څه وخت راروان دې هغه ته به یوه ورځ اووئیلې شی د کوم

[1] ١٦/النحل:٤٨.

خایٔ نه چه راغلې نی هم هلته واپس شه[1] سنن ابی داؤد نسائی ابن ماجه او مسند احمد کښې د تندر په حدیث کښې دی نمر سپوږمنی دالله ﷻ مخلوق دې هغه دچا په مرګ یاپیداکیدوباندې تندرنه نیسی بلکه الله ﷻ چه په خپل مخلوق کښې په چا باندې تجلی اچوی نوهغه د هغه په وړاندې ټیټیږی.[2] ابو العالیه ؒ فرمائی چه نمر سپوږمنی اوټول ستوری ډوبیدوسره په سجده کښې ځی اودالله ﷻ نه اجازت غواړی اود ښی طرف ته ځی اوبیا خپل ځایٔ ته رسی. د غرونو او ونوسجده کول دهغوی سوری ښی او ګس طرف ته کیدل دی.یوسړی حضور ﷺ ته خپل یوخوب بیان کړو مااوکتل چه د یوې ونې شاته مونځ کوم زه چه کله سجدې ته لاړم نوهغه ونه هم سجدې ته لاړه اوماواوریده چه هغې په خپله سجده کښې داوئیل ﴿اللهم اکتب لی بها عندك اجرا وضع عنی بها وزرا واجعلها لی عندك ذخرا وتقبلها منی کما تقبلتها من عبدك داؤد﴾ یعنی اې الله د دې سجدې په وجه زماد پاره خپل ځان سره اجراوثواب اولیکه اوزما ګناه معاف کړه او زما د پاره دا د آخرت ذخیره کړه اودا قبوله کړه څنګه چه تا د خپل بنده داؤد ؑ سجده قبوله کړه. د حضرت ابن عباس ؓ بیان دې چه بیا ماولیدل یوه ورځ رسول الله ﷺ دسجدې آیت اولوستلو سجده نی اوکړه اوهم دادعائی په خپله سجده کښې اولوستله کومه چه ما اوریدله. (ترمذی وغیره)[3]

**ټول ځناور هم هغه ته سجده کوی**.دمسنداحمد په حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د خپل څاروی شاخپل منبر مه جوړه وه ډیرې سورلئی دخپل سور نه ښه وی[4] اوزیات ذکرکونکی وی.اواکثر انسانان هم په خپله خوشحالئی سره د الله ﷻ عبادت په ځایٔ راوړی اوسجدې کوی اوهغه هم دی چه دې نه محروم دی کبرکوی سرکشی کوی.الله ﷻ چه څوك ذلیل کړی هغه څوك عزیزکولې شی؟ رب خودمختاره کارکونکې دې.

**د الله ﷻ د رضا او ارادې نه منکر ته د علی رضی الله عنه هدایت**:-ابن ابی حاتم کښې دی حضرت علی ؓ ته چا اووئیل دلته یوسړې دې چه د الله ﷻ ارادې او دهغه رضا نه منی. هغوی دې سړی ته اووئیل اې سړیه ته دا اوښایه چه ستا پیدائش الله ﷻ په خپله خوښه کړې دې که ستا؟ هغه ونیل خپله خوښه. دا هم اوښایه چه کله ته غواړې نو بیمار شې که الله ﷻ غواړی. هغه ونیل چه کله هغه غواړی. تپوس نی اوکړوچه بیا تاته شفا ستا په غوښتنه سره کیږی که دهغه په اراده سره؟ جواب نی ورکړو دالله ﷻ په اراده سره. وئی فرمائیل چه ښه ده دااوښایه چه اوس هغه چرته غواړی تابه بوځی که نه چرته ته غواړې؟ ونیل چه چرته هغه غواړی. وئی فرمائیل بیا څه خبره پاتې شوه؟ واوره که تاد دې خلاف جواب کولونو ما به ستا سر پرې کړې وومسلم کښې دی حضور ﷺ فرمائی کله چه انسان د سجدې آیت لولی اوسجده کوی نوشیطان جداشی اوژاړی او وائی چه افسوس بنیادم ته د سجدې حکم شوې دې نو سجده کوی جنتی شو ما انکار اوکړو دوزخی جوړشوم[5]

**دسورت حج دوه سجدې**:-حضرت عقبه بن عامر ؓ یوځل دحضور ﷺ نه تپوس اوکړویارسول الله ﷺ سورت حج ته په ټولوسورتونو دافضیلت ملاوشو چه پدې کښې دسجدې دوه آیاتونه دی؟حضور ﷺ اوفرمائیل چه او اوکه څوك په دې دواړو باندې سجده اونه کړی نو هغه له پکار دی چه دا دې هډو لولی نه.[6] (ترمذی وغیره)امام ترمذی ؒ فرمائی چه داحدیث قوی نه دې خود امام صاحب داقول د غور قابل دې <u>ځکه چه د دې راوی ابن</u> لهیعه ؒ د خپل سماعت په دې کښې تصریح کړې ده او په دې

[1] صحیح بخاری کتاب بدءالخلق باب صفة الشمس والقمر:۳۱۹۹، صحیح مسلم ۱۵۹، السنن الکبری للنسائی:۱۱۱۷٦، ابن حبان:٦۱۵۳.

[2] احمد:۲٦۹/٤، ابن خزیمه:۱٤۰٤، نسائی کتاب الکسوف باب نمبر ۱٦، حدیث:۱٤۸٦، ابن ماجه: ۱٦٦۲، ابوداؤد:۱۱۹۳ مختصرًا

[3] ترمذی کتاب الدعوات باب مایقول فی سجودالقرآن:۳٤۲٤ وسنده حسن،ابن ماجه: ۱۰۵۳،ابن حبان:۲۷٦۸و حاکم:۱/۲۱۹.

[4] احمد:۳/٤٤۱.

[5] صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان اطلاق اسم الکفر علی من ترك الصلاة:۸۱، ابن ماجه، ۱۰۵۲، احمد:۲/٤٤۳، ابن حبان : ۲۷۵۹.

[6] ابوداؤد کتاب سجود القرآن باب تفریع ابواب السجود کم سجدة فی القرآن:۱٤۰۲، وسنده حسن، ترمذی:۵۷۸، احمد:٤/۱۵۱

Scanned with Ca

دې خکه چه د دې راوی ابن لهیعه رحمه الله د خپل سماعت په دې کښې تصریح کړې ده او په دې باندې نی ډیره جرح تدلیس کړې ده چه دې سره اوچتیږی. په ابوداؤدکښې د رسول الله ﷺ ارشاد دې سورت حج ته په قرآن پاك کښې په نورو سورتونو باندې فضیلت ورکړې شوې دې په دې کښې دوه سجدې دی[1] امام ابوداؤدفرمائی چه په دې سندسره خوداحدیث مستندنه دې خویه بل سندسره دا مستندهم بیان کړې شوې دې خوصحیح نه دې.روایت دې چه عمر رضي الله عنه حدیبیه کښې د دې سورت تلاوت اوکړو اودوه خل ئی سجده اوکړه او وئی فرمائیل دې ته د دې دوو سجدو فضیلت ورکړې شوې دې.(ابوبکر بن عدی) عمرو بن عاص رضي الله عنه ته رسول الله ﷺ په ټول قرآن کښې پنځه سجدې اولوستلې درې په سورت مفصل کښې دوه سورت حج کښې ([2]) نودا روایتونو دا خبره پوره شان سره مضبوطوی.

هذان خصمان اختصموا

| دا دوه ډلې دی | جګړه کونکی | چی جګړه ئې اوکړه |

|دا دواړه ډلې دی |چې د خپل رب په باره کښې

فی ربهم فالذین کفروا قطعت لهم

په باره درب خپل کښې | نو هغه کسان | چی کفر ئې اوکړو | پریکړې شوی دی | دهغوئ دپاره |

جګړه کوی | نو څوک چې کافران دی | هغوئ دپاره به داور جامې

ثیاب من نار یصب من فوق رءوسهم الحمیم ⑲ یصهر

جامې | داور نه | اچولې کیږی به | دپاسه | دسرونو دهغوئ | اوبۀ یشیدلې | چی ویلی کیږی به

کټ کړې شی | د سرونو دپاسه په پرې (ختکیدلې) تودې اوبه واچولې شی| په هغې سره به

به ما فی بطونهم والجلود ⑳ ولهم

په هغې سره | هغه څه | چی په ګیډو دهغوئ کښې وی | او څرمنې هم | اووی به دپاره دهغوئ |

ددوئ دخیټې دننه کولمې اوددوئ څرمنې ویلی کیږی | ..........................او د دوئ د وهلو دپاره

مقامع من حدید ㉑ کلما ارادوا ان یخرجوا منها من غم

ګرزونه | داوسپنې | هر کله چی | اراده اوکړه هغوئ | چی وځی | د(دوزخ) نه | دغم نه

به ورته داوسپنې ګرزونه پراته وی| کله چې ترې د غم د وجې بهرته وتل غواړی | ............نو بیا

اعیدوا فیها وذوقوا عذاب الحریق ㉒

نو واپس به ورديکه کړې شی | په هغې کښې | چی اوڅکئ مزه | دعذاب دسوزیدو |

به ورواپس کولې شی | او ورته به اووئیلې شی چې دسوزیدو عذاب اوڅکئ |

**قوله تعالی:- هذان خصمان**

**د مؤمن اوکافراختلاف:-** حضرت ابوذر رضي الله عنه قسم خوړلوسره فرمائیل چه دا آیت د حضرت حمزه رضي الله عنه اود هغه په مقابله کښې چه کوم کافران په بدرکښې راغلې ووعتبه اودهغه ددوملګروباره کښې نازل

---

[1] المراسیل لابن داؤد:۷۸.

[2] ابوداؤد کتاب سجود القرآن باب تفریع ابواب السجود کم سجدة فی القرآن:۱۴۰۱، ابن ماجه:۱۰۵۷، حاکم:۲۲۳/۱.

Scanned with Ca

شوې دي (۱) صحيح بخاری کښې دی چه حضرت علی ﷛ بن ابی طالب فرمائی دقيامت په ورځ به زه د ټولونه اول د الله ﷻ په وړاندې د خپل حجت ثابتولود پاره په زنګونونو باندې پريوځم.

**د﴿خَصۡمَانِ﴾ نه مراد څوک دي؟**:-حضرت قيس ﷫ فرمائی چه هم د دوی باره کښې دا آيت نازل شوې دې د بدر په ورځ داخلق د يوبل مقابلې له راغلي وو علی حمزه اوعبيده ﷡ اوشيبه عتبه او وليد(۲) يوبل قول دې چه دې نه مرادمسلمانان اواهل کتاب دی.اهل کتابوبه وئيل زمونږ نبی اوزمونږ کتاب ستاسو د نبی اوستاسو د کتاب نه اول دې په دې وجه مونږ الله ﷻ سره په دې نسبت ستاسو نه زيات نيزدې يو او مسلمانانوبه وئيل چه زمونږکتاب ستاسود کتاب فيصله کوی اوزمونږ نبی خاتم الانبياء دې په دې وجه ستاسو نه اولی دې نو الله ﷻ اسلام غالب کړواودا آيت نازل شو. قتاده ﷫ فرمائی چه دې نه مراد صداقت او تکذيب والا دی. مجاهد ﷫ فرمائی په دې آيت کښې د مؤمن اوکافر مثال دې چه په قيامت کښې اختلاف وو. عکرمه ﷫ فرمائی مراد ترې د جنت اودوزخ قول دې.د دوزخ سوال وو چه ما د سزا ځيز جوړکړه اوجنت خواهش وو چه ما د رحمت ځائ جوړکړه. د مجاهد ﷫ قول دې ټولو اقوالوته شامل دې اود بدر واقعه هم په دې ضمن کښې راتلې شی. مؤمنانو د الله ﷻ د دين غلبه غوښتله اوکافرانود ايمان د نورختمولوحق ښکته کول او باطل ښکاره کولو په فکرکښې وو.

ابن جرير ﷫ هم دامختار ګنړی اودا ډيرښه هم دې اودې نه پس هم دې د کافرانود پاره د اُورټکړې جدا جدامقررکړې شوی دی.دابه دتانبې په شکل کښې وی چه ډيرګرمانش رسوی(۳) بيابه په دپاسه د ګرمو اوبوتړلې شوې داره اچولې شی په کوم سره چه به ئی کولمې او چربی ويلې شی اوځرمن به ئی اوسوزی پريوبه ځی. په ترمذی کښې دی چه د اُور په شان په دې ګرمو اوبوسره به ئی کولمې وغيره د خيټې نه اوخی په پښوباندې به ئی راپريوځی. بيا چه څنګه وې هم هغه شان به شی اوبيابه دغه شان کيږی. (۴)

**داوور ستک به څومره وی؟**:-عبدالله بن سری ﷫ فرمائی فرښته به دا ډولچه دکړو نه نيسی راوړی به ئی دهغه په څُله کښې به ئی اچوی.دې به ويريږی مخ به اړوی نوفرښته به دې په تندی باندې د او سپنې په ستک وهی په دې سره به د هغه سر اوشليږی هم دهغه ځائ نه به دا داُورګرمې اوبه وراچولې شی چه نيغې به خيټې ته وررسی.رسول الله ﷺ فرمائی په دې ستکانو په کومو سره چه به دوزخيان ټکولې شی که يويه زمکه باندې راوړلې شی اوکيخودې شی نوټول انسانان او پيريان چه يوځائ شی هغه به اوچت نه کړې شی.(۵) (مسند) حضورﷺ فرمائی که په هغې باندې يولوئ غر اووهلې شی نوهغه به ذره ذره شی.دوزخيان به په دې ټکرې ټکرې شی او چه څنګه وی هم هغه شان به کولې شی. که چرې غساق چه ددوزخيانوخوراک دې يوه لوټه په دنياکښې اوبهيولې شی نود دنياټول خلق به د بدبوئې نه هلاك شی(۶) (مسنداحمد).

ابن عباس ﷠ فرمائی چه د دې په لګيدوسره به د بدن يويواندام جدا جداشی اود چغو صورو شور به جوړشی(۷)کله چه دهغه ځائ نه وتل غواړی هم هغه ځائ ته به واپس کولې شی.حضرت سلمان ﷠ فرمائی ددوزخ اُورسخت تور او تيارې والا دې ددې شغلې هم روښانه نه دی اونه د دې انګارد رڼا والا

---

(۱) صحيح بخاری كتاب التفسيرسورة الحج باب قوله ﴿هذٰن خصمٰن اختصموا فى ربهم﴾:۴۷۴۳، صحيح مسلم:۳۰۳۳، ابن ماجه:۲۸۳۵.
(۲) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة الحج:۴۷۴۴، ابن ابی شيبه:۵/۴۵۷.
(۳) الطبری:۱۸/۸۹۰.
(۴) ترمذی كتاب صفة جهنم باب ماجاء فی صفة شراب اهل النار:۲۵۸۲وسنده حسن، حاكم:۲/۳۸۷، حلية الاولياء: ۸/۱۸۲
(۵) احمد:۳/۲۹مسندابی يعلی:۱۳۸۸، حاكم:۴/۶۰۰.
(۶) احمد:۳/۸۳ حديث مسندابی يعلی:۱۳۷۷.
(۷) الطبری:۱۸/۵۹۳.

Scanned with Ca

دي. بیاهغوی هم ددې ایت تلاوت اوکړو.(۱)

د حضرت زیدﷺ قول دې دوزخیان به په دې کښې ساهم نه شی اخستې. حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائي والله د دې نه د خلاصیدو به څه آسرا هم نه وی په پښوکښې به درنې بیړنی وی په لاسونوکښې مضبوطې هتکړنی وی د اُور شغلې به هغه دومره اوچتوی لکه چه بهر به اوځی خوبیابه هم د فرښتود لاس نه ګرز خوری او بیخ ته به رسی. دوی ته به وئیلې کیږی چه اوس د سوزیدو مزه اوڅکئی لکه چه ارشاددې دوی ته به وئیلې شی ددې اُور عذاب اوزغمئی کوم چه تاسو ترننه پورې دروغ ګنړلو.(۲) په ژبه هم اوپه خپلوعملونوسره هم.

اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ

بیشکه الله به داخل کړی | هغه کسان | چې ایمان ئې راوړو | او عملونه ئې اوکړل نیک | داسې جنتونو ته

الله ﷻ به هغه کسان چې ایماندار دی اود نیکئ کارونه کوی داسې باغونو ته داخل

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيۡهَا مِنۡ اَسَاوِرَ

چې بهیږی به | لاند دهغې نه | نهرونه | وابه چولې شی هغوئ ته | په هغې کښې | بنګړی

کړی | چې دهغې لاندې به نهرونه بهیږی | هلته به ورته دسرو زرو

مِنۡ ذَهَبٍ وَّلُـؤۡلُـؤًا ؕ وَلِبَاسُهُمۡ فِيۡهَا حَرِيۡرٌ ۞ وَهُدُوۡۤا

دسروزرو | او ملغلرې | او جامې دهغوئ به | په هغې کښې | دریښمووی | او هدایت اوکړې شو هغوئ ته

بنګړی اوملغلرې اچولې شی | اوهلته به دهغوئ جامې د ریښمو وی | او (داځکه چې په دنیا کښې)

اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الۡقَوۡلِ ۖۚ وَهُدُوۡۤا اِلٰى صِرَاطِ الۡحَمِيۡدِ ۞

پاکې ته | دخبرې نه (پاکې قبلولوته) | او اوښودلې شوه هغوئ ته | لاره | دستائیلی شوی الله

دوئ ته دپاکیزه خبرې هدایت شوې وو | او د ستائیلې شوی (الله ﷻ) لار ورته خودلې شوې وه

**قوله تعالى:- اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا**

**په جنتیانوباند انعامونه:-** پورته ددوزخیانواودهغوی دسزاګانو دهغوی دطوقاوزنځیرونه دهغوی سوزیدل دهغوی د اُوردلباس ذکر کولوسره اوس دجنت اود هغې دنعمتونو اود هغه ځائ د اوسیدونکو حال بیانوی. الله ﷻ دې مونږ دخپلوسزاګانونه بچ کړی او بدلې دې راکړی. آمین. فرمائي چه د ایمان او نیک عمل په بدله کښې به جنت ملاویږی د کوم ځائ محلونه اوباغونه څلورو وارو طرفو نه داُوبو نهرونه چپې وهی چرته چه غواړی هم هلته به پخپله دهغوی مخ کیږی د سرو زروپه کالوباندې به ښائسته کړې شوی وی د مرغلرو نه به ډک وی. په متفق علیه حدیث کښې دی د مؤمن کالی به هغه ځائ پورې رسی د کوم ځائ پورې چه د اودس اوبه رسی.(۳) کعب احبار رحمه الله فرمائي په جنت کښې یوه فرښته ده د کومې نوم چه هم ماته معلوم دې هغه د خپل پیدائش نه د مؤمنانود پاره کالی جوړوی اود قیامت د ورځې پورې به ئې جوړوی. که ددې نه یوبنګړې هم دنیاته راښکاره کړې شی نود نمر رڼا به داسې لاړه

(۱) حاکم:۲/۳۸۷.

(۲) ۳۲/السجده:۲۰.

(۳) صحیح بخاری کتاب اللباس باب نقض الصور:۵۹۵۳، صحیح مسلم:۲۵۰.

Scanned with Ca

شی څنګه چه دهغه دراوتلوسره د سپوږمئی نه څی.ددوزخیانو دلباس ذکرپورته تیرشودلته د جنتیانود لباس ذکرکولې شی هغوی به نرمې پړقیدلې ریښمنې کپړې اغوستې وی لکه چه څنګه په سورت دهر کښې دی چه د هغوی لباس به د شنو ریښمو وی د سپینوزرو بنګړی به وی اود شراب طهور د جام د پاسه جام به څکی. دا د ستاسو بدله دا دې ستاسو د کوششونونتیجه. (۱)صحیح حدیث کښې دي ریښم تاسو مه اغوندئی څوك چه دا په دنیاکښې واچوی هغه به د آخرت په ورځ د دې نه محروم وی(۲) حضرت عبدالله بن زبیر﷛ فرمائی څوك چه په دې ورځ د ریښمی لباس نه محروم شو هغه به جنت ته نه څی ځکه چه د جنت والا دا لباس دې(۳) هغوی ته پاکه خبره اوخودلې شوه لکه چه ارشاددې ﴿ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ۚ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ (۴) ایماندارېه حکم د الله ﷻ به جنت ته ځی کوم ځائ کښې چه به د هغوی تحفه په خپل مینځ کښې سلام وی. یوبل آیت کښې دی په هره یوه دروازه به فرښتې هغه له راځی اوسلام به ورته کوی وائی به ستاد صبرکولو څه ښه انجام اوشو. (۵)

یوبل ځائ کښې ارشاددې ﴿لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ۝ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا﴾(۶) هلته به څه فضول خبره اود غم خبره نه اوری بغیردسلام اوسلامتیانه.نوهغوی ته هغه کورورکړې شوچرته چه دزړه خوشحالولو آوازونه اوهم سلام اوسلام اوری. لکه چه ارشاد دې هلته به هم د مبارك سلامت آوازونه راځی په خلاف د دوزخ چه هروخت به غصې اورټنې اوری اوټوکلې به شی. او بې عزته کولې به شی چه داسې عذابونه برداشت کړنی وغیره.اوهغوی ته به هغه ځائ ورکولې شی چه خوشحاله خوشحاله به شی اوپه ناڅاپی به د ژبونه د الله ﷻ حمداو ثنا اداکیږی ځکه چه بې شمیره او بې مثاله رحمتونه به وی.

په صحیح حدیث کښې دی چه څنګه بې ارادې اوبې تکلیفه ساه څی راځی دغه شان به جنتیانوته تسبیح اوحمدالهام کیږی(۷)دبعضې مفسیرینو قول دې چه دطیب کلام نه مرادقرآن کریم دې او﴿لااله الا الله﴾ دې د حدیث شریف نور دوا ذکرونه دی اود صراط حمید نه مراد اسلامی لار ده. دا تفسیرهم د اولنی تفسیرخلاف نه دې. والله اعلم.

| إِنَّ الَّذِينَ | كَفَرُوا | وَيَصُدُّونَ | عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ | وَالْمَسْجِدِ |
|---|---|---|---|---|
| بیشکه هغه کسان | چی کفر ئې اوکړو | او منع کوی خلق | دلارې دالله نه | و دمسجد |
| بیشکه هغه خلق چې کومو کفر کړې دې | او چې خلق د الله ﷻ دلارې نه او مسجد | | | |

| الْحَرَامِ | الَّذِي | جَعَلْنَاهُ | لِلنَّاسِ | سَوَاءً |
|---|---|---|---|---|
| حرام نه | هغه (مسجدحرام) | چی جوړ کړې دې مونږ هغه | دپاره دخلقو | برابر حقونه |
| حرام نه منع کوی | کوم چې مونږ دټولو دپاره مقرر کړې دې | چې په هغې کښې | | |

(۱) ۷۶/الدهر:۲۱-۲۲.

(۲) صحیح بخاری کتاب اللباس باب لبس الحریر للرجال وقدر مایجوز منه:۵۸۳، ۵۸۳۴، صحیح مسلم۲۰۶۹،السنن الکبری :۹۵۸۴.

(۳) احمد:۱/۳۷وسنده صحیح واصله عندالبخاری:۵۸۳۷ومسلم:۲۰۶۹.

(۴) ۱۴/ابراهیم:۲۳.

(۵) ۱۳/الرعد:۲۳-۲۴.

(۶) ۵۶/الواقعة:۲۵-۲۶.

(۷) صحیح مسلم کتاب الجنة باب فی صفات الجنة واهلها....۲۸۳۵.

Scanned with Ca

الْعَاكِفُ | فِيهِ | وَالْبَادِ ط | وَمَنْ | يُّرِدْ
دمقامي خلقو | په هغې کښې | او دبهر نه دراتلو نکو خلقو | او هغه څوك | چې اراده لري
کښې اوسیدونکې (کوربه) اود بهر نه راتلونکې (مسافر) یو برابر دی| او څوک چې
فِيهِ | بِإِلْحَادٍ | بِظُلْمٍ | نُّذِقْهُ
په دې مسجدحرام کښې | دحق نه په مخ اړولو سره | په ظلم سره | مونږ به اوڅکوؤ هغه ته مزه
په ظلم سره په دې ځائې کښې د ګناه کولو اراده اوکړي | نو مونږ به پرې دردناک
مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ع ۲۵
دعذاب دردناك نه|
عذاب اوڅکوو|

**قوله تعالى:- وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ**

**د مسجدالحرام څخه بندول لویه ګناه ده:-** الله ﷻ دکافرانود دې فعل تردید کوی چه هغوی به مسلمانان د مسجد الحرام نه بندول هغوی به ئې دحج احکام کولونه منع کول سره ددې چه د اولیاءالله دعوی به ئې کوله.حالانکه اولیاء الله هغه دی د چا په زړونوکښې چه د الله ﷻ ویره وی. دې نه معلومیږی چه دا ذکردمدینې دې لکه دسورت بقره آیت ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾ ([1]) کښې دی دلته فرمائی چه سره دکفرنه بیاداهم فعل دې چه داالله ﷻ دلارې نه اودمسجدالحرام نه مسلمانان بندوی چه په حقیقت کښې ددې اهل دی.هم داترتیب د دې آیت دې﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾([2])دهغوی صفت دادې چه دهغوی زړه داالله ﷻ په ذکرسره مطمئن کیږی

**دمسجد حرام د زمکې په ملکیت کښې اختلاف:-** مسجد حرام چه الله ﷻ دټولود پاره یوشان د حرمت ځائ جوړکړې دې دمقیم یامسافرپه حقوقوکښې هیڅ کمې زیاتې نه دې ایخودې اهل مکه هم په مسجد حرام کښې ډیره کیدې شی اود بهرخلق هم.([3])دهغه ځائ په منزلوکښې دهغه ځائ اوسیدونکی اود بهرنه راغلی خلق ټول یوشان حق لری.پدې مسئله کښې امام شافعی رحمه الله امام اسحاق بن راهویه رحمه الله دامام احمدبن حنبل رحمه الله په موجودګئی کښې اختلاف اوکړو.امام شافعی رحمه الله خواووئیل چه د مکې حویلې په ملکیت کښې راوستلې شی په وراثت کښې تقسیم کیدې شی اوپه کرایه باندې هم ورکولې شی اودلیل ئې داورکړوچه اسامه بن زید رضی الله عنه درسول الله ﷺ نه سوال اوکړوچه صبابه ته په مکه کښې هم خپل کورکښې کوزیږې؟نوحضور ﷺ جواب ورکړوچه عقیل زمونږ د پاره کومه حویلی پریخې ده؟ بیائې اوفرمائیل چه کافردمسلمان وارث نه دې اونه مسلمان د کافر([4])یوبل دلیل دادې چه امیر المؤمنین عمرفاروق رضی الله عنه دصفوان بن امیه رضی الله عنه کور په څلور زره درهم باندې واخستلو او هلته ئې جیل خانه جوړه کړې وه. طاؤس اوعمرو بن دینار رحمهما الله هم پدې مسئله کښې دامام صاحب ملګرتیاکوی.امام اسحاق بن

---

[1] ۲/البقرة: ۲۱۷.
[2] ۱۳/الرعد:۲۸.
[3] الطبری:۱۸/۵۹٦.
[4] صحیح بخاری کتاب المغازی باب این رکزالنبی ﷺ الرایة یوم الفتح:۴۲۸۲-۴۲۸۳، صحیح مسلم:۱۳۵۱،ابوداؤد:۲۹۱۰

راهویه رحمه الله ددې خلاف وائی چه هغه په وراثت کښې نه شي تقسیم کیدې اونه په کرایه ورکولې شی. په سلفو کښې یوه ډله هم دا وائي. دمجاهد رحمه الله او عطاء رحمه الله هم دا مسلك دې. ددې دلیل د ابن ماجه داحدیث دې چه علقمه بن نضله رحمه الله فرمائی دحضور ﷺ په زمانه کښې اودصدیقی اوفاروقی په خلافت کښې دمکې حویلئی به آزادې اوبې ملکیت وئیلې کیدې که ضرورت به وو نوپاتې به وې ګنی نورو خلقو ته به ئې د اوسیدو د پاره ورکولې(۱) عبدالله بن عمر فرمائی نه خود مکې کورونه خرڅول جائز دی اونه ددې کرایه اخستل. عطاء رحمه الله به هم په حرم کښې کرایه اخستلونه منع کوله. عمر بن الخطاب رضي الله عنه به د مکې دکورونو دروازو کیخودو نه منع کوله ځکه چه په صحن کښې به حاجیان خلق اوسیدل. د ټولونه اولنئی دروازه سهیل بن عمرو رضي الله عنه جوړه کړې وه عمر رضي الله عنه هم هغه وخت هغه ته د حاضریدلو حکم ورکړو. هغه راغلووئی وئیل مامعاف کړئی زه سوداګرسړې یم مادضرورت مطابق دادروازې جوړې کړې دې دپاره چه زما څاروی زماپه وس کښې وی. هغوی اوفرمائیل ښه ده بیامونږ هم ستادپاره دا جائزساتو. په نورو روایاتو کښې فاروقی حکم په دې الفاظو سره نقل دې چه اې اهل مکه دخپلو کورونو دروازې مه ایږدئی دبهر خلق چه کوم ځائ غواړی حصار شی. عطاء رحمه الله فرمائی د ښاریو خلق او بهر وطن خلق په دې کښې برابردی چرته چه غواړی کوزیږی دی. عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائی چه دمکې د کورونو کرایه خوړونکې په خپله خیټه کښې اوړ کونکې دی. امام احمد رحمه الله ددې دواړو خبرو په مینځ کښې مسلك خوښ کړې دی. یعنی ملکیت او وراثت خو ئی جائز خودلې اوکرایې ته ئې ناجائز وئیلی دی ددې نه دلیلونه جمع کیږی. والله اعلم.

**د حرم کورونه په کرایه ورکول او ددې په ملکیت کښې د راتلو حکم**

دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دې چه دحرم مکې زمکه خرڅول دغه شان دهغې کورونه په کرایه ورکول جائزنه دی بلکه هرکس ته په هغې کښې استوګنې حق حاصل دې (تفسیرمظهری ۱۲/۱۹۰، ۱۹۱)

**(بالحاد)** کښې "با" زائده ده لکه **(تنبت بالدهن)**(۲) کښې داعشی په شعر **(ضمنت برزق عیالنا ارماحنا)** الخ کښې یعنی زمونږ دکورنئی رزق زمونږ په نیزوباندې موقوف دې. الخ د نوروشاعرانو په کلام کښې با په داسې موقعو باندې زائده راتلل استعمال شوی دی خود دې نه هم ښکلې خبره دا ده چه مونږ اووایو چه د دې ځائ فعل **(بهم)** معنی متضمن ده د دې د پاره چه با سره متعدی شوې ده. د الحاد نه مراد کبیره اوشرمناکه ګناه ده.

**د (بظلم) مطلب او تفسیر :- (بظلم)** نه مراد قصداً دې د تاویل په رو سره نه دی کیدل بله معنی د شرك د غیرالله عبادت کولوهم کړې ده(۳) داهم مطلب دې چه په حرم شریف کښې د الله ﷻ حرام کړې شوې کارونه حلال ګنړل لکه ګناه بې ځایه قتل ظلم او ستم وغیره داسې خلق د سختو عذابونو لائق دی. (۴) مجاهد رحمه الله فرمائی څوك هم چه دلته خراب کاراوکړی دادحرم شریف خصوصیت دې چه غیروطنی خلق د څه بدکار اراده اوکړی نوهغوی ته سزاکیږی دې د پاره چه داسې نه کوی. ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه که یوسړې په عدن کښې وی او په حرم کښې د الحاد او ظلم اراده لری نو بیابه هم الله ﷻ هغه ته د سخت عذاب مزه ورڅکی. شعبه رحمه الله فرمائی چه هغه خودا مرفوع بیان کړې ووخو زه دا مرفوع نه

(۱) ابن ماجه کتاب المناسك باب اجربیوت مکة:۳۱۰۷،

(۲) ۲۳/المؤمنون: ۲۰.

(۳) الطبری:۱۸/۶۰۰.

(۴) الطبری:۱۸/۶۰۰.

Scanned with Ca

بیانوم(۱) د دې بل سندهم شته چه صحیح دې اوموقوف کیدل په نسبت د مرفوع کیدلو زیات صحیح دی. عموماًدا قول هم دابن مسعودﷺ نه نقل دې.والله اعلم. یوبل روایت کښې دی چه په چاباندې صرف دبدئی په اراده باندې بدی نه لیکلې کیږی خوکه دلرې نه یعنی په عدن کښې ناست وی اود دې خائ دیوسړی دقتل اراده اوکړی نوالله ﷻ به هغه په سخت عذاب کښې راګیروی(۲) ①(حضرت مجاهد ﷫ فرمائی چه په هغوی باندې دلته قسمونه خوړل هم په الحاد کښې داخل دی②سعیدبن جبیر ﷫ فرمائی چه خپل نوکر ته دلته کنځلې کول هم الحادکښې دی.③ د ابن عباس ﷺ قول دې چه د مالداره سړی دلته راتلل او تجارت کول④ ابن عمر ﷺ فرمائی په مکه کښې غله خرڅول⑤ حبیب بن ابوثابت ﷫ فرمائی چه د ګران خرڅولود پاره دلته غله حصارول.ابن ابی حاتم کښې هم د رسول الله ﷺ د فرمان نه هم دانقل دی(۳)ابن عباس ﷺ فرمائی چه داآیت دعبدالله بن انیس باره کښې نازل شوې دې حضور ﷺیو مهاجراویوانصاری سره لیګلې وونویوځل هریوپخپل خپل نسب باندې فخرکولوهغه په غصه کښې راغلو اوانصاری ئی قتل کړواومکې ته اوتختیدو او اسلام دین نی پریخودو. نومطلب به دا وی چه څوك الحاد اوکړی اوپه مکه کښې پناه واخلی. د دې آثارونه لګه چه معلومیږی دا ټول کارونه د الحاد نه دی خو په حقیقت کښې دا ټول د هغې نه زیات عام دی بلکه په دې کښې تنبیه ده چه د دې نه په لوئې څیز باندې هم د دې د پاره د هاتیانووالا د بیت الله د خرابولو اراده اوکړه نو الله ﷻ په هغوی باندې د مرغوسیلونه راولیګل کوم چه په هغوی باندې قوتکانړی راوغورزول اوهغوی تباه کړل اود نورو د پاره ئی د عبرت نښې جوړکړل.په حدیث کښې دی چه یولښکر به د بیت الله د غزوې د پاره راځی کله چه هغه راورسی نوټول په ټول به سره د اولینواوآخرینو ډوب کړې شی(۴)عبدالله بن عمرﷺ عبدالله بن زبیرﷺ ته فرمائیل ته دلته د الحاد کولو نه بچ شه مادحضورﷺ نه اوریدلی دی چه دلته به یوقریشی الحادکوی که دهغه ګناه د ټولو انسانانو او پیریانوسره اوتللې شی نوبیابه هم هغه زیات شی ګوره خیال کوه ته هغه جوړنه شې(۵)(مسنداحمد) یوبل روایت کښې هم دادی چه دا نصیحت هغوی په حطیم کښې په ناستې سره کړې وو. (۶)

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَإِذْ | بَوَّأْنَا | لِإِبْرَاهِيمَ | مَكَانَ | الْبَيْتِ |
| اوکله چې | اوښودو مونږه | ابراهیم ته | ځائې | ددې کور(کعبې) |
| اوهرکله چې مونږ ابراهیم ﷺ ته دبیت الله شریف (دجوړولو) ځائې په نښه کړو | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| أَنْ لَا تُشْرِكْ | بِي | شَيْئًا | وَطَهِّرْ | بَيْتِيَ | لِلطَّائِفِينَ |
| چې مهٔ شریکوه | زما سره | هیڅ څیز | او پاك اوساته | کور زما | دپاره دطواف کونکو خلقو |
| (اوحکم مو ورته اوکړو) چې ماسره هیڅ څیزمه شریکوه \| اوزماکور د طواف کوونکو | | | | | |

(۱) احمد:۱/۴۲۸ وسنده حسن، وصححه الحاکم:۲/۳۸۸، علی شرط مسلم ووافقه الذهبي، مسندابی یعلی۵۳۸۴،
(۲) حاکم:۲/۳۸۸وسنده حسن.
(۳) ابوداؤدم کتاب المناسك باب تحریم مکة:۲۰۲۰،
(۴) صحیح بخاری کتاب البیوع باب ماذکر فی الاسواق:۲۱۸۸، ابن حبان:۶۷۵۵،اخ.
(۵) احمد:۲/۱۳۶وسنده حسن، مجمع الزوائد:۳/۲۸۵.
(۶) احمد:۲/۲۱۹ ح۷۰۴۳وسنده حسن.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَالْقَآئِمِيْنَ | وَالرُّكَّعِ | السُّجُوْدِ۝ | وَاَذِّنْ | فِي النَّاسِ | |
| دپاره دقیام کونکو | او رکوع کونکو | سجده کونکو خلقو | او اعلان اوکړه | په خلقو کښې | |

اوقیام کونکو او رکوع کونکو او سجده کونکو دپاره پاک کړه |............. او په خلقو کښې د

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بِالْحَجِّ | يَاْتُوْكَ | رِجَالًا | وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ | يَّاْتِيْنَ | |
| په کولو دحج سره | چې راشي تاته | پیاده | او په هر اوښ باند سواره | چې راځي | |

حج اعلان اوکړه | خلق به درته پیاده هم راځي |او په ټپوټپو اوښو باندې سوارهٔ هم | چې په

| |
|---|
| مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ۝ |
| دهرې لارې ژورې نه \| |

لرېو اوږدو لارو به ځان رارسوی |

قوله تعالى:-وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ

**حضرت ابراهيم ﷺ اوبيت الله شريف:-** -دلته مشركانوته خبردارې ورکولې شی چه هغه کوردکوم بنیاد چه د اولې ورځ نه د الله ﷻ په توحید کیخودې شوې دې تاسو په دې کښې شرك روان کړو.ددې کور جوړونکې خليل الله ﷺ دې دټولونه اول هم هغوی دا جوړکړو.دحضور ﷺنه ابوذر ﷺ سوال اوکړو حضور ﷺدټولو نه اول کوم يوجمات جوړشوې دې؟وئې فرمائيل مسجد حرام ماوئيل بيا؟ وئی فرمائيل بيت المقدس. ماوئيل د دې دواړو په مينځ کښې څومره فاصله ده؟ وئی فرمائيل د څلويښتوکالو. (١)د الله ﷻ ارشاد دې ﴿اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ۝ فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ۗ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ۗ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ۝﴾(٢) يوبل آيت کښې دی چه مونږ دابراهيم ﷺ اواسماعيل ﷺ نه وعده واخسته چه زماكورپاك ساتئی.الخ(٣)دبيت الله ذد جوړولو پوره ذکر مونږ اول ليکلې دې په دې وجه دلته د دوباره ليکلو ضرورت نشته. دلته اوفرمائيلې شو دا صرف زما په نوم باندې جوړکړه اودا پاك اوساته يعنی د شرك وغيره نه(٤)اودا خاص کړئی صرف د هغوی دپاره څوك چه موحدان دی.طواف يو داسې عبادت دې چه بغيردبيت الله شريف نه په مخ د زمکه کښې نه شته اونه جائزدی.بيائی طواف سره مونځ يوځائ کړو دقيام رکوع اوسجدې ذکر ئی اوفرمائيلو ددې دپاره چه څنګه طواف د هغه سره مخصوص دې د مانځه قبله هم دا ده او په هغه حالت کښې چه انسان ته معلومه نه وی ياپه جهادکښې وی يا په سفرکښې نفل مونځ کوی بې شکه د قبلې طرف ته د مخ نه کيدلو په حالت کښې هم د هغه مونځ کيدې شی. والله اعلم.

**د ابراهيم عليه السلام ټولې دنيا ته د حج اواز:-** اودا حکم اوشو چه د دې کور د حج د پاره ټول انسانان راوبله.ذکردې چه هغه وخت هغوی عرض اوکړويا الله زماآوازبه دې ټولوته څنګه لورسی؟جواب ملاوشو ستا په ذمه صرف آواز کول دی آواز رسول زما په ذمه دی. نوهغوی په مقام ابراهيم باندې يا په صفا غونډۍ باندې يادابوقبيس په غرباندې اودريدو آواز ئی اوکړو اې خلقو ستاسو رب خپل يو کور جوړ کړوتاسو ددې حج اوکړئی.غرونه ټيټ شو اودهغوی آوازپه ټوله دنياکښې راتاوشوتردې چه دپلارپه شا

(١) صحيح بخارى كتاب احاديث الانبياء باب نمبر١٠ حديث:٣٣٦٦، صحيح مسلم:٥٢٠، ابن ماجه:٧٥٣، احمد:١٥٠/٥
(٢) ٣/آل عمران٩٦-٩٧.
(٣) ٢/البقرة:١٢٥.
(٤) الطبرى:٦٠٤/١٨.

Scanned with Ca

کښې اودمورېه خیټه کښې چه کوم ووهغه هم خبر شو هرکانړي ونې اوهرسړی د کوم په قسمت کښې چه حج کول لیکلي وي په اوچت آوازسره ئی لبیك اوونیل دډیروسلفونه دا نقل دی. (١) والله اعلم.
بیافرمائی چه پیدل خلق به هم راځی اوپه سورلو سواره به هم راځی. د دې نه بعضې حضراتو استدلال کړې دې چه د چا طاقت وی د هغه د پاره پیدل حج کول په سورلئی د حج کولونه غوره دې ځکه چه اول د پیدل والا ذکردې(٢) بیادسورلئی نود هغوی طرف ته زیاته توجه اوکړې شوه اودهغوی دهمت قدر دانی اوکړې شوه.ابن عباس ﷺ فرمائی زما داخواهش باقی پاتې شو چه افسوس ما پیدل حج کړې وې ځکه چه د الله ﷻ په فرمان کښې د پیدل والا ذکر دې. خود اکثرو بزرګانوقول دې چه په سورلئی باندې بهتر دې ځکه چه رسول الله ﷺ سره د طاقت اوقدرت پیدل حج نه دی کړې نو په سورلئی باندې حج کول د رسول الله ﷺ پوره اقتداء ده. بیافرمائی چه د لرې لرې نه به حج له راځی. دخلیل الله ﷺ دعا هم دا وه چه ﴿فَاجْعَلْ اَفْـِٕدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِيْٓ اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ﴾ (٣) د خلقو زړونه اې الله ﷻ ته د دې طرف ته متوجه کړې.نن اوګوره کوم یو مسلمان به وی چه دهغه زړه به دکعبې د زیارت شوق نه لری اود چاپه زړه کښې به دطواف دخواهش بې قراری نه وی.( الله ﷻ دې مونږ ته رانصیب کړی آمین).

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِيَشْهَدُوْا | مَنَافِعَ لَهُمْ | وَيَذْكُرُوا | اسْمَ اللهِ | | |
| دپاره ددې چې حاضر شي | فائدو خپلو ته | او چې یاد کړي | نوم دالله | | |
| دپاره ددې چې دلته خپلو فائدوته حاضر شي اوپه مقررو ورځو کښې | | | | | |
| فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ | عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ | مِّنْۢ بَهِيْمَةِ | الْاَنْعَامِ | | |
| په ورځو معلومو کښې | په هغه څاروو باند | چې ورکړي دي الله هغوئ ته | دڅریدونکو څاروو نه | | |
| د الله ﷻ نوم یاد کړي په هغو څاروو کوم چې ورته الله ﷻ ورکړي دي | | | | | |
| فَكُلُوْا | مِنْهَا | وَاَطْعِمُوا | الْبَآئِسَ | الْفَقِيْرَ ﴿٢٨﴾ | ثُمَّ لْيَقْضُوْا |
| پس خورئ په خپله هم | دهغې نه | اوخوروئ ئي | په تنګ دسته | فقیر باندې هم | بیا د لرې کړي هغوئ |
| نو تاسوترې پخپله هم خورئی او په بدحالو فقیرانو باندې هم خوروئی بیا پکار دی | | | | | |
| تَفَثَهُمْ | وَلْيُوْفُوْا | نُذُوْرَهُمْ | وَلْيَطَّوَّفُوْا | بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿٢٩﴾ | |
| خیری خپلې | او پوره دکړي | نذرونه خپل | او اوکړي طواف | دکور پخواني | |
| چې خلق خپلې خیرې لرې کړي اوخپل نذرونه پوره کړي اوپکار دی چې ددې زوړ کور طواف اوکړي | | | | | |

**قوله تعالى:- لِيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ**

**بیت الله شریف ته دتللو دنیا فائدې:-** ددنیااوآخرت فائدې حاصلولوله راشئ دالله ﷻ درضاسره د دنیاوی مفادتجارت وغیره هم واخلئی(٤) لکه آیت ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ۭ فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۠ وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّاۗلِّيْنَ﴾ (٥) دحج په موسم کښې تجارت کول منع

---

١) الطبری:۶۰۵/۱۸،حاکم:۳۸۸/۲.
٢) الدرالمنثور:۳۵/۶.
٣) ۱۴/ابراهیم:۳۷.
٤) الطبری:۶۰۹/۱۸.
٥) ۲/البقرة:۱۹۸.

Scanned with Ca

نه دی دمقرره ورځونه مرادد ذی الحجه رومبي لس ورځي دی.دحضوراکرم ﷺ ارشاد دې چه ديوې ورځي عمل د الله ﷻ په نيزد دې ورځود عمل نه غوره نه دې. خلقو تپوس اوکړو جهادهم نه؟ وئی فرمائيل چه جهادهم نه بغيرد هغه مجاهد کوم چه د خپل مال اوځان د الله ﷻ په لارکښې ورکړې وی(١)(صحيح بخاری)ماداحديث ددې په ټولواسنادوسره يومستقل کتاب کښې جمع کړی دی. په يو روايت کښې دی چه د يوې ورځي عمل د الله ﷻ په نيزد دې ورځو نه لوئ او خوښ نه دې نوتاسو په دې لسوورځوکښې ﴿الااله الاالله﴾ او﴿الله اکبر﴾ او﴿الحمدلله﴾په کثرت سره لولئی(٢)هم ددې لسو ورځو قسم﴿ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۝ ﴾(٣)آيت کښې دې.بعضې سلف وائی﴿ وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ ۝ ﴾(٤)نه مرادهم دغه لس ورځې دی.ابوداؤدکښې دی حضور ﷺ به په دغه ورځوکښې روژې ساتلې.(٥) بخاری شريف کښې دی ابن عمر﷜ او ابوهريره ﷜ به په دې ورځوکښې بازار ته راتلو او تکبيرونه به ئی وئيل نود بازاروالا هم هغوی سره تکبيرونه وئيل(٦) هم په دې لسو ورځوکښې د عرفې ورځ ده. د کومې ورځې د روژې په نسبت چه د رسول الله ﷺ فرمان دې چه تيرشوو او راتلونکو دووکالو ګناه په دې سره معاف کيږی(٧) (صحيح مسلم) هم په دې لسو ورځوکښې د قربانئی ورځ يعنی بقرعيدورځ ده. د کوم نوم چه په اسلام کښې د حج اکبر ورځ ده. يوروايت کښې دی چه د الله تعالی په نيزدا د ټولوورځونه غوره ده. غرض دا چه په ټول کال کښې د داسې فضيلت ورځ نشته لکه چه په حديث کښې دی دالس ورځې د رمضان المبارك د آخری لسو ورځونه هم غوره دی. ځکه چه مونځ روژه صدقه وغيره کوم چه هم د رمضان په دې آخری عشره کښې کيږی هغه ټول په دې ورځوکښې هم کيږی دې نه علاوه په دې ورځو کښې د حج فريضه هم اداکيږی. داهم وئيلې شوی دی چه د رمضان مبارك آخری لس ورځې بهتردی ځکه چه په دې کښې ليلة القدردې د زرو مياشتونه بهتر ده. دريم قول درميانه دې چه ورځې خودا غوره دی اوشپې د رمضان آخری لسو ورځو غوره دی. د دې قول په منلوسره مختلف دلائلو کښې جمع کيږی. والله اعلم. ﴿أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۖ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ۝ ﴾(٨) په دريم تفسيرکښې يوقول دادې چه داد قربانئی ورځ اود دې نه پس درې ورځې دی.دحضرت ابن عمر﷜ اوابراهيم نخعی ﷫ نه هم دانقل دی او په يوروايت سره د حضرت امام احمدبن حنبل ﷫ مذهب هم دا دې. دريم قول دا دې چه د اختروړځ او دې نه پس دوه ورځې. اود ﴿أَيَّامًا مَعْدُودَةً﴾ نه د اختر ورځ اود دې نه پس درې ورځې د دې اسناددعبدالله بن عمر﷜ پورې صحيح دی. سدی ﷫ هم دا وائی د امام مالك ﷫ هم دا مذهب دې. د دې اوددې نه وړاندې قول تائيد د الله ﷻ فرمان﴿عَلَىٰ مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۖ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ۝ ﴾(٩) سره کيږی ځکه چه د دې نه مراد د څاروو د قربانئی وخت کښې د الله ﷻ نوم اخستل. څلورم قول دادې چه دا د عرفې ورځ د اختر ورځ او

---

(١) صحيح بخاری کتاب العيدين باب فضل العمل فی ايام التشريق:٩٦٩، ترمذی:٧٥٧، ابوداؤد:٢٤٣٨، ابن ماجه:١٨٢٧

(٢) احمد:٧٥/٢ شعب الايمان:٣٧٥، مشکل الاثار:٢٩٧١.

(٣) ٨٩/الفجر:٢.

(٤) ٧/الاعراف:١٤٢.

(٥) ابوداؤد کتاب الصيام باب فی صوم العشر:٢٤٣٧ وسنده صحيح، نسائی:٢٤٢٠.

(٦) صحيح بخاری کتاب العيدين باب فضل العمل فی ايام التشريق قبل: رقم:٩٦٩ تعليقًا.

(٧) صحيح مسلم کتاب الصيام باب استحباب صيام ثلاثة ايام من کل شهر:١١٦٢، ابوداؤد:٢٤٢٥، ترمذی:٧٥٢، ابن ماجه:١٧٣، ابن حبان:٣٦٣٣.

(٨) ٢٢/الحج:٢٧.

(٩) ٢٢/الحج:٢٧.

Scanned with Ca

د دې نه پس يوه ورځ ده. د امام ابوحنيفه رحمه الله هم دا مذهب دې. دحضرت اسلم رحمه الله نه روايت دې چه مراد يوم عرفه يوم نحر او ايام تشريق دی.

### د قربانۍ د وخت ابتداء او انتهاء

**مسلک حنفي:**-د لوېې اختر د نمر راختو نه واخله تر د ذوالحجې د دولسم تاريخ يعنی د اختر د درېمې ورځې د ماښام نمر پرېوتو نه وړاندې پورې د قربانۍ وخت دې د دې په مېنځ کښې قرباني کېږی البته د لوئې اختر د صبا راختو نه پس به هغه کس قرباني نه کوی کوم چه په ښار کښې اوسېږې ترڅو چې د اختر مونځ نه وی شوې (د دولستو مياشتو فضائل او احکام (ص، ۲۴۲) پحواله د درمختار)

(د ﴿بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ﴾ نه مراد اوښ غوا او چيلئي ده.لکه د سورت انعام آيت ﴿ثَمٰنِيَةَ أَزْوَاجٍ مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ ءَالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ﴾ ([1])کښې تفصيل موجود دې.

**د خپلې قربانۍ نه غوښه خوړل جائز دی:**-بيافرمائی چه دا پخپله خوروئی او په محتاجانو باندې خورئی. دې نه بعضې خلقو دليل اخستې دې چه د قربانئی غوښه خوړل واجب دی خوداقول غريب دې. داکثرو بزرګانو مذهب دې دا رخصت دې يا استحباب دې. په حديث شريف کښې دی حضور ﷺ چه کله د قربانئی حکم ورکړو چه د هر يواوښ د غوښې نه يوه ټکړه غوښه راوباسئی پخه ئی کړئی بيا حضور ﷺ هغه غوښه اوخوړله اوخوروائی اوڅکله. ([2]) امام مالك رحمه الله فرمائی زه داخوښوم چه د قربانئی غوښه قربانی کونکې اوخوری ځکه چه د الله ﷻ فرمان دې.ابراهيم رحمه الله فرمائی چه مشرکانوخلقو به د خپلې قربانئی غوښه نه خوړله د دې په خلاف مسلمانانوته د دې غوښې د خوړلو اجازت ورکړې شو اوس چه څوك غواړی خوری دې اوکه څوك نه غواړی نه دې خوری. دمجاهد اوحضرت عطاء رحمهما الله نه هم داسې نقل دی. مجاهد رحمه الله فرمائی دلته داحکم ﴿وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ ([3]) په شان دې يعنی چه کله تاسود احرام نه فارغ شئی نوښکار کوئی اوپه سورت جمعه کښې ارشاددې ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَوٰةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ ([4])کله چه مونځ ختم شی نو په زمکه کښې خواره شئی([5]) مطلب دادې چه په دواړو آياتونوکښې دښکار کولوحکم اوپه زمکه کښې خپل رزق لټولودپاره دخوريدو خودا حکم واجب يا فرض نه دې دغه شان د خپلې قربانئی د غوښې خوړلو حکم هم ضروری اوواجب نه دې.امام ابن جرير رحمه الله هم داقول خوښوی. دبعضې خلقوداخيال دې چه د قربانئی غوښه دې دوه ځای کړی يوه حصه پخپله د قربانئی کونکی اودويمه حصه د فقيرانو محتاجانو. بعضې وائی چه درې حصې کول پکاردی يوه حصه خپله يوه حصه هديه ورکولوډپاره او يوه حصه د صدقه کولودپاره د اول قول والا داپورتنې آيت په سند کښې راوړی اوددويم قول والا ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ ([6]) په دليل کښې پيش کوی ددې به پوره بيان راځی.ان شاء الله ﷻ.عکرمه رحمه الله فرمائی (

---

[1] ۶/الانعام:۱۴۳.
[2] احمد:۱/۳۱۴.
[3] ۵/المائدة:۲.
[4] ۶۲/الجمعة:۱۰.
[5] الطبری:۱۸/۶۱۱.
[6] ۲۲/الحج:۳۶.

Scanned with Ca

اَلْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ﴾نه مراد هغه بې وسه انسان دي چه سره دمحتاج كيدو هم هغه سوال نه بچ كيږي.(۱) مجاهد رحمه الله فرمائی چه څوك د سوال د پاره لاس نه شی خورولې بيمار وی كم ليدونكې وی. (۲) بيا هغه احرام كولاوكړي سر اوخوروی كپړې واغوندی نوكونه پريكړی وغيره د حج احكام پوره كړی(۳) نذرونه پوره كوی (۴) د حج قربانی اوكړی او چه څه هم وی. نوچه كوم سړې د حج د پاره اووتلو د هغه په ذمه د بيت الله طواف صفامروه عرفات ميدان ته تلل د مزدلفه حاضری شيطانان ويشتل وغيره ټول هرڅه لازم دی. دا ټول احكام پوره كړئی او په صحيح توګه ئی په ځائ راوړئی اود بيت الله طواف اوكړئی كوم چه په يوم نحر باندې واجب دې.

**د حج اخری عمل طواف ، او حطيم په طواف كښې داخل دې:**-حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی د حج آخری كار طواف دې او رسول الله ﷺ هم كړې دې كله چه حضور ﷺ په لسم ذی الحجه باندې منی ته واپس راغلو نود ټولونه وړاندې ئی شيطان په اوه كانړواوويشتل بيا قربانی اوكړه او بيائی سرمبارك اوخرولو بيا واپس راغلو بيت الله ته اود بيت الله طواف ئی اوكړو. د ابن عباس رضی الله عنه نه په بخاری اومسلم كښې روايت دې چه خلقو ته حكم شوې دې چه د هغوی آخری كاردې د بيت الله شريف طواف وی او دا ده چه حائضه ښځوله ئی آسانی كړې ده.(۵)دبيت العتيق دلفظ نه استدلال كولوسره اوفرمائيلې شوچه طواف كونكوله حطيم شريف هم په خپل طواف كښې دننه اخستل پكاردی ځكه چه هغه هم د اصل بيت الله نه دې.دابراهيم عليه السلام په بنياد كښې دا داخل وو قريشو د نوې جوړولوپه وخت كښې دابهرپريخودې وو او د دې وجه هم د خرچ كمې وو نه چه څه بله وجه. پدې وجه حضور ﷺ دحطيم شريف نه شاته طواف كولو او فرمائيلې هم دی چه حطيم شريف په بيت الله كښې داخل دې او هغوی دواړه شامی ګوټونوله لاس نه دې وړلې اونه ئی ښكل كړې دی ځكه چه هغه د ابراهيم عليه السلام د بنياد مطابق نه دی. د دې آيت د نازليدونه پس حضور ﷺ د حطيم شريف نه شاته طواف اوكړو. اول داسې عمارت وو چه هم دننه وو په دې وجه دې ته زوړكور وئيلې شوې دې هم دغه د ټولونه ړومبې د الله ﷻ كوردې. (۶) يوه بله وجه داهم ده چه په طوفان نوح كښې داسلامت پاتې شو اوداهم وجه ده چه يوسركش هم په دې غالب رانغللې شو دا د ټولو د لاس نه آزاددې چاهم چه دې سره خرابه اراده كړې هغه تباه شوې دې الله ﷻ دا د سركشود تسلط نه آزاد كړې دې. په ترمذی كښې دغه شان يومرفوع حديث هم دې. (۷) چه حسن غريب دې او په يو روايت سره مرسلاً هم نقل دې.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ذٰلِكَ | وَمَنْ يُّعَظِّمْ | حُرُمٰتِ اللّٰهِ | فَهُوَ | خَيْرٌ | |
| دا وو (مقصد دكعبې دجوړولو) | او څوك چې عزت كوي | دحرمتونو دالله | نو دا كار | بهتر دي | |
| داخبره اوشوه او څوك چې دالله ﷻ د درنو حكمونو ادب كوي | نو داكار د هغه دپاره د هغه د رب | | | | |
| لَّهٗ | عِنْدَ رَبِّهٖ | وَاُحِلَّتْ | لَكُمُ | الْاَنْعَامُ | اِلَّا مَا |

(۱) الطبری:۶۱۲/۱۸.
(۲) الطبری:۶۱۲/۱۸.
(۳) الطبری:۶۱۳/۱۸.
(۴) الطبری:۶۱۴/۱۸.
(۵) صحيح بخاری كتاب الحج باب طواف الوداع:۱۷۵۵، صحيح مسلم:۱۳۲۸، بيهقی:۱۶۱/۵.
(۶) الطبری:۶۱۵/۱۸.
(۷) ترمذی كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورت الحج:۳۱۷۰حاكم:۳۸۹/۲.

Scanned with Ca

| |
|---|
| دپاره دهغه\|په نز درب دهغه \|او حلال كړې شو\|ستاسودپاره\|څريدونكې څاروي\|ماسوا دهغه څيزونو |
| په نيز ډير غوره دې\| ........... اوستاسو دپاره ټول څاروي حلال دي\| بغير دهغې نه چې دكومو |
| يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا |
| چې لوستلې شوي دي په تاسو باند\| نو ځان ساتئ\| دپليتي دبتانو نه \| او ځان ساتي |
| (دحرمت احكام) چې په تاسو ته بيان كړى شي \| نو تاسو د بتانو د پليتئ نه ځان |
| قَوْلَ الزُّوْرِ﴿۳۰﴾ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ |
| دخبرى ددروغو نه \| يو مخيزى بندګان شئ دالله \| چې نۀ يئ شريك كونكي \| دهغه سره |
| ساتئ \|او ددروغو دخبرو نه ځان بچ كړئ \|د الله اړخ ته مائله اوسيږئي \|هغه سره څوک مه شريكوئ |
| وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ |
| او څوك چې شريك كوى\|دالله سره\|نو لكه چې \|راوغورزيدو هغه \|داسمان نه \|نواو تښتوى هغه لره |
| \| ........... اوڅوک چې د الله ﷻ سره (بل څه) شريكوى \|نو هغه داسې دې لكه چې داسمان نه |
| الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ﴿۳۱﴾ |
| مارغان \| يا او غورزوى \| هغه لره \| هوا \| په يو ځائې ژور كښې \| |
| راپريوتلو \| يا مارغانو په (فضا كښې) اوتښتولو\| |

**قوله تعالي:- وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ**

**شعائرالله د ايمان دتقدس نخښې دي:-** خرمائى داخو وود حج احكام اوپه هغې چه كومه بدله ملاويدله د هغې بيان اوس واورئى چه كوم سړې د الله ﷻ د حرمات عزت اوكړى يعنى د ګناهونواوحرام كارونو نه بچ شى دهغې دكولونه خپل ځان منع كړى اودهغې نه تختى دهغوى دپاره الله ﷻ سره لوئ اجردې. څنګه چه دنيكوپه كولوباندې اجر دې دغه شان د ګناهونو په پريخودلو هم ثواب دې. مكه حج عمره هم دالله ﷻ حرمات دى ستاسود پاره ټول څاروى حلال دى اوچه كوم حرام وو دهغې ستاسو په وړاندې بيان شوې دې. كومو مشركانو چه بحيره، سائبه وصيله او حام نومونه كيخودو سره پريخې دى داالله ﷻ نه دى خودلى الله ﷻ چه كوم حرام كول هغه ئى خودلى دى لكه مردار څاروې د حلالې په وخت كښې بهيدونكې وينه دخنزير غوښه د الله ﷻ نه بغيرد بل چا په نوم باندې مشهور كړې شوې مرنى خفه كړې شوې وغيره.([1])تاسو له پكاردى چه د بت پرستنى د ګندګنى نه لرې شې دلته من د بيان جنس د پاره دې. اود دروغ خبرې نه بچ شنى. په دې آيت كښې شرك سره دروغ اوتړل لكه چه آيت ﴿قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ﴿۳۳﴾﴾ ([2]) يعنى زمارب ګنده كارونه حرام كړى كه هغه ښكاره وى اوكه پټ، ګناه اوسركشى او په بې علمئى سره په الله ﷻ باندې خبرې جوړول په دې كښې د دروغو ګواهى هم داخل ده.

**د دروغو ګواهي د شرک سره برابر ده:-** بخارى اومسلم كښې دى حضورﷺ تپوس اوكړو آيا زه تاسو ته د ټولونه لويه ګناه اوښايم؟صحابه كرامو ﷺ عرض اوكړو ارشاد اوفرمائې. وئى فرمائيل الله ﷻ سره شريك كول. دمور پلار نافرمانى كول بيا د تكيه نه جداشو وئى فرمائيل دروغ وئيل اود دروغوګواهى

---

[1]) الطبرى:۱۸/۶۱۸.
[2]) ۷/الاعراف:۳۳.

ورکول.دانی باربارفرمائیل تردې چه مونږ ونیل چه کاش حضورﷺدانور نه فرمانی([1])مسندا حمد کښې دی حضورﷺ په خپله خطبه کښې په ولاړه درې ځل اوفرمائیل د دروغوګواهی د الله ﷻ سره د شرك کولوبرابرکړې شوه.بیا حضور ﷺ داپورتننی جمله تلاوت کړه([2]) یوبل روایت کښې دی د سحر د مانځه نه پس حضورﷺ په ولاړه اوفرمائیل ([3]) دابن مسعودؓ دافرمان هم نقل دی دالله ﷻ دین په خلوص سره اونیسئی دباطل نه اخواشئی اودحق طرف ته راشئی هغه سره څوك شريك کونکونه مه جوړېږئی.

**دمشرک د شرک مثال**:-بیانی د مشرك د تباهئی مثال بیان کړو لکه چه څوك د آسمان نه راپریوځی او یا خو هغه مرغئی اوچت کړی یوسی یائی هوا چرته لرې د تباهئی کنده کښې اوغورزوی. د کافر روح چه واخلی او فرښتې دآسمان طرف ته خیژی نود هغه د پاره د آسمان دروازې نه کولاویږی اوهم د هغه ځائ نه راغوزارکړې شی هم د دې بیان په دې آیت کښې دې.([4]) داحدیث په پوره بحث سره په سورت ابراهیم کښې تیرشوې دې. په سورتٔ انعام کښې د دې مشرکانود پاره یو بل مثال بیان شوې دې چه دا په مثال د هغوی دی کوم چه شیطان لیونی جوړکړی دی. ([5])

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ۝

داده اصل معامله |او څوك چی عزت کوی | دنښو دالله | نو بیشکه دا عزت | دتقوی دزړونونه دې |

داخبره اوشوه | او څوک چې د الله ﷻ دنښو عزت کوی | نو دا خبره د زړونو د پرهیزګارئ خبره ده

لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ

دی ستاسو دپاره |په دې کښی|ډیرې فائدې| دنیتې مقررې پورې |بیا |ځائې دذبحه کولو دهغې

ستاسو دپاره د څاروو نه یوې مقررې نیتې پورې فائده اخستل جائز دی |بیا ددغې څاروو دحلالې

اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝

دپخوانی کور خواته دې |

ځائې د زوړ کور(کعبې) په خوا کښې مقرر دې|

قوله تعالیٰ:-ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ

**د قربانئی مسئلې**:-د الله ﷻ شعائر په کوم کښې چه د قربانئی څاروی هم شامل دی د هغې حرمت او عزت بیانولې شی دالله ﷻ په احکامویاندې عمل کول د الله ﷻ دفرمان عزت کول دی.حضرت ابن عباس ؓ فرمانی دقربانئی څاروی چاق او ښکلې کول ([6])دسهل ؓ بیان دې چه مونږ به د قربانئی څاروی چاقول او ښکلې کول دټولومسلمانانو هم دارواج وو.([7])(بخاری) د رسول الله ﷺ ارشاد مبارك

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الشهادات باب ماقیل فی شهادة الزور:۲٦٥٤، صحیح مسلم:۸۷، ترمذی:۱۹۱۰.

[2]) احمد:۱۷۸/٤ ترمذی کتاب الشهادات باب ماجاء فی شهادة الزور:۲۲۹۹

[3]) احمد:۳۲۱/٤ ابوداؤد کتاب القضاء باب فی شهادة الزور۳۵۹۹ترمذی:۲۳۰۰، ابن ماجه:۲۳۷۲.

[4]) احمد:۲۸۷/٤ وهوحدیث صحیح.

[5]) ٦/انعام:۷۱.

[6]) الطبری:۱۸/٦۲۱.

[7]) صحیح بخاری کتاب الاضاحی باب اضحیة النبی ﷺ بکبشین اقرنین.... تعلیقاقبل حدیث ۵۵۵۳.

Scanned with Ca

دې چه ددوو تورړنګ ښاروودوینې نه دیوسپین رنګ دځناوروینه الله ﷻ ته ډیره خوښه ده[1] مسند احمدابن ماجه. دتور رنګ ښاروی هم جائزدی خود سپین رنګ ښاروی غوره دی. صحیح بخاری کښې دی رسول الله ﷺ دوه برګ ګډان د لویولویوښکروالا په خپله قربانئی کښې حلال کړل. ([2])ابوسعید ﷺ فرمائی حضور ﷺ یوګډ د لویوښکرو والا برګ حلال کړو د کوم په مخ چه سترګوسره او په پښوباندې تور داغونه وو. (سنن) ([3])امام ترمذی رحمه الله دې ته صحیح وائی. ابن ماجه وغیره کښې دی حضور ﷺ دوه ګډان چاق تازه برګیان خصی حلال کړل.

**دکوم ښاروي قرباني نه کیږي:**-دعلی ﷺ روایت دې مونږ ته رسول الله ﷺ حکم راکړوچه مونږ د قربانئی د پاره ښاروی اخستلو په وخت کښې سترګې اوغوږونه په ښه شان سره ګورئ د وړاندې نه کټ شوي غوږونووالا د روستونه کټ شوی غوږونه په اوږدوالی کښې څیرلې شوی غوږونووالا اوړد سوړو والا قربانئی مه کوئی([4])احمد اهل سنن) دې ته امام ترمذی صحیح وائی.دغه شان حضور ﷺ د ښکرماتی او غوږ پرې شوی ښاروی قربانئی نه منع فرمائیلې ده. د دې په شرح کښې سعیدبن مسیب رحمه الله فرمائی چه د نیم نه زیات ښکر یا غوږ نه وی([5]) بعضې اهل لغت وائی چه که د بره نه د یوښاروی ښکرمات وی نودې ته په عربئ کښې قصماء وائی اوچه کله لاندې حصه ماته وی نوهغې ته عضب وائی اوپه حدیث کښې لفظ عضب دې اوکه دغوږ څه حصه ئی پرې شوی وی نوهغې ته په عربئ کښې اعضب وائی.امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دداسې ښاروی قربانئی کول اګرچه جائزده خوپه کراهت سره.امام احمد رحمه الله فرمائی جائز نه ده امام مالك فرمائی که دښکرنه ئی وینه روانه وی نوجائزنه ده ګنی جائز ده.والله اعلم

### د کوم ښاروی چې ښکر مات وی یا غوږ کټ شوی وی دهغې د قربانئ حکم

**مسلك حنفی:**- -کوم ښاروې چه پیدائشی داسې وی چه ښکر ئې نه وی نو د هغه قربانی جائز ده څکه چه ښکریو داسې څیز دې چه دا خوړلې نشی نو څکه ددې په وجود او عدم وجود کښې څه فرق نشته او که ښکر ئې وی خو مات شوې وی نو هم دا حکم دې یعنی قربانی پرې کیږی البته دا که بیخی د جرړې نه مات شوې وی نو بیا پرې قربانی جائزه نه ده او په غوږ کښې دا مسئله ده که د غوږ زیاته حصه ئې کټ شوې وې نو په هغې قربانی نه کیږې او که کمه حصه ئې کټ شوې وی نو قربانی پرې کیږی([6])

د رسول الله ﷺ حدیث دې چه څلور قسمه عیب لرونکی ښاروی په قربانئی کښې جائز نه دی هغه کاڼړې ځناور چه دهغه ړوندوالې ښکاره وی اوهغه ناجوړه ښاروې چه دهغه بیماری ښکاره وی او هغه ګوډ چه دهغه ګوډوالې ښکاره وی اوهغه کمزورې نرې مړژواندې ښاروې چه دننه نه خالی شوې وی([7]) (احمد اهل سنن) دې ته امام ترمذی صحیح وائی.داهغه عیبونه دی چه دې سره ښاروې کم قیمته کیږی او د هغې غوښه ناقصه کیږی اوچیلئی څرېږی خودادخپلې کمزورئی په وجه خپله ګیاه نه شی پوره کولې.

---

[1]) احمد:۲/٤۱۷ حاکم:٤/۲۲۷.

[2]) صحیح بخاری کتاب الاضاحی باب اضحیة النبی ﷺ بکبشن اقرنین....٥٥٥٤، صحیح مسلم:۱۹٦۹، ابوداوٗد:۱۷۹٤، ترمذی:۱٤۹٤، ابن ماجه:۳۱۲۰،احمد:۳/۱۷۰، ابن حبان:٥۹۰.

[3]) ابوداوٗد کتاب الضحایاباب مایستحب من الضحایا:۲۷۹٦ وهوصحیح، ترمذی:۱٤۹٦،نسائی:٤۳۹٥، ابن ماجه:۳۱۲۸.

[4]) احمد:۱/۱۰۸، ابوداوٗدکتاب الضحایا باب مایکره من الضحایا:۲۸۰٤، ترمذی:۱٤۹۸، نسائی: ٤۳۷۷، ابن ماجه:۳۱٤۲، حاکم:٤/۲۲٤، اوامام ترمذی دې روایت ته صحیح حسن وئیلې دې.

[5]) ابوداوٗد حواله سابق:۲۸۰٥-۲۸۰٦، ترمذی: ۱٥۰٤، نسائی:٤۳۸۲، ابن ماجه:۳۱٤٥ وسنده حسن.

[6]) دپاره مهینو کښې فضائل واحکام ص، ۲٤۲ بحواله درمختار وشامی، بحرالرائق)، ه

[7]) ابوداوٗدکتاب الضحایا باب مایکره من الضحایا: ۲۸۰۲وسنده صحیح، ترمذی: ۱٤۹۷، نسائی٤۳۷٤، ابن ماجه:۳۱٤٤.

Scanned with Ca

ددې دپاره ددې حديث مطابق دامام شافعي رحمه الله وغيره په نيزد دې قرباني جائزده اود بيمار څاروی په باره کښې د کوم بيمارۍ چه د خطرناك درجې پورې نه وی ډيره کمه وی د امام صاحب دواړه قوله دی. ابوداؤدکښې دی حضورﷺ منع فرمائيلې ده د ښکرماتی څاروی اود ښکر پرې شوی څاروی نه دکانړی يعنی ړوند څاروی نه اوبالکل کمزوری څاروی نه چه هميشه د رمې نه شاته پاتې وی په وجه د خپلې کمزورئی يا د ډيرعمر کيدو په وجه اود ګوډ څاروی نه. (۱) نود دې ټولوعيبونو والا څاروو قربانی ناجائزده اوکه د قربانئی د پاره صحيح سالم او روغ رمټ څاروی مقرر کولونه پس اتفاقی په هغې کښې څه داسې خبره راشی مثلاً ګوډ راګوډ شی وغيره نود حضرت امام شافعي رحمه الله په نيز د دې قربانی کول بې شکه جائزده. امام ابوحنيفه رحمه الله د دې خلاف دې. د امام شافعي رحمه الله دليل هغه حديث دې چه په مسنداحمد کښې د حضرت ابوسعيدﷺ نه روايت دې ماد قربانئی د پاره څاروې واخستلوبه هغه باندې يوشرمخ حمله اوکړه اود هغه د پنډئی نه ئی غوښه يوړه ما حضورﷺ ته واقعه بيان کړه نوحضورﷺ اوفرمائيل ته هم د دې څاروی قربانی کولې شې. (۲)

### د اخستلونه پس په څاروی کښې د عيب پيدا کيدو حکم

**مسلک حنفي:-** که دقربانئ دپاره ئې څاروې واخستلو اودهغې نه پس په هغې کښې داسې عيب پيدا شو چه دهغې سره قربانی نه کيږی نو په دې صورت کښې که قربانی کونکې مالدار وی هغه به بل څاروې اخلی او په هغې به قربانی کوی اوکه غريب وی نو هم هغه عيب دار څاروی باندې به قربانی کوی دبل څاروی اخستلو ضرورت نشته (ددولسټو مياشتو فضائل اواحکام (ص،۲۴۸) بحواله درمختار)

د اخستلو په وخت کښې د څاروی چاقوالې تيارېدل او بې عيبه کيدل پکاردی. څنګه چه دحضورﷺ حکم دې سترګه غوږ ئی ګورئی(۳) عمر فاروقﷺ د قربانئی د پاره يوډير ښکلې اوښ مقررکړو خلقو دهغې قيمت درې سوه اشرفئی اولګولونو هغوی د رسول الله ﷺ نه دمسئلې تپوس اوکړوکه ستاسو اجازت وی نو زه داخرڅ کړم او د دې په قيمت نور ډيرڅاروی واخلم اوهغه به د الله ﷻ په لارکښې قربانی کړم. حضورﷺ منع کړو او حکم ئی ورکړوچه هم دا د الله ﷻ په لارکښې حلال کړه. (۴)

### کوم څاروې چه د قربانئ دپاره واخستې شی په هغې کښې د تبديلئ حکم

**مسلک حنفي:-** که د قربانئ دپاره ئې څاروې مقرر کړې وی نو که هم د هغې په برابر قيمت باندې بل څاروې واخلی نو قربانی کيږی خوسره دکراهته او که د هغې نه ئې په کم قيمت باندې څاروې واخستلو نو باقی روپئ به صدقه کوی (د دولسو مياشتو فضائل او احکام (ص، ۲۴۴) په حواله د شامي)-

حضرت ابن عباسﷺفرمائی چه د قربانئی څاروی د شعائرالله نه دی. محمدبن ابی موسی رحمه الله فرمائی عرفات کښې حصاريدل مزدلفه رمی جمارسرخرول او د قربانئی اوښ دا ټول شعائرالله دی. ابن عمرﷺ فرمائی د دې ټولونه زيات بيت الله شريف دې.بيافرمائی چه د دې څاروو په ويښتوکښې ورئی کښې ستاسودپاره فائدې دی تاسو په دې سورلی کوئی د دې څرمنې ستاسو په کار راځی دا ټول د يو مقرر وخت پورې يعنی چه ترکومې مو دالله ﷻ په لار (۵) قربانی کړې نه وی د دوی پئی څکئی د دې نسلونه

---

۱) ابوداؤد کتاب الضحايا باب مايکره من الضحايا:۲۸۰۳.

۲) احمد:۳۲/۳ ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب من اشتری ضحية فاصابها عنده شئ:۳۱۴۶.

۳) ابن ماجه کتاب الاضاحي باب ما يکره ان يضحی به :۳۱۴۳وسنده حسن.

۴) احمد:۱۴۵/۲، ابوداؤد کتاب المناسك باب تبديل الهدی:۱۷۵۶

۵) الطبری:۶۲۳/۱۸.

Scanned with Ca

حاصل کړئی کله چه د قربانئی د پاره مقرر کړې شو بیاهغه د الله ﷻ څیز شو نور بزرګان وائی کله ضرورت شو نو اوس هم ترې سورلی اخستې شي.
بخاری اومسلم کښې دی یوسړی د خپلې قربانئی څاروی شړلو سره حضور ﷺ اولیدو نوونی فرمائیل پدې سورشه نو هغه عرض اوکړو حضور ﷺ دا ماد قربانئی په نیت سره مقرر کړې دې. حضور ﷺ په دویم ځل یادریم ځل باندې اوفرمائیل افسوس کینې پرې ولې نه(¹)صحیح مسلم کښې دی چه کله ضرورت اوحاجت وی نوسوریږئی(²)دیوسړی د قربانئی اوښې بچې راړو نوعلی ﷺ هغه ته حکم اوکړوچه په ده باندې په ډکه خیټه پئې اوڅکوه بیاهم که بچ شی نو خیردې په خپل کارئی راوله اودقربانئی په ورځ دا اود دې بچې دواړه د الله ﷻ په نوم حلال کړه.

## د قربانئ د څاروی نه د فائدې اخستلو حکم

**مسلک حنفي:-** دقربانئ په څاروی باندې به بوج نه اوړی سورلی به پرې نه کوی په کرایه به ئې نه ورکوی د هغې پئ به نه استعمالوی بلکه کوم پئ چې اولوشی نو هغه به صدقه کوی دغه شان د هغې وړئ او ویخته به نه کټ کوی اوکه کټ ئې کړه هغه به صدقه کوی (درمختار) البته دا ده که د قربانئ د څاروی نه ئې فائده واخستله او د هغې فائدې په عوض کښې ورته څه ملاو شوې وی هغه د دې په ګیاه وغیره باندې خرج کړی نوداجائز ده (عالمګیری)(³)بیافرمائی چه دهغوی دقربانئی ځائ بیت الله دې لکه چه ارشاددې ﴿هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ ۗ عَفَا اللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ۚ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ﴾ (⁴)بل ایت کښې دی ﴿وَالْهَدْيَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَاءٌ مُّؤْمِنَاتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَئُوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ (⁵) د بیت العتیق معنی اوس اوس بیان کړې شویده.فالحمدلله.دبیت الله طواف کونکې داحرام نه حلالیږی په دلیل کښې داآیت تلاوت اوفرمائیلو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَلِكُلِّ أُمَّةٍ | جَعَلْنَا | مَنسَكًا | | |
| او دپاره دهر امت | مقرر کړی ده مونږه | یوه طریقه دقربانۍ | | |
| او مونږ هریو امت دپاره یو د قربانی ځائې کړې دې | | | | |
| لِّيَذْكُرُوا | اسْمَ اللَّهِ | عَلَىٰ مَا | رَزَقَهُم | |
| دپاره ددې چې یاد کړئ هغوئ | نوم دالله | په هغه (څاروو) باندې | چې ورکړی دی هغه هغوئ له | |
| دې دپاره چې مونږ ورته کوم څاروی ورکړی دی په هغې دالله ﷻ نوم واخلی | | | | |
| مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ | فَإِلَٰهُكُمْ | إِلَٰهٌ وَاحِدٌ | فَلَهُ | أَسْلِمُوا ۗ |
| دخریدونکو څارووٌ نه | نو معبود ستاسو | معبود یو دې | او خاص هم هغه ته | غاړه کیږدئ |
| ..........نو ستاسو معبود صرف یو دې لله ﷻ دې نو هم دهغه تابعداری کوئی | | | | |

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الحج باب رکوب البدن:١٦٨٩، صحیح مسلم:١٣٢٢، ترمذی:٩١١، ابن ماجه:٣١٠٤.

[2]) صحیح مسلم کتاب الحج باب جوازرکوب البدنة:١٣٢٤.

[3]) د دولسو میاشتو فضائل او احکام.

[4]) ٥/المائده:٩٥.

[5]) ٤٨/الفتح:٢٥.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَبَشِّرِ | الْمُخْبِتِينَ ﴿۳۴﴾ | الَّذِينَ | إِذَا | ذُكِرَ اللَّهُ |
| او زيري وركړه | عاجزي كونكو خلقو لره | هغه (عاجزي كونكي) | كله چي | ياد كړې شي الله |
| او (اې پيغمبره) عاجزي كونكو ته زيرې وركړه | داهغه خلق دي چې كله دالله ﷻ نوم ياد شي نو ددوئ | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَجِلَتْ | قُلُوبُهُمْ | وَالصَّابِرِينَ | عَلَىٰ مَا | أَصَابَهُمْ | |
| نو يرېږئ | زړونه دهغوئ | او صبر كونكي وي | په هغه مصيبت باند | چي رسيږي هغوئ ته | |
| زړونه يرېږي.................. | .....اوكوم مصيبتونه چه ورته اورسي په هغې صبر كوي | .............. | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالْمُقِيمِي | الصَّلَاةِ | وَمِمَّا | رَزَقْنَاهُمْ | يُنْفِقُونَ ﴿۳۵﴾ |
| او قائيمونكي وي | دمانځه | او دهغې رزق نه | چي وركړي دي مونږ هغوئ ته | خرچ كوي |
| اود مونځونو پابندي كوي | اوزمونږ د وركړي روزئ نه (دنيكئ | په لاركښې) | خرچونه كوي | |

**قوله تعالى:- وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا**

**د قربانئ اهميت:-** ارشاددې چه په ټولوامتونوكښې په هريوامت كښې اوهرې يوې ډلې ته مونږ د قربانئ حكم وركړې وو د هغوی د پاره يوه ورځ د اختر مقرروه هغوی به هم د الله ﷻ په لاركښې حلاله كوله ټول په ټولويه خپلې قربانئ مكې ته راليكلې دی د پاره چه د قربانئ د څاروو د حلالې په وخت كښې دالله ﷻ د نوم ذكر اوكړی. حضورﷺ له هم دوه برګ ګډان لوئ لوئ ښكرو والا راوړلی شو هغوی دا راسملول اود هغې په مرئی پښه مباركه كيخوده اوبسم الله الله اكبر لوستلو سره ئی حلال كړل. (۱)

**د قربانئ حقيقت څه دې؟:-** مسنداحمد كښې دی صحابه كرامو رضي الله عنهم دحضورﷺ نه تپوس اوكړودا قربانی څه څيز دې؟ حضورﷺ جواب وركړو ستاسودپلار ابراهيم عليه السلام سنت دی. تپوس ئی اوكړو مونږ ته په دې كښې څه ملاويږی؟ وئی فرمائيل د هريوويښته په بدله كښې يوه نيكی. تپوس ئی اوكړود ورئي څه حكم دې؟وئی فرمائيل د ورئی كولوسره دهريو ريښې په بدله كښې يوه نيكی.دا امام ابن ماجه رحمه الله هم راوړې دې(۲) ستاسود ټولو الله ﷻ هم يودې سره ددې چه دشريعت بعضې احكام بدليږی رابدليږی خو په توحيد كښې د الله ﷻ په يووالی كښې يورسول ته هم په نيك امت كښې اختلاف نه دې شوې ټول د الله ﷻ توحيد اوهم د هغه دعبادت د پاره ټول جهان رابلی په ټولوباندې اول هم داوحی نازله شوې ده نوتاسو ټول د هغه طرف ته تيټ شئی اوهم د هغه شئی اوهم د هغه داحكامو پابندی اوكړئی هم د هغه په تابعدارئی كښې استحكام اوكړئی كوم خلق چه مطمئن دی كوم چه متواضع دی كوم د تقوی والا دی څوك چه د ظلم نه ويزاره دی د مظلوميت په حالت كښې د بدلې اخستلونه دی د مولا په مرضئی اورب په رضا باندې راضی دی هغوی ته زيری واوروئی هغوی د مباركوقابل دی. څوك چه د الله ﷻ ذكر اوری زړه نرم كړی اود الله ﷻ د ويرې نه زړه ډك كړی د رب طرف ته ښكته كيږی. په سختو كارونوباندې صبركوی،په مصيبتونوباندې صبركوی.امام حسن بصری رحمه الله فرمائی والله كه تاسودصبر او برداشت عادت په ځان كښې وانچولو نوتاسو به بربادكړې شئی.د﴿والمقيمی﴾ قراءت په اضافت سره خو د جمهورودې خوابن سميقع ﴿والمقيمين﴾لوستلې دې د ﴿الصلاة﴾ ئی زبر لوستلې دې. امام حسن رحمه الله خولوستلې دې د نون په حذف اواضافت سره خود﴿الصلاة﴾زبرئی لوستلې دې اوفرمائی چه د نون حذف دلته د تخفيف په وجه سره دې. ځكه چه په وجه داضافت اومنلې شی نود دې زير لازم دې نوكيدې شی

(۱) صحيح بخاری كتاب الاضاحی باب التكبير عندالذبح:۵۵۶۵،صحيح مسلم:۱۸۶۶.

(۲) احمد:۴/۳۶۸، ابن ماجه كتاب الاضاحی باب ثواب الاضحية:۳۱۲۷.

Scanned with Ca

چه په وجه د نيزديکت وی مطلب دا چه د رب د فريضې پابند دی او د الله ﷻ حق اداکونکی دی. او د الله ﷻ ورکړې شوی ورکوی د خپلې کورنئی خلقو ته فقيرانو محتاجانوته اوټول مخلوق ته څوک چه ضرورت مندوی اوټولوسره په ښه سلوك اواحسان سره مخ کيږی. د الله ﷻ د حدودو حفاظت کوی د منافقانو په شان نه دی چه يوکاراوکړی بل پريږدی. په سورت براءة کښې هم دا صفتونه بيان کړې شوی دی اوهلته د الله ﷻ په حمد سره پوره تفسيرهم مونږ کړې دې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالْبُدْنَ | جَعَلْنٰهَا | لَكُمْ | مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ | لَكُمْ |
| او وښان دقربانۍ | کرځولې دي مونږ هغه | دپاره ستاسو | دنښو دالله نه | دې ستاسو دپاره |
| اوښان مونږ ستاسو دپاره دالله (ددين) نښې مقرر کړی دی | په دې کښې ستاسو خپل خير دې | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فِيْهَا | خَيْرٌ | فَاذْكُرُوا | اسْمَ اللّٰهِ | عَلَيْهَا | صَوَآفَّ | فَاِذَا | وَجَبَتْ |
| په هغې کښې | خير | پس ياد کړئ | نوم دالله | په هغې باندې | په ولاړه | نو کله چې | اولړی |
| نو څه وخت چې تاسو دغه (څاروی قربانۍ ته) قطار کښې اودروئ انو دالله ﷻ نوم پرې اخلئ ابيا چې | | | | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| جُنُوْبُهَا | فَكُلُوْا | مِنْهَا | وَاَطْعِمُوا | الْقَانِعَ |
| اړخونه دهغې | نو خورئ | دهغې نه (پخپله هم) | او خوروئ ئې | په صبر کونکی فقير باندې هم |
| هغوی په اړخونو پريوځی انو دهغې نه خپله هم خورئی ااو دصبر کونکو اوغوښتونکو فقيرانو (دواړو) باندې | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالْمُعْتَرَّ | كَذٰلِكَ | سَخَّرْنٰهَا | لَكُمْ | لَعَلَّكُمْ |
| او په سوال کونکی باند هم | دارنګې | تابع کړی دی مونږ داڅاروی | دپاره ستاسو | دپاره ددې چې تاسو |
| هم خوروئی ادغه شان مونږ داڅاروی ستاسودپاره تابع کړی دی اچې تاسو زمونږ شکر اداکړئی | | | | |
| تَشْكُرُوْنَ۝ | | | | |
| شکر اوباسئ | | | | |

**د قربانئي فضائل:-** -داهم د الله ﷻ احسان دې چه هغه څاروی پيداکړی اوهغه ئی پخپل نوم باندې قربانی کولو اوخپل کورته د قربانئي په توګه باندې د رسولوحکم کړې دې او دائی شعائرالله اوګرځول بل حکم ئی فرمائيلې ﴿لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ۚ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ۚ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۖ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ۝﴾ ([1]) مه د الله ﷻ د دې عظمت والا د نښنو بې ادبی کوئی اومه د حرمت والا د مياشتو ګستاخی کوی الخ. هر اوښ اوغوا چه دقربانئي دپاره مقررکړې شی هغه په بدن کښې داخل دی([2]) اګرچه بعضې خلقوصرف اوښ ته بدن وئيلې خوصحيح دا دی چه اوښ جودې ولې غوا هم په دې کښې شامله ده. حديث شريف کښې دی چه څنګه اوښ د اووه کسانو د طرف نه قربانی کيدې شی دغه شان غواهم. دجابربن عبدالله ﷺ نه په صحيح مسلم کښې روايت دې مونږ ته

[1]) ۵/المائدة:۲.

[2]) صحيح مسلم كتاب الحج باب بيان وجوه الاحرام......:۱۲۱۳، ابوداؤد:۲۸۰۹، ترمذی:۹۰٤، ابن ماجه:۳۱۳۲، ابن حبان:۷۰۰۶، بيهقی:۵/۱۶۸.

Scanned with Ca

رسول الله ﷺ حکم راکړوچه مونږ په اوښ کښې اووه کسان شریك شو او په غواکښې دې هم اووه کسان سرې شریك شی.امام اسحاق بن راهویه رحمه الله وغیره فرمائی چه په دې دواړو څارووکښې لس لس کسان شریکیدلې شی. په مسنداحمد اوسنن نسائی کښې داسې حدیث هم راغلې دې. والله اعلم.

**په غټ څاروي کښې د اووه کسانو د شرکت حکم**

**مسلک حنفی:**-په غټ څاروی کښې مثلاً اوښ غوا میخه کښې اووه کسان شریکیدې شی اوپه وړوکی څاروی کښې به صرف یو کس حصه اخلی لکه ګډه چیلې چیلۍ (د دولسو میاشتو فضائلو او احکام (ص، ۲۴۳) بحواله د درمختار وشامی) -

بیافرمائی چه په دې څناوروکښې ستاسو د آخرت ګټه ده. حضور ﷺ فرمائی چه د قربانئی د اختر په ورځ د انسان یوعمل هم د الله ﷻ په نیز د قربانئی نه زیات خوښ نه دې څاروې به د قیامت په ورځ د خپلو ښکرو نوکواوویښتوسره دانسان په نیکوکښې پیش کولې شی.یادساتئی دقربانئی د وینې د څاڅکی په زمکه باندې د پریوتلونه وړاندې الله ﷻ ته رسی نو په یخوزړونوسره قربانی کوئی.([1]) (ابن ماجه ترمذی) حضرت سفیان ثوری رحمه الله خو به په قرض کولو سره هم قربانی کوله اود خلقو په تپوس کولو به ئی فرمائیل چه الله ﷻ فرمائی په دې کښې ستاسو ښیګړه ده. رسول الله ﷺ فرمائی د یوې خرچې غوره والې د الله ﷻ په نیز په نسبت د دغه خرچې چه د قربانئی د اختر په ورځ په قربانئی باندې کولې شی هیڅ کله نه دې.([2]) (دارقطنی). الله ﷻ فرمائی ستاسو د پاره په دې څاروکښې ثواب دې ګټه ده د ضرورت په وخت کښې پئی څکلې شئی سورلی کولې شئی اوبیاد دې د قربانئی کولو په وخت کښې د خپل نوم لوستلوهدایت کوی.

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی ما د لوئ اخترمونځ رسول الله ﷺ سره اداکړو د مانځه نه په اوزګاریدوسره د حضور ﷺ مخې له ګډ راوستلې شو کوم چه حضور ﷺ ﴿بسم الله والله اکبر﴾ لوستلوسره حلال کړو بیائی اوفرمائیل ای الله ﷻ دا زما د طرف نه دې او زما د امت نه د هغه کسانو د طرف نه دې چه قربانی نه شی کولې. ([3]) (احمدابوداؤد ترمذی) فرمائی چه د اختر په ورځ حضور ﷺ له دوه ګډان راوستې شوهغه نې قبلې طرف ته مخ کړوحضور ﷺ ﴿وجهت وجهی للذي فطرالسموات والارض حنیفاوماانامن المشرکین ان صلوتی ونسکی ومحیای ومماتی لله رب العلمین لاشریك له وبذلك امرت وانااول المسلمین اللهم منك ولك عن محمد وامتی﴾ لوستلو ﴿بسم الله والله اکبر﴾ اووئیل او حلال ئی کړل. ([4])

حضرت ابورافع رضی الله عنه فرمائی د قربانئی په موقع به رسول الله ﷺ دوه ګډان ښه چاق تازه تیار ښکلې د لویوښکروالا برګ اخستل کله چه به ئی مونځ اوکړو اود خطبه نه به فارغ شو نو یوڅاروې به حضور ﷺ له راوستې شوحضور ﷺ به پخپله په عیدګاه کښې په خپل لاس حلالولو اوفرمائیل به ئی ای الله دا زماد امت د طرف نه دې څوك هم چه دتوحیداوسنت ګواه دی بیا به دویم څاروې حاضرکړې شوکوم چه حلالولوسره به ئی فرمائیل دا د محمد اوآل محمد ﷺ د طرف نه دې بیابه ئی د دواړو غوښه غریبانانو ته هم ورکوله اوحضور ﷺ اود کور خلقو به هم خوړله. ([5]) (احمد، ابن ماجه)

---

[1]) ترمذی کتاب الاضاحی باب ماجاء فی فضل الاضحیة:۱۴۹۳ابن حبان:۳۱۲۶.

[2]) دارقطنی:۴/۲۸۲.

[3]) احمد:۳/۲۵۶، ابوداؤد کتاب الضحایا باب فی الشاة یضحی بهاعن جماعة:۲۸۱۰وهوحسن، ترمذی:۱۵۲۱، احمد :۳/۵۶۲، حاکم:۴/۲۲۹، بیهقی:۴/۲۸۵.

[4]) ابوداؤدکتاب الضحایا باب مایستحب من الضحایا:۲۷۹۵وهوحسن، ابن ماجه:۳۱۲۱.

[5]) احمد:۶/۸.

Scanned with Ca

## په قربانۍ کښې نيابت جائز دې

**مسلک حنفي:-** د بل چا د طرفه قرباني کول جائز دی ځکه چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم د خپل امت دپاره قرباني کړې وه

**اوښ په ولاړه حلالول سنت دی:-** د ﴿صواف﴾ معنی ابن عباس ﷺ اوښ په دريوپښوباندې اودرولود هغه ګس لاس ئې اوتړلو ﴿بسم الله والله اکبر لا اله الا الله اللهم منك ولك﴾ لوستلوسره هغه حلال کړو. حضرت ابن عمر ﷺ يوسړې اوليدلوچه هغه خپل اوښ حلالودپاره کينولې دې نو هغوی اوفرمائيل دا اودروه اود ده پښې اوتړه او حلال ئې کړه هم دا سنت دی د ابوالقاسم ﷺ.([1]) حضرت جابر ﷺ فرمائي رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ به د اوښ يوه پښه اوتړله په دريوپښوباندې به ئې اودرولو او حلالولو به ئې([2]) (ابوداوٗد). حضرت سالم بن عبدالله رحمه الله سليمان بن عبدالملك ته فرمائيلې ووچه د ګس طرف نه قرباني کوه. د حجة الوداع بيان کولوسره حضرت جابر ﷺ فرمائي چه حضور ﷺ درې شپيته اوښان په خپل لاس سره قرباني کړل د حضور ﷺ په لاس کښې حربه (دلړګی لاسکی والا جنګی وسله) وه په کومې سره چه به حضور ﷺ زخمی کول([3]) د ابن مسعود ﷺ په قراءت کښې ﴿صوافن﴾ يعنی په ولاړه پښې تړلې. د صواف معنی د خالص هم کړې شوې دې يعنی څنګه به چه د جاهليت په زمانه کښې الله ﷻ سره نورهم شريك کول تاسو مه کوئی بلکه صرف د يوالله چه واحددې په نوم باندې قربانيانې کوئی. بيا چه کله دا په زمکه باندې راپريوځی يعنی حلال شی يخ پريوځی نو پخپله ئې هم اوخورئی او په نورو باندې ئې هم اوخورئی تيزه وهلوسره په ټکړې کولوشروع مه کوئی ترکومې چه روح اوځی اويخ شی. په يوحديث شريف کښې هم راغلی دی چه د روح په ويستو کښې تندی مه کوئی.([4])

د صحيح مسلم په حديث کښې دی الله ﷻ هريوځيزته نرمی کول ليکلې دی. دښمنان په ميدان جنګ کښې قتل کولوسره هم ښه سلوك کوئی او ځاروی حلالووخت کښې هم په ښه شان نرمئی سره حلالونی اوچاړه ښه تيره کوئی او ځاروی ته تکليف مه ورکوئی.([5]) فرمان دې چه په ځاروی کښې ترکومې ساه وی اود هغه د بدن څه حصه پرې کړې شی نودا حرام ده.([6]) (احمد، ابوداوٗد، ترمذی)

## د ساه وتلو نه وړاندې د ځاروی نه څه اندام ک‌ټ کول او دهغې حکم

**مسلک حنفي:-** دساه وتلو نه وړاندې چې کوم اندام دځناور نه کټ کړې شی هغه به د مرداری په حکم کښې وی دهغې خوړل ناجائز او حرام دی بيافرمانی داپخپله اوخورئی بعضې سلف وائی د دې خوړل مباح دی. امام مالك رحمه الله فرمائی مستحب دی نورخلق وائی واجب دی.

## د قربانۍ د غوښې خوړولو حکم

**مسلک حنفي:-** د قربانۍ غوښه په خپله خوړل خپلوانو ته ورکولو غريبانانو او مالدارانو ته ورکول ټول

---

[1]) صحيح بخاری کتاب الحج باب نحرالابل مقيدة:۱۷۱۳، صحيح مسلم:۱۳۲۰، ابوداوٗد:۱۷٦۸، احمد:۲/۳، ابن حبان:۵۹۰۳.
[2]) ابوداوٗد کتاب المناسك باب کيف تنحرالبدن:۱۷٦۷.
[3]) صحيح مسلم کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ:۱۲۱۸.
[4]) دارقطنی:٤/۲۸۳.
[5]) صحيح مسلم کتاب الصيد باب الامر باحسان الذبح والقتل:۱۹۵۵، ابوداوٗد:۲۸۱۵، ترمذی:۱٤۰۹، ابن ماجه:۳۱۷۰، ابن حبان:۵۸۸۲، احمد:٤/۱۲۳.
[6]) احمد:۵/۲۱۸، ابوداوٗد کتاب الاضاحی باب اذاقطع من الصيد قطعة:۲۸۵۸ وسنده حسن، ترمذی:۱٤۸۰، حاکم:٤/۲۳۹، بيهقی:۱/۲۳، دارقطنی:۵٤۸، دارمی:۱۸.

صورتونه جائز دی البته غوره دا ده چه غوښه درې حصې کړې شی یوه حصه په خپله اوخوري بله حصه خپلوانو ته ورکړي او دریمه حصه عامو مسکینانو غریبانانو ته ورکړی (د دولسو میاشتو فضائل او احکام (ص، ۲۵۰) پحواله د درمختار)-

**د قانع او معتڑ مطلب**:-مسکینان که هغه په کورونوکښې ناست وی اوکه دربه دربه درسوالونه کوی. دا هم مطلب دې چه قانع خو هغه دې چه په صبرسره کورناست وی اومعتر هغه دې چه اخوادیخوا ځی راځی خو بیا هم سوال نه کوی.[1] داهم وئیلې شوی دی چه قانع هغه دې چه صرف په سوال کولو باندې صبر اوکړی اومعتر هغه دې چه سوال خونه کوی ولې د خپلې عاجزئی اوغریبئی اظهاراوکړی. دا هم روایت دې چه قانع هغه دې چه مسکین وی تلوراتلووالاوی اود معترنه مراد دوستان اوکمزوری خلق اوګاونډیان سره د دې چه مالدار وی خوچه تاسوکره ځی راځی هغه ته وینی نو هغوی هم دی چه طمع ساتی اوهغه هم چه امیر اوفقیرموجود وی. داهم وئیلې شوی دی چه د قانع نه مراد اهل مکه دی. د امام ابن جریر رحمه الله فرمان دې چه د قانع نه مراد سوال کونکې دې ځکه چه هغه خپل لاس د سوال د پاره اوږدوی اود معتر نه مراد چه اخوادیخواکیږی چه که څه ملاوشی.د بعضې خلقو داخیال دې چه د قربانئی داغوښې دې درې حصې کړې شی یوه حصه د خپل خوراك د پاره یوه د دوستانوورکولود پاره او یوه د صدقه کولود پاره. حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه هم ما تاسو دقربانئی د غوښې جمع کولونه منع کړې وئی چه د دریوورځونه زیات پورې نی مه ساتئی اوس زه اجازت درکوم چه خورئی جمع کوئی او ځنګه چه غواړئی[2]په یوبل روایت کښې دی چه خورئی جمع کوئی او صدقه کوئی او یوبل روایت کښې دی ([3]) پخپله خورئی په نوروخورئی اود الله ﷻ په لارکښې ورکوئی.([4])

بعضې خلق وائی چه قربانی کونکې دې نیمه غوښه پخپله خوری او باقی غوښه دې نیمه دې صدقه کړی ځکه چه قرآن پاك فرمائیلی دی پخپله ئی خورئی اوحاجت مندفقیر باندې خورئی او په حدیث کښې داهم دی چه خورئی جمع کوئی اود الله ﷻ په لارکښې ورکوئی. اوس که یوسړې د خپلې قربانئی غوښه هم پخپله اوخوری نویوقول خودارروایت دې چه په ده باندې هیڅ نقصان نشته. بعضې خلق وائی چه په هغه باندې هم داسې یوه قربانی یا دهغې قیمت ورکول دی بعضې وائی چه نیم قیمت دې ورکړی بعضې نیمه غوښه او بعضې وائی د دې په اجزاء کښې د وړو وړو اجزاء قیمت د ده په ذمه دې باقی معاف دی.

## د قربانئ ټوله غوښې په خپله د خوړلو حکم

**مسلک حنفی**:-دقربانئ ټوله غوښه پخپله خوړل په مالدارانو او غریبانانو باندې تقسیمول ټول صورتونه جائز دی خو غوره دا ده چه درې حصې ئې کړی یوه حصه په خپله اوخوری بله حصه رشته دارانو ته ورکړی اودریمه حصه عامو مسکینانانو اوغریبانانو ته ورکړی (د دولسو میاشتو فضائل او احکام) پحواله د درمختار)-

[1] الطبری:۱۸/۶۳۶.
[2] صحیح مسلم کتاب الاضاحی باب بیان ماکان من النهی عن اکل لحوم الاضاحی بعدثلاثة..:۱۹۷۷، ترمذی:۱۵۱۰.
[3] صحیح مسلم حواله سابق:۱۹۷۱،ابوداوٗد:۲۸۱۲، ابن حبان:۵۹۲۷.
[4] صحیح بخاری کتاب الاضاحی باب مایوٗکل من لحوم الاضاحی ومایتزودمنها:۵۵۶۹.

Scanned with Ca

د څرمن باره کښې په مسنداحمدکښې حديث دې وني خورني د الله ﷻ په لارکښې ورکړئي د څرمن نه فائده اوچته کړئي خودا خرڅوئي مه([1]) بعضې علماؤ د خرڅولو اجازت ورکړې دې بعضې وائي په غريبانانوکښې دې تقسيم کړې شي. (مسئله)

**اول مونځ بيا قرباني کول سنت دي:**-براءبن عازب‌رضي الله عنه وائي چه رسول الله‌ﷺ فرمائيلي دي د ټولونه اول مونږ له په هغه ورځ مونځ اداکول پکار دی بياواپس کيدل او قربانياني کول پکاردی څوک چه داسې اوکړی هغه سنت اداکړل اوچاچه د مانځه نه وړاندې قرباني اوکړه نوداسې ده لکه چه هغه د خپل کوروالا دپاره غوښه راجمع کړه د هغه قربانئي سره هيڅ مينه نشته. ([2]) (بخاري ومسلم) د دې وجې د امام شافعي رحمه الله اود علماؤد يوې ډلې داخيال دې چه د قربانئي اول وخت هغه وخت دې چه کله نمر راوخيژي.اودومره وخت تيرشي چه مونځ اوشي او دوه خطبې اوشي. د امام احمدرحمه الله په نيز د دې نه پس دومره وخت هم چه امام حلالء اوکړی ځکه چه په صحيح مسلم کښې دی امام چه ترکومې قرباني اونه کړی تاسو قرباني مه کوئي. ([3])(احمد ابن حبان) وائي چه د قربانئي ورځې د ذی الحجه د خاتمه پورې دی خوداقول غريب دې

## د مانځه نه وړاندې د قربانئ کولو حکم

**مسلک حنفي:**-په کلو کښې د اختر د مانځه نه وړاندې قرباني کول جائز ده او په ښارونو کښې چه د اختر مونځ په کښې کيږی د اختر د مانځۀ نه وړاندې قرباني کول جائز نه ده ([4])په حواله د درمختار- بيافرمائی چه هم په دې وجه مونږ دا څاروی اوځناور ستاسوحکم منونکی کړی دی چه کله هم تاسو غواړئي سورلي کوئي کله چه غواړئي پئي تري اخلئي کله چه غواړئي حلالوئي غوښه خورئي لکه چه په سورت يس په آيت ﴿ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ۝ وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ۝ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۚ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ۝ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ۝ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۚ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝ ﴾ کښې بيان شوې دې. هم دغه فرمان دلته دې چه د الله ﷻ د دې نعمت شکر اداکړئي ناشکری اوناقدری مه کوئي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لَنْ يَّنَالَ | اللّٰهَ | لُحُوْمُهَا | وَلَا دِمَآؤُهَا | وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ |
| هر ګز نۀ رسی | الله ته | غوښې دهغې | اونه اووينې دهغې | وليکن رسی هغه ته |
| اونه ئې وينه | بلکه هغه ته ستاسو صرف | | | |
| التَّقْوٰى | مِنْكُمْ ؕ | كَذٰلِكَ | سَخَّرَهَا | لَكُمْ |
| تقوی | ستاسو نه | دارنګې | تابع کړل هغه دا څاروی | دپاره ستاسو |
| پرهيزګاری رسيږی | په دې شان هغه دا څاروی ستاسو تابع کړی دی | چې تاسو | | |

[1]) احمد:٤/١٥ مجمع الزوائد:٤/٢٦.

[2]) صحيح بخاری کتاب العيدين باب الخطبة بعدالعيد:٩٦٥، صحيح مسلم:١٩٦١، ابوداؤد:٢٨٠١، ترمذی:١٥٠٨، احمد:٤/٣٠٣،

[3]) صحيح مسلم کتاب اولاضاحی باب من الاضحية:١٩٦٤.

[4]) د دولسو مياشتو فضائل اواحکام(ص، ٢۴٢)

Scanned with Ca

| لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ | عَلٰى مَا | هَدٰىكُمْ ؕ |
| --- | --- | --- |
| دپاره ددې چې تاسو لوئې بيان کړی دالله \| په هغه هدايت باندې \| چې ښودلې ئې دې تاسو ته \| | | |
| دالله ﷻ لوئې بيان کړئی \| .......................هغه تاسو ته لار خودلې ده | | |
| وَبَشِّرِ | الْمُحْسِنِيْنَ ۝ | |
| او زيرې ورکړه (اے نبی ﷺ) \| نيکی کونکو خلقو له\| | | |
| (ائې نبی ﷺ) نيکی کونکو ته زيرې ورکړه\| | | |

**قوله تعالى:-** وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ

**د تقوی فضيلت:-** ارشاددې چه د قربانيانو په وخت کښې د الله ﷻ نوم په لوئې سره اخلئی هم د دې د پاره قربانيانې مقررشوی دی چه په خالق اورازق سره ئی اومنئی دانه چه د قربانيانو په غوښه اووينه سره د الله ﷻ فائده کيږی. الله ﷻ د ټول مخلوق نه غنی او د ټول بنديګانونه بې پرواه دې.دجاهليت د بې وقوفتياګانو نه يوه داهم وه چه د قربانو د څاروو غوښه به ئی خپله بتانوته کيخوده او په هغوی باندې به ئی د وينې څاڅکې کولو. داهم رواج وو چه په بيت الله باندې به ئی وينوڅاڅکی شيندل. مسلمانان کيدو سره صحابه کرامو ﷡ ددې باره کښې تپوس اوکړو په کوم باندې چه دا آيت نازل شو چه الله ﷻ خو تقوی ته ګوری او قبلوی اوهم په دې باندې بدله ورکوی. په صحيح حديث کښې دی چه الله ستاسوصورتونوته نه ګوری نه د هغه نظر ستاسو په مال باندې دې بلکه د هغه نظر ستاسو په زړونوباندې دې اوستاسو په اعمالوباندې دې([1])يوبل حديث کښې دی چه خيرات اوصدقه د سوال کونکی په لاس کښې پريوځی د دې نه اول د الله ﷻ لاس ته ورځی د قربانئی د څاروی د وينو څاڅکې په زمکه باندې پريوځی دې نه اول الله ﷻ ته رسی([2])دې هم دا مطلب دې چه د وينوڅاڅکې جدا کيدو سره قربانی قبليږی. والله اعلم.

**د قربانئ د څرمنې حکم:-** دعامر شعبی رحمه الله نه د قربانئی د څرمنوباره کښې تپوس اوشو نوونئی فرمائيل الله ﷻ ته غوښه اووينه نه رسی که غواړئی خرڅئی کړئی او که غواړئی وئی ساتئی که غواړئی نو د الله ﷻ په لار کښې ئې ورکړئی. هم د دې د پاره الله ﷻ دا خناور ستاسوپه قبضه کښې کړی دی چه تاسو د الله ﷻ د دين او د هغه د شريعت لار اووينئی د هغه د خوښې کارونه اوکړئی اود هغه دناخوښې کارونونه منع شئی اودهغه عظمت اولوئی بيان کړئی کوم خلق چه نيکوکاردی اود الله ﷻدحدودو پابندی په شريعت باندې عمل کونکی دی درسولانوصداقت کوی هغوی دمبارکئی او زيرو لائق دی.

(مسئله)

د امام ابوحنيفه، امام مالك او ثوری رحمهم الله قول دې چاسره چه د زکوة د نصاب برابر مال وی په هغه باندې قربانی واجب ده د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا شرط هم دې چه هغه په خپل کورکښې مقيم وی. په يوصحيح حديث کښې دی چه د چا وس وی او قربانی اونه کړی نوهغه دې زمونږعيدګاه ته نه نيزدې کيږی.([3]) په دې روايت کښې غرابت دې اوامام احمد رحمه الله دا منکر ښائی. ابن عمر رضی الله عنه فرمائی

[1]) صحيح مسلم كتاب البروالصلة باب تحريم ظلم المسلم:٢٥٦٤/٣٤.

[2]) ترمذی كتاب الاضاحی باب ماجاء فی فضل الاضحية:١٤٩٣ابن ماجه:٣١٢٦،

[3]) احمد:٣٢١/٢، ابن ماجه:٣١٢٣وسنده حسن، حاكم:٣٨٩/٢، دارقطنی:٢٨٥/٤.

Scanned with Ca

رسول الله ﷺ برابر لس کالوپورې هرکال قرباني کوله. ([1]) (ترمذی)

## د قربانۍ نصاب

**مسلک حنفي**:-په څومره مال باندې چه د صدقه فطر واجبيږی هم په هغه هومره باندې قرباني هم واجبيږی د دې دپاره د کال تيريدل اود مال تجارتی کيدل ضروری نه دی بلکه که يو کس د ضرورت نه زياتی سامان وی او دهغې قيمت دومره وی چه په هغې باندې د قربانۍ ځاروې اخستې شی نو په هغه باندې هم قرباني واجب ده ﴿د دولسو مياشتو فضائل او احکام (ص، ۲۴۰) پحواله د در مختار)

د امام شافعي رحمه الله اوامام احمد رحمه الله مذهب دې چه قرباني واجب او فرض نه ده بلکه مستحب ده ځکه چه په حديث کښې راغلی دی په مال کښې د زکوة نه علاوه بل هيڅ فرضيت نشته.([2]) داهم اول روايت بيان کړې شوې دې چه حضور ﷺ د خپل ټول امت د طرف نه قرباني کړې نو واجب کيدل ساقط شو.

حضرت ابوشريح رحمه الله فرمائي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په ګاونډ کښې اوسيدلم دې دواړو بزرګانو به قرباني نه کوله په دې ويره چه خلق به د هغوی اقتداء اوکړی بعضې خلق وائی چه قرباني سنت کفايه ده چه په محله کښې يا په کوڅه کښې يا په کورنئی کښې يوکس هم اوکړه نود باقی غاړه خلاصه شوه د دې د پاره مقصدصرف شعار ښکاره کول دی. په ترمذی وغيره کښې دی رسول الله ﷺ د عرفات په ميدان کښې اوفرمائيل په هريوکوروالا باندې په هرکال کښې قرباني ده او هغه عتيره ده معلومه ده چه عتيره څه څيزدې؟ هم هغه کوم ته چه تاسو رجبيه وائی. ([3])د دې په سند کښې کلام کړې شوې دې.

ابوايوب رضي الله عنه فرمائي صحابه کرامو رضي الله عنهم به د رسول الله ﷺ په موجودګۍ د ټولې کورنئی د طرف نه يوه چيلئی د الله ﷻ په لار کښې حلالوله پخپله به ئی هم خوړله اوبه نورو باندې به ئی هم خوړله بيا په دې کښې خلقو دا اوکړو چه تاسو ئی ګورئی. ([4]) (ترمذی ابن ماجه) عبدالله بن هشام رحمه الله به د خپل ځان اود کور والا د طرف نه به يوه چيلئی قرباني کوله. ([5]) (بخاری)

**د قربانی د ځاروی عمر**:-اوس دقربانئی دځاروی دعمر باره کښې اوګورئی. په صحيح مسلم کښې رسول الله ﷺ فرمائي چه مه حلالوئی مګرمسنه (عمرته رسيدلی) بغيرد هغه صورت چه هغه په تاسو باندې ګران پريوځی اوبياد ګډې بچې هم د شپږومياشتو حلالولې شئی.([6])زهری رحمه الله خوفرمائي چه جذعه يعنی شپږمياشتيز څناورخودقربانئی په کارکښې نه شی راوستې اود دې په مقابله کښې د اوزاعی رحمه الله مذهب دې چه دهريوجزعه کافی ده خودادواړه اقوال دافراط تفريط يعنی کمی زياتی والا دی.

د جمهورو مذهب دا دې چه اوښ غوا چيلئی خو هغه جائز ده چه ثنی وی او د ګډې د شپږو مياشتو هم جائزدې. اوښ خو دوه کالنې وی کله چه د پنځوکالوشی او په شپږم کښې شی اوغوا چه کله د دوو کالو پوره شی په دريم کښې شی اوداهم وئيلې شوی دی چه درې تيرکړی اوپه څلورم کښې وی اود چيلئی ثنی خو هغه دې چه دوه کاله تيرشوی وی اوجذعه وائی چه د پوره کال وی اوونيلې شوی دی چه د لسو مياشتو وی يوقول دې چه د اتومياشتو وی يوقول دې چه د شپږو مياشتو وی اود دې نه د کمې

---

[1]) ترمذی کتاب الاضاحی باب دلدليل علی ان الاضحية سنة:١٥٠٧، احمد:٣٨/٢.

[2]) ابن ماجه کتاب الزکاة باب ماادی زکاته ليس بکنز:١٧٨٩.

[3]) ابوداوٗد کتاب الضحايا باب ماجاء فی ايجاب الاضاحی:٢٧٨٨. ترمذی:١٥١٨،نسائی:٤٢٢٩، ابن ماجه ٣١٢٥.

[4]) ترمذی کتاب الاضاحی باب ماجاء ان الشاة الواحدة تجزئ من اهل البيت:١٥٠٥، وهوصحيح، ابن ماجه:٣١٤٧.

[5]) صحيح بخاری کتاب الاحکام باب بيعة الصغير:٧٢١٠.

[6]) صحيح مسلم کتاب الاضاحی باب من الاضحية: ١٩٦٣ ،ابوداوٗد:٢٧٤١،احمد:٣١٢/٣، مسندابی يعلی:٢٣٢٤.

Scanned with Ca

مودې هيڅ يو قول نشته. د دې نه د كم عمر والا ته حمل واني تركومې چه د دې په شا باندې وينېته اودريږي او وينېته سملى اودواړو طرفو ته تيټ شي نودې ته جذع واني. والله اعلم.

## د قربانۍ د څاروی عمر

**مسلک حنفي:-** چې چيلۍ د يو كال نه كمه نه دغه شان چې ګډ ګډه د يو كال نه كم نه وي البته دا كه خورب وي چه په نظر سره د شپږو مياشتو نه زيات ښكاري نو په هغې ګډ قرباني جائز ده دغه شان د غوا او ميخې دپاره دوه كاله عمر شرط دې كه د دې نه كم وي قرباني پرې نه كيږي او د اوښ عمر پنځه كال پكار دې كه د پنځو كالو نه كم وي نو قرباني پرې نه كيږي (۱)

إِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ
بيشكه الله | مدافعت كوى | دهغه خلقو دطرفنه
| بيشكه چې الله ﷻ به دمومنانو نه
اٰمَنُوْا ۗ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿۳۸﴾ اُذِنَ
چې ايمان ئې راوړې دې | بيشكه الله | نه خوښوى | هر خيانتګر | نعمت ناشكره | اجازت وركړې شو
(دمشركانو غلبه) ختمه كړي | اوبيشكه الله ﷻ هيڅ خيانت ګر ناشكره نه خوښوى | هغه مسلمانانو ته
لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ۗ
هغه كسانو ته | چې د چا خلاف جنګ كيږى | په سبب ددې چې په هغوئ باندې | ظلم شوې دې
كوم سره چې جنګ كولې شى اوس دجنګ كولو اجازت كولى شى | ځكه چې په دوئ ظلم كيږى
وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ ﴿۳۹﴾ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا
او بيشكه الله | په مدد دهغوئ باند | خامخا قادر دې | دا هغه كسان دى | چې اوويستلې شو
اوبيشكه الله ﷻ ددوئ په مدد كولو باندې قادردې | دا هغه خلق دى | كوم چې ددوئ
مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ۗ
دكورونو خپلو نه | په ناحقه | بل سبب نۀ وۀ مګر دا | چې وئيل به هغوئ | رب زمونږ الله دې
دكورونو نه په ناحقه ويستلې شوى دى | صرف په دې وجه چې دوئ دا وائى چې زمونږ رب الله ﷻ دې
وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ
اوكه نۀ وې | دفع كول دالله | خلقو لره | ځينى دهغوئ لره | په ځينو نورو باندې | انو نړولې شوى به وۀ
اوكه چرې الله ﷻ خلق ديو بل په ذريعه نه دفع كولې انو (دراهبانو) خانقاهګاني او (دعيسايانو)

(۱) (د دولستو مياشتو فضائل او احكام (ص، ۲۴۳) بحواله د شامى).

Scanned with Ca

| | | | |
|---|---|---|---|
| صَوَامِعُ | وَبِيَعٌ | وَّصَلَوٰتٌ | وَّمَسٰجِدُ |
| د راهبانو خانقاګاني | دعیسایانو ګرجي | او دیهودیانو عبادت خانې | او دمسلمانانو جوماتونه |

ګرجي او (دیهودیانو) عبادت خانې او (دمسلمانانو) جماتونه چې د الله ﷻ

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| يُذْكَرُ | فِيهَا | اسْمُ اللّٰهِ | كَثِيرًا | وَلَيَنصُرَنَّ | اللّٰهُ | مَن |
| چې یادولې شی | په هغې کښې | نوم دالله | ډیر | او خامخا به امداد کوی | الله | دهغه چا |

نوم په کښې ډیر ډیر یادولی شی (داټول) به وران شوی وو او الله ﷻ بهٔ دهغه چا مدد کوی

| | | | |
|---|---|---|---|
| يَّنصُرُهُ | إِنَّ اللّٰهَ | لَقَوِيٌّ | عَزِيزٌ ۝ |
| چې مدد کوی دهغه | بیشکه الله | ډیر طاقتور دې | غالب دې |

څوک چې دهغه (ددین) مدد کوی بیشکه الله ﷻ زوراور او غالب دې

الله ﷻ دخپل طرف نه خبرورکوی چه دهغه کوم بندیګان په هغه باندې یقین اوکړی د هغه طرف ته تیتیږی هغوی ته هغه خپل امان ورنصیب کوی دشیطانانو بدواودښمنانو بدونه پخپله هغه لرې کوی خپل امداد په هغوی باندې نازل کوی پخپل حفاظت کښې هغوی ساتی. لکه چه ارشاددې ﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾ (1) یعنی آیا الله ﷻ دخپل بنده د پاره کافی نه دې؟ یو بل ایت کښې دی ﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝﴾ (2) څوك چه په الله ﷻ باندې بهروسه اوتکل اوکړی هغه پخپله دهغوی دپاره کافی دې. الخ دهوکه بازاوناشکره د الله ﷻ د محبت نه محروم دی خپلې وعدې نه پوره کونکی دالله ﷻ دنعمتونومنکردالله ﷻ د مینې نه لرې دی.

**قوله تعالى:- إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا ۗ**

**د جهاد اجازت اود هغې پس منظر:**-حضرت ابن عباس ﷺ وائی چه کله حضور ﷺ او صحابه کرام ﷺ د مکې نه هم ویستلې شواوکافرانودمکې نه حمله اوکړه نوهله دجهاد داجازت داآیت نازل شو. (3) د ډیرو سلفونه نقل دی چه داد جهاد ړومبې آیت دې کوم چه په قرآن کریم کښې نازل شوې. (4) دې نه بعضې بزرګانو استدلال کړې دې چه داسورت مدنی دې. کله چه رسول الله ﷺ د مکې نه هجرت اوکړو نودحضرت ابوبکرصدیق ﷺ دخلې نه اووتل افسوس چه دې کافرانودالله ﷺ پیغمبرد وطن نه اوویستلو یقیناً دوی به تباه کیږی بیا دا آیت نازل شونو صدیق اکبر ﷺ پوهه شو چه جنګک به کیږی. (5) الله ﷻ د خپلو مؤمنانوبندیګانوپه امداد باندې قادردې که غواړی نوبې جنګ اوبې دعوی به دوی غالب کړی خوهغه ازمیښت کول غواړی په دې وجه حکم اوشو چه د دې کافرانوستونه اووهئی الخ. یوبل آیت کښې دی ارشادفرمائی ﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ۝﴾ (6) دوی سره اوجنګیږئی الله ﷻ ستاسو په لاس دوی ته سزاورکوی او په دوی به تاسو غالب کړی دوی به رسوا کړی اودمؤمنانودحوصلې اوچتیدلو وخت به ورکړی چه د دوی زړه یخ شی اودې سره چه څوك غواړی

---

(1) ۳۹/الزمر:۳٦.

(2) ٦٥/الطلاق:۳.

(3) الطبری:۱۸/٦٤۳.

(4) الطبری:۱۸/٦٤۳.

(5) احمد:۱/۲۱٦، ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة الحج:۳۱۷۱وهوصحیح، السنن الکبری للنسائی:۱۱۳٤٥.

(6) ۹/التوبه: ۱٤.

Scanned with Ca

د توبې توفيق به ورکړی الله ﷻ دعلم اوحکمت مالك دې. بل آيت کښې دی ﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِن دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾([1]) آيا تاسو داسوچ کړې دې چه تاسوبه پريخودلې شئ حالانکه تراوسه پورې خو هغه ښکاره شوی نه دی چه مجاهددی اود الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ اودمسلمانانونه بغيرد چاسره دوستی اويوشان والې نه کوی نوپوهه شئ چه الله ﷻ ستاسو د عمل نه خبردې. بل آيت کښې دی آيا تاسو دا ګمان اوکړو چه تاسو به جنت ته لاړشئ سره ددې چه تراوسه پورې مجاهدين صابرين د نورونه ممتازشوی نه دی.([2]) بل آيت کښې ارشاد فرمائی ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ﴾ ([3])مونږ به يقينا تاسو ازميښت کووترهغه وخت پورې چه په تاسو کښې غازيان او صبرکونکی زمونږ په وړاندې ښکاره شی. په دې باره کښې نورهم ډيرآياتونه دی. بيائی اوفرمائيل الله ﷻ د هغوی په امدادباندې قادردې اوهم داسې اوشو چه الله ﷻ خپل لښکر په دنيا باندې غالب کړو.([4])

**مکی دور کښې د جهاد نه کولو حکمت:**-جهادچه کوم وخت شريعت مشروع کړو هغه وخت هم د دې د پاره مناسب او صحيح وو. ترکومې چه حضورﷺ په مکه کښې وو مسلمانان ډيرکمزورې وو په شمير کښې به هم د لسو په مقابله کښې يوپه مشکله راتلو. کله چه په ليلة العقبه کښې انصارو د رسول الله ﷺ په لاس باندې بيعت اوکړونو هغوی اووئيل که حضورﷺ حکم اوکړی نودې وخت چه په منی کښې خومره مشرکان جمع دی په دوی به حمله اوکړو خوحضورﷺ اوفرمائيل ماته لااوس د دې حکم نه دې راکړې شوې دايادساتئی چه دا بزرګان صرف د اتياؤ نه لږ شان د پاسه وو. کله چه د مشرکانوبغاوت زيات شواوهغوی په سرکشئی کښې د حدنه وړاندې شوحضورﷺ ته به ئې سخت تکليفونه ورکول اود هغوی په قتل کولوپسې شو هغویﷺ ئې د وطن نه د ويستلو منصوبې جوړولې دغه شان ئې په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې د مصيبتونوغرونه راکينول دوه لاسه تش تور وطن مال اسباب خپل پردی ئې پريخودل چرته چه د چا وس وو په موقعه ئې اوکتله او په ويره روان شو څه حبشه ته لاړل اوڅه مدينې ته لاړل تردې چه پخپله د رسالت د آفتاب راختل هم په مدينه کښې اوشو د مدينې خلق د محمدﷺ دجهنډې لاندې خوشحاله راجمع شو.دلښکرشکل ئې جوړکړو يوڅومسلمانان د يوې جهنډې لاندې راجمع ښکاره شود قدم کلکيدو ځائ ورته ملاوشو. اوس د دين دښمنانوسره د جهاداحکامات نازل شو نود ټولونه اول هم دا نازل شو. په دې کښې بيان اوفرمائيلې شو چه دامسلمانان مظلومان دی اود دوی نه د دوی کور مال حال واخستلې شو بې وجه د کورنه بې کوره کړې شو د مکې نه راوويستلې شواومدينې ته بې آسرې اوبې سامانه راورسيدل([5])دهغوی هيڅ جرم بغيرد دې نه نه ووچه صرف د يو الله ﷻ منونکی وو رب ئې يومنلو اوخپل پروردګارئی صرف هم الله ﷻ ګڼړلو. دا استثنا منقطع ده د مشرکانو په نيزدا يوډيرلوئ جرم دې چه په هيڅ کله هم په يوصورت کښې دمعاف کولو قابل نه دی.ارشاد دې﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ ۙ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي ۚ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنتُمْ ۚ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ﴾([6])تاسواوستاسو رسول ﷺ

[1]) ۹/التوبه: ۱۶.
[2]) ۳/آل عمران:۱٤۲.
[3]) ٤۷/محمد:۳۱.
[4]) الطبری:۱۸/٦٤۳.
[5]) الطبری:۱۸/٦٤۳.
[6]) ٦۰/الممتحنة:۱.الخ

Scanned with Ca

صرف په دې وجه اوباسی چه تاسو په الله ﷻ باندې ایمان لرئی کوم چه ستاسو حقیقی پروردګار دې
د خندقونووالا په قصه کښې اوفرمائیل ﴿ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴾ (۱) یعنی په حقیقت کښې د هغوی څه قصور نه ووبغیرد دې نه چه هغوی په الله ﷻ غالب مهربان د احسان مالك باندې ایمان راوړلې وو. مسلمانانو صحابه کرامو ﷺ به خندق کنستلواو خپل خان سره به ئې ونیل -:

| | |
|---|---|
| لاهم لولاانت مااهتدينا | ولا تصدقنا ولا صلينا |
| فانزلن سكينة علينا | وثبت الاقدام ان لاقينا |
| ان الاولى قد بغوا علينا | اذا ارادوا فتنة ابينا |

پخپله رسول الله ﷺ هم د هغوی په موافقت کښې ووا ود قافیه آخری حرف به رسول الله ﷺ هم د هغوی سره اداکولو اوابیناوئیلوسره به ئې ښه آواز اوچتولو.(۲) بیافرمائی چه که الله ﷻ د یوعلاج په بل سره نه کولو اوپه هریوسیر باندې پاؤباندې سیر نه وونو په زمکه به شراوفساد خوریدلو هریوطاقتور به کمزورې تیرولو.

(صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ)ددې څه مطلب دې :-؟دعیسایانو عابدانو وړوکو عبادت خانوته صوامع وائی (۳) یو قول دا هم دې چه د صابی مذهب د خلقو د عبادت خانونوم دې اوبعضې وائی چه د مجوسیانوآتش کدوته صوامع وائی. مقاتل رحمه الله وائی داهغه کورونه دی چه په لاروکښې وی او(بِيَعٌ) د دې نه لوئ کورونه وی داهم د نصرانیانود عابدانو عبادت خانې وی(۴) بعضې وائی دا د یهودیانوکنسې دی اود صلوات هم یوه معنی هم دا کړې شوې ده(۵)بعضې وائی چه دې نه مراد ګرجې دی اود بعضو قول دې دصابی خلقو عبادت خانې دی په لاروکښې چه داهل کتابوکومې عبادت خانې دی هم هغې ته صلوات وئیلې شی اوچه دمسلمانانووی نوهغې ته جماتونه وائی(۶) د ﴿فِيهَا﴾ د ضمیر مرجع جماتونه دی ځکه چه د ټولونه اول هم دا لفظ دې داهم وئیلې شوی دی چه دې نه مراد دا ټول ځایونه دی یعنی ددنیاترك کونکوخلقو صوامع دنصرانیانو بیع دیهودیانو صلوات اودمسلمانانوجماتونه په کومو کښې چه د الله ﷻ نوم ښه اخستې شي. (۷)

د بعضې علماؤ بیان دې چه په دې آیت کښې د اقل نه د اکثرطرفته د ترقی صنعت کیخودې شوې دې نود ټولونه زیات آباد اود ټولونه لوئ د عبادت کور د کوم ځائ د عبادت کونکو اراده صحیح نیك نیت اوعمل صالح دی هغه جماتونه دی. بیافرمائی الله ﷻ د خپل دین د امدادیانو پخپله مددګاردې. لکه چه ارشاد دې ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴾ (۸) اې مسلمانانوکه تاسو د الله ﷻ د دین امدادکونی نو الله ﷻ به ستاسو امداد اوکړی اوتاسو ته به ثابت قدمی درکړی په کافرانوباندې افسوس دې اود هغوی عملونه غرق دی. بیائی خپل دوه صفتونه بیان کړل قوی کیدل چه ټول مخلوق ئې پیداکړو د عزت مالك کیدل چه ټول د هغه ماتحت دی هریود هغه مخکې

(۱) ۸۵/البروج: ۸.
(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الخندق وهی الاحزاب:۴۱۰۶، صحیح مسلم:۱۸۰۳.
(۳) الطبری:۶۴۷/۱۸.
(۴) الطبری:۶۴۸/۱۸.
(۵) الطبری: ۶۴۹/۱۸.
(۶) الطبری:۶۵۰/۱۸.
(۷) الطبری:۶۵۰/۱۸.
(۸) ۴۷/محمد:۷.

Scanned with Ca

ذلیل ښکته تول د هغه محتاج هغه د ﷻ تولونه بې پرواه چاله چه هغه امداد ورکړی هغه غالب د چانه چه دهغه امداد اخواشی هغه مغلوب. فرمائی ﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ۚ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ۝﴾ ([1]) یعنی مونږ خود اول نه خپلو رسولانوسره وعده کړې ده چه د هغوی به په یقیني توګه باندې امدادکولې شي اودا چه هم زمونږ لښکر به غالب راځی. بل آیت کښې دی ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِيْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝﴾([2]) الله ﷻ ونیلی دی چه زه اوزمارسولان علیهم السلام غالب دی بې شکه الله ﷻ د قوت اوعزت مالك دې.

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا

دا هغه خلق دی چې اقتدار ورکړو مونږ هغوئ لره |په زمکه کښې| نو قائیموی به|مانځه لره |او ورکوی به

دغه (مظلومان) داسې خلق دی اکه مونږ ورته دزمکې په مخ باندې حکومت ورکړو| نو دمونځ پابندی به کوی

الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ

زکات |او حکم به کوی | دنیکئ |او منع کوی | دبدئ نه |او دالله په لاس کښې دې

او زکاتونه بهٔ ورکوی |اونورو ته به د نیکئ کولو حکم کوی |اوبدئی نه بهٔ ئې منع کوی

عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۝ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

انجام |دټولو معاملاتو |او که دروغ ګڼړی دوئ تالره |نو دروغ ګڼړلې دی (رسولان خپل) مخکښې ددوئ نه

اودهر کارانجام دالله ﷻ په اختیار کښې دې |اوکه ئن دوئ تا درغږن ګڼړی | نو (څه اوشو)

قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ۝ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ وَقَوْمُ لُوْطٍ ۝

قوم دنوح| او عادیانو |او ثمودیانو | او قوم دابراهیم | او قوم دلوط |

ددوی نه وړاندې د نوح ؑ قوم او عاد او ثمود هم او دابراهیم ؑ اود لوط ؑ قوم او د مدین

وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ

اومدین والو | او دروغ ګڼړلې شوې دې | موسی | نو مهلت ورکړو ما | کافرانو لره

خلقو هم (خپل پیغمبران) دروغژن ګڼړلی وو| اوموسی ؑ هم دروغژن ګڼړلې شوی وو| نو ما کافرانو

ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝ فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ

بیا | رااونیول ما هغوئ| څرنګې وؤ | عذاب زما | پس ډیر دی | دکلونه

له مهلت ورکړو| بیا ما دوئ رااونیول |نو (تا اولیدل) چې زما عذاب څنګه وو | نو څومره کلی

[1] ۳۷/الصافات: ۷۱.

[2] ۵۸/المجادلة: ۲۱.

Scanned with Ca

اَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ

چې هلاک کړې دي مونږه هغه | حال دا چې هغه | ظالمان وو | پس هغه | پریوتې دي |

دي چې مونږ هغه هلاک کړل|ځکه چې هغوئ نافرمانه وو |نو اوس دهغوئ چتونه

عَلٰى عُرُوْشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّقَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿٤٥﴾

په چتونو خپلوباندي|اوډيري کوهیان دي|چې شاړ پراتۀ دي|او ډيرې مانړۍ|اوچتې محکمې ورانې دي

التمه پراته دی |او شاړ کوهيان اوخوښه لوړلوړ محلونه (وران) پراته دي

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ

ایا دا خلق ګرزیدلي نه دی | په زمکه کښې چې وې | دوئ لره | زړونه | چې پوهه ئې حاصلولي

نو ایا دوئ دزمکې په مخ تګ راتګ نه کوی | چې د دوئ داسې زړونه وې | چې پوهه ئې

بِهَآ اَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۚ فَاِنَّهَا

په هغې سره | یاوې غوږونه دوئ لره| چې اوریدل کولې دوئ | په هغې سره| پس بیشکه حقیقت دادې

پرې کولې شوې| یا داسې غوږونه ئې وې چې په هغې ئې (حقه خبره) اوریدې شوی | خو حقیقت

لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى الْقُلُوْبُ الَّتِيْ فِي الصُّدُوْرِ ﴿٤٦﴾

چې ړندې نۀ دی | سترګې | ولیکن | ړانده دی | زړونه | هغه | چې په سینو کښې وی

دا دې| چې سترګې نه ړندیږی بلکه هغه زړونه ړانده دی چې په سینو کښې پټ پراته دی

قوله تعالى:- اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ

**دا ایت مبارک د چا باره کښې نازل شوې دې؟** حضرت عثمان ﷺ فرمائي چه داآيت زمونږ باره کښې نازل شوې دې مونږه بې سببه دوطن ویستلې شوې وو بيا الله ﷻ مونږ ته بادشاهی راکړه مونږ د مونځ روژې پابندي اوکړه او ښه کارونه مو اوکړه او د بدونه منع شو نودا آيت زمااوزما دملګرو باره کښې دی ابوالعاليه رحمه الله فرمائي دې نه مراد اصحاب رسول ﷺ دی.

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په خپله خطبه کښې د دې آيت تلاوت کولوسره اوفرمائيل په دې کښې صرف دبادشاهانوبيان نه دې بلکه د بادشاه او رعايادواړو بيان دې. په بادشاه باندې خوداکاردې چه د الله ﷻ حقونه تاسو نه پوره واخلی د الله ﷻ دحق په کوتاهۍ کښې تاسو راونيسي اود يوحق دبل نه واخلی اوچه ترکومې پورې ممکن وی تاسوته نيغه لار ښائی په تاسو باندې دهغه حق دادې چه ظاهر او باطن په خوشحالئی خوشحالئی سره د هغه تابعداری اوکړئی. عطيه رحمه الله فرمائی هم ددې آيت مضمون په آيت ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ۚ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْـًٔا ۚ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٥٥﴾﴾ [1] کښې دې. دکارونوانجام دالله ﷻ په لاس کښې دې اوښکلې نتیجه به هم دپرهيزګارانو وی اودهرې يوې نیکئی بدله هم هغه سره ده.

**د انبياو عليهم السلام دروغ ګڼړلو انجام:-** الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته تسلی ورکوی چه د منکرانو انکار تاسره څه نوې خبره نه ده د نوح عليه السلام نه واخله د موسی عليه السلام پورې د ټولوانبياؤ کرامو انکار کافرانو برابر کړې دې

[1] ٢٤/النور: ٥٥.

دلائل مخامخ وو حق ښکاره شو خومنکرانو اونه منله. ماکافرانوته مهلت ورکړې چه دوی سوچ اوفکر اوکړی پخپل انجام باندې غوراوکړی خوچه کله هغوی دنمك حرامئی نه منع نه شونوآخرزما په عذابونوکښې راګیرشو.ګوره چه زما راګیرول څنګه دی بې پناه ثابت شو اوڅومره خطرناك انجام ئی شو. دسلفونه نقل دی چه د فرعون د خدائې دعوی او د الله ﷻ په راګیرولوکښې د څلویښتوکالو موده وه. رسول الله ﷺ فرمائی چه الله ﷻ هریو ظالم ته وخت ورکوی بیا چه کله ئی راګیرکړی نو خلاصې نی نه وی.بیاحضور ﷺ دا آیت ﴿وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ اَخْذَهٗۤ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ﴾ ([1]) اولوستلو ([2]) بیا فرمائی چه دډیروکلو ظالمان کومو چه درسولانوتکذیب کړې وومونږ غرق کړل.د چامحلونه چه کنډرې پرمخې پراته دی د هغوی منزلونه وران شو د هغوی آبادئی تباه شوې د هغوی کوهیان خالی پراته دی چه د پرون پورې آباد وو نن خالی دی د هغوی چونه کړې شوی محلونه چه د لرې نه سپین پړقیدل ښکاریدل چه او چت او اعلی او پاخه وو نن هغه وران پراته دی هلته ([3]) ګونګیان خبرې کوی د هغوی مضبوطیاهغوی بچ نه کړې شو دهغې ښائست اوپوخوالې بې کاره ثابت شو درب عذاب هغه تباه برباد کړل. لکه چه ارشاد دې ﴿اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰۤؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا﴾([4])سره د دې چه تاسوپه چونه کړې شوی قلعه ګانوکښې محفوظ ئی خومرګ به هلته هم تاسو پرینږدی.آیا هغوی پخپله په زمکه کښې ګرځیدل راګرځیدل نه ټیك نه ده کله ئی غور اوفکر هم نه وو کړې چه څه عبرت ئی حاصل کړې وو.امام ابن ابی الدنیا رحمه الله "کتاب التفکر والاعتبار" کښې روایت راوړې دې چه الله ﷻ موسی علیه السلام له وحی راولیګله اې موسی علیه السلام داوسپنې څپلئی واچوه او د اوسپنې والا لرګې واخله په زمکه روان شه آثار او عبرت اوګوره هغه به ختم نه شی تردې چه ستا د اوسپنې څپلئی به ټکرې ټکرې شی اود اوسپنې لرګې به دې هم مات رامات شی. هم په دې کتاب کښې د بعضې هوښیارانوقول دې چه په وعظ سره خپل زړه راژوندې کړه او په غور اوفکر سره دا نورانی کړه اود زهد او دنیا نه بچ کیدو سره دا مړکړه اوپه یقین سره دا کلك کړه اود مرګ په ذکر سره دا خوارکړه اود فنا په یقین باندې دې له صبرورکړه ددنیامصیبتونه د ده په وړاندې کیږده د ده سترګې کولاوکړه د زمانې تنګی ده ته اوښایه اودې اوویره وه د ورځو اوختل راوختلو باندې دې پوهه کړه او بیدارئی کړه په تیروشوو واقعاتو باندې دې عبرتناك کړه دپخوانو قصې ده ته واوره دې هوښیارکړه ددوی په ښارونوکښې اود دوی په قصوکښې دې دغور اوفکرعادت کړه اوګوره چه ګناهګارانوسره دهغه معامله څنګه اوشوه څنګه هغوی تاوڼراتاوکړې شو. نودلته هم دغه فرمان دې چه د پخوانو خلقو واقعات مخې ته کیږدئی اوخپل زړه پوهه کړئی د هغوی د هلاکت رښتونې قصې اوریدوسره عبرت حاصل کړئی واورئی صرف سترګې ړندې نه وی بلکه د ټولونه زیات خراب ړوندتوب د زړه دې سره د دې چه سترګې ئی صحیح سالم وی. د زړه د ړوندوالی په وجه نه عبرت حاصلیدې شی نه د خیراوشر تمیزکیږی. ابومحمدابن حیان اندلسی خوك چه ۵۱۷هـ کښې وفات شوې وو دامضمون ئی پخپلو یوڅوشعرونوکښې ښه ځائ کړې دې فرمائی چه اې سړیه چه په ګناهونوکښې خوندونه اخلې آیا ته دخپل بوډاوالی اوخراب حالت نه هم خبرنئی؟که نصیحت اثر نه کوی نو آیا په کتلواوریدلوسره هم عبرت نه حاصلیږی؟ واوره سترګې او

[1] ۱۱/هود:۱۰۲.

[2] صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة هود باب قوله ﴿وکذلك اخذ ربك ذااخذالقری....﴾:٤٦٨٦، صحیح مسلم۲۵۸۳، ترمذی:۳۱۱، ابن ماجه:٤٠١٨،ابن حبان:٥١٧٥،بیهقی:٩٤/٦.

[3] الطبری: ٦٥٣/١٨.

[4] ٤/النساء:٧٨.

Scanned with Ca

غوړونه دې خپل کاراونه کړې نودومره بدنه دی چه څومره بد دا دی چه دواقعاتونه سبق حاصل نه کړې شي یادساته چه نه خو به دنیاباقي وی نه دا آسمان اونه نمر. که زړه دې نه غواړې خود دنیانه به یوه ورځ د زړه په نه غوښتو هم تلل وی. څه به مالداروی اوڅه غریب څه به ښاروالا وی اوڅه به کلي والا.

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ؕ

او تلوار کوی دا خلق په تا | په راوستلو د عذاب | او هر گز به خلاف نهٔ کوی الله | دوعدې خپلې

اوداخلق له تانه زر عذاب غواړی او الله ﷻ به هیچرې دخپلې وعدې خلاف ورزی نه کوی

وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿٤٧﴾

او بیشکه چې یوه ورځ | په نزدرب ستا | پشان دزرو کالو ده | دهغې کلونو نه | چې تاسو ئې شمارئ

اوستا درب یوه ورځ ستاسو دشمیر مطابق د زروکالو سره برابره ده |

وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ

او ډیر دی | دکلونو | چې مهلت ورکړو ما | هغې ته | ظالمان وۀ | بیا | راګونیول ما هغه

اوڅومره ډیر کلی وو چې ماهغوئ ته مهلت ورکړې وو | اوهغوئ ظالمان وو ابیا ماهغوئ راګونیول

وَاِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿٤٨﴾

او خاص ما ته | راتلل دی دهر چا |

اوهم زما طرفته دټولو واپس کیدل دی |

قوله‌تعالی:-وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ

**د قیامت د ورځې دمقدار بیان:-** الله ﷻ خپل نبیﷺ ته فرمائی چه داملحدان کافران الله ﷻ دهغه رسول ﷺ اودقیامت ورځ دروغ ګڼړی اوتانه عذاب غوښتلودپاره تندی کوی چه داعذابونه زرولې نه راولې د کومونه چه ته هروخت مونږ ویروئې. هغوی به الله ﷻ ته هم پخپله وئیل چه که دا ستاد طرف نه حق وی نوبه مونږ باندې دآسمان نه کانړی راووروه اوڅنګه چه دردناك عذاب وی راولیکه. وئیل به ئی چه د حساب دورځې نه وړاندې زمونږ معامله صفاکړه. الله ﷻ فرمائی یادساتئی د هغه وعده اټله ده قیامت او عذاب به راځی د اولیاء الله عزت او د الله ﷻ د ښمنانو ذلت یقینی کیدونکې څیزدې. اصمعی ﷫ وائی چه زه ابوعمرو بن علاسره ووم چه عمروبن عبیدراغلو اوونی وئیل اې ابوعمرو آیا الله ﷻ د خپلې وعدې خلاف کوی؟هغوی اووئیل نه. هغه هم دغه وخت کښې دعذاب آیت تلاوت کړو. په دې باندې هغه اوفرمائیل چه آیا ته عجمی ئې؟ واوره عربو کښې وعده یعنی د ښه خبرې د وعدې خلاف بدګڼړلې شي خود ایعاد یعنی سزا د احکامو ردو بدل یا معافی بد نه شي ګڼړلې بلکه هغه کرم او رحم ګڼړلې شي. ګوره یوشاعر وائي:- (فاني وان اوعدته اووعدته لمخلف ايعاني ومنجز موعدي)که زه څه ته سزا اووایم یا هغه ته د انعام وعده اوکړم نوداخوکیدې شي چه زه دخپلې دهمکئی خلاف اوکړم بلکه یقینی به هیڅ کله سزا ورنه کړم ولې خپله وعده به خامخاپوره کوم. غرض دسزا وعده کول اوسزا نه ورکول وعده خلافی نه ده خود رحمت اوانعام وعده کولوسره بیا رامنع کول خراب صفت دې د کوم نه چه د الله ﷻ ذات پاك دې. بیافرمائی چه یوه یوه ورځ د الله ﷻ په نیز ستاسو د زرو زرو ورځو برابره ده. داپه اعتبارد هغه دحلم او بردبارئی ده هغه ته علم دې چه هروخت د هغوی په راګیرولو باندې قادر دې نو په دې وجه څه تندی ده که هرڅومره مهلت ورته ملاوشی هرڅومره رسئی اوږده شی خو چه کله غواړی نودسا

Scanned with Ca

اخستلومهلت به هم ورنه کړی او راوبه ني نيسي. د دې وجه د دې نه پس فرمائي چه د ډيرو کلوخلقو به ظلم باندې ملاتړلې وه ماهم دهغوی نه سترګې پټې کړې وې کله چه ښه مست شونوناڅاپي راګير کړې شوټول مجبوره دی اوټول به هم زما مخې ته حاضريږی اودټول واپس کيدل هم زماطرفته دی. ترمذي وغيره کښې دی رسول الله ﷺ فرمائي فقيران مسلمانان به د مالدارانو مسلمانانونه نيمه ورځ وړاندې جنت ته ځی يعني پنځه سوه کاله وړاندې. (۱) يوبل روايت کښې دی چه حضرت ابوهريره تپوس اوکړو د نيمې ورځې اندازه څه ده؟ اوفرمائيلې شو چه تا قرآن پاك نه دې لوستلې؟ ماونيل چه اوتودغه آيت ني راته واورلو يعني دالله ﷻ په نيز يوه ورځ د زروکالو ده(۲)دابوداؤد کتاب الملاحم په آخره کښې ليکلی دی حضور ﷺ فرمائي زمادالله ﷻ د ذات بابرکات نه اميددې چه هغه به زما امت دنيمې ورځې پورې خامخا مؤخر ساتي.دحضرت سعد ؓ نه ني تپوس اوکړو چه نيمه ورځ څومره موده شوه. هغوی اوفرمائيل دپنځوسوو کالو.ابن عباس ؓ دا آيت لوستلو سره اوفرمائيل دا دهغه ورځو نه دی په کوموکښې چه الله ﷻ زمکه اوآسمان پيداکړل. (ابن جرير).

بلکه امام احمدبن حنبل رحمه الله کتاب الردعلی الجهميه کښې داخبره په کولاولفظ سره بيان کړې ده. مجاهد رحمه الله فرمائي دا آيت په شان د آيت ﴿يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗۤ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ﴾(۳) دې.يعني الله ﷻ د کارتدبيردآسمان نه زمکې طرف ته کوی بياهم د هغې طرف ته ورخيژی هم په يوه ورځ د کومې اندازه چه ستاسو د شمير په اعتبارسره د زرو کالوده.امام محمدبن سيرين رحمه الله ديونومسلم اهل کتاب نه نقل کوی چه الله ﷻ زمکه او آسمان په شپږو ورځوکښې پيداکړی دی او يوه ورځ ستا درب په نيز د زرو کالوپه شان ده کوم چه تاسو شميرئی الله ﷻ د دنيا اجل د شپږو ورځو کړې دې اومه ورځ باندې قيامت دې اويوه ورځ په شان د زرو زروکالوده. نوشپږ ورځې خو تيرې شوې او تاسو په اومه ورځ کښې ئی نو بس اوس خو بالکل د هغه حامله په شان ده چه د پوره ورځو وی پته نه لګی چه کله به بچې اوشی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قُلْ يٰۤاَيُّهَا | النَّاسُ | اِنَّمَاۤ | اَنَا لَكُمْ | |
| اووايه اے نبی ﷺ | چی اے خلقو | بيشکه زهٔ | ستاسو دپاره | |
| اووايه چې ائې خلقو! زهٔ ستاسو دپاره ښکاره | | | | |
| نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۴۹ | فَالَّذِيْنَ | اٰمَنُوْا | وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ | لَهُمْ |
| يرونکې ښکاره يم | نو هغه کسان | چی ايمان ئې راوړو | او عملونه ئې اوکړل نيك | دهغوئ دپاره |
| يرونکې يم | ..........نو چاچې ايمان راوړې دې | ............اودنيکئ کارونه کوی | نو د هغوی دپاره | |
| مَّغْفِرَةٌ | وَّرِزْقٌ | كَرِيْمٌ ۝۵۰ | وَالَّذِيْنَ | سَعَوْا | فِيْۤ اٰيٰتِنَا |
| ښښانه ده | او رزق دې | عزتمند | او هغه کسان | چی کوشش کوی | په ايتونو زمونږ کښی |
| ښښنه اودعزت روزی ده | ..........ا اوهغه کسان چې زمونږ دآياتونوپه حقله دهغې | | | | |

۱) ترمذی کتاب الزهد باب ماجاء ان الفقراء المهاجرين يدخلون الجنة قبل اغنيائهم:۲۳۵۳-۲۳۵٤وهوحسن، السنن الکبری للنسائی: ۱۱۳٤۸، ابن ماجه:٤۱۲۲، احمد:۲/۲۹٦، ابن حبان:٦۷٦.
۲) ابوداؤد کتاب الملاحم باب قيام الساعة:٤۳٥۰.
۳) ۳۲/السجدة:٥.

Scanned with Ca

مُعٰجِزِيْنَ أُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

عاجزه کونکي هغې لره | دغه کسان | ملګري د دوزخ دی | او نه دي ليږلي مونږ | مخکښې ستا نه

دعاجزه کولو کوششونه کوی | نوهم دغه کسان جهنميان دی | اومونږ چې ستا نه وړاندې کوم رسول

مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنّٰٓى أَلْقَى الشَّيْطٰنُ

يو رسول | او نه يو نبي | مګر | کله چې | تلاوت اوکړو هغه | نو واچوو خلل | شيطان |

يا نبي راليږلې دې | خوکله چې به هغه دالله ﷻ حکمونه لوستل | نو شيطان دهغه په لوستلو په دوران

فِيْٓ أُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ

په تلاوت دهغه کښې | نو ختموي الله | هغه خلل | چې اچوی ئې شيطان | بيا | محکم کوی الله |

کښې (د کافرانو په زړونو کښې) وسوسه غورزولې ده | بيا الله دشيطان وسوسې ختمې کړې | بيا الله ﷻ خپل

أٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ مَا

ايتونه خپل | او الله | ښه پوهه دې | او حکمت والا دې | دپاره ددې چې جوړ کړی الله | هغه خلل |

ايتونه مضبوط کړی | او الله په هره خبره پوهه دې دصاحب د حکمت دې | او دا (هرڅه) څکه (کيږی) چې الله

يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

چې اچوی ئې شيطان | فتنه | دپاره دهغه خلقو | چې په زړونو دهغوئ کښې | مرض دنفاق وی |

دشيطان غورزلې وسوسې يو امتحان اوګرځوی | دهغه خلقودپاره چې دهغوئ په زړونو کښې بيماری دې

وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَإِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴿٥٣﴾

او چې سخت وی | زړونه دهغوئ | او بيشکه دا ظالمان خلق | په ضد (مخالفت) | لرې کښې دې |

اوزړونه ئې سخت شوی دی | اوبيشکه ظالمان په ډيرلرې مخالفت کښې اخته دی

وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ أَنَّهُ الْحَقُّ

او دپاره ددې چې پوهه شی | هغه کسان | چې ورکړې شوې دی علم | چې بيشکه دا قران | حق دې |

اوچې کومو خلقو ته علم ورکړې شوې دې اچې هغوئ ښه پوهه شی اچې دا ستا درب

مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ؕ

دطرفه درب ستا نه | او ايمان راوړی | په هغې | او نرم شی | هغې ته | زړونه دهغوئ |

طرفه حق دې | نوهغوئ په دې ايمان راوړی | اودهغوئ زړونه دالله ﷻ په حضور کښې ټيټ شی

وَإِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ أٰمَنُوْٓا إِلٰى صِرٰطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٥٤﴾

او بيشکه الله | لاربنودونکې دې | هغه کسانو ته | چې ايمان ئې راوړې دې | لارې نيغې ته |

اوبيشکه الله ﷻ ايمان دارو ته د نيغې لارې طرفته خودنه کوی ..........

**قوله تعالى:-** قُلْ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٩﴾

**د کافرانو زر عذاب غوښتل او دهغه جواب:-** کافرانوبه عذابونه غوښتل اود هغې دزر راتلوشوربه نې کولو دهغې په جواب کښې اعلان کولې شی خلقو زه خود الله ﷻ راليګلې شوې يم تاسو د رب د عذابونونه

Scanned with Ca

چه ستاسوپه وړاندې دی خبردارکړم ستاسو حساب زما په ذمه نه دې عذاب د الله ﷻ په وس کښې دې که غواړی نواوس به ئې راولی که غواړی نو څه وخت پس به ئې راولی ماته څه پته ده چه په تاسوکښې د چاپه قسمت کښې هدايت دې اوڅوك دالله ﷻ درحمت نه محروم پاتې کيدونکې دې غوښتنه خو هم د الله ﷻ پوره کيږی. حکومت دهغه په لاس دې هرڅه کونکې هم هغه دې دهيڅ چاد هغه په وړاندې دکش کړپ کولو طاقت نشته هغه ډيرحساب اخستونکې دې زما حيثيت خودخبر ورکونکی دې.په کوموزړونوکښې چه يقين اوايمان دی اودهغې دګواهنی اوداعمالونه هم ثابت دی دهغوی ټول ګناهونه د معاف کيدو لائق دی اود هغوی ټولې نيکئی د قدر وړدی. رزق کريم نه مراد جنت دې. کوم خلق چه نورهم دالله ﷻدلارې نه اودرسول الله ﷺ دتابعدارئی نه منع کوی هغوی دوزخيان دی([1]) دسخت عذاب اوتيزاور خشاك دې الله ﷻدې مونږ بچ کړی. بل آيت کښې دی داسې کافرانوله د هغوی دفساد په بدله کښې په عذاب باندې عذابونه دی. ([2])

**دالله ﷻ په وحی کښې د باطل ګډون نه شی کيدې** :- -دلته اکثرومفسرينودغرانيق قصه نقل کړې ده اودا هم چه ددې واقعه په وجه اکثرودحبشو مهاجرينوداوګنړل چه اوس دمکې مشرکان مسلمانان شو نو واپس مکې ته راغله. خودا روايت په هرسندسره مرسل دې په يوصحيح سندسره مسندکښې مروی نه دې. والله اعلم.

**اول روايت**:-ابن ابی حاتم کښې دی رسول الله ﷺ په مکه کښې د سورت النجم تلاوت اوفرمائيلوکله چه حضورﷺداآياتونه لوستل﴿أَفَرَءَيْتُمُ اللَّٰتَ وَالْعُزَّىٰ ۝ وَمَنَوٰةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ۝﴾ ([3])نو شيطان د حضورﷺ په آوازکښې دا الفاظ واچول (**تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن ترتجى**) نومشرکان خوشحاله شو چه نن خو حضورﷺ زمونږ د معبودانو تعريف اوکړو چه ددې نه وړاندې حضورﷺ چرته هم نه دې کړې. حضورﷺ سجده اوکړه نو هغه ټولوهم سجده اوکړه په دې باندې دا آيت نازل شو.دا ابن جرير رحمه الله هم روايت کړې دې دا مرسل دې مسندالبزارکښې هم د دې ذکر نه پس دی چه صرف هم په دې سندسره دا متصلاً نقل دې اوصرف اميه بن خالد هم داوصل کوی اوهغه مشهورثقه دې.داصرف په طريق کلبی سره روايت دې ابن ابی حاتم داپه دوو سندونوسره اخستې دې خودواړه مرسل دی. په ابن جريرکښې هم مرسل دې. قتاده رحمه الله وائی چه مقام ابراهيم سره حضورﷺ مونځ کولوچه پرکالې پرې راغلو اوشيطان د حضور ﷺ په ژبه مبارکه واچول (**وان شفاعتهن الترتجى وانهالمع الغرانيق العلى**).مشرکانودا الفاظ راونيول او شيطان دا خبره خوره کړه. په دې باندې دا آيت نازل شواوهغوی خوار شو.ابن ابی حاتم کښې دی چه سورت النجم نازليدلو او مشرکانو وئيل که چرې دا سړې زمونږ د معبودانو په خو الفاظوکښې ذکر اوکړی نومونږ به دوی اود دوی ملګری پريږدو خود دوی خودا حال دې چه يهود اونصاری اوکوم خلق چه د دوی د دين مخالف دی دهغه ټولونه زيات خو په کنځلو اوبدوسره زمونږدمعبودانو ذکر کوی. دغه وخت کښې په حضورﷺ او ملګرو باندې سخت تکليفونه اچولې شو. دحضورﷺ د هغوی د هدايت لالچ وو کله چه د سورت النجم تلاوت حضورﷺ شروع کړواو﴿وَلَهُ الْأُنثَىٰ ۝﴾ ([4]) پورې ئې اولوستلو نوشيطان د بتانو د ذکر په وخت کښې داکلمې واچولې(**وانهن لهن الغرانيق العلى وان شفاعتهن لهی التی ترتجی**)دادشيطان مقفی عبارت وود هر مشرك په زړه کښې داکلمې کيناستې اويوته يادې شوې تردې چه دامشهوره شوه چه حضرت محمد

---

[1]) الطبری:۱۸/۶۶۲.
[2]) ۱۶/النحل:۸۸.
[3]) ۵۳/النجم:۱۹–۲۰.
[4]) ۵۳/النجم:۲۱.

Scanned with Ca

د سورت نجم په ختمیدو باندې ﷺ د خپل اولنی دین طرف ته واپس راوګرځیدو اوچه کله رسول الله ﷺ سجده اوکړه نوټول مسلمانان او مشرکان په سجده کښې راپریوتل ولید بن مغیره خو ډیر زیات بوډا وو په دې وجه هغه یوموټی خاوره اوچته کړه او پخپل تندی پورې ئی اولګوله. اوس هریوحیران شوځکه چه حضور ﷺ سره دواړه ډلې په سجده کښې شاملې وې مسلمانان حیران وو چه دې خلقو خو ایمان راوړې نه دې یقین نه کیږی چه بیا دوی زمونږ سره څنګه د حضور ﷺ په سجده کولوسره سجده اوکړه؟ شیطان چه کوم الفاظ د مشرکانوپه غوږونوکښې وړبوك وهلې وو هغه مسلمانانواوریدلی هم نه وو. اخوا د هغوی زړونه خوشحالیدل شیطان داسې په آوازکښې آوازملاوکړو چه مشرکانو په هغې کښې هیڅ فرق نه شوکولې هغوی خو ټولو په دې باندې یقین پوخ کړې ووچه پخپله هم حضور ﷺ د دې دواړو آیاتونو تلاوت کړې دې په اصل کښې د مشرکانوسجده د خپلو بتانود پاره وه. شیطان دا واقعه دومره خوره کړه چه دمکې دحبشې دمهاجرینوغوږونوته هم اورسیدله.عثمان بن مظعون ﷺ اودهغه ملګروچه داواوریده چه اهل مکه مسلمانان شوی دی بلکه هغوی حضور ﷺ سره مونځ هم اوکړو او ولیدبن مغیره سجده اونه کړې شوه نوهغه یوموټی خاوره اوچته کړه اوهم په هغې باندې تندې کیخودو.مسلمان اوس پوره امن اوتسلئی سره دی نوهغوی دهغه ځائ نه دواپس کیدوفیصله اوکړه اوپه خوشحالئی خوشحالئی مکې ته راورسیدل. اول دشیطان د دې الفاظو راز کولاوشوې وو الله ﷻ دا الفاظ اخواکړې وواوخپل کلام ئې محفوظ ساتلې وو.اوس دمشرکانود دښمنئی اورنورهم تیزشوې وواوهغوی په مسلمانانوباندې دنوی مصیبتونو اوریځې راورول شروع کړې وو.دا روایت هم مرسل دې.دبیهقی کتاب دلائل النبوة کښې هم دا روایت دې. امام محمدبن اسحاق هم دا په خپل سیرت کښې راوړې دې خودا سندونه مرسلات او منقطعات دی. والله اعلم.

**دامام بغوی به دې باندې سوال**:-امام بغوی رحمه الله خپل تفسیرکښې دا هر څه د حضرت ابن عباس ﷺ وغیره دکلام نه دا شان روایتونه نقل کړی دی اوبیائی پخپله یوسوال کړې دې چه کله درسول الله ﷺ د عصمت حفاظت پخپله الله ﷻ کوی نوداسې خبره څنګه واقع شوه. بیائی ډیر جوابونه ورکړی دی په کوم کښې چه یومزیدارجواب داهم دې چه شیطان دا الفاظ دخلقوپه غوږونوکښې واچول اوهغوی ته ئی وهم واچولو چه دا الفاظ دحضور ﷺ دخُلې مبارکې نه وتلی دی.په حقیقت کښې داسې نه وودا صرف شیطانی حرکت وونه چه درسول الله ﷺ آواز.والله اعلم.

نورهم د دې په شان جوابونه متکلمینو حضراتو ورکړی دی. قاضی عیاض هم دا په شفاکښې چیړلی دی اود هغوی دجواب حاصل دادې چه داهم داسې دی په سبب ددې د ثبوت.اود رب فرمان چه هغوی خواهش کوی الخ پدې کښې دحضور ﷺ تسلی فرمائیلې شوې ده چه ته پدې کښې خفه کیږه مه په وړاندینو نبیانو اورسولانوباندې هم داسې اتفاقات راغلی دی. بخاری شریف کښې د حضرت ابن عباس ﷺ روایت دې د دې په خواهش کښې چه کله هغه خبره کوی نوشیطان دهغې د خبرې په مینځ کښې خبره اچوی نود شیطان اچولې شوې خبره باطل کولو سره بیاالله ﷻ خپل آیاتونه محکم کوی.[1]مجاهد رحمه الله وائی د ﴿تمنی﴾معنی قال ده.[2]د﴿امنیه﴾ معنی ﴿قراءته﴾ ده ﴿الاامامی﴾ مطلب دادې لولی لیکی نه.بغوی اواکثرمفسرین وائی﴿تمنی﴾معنی﴿تلا﴾ده یعنی چه کله دالله ﷻ کتاب لولی نوشیطان په مینځ کښې څه اچوی. د حضرت عثمان ﷺ په مدح کښې شاعر وئیلی دی(تمنی کتاب الله اول لیلة واخرهالاقی حمام المقادر)دلته هم لفظ ﴿تمنی﴾دلوستلو په معنی کښې دې.

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة الحج تعلیقًا قبل رقم:۴۷۴۱.

[2]) الطبری:۱۸/۶۶۷.

Scanned with Ca

الله ﷻ حق ثابتوی باطل ختموی:- ابن جریر رحمه الله وائی چه داقول ډیر نیزدې تاویل والا دې(۱) دنسخ حقیقی معنی لغةً ازاله اورفع یعنی اخواکول اوختمول دی.الله سبحانه وتعالی دشیطان باطل القاء کوی. (۲) حضرت جبریل علیه السلام د الله ﷻ په حکم سره د شیطان زیات کړې شوې ختموی اودالله ﷻ آیاتونه مضبوط پاتې کیږی الله ﷻ دټولو کلامونوپیژندونکې دې هیڅ یوه پټه خبره هم او یوراز هم د هغه نه پټ نه دې هغه حکیم دې د هغه یوکار هم د حکمت نه خالی نه وی. دا د دې د پاره چه د چا په زړونوکښې شرك کفر نفاق دې دهغوی دپاره فتنه جوړه شی نومشرکانو داداالله ﷻ دطرف نه اومنل حالانکه هغه شیطانی الفاظ وو.بیمارو زړونووالا نه مراد منافقان دی اود سختو زړونو والا نه مراد مشرکان دی.(۳) دا هم یو قول دې چه دې نه یهودمراددی ظالمان د حق نه ډیر لرې وتلی دی هغوی د نیغې لارې نه ورك شوی دی اوچاته چه صحیح علم ورکړې شوې دې په کوم سره چه هغوی په حق او باطل کښې فرق کوی.هغوی ته د دې خبرې د بالکل حق کیدو اودالله ﷻ د طرف نه دکیدو صحیح یقین پیداشی او هغوی کامل ایمان والا جوړشی. اودا اوګنړی چه بې شکه دا هم دالله ﷻ کلام دې ځکه خود دې دومره حفاظت صیانت اوساتنه ده په هیڅ طریقه اودهیڅ طرف نه پدې کښې دباطل ګډوډوالی نه شی کیدې دحکیم اوحمیدالله ﷻ د طرف نه نازل شوې دې.نودهغوی زړه دتصدیق نه ډك شی.تیټیږی او په رغبت سره متوجه کیږی. الله ﷻ دایماندارو لارخودنه دنیاکښې دحق اوهدایت طرف ته کوی صراط مستقیم ورته ښانسته کوی او آخرت کښې د عذابونونه بچ کوی درجوته ئې رسوی اونعمتونه ورنصیب کوی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَا يَزَالُ | الَّذِيْنَ | كَفَرُوْا | فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ | حَتّٰى | |
| اوهمیشه به وی | هغه کسان | چې انکارکونکی دی | په شك کښې ددې (دین) نه | تر هغه وخته پورې | |
| اوخوک چې کافران دی | هغوئ به دقران پاک په باره کښې همیشه په شک کښې پراته وی | | | | |
| تَأْتِيَهُمُ | السَّاعَةُ | بَغْتَةً | اَوْ يَأْتِيَهُمْ | عَذَابُ يَوْمٍ | عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾ |
| چې راشی هغوئ ته | قیامت | ناساپه | یا راشی هغوئ ته | عذاب دورځې | شنډې (منحوسې) |
| تردې چې ناګهانه بۀ دوی ته قیامت راشی | یا دشنډې (بې برکته) ورځې عذاب بۀ ئې په سر اودریږی | | | | |
| اَلْمُلْكُ | يَوْمَئِذٍ | لِّلّٰهِ ط | يَحْكُمُ | بَيْنَهُمْ ط | فَالَّذِيْنَ |
| بادشاهی به | په دغه ورځ | الله لره وی | فیصله به کوی هغه | په منځ دهغوئ کښې | نو هغه کسان |
| په دغه ورځ بۀ بادشاهی صرف د یو الله ﷻ وی | هغه به د دوی په مینځ کښې فیصلې کوی | نو کومو | | | |
| اٰمَنُوْا | وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ | فِيْ جَنّٰتِ | النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ | | |
| چې ایمان ئې راوړو | او عملونه ئې اوکړل نیك | هغوئ به په جنتونو | دنعمتونو کښې وی | | |
| کسانو چې ایمان راوړې دې | او نیک عملونه ئې کړی دی | هغوئ بۀ دجنت په باغونو کښې وی | | | |
| وَالَّذِيْنَ | كَفَرُوْا | وَكَذَّبُوْا | بِاٰيٰتِنَا | فَاُولٰٓئِكَ | |
| او هغه کسان | چې کفر ئې اوکړو | او دروغ ئې اوګڼړل | آیتونه زمونږه | نو دغه کسان چې دی | |
| او کومو خلقو چې کفر اختیار کړې دې | او زمونږ آیتونه ئې دروغ ګڼړلی دی | هغوی | | | |

۱) الطبری:۱۸/۶۶۶.
۲) الطبری:۱۸/۶۶۸.
۳) الطبری:۱۸/۶۶۹.

Scanned with Ca

لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

دي دهغوئ دپاره | عذاب سپکونکي | او هغه کسان | چي هجرت ئې اوکړو | په لار دالله کښې

دپاره سپکونکي عذاب مقرر دي | ...... او کومو خلقو چې دالله ﷻ په لاره کښې هجرت کړي دي

ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ

بيا | قتل کړي شو | يا مړه شو | خامخا به رزق ورکوی هغوئ له الله | رزق ښه | او بيشکه الله |

بيا هغوئ شهيدان کړي شول | يا مړهٔ شول | نو الله به هغوئ ته خامخا رزق ورکړی | او (يادساتئ چي)

لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا

خامخا هغه | بهتره | رزق ورکونکي دي | خامخا به داخل کړي هغوئ لره | داسي ځاني ددا خليدوته

بيشکه الله ﷻ ښه رزق ورکونکي دي | هغه ذات به هغوئ يقينا داسي ځائي ته داخل کړی

يَرْضَوْنَهُ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾ ذَٰلِكَ ۖ

چې خوښ به کړی هغوئ هغه | او بيشکه الله | ډير پوهه دي | صبر ناك دی | دا خو دي حال دهغوئ

کوم چې به هغوئ خوښوی | او الله بيشکه (د ټولو د حال نه) خبردار او بردبار دي | هم داسي ده

وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ

او چاچی بدل واغستو | په مثل | دهغې | الکه څنګه چی عذاب ورکړې شوې وو (دهٔ لره)

اوڅوک چې د ظلم صرف دومره بدله واخلی څومره ظلم چې دهٔ سره شوې وی

بِهِ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنصُرَنَّهُ اللَّهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ

په هغې | بيا زياتي هم شوې وی | په هغه باند | نو خامخا به امداد کوی دهغه الله | بيشکه الله

اوبيا دوباره په ده ظلم اوشی | ............نو الله ﷻ بهٔ ضرور ددهٔ مدد کوی | ......بيشکه الله ﷻ .

لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾

خامخا معاف کونکي دي | بښونکي دي |

ډير معاف کونکي او بخښونکي دي

**قوله تعالى:- وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ**

**قرآن مجيد اود کافرانو حالت:-** ددې کافرانوچه کوم شك شبه د الله ﷻ په دې وحی يعنی قرآن پاك کښې ده هغه د دوی د زړونونه د تللونه ده[1] شيطان به داغلط ګمان دهغوی دزړونونه د قيامته پورې اونه باسی. قيامت د هغې عذابونه به ناڅاپی په هغوی راشی دوی به صرف بې شعوره وی دې وخت کښې چه کوم مهلت هغوی ته ملاويږی په دې سره دوی مغروره شوی دی په کوم قوم چه دالله ﷻ عذاب راشی په هغه حالت کښې راځی چه د هغې نه نه ويريدل او بې پرواه شوی وو. دالله ﷻ دعذاب نه هم هغه غافل کيږی چه پوره فاسقان اوښکاره مجرمان وی ياهغوی ته دبې خبره ورځې عذاب وراورسی کومه ورځ چه به دهغوی د پاره سپيره ثابتيږی. د بعضو قول دې چه دې نه مراد د بدرورځ ده او بعضو وئيلی دی چه دې نه مراد د قيامت ورځ ده. هم دغه قول صحيح دې ځکه چه د بدر ورځ هم د هغوی د

---

[1] الطبری: ۱۸/ ٦٧٠.

پاره د الله ﷻ د عذاب ورخ وه. په هغه ورخ به صرف هم د الله ﷻ بادشاهي وی لکه چه په بل ایت کښې دی الله ﷻ دقیامت د ورځې مالك دې[1] بل آیت کښې دی چه په هغه ورخ به هم د رحمن ملك وی او هغه ورخ به په کافرانو یاندې ډیره سخته تیریږی[2] فیصله به پخپله الله ﷻ کوی د چا په زړه کښې چه د الله ﷻ یقین وی او د رسول الله ﷺ صداقت او د ایمان مطابق دهغوی اعمال وی د کوموچه په زړه او عمل کښې موافقت وو د چا ژبې چه دهغوی د زړونو برابروې هغوی به دجنت په نعمتونو کښې پوره وی. کوم نعمتونه چه نه فناکیږی نه کمیږی نه خرابیږی د چا په زړه کښې چه د حقیقت نه کفر وو چه حق نې دروغ ګڼړلو د انبیاء کرامو خلاف نې کول د حق د تابعدارئې نه ئې کبر کولو د هغوی دتکبر په بدله کښې به هغوی له ذلیل کونکی عذابونه وی. لکه چه ارشاد دې ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [3] کوم خلق چه زماد عبادتونو نه سرکشی کوی هغوی به ذلیل کیږی.

**د هجرت او جهاد ثواب:-** کوم خلق چه خپل وطن خپل بال بچ خپل یاران دوستان پریږدی او د الله ﷻ د رضاد پاره دهغه په لار کښې هجرت اوکړی دهغه درسول ﷺ او د هغه د دین د امداد د پاره اورسی او بیا د جنګ په میدان کښې د دښمن په لاس شهید کړې شی او یابې جنګه د خپلې قضاسره په خپله بستره هغه له مرګ راشی د هغه د پاره د الله ﷻ دطرف نه ډیر لوئ اجراو زبردست ثواب دې. لکه چه ارشاد دې ﴿وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ [4] کوم سړې چه خپل کور او وطن پریږدی او د الله ﷻ او دهغه درسول ﷺ طرف ته هجرت اوکړی بیاهغه له مرګ راشی نودهغه اجرالله ﷻ سره ثابت شو په هغه به دالله ﷻ فضل وی هغه ته به دجنت نعمتونه ملاویږی په کوموسره چه به دهغه سترګې یخې وی الله ﷻ بهترین رازق دې هغوی به پروردګار جنت ته رسوی کوم ځائ چه به دوی خوشحاله وی. لکه چه ارشاد دې کوم چه زمونږ په مقربوکښې دی دهغوی د پاره راحت اوخوشبودار ګلونه اود نعمتونونه ډك باغونه دی داسې خلقو ته راحت رزق اوجنت ملاویږی[5] په خپله لارکښې ربښتونی مهاجر په خپله لارکښې جهادکونکی اود خپلو نعمتونومستحق خلق الله ﷻ ښه پیژنی. هغه ډیرحلم والا دې. دبندیګانو ګناه معاف کوی دهغوی دخطاګانو نه تیریږی د هغوی هجرت قبلوی د هغوی توکل ښه پیژنی.

**د الله ﷻ په لارکښې د شهادت او مرګ حقیقت:-** کوم خلق چه دالله ﷻ په لارکښې شهیدان وی که مهاجر وی او که نه وی هغه به رب سره ژوند او رزق بیاموهی. لکه چه ارشاد دې ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾ [6] دالله ﷻ د لارې شهیدان مړه مه ګڼړئې هغوی خپل رب سره ژوندی دی روزنی ورکولې شی. په دې باره کښې ډیر احادیث دی کوم چه بیان شوی دی. د الله ﷻ په لارکښې د شهیدانو اجر هم د الله ﷻ په ذمه ثابت دې په دې آیت سره هم اود دې بارې په احادیثوسره هم. حضرت شرحبیل بن سمط رحمه الله فرمائی چه د روم دیوې قلعه په محاصره باندې زمونږ موده تیره شوه اتفاقی حضرت سلمان فارسی ؓ په هغه ځائ تیریدو ونې فرمائیل مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی کوم سړې چه د الله ﷻ د لارې په تیاری کښې مړشی نودهغه اجر اورزق د الله ﷻ د طرف نه د همیشه د

[1] ۱/الفاتحة: ۴.
[2] ۲۵/الفرقان: ۲۶.
[3] ۴۰/غافر: ۶۰.
[4] ۴/النساء: ۱۰۰.
[5] ۵۶/الواقعه: ۸۸-۸۹.
[6] ۳/آل عمران: ۱۶۹.

Scanned with Ca

پاره جاري وي اوهغه په فتنه كښې د اچونكو والا نه محفوظ وي كه تاسو غواړئ نو آيت ﴿وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾(١) اولولئ (٢)حضرت ابوقبيل او ربيعه بن سيف معافري ﷫ وائي مونږه د رودس په جهادكښې وو مونږ سره حضرت فضاله بن عبيد ﷜ هم وو زمونږ مخې ته دوه جنازې تيرې شوې په كوموكښې چه يوشهيدوو اوبل په خپل مرګ مړشوې وو خلق د شهيد په جنازه وربڼكته شو. حضرت فضاله ﷜ اوفرمائيل دا څه خبره ده؟ خلقو وئيل حضرت دا شهيددې اودابل دې نه محروم دې. هغوى اوفرمائيل والله ماته خودواړه خبرې برابر دى كه د دې قبر نه پاسم اوكه د هغه قبر نه پاسم. واورئ د الله ﷻ په كتاب كښې دى بيا هغوى د دې آيت تلاوت اوكړو. (٣) يوبل روايت كښې دى چه هغوى هم په خپل مرګ د مړشوى په قبرباندې اودريدو او وئې فرمائيل تاسوله نورڅه پكاردى په جنت كښې ځائ اورزق ښكلې.يوبل روايت كښې دى چه هغه دې وخت كښې امير وو. دا آخرى آيت د صحابه كرامو ﷡ د يووړوكى لښكر باره كښې نازل شوې دې كوموسره چه د مشركانويولښكر سره د هغوى د منع كولود حرمت په مياشت كښې جنګ اوكړو. الله ﷻ د مسلمانانو امداداوكړو اومخالفين ئې ښكته كړل الله ﷻ معاف كونكې او ښښونكې دې. (٤)

| |
|---|
| ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ يُولِجُ الَّيْلَ |
| دا كار \| په سبب ددې چې بيشكه الله \| ننباسى \| شپه |
| دا په دې و جه چې الله ﷻ شپه په ورځ كښې داخلوى ............ |
| فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَأَنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٦١﴾ |
| په ورځ كښې \| او ننباسى \| ورځ \| په شپه كښې \| او بيشكه الله \| اوريدونكې \| ليدونكې دې |
| او ورځ په شپه كښې داخلوى ........................ \| اوبيشكه الله ﷻ هر څۀ آورى هر څه وينى |
| ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ |
| دا څكه \| چې بيشكه الله \| هم هغه \| حق دې \| او بيشكه \| هغه تول \| چې دوئ رابلى هغوئ |
| ګورى دا مدد به (څكه) كيږى \| چې صرف الله ﷻ حق دې \| اودا كافران چې دالله ﷻ نه سوا |
| مِنْ دُونِهِ هُوَ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٦٢﴾ |
| ماسوا دالله نه \| هغه باطل دى \| او بيشكه الله \| خاص هم هغه داوچتې مرتبې والا دې \| لوئ دې |
| نور معبودان رابلى \| هغه باطل دى \| او په دې كښې شک نشته \| چې الله ﷻ اوچت دې لوئې دې |
| أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ |
| آيا ته ګورې نۀ \| چې بيشكه الله \| نازلوى \| دآسمان نه \| اوبۀ \| نوشى \| زمكه \| |
| آيا ته دې ته نه ګورى \| چې الله ﷻ دپورته نه اوبه رانازلوى \| نو په هغې باندې زمكه تكه |

(١) ۲۲/الحج:۵۷.
(٢) صحيح مسلم كتاب الامارة باب فضل الرباط فى سبيل الله عزوجل:۱۹۱۳ بدون الاية.
(٣) الطبرى:۱۸۲/۹.
(٤) الطبرى:۶۷٤/۱۸.

Scanned with Ca

مُخۡضَرَّةً ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ۝ لَهُۥ مَا

شنه | بیشکه چی الله | مهربانه باریك بین دي | خبردار دي | هغه لره دی | هغه څه

شنه شی | بیشکه الله ﷻ ډیر مهربان په هرڅه خبر دي | ..................څه چې په آسمانونو کښې دی

فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ

چی په آسمانونو کښی دی | او هغه څه چی په زمکه کښی دي | او بیشکه الله | خامخا دي هغه

اوڅه چې په زمکه کښې دی | ټول دالله ﷻ ملکیت دي | اوالله ﷻ بې نیازه اودهر تعریف

ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ۝ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم

غنی | او ستائیلې شوې | آیا ته نهٔ ګورې | چی بیشکه الله | تابع کړی دی | دپاره ستاسو |

مستحق دي | آیا تا نه دی کتلی چې الله ﷻ د زمکې ټول څیزونه ستاسو تابع کړی دی

مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦ ۗ

هغه ټول هر څه | چی په زمکه کښی دی | او کشتئ | چی چلیږی | په دریاب کښی | په حکم دهغه سره

او بیړۍ هم چې د هغه په حکم سره په دریابونو کښې روانی دی..............

وَيُمۡسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦٓ ۗ

او نیولې ئې دي | آسمان | ددې نه چی راپریوزی | په زمکه باند | مګر | په حکم دهغه سره

اوهم د هغه ذات په حکم سره آسمان په زمکه د راپریوتو نه ټینګ شوي دي | ..............

إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ

بیشکه الله | په خلقو باند | خامخا مهربانه دي | رحم کونکې دي | او هغه | هغه ذات دي

بیشکه الله ﷻ په انسانانو ډیر مهربان رحم کونکې دي | ..............اوالله ﷻ هغه ذات دي چې کوم

أَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡ ۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ

چی ژوندی ئې کړئ تاسو | بیا به مړهٔ کړی تاسو | بیا به ژوندی کړی تاسو | رښتیا ده چی انسان

تاسو پیدا کړئ | بیا به دربانده مرګ راولی | بیا به مو ژوندی کړي | خو په دې کښې شک نشته چې

لَكَفُورٌ ۝

ډیرناشکره دي |

انسان ډیر ناشکره دي |

**قوله تعالی:-** ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ

**د شپې ورځې ګردش:-** الله ﷻ بیان فرمائی چه خالق اومتصرف هم هغه دې پخپل ټول مخلوق کښې چه څه غواړی کوی. ارشاد دی ﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ۝﴾[1] الهی هم ته مالك الملك ئی چاله چه غواړې ملك ورکوې دچانه چه

[1] ۳/آل عمران: ۲۶.

Scanned with Ca

غواړې اخلې څوك چه غواړي د عزت په ټال ټالنې ورکوي څوك چه غواړي د در د ر نه ني په در در کړي تولې بنيګړې هم ستاپه لاس کښې دی هم ته په هرڅيز باندې قادرئې شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې هم ته راوړې. ژوندې د مړي نه اومړې د ژوندی نه هم ته راوباسې چاله چه غواړې بې حسابه رزق ورکوې.نوکله ورځې ورې شپې غټې او کله شپې ورې او ورځې غټې لکه چه په ګرمئې او يخنئې کښې وی.دبنديګانو ټولې خبرې الله ﷻ اوری دهغوی ټول حرکات او سکنات ګوری هيڅ يوحال د هغه نه پټ نه دې.دهغه هيڅ څوك حاکم نشته بلکه دهغه په وړاندې څوك چونړهم نه شي کولې. هم هغه رښتوني معبود دې د عبادتونو لائق د هغه نه بغيربل څوك نشته. د زبردستې غلبه والا او لوئ شان والا دې چه څه غواړي کيږی اوچه څه نه غواړي ناممکن دی چه اوشي هرسړې دهغه مخکې فقير او هر يودهغه په وړاندې عاجز دهغه نه بغيرچه څوك عبادت اوکړی هغه باطل اوهيڅ نفع نقصان د چاپه لاس کښې نشته هغه اوچت دې اوهريوڅيزدهغه ماتحت دې دهغه دحکم لاندې دې دهغه نه بغيرڅوك معبودنشته نه دهغه نه سوابل څوك رب شته نه دهغه نه څوك لوئ اونه په هغه باندې څوك غالب هغه د تقدس والا هغه دعزت اوجلالت والادظالمانوونيلې شوو ټولوکمزورو خبرو نه پاك د ټولوخوبيانو والا دټولونقصاناتو نه پاك اولړې.

**د بياراژوندی کيدو په مثال سره وضاحت:**-خپل عظيم الشان قدرت او زبردسته غلبه بيانوی چه په اوچه غيرآباده زمکه باندې د هغه په حکم سره هواګانې اوريځې راولی او هم هغه زمکه آباده تازه تکه شنه راژوندئی کيږی.دلته "ف"دتعقيب دپاره ده دهريوڅيز تعقيب د هغه په اندازه سره کيږی. دنطفه نه چك وينه کيدل بيا د چك وينې نه دغوښې ټکړه کيدل چه کوم ځائ بيان فرمائيلی دی هلته هم "ف"راغلې ده او په هرو دووصورتونو کښې دځلويښتو ورځو فاصله وی اوداهم ذکردې چه د حجازبعضې زمکې داسې هم دی چه دباران کيدوسره سره شنه شي.فالله اعلم. د زمکې په ګوټونو کښې اود دې په خيټه کښې چه څه دی ټول د الله ﷻ په علم کښې دی يوه يوه دانه د هغه په علم کښې ده اوبه هم هلته رسی اوهغه راټوکيږی لکه څنګه چه د حضرت لقمان په قول کښې دی اې بچييه! که يوڅيز د اوری د دانې هومره وی او بيا هغه هم په يوکاڼړی کښې وی يا په آسمان کښې وی يا په زمکه وی الله ﷻ به هغه خامخاراوړی الله ﷻ پاك او خبردې([1])يوبل آيت کښې دی دزمکې اوآسمان پټ څيزونه به الله ﷻ ښکاره کړی([2]) بل آيت کښې دی چه دهرې پاڼړې د راپريوتو د هرې دانې چه د زمکې په تيارو کښې وی اود هريو اوچې اولمدې د څيزونو الله ﷻ ته علم دې او هغه په ښکاره کتاب کښې دی.([3]) يوبل ځائ کښې دی چه يوه ذره هم په آسمان اوزمکه کښې د الله ﷻ نه پټه نه ده هيڅ لوئ وړوکې څيز داسې نه دې چه په کتاب کښې ښکاره نه وی. اميه بن ابی الصلت يا زيدبن عمروبن نفيل په قصيده کښې دی:-

| | |
|---|---|
| وقولاله من ينبت الحب فی الثری | فيصبح منه البقل يهتز رابيا |
| ويخرج منه حبة فی رؤسه | ففی ذاك ايات لمن كان واعيا |

اې زمادواړوپيغمبرانو اتاسودوی ته اووائې چه دخاورې نه دانې څوك راوباسی ونه راټوکيږی او تاوېږی اود دې په سرونوباندې وبښته راوخی د عقل منودپاره خو په دې کښې يونه څومره نښې موجود دی د ټول کائنات مالك هم هغه ذات دې هغه د هريوڅيز نه بې پرواه دې هريودهغه په مخکې فقيردې او هغه داوچت دربار محتاج دې.ټول انسانان د هغه غلامان دی.آياتاسونه ګورئی چه ټول ښناورکانړی

[1]) ۳۱/لقمان:۱۶.
[2]) ۲۷/النمل:۲۵.
[3]) ۶/الانعام:۵۹.

Scanned with Ca

پټې باغونه هغه ستاسو د فائدې او ستاسو په ماتحتنې کښې ورکړې ساتلې. د زمکې او اسمان څیزونه ستاسو د پاره سرګردانه دي.هم دهغه احسان فضل او کرم دې دهغه په حکم سره کشتنې تاسو اخوا دیخوا اوړی ستاسو مالونه او سامانونه دیو ځایٔ نه بل ځایٔ ته رسي.او به شلولو سره او موجونو کښې تیریدلو سره د الله ﷻ په حکم په هوا ګانو سره کشتنې ستاسو د فائدې د پاره رواني دي. ددې ځایٔ د ضرورت څیزونه هغه ځایٔ ته او د هغه ځایٔ نه دضرورت څیزونه دلته برابر رارسي.هغه پخپله آسمان نیولې دې چه په زمکه باندې راپرېونه څې ګنی که اوس هغه حکم ورکړونودا به په زمکه راروان وی او تاسو ټول به هلاك شنی.

د انسانانو د ګناهونو سره الله ﷻ په هغوی باندې خپل شفقت او مهربانی او خیال ساتی لکه چه ارشاد دې ﴿وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْمَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ۞﴾ (۱) د خلقو د ګناهونو باوجود الله ﷻ په هغوی باندې ببنونکې دې او بې شکه هغه دسختو عذابونو والاهم دې هم هغه تاسو پیداکړې نی او تاسو به فنا کوی بیا به مو دوباره راپیداکوی لکه ارشاد دې ﴿كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ۞﴾ (۲) تاسو الله ﷻ سره څنګه کفر کونی حالانکه تاسو مړه وني هم هغه تاسو راژوندی کړنی بیا به هم هغه تاسو وژنی او بیا به دوباره تاسو ژوندی کوی بیا به تاسو ټول د هغه طرف ته واپس ګرځولې شنی.یوبل آیت کښې ارشاد دې ﴿قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ۞﴾ (۳) هم الله ﷻ به تاسو ژوندی کوی بیا به هم هغه تاسو وژنی بیا به تاسو د قیامت په ورځ د کومې په راتلو کښې چه هیڅ شك نشته جمع کوی. بل ځایٔ فرمانی چه هغوی به وائی اې الله تامونږ دوه ځل اووژلو او دوه ځل دې ژوندی کړو (۴) نو د کلام مطلب دادې چه دداسې الله ﷻ سره تاسو بل څوك ولې شريك ګرځونی؟دنورو عبادت هغه سره څنګه کوئی؟پیدا کونکی صرف هم هغه رزق ورکونکې هم هغه صرف مالك او مختار هم هغه. تاسو هیڅ نه وني تاسو ئې پیداکړنی بیا به ستاسو د مرګ نه پس تاسو بیاراپیداکوی یعنی د قیامت په ورځ انسان ډیر ناشکره او ناقدره دي.

| |
|---|
| نَاسِكُوْهُ مَنْسَكًا هُمْ جَعَلْنَا لِكُلِّ اُمَّةٍ |
| \| دپاره دهرامت \| مقرر کړی ده مونږه \| یوه طریقه دعبادت \| چې هغوئ عمل کونکی دی په هغې |
| \| مونږ دهرامت دپاره دعبادت طریقې مقرر کړی دی \| په کومو چې هغوئ روان دی |
| اِلٰى رَبِّكَ ؕ وَادْعُ فِى الْاَمْرِ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ |
| \| پس اے نبی دوئ دجګړه نهٔ کوی ستا سره \| په کار ددین کښې \| او تهٔ رابله خلق \| رب خپل ته |
| نودوئ دی تا سره په دې باره کښې جنګ نه کوی \| او ته لګیا اوسه دوئ الله ﷻ طرفته |
| فَقُلِ جٰدَلُوْكَ وَاِنْ لَعَلٰى هُدًى مُّسْتَقِيْمٍ۞ اِنَّكَ |
| بیشکه تهٔ \| په لاره نیغه باندې ئې \| او که چرې \| هغوئ جګړه کوی ستا سره \| نو ورته اووایه |
| رابله \| بیشکه ته په سمه لار ولاړ ئې \| او که دوئ تا سره جګړه کوی انو دوئ ته اووایه چې |

(۱) ۱۳/الرعد:٦.
(۲) ۲/البقرة:۲۸. الخ
(۳) ٤٥/الجاثية:۲٦.
(۴) ٤٠/غافر:۱۱.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝٦٨ اَللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ

الله ته ښه معلوم دي | هغه څه | چې تاسو يې کوئ | الله به فيصله کوي | په منځ ستاسو کښې

تاسو څه کوئی الله ﷻ دهغې نه ښه خبر دی | الله ﷻ به ستاسو ترمينځه په هغې خبرو

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۝٦٩

په ورځ دقيامت | په هغه ټولو خبرو کښې | چې وئ تاسو | په هغې کښې | چې اختلاف به مو کولو

کښې د قيامت په ورځ فيصله اوکړی | په کومو کښې چې تاسو اختلاف کوئ |

**قوله تعالى:- لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا**

**د هريوقوم د شريعت تذکره:-** اصل کښې په عربی ژبه کښې د **(منسك)** لفظی ترجمه دې ځاۍ کښې ده د کوم ځاۍ چه انسان د تلوراتلوعادت واچوی د حج احکام په ځاۍ راوړو ته ددې دپاره **(مناسك)** وئيلې شي چه خلق باربار هلته خی اوحصاريږی. نقل دی چه دلته مراد دادې چه دهرامت د پيغمبرد پاره مونږ شريعت مقررکړې دې نوبه دې امرکښې دې داخلق جنګ نه کوی. مراد دا دې چه مشرکان خلق دی او که مرادهرامت د قدرت په توګه دهغې افعال مقررول دی لکه چه سورت بقره کښې ارشاددې د هريود پاره يوطرف ته دې کوم طرف چه هغه متوجه کيږی دلته هم دا دی چه هغوی د دې په ځاۍ راوړونکی دی نودضميراعاده هم پخپله په هغوی ده يعنی داټول د الله ﷻ په قدرت اود هغه په اراده سره کوی نود هغوی په جنګ کولوسره ته مه بدزړه کيږه اود حق نه مه اخواکيږه د خپل رب طرف ته نی راغواړه اوپه خپل استقامت اوهدايت باندې په کامل يقين سره اوسيږه.هم دالارحق سره ملاويدونکې او مقصود په کاميابئ سره راوړونکې اچونکې دې. لکه چه فرمائی ﴿وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ خبردارچرته داخلق تاد الله ﷻ اياتونه تاله په رسيدلوباندې هم هغوی منع نه کړی. د خپل رب د لارې دعوت عام ورکوه که په دې باندې هم څوك اودريږی نودهغه نه ځان خلاص کړه ورته اووايه چه الله ﷻ ستاسو اعمال وينی لکه چه څو ځايونو کښې دامضمون سردوباره کړې دې. يوځاۍ کښې دی که چرې دوی تا دروغ اوګڼړی نودوی ته وايه چه زما د پاره زما عمل دې او ستاسو د پاره ستاسوعمل دې تاسو زما دعمل نه خلاص يې او زه ستاسو دعمل اوکړو نه ويزاره يم نوهم دلته هم د هغوی غوړونه کولاوکړه چه الله ﷻ ستاسودعمل نه خبردې. هغه ستاسو دوړوکی نه دوړوکی عمل نه هم خبردې اوهم هغه په مونږ اوتاسوکښې کافی شاهددې. د قيامت په ورځ به مونږ اوتاسوکښې فيصله الله ﷻ پخپله کوی اوهغه وخت به ټول اختلافات ختم شی.لکه چه ارشاد دې ته هم د هغه دعوت ورکوه اوزمونږپه حکم باندې کلك اوسيږه اودچاپه خواهش پسې مه لګه اوصفا اعلان اوکړه د الله ﷻ په نازل کړې شوی کتاب باندې زما ايمان دې. الخ.

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ط

ايا تاته معلومه نۀ ده | چې بيشکه الله | پوهيږی | په هغه هرڅه | چې په آسمان کښې دی | او په زمکه کښې دی

ايا تاسو نه پوهيږئ چې په آسمانونو اوزمکه کښې څه دی | هغه دالله ﷻ په علم کښې دی

اِنَّ ذٰلِكَ فِيْ كِتٰبٍ ط اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝٧٠

بيشکه | دا ټول هر څه په کتاب کښې دی | بيشکه دا ټول کارونه | په الله باندې | آسان دی |

بيشکه دا ټولې خبرې په کتاب (لوح محفوظ) کښې ليک دی | بيشکه دا خبره په الله ډيره آسانه ده

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ

اوعبادت کوی دا خلق | ماسوا دالله نه | دهغه څيزونو | چی نۀ دې نازل کړې الله | په کولو دهغې باند

اودا (خلق) دالله ﷻ نه سوا دهغه بتانوعبادت کوی | د چا د عبادت په جواز چې الله ﷻ څه

Scanned with Ca

سُلْطٰنًا وَّمَا لَيْسَ لَهُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَمَا

هیڅ سند | او دهغه څيز | چی نشته | دپاره دهغوئ | په هغې باند | څه علم | او نشته |

دلیل نه دي نازل کړي | او نه دوئ ته ددې څه علم شته |..................اود

لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ۝ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

دپاره ددي ظالمانو | هيڅوك مددګار | او هر کله چی | الوستلي کيږي | په دوئ باند | آيتونه زمونږ

ظالمانو دپاره څوک مددګار نشته | اوهرکله دوئ ته زمونږ ښکاره آيتونه لوستلي شي

بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

واضحه صفا | ته پيژني | په مخونو کښې | دهغه کسانو | چی دحق نه ئې انکار کړي دي

نو ته دکافرانو په مخونو باندې د خفګان آثار پيژندلي شې | (تردې چې ، نزدې وی

الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ

ناخوښتيا (بدشکلي) | نزدې وی دوئ | چې اوس به حمله کوی | په هغه کسانو باند | چی اوروی هغوئ

چې په هغو خلقو حمله اوکړی | څوک چه ورته زمونږ اياتونه اوروی

عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ

دوئ ته | آيتونه زمونږ | ورته اووايه | آيا نو خبر درکړم زۀ تاسو ته | په ډیر بد څیز سره | ددې حملي ستاسو نه

..............(ائې پيغمبره) ورته اووايه چې آيا دې نه زيات خراب څيز درته اوښايم

اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝

وور دې | وعده کړی ده ددې الله | دهغه کسانو سره | چی کافران دی | او ډېر بد ځائې دې | دورتلو

(واورئي) هغه څيز اور دې | چې الله ﷻ کافرانو سره دهغې وعده کړې ده | اودغه ډیر خراب ځائې دې

**قوله تعالى:-** اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ

**د الله ﷻ د علم تذکره:-** د رب د کمال دعلم بيان کولې شي چه دزمکې اوآسمان هريوڅيز د هغه د علم په احاطه کښې دې يوه ذره هم دهغې نه بهرنه ده د کائنات د وجود نه داول هغه سره دکائناتو علم وو بلکه هغه په لوح محفوظ کښې ليکلې وو.په صحيح مسلم کښې حديث دې الله ﷻ د زمکې اوآسمان د پيداکولونه پنځوس زره کاله اول کله چه دهغه عرش په اوبو باندې وو د مخلوق تقديرونه اوليکل.(١)

**د ټولونه اول قلم پيداکړې شو:-** د سنن په حديث کښې دی : ټولونه اول الله ﷻ قلم پيداکړو اوهغه ته ئې اوفرمائيل ليکه هغه تپوس اوکړو څه اوليکم؟ وئې فرمائيل چه څه کيدونکي دی نود قيامته پورې چه څه کيدونکي ووهغه قلم اوليکل(٢)دابن عباس ﷺ قول دې چه دسلوکالوپه لارکښې الله ﷻ لوح محفوظ پيداکړو اودمخلوق د پيدائش نه اول چه الله ﷻ په عرش باندې ووقلم ته دليکلوحکم ورکړو هغه تپوس اوکړوچه څه اوليکم؟ وئې فرمائيل زماعلم کوم چه د مخلوق متعلق د قيامته پورې نوقلم

---

١) صحيح مسلم كتاب القدر باب حجاج ادم وموسى صلى الله عليهماوسلم:٢٦٥٣، ترمذى:٢١٥٦، احمد:١٦٢/٢، ابن حبان:٦١٣٨.

٢) ابوداؤد كتاب السنة باب في القدر:٤٧٠٠ وهو صحيح، ترمذى: ٣٣١٩،٢١٥٥.

Scanned with Ca

روان شو اودقیامته پورې چه څه کیدونکي اموردی کوم چه دالله ﷻ په علم کښې وو قلم اوليکل.هم دا په دې آيت کښې خپل نبي ﷺ ته فرمائي آيا ته نه پيژنې چه د آسمان او زمکې د هريوخيز زه عالم يم نودادهغه د علم کمال دې چه د څيزد وجود نه اول هغه ته معلوم دی بلکه ليکلي هم دی او هغه ټول هم داسې په واقع کښې کيدونکی دی. د بنديګانود ټولو اعمالوعلم دهغوی د عمل نه وړاندې الله ﷻ ته دې او هغه چه څه کوی د هغه کولونه وړاندې الله ﷻ پيژندلو هريوحکم منونکې اونه منونکې د هغه په علم کښې وو اودهغه په کتاب کښې ليکلي شوې وو اوهريوخيزدهغه د علمي احاطې هم دننه وواودا د الله ﷻ په امرياندې څه ګران نه ووټول په کتاب کښې وو او په رب باندې ډير آسان وو.

**د کلام الله نه مخ اړول قابل ګرفت دی:-** بغيردليل او بې سنده دالله ﷻ نه علاوه دبل عبادت اوبندګی کونکوجهالت او کفربيانوی.چه بغيرد شيطانی تقليد نه اود پلار نيکه په کتلوراکتلو نه څه نقلي دليل هغوی سره شته اونه عقلي. يوبل آيت کښې دی ﴿وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللهِ إِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَإِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ إِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ﴾[1] څوك هم چه الله ﷻ سره بل معبود بغيردليل نه رابلی د هغه نه به الله ﷻ پخپله تپوس پوښتنه کوی. ناممکن دی چه داسې ظالمان به خلاصې بيامومی. دلته هم اوفرمانيلې شو چه د دې ظالمانويه هيڅ څوك امدادی نه وی چه د الله ﷻ د عذاب نه ئی بچ کړی. په هغوی باندې چه د الله ﷻ د پاك کلام آياتونه صحيح دليلونه اوواضحه حجتونه کله پيش کړې شی نود هغوی په تن اوبدن کښې اُور اولګی.دالله ﷻتوحيداودرسولانو تابعداری په صفاتوګه بيان کړې شوه چه په هغوی باندې مرچکی اولګيدل شکلونه ئی بدل شوپه تندو باندې ګونجې راغله لستونړی راوچت کړل. که وس ئی وو نو ژبې به ئی رابنکلې شوې وې يولفظ هم د حقانيت به په زمکه نه وو راغلې هم هغه وخت به ئی مرئی خفه کړې وې. ددې ربنتونی خيرخواهانودالله ﷻ ددين دتبليغ کونکويدئی کوی ژبې ئی دهغوی خلاف روانې دی اوچه ممکن وی نولاسونه ئی هم دهغوی طرف ته داوچتيدونه نه منع کيږی.ارشاد دې چه نبي ﷺدوی ته اووايه چه يوطرف ته خوتاسوکوم تکليف د الله ﷻ د دين ساتونکوته ورکول غواړئی هغه وزن کړئی بل طرفته ددې خفګان وزن اوکړئی کوم چه يقيناًتاسو ته ستاسودکفراوانکارپه وجه رسيدونکې دې بياګورئی چه بدترين څيزکوم يودې؟هغه د دوزخ اُور اود هغه ځائ قسم قسم عذابونه؟ آياچه کوم تکليف تاسو دې ربنتونی موحدينوته رسول غواړئی؟نوداهم ستاسو ارادې اوارادې دی. اوس تاسوهم پوهه شئی چه دوزخ هم ډيرخراب ځائ دې څومره خطرناك دی څومره تکليف ورکونکې دې اوڅومره دمشکل ځائ دې. يقيناًډير زيات خراب ځائ دې او ډير ويرونکې مقام دې کوم ځائ چه د راحت او آرام نوم هم نشته.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يَاأَيُّهَا النَّاسُ | ضُرِبَ | مَثَلٌ | فَاسْتَمِعُوْا | لَهٗ ط | إِنَّ الَّذِيْنَ |
| اے خلقو | بيانيږی | يو مثال | نو غوږ کيږدئ | هغې ته | بيشکه هغه (معبودان) |
| اې خلقو ! (اوس) يوه لويه خبره اوروليي شي اُوښه غوږونه ورته کيږدئی \| تاسو چې دالله ﷻ | | | | | |
| تَدْعُوْنَ | مِنْ دُوْنِ اللهِ | لَنْ يَّخْلُقُوْا | ذُبَابًا | وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا | |
| چې تاسو ئې رابلئ | ماسوا دالله نه | هرګز نشی پيدا کولي هغوئ | يو ميچ (هم) | اواګر که راجمع شی ټول | |
| نه بغير څوک رابلئ \| هغوئ خويو ميچ قدر له هم نشی پيدا کولي اګر که ټول پرې باندې راټول شی | | | | | |

[1] ۲۳/المؤمن: ۱۱۷.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لَهٗ ط | وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ | الذُّبَابُ | شَيْـًٔا | لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ | |

پيداکولو دهغې ته | اوکه اوتښتوی دهغوئ نه | يو مچ | څه ځيز | نو نشي خلاصولې هغوئ هغه ځيز

اوکه يو مچ ترې نه څه اوتښتوی | نو دوئ ټول ترې نه هغه خلاصولې قدرې هم نشي

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مِنْهُ ط | ضَعُفَ | الطَّالِبُ | وَالْمَطْلُوْبُ ۝ | مَا قَدَرُوا |

دهغه (مچ) نه | ډېر کمزوري دي | غوښتونکې هم | اودچا نه چې مدد غوښتلې شي هغه هم | او نۀ پيژندو خلقو قدر

غوښتو والا (عابد) اودکوم (دروغژن معبود) نه چې غوښتل کولی شي دواړه کمزوری دي | ددې خلقو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اللّٰهَ | حَقَّ | قَدْرِهٖ ط | اِنَّ اللّٰهَ | لَقَوِيٌّ | عَزِيْزٌ ۝ |

دالله | پشان دحق | قدر پيژندولو دهغه | بېشکه الله | ډير قوی دي | غالب دي |

دالله ﷻ هغه شان قدر اونکړو څنګه چې پکار وو | بېشکه الله ﷻ زوراور اوغالب دي |

قوله تعالى:- لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا

**د باطلومعبودانوب وسی:-** دالله ﷻ نه سواچه د چا عبادت کولی شي دهغوی کمزوری اودهغوی د عبادت کونکو کم عقلی بیانولې شی. چه اې خلقو داجاهلان کوم چه د الله ﷻ نه بغیرد نوروعبادت کوی رب سره چه څوك شرك کوی د دوی یومثال ډیر ښکلې او بالکل د واقعه مطابق بیانولې شی.لږ شان په غورسره واورئی چه د دوی دا ټول بتان اوخدایان کوم چه دوی الله ﷻ سره شریك ګرځوی راجمع شی او یومچ جوړول اوغواړی نوټول به عاجزراشی او یومچ قدرې به جوړنه کړې شي.دمسند احمد په حدیث قدسی کښې د الله ﷻ فرمان دې د هغه نه زیات ظالم څوك دې چه زما په شان بل جوړول غواړی که په حقیقت کښې په چاکښې داقدرت وی نویوه ذره (یامچ) یایوه دانه د غلې دې جوړه کړی(^۱)په بخاری او مسلم کښې الفاظ داسې دی چه هغه دې یوه ذره یا یوه اوربشه جوړه کړی.(^۲)نه ده نوره هم د دوی د یاطلومعبودانو ډیره کمزوری اوناتوانی واوره چه دوی د مچ مقابله هم نه شی کولې د هغوی حق د هغوی ځیز ددوی نه اوړی اخلی دوی بې وسه دی اوداهم نه شی کولې چه د هغه نه خپل ځیز واپس واخلی.ښه ده چه دمچ په شان کمزورې اوسپك مخلوق نه هم چه څوك خپل حق وانخستې شی نود ده نه هم کمزورې بې وسه بې طاقته او پریوتلې بل څوك کیدې شی؟ حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمانی د طالب نه مراد بت او دمطلوب نه مراد مچ دې.(^۳) امام ابن جریر رحمه الله هم داخوښوی اود الفاظونه هم دا ښکاری. دویم مطلب دابیان کړې شوې دې چه دطالب نه مراد عابداودمطلوب نه مراددالله ﷻ نه سوا بل معبود. د الله ﷻ عظمت او قدر د هغوی په زړونوکښې نه دې ورګډشوې که چرې داسې وې نودا دومره لوئ او طاقتور الله ﷻ سره به ئې داسې ذلیل مخلوق ولې شریك کولو د چا چه د مچ پاسولوهم قدرت نه وی لکه چه دمشرکینوقریشو بتان وو. الله ﷻ په خپل قوت او قدرت کښې بې مثال دې. ټول ځیزونه بغیر نمونې په اول ځل پیدائش سره هغه پیداکړی دی بغیر دبل چا دامداد اخستلواومشوره کولو چه څوك شریك کړی.بیاد ټولوهلاك کولونه پس ددې نه هم په آسانئی سره راپیداکولوباندې قادردې.هغه ډیر مضبوط نیونکې په اول ځل پیداکونکې اوبیاراپیداکونکې د رزق ورکونکې او د ډیر زیات بې اندازې طاقت لرونکې دې. ټول هرڅه د هغه په وړاندې ښکته دی څوك د هغه اراده نه شی بدلولې د هغه فرمان روستوکونکې اود هغه د عظمت او سلطنت مقابله کونکې نشته هم هغه واحداوقهاردې.

---

^۱) احمد:۲/۲۹۱، ۲/۲۳۲ ح۷۱٦٦وسنده صحیح، البخاری:۵۹۵۳ومسلم:۲۱۱۱.
^۲) صحیح بخاری کتاب اللباس باب نقض الصور:۵۹۵۳، صحیح مسلم:۲۱۱۱، ابن حبان:۵۸۵۹، بیهقی:۷/۲٦۸.
^۳) الطبری:۱۸/٦۸۵.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ

الله غوره كوی | دفرښتو نه | استازی | او دانسانانونه هم | بیشکه الله | اوریدونکي |

الله ﷻ په فرشتو کښې هم استاذې غوره کوی | او په انسانانو کښې هم | بیشکه الله ﷻ هرڅه اوري

بَصِيْرٌ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا

لیدونکي دي | پوهیږی هغه | په هغه څه | چی په منځ دلاسونو ددوئ کښی دی | او په هغه څه

ویني ګوری | هغه (الله ﷻ) ته ددوئ وړاندې روستو هر څه معلوم دی

خَلْفَهُمْ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝

چی روستو ددوئ نه دی | او خاص الله ته | واپس کیږی | ټول کارونه |

او ټول کارونه به د الله ﷻ طرفته واپس پیش کولې شی |

**قوله تعالى:- اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ؕ**

**د رسالت د منصب حقدار څوک دي ؟**:-خپل مقررکړې تقدیر جاری کول اوخپل مقررکړې شوې شریعت خپل رسول ﷺ ته درسولود پاره الله ﷻ چه کومه فرښته غوارې مقررکوی.دغه شان دخلقونه هم چه الله ﷻ څوك دپیغمبرې دمنصب دپاره غواړی ورکوی.دبندیګانو ټول اعمال هغه اوری اودیویوبنده اعمال د هغه په نظرکښې دی هغه ښه پیژنی چه درسالت د منصب حقدارڅوك دې. لکه چه ارشاد باری تعالى دې ﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ۝﴾ ([1]) هم رب ته علم دې چه د رسالت دمنصب صحیح توکه باندې څوك اهل دې؟درسولانودوړاندې روستوالله ﷻ ته علم دې چه څه هغوی طرفته اورسیدل هغوی اورسول ټول هرڅه هغه ته ښکاره دی واضحه دی.لکه چه ارشاددې﴿عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا۝﴾([2])یعنی هغه دغیبوپیژندونکې دې دخپلوغیبویه چاباندې څرګندونه نه کوی اوچه کوم پیغمبرهغه خوښ کړی نود هغه مخکې روستو څوکې مقررکوی دې دپاره چه هغه ته معلومه وی چه هغه دالله ﷻپیغام اورسولواوالله ﷻ هریوڅیز راګیرکړې دې کوم چه هغه سره دی اودهرڅیز شمیرپورې هغه سره شمیرلې دی.نوالله سبحانه وتعالى دخپلورسولانو پالونکې دې څه چه هغه ته اورولې اوونیلې شی په هغې باندې پخپله د هغوی حفاظت کونکې دې اود هغوی امدادی هم دې. لکه چه فرمان دې ﴿يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسٰلَتَهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ۝﴾ ([3])اې رسول کوم څه چه ستادرب دطرف نه ستاطرف ته نازل شوی دی اورسوه که چرې داسې دې اونه کړه نود رسالت حق به ادانه شی ستابچ کول د الله ﷻ په ذمه دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اے هغه کسانو |

اٸي د ایمان خاوندانو!

[1] ٦/الانعام:١٢٤.
[2] ٧٢/الجن:٢٦.
[3] ٥/المائدة:٦٧.

اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا

چي ایمان موراوړي دي | رکوع کوئ | او سجده کوئ | او بندګي کوئ | درب خپل | او کوئ

دهغه په وړاندي ټیټ شئ | اوسجده کوئ | اودخپل رب عبادت کوئی | اودنیکئ کارونه کوئی

الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَجَاهِدُوْا فِي اللّٰهِ حَقَّ

نیکی | دپاره ددې | چي تاسو کامیاب شئ | او جهاد کوئ | په لار دالله کښي | پشان دحق

......... چي تاسو کامیاب شئ | ......... اودالله ﷻ په لار کښي داسي

جِهَادِهٖ ؕ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ

دجهاد کولو دهغه | هغه غوره کړی یئ تاسو | اونه ئي ده ایښي | په تاسو باند | په دین کښي

کوششونه کوئ | ځنګه چي پکار دي | ......... هغه تاسوله عزت درکړو | اوپه تاسو ئي د دین په

مِنْ حَرَجٍ ؕ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ؕ هُوَ سَمّٰىكُمُ

څه تنګسیا | پیروی اوکړئ ددین | دپلار خپل | ابراهیم | هغه | نوم ایښي دي ستاسو |

حقله هیڅ قسمه تنګسیا رانوستله | تاسو دخپل پلار ابراهیم ؑ په ملت (قائم اوسئ) | هغه په تاسو

الْمُسْلِمِيْنَ ۙ مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ

مسلمان | مخکښي ددې قرآن نه | او په دې قرآن کښي هم | دپاره ددې چي شی | رسول

دمسلمانانو نوم ایښودي وو | پخوا هم او اوس هم په دې (قران پاک) کښي | ددې دپاره چي رسول

شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ۚ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

ګواه | په تاسو باند | او شئ تاسو | ګواهان | په خلقو باندي | پس ودروئ مونځ

په تاسو باندي ګواه شی | اوتاسو په نورو خلقو ګواهان شئ | نو همیشه دمونځ پابندی کوئ

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ؕ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ

او ورکړئ | زکات | او منګولي اولګوئ په دین دالله | هغه | مولی مالك ستاسو دي

او زکاة ورکوئی | اودالله ﷻ په (حکمونو) مضبوطتیا سره عمل کوئ | هغه ستاسو مالک دي

فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۷۸﴾

نو ځومره ښه اقا او ځومره ښه مددګار دي

پس ډیر ښه مالك دي | او ډیر ښه | مددګار دي (هغه) |

قوله تعالی:- وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ

**اسلام آسان دین دي** :- ددې دویمي سجدې باره کښي دوه اقواله دی د اولي سجدې دآیت په موقعه باندي مونږ هغه حدیث بیان کړې دې په کوم کښي چه دی رسول الله ﷺ اوفرمائیل سورة حج له په دوو سجدوباندي فضیلت ورکړې شوې دې چه څوك داسجدې اونه کړی هغه دې لوستل هم نه کوی([1]) نورکوع سجده دعبادت اود نیکئ حکم کولوسره فرمانی د خپلو مالونوخپلو ځانونو او خپلوژبوسره د

[1]) ابو داؤد کتاب سجود القرآن باب تفریع ابواب السجود...:۱۴۰۲ وسنده حسن، ترمذی:۵۷۸، احمد:۱۵۱/۴، حاکم ۲۲۱/۱، دارقطنی ۴۰۸/۱.

Scanned with Ca

الله ﷻ په لار کښې جهاداوکړئ اودجهاد حق اداکړئ ځنګه چه حکم ورکړې شوې دې چه د الله ﷻ نه دومره ویرېږئ څومره چه دهغه نه دویریدلوحق دې.هم هغه تاسو بزرګان اوخوښ کړی ئې په نورو امتونوباندې تاسوله ﷺ بزرګی شرافت کرامت اوعزت درکړوکامل رسول اوکامل شریعت ئې تاسو ته درنصیب کړوتاسو ته آسان او ښکلې دین درکړو.هغه احکام ئې په تاسو کینخودل اوهغه سختئی ئې په تاسوباندې اونه کړې وهغه بوج ئې په تاسووانچولو کوم چه ستاسودوس نه وی اویه تاسو ګران پرېوځی کوم چه تاسو په ځای راونړلې شئی.د اسلام نه پس دټولونه زیات او دټولونه اوچت تاکید کړې شوې رکن مونځ دې دې ته ګورئی چه په کورکښې په آرام سره ناستئی نوڅلورکعته فرض اوکه په سفرکښې ئې نوهغه به هم دوه پاتې شی اویه ویره کښې خود حدیث مطابق صرف یورکعت دې([1])که په سورلئی باندې ئې اوکه پیدل ئې که قبله ته مو مخ وی که بل طرف ته مخ وی نو هم دغه حکم د سفرد نفل مونځ هم دې چه کوم طرف ته د سورلئی مخ وی کولې شې.بیادمونځ قیام هم دبیمارئی په وجه ساقطیږی بیمارېه ناسته هم مونځ کولې شی.که د دې طاقت ئې هم نه وی نویه ملاسته ئې هم اداکولې شی.دغه شان نورو فرائض او واجباتوته اوګورئی چه الله ﷻ څومره آسانئی په هغې کښې کیخودې دی.

د دې دپاره به حضور ﷺ فرمائیل چه ماله دیوطرف او بالکل د آسانتئی والا دین راکړې لیګلې شوې یم.([2]) حضوراکرم ﷺ چه کله حضرت معاذ ؓ اوحضرت ابوموسی اشعری ؓ د یمن امیر جوړکړل اولیګل ئې نو ورته ئې فرمائیلې وو زیرې اوروئی نفرت مه خوروئی آسانی کوئی سختی مه کوئی([3]) نور هم د دې مضمون ډیر احادیث دی.

حضرت ابن عباس ؓ د دې آیت هم داتفسیرکوی چه ستاسو په دین کښې هیڅ تنګی اوسختی نشته.([4])امام ابن جریر ؒ فرمائی دملة نصب په نزع دخافض دې لکه چه په اصل کښې(كملة ابيكم) وو اوکیدې شی چه(الزموا)محذوف اومنلې شی او(ملة)د دې مفعول اوګرځولې شی.([5]) په دې صورت کښې به دا د دې آیت په شان شی﴿دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرٰهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾([6])هغه ستاسونوم مسلمان کیخودلویعنی الله ﷻ د ابراهیم ؑ نه هم اول([7]) ځکه چه د هغوی دعاوه چه مونږ دواړه پلار اوځوی او مونږ په ډله کښې یوټولې مسلمانان جوړکړه خوامام ابن جریر ؒ فرمائی چه داقول څه ښه نه ښکاری چه د اول نه مراد دحضرت ابراهیم ؑ اول وی ځکه چه دا خو ډیر ښکاره دی چه حضرت ابراهیم ؑ د دې امت نوم پدې قرآن پاك کښې مسلم نه دې کیخودلې نود "اول نه"د لفظ معنی داشوه چه په اولنو کتابونوکښې او په نور ذکر کښې اوپه دې پاك اوآخری کتاب کښې. هم دا قول د حضرت مجاهد ؒ وغیره دې اوهم داصحیح دې ځکه چه د دې نه وړاندې د دې امت بزرګی اوفضیلت بیان دې د دوی د دین دآسانتئی ذکر دې بیا دوی ته ددین نور رغبت ورکولوسره ښائی چه داهغه دین دې چه حضرت ابراهیم خلیل الله ؑ راوړې وو.بیاد دې امت د بزرګئی د پاره اود دوی د متوجه کولود پاره فرمائیلې شی چه ستاسوذکر زما په وړاندینو کتابونو کښې هم دې.

---

[1] صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین، باب صلاة المسافرین وقصرها:٦٧٨.
[2] احمد:٢١٦/٥ومنده ضعیف.
[3] صحیح بخاری کتاب الجهادباب مایکره التنازع والاختلاف من الحرب:٣٠٣٨، صحیح مسلم:١٧٣٣.
[4] الطبری:٦٨٩/١٨.
[5] الطبری:٦٩١/١٨.
[6] ٦/الانعام:١٦١.الخ
[7] الطبری:٦٩١/١٨.

Scanned with Ca

د مودونه د انبیاء کرامو په کتابونوکښې ستاسو خبرې راروانې دی. د وړاندینو کتابونو لوستونکې تاسو نه ښه خبردی نوددې قرآن پاك نه اول اوپه دې قرآن پاك کښې ستاسو نوم مسلم دې اوپخپله د الله ﷻکیخودې شوې دې.په نسائی کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم سړې اوس هم دجاهلیت دعوی کوی یعنی په پلار نیکه اوحسب اونسب باندې فخرکوی اونورمسلمانان خواراوسپك گڼړی هغه د دوزخ خشاك دې. چاتپوس اوکړویارسول الله ﷺ که هغه روژې ساتی بامونځ کوی؟ وئی فرمائیل اوسره ددې چه مونځ گذاروی اوروژې ساتی.الله ﷻ چه ستاسو کوم نومونه ایخودې دی هم په هغه نومونو سره ئې رابلئی او آواز کوئی مسلمین مؤمنین اوعبادالله ([1])د سورة بقره آیت ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾([2])په تفسیرکښې مونږ داحدیث پوره بیان کړې دې.بیافرمائی چه مونږ تاسوعادل ښکلې امت ځکه جوړکړئی اوددې دپاره موپه ټولوامتونوکښې ستاسودعدالت مشهورتیا اوکړه چه تاسودقیامت په ورځ په نوروخلقو گواهی ورکړئی.ټول مخکینی امتونه به دمحمددامت د بزرگئی اوفضیلت اقرار کوی. دې امت ته په نورو امتونوباندې سرداری حاصله ده. پدې وجه به د دوی گواهی په هغوی باندې معتبره گڼړلې شی. ددې باره کښې چه ددوی رسولانودالله ﷻ پیغام دوی ته رسولې دې هغوی دتبلیغ فرض اداکړې دی. او پخپله به رسول الله ﷺ په دې امت باندې گواهی ورکوی چه حضورﷺ دوی ته د الله ﷻ دین رسولې دې او د رسالت حق ئې اداکړې. د دې باره کښې چه څومره احادیث دی اوددې باره کښې چه څومره تفسیردې هغه مونږ ټول په ټول د بقرې د اوه لسمې رکوع د دې آیت ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ وَإِن كَانَتۡ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ﴾([3])په تفسیر کښې لیکلې دې. په دې وجه دلته بیا دوباره دبیانولو ضرورت نشته. هم دلته دې اوکتلې شی.دحضرت نوح ؑ اود هغه د امت واقعه هم بیان کړې شوې ده.

**په دې امت عظیم احسانات او مهربانی**:-بیا فرمائی چه د دومره لوئ اوعظیم الشان نعمت شکریه تاسو له ضروراداکول پکاردی دکوم طریقه چه داده کوم فرائض چه دالله ﷻ په تاسو دی هغه په شوق سره اود زړه په مینه سره په ځایَ راوړئی خاص کر دمونځ اوزکوة ډیرخیال ساتئی.کوم چه الله ﷻ واجب کړی دی هغه دزړه په مینه په ځایَ راوړئی اوچه کوم څیزونه ئې حرام کړی دی هغې سره خواکې هم مه تیریږئی. مونځ چه خالص درب دې اوزکوة په کوم کښې چه د رب د عبادت نه علاوه د مخلوق سره احسان هم دې. امیران خلق د خپل مال نه یوحصه فقیرانوته په خوشحالئی خوشحالئی ورکوی د هغوی کار روان شی زړه ئې خوشحاله شی په دې کښې هم د الله ﷻ د طرف نه ډیره آسانی ده. حصه هم ډیره کمه ده او په ټول کال کښې یوځل.دزکوة ټول احکام دسورت توبه آیت زکوة ﴿إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ﴾ ([4]) په تفسیرکښې مونږبیان کړی دی هم هلته اوگورئی.بیا حکم کولې شی چه په الله ﷻباندې پوره یقین ساتئی هم په هغه باندې توکل کوئی پخپلو ټولوکارونوکښې هم دهغه نه مدد غواړئی.اعتمادهروخت هم په هغه باندې کوئی هم دهغه په تائیدباندې نظرساتئی هغه ستاسومولی دې ستاسوحافظ دې امدادگردې

[1]) ترمذی کتاب الامثال باب ماجاء فی مثل الصلاة والصیام والصدقة:۲۸٦۳وسنده صحیح، احمد:۱۳۰/٤، مسندابی یعلی:۱۵۷۱، ابن خزیمه:۱۸۹۵، ابن حبان:٦۲۳۳،حاکم:۱۱۷/۱، مسندالطیالسی:۱۱٦۱.

[2]) ۲/بقرة:۲۱.

[3]) ۲/البقرة:۱٤۳.

[4]) ۹/التوبة:٦۰.

Scanned with Ca

تاسوله ستاسوپه دښمنانوباندې برې درکونکې دې.هغه چه د چا ولی جوړشو دېل چا د ولايت ضرورت نشته. د ټولونه بهترولی هم هغه دې د ټولونه ښه امداد کونکې هم هغه دې. که ټوله دنیادې دښمنان شی خوهغه په ټولوباندې قادر دې اود ټولونه زیات قوی دې. ابن ابی حاتم کښې دحضرت وهب بن ورد ﷺ نه روایت دې چه الله ﷻ فرمائی ای بنیادمه د خپلې غصې په وخت کښې ته مایادوه زه به هم د خپل غضب په وخت کښې تاته معافی درکوم او په چا چه زما عذاب نازل شی زه به تا د هغې نه بچ کړم. برباد کیدونکوسره به تا نه بربادوم. اې بنیادمه کله چه په تاباندې ظلم اوکړې شی نو د صبر او برداشت نه کار اخله په ما نظرساته زما په امداد باندې یقین ساته او زما په امدادباندې راضی اوسیږه یادساته زه به ستا امداد کوم. دا د هغې نه بهترده چه ته خپل امداد پخپله اوکړې. الله ﷻ دې مونږ ته د نیکوتوفیق راکړی اوخپل امداد دې رانصیب کړی. آمین.

**(الحمدلله)** د سورت حج تفسیر ختم شو.

هم دې سره د الله ﷻ په فضل اوکرم سره داووه لسمې سپارې تفسیرهم ختم شو.

............................................

| رکوع ګانې | | سورة المؤمنون مكية وهي مائة وثمان عشرة اية وست ركوعات | | اياتونه |
|---|---|---|---|---|
| | | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | | |
| ⑥ | | شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې | | ⑪⑧ |

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝۱ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ

کامیاب شوی دی | مومنان | هغه (مؤمنان) | چی هغوئ | په مونځ خپل کښی |

یقینی ده چه هغه مومنان کامیاب شول | کوم چی په خپلو مونځونو کښې

خٰشِعُوْنَ ۝۲ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝۳

عاجزی کونکی دی | او هغه (مومنان) | چی هغوئ | دبدوکارونو نه | مخ اړونکی وی |

عاجزی کونکی دی| او (هغه مومنان کامیاب شول) کوم چې د فضول خبرو نه ځان ساتی

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۝۴ وَالَّذِيْنَ هُمْ

او هغه (مومنان) | چی هغوئ | دزکات طریقې لره | کونکی وی | او هغه (مومنان) | چی هغوئ |

اوهغه (مومنان کامیاب شول) کوم چې زکوة ادا کونکی دی| او هغه چې

لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝۵ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَا

دشرم ځایونو خپلو لره | حفاظت کونکی وی | ماسوا دښځو خپلو نه | یا هغه وینځې

دخپلو شرمګاهونو حفاظت کونکی دی | ............مګر دخپلو ښځو اودخپلو

مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ

چی مالکان شوی دی | ښی لاسونه دهغوئ | ځکه چی هغوئ (دوئ ته په ورتلو سره) |

وینځو نه (دا احتیاط) نه کوی | ............ځکه چې په دې کښې دوی

Scanned with Ca

غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ

نه دی ملامت کړې شوی | نو هغه څوك | چې تلاش کړي | غير ددغه (ښځو او وينځو خپلو ) نه |

نشی ملامته کولې | نو څوك چې ددې نه علاوه (د نورو ښځووغيره)

ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ

نو دغه کسان چې دی | دوئ | اوړيدونکی دی دحد نه | او هغه (مومنان) | چې هغوئ

خواهش لری | نو داسې خلق دحدنه تيريدونکی دی | اوهغه څوك چې هغوئ

لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ

امانتونو خپلو لره | او وعده خپلو لره | لحاظ ساتونکی وی | او هغه (مومنان) | چې هغوئ

دخپلو امانتونو او د خپلو لوظونو خيال ساتي | اوهغه څوك چې

عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۝

په مونځونو خپلو | ساتنه کوی | دا مومنان چې دی | هم دوئ وارثان دی |

دخپلو مونځونو حفاظت کوی | هم دا خلق حقيقی وارثان (اوحقدار ) دی

الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ۭ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

هغه (وارثان) | چې په ميراث کښې به اخلی | جنت فردوس | دوئ به | په هغې کښې | هميشه وی

چې جنت فردوس بهٔ په ميراث کښې اوړی | اوهميشه به په هغې کښې وی

**قوله تعالى:- اَلَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝**

**د الله ﷻ دنيکانو خلقو صفتونه:-** نسائی ترمذی اومسنداحمدکښې روايت دې چه کله به په حضور ﷺ باندې وحی نازليدله نوداسې خوږ خوږ مزيدار مزيدار او نرې نرې آواز به دحضور ﷺ د خوانه راتلولکه ځنګه چه د شاتود مچود بنړارې وی. يوځل هم داحالت شروع شوکله چه وحی نازل شوه لږساعت پس حضور ﷺ د قبلې طرف ته متوجه شواودواړه لاسونه ئې اوچت کړل دادعائی اوفرمائيله اې الله ته مونږ زيات کړه مه موکمه وه زمونږ عزت اوکړه سپکاوې مومه کوه مونږ له خپل انعام راکړه مه مومحروم کوه مونږ له په نورو باندې اختيارراکړه د نورو اختيار په مونږ باندې مه خوښه وه مونږ نه ته خوشحاله شه او مونږ خوشحاله کړه. د عربی الفاظ دادی. ﴿اللهم زدنا ولا تنقصنا واكرمنا ولا تهنا واعطنا ولا تحرمنا واثرنا ولا تؤثر علينا وارض عنا وارضنا﴾بيائی اوفرمائيل په مابانديې لس آياتونه نازل شوی څوك چه پدې باندې کلك شوهغه جنتی شو. بيا حضور ﷺ دا پورتنی لس آياتونه تلاوت اوفرمائيل(١)امام ترمذی رحمه الله دا حديث منکرګنړی ځکه چه د دې راوی صرف يونس بن سليم دې چه د محدثينوپه نيز معروف نه دې.

**دنبی کريم ﷺ اخلاق څه وو؟:-** نسائی کښې دعائشه k نه دحضور ﷺ دعاداتو اخلا قوباره کښې سوال اوشونوهغوی اوفرمائيل دحضور ﷺ اخلاق قرآن وو بيانی ددې آياتونو ﴿يُحَافِظُوْنَ﴾ پورې تلاوت اوکړو اوونی فرمائيل هم دااخلاق د حضور ﷺ وو.(٢)

---

١) ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة المؤمنين:٣١٧٣السنن الکبری للنسائی:١٤٣٩، احمد:٣٤/١،حاکم:٣٩٢/٢د.

٢) حاکم:٣٩٢/٢وسنده حسن.

**د جنت عدن تعريف:**-روايت دي چه کله الله ﷻ جنت عدن پيدا کړواويه دي کښې ونې وغيره په خپل لاس سره اولګولې اوچه هغې ته ئې اوکتل نو ونې فرمائيل چه څه اووانې نوهغوی هم دا آياتونه تلاوت کړل کوم چه په قرآن کښې نازل شو[1] ابوسعيد ﷺ فرمائی چه ددې يوه خښته دسروزروده اويوه د سپينوزرو الخ. کله چه فرښتې په دې کښې داخلې شوې نو ونې وئيل واه واه دا خود بادشاهانوځائ دې. يوبل روايت کښې دی چه د دې خټه د مشکو وه[2] بل روايت کښې دی چه په دې کښې هغه څيزونه دی چه نه سترګوليدلې دی اونه په زړه کښې د هغې خيال راغلې دې[3] بل روايت کښې دی چه کله جنت د دې آياتونوتلاوت اوکړوزما دې په خپله بزرګئی اوجلال باندې قسم وی په تاکښې به هيڅ کله هم بخيل داخل نه شی[4] يوبل حديث شريف کښې دی چه ددې يوه خښته دسپينو مرغلرو اوبله دسرويا قوتو او دريمه دزبرجد ده د دې خټه د مشکوده د دې واښه زعفران دی.د دې په آخره کښې دی چه دا حديث بيان فرمائيلوسره حضور ﷺ ددې آيت ﴿وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾[5] تلاوت اوفرمائيلو.[6]

## د ايتونوتشريح اودمؤمنانو صفتونه

**اول صفت:**-غرض داچه فرمان دې مؤمن مرادته اورسيدواونيك بختی ئې بياموندله او خلاصې ئې بياموندلو د دی مؤمنانوشان دادې چه هغوی په خپلو مونځونو کښې دالله ﷻ ويره لری په خشوع او آرام سره مونځ اداکوی[7] زړه حاضرساتی سترګې ښکته وی لاسونه ئې تيټ وی. د محمدبن سيرين ﷫ قول دې د رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضوان الله اجمعين به د دې آيت دنازليدلونه وړاندې په مانځه کښې سترګې آسمان طرف ته اوچتولې خوددې آيت په نازليدوسره دهغوی سترګې ښکته شوې.دسجدې د ځائ نه به ئې خپل نظر نه اخواکولو اودا هم روايت دې چه دمانځه د ځائ نه به د هغوی نظر اخوادېخوانه کيدو.که د چا ددې نه بغير عادت جوړشوې وی نوهغه له پکاردی چه خپل نظر ښکته کړی. په يومرسل حديث کښې دی چه حضور ﷺ به هم د دې آيت د نازليدونه وړاندې هم داسې کول.[8] دا خشوع اوخضوع هم هغه سړی ته حاصليدلې شی د چازړه چه اوزګاروی خلوص ورته حاصل وی په مانځه کښې ئې پوره زړه لګيدلې وی.اود ټولوکارونو نه ډير ئې هم دې طرف ته خيال وی.په حديث شريف کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی زما خوشبوئی او ښځې ډيرې خوښې دی اوزمادسترګو يخوالې په مانځه کښې کيخودې دې(نسائی)[9] يوانصاری صحابی ﷜ خپلې وينځې ته دمانځه په وخت کښې اووئيل اوبه راوړه مونځ اوکړم راحت حاصل کړم نو په اوريدونکو دا خبره سخته اولګيده. هغه اوفرمائيل رسول الله ﷺ به حضرت بلال ﷜ ته فرمائيل پاسه اوپه مانځه سره مونږ ته راحت راورسوه.[10] بيابل صفت بيان شو چه هغوی د باطل نه شرك نه ګناه نه اود هريوفضول او بې فائدې قول اوعمل نه بچ کيږی لکه چه ارشاددې ﴿وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا﴾[11] هغوی د فضول خبرونه په

---

[1]) حاکم:۲/۳۹۲وسنده حسن.
[2]) مسندالبزار:۳۵۰۸، حلية الاولياء:۶/۲۰٤
[3]) المعجم الکبير:۱۱٤۲۹،المعجم الاوسط:۷٤۲ والترهيب:٥٤٦۸.
[4]) المعجم الاوسط:٥٥۱
[5]) ٥۹/الحشر:۹.
[6]) ابن ابی الدنيا
[7]) الطبری:۱۹/۹.
[8]) دا روايت مرسل
[9]) نسائی کتاب عشرة النساء باب حب النساء:۳۳۹۱وسنده حسن، احمد:۳/۱۲۸، ابويعلی:۳٤۸۲.
[10]) ابوداؤد کتاب الادب باب فی صلاة العتمة:٤۹۸۶وهوصحيح، احمد:٥/۳۷۱، مشکل الآثار:٥٥٤۹.
[11]) ۲٥/الفرقان:۷۲.

Scanned with Ca

عزت سره تیریږي هغوی د بدنی او بې فائدې کارونونه د الله ﷻ د منع کولو په وجه رابندیږي.

**دويم صفت:** بل صفت د هغوی دا دې چه دوی د مال زکوة اداکوی اکثر مفسرین هم دا فرمائی خوپه دې کښې یوه خبره دا ده چه دا آیت مکی دې اود زکوة فرضیت د هجرت په دویم کال کښې شوې دې بیاپه مکی آیت کښې د دې بیان څنګه دې؟ د دې جواب دادې چه اصل زکوة هم په مکه کښې واجب شوې وو البته د دې دمال اندازه او نصاب وغیره دا ټول احکام په مدینه کښې مقررشو. ګورئی سورت انعام هم مکی دې اوپه دې کښې هم د زکوة حکم دې ﴿وَاٰتُوْاحَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ﴾ یعنی هم د فصل د کټ کولو په ورځ د دې زکوة ورکوئی هلته دا معنی هم کیدې شی چه دزکوة نه مرادخپل نفس دشرك اوكفر د خیری نه پاکول وی.لکه چه ارشاددې ﴿قَدْاَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ [1] هغه خپل نفس پاك كړوخلاصې ئی بیا موندلواو چا چه داخراب کړو هغه نامراده شوهم دایوقول په آیت ﴿وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ۞ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ﴾ [2] کښې هم دې اوداهم کیدې شی چه په آیت کښې دواړه زکوتونه مرادواخستې شی یعنی د نفس زکوة هم اود مال هم. په حقیقت کښې کامل مؤمن هم هغه دې چه خپل نفس هم پاك اوساتی او د خپل مال زکوة هم ورکړی. والله اعلم.

**دريم صفت:** بیانی بل صفت بیان کړو چه هغوی د خپلوبیبیانواود ملکیت د وینځونه علاوه د نورو ښځو نه خپل نفس لرې ساتی یعنی حرام کارئی نه بچ کیږی اودزنااولواطت وغیره نه خپل ځان بچ ساتی.اودهغوی بیبیانې چه الله ﷻ په هغوی باندې حلالې کړې دی اوپه جهادکښې ملاوشوې وینځې کومې چه په هغوی باندې حلالې دی. هغوی سره په ملاویدلو کښې په هغوی هیڅ ملامتیااو نقصان نشته.کوم سړې چه په نوروطریقوسره یاد نورونه خپل خواهش پوره کوی هغه دحدنه وړاندې کیدونکې دې. قتاده رحمه الله فرمائی چه یوې ښځې خپل غلام واخستو او په سندکښې ئی دا ایت پیش کړو. کله چه حضرت عمر رضي الله عنه ته دامعلومه شوه نوهغوی دا معامله د صحابه کرامورضوان الله اجمعین په وړاندې پیش کړه.صحابه کرامو رضوان الله اجمعین اوفرمائیل چه دې غلط مطلب اخستې دې په دې باندې عمر رضي الله عنه د هغه غلام سر اوخرولو اود وطن نه ئی اوویستلو اودې ښځې ته ئی اوفرمائیل د دې نه پس ته په هریومسلمان باندې حرامه ئی خوداثرمنقطع دې اودې سره غریب هم دې. امام ابن جریر رحمه الله دا د سورت مائده د تفسیر په شروع کښې نقل کړې دې خود دې د نقل کولو مناسب ځائ هم دا وو. د دې په عاموسلمانانو باندې حراملو وجه د هغې د ارادې په خلاف هغې سره معامله کول وو. والله اعلم.

**پخپل لاس منی ویستل هم دې ایت مبارک کښې داخل دی:-** امام شافعی رحمه الله اود هغوی موافقو خلقو د دې آیت نه استدلال کړې دې چه پخپل لاس باندې خاص اوبه ویستل حرام دی ځکه چه دا هم د دې دواړوحلالوصورتونو علاوه دی اوموتی وهونکې سړې هم دحدنه تیریدونکې دې. امام حسن بن عرفه رحمه الله په خپل جزکښې یوحدیث نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ فرمائی اووه قسمه خلق دی چه د هغوی طرف ته به الله ﷻ دخپل رحمت په نظر نه ګوری اونه به هغوی پاکوی اونه به هغوی دعالمانوسره رایوځائ کوی اوهغوی به دټولونه اول په دوزخ کښې اچونکوسره دوزخ ته داخلولې شی.دایوه بله خبره ده چه توبه اوکړی.په توبه کونکو باندې الله ﷻ مهربانئی سره رجوع کوی اویوخولاس سره نکاح کونکې یعنی موتې وهونکې اولواطت کونکې اونشه کونکې شرابی خپل مورپلار وهونکی تردې چه هغوی چغې اووهی اوخپلو ګاوندیانوته تکلیف رسونکې تردې چه هغوی په ده باندې لعنت راولیګی

---

[1] ۹۱/الشمس:۹.
[2] ۴۱/فصلت:۶-۷.

Scanned with Ca

اوخپلې ګاونډنی سره بدکاری کونکې[۱] په دوی کښې یو راوی مجهول دې. والله اعلم.

**څلورم او پنځم صفت:**-بل صفت دې چه هغوی خپل امانتونه او وعدې پوره کوی په امانت کښې خیانت نه کوی بلکه دامانت په اداکولوکښې وړاندیوالې کوی. وعدې پوره کوی اود دې خلاف عادتونه د منافقانو دی. رسول الله ﷺ فرمائی د منافق درې نښې دی کله چه خبره کوی دروغ وائی کله چه وعده اوکړی خلاف ئی کوی اوکله امانت ورکړې شی نوخیانت کوی. [۲]

**شپږم صفت:**-بیائی بل صفت بیان کړوچه هغوی دمونځونوپه خپلو وختونوکښې حفاظت کوی. د رسول الله ﷺ نه سوال اوشوچه د ټولونه زیات محبوب عمل د الله ﷻ په نیزکوم یودې. حضور ﷺ اوفرمائیل چه مونځ په خپل وخت اداکوی تپوس اوشو بیا؟ وئې فرمائیل د مورپلارسره ښه سلوك كول تپوس اوشو بیا؟وئی فرمائیل دالله ﷻ په لار کښې جهادکول[۳] (بخاری ومسلم)حضرت قتاده رحمه الله فرمائی د وخت نه مراد رکوع سجده وغیره حفاظت کول مراددی چه په دې باندې دوباره نظر واچونی نو په شروع کښې هم مونځ بیان شو او په آخره کښې هم د مونځ بیان اوشو د کوم نه چه ثابت شو مونځ د ټولونه غوره دې.

په حدیث کښې دی نیغ نیغ اوسیږئی په تاسو به هیڅ کله احاطه اونه کړې شئی پوهه شئی چه ستاسو په ټولواعمالوکښې بهترین عمل هم مونځ دې.ګورئی د اودس حفاظت صرف هم مؤمن کولې شی[۴] دا صفتونه ئی بیانولو سره اوفرمائیل چه هم داخلق وارثان دی اودجنت الفردوس به دهمیشه وارثان وی. د حضور ﷺ فرمان دې د الله ﷻ نه چه کله جنت غواړئی نو جنت الفردوس غواړئی اوهغه د ټولونه اعلی اوسط جنت دې. هم د دې نه د جنت ټول نهرونه روانیږی اوهم د دې د پاسه د الله ﷻ عرش دې. [۵]

**دهر مؤمن او کافر دوه ځایونه وی:**-فرمائی تاسوکښې دهریوکس دوه دوه خایونه دی یوپه جنت کښې او یوپه دوزخ کښې کله چه څوك دوزخ ته لاړشی نود هغه دجنت وارث جنتیان جوړشی د هغې بیان په دې آیت کښې دې [۶] مجاهد رحمه الله فرمائی جنتی خپل د جنت ځائ ښائسته کوی اوددوزخ ځائ نړوی او دوزخی ددې خلاف کارکوی.کافران کوم چه د عبادت دپاره پیداکړې شوی وو هغوی عبادت پریخودو نو دهغوی دپاره چه کوم انعامات ووهغه دهغوی نه په زورسره واخستې شواوربنتونې مؤمنانوله ورکړې شو د دې دپاره ئی دوی ته وارثان اووئیل. په صحیح مسلم کښې دی چه څه مسلمانان به د غرونو برابرګناه راوړی رابه شی کومه چه به الله ﷻ په یهودیانواونصاری باندې ورواچوی اوهغوی به اوبښی[۷]په یوبل سندسره روایت دې د قیامت په ورځ به الله ﷻ هریومسلمان ته یویویهودی یانصرانی ورکوی چه داستاد دوزخ نه فدیه ده.

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله چه کله دا حدیث واوریدو نوحدیث راوی ابوهریره رضی الله عنه له ئی قسم ورکړو هغوی درې ځل قسم اوخوړلو او حدیث ئی سردوباره کړو[۸] هم د دې په شان آیت داهم دې ﴿تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ

---

[۱] شعب الایمان: ٥٤٧٠
[۲] صحیح بخاری کتاب الایمان باب علامات المنافق: ٣٣، صحیح مسلم: ٥٩، ترمذی: ٢٦٣٣، احمد: ٣٥٧/٢،
[۳] صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب فضل الصلاة لوقتها: ٥٢٧، صحیح مسلم: ٨٥، ترمذی: ١٧٣، احمد: ٤٥١/١، ابن حبان: ١٤٧٧.
[۴] ابن ماجه کتاب الطهارة باب المحافظة علی الوضوء: ٢٧٧ وهو حسن، احمد: ٢٧٦/٥، حاکم: ١٣٠/١.
[۵] صحیح بخاری کتاب الجهاد باب درجات المجاهدین فی سبیل الله: ٢٧٩٠، احمد: ٣٣٥/٢، ابن حبان: ٤٦١١. (بخاری مسلم)
[۶] ابن ماجه کتاب الزهد باب صفة الجنة: ٤٣٤١ وهو صحیح.
[۷] صحیح مسلم کتاب التوبة باب فی سعة رحمة الله تعالی علی المؤمنین وفداء کل مسلم بکافر من النار: ٢٧٦٧.
[۸] صحیح مسلم حواله سابق.

Scanned with Ca

مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا﴾ (١) يو بل آيت كښې دى ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ (٢) فردوس په رومي ژبه كښې باغ ته وائي اوبعضې سلف وائي چه هغه باغ ته وائي كوم كښې چه د انګورو خيلنې وى. والله اعلم.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا | الْإِنسَانَ | مِن سُلَالَةٍ | مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ | ثُمَّ | جَعَلْنَاهُ

او جوړ كړي دي مونږه | انسان | دست نه | دختې نه | بيا | جوړ كړو مونږ هغه

اومونږ انسان د خالصې ښاورې نه پيدا كړو | ..................... بيا مونږ د دې نه نطفه

نُطْفَةً | فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ | ثُمَّ | خَلَقْنَا | النُّطْفَةَ | عَلَقَةً

يوه نطفه | په ځائي دقرار محكم كښې | بيا | جوړه كړه مونږه | ددغه نطفې نه | ټوټه دويني

جوړه كړه | اوپه يو محفوظ ځائي (رحم) كښې مو اوساتله | بيامو دهغه څاڅكي نه چكه وينه جوړه كړه

فَخَلَقْنَا | الْعَلَقَةَ | مُضْغَةً | فَخَلَقْنَا | الْمُضْغَةَ

بياجوړكړو مونږه | ددغه ټوټې د وينې نه | بوټۍ دغوښې | بيا جوړ كړو مونږه | ددغه بوټۍ دغوښې نه

بيا مو دهغې چكه وينې نه (دغوښې) پوټۍ جوړ كړه | بيا مو هغه پوټې

عِظَامًا | فَكَسَوْنَا | الْعِظَامَ | لَحْمًا ق | ثُمَّ | أَنشَأْنَاهُ

هډونكي | بيا وروا غستوله مونږه | دغه هډوكو ته | غوښه | بيا | پيدا كړو مونږه دغه لره

هډوكي كړل | بيا مو هغې هډوكو باندې غوښه اوخيژوله | بيا مو ترې نه يو بل

خَلْقًا آخَرَ ط | فَتَبَارَكَ | اللَّهُ | أَحْسَنُ | الْخَالِقِينَ ﴿١٤﴾ ط | ثُمَّ

په پيدا وښت بل سره | پس ډير بركت والا دي | الله | چې ډير ښه | پيدا كونكي دي | بيا

نوي مخلوق جوړ كړو | نو مبارك دي هغه الله ﷻ چې د ټولو نه ښه پيدا كونكي دي | بيا

إِنَّكُم | بَعْدَ ذَٰلِكَ | لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ط | ثُمَّ | إِنَّكُمْ

بيشكه تاسو چې يئ | روستو ددې نه | خامخا مړهٔ كيدونكي يئ | بيا | بيشكه تاسو

ددې نه پس به ضرور تاسو مرئ | بيا به د قيامت په ورځ

يَوْمَ الْقِيَامَةِ | تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾

په ورځ دقيامت | به راپاسولې كيږئ |

دنوى سره راژوندى كيږئي |

قوله تعالى:- وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ

**د انسان پيدائش اود هغه حقيقت:-** الله ﷻ د انسان د پيدائش شروع بيانوى چه د آدم اصل د خاورې نه دې كوم چه دختې اوكرنګيدلې خاورې په صورت كښې وو. بيا دآدم ﵇ د اولادونه دهغه اولاد پيدا شولكه چه ارشاد دې الله ﷻ تاسو د خاورې نه جوړكړئ بيا انسانان جوړكړئ او په زمكه كښې خواره

(١) ١٩/مريم:٦٣.
(٢) ٤٣/الزخرف:٧٣.

Scanned with Ca

کړنې[١]مسند کېښې دی الله ﷻ آدم عليه السلام د يوموټې خاورې نه پيداکړوکومه نې چه دټولې زمکې نه اخستې وه هم په دې اعتبارسره د آدم عليه السلام د اولاد رنګ اوشکل مختلف شو څوک سوردې څوک سپين دې څوک توردې اوڅوک بل رنګ دې په دوی کښې نيکان هم دی اوبدان هم.[٢]﴿ثُمَّ جَعَلْنٰهُ﴾کښې د ضميرمرجع د انسان د جنس طرف ته دې لکه چه ارشاد دې ﴿وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ۝ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّاۤءٍ مَّهِيْنٍ ۝﴾[٣]بل آيت کښې دی﴿اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّاۤءٍ مَّهِيْنٍ ۝ فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۝﴾[٤]د انسان د پاره يوه مقرره موده هم د مور رحم د حصاريدو ځائ دې چرته چه د يوحال نه بل حالت اود يوصورت نه بل صورت ته منتقل کيږی. بيا د نطفې چه يو ټوپ وهونکی اوبه دی کومې چه د سړی د شانه اود ښځې دسينې نه اوځی په شکل بدلولوسره د سور رنګ په بوټئی کښې وربدليږی بيا هغه بوټئی د غوښې په يوه ټکړه کښې وربدلولې شی په کوم کښې چه څه شکل او نښانه نه وی بيا په هغې کښې هډوکی جوړوی. سرپښې لاسونه هډوکی پټې رنګونه وغيره جوړکړل اود ملا هډوکی جوړکړو رسول الله ﷺ فرمائی د انسان ټول بدن سخاکيږی بغيرد ملا د هډوکی نه. هم د دې نه پيداکولې شی اوهم په دې سره ترتيب ورکولې شی[٥]بيا دې هډوکوته هغه غوښه اچوی دې د پاره چه هغه پټ اوکلك وی بيا پدې کښې روح ورپوك وهی په کوم سره چه هغه د خوزيدو راخوزيدو ګرځيدو راګرځيدو قابل شی او يوژوندې انسان جوړشی د کتلو اوريدلو پوهيدلو اود حرکت او سکون قدرت ورکوی هغه د برکت خاوند الله ﷻ د ټولو نه ښه پيدائش سره پيداکونکې دې.

**څلور مياشتې پس ماشوم کښې روح اچولې کيږی**:-د علی رضی الله عنه نه روايت دې کله چه په نطفه باندې څلور مياشتې تيرې شی نو الله ﷻ يوه فرښته راليګی چه په دريو تياروکښې په هغه کښې روح پوك وهی هم دا معنی ده چه دې به مونږ په دويم ځل پيداکوو يعنی د دويم قسم دې پيدائش نه مراد د روح پوك وهل دی. نوديو حالت نه بل حالت اود بل نه بل طرف ته دمور په خيټه کښې داوختو راوختونه پس بالکل ناپوهه ماشوم پيداکيږی. بيا هغه لوئيږی تردې چه هغه ځوان شی بيا په هغه بوډاوالی راځی او بوډاکيږی بالکل بوډا شی غرض دروح پوك وهل اوبياد دې انقلاباتو راتلل شروع کيږی[٦] والله اعلم.

صادق اومصدوق حضرت محمد مصطفی ﷺ فرمائی چه په تاسو کښې د هريوپيدائش تر څلويښتو ورځوپورې دهغه د مور په خيټه کښې جمع کيږی. بيا ترڅلويښتو ورځو پورې هغه د چك وينې په شکل کښې وی بيا ترڅلويښتو ورځو پورې د غوښې د بوټئی په شکل کښې وی. بيا الله ﷻ فرښته ورليګی چه په هغه کښې روح پوك وهی بيا د الله ﷻ په حکم څلور خبرې ليکلې کيږی. رزق اجل عمل نيك بد يعنی خراب اوښه کيدل.نو قسم دې دهغه ذات چه د هغه نه بغير بل څوك معبود برحق نشته يوسړی به د جنت والا عمل کوی تردې چه دجنت نه به يو لاس لرې وی خودتقدير هغه ليك به غالب راشی اود خاتمې په وخت کښې به د دوزخی والا کارکوی او هم په دې باندې مری او دوزخ ته رسی. دغه شان يو سړی به بدکارونه کوی اود دوزخ نه به د يولاس په فاصله پاتې شی خود تقدير ليك به راوړاندې شی اود جنت د اعمالو په خاتمه به فردوس برين ته اورسی.[٧]

---

[١] ٣٠/الروم:٢٠.

[٢] ابوداؤد کتاب السنة باب فی القدر:٤٦٩٣وسنده صحيح، ترمذی:٢٩٥٥، احمد:٤/٤٠٠، حاکم:٢/٢٦١،

[٣] ٣٢/السجدة:٧-٨.

[٤] ٧٧/المرسلات:٢٢-٢٣.

[٥] صحيح بخاری کتاب التفسير سورة الزمر باب قوله ﴿ونفخ فی الصور فصعق.....﴾:٤٨١٤،

[٦] الطبری:١٨/١٩.

[٧] صحيح بخاری کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائکة صلوات الله عليهم:٣٢٠٨،

Scanned with Ca

حضرت عبدالله بن مسعودؓ فرمائی کله چه نطفه رحم ته پریوځی نو هغه هریوویښته او د نوك ځایٔ ته رسی بیاڅلوېښت ورځې پس د ټینګې شوې وینې په شکل کښې شی. مسنداحمدکښې دی حضورﷺ خپلوصحابه کرامو رضوان الله اجمعین ته خبرې بیانولې نویویهودی راغلوکافرانودقریشوهغه ته اووئیل دادنبوت دعویدار دې هغه وئیل ښه ده زه دده نه یوسوال کوم کوم چه د نبیانونه علاوه بل څوك نه پیژنی. دحضورﷺ په مجلس کښې راځی کینی اوتپوس کوی چه دا اوښایه د انسان پیدائش د کوم څیز نه کیږی؟حضورﷺ اوفرمائیل د سړی اودښځې د نطفې نه دسړی نطفه درنه او ټینګه وی اودې نه هډوکی او پټې جوړیږی اودښځې نطفه سپکه او نرئی وی دې نه غوښه او وینه جوړیږی هغه وئیل تاسو رښتونې ئی د وړاندینو نبیانوهم دا قول دې(١)رسول الله ﷺ فرمائی چه کله په نطفه باندې په رحم کښې څلوېښت ورځې تیرې شی نویوه فرښته راځی اودالله ﷻنه تپوس کوی چه یاالله دابه نیك وی که بد؟ سړې به وی که ښځه؟ کوم جواب چه ملاویږی هغه لیکی. عمل عمر نرمی ګرمی هرڅه لیکی بیا دفتر راغونډولې شی په دې کښې بیادهیڅ کمی زیاتی ګنجائش نه وی(٢)د بزار په حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی الله ﷻ په رحم باندې یوه فرښته مقررکړې ده چه عرض کوی یاالله اوس نطفه ده یاالله اوس بوټئی ده یاالله اوس د غوښې ټکړه ده کله چه الله ﷻ هغه پیداکول غواړی نو هغه تپوس کوی یاالله سړې به وی که ښځه؟نیك بخت به وی که بدبخت، رزق به ئی څه وی؟ اجل به ئی څه وی؟د دې جواب ورکولې شی اودا ټول څیزونه لیکلې کیږی(٣)دا ټولې خبرې او خپل کامل قدرت بیانولوسره فرمائی چه د ټولونه ښه پیداکونکې الله دبرکتونووالا دې. حضرت عمر بن خطابؓ فرمائی ما د خپل رب موافقت په څلورو خبروکښې کړې دې کله چه دا آیت نازل شو مونږ د انسان پیدائش د کړنګیدلې خاورې نه کړې دې نو بې واره زما د ژبې نه ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحۡسَنُ الۡخٰلِقِيۡنَ﴾(٤)اووتل او هم هغه بیا نازل شو(٥) زیدبن ثابت انصاری ؓ باندې چه کله حضورﷺ دا پورتنې آیت لیکلو ﴿ثُمَّ اَنۡشَاۡنٰهُ خَلۡقًا اٰخَرَ﴾ (٦)پورې لیکلې وونوحضرت معاذ ؓ بې واره اووئیل ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحۡسَنُ الۡخٰلِقِيۡنَ﴾(٧). دې اوریدوسره د الله ﷻ نبی ﷺ مسکې شو نوحضرت معاذ ؓ تپوس اوکړو یارسول الله ﷺ تاسو څنګه اوخندل. هغه اوفرمائیل د دې آیت په ختمیدو باندې هم دا دی(٨) ددې حدیث په سندکښې یوراوی جعفی دې چه ډیر ضعیف دې او دا روایت بالکل منکردې حضرت زیدبن ثابت ؓ کاتب وحی په مدینه کښې وونه چه په مکه کښې. د معاذ ؓ داسلام واقعه هم د مدینې ده اودا آیت په مکه کښې نازل شوی دې نودا پورتنې روایت بالکل منکردې. والله أعلم. د دې اول ځل پیداکیدونه پس تاسو مړه کیدونکی ئی بیابه د قیامت په ورځ دوباره راپیداکولې شئی بیابه حساب کتاب وی اودخیر اوشر بدله به ملاویږی.

| وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا | فَوۡقَكُمۡ | سَبۡعَ |
| --- | --- | --- |
| او پیدا کړی دی مونږه | دپاسه ستاسو | اوه |
| اومونږ ستاسو دپاسه اووهٔ | | |

(١) احمد:١/٤٦٥.
(٢) صحیح مسلم کتاب القدر باب کیفیة خلق الادمی ف بطن امه.......:٢٦٤٤، صحیح مسلم:٢٦٤٦، احمد:٦/٤، مشکل الاثار:٢٦٦٣.
(٣) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب خلق آدم وذریته:٣٣٣٣، صحیح مسلم:٢٦٤٦، احمد:٣/١٤٨.
(٤) ٢٣/المؤمنون: ١٤.
(٥) مسندالطیالسی:٤١،.
(٦) ٢٣/المؤمنون: ١٤.
(٧) ٢٣/المؤمنون: ١٤
(٨) المعجم الاوسط:٤٦٥٧.

Scanned with Ca

طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ⑰ وَاَنْزَلْنَا

لارې | اونه وو مونږ | دپيدا كولو نه | ناخبره | او نازلې كړې مونږه |

اسمانونه جوړ كړل | او مونږ (دخپل) مخلوق نه بې خبره نه يو | او مونږه د اسمان

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِى الْاَرْضِ ۖ

د اسمان نه | اوبه | په يو خاص مقدار كښې | نو ودرولې مونږه هغه اوبه | په زمكه كښې

نه په يوه اندازه اوبه راوروو | بيا هغه مونږ په زمكه كښې ايساروو

وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ۚ ⑱ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ

او بيشكه مونږه | په غائبولو | ددې سره | خامخا قادر يو | بيا پيدا كړل مونږه | ستاسو دپاره

او بيشكه مونږ ددې په ختمولو باندې هم قادريو | بيامونږ ددې (اوبو) په

بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ ۘ لَكُمْ فِيْهَا

په دې (اوبو) سره | باغونه | دكجورو | او دانګورو | ستاسو دپاره | په دې كښې |

ذريعه ستاسو دپاره دكهجورو اوانګورو باغونه پيداكړل

فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۙ ⑲ وَشَجَرَةً

ميوې دى | ډيرې | او ددې باغونونه | تاسو خوراك كوئ | او (پيدا كړه مونږه) هغه ونه هم |

چې په هغې كښې ډيرې ميوې دى | اوله دې نه خوراكونه هم كوئى | او يوه بله ونه

تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ

چې راوخى | د طور سينا نه | چې زرغونيږى | دتيلو سره | او انګولې دې |

ئې پيداكړه | چې په طور سينا كښې راټوكيږى | تيل په كښې پراته وى | او دا د خوړنكو

لِّلْاٰكِلِيْنَ ⑳ وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۭ

دپاره دخوړونكو | او بيشكه | ستاسو دپاره | په څاروو كښې | عبرت (سبق) دې |

دپاره تركارى ده | اوستاسو دپاره په څاروو كښې هم د عبرت اخستو موقع ده

نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ

مونږه څكوو به تاسو باندې | دهغې نه | چې په خيټو دهغوئ كښې دى | او ستاسو دپاره |

مونږ په تاسو باندې د هغوئ د خيټو ځينې ځيزونه څكوو | ........، اوستاسو

فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۙ ㉑

په دغه څاروو كښې | (نورې) فائدې هم دى | ډيرې | او ددې نه خورئ تاسو |

دپاره په دې كښې نورې فائدې هم پرتې دى | او په كښې بعضې تاسو خورئى هم

Scanned with Ca

| | | |
|---|---|---|
| وَعَلَيْهَا | وَعَلَى الْفُلْكِ | تُحْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ ع |
| او په دغه څاروؤ باندې | او په کشتۍ باندې | بارولې کیږئ تاسو |

او په دې څاروو بېړو باندې تاسو سورلې کوئې

قوله تعالى:- وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ

**دَ آسمان دَ تخليق تذکره:**- د انسان د پيدائش ذکر کولوسره اوس دآسمانونود پيداکولو بيان دې د کوم جوړول چه د انسان دپيداکولونه ډير زيات سخت او ګران اود ډيرې لونې کاريګرئي کاردې.په سورت آلم سجدة کښې هم د دې بيان دې لکه چه حضورﷺ به د جمعه په ورځ د سحر د مانځه په اول رکعت کښې لوستلو هلته اول دآسمان اوزمکې د پيداکولوذکر دې بياد انساني پيدائش ذکر دې بيا د قيامت اود سزا جزا وغيره ذکر دې. د اووه آسمانونود جوړولوذکر ئې کړې دې لکه چه فرمائي ﴿تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ۚ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ ۗ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا﴾(١) الخ اووه واړه آسمانونه ټولې زمکې اوددې ټول څيزونه د الله ﷻ تسبيح بيانوي آيا تاسو نه ګورئي چه الله ﷻ څنګه د يو بل د پاسه دا اووه آسمانونه جوړکړې دی الله ﷻ هم هغه ذات دې چاچه اووه واړه آسمانونه جوړکړې دی اوددې په شان زمکې. هم دهغه حکم د دې په مينځ کښې نازليږي دې د پاره چه تاسو ته پته اولګی چه الله ﷻ په هرڅيز باندې قادر دې. او ټول څيزونه ئې په خپل وسيع علم سره راګيرکړې دی الله ﷻ د خپل مخلوق نه غافل نه دې. کوم څيز چه زمکې ته لاړشي اوکوم د زمکې نه راوځي د الله ﷻ په علم کښې دی د آسمان نه.چه څه راکوزيږي اوآسمان ته چه څه خيژي د زمکې پټ څيزونه اودغرونوڅوکې د سمندرونوبيخ ټول دهغه په وړاندې ښکاره دی.دغرونودغونډو شګې دسمندرونو ميدانونو د ونو ټولو هغه ته خبر دې.د ونې يوه پاڼړه نه راپريوځي مګردهغه په علم کښې وی يوه دانه دزمکې تياروته داسې نه شي تلې چه هغه ته پته نه وی هيڅ يو لونداو اوچ څيز داسې نه دې چه په کولاوکتاب کښې نه وی.

**دَ يوڅولويونعمتونوتذکره:**- دالله ﷻ خوهسې ډير اوبې شميره نعمتونه دی خود يوڅو لويونعمتونو ذکر دلته کولې شی چه هغه دآسمان نه په قدرد حاجت اوضرورت باران راوروی نه ډيرزيات چه زمکه خرابه شي او پيداوارسخا شي نه ډيرکم چه ميوې غلې وغيره هډو راپيدانه شي بلکه په دې اندازه چه فصل آباد او شين وی باغونه تك شنه وی حوضونه تالابونه نهرونه ولې لختي اوبهيږي اود اوبوکمې نه وی. نه دڅکلو کمې وی اونه په نورودڅکلوکمې وی. تردې چه په کوم ځاۍ کښې د زيات باران ضرورت وی هلته زيات کيږي اوکوم ځاۍ چه د کم ضرورت وی هلته کم. اود کوم ځاۍ زمکه چه د دې قابله نه وی هلته اوبه نه وريږي خودولولختو په ذريعه هلته قدرت دباران اوبه رسوی اودهغه ځاۍ زمکه خړوب کوی لکه دمصر دعلاقې زمکه چه دنيل درياب په اوبوسره خړوب کيږي هم دې اوبوسره سره خاوره راښکلې کيږي کومه چه دحبشه په علاقه کښې وی دهغه ځاۍ باران سره هغه خاوره رابهيږي رارسي او په زمکه باندې حصاريږي اوزمکه د کروندې قابله شي. ګنې د هغه ځائې تره خه زمکه د کر قابله نه ده.سبحان الله.دا لطيف خبير غفور رحيم الله ﷻ څه څه قدرتونه دی او حکمتونه ئې دی په زمکه کښې الله ﷻ اوبه راحصاروی په زمکه کښې د دې جذب کولو اوراښکلو طاقت الله ﷻ پيداکوی دې د پاره چه دانو اوګټکوته هم دننه دننه اوبه اورسوی.

**داوبو بې شماره فائدې:**- بيافرمائي چه مونږ د دې په اوړلو اولړې کولوباندې يعنی په نه ورولوباندې هم قادريوکه اوغواړونوپه کلکه اوکانړيژنه زمکه غرونواوبيکاره ځايونوکښې به ئې اوبهيوی.که اوغواړې

---

(١) ١٧/الاسراء:٤٤.

Scanned with Ca

نواوبه به ترخې کړی چه دځکلوقابل به هم نه وی اود نه به په نور څه د ځکلوقابلې وی اونه به د پتو او باغونودمطلب وی. نه د لامبلواونه دوینځلودمقصداوکه اوغواړی نوپه زمکه کښې به هغه طاقت کینږدی چه هغه اوبه راکاږی اوجذب ئې کړی بلکه هم دپاسه به پرې ګرځي راګرځي.دا هم زمونږ په اختیارکښې دی چه داسې لرې لرې حوضونوته اوبه اورسوو چه ستاسو دپاره به بې کاره شی اوتاسو به د هغې نه هیڅ فائده اوچته نه کړې شئی داخاص دالله ﷻ فضل اوکرم دې اودهغه خاص مهربانی اولطف دې چه داوریخونه سپکې خوږې مزیداری دخونداوبه راوروی بیاهغه زمکې ته اورسوی اخوا دیخواآبادی شی فصلونه جدا پخیږی باغونه په کښې خان له تیاریږی پخپله ئې ځکئنی او په خپلو ځناورو باندې ئې هم ځکوئی لامبئی وینځئی پاکوالې اوصفائی حاصله وئی.فالحمدلله.په آسمانی اوبو باندې الله ﷻ ستاسو دپاره رزق راټوکوی چپې وهونکی پټی دی چرته شنه باغونه دی چه د ښائسته ښکاریدو سره ښکلې نظاره ورکوی او فائده منددی. کهجورې اوانګورچه د اهل عربویوخوښ خوراك اومیوه ده اودغه شان د هریوملك والا د پاره جدا جدا میوې هغه پیداکړی دی د چا پوره شکر ویستل چه دچاپه وس کښې هم نه دی. هغه تاسوته ډیرې میوې درکړی دی دکومو ښائست هم چه تاسو ګورئی اوښکلې خوندونو سره ئې تاسو خورئی اوفائدې ترې اوچتوئی. بیائی دزیتون د ونې ذکر اوفرمائیلو. طورسینا هغه غر دې په کوم چه الله ﷻ موسی علیه السلام سره کلام کړې وواود دې نه چاپیره غرونه. طورهغه غرته وائی چه د ونونه ډك او تك شین وی ګنی غر ته جبل وائی طور به ورته نه شی وئیلې.نوپه طور سیناکښې چه کومې د زیتون ونې پیداکیږی هغې نه تیل راوځی چه دهغې خوراك خلقو له دترکارئی کارورکوی.په حدیث کښې دی چه د زیتون تیل خورئی اولګوئی هغه د مبارکې ونې نه راوځی[١] (احمد) حضرت عمر فاروق رضی الله عنه کره یوصاحب د عاشورې په شپه میلمه راغلو نوهغوی په ده باندې داوښ پانچې اود زیتونو تیل اوخوړل او وئی فرمائیل چه دادهغه مبارکې ونې تیل دی د کومې ذکرچه الله ﷻ خپل نبی علیه السلام ته کړې دې. بیاد څاروو ذکر کولې شی اود هغې نه چه انسان کومې فائدې اوچتوی د هغه نعمتونو څرګندونه کوی. د هغې پئی ځکئی اود هغې غوښه خورئی د ویښتو او وړئی نه ئې جامې وغیره جوړوئی په دې سورلی کوئی په دې باندې خپل سامانونه او اسباب بارکوئی او دلرې لرې پورې ئې رسوئی که دا نه وونوهلته پورې رسیدوکښې به مونږ ځان ویلې کړې وو.بې شکه الله ﷻ په بندیګانوباندې مهربان اورحمت والا دې لکه چه فرمائی ﴿اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَا اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ﴾[٢] آیاهغوی نه ګوری چه مونږ پخپله هغوی د څاروو مالکان کړی دی چه دوی د هغې غوښه اوخوری اوپه دې باندې سورلی اوکړی اوقسم قسم فائدې ترې واخلی آیااوس هم په دې باندې زمونږ شکر ویستل واجب اوضروری نه دی؟ دا د اوچې سورلئی دی اوبیا د لمدې سورلئی کشتئی اوجهازونه جدا دی.

| |
|---|
| وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا |
| او بیشکه اولیږو مونږه \| نوح علیه السلام |
| اومونږ حضرت نوح علیه السلام ددهٔ |

---

[١] احمد:۳/۴۹۷.
[٢] ۳۶/یٰس:۷۱.

إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ

قوم دهغه ته | نو اووئیل هغه | اے قومه زما | بندګی کوئ دالله | نشته تاسو لره | هیڅ یو معبود

قوم طرفته اولیږلو انو ده ورته اووئیل چې ائي قومه ! تاسو دالله ﷻ عبادت کوئی| او د

غَيْرُهُۥٓ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ ٱلْمَلَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

بې دهغه نه | ایا نو نه یریږئ تاسو | نو اووئیل سردارانو | هغه (سردارانو) | چې دمنلو نه انکار اوکړو هغوئ

هغه نه سوا ستاسو بل معبود نشته|نوآیا تاسو نه ویریږئی| نودهغه دقوم سردارانو اووئیل

مِن قَوْمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ

دقوم دهغه نه | چې نه دې دا | مګر | انسان دې | په مثل ستاسو | اراده لری دې | چې اوچت شي

کوم چې کافران ووا چې دې خو ستاسو په شان یوانسان دې |دې غواړی چې تاسو باندې

عَلَيْكُمْ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً مَّا سَمِعْنَا

په تاسو باندې| اوکه غوښتلې الله | نو خامخا رالیږلې به ئې وې | فرښتې | نه دی اوریدلې مونږه

خپل ځان اوچت کړی | اوکه الله (رسولان) رالیږل غوښتلې انو فرښتې به ئې رالیږلې وې

بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ

دا خبرې | په پلارانو زمونږ اولنو کښې | نه دې (دا نوح) | مګر یو سړې دې | چې په ده باندې|

مونږخو داخبره دخپلو پخوانو مشرانو نه ده اوریدلې |دې خویو داسې سړې دې

جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾

پیریان دی | پس انتظار اوکړئ | ده ته | دځه وختـه پورې |

چې دلیونتوب اثر پرې راغلې دې اتر یو وخت پورې ورته!

قوله تعالى:- وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا

**حضرت نوح ﷺ اوکبرژن سرداران:-** نوح ﷺ الله ﷻ دخپل قوم طرف ته بشیراونذیرمبعوث کړو.نوح ﷺهغوی له لاړواودالله ﷻپیغام ئې وراورسولودالله ﷻعبادت کوئی دهغه نه بغیرڅوک د عبادتونو حقدار نه دی.دالله ﷻ سره د نورو عبادت کولوسره تاسو دالله ﷻ نه نه ویریږئی؟دقوم مشرانو سردارانو وئیل چه دا خوهم ستاسو په شان یوانسان دې د نبوت دعوی کولوسره تاسو نه ځان لویول غواړی د سردارئی حاصلولوپه فکر کښې دې د انسان طرف ته څنګه وحی راځی؟ که د الله ﷻ اراده د نبی رالیګلووه نو چرته آسمانی فرښته به ئې رالیګلې وه. داخومونږ څه چه زمونږ پلارانونیکونوهم نه دی اوریدلی چه انسان به د الله ﷻ رسول جوړشی داخوڅه لیونې سړې دې چه داسې دعوتونه کوی او هسې ځان اوچت حسابوی. ښه ده چپ شئ ګورئی هلاك به شئ.

قَالَ رَبِّ

| اوونیل (نوح) | اے ربه زما |

انوح ﷺ دعا

انْصُرْنِىْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٢٦﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ

امداد اوکړې زما | په سبب دهغې | چې دروغ ئې اوګڼړلم زهٔ | نو وحی اوکړه مونږه | هغه ته

اوکړه | چې ائې زما ربه ما سره مدد ا وکړه | ځکه چې دوئ زه دروغژن اوګڼړلم | نومونږ ورته

اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ

چې جوړه کړه | کشتئ | په نګرانئ زمونږ کښې | او زمونږ دوحی مطابق | نو کله چې | راشي

حکم ورکړو | چې ته زمونږ په نګرانئ کښې یوه بېړئ جوړه کړه | اوزمونږ په حکم ئې

اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ فَاسْلُكْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ

حکم زمونږه | او رااوخوټکیږی تنور | نو سواره کړه | په دې کشتئ کښې | دهر قسم ځناور نه |

جوړه کړه | نو کله چې زمونږ حکم (دعذاب) راشی | اود زمکې نه اوبه راوخوټکیږی | نو

زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ

جوړه جوړه | دوه دوه | او اهل وعیال خپل | مګر (مهٔ سوروه) | هغه څوک | چې مخکښې شوی دې

دهرقسم ځناورو نه دوه دوه جوړئې په کښې کینوه | اوخپل د کور خلق هم | خو هغه څوک

عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَاطِبْنِىْ فِى الَّذِيْنَ

په هغه باند | خبره دعذاب | دهغوئ نه | او مهٔ کوه خبری زما سره | په معامله دهغه کسانو کښی |

په کښې مه پرېږده | چې ددوبیدو حکم پرې شوې دې | اودهغه خلقو باره کښې ماسره

ظَلَمُوْا اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ

چې ظلم ئې کړې دې | بیشکه چې هغوئ | ډوبیدونکی دی | نو کله چې | برابر(سور) شی تهٔ |

خبره مه کوه | څوک چې ظالمان دی | هغوئی غرقیدونکی دی | نوبیا څه وخت چې ته

اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ

تهٔ او هغه څوک | چې ستا سره دی | په کشتئ باند | نو اووایه | ثناده | الله لره | هغه الله |

اوستاملګری په بېړئ کښې ځائې اونیسی | نو ته دا دعا اولوله چې دهرې ثناء لائق الله دې

نَجّٰنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٨﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِىْ

چې خلاص ئې کړو مونږه | دقوم | ظالم نه | او اووایه | اے ربه زما | کوز کړه ما |

چې مونږ ته ئې د ظالم قوم نه نجات را کړو | اودا دعا کوه | چې ائې زما ربه ما (دکشتئ نه)

مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّ

په يو داسې ځائې کښی | چې برکتناک وی | او تهٔ | بهتره ځائې ورکونکې ئې | بیشکه |

دبرکت په ځائې باندې کوز کړه | ..........اوته د ټولو نه ښه کوزونکې ئې | بیشکه

| |
|---|
| فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ۝ |
| په دې قیصه کښې \| ډیرې نښې دی \| او بیشکه چې یو مونږه \| خامخا آزمیښت کونکې |
| دې (واقعه) کښې ډیرې (دعبرت) نخښې دی\| اومونږ خو امتحان کونکی یو\| |

**قوله تعالی:- فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ**

**نوح ﷺ ته د کشتئ جوړولوحکم:-** کله چه نوح ﷺ د هغوی نه تنګ شو او نااميده شونو د الله ﷻ نه ئې دعااوکړه یاالله زه ډیر بې وسه شوم ته زما امداد اوفرمایه تکذیب کونکو باندې ما غالب کړه هم هغه وخت دالله ﷻ حکم اوشو چه کشتئ جوړه کړه اوښه مضبوطه پلنه په هغې کښې د هرقسم ځیزونو څناورو بوټو میوو وغیره جوړې اوهم په دې کښې خپل ځان اود ځان په شان کینوه خوچه په چا باندې د الله ﷻ غضب وړاندیوالی کړې دې ایمان ئې نه دې راوړې لکه ستا د قوم کافران اوستاخوئ اوستا ښځه. والله اعلم. اوته چه کله آسمانی عذاب د باران اواوبوپه شکل کښې اووینې بیاماته ددې ظالمانو سفارش مه کوه. بیا په دوی باندې رحم مه کوه اومه د دوی د ایمان امیدساته بس بیاخوبه داټول غرق شی اوهم په کفر باندې به د دوی خاتمه وی. د دې پوره قصه په سورت هودکښې تیره شوې ده. د دې د پاره ئې مونږ دلته نه راګرځوو.

**په سورلئ د سوریدو په وخت دعا پکارده:-** کله چه ته اوستا مؤمنان ملګری په کشتئ کښی سواره شئ نو وائې چه ټول تعریفونه هم دالله ﷻ دپاره دی چاچه مونږ له دظالمانونه خلاصې راکړو. لکه چه ارشاد دې الله ﷻ ستاسودسورلئی د پاره کشتئ او څاروی جوړکړی دی دې د پاره چه تاسو سورلی واخلئ او دخپل رب نعمت اومنئ اوسوریدو سره اووایئې چه هغه الله ﷻ پاك دې چا چه دا څناور زمونږ تابع کړل په مونږ کښې پخپله دومره طاقت نه وویقینی مونږ د خپل رب طرف ته واپس ګرځیدونکی یو[1] نوح ﷺ هم دا اووئیل او وئی فرمائیل راشئ په دې کښې کینئ د الله ﷻ په نوم سره ددې اودریدل اوروانیدل دی. نود شروع کیدو په وخت کښې هم الله ﷻ یاد کړئ اوچه کله اودریږی نو بیا هم الله ﷻ یادکړئ. دعا ئې اوکړه یاالله ما په مبارك منزل باندې اودروې اوهم ته د ټولونه بهترکوزونکې ئې. په دې کښې یعنی دمؤمنانو په خلاصی اوکافرانوپه هلاکت کښې دانبیاءکرامو علیهم السلام دتصدیق نښې دی د الله ﷻ د قدرت علامتونه دی دهغه قدرت اود هغه علم د دې نه ښکاره کیږی. یقیناً الله ﷻ خپل رسولان رالیګلوسره د خپل بندیګانو ازمیښت او د هغوی پوره امتحان کوی.

| |
|---|
| ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ۝ فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ |
| بیا پیدا کړو مونږه \| روستو دهغوئ نه \| یو قوم \| بل \| بیا اولیږو مونږه \| په هغوئ کښی \| |
| بیا ددوئ نه پس مونږ یو بل قوم راپیدا کړو\| نو هغوئ ته مونږ دخپل (قوم) نه |
| رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا |
| یو رسول \| دهغوئ نه \| چی بندګی کوئ دالله \| نشته تاسو لره \| څوك معبود \| بې دهغه نه \| آیا نو تاسو |
| یو پیغمبر اولیږلو\| نو (هغه پیغمبر اووئیل) چې تاسو دالله ﷻ عبادت کوئی\| دهغه نه سوا |
| تَتَّقُوْنَ۝ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا |
| یریږئ نه \| او اووئیل سردارانو \| دقوم دهغه نه \| هغه کسانو \| چی دمنلو نه ئې انکار اوکړو \| |
| ستاسو بل معبود نشته \|آیا تاسو نه یریږئ \|اودهغه دقوم سردارانو اووئیل اکوم چې |

---

١) ۴۳/الزخرف:۱۲-۱۳.

وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ

او دروغ ئې اوګڼړله | پيښې داخرت | او دخوشحالئ سامان ورکړې وو مونږ هغوئ ته |

کافران وو او داخرت راتلل ئې دروغ ګڼړل او مونږ ورله په دنيا کښې

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَاْكُلُ

په ژوند ددنيا کښې | چې نه دې دا (سړې) | مګر | انسان دې | په مثل ستاسو | دې خورې |

دراحت او عيش سامانونه ورکړې وو اچې دې ستاسو په شان سړې دې اکوم خيزونه

مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ

دهغې نه | چې خورئ تاسو | دهغې نه | او دې څکې | دهغې نه | چې څکې ئې تاسو | او که چرې

چه تاسو خورئ هغه دې هم خورې او دهغه څه نه څکاک کوې کوم چه تاسو څکئ | او که تاسو

اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿٣٤﴾

خبره او منله تاسو | ديو بشر | چې ستاسو پشان دې | نو بيشکه تاسو ابيا | اخامخا نقصان موندونکې يئ

دځان غوندې يو سړې تابعداري اوکړه | .........نو بيا خو تاسو به په ښکاره تاوان کښې ئې

اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا

آيا دې وعده کوې ستاسو سره | چې بيشکه تاسو | کله | مړهٔ شئ | او شئ تاسو | خاورې

داسړې خو تاسو ته وائې اچې هرکله تاسو مړه شئ او ښاورې هډوکې شئ

وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ

او هډوکې | نو بيشکه تاسو به | راايستلې کيږئ (دقبرونو نه) | ډير لرې دې | ډير لرې دې

نو بيا به د نوې سره راويستلې شئ (ژوندې کيږئ) | (دعقل نه) ډيره لرې ده | ډيره لرې ده

لِمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿٣٦﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا

هغه خيز | چې ستاسو سره ئې وعده کولې شې | نه دې دا ژوند | مګر | ژوند زمونږ ددنيا دې

داوعده چې تاسو سره کولې شي ازمونږ داژوند خو صرف هم ددنيا ژوندې دې

نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنْ هُوَ

چې مرو مونږه | او ژوندې کيږو مونږه | اونهٔ يو مونږه | راپاسيدونکې دقبرونونه | نهٔ دې داسړې

چې څوک مرې او څوک پيدا کيږې او مونږ به دمرګ نه پس بيا هيچرې نه ژوندې کيږو | داخو

اِلَّا رَجُلُ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ

مګر | يو سړې دې | چې تړلې دې | په الله باندې | دروغ | اونهٔ يو مونږه | دهٔ لره

يو داسې سړې دې | چې په الله ﷻ باندې ئې دروغ جوړ کړې دې | او مونږ هيڅ کله ددهٔ دخبرې

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بِمُؤْمِنِينَ﴿٣٨﴾ | قَالَ | رَبِّ | انْصُرْنِي | بِمَا | كَذَّبُونِ﴿٣٩﴾ |
| منونکي | اووئیل رسول | اے ربه زما | امداد اوکړې زما | په سبب دهغې | چې دروغ ئې اوګنړلم زۀ |
| منونکي نه یو انو (پیغمبر) دعا اوکړه چې ائې زماربه ته زما مدد اوکړه اځکه چې دوئ زه دروغژن کړې یم | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قَالَ | عَمَّا قَلِيلٍ | لَيُصْبِحُنَّ | نَادِمِينَ﴿٤٠﴾ | فَأَخَذَتْهُمُ | الصَّيْحَةُ | |
| اووئیل الله | چې دلږې مودې نه پس به | شي دوئ | بشیمانه | نو اونیول هغوئ | یوې چغې | |
| (الله ﷻ ورته) اووئیل چې داخلق بۀ ډیر زر (پخپلو خبرو) پښیمانه شي | نو بیا یو سخت آواز | | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بِالْحَقِّ | فَجَعَلْنَاهُمْ | غُثَاءً | فَبُعْدًا | لِلْقَوْمِ |
| په حقه سره | نو جوړ کړل مونږه دهغوئ نه | خسنړې دسیلاب | پس لرې والې دوی | دپاره دقوم |
| په هغوئ باندې راغلو | نو مونږ دوئ ریزه ریزه کړل | نود ظالمانو دپاره | | |
| الظَّالِمِينَ﴿٤١﴾ | | | | |
| ظالم | | | | |
| هلاکت دي | | | | |

قوله تعالى:- ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ

**دنوح ﷺ دَ قوم نه پس عادیان اوثمودیان:-** الله ﷻ بیان فرمائی چه دنوح ﷺ نه پس هم ډیر امتونه راغله لکه عادیان هغوی سره متصل ووياثموديان چه په هغوی باندې د چغې عذاب راغلې وو لکه چه په آیت کښې دی هغوی له هم دالله ﷻ رسول راغلې ووداالله ﷻ دعبادت اودهغه دتوحید تعلیم ئی ورکړو خوهغوی تکذیب اوکړو اومخالفت ئی اوکړو.دتابعدارئی نه ئی انکار اوکړوصرف په دې وجه چه دا انسانان دی.قیامت ئی هم اونه منلواودبدنی حشر نه هم منکر شو او وئی وئیل چه داخوبالکل د قیاس نه هم لری دی. بعث نشر حشر قیامت هیڅ خیز نشته. دې سړی دا ټولې خبرې د ځان نه جوړې کړی دی مونږ د داسې فضول خبرو منونکی نه یو. نبی ﷺ دعا اوکړه اوپه هغوی باندې امداد اوغوښتلو هم هغه وخت جواب ملاوشو څوك چه ستاموافقت نه کوی په هغوی به هم اوس غذاب راشی اودوی به په چغوچغوزاری آخر په یوه زبردسته چغه او آواز سره ټول ختم کړې شو اوهم د دې هغوی حقدار هم وو. ډیری تیزې سیلئی او د هوا په پوره طاقت سره د فرښتو زړه ویستونکی او خطرناك آوازهغوی ذره ذره کړه او تباه برباد ئی کړل.بوس ترې والوتل او صرف دکورو کنډرې پاتې شوې دخلقو دعبرت دپاره پاتې شواود ګندګریل په شان بې کار څیزونه شول.دداسې ظالمانود پاره لریوالې دې په هغوی باندې رب ظلم نه دې کړې بلکه هم د هغوی کړه وو کوم چه د هغې مخې ته راغله نواې خلقو تاسو له هم د رسول ﷺ د مخالفت نه زیات ویریدل پکار دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ثُمَّ | أَنْشَأْنَا | مِنْ بَعْدِهِمْ | قُرُونًا | آخَرِينَ﴿٤٢﴾ |
| بیا | پیدا کړل مونږه | روستو دهغوئ نه | قومونه | نور |
| ...... بیا مونږ دهغوئ نه پس نور قومونه پیدا کړل | | | | |

Scanned with Ca

مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ

نشي مخکښې کيدې | يو قوم | دنيټې خپلې نه | اونه روستو کيدې شي | بيا

هيڅ يو امت نه خو د خپلې نيټې نه وړاندې کيدې شي | اونه روستو پاتې کيدې شي | بيا

أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا كُلَّمَا جَاءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا

رالېږل مونږه | رسولان خپل | پرلپسې | هر کله چې | راغې | يو امت ته | رسول دهغوئ

ورپسې مونږ خپل پيغمبران پرله پسې رالېږل | څه وخت چې به يو امت ته خپل رسول

كَذَّبُوهُ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا

نو هغوئ دروغژن اوګڼړو هغه | پس راوستل مونږه | ځيني دهغوئ | په ځيني نورو پسې

ورغلو | اوهغوئ به دروغژن اوګڼړلو | نو مونږ به هم (پيغمبران) يو په بل پسې اولېږل

وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾

او جوړ کړل مونږه هغوئ | قيصې | پس لرې والې دې | دپاره دهغه قوم | چې ايمان نۀ راوړي

اودهغې خلقو نه مو قصې جوړې کړې | نود هغه خلقو دپاره هلاکت دې چه ايمان نه راوړي

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ

بيا | اولېږو مونږه | موسی عليه السلام | او رور دهغه | هارون عليه السلام | دنښنو زمونږ سره | او ددليل

بيا مونږ موسی ﷺ اودهغه رور هارون ﷺ رالېږل | دخپلو حکمونو اوښکاره

مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا

ښکاره سره | فرعون ته | او دسلطنت واکدارانو دهغه ته | نو تکبر اوکړو هغوئ | او وو هغوئ

دليلونو سره | فرعون ته اودهغه سردارانو ته | خو هغوئ تکبر اوکړو | اوهغه

قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا

قوم | خان غټ ګڼرونکي | نوا ووئيل هغوئ | آيا ايمان راوړومونږ | په دوؤ سړو | چې زمونږ پشان دی

ډير سرکشه خلق وو | نوهغوئ اووئيل چې ايا مونږ دې (هيله بيله) دځان غوندې په دوه کسانو

وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا

او حال دا چې قوم ددواړو | زمونږه | غلامان دي | نو دروغ اوګنړل هغوئ هغه دواړه | نو شو هغوئ

باندې ايمان راوړو | حال دادې چې ددوئ دقوم خلق زمونږ غلامان دی | نو هغوئ دواړه (پيغمبران)

مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ

دهلاك کړې شوؤ نه | او بيشکه ورکړو مونږه | موسی عليه السلام | ته کتاب | دپاره ددې چې هغوئ

دروغژن کړل | نو هغوئ هلاک کړې شول | او مونږ موسی ﷺ ته (تورات نومې) کتاب ورکړو

يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

نيغه لار بيا مومی |

چې خلق ترې نه سمه لاربيا مومی |

**قوله تعالى:-** ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قُرُونًا ءَاخَرِينَ

**د مختلفو امتونو ذکر:-** د دوی نه پس هم ډیر امتونه او مخلوق راغلو کوم چه مونږ پیدا کړې وو د هغوی د پیدا کولو نه اول چه الله ﷻ د هغوی اجل مقرر کړې وو هغه الله ﷻ پوره کړونه وړاندې والې او شا او نه روستو والې بیا مونږ یو بل پسې برابر رسولان راولیګل (۱) هر یو امت ته پیغمبر راغلو او هغه خپل امت ته د رب پیغام اورسولو چه د یو الله ﷻ عبادت کوئی د هغه نه بغیر د بل چا عبادت مه کوئی بعضې په نیغه لار راغله او په بعضو باندې د کفر کلمه راست راغله د ټولو امتونو اکثریت د انبیاء کرامو علیهم السلام منکر وو لکه سورت یس کښې چه فرمائی ﴿ يَٰحَسْرَةً عَلَى ٱلْعِبَادِ ۚ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ (۲) افسوس دې په بنیادمانو باندې هغوی له چه کوم رسول راغلو هغه پسې ټوقې مسخرې او کړې مونږ یو بل پسې ټول غرق اوفنا کړل ﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ ٱلْقُرُونِ مِنۢ بَعْدِ نُوحٍ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴾ (۳) د نوح علیه السلام نه پس هم مونږ ډیر کلی تباه کړل هغوی مونږ زړې قصې جوړې کړې. د هغوی قصې باقی پاتې شوې او هغوی تباه او برباد شو ذره ذره کړې شو د بې ایمانو د پاره د رحمت نه لرې والې دې.

**موسی علیه السلام هارون علیه السلام او فرعون:-** موسی علیه السلام او هارون علیه السلام الله ﷻ فرعون او د هغه قوم فرعونیانو ته د ښکاره دلیلونو او معجزو سره اولیګل خو هغوی هم د خپل خان نه دوړاندې کافرانو په شان د خپلو پیغمبرانو تکذیب او مخالفت او کړو او د وړاندې کافرانو په شان نې هم دا وئیل چه مونږ د خپل خان په شان د انسانانو د نبوت قائل نه یو د هغوی زړونه هم بالکل هم د هغوی په شان شو نو آخر الله ﷻ هم په یوه ورځ ټول په دریاب کښې غرق کړل. دې نه پس موسی علیه السلام ته د خلقو د هدایت د پاره تورات ملاو شو بیا د مؤمنانو په لاس باندې کافران هلاک کړې شو د جهاد احکام نازل شو د غه شان په عام عذاب سره یو امت فرعون او د هغه د قوم قبط نه پس هلاک نه کړې شو. یو بل آیت کښې ارشاد دې د مخکینو خلقو د هلاکت نه پس مونږ موسی علیه السلام ته کتاب ورکړو چه د خلقو د پاره بصیرت هدایت او رحمت وو دې د پاره چه هغوی نصیحت حاصل کړی. (۴)

| وَجَعَلْنَا | ابْنَ مَرْيَمَ | وَأُمَّهُۥٓ | ءَايَةً | وَءَاوَيْنَٰهُمَآ |
|---|---|---|---|---|
| او جوړ کړه مونږه | خوي دمريم | او مور دهغه | يوه نښه | او پناه ورکړه مونږه دواړو له |
| او مونږ د مریم خوئې او د هغه مور یوه غټه او څرګنده نخښه او ګرځوله | | | | |
| إِلَىٰ رَبْوَةٍ | ذَاتِ قَرَارٍ | وَمَعِينٍ | يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ | كُلُوا۟ |
| یو لوړ ځای ته | چی د اطمینان ځاني وو | او د روانو اوبو ځاني وو | اے رسولانو | خوری |
| او هغوئ ته مو په یوه او چته زمکه پناه ورکړې وه چې د استوګنې قابله او جاری اوبو والاوه | | | | ائې زما پیغمبرانو! |
| مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ | وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا | إِنِّى | بِمَا | تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ |
| دپاکو ځیزونونه | او عمل کوئ نیك | بیشکه زه | په هغې څه | چی کوئ نې تاسو بنه عالم یم |
| تاسو ټول پاکیزه ځیزونه خورئی او تل دنیکئ کارونه کوئی ازه ستاسو په کارونو ښه خبر یم | | | | |

(۱) الطبری: ۳٤/۱۹.
(۲) ۳٦/یس: ۳۰.
(۳) ۱۷/الاسراء: ۱۷.
(۴) ۲۸/القصص: ٤۳.

Scanned with Ca

وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ﴿۵۲﴾

او بیشکه | چې دا | امت ستاسو | امت یو دی | او زه رب ستاسو یم | نو اوویریږئ زما نه |

اوبیشکه ستاسو دا امت یو امت دی | او زه ستاسو رب یم | نو تاسو زما (دمخالفت) نه اوویریږئ

فَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَیْنَهُمْ زُبُرًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا

پس پریکړو خلقو | دین خپل | په منځ خپل کښې | ټوټې ټوټې | هره ډله | په هغې سره |

بیا خلقو دخپل دین په معامله کښې اختلاف اوکړو | هره ډله هم په

لَدَیْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَذَرْهُمْ فِیْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰی حِیْنٍ ﴿۵۴﴾

چې دهغوئ سره دي | خوشحاله دی | نو پریږده دوئ | په غفلت ددوئ کښې | دیو خاص وخته پورې

خپله خبره باندې خوشحالی کونکې ده | نوته دوئ تریو وخته پورې په خپل غفلت کښې پریږده

اَیَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهٖ

ایا دوئ دا خیال کوی | چې بیشکه هغه څیز | چې مونږه امداد کوؤ ددوئ | په هغې سره

ایادوئ دا ګمان کوی چې مونږ دوئ ته کوم ځامن او مالونه ورکړی دی

مِنْ مَّالٍ وَّبَنِیْنَ ﴿۵۵﴾ لا نُسَارِعُ لَهُمْ فِی الْخَیْرٰتِ ؕ

دمال نه | او دځامنونه | دا ګنی مونږ کوشش کوؤ | دپاره ددوئ | په خیر رسولو کښې

........نو دا ورته مونږ په فائده ورکولو کښې تلوار کوو؟ |

بَلْ لَّا یَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾

بلکه نۀ پوهیږی دوئ |

داخبره نه ده بلکه دوئ نه پوهیږی |

**قوله تعالی:- وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْیَمَ**

**دعیسی علیه السلام پیدائش دَ الله ﷻ دَ قدرت کامله ثرګندونه:-** -عیسی علیه السلام اوبی بی مریم علیها السلام الله ﷻ د خپل قدرت د څرګندونې یوه زبردسته نښه جوړه کړه. آدم علیه السلام ئی دسړی اوښځې نه بغیرپیداکړو بی بی حواء ئی صرف دسړی نه بغیرد ښځې پیداکړه اوعیسی علیه السلام ئی صرف د ښځې نه بغیردسړی نه پیداکړو. باقی ټول انسانان ئی دسړی اوښځې نه پیداکړی دی. **(ربوة)** وائی اوچتې زمکې ته چه شنه اود پیداوار قابله وی[1] هغه ځائ د ونو اوبو والا تازه اود شینکی نه ډك ووکوم ځائ چه الله ﷻ خپل داغلام اونبی اودهغه صدیقه مور بی بی چه دالله ﷻ بنده او وینځه وه ځائ ورکړو چه جاری اوبه صفاستراهواره زمکه وه[2] وائی چه دا ټکړه دمصروه یاد دمشق یادفلسطین **(ربوة)** شګلنې زمکې ته وائی. په یو ډیر غریب حدیث کښې دی چه حضور ﷺ یوصحابی رضی الله عنه ته فرمائیلي وو چه ستا وفات به په **(ربوة)** کښې کیږی نوهغه په شګلنه زمکه کښې وفات شو. دې ټولو اقوالوکښې ډیر نیزدې اوقریب قول هغه دې چه دې نه مراد نهر دې لکه چه په بل آیت کښې داسې بیان فرمائیلې شوې دې **(قَدْ جَعَلَ**

[1] الدرمنثور:۲۰۷/۷.
[2] الطبری:۳۹/۱۹.

رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴾ (١) ستارب ستاد قدمونولاندې يو جاري نهر روان کړې دې. نودا مقام دبيت المقدس مقام دې نولکه چه د دې آيت تفسير دا آيت دې اود قرآن تفسيراول په قرآن سره بياد حديث نه او بياد آثار نه کول پکاردي.

**دټولونبيانو عليهم السلام خوراک حلال او د خپل لاس ګټه وه:-** الله ﷻ خپلو ټولوانبياءکرامو عليهم السلام ته حکم فرمائي چه هغوی دې حلاله نوړئي خوري اونيك اعمال دې کوی نوثابته شوه چه حلاله نوړئي د نيك عمل امدادي ده نو انبياء کرامو عليهم السلام ټولې ښيګړې راجمع کړې قول فعل دلالت اونصيحت ټول هغوی راغوندکړل الله ﷻ دې هغوی ټولونه د ټولونيکانو بنديګانود طرف نه نيکې بدلې ورکړي. دلته ئې څه رنګك اومزه بيان نه کړه بلکه دا ئې اوفرمائيل چه حلال څيزونه خورئي. حضرت عيسى ﷺ به د خپلې موردوړئي دکارکولو د اجرت اومزدوروئي نه خوراك کولو. په صحيح حديث کښې دی هيڅ يونبي داسې نشته چه هغه به چيلئي نه وی څرولې. خلقو تپوس اوکړو چه تاسو سره؟ حضور ﷺ اوفرمائيل اوما هم په يوڅوقيراطوباندې داهل مکه چيلئي څرولې(٢)يوبل حديث کښې دی چه حضرت داؤد ﷺ به د خپل لاس د محنت ګټه خوړله.(٣) بخاري اومسلم شريف کښې دی چه الله ﷻ ته د ټولونه ګرانه روژه د حضرت داؤد ﷺ روژه وه اود ټولو نه زيات خوښ قيام د حضرت داؤد ﷺ قيام وونيمه شپه به اوده کيدو اودريمه حصه به ئې د تهجد مونځ کولو او شپږمه حصه به اوده کيدو يوه ورځ به ئې روژه ساتله او بوه ورځ به ئې نه ساتله.ميدان جنګ کښې چرته هم شاکړې نه وه(٤) ام عبدالله بنت شداد k فرمائي ماد حضور ﷺ په خدمت کښې دپئيو يوه پياله د ماښام په وخت کښې اوليګله دې د پاره چه حضور ﷺ په دې باندې خپل روژې ماتې اوکړې د ورځې آخرى حصه وه اود نمر تيزوالې وونوحضور ﷺ قاصد واپس کړوچه که ستاد چيلئي وو نو خيريوه بله څبره وه هغه اووئيل يارسول الله ﷺ ما دا پئي په خپل مال سره اخستې دی بيا حضور ﷺ اوځکل نو په دويمه ورځ هغه مور بی بی په خدمت کښې حاضره شوه عرض ئې اوکړويارسول الله ﷺ په دې ګرمئي کښې ما پئي راوليګل او ډير وخت پس مې راليګلې ووتاسو زما قاصدواپس کړو.حضور ﷺ اوفرمائيل ماته هم دافرمائيلې شوې دی انبياء کرام صرف حلال خوراك کوی اونيك عمل کوی(٥)يوبل حديث کښې دی خلقو الله ﷻ پاك دې اوپاك څيز قبلوی.

**د حلال خوراک حکم ټولو مؤمنانو ته هم دې:-** الله ﷻ مؤمنانوته هم داحکم ورکړې دې کوم چه ئې رسولانو ته ورکړې دې.اې رسولانوپاك څيزونه خورئي اونيك عمل کوئي زه ستاسود عملونو عالم يم. هم داحکم ئې ايماندارو ته هم ورکړو چه اې د ايمان خاوندانو کوم څيزونه چه حلال مونږ تاسو ته درکړی دی هم هغه خورئي بيا حضور ﷺ ديوداسې سړی ذکر اوکړوچه يواوږدسفرئې کړې وی دخيرنو ويښتو والاوی دوړو مخ ئې وی ولې خوراك څښاك اوغوستن ئې د حرامو وی اوهغه خپل لاس د آسمان طرف ته اوچت کړی وائي چه اې ربه اې ربه خونامکن دی چه د هغه دعاقبوله کړې شی. (٦) امام ترمذی دا حديث حسن غريب ښائي.

---

(١) ١٩/مريم:٢٤.
(٢) صحيح بخارى كتاب الاجارة باب رعى الغنم على قراريط:٢٢٦٢، ابن ماجة:٢١٤٩.
(٣) صحيح بخارى كتاب البيوع باب كسب الرجل وعمله بيده:٢٠٧٢-٢٠٧٣، ابن حبان:٦٢٢٧.
(٤) صحيح بخارى كتاب احاديث الانبياء باب احب الصلاة الى الله صلاة داوٗد.........:٣٤٢٠
(٥) طبرانى:٢٤/١٧٤-١٧٥، مجمع الزوائد:١٠/٢٩١.
(٦) صحيح مسلم كتاب الزكاة باب قبول الصدقة من الكسب الطيب وتربيتها:١٠١٥، ترمذى:٢٩٨٩، احمد:٢/٣٢٨.

Scanned with Ca

**دټولوانبیاکرامو** علیهم السلام **دعوت هم یووو**:-بیافرمائی ای پیغمبرانو ستاسو دا دین هم یودین دی هم یو ملت دی یعنی د الله ﷻ وحده لاشریك له د عبادت طرف ته رابلل دی. د دی د پاره د دی نه پس ئی اوفرمائیل زه ستاسو رب یم مانه ویریږئی په سورت انبیاء کښی د دی تفسیراوتشریح شوی ده. ﴿امة واحدة﴾ باندی نصب دحال کیدلوپه وجه سره دی دکومو امتونو طرف ته چه انبیاء لیګلی شوی وو هغوی د الله ﷻ دین ټکړی کړو اوپه کومه ګمراهئی کښی کلك شو په هغی باندی فخر کولو ځکه چه په خپل خیال کښی هم داهدایت ګڼړلو نود رتنی په توګه نی اوفرمائیل دوی هم په خپله دهوکه اوخونیدوکښی پریږده تردی چه د دوی د تباهئی وخت راشی خوراك ځښاك ته ئی پریږده او پریږده چه مست شی او بی خوده شی اوس به ورته معلومه شی چه مغروره ګمان کوی دا مال اولاد چه مونږ دوی ته ورکړی دی دا دهغوی دنیکئی اوښیګړی په توګه هغوی سره ښه سلوك کوو؟ هیڅ کله نه دا خو هغوی په دهوکه کښی دی، دوی په دی سره دا ګڼړی چه ځنګه مونږ دلته خوشحاله یوهلته به هم بغیرسزا پاتی شو دا بالکل غلط دی کوم څه چه مونږ دوی ته په دنیاکښی ورکړی دی هغه خود لږشان وخت مهلت دی خودوی بی شعوره دی اصل حقیقت ته نه رسی لکه چه ارشاد دی ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ﴾[1] تادی دهغوی مال اولادپه دهوکه کښی نه اچوی دالله ﷻ اراده خودا ده چه پدی سره دوی په دنیاکښی عذاب کړی.په یوبل آیت کښی دی چه دوی له داوخت ځکه ورکړی شوی دی چه دوی په خپلوګناهونوکښی نورهم زیات شی[2] یوبل ځائ ارشاد دی ما او د دی خبری تکذیب کونکی پریږده مونږ به دوی داسی وار په وار رانیسوچه دوی ته به پته هم نه لګی.[3] الخ په نورو آیاتونوکښی ارشاد دی ﴿ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيْدًا﴾[4] الخ یعنی ما اودوی پریږده کوم چه مایوازی پیداکړی دی ډیر مال می ورکړی اوتابعدار ځامن می ورکړی دی اودهرقسم سامان می په دی وجه ورکړی دی چه بیاد ده طمعه ده چه زه به ده ته نور هم زیات ورکړم هیڅ کله هم نه هغه به زمونږ دخبرومخالف وو.یوبل آیت کښی دی ﴿وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۡ فَاُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ جَزَاۗءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ فِي الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ﴾[5] ستاسو مالونو اواولاد تاسو ماسره ملاوولی نه شی ماسره نیزدی خوهغوی دی چه ایمانداردی اونیك عمل کوی.الخ. ددی مضمون نورهم ډیر آیاتونه دی. قتاده فرمائی هم دا د الله ﷻ شکردی تاسو انسانان په مال اولاد سره مه ګورئی د ایمان تله اوپیژندګلوخوایمان اونیك عمل دی.حضورﷺ فرمائی الله ﷻ ستاسواخلاق هم په تاسوکښی داسی تقسیم کړی دی ځنګه چه ئی روزی تقسیم کړی ده.الله ﷻ خودنیاهغه له هم ورکوی چاسره چه محبت ساتی اوهغوی له ئی هم ورکوی چاسره چه محبت نه ساتی اودین صرف هغوی ته ورکوی چاسره چه پوره محبت ساتی نو پوهه شئی چه چاله الله ﷻ دین ورکړو نو الله ﷻ هغه سره محبت ساتی.د هغه ذات قسم دچاپه لاس کښی چه دمحمد ﷺ ځان دی بنده ترهغه وخته پوری مسلمان کیدی نه شی تر کومی چه دهغه زړه او ژبه مسلمانه شوی نه وی.او بنده مؤمن کیدی نه شی ترکومی چه د هغه ګاونډی دهغه د تکلیف نه محفوظ او بی فکر نه وی.خلقو تپوس اوکړوچه دتکلیفونونه څه مراد دی ونی فرمائیل دهوکه او ظلم وغیره.واورئی کوم سړی چه حرام مال راوړی د هغی په خرچ کولوکښی برکت نه

---

[1] ۹/التوبة: ۵۵.
[2] ۳/آل عمران:۱۷۸.
[3] ۶۸/القلم:۴۴.
[4] ۷۴/المدثر:۱۱.
[5] ۳۴/سبا:۳۷

وی دهغه صدقه قبوله نه ده. کوم چه پریږدی اوخی هغه د ده د دوزخ توښه ده. الله ﷻ بدی په بدئی سره نه ختموی بدی په نیکئی سره ختموی خبیث خبیث نه ختموی.[1]

اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ

| بیشکه هغه کسان | چی هغویٔ | دیري | درب خپل نه |

ابیشکه کوم کسان چې دخپل رب نه دیرې د وجې

مُّشْفِقُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝

پریدونکی دی | او هغه کسان | چی هغویٔ په ایتونو | درب خپل باندې | ایمان راوړی |

پریږی |..............او کوم کسان چې دخپل رب په نښو باندې یقین کوی

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ

او هغه کسان |چی هغویٔ |درب خپل سره | (هیڅوک) نهٔ شریکوی |اوهغه کسان | چی ورکوی هغویٔ

اوکوم کسان چې د خپل رب سره بل هیڅوک نه شریکوی| اوکوم کسان چې ورکړه کوی

مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ

هغه څه| چی ورکوی | او زړونه دهغویٔ | یریدونکی وی | چی بیشکه هغویٔ | رب خپل ته

خومره چې ورکوی اوزړونه ئې د دې نه ویرېږی چې دویٔ به یوه ورځ خپل رب ته واپس

رٰجِعُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا

واپس تلونکی دی | دا کسان چی دی | دویٔ منډې وهی | په نیکو کښی | او دویٔ | هغې ته

کیږی | همدغه خلق دې چې د نیکو په کولو کښې تلوار کوی | |اوهم دا خلق دی چې

سٰبِقُوْنَ ۝

خان مخکښی رسونکی دی |

په دې کښې وړاندې کیدونکی دی |

**قوله‌تعالی:- اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۝**

**مومن چه نیک عمل کوی نوهم ویریږی**:-فرمائی چه داحسان اوایمان سره سره نیک اعمال کول اود الله ﷻ د ویرې نه رېیدل داد هغوی صفت دې. حضرت حسن بصری فرمائی مؤمن د نیکئی اود الله ﷻدویرې مجموعه وی اومنافق دبدئی سره باتوراوبې ویرې وی([2])داالله ﷻ دپیدائشی آیاتونو او نښو باورکوی لکه چه مریم بی بی صفت بیان شوې دې چه هغه دخپل رب دکلماتو اودهغه دکتابونو یقین لرلو الله ﷻ قدرت قضا او شرعې هغې ته پوره یقین وو.داالله ﷻ هریوکار هغه خوښ گڼړی داالله ﷻ منع کړې شوې هریوکارهغه ناخوښ گڼړی.هریوخبرهغه رښتونې منی هغه موحدوی دشرك نه ویزاره وی الله ﷻ یواو بې نیازه منی هغه بې اولاد اوبغیر ښځې والا گڼړی بې نظیر اوبې مثال ئی گڼړی. هغه سره څوك شریك کوی نه.د الله ﷻ په نوم باندې خیراتونه کوی خودې سره ویریږی چه داسې نه چه قبول نه شی.عائشه صدیقه دحضورﷺ نه تپوس اوکړو آیا داهغه خلق دی چانه چه زناکاری اوشراب خوری کیږی نود هغوی په زړه کښې د الله ﷻ ویره وی؟حضورﷺ اوفرمائیل چه اې د صدیق لور دا هغه خلق

---

[1]) احمد:۱/۳۸۷.
[2]) الطبری:۱۹/٤٥.

نه دی بلکه داهغه دی چه مونخونه کوی روژې ساتی صدقې کوی خود نه قبلیدونه ویرېږی. هم دا دی چه په نیکوکښې وړاندې کیدونکی دی.([1])د دې آیت دویم قراءت ﴿یاتون ماآتوا﴾ هم دې یعنی کوی چه څه کوی خو زړه د هغوی ویرېږی. مسنداحمدکښې دی چه حضرت عائشه صدیقه k له ابوعاصم ورغلو هغې مرحبا اوونیل اوونی فرمانیل چه برابرولې نه راځی جواب نی ورکړو چه هسې نه تاسو ته تکلیف وی.مورې نن زه د یوآیت د الفاظود تحقیق د پاره حاضرشوې یم دا ﴿یؤتون ماآتوا﴾ دې یا ﴿یاتون ماآتوا﴾دې؟ هغې اوفرمانیل ستاد پاره کوم یوکیدل خوښ دی؟ما وئیل که داآخری الفاظ وی نو لکه چه مادا ټوله دنیااوموندله بلکه د دې نه به هم ماته زیاته خوشحالی وی هغې اوفرمانیل بیا ته خوشحاله شه والله ماهم داسې دا الفاظ د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی([2]) د دې یوراوی اسماعیل بن مسلم مکی ضعیف دې په اووه واړو مشهوروقراءتونوکښې او د جمهورو په قراءت کښې هم دغه دی کوم چه په قرآن کښې موجود دې اود معنی په لحاظ سره هم دا ډیر ښکاره معلومیږی ځکه چه دا سابق ګرځولې شوې دې اوکه دویم قراءت واخلې نودا سابق نه بلکه درمیانه اوسپك کیږی. والله اعلم.

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

|اونهٔ ورکوؤ تکلیف مونږه | یو نفس ته | مګر | مطابق دطاقت دهغه

|اومونږ هیچا ته د وس نه زیات تکلیف نه ورکوو

وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝

او زمونږ سره |یو کتاب دې |چی بیانوئ | حق |اوداخلق چی دی|هیڅ ظلم به نهٔ کیږی په دوئ باندې

اومونږ سره یو کتاب دې چې همیشه حق خبره کوی| اوپه خلقو بهٔ دیوې ذرې هومره ظلم هم نه کیږی

بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِيْ غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا وَلَهُمْ اَعْمَالٌ

بلکه زړونه ددوئ | په غفلت کښې دی | ددې (کتاب عملنامې) نه | او دوئ لره | عملونه دی

بلکه ددې کافرانو زړونه د دین نه غافل دی |..................او ددې نه علاوه څه

مِّنْ دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عٰمِلُوْنَ ۝

(چی هغه هم) مختلف دی | ددغه طریقې نه | چی دوئ | هغه عملونو لره | کونکی دی

نور (خراب) کارونه هم دی چې داخلق ئې کوی |تردې چې هرکله

حَتّٰى إِذَآ اَخَذْنَا مُتْرَفِيْهِمْ بِالْعَذَابِ إِذَا

تر هغې پورې | کله چی | رااونیول مونږه | مالداره عیاشان خلق ددوئ | په عذاب سره| نو بیا به

مونږ ددوئ مالداره خلق په عذاب کښې راونیسو|نو دوئ دغه

هُمْ يَجْئَرُوْنَ ۝ لَا تَجْئَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُمْ مِّنَّا

هغوئ| رمباړې وهلی | شور زو ږ مهٔ کوئ| نن ورځ | بیشکه چی تاسو ته | زمونږ دطرفنه

وخت چغې کړی| (ورته بهٔ اووئیلې شی) چې نن چغې مه وهئ| ولې چې زمونږ

[1] ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة المؤمنین: ٣١٧٥وهو حسن، احمد:١٥٩/٦. (ترمذی)
[2] احمد:٩٥/٦.

Scanned with Ca

| |
|---|
| لَا تُنْصَرُوْنَ۝ قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ |
| هیڅ امداد نهٔ ملامیږی \| په تحقیق سره وو \| ایتونه زما \| چی لوستلې کیدل به \| په تاسو باندي |
| دطرفه به ستاسو مدد نشی کولې ازما ایتونه تاسو ته لوستلې شول |
| فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ۝ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۚ بِهٖ |
| نو وئ تاسو \| په پوندو خپلو باند \| چی واپس به تښتیدئ \| تکبر کونکی به وئ \| په هغه پورې |
| نو تاسو به ترې نه په شا روان وئی \| تکبر به موکولو |
| سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ۝ |
| دشپې قیصه کونکی وئ \| اوبکواس به موکولو \| |
| قیصئ به مو ترې جوړولې بیهوده |

قوله‌تعالی:-وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا

**انسان ته د وس نه زیات تکلیف نه ورکولې کیږی:**-الله ﷻ شریعت آسان کړې دې اوداسې احکام ئی نه دی مقررکړی کوم چه دانسانی طاقت نه بهر وی بیابه دقیامت په ورځ هغه د دوی دعملونوحساب اخلی چه ټول په ټول به په کتابی شکل کښې لیکلې شوی موجود وی. دا عمل نامه به صحیح صحیح د هغوی هر یو عمل اوښائی او په چا باندې به هیڅ قسم ظلم نه شی کولې هیڅ یوه نیکی به کمیږی نه بلکه د اکثرو مؤمنانو ګناهونه به معاف کولې شی.دمشرکانو زړونه د قرآن نه اوختلې شوی اودهوکه شوی دی دې نه علاوه هم د هغوی نورې بدعملئی دی لکه چه شرك وغیره دوی ښه په ښکاره کوی([1]) دې دپاره چه د هغوی بدئی هغوی ددوزخ نه اخوانه کړی. هغه حدیث تیرشو په کوم کښې ارشاد دې چه انسان دنیکئی کارونوکولوکولوسره دجنت نه دیولاس په فاصله شی چه په هغه د تقدیر لیك غالب راځی اوبدعملئی شروع کوی نتیجه داوی هغه دوزخ ته اورسی([2])تردې چه کله په هغوی کښې په آبادو خوشحالواودولت مندوخلقو باندې دالله ﷻ عذاب راپریوځی نو دې وخت هغوی فریاد کوی. په سورت مزمل کښې ارشاددی چه ما اوداماالداران دروغ ګنړونکی پریږدئی دوی ته لږ شان مهلت نور هم ورکړه مونږ سره بیړئی هم دی اودوزخ هم شته او په مرئی کښې اینختونکې خوراك هم شته اودردناك عذاب هم شته([3])یوبل آیت کښې دی ﴿كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ۝﴾([4])یعنی مونږدې نه وړاندې هم ډیرکلی تباه کړی دی هغه وخت هغوی شوراوغوغا شروع کړه چه بې فائدې وه.دلته فرمائی چه نن تاسو ولې شورکوئی؟ولې فریادکوئی؟هیڅ څوك نن ستاسو په کارنه شی راتلې چه په تاسوباندې د الله ﷻ عذاب راغلونو اوس ټولې چغې صورې بې فائدې دی.څوك دی چه زمادعذاب په مقابله کښې ستاسو امداداوکړې شی بیاد هغوی یوه لویه ګناه بیانوی چه دا زما د آیاتونو منکر وو هغه به نی اوریدل او هیرول به ئی چه راغوښتې به شونو انکار به نی کولود توحیدنه به نی انکارکولو او په شرك باندې عقیده لرله حکم خود اوچت او بزرګ الله ﷻ چلیږی﴿مُسْتَكْبِرِيْنَ﴾ حال دې د حق نه اخواکیدل اودحق نه دانکارکولودوی به هغه وخت کبرکولواوحق اوداهل حق به ئی سپك ګنړل ددې معنی په رنړا

---

[1]) الطبری:۱۹/۴۹.

[2]) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب ذکرالملائکة صلوات الله علیهم:۳۲۰۸،صحیح مسلم: ۲۶۴۳، احمد:۲/۳۸۲، ابن حبان: ۱۶۷۴.

[3]) ۷۳/المزمل:۱۱-۱۳.

[4]) ۳۸/ص:۳.

Scanned with Ca

کښې د (به) ضمیر مرجع یاخوحرم دې یعنی مکه چه دوی به په هغې کښې فضول بکواس کولو یاقرآن پاك دې په کوم پورې چه به دوی ټوقې کولې کله به ئې ورته شاعری ونیل کله کهانت وغیره یا پخپله حضور ﷺ دې چه د شپې به بې کاره اوزګار ناست وو ګپ شپ کښې به ئې کله حضور ﷺ ته شاعر ونیل کله کاهن ونیل کله جادوګر کله دورغژن او کله مجنون ونیل سره د دې چه حرم د الله ﷻ کوردې قرآن د الله ﷻ کلام دې حضور ﷺ دالله ﷻ رسول ﷺ دی چاله الله ﷻ خپل امداد رسولې دې او په مکه باندې قبضه ورکړه دا مشرکان ئې د هغه ځائ نه ذلیل او خوار کولوسره اوویستل اوداهم ونیلې شوی دی چه مراددا دې چه داخلق د بیت الله د وجه نه فخر کولو اوخیال به ئې کولوچه هغوی اولیاء الله دی سره د دې چه دا خیال ئې صرف وهم وو.د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه دقریشو مشرکانوبه په بیت الله باندې فخر کولو(۱)خپل ځان به ئې د دې مهتمم او متولی ګڼړلو سره د دې چه نه به ئې آباده وله اونه به ئې د دې صحیح ادب کولو. ابن ابی حاتم m دلته ډیر څه لیکلې دی حاصل د هغه ټولوهم دا دی.

| |
|---|
| اَفَلَمۡ یَدَّبَّرُوا الۡقَوۡلَ |
| آیا غوروفکر اونۀ کړو دې خلقو \| په دې کلام باند |
| آیا دوئ په دې کلام کښې سوچ فکر نه کوی |
| اَمۡ جَآءَهُمۡ مَّا لَمۡ یَاۡتِ اٰبَآءَهُمُ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۶۸﴾ اَمۡ لَمۡ |
| یا راغلې دې دوئ ته \| هغه څیز \| چی نۀ وو راغلې \| پلرونو ددوئ \| اولنو ته \| یا اونۀ |
| یا دوئ ته څه داسې علم راغلې دې اچې ددوئ وړاندینو مشرانو ته نه وو ورغلې\| یا |
| یَعۡرِفُوۡا رَسُوۡلَهُمۡ فَهُمۡ لَهٗ مُنۡکِرُوۡنَ ﴿۶۹﴾ اَمۡ یَقُوۡلُوۡنَ |
| پیژندو دوئ\| رسول خپل \| نوګنې دوئ \| دهغه نه \| دنااشنا والی په وجه تریږی \| یا وائی دوئ |
| دوئ خپل پیغمبر اونه پیژندو\| او ددې په وجه دوئ د هغه منکران شول\| اوکه دوئ دا وائی |
| بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلۡ جَآءَهُمۡ بِالۡحَقِّ وَاَکۡثَرُهُمۡ |
| چی په دۀ باندې لیونتوب دې\|(نۀ ده داسې) بلکه \| هغه دوئ ته حق راوړې دې \| او زیات خلق ددوئ |
| چې دې سودائی دې انه ، بلکه هغه خو ورته رینښتونې خبره راوړې ده \|اوپه دوئ په زیاتو |
| لِلۡحَقِّ کٰرِهُوۡنَ ﴿۷۰﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ الۡحَقُّ اَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ |
| حق لره \| ناخوښونکی دی \|او که پیروی کولې \| حق \|دخواهشاتو ددوئ \|نو خامخا به خراب شوی وۀ |
| باندې رښتیا بد لګی \|اوکه چرې حق د دوی د خواهشاتوتابعداری کړې وې \|نو آسمانونه |
| السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ وَمَنۡ فِیۡهِنَّ ؕ بَلۡ اَتَیۡنٰهُمۡ |
| اسمانونه \|او زمکه \|او هغه څوك \|چی په دې کښې دی \| بلکه \| راوړې دې مونږ دوئ ته |
| اوزمکه اوڅه چې په دې کښې دی ټول تباه به شوی وو \| ......................بلکه مونږ خو دوئ |

(۱) حاکم:۲/۳۹۴.

بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ۝ اَمْ تَسْئَلُهُمْ خَرْجًا

ذکر ددوی | نو دوی | دذکر خپل نه | مخ اړونکی دی | یا ته غواړې ددوی نه | څه اجرت

ته سودمند د خبره ورکړه | خو دوی د سودمندې خبرې نه هم مخ اړوی | آیا ته ددوی نه څه

فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَّهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ۝ وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ

نو ثواب درب ستا | بهتر دی | او هغه | بهتره رزق ورکونکې دی | او بیشکه ته | خامخا رابلې دوی

معاوضه غواړې | خو ستا درب عوض دټولو ښه دی | او هغه دټولو نه ښهٔ رزق ورکونکې دی او بیشکه ته

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ۝ وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

لارې | نیغې ته | او بیشکه هغه کسان | چې ایمان نهٔ راوړی | په اخرت باندې |

دوی سمې لارې ته رابلې | او بیشکه هغه خلق چې په اخرت باندې یقین نه ساتی

عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ۝ وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا

دغې نیغې لارې نه | خامخا ډډه کونکی دی | او که رحم اوکړو په دوی باندې | او لرې کړو مونږ

هغوی دسمې لارې نه بې لارې شوی دی | او که مونږ په دوی باندې رحم اوکړو | او ددوی

مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِيْ طُغْيَانِهِمْ

هغه | چې په دوی باندې | دتکلیف نه | نو ښه به ټینګ شی دوی | په سرکشی خپله کښې

تکلیفونه لرې کړو | نو بیا به هم دوی په خپله ګمراهۍ کښې سرګردانه وی

يَعْمَهُوْنَ۝

چې سرګردانه به وی |

**قوله تعالی:-اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ**

**قرآن پاک بې مثال او بینظیر کتاب دې** :-الله ﷻ د مشرکانو په دې قول باندې انکار کوی کوم چه هغوی د قرآن پاك په نه پوهیدوکښې اوپه دې کښې غور نه کولوکښې کولواود دې نه به ئې مخ اړولو سره د دې چه الله ﷻ په هغوی باندې خپل هغه پاك او بزرګ کتاب نازل کړې وو چه په یونبی باندې هم نه وو نازل کړې دا د ټولونه پوره اشرف او غوره کتاب دې. دهغوی پلاران نیکونه په جاهلیت کښې مړه شوی وودچا په لاسونوکښې چه هیڅ یوخدائی کتاب نه وو په هغوی کښې څوك پیغمبر نه وو راغلې نوهغوی له پکاروو چه د الله ﷻ د رسول ﷺ خبره ئې منلې وه دالله ﷻ د کتاب ئې قدرکړې وو اوشپه ورځ ئې په دې باندې عمل کولو لکه څنګه چه په هغوی کښې پوهه خلقو اوکړل چه هغوی مسلمانان او د رسول ﷺ تابعدار شو اوپه خپل عمل نی الله ﷻ رضاکړوافسوس چه کافرانودعقل نه کاروانخستلو.دقرآن متشابه آیاتونوپسې شونوهلاك شوآیاداخلق محمد ﷺ نه پیژنی آیاد هغوی صداقت امانت اودیانت هغوی ته معلوم نه دې؟حضور ﷺ خوهم په هغوی کښې پیداشوې هم په هغوی کښې لوئ شوې بیاڅه وجه ده چه نن هغه ته دروغژن وائی چاته چه به ئې ددې نه وړاندې رښتونې وئیلو دوه مخیزکیږی. جعفر ﷺ بن ابی طالب د حبشی بادشاه نجاشی په وړاندې په ډك دربار کښې هم دغه فرمائیلې ووچه الله ﷻ رب العالمین وحده لاشریك له مونږ کښې یورسول راولیګلودچا نسب د چا صداقت د چا دیانت اوامانت چه مونږ ته ښه معلوم وو.مغیره بن شعبه ﷺ کسری ته دجنګ په وخت کښې دجنګ په میدان

Scanned with Ca

کښې هم داونيلي وو ابوسفيان ﷺ بن صخربن حرب دروم بادشاه ته هم دا فرمائيلي وو په ډك دربار کښې بادشاه د هغه نه اود هغه د ملګرونه تپوس کړې ووسره د دې چه په هغه وخت کښې هغه مسلمان شوې هم نه وو ولې هغوی ته دحضور ﷺ صداقت امانت ديانت اود رښتونوالی په نسبت دښکليوالی اقرار کړې وو[1] وئيل به ئې دې ليونې دې ياده قرآن پاك دخپل ځان نه جوړکړې دې سره د دې چه خبره داسې نه وه حقيقت صرف دا دې چه د هغوی زړونه د ايمان نه خالی وودوی به په قرآن پاك باندې نظر نه اچولو اوځه چه به په خُله ورتله دوړول به ئې. قرآن پاك خوهغه کلام دې چه د هغې د مثل اونظيرنه ټوله دنياعاجزه ده. سره دسخت مخالفت اوسره د پوره کوشش او په ډيره مقابله کولوکښې د چا نه هيڅ هم اونه شوچه ددې په شان قرآن ئې پخپله جوړکړې وې يادټولوپه امدادئې ددې په شان يوسورت جوړکړې وې داخوسراسر حق دې اود هغوی حق سره چيړ دې. روستونئی جمله حال دې اوکيدې شی چه مستانفه وی والله اعلم.ذکر دې چه يوځل حضور ﷺ يوسړی ته اوفرمائيل چه مسلمان شه هغه وئيل سره د دې چه زما د دې نه نفرت وی؟حضور ﷺ اوفرمائيل وی دې. په يو روايت کښې دی يوسړې حضور ﷺ ته لارکښې ملاوشو حضور ﷺ هغه ته اووئيل اسلام قبول کړه په هغه باندې دا ډير سخت اولګيدل او مخ ئې تك سور شو حضور ﷺ اوفرمائيل ګوره چه ته په يوه ډيره غيرآباد خطرناکه لار روان ئې اوتاته يوسړې ملاوشی چه دهغه د حسب اونسب نه ته ښه خبرئې اود هغه د رښتون ولئی او امانت نه ته ښه خبرئې اوهغه تاته اووائی چه په دې لار ځه کومه چه آسانه ارته اونيغه اوصفاده نودا اووايه چه ته به د هغه په خودلې شوې لارځې که نه؟ هغه وئيل چه اوخامخابه ځم. حضور ﷺ اوفرمائيل چه بس ته يقين اوکړه په الله ﷻ قسم چه ته د دنياد دې سختې ګرانې اوخطرناکې لار نه هم په ډيره خرابه لار روان ئې اوزه تاته د نيغې لار دعوت درکوم اوزما اومنه. روايت دې چه يوبل داسې سړی ته رسول الله ﷺ فرمائيلی ووکله چه هغه د اسلام د دعوت ورکولوسره بدمنلې ووچه ستا دوه ملګری وی يوربښتونې او امانتدار بل دروغژن اوخيانت کونکې نوته اوښايه چاسره به محبت کوې هغه وئيل رښتونی امين سره وئی فرمائيل چه هم دغه شان تاسو خلق خپل رب سره نيزدې ئی[2] دحق نه مراد د سدی m په قول هم پخپله الله ﷻ دې[3] يعنې که الله ﷻ هم د دوی په مرضئی سره شريعت مقررکولونوزمکه او آسمان به وران شوې وولکه چه بل آيت کښې دی چه کافرانووئيل په دې دواړو کلوکښې چرته په يولوئ سړی دا قرآن ولې نازل نه شو؟ددې په جواب کښې دافرمان دې چه آياد رباني رحمت تقسيم ددوی په لاسونو کښې دې؟[4] يوبل آيت کښې دی چه که درب درحمت دخزانودوی مالکان وې نودوی به دخپل بخيل توب په وجه ټوله دنياتړی ساتلې وه[5]

**دا نسان دماغ د مخلوق د انتظام نه عاجز دی:**-يوبل آيت کښې دی که دوی چرته د ملك د يوې حصې مالکان جوړکړې وونودوی خوبه يوه پيسه هم چاته نه ورکوله[6] نو پدې آياتونوکښې الله رب العزت بيان اوفرمائيلو چه انسانی دماغ د مخلوق په انتظام کښې د قابليت نااهل دې داهم د الله ﷻ شان دې چه دهغه صفتونه د هغه فرمان اود هغه افعال د هغه د شريعت تقدير اودهغه تدبيرټول مخلوق راګير کړې دې اود ټول مخلوق حاجت پوره کول دهغه دمصلحت لاندې دې دهغه نه بغيرڅوك معبود نشته نه

[1] صحيح بخاری کتاب بدء الخلق باب کيف کان بدءالوحی الی رسول الله :۷، صحيح مسلم:۱۷۷۳.
[2] دارروايت مرسل دي.
[3] الطبری:۱۹/۵۷.
[4] ۴۳/الزخرف:۳۱-۳۲.
[5] ۱۷/الاسراء:۱۰۰.
[6] ۴/النساء:۵۳.

Scanned with Ca

څوك بالونكي. بیافرمائی چه دا قرآن پاك هم مونږ د دوی د نصیحت د پاره راولږلي دي دوی د دې نه مخ اړوی. بیا ارشاد دي چه ته د قرآن پاك په تبلیغ د دوی نه څه اجرت نه غواړې ستانظرصرف هم په الله ﷻ دي هم هغه به تاله د دې اجر درکوی لکه چه وئی فرمائیل کومه بدله چه زه تاسو نه غواړم هغه مې هم تاسو له درکړه زه خود اجر غوښتونکې صرف هم د الله ﷻ نه یم[1]په بل آیت کښې حضورﷺ ته حکم اوشوچه اعلان اوکړه زه نه څه بدله غواړم اونه په تکلف کونکوکښې یم[2]بل ځائ دی اووایه چه زه تاسو نه په دې باندې هیڅ اجر نه غواړم صرف د خپلوولئی د تعلق جوش دې[3]په سورت یس کښې دی دښاردلرې غاړې نه چه کوم سړې په منډه راغلو هغه خپل قوم ته اووئیل خلقو د خپلو انبیاؤ کرامو تابعداری کوئی څوك چه تاسو نه هیڅ اجر اوبدله نه غواړی.[4] دلته ئې اوفرمائیل هم هغه بهترین رازق دې ته خلق نیغې لارې ته راغواړه.

**درسول کریم صلی الله علیه وسلم د امت مثال:**-مسنداحمد کښې دی حضورﷺ اوده وودوه فرښتې راغلې یوه دحضورﷺ سر مبارك ته او بله پښو مبارکوته اودریدې. یوې بلې ته اووئیل چه د ده اود ده د امت مثال بیان کړه هغې وئیل د ده مثال د هغه قافلې د مسافر په شان دې چه په یوکولاومیدان کښې وو نه دغوی سره څه توښه وه نه اوبه اودانه اونه د وړاندې تلو طاقت اونه د روستو تلوطاقت. حیران وو چه څه به کیږی په دې کښې یوښه سړې یوشریف انسان په ښکلی لباس کښې راغلو هغه په راتلوسره د دغوی پریشانئی ته اوکتل هغوی ته اووئیل که تاسوزما وینا اومنئی اومایسې راشئی نوزه به تاسو د میوته ډکوباغونو اوداوبونه ډکو حوضونوته اورسوم ټولود هغه خبره اومنله اوهغه په حقیقت کښې هغوی شنوډکو باغونو تازه او روانوچینو ته اورسول چرته نه چه دې خلقو بې منع کولوخوراك څښاك اوکړو اودې سره ښه ماړه او تازه او چاق شو یوه ورځ هغه اووئیل چه ګورئی ماتاسو د هغه غریبئی او تکلیف نه دلته راوستلئی اودې د مزې ځائ ته مې راورسولئی اوس که تاسو زما منئی نو زه به د دې نه هم تاسواوچتوباغونو او پاك ځائ ته اود دې نه هم د چپو وهونکونهرونو طرف ته بوځم په دې باندې یوه ډله تیاره شوه او هغوی وئیل چه مونږ تاسره یوځودویمې ډلې اووئیل مونږ ته د نورو ضرورت نشته بس مونږ خو به هم دلته پراته یو. [5]

**بل مثال، د امت یخ کول او د کوثر بیان:**-ابویعلی موصلی کښې دی حضورﷺ فرمائی زه به تاسو نه غیږې ډکوم اوستاسو شاګانې به رانیولوسره تاسو د دوزخ نه منع کوم خوتاسو به د پتنګانواو د سپرلی دچینجو په شان زما د لاسونونه خلاصیږئی او په اورکښې غورزیږئی نوآیاتاسوداغواړئی چه زه تاسو پریږدم؟واورئی په حوض کوثر باندې به زه ستاسوپیشوا او خیال ساتونکې یم تاسوبه ځان له ځان له او ډلې ډلې زماخواله راځئی زه به تاسو ستاسو په نښونښانوباندې علامتونواونومونوسره پیژنم لکه څنګه چه یونوې ناخبره سړې خپل اوښان د نورو د اوښانونه جدا کوی.زمادسترګوپه وړاندې به تاسو کښې بعضې دګس طرف والا دعذاب فرښتې رانیسی بوتلل به ئې غواړی نوزه به الله ﷻ ته عرض اوکړم اې الله دازما دقوم اوزما د امت خلق دی نوجواب به ملاوشی چه تاته نه ده معلومه تانه پس دوی کوم کوم بدعتونه کړی دی دوی خوتانه پس دخپل ګیتوپه مخ واپس شوی دی هغه به هم اوپیژنم چه د قیامت په ورځ به ئې په خپل سټ باندې چیلئی راپشاکړې راځی هغه چیلئی به چغې وهی اوزمانوم به

---

[1] ۳۴/سبا:۴۷
[2] ۳۸/ص:۸۶.
[3] ۴۲/الشوری:۲۳.
[4] ۳۶/یس:۲۰.
[5] احمد:۱/۲۶۷.

Scanned with Ca

اخلي اوازونه به کوی خوزه به هغوی ته صفااووایم چه زه د الله ﷻ په مخکښې ستاسو هیڅ په کار نه
شم راتلي ماخود الله ﷻ خبرې دررسولې وې دغه شان به څوك وی چه د اوښ سره به راروان وی برړيږي
به او آوازونه به کوی اې محمد ﷺ اې محمد ﷺ زه به وایم چه زه د الله ﷻ په وړاندې ستاسود پاره هیڅ
اختیار نه لرم ما خو رسول کړې وو. بعضې به راشی چه د هغوی په سټ به اس سور وی چه هنرېږی به
هغه به هم ماته آواز راکوی اوزه به هم دغه جواب ورکوم. بعضې به راځی مشکونه به ئی راوچت کړې
وی چغې په وهی یامحمد ﷺ یامحمد ﷺ زه به وایم چه زه خوستاسودیوکار هم مالك نه یم ماخو در
رسولې وو(۱) امام علی بن مدینی فرمائی د دې حدیث سندخودې حسن خود دې یوراوی حفص بن
حمیدمجهول دې خویحیی بن معین ده ته صالح وئیلې دې او نسائی اوابن حبان هم ده ته ثقه وئیلي
دې د آخرت یقین نه ساتونکی د نیغې لار نه بې لارې شوی دی. کله چه یو سړې د نیغې لار نه اخواشی
نو عرب وائی ﴿نکب فلان عن الطریق﴾ دهغوی دکفرپوخوالې بیانولې شی که الله ﷻ دهغوی نه
سختی اخواکړی اوهغوی ته قرآن واوروی اوپوهه نی کړی نوبیابه هم دوی دخپل کفردښمنئی سرکشئ
اوتکبر نه اخوانه شي کوم څه چه نه دی شوی هغه کله اوشی نوبیابه څنګه وی د دې علم هم الله ﷻ ته
دې.بل ځائ ارشاد فرمائیلې دی که الله ﷻ په هغوی کښې ښیګړه لیدله نوضرور به ئی هغوی ته اورول
اوکه هغوی ته به ئی نه اورول هم نو هغوی به اړولوسره تاویدل(۲)دوی خو به دوزخ ته مخامخ
اودریدوسره یقین کوی هغه وخت به وائی چه افسوس مونږ واپس کړې شوي وې اودرب خبرې مو دروغ
نه ګڼړلې اویقین موکولو. دې نه وړاندې چه کوم څیز پټ وو هغه اوس ښکاره شو. خبره دا ده چه که
دوی واپس هم کړې شي نو بیابه هم د منع کړې شوی کارونوطرف ته واپس راځی الخ نودا هغه خبره ده
چه کیږی به نه خوکه اوشی نو څه به وی؟د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې ﴿لو﴾ سره چه کومه یوه
جمله په قرآن کریم کښې ده هغه کله هم واقع کیدونکې نه ده.

| |
|---|
| وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا |
| او په تحقیق سره اونیول مونږ دوئ \| په عذاب سره \| پس ټیټ نهٔ شو دوئ |
| اومونږدوئ په عذاب کښې رانیولی ووا خوبیا هم نه خو رب ته تسلیم شول |
| لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۷۶﴾ حَتّٰى اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ |
| رب خپل ته \| اونهٔ دوئ عاجزی اختیاروی \| تر هغې پورې \|چې کله\| پرانستله مونږه \|په هغوئ باندي |
| او نه ئې ورته عاجزی اوکړه \| ..............تر دې چې کله مونږ په دوئ باندې د سخت عذاب |
| بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ |
| دروازه \| دسخت عذاب \| بیادوئ \|په هغې کښې \|ناامیده وی دهر خیرنه \|او هغه هغه ذات دي |
| دروازه پرانسته \|نوبیادوئ په دې کښې ناامیده شول \|او الله هغه ذات دي |
| اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ |
| چې پیدا ئې کړو \| ستاسو دپاره \| طاقت داوریدو \| او طاقت دلیدو \| او زړونه (دپاره دسوچ) |
| چې تاسو ته ئې غوږونه سترګې او زړونه درکړل |

۱ مجمع الزوائد:۳/۸۵، کشف الاستار:۹۰۰وسنده حسن.
۲) ۸/الانعام:۲۳.

Scanned with Ca

قَلِیۡلًا مَّا تَشۡكُرُوۡنَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ الَّذِیۡ ذَرَاَكُمۡ

ډیر لږ دي | هغه | چې تاسو شکر اوباسئ | او هغه هغه ذات دي | چې خواره ئې کړئ تاسو

خو تاسو ډیر کم شکر اوباسئ || او الله ﷻ هغه ذات دي چې تاسو ئې د زمکې په مخ

فِی الۡاَرۡضِ وَاِلَیۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ الَّذِیۡ یُحۡیٖ

په زمکه کښې || او خاص هغه ته به تاسو ورجمع کړې شئ || او هغه هغه ذات دي | چې ژوندي کول کوي

خواره کړي ئې | او هم دهغه طرفته به تاسو جمع کولې شئ || او هم هغه ذات دي چې ژوندي کول

وَیُمِیۡتُ وَلَهُ اخۡتِلَافُ الَّیۡلِ وَالنَّهَارِ ط اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿٨٠﴾

او مړه کول کوي || او خاص دهغه کار دي | بدلول | د شپې || او دورځې | ایا نو تاسو عقل نهٔ چلوئ

کوي او وژل کوي || او د شپې ورځې اړول دهغه په اختیار کښې دي | نو ایا تاسو د عقل نه کار نه اخلئ

بَلۡ قَالُوۡا مِثۡلَ مَا قَالَ الۡاَوَّلُوۡنَ ﴿٨١﴾ قَالُوۡۤا ءَاِذَا

بلکه | وائي دوئ | په مثل دهغې | چې وئیلې دي | ړومبنو کافرانو | دوئ وائي | ایا هر کله چې

بلکه دا خلق هم هغه خبرې کوي | لکه چې پخوانو (کافرانو) کړې وې | دوئ وائي کله چې

مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿٨٢﴾

مړه شو مونږه | او شو مونږه | خاورې || او هډوکي | نو ایا مونږ به اُکنی خامخا ژوندي راپاسولې کیږو

مونږ مړهٔ شو | او بشاورې او هډوکي شو | نو ایا لا بیا به راژوندي کولې شو

لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنۡ قَبۡلُ اِنۡ هٰذَاۤ

په تحقیق وعده شوې ده | زمونږ سره || او د پلارانو زمونږ سره | دا | مخکښې د دې نه | نهٔ دي دا خبرې

داسې وعدې خو مونږ سره او زمونږ مشرانو سره پخوا راسې کیږي | دا ټول بل څیه نه دي

اِلَّاۤ اَسَاطِیۡرُ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿٨٣﴾

مګر | هسې (قیصې) دي | د پخوانو خلقو |

بلکه تشې د پخوانو خلقو بې سنده خبرې دي

**قوله تعالی:- وَلَقَدۡ اَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡعَذَابِ**

**د الله ﷻ عذاب اود کافرانو په خپل ځائې کلک اودریدل:**-فرمائی چه مونږ هغوی د دوی د بدو په وجه په سختو اومصیبتونوکښې اخته کړل خو بیاهم هغوی نه خپل کفر پریخودو اونه د الله ﷻ طرف ته ټیټ شو بلکه په کفر اوګمراهئ کښې اخته دی نه د هغوی زړونه نرم شو اونه دوی په رښتونی زړه سره زمونږ طرف ته متوجه شو اونه ئې د دعاد پاره لاس اوچت کړو لکه چه ارشاد دي ﴿فَلَوۡلَاۤ اِذۡ جَآءَهُمۡ بَاۡسُنَا تَضَرَّعُوۡا وَلٰكِنۡ قَسَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ وَزَیَّنَ لَهُمُ الشَّیۡطٰنُ مَا كَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ﴾[1] زمونږ عذاب په لیدوسره دوی زمونږ طرف ته په عاجزئی سره ولې ټیټ نه شو؟خبره دا ده چه د دوی زړونه سخت شوی دی الخ. ابن عباس ؓ فرمائی چه په دې آیت کښې هغه قحط کالئی ذکردې چه په قریشو باندې دحضور ﷺ دنه منلو په وجه راغلې وه دکوم شکایت سره چه ابوسفیان د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو اوحضور ﷺ ته ئې د الله ﷻ قسمونه

[1] ٦/الانعام:٤٣.

Scanned with Ca

ورکړل اود خپلولئي واسطې ئې ورکړې اوونې وئيل چه مونږ خو اوس ګندګې اووينې خورو. [۱]

**د قريشو د قحط سالئ تذکره:**-بخاری اومسلم کښې دی د قريشو شيطانونه تنګ راغلو نو رسول الله ﷺ د هغوی د پاره بددعاکړې وه ځنګه چه د حضرت يوسف ؑ په زمانه کښې اووه کاله قحط راغلې وو هم په دغه شان قحط باندې اې الله ته زما امداد اوکړه[۲] ابن ابی حاتم کښې دی وهب بن منبه ؒ قيدکړې شوهلته يوخوان سړی اوونيل زه تاته د زړه دخوشحالولود پاره ځوشعرونه اووايم؟ نوهغوی اوفرمائيل دې وخت کښې مونږ د الله ﷻ په عذاب کښې يواوقرآن د دې شکايت کړې دی چه ځوك داسې وخت کښې هم الله ﷻ ته تيټ نه شی بياهغه درې روژې برابر اوساتلې.بياد هغه سوال اوکړې شو چه دا په مينځ کښې روژې ماتې نه کول ځنګه روژې دی؟نوجواب ئې ورکړو چه يونوې ځيز ديخوانه اوشويعنی قيد نويونوې ځيز مونږ هم اوکړو يعنی په عبادت کښې زياتوالې. تردې چه د الله ﷻ حکم راورسيدو ناڅاپی وخت راغلو اود کومو عذابونوچه په خوب اوخيال کښې هم نه وو هغه راغله نود هر قسم خير نه محروم شو اميدئې ختم شو او حيران اوويريدلې پاتې شو. د الله ﷻ نعمتونوته اوګوره هغه غوږونه درکړی هغه سترګې درکړی زړه ئې درکړو عقل اوپوهه ئې درکړه چه غور اوفکر اوکړئې د هغه وحدانيت او د هغه په اختيارباندې ځان پوه کړې شئې. خوچه ځومره ځومره نعمتونه زيات شو شکر کم شو.لکه چه ځنګه ارشاد دې دغه شان حرص اوکړئې خو په دوی کښې اکثر بې ايمانه دی[۳] بيادخپل عظيم الشان سلطنت اوقدرت بيان فرمائی چه مخلوق هغه پيداکړو او پخپله کولاو زمکه کښې تقسيم کړل بيابه دقيامت په ورځ خواره شوی راغونډکړی اوخپل ځان سره به ئې جمع کړی.اوس هم هغه پيدا کړی ئې او بيا به موهم هغه سوزوی.

**داوسنو او مخکښينو کافرانو زړونه يو شان دی** :-هيڅ وړوکې لوئ روستو مخکې به باقی نه پاتې کيږی هم د دغه سخاشوی اوډډ شوی هډوکوژوندی کونکې اودخلقو وژونکې دې هم د هغه په حکم سره ورځ راځيژی شپه راځی ديونظام نه پس بل نظام راځی نه نمر دسپوږمئی نه وړاندې کيدې شی نه شپه په ورځې باندې وړاندېوالې کولې شی آيا په تاسوکښې دومره هم عقل نشته چه دومره لويو نښنو کتلوسره خپل الله ﷻ اوپيژنئی؟ اود هغه د غلبه اود هغه دعلم قائل شئی.خبره دا ده چه که د دې زمانې کافروی که د وړاندې زمانووی خوزړونه د ټولويودی ژبې هم يودی کوم بکواس چه د وړاندينو وې هغه د دې روستونوهم دې چه مړه کيدوسره خاورې کيدونه پس صرف دسخاشوی هډوکوپه شکل کښې دباقی پاتې کيدونه پس په نوی پيداکيدوسره به پيداکولې شی په عقل کښې نه راځی.مونږته هم دغه اوونيلې شو زمونږ پلاران اونيکونه ئې هم په دې اوويرول خومونږ يومړې هم په ژوندې کيدو باندې اونه ليده مونږخوپوهيږو چه دا صرف بکواس دې. بل آيت کښې دی هغوی اوونيل چه کله مونږ سخا هډوکی شو هغه وخت به هم بيا راژوندی کولې شو؟ الله ﷻ اوفرمائيل چه کومه خبره تاسونه کيدونکې ګڼړئې نوپه يوآواز سره به اوشی او ټوله دنيابه زمونږ په وړاندې په يو ميدان کښې راجمع شی. په سورت يس کښې هم دا اعتراض اوجواب دې چه آياانسان نه ګوری چه مونږ د نطفې نه پيداکړې بيا هغه ضدی او جنجالې جوړشواوخپل پيدائش ئې هيرکړو اوپه مونږ باندې اعتراضونه کولوسره مثالونه ورکوی چه دا سخاشوی هډوکی به ځوك اوسوزوی؟ اې نبی ﷺ ته دوی جواب ورکړه چه دوی به د يونوې سر نه هغه الله ﷻ راپيداکړی چا چه دوی په اول ځل راپيداکړی وو اوچه د هرځيز پيداکولو عالم دې. [۴]

[۱] الطبرانی:۲۰۳۸ وسنده حسن، حاکم: ۳۹٤/۳.
[۲] صحيح بخاری کتاب التفسير سورة الروم:٤۷۷٤، صحيح مسلم:۲۷۹۸، احمد:۳۸۰/۱، ترمذی:۳۲۵٤.
[۳] ۱۲/يوسف:۱۰۳.
[۴] ۳٦/يس:۷۷-۷۹.

قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ

| ورته اووایه | چالره ده | دا زمکه

(ائې پیغمبره) ته ورته اووایه چې بنه دا زمکه

وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ۝ سَيَقُوْلُوْنَ

او هغه مخلوقات چې په دې کښې دی | که چرې یئ تاسو | چې پوهیږئ | ضرور به اووائی دوی

اوددې دپاسه اوسیدنکی خلق ټول دچا مخلوق دي |که تاسو ترې نه خبر یئ |دوی به ضرور اووائی

لِلّٰهِ ط قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ۝ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ

چې الله لره دی | ورته اووایه | ایا نو تاسو نصیحت نهٔ قبلوئ | اووایه | څوک دې | رب داسمانونو

چې داټول د الله ﷻ مخلوق دي|نو ورته اووایه چې نوبیا فکر پرې ولې نه کوئی |ورته اووایه چې د

السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ۝ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ط قُلْ

اوود | او درب | دعرش | لوئ | ضرور به اووائی دوئ | الله لره دی | ورته اووایه

اووهٔ اسمانونو رب څوک دي | اود لوئې عرش مالک څوک دي | دوئ به جواب اوکړی چې دا هرڅه

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ۝ قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ

ایا نو تاسو یریږئ نه | ورته اووایه | څوک دي | چې په لاس دهغه کښې | بادشاهی |

دالله دی|نوورته اووایه چې تاسو ترې نه ولې نه ویریږئی|ورته اووایه چې هغه څوک دی چې په لاس کښې یئ

كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيْرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ

دهرڅیز ده | او هغه | پناه ورکوی |اونهٔ شی ورکولې څوک پناه |په مقابله دهغه کښې |که یئ تاسو

دهرڅیز اختیار دي |اوهغه پناه ورکوی | اودهغه په مقابله کښې څوک چاته پناه نشی ورکولې

تَعْلَمُوْنَ۝ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ط قُلْ فَاَنّٰى

چې پوهیږئ | ضرور به اووائی دوئ | چې دا اختیار الله لره دي | ورته اووایه | نو بیا څنګه

که چرې تاسو پوهیږئی | نوبه وائې چې الله ﷻ ! | نو ورته اووایه چې بیا په تاسو د کوم طرفه

تُسْحَرُوْنَ۝ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ۝

دوکه کیږئ | بلکه راوړې دي مونږ دوئ ته | حق | او بیشکه چې دوئ | دروغژن دی

جادو کولې شی ؟ |بلکه مونږ دوئ ته حقه خبره رسولې ده|اودوئ یقیننادروغژن دی

**قوله تعالی:- سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ط**

**مشرکانوبه هم الله ﷻ خالق اومالک منلو:-** الله ﷻ جل وعلاد خپل وحدانیت خالقیت تصرف اوملکیت ثبوت ورکوی دې د پاره چه معلومه شی چه معبودبرحق صرف هم هغه دی دهغه نه بغیردبل چا عبادت نه دی کول پکار.هغه یودې بغیردشریك نه دې. نوخپل عزت مندرسول اللهﷺ ته حکم ورکوی چه ته دې مشرکانونه تپوس اوکړه نوهغوی به په صفاالفاظوسره دالله ﷻ درب کیدو اقرار اوکړی اوبه هغې کښې به هیڅ څوك شریك نه کنړی. ته هم د دوی جواب واخله اودوی قائل کړه چه کله خالق اومالك صرف الله ﷻ دې دهغه نه علاوه بل معبودنشته نو بیا هغه خان له څنګه معبود نه شی کیدې؟ د هغه سره د

Scanned with Ca

نوروعبادت ولې کولې شی؟ واقعه هم دا ده چه هغوی خپل معبودان هم دالله ﷻ مخلوق اودالله ﷻ مملوك گنړل خودوی دالله ﷻ مقربان گنړلوسره په دې نیت عبادت کولو چه هغوی به مونږ هم د الله ﷻ په دربارکښې مقرب کړی. حکم کولې شی چه د زمکې اود زمکې دټولوځیزونومالك څوك دې؟د دې په بابت د دې مشرکانونه تپوس اوکړه د دوی جواب به هم دا وی چه هم هغه وحده لاشریك له دې. اوس ته بیادوی ته اووایه چه سره د دې اقرار کولوبه تاسوبیا هم دا نه گنړئی چه د عبادت لائق هم هغه یو الله دې ځکه چه خالق اورازق هم هغه دې. بیا تپوس اوکړه چه د دې اوچت اولوئ آسمان جوړونکې خالق څوك دې چه دعرش غونډې زبردست ځیز رب دې؟ کوم چه د مخلوق چت دې. لکه چه حضورﷺ ارشاد فرمائیلې دالله ﷻ ډیرلوئ شان دې د هغه عرش په آسمانونوباندې داسې دې حضورﷺ د خپلو لاسونو نه یوگنبدغونډې جوړکړو وئی خودل(۱) بل حدیث کښې دی اووه واړه آسمانونه اووه زمکې اود دې ټول مخلوق دکرسئی په مقابله کښې داسې دی لکه چه په یوکولاوهوارمیدان کښې یوه گوتمه پرته وی. اوکرسئی سره ددې ټولوځیزونو دعرش په مقابله کښې هم داسې ده.دبعضې سلفونه نقل دی د عرش د یوطرف نه دبل طرف پورې لریوالې دپنځوسو زروکالوپه مسافت دې.اوداوومې زمکې نه ددې اوچت والې دپنځوسوزروکالوپه مسافت دې. دعرش نوم د دې د اوچتوالی په وجه عرش دې. د کعب احبار ﷺ نه روایت دې چه آسمان د عرش په مقابله کښې داسې دې لکه چه یوفانوس د زمکې اوآسمان په مینځ کښې وی. د مجاهد قول دې چه آسمان اوزمکه د عرش په مقابله کښې داسې دی لکه چه یوگوتمه په یولوئ اوهوار میدان کښې پرته وی. ابن عباس ﷺ فرمائی چه دالله ﷻنه بغیردعرش د قدر اوعظمت باره کښې څوك هم اندازه نه شی لګولې. د بعضې سلفوویناده چه عرش د سرو یاقوتو دې. په دې آیت کښې عرش عظیم وئیلې شوې دې اود دې سورت په آخره کښې عرش کریم وئیلې شوې دې. یعنی ډیر لوئ اود ډیر زیات ښائست والا نواوړدوالې پلنوالې کولاووالی عظمت حسن اوښه والې ډیر زیات اعلی اواوچت دې په دې وجه خلقو دې ته دسرو یاقوتو وئیلې دې.د ابن مسعودﷺ قول دې ستاسو رب سره شپه ورځ هیڅ نه وی دهغه دعرش نور د هغه د مخ د نور نه دې. غرض داچه د دې سوال جواب هم هغه دا ورکوی چه د آسمان اوعرش رب هم الله ﷻ دې نو ته اووایه چه تاسو ولې د هغه د عذابونو او سزاګانونه نه ویرېږئی؟ چه د هغه سره د نورو عبادتونه کوئی.

**د زمانه جاهلیت د یوې موحدې ښځې قصه:**-په کتاب التفکروالاعتبارکښې امام ابوبکر ابن ابی الدنیا یو حدیث راوړلې دې چه رسول الله ﷺ به عموماً داحدیث بیانولو چه د جاهلیت په زمانه کښې یوې ښځې دغره په څوکه چیلئی څرولې هغې سره دهغې څوئ هم وو. یوځل هغه دخپلې مورنه تپوس اوکړو مورې ته چا پیداکړې ئې؟ هغې وئیل الله، وئیل زما پلار چا پیداکړې؟هغې وئیل الله. تپوس ئې اوکړو زه چاپیداکړې یم؟ هغې وئیل الله. ماشوم تپوس اوکړو اودا آسمانونه؟ هغې وئیل الله.تپوس ئې اوکړو دازمکې؟ جواب ئې ورکړو داهم الله ﷻ. بیائې تپوس اوکړومورې داغرونه چا جوړکړی دی؟مور جواب ورکړو ددې خالق هم الله ﷻ دې.تپوس ئې اوکړوزمونږ د دې چیلوپیداکونکې څوك دې؟مورئې وئیل هم دغه الله ﷻ. هغه وئیل سبحان الله دالله ﷻ دومره لوئ شان دې؟ بیادهغه په زړه کښې دالله ﷻ دومره عظمت کیناستو چه هغه په رچیدو شو اودغرنه پریوتلو اوروح ئې لاړو.ددې یوراوی لږ شان ټیك نه دې. والله اعلم. تپوس اوکړه چه د ټول ملك مالك اودهرځیز مختارڅوك دې؟ دحضور ﷺ قسم په عام توګه هم په داسې خبروکښې شوې دې چه دهغه ذات قسم د چا په لاس کښې چه زما ځان دې کله چه به ئې څه تاکیدی قسم خوړلو نوفرمائیل به ئې چه دهغه قسم چه دزړونومالك اودهغې ګرځونکې دې. (۲)

۱) ابوداؤد کتاب السنة باب فی الجهمیة:۴۷۶۶
۲) صحیح بخاری کتاب الایمان والنذور باب کیف کانت یمین النبی ﷺ:۶۶۲۸، ابوداؤد۳۲۶۳، ترمذی:۱۵۴۰، احمد:۲/۲۵

Scanned with Ca

بیاداهم تپوس اوکړه چه هغه څوك دې چه ټولوته پناه ورکوی؟اود هغه پناه څوك ماتولې نه شي اود هغه په مقابله کښې څوك چاته پناه نه شی ورکولې. د چا د پناه هغه پابندنه دې یعنی دومره لوئ سیدو مالك چه ټول مخلوق ټول ملك اوحکومت د هغه په لاس کښې دې اوښایه هغه څوك دې؟ په عربوکښې رواج وو چه د قبیلې سردار به چاله پناه ورکړه نوټوله قبیله به د هغې پابندوه خوکه په قبیله کښې څوك دچا په پناه کښې راغله نوپه سرداربانديې دهغې پابندی نشته. دلته د الله ﷻ عظمت اوسلطنت بیانولې شی چه هغه قادرمطلق او حاکم کل دې. د هغه اراده څوك بدلولې نه شی د هغه یوحکم روستوکولې نه شی. د هغه نه څوك تپوس پوښتنه کولې نه شی د هغه د مرضئی نه بغیرپاڼره خوزیدلې نه شی. که هغه د ټولونه تپوس پوښتنه اوکړی خود چا طاقت نشته چه د هغه نه څه سوال اوکړې شی. دهغه عظمت د هغه لوئی اودهغه غلبه د هغه دباؤ د هغه قدرت د هغه عزت اوحکمت د هغه ډیرزیات عدل اوبې مثال دې ټول مخلوق د هغه په وړاندې عاجز ښکته اوبې وسه دې رب د ټول مخلوق تپوس کونکې دې. د دې سوال جواب هم هغه سره بغیرد دې نه بل هیڅ نه دې چه هغوی اقراراوکړی چه دومره لوئ بادشاه داسې خودمختارهم هغه یوالله دې.ورته اووایه بیاپه تاسو څه راپریوتلی دی؟په تاسوداسې کوم یوجادو شوې دې چه سره ددې اقرار کولو هم د نورو عبادتونه کوئی. مونږ خود هغوی په وړاندې حق راوړو توحید ربوبیت سره سره ئې توحیداولوهیت بیان کړوصحیح دلیلونه اوصفا خبرې وراورسولې اود هغوی غلط ویناکول ښکاره کړه چه دوی په شریکانو جوړولوکښې دروغژن دی اود هغوی دروغژن کیدل پخپله د هغوی د اقرارنه ښکاره دی. لکه چه د سورت په آخره کښې اوفرمائیل د الله ﷻ نه بغیر نورو ته د آواز کولو هیڅ سندنشته([1])الخ صرف د پلارانوانیکونو په تقلیدباندې کلك ولاړدی اوداوائی هم چه مونږ خپل مشران هم په دې باندې لیدلی دی اومونږ د هغوی تقلید نه شو پریخودې.

<table>
<tr><td>مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ   مِنْ وَّلَدٍ   وَّمَا كَانَ   مَعَهٗ   مِنْ اِلٰهٍ   اِذًا</td></tr>
<tr><td>نه دې نیولې الله | هیڅوك څوئې | او نشته | دهغه سره | بل څوك معبود | که داسې وې</td></tr>
<tr><td>الله ﷻ هیڅوک ځان له څوئې کړې نه دې |اونه هغه سره بل څوک معبود شریک شته ،| که</td></tr>
<tr><td>لَّذَهَبَ   كُلُّ اِلٰهٍۢ   بِمَا   خَلَقَ   وَلَعَلَا</td></tr>
<tr><td>نو بوتلې به وې | هر معبود | هغه مخلوق | چی پیدا کړې ئې وؤ | او خامخا به غلبه کولې</td></tr>
<tr><td>داسې وې نو هر یو معبود به خپل مخلوق ځان له بیل کړې ووا او بیا به ئې</td></tr>
<tr><td>بَعْضُهُمْ   عَلٰى بَعْضٍ ؕ   سُبْحٰنَ اللّٰهِ   عَمَّا   يَصِفُوْنَ ۙ﴿۹۱﴾   عٰلِمِ</td></tr>
<tr><td>خینو دهغوئ | په خینو باندې| پاکی دالله ده | دهغه خبرونه | چی بیانوئ ئې دا خلق| عالم دې</td></tr>
<tr><td>په یو بل باندې حملې کولې ،| الله ﷻ دهغه خبرونه پاک دې | د کومو خبرو چه دوی هغه ته نسبت کوی</td></tr>
<tr><td>الْغَيْبِ   وَالشَّهَادَةِ   فَتَعٰلٰى   عَمَّا   يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ ع</td></tr>
<tr><td>په پټو | او په ښکارو باندې | پس ډیر اوچت دې | دهغه څیز نه | چی شریکوی ئې داخلق (ورسره)</td></tr>
<tr><td>هغه په پټو او څرګنده ټولو خبرو باندې ډیر ښه عالم دې |اود دوی دشرک دخبرونه پاک دې</td></tr>
</table>

[1] ۲۳/المؤمنون: ۱۱۷.

Scanned with Ca

**قوله تعالى:- مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ**

**دآسمانونواوزمکو نظام هم د الله ﷻ په لاس کښې دې:-** الله ﷻ دې نه خپل اوچتوالې اوبزرګی بیانوی چه دهغه دې اولاد وی یاد هغه شریك. ملك کښې تصرف کښې عبادت کښې په مستحق کیدوکښې هغه یوازې دې نه دهغه څوك اولاد شته اونه څوك شريك.که فرض کړه اومنلې شی چه ډیرخدایان دی نو هر یوخپل مخلوق مستقل مالك کیدل پکاردی نوپه موجوداتوکښې نظام قایم نه شی پاتې کیدلې ځکه چه دکائناتونظام مکمل دې. عالم علوی اوعالم سفلی دآسمان اوزمکې وغیره په کمال اوربط سره په خپل خپل کارکښې مشغول دی د خپل دستور نه یوانچ اخوادیخوا کیدې نه شي. نومعلومه شوه چه د دې ټولومالك اوخالق هم یوالله دې دانه چه ګډوډ اوډیردی.اود ډیروخدایانو منلوپه صورت کښې داهم ښکاره خبره ده چه هریو به بل ښکته اومغلوب کول او پخپله غالب اوزورآور کیدل غواړی که غالب راغلونومغلوب الله پاتې نه شو اوکه غالب رانغلونوهغه بیاپخپله الله نه دې.اوس دادواړه دلیلونه ښائی چه الله ﷻ هم یودې.دمتکلمینو په توګه دې دلیل ته دلیل تمانع وائی د دې تقریردادې که چرې دوه خدایان اومنلې شی یاد دې نه زیات نوپوبه د بدن د حرکت اراده کوی بل به ددې د سکون اراده کوی نواوس په دې حال کښې که د دواړو مراد حاصل نه شی نوبیاخو دواړه عاجز پاتې شو اوچه کله عاجز پاتې شو نوالله کیدې نه شی ځکه چه واجب خوعاجز نه وی. اودا هم ناممکن دی چه د دواړو مراد پوره شی ځکه چه د یوغوښتنه د بل خلاف ده نود دواړو مراد حاصلیدل محال دی اودا محال لازم شوې دې ځکه چه دوه یاددوونه زیات خدایان فرض کړې شوې وو.نوداشمیرباطل شو.اوس پاتې شودریم صورت چه د یوغوښتنه پوره شی اود یونه شی نوچه د کوم یو پوره شوهغه خوغالب او واجب شو اود کوم چه پوره نه شو هغه مغلوب اوممکن شو. ځکه چه د واجب داصفت نه دې چه هغه دې مغلوب شی نوپه دې صورت کښې هم دمعبودانو د زیاتوالی دا شمیر باطل شو. ثابته شوه چه الله ﷻ هم یودې. هغه ظالمان سرکشه اود حد نه تیریدونکی کافران مشرکان چه د الله ﷻ د پاره اولاد ګرځوی اود هغه شریکان ښائی د هغوی دې بیان کړې شوی صفتونونه د الله ﷻ ذات اوچت بزرګ اوخلاص دې. هغه هرهغه څیز پیژنی کوم چه د مخلوق نه پټ دې او هغه هم چه مخلوق ته ښکاره دې. نوهغه د دې ټولوشریکانونه پاك دې کوم چه منکران او مشرکان د الله ﷻ شریك ښائی.

قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿۹۳﴾

اووایه اے نبی | اے ربه زما | که چرې | ته ښائې ما ته | هغه عذاب | چې وعده ئې کیږی ددوی سره

ته ورته اووایه چې ائې زما ربه! | که ته ماته هغه عذاب خودل غواړې ادکوم چې دوئ سره وعده شوې کولې شی

رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَاِنَّا عَلٰٓى

اے ربه زما | پس مه شاملوه ما | په دې خلقو ظالمانو کښې | او بیشکه مونږه | په دې کار باندې

نو ائې زما ربه! ما په دې ظالمانو کښې مه شاملوه | ، اومونږ په دې

اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُوْنَ ﴿۹۵﴾ اِدْفَعْ

چې اوښایو تاته | هغه عذاب | چې مونږه یروؤ دوئ دهغې نه | خامخا قدرت لرونکی یو | دفعه کوه

خبره پوره قدرت لرو | چې کومه وعده مونږ دوئ سره کوو | هغه تاته اوښایو (ائې پیغمبره)

Scanned with Ca

| بِالَّتِيْ | هِيَ | اَحْسَنُ | السَّيِّئَةَ ؕ | نَحْنُ | اَعْلَمُ | بِمَا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| په هغه طريقه | چې هغه | ډيره ښه وی | بدیٔ لره | مونږه | ښه پوهيږو | په هغه خبرو |
| نه د بدۍ خبرې په جواب کښې هغه وايه کومه چې غوره ده \| او څه چې دوئ بيانوی | | | | | | |

| يَصِفُوْنَ ﴿٩٦﴾ | وَقُلْ | رَّبِّ | اَعُوْذُبِكَ | مِنْ هَمَزٰتِ |
|---|---|---|---|---|
| چې دوئ ئې بيانوی | او وايه | اے ربه زما | زۀ پناه غواړم په تا سره | دوسوسو (چيخولو) |
| هغه مونږ ته ډير ښه معلوم دی \| او دعا اوکړه چې ائې زما ربه زۀ د شيطانانو دسوسو نه | | | | |

| الشَّيٰطِيْنِ ﴿٩٧﴾ | وَاَعُوْذُ | بِكَ | رَبِّ | اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾ |
|---|---|---|---|---|
| دشيطانانونه | او زۀ پناه غواړم | په تا سره | اے ربه زما | چه دوئ حاضرشی ماته |
| په تاسره پناه غواړم \| او ائې زما ربه ! زۀ د دې خبرې نه هم په ستا سره پناه غواړم \| په تاسره پناه غواړم | | | | |

**قوله تعالى:- قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿٩٣﴾**

**د سختۍ په وخت کښې د دعا تعليم:**-د سختئ راتلو په وخت کښې د دعا تعليم ورکولې شی که ته په دې بدکارانو باندې عذاب راولې او زه په دوی کښې موجود يم نو ما د هغې نه بچ کړه. د مسند احمد او ترمذی په حديث کښې دی د حضور ﷺ په دعاګانو کښې به دا جمله هم وه يا الله چه ته کله يو قوم سره د فتنې اراده اوکړې نو ما په فتنه کښې د اچولو نه وړاندې اوچت کړه([1]) الله ﷻ د دې تعليم ورکولو نه پس فرمائی چه مونږ دا عذابونه تا ته په خودلو باندې قادر يو کوم چه پدې کافرانو باندې زمونږ د طرف نه راکوزيد ونکی دی.

**د بدئ جواب په نيکئ سره ورکول د همت کار دې:**-بيا هغه خبره ورښائی چه د ټولو مشکلاتو د لرې کونکې او رفع کونکې ده او هغه، دا چه د بدئ کونکو سره نيکی کوئی د دې د پاره چه د هغه دښمنی په محبت او نفرت په الفت کښې بدله شی. لکه چه بل آيت کښې هم دی چه ته ئی په نيکئی سره لرې کړه نو ځان دښمن به دې هم دوست، جوړ شی.([2]) خو دا کار د هغوی نه کيدې شی چه صبر کونکی وی يعنی د دې حکم پوره کول او د دې نيکئی حاصلول صرف د هغه خلقو نه کيدې شی چه د خلقو د تکليف برداشت کولو عادت شی سره د دې که هغوی بدی کوی خودې به ښيګړې کوی. دا صفت هم د هغه خلقو دې چه ډير د نصيب خاوند ان دی د دنيا او آخرت ښيګړه چه د چا په قسمت کښې وی.

**د شيطان نه د بچ کيدلو ترکيب، تعوذ:**-د انسان د بدئی نه د بچ کيدو ښکلې ترکيب خودلو سره د شيطان د بدئی نه د بچ کيدلو ترکيب ئې خودلې کيږی چه د الله ﷻ نه دعا اوکړئی چه هغه تاسو د شيطان نه بچ کړی ځکه چه د هغه د دهوکې د چل وسله تاسو سره د دې نه بغير بل څه نشته. هغه په ښه سلوك او احسان سره په وس کښې د نه راتلو بيان ، ونړ. د استعاذه په بيان کښې ليکلی دی چه حضور ﷺ ﴿اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم من همزه ونفخه ونفثه﴾ لوستل([3]) او زه پناه غواړم چه شيطان زما په يو کار کښې حائل شی او هغه ماته راورسی. نو د هر يو کار په شروع کښې د الله ﷻ ذکر د شيطان شامليدل بندوی خوراك څښاك جماع حلالول وغيره د ټولو کارونو په شروع کولو کښې اول د الله ﷻ ذکر کول پکار دی. په ابوداؤد کښې دی چه د حضور ﷺ يوه دعا دا هم وه ﴿اللهم انی اعوذبك من الهرم واعوذبك من الهدم ومن الغرق واعوذبك ان

---

[1]) ترمذی کتاب تفسير القرآن باب ومن سورة ص:۳۲۳۵ وسنده حسن، احمد:۲۴۳/۵.
[2]) ۴۱/فصلت:۳۴.
[3]) ابوداؤد کتاب الصلاة باب من رای الاستفتاح سبحانك اللهم وبحمدك:۷۷۵ وسنده حسن.

Scanned with Ca

يتخبطني الشيطن عند الموت﴾ (۱) اې الله ﷻ زه تانه د خراب بوډاوالی د خښبيدلوسره مرګ نه اوډوبيدلوسره مرګ نه پناه غواړم اود هغې نه هم چه د مرګ په وخت کښې شيطان ما دهوکه کړی.

**د خوب نه راتللو دعا:**-مسنداحمد کښې دی چه مونږ ته به رسول الله ﷺ يوه دعاخودله چه د خوب د تختيدو دمرض لرې کولود پاره مونږ د اوده کيدوپه وخت کښې اووايو ﴿بسم الله اعوذ بكلمات الله التامة من غضبه وعقابه ومن شر عباده ومن همزات الشياطين وان يحضرون﴾ د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ دستور ووچه په خپل اولاد کښې به کوم يوهوښيارکيدو نودا دعابه ئی ورخودله اوچه کوم به واړه او ناپوهه وو يادولې به ئی نه شوه نوهغوی ته به ئی دادعا په غاړه ليکلې زوړندوله. په ابوداؤد ترمذی او نسائی کښې هم دا حديث شته دې. (۲) امام ترمذی دې ته حسن غريب وائی.

| |
|---|
| حَتّٰۤى اِذَا — جَآءَ — اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ — قَالَ — رَبِّ — ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾ |
| ترهغې پورې کله چې راشي — ايو ددوئ ته — مرګ — نو وائی به — اے ربه زما — واپس اولېږه ما (دنياته) |
| چې هغوئ ماته راشی ترډې چې کله په دوئ کښې چاته مرګ راشی نووائی ائې زما ربه ! ما دوباره دنيا ته واپس کړه |
| لَعَلِّيْۤ — اَعْمَلُ — صَالِحًا — فِيْمَا — تَرَكْتُ — كَلَّا |
| اميد دې چې زهٔ — عمل اوکړم — نيک — په هغه دنيا کښې — چې پرېښودې ده ما — هرګز نهٔ |
| ددې دپاره چې کومه دنيا مې پرېخودې ده په هغې کښې څه نيک کارونه اوکړم اهيڅ کله نه ! |
| اِنَّهَا — كَلِمَةٌ — هُوَ — قَآئِلُهَا — وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ — بَرْزَخٌ |
| بيشکه دا — هسې يوه خبره ده — چې دې اويونکې دې دهغې — او روستو ددې مړو خلقو نه — پرده ده |
| داخو هسې يوه خبره ده چې دغه کافر ئې کوی — اود ددوئ مخې ته به يوه پرده وی اتر هغه |
| اِلٰى يَوْمِ — يُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾ |
| دهغه ورځې پورې — چې راپاسولې کيږی به دوئ |
| وخته پورې چې کله دوئ دوباره راژوندی کړې شی |

**قوله تعالى:**- حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ

**برزخ اوعذاب قبراو دمرګ وخت:**-بيان کولې شی چه د مرګ په وخت کښې کافران اوبدترين ګناهګاران به سخت پښيمانه وی اوپه حسرت او آرمان سره خواهش به کوی افسوس چه مونږ دنياته واپس کړې شو دې د پاره چه مونږ نيك اعمال اوکړوخوهغه وخت دا تمناکول فضول او بې حاصله ده. دغه شان په سورت منافقون کښې اوفرمائيلې شوکوم چه مونږ درکړی زمونږ په لارکښې ورکونی د هغې نه وړاندې چه په تاسو کښې د چامرګ واقع شی اوهغه وخت هغه وائی چه ياالله لږ شان وخت راکړه نوزه به صدقه اوخيرات اوکړم اونيك به جوړ شم خود اجل راتلوسره چاته مهلت نه شی ورکولې ستاسو د ټولو عملونو نه الله ﷻ خبردار دې(۳) هم د دې مضمون نور هم ډېر آياتونه دی. مثلا ﴿يَوْمَ يَأْتِيْهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

---

(۱) ابوداؤد كتاب الوتر باب في الاستعاذة:۱۵۵۲ وسنده حسن، نسائي:۵۵۳۴.

(۲) ابوداؤد كتاب الطب باب كيف الرقى:۳۸۹۳.

(۳) ۶۳/المنافقون: ۱۰-۱۱.

Scanned with Ca

رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴾ (۱) او ﴿ يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُ يَقُولُ الَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوا لَنَا أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ (۲) او ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴾ (۳) او ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ (۴) او ﴿ وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ﴾ (۵) او ﴿ قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴾ (۶) اودې نه پس ايت ﴿ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴾ (۷) وغيره. په دې آياتونو كښې بيان شوې دې چه داسې بدكاران خلق مرګ اووينى د قيامت په ورځ د الله ﷻ په وړاندې د پيشنى په وخت به د دوزخ مخامخ اودريږی اودنياته به واپس د راتلوخواهش كوی اود نيكواعمالوكولووعده به كوی خو په هغه وخت كښې به ددوی غوښتنه نه شی پوره كولې. داخو هغه كلمه ده چه د مجبورئی په صورت كښې او په داسې سخت وخت كښې د هغوی د خلې نه اوځی اودا هم چه دوی وائی خود كولونه دی. كه دنياته واپس هم كړې شی نونيك عمل به نه كوی بلكه هم داسې به وی چه څنګه وو.داخودروغژن دی. څومره مبارك دې هغه سړې چه په دې ژوندون كښې نيك عمل اوكړی اوڅنګه بدنصيبه دی دا خلق چه نن نه هغوی مال اولاد غواړی نه دنيااو ښائست د دنياصرف دا غواړی چه يودوه ورځې ژوندون دې نوروی نوڅه نيك اعمال به اوكړی خوتمنائى بې كاره طلب ئى بې فائدې او غوښتنه ئى بې ځايه ده. دا هم روايت دې چه د دوی په غوښتنه به الله ﷻ دوی اورټی او فرمائى به چه داهم ستاسوخبره ده عمل به بيا هم نه كوئی.

**هر مؤمن لره د كافرانو د خواهشاتو نه عبرت اخستل پكار دی:-** علاء بن زياد څه ښه خبره فرمائيلې ده هغوی فرمائى چه تاسو داسې اوګڼړئى چه زمامرګ راغلې ووخومادالله ﷻنه دعااوكړه چه ماته يو څو ورځې مهلت راكړه دې د پاره چه زه نيكئى اوكړم. الله ﷻ ماته مهلت راكړې دې نواوس ماله پكاردی چه په كولاوزړه سره نيكئى اوكړم.قتاده فرمائى چه دكافر اميداوارمان يادساتئى اوپخپله د ژوند ګهړئى د رب په تابعدارئى كښې تيروئى. ابوهريره ؓ فرمائى كله چه كافر په خپل قبركښې كيخودې شی اوخپل د دوزخ ځائ اووينى نو وائی چه زما ربه ماواپس كړه زه به توبه اوكړم اونيك اعمال به كوم. جواب به وركولې شی چه څومره عمر تاته در كړې شوې ووتاختم كړې دې. بياد هغه قبر راغونډشی او تنګ شی اوماران اولړمانان ورپورې اونخلی.

**د قبر خطرناك حالت:-** عائشه صديقه k فرمائى په ګناهګارانو باندې د هغوی قبرونه ډيردمصيبت ځائ جوړيږی.دهغوی په قبرونوكښې تور ماران هغوی له ټكونه وركوی. په كوم كښې چه يوډير لوئ د هغه سر ته ناست وی اويوهم دومره لوئ د پښوطرف ته وی. هغه د سرد طرف نه ټكونه وركوی پورته ختل شروع كوی اودابل دپښوڅ طرف نه ټكونه وركوی اوپورته ختل شروع كوی تردې چه مينځ ته راورسی

(۱) ۱۴/ابراهيم:۴۴.
(۲) ۷/الاعراف:۵۳.
(۳) ۳۲/السجدة:۱۲.
(۴) ۶/الانعام:۲۷-۲۸.
(۵) ۴۲/الشورى:۴۴.
(۶) ۴۰/غافر:۱۱.
(۷) ۳۵/فاطر:۳۷.

Scanned with Ca

اودواړه یوځای شي.نودادې هغه برزخ چرته به چه دوی د قیامته پورې وی.د ﴿مِن وَرَآئِهِم﴾ معنی کړې شوې ده چه دهغوی په وړاندې برزخ یوپرده ده ددنیااوآخرت په مینځ کښې. هغوی خونه په صحیح توګه په دنیاکښې دی چه اوخوری اوڅکی اونه په آخرت کښې دی چه د اعمالوپه پوره بدله کښې راشی بلکه هم په مینځ مینځ کښې دی. نو په دې آیت کښې ظالمان ویرولې شی چه دوی ته په په عالم برزخ کښې هم ډیر سخت عذاب وی.لکه چه ارشاد دې ﴿مِن وَرَآئِهِم جَهَنَّمُ ۖ وَلَا يُغْنِي عَنْهُم مَّا كَسَبُوا شَيْئًا وَلَا مَا اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾(۱) دهغوی په وړاندې دوزخ دې. بل آیت کښې دی﴿وَمِن وَرَآئِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ﴾ (۲) دهغوی په وړاندې ډیر سخت عذاب دې.د برزخ اوقبرداعذاب به دقیامت د قایمیدوپورتې برابر په هغوی جاری وی لکه چه په حدیث شریف کښې دی هغوی به برابرپه دې عذاب کښې وی یعنی په زمکه کښې. (۳)

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ

انو بیا کله چی | پوکې اووهلې شی | په صور کښې

انو څه وخت چې شپیلئ پوک وهلې شی

فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿١٠١﴾

نو نۀ به خپلولی پاتې وی | په منځ ددوئ کښې | په دغه ورځ | اونۀ به تپوس کوی دیوبل نه

نو نه بۀ ددوئ ترمینځه خپلولئ پاتې وی |او نه به څوک دچاتپوس کوی

فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾

نو هغه څوک | چی درنې شوې | تلې دهغه | نو دغه کسان چی دی | هم دوئ | کامیاب دی

خو چې دچا (دعمل) تله درنه شی |نو هغه کسان به کامیاب شی

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا

اوهغه څوك |چی سپکې شوې | تلې دهغه | نو دغه کسان|هغه کسان دی |چی په نقصان کښی واچوځ هغوئ

او د چا (دعمل) تله چې سپکه شی |نودا به هغه خلق وی چې خپل ځانونه ئې دخپله لاسه

أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ

ځانونه خپل | په دوزخ کښی به | همیشه وسی | سیزی به | مخونه دهغوئ | وور | او هغوئ به

په تاوان کښې اچولی وو|او همیشه به په دوزخ کښې وی|(ددوزخ) اور به ددوئ مخونه سوزوی |اوهلته به

فِيهَا كَالِحُونَ ﴿١٠٤﴾

په هغې کښی | بدمخی وی |

ددوئ مخونه وران شی|

---

۱) ۴۵/الجاثیة:۱۰.
۲) ۱۴/ابراهیم:۱۷.
۳) ترمذی کتاب الجنائز باب ماجاء فی عذاب القبر:۱۰۷۱وسنده حسن.

Scanned with Ca

قوله تعالى:- فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ

**دَ میدان حشر نقشه او د سختو حالاتو تذکره:-** -کله چه د راژوندی کیدو شپیلئی پوك وهلې شی اوخلق د خپلوقبرونونه راژوندی شی راپاسی نوپه هغه ورځ به نه رشتې اوخپلولئی باقي پاتې شی اونه به څوك دچانه تپوس کوی نه به د پلار په اولادباندې شفقت وی اونه به اولاد دپلار غم خوری.عجیبه ځان ځانی به وی. لکه چه ارشاد دې یودوست به دبل دوست نه سره دلیدونه هیڅ تپوس پوښتنه نه کوی( [1] ) صفابه ګوری نیزدې سرې به وی په مصیبت کښې دې د ګناهونو په بوج کښې ورخښ دې خود هغه طرف ته به ګوری هم نه اونه به څه تپوس کوی بلکه سترګې به ترې واړوی. لکه څنګه چه پخپله په قرآن پاك کښې دی په هغه ورځ به سړې د خپل رورنه د خپلې مورنه دخپل پلارنه دخپلې ښځې نه اودخپلوبچونه لرې تختی( [2] )ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي دقیامت په ورځ به الله ﷻ وړاندینی روستنی ټول راجمع کوی بیابه یوآوازکونکې آواز کوی د چا چه څه حق د بل په ذمه وی رادې شی اود هغه نه دې خپل حق واخلی. نو که د چا حق د خپل پلار په ذمه وی یا د خپل اولاد په ذمه وی یاد خپلې ښځې به ذمه وی نوهغه به هم خوشحاله شی اوپه منډه به راځی اودخپل حق غوښتنه به شروع کوی( [3] )لکه چه په دې آیت کښې دی.

د مسنداحمدپه حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی فاطمه زما د زړه ټکړه ده کوم څیز چه هغه خفه کوی هغه ماهم خفه کوی اوچه کوم څیز هغه خوشحاله کړی هغه څیز ماهم خوشحالوی.دقیامت په ورځ به ټولې رشتې اوخپلولئی ماتې شی خوزما نسب اوزماحسب اوزما رشته دارئی به نه ماتیږی. ( [4] ) ددې حدیث اصل په بخاری اومسلم کښې هم شته چه حضور ﷺ فرمائیل فاطمه k زما د بدن ټکړه ده هغه خفه کونکې او تکلیف ورکونکې څیز ماخفه کونکې اوزماتکلیف کونکې دې. ( [5] )

**د رسول کریم صلی الله علیه وسلم رشته به فائده ورکوی خو بدعتی ته نه:-** مسنداحمد کښې دی رسول الله ﷺ په منبرباندې اوفرمائیل د خلقو څه حال دې چه وائی د رسول الله ﷺ رشته به هم قوم ته هیڅ فائده نه رسوی.والله زما رشته په دنیاکښې او په آخرت کښې ملاوشوې ده.اې خلقوزه ستاسو د سامان مشر یم کله چه تاسو راځئی نو یوسړې به وائی یارسول الله ﷺ زه فلانکې خوئ د فلانکی یم زه به جواب ورکړم چه او نسب خودې ما اوپیژندلو خوتاسو خلقو زما نه پس بدعتونه راپیداکړی وو او په شابیرته مرتد شوی وئی( [6] )مسنداميرالمؤمنين عمربن خطاب رضی الله عنه کښې مونږ دا روایت په څو سندونوسره روایت کړې دې چه کله هغوی ام کلثوم بنت علی بن ابی طالب سره نکاح اوکړه نو فرمائیلې والله زما دې نکاح سره صرف داغرض وو چه ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه د قیامت په ورځ به هر یو حسب نسب کټ شی خوزما حسب اونسب. دا هم روایت دې چه هغوی د دې مهر د تعظیم او بزرګئی په وجه څلوېښت زره مقرر کړې وو. ابن عساکر کښې دی چه حضور ﷺ فرمائیل ټولې رشتې خپلولئی اودسخرګنئی تعلقات به بغیرزما د داسې تعلقاتونه د قیامت په ورځ پرې کیږی. په یوبل حدیث کښې دی ماد الله ﷻ نه دعااوکړه چه کوم ځای زما نکاح شوې ده هغه ټول دې په جنت کښې هم ماسره وی نوالله ﷻ زما دعاقبوله کړه.دچاچه یوه نیکی هم دګناهونونه زیاته شوه هغه کامیاب شود دوزخ نه آزاد

---

[1] ) ۷۰/المعارج:۱۰.
[2] ) ۸۰/عبس:۳٤.
[3] ) الطبری:۱۹/۷۲.
[4] ) احمد:٤/۳۲۳وسنده حسن، مجمع الزوائد:۹/۲۰۳، حاکم:۳/۱۵۸.
[5] ) صحیح بخاری کتاب النکاح باب ذب الرجل عن ابنته فی الغیرة والانصاف:۵۲۳۰، صحیح مسلم:۲٤٤۹، ابوداؤد:۲۰۷۱، ترمذی:۳۸٦٦،ابن ماجة:۱۹۹۸، احمد:٤/۳۲۸.
[6] ) احمد:۳/۱۸.

Scanned with Ca

اوجنت کښې داخل شو اوخپل مراد ته اورسیدو اود څه نه چه ویریدو د هغې نه بچ شو اود چا بدنی چه د نیکونه زیاتې شوې هغه هلاك شو او په نقصان کښې شو.حضورﷺ فرمائی د قیامت په ورځ به یوه فرښته په تله باندې مقرر وی چه هریوانسان به مینځ ته راولی اوتلې سره به ئې اودروی بیابه نیکې او بدی تللې شی که نیکی زیاته شوه نو په اوچت آواز به اعلان کولې شی چه فلانکې ځوئ د فلانکې خلاصې بیاموندلو اوس به دې نه پس هیڅ هلاکت ده له نه راځی اوکه بدی زیاته شوه نو آواز به کوی ټولوته به ئې اوروی وائی به فلانکې د فلانکی ځوئ هلاك شو.اوس هغه دښیګړې نه محروم شو.ددې سندضعیف دې.داؤد بن حجر راوی ضعیف اومتروك دې.داسې خلق به همیشه په دوزخ کښې وی د دوزخ اُوربه دهغوی مخ اوسیزی.مخونه به سیزی اوشاګانې سوزوی دوی به بې وسه وی اُوربه نه شی اخواکولې.حضور ﷺ فرمائی هم رومبنی لمبه به دهغوی ټوله غوښه اوڅرمن دهغوی دهډوکونه جدا کړې د هغوی په قدمونو کښې به راپریوځی.هغوی به هلته بد شکله وی غاښونه به ئې راوتلې وی شونډې به ئې پورته ختلې وی اوښکته به راپریوتې وی. بره شونډه خو به ئې تالو ته رسیدلې وی اود لاندې شونډه به ئې نامه ته رسیدلې وی. ([1])

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَلَمۡ تَکُنۡ | اٰیٰتِیۡ | تُتۡلٰی | عَلَیۡکُمۡ |

| آیا نهٔ وۀ | آیتونو زما | چی لوستلې کیدل به | په تاسو باندې |

| آیا زمونږ ایاتونه بهٔ تاسو ته نشو لوستلې |

| فَکُنۡتُمۡ | بِهَا | تُکَذِّبُوۡنَ۝ | قَالُوۡا | رَبَّنَا | غَلَبَتۡ |

| نو وی تاسو | هغې لره | چې دروغ به مو ګنړل | اوبه وائی کافران | اے ربه زمونږه | غالبه شوی وه |

| نو تاسو به هغه دروغژن ګنړل . | هغوی بهٔ وائی چې ائې زمونږ ربه ! مونږ خپلې بدبختۍ |

| عَلَیۡنَا | شِقۡوَتُنَا | وَکُنَّا | قَوۡمًا | ضَآلِّیۡنَ۝ | رَبَّنَآ | اَخۡرِجۡنَا |

| په مونږ باندې | بدبختی زمونږه | اووۀ مونږه | یو قوم | بې لارې | اے ربه زمونږه | اوباسه مونږه |

| راګیر کړې ووا اومونږ دلارې نه بې لارې شوی خلق وو. | ائې زمونږه ربه ! اوس مونږ ددې دوزخ نه |

| مِنۡهَا | فَاِنۡ | عُدۡنَا | فَاِنَّا | ظٰلِمُوۡنَ۝ |

| ددې دوزخ نه | نو که چرې | دوباره اوکړو مونږه (هغه قصور) | نو بیشکه مونږه | به ظالمان یو |

| اوباسه |............که مونږ دوباره داسې کارونه اوکړو | نو بیشکه مونږ به ظالمان یو |

**قوله تعالی:-اَلَمۡ تَکُنۡ اٰیٰتِیۡ تُتۡلٰی عَلَیۡکُمۡ**

**قیامت کښې کافرانو ته سخته رټنه او دَ کافرانو پښیمانتیا:-** -کافران به د هغوی د کفر په وجه د ګناهونو په وجه اودهغوی دنه منلوپه وجه د قیامت په ورځ سخته رټنه وی ددې بیان کولې شی چه هغوی ته به الله ﷻفرمائی چه زما ستاسوطرف ته رسولان درلیګلی وو په تاسوته مې کتابونه نازل کړی وو ستاسو شك شبه مې لرې کړې وه ستاسو هیڅ حجت مې باقې کړې نه وولکه چه ارشاد دې دې د پاره چه د خلقو عذرونه درسولانودراتلونه پس باقی پاتې نه شی([2])اوفرمائی چه مونږترکومې رسول اونه لیګویه عذاب کوو ئې نه([3]) یو بل آیت کښې دی کله چه دوزخ ته یوه ډله خی د هغه ځائ داروغه به تپوس کوی آیا

---

[1]) ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة المؤمنین:۳۱۷۶، مسندابی یعلی:۱۳۶۷، احمد:۸۸/۳، حاکم:۲۴۶/۲،

[2]) ٤/النساء:۱۶۵.

[3]) ۱۷/الاسراء:۱۵.

Scanned with Ca

تاسوله د الله ﷻ د طرف نه خبر ورکونکي نه وو راغلي؟[۱] هغه وخت به دابدنصيب خلق اقرارکوی چه بې شکه ستا حجت پوره شوې وو خو مونږ د خپلې بدقسمتئ او د زړه د سختوالی په وجه صحيح نه شو اوپه ګمراهئ باندې کلك ولاړ وو اوپه نيغه لاړلاړنه شو. اې الله اوس ته مونږ بيا دنيا ته واپس کړه که بيامو داسې اوکړه نوبې شکه مونږ ظالمان يواودسزاحقداريو. لکه چه ارشاد دې ﴿فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ﴾[۲] زمونږ دخپلو خطاګانو اقرار دې آيا اوس هم چرته د خلاصی لار ملاويدې شی؟ الخ خوجواب به ورکولې شی چه اوس تولې لارې بندې دی د عمل دار اوکور فنا شو اوس د بدلې کور او دار دې. د توحيدپه وخت کښې مو شرك کولو اوس د پښيمانتيانه څه مطلب؟

قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿۱۰۸﴾ إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ

اوبه وائی الله | ذليله اوسی | په دې کښی | او مه کوئ خبری زما سره | بيشکه | چی وه | يوه ډله |

الله ﷻ به اوفرمائی چې لرې شئ اهم په دې کښې پراته اوسئ اوماسره خبرې مه کوئی احقيقت دادې

مِّنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا

دبندګانو زما نه | چی وئيل به هغوئ | اے ربه زمونږه | ايمان راوړو مونږه | نو ببښنه اوکړه مونږ ته

چې زما دبندګانو يوه ډله وه اچې دا دعا به ئې کوله | ائی زمونږ ربه ا مونږ ا يمان راوړې دې انوته راته

وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا

او رحم اوکړه په مونږه | اوته | بهتره | درحم کونکونه ئې | نو اونيول تاسو هغوئ | په ټوقو سره

ببښنه اوکړه | او په مونږ رحم اوکړه | او ته دهر چا نه زيات رحم کونکې ئې | نو تاسو به هغوئ پورې ټوقې

حَتَّىٰ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِي وَكُنتُم مِّنْهُمْ

تر دې پورې | چی هير کړو هغوئ ستاسو نه | ياد زما | اووئ تاسو | چی په هغوئ پورې

کولې | تردې چې (دغې مشغوله) درنه زه هم هير کړې ووم | او تاسو لګيا وئې په هغوئ پورې مو

تَضْحَكُونَ ﴿۱۱۰﴾ إِنِّي جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا

به مو خندل | بيشکه زهٔ چی يم | بدله ورکړه ما هغوئ ته | نن ورځ | په سبب دهغې |

خنداګانې کولې | نونن ما هغوئ ته دصبر بدله دا ورکړه | چې صرف هغوئ

صَبَرُوا أَنَّهُمْ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿۱۱۱﴾

چی صبر اوکړو هغوئ | بيشکه هغوئ | خاص هم هغوئ | کاميابی موندونکی دی |

پوره پوره کامياب شول |

**قوله تعالى:- قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿﴾**

**په دوزخيانو باندې د الله ﷻ غصه:-** -کافران چه کله ددوزخ نه د وتلو خواهش کوی نو هغوی ته به جواب ملاويږی چه اوس خوبه تاسو په دې کښې په ذلت سره پراته ئې خبرداربيادا سوال زما نه اونه کړئ. افسوس دا به د رحمن کلام وی چه دوزخيان به د هرقسم خيرنه محروم کړی. (الله ﷻ دې مونږ بچ کړی. اې درحمتونو والاپروردګاره مونږ دخپل رحمت په لمن کښې راپټ کړه. اود خپلې رټنې او غصې نه مو

---

[۱] ۶۷/الملك:۸.
[۲] ۴۰/غافر:۱۱.

Scanned with Ca

بچ کړه امین)ابن عمر ﷺ فرمائی چه دوزخیان به اول د دوزخ داروغه ګان راغواړی څلویښت کاله پورې
به هغوی ته چغې وهی خوهیڅ جواب به ورته نه ملاویږی څلویښت کاله پس به ورته جواب ملاویږی چه
تاسو هم دلته پراته اوسئی.دهغوی د چغوصورو خو به نه د دوزخ داروغه سره څه وقعت وی اونه الله ﷻ
سره.بیا به نیغ په نیغه الله ﷻ ته فریادکوی وائی به اې الله مونږدخپلې بدبختئی په وجه هلاك شو مونږ
پخپله ګمراهئی کښې ډوب شو اې الله اوس خومونږ له ددې ځایٔ نه خلاصې راکړه. که بیاهم مونږ هغه
خراب کارونه اوکړل نوچه څه سزا دې خوښه وی راکړه.ددې جواب به دوی ته ددنیا ددوچند عمرد وخت
پورې نه شی ورکولې.بیا به جواب ملاویږی چه درحمت نه لرې شئی خوار اوذلیل شئی او هم په دوزخ
کښې پراته اوسئی اوما سره خبرې مه کوئی. اوس به دوی ناامیده شی اود خرو غوندې چغې صورې به
وهی شور به کوی سوزیږی به اوریتیږی. هغه وخت به د هغوی مخونه بدل شی شکلونه به ئې وران شی
تردې چه بعضې مؤمنان به دشفاعت اجازت واخلی رابه شی خودلته به هیڅ څوك هم اونه پیژنی
دوزخیان به هغوی ته په کتو وائی چه زه فلانکې یم خودوی به جواب ورکړی غلط دی مونږ خوتانه
پیژنو.اوس به دوزخیان خلق الله ﷻ ته چغې وهی هغه جواب به ورته ملاوشی کوم چه پورته بیان شو.
بیابه ددوزخ دروازې بندکړې شی اودوی به هم هلته پراته وی.ددوی د شرمنده کولو اوپښیمانه کولود
پاره به دهغوی یوه زبردسته ګناه پیش کولې شی چه هغوی به دالله ﷻدمحبوب خلقوپورې توقې
مسخرې کولې اوددوی په دعاګانوپورې به مو خنداګانې کولې هغه مؤمنانو به دخپل رب نه رحمت او
بښنه غوښتله اواې ارحم الراحمین به ئې لوستلو اووئیلې خودوی به هغه په خنداګانو کښې الوزول او
دهغوی په بغض کښې به مودرب ذکرېریخودلواودهغوی په دعاګانواوعبادتونوپورې به موخندا ګانې
کولې لکه چه ارشاد ربانی دې ﴿إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ﴾[1] یعنی ګناهګارانو به
ایماندارانوپورې خنداګانې کولې اوهغوی پورې به ئې توقې کولې.اوس به الله ﷻ هغوی ته فرمائی ما
خپلوایماندار وصبرکونکوبندیګانوته بدله ورکړې ده هغوی نیك بختی سلامتیااو خلاصې بیاموندلو
او پوره کامیاب شول.

قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا لَبِثْنَا

اوبه وائی الله څومره | وخت تیر کړوتاسو | په زمکه کښې | په شمار دکلونو | اوبه وائی هغوئ | وخت تیر کړو مونږه
ته ورته اووایه چې (ښه) تاسو دکلونو په حساب څومره موده په دنیا کښې تیره کړې ده ؟ | هغوئ به اووائی چې

يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ إِن لَّبِثْتُمْ

یوه ورځ | یا څه حصه دورځې | پس تپوس اوکړه | دشمار کونکونه | اوبه وائی الله | چې وخت نهٔ دې تیر کړې تاسو
یوه ورځ قدربه پاتې شوی وو یا د ورځې څه لږه حصه به وه | دشمیر کونکونه تپوس اوکړه | (الله ﷻ)

إِلَّا قَلِيلًا لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١٤﴾ أَفَحَسِبْتُمْ

مګر | لږ | افسوس که چرې تاسواوئ تاسو | چې پوهیدلی وې په هغه وخت کښې | آیا نو ګمان کوئ تاسو
به اوفرمائی چې تاسو (په دنیا کښې ) ډیره نه بلکه لږه موده پاتې وې | که تاسو پوهیږئی آیا

أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾

چې بیشکه پیدا کړی یئ مونږ تاسو | فضول | او چې بیشکه تاسو | مونږ ته | نهٔ به راوستلې کیږئ واپس
ستاسو داخیال وو | چې مونږ تاسو بې فائدې پیدا کړی یئ | اوداچې تاسوبه مونږ ته نه واپس کیږئی

[1] ۸۳/المطففین:۲۹.

Scanned with Ca

| |
|---|
| فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ |
| پس ډیر اوچت دی \| الله \| چې بادشاه \| حقیقی دی\|نشته بل خدائې\|مګر \|هم هغه دی\| چې مالك دی |
| هغه الله ﷻ چې بادشاه حقیقی دی \|دهغه شان اوچت دی \| د هغه نه سوا بل معبود نشته |
| الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ﴿۱۱۶﴾ |
| دعرش \| عزتمند \| |
| هغه دعزت والا دعرش مالک دی \| |

**قوله تعالى:-** قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ۝

**د کافرانو دالله ﷻ نه سوال** :- بیان کولې شی د دنیاپه لړشان عمرکښې دوی بدکاروکښې اخته شوکه نیکان شوې وونو دالله ﷻ دنیکانوخلقوسره به ئی دخپلونیکوډیرلوئ اجر بیاموندلې وې.نن به د هغوی نه تپوس کولې شی چه تاسوپه دنیاکښې ځومره وخت پاتې وئی؟جواب به ورکولې شی چه ډیر کم یوه ورځ یا ددې نه هم کم د حساب پیژندونکوخلقو نه معلومه کړنی جواب به ملاؤ شی چه دومره موده یا ددې نه زیاته خوپه واقع کښې هغه د آخرت د مودې په مقابله کښې ډیره زیاته کمه ده که تاسو په دې پوهیدلنی نودې فانی له به موپه دې همیشه والی والا ژوند له ترجیح نه ورکوله اوبدی کولوسره په دې لږه شان موده کښې به مو الله ﷻ دومره نه خفه کولو.که دغه لږ شان وخت موپه صبربرداشت اود الله ﷻ په عبادت کښې تیرکړې وو نونن به مو راج کولو هم خوشحاله خوشحالی به وه.

**د مؤمنانو نه به هم دغه شان سوال کیږي**:-رسول الله ﷺ فرمائی کله چه جنتیان او دوزخ یان خپل خپل ځائ ته اورسی نوالله ﷻ به دمؤمنانونه تپوس کوی چه تاسوپه دنیاکښې ځومره موده پاتې شوئی؟ هغوی به وائی دغه یوه نیمه ورځ الله ﷻ به فرمائی چه بیاخوتاسو ډیر ښه پاتې شوئی چه د دومره لږو نیکوموودومره بدله بیاموئدله چه زمارحمت رضامندی اوجنت موحاصل کړو دهمیشه والی.بیابه د دوزخیانونه داتپوس کولې شی هغوی به هم دومره موده اوښائی نوالله ﷻ به اوفرمائی ستاسودا سودا ګړی خوډیره د نقصان ده چه په دومره موده کښې تاسو زما خفګان غصه او دوزخ واخستلو چرته به چه تاسو همیشه پراته ئی.

**انسان بې کاره نه دې جوړ کړې شوې** :-آیاتاسوخلقوداګنړئی چه تاسو بې کاره اوبې ارادې پیداکړې شوی ئی؟ستاسو په پیداکولوکښې هیڅ حکمت نشته؟ صرف د لوبوټوقود پاره تاسو پیدکړې شوی ئی چه د ځناورو په شان ټپونه وهنی ګرځئی؟ د ثواب اوعذاب مستحق نه ئی؟ داګمان غلط دې تاسود الله ﷻ د عبادت اود حکمونوپه ځائ راوړلود پاره پیداکړې شوی ئی. آیا تاسو داخیال کوئی بې پرواه شوی ئی چه ستاسو زمونږ طرف ته هډووپس کیدل نشته؟داهم ستاسو غلط خیال دی﴿اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى﴾([1]) ولې داخلق داګمان کوی چه دوی به داسې بې کاره پریخودلې شی؟ د الله ﷻ ذات د دې نه اوچت اوبزرګ دې چه هغه څه عبث کار اوکړی یابیکاره جوړول ورانول اوکړی هغه ریښتونې بادشاه د دې نه پاك دې اود هغه نه بغیرځوك معبودنشته. هغه دعرش عظیم مالك دې چه په ټول مخلوق باندې لکه د چت خوردې هغه ډیر ښائسته اوډیر ښکلې دې ښائسته شکل او نیکه نظاره ئی ده لکه چه ارشاد دې په زمکه کښې مونږ هره ښکلې جوړه پیداکړې ده. ([2])

---

[1]) ۷۵/القیامة:۳٦.
[2]) ۳۱/لقمان:۱۰.

Scanned with Ca

**د عمر بن عبدالعزيز دلسوزه خطبه**:-خليفة المسلمين اميرالمؤمنين عمر بن عبدالعزيز په خپله آخرى خطبه کښې دالله ﷻ دحمد اوثنا بيانولونه پس اوفرمائيل چه تاسوعبث اوبيکاره نه ئى پيدا کړې شوى او تاسو بې کاره نه ئى پريخودلى شوى يادساتئى د وعدې يوه ورځ ده په کومه کښې چه به پخپله الله ﷻ د فيصلې کولود پاره نازليږى. هغه په نقصان کښې پاتې شو هغه خساره اوچته کړه هغه بې نصيبه او بدبخته پاتې شو هغه محروم اوخالى لاس پاتې شوڅوک چه دالله ﷻ درحمت نه لرې شو اود جنت نه رامنع کړې شو.دکوم پلنوالى چه دټولوزمکواوآسمانونودې. آيا تاسو ته نه ده معلومه چه صبابه د قيامت په ورځ هغه درب د عذاب نه بچ شى د چا په زړه کښې چه د دغه ورځې ويره وى اوڅوک چه دا فانى دنياپه هغه باقى آخرت باندې قربان کوى. دا لړه د هغه ډيرې د حاصلولود پاره بې پرواه خرچ کوى اوخپلې دې ويرې ته د امن په بدلولو کښې سامان راپيداکوى. آيا تاسو نه ګورئى چه تاسو نه وړاندې هلاك شو د چا په ځاىٔ چه اوس تاسو ئى دغه شان به تاسو هم ختم کړې شئى اوستاسو په ځاىٔ به نور راتلونکى راځى تردې چه يووخت به راشى چه دا ټوله دنيا به راغونډه شى اود هغه خيرالوارثين په درباركښې به حاضرى وركړى. خلقو خيال خو اوكړئى چه تاسو شپه ورځ خپل مرګ ته نيزدې كيږئى اوپخپلوقدمونوخپلوقبرونوته روان ئى.ستاسو ميوې پخيږى اوستاسواميدونه ختميږى ستاسو عمرونه پوره کيږى ستاسو اجل نيزدې راغلې دې تاسو به د زمکې په کندوکښې خښولې شئى چرته چه به نه بستره وى اونه تکيه دوستان اوملګرى به درنه پاتې شى حساب كتاب په شروع شى. هغه عملونه به مخې ته راشى کوم چه مو پريخى دى هغه به د نورو شى کوم چه مو وړاندې ليګلى دى هغه به مخې ته وينئى د نيکو به محتاج ئى دبدوسزاګانې به خورئى.اې دالله ﷻ بنديګانو دالله ﷻ نه اوويريږئى د هغه خبرې وړاندې کړئى دهغې نه وړاندې چه ستاسومرګ راشى دهغې نه وړاندې دابدى يعنى هميشه والى د پاره تيارشئى. هم دومره ئى وئيلې وو چه د ژړا غلبې ئى آواز اوچت کړو په مخ ئى د څادر ګوټ واچولو او په ژړاشو اود حاضرينوهم ژړا فرياد شروع شو.

**د پيرى علاج دعا**:-ابن ابى حاتم کښې دى يوبيمار سړې کوم چه يوپيرى تنګولو.حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ له راغلو نو هغه ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ۝ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ۝ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ۝ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ۝﴾ آياتونه د هغه په غوږ كښې اولوستل هغه ښه شو.كله چه حضورﷺ له د دې ذکر راغلونو وئى فرمائيل عبدالله تاد ده په غوږكښې څه لوستلې وو؟ هغه اوخودل نو حضورﷺ اوفرمائيل تا دا آياتونه د ده په غوږ كښې اولوستل هغه دې اوسوزولو والله كه دا آياتونه څوك په ايمان سره او په يقين سره په يوغرباندې اولولى نوهغه به هم د خپل ځاىٔ نه اخواشى([1]) ابونعيم m روايت نقل کړې دې چه ابراهيم بن حارث ﷺ اوفرمائيل چه مونږ رسول الله ﷺ يولښكرسره اوليګلو اووئى فرمائيل چه مونږ سحر ماښام ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ۝﴾لولو.مونږ برابر د دې تلاوت دواړه وخته جارى اوساتلو الحمدلله مونږ په غنيمت او سلامتياسره واپس شو. حضورﷺ فرمائى زما د امت د ډوبيدو نه بچ كيدل په كشتوكښې دسوريدوپه وخت كښې داوئيل دى.﴿بسم الله الملك الحق وما قدروا الله حق قدره والارض جميعا قبضته يوم القيامة والسموات مطويات بيمينه سبحانه وتعالى عما يشركون بسم الله مجريها ومرسها ان ربى الغفور رحيم﴾

| وَمَنْ يَّدْعُ | مَعَ اللّٰهِ | اِلٰهًا اٰخَرَ | لَا بُرْهَانَ |
|---|---|---|---|
| او څوک چې رابلي | دالله سره | خدائې بل | چې نشته دليل |
| او څوک چې دالله ﷻ سره بل معبود رابلي | | | د دي باوجود |

[1]) مسندابي يعلى:۴۰۴۵.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لَهٗ | بِهٖ ۙ | فَاِنَّمَا | حِسَابُهٗ | عِنْدَ رَبِّهٖ ۭ | اِنَّهٗ |
| هغه لره | په عبادت دبل چا | نو بیشکه | حساب دهغه | دهغه درب سره دي | بیشکه شان دادي |

چي هيڅ دليل ورسره نه وي | نو دهغه حساب به خامخا دخپل رب سره کيږي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لَا يُفْلِحُ | الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ | وَقُلْ | رَّبِّ | اغْفِرْ | |
| چي خلاصي نه شي مونډي | دا کافران | او اووايه اے نبي | اے ربه زما | معافي اوکړه | |

دايقيني ده چي کافران کامیابيدي نشي | او ته ورته اووايه چي اے زماربه !

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَارْحَمْ | وَاَنْتَ | خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ | |
| او رحم اوکړه | او ته | بهتره دټولو رحم کونکو نه ئي | |

ما اوبخښه | او په ما رحم اوکړه | او ته دټولو نه ښه رحم کونکي ئي

قوله تعالى:- وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ

**په مصيبت کښې په کارراتلونکي څوک دي:-** مشرکان الله واحدويروي اوبيان فرمائي چه هغوی سره د هغوی دشرك کولوهيڅ دليل نشته. داجمله معترضه ده او جواب شرط ﴿فانما﴾ والا جملې په ضمن کښې دی يعني دهغوی حساب الله ﷻ سره دې. کافران هغه سره کامياب کيدې نه شی هغوی د خلاصی نه محروم پاتې کيږی.

**يو سړی سره د رسول کريم صلی الله عليه وسلم سوال وجواب:-** يوسړی نه رسول الله ﷺ تپوس اوکړو ته د چا چا عبادت کوې؟ هغه وئيل د الله او فلانکی فلانکی. حضور ﷺ اوفرمائيل چه په دوی کښې ته کوم يوداسې گڼړې چه ستا په مصيبت کښې به په کار راشی؟ هغه وئيل صرف الله جل وعلا. حضور ﷺ اوفرمائيل چه کله په کارراتلونکې هم هغه يودې نو بيا هغه سره د دې نورو د عبادت کولوڅه ضرورت دې؟ آيا ستا خيال دې چه هغه به يوازې ستاد پاره کافی نه وی؟ هغه وئيل چه داخونه شم وئيلې البته اراده مې داده چه دنورو عبادت کولوسره به دهغه پوره شکر په ځائ راوړم. حضور ﷺ اوفرمائيل سبحان الله علم سره دابې علمی؟ ښه پوهيږی اوبياناپوهه جوړيږې. اوس ترې هيڅ جوړه نه شوه نود مسلمانيدو نه پس به نی وئيل زه حضور ﷺ قائل کړم. داحديث مرسل دې ترمذی کښې هم مسنداً نقل دې[1] بيائی يوه دعا اوخودله د غفر معنی کله چه هغه مطلق وی نود گناهونو ختمولو اوهغه د خلقو نه دپټولوراخی اودرحمت معنی په صحيح لار باندې قايم کيدل اود خواقوالو او افعالو توفيق ورکولو دی.

| آياتونه | | سورة النور مدنية وهي اربع وستون اية وتسع ركوعات | | ركوع كانې |
|---|---|---|---|---|
| | | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | | |
| ٦٤ | | شروع کوم په نوم د الله چه ډير مهربان زيات رحم کونکې دې | | ٩ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| سُوْرَةٌ | اَنْزَلْنٰهَا | وَفَرَضْنٰهَا | وَاَنْزَلْنَا |
| دا يو سورت دې | چي نازل کړي دې مونږه دا | او فرض کړي دې مونږه دا | او نازل کړی دی مونږه |

دايو سورة دې چي مونږ نازل کړو | او ددې (حکمونه مو په تاسو) فرض کړل | او

[1] سنن الترمذي: ٣٤٨٣.

فِيهَآ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ۝ اَلزَّانِيَةُ

په دې کښې آیتونه | واضحه | دپاره ددې چې تاسو | نصیحت قبول کړئ | زناکاره ښځه |

په دې کښې مو واضحه حکمونه نازل کړل | چې تاسو ترې نصیحت حاصل کړئی | زناکاره

وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ

او زناکار سړې | پس اووهئ تاسو | هر یو | دهغوئ دواړو نه | سل | درې |

اوزنارکار سړې په دواړو کښې هریو سل سل کوړې اووهئ

وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

اونهٔ دې نیسی تاسو لره | په دغو دواړو باند | زرهٔ سواندی | په معامله ددین دالله کښې | که یئ تاسو

اوتاسو ته دې په دې دواړو دالله ﷻ د حکم په نافذ کولو کښې هیڅ ترس رانشی | که چرې

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ

چې ایمان لرئ | په الله باند | اوپه ورځ دآخرت | اوحاضر دشی | عذاب ددې دواړو ته | یوه ډله

تاسو په الله ﷻ او دقیامت په ورځ باور کوئی | اوپکاردی چې د دې دواړو کسانو سزا ته دې د

مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ۝

دمومنانونه |

مسلمانانو یوه ډله حاضره (ولاړه) وی |

**قوله تعالی:-** اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ

**درجم حداودکوړوسزا:-** ددې بیان نه چه مونږ داسورت نازل کړېدې ددې سورت بزرگی اوضرورت ښکاره کول دی.ددې نه دامقصد نه دې چه نورسورتونه ضروری اودبزرگئی والانه دی.د **(فرضناها)** معنی مجاهد اوقتاده دابیان کړې ده چه په دې کښې دحلال حرام امر نهی اوحدودووغیره بیان دې.امام بخاری فرمائی دامونږ په تاسواوتاسونه پس راتلونکوباندې مقررکړېدې[1] پدې کښې صفاصفا کولاو کولاو ښکاره احکام بیان کړی دی دې دپاره چه تاسو نصیحت او عبرت حاصل کړئی اود الله ﷻ احکام یاداوساتئی او بیا په دې باندې عمل اوکړئی.بیائی دزناکارئی شرعی سزا بیان کړه.زناکار خو به یا ناواده کړې وی یعنی خلمې یا واده کړې به وی یعنی هغه چه د حریت بلوغت او عقل په حالت کښې په شرعی نکاح سره یوې ښځې سره ملاو شوې وی. خلمې چه د هغه نکاح نه وی شوې اوزنائی اوکړه نود هغه حدهم هغه دې چه په دې آیت کښې بیان شوې دې یعنی سل (۱۰۰) کوړې.دجمهوروعلماؤ په نیز به دې دیوکال د پاره د وطن نه بهر کول هم وی. اود امام ابوحنیفه قول دې چه دا د وطن نه ویستل د امام په رائې کښې دی که هغه غواړی نودې بهردې کړی اوکه غواړی نوپریږدې دی.

[1] صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة النورقبل حدیث:۴۷۴۵.

## د زاني دپاره د جلا وطنۍ حکم

**مسلک حنفي**:- دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په وادۀ شوی عاقل بالغ زنا کارباندې صرف کورې دې جلاوطنی نشه البته قاضي دسیاست په طورئې جلا وطن کولې شي خودحدزناپه طوربه نشي جلا وطن کولې (تفسیر مظهری ۳۱۶/۶)-

**د جمهورو دلیل**:-د جمهورو دلیل خود بخاری اومسلم هغه حدیث دې په کوم کښې چه دوه اعرابی رسول الله ﷺ له راغله یوونیل یا رسول الله ﷺ زما خوئ ده سره نوکروو اود ده ښځې سره ئې زناکړې ده ماد هغې په فدیه کښې سل چیلئی او یوه وینځه ورکړه بیا ما د علماؤنه معلومات اوکړو نومعلومه شوه چه زما په خوئ باندې شرعی سزا سل کورې دی او د یوکال د پاره د وطن نه ویستل دی د ده په ښځه باندې رجم یعنی سنګسارکول. حضور ﷺ اوفرمائیل واورئی زه په تاسوکښې د الله ﷻ د کتاب صحیح فیصله کوم. وینځه او چیلئی خو به تاته واپس درکولې شي او ستا په خوئ باندې سل کورې اود یوکال دپاره ویستل دی اواې انیس ته دده د ښځې بیان واخله (داحضرت انیس ﷺ د قبیله اسلم یوسړې وو)که هغه دخپلې ګناه اقرار اوکړی نوهغه سنګسارکړه. هغه بی بی اقرار اوکړواوهغه سنګسار کړې شوه. (۱)

د دې حدیث نه ثابتیږی چه په ناواده کړی باندې سلوکوړوسره د پوره کال پورې د وطن نه ویستل هم دی اوکه واده کړې وی نوهغه به رجم کولې شي.

**د رجم متعلق درسول کریم صلی الله علیه وسلم خطبه**:-موطاء امام مالك کښې دی حضرت عمر ﷺ په خپله خطبه کښې د حمد او ثنانه پس اوفرمائیل خلقو الله ﷻ حضرت محمد ﷺ په حقه سره رالیګلې اوبه حضور ﷺ باندې خپل کتاب نازل کړې دې په دې کتاب الله کښې درجم کولو آیت هم وو کوم چه مونږ تلاوت کړو یادمو کړو اوبه هغې باندې موعمل هم اوکړو.پخپله د حضور ﷺ په زمانه کښې هم رجم شوې اومونږ هم دحضور ﷺ نه پس رجم کړې دې زه ویریږم چه څه زمانه تیریدونه پس څوك دا اونه وائی چه مونږ رجم په کتاب الله کښې نه وینو اوداسې نه وی چه هغوی د الله ﷻ دافریضه کومه چه الله ﷻ پخپل کتاب کښې نازل کړې پریږدی اوګمراه شي. په کتاب الله کښې د رجم حکم مطلق حق دې په هغه باندې چه زناوکړی او واده کړې وی که هغه سړې وی اوکه ښځه اود هغه په زنا باندې شرعی دلیل وی یاحمل وی یااقراروی.داحدیث په بخاری اومسلم کښې ددې نه هم اوږد دې(۲)مسند احمد کښې دی هغوی په خپله خطبه کښې اوفرمائیل خلق وائی چه د رجم یعنی سنګسارئی مسئله مونږ په قرآن کښې نه وینو په قرآن کښې صرف دکوړو وهلوحکم دې یادساتئی پخپله رسول الله ﷺ رجم کړې دې اومونږ هم دحضور ﷺ نه پس رجم کړې که ماته دا ویره نه وه چه خلق به وائی په قرآن کریم کښې څه نه وو عمر ﷺ اولیکل نو ما به د رجم آیت داسې لیکلوڅنګه چه نازل شوې وو(۳)داحدیث په نسائی کښې هم شته.مسنداحمد کښې دی چه هغوی په خپله خطبه کښې درجم ذکر اوکړو اووئی فرمائیل رجم ضروری دې هغه دالله ﷻ دحدونونه یوحددې. پخپله حضور ﷺ رجم کړې اود هغوی نه پس مونږ هم رجم کړې دې.که دخلقو دې خبرې ویره نه وه چه عمر ﷺ په کتاب الله کښې زیاتې کړې کوم چه په کښې نه ووتومابه د رجم آیت په کتاب الله کښې یوطرف ته لیکلې وو.عمربن خطاب ﷺ عبدالرحمن بن عوف ﷺ اود فلانکی اود فلانکی شهادت دې چه حضور ﷺ رجم کړې اومونږ هم رجم کړې دې.یادساتئی تاسو نه

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الصلح باب اذا اصطلحوا علی صلح جور فالصلح مردود:۲۶۹۵، صحیح مسلم:۱۶۹۷، ابوداؤد:۴۴۴۵، ترمذی:۱۴۳۳، ابن ماجة:۲۵۴۹، احمد:۱۱۵/۴، ابن ماجة:۴۴۳۷.

(۲) صحیح بخاری کتاب الحدود باب رجم الحبلی فی الزنااذا احصنت:۶۸۳۰، صحیح مسلم:۱۶۹۱

(۳) احمد:۲۹/۱، السنن الکبری للنسائی:۷۱۵۱وسنده صحیح.

Scanned with Ca

پس داسې خلق راتلونکي دي چه رجم شفاعت او عذاب قبر به دروغ ګنړي اودا خبره هم چه څه خلق به د دوزخ نه واپس راویستلې شي چه هغه به سکاره شوې وي(۱)مسنداحمد کښې دي چه حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل رجم د حکم نه انکارکونکي د هلاکت نه بچ شه(۲)امام ترمذي هم دا راوړې دې اودې ته ئې صحیح وئیلې. (۳)

**درجم ایت منسوخ دې حکم ئې باقي دې:**-ابویعلي موصلي کښې دي چه خلق مروان سره ناست وو زیدبن ثابت رضي الله عنه هم ووهغوی اوفرمائیل مونړ په قرآن کښې لوستل چه واده کړې سړې یاښځه کله زناکاری اوکړی نوهغه خامخا رجم کوئی.مروان وئیل بیاتاسودا آیت په قرآن کښې اونه لیکلو؟ ونی فرمائیل چه په مونږکښې کله ددې ذکر اوشو نوعمر بن خطاب رضي الله عنه اوفرمائیل زه ستاسو تشفي کوم. يو سړې نبي ﷺ له راغلو هغه حضور ﷺ ته داسې ذکر اوکړواود رجم بیان ئې اوکړو. چا وئیل یارسول الله ﷺ تاسو د رجم آیت اولیکئی حضور ﷺ اوفرمائیل چه اوس خوزه دا لیکلې نه شم. یاد دې په شان روایت نسائي کښې هم دې(۴)د دې ټولواحادیثونه ثابت شو چه درجم آیت اول لیکلې ووبیاپه تلاوت کښې منسوخ شواوحکم ئې باقي پاتې شو.والله اعلم.پخپله حضوراکرم ﷺ دهغه سړې دښځې د رجم کولوحکم ورکړو چاچه خپل نوکرسره بدکاري کړې وه. دغه شان حضور ﷺ ماعز رضي الله عنه او يوه غامدیه ښځه رجم کړه. په دې ټولورواياتوکښې دا نقل نه دي چه د رجم نه اول حضور ﷺ هغوی ته کوړې هم لګولې وی بلکه په دې ټولو صحیح اوصفا احادیثوکښې صرف د رجم ذکر دې په یوکښې هم د کوړوذکر نشته. د دې د پاره د جمهورو علماؤ د اسلام هم دا مذهب دې. امام ابوحنیفه اوامام شافعي n هم دې طرف ته تلی دی.

## د رجم سره کوړې نشي جمع کولې

**مسلک حنفي:**-اوپه محصن کښې به د سنګسارسره د کوړو دواړه سزاګانې نشي جمع کولې.ځکه چه رسول الله ﷺ دادواړه سزاګانې نه دی جمع کړې.اوددې وجې هم چه دسنګسارنه پس د کوړو وهلوڅه فائده نشته.ځکه چه نوروته دتنبیه ورکولوفائده په سنګسارکولوسره حاصلیږی.ځکه چه سخته سزا خو سنګسارکول دی.اوخپله زناکارته هم دهغه دمرګ نه پس تنبیه نشي ملاویدې.تسهیل الهدایه (۱۲۶\۴)

امام احمد فرمائي چه اول هغه په کوړو وهل پکاردی بیارجم کولوپکاردی دې دپاره چه په قرآن اوحدیث دواړو باندې عمل اوشي. لکه چه داميرالمؤمنین حضرت علي رضي الله عنه نه نقل دی چه کله هغوی له سراجه راوستله چه واده کړې ښځه وه اوپه زناکارئی کښې راغلې وه نو هغوی د زيارت په ورځ هغه په کوړو اووهله اود جمعه په ورځ ئې سنګسارکړه او وئې وئیل په کتاب الله باندې مې عمل اوکړو په کوړو مې اووهله اود رسول الله ﷺ په سنتومې عمل اوکړو سنګسار مې کړله. (۵)

مسنداحمد کښې سنن اربعه اومسلم شریف کښې دی رسول الله ﷺ اوفرمائیل زما خبره واخلئی زما خبره واخلئی الله ﷻ د هغوی د پاره لار اوویستله که ناواده کړې سړې ناواده کړې ښځې سره زنااوکړی نوسل کوړې او د کال د پاره د وطن نه ویستل دی اوکه واده کړې واده کړې سره زنااوکړی نورجم. (۶)

---

۱) احمد:۱/۲۳.

۲) احمد:۱/۳۶وسنده صحیح، بیهقی:۸/۲۱۲، مسندالشافعی:۱/۱۶۳،ترمذی:۱۴۳۱، بتصرف یسیر.

۳) ترمذی: کتاب الحدود باب ماجاء فی تحقیق الرجم:۱۴۳۱وهوصحیح.

۴) السنن الکبری اللبیهقی:۷۱۴۸.

۵) احمد:۱/۹۳ ح ۷۱۶وسنده صحیح.

۶) صحیح مسلم کتاب الحدود باب حدالزانی:۱۶۹۰، ابوداؤد:۴۴۱۵،ترمذی:۱۴۳۴، السنن الکبری:7142، احمد: ۵/۳۱۳، ابن حبان:۴۴۲۵ ، بیهقی:۸/۲۲۲.

Scanned with Ca

**قاضی له فیصله اورسیده بیا به ترس نه وی**- بیافرمائی دالله ﷻ په حکم پوره کولو کښې تاسوله په هغوی باندې ترس اورحم خوړل نه دی پکار. د زړه رحم یوبل ځیزدې هغه خوبه ضرور وی خودحدپه قایمولو کښې کمې سستی کول خراب ځیزدې. کله چه امام اوبادشاه له داسې واقعه راشی په کوم کښې چه حدوی نوهغه له پکاردی چه حد قایم کړی اونه ئې پریږدی. په حدیث کښې دی د خپل مینځ په حدودو کښې معافی کوئی کومه خبره چه ماته راورسی او په هغې کښې حد وی نوهغه خو واجب او ضروری شی([1]) په یوبل حدیث کښې دی په زمکه د یوحد قایمول د زمکې والا د پاره د څلویښتو ورځو د باران نه بهتردی([2]) داهم قول دې چه په ترس کولوسره نرم ویشتل مه کوئی بلکه په درمیانه توګه ئې په کوړو وهئی داسې هم نه وی چه هډوکی په مات کړئی. د تهمت لګونکی حدجاری کولو په وخت کښې د هغه په بدن باندې کپړې موجود کیدل پکار دی اود زناکاردحدپه وخت کښې دې نه وی. داقول د ابو حمادبن ابوسلیمان دې د دې بیان فرمائیلوسره هغوی داجمله ﴿رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ اولوستله نوسعید بن عروبه تپوس اوکړو چه داپه حکم کښې شته نو وئی وئیل اوحکم کښې شته. او په کوړو کښې یعنی د حد په قایمولوکښې اوپه سخت ګذار کولو کښې. دابن عمر ﷺ وینځې چه کله زنااوکړه نوهغه دا په پښوباندې اوملاباندې په کوړو باندې اووهله نوعبید ددې آیت هم داجمله تلاوت کړه چه درب حد قایمولوکښې تاسوله ترس نه دی راتلل پکار. نوهغه اوفرمائیل ولې ستا په نیز ما دې سره نرمی اوکړه؟ واوره الله ﷻ د دې د وژلوحکم نه دې کړې اونه ئې دا فرمائیلی چه دا په سر په کوړو باندې اووهئی. ما په پوره طاقت سره دا په کوړو وهلې ده او دې له مې پوره سزا ورکړې ده.بیا ئې اوفرمائیل که ستا په الله باندې او په قیامت باندې ایمان وی تاله د دې حکم پوره کول پکار دی او په زناکاروباندې د حد قایمولونه ډډه نه دی کول پکار. هغه په سخت ګذار سره وهل هم پکاردی خوهډوکی ماتونکی نه. دې د پاره چه هغه د خپلې دې ګناه نه منع شی اود هغوی دا سزا د نورو د پاره عبرت جوړشی رجم خراب ځیز نه دې.

یوحدیث کښې دی یوسړې راغلووئیل یارسول الله ﷺ چه زه کله چیلئی ذبح کوم نو زړه مې خوګیږی حضور ﷺ اوفرمائیل په دې رحم به هم تاته اجر ملاویږی([3]) بیافرمائی چه د دوی د سزا په وخت د خلقو راجمع کول پکاردی دې د پاره چه د ټولو په زړه کښې ویره کینی اود زناکار رسوائی هم وی دې د پاره چه نورخلق د دې نه منع شی.ده له ښکاره سزاورکول پکاردی په پټه وهلوسره نه دی پریخودل پکار. که یوسړې وی اویاد دې نه زیات وی نوډله شوه او په آیت باندې عمل اوشو.داد امام محمد مذهب دې چه یوسړې هم طائفه ده.د عطاء قول دې دوه کیدل پکاردی سعیدبن جبیر وائی چه څلور دې وی. زهری وائی درې یاد دریونه زیات. امام مالک فرمائی څلور اود دې نه زیات څکه چه په زناکښې د څلورونه کم ګواهان نه وی یاد دې نه هم زیات.دامام شافعی هم دامذهب دې. ربیعه فرمائی چه پنځه دې وی. دحسن بصری په نیز لس کسان. قتاده وائی چه یوه ډله دې وی چه نصیحت عبرت او سزا اوشی.نصربن علقمه د دې ډلې موجودګئی کښې دا علت بیان کړې دې چه هغوی به د هغه خلقو دپاره چه په چا باندې حد جاری کولې شی دمغفرت او رحمت دعااوکړی.

---

[1]) ابوداؤدکتاب الحدود باب یعفی عن الحدودمالم تبلغ السلطان:۴۳۷۶نسائی ۴۸۹، حاکم:۳۸۳/۴.

[2]) نسائی کتاب قطع السارق باب الترغیب فی اقامة الحد:۴۹۰۹،ابن ماجة:۲۵۳۷-۲۵۳۸.

[3]) احمد:۴۳۶/۳وسنده صحیح وصححه الحاکم:۲۳۱/۴ووافقه الذهبی، مجمع الزوائد:۳۲/۴-۳۳.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَلزَّانِيْ | لَا يَنْكِحُ | اِلَّا | زَانِيَةً | اَوْ مُشْرِكَةً ز |
| زناکار سړی د | نکاح نه کوي | مګر | دزناکارې ښځې سره | یادمشرکې ښځې سره |
| ازناکار سړی زناکارې ښځې یا مشرکې ښځې نه سوا بل چا سره | | | | |
| وَّالزَّانِيَةُ | لَا يَنْكِحُهَآ | اِلَّا | زَانٍ | اَوْ مُشْرِكٌ ج |
| او زناکاره ښځه چې ده | نکاح دنۀ کوي دهغې سره | مګر | زناکار سړی | یا مشرك سړی |
| نکاح نه کوي \| اوزناکارې ښځې سره هم بغیر دزناکار سړي یا مشرك سړي نه بل څوك نکاح نه کوي | | | | |
| وَحُرِّمَ | ذٰلِكَ | عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ۝ | | |
| او حرام کړې شوی دی | دغه | په مومنانو باندې | | |
| اودا عمل (دزنا) په مومنانو حرام کړې شوې دې | | | | |

**قوله تعالى:- اَلزَّانِيْ لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً**

**بدکاره ښځې اوبدکاره سړی:-** الله ﷻ خبرورکوی چه زناکار سره په زناباندې هغه ښځه رضامند کیږی چه بدکاره وی یامشرکه وی اوداخراب کارځه عیب نه ګڼړی.داسې بدکاره ښځې سره هغه سړی ملاویږی چه هم د دې په شان بدچلن وی یامشرك وی اود دې د حرمت هډو قائل نه وی. هم دا قول د مجاهد، عکرمه، سعیدبن جبیر،عروه بن ربیر،ضحاك،مکحول،مقاتل بن حیان او ډیرو بزرګانو مفسرینو نه روایت دې چه په مؤمنانو باندې دا حرام دی یعنی زناکاری کول او زناکاروښځوسره نکاح کول یا عفیفه او پاك دامنه ښځې دداسې زنا کارانو په نکاح کښې ورکول.دابن عباس ﷺ نه روایت دې چه دې آیت نه مراددادې چه زناپه مسلمانانوباندې حرامه ده.دقتاده وغیره نه روایت دې چه بدکارو ښځو سره نکاح کول په مسلمانانو باندې حرام دی.لکه چه بل آیت کښې دی﴿مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ۚ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۚ وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ۝﴾ ([1])یعنی مسلمانانو له چه کومو ښځوسره نکاح کول پکاردی په هغوی کښې دا دریواړه صفتونه کیدل پکاردی چه هغه پاك دامنه وی هغه بدکاره نه وی او نه په پټه باندې خرابو خلقو سره تعلق لرونکې وی. هم دغه درې صفتونه په سړوکښې کیدل هم بیان شوی دی. د دې د پاره د امام احمد فرمان دې چه د نیك اوپاك دامن مسلمان نکاح بدکاره ښځې سره صحیح نه دی تر کومې چه هغه توبه اونه کړی اوپس د توبه نه نکاح کول صحیح دی دغه شان ساده باده پاکوښځونکاح زناکار او بدکاره سړوسره کول نه دی پکار ترکومې چه هغوی په صدق زړه سره د دې بدکار نه توبه اونه کړی ځکه چه د الله ﷻ فرمان دې داپه مسلمانانوباندې حرام کړې شوی دی.

**د زنا کارې او مشرکې سره دنکاح یوه عجیبه واقعه:-**یوسړی دام مبزول نومې بدکاره ښځې سره دنکاح کولواجازت د حضور ﷺ نه اوغوښتو نو حضورﷺ هم دغه آیت تلاوت کړو([2])بل روایت کښې دی چه د هغه داجازت په غوښتلو باندې دا آیت نازل شو([3])ترمذی کښې دی یوصحابی چه د هغه نوم مرثد بن ابومرثدوو ده به دمکې نه مسلمانان قیدیان راوچتول راوړل به نې اومدینې ته به نې رسول.عناق نومې

([1]) ٤/النساء:٢٥.

([2]) احمد:٢/١٥٩وسنده حسن واخطامن ضعفه.

([3]) احمد:٢/٢٢٥وسنده حسن، بیهقی:٧/١٥٣، حاکم:٢/١٩٣.

Scanned with Ca

يوه بدكاره ښځه په مكه كښې اوسيده. د جاهليت په زمانه كښې د ده دې ښځې سره تعلق وو. حضرت مرثد ﷺ فرمائي يوځل زه د يوقيدي دراوستلو د پاره مكه ته لاړم ديوباغ ديوال دلاندې اورسيدم.د شپې وخت وو سپوږمئي راختلې وه. اتفاقي عناق هلته راورسيده زه نې اوليدم بلكه وئې پيژندلم آواز ئې راكړه مرثدنه نې؟ ماوئيل اومرثديم هغې ډيره خوشحالي ښكاره كړه اوماته نې اووئيل راځه شپه ما سره تيره كړه.ماوئيل عناق الله ﷻ زناكاري حرامه كړې ده.كله چه هغه نااميده شوه نوهغې زماد گيرولو دپاره شور اوچغې شروع كړې چه اې د خيمې والابيدار شئ غل راغلې دې هم دادې چه ستاسو قيديان پتوي.خلق راپاسيدل اواته كسان زما د نيولو د پاره ما پسې په منډه شو ما موتې رابندكړل اود خندق په لاراوتختيدم او په يوغار كښې پټ شوم.داخلق ماپسې شاشاته راغله خو زه نې اونه ليدم. دوی هلته متيازو ته كيناستل والله ددوی متيازې زما په سر راتللې خوالله ﷻ هغوی رانده كړل اود هغوی نظريه ماباندې پرينوتلو.اخواديخوائې اوكتلم خوواپس لاړل.ما لږ ساعت تيركړو اوچه دايقين مې اوكړوچه هغوی به بيا اوده شوې وی نود دې ځائ نه لاړم اودمكې لارمې واخسته هلته اورسيدم او هغه مسلمان قيدی مې راپه شاكړو اود هغه ځائ نه مې راوتختولو.هغه ډيردروندووكله چه اذخرته اورسيدم نوستړې شوم ماهغه دشانه راكوزكړواودهغه هتكړئې مې خلاصې كړې اوآزادمې كړو. را روان مې كړو اومدينې ته مې راورسولو. د عناق محبت زما په زړه كښې وو مادرسول الله ﷺ نه اجازت اوغوښتلوچه هغې سره نكاح اوكړم حضور ﷺ خاموش شو مابيا هم دا سوال اوكړو بيا خاموش شونودا آيت نازل شو. حضور ﷺ اوفرمائيل اې مرثد د زناكارې سره نكاح زناكار يامشرك كوی ته هغې سره د نكاح اراده پريږده.امام ابوداؤد اوامام نسائي n هم دادخپل سنن په كتاب النكاح كښې راوړې دی (١) ابوداؤدوغيره كښې دی زناكاره چه هغې ته كوړې لګولې شوې وی هغه د خپل ځان په شان سره نكاح كولې شي. (٢)

**درې قسمه خلق به جنت ته نه ځي اودريو قسمو خلقو ته به الله ﷻ په نظر د رحمت نه ګوری:-** مسند احمد كښې رسول الله ﷺ فرمائي درې قسم خلق دی چه جنت ته به نه ځی اود هغوی طرف ته به الله ﷻ د رحمت په نظرنه ګوری. د مور پلار نافرمانه، هغه ښځې چه ځان د سړو په شان كوی اوديوث. اودرې قسم خلق دی چه هغوی ته به الله ﷻ د رحمت په نظرنه ګوری د مورپلار نافرمانه د هميشه نشه كونكې اودالله ﷻ په لاركښې د وركړې احسان كونكې(٣) مسنداحمدكښې دی حضور ﷺ فرمائي درې قسم خلق دی په چاچه الله ﷻ جنت حرام كړې دې دهميشه شرابی د مور پلار نافرمانه او د خپل كور والا په خلقو كښې خباثت قايمونكې(٤) ابوداؤدطيالسی كښې دی چه جنت ته به يوديوث هم نه ځی(٥)ابن ماجه كښې دی كوم سړې چه الله ﷻ سره پاك صفا ملاويدل غواړی هغه له پكاردی چه پاكوښځوسره نكاح اوكړې چه وينځې نه وی(٦)د دې سندضعيف دې اوديوث وائی بې غيرته سړی ته. نسائي كښې دی يوسړې رسول الله ﷺ له راغلو وئې وئيل زما خپلې ښځې سره ډيره مينه ده خو په هغې كښې دا عادت دې چه د چا لاس هم نه واپس كوی. حضور ﷺ اوفرمائيل طلاق وركړه. هغه وئيل مانه خوصبر نه

---

(١) ترمذی كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة النور:٣١٧٧وسنده حسن،ابوداؤد:٢٠٥١،نسائی:٣٢٢٣،بيهقی: ١٥٣/٧، حاكم:٢/١٦٦مختصرا.

(٢) ابوداؤد كتاب النكاح باب فی قوله تعالی(الزانی لاينكح الازانية):٢٠٥٢وسنده حسن،احمد:٣٢٤/٢،مشكل الاثار:٤٥٤٨

(٣) نسائی كتاب الزكاة باب المنان بما اعطی:٢٥٦٣وسنده حسن، احمد:١٣٤/٢.

(٤) احمد:١٣٤/٢وسنده حسن وصححه الحاكم:٧٢/١ووافقه الذهبی، مجمع الزوائد:٣٢٧/٤.

(٥) مسندالطيالسی:٦٤٢.

(٦) ابن ماجة كتاب النكاح باب تزويج الحرائروالولود:١٨٦٢.

Scanned with Ca

کیږی.بیاحضورﷺ اوفرمائیل بیالاړشه دهغې نه فائده واخله(١)خوداحدیث ثابت نه دې اوددې راوی عبدالکریم قوی نه دې دویم راوی د دې هارون دې چه د ده نه قوی دې خود هغه روایت مرسل دې اوهم دا ټیک هم دی. هم دا روایت مسنداً هم نقل دې خود امام نسائی فیصله دا ده چه مسندکول خطاده او صواب هم دا دې چه دامرسل دې. داحدیث په نورو کتابونوکښې په نورو روایتونوسره هم نقل دې. امام احمد خودې ته منکروائی اوامام ابن قتیبه د ده تاویل کوی چه کومه وینا ئی کړې ده چه هغه د یولاس لګونکی لاس نه پریږدی دې نه مراد ډیر زیات سخاوت دې چه هغه یوسوالګری ته هډو انکار نه کوی خوکه چرې هم دا مطلب وې نو په حدیث کښې د ﴿لامس﴾ په ځائ د﴿ملتمس﴾ لفظ کیدل پکار وو.داهم وئیلې شوی دی چه د دې خصلت داسې معلومیدو دانه وه چه هغې بدی کوله ښکه که په هغې کښې هم داعیب وونوبیابه حضورﷺ دې صحابی ته د هغې د ساتلواجازت نه ورکولو ښکه چه مینه خوموجود وه دا صرف په یوه خطره د وهم ماتول ممکن دی چه څه بدی راپیداکړی. والله سبحانه وتعالی اعلم. غرض داچه د زناکاروښځوسره د پاکو سړو نکاح کول منع دی اوکه هغوی توبه اوکړی نو نکاح حلاله ده. د ابن عباس ﷺ نه یوسړی تپوس اوکړه چه هم یوداسې ښځې سره زما تعلق ووخواوس موږ ته الله ﷻ د توبې توفیق راکړو نوزه غواړم چه هغې سره نکاح اوکړم خوبعضې خلق وائی چه هم زناکاریه زناکارې ښځې سره یا مشرکې سره نکاح کوی. هغوی اوفرمائیل چه نه د دې آیت دا مطلب نه دې ته هغې سره اوس نکاح کولې شې که څه ګناه وی نوزما په ذمه.یحیی له چه کله داذکر راغلو نوونی فرمائیل داآیت منسوخ دې ددې نه په پس آیت﴿وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآىِٕكُمْ ۚ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾(٢)سره.امام ابوعبدالله محمدبن ادریس شافعی همدا فرمائی.

### د زنا کارې ښځې سره د پاکدامن سړی د نکاح جواز

**مسلک حنفي:-** -د احنافو په نیز د زناکارې ښځې سره نکاح کول جائز دی د تفصیل دپاره اوګورئ (احکام القرآن للجصاص باب تزویج الزانیة (٣٩١١٣) -

| |
|---|
| وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ |
| \| او هغه کسان \| چې دزنا الزام لګوی \| |
| \|اوهغه خلق چې په پاک دامنو |
| الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ |
| په پاك لمنو ښځو باندې\| بیا \| رانه ولی هغوی \| څلور \| ګواهان \| نو اووهئ هغوئ |
| ښځو باندې تهمتونه اولګوی \|بیا پرې څلور ګواهان پیش نکړې شی \|نو هغوئ |
| ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ |
| اتیا \| درې \| اومه قبلوئ تاسو \| دهغوئ \| ګواهئ \| همیشه \| او دغه کسان \| پخپله هغوئ |
| اتیا درې اووهئ \|..............اوبیا دپاره هیڅ کله دهغوئ ګواهئ مه قبلوئ \|اوهم دغه خلق |
| الْفٰسِقُوْنَ ۙ﴿٤﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ |
| فاسقان دی \|سوا دهغه کسانونه \| چې توبه ئې اوویستله \| روستو \| ددې نه \| او نیك ئې کړو عمل خپل |
| بد کرداره دی \|مګر څوک چې ددې کار نه پس توبه اوباسی \|اودخپلو عملونو اصلاح اوکړی |

(١) نسائی کتاب النکاح باب تزویج الزانیة:٣٢٣١وهوصحیح، بیهقی:١٥٤/٧.
(٢) ٢٤/النور:٣٢.

Scanned with Ca

فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

پس بیشکه الله | ښښونکې | مهربانه دې |

نوبیشکه الله ﷻ ډیر بخښونکې مهربان دې

قوله تعالی:- وَالَّذِیْنَ یَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ

**په پاکو ښځو باندې دتهمت لګونکو سزا:**-کوم خلق چه په یوه ښځه یاسړی باندې دزناکارئی تهمت اولګوی او ثبوت ورنه کړې شی نو هغه ته به اتیاکوړې لګولې شی اوکه شهادت ئی پیش کړو نو د حد نه به بچ شی او په چاچه جرم ثابت شوې دې هغه ته به حدورکولې شی اوکه شهادت ئی پیش نه کړې شو نو اتیا کوړې به هم وهلې شی اود بیاد پاره به همیشه د هغه ګواهی نه شی منلې اوهغه به عادل نه بلکه فاسق ګنړلې شی. په دې آیت کښې چه کوم خلق مخصوص اوخلاص ګنړلې شوی دی نوبعضې وائی چه دا خلاصوالې صرف د فاسق کیدو سره ده یعنی پس د توبې نه به هغه فاسق نه وی. بعضې وائی چه نه نه به فاسق وی اونه به مردودالشهادت وی بلکه بیابه دهغه ګواهی هم اخستې شی.اوحدچه کوم دې هغه یوشان هم په توبه سره نه شی اخواکیدې.دامام مالك احمد اوامام شافعیn مذهب خو دادې چه په توبه سره به د شهادت مردودکیدل اوفسق ختم شی. سیدالتابعین سعید بن مسیب او د سلفو د یوې ډلې هم دا مذهب دې[1]خوامام ابوحنیفه فرمائی چه صرف فسق به لرې شی ولې شهادت نی نه شی قبلیدې.بعضې نورخلق هم داوائی.شعبی اوضحاك وائی که چرې هغه ددې خبرې اقرار اوکړوچه هغه بهتان ترلې وواوبیائی توبه هم پوره کړه نودهغه ګواهی د دې نه پس مقبول ده. والله اعلم.

### د قاذف ګواهی د توبې نه پس هم نه قبلیږی

**مسلک حنفی:**-دحنفیانو په نیز که محدود في القذف توبه اوباسی نو د توبې ویستلونه پس هم د هغه دعا نه قبلیږی (تفسیرمظهری (۳۴۰:۱۲)-

وَالَّذِیْنَ یَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ

| او هغه کسان | چی د زنا الزام لګوی | په خپلو ښځو باند

| اوکوم خلق چې پخپلو ښځو باندې د زنا الزام اولګوی

وَلَمْ یَکُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ

اونۀ وی هغوئ لره | ګواهان | ماسوا دخانونو خپلو نه | (نو) ګواهی | دیو دهغوئ | څلور

اوهغوئ سره دخپل ځان نه سوا نور ګواهان نه وی|نو دداسې سړی د ګواهئ صورت دا دې چې هغه به

شَهٰدٰتٍ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ ۝ وَالْخَامِسَةُ

ګواهیانې دی | په الله باند| (په دې خبره) چی بیشکه دې | دربښتیاویونکونه دې | او پنځمه ګواهی داده

څلور ځله په الله ﷻ قسم خوری|چې بیشکه هغه پخپله دعوی کښې ریښتونې دې|او په پنځم ځل

اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَیْهِ اِنْ کَانَ مِنَ الْکٰذِبِیْنَ ۝ وَیَدْرَؤُا

چی بیشکه | لعنت دالله دوی | په دۀ باند| که چرې | وی دې | ددروغ ویونکونه | او دفعه کوی

بۀ داسې وائی|چې که چرې هغه دروغژن وی نو په هغه دې دالله ﷻ لعنت وی|اودښځې نه سزا

[1] الطبری:۱۹/۱۰۵.

عَنۡهَا الۡعَذَابَ اَنۡ تَشۡهَدَ اَرۡبَعَ شَهٰدٰتٍۭ

دهغه ښځې نه | عذاب لره | دا خبره چې | گواهي اوكړي هغه ښځه | څلور گواهیانې |

په دې صورت كښې لرې كيدیشي اچې هغه څلور څله په الله ﷻ باندې قسم اوخوری| چې

بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ۙ ۝ وَالۡخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ

په الله باند|چې بیشكه دا سړې |ددروغ ویونكونه دې |اوپینځمه گواهي داده|چې بیشكه غضب دالله دوی

داسړې دروغژن دې |اوپه پنځم ځل دې داسې اووائي چې په ما دې دالله ﷻ غضب نازل شي

عَلَيۡهَاۤ اِنۡ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ۝ وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ

په هغې باند| كه چرې وی داسړې | دربښتیاویونكونه |او كه چرې نۀ وې فضل دالله| په تاسو باند

كه دا خاوند ریښتیا وائی |اوكه په تاسودالله فضل اومهربانی نه وې | او دا خبره نه وې

وَرَحۡمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيۡمٌ ۝ ع

او رحمت دهغه | او بیشكه الله | ډیر توبه قبلونكې دې | او دحكمت خاوند دې |

چې الله ﷻ توبه قبلونكې اودحكمتونو خاوند دې |

**قوله‌تعالی:-وَالَّذِيۡنَ يَرۡمُوۡنَ اَزۡوَاجَهُمۡ**

**لعان كله او څرنگه دې؟**:- په دې آیاتونوكښې الله ﷻ د هغه خاوندانود پاره چه د خپل بیبیانو په نسبت نی داسې خبره كړې ده د خلاصی صورت بیان فرمائی كه هغوی دوه گواهان پیش نه كړې شی نو لعان دې اوكړی.ددې صورت دادې چه دې به د امام په وړاندې راشی بیان به اوكړی كله چه گواهی پیش نه كړې شی نو حاكم به دڅلوروگواهانو په ځائ ده له څلور قسمه وركړی اودې به قسم خوری اووائی به چه دې ربښتونې دې اوكړمه خبره چه كوی هغه ربښتیاده. په پنځم ځل به وائی كه چرې دې دروغژن وی نو په ده دې دالله ﷻ لعنت وی.په دومره ویناكولوسره د امام شافعی m په نیز به د ده ښځه د ده نه بائن شی اودهمیشه دپاره به حرامه شی.دې به مهر اداكړی اوپه دغه ښځه به حد قایم كړې شی.خوكه هغه ښځه هم مخامخ ملاعنه اوكړی نوحدبه دهغې نه اخواشی دابه هم څلورځل په قسم سره بیان وركړی چه د دې خاونددروغژن دې اوپه پنځم ځل به وائی كه چرې هغه ربښتونې وی نوپدې دې دالله ﷻ غضب نازل شی.

**دسړی په حق كښې لعنت اود ښځې په حق كښې غضب ،وجه څه ده؟**:-دالطیفه هم په خیال كښې اوساتئی چه د ښځې دپاره دغضب لفظ ونیلې شوې دې ځكه چه په عام توگه یوسړې نه غواړی چه په خپله ښځه خامخا تهمت اولگوی اوخپل خان بلكه خپل خاندان هم بدنام كړی.په عام توگه هغه ربښتونې وی او د خپل صدق په وجه هغه معذوره گنړلې شی.ددې د پاره په پنځم ځل په هغه باندې اووئیلې شو كه د هغې خاوند ربښتونې وی نو په دې باندې دې دالله ﷻ غضب راشی. بیا د غضب والا هغه وی چه سره د حق پیژندلو بیا د دې نه مخ اړوی. بیا فرمائی كه د الله ﷻ فضل اورحم په تاسو باندې نه وو نو په تاسو به داسې آسانتی نه وې بلكه په تاسو به سختی راتله.الله ﷻ دخپلو بندیگانوتوبه قبلوی كه هرقسم گناه وی اوكه په كوم وخت هم توبه وی. هغه حكیم دې په خپله شرع كښې په خپلوحكمونوكښې او په خپلو بندیزونوكښې.

**د ایت لعان متعلق روایات**:-د دې آیت باره كښې چه كوم روایتونه دی هغه هم واورئی مسنداحمدكښې

Scanned with Ca

دی چه کله دا ایت (نمبر ۴) نازل شو نوسعدبن عباده ﷺ چه د انصاروسردار وو اوونیل یارسول الله ﷺ آیادا آیت هم دغه شان نازل شوی دی؟حضور ﷺ اوفرمائیل انصارو اورئی چه ستاسو داسردار څه وائی؟ هغوی وئیل یارسول الله ﷺ تاسو ورته معافی اوکړئی داصرف د ده د راوچت شوی غیرت په وجه داسې دی اونورهیڅ نشته د ده دغیرت دا حال دی چه دې صرف پیغلې سره نکاح کوی او په مونږ کښې څوک هم د ده طلاق شوې ښځې سره د نکاح جراءت نه شی کولی. حضرت سعد ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ داخوزما ایمان دې چه داحق دی خوماته حیرانتیاده چه که زه څوک د ښځې پښې نیونکې اووینم نوبیا هم زه د هغه څه نه شم کولې تردې چه زه څلور ګواهان راولم نوهغه خوبخپل کار پوره کړې وی.د دې خبرې به لږ شان ساعت شوې وی چه هلال بن امیه ﷺ راغلو دا د هغه دریو کسانو نه وو چه د هغوی توبه قبوله شوې وه.دې دخپلو پټونه د ماسخوتن په وخت کښې خپل کورته راغلو نو وئی کتل چه په کورکښې یو پردې سړې دې کوم چه پخپله هغه پخپلو سترګو اولیدواو په خپلو غوږونوئی د هغه خبرې واوریدې. سحر چه راغلو رسول الله ﷺ ته ئی داذکر اوکړو.حضور ﷺ ته ډیر خراب معلوم شو او په طبیعت مبارك باندې ډیرسخت اولګیدل.ټول انصار راجمع شواو وئی وئیل چه دسعدبن عباده ﷺ د دې قول په وجه مونږ ټول په دې مصیبت کښې راګیرشو اوس خو به په دې صورت کښې رسول الله ﷺ هلال بن امیه ﷺ ته د تهمت حدلګوی اود هغه ګواهی به مردود ګرځوی.هلال ﷺ وئیل والله زه رښتونې یم اوزماد الله ﷻ نه دا امیددې چه هغه به زما خلاصې کوی وئیل یارسول الله ﷺ زه ګورم چه زما خبرې په تاسو ډیرې درنې اولګیدې زماپه الله ﷻ قسم دې زه رښتونې یم الله ﷻ ته ښه معلومه ده ګواه ئی نه شو پیش کولې نونیزدې وه چه رسول الله ﷺ په هغه باندې حد قایم کړې وې په دې کښې وحی نازلیدل شروع شو.صحابه کرامو رضوان الله اجمعین د حضور ﷺ د مخ مبارك نه معلومه کړه او پوهه شوچه دې وخت کښې وحی نازلیږی.کله چه نازل شوه نوحضور ﷺ دهلال ﷺ طرف ته اوکتل وئی فرمائیل اې هلال خوشحاله شه الله ﷻ ستادپاره آسانی اورخصت نازل کړو.هلال ﷺ وئیل الحمدلله زما د الله ﷻ نه چه رحیم ذات دې هم دغه امیدوو. بیا حضور ﷺ هلال اود هغه ښځه راوغوښتل اود دواړو په وړاندې ئی دملاعنه آیت تلاوت کړو وئی فرمائیل ګورئی ددنیادعذاب نه د اخرت عذاب ډیر سخت دې.هلال ﷺ وئیل یارسول الله ﷺ زه بالکل رښتیاوایم. هغه ښځې وئیل حضور ﷺ دې دروغ وائی حضور ﷺ حکم اوکړوچه ښه ده لعان اوکړئی.نوهلال ﷺ ته اووئیلې شوچه دغه شان څلورځل قسم اوخوره اوپه پنځم ځل باندې داسې اووایه.هلال ﷺ چه کله څلور ځل اووئیل اود پنځم ځل وئیلو نوبت راغلو نو هغه ته اووئیلې شو بلال د الله ﷻ نه اوویریږه اود دنیا سزا د آخرت د سزا نه ډیره سپکه ده دا پنځم ځل چه ستاد خلې نه اوخی په تابه عذاب واجب شی.نوهغه وئیل یارسول الله ﷺ قسم دې په الله ﷻ چه څنګه هغه زه ددنیاد سزا نه زماپه صداقت باندې بچ کړم دغه شان به دآخرت عذاب نه هم زما په رښتیاوینا سره زمارب ما محفوظ کړی. بیائی د پنځم ځل الفاظ هم په ژبه سره اداکړل. اوس دې ښځې ته اووئیلې شو چه ته څلورځل قسم اوخوره چه دې دروغژن دې کله چه هغې څلور ځل قسم اوخوړلو نو رسول الله ﷺ د پنځم ځل د دې کلمه وئیلو نه هغه منع کړه اوچه څنګه ئی حضرت بلال ﷺ پوهه کړې وو هغې ته ئی هم اوفرمائیل نود هغې څه خیال راپیداشو منع شوه ژبه ئی راقابوکړه او نیزدې وه چه د خپل قصور اقرار ئی کړې وو خوبیائی اووئیل چه زه د همیشه د پاره خپل قوم نه رسواکوم. بیائی اووئیل که د هغې خاوند رښتونې وی نو په دې دې دالله ﷻ غضب نازل شی.حضور ﷺ په دې دواړو کښې جدائی اوکړه اوحکم ئی ورکړو چه ددې نه کوم بچې اوشی هغه بلال طرف ته مه منسوب کوئی او مه هغه ته حرامی اولاد وائې. څوك چه دې ماشوم ته حرامی وائی یا په دې ښځه تهمت لګوی په هغه به حدقایمولې شی داهم فیصله اوشوه چه ددې هیڅ خرچه به په خاوندباندې نه وی ځکه چه جداوالې

شوي دي نه طلاق شوي اونه ددې خاوندوفات شوېدې او ونې ونيل چه ګورئې که داماشوم سور سپين چاق پنډور پيداشو نودا د هلال اوګنړئې اوکه هغه د نرو پنډووالا تور بخن پيدا شو نود هغه سړي ئې اوګنړئې د چاسره چه په دې باندې الزام لګولې شوې دې. کله چه ماشوم اوشو نو خلقو اوکتلوچه هغه هم په هغه بدصفت باندې وو چه د الزام د حق کيدو نښه وه. هغه وخت رسول الله ﷺ اوفرمائيل که دا مسئله په قسمونو باندې فيصله شوې نه وه نو مابه دې ښځه باندې خامخا حد لګولو. دا ماشوم چه کله لوئ شو نود مصر والي جوړشوې وو اود هغه نسبت د هغه د مور طرف ته وو. (ابوداؤد) ([1])

**ددې حديث پاک شواهد:-** ددې حديث نورهم ډير شواهد دی په بخاری کښې هم داحديث دې په دې کښې دی چه شريك بن سحماء سره تهمت لګولې شوې وو اود حضور ﷺ په وړاندې چه کله حضرت هلال ﷺ ذکراوکړو نوحضور ﷺ فرمائيلې ووګواه پيش کړه ګنی ستاپه شاباندې به حد لګولې شي. هلال ﷺ وئيل يارسول الله ﷺ يوسړې به خپله ښځه په خراب کار وينی نو هغه به ګواه لټوی؟ خوحضور ﷺ به هم دا فرمائيل. په دې کښې داهم دی چه د دواړو په وړاندې حضور ﷺ داهم فرمائيلې ووچه الله ﷻ ته ښه معلومه ده په تاسو دواړوکښې يوکس دروغژن دې. آيا په تاسو کښې څوك د توبه کولو سره د خپلو دروغونه اوړی؟ بل روايت کښې دی چه په پنځم ځل سره حضور ﷺ چاته اوفرمائيل چه د ده خُله بنده کړه بيائې ورته نصيحت اوکړو چه د الله ﷻ د لعنت نه هريوڅيز سپك دې. دغه شان دې ښځې سره هم اوکړې شو([2]) سعيدبن جبير فرمائی د لعان کونکی سړی اوښځې باره کښې زمانه تپوس اوکړې شوچه آيا په دوی کښې دې جدائی اوکړې شی؟ دا واقعه د ابن زبير ﷺ د امارت د زمانې ده. مانه خود دې هيڅ جواب جوړنه شو نوزه د خپل ځائ نه لاړم اود عبدالله بن عمر ﷺ کورته راغلم اود هغه نه مې د دغه مسئله تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائيل سبحان الله د ټولو نه اول داخبره فلانکی خوئ د فلانکی معلومه کړې وه چه يارسول الله ﷺ که يوسړې خپله ښځه په يوخراب کارباندې اووينی نوکه د خُلې نه ئې اوباسی نوهم ډيره د بې شرمی خبره ده اوکه چپ پاتې کيږی نو بياهم د ډيرې بې غيرتئی خاموشی ده. حضور ﷺ چه واوريده نو خاموش پاتې شو هغه بياراغلوونی وئيل حضور ﷺ ماچه کوم سوال کړې وو افسوس هم هغه واقعه ماسره پيښه شوه. نو الله ﷻ د سورت نور دا آياتونه نازل کړل. حضور ﷺ دواړه راوغوښتل اوهريوته ئې بيل بيل وعظ اوکړو ډيرئې پوهه کړل خوهريوخپل ځان رښتونې ثابتولو بيا دواړو د آيت مطابق قسمونه اوخوړل اوحضور ﷺ په هغوی کښې جدائی اوکړه([3]) يوبل روايت کښې دی د صحابه کرامو رضوان الله اجمعين يوه ډله د ماښام په وخت د جمعه په ورځ په جمات کښې ناسته وه چه يوانصاری اووئيل چه که يوسړې خپلې ښځې سره پردې سړې اووينی که هغه دې اووژنی نو تاسو به هغه وژنئی اوکه د خُلې نه ئې اوباسی نوتاسو به د شهادت په نه موجودکيدو باندې هغه په کوړو وهئی اوکه دا معامله اوګوری اوچپ کينی نوداخوډيره بې غيرتی او بې حيائی ده. والله که زه دسحره پورې ژوندې پاتې شوم نود حضور ﷺ نه به د دې باره کښې تپوس کوم. هغه هم په دې الفاظوسره د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو اودعائی اوکړه چه الله ﷻ دې د دې فيصله نازله کړی. نود لعان آيت نازل شو اود ټولو نه اول هم داسړې په دې کښې راګيرشو([4]) يوبل روايت کښې دی چه عويمر ﷺ عاصم بن عدی ﷺ ته اووئيل چه لږ شان لاړشه د رسول الله ﷺ نه معلومه کړه که يوسړې خپلې ښځې سره څوك سړې اووينی نوڅه به کوی؟ داسې خو به نه وی چه که هغه قتل کړی نودې به هم قتل کولې شی؟ حضرت عاصم ﷺ

---

[1] ابوداؤد كتب الطلاق باب فی اللعان:۲۲۵۶احمد:۲۳۸/۱، مسندابی يعلی:۲۷۴۰.

[2] صحيح بخاری كتاب التفسير سورة النور باب ﴿ويدرؤاعنها العذاب﴾:۴۷۴۷، ترمذی:۳۱۷۶، ابن ماجة:۲۰۶۷، مشكل الاثار:۲۹۶۲.

[3] احمد:۱۹/۲صحيح مسلم كتاب اللعان:۱۴۹۳، ترمذی:۱۲۰۲.

[4] صحيح مسلم كتاب اللعان:۱۴۹۵، احمد:۴۲۱/۱، ابوداؤد:۲۲۵۳، بيهقی:۴۰۵/۷، ابن حبان:۴۲۸۱.

Scanned with Ca

درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نورسول الله ﷺ په دې سوال سره ډیر خفه شو. کله چه عویمر ﷺ عاصم ﷺ سره ملاوشونوتپوس ئې اوکړو چه وایه تادرسول الله ﷺ نه معلومات اوکړو؟اوحضور ﷺ څه جواب درکړو؟عاصم ﷺ وئیل تامانه څه ښه خدمت وانخستلوافسوس چه رسول الله ﷺزماداسوال عیب اوګنړلواو بدئې اوګنړل. عویمر ﷺ وئیل چه ښه ده زه پخپله ورځم د رسول الله ﷺ نه تپوس کوم. دلته چه راغلونوحکم نازل شوې وو. د لعان نه پس عویمر ﷺ اووئیل اوس که چرې زه داخپل کورته یوسم نولکه ماچه په هغې د دروغو تهمت لګولې وونود حضور ﷺ د حکم نه وړاندې ئې ښځه جداکړه اوبیاخود لعان کونکو هم دغه طریقه مقررشوه.(١) یوبل روایت کښې دی داښځه حامله وه اود دې خاوند دې نه انکارکړې وو چه داحمل د هغه نه نه دې. دغه شان دا ماشوم د خپلې مور طرف ته منسوب کیدلو بیا سنت طریقه هم داسې روانه شوه چه دې به د خپلې مور وارث وی اومور به د ده وارثه وی.(٢) په یو مرسل اوغریب حدیث کښې راغلی دی چه حضور ﷺ د حضرت صدیق اکبر ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ نه تپوس اوکړو که ستاسو په کورکښې داسې کاروی نو څه به کوئې دواړو وئیل سڅ به ئې والوزو داسې وخت کښې سترګې هغه سړې پټوی چه دیوث وی. په دې باندې دا آیاتونه نازل شو(٣) یوروایت کښې دی چه د ټولونه اول لعان په مسلمانانوکښې هلال بن امیه ﷺ اود هغه د بی بی په مینځ کښې شوې وو. الخ.

**د لعان نه پس دغه ښځه په خاوند همیشه دپاره حرامه شوه**

**مسلک حنفي:-** د لعان نه پس د ښځې او خاوند په مینځ کښې جدائی راغله او ښځه په خاوند باندې همیشه دپاره حرامه شوه لعان د ظهار پشان نه دې چه د کفارې په ورکولو سره به دوباره جائز شي (تفسیرمظهری ٦/٣٥٢).

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| إِنَّ الَّذِينَ | | | | | |
| ابیشکه هغه کسان | | | | | |
| (نو په دې لوئې مصیبت کښې به پراته وی) | | | | | |
| جَآءُوْ | بِالْاِفْكِ | عُصْبَةٌ | مِّنْكُمْ | لَا تَحْسَبُوْهُ | شَرًّا |
| چې راغلل | په دروغو سره | (هغه) یوه ډله ده | ستاسو نه | ګمان مه کوئ په دې دروغو | (چې شر دې |
| کومو خلقو چې (په حضرت عائشه) باندې تهمت لګولې وو | هغه په تاسو کښې یوه ډله وه | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَّكُمْ | بَلْ | هُوَ | خَيْرٌ | لَّكُمْ | لِكُلِّ امْرِئٍ | مِّنْهُمْ |
| ستاسو دپاره | بلکه | دغه دروغ | خیر دې | ستاسو دپاره | دپاره دهر سړی | په هغوئ کښې |
| تاسو دخان دپاره دا (قصئ) بده مه ګڼړئ | بلکه ستاسو دپاره دا بهتره ده | په دې کښې چې | | | | |

١) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب من جوزالطلاق الثلاث ... :٥٢٥٩، صحیح مسلم:١٤٩٢، ابوداوٗد:٢٢٤٧، ابــن ماجــة:٢٠٦٦، ابــن حبان:٤٢٨٥.الخ

٢) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب ﴿الخامسة أن لعنت الله علیه إن كان من الكاذبين﴾:٤٧٤٦، صحیح مسلم:١٤٩٢، ابوداوٗد:٢٢٤٥، ابــن ماجة:٢٠٦٦، احمد:٥/٣٣٦، ابن حبان:٤٢٨٥.

٣) مسندالبزار:٢٢٣٧.

Scanned with Ca

| مَّا | اكْتَسَبَ | مِنَ الْإِثْمِ | وَالَّذِي | تَوَلَّى | كِبْرَهُ |
|---|---|---|---|---|---|
| هغه حصه ده | چې ده کړې ده | د گناه نه | او هغه څوک | چې ذمه واري ئې واغستله | دلوئې حصې دهغې |
| هرڅا څومره حصه اخستې ده | | هغه هومره ګناهګار دې | | او چاچې په کښې د ټولو نه زياته | |

| مِنْهُمْ | لَهُ | عَذَابٌ | عَظِيمٌ ﴿۱۱﴾ |
|---|---|---|---|
| دهغوئ نه | هغه لره دي | عذاب | لوئ |
| حصه اخسته ده | دهغه سزا هم (دنورو نه زياته) ده | | |

**قوله تعالى:- اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ**

**د عائشه صديقه پاکوالي اوفضيلت اوواقعه دافک:-** -ددې آيت نه واخله ترلسوآياتونوپورې دام المؤمنين عائشه باره کښې نازل شوی دی کله چه په هغې باندې منافقانو بهتان لګولې وو. په دې باندې الله ﷻ ته درسول الله ﷺ د رشته په وجه غيرت راغلواوداآياتونه ئې نازل کړل دې د پاره چه د رسول الله ﷺ په عزت باندې څه داغ اونه لګی.ددې بهتان ترونکو يوه پارټی وه.په دې لعنتی کارکښې د ټولونه وړاندې وړاندې عبدالله بن ابی بن سلول ووچه د ټولومنافقانوسردار وو.دې بې ايمانه يويوته په غوږ کښې خبروسره ښه مصالحه لګولوسره دځان نه جوړې شوې ښه خبرې اورسولې.تردې چه دبعضې مسلمانانوهم خُلې کولاو شوې اوپټ پټ پس پس تقريباً ترپوې مياشتې پورې روانې وې تردې چه د قرآن کريم آياتونه نازل شو.ددې واقعه پوره بيان په احاديثوکښې موجوددې. عائشه k فرمائی چه د رسول الله ﷺ عادت مبارك وو چه په سفرد تلوپه وخت کښې دبيبيانوپه نوم څخنړې اچولو اوچه د چانوم به راوتلو هغه بی بی به ئی ځان سره بوتله. دغه شان په يوه غزوه کښې زما نوم راووتلو. زه حضورﷺ سره لاړم اوداواقعه دپردې د آياتونود نازليدونه پس ده. زه په خپله کجاوه کښې ناسته ووم اوچه کله به قافله کوزيدله نوزما کجاوه به راکوزولې شوه زه به په هغې کښې ناسته ووم. کله چه به قافله روانيده نوهم هغه شان به کجاوه کيخودلې شوه.مونږ لاړو حضورﷺ د غزوې نه فارغ شوواپس شو مدينې ته رانيزدې شودشپې د تلوآواز اوشو.زه د قضائی حاجت د پاره اووتلم اود لښکردځائ نه لرې زه لاړم او د ضرورت نه فارغه شوم بياواپس شوم.کله چه دلښکرځائ ته راورسيدم نومادخپل غاړې اميل اولټولو نو اومی نه ليدلو زه واپس د هغې د لټون د پاره واپس لاړم اومې کتلو. دلته دااوشو چه لښکر روان شو کومو خلقو چه به زما کجاوه اوچتوله هغوی دا ګڼړل چه زه په دې کښې ناسته يم کجاوه ئې اوچته کړه پاس ئې کيخوده اولاړل. داهم يادساتئی چه هغه وخت به ښځوداسې خوراك څښناك نه کولو نه د هغې غټ بدن وو نو په دې وجه د کجاوې اوچتونکوته زما د موجودګئی او نه موجودګئی بالکل پته اونه لګيده اوهغه وخت زه د شروع په عمرکښې هم ووم. غرض دا چه د ډير وخت نه پس ماته هار ملاوشو زه چه دلته راورسيدم نو د يوسړی نوم اونښه هم نه وه نه څوك آواز کونکې اونه جواب ورکونکې. زه د خپلې ننبې مطابق هلته اورسيدم کوم ځائ چه زمونږ اوښ کينولې شوې وو اوهم هلته په انتظارکښې کيناستم. کله چه په وړاندې تلوسره زما د نه کيدو پته ورته اولګی نو زما په لټون پسې به هم دلته راځی ماله په ناسته ناسته خوب راغلو. اتفاقی صفوان بن معطل سلمی ذکوانی ﷺ چه د لښکر نه شاته پاتې وو اوروستئی شپه تلې وو دسحر په رڼراکښې راورسيدو.ديواوده سړی په کتوباندې داخيال راتلل وو چه په غورسره ئی اوکتل نود پردې د حکم نه وړاندې هغه زه ليدلې ووم په کتوسره ئی اوپيژندلم نو په اوچت آواز ئی په خپله ژبه ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾ اووئيل. د هغه آواز اوريدو سره زما سترګې کولاو شوې اوما خپل څادرسره مخ پټ کړواوسيدا کيناستم. هغه زرخپل اوښ کينولو د هغه په پښه مې خپله

Scanned with Ca

پښه کیخوده زه پاسیدم او په اوښ کیناستم هغه اوښ پاسولواو په منډه ئې اوزغلولو. په الله ﷻ باندې قسم دې نه هغه ماسره څه خبره اوکړه اونه ماهغه سره خبره اوکړه اونه د﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ نه بله کلمه ما دهغه د خُلې نه اوریدلې. د غرمې پورې مونږ خپلې قافلې سره یوځائ شو بس هم د دومره خبرې نه هلاک کیدونکودومرې نورې خبرې جوړې کړې.ددوی د ټولونه لوئ اویه بړ برسره خبرې کونکې عبدالله بن ابی بن سلول وو. مدینې ته په راتلوسره زه بیماره شوم اوتریوې میاشتې پورې په کور کښې بیماره پرته ووم. نه ما څه اوریدلی اونه ماته چاڅه اووئیل کوم شور غوغا چه د خلقو په مینځ کښې وه زه د هغې نه بې خبره ووم دومره خبره وه چه زما په زړه کښې به داخیال راتلو چه د رسول الله ﷺ په مینه او محبت کښې د کمې څه وجه ده؟ په بیمارئی کښې په عام توګه چه به کوم شفقت درسول الله ﷺ ماسره وویدې بیمارئی کښې نه وویه دې وجه زما خفګان خو ډیر ووولې څه وجه راته معلومه نه وه. حضورﷺ به تشریف راوړو سلام به ئې کولواو د حال تپوس به ئې کولوفرمائیل به ئې طبیعت دې څنګه دې؟ نور څه خبره به ئې نه کوله په دې به زما ډیر خفګان ووخود بهتان تړونکو نه زه بالکل غافله ووم.

اوس دا واورئې په کورونوکښې لیټرینونه جوړشوی نه وو اود عربود پخوانی عادت مطابق به مونږ خلق میدان ته د قضائی حاجت دپاره تلو. ښځې به عام توګه باندې د شپې تلې په کورونوکښې د عامو لیټرینونوجوړولونه به نفرت وو.زه د عادت مطابق ام مسطح kبنت ابی رهم بن عبدالمطلب بن عبد مناف سره دقضائی حاجت دپاره لاړم. هغه وخت زه ډیره کمزورې شوې ووم.داام مسطح k زماد پلار ترور وه دهغې موردصخربن عامر لوروه د هغې د ځوئ نوم مسطح بن اثاثه بن عباد بن عبدالمطلب وو. کله چه مونږ واپس راغلو نودام مسطح پښه دڅادریه پلاؤکښې اونختله اوناڅاپه دهغې دخُلې نه اووتل مسطح دې غرق شی.ماته بدښکاره شو ماوئیل تاخوډیره خرابه خبره اوکړه توبه اوکړه ته هغه ته کنځلې کوې چه جنګ بدرکښې شرکت کړې دې. هغه وخت ام مسطح اووئیل اې ساده بی بی تاته څه معلومه دد؟ ماوئیل څه خبره ده؟ هغې وئیل هغه هم د هغه خلقو نه دې چه تابدنام کوی ګرځی. زه ډیره حیرانه شوم او هغې پورې اونختم چه ماته پوره واقعه خو اووایه. هغې د بهتان تړونکو خلقو ټوله قصه ماته واوروله زماخو وار خطاشو د غم او خفګان غر په ما راپریوتلو د غم د وجه زه نوره هم بیماره شوم. بیماره خود اول نه ووم دې خبرخو زه کمزورې کړم په څه خوارو کورته راورسیدم. اوس خو مې صرف دا خیال وو چه خپل پلارکره لاړه شم چه په ښه شان سره خو معلومه کړم چه واقعی زما متعلق داسې خبرې خورې دی اوڅه څه مشهورولې شی؟ په دې کښې رسول الله ﷺ ماله خوالهٔ راغلو سلام ئې اوکړو اوتپوس ئې اوکړو څه حال دې؟ ماوئیل که تاسو اجازت راکړئې نوخپل پلار کره لاړه شم. حضورﷺ اجازت راکړو.زه دلته راغلم اودخپلې مور نه مې تپوس اوکړو چه مورې په خلقو کښې څه خبرې خورې دی؟ هغې اوفرمائیل لورې داخو وړه خبره ده ته خپل ځان دومره مه خفه کوه. د یوسړی ښه بی بی چه د هغه خوښه وی اودهغې بنې هم وی هلته د داسې خبرو راتلل خو لازمی خبره ده. ما وئیل سبحان الله آیا واقعی خلق زما متعلق داسې خبرې خوروی؟ اوس خوزه غم اومصیبت داسې راګیره کړم چه د بیانولو نه بهر دې.دهغه وخت نه مې چه کومه ژړا شروع کړه والله دیووخت د پاره مې اوښکې نه دی ولاړې. ما به سرایخودې ووژړل به مې، د څه خوراك څښاك، د څه اوده کیدل اوکیناستل د کوم ځائ خبرې اترې غم اومصیبت ژړاګانې اوژه.ټوله شپه په دې حال کښې تیره شوه چه د اوښکولړئی بندنه شوې. د ورځې هم داحال پاتې شو.

**د رسول کریم ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره:**-حضورﷺعلی ﷺ او اسامه بن زید ﷺ راوغوښتل په وحی کښې وخت تیرشو. د الله ﷻ د طرف نه حضورﷺ ته څه خبره اونه خودلې شوه د دې دپاره ئې دې دواړو بزرګانوسره مشوره اوکړه چه حضورﷺ مانه جداشی که څه اوکړی؟اسامه ﷺ خوصفااووئیل یارسول الله

Scanned with Ca

ﷺ مونږ. ستاسو په اهل کښې هيڅ بدی نه وينو زمونږ زړه د هغوی د محبت عزت او شرافت د ګواهئ ورکولو د پاره حاضر دې. علی ﷺ جواب ورکړو چه يارسول الله ﷺ د الله ﷻ د طرف نه په تاسو باندې د ښځو د طرف نه څه تنګی نشته دې نه علاوه هم ډيرې دی که تاسو د کور د خادمه نه تپوس اوکړئی نو هغه به تاسو ته صحيح واقعه درمعلومه کړې شي.حضور ﷺ هم هغه وخت د کور خادمه حضرت بريره k راوغوښتله اوتپوس ئې اوکړو که دعائشه بی بی دې کله هم څه دشك شبه خبرې اوريدلې وی نو اوښايه.بريره k اووئيل په هغه الله ﷻ مې دې قسم وی چاچه ته په حقه سره پيغمبر راليګلې ئې ماد هغې نه هيڅ کله هم څه داسې خبره نه ده ليدلې. اوصرف داخبره ده چه د کم عمرئی د وجه نه داسې کيږی چه کله کله به ئې اخلې شوې اوړه هم داسې پريخودل او اوده به شوه نو چيلئی به راغله هغه اوړه به ئې اوخوړل د دې نه علاوه ما د هغې بل هيڅ قصور نه دې ليدلې.

**د هيڅ ثبوت نه ملاويدو نه پس د رسول ﷺ خطبه:-** ددې خبرې هيڅ ثبوت ملاو نه شونو هم په هغه ورځ رسول الله ﷺ په منبر باندې اودريدو او ګنړې ته مخاطب شو ونې فرمائيل څوك دې هغه سړې چه ماد هغه سړی نه بچ کړی چاچه ماته د تکليفو نو رسولو سره اوس زما د کور والا د خلقو په ذريعه هم ماته تکليفونه رارسول شروع کړی دی.والله ترکومې چه ماته پته ده ما په خپل کور والا کښې سوا د ښيګړې نه بل څه خبره نه ده ليدلې.دکوم سړی نوم چه داخلق اخلی زما په خيال کښې هم د هغه متعلق بغيرد ښيګړې نه بل هيڅ هم نشته هغه به زما سره کورته راتلو.دې اوريدو سره سعدبن معاذ ﷺ اودريدو ونې فرمائيل يارسول الله ﷺ زه موجود يم که هغه د اوس قبيلې سړې وی نو هم اوس مونږ د هغه سټ دتنې نه جداکوو اوکه هغه زمونږ دخزرج رونړونه دې نو بيا هم چه تاسو کوم حکم اوکړئی زمونږ به د هغې په پوره کولو کښې هيڅ عذر نه وی. دې اوريدو سره حضرت سعدبن عباده ﷺ اودريدو دې د قبيله خزرج سردار وو.دې خو وو ډير نيك بخت خود سعدبن معاذ ﷺ د دې وخت خبرو اتروسره د خپلې قبيلې ملګر تيا ورته مخې ته شوه اود هغوی طرفداری کولو سره سعدبن معاذ ﷺ ته اووئيل نه ته هغه قتل کولې شې اونه ته د هغه په قتل کولو قادر ئې که هغه ستاد قبيلې وو نو تا به د هغه قتل کول هډو خوښ کړې نه وو. دې اوريدو سره اسيدبن حضير ﷺ اودريدو چه دسعدبن معاذ ﷺ ورارہ وو ونې وئيل اې سعدبن عباده ﷺ ته دروغ وائې مونږ به هغه خامخا وژنوته منافق سړې ئې چه د منافقانو طرفداری کوې. اوس د هغوی د طرف نه د هغوی قبيله اود دوی د طرف نه د دوی قبيله د يو بل په مقابله کښې راپاسيدل او نيزدې وه چه د اوس او خزرج دا قبيلې په خپل مينځ کښې په جنګ شوې وې. حضور ﷺ هم د منبرنه د هغوی پوهه کول او چپ کول شروع کړل تردې چه دواړو طرفوته خاموشي شوه. حضور ﷺ هم چپ شو. داخووه د هغه خائ واقعه اوزما حال دا وو چه ټوله ورځ مې هم په ژړاکښې تيره شوه. زما دې ژړا زما د مور پلار هم آواز بندکړې وو او په دې غم کښې وو چه دا ژړا به دا واخلی دواړه حيران او خفه ناست وو اوزما خو د ژړانه بل څه کار نه وو.

**د رسول کريم ﷺ عائشه رضی الله عنها پوهه کول اود هغې جواب:-** دانصارو يوه ښځه راغله او هغه هم ماسره په ژړاشوه مونږ داسې ناستې وو چه ناڅاپی رسول الله ﷺ تشريف راوړو سلام ئې اوکړوماسره کيناستو په الله ﷻ قسم چه دکوم وخت نه دا بهتان تړلې شوې وو ترننه پورې ماسره رسول الله ﷺ داسې ناست نه وو پوره مياشت تيره شوې وه چه د رسول الله ﷺ هم داحال وو څه وحی نه وه راغلې چه فيصله شوې وه. حضور ﷺ کيناستو سره تشهد اولوستلو اواما بعد فرمائيلو سره اوفرمائيل اې عائشه رضی الله عنها ستا متعلق ماته داخبر راورسيدو که ته واقعی پاك دامنه ئې نو الله ﷻ به ستا پاکوالې ښکاره کړی اوکه په حقيقت کښې ته په څه ګناه باندې ککړه ئې نود الله ﷻ نه استغفار اوتوبه اوکړه. بنده چه کله ګناه کوی اود هغې په اقرار سره د الله ﷻ طرف ته تيت شی اود هغه نه معافی غواړی نو الله ﷻ

Scanned with Ca

هغه ښښى. حضور ﷺ چه دومره اوفرمائيل نو خاموش شو د دې اوريدو سره زما ژړا لاړه اوښکې مې اوچې شوې ترديې چه ماد اوښکو يو څاڅکې هم اونه ليدو. ما خو اول خپل پلار ته درخواست اوکړو چه زمادطرف نه رسول الله ﷺ ته جواب ورکړى خو هغوى وئيل والله زما خو په پوهه کښې هيڅ هم نه راځى چه زه حضور ﷺ ته څه جواب ورکړم؟ بيامې خپلې مور ته اوکتل اوورته مې اووئيل چه ته رسول الله ﷺ ته جواب ورکړه خوهغې هم دا اووئيل چه زه نه پوهيږم چه څه جواب ورکړم؟ آخر ما پخپله جواب ورکول شروع کړو زما عمر څه دومره لوئ هم نه وو اونه ماته دومره قرآن پاك ياد وو ماوئيل چه تاسو ټولويوه خبره واوريده اوهغه مو په زړه کښې کينوله اولکه چه رښتيامو اومنله زه دا وايم چه د دې خبرې نه زه بالکل برى يم او الله ﷻ ته ښه معلومه ده چه واقعى زه بالکل د دې نه برى يم خوتاسو خلق نى نه منئى اوکه زه د يوکار اقرار اوکړم نو الله ﷻ ته ښه معلومه ده چه زه بې ګناه يم نوتاسو به ئى اوس اومنئى.زمااوستاسو مثال خوديوسف ﷺ د پلاردا قول دې ﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾ ([1])پس هم صبرښه دې چه په کښې د شکايت هډو نوم نه وى اوتاسو چه کومې خبرې جوړوئى په هغې کښې به الله ﷻ زما ملګرتيااوکړى دومره خبره کولوسره ما اړخ بدل کړو او په خپله بستره سملاستم. په الله ﷻ قسم زما په پوره يقين وو چه زه پاکه يم او الله ﷻ به زما خلاصې خپل رسول ﷺ ته خامخا ورمعلوم کړى خودازماپه وهم اوګمان کښې هم نه وه چه زما باره کښې به د قرآن آياتونه نازليږى ما خوخپل ځان د دې نه ډيرکم ګڼړلوچه زماباره کښې دکلام الله آياتونه نازل شى. اوزما به زيات نه زيات دا خيال کيدلوچه ممکن ده په خوب کښې الله ﷻ زما براءت رسول الله ﷺ ته اوښائى.

**د عائشه رضى الله عنها په حق کښې وحى راتلل:**-والله تردې وخت پورې نه رسول الله ﷺ دخپل ځاۍ نه خوزيدلې وو اونه دکورنوربنيادمان دکور نه بهر وتلې ووچه په حضور ﷺ باندې وحى نازليدل شروع شو او په مخ مبارك باندې هم هغه نښې وې کومې چه به د وحى په وخت کښې وې اود تندى مبارك نه ئى د پاکې خولې څاڅکى راوڅڅيدل. په سخته يخنئى کښې به هم د وحى د نازليدلو په وخت هم دا حال وو.کله چه وحى نازله شوه نو مونږ اوکتل چه دحضور ﷺ مخ مبارك دخوشحالئى نه ړڼقيدو د ټولونه اول حضور ﷺ زماطرف ته اوکتل وئى فرمائيل عائشه k خوشحاله شه الله ﷻ ستا براءت راوليګلو هم هغه وخت زما مور اووئيل بچې دحضور ﷺ مخې ته اودريږه ما جواب ورکړو والله نه خوبه زه د حضور ﷺ مخې ته اودريږم اونه به د الله ﷻ نه بغيرد چا تعريف اوکړم هم هغه زما پاکوالى او براءت نازل کړونو ﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾([2]) نه واخله تر لسوآياتونوپورې نازل کړل.

د دې آياتونواوزماد پاکوالې نازليدونه پس په دې شر کښې حضرت مسطح بن اثاثه هم شريك وواوهغه ته به زما پلار د خپلولئى او د محتاجئى په وجه هميشه څه نه څه ورکول اوس هغوى اوفرمائيل چه ده زماپه لوردتهمت لګولوکښې حصه واخسته نوزه به ده سره هيڅ ښه سلوك نه کوم. پدې باندې آيت (۶۰۰)([3]) الخ نازل شويعنى په تاسو کښې چه کوم خلق د بزرګئى او مالدارئى والا دى هغوى له نه دى پکارچه خپلوانو مسکينانو اود الله ﷻ د لارې مجاهدينوسره د ښه سلوك نه کولوقسم اوخورى آياتاسو نه غواړئى چه هغه ښښونکې اومهربان الله ﷻ تاسو اوښښى؟ هم هغه وخت د دې په جواب کښې صديق اکبر ﷺ اوفرمائيل په الله ﷻ قسم زه خو ښښنه غواړم. نودهغه وخت نه ئى دمسطح ﷺ وظيفه مقررکړه

[1] ۱۲/يوسف:۱۸.
[2] ۲۴/النور:۱۱.
[3] ۲۴/النور:۲۲.

Scanned with Ca

اوونی فرمائیل والله اوس به تېول عمر پدې کښې څه کمې یاکوتاهی اونه کړم.زمادذې واقعه باره کښې رسول الله ﷺ دزینب بنت جحش نه چه د حضور ﷺ بی بی وه معلومات کړې وو هم دغه یوه بی بی وه د حضور ﷺ په بیبیانوکښې چه زما د مقابلې وه خودا د خپلې پرهیزګارئی اودیندارئی په وجه صفا بچ شوه او جواب ئې ورکړو حضور ﷺ زه خو په عائشه کښې د بغیرد نیکئی نه بل هیڅ نه وینم زه خپل غوږونه او خپلې سترګې محفوظ ساتم. سره د دې چه دې ته د دې خور حمنه بنت جحش ډیر څه وئیلې وو اوبلکه جنګ ئې ورسره کړې وو ولې هغې د خپلې ژبې نه زما د بدنۍ یوه خبره هم اونه ویستله. اود هغې خور خُله کولاوکړې وه او زما باره کښې په هلاك کیدونکوکښې شامله شوې وه. دا روایت بخاری اومسلم د حدیث ډیروکتابونوکښې شته. (١)

**په بل سند سره ددې خطبې واقعه او واقعه د افک**-په یوسندسره داهم روایت دې چه حضور ﷺ په خپله دې خطبه کښې داهم فرمائیلې وو چه د کوم سړی طرف ته نسبت کوی هغه په سفراوحضرکښې ماسره پاتې دې زما په غیرموجودګئی کښې کله هم زما کورته نه دې راغلې. په دې کښې دی چه د حضرت سعدبن معاذ ﷺ په مقابله کښې کوم صاحب ولاړوو هم د دې قبیلې نه ام حسان وه. په دې کښې داهم دی چه هم د دې خطبه د ورځ نه پس د شپې زه ام مسطح سره وتلې ووم. په دې کښې داهم دی چه یو خل هغه اوخوئیده هغې خپل خوئ مسطح ته بدااووئیل ما منع کړه بیااوخوئیده بیاتی هغه ته بداووئیل ما بیا منع کړه. بیائی هغه ته بدرد اووئیل نوزه هغې ته غصه شوم. په دې کښې دی چه هم د هغه وخت نه زماتبه شوه. په دې کښې دی چه زما د مور کورته د رسولود پاره ماسره حضور ﷺ یوغلام کړې وو. زه چه کله هلته اورسیدم نو زما پلار پاس کورکښې وو او د قرآن پاك په تلاوت کښې مشغول وو اوموري په لاندې کور کښې وه.زما په لیدو سره زمامورمعلومات اوکړو دا ښ څنګه راتلل اوشو؟ نوما ورته ټوله قصه واوروله. خو ما اوکتل چه داخبره خو نه هغوی ته څه حیرانونکې معلومه شوه نه ورته دومره غم اوفکر اوشو د کوم چه زما توقع وه. په دې کښې دی چه ما د مور نه تپوس اوکړو چه آیازما پلار ته هم د دې علم دې؟ زمامور وئیل چه هغه ته د دې علم دی چه په تابانذې تهمت لګولې شوې دې. دې کتلو او اوریدو سره زما د پلار په سترګوکښې هم اوښکې راغلې اوماته ئې اووئیل لورې زه تاته قسم درکوم چه هم اوس خپل کورته واپس شه نوزه واپس لاړم. دلته زما نه پس رسول الله ﷺ د کور د نوکرې نه هم زماباره کښې د نوروخلقو په موجودګئی کښې تپوس شوې وو په کوم چه هغې جواب ورکړې وو چه زه په عائشه کښې هیڅ بدی نه وینم بغیرد دې نه چه هغې به اخلې شوی اوړه داسې پریخودل پاسیده به او په ناخبرئی کښې به اوده شوه اوډیر ځلې به اوړه چیلو خوړل. بلکه بعضې خلقو هغه ښه اورټله هم چه د رسول الله ﷺ په وړاندې رښتیارښتیا خبره کومه چه معلومه وی اوکړه. په هغې باندې ډیره سختئی اوکړه خو هغې وئیل والله چه څنګه یوزرګر په خالص سرو زرو کښې څومره هم په ګرمولو څه عیب نه شي خودلې دغه شان زه په صدیقه باندې ګوته نه شم اوچتولې. کله چه هغه سړی ته داخبره اورسیده څوك چه بدنام کولې شو نوهغه اووئیل په الله ﷻ قسم ماخوترننه پورې د یوې ښځې لاس هم نه دې کولاوکړې. آخر هغه د الله ﷻ په لارکښې شهیدشو. په دې کښې دی چه رسول الله ﷺ د مازیګرد مانځه نه پس ماله تشریف راوړې ووهغه وخت زما مور پلار ښی اوګس طرف ته ناست وواوهغه انصاریه ښځه چه کومه راغلې وه هغه په دروازه کښې ناسته وه. په دې کښې دی چه کله حضور ﷺ ماته نصیحت شروع کړو اومانه ئې د حال تپوس اوکړونوماوئیل چه هانې دا څومره د بې شرمئی خبره ده چه د پردئې ښځې هم خیال نه ساتې؟ په دې کښې داهم دی چه ماهم د الله ﷻ دحمداوثنانه پس جواب ورکړې وو. په دې کښې داهم دی چه ما څو ځل یعقوب ﷺ نوم یادکړو والله

(١) صحیح بخاری کتاب المغازی باب حدیث الافك:٤١٤١، صحیح مسلم:٢٧٧، احمد:١٩٤/٢.

هغه مې په ژبه رانغلو په دې وجه ماابویوسف اووئیل. په دې کښې دی چه کله حضورﷺ د وحی نه پس ماته زیرې واورولو والله هغه وخت زما د غم نه ډکه غصه نوره هم زیاته شوې وه ماخپل مور پلار ته وئیلې ووچه زه په دې معامله کښې ستاسوهم شکر ګذاری نه کوم تاسوټولو یوه خبره واوریده خو تاسو نه انکاراوکړو اونه تاسوته څه غیرت راغلو. په دې کښې دی چه د دې قصه په ژبه راوستلوکښې حمنه مسطح حسان بن ثابت او عبدالله بن ابی منافق وو دا د ټولومشر وواو ډیر به هم ده بیانونه کول. (۱)

**یو بل حدیث پاک**:-یوبل حدیث کښې دی زما د عذردآیاتونه نازلیدلونه پس رسول اللهﷺدوو سړو او یوې ښځې ته دتهمت حداولګولو یعنې حسان بن ثابت مسطح بن اثاثه اوحمنه بنت حجش(۲) یو روایت کښې دی چه کله مور بی بی عائشه ته په خپل ځان د تهمت لګیدو اود دې علم د هغوی پلار ته او د حضورﷺ ته د کیدو واقعه معلومه شوه نوهغه بې هوشه پریوتله.کله چه لږه شان په هوش کښې راغله نو ټول بدن ئې ګرځیدلو اوډیر زور تبه ئې وه او رپیدله.دهغې مور پرې هم هغه وخت برستن واچوله او رسول اللهﷺ هم هغه وخت راغلوتپوس ئې اوکړو دا څه حال دې؟ ماوئیل د یخنئی تبه ئې ده. حضورﷺ اوفرمائیل چه کیدې شی دې خبر اوریدوسره ئې داحال شوې وی؟کله چه زما د عذرآیاتونه نازل شو نو ما واوریدل اومې وئیل دا د اللهﷻ په فضل سره دی نه چه دحضورﷺ.صدیق اکبرﷺ اووئیل ته رسول اللهﷺ ته داسې وائې؟ صدیقه اووئیل او. (۳)

**د ایتونو مطلب او تشریح**:-اوس دآیاتونومطلب واورئی کوموخلقو چه دروغ اود ځان نه خبرې جوړې کړې هغه ووهم یوڅوکسان. هغه تاسو اې آل ابی بکر دخپل ځان د پاره خراب مه ګڼړئی بلکه د انجام په لحاظ هغوی ستاسو د پاره په دین او دنیا کښې ښیګړه ده. په دنیاکښې به ستاسو صداقت ثابتیږی په آخرت کښې به اوچتې مرتبې ملاویږی. دعائشه براءت به په قرآن پاک کښې نازلیږی کوم له چه خواوشاهم باطل نه شی راتلې. هم په دغه وجه چه کله ابن عباسﷺ موربی بی k له د هغې په آخری وخت کښې راغلو نوونئی فرمائیل ام المؤمنین تاسو خوشحاله شئی چه ته د رسول اللهﷺ بی بی پاتې شوې او حضورﷺ به درسره په مینه ملاویدلو او حضورﷺ تاسو نه بغیربلې پیغلې سره واده نه وو کړې اوستاسو براءت د آسمان نه نازل شو(۴)یوه ورځ عائشه اوزینبﷺ دخپلوپاکو صفتونوذکرکولو نو زینب k اوفرمائیل زما نکاح د آسمان نه نازل شوې.عائشه k اوفرمائیل زما د پاکوالی ګواهی په قرآن کریم کښې د آسمان نه نازل شوې کله چه صفوان بن معطلﷺ زه په خپله سورلئی راوستې ووم. زینب k تپوس اوکړوکله چه ته په اوښ کیناستې نوتاکومه کلمه وئیلې وه؟ هغې وئیل ﴿حسبی الله ونعم الوکیل﴾ په دې باندې هغې اووئیل تاد مؤمنانو کلمه وئیلې وه.

**دتهمت شروع رئیس المنافقین کړې ده**:-بیا ئې اوفرمائیل چه چا په پاك دامنه صدیقهk باندې تهمت لګولې ووهریوته به لوئ عذاب کیږی اوچاچه د دې شروع کړې وه اودائې اخوادیخوا خورولو د هغوی دپاره سخت عذاب دې.دې نه مراد عبدالله بن ابی بن سلول ملعون دې ټیك قول هم دادې. بعضې اووئیل دې نه مراد حسان دې خوداقول ټیک نه دې.داقول هم دې نوځکه مونږ بیان کړوګنې د دې په بیانولوکښې څه فائده هم نشته ځکه چه حسانﷺ په ډیروبزرګانوصحابه کرامورضوان الله اجمعین کښې وو.دهغه ډیرفضیلتونه اوبزرګئی په احادیثوکښې موجوددی.همداووچه دکافرانو شاعرانو د

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النور باب ﴿إن الذین یحبون أن تشیع الفاحشة فی الذین امنوا....﴾:٤٧٥٧.
۲) ابوداؤدکتاب الحدود باب فی حدالقاذف:٤٤٧٤وهوحسن، ترمذی:٣١٨١، ابن ماجة:٢٥٦٧، السنن الکبری للنسائی:٧٣٥١
۳) صحیح بخاری کتاب المغازی باب حدیث الافك:٤١٤٣، احمد:٣٦٧/٢-٣٦٨، مسندالطیالسی:١٦٦٥، ابن حبان:٧١٠٣.
۴) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة النور باب﴿ولولاإذ سمعتموه قلتم مایکون لناأن نتکلم بهذا....﴾:٤٧٥٣.

Scanned with Ca

سپکاوی د شعرونو به نی د الله ﷻ د نبی ﷺ د طرف نه جواب ورکولو. هم ده ته حضورﷺ فرمانیلې وو ته د کافرانو بدبیانوه حضرت جبرائیل ؈ تاسره دې([1])دمسروق بیان دې زه عائشه صدیقه سره ووم چه حسان بن ثابت ؓ راغلوعائشه هغه په عزت سره کینولو حکم نی اوکړو دده دپاره گدنی خوره کړنی.کله چه هغه واپس لاړو نو ما ورته اووئيل چه ته دې ولې راتلوته پرېږدې؟ د ده د راتلونه څه فائده؟ الله ﷻ خو فرمانی چه په دوی کښې څوك د تهمت والا دی د هغوی د پاره لوئ عذاب دې، نومور بی بی اوفرمائیل چه د ړونتوب نه به بل کوم عذاب لوئ وی. دې نابیناشوې وو نو ونی فرمائیل کیدې شی هم دا عذاب عظیم وی. بیافرمانی چه تاته معلومه نه ده چه د رسول الله ﷺ د طرف نه د کافرانود سپکاوی والا د شعرونو په جواب ورکولودې مقررووا([2])یوروایت کښې دی چه حسان ؓ هغه وخت دعائشه صدیقه k په تعریف کښې شعر لوستلې وو چه پاکه ساده د ټولو خرابو کارونونه غیبت او بدئی نه پرهیز کونکې ده نو هغوی اوفرمائیل چه ته خوداسې نه وې([3])حضرت عائشه فرمائی ماته دحسان ؓ د شعرونونه ښه شعرونه نه ښکاری اوچه زه کله هم دا شعرونه لولم نوزماپه زړه کښې داخیال راځی چه حسان ؓ جنتی دې.هغه ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب ته خطاب کولوسره خپلو شعرونوکښې فرمائی تاد محمدﷺ سپکاوې کړې دې زه چه تاسو ټول فناکړم نو بیاهم ستاسویدو ژبود مقابلې نه اخواکیدې نه شم ستاغوندې سړې چه زما دنبی ﷺ د پیښې مبارکې هم برابروالې نه شی کولې دحضورﷺ سپکاوې به کوې؟یادساته چه ستاپه شان بد دحضورﷺ په شان نیك باندې قربان دې، کله چه تاد حضورﷺ سپکاوې کړې دې نو اوس په زما د خلې د تیرې تورې په شان د بې عیبه تورې نه ته څنگه بچ کیږې اوچرته به ځې؟ د ام المؤمنین نه تپوس اوکړې شوچه آیا دا فضول کلام نه دې؟هغې اوفرمائیل هیڅ کله نه لغواو فضول کلام خود شاعرانو هغه بکواس دې کوم چه دښځو وغیره باره کښې وی.د هغې نه تپوس اوشو چه آیا په قرآن پاك کښې داسې نه دی چه په هغه تهمت کښې د چالویه حصه وه د هغوی د پاره لوئ عذاب دې؟ ونی فرمائیل چه اوخوولې داکوم عذاب چه هغه ته شوې هغه لوئ نه دې؟ سترگې د هغه نه لاړې توره په هغه اوچلیدله هغه خوښه ده چه صفوان ؓ منع شوکنی نوعجیبه نه وه چه د خپل خان متعلق نی داخبره اوریدوسره دې قتل کړې وو.

لَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ

| ولې نهٔ | کله چې | واوريدو تاسو دا خبر

اهر کله چې تاسو دا (د تهمت) خبره واوريده

ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا

گمان اوکړوا مومنانو سړو | او مومنانو ښځو | په ځانونو خپلو باند| دخير |او ونيلې ئې وې

نو ولې داسې نه وه اچې مسلمانانو سړو اوښځو دخپلو خپلوانو په حقله نيک گمان کړې وې او

هٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾ لَوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ

چې دا دروغ دی | ښکاره | ولې رانهٔ وستل هغوئ | په دې خبره باندې | څلور | گواهان

دا ئې وئيلی وې اچې دا خوښکاره بهتان دې ادوئ پخپله خبره باندې ولې څلور گواهان پيدانه کړل

[1]) صحیح بخاری کتاب الادب باب هجاء المشرکین:٦١٥٣، صحیح مسلم:٢٤٨٦.
[2]) صحیح بخاری کتاب المغازی باب حدیث الافك :٤١٤٦، صحیح مسلم:٢٤٨٨.
[3]) صحیح بخاریکتاب التفسیر سورة النور باب (ویبین الله لکم الآیات والله علیم حکیم):٤٧٥٦.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا | بِالشُّهَدَآءِ | فَاُولٰٓئِكَ | عِنْدَ اللّٰهِ | هُمُ | |
| پس هر كله چي رانۀ وستل هغوئ | گواهان | نو دغه كسان چي دي | په نز دالله | هم هغوئ | |

نو هر كله چي دوئ گواهان رانه وستي شول| نو بس دالله ﷻ په نزد خو هم دوئ دروغژن شول

الْكٰذِبُوْنَ۝

دروغژن دي |

اوكه په تاسو باندي په دنيا

قوله تعالى:- لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ خَيْرًا

**ذ صديقه كائنات دپاكوالى آسمانى اعلان:-** پدې آياتونو كښې الله ﷻ مؤمنانوته ادب ښائى چه هغوى دحضرت عائشه صديقه k باره كښې كومې خبرې د خُلې نه ويستلې وې بلكه هغوى له پكار ووچه د دې كلام په اوريدوسره ئى د خپلې شرعى مور سره كم نه كم هغه خيال كړې وې چه خپل ځان سره كوى بلكه هغوى خپل ځان هم د دې قابل نه گنړلونو د ام المؤمنين شان به ئى د دې نه هم زيات لوئ او اوچت گنړلو.يوه واقعه بالكل هم داسې شوې وه.حضرت ابوايوب خالدبن زيدانصارى ﷺته د هغه بى بى ام ايوب اوئيل چه آيا تا هغه هم واوريده كوم چه د حضرت عائشه باره كښې وئيلې شوى دى؟هغه اوفرمائيل اواودا يقينًا دروغ دى ام ايوب ته اوښايه چه ته چرته داسې كاركولې شې؟ هغې وئيل نعوذ بالله ناممكن دى. هغه اووئيل چه حضرت عائشه خوتانه ډيره غوره اوبهتره ده. كله چه آياتونه نازل شو نواول دبهتان تړونكو ذكر اوشو يعنى د حضرت حسان ﷺ اود هغه د ملگرو بيا په دې آياتونوكښې ذكر اوشو دحضرت ابوايوب ﷺ اودهغه د بى بى k ددې خبرواتروچه كومې پورته اوشوې. داهم يوقول دې چه دا مقوله د حضرت ابى بن كعب ﷺ وه.

**مؤمنانو لره څه كول پكار دى؟:-** غرض دا چه مومنانوله صفا باطن ساتل پكاردى اوښه خيالونه كول پكار دى. بلكه په ژبه سره هم د داسې واقعه ترديد اوتكذيب كول پكار دى ځكه چه داځومره واقعه تيره شوه په دې كښې د شك شبه هيڅ گنجائش هم نه وو.ام المؤمنين ښه په ښكاره په سورلئى باندې ناسته د ورځې اود غرمې په ډك لښكر كښې رسى پخپله پيغمبرموجود دې الله ﷻ دې نه كړى كه داسې څه خبره شوې هم وه نو داسې په ښكاره به دې عام ډلې ته نه راتله بلكه پټه اوغلى به په دې كښې شامله شوې وه چه چاته به هيڅ خبر هم نه وو شوې. نوصفاښكاره خبره ده چه د بهتان تړونكوخلې نه كومه خبره جوړه شوه هغه صرف دروغ بهتان اود ځان نه خبره ده په كوم سره چه هغوى خپل عزت او ايمان غرق كړو.بيا فرمائى چه دې بهتان تړونكو كوم څه وئيلى پخپل صداقت باندې څلورگواهان ولې نه پيش كوى؟اوچه كله دوى گواه پيش نه كړې شونوشرعًاهغوى دالله ﷻ په نيزدروغژن دى فاسق دى فاجر دى

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ | عَلَيْكُمْ | وَرَحْمَتُهٗ | فِي الدُّنْيَا | |
| اوكه چرى نۀ وې فضل دالله | په تاسو باندې | اورحمت دهغه | په دنيا | |

اوكه په تاسو باندې په دنيا او آخرت كښې دالله ﷻ فضل او مهربانئى نه وې ..........

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالْاٰخِرَةِ | لَمَسَّكُمْ | فِيْمَآ | اَفَضْتُمْ | |
| او په اخرت كښى | نو رسيدلې به وۀ تاسو ته | په هغه خبره كښى | چى اخته شوى وئ تاسو | |

انوتاسو چې په كومه گناه كښې اخته شوې وئ د هغې په وجه به

فِيۡهِ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝ اِذۡ تَلَقَّوۡنَهٗ بِاَلۡسِنَتِكُمۡ

په هغې کښې | عذاب | لوئ | کله چې | اغستل تاسو دا دروغ | په ژبو خپلو سره

درباندې لوئې عذاب نازل شوې وو | .........څه وخت چې تاسو دا خبره په خپلو خولو یو بل ته کوله

وَتَقُوۡلُوۡنَ بِاَفۡوَاهِكُمۡ مَّا لَيۡسَ لَكُمۡ بِهٖ عِلۡمٌ

اووئیل تاسو | په خلو خپلو باند | هغه څه | چې نه وو تاسو لره | په هغې باند | څه علم

| او تاسو به خولو باندې هغه څه وئیل چې تاسوترې نه خپله خبر نه وئ

وَّتَحۡسَبُوۡنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنۡدَ اللّٰهِ عَظِيۡمٌ ۝

او تاسو سرګنړله دا خبره | اسانه (معمولی) | حالانکه هغه | په نز د الله | لویه خبره وه |

اودا مو معمولی خبره ګنړله | حال دا چې د الله ﷻ په نزد ډیرلوئې جرم وو |

**قوله تعالی:** -وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ فِي الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ

**د صدیقه کائنات د عظمت بیان:** -ارشاددې چه اې هغه خلقوچاچه دحضرت صدیقه باره کښې خپلو ژبوته خراب حرکت ورکړو که د الله ﷻ فضل اوکرم په تاسو باندې نه وو چه هغه په دنیاکښې ستاسوتوبه قبوله کړې اوپه آخرت کښې تاسوستاسو دایمان په وجه معاف کړې نوچه په کوم بهتان کښې تاسو خپلې ژبې اوخوزولې په هغې کښې به تاسو باندې ډیر دروندعذاب وو.دا آیت دهغه خلقو متعلق دې دچا په زړه کښې چه ایمان ووخو په ناپوهنی کښې ئې څه وئیلې وو لکه حضرت مسطح ﷺ حضرت حسان ﷺ اوحمنه رضی الله عنهم. اوچه د چا زړه د ایمان نه خالی وواود دې طوفان اوچتونکی وولکه عبدالله بن ابی بن سلول وغیره منافقان دا خلق په دې حکم کښې نه ووځکه چه نه دوی سره ایمان وواونه نیک عمل. کله چه تاسوداخبره خوروله دیونه اوریدله بل ته به ئې کوله د حضرت عائشه k په قراءت کښې ﴿اذتلقونه﴾ دې[۱] عنی کله چه تاسو ددې دروغو خورونه کوله.اولنې قراءت د جمهوردې اوداقراءت د هغوی دې چاته چه ددې آیت ډیر علم وو اوتاسو به هغه خبره د ژبې نه ویستله دکوم چه تاسوته علم نه وو.تاسو خوداکلام آسان ګنړلو خو په اصل کښې دالله ﷻ په نیزدا ډیر دروند او سخت کلام وو.دیوې مسلمانې ښځې متعلق داسې تهمت لګول عظیم جرم دې. بیاد الله ﷻ د رسول ﷺ د بی بی متعلق داسې کلمه وئیل خیال اوکړنی چه څومره لویه ګناه به وی؟ د دې د پاره د رب غیرت دخپل نبی ﷺ دوجه نه په جوش کښې راغلواوالله ﷻ وحی نازله کړه اودخاتم الانبیاء سید المرسلین ﷺ دپاکې بی بی k پاکوالې ثابت کړو. دهریونبی بی بی الله ﷻ ددې بې حیائی نه لرې ساتلې ده نوداځنګه ممکن ده چه د ټولوانبیاؤکرامو بیبیانونه غوره او د هغوی سردار د ټولو انبیاؤ کرامو نه غوره اود ټول اولاد آدم سردار محمد ﷺ بی بی به په دې کښې ککړه وی حاشاوکلا. که تاسو داکلام بې توجوګنړنی خو حقیقت ددې مخالف دې. بخاری اومسلم کښې دی انسان بعضې وخت د الله ﷻ دخفګان یوه خبره اوکړی د کومې چه د هغه په خیال کښې هیڅ ځای نه وی خود هغې په وجه هغه ددوزخ په دومره لاندې طبقه کښې وررسی څومره چه زمکه اوآسمان دې بلکه د دې نه هم ډیر ښکته وی[۲]

[۱]) صحیح بخاری کتاب المغازی باب حدیث الافك:۴۱۴۴.
[۲]) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب حفظ اللسان:۶۴۷۷-۶۴۷۸، صحیح مسلم:۲۹۸۸.

Scanned with Ca

وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا

او ولې نه کله چې واورېدو تاسو دا خبر | وونیل تاسو | چې نه ښائی | مونږ لره | چې خله اوخوزوو | په دې دروغو

او څه وخت چې تاسو اورېدلې وه | نو داسې مو ولې نه وئیل چې مونږ له داسې خبره دخولې نه ایستل نه دی پکار

سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ⑯ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا

پاکي ده تالره | دا بهتان دې | لوئ | نصیحت کوی تاسو ته | الله | چې بیا اونه کړئ

سبحان الله ! دا خو ډیر لوئې بهتان (دروغ) دې | (واورئی) الله ﷻ تاسو ته نصیحت کوی

لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ⑰ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

کارپشان ددې دروغو | هیڅکله | که یئ تاسو | مومنان | او بیانوی الله | تاسو ته |

که چرې تاسو مومنان یئ نو بیا هیچرې داسې کار اونه کړئی | او الله ﷻ تاسو ته په وضاحت سره

الْاٰيٰتِ ط وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ⑱ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ

اېتونه | او الله | ښه پوهه دې | دحکمت خاوند دې | بیشکه هغه کسان | چې خوښوی

حکمونو بیانوی | او الله ﷻ په هرڅه پوهه او صاحب د حکمت دې | بیشکه کوم خلق چې دا غواړی

اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ فِى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ

داخبره | چې خوره شی | بې حیائی | په هغه کسانو کښې | چې ایمان ئې راوړې دې | دې دهغوئ دپاره

چې په مومنانو کښې بې حیائی خوره شی | هغوئ دپاره په دنیا او اخرت کښې دردناک

عَذَابٌ اَلِيْمٌ لا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ط وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ⑲

عذاب | دردناك | په دنیا کښې | او په اخرت کښې | او الله | پوهیږی | او تاسو نه پوهیږئ

عذاب مقرر دې | او الله ﷻ په هره خبره پوهیږی | او تاسو نه پوهیږئی

قوله تعالی:- وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ

**دیومسلمان پحقله بې تحقیقه خبره نه ده پکار:-** اول خوئې دنیك گمان کولوحکم ورکړودلته بل حکم ورکولې شی دخوخلقودشان متعلق بغیرتحقیق نه خرابه خبره نه دی ویستل پکار. دخرابوالزامونو خرابوخیالونو اوشیطانی وسوسونه خان لرې ساتل پکاردی هیڅ کله هم داسې خبرې دخلې نه نه دی ویستل پکار. که په زړه کښې دې داسې څه شیطانی وسوسه پیداهم شی نوژبه قابوکښې ساتل پکار دی؟دحضور ﷺ ارشاددې الله ﷻ زما د امت په زړونوکښې پیداکیدونکې وسوسې معاف کړی دی تر کومې چه هغه په ژبه باندې اونه وائی یائی په عمل کښې رانولی([1])(بخاری ومسلم) تاسوله پکار وو چه داسې فضول خبره اوریدو سره مو وئیلې وې مونږ په داسې کنده خبره خپله ژبه نه خرابوو. مونږ نه دابې ادبی نه شی کیدلې چه دالله ﷻ دخلیل اود هغه د رسول ﷺ د بی بی مبارکې په شان کښې داسې فضول خبره اوکړو. د الله ﷻ ذات پاك دې گورئی بیا داسې حرکت اونه کړئی گنی د ایمان د اخستلواندیښنه ده. اوکه یوسړې دایمان نه خالی وی نوهغه بې ادبه گستاخ اودخوخلقوسپکاوې کونکې وی. دشریعت احکام الله ﷻ ستاسو په وړاندې کولاو کولاو بیانوی. هغه د خپلو بندیگانود مصلحتونونه خبردار دې د هغه هیڅ یو حکم د حکمت نه خالی نه وی.

[1]) صحیح بخاری کتاب الایمان والنذورباب اذاحنث ناسیاقی الایمان: ٦٦٦٤، صحیح مسلم: ١٢٧.

Scanned with Ca

**د بدئی خورونه حرام ده:-** دادریمه تنبیه ده چه کوم یوسړې داسې خبره واوری هغه له د هغې خورول حرام دی.څوك چه داسې خرابې خبرې خوروی اوګرځی هغوی له به دنیاوی سزا یعنی حد هم لګولې شی او اُخروی سزایعنی د دوزخ عذاب به هم وی.الله ﷻ عالم دې تاسو بې علم ئی نوتاسو له خپل ټول امور هم دالله ﷻ طرف ته واپس کول پکاردی.په حدیث کښې دی د الله ﷻ بندیګانوته تکلیف مه ورکوه او هغوی ته شرم مه ورکوه د هغوی پټې خبرې مه لټوه. کوم سړې چه دخپل مسلمان رورعیب لټوی الله ﷻ به د هغه عیبونوپسې شی اوهغه به دومره رسواکړی چه د هغه دکوروالابه هم هغه ته په خراب نظرسره ګوری. (۱)

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ

او كه چرى نۀ وې فضل دالله | په تاسو باندې | او رحمت دهغه | او بيشكه الله | مهربانه دې

او كه چرې تاسو باندې دالله ﷻ فضل او رحمت نه وې انو (تاسوته به سخته سزادركړې شوې وه) اودا

رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ

رحيم دې | اے هغه كسانو | چې ايمان مو راوړې دې | پيروى مۀ كوئ | دقدمونو دشيطان

چې الله ﷻ ډير نرمى كونكې مهربان دې | اے مومنانو تاسود شيطان په لاره باندې مه ځئ

وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ

او چاچې پيروى اوكړه | دقدمونو | دشيطان | نو بيشكه چې هغه | حكم كوى | دبې حيايئ

اوڅوك چې په شيطان پسې روان شى انو هغه خو هميشه د بې شرمئ او دبدو كارونو

وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى

او دبدئ | او كه چرى نۀ وې فضل دالله | په تاسو باندې | او رحمت دهغه | نۀ شو پاكيدې |

حكم كوى |.... او كه په تاسوباندې دالله ﷻ فضل او مهربانى نه وې انو په تاسو كښې به

مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

ستاسو نه | هيڅوك | هيڅكله | ليكن | الله | پاكوى | هغه څوك | چې غواړى ئې هغه

هيڅوك پاك شوې نه وو | خو الله ﷻ چې څوك پاكول اوغواړى نو هغه پاك كړى

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾

او الله | ښۀ اوريدونكې دې | ښه پوهه دې |

او الله ﷻ هر څه اورى | په هر څه پوهه دې |

**قوله تعالى:-** يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا

**شيطانى لارې:-** كه دالله ﷻ فضل اوكرم اولطف اورحم نه وونوهغه وخت به څه بله خبره كيدله خو هغه د توبه كونكو توبه قبوله كړه.پاكيدونكى ئى په شرعى حدسره پاك كړل.په شيطانى طريقواوشيطانى لارو باندې مه ځنى.دهغه خبرې مه منئ. هغه خودبدئى بدكارنى بې حيايئى حكم وركوى نوتاسو له دهغه دخبرې منلونه پرهيزكول پكاردى دهغه د عمل نه بچ كيدل پكاردى.دهغه دوسوسو نه لرې كيدل پكار

(۱) احمد:٥/٢٧٩ح٢٢٤٠٢وسنده حسن، مجمع الزوائد:٨/٨٦.

Scanned with Ca

دی.دالله ﷻ په هره یوه نافرمانئی کښې د شیطان قدم وی([1])یوسړی حضرت ابن مسعود ﷺ ته اووئیل ماد فلانکی ځیزدنه خوړلوقسم کړې دې. هغوی اوفرمائیل دا دشیطان دهوکه ده دخپل قسم کفاره ورکړه او دااوخوره.یوسړی حضرت شعبی ته اووئیل ماد خپل ماشوم دذبح کولونذرمنلې دې. هغوی اوفرمائیل دا شیطانی حرکت دې داسې مه کوه د دې په بدل کښې یوګډ ذبح کړه. ابورافع m فرمائی چه یوځل زمااود ښځې په مینځ جنګ اوشو هغه ورانه شوه اوونی وئیل چه یوه ورځ هغه یهودیه وی او یوه ورځ هغه نصرانیه وی اود هغې ټول غلامان آزاد دی که ته خپلې ښځې له طلاق ورنه کړې.زه راغلم اوحضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته مې دامسئله بیان کړه نوهغوی اوفرمائیل داشیطانی حرکت دې. زینب بنت ام سلمه ﷺ چه هغه وخت کښې د ټولونه زیاته دینی پوهه لرونکې بی بی وه هغې هم دغه فتوی ورکړه. اوعاصم ابن عمر هم دا اووئیل بیا فرمائی که د الله ﷻ فضل اوکرم نه وونو په تاسو کښې به یوهم پخپله د شرك نه كفر نه خراب کار اوبدئی نه نه شو بچ کیدې. داد رب العالمین احسان دې چه هغه تاسو ته د توبه توفیق درکوی بیا په تاسو باندې په مهربانئی سره رجوع کوی او تاسو پاك اوصفاجوړوی(الله ﷻ چه څوك غواړی پاك اوصفا کوی اوڅوك چه غواړی د هلاکت په کنده کښې وردیکه کوی الله ﷻدخپل بندیګانوخبرې اوریدونکې اودهغوی داحوالونه خبرداردې.دهدایت مستحق او ضلالت ټول دهغه په نظر کښې دی اوپدې کښې هم دهغه حکیم ډیرې حسابه حکمت دې)

وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ

| اونۀ دخوری قسم | خاوندان دفضل | ستاسو نه

| او تاسوکښې چې څوک د بزرګئ والا دې

وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ

او خاوندان دفراخئ | دې خبری ته چی ورکړی هغوئ | خاوند درشتې ته | او مسکینانوته

مالداران دی |.............نو هغوئ دې خپلوانو مسکینانو

وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا ۗ

او هجرت کونکوته | په لار دالله کښی | او پکار دی چی معافی اوکړی | او مخ واړوی

اودالله ﷻ په لار کښې هجرت کونکو ته د څه نه ورکولو قسمونه نه خوری | اوپکار دی چې معافی

أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢٢﴾

آیا نۀ خوښوئ تاسو | چی ببښنه اوکړی الله | تاسو ته | اوالله | بخښونکې | مهربانه دې |

ورته کوی |او د عفو نه دې کار اخلی |آیادامو خوښه نه ده چې الله ﷻ درته بښنه اوکړی |اوالله ﷻ ډیر

إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ

بیشکه هغه کسان | چی ولی په الزام دزنا | پاکې | ناخبره | مومنانې ښځې

ښښونکې مهربان دې | هغه خلق چې په پاکدامنو بې خبره اوایماندارو ښځو باندې

---

[1] الطبري: ۳/۳۱۰.

Scanned with Ca

لُعِنُوْا فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ

لعنت اوکړې شو په هغوئ باندې| په دنیا کښې | اوپه آخرت کښې | اودې دهغوئ دپاره| عذاب

تهمتونه لګوی انو په هغوئ باندې په دنیا اوپه آخرت دواړو کښې لعنتونه وریږی |اوهغوئ دپاره

عَظِیْمٌ ﴿۲۳﴾ یَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَیْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَیْدِیْهِمْ

لوئ | په هغه ورځ |چې ګواهی به کوی | په هغوئ باند| ژبې دهغوئ | او لاسونه دهغوئ

دردناک عذاب مقرر دې |په کومه ورځ چې به دوی په هغه عملونو کوم چې دوی کړی وی د دوی

وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ یَوْمَئِذٍ

او ښپې دهغوئ |په هغه کارونو | چې وو هغوئ | چې کول به ئې | په دغه ورځ به

ژبې او لاسونه او پښې ګواهی ورکوی |.................. په دغه ورځ

یُّوَفِّیْهِمُ اللّٰهُ دِیْنَهُمُ الْحَقَّ وَیَعْلَمُوْنَ

پوره پوره ورکړی هغوئ له | الله | بدله دهغوئ |چې لائیقه وی | او معلوم به شی هغوئ ته

به الله ﷻ دوئ ته ددې پوره پوره سزا ورکړی ||اودوئ ته به معلومه شی

اَنَّ اللّٰهَ هُوَالْحَقُّ الْمُبِیْنُ ﴿۲۵﴾

چې بیشکه الله|هم هغه حق دې|ربنتیاؤ لره ربنتیا کونکې دې |

چې یقینی ده چې الله ریښتونې اودهرې خبرې ښکاره کونکې دې|

**قوله تعالی:-** وَلَا یَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ

**دصدیق اکبر عظمت اوسخاوت:-** په تاسوکښې چه کوم خلق دکولاورزق قدرت لرونکی دی صدقه او احسان کونکی دی هغوی له ددې خبرې قسم نه دی خوړل پکارچه هغوی به خپلوخپلوانوله مسکینانو له او مهاجرونه هیڅ هم نه ورکوی. دغه شان ئی هغوی متوجه کولود پاره اوبیاد نورو نرم کولود پاره ئی اوفرمائیل که د هغوی د لاس نه څه خطا هم شوی وی نوهغوی معاف کول پکاردی. که د هغوی نه څه بدی یاتکلیف رسیدلې وی نودهغې نه تیریدل پکاردی. داهم د الله ﷻ حلم کرم لطف اورحم دې چه هغه خپلو نیکانو بندیګانو ته هم د نیکوحکم کوی. داآیت د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه په باره کښې نازل شوی دې کوم وخت چه هغوی دحضرت مسطح بن اثاثه رضی الله عنه باره کښې دڅه ښیګړې نه کولو قسم خوړلې ووځکه چه د صدیقه k په بهتان کښې دې هم شامل وو لکه چه په اولنوآیاتونوکښې داواقعه تیره شوه.نوچه کله اصل خبره الله ﷻ ښکاره کړه حضرت ام المؤمنین بری شوه دمسلمانانو زړونه روښانه شودمؤمنانوتوبه قبوله شوه په تهمت لګونکوکښې بعضو باندې شرعی حد اولګیدو نو الله ﷻ حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه حضرت مسطح رضی الله عنه ته متوجه کولوسره اوفرمائیل چه هغه د هغه د ترور ځوئ او مسکین سړې وو.هم حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د هغه پالنه کوله اوهغه مهاجر وو خوپه دې باره کښې اتفاقی ژبه کولاوشوې وه هغه ته د تهمت حدهم لګولې شوې وو.دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه سخاوت مشهور ووځه په کښې خپل اوڅه پره دی د هغوی ښه سلوك د ټولود پاره عام وو. د آیت خاص کر چه دا الفاظ د صدیق اکبر رضی الله عنه په غوږ کښې پریوتل تاسود الله ﷻ د ښښنې طلبګار نه ئی؟ نود هغوی د ژبه نه بې واره اوتل او په الله قسم زمونږ خو هم دغه طلب دې چه الله ﷻ مونږ اوبښی اود هغه وخت نه چه به ئی مسطح رضی الله عنه ته

Scanned with Ca

څه ورکول هغه ئې ورته جاري کړل. لکه چه په دې ایاتونوکښې مونږ ته تلقین شوې دې چه څنګه مونږ غواړوچه زمونږ خطاګانې دې معاف شي مونږ له پکاردي چه دنوروخطاګانونه هم تیرشو. دادې هم په خیال کښې وی لکه څنګه چه هغوی اول فرمائیلي ووالله زه به ده سره هیڅ کله هم ښه سلوك اونه کړم اوس ئې وعده اوکړه والله زه به د ده نه کله هم د ده مقررشوې خرچه منع نه کړم رښتیادی چه صدیق خو هم صدیق وو.

**پاکوښځوباندې دتهمت لګولوسزا:**-کله چه په عامومسلمانانوښځوباندې دطوفان اوچتونکودپاره دا سزا ده نودانبیاؤکرامو بیبیانې چه دمسلمانانو مئیندې دی په هغوی دبهتان تړونکوبه څه سزاوی؟ اوخاص کړبه هغه بی بی چه دصدیق اکبرﷺلوروه.دعلماؤکراموپدې باندې اجماع ده چه ددې آیاتونود نازلیدلو نه پس هم چه څوك په مور بی بی k باندې دا الزام رایادوی هغه کافردې ځکه چه هغه د قرآن پاك نه خلاف اوکړل.دحضورﷺ د نورو بیبانو متعلق صحیح قول هم دا دې چه هغوی هم دعائشه k په مثال دی.والله اعلم. فرمائی چه داسې خراب الزام لګونکی په دنیااوآخرت دواړو کښې د الله ﷻ د لعنت مستحق دی. لکه چه بل آیت کښې ارشاد دې ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا﴾[1] یعنی کوم خلق چه الله ﷻ ته اودهغه رسول ﷺ ته تکلیف ورکوی په هغوی باندې په دنیا او آخرت کښې دالله ﷻ غضب دې اودهغوی د پاره رسوا کونکی عذابونه تیاردی.د عضې خلقو دا خیال دې چه دا صرف خاص دی د ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه k باره کښې. ابن عباس ﷛ هم دا فرمائی د سعیدبن جبیر اود مقاتل بن حبان هم دا بیان دې ابن جریر هم دحضرت عائشه k نه دانقل کړی دی خوچه بیائی په تفصیل سره کوم روایت راوړی دی په هغې کښې په دوی باندې د تهمت لګیدو په حضورﷺ باندې د وحی نازلیدو اوددې آیت د نازلیدلو ذکر دې.خوددې حکم د هغوی سره دخاص کیدوذکر نشته نوکه دنازلیدلوسبب خاص وی ولې حکم عام دې. ممکن دی چه د حضرت ابن عباس ﷛وغیره دقول هم دامطلب وی.والله اعلم. بعضې بزرګان فرمائی چه د ټولو بیبیانو مطهراتو هم داحکم خودې ولې د نورو مؤمنانو ښځوداحکم نه دې. دابن عباس ﷛ نه روایت دې چه د دې آیت نه مرادخودرسول الله ﷺ بیبیانې دی چه کوم منافقان پدې تهمت کښې وو ټول د الله ﷻ د دربارنه اوړتلې شولعنتی اوګرځیدل اودالله ﷻ د غضب مستحق شو. د دې نه پس د نورو مؤمنانوښځو د تهمت لګولو حکم کښې آیت ﴿وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ﴾ [2] نازل شو.نودوی به په کوړووهلې شی.که هغوی توبه اوکړه نوتوبه ئې قبوله ده ولې د دوی ګواهی به دبیادپاره همیشه غیرمعتبروی.

حضرت ابن عباس ﷛یوځل دسورت نور تفسیربیانولوسره فرمائیل چه دا آیت د حضورﷺ د بیبیانوباره کښې نازل شوې دې.دهغه بهتان کونکوتوبه هم قبوله نه ده. په دې آیت کښې ابهام دې اوځلور ګواهان نه راوړلو په صورت کښې آیت په عامو ایماندارانوښځوباندې تهمت لګونکوبه حق کښې دې د هغوی توبه مقبول ده.دی اوریدوسره په مجمع کښې ناستوخلقو اراده اوشوه چه دهغوی تندې ښکل کړی ځکه چه هغوی ډیر ښکلې تفسیر کړې وو.دابهام نه مراد دادې چه دتهمت حرمت عام دې اود هرې یوې پاك دامنې ښځې په شان کښې اوداسې خلق ټول ملعون دی.حضرت عبدالرحمن فرمائی هریوبهتان تړونکی په دې حکم کښې دې خوحضرت عائشه k په طریقه اولی ده[3] امام ابن جریرهم عموم خوښوی اودا صحیح هم دی اودعموم په تائیدکښې داحدیث هم دې حضورﷺ فرمائی د اووه ګناهونونه بچ شئ

[1] ۳۳/الاحزاب: ۵۷.
[2] ۲٤/النور: ٤.
[3] الطبری: ۱۹/ ۱۳۹.

Scanned with Ca

کومې چه هلاك کوونکې دي. تپوس اوشو هغه کومې کومې دي؟ اوئې فرمائيل د الله ﷻ سره شرك کول، جادو، څوك بې وجه وژل، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، دجهادنه تختيدل اوپاك دامن ساده مؤمنه باندې تهمت لګول[1] (بخاري ومسلم) يوبل حديث کښې دي په پاکوښځو باندې د زناتهمت لګونکې د سلوګالو نيکئي غرقې دي[2] دحضرت ابن عباس ﷺ فرمان دې کله چه مشرکان اوګوري چه په جنت کښې بغيردمونځ ګذارو نه نور څوك نه شي تلې نو هغوي به وائي راځئي چه مونږ هم انکاراوکړو.د خپل شرك نه به دوي انکاراوکړي هم هغه وخت به ددوي په خله مهراولګی اوپښې لاسونه به ئې ګواهي ورکړي اودالله ﷻ نه به هيڅ خبره پټه نه کړې شي[3] حضورﷺ فرمائي چه کافرانوته چه کله د هغوي بدعملئې پيش کړې شي نوهغوي به انکار اوکړي اوخپله بې ګناهي به ثابتوي نوورته به ونيلې شي چه دادې ستاسو هغه ګاونډيان چه ستاسو خلاف ګواهي ورکوي دوي به وائي دا ټول دروغژن دي نوورته به وئيلې شي چه ښه ده ستاسودخپلې قبيلې اوټبرخلق موجود دي.دوي به وائي داهم دروغژن دي نو وائي به ښه ده تاسوقسم اوخورئي بيابه الله ﷻ هغوي ګونګيان کړي اوبخپله په د هغوي پښې لاسونه د هغوي د بدعملو ګواهي ورکوي بيا به هغوي دوزخ ته ليګلې شي.[4]

**په قيامت کښې په کافر د خپلو اندامونو ګواه:**- حضرت انس ﷺ فرمائي مونږ دحضورﷺ په خدمت کښې حاضر وو چه وئې خندل او وئې فرمائيل تاسوته معلومه ده ولې مې اوخندل؟ مونږ وئيل الله ﷻ ته معلومه ده وئې فرمائيل بنده چه د قيامت په ورځ الله ﷻ سره کومه حجت بازي کوي په هغې مې اوخندل. دې به وائي اې الله تازه د ظلم نه منع کړې نه يم؟ الله ﷻ به فرمائي اونودې به وائي چه نن ورځ زه کوم ګواه رښتونې اومنم هم د هغې ګواهي به زما په حق معتبره ګڼړلې شي اوهغه ګواه بغيرزما نه بل څه نه دي. الله ﷻ به وائي چه ښه ده هم داسې صحيح هم ته خپل ګواه اوسه.اوس به ئې په خله مهراولګی او اندامونه به ئې سوال جواب کوي نوهغوي به ټول پټ رازونه کولاوکړي. هغه وخت به بنده وائي تاسو غرق شئي تاسو بربادشئي هم ستاسو د طرف نه خو زه جنګيدلم.[5] د جمهورو په قراءت کښې په ﴿ٱلۡحَقَّ﴾ باندې زبردې څکه چه داد دين صفت دې. مجاهد ﴿ٱلۡحَقُّ﴾ لوستلې دې په دې وجه سره چه دا لغت دې د لفظ الله.د ابی بن کعبﷺ په مصحف کښې ﴿يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ﴾ [6] دبعضې سلفونه لوستل روايت دی.هغه وخت به پوهه شئي چه دالله ﷻ وعده وعيد حق دی. د هغه حساب د عدل والا دې د ظلم نه لرې دې.

| | |
|---|---|
| لِلۡخَبِيثِينَ | ٱلۡخَبِيثَٰتُ |
| دپاره دناپاکو سرو دي | ناپاکي ښځې |
| د پليتو سړو لائقې دي | پيليتې ښځې |

[1] صحيح بخارى كتاب الوصايا باب قول الله تعالى ﴿إن الذين يأكلون اموال اليتامى ظلما....﴾:٢٧٦٦، صحيح مسلم:٨٩، ابوداؤد:٢٨٧٤، ابن حبان:٥٥٦١، بيهقى:٢٤٩/٨.

[2] المعجم الكبير:٣٠٢٣، مسندالبزار:٢٩٢٩.

[3] الطبرى:٣٧٣/٨.

[4] حاكم:٦٠٥/٤.

[5] صحيح مسلم كتاب الزكاة باب الدنيا سجن للمؤمن وجنة للكافر:٢٩٦٩، السنن الكبرى للنسائى:١١٦٥٣، مسندابى يعلى:٣٩٧٧.

[6] ٢٤/النور:٢٥.

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالْخَبِيْثُوْنَ | لِلْخَبِيْثٰتِ | وَالطَّيِّبٰتُ | لِلطَّيِّبِيْنَ | وَالطَّيِّبُوْنَ |
| او ناپاك سړي | دپاره دناپاکو ښځو دي | او پاکې ښځې | دپاره پاکو سړو دي | او پاك سړي |
| اوپليت سړي د پليتو ښځو لائق دي \| اوپاکې ښځې د پاکو سړو اوپاك سړي | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِلطَّيِّبٰتِ | اُولٰٓئِكَ | مُبَرَّءُوْنَ | مِمَّا | يَقُوْلُوْنَ | لَهُمْ |
| دپاره دپاکو ښځو دي | دا کسان | پاك دي | دهغه خبرونه | چې دوئ ئې وائي | ده ددوئ دپاره |
| دپاکو ښځو لائق دي \| داخلق دهغه خبرونه بيخي پاك دي کومې چه هغوی کوی \| او دوئ | | | | | |
| مَغْفِرَةٌ | وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٦﴾ | | | | |
| ښښانه | او رزق عزتمند | | | | |
| دپاره ښښنه او دعزت روزی ده | | | | | |

**قوله تعالى:- اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ**

**بدکاره ښځې دبدکاره سړو دپاره اونيکې ښځې دَ نيکانو سړو دَ پاره دي:-** ابن عباس ﷛ فرمائي چه داسې خرابه خبره د خرابو خلقو دپاره ده اود ښې خبرې حقدار هم ښه خلق وي. يعني منافقانوچه کوم تهمت په صديقه k باندې لګولې وو اودهغوی په شان کښې چه کوم خراب الفاظ استعمال کړل د هغې لائق هم هغوی دي ځکه چه هم هغوی بداوخبيث دي.عائشه صديقه پاکه وه ځکه هغه د پاکو کلمولائق ده او هغه د ناپاکه بهتانونونه بری ده.دا آيت هم دعائشه باره کښې نازل شوې دې (۱) د آيت صفامطلب دادې چه دالله ﷻ رسول ﷺ چه د هرقسم نه طيب دې. ناممکن دی چه د هغه په نکاح کښې الله ﷻ يوه داسې ښځه ورکړی چه هغه خبيثه وی.خبيثه ښځې خود خبيثو سړو د پاره وی. د دې دپاره اوفرمائيلې شوچه داخلق ددې ټولوقسمه تهمتونونه پاك دی کوم چه د الله ﷻ دښمنان تړی. دوی ته چه دهغوی دخرابوخبرود کولونه کوم تکليف اوخفګان اورسيدوهغه به هم ددوی دپاره دګناه دبښنې ذريعه جوړه شی.اوداخودحضورﷺ بی بی ده په جنت عدن کښې به هم حضورﷺ سره وی. يو ځل اسير بن جابر عبدالله ﷛ له راغلو وئی وئيل چه ماخونن دوليدبن عقبه نه يوه ډيره ښکلې خبره واوريده نوعبدالله ﷛ اوفرمائيل ټيك ده دمؤمن په زړه کښې يوه خبره راکوزيږی اودهغه سينې ته راځی بياهغه په ژبه سره بيانوی هغه خبره ښه وی ښه اوريدونکی هغه پخپل زړه کښې کينوی.بياهغه ددې آيت تلاوت اوفرمائيلو.مسنداحمد کښې يوحديث دې چه کوم سړې ډيرې خبرې واوری بياپه هغې کښې چه د ټولو نه خرابه وی هغه بيان کړی د ده مثال داسې دې لکه چه يوسړې د چيلووالا نه يوه چيلئی اوغواړی او هغه ده ته اووائی چه لاړشه اوپه دې رمه کښې چه دې کومه يوه خوښه وی هغه واخله(۲) اوهغه د رمې د سپی غوږ اونيسی لاړشی.يوبل حديث کښې دی د حکمت خبره د مؤمن نه اورك شوې دولت دې کوم خانی چه اومومی واديخلی. (۳)

| | | |
|---|---|---|
| يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ | اٰمَنُوْا | لَا تَدْخُلُوْا |
| اے هغه کسانو | چې ايمان موراوړي دي | مه ننوزئ |
| ائې دايمان خاوندانو ! دخپلو کورونو نه سوا | | |

(۱) الطبری:۱۹/۱۴۲.
(۲) ابن ماجة کتاب الزکاة باب الحکمة:۴۱۷۲احمد:۲/۴۰۵،مسندالطيالسی:۹۰،مسندابی يعلی:۶۳۸۸،.
(۳) ترمذی کتاب العلم باب ماجاء فی فضل الفقه علی العبادة:۲۶۸۷ابن ماجة:۴۱۶۹،.

Scanned with Ca

بُيُوْتًا　غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ　حَتّٰى　تَسْتَاْنِسُوْا　وَتُسَلِّمُوْا

کورونو ته| غیر د کورونو ستاسو نه | تر هغې پورې | چې تاسو رضا حاصله کړئ| او سلام اووایئ

د بل چا کورونو ته مه داخلیږئ |.........تر څو چې موا جازت نه وی غوښتې |او تر څو چې په هغې

عَلٰٓى اَهْلِهَا ۭ　ذٰلِكُمْ　خَيْرٌ　لَّكُمْ　لَعَلَّكُمْ　تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾

په اهل د هغه کور باند| دا طریقه | بهتره ده | ستاسو دپاره | دپاره ددې چې تاسو | نصیحت واخلئ

خلقو سلام وانچوئی کوم چه په کښې اوسیږی|دا کار ستاسو دپاره ډیر غوره دې چې تاسو نصیحت قبول کړئ

فَاِنْ　لَّمْ تَجِدُوْا　فِيْهَآ　اَحَدًا　فَلَا تَدْخُلُوْهَا　حَتّٰى

پس که چرې | بیانهٔ موندل تاسو |په هغه کور کښې| هیڅوك |　نو مهٔ ننوزئ هغې ته| تر هغې پورې

نو که په هغه کور کښې درته څوک ښکاره نشی |نو تر هغې مه ورننوځئ چې تر

يُؤْذَنَ　لَكُمْ ۚ　وَاِنْ قِيْلَ　لَكُمُ　ارْجِعُوْا

چې اجازت اوکړې شی　|تاسوته　| او که اووئیلې شی |　تاسو ته　|چې واپس لاړشئ

څو درته اجازت اونشی |او که دا درته اووئیلې شی چې واپس لاړشئ

فَارْجِعُوْا　هُوَ　اَزْكٰى　لَكُمْ ۭ　وَاللّٰهُ　بِمَا　تَعْمَلُوْنَ

نو واپس شئ |دا طریقه|ډیره پاکه ده|ستاسو دپاره | |اوالله | په هغه کارونو باند| چې تاسو ئې کوئ

نو واپس لاړشئ |هم دا خبره ستاسو دپاره غوره ده .......|او الله ﷻ ستاسو په عملونو ښه

عَلِيْمٌ ﴿٢٨﴾　لَيْسَ　عَلَيْكُمْ　جُنَاحٌ　اَنْ تَدْخُلُوْا　بُيُوْتًا

ښه عالم دې | نشته　|　په تاسو باندې　|　څه ګناه　|　چې تاسو ننوځئ|　داسې کورونو ته

پوهه دې |په دې خبره کښې په تاسو څهٔ ګناه نشته | چې کومو کورونو کښې څوک

غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ　فِيْهَا　مَتَاعٌ　لَّكُمْ ۭ　وَاللّٰهُ　يَعْلَمُ

چې دهیچا داوسیدو ځائې نهٔ وی| او په هغے کښې | څه فائیده وی | ستاسو دپاره | او الله | پوهیږی

نه اوسیږی |او ستاسو سامان په هغې کښې دننه پروت وی | چې هغې ته ورننوځئ او الله ستاسو

مَا　تُبْدُوْنَ　وَمَا　تَكْتُمُوْنَ ﴿٢٩﴾

په هغې | چې ښکاره کوئ ئې تاسو | او په هغې | چې پټوئ ئې تاسو |

په څرګنده او پټو کارونو باندې ښه پوهیږی |

**قوله تعالی:-** يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا

**په کورونو کښې د داخلیدو آداب:-** شرعی ادب بیانولې شی چه د چا په کور کښې داخلیدلو نه اول اجازت غواړه کله چه اجازت ملاوشی نو اول سلام اوکړه. که دا اول ځل په اجازت غوښتو سره جواب ملاونه شی نو دریو ځلو پورې اجازت غواړه او که بیا هم اجازت ملاونه شی نو واپس شه. صحیح حدیث کښې دی چه حضرت ابوموسی ؓ حضرت عمر فاروق ؓ له لاړو درې ځل ئې اجازت اوغوښتلو چه کله چا خبره اونه کړه نو هغه واپس شو لږ ساعت پس حضرت عمر ؓ خلقو ته اووئیل او ګورئ عبدالله بن قیس راتلل

Scanned with Ca

غواړی هغه راوغواړئی. خلق لاړل چه وئی کتل نو هغه تلې وو واپس راغله اوحضرت عمر ﷺ ته ئی خبر ورکړو.کله چه دحضرت ابوموسی ﷺ اوحضرت عمر ﷺ ملاقات اوشونوحضرت عمر ﷺ تپوس اوکړو واپس ولې لاړې؟ جواب ئی ورکړو چه دحضورﷺ حکم دې چه د دریوځلواجازت غوښتونه پس هم اجازت ملاونه شی نو واپس لاړشه.مادرې ځل اجازت اوغوښتلو کله چه جواب رانغلو نوما په دې حدیث باندې عمل اوکړو واپس لاړم. حضرت عمر ﷺ جواب ورکړو چه په دې باندې څه ګواه پیش کړه ګنی زه به تاله سزا درکړم. هغه د دې ځایٔ نه پاسیدو اود انصارو یوې ډلې له لاړو او ټوله واقعه ئی ورته بیان کړه او وئی فرمائیل چه که په تاسوکښې چاد حضورﷺ داحکم اوریدلې وی نوماسره لاړ شئی اوحضرت عمر ﷺ ته اووائې. انصاروونیل چه داخوعام مسئله ده بیشکه حضورﷺ فرمائیلی دی موږ ټولواوریدلی دی موږ د ټولونه کم عمر هلك تاسره کووهم دې به ګواهی ورکړی.حضرت ابو سعید خدری ﷺ لاړواوحضرت عمرﷺ ته ئی اووئیل ماهم د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. حضرت عمرﷺ هغه وخت افسوس اوکړو او وې فرمائیل چه د بازارونو لین دین زه د دې مسئله نه غافل اوساتلم. ([1])

**د رسول کریم ﷺ سره د سعد د سلام قصه:-** یوځل حضورﷺ دحضرت سعدبن عباده ﷺ نه اجازت اوغوښتوونی فرمائیل السلام علیکم ورحمة الله.حضرت سعدﷺپه جواب کښې وعلیکم السلام ورحمة الله اووئیل خوپه داسې آواز کښې چه حضورﷺ واونه ریدو. درې ځل هم داسې اوشو حضورﷺ به سلام کولواوهغه به جواب ورکولوخوداسې چه حضورﷺ به نه اوریدو. دې نه پس حضورﷺ د هغه ځایٔ نه واپس تشریف یوړو.حضرت سعدﷺ حضورﷺ پسې شاته راودانګل راغلوونی وئیل یارسول الله ﷺ ستاسو ټول آوازونه زماغوږونو ته رسیدل ماد هرسلام جواب هم درکړې خوصرف په دې خیال چه ستاسودیرې دعاګانې واخلم اوډیر برکت حاصل کړم اوس تاسو لاړشئی اوتشریف کیږدئی. نوحضورﷺ لاړو. هغه د حضورﷺ په وړاندې کشمش (اوسکې) کیخودې حضورﷺ اوخوړلې اوچه فارغ شو نوارشاد ئی اوفرمائیلوستا خوراك نیکانوخلقو اوخوړلوفرښتې په تاباندې رحمت رالیګی. ستاسو سره روژه دارو روژه کولاوکړه([2])یوبل روایت کښې دی چه کوم وخت حضورﷺ سلام اوکړواوحضرت سعدﷺ په مزد جواب ورکړو نودهغه څوئ حضرت قیس ﷺ عرض اوکړوچه ته حضورﷺ ته ولې اجازت نه ورکوې؟ هغه وئیل چپ شه ګوره حضورﷺ به بیاسلام وائی موږ ته به په دویم ځل دحضورﷺ دعاملاویږی. په دې کښې داهم دی چه دلته راغلو حضورﷺ غسل اوکړو. حضرت سعدﷺ د زعفران یاورس سره رنګ شوې یوڅادر پیش کړوچه حضورﷺ د خپل بدن مبارك نه راتاوکړو بیائی لاس مبارك اوچت کړو اود حضرت سعدﷺ دپاره ئی دعااوکړه اې الله ﷻ دحضرت سعدبن عباده ﷺپه آل باندې خپل درود او رحمت نازل کړه.بیاحضورﷺ هم هلته خوراك اوکړوکله ئی چه د واپس تلواراده اوکړه نوحضرت سعدﷺ پخپل خرباندې کته واچوله راتی وستلو دحضورﷺ د سورلئی دپاره ئی پیش کړو اوخپل څوئ قیس ﷺ ته اووئیل چه ته حضورﷺ سره سره څه نوهغه ورسره لاړو خوحضورﷺ حضرت قیس ﷺ ته اووئیل چه قیس ته هم سورشه. هغه وئیل حضورﷺ مانه خو به دا اونه شی. حضورﷺ اوفرمائیل چه په دوو خبرو کښې خو به ته یوه خامخا کوې یاخو به ماسره په دې خاروی سوریږې یابه واپس ځې. حضرت قیس ﷺ واپس تلل منظورکړل. ([3])

---

[1]) صحیح بخاری کتاب البیوع باب الخروج فی التجارة:۲۰۶۲، صحیح مسلم:۲۱۵۳، ابوداوٗد:۵۱۸۱، ابن حبان: ۵۸۰۷.

[2]) احمد:۱۳۸/۳، ابوداوٗد:۳۸۵٤وهوحدیث حسن، مشکل الاثار للطحاوی:۲۹۸/۱-۳۹۹وسنده حسن، مسندالبزار:۱۹۶۰، مجمع الزوائد:۳٤/۸.

[3]) ابوداوٗد کتاب الادب باب کم مرة یسلم الرجل فی الاستئذان:۵۱۸۵.

Scanned with Ca

**راتلونکی لره دروازې ته مخامخ اودریدل نه دی پکار**:-دایادساتئی چه اجازت غوښتونکې دې د دروازې مخې ته نه اودریږی بلکه ښی یاګس طرف ته دې لږ شان په اړخ اودریږی بلکه اخوادیخودې لرې اودریږی اوپه زوره دې سلام وائی. هغه وخت به په دروازه کښې پردې هم زوړندې نه وې[۱] د حضورﷺ دروازې ته مخامخ یوسړې اودریدو اجازت ئی اوغوښتلونو حضورﷺ هغه ته تعلیم ورکړو چه نظر دې پرینوخی ددې دپاره خواجازت مقررشو بیاد دروازې مخامخ اودریدوسره د آوازکولو څه معنی؟یاخو لږ شان اخواشه یادیخوا شه[۲] یوبل حدیث کښې دی چه که څوك ستاد اجازت نه بغیرستاپه کورکښې اوګوری اوته هغه په کاڼړی اولې او دهغه سترګه اوخی نو په تا باندې څه ګناه نشته.[۳] حضرت جابرؓ یو ځل دخپل پلارد قرضې د ادائیګئی په فکر کښې د حضورﷺ په خدمت کښې حاضرشو دروازه ئی اوټکوله نوحضورﷺ تپوس اوکه څوك صاحب ئی؟حضرت جابرؓ اووئیل زه یم. حضورﷺ اوفرمائیل زه زه لکه چه حضورﷺ د هغه دا وینا ناخوښه کړه.[۴]

**راتلونکی له خپل نوم خودل پکار دی**:-ځکه چه زه وئیلو سره خودانه معلومیږی چه څوك دې ترکومې چه نوم یامشهورکنیت نه وی خودلې شوې. زه خوهریوسړې د ځان د پاره وئیلې شی نود اجازت غوښتلو اصل مقصدنه شی حاصلیدې.

(**استئذان،استئناس**)یوه خبره ده[۵] حضرت ابن عباسؓ فرمائیل(**تستانسوا**) د کاتبانو غلطی ده. (**تستاذنوا**) لیکل پکاردی. د ابن عباسؓ هم دا قراءت وواود ابی بن کعبؓ هم خوداډیر غریب قول دې. د ابن مسعودؓ په خپل مصحف کښې (**حتی تسلمواعلی اهلهاوتستاذنوا**)دې.

**راتلونکی لره اول سلام بیا اجات غوښتل پکار دی**:-صفوان بن امیهؓ چه کله مسلمان شو نویوځل کلده بن حنبلؓ هغه رسول اللهﷺ له راولیګلو هغه وخت حضورﷺ د وادئی په اوچته حصه کښې وو. دې بغیر دسلام نه اوبغیرداجازت نه رسول اللهﷺ له اورسیدو.حضورﷺ اوفرمائیل واپس شه او اووایه اسلام علیکم آیا زه راشم؟[۶] یوبل حدیث کښې دی چه د قبیله بنوعامر یوسړې د حضورﷺ کورته راغلواوونی وئیل زه دننه راشم؟ حضورﷺ خپل غلام ته اوفرمائیل لاړشه اوده ته د اجازت غوښتو طریقه اوښایه چه اول سلام اوکړه بیا اجازت اوغواړه.دې سړی دا واوریده اودغه شان ئی سلام اوکړو او اجازت ئی اوغوښتلو حضورﷺ اجازت ورکړواوهغه دننه لاړو[۷] یوبل حدیث کښې دی چه حضورﷺ خپلې خادمه ته فرمائیلی وو[۸] بل حدیث کښې دی دکلام نه اول سلام کول پکاردی[۹] داحدیث ضعیف دې. ترمذی شریف کښې دی چه حضرت ابن عمرؓ د حاجت نه فارغ شو راروان ووخود نمر طاقت ئی نه لرلونود یوې قریشی ښځې جونګړې ته اورسیدو وئی فرمائیل السلام علیکم آیا زه دننه راشم؟هغې

---

[۱] ابوداوٗد حواله سابق:۵۱۸٦وسنده حسن.

[۲] ابوداوٗد کتاب الادب باب فی الاستئذان:۵۱۷٤.

[۳] صحیح بخاری کتاب الدیات باب من اطلع فی بیت قوم ففقؤواعینه فلادیة لـه....:٦٩٠٢،صحیح مسلم:۲۱۵۸، احمد:۲/۲٤۳، ابن حبان:٦٠٠۲.

[٤] صحیح بخاری کتاب الاستئذان باب اذاقال من ذا فقال انا:٦۲۵٠، صحیح مسلم:۲۱۵۵، ابوداوٗد:۵۱۸۷، ترمذی:۲۷۱۱، ابن ماجة:۳۷٠۹، احمد:۳/۳۲٠، ابن حبان:۵۸٠۸.

[۵] الطبری:۱۹/۱٤٦.

[٦] ابوداوٗد کتاب الادب باب کیف الاستئذان:۵۱۷٦وسنده حسن، ترمذی: ۲۷۱٠، السنن الکبری للنسائی:٦۷۳۵، احمد: ۳/٤۱٤.

[۷] ابوداوٗد کتاب الادب باب کیف الاستئذان:۵۱۷۷وسنده صحیح.

[۸] الطبری:۱۹/۱٤٦.(ترمذی)

[۹] ترمذی کتاب الاستئذان باب ماجاء فی السلام قبل الکلام:۲٦۹۹.

Scanned with Ca

ونیل په سلامتیاسره راشه. هغوی بیا هم دا اوونیل نوهغې هم دغه جواب ورکړو د هغه پښې سوزیدې کله به په یوه پښه او کله په بله پښه اودریدو .ونې فرمائیل چه راشم هغې ونیل راشه نوبیا هغوی دننه تشریف یوړو.حضرت عائشه k له څلور ښځې راغلې اجازت ئې اوغوښتو چه مونږ دننه راشو؟ هغې ونیل نه په تاسو کښې چه کومه یوه داجازت په طریقه باندې پوهیږی هغې ته اووایه چه هغه اجازت واخلې نویوې ښځې اول سلام اوکړو او بیائې اجازت واخستلو. حضرت عائشه k اجازت ورکړو بیائې دغه آیت تلاوت کړو.ابن مسعودﷺ فرمائی چه که خپلې موراو خوئیندوکره هم تلل وی نوخامخا اجازت اخلئ. د انصارو یوې ښځې حضورﷺ ته اوونیل چه زه بعضې وخت کښې په خپل کور کښې په داسې حالت کښې یم که زما پلار هم راشی اویازما خپل ځوئ هغه وخت راشی نوماته بدلګی ځکه چه هغه حالت داسې نه وی چه که د چا نظر هم په ماباندې پریوځی نو زه خفه یم اودکور والا کښې څو ځوك راځی. هغه وخت دا آیت نازل شو. ابن عباس ﷺ فرمائی درې آیاتونه دی چه خلقو په دې باندې عمل کول پریخې دی یوخوداچه الله ﷻ فرمائی په تاسو کښې دټولونه زیات بزرګ هغه دې چه د ټولونه زیات دالله ﷻ ویره لری اودخلقو خیال دادې چه د ټولونه لوئ هغه دې چه د ټولونه زیات مالدار وی اود آدب ایاتونه هم خلقوپریخی دی.حضرت عطاء د هغوی نه تپوس اوکړو زما په کورکښې زمایتیمانې خوئیندې دی چه هم په یوکور کښې اوسیږی اوهم زه ئې پالم. آیاهغوی سره تلوکښې هم ماله داجازت ضرورت شته؟ هغوی اوفرمائیل چه اوخامخا اجازت غواړه.ما بیادا سوال اوکړو چه کیدې شی څه رخصت په کښې ملاوشی خو هغوی اوفرمائیل چه آیا ته هغوی بربنډې لیدل خوښوې؟ ماونیل نه. ونې فرمائیل بیا خامخا اجازت اخله. ما بیا دغه سوال اوکړو نوهغوی اوفرمائیل چه آیاته د الله ﷻ حکم منې که نه؟ ماوئیل چه اومنم. هغوی اوفرمائیل چه بیا خوبې خبره هغوی له هډو څه مه. حضرت طاؤس فرمائی چه په محرمات ابدیه باندې په بربنډحالت کښې نظر پریوځی دې نه زیاته بدی زما په نیز بله نشته.د ابن مسعودﷺ قول دې چه د خپلې مور کورته هم بغیرخبر مه ورځه. د عطاء نه تپوس اوشو چه خپلې ښځې له هم بغیراجازت ورتلل نشته؟ونې فرمائیل دلته داجازت ضرورت نشته.داقول هم محمول دې په دې باندې چه دې نه د اجازت غوښتلو ضرورت نشته خوخبردارې ضرور کول پکاردی ممکن دی چه هغه دغه وخت کښې په داسې حالت کښې وی چه هغه نه غواړی چه د هغې خاوندې هم په دې حالت کښې اوګوری.

حضرت زینب فرمائی چه زما خاوندحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ به کله زما کورته راتلو کړنګ کړونګ به ئې کولوکله به ئې په اوچت آوازکښې د دروازې نه بهرچاسره خبرې کولې دې د پاره چه د کورخلقوته د هغوی د راتلوخبر اوشی[1] حضرت مجاهد د ﴿تستانسوا﴾ معنی هم داکړې ده.کړنګ کړونګ یاغاړه تازه کولووغیره.امام احمد فرمائی مستحب دی چه انسان خپل کورته هم ځی نو هم د بهر نه دې کړنګ کړونګ اوکړی یاد څپلو کشار دې واوروی.

**دشپې هم بې خبر کور ته مه راځی**:-یوحدیث کښې دی چه په سفرکښې د شپې په وخت کښې بې خبره کورته راتلونه حضورﷺ منع فرمائیلې ده ځکه چه په دې سره دکوروالادخیانت په پته توګه لټون دې.[2] حضورﷺ یوځل د سفرنه د سحر په وخت کښې راغلونوحکم ئې ورکړوچه کلی سره خلق راکوزشنی چه مدینه کښې خبرخورشی ماښام څپلوکورونوته لاړشئی دې دپاره چه پدې وخت کښې خپلې صفایانې وغیره اوکړی[3] یوبل حدیث کښې دی حضورﷺ نه چا تپوس اوکړو چه سلام خومونږ پیژنو د استیناس

---

[1]) ابن ماجة كتاب الطب باب تعليق التمائم: ۳۵۳۰.
[2]) صحیح بخاری کتاب النکاح باب لایطرق اهله لیلا اذا اطال الغیبة....:۵۲٤۳، صحیح مسلم:۷۱۵،ابوداؤد:۲۷۷٦، احمد:۲۹۹/۳
[3]) صحیح بخاری کتاب النکاح باب طلب الولد۵۲٤۵-۵۲٤٦، صحیح مسلم:۷۱۵، احمد:۳۰۳/۳، مسندابیعلی:۱۸۵

څه طريقه ده؟حضور ﷺ اوفرمائيل سبحان الله ياالحمدلله يا الله اکبر په اوچت اواز سره ونيل يادروازه ټنګول چه څه سره د کور والا معلوم کړي چه فلانکي راغلو. حضرت قتاده وائي چه دا درې ځل اجازت ئې ځکه مقررکړې دي چه په اول ځل کښې خوبه د کور والا معلوم کړي چه فلانکې دې په دويم ځل به هغوی ځان ساز کړي اوهوښيار شي اوپه دريم ځل باندې که هغه غواړي اجازت به ورکړي که نه غواړي نومنع به ئې کړي. کله چه اجازت ملاونه شي نوبياپه دروازه کښې اودريدل بد دی. د خلقو خپل کارونه اومشغولتياګانې داسې ضروري وي چه هغوی دغه وخت کښې اجازت نه شي ورکولې. مقاتل بن حبان وائي د جاهليت په زمانه کښې د سلام دستور نه وو يوبل سره به ملاويدل خو سلام به ئې نه کولو د چاکورته چه به تلل وو اجازت به ئې نه اخستلوهسې به ورغلل او روستوبه ئې وئيل زه راغلم نواکثر به داپه کوروالا به سخت اولګيدل. داسې به هم اوشوچه خپل کورته به په داسې حال کښې وو چه هغوی ته به د دوی دا راتلل ښه نه لګيدل. الله ﷻ داټول خراب دستورونه په خو آدابوسره خودلوسره وربدل کړل.ددې دپاره اوفرمائيلې شوچه داطريقه ستاسودپاره بهتر ده پدې کښې دکوروالاته او راتلونکي دواړوته راحت دې.دا ځيزونه ستاسو د نصيحت او خيرخواهئی دی.که هلته څوك اونه وينې نو بغيراجازت مه ورداخليږه ځکه چه داد نورو په ملك کښې تصرف کول دی او دا ناجائزدی. د کور د مالك داحق شته چه که هغه غواړي نو اجازت به درکړي اوکه غواړي نومنع به دې کړي. که تاته اووئيلې شي چه لاړشه نوتاله واپس تلل پکاردی په دې کښې د بدګنړلوڅه خبره ده بلکه دا خو ډيره ښکلې طريقه ده. بعضې مهاجرينوبه افسوس کولوچه مونږ ته په خپل ټول عمر کښې په دې آيت باندې د عمل کولو موقعه ملاونه شوه چه څوك مونږ ته اووائي چه واپس شه اومونږ د دې آيت لاندې د هغه ځائ نه واپس لاړشو(¹)داجازت نه ملاويدوپه صورت کښې په دروازه کښې اودريدلونه ئې هم منع اوفرمائيله. الله ﷻ ستاسودعملونو نه خبردې. دا آيت په وړاندينی آيت سره مخصوص دې په دې کښې هغه کورونوته د بغير اجازت نه ورتلوکښې رخصت دې چرته چه څوك نه وی اوهلته د ده څه سامان وغيره وی لکه سرائې وغيره. دلته چه کله په اول ځل اجازت ملاوشو بيا هرځل اجازت اخستل ضروری نه دی. نولکه دا آيت په اولنی آيت سره استثنا ده دغه شان د داسې سوداګرو ګودامونه مسافرخانې وغيره دی او اول خبره ډيره واضحه ده. والله اعلم. زيد وائی چه دې نه مراد بيت الشعردې.

| | |
|---|---|
| قُلْ | لِّلْمُؤْمِنِينَ |
| اے نبي اووايه | مومنانوته |

(اي پيغمبره) مومنانوته اووايه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَغُضُّوا | مِنْ أَبْصَارِهِمْ | وَيَحْفَظُوا | فُرُوجَهُمْ | ذٰلِكَ |
| چي ښکته دلري | سترګې خپلې | او حفاظت دکوي | دپردې دځايونو خپلو | دا طريقه |

چي خپلې سترګې ټيټې ساتي | اودخپلو شرمګاهونو حفاظت کوي | دا خبره ددوئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| أَزْكَىٰ | لَهُمْ | إِنَّ اللَّهَ | خَبِيرٌ | بِمَا | يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ |
| ډيره پاکه ده | دپاره دهغوئ | بيشکه الله | خبردار دي | په هغې کارونو | چي کوي ئې هغوئ |

دپاره ډيره بهتره ده | الله ﷻ دخلقو په ټولو کارونو خبر دي

¹) الطبري: ١٩/١٥٠.

Scanned with Ca

**قوله تعالى:- قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَغُضُّوۡا مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ**

**نظر ښکته کولوسره تګ کوه:-** حکم کولی شی چه دکوموښځوڅخه نوکتل ماحرام کړی دی هغې ته مه ګورئ. دحراموښځوڅخه سترګې ښکته کړئ اوکه ناڅاپی نظر پریوځی نوبیاپه دویم ځل په پوره نظرسره مه ګورئ.

**ناڅاپی نظرمعاف دې ، قصداً معاف نه دې:-** صحیح مسلم کښې دی حضرت جریر بن عبدالله بجلی ﷺ د حضورﷺ نه دناڅاپی نظر پریوتلوباره کښې تپوس اوکړونوحضورﷺ اوفرمائیل چه خپل نظر زراخوا کړه.(۱) نظرښکته کول اخواد یخواکتلوکښې اخته کیدل اود الله ﷻ حرام کړې شوی ښځوته نه کتل د آیت مقصددې.حضرت علی ﷺ ته حضورﷺ اوفرمائیل علی ﷺ دنظر د پاسه نظر مه ورکلکه وه ناڅاپی چه پریوځی هغه معاف دې اوقصداً معاف نه دې(۲) حضورﷺ یوځل اوفرمائیل په لاروکښې د کیناستو نه بچ شئ خلقو وئیل حضورﷺ دکار روزګار د پاره هغه خو ضروری وی نو حضورﷺ اوفرمائیل چه ښه ده نود لاروحق ادا کوئ. هغوی وئیل داڅه دی؟ حضورﷺ اوفرمائیل نظر ښکته ساتل چاته تکلیف نه ورکول د سلام جواب ورکول دخوخبروتعلیم ورکول اود بدوکارونونه منع کول(۳)حضورﷺ فرمائی د شپږوښځونوتاسو ضامن شئ زه ستاسو دپاره دجنت ضامن کیږم. خبره کولو سره دروغ مه وائې، په امانت کښې خیانت مه کوئ، وعده خلافی مه کوئ،نظرښکته ساتئ،لاسونه دظلم نه بچ کړئ، د خپل شرمګاهونوحفاظت کوئ. صحیح بخاری کښې دی کوم سړې چه ژبه او شرمګاه د الله ﷻ د حکم ماتحت اوساتی دهغوی دپاره د جنت ضامن یم(۴)دعبیده قول دې دکوم یوښځ نتیجه چه د الله ﷻ نافرمانی وی هغه کبیره ګناه ده.دنظر پریوتلونه پس په زړه کښې فسادراوچتیږی ددې دپاره ئی د شرمګاه دبچ کولود پاره د نظر ښکته کولو ارشاد اوشو. نظر هم د ابلیس د غشونه یوغشې دې نود زنا نه بچ کیدل هم ضروری دی او نظر ښکته ساتل هم ضروری دی. حضور ﷺ فرمائی دخپل شرمګاه حفاظت کوئی مګر خپلې ښځې او وینځې.(۵)

**دنظر ساتلو فائدې:-** محرماتو ته نه کتلوسره زړه صفاکیږی اودین صفاکیږی اوکوم خلق چه خپل نظر په حراموښځونوباندې نه اچوی د هغوی په سترګوکښې نور اچولی شی اودهغوی زړه هم نورانی کولی شی. دحضورﷺ ارشاد دې چه د چا نظر د یوې ښځې په حسن اوجمال باندې پریوځی بیا هغه خپل نظر اخواکړی ددې په بدله کښې ده ته یوداسې عبادت ورکولی شی د کوم خوندچه هغه په خپل زړه کښې محسوس کوی(۶) ددې حدیث سندونه خو ضعیف دی ولې دې دادرغبت ورکولوپه باره کښې اوپه داسې احادیثوکښې دسنددومره خیال نه شی ساتلې. طبرانی کښې دی چه یاخوبه ته خپل نظرښکته کوې اود خپل شرمګاه حفاظت به کوې او خپل مخ به نیغ ساتې یابه الله ﷻ ستاسو صورتونه بدل کړی اعاذناالله من کل عذابه.

**نظر دشیطان د غشو نه یو غشې دې:-** نظر د ابلیسی غشونه یو غشې دې کوم سړې چه د الله ﷻ د ویرې خپل نظر رامنع کړی الله ﷻ د هغه په زړه کښې د ایمان داسې نور پیداکوی چه هغه له خوندور کوی. د

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الادب باب نظر الفجاءة :۲۱۵۹، ابوداؤد:۲۱٤۸، ترمذی:۲۷۷٦، احمد:٤/۳۵۸، ابن حبان:۵۵۷۱.
(۲) ابوداؤد کتاب النکاح باب فی مایؤمربه من غض البصر:۲۱۳۹. ترمذی:۲۷۷۷، احمد:۵/۳۵۱، حاکم:۲/۱۹٤.
(۳) صحیح بخاری کتاب الاستئذان باب قول الله تعالی(یاایها الذین آمنوا لاتدخلوابیوتا....):۲٦٦۹، صحیح مسلم:۲۱۲۱، احمد:۳/۳٦ابن حبان:۵۹۵.
(۴) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب حفظ اللسان:٦٤۷٤، ترمذی:۲٤۰۸.
(۵) ابوداؤد کتاب الحمام باب فی اشعری:٤۰۱۷ وسنده حسن، ترمذی:۲۷٦۹، ابن ماجة:۱۹۲، احمد:۵/۳، مشکل الاثار:۱۳۸۱.
(۶) احمد: ٥/۲٦٤ مجمع الزوائد:۸/٦۳، طبرانی:۷۸٤۲.

Scanned with Ca

خلقو هيڅ يوعمل د الله ﷻ نه پټ نه دې هغه د سترګو خيانت اود زړه راز پيژني. حضورﷺ فرمائي چه د بنيادم په ذمه د هغه دزناحصه ليکلې شوې ده چه هغه به دې لامحاله مومي. د سترګو زناکتل دی د ژبې زناويناکول دی دغوږونوزنا اوريدل دی دلاسونوزنا رانيول دی دپښوزنا تلل دی. زړه خواهش تمنا اوآرزوکوی بياشرمګاه خويادا ټول رښتياکوی ياټول دروغژن کوی(۱) رواه البخاری تعليقا. اکثر سلفويه دهلکانودا کتل راکتل هم منع کول. آيمه صوفيه پدې کښې بعضودې باره کښې ډيره سختی کړې ده. داهل علم ډلې خودا بالکل حرام ګرځولې دی او بعضودې ته کبيره ګناه وئيلې ده. رسول الله ﷺ فرمائي هره يوه سترګه به دقيامت په ورځ ژاړی خوهغه سترګه چه دالله ﷻ حرام کړې شوی څيزونودکتلونه بنده پاتې وی اوهغه سترګه چه د الله ﷻ په لار کښې ويښه وی اوهغه سترګه چه د الله ﷻ د ويرې اوژاړی که د هغې د مچ د سر برابر هم اوښکه راوتلې وی.

وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ

اووايه | مومنانو ښځو ته | چی ښکته دساتی | نظرونه خپل | او حفاظت دکوی

اومومنانو ښځوته اووايه | چې خپلې سترګې دې ټيټې ساتی | اودخپلو شرمګاهونو

فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ

دپردې دځايونو خپلو | اونۀ دښکاره کوی | ښائست خپل | مګر | هغه | چی ښکاره شی په خپله

حفاظت دې کوی | اوخپل ډول سنګار دې نه ښکاره کوی | البته چې کوم نه شی پټيدې

مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ص وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ

اوخپلې لوپټې دې په سينو باندې غوړيدلې لری | اوخپل ډول سنګار دې نه ښکاره کوی

دهغې نه | او واچوی | لوپټې خپلې | په ګريوانو خپلو باندې | اونۀ دښکاره کوی | ښائست خپل

إِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ أَوْ اٰبَآئِهِنَّ أَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ

مګر | خاوندانو خپلو ته | يا پلارانو خپلو ته | يا پلارانو دخاوندانو خپلو ته | يا ځامنو خپلو ته

خو خپلو خاوندانو ته | ......يا خپلو پلارانو ته | يا د خاوندانو پلارنو (سخرانو) ته | يا خپلو ځامنو ته

أَوْ أَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِيْٓ إِخْوَانِهِنَّ

يا ځامنو دخاوندانو خپلو ته | يا رونړو خپلو ته | يا ځامنو درونړو خپلو ته |

يا د خاوندانو ځامنو (پرکټو) ته | يا خپلو رونړو ته | ............يا دخپلورونړو ځامنو (وريرونو) ته

أَوْ بَنِيْٓ أَخَوٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ

يا ځامنو دخويندو خپلو ته | يادميل ملاپ ښځو خپلو ته | ياهغه چاته چی مالك شوی وی دهغې

يا دخپلو خويندو ځامنو (خوريونو) ته | يا (مسلمانانو) ښځو ته | يا خپلو وينځو ته

أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِيْنَ غَيْرِ أُولِى الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ

ښی لاسونه دهغوئ | يا هغه ماتحتانوته | چی نۀ وی خاوندان دحاجت ښځو ته | دسړونه

يا په سړو کښې هغه خادمانو ته چې نفسانی خواهشات نه لری |

(۱) صحيح بخاری کتاب الاستئذان باب زنا الجوارح دون الفرج:٦٢٤٣، صحيح مسلم:٢٦٥٧، احمد:٢/٢٧٦، ابن حبان:٤٤٢.

Scanned with Ca

أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ ۖ

يا (ورو) هلكانو ته | هغه هلكان | چې نۀ وي خبر هغوئ | په پټو خبرو دښځو باندې

يا هغه ماشومان ته چې لا دښځو دپردو دخبرو نه خبر نه وي

وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ

او نۀ دوهي ښځې | پښې خپلې | دپاره ددې چې پته اولږي خلقو ته | دهغه څيز | چې پټوي ئې دوئ

او ښځې دې (په تګ کښې) خپلې خپې (زمکې ته) په زوره نه راپرېږدي | چې په دې سره ددوئ

مِنْ زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ

دزينت خپل نه | او توبه اوباسئ | الله ته | ټول | اے مؤمنانو | دپاره ددې

دپټو کالو آواز واورېدې شي | او تاسو ټول الله ﷻ ته توبې اوباسئ | ائې مومنانو !

تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾

چې تاسو خلاصي بيا مومئ |

ددې دپاره چې کامياب شئ |

قوله تعالى:- وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ

**د پردې شرعي احكام:-** دلته الله ﷻ مؤمني ښځې ته حكم وركوى دې د پاره چه د هغوى غيرتى سړو ته آرام وى اودجاهليت خراب رسمونه ترې اوځى. روايت دې چه داسماء بنت مرثدk كوردبنوحارثه په محله كښې ووهغې له به ښځې راتلې اوددستور مطابق به ئې دخپلو پښوكالې سينې اووېښته كولاو ساتلې راتلې.حضرت اسماء وئيل داڅومره خرابه خبره ده؟په دې باندې داآياتونه نازل شو.نوحكم وركولې شى چه مسلمانانوښځوله هم خپل نظر ښكته ساتل پكاردى. بغيرد خپل خاوند نه بل چاته د شهوت په نظرسره نه دى كتل پكار. پردوسړو ته خو كتل هم حرام دى كه د شهوت په نظر سره وى كه بغير شهوته.

**د نابينا هم پرده شته :-** ابوداؤد اوترمذى كښې دى رسول الله ﷺ سره حضرت ام سلمه اوحضرت ميمونه ؓ ناستې وې چه ابن مكتوم تشريف راوړو.داواقعه دپردې دآياتونونازليدلونه پس ده.حضور ﷺ اوفرمائيل پرده اوكړئي نوهغوى وئيل يارسول الله ﷺهغه خونابينادې نه موږته كتلې شى نه مو پيژندلې شى.حضور ﷺ اوفرمائيل چه تاسو خونابينا نه ئى تاسوورته نه ګورئى؟(۱)اوبعضې علماؤ بغير شهوت نظر حرام كړې نه دې د دوى دليل هغه حديث دې په كوم كښې چه دى د اختر په ورځ حبشى خلقوپه جمات كښې د وسلوكرتبونه شروع كړل اوام المؤمنين حضرت عائشه حضور ﷺ خپلې شاته اودروله هغې كتل تردې چه زړه ئې موړشواوستړې شوه نولاړه(۲)ښځو له هم د خپل عزت بچ كول پكار دى د بدكارئى نه دې لرې وى خپل ځان دې چاته نه ښائى.پره دى غيرسړو ته دې د خپل زينت څه څيز

---

(۱) ابوداؤد كتاب اللباس باب فى قول الله تعالى ﴿وقل للمؤمنات يغضضن من أبصارهن﴾:٤١١٢وسنده حسن، ترمذى:٢٧٧٨، احمد:٦/٢٩٦، بيهقى:٧/٩١، ابن ماجة:٥٥٧٥.

(۲) صحيح بخارى كتاب العيدين باب الحراب والدرق يوم العيد:٩٥٠، صحيح مسلم:٨٩٢.

Scanned with Ca

نه ښکاره کوی اود کوم ځیز پټول چه ممکن نه وی هغه یوه بله خبره ده لکه څادر اود پاسه کپړا وغیره.
(۱) د کوم پټول چه د ښځود پاره ناممکن دی.

**مَاظَهَرَمِنهَا نه څه مراد دی؟**:-داهم روایت دې چه دې نه مراد مخ د مړوندونوپورې لاسونه او غټه ګوته ده خوکیدې شی چه دې نه مراد دا وی چه هم دا د زینت هغه محل دې د کوم د ښکاره کولونه چه شریعت بندیزاوکړو.لکه چه دحضرت عبدالله ﷺ نه روایت دې هغوی دې خپل زینت نه ښکاره کوی لکه والئی هارياپانزيب وغيره(۲)فرمائی زينت په دوه قسمه دې يوخوهغه کوم چه هم خاوندګوری لکه ګوته بنګړی وغیره اوبل هغه زینت چه پردی خلق نی ګوری لکه د پاسه کپړا. زهری فرمائی په دې آیت کښې چه دکوم رشته دارانو ذکر دې نوکه د هغوی په مخې بنګړی لوپټه کولاوشی نوڅه حرج نشته او که د خلقو په وړاندې صرف ګوتې ښکاره شی نو ګناه نشته. بل روایت کښې د ګوتوسره د پښو پانزیبو هم ذکر دې کیدې شی چه د **(ماظهرمنها)** په تفسیرکښې ابن عباس ﷺ وغیره مخ اومړوندونه کړی وی لکه څنګه چه په ابوداؤد کښې دی چه اسماء بنت ابی بکر k رسول الله ﷺ له راغله نرئی کپړې نی اغوستې وې نوحضورﷺ مخ واړولواو وئی فرمائیل چه کله ښځې بلوغت ته اورسی نوبغیرد دې نه اود دې نه یعنی د مخ اومړوندونونه علاوه بل اندام نه ښکاره کوی(۳) خودا مرسل دې خالدبن دریك دا دحضرت عائشه k نه روایت کوی اود هغه مور بی بی سره ملاقات ثابت نه دې.والله اعلم.

**لوپټه څنګه اچول پکاردی**:-ښځوله پکاردی چه لوپټه یاکپړاداسې واچوی چه دسینې غاړې کالی او شائی پټه وی.په جاهلیت کښې ددې هم رواج نه وو. ښځو به په خپلوسینوباندې هیڅ هم نه اچول هر وخت به نی سټ کمسئ،والئی وغیره صفا ښکاریدل بل آیت کښې دی اې نبی ﷺ خپلو بیبیانوته خپلو لونړو ته او مسلمانانوښځوته اووایه چه خپل څادرونه په خپل ځان باندې رازوړندکړی دې د پاره چه د هغوی پیژندګلوکیږی اونه شی تنګولې(۴)خمردخمار جمع ده خمار وائی هر هغه ځیزته چه پټوی. لوپټې سر پټوی په دې وجه دې ته هم خماروائی. نوښځوله پکاردی چه یاخو په خپل پړونی اویاپه څه کپړا باندې خپله غاړه او سینه پټه کړی. حضرت عائشه k فرمائی چه الله ﷻ دې په هغه ښځوباندې رحم اوکړی کومو چه په شروع شروع کښې هجرت کړې وواودا آیت نازل شونو هغوی خپل څادرونه اوشلول او خپلې لوپټې ترې جوړې کړې. بعضودخپل ته بند غاړه پرې کړه او خپل سرئی پرې پټ کړو. (۵)

**د انصارو ښځو فضیلت**:- یوځل حضرت عائشه ته ښځود قریشو د ښځوفضیلت بیانول شروع کړو نو هغې اوفرمائیل چه دهغوی دفضیلت زه هم قائل یمه خووالله دانصارود ښځو نه غوره ښځې ما نه دی لیدلی د هغوی په زړونوکښې د کتاب الله تصدیق اوپه هغې باندې کامل ایمان دې هغوی بې شکه د قدر قابلې دی.

د سورت نور آیت ﴿وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوۡبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبۡدِيۡنَ زِيۡنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ اٰبَآئِهِنَّ اَوۡ اٰبَآءِ بُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ اَبۡنَآئِهِنَّ اَوۡ اَبۡنَآءِ بُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ اِخۡوَانِهِنَّ اَوۡ بَنِىۡۤ اِخۡوَانِهِنَّ اَوۡ بَنِىۡۤ اَخَوٰتِهِنَّ اَوۡ نِسَآئِهِنَّ اَوۡ مَا مَلَـكَتۡ اَيۡمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيۡنَ غَيۡرِ اُولِى الۡاِرۡبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفۡلِ الَّذِيۡنَ لَمۡ يَظۡهَرُوۡا عَلٰى عَوۡرٰتِ النِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِاَرۡجُلِهِنَّ لِيُـعۡلَمَ مَا يُخۡفِيۡنَ مِنۡ زِيۡنَتِهِنَّ ؕ وَتُوۡبُوۡۤا اِلَى اللّٰهِ جَمِيۡعًا اَيُّهَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ﴾(۶)کله

---

(۱) الطبری:۱۹/۱۵٦.
(۲) الطبری:۱۹/۱۵٦.
(۳) ابوداؤد کتاب اللباس باب فيما تبدی المراة من زينتها:۴۱۰۴.
(۴) ۳۳/الاحزاب:۵۹.
(۵) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة النورباب ﴿وليضربن بخمرهن علی جيوبهن﴾:۴۷۵۸.
(٦) ۲۴/النور:۳۱.

Scanned with Ca

نازل شواود هغوی سروچه کله کورونوکښې دا آیت هغوی ته واورولو هم هغه وخت دې ښځویه دې آیت باندې عمل اوکړواودسحر مانځه ته کله هغوی راغلې نود تولو په سرونوباندې لوپتې وې لکه چه ډولچې نې پرې ایخودې وې[۱] دې نه پس نې د هغه سرو بیان اوفرمائیلود چا په وړاندې چه ښځه وی اوبغیردبناوسنګاردهغوی مخې ته په شرم اوحیاسره تلې راتلې شی.که دزینت په بعضې ظاهری څیزونوباندې هم نظرپریوځی بغیرد خاوندنه دهغوی مخې ته ښځه وی خپل پوره بناوسنګار او شوشا اوکړې لکه چه تره اوماما هم ذی محرم دی خودهغوی نومونه دلته ددې دپاره وانخستې شو ممکن دی چه هغوی د خپلو خامنوپه وړاندې د هغوی محاسن بیان کړی د دې د پاره د هغوی مخې ته بغیرلوپتې نه دی راتلل پکار.

**مسلمانه به خپل زینت کافرې ښځ ته هم نه ښکاره کوی**:-بیافرمائی ستاسو ښځې یعنی مسلمانانو ښځو په وړاندې هم د دې زینت د ځرګندونوکښې څه حرج نشته.داهل ذمه ښځو په وړاندې ددې د پاره رخصت ورنه کړې شو چه ډیرممکن دی هغوی د خپلو سړو په وړاندې د هغوی د ښائست اوزینت ذکر اوکړی.دمؤمنانوښځونه هم لکه چه ویره ده خوشریعت هغه حرام ګرځولې دی ددې دپاره مسلمانانې ښځې به داسې نه کوی خود ذمی کافرانوښځې د دې نه کوم یوڅیز منع کولې شی. بخاری او مسلم کښې دی یوې ښځې له دا جائزنه دی چه بلې ښځې سره ملاو شی اود هغې صفتونه دخپل خاوند په وړاندې داسې بیانوی لکه چه داوینی[۲] امیرالمؤمنین حضرت عمر بن خطاب ﷛ حضرت ابو عبیده ﷛ ته اولیکل چه ماته معلومه شوې ده بعضې مسلمانانې ښځې هم عاموحمامونوته ځی اوهغوی سره مشرکانې ښځې هم وی. واوره یوې مسلمانانې ښځې له جائز نه دی چه هغه دې خپل بدن یوغیرمسلم ښځې ته اوښائی. حضرت مجاهد هم د ﴿اونسآءهن﴾ په تفسیرکښې فرمائی دې نه مراد مسلمانانې ښځې دی د هغوی په وړاندې دوی خپل زینت ښکاره کولې شی چه د خپل ذی محرم رشته دارانو په وړاندې نې ښکاره کولې شی یعنی غاړه والئی یا هار. نومسلمانې ښځې له بربنډ سرد یوې مشرکې ښځې په وړاندې راتلل نه دی جائز. په یوروایت کښې دی کله چه صحابه کرام رضوان الله اجمعین بیت المقدس ته اورسیدل نود هغوی د دایه توب د پاره هم یهودنړې نصرانیانې ښځې وې. که دا خبره ثابته شی نومحمول به وی په ضرورت یاد هغه ښځوپه ذلت باندې. بیا په دې کښې د غیرضروری بدن کولاو یدل هم نه دی. والله اعلم. و په مشرکانوښځو کښې کومې وینځې نوکرانې وی هغه د دې حکم نه خارج دی[۳] بعضې وائی چه د غلامانوهم داحکم دې. ابوداؤدکښې رسول الله ﷺ حضرت بی بی فاطمه k له دورکولود پاره یوغلام راوستلو.حضرت فاطمه k چه کله دې اولیدونوخپل ځان نې په لوپته کښې پټ کړو. ولې کپړا دومره وړه وه چه سربه نې پټولونو پښې به نې ښکاره کیدلې او پښې به نې پټولې نو سربه نې ښکاره کیدلو. حضورﷺ چه دا اوکتل نوونې فرمائیل لوړې ولې دومره تکلیف کوې زه ستاپلاریم اوداستا غلام دې.[۴] ابن عساکرکښې دی د دې غلام نوم عبدالله بن مسعده وو. دا فزاری وو سخت تور.حضرت فاطمة الزهری k د ده پالنه کړې وه اوآزاد کړې وو.دصفین په جنګ کښې دې معاویه ﷛سره وواود حضرت علی ډیرمخالف وو.مسند احمد کښې رسول الله ﷺښځو ته اوفرمائیل په تاسوکښې چه چاچاسره مکاتب غلام وی اوهغه سره داسې شرط شوې وې چه دومره دومره روپئی

[۱] ابوداؤد کتاب اللباس باب فی قول الله تعالی ﴿یدنین علیهن من جلابیبهن....﴾: ۴۱۰۰ مختصراً وسنده حسن.

[۲] صحیح بخاری کتاب النکاح باب لاتباشر المراة فتنعتها لزوجها: ۵۲۴۰، ابوداؤد: ۲۱۵۰، ترمذی: ۲۷۷۲، احمد: ۱/۴۴۰، مسندابی یعلی: ۵۰۸۳، ابن حبان: ۴۱۶۰.

[۳] الطبری: ۱۹/۱۶۰.

[۴] ابوداؤد کتاب اللباس باب فی العبدینظرالی شعرمولاته: ۴۱۰۶ وسنده حسن، بیهقی: ۷/۹۵.

Scanned with Ca

راوړه نوته ازادني بيا هغه سره دومره پيسې هم راجمع شوې نو پكاردي چه د ده نه پرده اوكړی[۱] بيا بيان فرمائي چه نوكران خادمان كاركونكي د هغه سړو په وړاندې چه خواني نه لري اود ښځو خواهش هغوی ته نه وي اوهم د دې مطلب نه وی نود هغوی حكم هم د ذي محرم سړو دې خو هغه مخنث او هجړاګان چه بدزبانه او بدی خورونكي وی د هغوی داحكم نه دې لكه چه بخاري اومسلم وغيره كښې دی چه هم داسې يوسړې د حضورﷺ كورته راغلې وواوهغه د حضورﷺ بيبيانوهم د دې آيت ماتحت ګڼړلې ووهغه نې منع كړې نه وو اتفاقي هغه وخت رسول الله ﷺ راغلو.دغه وخت هغه دحضرت ام سلمه k رورعبدالله ﷺ ته ونيل الله ﷺ چه كله طائف فتح كوی نو زه به تاته دغيلان لورښايم چه راتلوسره د هغې په خيټه باندې څلورقطونه راځي اوپه واپس تلوكښې اته ښكاري.دې اوريدوسره حضورﷺ حكم اوفرمائيلوچه خبرداراداسې خلق هيڅ كله دكور راتلوته مه پريږدئی[۲]ده نه پرده اوكړئی. هغه د مدينې نه اوويستلې شو.بيداء كښې دې اوسيدلو دهغ؛ ځای نه به دجمعه په ورځ راتلو اودخلقونه به ئې د خوراك څښاك څه څيزونه اوړل.د وړو ماشومانو په وړاندې راتلواجازت دې چه لاتراوسه پورې دښځو د مخصوص صفتونونه خبردار نه وی. په ښځوباندې دهغوی دكاسيرتوب نظر نه پريوځي.اوچه هغوی دې عمرته اورسی چه په هغوی كښې تميزراشي اودښځوخوبيانې دهغوی په نظركښې ښه ښكاری د ښائسته اوبدرنګ فرق معلوم كړی نوبيا د هغوی نه هم پرده شته سره د دې كه هغوی پوره ځوانان شوی نه وی. بخاري اومسلم كښې دی حضورﷺاوفرمائيل خلقو د ښځوخواته د تلونه بچ شئې تپوس اوشو يارسول الله ﷺ ليور او ورندار؟ هغوی اوفرمائيل هغه خومرګ دې.[۳]

**د پازيبونو كړنګولو اوخوشبو سره د وتلو ممانعت:**-بيافرمائي چه ښځې دې خپلې پښې په زوره په تلو كښې په زمكه نه ايږدی.په جاهليت كښې به همداسې كيدل چه ښځو به په زوره په زمكه پښه كيخودله اوتګ به ئې كولو دې د پاره چه د پښې كالي (پانزيب) اوشړنګيږی اسلام داهم منع كړل. ښځې له هر يو هغه حركت منع دې كوم سره چه د هغې څه پټ شوې سنګار ښكاره شی.ددې عطر اوخوشبو لګولوسره دكورنه وتل هم منع دی. ترمذی كښې دی چه هره يوه سترګه زناكاره ده. ښځه چه كله عطر اولګوی اودګل په شان خوشبوئی خورونكې دسړو خوا سره تيريږی نوهغه داسې داسې ده يعنی زناكاره ده[۴]ابوداؤدكښې دی چه ابوهريره ﷺ ته يوه ښځه داسې ملاوشوه چه خوشبوئي لګولې وه.هغوی دې نه تپوس اوكړو ته د جمات نه راروانه ئې؟ هغې ونيل او. دوی اوفرمائيل تاخوشبولګولې ده؟ هغې ونيل او هغه ونيل ما د خپل حبيب ابوالقاسم ﷺ نه اوريدلی دی كومه ښځه چه دې جمات ته خوشبولګولې راځي دهغې مونځ قبول نه دې تركومې چه هغه واپس نه شي اود جنابت په شان غسل او نه كړی[۵] ترمذی كښې دی چه خپل زينت په غير ځای كښې ښكاره كونكې ښځې مثال د قيامت د هغه تيارې په شان دې په كوم كښې چه رڼړا نه وی[۶]ابوداؤدكښې دی رسول الله ﷺ سړی اوښځې په لاره ګډوډتلوكښې اوليدل نووئې فرمائيل ښځوتاسو ديخواشئ تاسوله دلارې په مينځ كښې تګ نه دې

[۱]) ابوداؤد كتاب العتق باب المكاتب يؤدی بعض كتابة فيعجز اويمـوت:۳۹۲۸، وسـنده حسـن، ترمـذی:۱۲۶۱، ابـن ماجـة:۲۵۲۰، احمد:۲۸۹/۶، مسندابي يعلی:۲۹۵۶،بيهقی:۳۲۷/۱۰.

[۲]) صحيح بخاری كتاب المغازیباب غزوة الطائف فی شوال سنة ثمان:۴۳۲۴، صحيح مسلم:۲۱۸۰-۲۱۸۱، ابوداؤد:۴۹۲۹؛

[۳]) صحيح بخاری كتاب النكاح باب لايخلون رجل بامراة الاذومحرم:۵۲۳۲، صحيح مسلم:۲۱۷۲، ترمـذی:۲۱۷۱، احمـد:۱۴۹/۴، ابن حبان:۵۵۸۸، بيهقی:۹۰/۷.

[۴]) ترمذی كتاب الادب باب ماجاء فی كراهية خروج المراة متعطرة:۲۷۸۶وسنده حسن، احمد:۱۴۱/۴، ابن ماجة:۴۴۲۴، حاكم:۳۹۶/۲.

[۵]) ابوداؤد كتاب الترجل باب فی طيب المراة للخروج:۴۱۷۴وهو حسن، ابن ماجة:۴۰۰۲، نسائی:۵۱۳۰، مختصراً، احمد:۲۴۶/۲.

[۶]) ترمذی كتاب الرضاع باب ماجاء فی كراهية خروج النساء فی الزينة:۱۱۶۷.

پکار دي اوریدوسره ښځې دیوالونوسره لګیدلې رواني شوې تردې چه دهغوی کپړې به دیوالونو سره لګیدلې[۱] بیافرمائی مؤمنانوزماوینااواخلئی اودانیاك صفتونه واخلئی اودجاهلیت دبدو خصلتونونه منع شئی. پوره کامیابی پوره خلاصې هم د هغوی دپاره دې چه د الله ﷻ حکم منونکې وی د هغه د منع کړې شوو کارونونه منع کیږی اوهم د الله ﷻ نه مونږ امدادغواړو.

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ

| او نکاح اوکړئ | دبې نکاحو | ستاسو نه | او دصالحانو نه

| او په تاسو کښې چې کومې ښځې کونډې دی دهغوئ

مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ

دغلامانوستاسونه| او دوینځو ستاسو نه |که چرې وی هغوئ | فقیران |غنیان به کړی هغوئ لره الله

نکاح کوئی | اودخپلو نیکانو غلامانو هم |اود وینځو هم (نکاح کوئ) | که دوئ غریبانان وی

مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۳۲﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ

دفضل خپل نه | او الله | دفراښئ مالك دې | او ښه پوهه دې | او پکار دی چې خان دي پاك ساتي

نو الله ﷻ به ئې په خپل فضل سره غنیان کړی |او الله ﷻ د ډیرې فراخئ خاوند دې | په هرڅه پوهه دې

الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ

هغه کسان | چې نهٔ مومی هغوئ | اسباب دنکاح | تر هغې پورې | چې غنیان کړی هغوئ لره الله

اوکوم خلق چې د نکاح طاقت نه لری | پکار دی چې هغوئ خان پاکدامن ساتی | تردې چې الله ﷻ

مِن فَضْلِهِ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا

دفضل خپل نه | او هغه (مریان) | چې طلب کوی هغوئ | دمکاتب والی | دهغه وینځو مریونه |

ئې په خپل فضل سره غنیان کړی | اوکوم غلامان چې تاسوسره مکاتبت(د ازادئ معاهده کول)

مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ

چې مالکان وی دهغوئ | ښې لاسونه ستاسو | نو مکاتبان کړی هغوئ | که معلوم وی تاسو ته |

غواړی |که چرې تاسو ته په هغوئ کښې نیکی او صلاحیت معلوم وی| نو هغوئ سره مکاتبت

فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ

په هغوئ کښې |څه خیر|او ورکړئ هغوئ ته | دمال دالله نه |هغه مال | چې الله درکړې دې تاسو ته

اوکړئ|اوکوم مال چې تاسوته الله ﷻ درکړې دې هغې نه دوئ ته هم لږ ورکړئ

وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا

اومهٔ مجبوروئ | وینځې خپلې | په زنا باندې | که غواړی هغوئ | پاك ساتنه دځان خپل

اوخپلې وینځې ددنیا دژوند دفائدې حاصلولو دپاره په زناکارئی مه مجبوره کوئ

[۱]) ابوداؤد کتاب الادب باب فی مشی النساء مع الرجال فی الطریق:۵۲۷۲.

Scanned with Ca

لِتَبۡتَغُوۡا عَرَضَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ؕ وَمَنۡ يُّكۡرِهۡهُّنَّ

دپاره ددي چي طلب کوئ تاسو |مال (فائده)|دژوند ددنيا |اوهغه څوك چي مجبوره کوئ هغوئ

کله چي هغوئ پاکدامني اوسيدل غواړي | اوڅوک چي هغوئ په زناکولومجبوره کړي

فَاِنَّ اللّٰهَ مِنۡۢ بَعۡدِ اِكۡرَاهِهِنَّ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝ وَلَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ

نو بيشکه چي الله|روستودمجبورتيا دهغوئ نه|ښښونکي مهربانه دي | او نازل کړي دي مونږه

نو الله ﷻ دهغوئ دمجبورتيا نه پس ښښونکي اومهربان دي |اومونږ ستا طرفته

اِلَيۡكُمۡ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيۡنَ خَلَوۡا

تاسو ته | ايتونه | واضحه | او مثالونه | دهغي کسانو نه | چي تير شوي دي |

ښکاره حکمونه نازل کړي دي |اوهغه خلقو مثالونه (بيان کړي دي) چي ستاسو نه

مِنۡ قَبۡلِكُمۡ وَمَوۡعِظَةً لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ۝

مخکښي ستاسو نه | او نصيحت | دپاره دپرهيزګارانو |

وړاندي تير شوي دي |اود ويريدونکو دپاره دنصيحت (ذريعه)

قوله تعالى:-وَاَنۡكِحُوا الۡاَيَامٰى مِنۡكُمۡ

**دَ نکاح احکام:-** په دي کښي الله ﷻ ډيرزيات احکام بيان فرمائيلي دی.اولاً نکاح دعلماءکرامودیوي ډلي داخيال دي چه کوم سړي دنکاح قدرت لری په هغه باندي نکاح کول واجب دی. دحضورﷺ ارشاد دي اي ځوانانوپه تاسوکښي چه څوك د نکاح قدرت لری هغه له نکاح کول پکاردی. نکاح نظر ښکته کونکي اودشرمګاه بچ کونکي ده.اودچا چه طاقت نه وی هغه دي خامخاروژي ساتی.هم دادهغه د پاره خصی کيدل دی([1])(بخاری اومسلم)په سنن کښي دی رسول الله ﷺ فرمائی د کومي نه چه د زيات اولاد اميدوی هغي سره نکاح اوکړئی چه نسل زيات شی.زه تاسو سره په نورو امتونوفخر کوم([2])په يوروايت کښي دی تر دي چي په سقط يعنی بي مودي ماشوم باني هم فخر کوم ﴿ايامى﴾ جمع ده د ﴿ايم﴾. جوهری فرمائی د اهل لغت په نيزبي ښځي سړي او بی خاونده ښځي ته ﴿ايم﴾وائی که هغه واده کړي وی او که ناواده کړي. بيانور رغبت ورکولوسره فرمائی که هغه مسکين هم وی نو الله ﷻ به په خپل فضل اوکرم سره هغه مالدارکړی که هغه آزادوی اوکه غلام ([3]).

**نکاح کول باعث دبرکت دی:-** دصديق اکبرؓ قول دي تاسودنکاح باره کښي د الله ﷻ حکم اومنئی هغه به تاسوسره خپله وعده پوره کوی. ابن مسعودؓ فرمائی په نکاح کښي مالداری غواړئی ([4]) رسول الله ﷺ فرمائی ددريوقسم خلقوامداد د الله ﷻ په ذمه حق دي نکاح کونکي چه د حرام کارئی نه د بچ کيدو په نيت نکاح کوی هغه مکاتب غلام د چاراده چه د ورکولووی اوهغه غازی چه د الله ﷻ په لار کښي

[1]) صحيح بخاری کتاب النکاح باب من لم يستطع الباءة فليصم:۵۰۶۶، صحيح مسلم:۱۴۰۰، ابوداوٗد:۲۰۴۶، ترمذی:۱۰۸۱، ابن ماجة:۱۸۴۵، احمد:۱/۳۷۸، ابن حبان:۴۰۲۶.

[2]) ابوداوٗد کتاب النکاح باب النهی عن تزويج من لم يلدالنساء:۲۰۵۰وهو حسن، نسائی:۳۲۲۹، احمد:۳/۱۵۸، ابن حبان:۴۰۲۸، بيهقی:۷/۸۱.

[3]) الطبری:۱۹/۱۶۶.

[4]) الطبری:۱۹/۱۶۶.

Scanned with Ca

وتلې وی([1]) هم ددې په تائيد کښې هغه روايت دې کوم کښې چه دی رسول الله ﷺ د يوداسې سړی نکاح يوې ښځې سره اوکړه چاسره چه د ته بندنه علاوه هيڅ نه وو اوتردې چه د اوسپنې ګوته هم هغه سره نه وه. سره د دې غريبنې اونادارنې حضورﷺ د هغه نکاح اوکړه او دامهرئې مقررکړو چه کوم قرآن ده ته يادې دابه خپلې ښځې ته وريادوی([2])دا په دې وجه چه نظر ئې د الله ﷻ په فضل اوکرم باندې وو چه هغه مالك به دوی له مالداری ورکړی اودومره رزق به ورا ورسوی چه ده ته اود ده ښځې ته به کافی وی. يوحديث اکثرخلق نقل کوی په فقيرئې کښې هم نکاح کوئی الله ﷻ به تاسو غنيان کړی. زما نظر کښې خوداحديث تيرشوې نه دې نه په يوقوی سندسره اونه په ضعيف اونه مونږ ته د داسې يو ناپيژندګلو روايت دلته په دې مضمون کښې ضرورت شته ځکه چه د قرآن په دې آيت اودې احاديثو کښې داځيز موجودې فالحمدلله. بيائې حکم ورکړو چه د چاد نکاح طاقت نه وی هغه دې د حرام کار نې نه بچ شی.حضورﷺ فرمائی اې دځوان عمر خلقو تاسو کښې چه څوك د نکاح وس لری هغه دې نکاح اوکړی دانظر ښکته کوی اوشرمګاه بچ کونکې ده اودچا چه ددې طاقت نه وی هغه دې په خان باندې د روژوساتل ضروری کړی هم داد ده د پاره خصی کيدل دی. داآيت مطلق دې اود سورت نساء نه خاص دې يعنی دافرمان ﴿وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُم ۚ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ۚ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ ۚ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنكُمْ ۚ وَأَن تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾([3])دوينځو سره نکاح کولونه صبر ښه دې ځکه چه پدې صورت کښې په اولادباندې د غلامئ نوم راځی.عکرمه فرمائی چه کوم سړې يوه ښځه اووينی اوده په زړه کښې خواهش پيداشی نوهغه له پکاردی که دهغه ښځه وی نوهغې له دې لاړشی ګنی دالله ﷻ په خدائی کښې دې نظر اوزغلوی اوصبر دې اوکړی تردې چه الله ﷻ هغه غنی کړی. دې نه پس الله ﷻ هغه خلقو ته فرمائی کوم چه د غلامانو مالکان دی که د هغوی غلامان د خپلې آزادئ هغوی سره څه ليك کول غواړی نوهغوی دې انکار نه کوی. غلام به په خپله ګټه باندې هغه مال جمع کړی خپل آقاته به ئې ورکړی اوآزادبه شی. اکثر علماء کرام فرمائی چه داحکم ضروری نه دې فرض اوواجب نه دې بلکه د استحباب او خيرخواهئ په توګه دې. آقاته اختياردې چه غلام کله يوهنر زده کول غواړی اوهغه اووائی چه مانه دومره روپئ واخله اوماآزادکړه نوهغه ته اختياردې چه داقسم معاهده اوکړی يا اونه کړی. د علماؤيوه ډله د آيت ظاهری الفاظ اخلی او وائی چه په آقاباندې واجب دی کله چه د ده غلام د خپلې آزادئ بار کښې څه ليکل غواړی نوهغه دې د ده خبره قبوله کړی. د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې د حضرت انس ﷺ غلام سيرين چه مالدار وو هغه ته ئې درخواست اوکړو چه ماسره زماد آزادئ ليکل اوکړه. حضرت انس ﷺ انکار اوکړو د حضرت عمر فارو ﷺ دربار ته دامقدمه لاړه هغوی حضرت انس ﷺ ته حکم اوکړو اود هغوی په نه منلوباندې هغوی ته کوړې ورکړې اوهم داآيت ئې ورته تلاوت کړو تردې چه هغه ليکل اوکړه([4]) (بخاری) د عطاء ) نه دواړه اقوال نقل دی د امام شافعی اولنې قول هم دا ووخونوې قول ئې دا دې چه واجب نه دی. ځکه چه په حديث کښې دی د مسلمان مال بغير د هغه د زړه د خواهش نه حلال نه دې.([5]) امام مالك فرمائی داواجب نه دی. ما خونه دی اوريدلی چه يوامام يوآقا مجبور کړی وی چه

---

[1]) ترمذی کتاب فضائل الجهاد باب ماجاء فی المجاهد والناكح المكاتب وعون الله اياهم:١٦٥٥وسنده حسن، نسائی:٣٢٢٠، ابن ماجة:٢٥١٨، احمد:٢٥١/٢، ابن حبان:٤٠٣٠، حاكم:٧٦٠/٢. (ترمذی وغيره).

[2]) صحيح بخاری كتاب النكاح باب تزويج المعسر:٥٠٨٧، صحيح مسلم:١٤٢٥.

[3]) ٤/النساء:٢٥.

[4]) صحيح بخاری كتاب المكاتب باب المكاتب ونجومه فی كل سنة نجم قبل وحديث:٢٥٦٠.

[5]) احمد:٧٢/٥مسندابی يعلی: ١٥٧٠، دارقطنی:٢٦/٣، بيهقی:١٠٠/٦.

Scanned with Ca

هغه دي د خپل غلام د ازادئی لیك اوکړی داحکم د اجازت په توګه دې نه چه د وجوب په توګه ارهم داقول د امام ابوحنیفه هم دې.

## غلام د کتابت دپاره خپل مالك نشي مجبوره کولي

**مسلک حنفي:-** دحنفیانو په نیز پدې آیت کښې چه مالکانو ته غلام سره دکتابت کولوحکم شوې دې دا حکم استحبابی دې وجوب نه دې دغلام دخپل مالک نه سره دکتابت کولوحکم (تفسیر مظهری ۳۹۲/۶). د امام ابن جریر په نیزمختارقول د وجوب دې. د خیرنه مراد امانت داری رښتینولی په مال اود مال په حصول باندې قدرت دې. حضورﷺ فرمائي چه که تاسو داغلامان کوم چه تاسو سره د خپلې آزادئی لیکل کول غواړی د مال دکتلو صلاحیت نی اوګورئی نوددوی داخواهش پوره کړئی ګنی نو نه ځکه چه پدې صورت کښې هغوی په خلقوخپل بوج اچوی[1] یعني د دوی نه به سوال کولې شی اورقم به پوره کول غواړی. دې نه پس نی فرمائیلی دی چه دوی ته دخپل مال نه څه ورکړئی.یعني کوم رقم چه مقررشوې دې دهغې نه ورته څه پریږده څلورمه دریمه نیمه یاڅه حصه. دامطلب هم بیان کړې شوې دې چه دزکوة په مال سره ددوی امداداوکړه. آقاهم اونور مسلمانان دی هم ده ته زکوة ورکړی دې د پاره چه هغه مقرررقم ورکړی خپل ځان آزاد کړی.اول حدیث تیرشو چه کوم درې قسم خلقوامدادپه الله ﷻ باندې حق دې هغوی کښې یوداهم دې. خو اولنې قول ډیر زیات مشهوردې.دحضرت عمر ﷺ غلام ابو امیه لیکل کړې وو. کله چه هغه د خپل رقم ړومبې قسط راوړوراغلو نو هغوی ورته اوفرمائیل چه لاړ شه اوبدې پیسوکښې دنورو نه هم امداداوغواړه. هغه وئیل امیرالمؤمنین تاسومادآخری قسط پورې محنت ته خو پریږدئی.وئی فرمائیل نه ماته ویره ده چه چرته د الله ﷻ دافرمان مونږ پریږدو چه هغوی ته دالله ﷻ هغه مال ورکړه کوم چه هغه تاسو ته درکړې دې. نودا ړومبې قسط وو چه په اسلام کښې ادا کړې شو.د ابن عمرﷺ عادت وو چه په شروع شروع کښې به ئی نه څه ورکول اونه به ئی څه معاف کول ځکه چه داخیال به ئی ووچه داسې نه وی آخره کښې دا رقم پوره نه کړې شی.نوزماورکړې شوې به ماله واپس راشي.اوکه آخری قسطونه وو اوڅه به ئی غوښتل نود خپل طرف نه به ئی مې معاف کول. په یو غریب مرفوع حدیث کښې دی چه څلورمه حصه ورته پریږدئی[2] خوصحیح هم دا دی چه هغه د حضرت علی ﷺ قول دې.

**وینځې په بدکارئی مه مجبوروئ:-** بیافرمائی پخپلو وینځو په زور باندې بدکارئی مه کوئی. د جاهلیت په خرابو طریقوکښې یوه داهم وه چه هغوی به خپلې وینځې مجبورولې چه هغوی زناکاری اوکړی او هغه رقم دې خپلو مالکانو ته ورکړی.اسلام دابدرسم مات کړو.روایت دې چه دا آیت د عبدالله بن ابی بن سلول منافق باره کښې نازل شوې اوهغه به هم داسې کول دې دپاره چه روپئی هم ملاوشی اود وینځوپه اولادسره دریاست شان هم زیات شی دهغه د وینځې نوم معاذه وه.بل روایت کښې دی د هغې نوم مسیکه وه اودا وه مسلمانه. دې به د بدکارئی نه انکارکولو. په جاهلیت کښې خو داکارکیدلواود دې نه نی ناجائزاولاد هم اوشوخود اسلام راوړلونه پس هغې انکاراوکړو. په دې باندې هغه منافق وهله نودا آیت نازل شو[3] روایت دې چه دبدر یوقریشی قیدی د عبدالله بې ابی سره وو هغه غوښتل چه د هغې وینځې سره ملاوشي. وینځې دخپل اسلام راوړلوپه وجه د حرام کارئی بچ کیدل غوښتل د عبدالله خواهش وو چه دې دغه قریشی سره ملاوشی نودا ئی مجبوره کوله او وهله ټکوله ئی. نودا آیت نازل شو. یوبل روایت کښې دی چه دې د منافقانوسردار به دا وینځه د خپلو میلمنود خاطر اوتواضع د پاره

---

[1] ابوداؤد فی (المراسیل): ۱۴۳.
[2] حاکم: ۳۹۷/۲.
[3] البزار.

Scanned with Ca

ورليګله. د اسلام نه پس چه کله دې ښځې نه دا اراده اوکړې شوه نوهغې انکاراوکړو اوصديق اکبر ﷺ ته ئې خپل دامصيبت بيان کړو. حضرت صديق اکبر ﷺ دا خبره دربار محمدي ﷺ ته اورسوله. حضور ﷺ داحکم اوکړو چه داوينځه د هغوی کورته اورسوئې هغه په خلقوکښې شورجوړکړو چه ګورئې محمد ﷺ زمونږ نه وينځې په زور اخلې په دې باندې دا آسماني حکم نازل شو. يوبل روايت کښې دی چه مسيکه اومعاذه دوه وينځې وې دووسړوسره وې چه په هغوی باندې به ئې بدکاری کوله. داسلام نه پس مسيکه اود هغې مور راغلې اورسول الله ﷺ ته ئې شکايت اوکړويه دې باندې دا آيت نازل شو. داکوم چه فرمائيلي شوی دی چه که وينځې د پاکوالي اراده اوکړی د دې نه دا مطلب هيڅ کله مه اخلئی که د هغوی اراده نه وی نوخيردې. ځکه چه هغه وخت واقعه هم داسې وه د دې دپاره داسې او فرمائيلي شو. نود اکثريت اوغلبه په وجه داسې اوفرمائيلي شو هيڅ قيداوشرط نشته. ددې نه د هغوی غرض دا وو چه مال حاصل شی اولادئی وی چه وينځې غلامان وی. په حديث کښې دی رسول الله د ښکرلګولوپه اجرت د بدکارئی اجرت او کاهن په اجرت باندې بنديز فرمائيلې دې[1] بل روايت کښې دی د زناپيسې اودښکرلګولو پيسې اودسپی قيمت خبيث دې[2] بيافرمائی چه کوم خلق په دې وينځوظلم کوی نو هغوی خو به الله ﷻ دهغوی د مجبورئی نه اوبښی اود دوی مالکان چاچه په هغوی باندې زور دباؤ او ظلم کړې دې هغوی به راګيرکړی. په دې صورت کښې به هم دوی ګناهګاران وی. بلکه دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په قراءت کښې درحيم نه پس ﴿واثمهن على من اكرههن﴾[3] دی. يعنی په دې حال کښې جبر اوزورکونونکو باندې ګناه ده. په يومرفوع حديث کښې دی چه الله ﷻ زما د امت په هيرې سره په خطا سره اوپه کومو کارونوباندې چه مجبورکړې شی اوپه هغوی باندې زبردستی اوکړې شی هغه معاف کړی دی[4] دااحکام په تفصيل سره بيانولونه پس فرمائی چه مونږدخپل پاك کلام قرآن کريم روښانه اوواضح آياتونه ستاسو په وړاندې بيان کړل. د وړاندې زمانې د خلقو واقعات هم تاسو ته بيان کړې شوچه متقيان دې نه عبرت حاصل کړی اودالله ﷻ دنافرمانونه بچ شی. علی ﷺ به فرمائيل په قرآن کښې ستاسوداختلاف فيصلې موجوددی تاسونه دوړاندې خلقوخبرې موجوددی روستو راتلونکو کارونو احوال بيان دی. دااټل فيصلې دې بکواس نه دې. داچه څوك هم په بې پرواهئی سره پريږدی هغه به الله ﷻ بربادکړی اوچه څوك ئې د دې نه بغيربل کتاب کښې لټوی هغه به الله ﷻ ګمراه کړی[5]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَللّٰهُ | نُوْرُ السَّمٰوٰتِ | | | | |
| الله | نور داسمانونو | | | | |
| الله ﷻ داسمانونو | | | | | |
| وَالْاَرْضِ ط | مَثَلُ | نُوْرِهٖ | كَمِشْكٰوةٍ | فِيْهَا | مِصْبَاحٌ ط |
| او دزمکې دې | مثال | دنور دهغه | پشان دتاخ دې | چې په کښې | ډيوه وی |
| اود زمکې رڼا ده | ادهٔ د رڼا | مثال داسې دې لکه چې يو تاخ وی | په هغې کښې يوه ډيوه وی | | |

[1] صحيح بخاری کتاب البيوع باب ثمن الكلب:۲۲۳۷، صحيح مسلم:۱۵۶۷، بدون ذكرالحجام خودٓ دې ذکر په صحيح مسلم:۱۵۶۷ کښې دې.

[2] صحيح مسلم كتاب المساقاة باب تحريم ثمن الكلب وحلوان الكاهن ومهرالبغی:۱۵۶۷.

[3] الطبری:۱۷۵/۱۹.

[4] ابن ماجة كتاب الطلاق باب طلاق المكره والناسی:۲۰۴۳.

[5] ترمذی كتاب فضائل القرآن باب ماجاء فی فضل القرآن:۲۹۰۶

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَلْمِصْبَاحُ | فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ | اَلزُّجَاجَةُ | كَاَنَّهَا | كَوْكَبٌ |

دغه ډیوه | دشیشې په فانوس کښې وی | دغه فانوس | داسې وی لکه چې هغه | یو ستورې وی

اوهغه ډیوه په یوه شیشه کښې وی | (اوهغه) شیشه لکه یو ځلنده ستورې وی

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دُرِّيٌّ | يُّوْقَدُ | مِنْ شَجَرَةٍ | مُّبٰرَكَةٍ | زَيْتُوْنَةٍ |

دملغلرې پشان خلیدونکې | چې بلولې شی | دونې | برکتناکې | دزیتون نه |

دغه ډیوه دیوې فائده منډې برکتې ونې نه بلیږی | (یعنی) دزیتون نه چې نه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لَّا شَرْقِيَّةٍ | وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ | يَّكَادُ | زَيْتُهَا | يُضِيْٓءُ |

چې نۀ مشرق طرفته وی | او نۀ مغرب طرفته وی | قریبه وی | چې تیل دهغې | رڼا اوکړی |

دنمر خاته طرف ته ولاړه وی| اونه دقبلې طرف ته.............. اد هغې تیل داسې ښکاری

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَوْ | لَمْ تَمْسَسْهُ | نَارٌ ؕ | نُوْرٌ | عَلٰى نُوْرٍ ؕ | يَهْدِي اللّٰهُ |

او اګر که | نۀ وی رسیدلې هغې ته | وور | دغه شان نور وی | دپاسه دنور | لار ښائی الله

لکه چې په خپله بۀ اوس بله شی |اګر که اور ورته نزدې هم نشی |اهغه تیوله رڼا رڼا ده | الله ﷻ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لِنُوْرِهٖ | مَنْ | يَّشَآءُ ؕ | وَيَضْرِبُ اللّٰهُ | الْاَمْثَالَ | لِلنَّاسِ ؕ |

طرف دنور خپل ته | هغه چاته | چې خوښه ئې شی | او بیانوی | الله | مثالونه | دپاره دخلقو

چې د چا په حقله اوغواړی نو دخپل نور هدایت ورته اوکړی |او الله ﷻ خلقوته مثالونه بیانوی

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَاللّٰهُ | بِكُلِّ شَيْءٍ | عَلِيْمٌ ۙ﴿۳۵﴾ | |

او الله | په هر څیز باندې| ښۀ خبر دې |

او الله ﷻ په هر څیز ښه پوهه دې |

**قوله تعالى:- اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ**

**د الله ﷻ دنور ښائسته مثال او نور نه مراد څوک دی (اول قول):-** ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه الله ﷻ هادی دې د آسمان والااودزمکې والا([1])هم هغه په دې دواړوکښې دنمرسپوږمئی اوستوروتدبیرکوی([2])حضرت انس رضی الله عنه فرمائی دالله ﷻ نور هدایت دې. ابن جریر هم دااختیارکړې دې. حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی د هغه د نور مثال یعنی د هغه نورلرونکی مؤمن مثال د چا په سینه کښې چه ایمان او قرآن دې دهغه مثال الله ﷻ بیان فرمائیلې دې. اول ئی د خپل نور ذکر اوکړو بیادمؤمن د نورانیت چه په الله ﷻ باندې ایمان لرونکی د نورمثال. بلکه حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه داداسې لوستلو ﴿**مثل نورمن امن به**﴾ دابن عباس رضی الله عنه نه داسې لوستل هم نقل دی. ﴿**كذلك نورمن امن بالله**﴾ دبعضو په قراءت کښې ﴿**الله نور**﴾ دې یعنی هغه آسمان او زمکه نورانی جوړکړی دی.سدیm فرمائی هم د هغه په نورسره آسمان اوزمکه روښانه دی. په سیرت محمدبن اسحاق کښې دی په کومه ورځ چه اهل طائف رسول الله ﷺ ته ډیر تکلیفونه رسولې وو.حضور ﷺ په خپله دعاکښې فرمائیلې وو ﴿**اعوذبنوروجهك الذي اشرقت له الظلمت وصلح عليه امرالدنيا والاخرة ان يحل بى غضبك اوينزل بى سخطك لك العتبى حتى ترضى ولاحول ولاقوة الا بالله**﴾ په دې دعاکښې دی

---

[1]) الطبری:۱۹/۱۷۷.

[2]) الطبری:۱۹/۱۷۷.

چه زه ستا دمخ د نور په پناه کښې راځم چه تیارې روښانه کوی او په کوم چه د دنیا او اخرت صلاحیت موقوف دې. الخ. دصحیحین په حدیث کښې دی چه کله به حضورﷺ دشپې د تهجدو دپاره پاسیدو نو دا به نې ونیل اې الله هم ستاد پاره ټول تعریفونه واجب دی ته د آسمانونو او زمکو او څه چه پدې کښې دی د هغه ټولو نورنی[1] الخ ابن مسعودؓ فرمانی چه ستاسو د رب په نیز شپه او ورځ نه ده د هغه د مخ په نور سره د هغه د عرش نور دې.[2]

**دویم قول:**-او دبعضو په نیز مؤمن دې په کوم چه د سیاق کلام دلالت دې. یعنی د مؤمن د زړه د نور مثال دطاخ په مثال دې لکه چه فرمان دې یو سړې دې چه دخپل رب دلیل او ورسره ګواهی اخستې ده.[3] نو دمؤمن دزړه صفائي دشیشې دفانوس په شان تشبیه ورکړه بیا چه دقرآن او شریعت نه کوم امداد هغې ته ملاویږی دهغې تشبیه نې ورکړه د زیتون تیلو سره چه پخپله صفا ستړا پړقیدلې او روښانه دی. نو طاخ او په طاخ کښې چراغ او هغه هم روښانه چراغ. یهودیانو په اعتراض سره ونیلې وو چه د الله ﷻ نور د آسمانونو نه اخوا څنګه منور دې؟ نو مثال ورکړې شو او پوهه کړې شو لکه د فانوس دشیشې رڼړا. ونې فرمائیل چه الله ﷻ نور دې د آسمانونو او نور دې د زمکې. دمشکوة معنی دکور دطاخ ده. دامثال الله ﷻ دخپلې فرمانبردارنې ورکړې دې او خپلې تابعدارنې ته نې نور او فرمائیلو. بیا د هغه نور هم ډیر نومونه دی. مجاهد فرمانې دحبشو په لغت کښې دې ته طاق (طاخ) وائی[4] بعضې وائی چه داسې طاخ چه په هغې کښې نور څه سورې وغیره نه وی. فرمائی چه هم په دې کښې فانوس کیخودې شی. اولنې قول ډیر قوی دې یعنی د فانوس کیخودلو ځائ. په قرآن کښې هم دی چه په دې کښې چراغ دې. نو د مصباح نه مراد نور دې یعنی قرآن او ایمان چه د مسلمان په زړه کښې وی. سدی وائی چراغ مراد دې بیا فرمائی چه دا رڼړا په کوم کښې چه ډیر پړق دې دامثال دې د مؤمن د زړه. بیا هغه قندیل (فانوس) داسې دې لکه مرغلره او پړقیدلې روښانه ستورې. د دې دویم قراءت (دِرِی) هم دې دا ماخوذ دې د (دَرْء) د کوم معنی چه دلرې کولو ده. کله چه یو ستورې ماتیږی نو هغه وخت هغه ډیر روښانه وی او چه کوم ستوری غیرمعروف وی هغې ته هم عرب دراری وائی. مطلب پړقیدونکې او روښانه ستورې چه ښه ښکاره او لوئ وی. بیا دې چراغ کښې تیل هم د مبارکې ونې زیتون وی ﴿زيتونة﴾ لفظ بدل دې یا عطف بیان دې. بیا د زیتونو ونه نه مشرقی ده چه هم د ورځې د شروع نه په دې نمر راشی او نه مغربی ده چه د نمر د ډوبیدو د وخت نه وړاندې په دې سورې راشی بلکه په مینځ ځائ کښې ده چه د سحر نه واخله تر ماښامه پورې د نمر صفا رڼړا کښې وی. نو د دې تیل هم ډیر صفا ستره معتدل او پړقیدونکی وی. ابن عباسؓ فرمائی چه مطلب دا دې چه هغه ونه په میدان کښې ده هیڅ بلې ونې غر یا غار یا څه بل څه خیز هغه پټه کړې نه ده. په دې وجه د دغه ونې تیل ډیر صفا وی. عکرمه فرمائی د سحر نه تر ماښامه پورې تازه کولا وهوا او صفا نمر هغې ته رسی څنګه چه هغه د کولاو میدان په مینځ کښې ده هم په دې وجه دهغې تیل صفا ستړا روښانه پړقیدونکی وی نه هغې ته مشرقی ونیلې شی نه مغربی. داسې ونه ډیره کولاو اوشنه وی نو چه څنګه داونه د آفتونونه بچ شوی وی دغه شان مؤمن د فتنونه بچ اوسیږی. که دیوې فتنې په ازمینښت کښې پریوځی هم نو الله ﷻ هغه ثابت قدم ساتی. هغه ته څلور صفتونه الله ﷻ ورکوی. په خبره کښې رښتونې په حکم کښې عدل په تکلیف باندې صبر نعمت باندې شکر بیا هغه په

---

[1] صحیح بخاری کتاب التهجد باب التهجد باللیل: ۱۱۲۰، صحیح مسلم: ۷۶۹، احمد: ۳۵۸/۱، ابن حبان: ۲۵۹۷.
[2] الطبری: ۱۷۹/۱۹.
[3] ۱۱/هود: ۱۷. الخ.
[4] حاکم: ۳۹۷/۲.

Scanned with Ca

نورو تولو انسانانو کښې داسې وی لکه چه څوك ژوندې په مړو کښې وی.حسن بصری m فرمائی چه که داونه په دنیاکښې وه نو ضرور به مشرقی یامغربی کیدله ولې داخودالله ﷻ دنورمثال دې.ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دامثال دې دنیك سړی چه نه یهودی وی نه نصرانی.پدې ټولواقوالوکښې بهترین قول اولنې دې چه هغه په مینځ زمکه کښې ده د سحرنه ترماښامه پورې بې د بندیزنه نمراوهواهغې ته رسی ځکه چه د څلورو وارو طرفونوته څه بندیز نشته نولامحاله به د داسې ونې تیل ډیر زیات صفاوی او مزیداراوپرقیدونکی به وی.ددې دپاره اوفرمائیلې شو چه پخپله هغه تیل دومره صفا اومزیداردی لکه چه بغیرد لګولوهم رڼرا ورکوی نودرڼراد پاسه رڼرا ده.یعنی دایمان نوربیادهغې دپاسه دنیکو اعمالونور[1] پخپله د زیتونوتیل روښانه بیا هغه سوزیږی اورڼرا ورکوی نودې ته پنځه نوره حاصلیږی هم ددې کلام نوردې د دې عمل نوردې د دې راتلل نوردې د دې تلل نور دې اود دې آخری ځای نوردې یعنی جنت. دکعب رضی الله عنه نه روایت دې دامثال دې د رسول الله ﷺچه د هغوی نبوت دومره ښکاره دې چه حضورﷺ په ژبه مبارك اونه هم فرمائی خوبیابه هم په خلقو ظاهریږی لکه دا زیتون چه بغیرد روښانه کولونه روښانه دی نوهغه نور دلته جمع دې یود زیتون اویود اُور.ددې دیوځای کیدونه رڼرا حاصلیږی دغه شان نور قرآن او نور ایمان راجمع کیږی اودمؤمن زړه روښانه کیږی. الله ﷻ چه څوك خوښ کړی د خپل هدایت په لارنې اولګوی. حضورﷺ فرمائی الله ﷻ مخلوقات په یوه تیاره کښې پیداکړل بیائی په هغه ورځ په هغوی باندې خپل نورواچولو چاچه هغه نورواخستو هغه هدایت بیاموندلواوچه څوك محروم پاتې شوهغه ګمراه شو.ددې د پاره زه وایم چه قلم د الله ﷻ دعلم مطابق روان وو اوچ شو[2]

**دا مثال د زړهٔ د مؤمن دې او زړونه په څلور قسمه دی:-** الله ﷻ دمؤمن دزړه مثال په نورسره ورکړو بیا نی اوفرمائیل چه الله ﷻ دامثالونه د خلقو دپوهې د پاره بیان فرمائی.دهغه په علم کښې هم څوك د هغه په شان نشته. هغه دهدایت اوګمراهئی والا مستحق هریوپیژنی. د مسندپه یوحدیث کښې دی د زړونو څلورقسمونه دی یوخوصفا اوروښانه یوغلاف والابندشوې یواولټه اوپرمخې یوګرځیدلې شوې اولټه نیغ.روښې زړه خود مؤمن زړه دې چه نورانی وی دویم زړه د کافردې دریم زړه د منافق دې چه هغه پوهه شو بیانی خان ناپوهه کړواوبیا منکر شو.څلورم زړه هغه زړه دې کوم کښې چه ایمان هم دې او نفاق هم دې.دایمان مثال خو په هغې کښې دترکارئی دونې په شان دې چه ښه اوبه هغه لویوی اود نفاق مثال پدې کښې په شان د پولې دې چه وینې زوې هغه راپرسوی اوس چه کوم یوغالب راغلو هغه به دې زړه باندې راخوریږی. [3]

| |
|---|
| فِیْ بُیُوْتٍ — اَذِنَ — اللّٰهُ |
| ا په هغه کورونو کښی وی ا چی حکم کړی دی ا الله |
| اپه داسې کورونو(یعنی جماتونو)کښې چې الله ﷻ دهغې باره کښې |
| اَنْ تُرْفَعَ — وَیُذْکَرَ — فِیْهَا — اسْمُهٗ — یُسَبِّحُ — لَهٗ |
| چی پورته دکړې شی ا او یاد د کړې شی ا په هغې کښی ا نوم دهغه ا تسبیح وائی ا هغه لره ا |
| حکم کړې دې اچې دهغې د ادب لحاظ دې ساتلې شی اودهغه نوم دې په کښې اخستلې شی ا په هغې |

[1] الطبری:۱۸۲/۱۹.
[2] احمد:۱۷٦/۲ح٦٦٤٤وسنده صحیح، ابن حبان:٦١٦٩.(مسنداحمدوغیره).
[3] احمد:۱۷/۳.

Scanned with Ca

فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ۝ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ

په هغې کښې | صبا | او بیګاه | (داسې) سړي | چې نۀ غافله کوی هغوئ لره | تجارت |

کښې سحر ماښام خلق دالله ﷻ پاکی بیانوی |داسې خلق چې نه يې تجارت غافله کولې

وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ يَخَافُوْنَ

اونه خرڅول | د ذکر دالله نه | او دقائمولو دمانځه نه | او دورکولو دزکات نه | ویریږی هغوئ |

شی|اونه اخستل خرڅول د الله د ذکر نه او نه مونځ قائمولو نه او نه زکوة ورکولو نه |............هغوئ

يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ۝

دهغه ورځې نه | چې اوړی راوړی به | په هغې کښې | زړونه | او سترګې

دهغه ورځې نه ویریږی |چې زړونه او سترګې به په کښې (په بل مخ) واوړی ..........

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا

دپاره ددې چې بدله ورکړی هغوئ لره | الله | دنیکو کارونو | هغو | چې کړی وی هغوئ |

انجام بهٔ ئې داوی چې الله ﷻ به ورته دخپلو نیکو عملونو ډیره ښه بدله ورکړی

وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ

او زیات ورکړی هغوئ ته | دفضل خپل نه | او الله | رزق ورکوی | هغه چاته | چې خوښه ئې شی

او دخپل فضل نه بهٔ زیات هم ورکړی |اوالله چې دچا په حق کښې اوغواړی انو بې حسابه

بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝

بې حسابه |

رزق ورکوی |

**قوله تعالی:- فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ**

**دجمات آداب:**-دمؤمن د زړه اوپه هغې کښې چه کوم علم اوهدایت دې د دې مثال ئې پورتنی آیت کښې دهغه روښانه چراغ په شان ورکړې ووکوم چه دشیشې په کتوئی کښې وی اودصفاروښانه زیتونو روښانه تیلوسره سوزیږی.ددې دپاره ئې دهغې د ایځ باره کښې اوفرمائیل چه وی هم په داسې مکانونو کښې یعنی په جماتونوکښې چه د ټولونه زیات بهترین اودالله ﷻ خوښ ځایونه دی چرته چه دهغه عبادت کولې شی اود هغه توحیدبیانولې شی دکوم دساتلودپاك صفا ایږدلواود فضول اقوال اوافعال نه دساتلو چه دکوموباره کښې دالله ﷻ حکم دې ابن عباس ﷺ وغیره فرمائی د﴿ان ترفع﴾معنی په دې کښې فضول کارنه کول دی([1]) قتاده فرمائی چه دې نه مرادهم دغه جماتونه دی د کومو د جوړولو اوآبادولواوپاکوالی حکم چه الله ﷻ ورکړې دې. حضرت کعب ﷺ به فرمائیل چه په تورات کښې لیکلې دی چه په زمکه کښې زما کورونه جماتونه دی څوك هم چه زماکور ته په اودس کښې زما ملاقات ته راشی زه به د هغه عزت کوم. د هریوهغه کس دپاره چه څوك د هغه کورته راشی داحق دې چه هغه د ده تکریم اوعزت اوکړی(تفسیرابن ابی حاتم) جماتونه جوړول دهغې ادب اواحترام کولواود هغې خوشبویه -

---

[1]) الطبری:۱۹/۱۹۱.

Scanned with Ca

او صفاستره ساتلو باره کښې ډیر زیات احادیث راغلي دی. چه الحمدلله ما په یومستقل کتاب کښې لیکلې دی او دلته هم د هغې نه څه لږ ډیر نقل کوم. الله ﷻ دې امداداوکړی هم په هغه باندې زمونږ توکل اویقین دې.

**د مسجدونودادابو اوفضیلتونو متعلق احادیث**:-رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم سړې د الله ﷻ د رضامندئی د پاره جمات جوړکړی الله ﷻ دهغه دپاره د دې په شان کور په جنت کښې جوړوی([1])فرمائی د الله ﷻ د نوم دذکرکولودپاره کوم سړې جمات جوړکړی الله ﷻدهغه دپاره په جنت کښې کور جوړوی.([2]) حضور ﷺ حکم اوکړو چه محلوکښې جماتونه جوړکړئی اوپاك صفا اوخوشبودار ئې اوساتئی. ([3]) د حضرت عمرفاروق ؓ بیان دې چه دخلقو د پاره جماتونه جوړ کړئی چرته چه هم خائ ملاوشو خود سور یا زیړرنګ نه بچ شئی چه خلق فتنه کښې پرینوځی.([4]) په یوضعیف سندسره مرفوعاً روایت دې ترکومې چه یوقوم خپل جماتونه د ټیپ ټاپ نقش اونګار اود رنګ روغن والا جوړنه کړه د هغوی عملونه خراب نه شو([5])ددې سندضعیف دې.حضورﷺ فرمائی چه ماته دجماتونو داوچتولواوښخولوحکم نه دې راکړې شوې. ابن عباس ؓ راوی حدیث فرمائی چه تاسوبه یقیناً جماتونه ښائسته نقش اونګار والا کوئی لکه څنګه چه یهودیانواونصاری اوکړل. ([6]) فرمائی چه قیامت به نه قایمیږی ترکومې چه خلق د جماتونو باره کښې خپل مینځ کښې په یوبل فخر اوغرور اونه کړی([7])یوسړې د خپل اوښ لټولود پاره جمات ته راغلوونی وئیل څوك شته چه ماته دخپل سوراوښ پته راکړی؟ حضورﷺ بددعااوکړه الله ﷻ دې اوکړی چه تاته ملاونه شی.جماتونه خوچه دکوم مطلب دپاره جوړکړې شوی هم ددغه کاردپاره دی([8]) حضور ﷺ په جماتونوکښې خرڅول اخستل دتجارت خرڅول اخستل اوهلته شعرونه وئیلونه منع فرمائیلې ده([9]) ارشاددې څوك چه په جمات کښې په خرڅولواخستلواووینې نووایه چه الله ﷻ دې ستا په تجارت کښې ګټه درنه کړی او کله چه څوك ورك شوې څناور اعلان کولو والا په جمات کښې اووینې نووایه الله ﷻ دې اوکړی چه ملاونه شی([10]) ارشاد دې چه ډیرې خبرې دجمات لائق نه وی.جمات لاره مه جوړوئی په جمات کښې وسلې مه راوباسئی. په جمات کښې غشی په لنده کښې مه لګوئی، مه غشی خوروئی. مه کچه غوښه راوړئی مه دلته حد جاری کوئی. مه دلته خبرې او قصې کوئی اومه دا بازار جوړوئی. ([11]) فرمائی چه زمونږ د جماتونونه ماشومان لیونی اخستونکی خرڅونکی جنګ جګړو والا په اوچت

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الصلاة باب من بنی مسجدًا: ٤٥٠، صحیح مسلم:٥٣٣، ترمذی:٣١٨،احمد:٦١/١، ابن حبان:١٦٠٩، بیهقی:٤٣٧/٢ .(بخاری اومسلم)

[2]) ابن ماجة کتاب المساجدباب من بنی لله مسجدًا: ٧٣٥

[3]) ابوداوٗد کتاب الصلاة باب اتخاذ المساجد فی الدور:٤٥٥وهوصحیح، ترمذی:٥٩٤، ابن ماجة:٧٥٩، احمد:٢٧٩/٦،ابن حبان:١٦٣٤، بیهقی:٤٤٠/٢ .(ترمذی وغیره)

[4]) صحیح بخاری کتاب الصلاة باب بنیان المسجدقبل حدیث:٤٤٦. (بخاری)

[5]) ابن ماجة کتاب المساجد باب تشییدالمساجد:٧٤١

[6]) ابوداوٗد کتاب الصلاةِ باب فی بناء المساجد:٤٤٨

[7]) ابوداوٗد کتاب الصلاة باب فی بناء المساجد:٤٤٩وسنده صحیح، نسائی:٦٩٠، ابن ماجة:٧٣٩، احمد:١٤٥/٣، ابن حبان:٦١٣،

[8]) صحیح مسلم کتاب المساجد باب النهی عن نشد الضالة فی المسجد...:٥٦٩، ابن ماجة:٧٦٥، ابن حبان:٤٣٩/٢. (مسلم)

[9]) ابوداوٗد کتاب الصلاة باب التحلق یوم الجمعة قبل الصلاة:١٠٧٩وسنده حسن، ترمذی:٣٢٢، نسائی:٧١٥، ابن ماجة:٧٣٩

[10]) ترمذی کتاب البیوع باب النهی عن البیع فی المسجد:١٣٢١وسنده صحیح، ابن حبان:١٦٥٠، حاکم:٥٢/٢ دَ دیګ اصل صحیح مسلم:٥٦٨وغیره (ترمذی).

[11]) ابن ماجة کتاب المساجد باب مایکره فی المساجد:٧٤٨

Scanned with Ca

اوازکښې خبرې کونکې اود حدجاری کول اود تورو بربنډول منع کړئي ددې دروازوکښې د اودس
وغیره ځایونه جوړکړئي اودجمعه په ورځ داپه خوشبوئې سره معطره کړی(¹)ددې سندضعیف دې.
بعضې علماؤ بغیردضرورت شدید نه جماتونه لارې جوړول مکروه ګنړلې دی.په يو اثرکښې دی چه
کوم سړې بغیرد مانځه په جمات کښې تیرشي فرښتې په هغه باندې تعجب کوی. د وسلواوغشو نه چه
ني منع کړې ده دا ددې دپاره چه هلته مسلمانان ډیر راجمع وی هسې نه چه څوك اولګی ځکه چه د
حضورﷺ حکم دې چه غشی یانیزې سره تیریږې نوتیره طرف ئی په خپل لاس کښې ساته چه چاته
تکلیف اونه رسی(²)کچه غوښه راوړل ځکه منع دی چه داویره وی چرته وینه ترې اونه ځاځی لکه څنګه
چه دحائضه ښځې جمات ته راتلل منع دی. په جمات کښې حد لګول اوقصاص اخستل ځکه منع دی
چه هسې نه هغه سړې جمات پلیت کړی. بازار ترې جوړول ځکه منع کړې شوی دی چه هغه د اخستلو
اوخرڅولو ځائ دې او په جمات کښې دا دواړه خبرې منع دی ځکه چه جماتونه د الله ﷻ د ذکر او مونځ
ځایونه دی لکه څنګه چه حضورﷺ هغه اعرابی ته فرمائیلی ووکوم چه دجمات په یوګوټ کښې
متیازې کړې وې چه جماتونه ددې دپاره نه دی جوړکړې شوی بلکه داد الله ﷻ د مانځه ځائ دې بیانی
د ده په متیازو باندې يوه لویه ډولچه اوبه اوبهیولې(³) په دویم حدیث کښې دی خپل ماشومان د خپلو
جماتونونه منع کړئي ځکه چه لوبې اوټوپونه دهغوی کاردې اوپه جماتونوکښې دامناسب نه دی. فاروق
اعظم ﷺچه به کوم ماشوم په جمات کښې په لوبولیدلوهغه به ئی په کوړه سره وهلواود ماسخوتن د
مانځه نه پس به ئې څوك په جمات کښې نه پریخودل. لیونی هم د جماتونونه منع کړې شو ځکه چه
هغوی بې عقل وی اود خلقو د مذاق ذریعه جوړیږی اوجماتونه د دې تماشولاتق نه دی. اوبله دا هم ده
چه د هغوی د نجاست اوپلیتئی ویره هم ده. بیع اوشرا نه منع کړې شو ځکه چه دا خبرې د الله ﷻ د
ذکرنه منع کونکی دی.جګړې اودجګړو لانجې ئی پدې وجه منع کړې چه په دې کښې آوازونه اوچتیږی
او داسې الفاظ د خُلې نه اوځی چه د جمات د ادب نه خلاف وی.د اکثرو علماؤ قول دې چه په جمات
کښې فیصله مه کوئی ځکه چه د دې جمله نه پس آواز اوچتول منع دی. سائب بن یزید کندی m
فرمائی زه جمات کښې ولاړ ووم ناڅاپې په ما يوکانړې راګذار شو چه ما اوکتل نوهغه حضرت عمر بن
خطابﷺ وو ماته ئی اوفرمائیل څه لاړشه دادواړه سړی ماله راوله. کله چه ما هغوی راوستل نو هغوی
ترې نه تپوس اوکړوتاسو څوك ئی؟ یاتپوس ئی اوکړو چه تاسو د کوم ځائ ئی؟ هغوی وئیل مونږ د
طائف اوسیدونکی يو هغوی اوفرمائیل چه که تاسو د دې ځائ اوسیدونکی وئی نو مابه تاسو له سزا
درکوله. تاسو په مسجدنبوی کښې په اوچت اوچت آوازونوسره خبرې کوئی؟(⁴) د یوسړی اوچت آواز
اوریدو سره حضرت فاروق اعظمﷺ فرمائیلي ووچه ښه پوهیږئی هم چه چرته ئی؟(نسائی)اود جمات په
دروازه کښې د اودس اوپاکوالی ځائ جوړولوحکم ئی ورکړو. مسجد نبوی سره نیژدې کوهیان وو چه
دهغې نه به ئی اوبه راښکلې او څکلې به ئی اودغه شان اودس او پاکوالې به ئی حاصلولو. د جمعه په
ورځ دا خوشبویه کولوحکم اوشوځکه چه پدغه ورځ خلق ډیر راجمع کیږی.ابویعلی موصلی کښې دی
حضرت ابن عمر ﷺ به هره جمعه مسجدنبوی معطر کولو.

¹) ابن ماجة حواله سابق: ۷۵۰

²) صحيح بخاری کتاب الصلاة باب یاخذ بنصول النبل اذا مرفی المسجد: ۴۵۱-۴۵۲، صحيح مسلم: ۲۶۱۴-۲۶۱۵، ابوداؤد: ۲۵۸۷، ابن ماجة: ۳۷۷۸، احمد: ۴/۴۱۰، ابن حبان: ۱۶۴۹، بیهقی: ۸/۲۳.

³) صحيح بخاری کتاب الوضوء باب ترک النبی ﷺ والناس الاعرابی...: ۲۱۹، صحيح مسلم: ۲۷۵، ابن ماجة: ۵۲۸، احمد: ۳/۲۲۶، ابن حبان: ۱۴۰۱.

⁴) صحيح بخاری کتاب الصلاة باب رفع الصوت فی المسجد: ۴۷۰. (بخاری)

Scanned with Ca

**په جماعت کښې د یومونځ په جمع کولو درجه**.-بخاری اومسلم کښې دی حضورﷺ فرمانی دجمع مونځ د انسان د ځان له مونځ چه په کور یادکان کښې اوکړې شی ۲۵ درجې یازیات ثواب لری. دا په دې وجه چه کله هغه په ښه شان سره اودس اوکړی اوصرف دمانځه په اراده روان شی نود هریوقدم په اوچتولو باندې دهغه یوه یوه درجه اوچتیږی اویوه یوه ګناه معاف کیږی اوچه کله مونځ اوکړی نو بیا چه دې ترکومې دخپل مانځه په ځایٔ ناست وی فرښتې په هغه باندې درود رالیګی. وائی ای الله ﷻ په ده باندې خپل رحمت نازل کړه اویه ده باندې رحم اوکړه اوترکومې چه په د مانځه په انتظارکښې وی د مونځ ثواب به ورته ملاویږی.(١) دارقطنی کښې دی چه د جمات د ګاونډی مونځ بغیرد جمات نه نه کیږی(٢)سنن کښې دی چه په تیاروکښې جماتونه له تلونکوته خوشخبری واوروه چه دوی ته به د قیامت په ورځ پوره پوره نور ملاویږی(٣)داهم مستحب دی چه جمات ته تلونکې دې اول ښې پښه دننه کړی اودادعادې اوائی کومه چه بخاری شریف کښې ده.حضورﷺ چه به کله هم جمات ته راتلو ﴿اعوذبالله العظیم وبوجهه الکریم وسلطانه القدیم من الشیطان الرجیم﴾ارشاددې کله چه یوسړې دالولی نوشیطان وائی داسړې زما د شر نه ټوله ورځ د پاره محفوظ شو(٤) په مسلم شریف کښې د حضورﷺ ارشاد نقل دې په تاسوکښې چه څوک کله جمات ته تلل غواړی نودا دعا دې لولی﴿اللهم افتح لی ابواب رحمتك﴾ای الله ﷻ زمادپاره درحمت دروازې کولاوکره.اوکله چه جمات نه بهر اوځې نودااویه ﴿اللهم انی اسئلك من فضلك﴾ ای الله ﷻ زه تانه ستافضل غواړم. (٥) ابن ماجه وغیره کښې دی کله چه په تاسوکښې څوک جمات ته لاړشی نودالله ﷻ په نبی ﷺدې سلام اولیګی بیا دې﴿اللهم افتح لی ابواب رحمتك﴾ اولولی اوچه کله د جمات نه راوځی نو ﴿اللهم اعصمنی من الشیطن الرجیم﴾دې لولی(٦) ترمذی وغیره کښې دی کله چه به هغوی جمات ته راتلل نودرودبه ئې لوستلو او﴿اللهم اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب رحمتك﴾به ئې وئیل اوچه کله به د جمات نه وتلونوددرودنه پس به ئې ﴿اللهم اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب فضلك﴾ لوستلو(٧)ددې حدیث سندمتصل نه دی.غرض دا اود دې په شان نوردیر احادیث ددې آیت متعلق دی کوم چه جمات اود جمات سره متعلق احکام سره تعلق لری. یوبل آیت کښې دی تاسو په هرجمات کښې خپل مخ سیدا ساتئی او په خلوص سره صرف هم الله ﷻ رابلئی(٨) یوبل آیت کښې دی چه جماتونه هم د الله ﷻ دی اوهم د هغه نوم په دې کښې اخلئی(٩)یعنی دکتاب الله تلاوت په کښې کونی(١٠) سحر ماښام هلته د الله ﷻ تسبیح بیانوی. آصال جمع د اصیل ده د ماښام وخت ته اصیل وائی.ابن عباس ﷺ فرمائی چه کوم ځایٔ کښې په قرآن پاك کښې د تسبیح لفظ دې هلته مرادمونځ دې نودلته مراد د سحر اومازیګردې وړاندې وړاندې هم دا دوه مونځونه فرض شوې وو نو هم هغه وریادکړې شو. په یوقراءت کښې (یسبح) دې او په دې قراءت کښې په آصال باندې پورد وقف دې اود ﴿رجال﴾ نه بل خبره شروع کیږی لکه چه هغه مفسردې د فاعل

---

(١) صحیح بخاری کتاب الاذان باب فضل صلاة الجماعة:٦٤٧، صحیح مسلم:٦٦١، ابوداوٗد:٥٥٩، ترمذی:٥٠٣ ابن ماجة:٣٨١
(٢) حاکم:٢٤٦/١
(٣) ابوداوٗد کتاب الصلاة ماجاء فی المشی الی الصلاة فی الظلم:٥٦١ وهوصحیح، ترمذی: ٢٢٣، ابن ماجة:٧٨١.
(٤) ابوداوٗد کتاب الصلاة باب مایقول الرجل عند دخول المسجد:٤٦٦وسنده صحیح.
(٥) صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین باب مایقول اذادخل المسجد:٧١٣.
(٦) ابن ماجة کتاب المساجد باب الدعاء عنددخول المسجد:٧٧٣وهوصحیح، حاکم:٢٠٧/١، ابن حبان:٢٠٤٧.
(٧) ترمذی کتاب الصلاة باب ماجاء مایقول عند دخول المسجد:٣١٤.
(٨) ٧/الاعراف:٢٩.
(٩) ٧٢/الجن:١٨.
(١٠) الطبری:١٩١/١٩.

Scanned with Ca

محذوف د پاره. نولکه چه اوونیلې شو هلته څوك تسبيح كوي؟ نوجواب ورکړې شو چه داسې خلق او(يسبح) په قراءت باندې (رجال) فاعل دې نووقف د فاعل د بيان نه پس پكاردې. (رجال) وئيلو كښې اشاره ده د هغوی بهترين مقاصدو ته د هغوی پاكوكارونواود هغوی اوچتوكارونوته چه دوی د الله ﷻ كورونه آبادونكي دي دهغه دعبادت خايونه ددوی په عبادت باندې ښائسته ښكاري دتوحيد او شكر گذارنې والا هم دا دي. لكه چه ارشاد دې ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا﴾([1]) يعنې په مؤمنانوكښې داسې هم سړي شته چه هغوی كومه وعده الله ﷻ سره كړې وه هغه ئې پوره كړه وئې خودله الخ.

**د ښځو دپاره كور كښې مونځ كول افضل دي:**-اودښځود پاره دجمات د مونځ نه دكورمونځ بهتردې. رسول الله ﷺ فرمائي دښځې مونځ په كور كښې بهتردې اود هغې دحجرې د مونځ نه دننه د كمرې مونځ غوره دې([2])مسندكښې دي چه دښځو بهترين جمات دكوردننه كوټ دې([3])مسنداحدكښې دي حضرت ابو حميدساعدي ﷺ بي بي درسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه وئې وئيل چه حضور ﷺ زه تاسو سره مونځ اداكول ډير زيات خوښوم. حضور ﷺ اوفرمائيل ماته هم معلومه ده خومسئله داده چه ستاد خپل كورمونځ د انگڼ د مانځه نه اود حجرې مونځ د د كور د مانځه نه اودكورد كوټنړئي مونځ دحجرې د مانځه نه غوره دې اودمحلې دجمات نه غوره دكور مونځ دې اود محلې د جمات مونځ زماد جمات نه غوره دې.دې اوريدوسره هغې دخپل كورپه مينځ حصه كښې يوخاې دجمات په توګه مقرر كړو اود آخروخت پورې ئې هم هلته مونځونه كول.([4]) اود ښځود پاره هم په جمات كښې سړوسره مونځ كول جائزدي په دې شرط چه سړوته خپل زينت ښكاره نه كړي.اونه خوشبوئى لگولو سره بهراوځي. په صحيح حديث كښې د رسول الله ﷺ فرمان دې د الله ﷻ بنديكانې د الله ﷻ جماتونونه مه منع كوئى.([5]) ابوداؤدكښې دي دښځود پاره د هغوی كور غوره دې([6]) بل حديث كښې دي چه هغوی دې خوشبو استعمالولو سره نه اوځى([7]) صحيح مسلم شريف كښې دي چه حضور ﷺ ښځوته اوفرمائيل كله چه په تاسوكښې څوك جمات ته راتلل غواړي نو خوشبوته لاس هم مه لگوئى([8]) بخارى اومسلم شريف كښې دي مسلمانانې ښځې به دسحر مانځه له راتلې بيا به هغوی پخپلو څادرونوكښې اينغښتلې روانې وې([9]) اوپه وجه د شپې د تيارې به هغوی پيژندلې نه شوې. حضرت صديقه k فرمائي چه دې ښځو كومې دا نوې نوې خبرې جوړې كړې دی كه رسول الله ﷺ ددې خبرو نه خبروونودونې به ئې د جماتونود راتلونه منع كړې وې لكه څنګه چه د بني اسرائيلو ښځې منع كړې شوې وې.([10])

**درجال اوصاف:**-داسې خلق چه هغوی خرڅول اواخستل د الله ﷻ دياد نه نه منع كوي. لكه چه ارشاددې د ايمان والا مال اولاد تاسو د الله ﷻ د ذكر نه غافل نه كړي. په سورت جمعه كښې دي چه د جمعه په

---

[1]) ۳۳/الاحزاب:۲۳.
[2]) ابوداؤد كتاب الصلاة باب التشديد فى ذلك:۵۷۰.
[3]) احمد:۲۹۷/۱ ابن خزيمة :۱۶۸۳،حاكم:۲۰۹/۱، مسندابي يعلى:۷۰۲۵.
[4]) احمد:۳۷۱/۱وسنده حسن، ابن خزيمة:۱۶۸۹، ابن حبان:۲۲۱۷، مجمع الزوائد:۳۳/۲.
[5]) صحيح بخارى كتاب الجمعة باب ۱۳ حديث :۹۰۰، صحيح مسلم:۴۴۲. (بخارى اومسلم وغيره)
[6]) ابوداؤد كتاب الصلاة باب ماجاء فى خروج النساء الى المسجد:۵۶۷وهوصحيح.
[7]) ابوداؤدحواله سابق۵۶۵وسنده حسن، احمد:۵۲۸/۲،ابن حبان:۲۲۱۴.
[8]) صحيح مسلم كتاب الصلاة باب خروج النساءالى المساجداذالم يترتب...:۴۴۳، احمد:۳۶۳/۶، ابن حبان:۲۲۱۵.
[9]) صحيح بخارى كتاب مواقيت الصلاة باب وقت الفجر:۵۷۸، صحيح مسلم:۶۴۵، ابوداؤد۴۲۳، ترمذى:۱۵۳ ،احمد:۶ /۱۷۹، مسندابي يعلى:۴۴۱۵.
[10]) صحيح بخارى كتاب الاذان باب انتظارالناس قيام الامام العالم:۸۶۹، صحيح مسلم:۴۴۵. (بخارى اومسلم)

Scanned with Ca

ورځ اذان اوریدوسره د الله ﷻ د یاد طرف ته ځنی اوتجارت پریږدئی.([1]) مطلب دا دې چه دې خلقو ته دنیا اوددنیا سامان دنیااوآخرت د الله ﷻ دیادنه غافل کولې نه شی د دوی په آخرت باندې اود هغه ځائ په نعمتونوباندې پوره یقین دې اوهغه باقی ګنړی اود دې ځائ څیزونه فانی ګنړی په دې وجه دا پریږدی اودهغې طرف ته توجه کوی.دالله ﷻ تابعداری اودهغه محبت دهغه احکام مقدم ګنړی. حضرت ابن مسعود ﷺ یوځل تجارت پیشه خلق چه خپل کار روزګارپریخودو د جمات طرف ته په تلوکښې اولیدل نوهم داآیت ئی تلاوت کړو وئی فرمائیل داخلق هم د هغوی نه دی.د ابن عمر ﷺ نه هم دا روایت دې. ابودرداء ﷺ فرمائی چه تجارت اوکړم سره د دې چه ماته په هغې کښې هره ورځ درې سوه اشرفئی ملاویږی خوزه به د مانځه په وخت کښې هرڅه پریږدم اوځم به.زمامطلب هیڅ کله هم دانه دې چه تجارت حرام دې بلکه په مونږ کښې داصفت کیدل پکاردی کوم چه په دې آیت کښې بیان شوې دې. سالم بن عبدالله د مانځه د پاره روان ووئی چه کتل چه دمدینې طیبه سوداګرو په خپلوخپلو دوکانونو باندې کپړې اچولې دی مانځه له تلې دی. هیڅ څوك هم په دکان کښې موجودنشته نوهغوی دا آیت تلاوت کړو اووئی فرمائیل چه هم د دوی نه دی د چاتعریف چه الله رب العزت کړې دې. د دې خبرې په سلفوکښې د دې ځائ پورې خیال وو چه تله ئی اوچته کړې تلی او اذان ئی په غوږ کښې پریوتلونوتله ئی کیخوده اودجمات طرف ته روان شو.دفرض مونځ په جمع سره په جمات کښې د ادا کولود هغوی شوق وو. هغوی به د وختونود ارکانود آدابوحفاظت سره د مونځونو پابند وو.دا ځکه چه په زړونوکښې د الله ﷻ ویره وه د قیامت راتلل ئی په حقه سره ګنړل.دهغه ورځ د ویرې نه خبروو چه ډیر سختې ویرې اوپوره پریشانئی اودبې حد ګړبړپه وجه سترګې به ئی بقې شی اوزړه به ئی والوزی اینه به ئی اوخوزی. لکه چه ارشاددې زما نیکان بندیګان زما دنیکو په وجه مسکینانو باندې خوراك کوی اوپه یتیمانو اوقیدیانوباندې هم اووائی چه مونږخوپه تاسو صرف د الله ﷻ د رضا په خاطر خوراك کوو زمونږ مقصدتاسونه شکریه اخستل نه دی اونه د بدلې اخستل دی.زمونږ خود خپل پروردګار نه د هغه ورځې ویره ده چه خلقو دغم اوخفګان نه مخونه پړسولې وی اوتندی ئی بدل شوی وی.نوالله ﷻ به هغوی ته ددغه ورځ دمصیبتونونه خلاصې ورکړی اوهغوی ته به تازه والی خندا خوشحالئی راحت اوآرام ملاویږی.اود هغوی د صبر په بدله کښې به جنت او ریښمین لباس ورکوی. ([2])

**ددې رجالو هر عمل مقبول دې**:-دلته هم فرمائی چه د هغوی نیکئی قبولې دټ دهغوی بدئی معاف دی د هغوی دیویوعمل بهترینه بدله به سره د زیاتی بدله اود الله ﷻ د فضل سره هغوی ته ضرور ملاویږی. لکه چه ارشاد دې الله ﷻ په اندازه د یوې ذرې هم ظلم نه کوی.([3]) بل آیت کښې دی نیکی لس چنده کولې شی.([4]).بل آیت کښې دی چه څوك الله ﷻ ته ښه قرض ورکړی هغه به الله ﷻ ډیر زیات کړی او د ډیرنه ډیربه ورکړی.([5])ارشاددې ﴿يُضٰعِفُ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ﴾ ([6]) هغه زیاتوی دچادپاره چه اوغواړی. دلته فرمان دې چه هغه چاله غواړی بې حسابه ورکوی. حضرت ابن مسعود ﷺ له یوځل پئی راوړلې شوهغوی په دې مجلس کښې په هریو باندې څکول غوښتل خود ټولوروژه وه په دې وجه هم هغوی له

[1] ٦٢/الجمعة:٩.
[2] ٧٦/الدهر:٨-١٢.
[3] ٤/النساء:٤٠.
[4] ٦/الانعام:١٦٠
[5] ٢/البقرة:٢٤٥.
[6] ٢/البقرة:٢٦١.

Scanned with Ca

واپس لوښي راغلو هغوی هم دا آیت ﴿يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ﴾ اولوستلو او ونی څکل.[1] رسول الله ﷺ فرمائی د قیامت په ورځ به اول اوآخر ټول راجمع کولې شی الله ﷻ به یوآواز کونکی ته حکم ورکړی چه په اوچت آواز سره به چغه وهی کومه چه به ټول اهل محشر اوری نن به ټولوته معلومه شی چه د الله ﷻ په نیز د ټولونه ډیر بزرګ څوك دي؟ بیا به فرمائی هغه خلق اودریږی څوك چه تجارت د الله ﷻ د ذکر نه نه وو منع کړی. هغوی به اودریږی اوهغوی به ډیر کم وی. د ټولونه اول به هم دوی دحساب نه فارغ کولې شی[2] حضور ﷺ فرمائی چه د دوی د نیکو اجر یعنی جنت به هم دوی ته ملاویږی اود الله ﷻ زیاتی فضل به دا وی چه کوموخلقو هغوی سره احسان کړې وی او وی هم هغوی د شفاعت حقدار نود دوی ټولو د شفاعت منصب به دوی ته حاصل شی.[3]

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۭ

| او هغه کسان | چی کفر ئې اوکړو | عملونه دهغوئ | پشان دسراب دی |

او څوک چې کافران دی دهغوئ عملونه د سراب په شان دی

بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ

په بیابان کښی|چی ګمان کوی په هغې|تږې (سړې) | داوبو |تر هغې پورې|کله چی راغې هغه ځائې ته

چې په یو هموار میدان کښې پرې تږې داوبو ګمان کوی|خو هر کله چې ورته نزدې ورشی|نو

لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ

نو وې نهٔ موندو هغه|هیڅ څیز | او وې موندو الله |په نز دځان خپل (هلته) |پس پوره پوره ئې ورکړو هغه ته

هیڅ بیا نه مومی |او هلته دالله ﷻ (تقدیر) بیامومی | نوهغه ورسره خپل حساب

حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۙ اَوْ كَظُلُمٰتٍ

حساب دهغه | او الله | زراغوستونکې دې دحساب | یا مثال دهغې پشان دتیارو دې

پوره کړی (اودې مړکړی) | اوالله ﷻ ډیر زر حساب خلاصوی |یا (دهغه عملونه) داسې دی|لکه چې

فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ

په دریاب چپو وهونکی کښی | چی پټ کړې وی هغه | یوې چپې | دپاسه دهغې | بله چپه وی

دلوئې ژورسمندر دلاندې نه تورې تیارې وی|چې لوئې لوئې چپې پرې راځی ادیوې چپې

مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَآ اَخْرَجَ

دپاسه دهغې | وریځ وی | تیارې وی | خینې دهغې | دپاسه دخینو وی | کله چی | رااوباسیٔ سړې

دپاسه بله چپه وی |اوبیا دهغې چپو دپاسه وریځ وی|غرض داچې لاندې باندې تیارې وی |کله چه

[1] حاکم:۲/۳۹۹.
[2] ابن ابی حاتم.
[3] المعجم الکبیر:۱۰٤٦۲.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يَدَهٗ | لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا | وَمَنْ | لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ | لَهٗ | نُوْرًا |
| لاس خپل | قريبه نۀ ده چې اووينى هغه | او هغه څوك | چې ورنۀ كړى الله | هغه لۀ | نور |
| څوك خپل لاس راوباسى \| نو داسې (تياره) وى الكه قريبه وى چې هغه هم اونشى ليدې \| اوچاته چې الله | | | | | |
| فَمَا | لَهٗ | مِنْ نُّوْرٍ | | | |
| پس نشته | هغه لره | هيڅ نور | | | |
| (دهدايت) نور ورنكړى انوهغه دپاره چرته هم رڼا نشته | | | | | |

**قوله تعالى:-وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ**

**د كافرانواومشركانو د نيكواعمالومثال:-** -دادوه مثالونه دى اود دوو قسم كافرانودى لكه چه د سورت بقره په شروع كښې دوه مثالونه ددوه قسم منافقانو بيان شوى دى يوداُوراويود اوبو.اولكه څنګه چه په سورت رعدكښې د هدايت اوعلم چه د انسان په زړه كښې ځائ اونيسى هم داسې دوه مثالونه د اُوراو اوبو بيان شوى دى. په دواړوسورتونوكښې ددې آياتونوپوره تفسيرتيرشوېدې فالحمدلله.دلته ړومبې مثال خودهغه كافرانو دې چه د كفرطرف ته نورهم رابلى اوخپل ځان په هدايت ګنړى.سره ددى چه هغوى بالكل بې لارې دى ددې مثال خوداسې دې لكه چه تكى ته په ځنګل كښې د لرې نه د شګوېر قيدونكى ډيرنى ښكارى اوهغه داد اُوبو يوه چپه اودرياب ګنړى(قيعة) جمع د(قاع)ده لكه د جار جمع جيره ده او قاع واحد هم وىاوجمع ئى قيعان وى. لكه د جارجمع جيران د دې معنى ارت خور شوې ميدان. هم په داسې ميدانونوكښې دغه سراب (دهوكه) په نظرراځى. د غرمې په وخت كښې بالكل هم دغه شان معلوميږى چه داوبو يوكولاو درياب ياچپې دى په ځنګل كښې چه دتكى د اوبوپه لټون كښې وښكى كولاوشى اودا اوبه ګنړى اود ځان وژلوكوشش كوى خوهلته رسى خوپه حسرت اوارمان سره خپل مخ سروهى كله چه ګورى هلته د اُوبوڅاڅكې خو څه چه نوم اونښه ئى هم نه وى.دغه شان دا كافران دى چه په خپل زړه كښې داخيال كوى چه مونږ ډيرزيات اعمال كړى دى ډيرې ښيګړې خو راجمع كړى دى خود قيامت په ورځ به ګورى چه هغوى سره يوه نيكى هم نشته ياخود هغوى په بدنيتنى سرد هغه غرقې شوى دى ياد شريعت مطابق نه كيدو په وجه هغه بربادشوى دى. غرض د هغوى دلته درسيدو نه وړاندې د هغوى كارونه دوزخ ته رسيدلى وى دلته هغوى بالكل خالى لاس پاتې شى.دحساب كتاب په موقع الله ﷻ پخپله موجود دې اود يويوعمل حساب اخلى اود هغوى يو عمل هم د ثواب قابل نه راوځى. (١)

**دغه شان عذاب به قيامت كښې يهودياهو ته هم ښكاره شى:-** دغه شان په بخارى اومسلم كښې دى د يهوديانونه به دقيامت په ورځ سوال كولې شى چه تاسوپه دنياكښې د چا عبادت كولو؟هغوى به جواب وركړى د الله ﷻ دځوئ عزيرؑ. ونيلې به شى دروغژن ئى د الله ﷻ څوك ځوئ نشته ښه ده اوس اوښانې څه غواړئ؟ هغوى به وائى چه ياالله مونږ ډير تګې يواوبه راباندې اوڅكوه.نوهغوى ته به وائى چه ګورئى څه ښكارى؟تاسو هلته ولې نه ځئ؟اوس به هغوى ته دوزخ د لرې نه داسې ښكارى لكه چه په دنياكښې سراب وى په كوموچه د روانواوبوګمان كيږى.دوى به هلته ځى او په دوزخ كښې به اچولې شى(٢) دامثال خووود جهل مركب والا.

(١) الطبرى:١٩٢/١٩.

(٢) صحيح بخارى،كتاب التوحيد باب قول الله تعالى ﴿وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة....﴾:٧٤٣٩، صحيح مسلم:١٨٣.

Scanned with Ca

**د مقلدينو مشركانو مثال**:-اوس دجهل بسيط والامثال واورئي چه خالي مقلد وود خپل عقل غوټه به ئي مطلق نه ساتله.د وړاندېني مثال والادائمه كفرپه پټوسترګو تقليدكولواوپه پټوسترګودهغوی آواز پسې لګيدلي رو دهغوي مثال د ژور سمندر د تيارودې كوم چه د بره نه د اوبوموجونوقط په قط پټ كړې وی اوبيادپورته نه اوريځوراپټ كړې وی.يعنی د تيارو د پاسه تياري وی تردې چه لاس په لاس نه وينی هم دغه حال ددې سفلی جاهلانوكافرانو دې چه په ړندومقلد دی اوتردې چه دچاتقليدكولې شی هغه هم په صحيح توګه نه پيژنی د هغوی په حق يا په ناحق باندې كيدو نه خبرنه دی. ځوك دې چه وريسې شي خومعلومه نه ده چه هغوی به دوی كوم خوا اوړي؟ په مثال سره وئيلې شی چه د يوجاهل نه تپوس اوشو چرته روان ئی؟هغه وئيل ده سره خم.تپوس كونكی بياتپوس اوكړودې چرته روان دې؟هغوی وئيل ماته خو پته نشته. نو چه څنګه په دې سمندركښې موجونه روان دی،دغه شان دكافرپه زړه باندې د هغه په غوږونوباندې اودهغه په سترګوباندې پردې پرتې دی.لكه چه ارشاددې الله ﷻ دهغوی په دواړو غوږونوباندې مهرلګولې دې.(١)يوبل آيت كښې ارشاد دې ﴿اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ﴾(٢)تاسوهغه اوكتل چه خواهش پرستی ئي شروع كړېده.او الله ﷻ هغوی په علم باندې دهوكه كړی دی،اودهغوی په زړونواو غوږونوباندې ئي مهر لګولې دې.اود هغوی په سترګو ئي پرده اچولې ده الخ. ابی بن كعب﷛ فرمائی داسې خلق په پنځو تياروكښې وی كلام عمل تګ راتګ اوانجام ټول په تياروكښې دې(٣)چاته چه الله ﷻ د خپل نور طرف ته هدايت اونه كړی هغه د نورانيت نه خالی پاتې كيږی په جهالت كښې اخته شی اوهلاكت كښې پريوځی.لكه چه ارشاد دې ﴿مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ؕ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ﴾ (٤) ځوك چه الله ﷻ ګمراه كړی دهغه ځوك هدايت كونكې نشته.دې په مقابله د هغې دې كوم چه دمؤمنانو په مثال كښې بيان فرمائيلې شوې ووچه الله ﷻ دخپل نورهدايت كوی خوچه چاته اوغواړی.الله ﷻ عظيم اوكريم دې زموږ دعاده چه هغه دې زموږ په زړونوكښې نور پيداكړی اوزموږ ښي اوكس طرف ته دې هم موږ له نور راكړی اوزموږ نوردې زيات كړی اودا دې ډير لوئ او زيات كړی. آمين.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اَلَمْ تَرَ | اَنَّ اللّٰهَ | يُسَبِّحُ | | | | |
| ايا نه وينی ته | چی بيشكه الله | تسبيح وائی | | | | |
| ايا تاسو ته معلومه نه ده چې ټول(مخلوقات) د | | | | | | |
| لَهٗ | مَنْ | فِي السَّمٰوٰتِ | وَالْاَرْضِ | وَالطَّيْرُ | صٰٓفّٰتٍ ؕ | |
| هغه لره | هغه ټول | چی په اسمانونو | او زمكه كښی دی | او مارغان هم | چی خورونكی وی وزرو خپلو لره | |
| الله تسبيح وائی | كه په آسمانونو كښې دی او كه په زمكه كښې دی | او الوتونكی مارغان هم چې وزرې | | | | |
| كُلٌّ | قَدْ عَلِمَ | صَلَاتَهٗ | وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ | وَاللّٰهُ | عَلِيْمٌ | بِمَا |
| هر يو ته | معلومه ده | طريقه دمونځ خپل | او دتسبيح خپل | او الله | ښه خبر دې | په هغه عملونو |
| نې غوړولې وی | هر يو ته خپله خپله دعا او خپل خپل تسبح معلوم ده | او الله ﷻ ته ددوئ ټول عملونه | | | | |

(١) ٢/البقرة:٧.الخ
(٢) ٤٥/الجاثية:٢٣.
(٣) الطبری:١٩/١٩٨، حاكم:٢/٣٩٩-٤٠٠.
(٤) ٧/الاعراف:١٨٦.

Scanned with Ca

يَفْعَلُوْنَ ۝ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ

چې كوي ئې دوئ | او الله لره ده | بادشاهي | داسمانونو | او دزمكې | او خاص الله ته |

معلوم دى | او داسمانونو او دزمكې بادشاهي دالله ﷻ دې | اوهم الله ﷻ ته

الْمَصِيْرُ ۝

ورتلل دى (دټولو) |

واپس تګ دې |

**قوله تعالى:- اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ**

**هر يوشيز د الله ﷻ تسبيح بيانوي:-** ټول په ټول انسانان اوپيريان فرښتې او ځناور تردې چه كاڼړى بوټي هم دالله ﷻ تسبيح بيانولوكښې مشغول دى. يوبل مقام كښې دى چه اووه واړه آسمانونه اوټولې زمكې او په دې كښې چه څه دى ټول د الله ﷻ د پاكنې په بيان كښې مشغول دى په خپلو وزرو باندې الوتونكې مرغئى هم دخپل رب دپاكوالى اوعبادت په بيان كښې دى.(1)

دې ټولودپاره چه كوم كوم تسبيحات لائق ووالله ﷻ دوى ته خودلې دى اوټولوته ئې دخپل عبادت جداجدا طريقې خودلى دى د الله ﷻ نه هيڅ يو كارپټ نه دې هغه په هرڅه عالم دې حاكم دې متصرف دې مالك دې مختار كل دې حقيقى معبود دې د زمكې او آسمان بادشاه صرف هم هغه دې. د هغه نه بغيرڅوك هم دعبادت لائق نشته. دهغه دحكمونوڅوك هم روستوكونكې نشته.دقيامت په ورځ به ټول دهغه په وړاندې حاضريږى. هغه چه څه غواړى په خپل مخلوق به حكم كوى. خراب خلق به بدې بدلې اخلى او نيكان به د نيكئى ميوه حاصلوى. خالق اومالك هم هغه دې د دنيااو آخرت حاكم هم هغه دې. اوهم د هغه ذات د حمداوثنالائق دې.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِىْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ

| ايا نه ګورې ته | چې بيشكه الله | بوزى | وريځى | بيا | يو ځائې كوى

| آيا تا نه دى ليدلى چې الله وريځې روانوى | بيا ئې په خپل مينځ كښې

بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ

توټې دهغې | بيا جوړوى هغه | لاندى باندى | پس ته وينې باران | چې را اوځى | دمنځ دهغې نه |

لاندې باندې كوى | نو ته ئې وينې چې دهغې د مينځ نه باران راوځى

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ

او نازلوى | دآسمان نه | دغرونونه | چې په هغې كښې وى | ګلئ | پس رسوى (الله)

او دوريځو لويولويو ګټانو نه ږلئ راوروى | نو په چاچې ئې

بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ يَكَادُ

دا ګلئ | هغه چاته چې غواړى | او بچ كوى دا ګلئ | دهغه چانه چې غواړى | نزدې وى |

اوغواړى نو په هغې ئې وروى | اودچانه چې ئې اوغواړى د هغه نه ئې لرې ساتى | دهغې

(1) ١٧/الاسراء:٤٤.

Scanned with Ca

سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ اِنَّ

بریښنا دبجلۍ دهغې اچې بوزي | نظرونه دسترګو | ګرځوي الله | شپه | او ورځ | بیشکه

دبجلۍ پرق داسې ښکاري | لکه چې اوس به دسترګو نظر اوسوزوي | هم الله شپې او ورځې اړوي راړوي

فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ

په دې کښې | خامخا عبرت دې | دپاره دخاوندانو | دسترګو | او الله | پیدا کړو | هر جاندار څیز |

بیشکه په دې کښې دسترګو دخاوندانو دپاره لوئې عبرت دې | او الله ﷻ هر یو ساه لرونکې

مِّنْ مَّآءٍ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ

داوبو نه | نو ځینې دهغوئ نه | هغه دې | چې ګرزي | په خیټه خپله باند | او ځینې دهغوئ نه |

داوبو نه پیدا کړې دې | نو بعضې په کښې داسې دی چې په خیټه باندې خوئیږي | او څه په کښې

مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ

هغه دې | چې ګرزي | په دوؤ خپو باندې | او ځینې دهغوئ نه | هغه دې | چې ګرزي |

داسې دی چې په دوؤ پښو ګرځي | او څه په کښې داسې دی چې په څلورو پښو

عَلٰى اَرْبَعٍ ؕ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۵﴾

په څلورو خپو باندې | پیدا کوی الله | هغه چې غواړي هغه | بیشکه الله | په هر څیز باند | قادر دې

ګرځي | الله ﷻ چې څه غواړي هغه پیدا کوی | بیشکه الله ﷻ په هر څیز باندې قدرت لري

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ

نازل کړې دی مونږه | ایتونه حقیقت ښودونکې | او الله | هدایت کوی | هغه چاته چې غواړي |

بیشکه مونږ ښکاره حکمونه نازل کړې دی | او الله ﷻ چې دچا باره کښې غواړي

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۶﴾

لارې نیغې ته |

نو په سمه لار ئې روان کړي

قوله تعالىٰ:- اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

**د الله ﷻ دقدرت نخښې** :- نرى لوګى پشان اُوريځې چه اول اول دالله ﷻ په قدرت سره راوچتيږي بيا يوځاۓ شى او درنې شى اود يوبل دپاسه اونخلى بيا د دې نه باران راوريږي هواګانې روانې وى زمكه قابله جوړه كړى بيا اُوريځې اوچتوى اودايوځاۓ كوى بيا هغه د اوبونه ډكې شى او راوريږي[1] بياد آسمان نه د ګلې (واورې) د ورولو ذكر دې. پدې جمله كښې ړومبې (**مِن**) دغايت دشروع دې دويم د تبعيض او دريم بيان جنس دې. دادې تفسير په وجه دې چه دآيت دا معنى اوكړې شى چه دګلې غرېه آسمان باندې دې اود چاپه نيزچه دلته دغرلفظ داُوريځ د پاره دكنايه په توګه دې دهغوى په نيز دويم (**مِن**) دغايت د شروع دپاره دې. خوهغه داول نه بدل دې. والله اعلم. ددې نه پس دجملې دا مطلب دې

---

[1] الطبرى: ۲۰۱/۱۹

Scanned with Ca

چه باران او ګلې کوم ځائ الله ﷻ کول غواړی هلته د هغه په رحمت سره وریږی او کوم ځائ چه نه غواړی نو هلته نه څی.یادامطلب دې چه په ګلې سره کله غواړی پټی او باغونه خرابوی او چه په چاباندې مهربانی اوکړی هغه بچ کوی.بیا دبجلی د پړق طاقت بیانولې شی چه نیزدې ده چه هغه د سترګو نظر واخلی اود شپې تصرف هم دهغه په قبضه کښې دې کله چه غواړی ورځ وړه اوشپه لویه کړی اوکله چه غواړی نوشپه وړه اوورځ لویه کړی داتولې نښې دی چه دالله ﷻ قدرت ښکاره کوی اودالله ﷻ عظمت رابرسیره کوی لکه چه ارشاددې دزمکې اوآسمان پیدائش دشپې ورځې په اختلاف کښې دعقل مندودپاره ډیرې نښې دی.

**دَ مختلفو ځناورو دَتخلیق تذکره:-** الله ﷻ د خپل کامل قدرت او زبردست سلطنت بیان فرمائی چه هغه هم دیو اوبونه قسم قسم مخلوق پیداکړې دې.مارته اوګوره چه هغه پخپله خیټه باندې روان دې انسان او مرغوته اوګوره دهغوی دوه دوه پښې دی په کومو باندې چه ګرځی ځناورواوڅاروو ته ګوره چه په څلوروپښوباندې روان دی. هغه ډیر لوئ د قدرت مالك دې چه څه غواړی هغه کیږی. څه چه نه غواړی هغه هیڅ کله هم نه کیږی هغه قادر کل دې.دادحکمت نه ډك احکام او مثالونه په دې قرآن کریم کښې هم الله ﷻ بیان کړی دی د عقل خاوندانو له ئی د دې پوهنې توفیق ورکړې دې. الله ﷻ چه څوك غواړی په نیغه لارئی لګوی.

وَيَقُولُونَ | اٰمَنَّا | بِاللّٰهِ | وَبِالرَّسُولِ
| او وائی دا خلق | چی ایمان راورو مونږه | په الله | او په رسول باندې|
| اوداخلق وائی چې مونږ په الله ﷻ او دده په رسول باندې ایمان راوړې دې

وَاَطَعْنَا | ثُمَّ | يَتَوَلّٰى | فَرِيْقٌ | مِّنْهُمْ | مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ط
او اطاعت قبول کړو مونږه | بیا | اړوی مخ | یوه ډله | دهغوئ نه | روستو ددې (اقرار) نه |
اودهغه حکمونه مومنلی دی | خو ددې نه پس هم ددوئ یوه ډله مخ اړوی

وَمَآ اُولٰٓئِكَ | بِالْمُؤْمِنِيْنَ۝ | وَاِذَا | دُعُوْٓا | اِلَى اللّٰهِ | وَرَسُوْلِهٖ
اونه دی دا خلق | مومنان | او هر کله چی | راوبللې شی هغوئ | الله ته | او رسول دهغه ته
اوداخلق ایمان نه راوړی | اوکله چې دوئ الله ﷻ اودده رسول طرفته راوبللې شی

لِيَحْكُمَ | بَيْنَهُمْ | اِذَا | فَرِيْقٌ | مِّنْهُمْ
دپاره ددې چی فیصله اوکړی رسول | په منځ دهغوئ کښی | نو هغه ساعت | یوه ډله | دهغوئ نه
چې ددوئ ترمینځه فیصله اوکړی | نو په دغه وخت کښې دوئ کښې یوه ډله مخ اړوی

مُّعْرِضُوْنَ۝ | وَاِنْ يَّكُنْ | لَّهُمُ | الْحَقُّ | يَاْتُوْٓا | اِلَيْهِ | مُذْعِنِيْنَ۝ ط
مخ اړونکی وی | او که چری وی | دپاره دهغوئ | حق | نو راځی هغوئ | رسول ته | فرمان منونکی
اوکه چرې ددوئ په چاڅه حق وی انو بیا (رسول ﷺ ته) فرمان منونکی راروان وی

اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ | مَّرَضٌ | اَمِ ارْتَابُوْٓا | اَمْ يَخَافُوْنَ
ایا په زړونو دهغوئ کښی | مرض دې منافقت | یا په شك کښی پریوتی دی | یا یریږی هغوئ |
ایا ددوئ په زړونو کښې مرض دې ایا په شک کښې اخته دی ایا دا ویره ورسره

Scanned with Ca

أَنْ يَّحِيْفَ اللهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ۭ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ

چي ظلم به اوکړي الله | په هغوئ باند | او رسول دهغه | بلکه دا خلق | په اصل کښي هم دوئ |

ده چي الله ﷻ اورسول به پري زياتي اوکړي |.....داسي نه ده بلکه دوئ

الظّٰلِمُوْنَ ۝ اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللهِ

ظالمان دی | بيشکه | ده خبره | دمومنانو | کله چي | راواوبللي شي | الله ته

پخپله ظالمان دی |هرکله چي مومنان الله ﷻ اودهغه رسول ته اوبللي شي | چي ددوئ

وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا

اورسول دهغه ته |چي فيصله اوکړي رسول|په منځ دهغوئ کښي | دا چي اووائي | چي واوريده مونږه

ترمينځه فيصله اوکړي | نو ددوئ وينا بس صرف دا وی چي مونږ واوريدل او حکم

وَاَطَعْنَا ۭ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَنْ يُّطِعِ

اواومنو مونږه حکم | او دا خلق چي دی | هم دوئ | خلاصي موندونکي دی | او څوک چي حکم مني

مو اومنلو | او هم دا خلق کامياب دی | او څوک چي دالله ﷻ

اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ

دالله |او درسول دهغه | او يريږي دالله نه | او ځان ساتي دنافرماني دهغه نه |نو دا خلق چي دی |

اودهغه درسول ﷺ تابعداری کوی| اودالله ﷻ نه ويريږي| اودهغه(دنافرماني) نه ځان بچ ساتي|نو هم

هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝

هم دوئ کامياب دی |

دغه خلق به کامياب وی |

**قوله‌تعالى:-** وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۭ

**کامياب اوناکام خلق:-** -دمنافقانوحال بيانولي شی چه په ژبه باندي د ايمان اوتابعدارئی اقرارکوی ولي په زړه کښي دهغي خلاف دی عمل نی بل څه دي او وينائی څه بل څه ده ځکه په حقيقت کښي ايماندار نه دی.په حديث کښي دی چه کوم سړي بادشاه له راوغوښتلي شي اوهغه لاړنه شی هغه ظالم دي اوپه ناحقه باندي دي اوکله چه هغه د هدايت طرف ته راغوښتلي شي د قرآن اوحديث د منلووينا ورته کولي شي نومخ اړوی اوکبر کوی لکه چه ارشاد دي ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ۭ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ۝ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ۝﴾([1]) کښي بيان تيرشوي دي اوکه هغه ته په شرعی فيصله کښي خپله ګټه ښکاری نواوړدي اوږدي کلمي لوستلوسره به ښتٓ خوزوی اوپه خنداخوشحالئ‌به راځي او چه کله ورته معلومه شي چه شرعي فيصله د هغه د طبعي خواهش خلاف ده د دنياوی مفادو خلاف ده نوواپس کيږی به د حق طرف ته به ګوری هم نه.داسي خلق پاخه کافران دی.ځکه چه ددريوحالونه خالی نه دی ياخودا چه هم ددوی په زړونوکښي بي ايمانئی کور کړي دي ياد دوی د الله

---

[1] ٤/النساء: ٦٠-٦١.

Scanned with Ca

ﷻ په دين كښې شك دې ياويرېږى چه چرته الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ د دوى حق اونه وهى په دوى باندې ظلم او ستم او نه كړى اودادريواړه صورتونه دكفردى. الله ﷻ په هغوى كښې هريوپيژنى څوك چه په څنګه باطن كښې دى هغه په هغه ظاهر دى. په اصل كښې هم دا خلق فاجران دى ظالمان دى الله اود هغه رسول ﷺ د دې نه پاك دې.

**دا ايت مبارك د منافقانو باره كښې دې**:-دحضورﷺ په زمانه كښې داسې كافران چه په ظاهره باندې مسلمانان ووډير وو هغوى ته به چه كله خپل مطلب په قرآن اوحديث كښې وتونكې ښكاريدو نود نبى ﷺپه خدمت كښې به نى خپلې جګړې پيش كولې اوچه كله به هغوى ته د نورونه مطلب ولاړيدو نو د محمدﷺ ددربار ته دراتلونه به نى بالكل انكاركولو.نو دا آيت نازل شو او حضورﷺ اوفرمائيل د كومو دووكسانو په مينځ كښې چه څه جګړه وى او هغه د اسلامى حكم د فيصلې طرف ته راوغوښتلې شى او هغه دې نه انكار اوكړى نوهغه ظالم دې او هغه په ناحقه دې. (¹) دا حديث غريب دې.

**د مختلفو مؤمنانو بيان**:-بياد رښتونى مؤمنانو حال بيانولې شى چه هغوى دالله ﷻ كتاب اودهغه د رسول ﷺ دسنتونه علاوه بل دريم څيز په دين كښې داخل نه ګنړى. دهغوى خود قرآن اوحديث اواز په غوږ كښې پريوتوسره صفاوائى چه مونږ واوريدواومونږاومنه.داكامياب بامراداوخلاصې بيا موندونكى خلق دى. حضرت عباده بن صامت ﷺ چه بدرى صحابى دې انصارى دې د انصارو يو سردار دې هغه خپل وراره جناده بن ابى اميه ﷺ ته د وفات كيدو په وخت اوفرمائيل راشه مانه واوره چه ستا په ذمه څه دى؟ واوره اواومنه په سختئى كښې هم په آسانئى كښې هم خوشحالئى كښې هم په غم كښې هم په هغه وخت كښې هم چه ستا حق بل ته وركولې شى خپله ژبه په عدل اوصداقت سره نيغه اوساته اود كاراهل خلقو نه كار مه اخله. اوكه د څه ښكاره نافرمانئى هغوى حكم اوكړى نو مه ئى منه. كه د الله ﷻ د كتاب خلاف څوك هم اووائى اونه منې. د الله ﷻ د كتاب په منلو كښې لګيااوسه. ابودرداء ﷺ فرمائى چه اسلام بغيرد الله ﷻ د تابعدارئى نه دې كومه ښيګړه چه ده هغه په ګنړه كښې ده اود الله ﷻ اود هغه د رسول ﷺ خليفة المسلمين اود عامو مسلمانانو په خير خواهئى كښې ده.

حضرت عمر ﷺ خطاب فرمائيلو د اسلام مضبوطه كړئى د الله ﷻ د وحدانيت ګواهى د مونځ پابندى د زكوة وركول اودمسلمانانو دبادشاپه حكم منلوكښې ده.كوم احاديث اوآثارچه دكتاب الله اوسنت رسول الله ﷺد تابعدارئى باره كښې اود مسلمانانود بادشاه حكم منلوباره كښې نقل دى هغه دومره زيات دى چه ټول چرته بيانيدې هم نه شي. كوم سړې چه د الله ﷻ اورسول الله ﷺ تابعدار جوړشى كوم حكم چه ملاوشى په خاى راوړى د كوموڅيزونونه چه منع كړې شى رابندشى كومه ګناه چه ترې اوشى هغې نه ويره خورى اوبيا د هغې نه بچ كيږى داسې خلق د هرقسم ښيګړې راغونډونكى اود ټولو بدو نه بچ كيدونكى دى. په دنيا اوآخرت كښې هغوى خلاصې بياموندونكى دى.

| جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ | بِاللَّهِ | وَأَقْسَمُوا |
|---|---|---|
| په سختو قسمونو خپلو سره | په الله باندې | او قسمونه خورى (منافقان) |

او داخلق په الله ﷻ باندې سخت قسمونه خورى (اوتاته وائى) كه ته دوئ ته څه

| لَا تُقْسِمُوا | قُلْ | لَيَخْرُجُنَّ | لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ |
|---|---|---|---|
| چې مهٔ خورئ قسمونه | ورته اووايه | نو خامخا به اوزى دوى (جهادته) | كه تهٔ حكم اوكړې دوئ ته |

حكم اوكړې نودوئ بهٔ ضرور(جهاد دپاره دكورونونه) اووځى دوئ ته اووايه چې قسمونه مه خورئ

(¹) دا روايت مرسل.

Scanned with Ca

طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝

فرمانبرداري معلومه (مطلوب ده) | بيشکه الله | خبر دې | په هغه کارونو | چې تاسو ئې کوئ |

ستاسو تابعداري معلومه ده | الله ﷻ ستاسو په ټولو کارونو ښه پوهيږي

قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا

ورته اووايه | اطاعت کوئ دالله | او اطاعت کوئ درسول | نو که تاسو مخ اوګرځوئ |

(اې پيغمبره) ورته اووايه چې تاسو دالله ﷻ اود رسول تابعداري کوئ | نو که تاسو

فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا

نو بيشکه دې په رسول باندې | هغه بار | چې پرې کيښودې شوې دې | او دې په تاسو باند | هغه بار

ترې بيا هم مخ واړولوانو (پوهه شئ) چې د رسول ذمه صرف خپلې ذمه دارې

حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ؕ

چې په تاسو کيښودې شوې دې | او که اطاعت اوکړو تاسو دهغه | نو پخپله به سمه لار بيا مومئ |

دی | او ستاسو په ذمه ستاسو ذمه داری دی | او که تاسو دهغه تابعداری اوکړه | نو سمه لار به بيامومئ

وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝

او نشته په رسول ﷺ باندې | مګر | رسونه | ښکاره |

او درسول په ذمه خو صرف په وضاحت سره (حکمونه) رسول دی |

**قوله تعالی:- وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ**

**دمنافق ژبه :-** دمنافقانو حال بيانولې شی چه هغوی به رسول الله ﷺ له راغله نودخپلې ايماندارئی او خير خواهئی خودنه به ئی کولوسره قسمونه خوړلوباندې يقين ورکولو چه مونږ دجهاد دپاره تيارناست يو بلکه بې قراره يوصرف ستاسره حکم کولوانتظاردې ارشاد کيدو سره به کور مال حال بال بچ پريږدو او ميدان جنګ ته به اورسو. الله ﷻ فرمائی دوی ته اووايه چه قسمونه مه خورئی ستاسودتابعدارئی حقيقت خوښکاره دې زبانی جمع خرچ خبرې خو ډيرې دی اوعملی کارصفردې. ستاسودقسمونو حقيقت هم معلوم دې په زړه کښې مو څه دی او په ژبه مو څه دی. چه څومره مو ژبه مؤمنه ده هم دومره مو زړه کافردې. داقسمونه خوصرف دمسلمانانو د همدردئی حاصلولودپاره دی. داقسمونه خودې خلقو ډال جوړکړې دې يوازې تاسوسره نه بلکه د کافرانو په وړاندې هم د هغوی موافقت کوی اود هغوی د امدادهم قسمونه خوری. ولې دی دومره بزدلان چه دهغوی ملګرتياهم خاورې نه شی کولې. د دې جملې يوه معنی داهم کيدې شی چه تاسوله خودمعقول اوخوښ کړې شوی اطاعت طريقه پکارده نه چه قسمونه خوړل اوخان خودل. ستا په وړاندې مسلمانان موجوددی ګورد نه هغوی قسمونه خوری اونه هغوی غټې غټې خبرې جوړوی اودکار په وخت کښې دټولونه وړاندې راوځی فعلی حصه دټولونه زياته اخلی. د الله ﷻ نه د چايوعمل هم پټ نه دې هغه د خپلو بنديګانود يو يو عمل نه خبردې. هر يو ګناهګار او تابعدار هغه ته ښکاره دې د هريوپه باطن باندې هم د هغه نظر دې هم داسې هغوی دی چه څنګه په ظاهره دی که تاسو په ظاهره هرڅه هم اوکړئی ولې هغه په باطن باندې هم خبردې.

**د الله ﷻ اودرسول اطاعت ته ترغيب:-** دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ يعنی دقرآن پاك او احاديثو تابعداری

Scanned with Ca

کوئی که تاسو دې نه مخ واړونی اودا پرېږدئی نوستاسو د دې نقصان گناه زما په نبیﷺ باندې نه ده د هغه په ذمه خود الله ﷻ د پیغام صرف رسول دی اود امانت اداکول دی. په تاسو باندې هغه دی د کوم چه تاسوذمه وارئی یعنی قبلول اوعمل کول وغیره.هدایت صرف د رسول الله ﷺ په تابعدارئی کښې دې ځکه چه د نیغې لارې دعوت ورکونکې هم هغه دې کومه نیغه لارچه د هغه رب تعالی ته رسوی د چا د حکم لاندې چه ټوله زمکه او آسمان دې. د رسول الله ﷺ په ذمه صرف رسول دی د ټولوحساب زمونږ په ذمه دې. لکه چه ارشاد دې﴿فَذَكِّرْ ۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ﴾(۱)ته صرف نصیحت کونکې اووعظ کونکې نې دوی ته صرف نصیحت کوه ته څه په دوی باندې وکیل یا داروغه نه نې.

وهب بن منبه فرمانی شعیاء ﷺ طرفته د الله ﷻ وحی راغله چه ته دبنی اسرائیلو په ګنړه کښې اودریږه زه چه ستاد ژبې نه ویستل غواړم اوبه باسم. هغه اودریدو نود هغوی د ځلې نه دا خطبه الله ﷻ بیانول شروع کړو اې آسمانه واوره اې زمکې چپ اوسیږه الله ﷻ یوشان پوره کول او د یوامر تدبیر کول غواړی کوم چه هغه پوره کونکې دې چه ځنګلونه آباد کړی بیابانونه آبادکړی. صحراګان تك شنه کړی فقیران غنی کړی ګډبانه بادشاهان جوړکړی دجتو نه یوامی نبی جوړولوسره راولیګی چه نه بدې خبرې کوی اونه بداخلاق وی او نه په بازارونوکښې شور اوغوغاکونکې وی دومره مسکین صفت او عاجز به وی چه دهغه د لمن په هواباندې به هغه ډیوه هم مړه نه شی کومې سره خواکې چه هغه تیرشی. که هغه په اوچویانړسوباندې پښې مبارکې کیږدی نوبیابه هم دچاغوږونوته چغاراونه رسی زه به هغه بشیر او نذیرجوړوم لیګم به ئی هغه به دژبې نه پاك وی ړندې سترګې به د هغه د وجه نه بینا شی کانړه غوږونه به د هغه په وجه اوری په غلاف کښې پټ زړونه به د هغه په وجه کولاوشی په هریوښه کار سره به زه هغه ښائسته کړم په هریوخلق کریم باندې به زه هغه پوره کړم سکنیت به د هغه لباس وی نیکی به د هغه طریقه وی تقوی به د هغه ضمیروی حکمت به د هغه خبرې وی صدق اووفابه دهغه طبیعت وی معافی کول او ښکلې والې اونیکی غوښتل به د هغه خصلت وی حق به د هغه شریعت وی عدل به د هغه سیرت وی هدایت به دهغه امام وی اسلام به د هغه ملت وی احمدﷺ به د هغه نوم وی. د ګمراهئی نه پس به زه دهغه په ذریعه هدایت خوروم. دجهالت نه پس به علم پرق وهی ښکته والی نه پس به د هغه په وجه ترقی وی ناپیژندګلوخلق به دهغه په وجه پیژندګلووالا جوړشی کمې به په زیاتوالی بدل شی فقیری به زه دهغه په وجه په مالدارئی بدله کړم. دهغه دذات په وجه به زه جداجداخلق رایوځایٔ کړم.دجداوالی نه پس به مینه وی دتفرقه نه پس به یوموټې والې وی داختلاف نه پس به اتفاق وی مختلف زړونه اوخان له خواهشات به یو شی دالله ﷻ بې شمیره بندیګان به د هلاکت نه بچ شی. د هغه امت به زه د ټولوامتونونه بهترکړم کوم چه به د خلقودګټې د پاره وی د نیکو حکم کونکی او د بدو نه منع کونکی به وی موحد اومخلص مؤمنان به وی د الله ﷻ رسولانو چه څومره څه د الله ﷻ د طرف نه راوړی هغه ټول به منونکی وی د چابه هم انکاری نه وی.

| | | |
|---|---|---|
| الَّذِينَ | وَعَدَ اللَّهُ | |
| دهغه خلقو سره | وعده کړی ده الله | |
| او په تاسو کښې | | |

---

(۱) ۸۸/الغاشیة:۲۱. الخ.

اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ

چې ایمان راوړی | ستاسو نه | او عملونه اوکړی | نیك | چې خامخا به خلیفګان جوړوی هغوئ لره

چې چا ایمان راوړې دې | او دنیکئ کارونه کوی | نو الله ﷻ ورسره وعده کړې ده | چې د

فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ص

په زمکه کښې | لکه څنګه چې ئې | خلیفګان جوړ کړی وو | هغه خلق | چې مخکښې دهغوئ نه وو

زمکې سلطنت به ورته ورکړی | لکه چې ددوئ نه وړاندې خلقو ته ئې ورکړې وو

وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى

او خامخا به مضبوط کړی | دپاره دهغوئ | دین دهغوئ | هغه دین | چې خوښ کړې دې الله |

او د دوی دپاره به هغه دین مضبوط کړی | کوم چې ئې دوئ ته خوښ کړې دې

لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ط

دپاره دهغوئ | او خامخا به بدل کړی حالت دهغوئ | روستو دیرې دحالت دهغوئ نه | په امن سره |

او یرې په بدل کښې به ورته امن ورکړی | ( په دې شرط ) چې

يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْئًا ط وَمَنْ كَفَرَ

پس هغوئ دبندګی کوی زما | نهٔ دجوړوی شریك | زما سره | هیڅ څیز | او چاچې | کفر اوکړو |

زما عبادت کوی | هیڅوک را رسره نه شریکوی | او چا چې

بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝

روستو ددې نه | نو دا خلق چې دی | هم دوئ فاسقان دی |

ددې نه پس هم کفر او کړو | نو هم دغه خلق نافرمان دی |

قوله تعالی:- وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ

**درسول کریم ﷺ دور، اهل ایمان سره دَ حکومت او خلافت وعده:**-الله ﷻ خپل رسول ﷺ سره وعده فرمائی چه ستاامت به هغه د زمکې مالك جوړکړی دخلقو سرداران به ئی کړی ملك به د هغوی د وجه نه آباد وی دالله ﷻ بندیګان به دهغوی نه خوشحاله وی.نن دوی دخلقو نه تنګ دی صبابه په امن اوتسلئی سره وی.حکومت به هم د دوی وی دسلطنت واګې به ددوی په لاس کښې وی اوالحمدلله هم داسې اوشو.مکه خیبر بحرین جزیره عرب او یمن خوپخپله د حضرت محمد مصطفی ﷺ په موجودګئی کښې فتح شو دهجرمجوسیانو جزیه ورکړه اوماتحتی قبوله کړه اود شام د بعضې حصو هم داحال شو. شاه روم هرقل تحفې اوتحائف راروان کړل. د مصر بادشاه هم په خدمت اقدس کښې تحفې راولیګلې. د اسکندریه بادشاه مقوقس اود عمان بادشاهانو هم دا اوکړه اودغه شان د خپلې تابعدارئی ثبوت ئی ورکړو.دحبشه بادشاه اصحمه ؓ خو مسلمان شوې وو اودهغه نه پس چه د حبشه کوم والی شو هغه هم په سرکار نبوت کښې د عقیدت پیرځونې او تحفې راولیګلې.

**دابو بکرصدیق دور خلافت:**-بیا چه کله الله ﷻ خپل محترم اوعزتمند رسول ﷺ په خپله میلمستیا کښې راوغوښتلونودهغوی خلافت صدیق اکبر ؓ سنبال کړو. د جزیره عرب حکومت ئی مضبوط او مستقل

Scanned with Ca

کړودې سره ئې يوتيز لښکر سيف الله خالدبن وليد ؓ په مشرئى کښې د فارس ښارونوته اوليګلو چا چه هلته دفتوحاتو سلسله شروع کړه د کفر وني ئې پرې کړې او اسلامي بوزغلې ئې هرطرف ته اوکرلو. دحضرت ابوعبيده بن جراح ؓ وغيره امرا ماتحت د شام ملکونوطرف ته د اسلامي لښکر ځوانان روان کړل نوهغوى هم دلته محمدىﷺ جهنډا اوچته کړه اوصليبى نښې ئې پرمخې راګذارکړې.د مصر طرف ته ئې اسلامي لښکردحضرت عمرو بن عاصؓ په مشرئى کښې روان کړو.بصرى دمشق حران غيره فتح کولونه پس هغوى هم د دنيانه رحلت اوکړو.

**د عمر فاروق دور خلافت**:-دالله ﷻ په الهام باندې حضرت عمر ؓ په شان فاروق غوندې زبردست طاقتور په لاسونوکښې داسلامي سلطنت واګې راغلې.رښتياخوهم دادى چه دآسمان نه لاندې ديو نبي نه پس هم د داسې خليفه ګانو دور نه دې راغلى.دهغوى طاقت طبيعت د هغوى نيك سيرت دهغوى د انصاف کمال دهغوى دالله ﷻ نه ويره د دې مثال په دنياکښې د هغوى نه پس لټول صرف يو بې فائدې اوبالکل لاحاصل کوشش دې.د شام ټول ملك د مصر پوره علاقه دفارس اکثر حصه دهغوى دخلافت په زمانه کښې فتح شوه. دکسرى د سلطنت ټکړې والوتې پخپله کسرى ته د مخ پټولو ځاى ملاو نه شو په پوره ذلت اوسپکاوى سره ئې منډې وهلې قيصر ئې فناکړو نوم ئې ورله ختم کړو د شام د سلطنت نه ئې لاس اووينځلواوقسطنطنيه ته لاړو مخ ئې پټ کړو.ددې حکومتونو په صدو جمع کړې شوې دولت بې شميره خزانې دې دالله ﷻ بنديګانودالله ﷻ نيکو بنديګانو مسکين خصلته خلقو باندې خرچ کړې اودالله ﷻ هغه وعدې پوره شوې کومې چه هغه دخپل حبيب اکرم ﷺ په ژبه مبارکه کړې وې. صلوات الله وسلامه عليه.

**د عثمان غني رضى الله عنه دور خلافت**:-بيادحضرت عثمان بن عفان ؓ د خلافت دور راغلو اود مشرق اومغرب ترآخره پورې دالله ﷻ دين خورېږى. دالله ﷻ لښکر يوطرف ته د اقصى مشرق پورې اوبل طرف ته د مغرب ترآخره پورې رسى نو ساه اخلى.دمجاهدينو اوبه خوړلې شوې تورې دالله ﷻتوحيدد دنيا ګوټ ګوټ اوحصې ته رسوى. اندلس قبرص قيروان اوسبته پورې ترچين پورې د هغوى په زمانه کښې فتح شوې کسرى قتل شو د هغه ملك پريخودل اود هغه نوم اونښه پورې اوکنستلې شو او لړه کړې شو. اودزرګونوکالوپورې لګيدلې آتش کدې مړې کړې شوې.دهرې يوې اوچت غونډئى نه د الله اکبر آوازونه راغله.بل طرف ته مدائن عراق خراسان اهواز ټول فتح شوترکوسره جنګك عظيم اوشو آخر د هغوى لوئ بادشاه خاقان خاورې شو اوذليل اوخوارشو اود زمکې مشرقي اومغربې ګوټونونه خپل اخراج په سلطنت عثمانى کښې راوړسولې شو. حق خودادې چه دمجاهدينوپډې جذبوکښې روح اچونکې څيز دحضرت عثمان ؓ د قرآن پاك د تلاوت برکت وو. د هغوى قرآن پاك سره څه داسې شغل شو کوم چه د بيان نه بهردې. د قرآن پاك راجمع کول د دې حفظ کول د دې خورول اود دې په حفاظت کښې چه کوم اوچت خدمت خليفه ثالث خودلې دې د هغې يقيناً چه مثال نشته. د هغوى زمانې ته اوګوره اود الله ﷻ د رسول پاك ﷺ هغه پيشن ګويوته اوګوره چه حضورﷺ فرمائيلې وو زماد پاره زمکه راغونډه کړې شوه تردې چه ما مشرق اومغرب اوليدلو. ډيرزر به زما د امت بادشاهى هلته اورسى د کوم ځائ پورې چه اوس ما اوليدله. (۱)مسلمانانود الله ﷻ دې وعدې اود پيغمبردې پيشن ګوئې ته اوګورئى بياد تاريخ پاڼې واړونى او خپل تيرشوى عظمت اوشان ته اوګورئى نظرواچوئى چه ترننه پورې د اسلام جهنډا د الله ﷻ په برکت سره اوچته ده اودمسلمانانو مجاهدينو عزت مندو فتح شوې زمکوکښې دبادشاهانوپه شان سره ګرځئى الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ رښتونې دې. مسلمانانو افسوس اوصدافسوس په هغوى باندې چه د قرآن اوحديث د دائرې نه بهردى ارمان او سل ځل ارمان چه خپله د

(۱) صحيح مسلم کتاب الفتن باب هلاك هذه الامة بعضهم ببعض:۲۸۸۹.

Scanned with Ca

پلارنیکه ذخیره غیرو ته حواله کړي. دخپل پلار نیکه په وینوباندي اخستي شوي خیرپخپلو نالائق توب او بې دینوسره نوروله ورکړي او په آرام سره کیني سملي. الله ﷻ دي مونږ له کامل ایمان رانصیب کړي الله ﷻ دي مونږ له ربنتوني خواهش راکړي الله ﷻ دي مونږ اسلامي سپاهیان جوړکړي الله ﷻ دي مونږ ته د خپل لښکر توفیق راکړي او الله ﷻ دي مونږ خپل لښکرجوړکړي آمین ثم آمین)

**دولس حق خلفاء:**-حضورﷺ فرمائی دخلقوکاربه په ښیګړه سره روان وی تردي چه په هغوی کښي به دولس خلیفه ګان وی. بیاحضورﷺ یوه جمله په مزه شان اوفرمانیله کوم چه دحدیث راوی حضرت جابربن سمره ﷺ واونه ریدي شوه نوهغه دخپل پلارنه تپوس اوکړو چه حضورﷺ څه اوفرمانیل؟ هغه بیان کړوچه دائی اوفرمانیل دا ټول په ټول به قریشی وی([1]) حضورﷺ داخبره په هغه ماښام باندي بیان فرمانیلي وه په کوم ورځ چه ماعزبن مالك ﷺ رجم کړي شوي وو([2])نومعلومه شوه چه ددي دولسو خلیفه ګانو کیدل ضروری دی خوایادساتئی چه دا هغه خلیفه ګان نه دی کوم چه شیعه ګانو منلی دی څکه چه دشیعه ګانو په امامانوکښي خوډیر هغه هم دی چاته چه په ټول عمرکښي هم دخلافت هیڅ حصه هم نه وه ملاوشوي اودا به دولس خلیفه ګان وی ټول په ټول به قریش وی په حکم کښي به انصاف کونکی وی دهغوی بشارت په وړاندینوکتابونوکښي هم دي اودا هم شرط نه دي چه دا ټول په ټول به یو بل پسي وی خود دوی کیدل یقینی دی که یوبل پسي څه وی که په جدا جدا زمانوکښي څه وی. څکه چه څلورخلیفه ګان خو یوبل پسي شو اول ابوبکرﷺ بیا عمرﷺ بیا عثمانﷺ اوبیا علیﷺ.

**امام مهدي:**-ددي نه پس بیا سلسله ماته شوه اوممکن دی چه وړاندي تلوسره هم وی. د هغوی د صحیح زمانوعلم هم الله ﷻ ته دي اودومره خبره یقینی ده چه حضرت امام مهدی به هم د دي دولسو نه وی د هغه نوم د حضورﷺ په نوم سره د هغه کنیت به دحضورﷺ په کنیت باندي وی ټوله زمکه به د عدل اوانصاف نه ډکه کړی لکه څنګه چه به هغه د ظلم اوبې انصافئی نه ډکه شوي وی. د حضورﷺ ارشاد دي زمانه پس به خلافت دیرش کاله وی بیابه چیچونکي حکومت شی. ([3])

**درسول کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو ترقی یافته دور:**-ابوالعالیه د دي آیت په تفسیر کښي فرمائی حضورﷺ اوصحابه کرام رضوان الله اجمعین ترلسو کالو پوري په مکه کښي پاتي شود الله ﷻ د توحید اودهغه د عبادت طرف ته ئی دنیاله دعوت ورکولو خودا زمانه پټه په ویره او په بې اطمینانئ سره وه د جهاد حکم نه وو راغلي مسلمانان ډیر زیات کمزوري وو دي نه پس د هجرت حکم اوشو. مدیني ته اورسیدل نو د جهاد حکم اوشو دښمنانود څلورو واړو طرف نه راګیرکړل او مسلمانان ډیر ویریدلي وو. یووخت به هم د خطري نه خالی نه وو سحر اوماښام به صحابه کرام رضوان الله اجمعین په وسله پوره وو. یوصحابی ﷺ یوځل حضورﷺ ته عرض اوکړو یارسول الله ﷺ آیا مونږ به هم داسي ویریدونکي اوسیږو؟ یارسول الله ﷺ زمونږ د ژوندیوه ګهړئی به هم په آرام سره نه تیریږی؟ یارسول الله ﷺ بغیرد وسلي نه به هم مونږ ته چرته د آرام د ساه اخستلو موقع ملاوشي؟ حضورﷺ په پوره تسلئی سره اوفرمائیل لږي ورځي نور هم صبراوکړئی بیابه دومره امن شی چه په پوره مجلس کښي په ډك دربارکښي به ډډه لګولي شوي په آرام سره ناست ئی یوسره څه چه هیڅ چا سره به هم وسله نه وی څکه چه پوره امن امان اوتسلی به وی. هم دغه وخت کښي دا آیت نازل شو. بیا د الله ﷻ نبی ﷺ په جزیره

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الاحکام باب الاستخلاف:۷۲۲۲، صحیح مسلم:۱۸۲۱،ابوداؤد:٤۲۷۹، ترمذی: ۲۲۲۳، احمد:٥ /٨٦، ابن حبان:٦٦٦٦، دلائل النبوة:٦/٥١٩.(مسلم).

[2]) صحیح مسلم حواله سابق:۱۸۲۲.

[3]) ابوداؤد کتاب السنة باب فی الخلفاء:٤٦٤٦وسنده حسن، ترمذی:۲۲۲٦، احمد:٥/۲۲۰،

Scanned with Ca

د مسلمانانو زړونه د ويرې نه خالي شو اوهروخت وسلې ګرځول ضرور نه وو. بيا هم دغه شان امن او راحت زمانه د حضورﷺ د زمانې نه پس هم د دريو خلافتونوپورې يعنې ابوبکرؓ عمرؓ اوعثمانؓ د زمانې پورې وه. بيامسلمانان په دې جګړو کښې اخته شو کومې چه اوشوې بياويريدونکی شو او څوکيدار پهره دار ئې مقرر کړل. خپل حالت ئې بدل کړو نو بدل شو. دبعضې سلفونه نقل دی هغوی دحضرت ابوبکرؓ اوعمرؓ د خلافت د حقانيت باره کښې دا آيت پيش کړې دې. براء بن عازبؓ فرمائی چه کوم وخت دا آيت نازل شو هغه وخت مونږ ښه په ويره او اضطراب په حالت کښې وو. لکه چه ارشاددې ﴿وَاذْكُرُوٓا إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ (1) يعنې هغه وخت هم وو چه تاسو بې حده کمزورې اوډيرکم وئی په قدم قدم په وخت په وخت به په ويره کښې وئی. الله ﷻ ستاسو تعدادزيات کړو تاسو ته ئې طاقت درنصيب کړو او امن ئې درکړو. بيابيان دې چه څنګه دوی نه واړاندينی خلق الله ﷻ د زمکې مالکان کړې وو لکه کليم الله حضرت موسیٰ عليه السلام چه خپل قوم ته فرمائيلې وو ﴿عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ﴾ (2) ډيرممکن دی بلکه ډير نيزدې دی چه الله ﷻ به ستاسو دښمنان هلاك کړی اوتاسوبه د هغوی په ځای کينوی. بل آيت کښې دی﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ﴾ (3)يعنې مونږ په هغوی باندې احسان کول غوښتل چه په ټوله زمکه کښې د ټولونه ضعيف اوبې طاقته وو. بيافرمائی چه ددوی دين کوم چه دالله ﷻ خوښ دين دې کلك کړی اوهغوی ته به قوت اوطاقت ورکړی. حضرت عدی بن حاتمؓ چه کله د وفدپه توګه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضرشو نوحضورﷺ د هغوی ته اوفرمائيل تاسو حيره ليدلې ده هغه وئيل زه خو حيره نه پيژنم نوم مې اوريدلې دې. حضورﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه دهغه ذات قسم د چا په قبضه کښې چه زماځان دې الله ﷻ به زما دا دين کامل خور کړی تر دې چه امن اوامان به شی چه د حيرې نه به يوه ښځه په ساندره سوره شوې يوازې راوځی اوهغه به بيت الله ﷻ ته راورسی طواف به اوکړی او واپس به شی نه به ويريږی اونه به هغه د چا په امان کښې وی. يقين اوکړئی چه د کسری بن هرمز بادشاه خزانې به فتح شی. حضرت عدیؓ په حيرانتياسره تپوس اوکړو چه دايران دبادشاه هرمز خزانې به دمسلمانانوپه فتوحاتوکښې راځی؟حضورﷺ اوفرمائيل اوهم دهغه کسری بن هرمز.واورئی دومره مال به زيات شی چه څوك قبلونکې به نه ملاويږی. حضرت عدیؓ فرمائی چه اوس تاسو اوګورئی چه هم د حيرې نه ښځې بغيرد چاد پناه نه ځی راځی. دا پيشن ګوئی پوره کيدونکې هم مونږ ليدلې ده. بله پيشن ګوئی خو زما د سترګو په وړاندې پوره شوه. د کسری خزانې فتح کولوکښې زه پخپله موجود ووم اودريمه پيشن ګوئی به هم يقينا پوره کيږی ځکه چه هغه هم د رسول اللهﷺ ارشاد دې. (4) مسند احمدکښې د حضورﷺ ارشاد دې چه د دې امت د ترقئی او زياتوالی په امداداود دين د خورونې زيرې ورکړه. اوچه کوم سړې د آخرت عمل د دنياد فائدې د پاره اوکړی هغه دې پوهه شی چه په آخرت کښې به هغه ته هيڅ حصه نه ملاويږی.(5)

(1) ۸/الانفال:۲٦.
(2) ۷/الاعراف:۱۲۹.
(3) ۲۸/القصص:۵.
(4) احمد:۲۵۷/٤ دلائل النبوة:۳٤۳/۵ دَ دې اصل صحيح بخاری کتاب المناقب باب علامات النبوة فی الاسلام:۳۵۹۵، ابن حبان:٤۰۵.
(5) احمد:۱۳٤/۵ ح۲۱۲۲۳وسنده حسن، حاکم:۳۱۱/٤، ابن حبان:٤۰۵.

Scanned with Ca

**حقوق الله او حقوق العباد:**-بیافرمائی چه هغوی به هم زماعبادت کوی اوماسره په څوك شريك كوى نه.
مسنداحمدکښې دی چه حضرت معاذ بن جبل﷛ فرمائی چه زه په يوخربانديې رسول الله ﷺ سره شاته ناست ووم زما اود حضور ﷺ په مينځ کښې د کتې هغه لرګې وو حضور ﷺ ماته زما په نوم سره آواز راکړو ما لبيك او سعديك اووئيل بيا لږ شان تګ نه پس ئې بيا هغه شان اوفرمائيل ما هم هغه شان جواب ورکړو حضور ﷺ اوفرمائيل معلومه ده چه د الله ﷻ حق په بنديګانو باندې څه دې؟ ماوئيل الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ ته ښه معلومه ده.حضور ﷺ اوفرمائيل په بنديګانو باندې دالله ﷻ حق دادې چه هم د هغه عبادت اوکړی اوهغه سره څوك شريك نه کړی. بيالږ شان تلونه پس ئې ماته آواز اوکړو او ما جواب ورکړو وئې فرمائيل مغلومه ده چه کله بنديګان د الله ﷻ حق اداکړی نو په الله ﷻ باندې د بنديګانو څه حق دې. ماجواب ورکړو چه هم الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ته ښه علم دې. وئې فرمائيل دا چه هغوی په عذاب نه کړی([1]) بيائی اوفرمائيل دې نه پس چه څوك منکر شی هغه فاسق دې. يعنی دې نه پس هم چه څوك زما تابعداری پريږدی هغه زما حکم اونه منلونودا ګناه ډيره سخته او ډيره لويه ده.
**په قدر د ايمان د الله ﷻ مدد راځی:**-د الله ﷻ شان ته ګوره چه په کومه زمانه کښې څومره زور د اسلام وو هم دومره دالله ﷻ امدادکيدو.صحابه کرام رضوان الله اجمعين په خپل ايمان کښې وړاندې وو نو فتوحات هم دټولونه وړاندې اووتل.څنګه څنګه چه ايمان کمزورې کيدو د دنيا شان اوشوکت بادشاهی هم هغه شان پريوتله. بخاری اومسلم کښې دی زما په امت کښې به يوه ډله هميشه په حق سره وی او هغه به غالب وی.د هغوی مخالف به د هغوی هيڅ نه شی کولې اوترقيامته پورې به وی. بل روايت کښې دی تردې چه د الله ﷻ وعده راشی([2])يوبل روايت کښې دی‌تردې چه هم دغه ډله به په آخره کښې دجال سره جهاد کوی. بل حديث کښې دی دحضرت عيسى﷣ دراکوزيدوپورې به دا خلق په کافرانوباندې غالب وی([3]) دا ټول روايتونه صحيح دی اود ټولو هم يومطلب دې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | وَاَقِيمُوا الصَّلٰوةَ |
| | | | | او قائموی مونځ |
| | | | | او(ای مسلمانانو) دمونځ پابندی کوئ |
| وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ | | وَاَطِيعُوا الرَّسُوْلَ | لَعَلَّكُمْ | تُرْحَمُوْنَ۝ |
| او ورکوی زکات | | او حکم منئ درسول | دپاره ددې | اچې په تاسو رحم اوکړې شی |
| اوزکوة ورکوئ | | اودرسول ﷺ حکم منئ | اچې مهربانی دربانديې اوکړې شی | |
| لَا تَحْسَبَنَّ | الَّذِيْنَ | كَفَرُوْا | مُعْجِزِيْنَ | فِي الْاَرْضِ ۚ |
| مه کوه ته ګمان | په هغه خلقو | چې کفر کوی | چې هغوئ ګنی عاجزه کونکی دی الله لره | په زمکه کښې |
| دا خيال مه کوئ چې کافران به مونږ په زمکه کښې عاجزه کړی | | | | او |
| وَمَاْوٰىهُمُ | النَّارُ ۖ | وَلَبِئْسَ | الْمَصِيْرُ۝ | |
| او ځائې داستوګنې دهغوئ | وور دې | او خامخا بد ځائې دې | دروتلو (دغه دوزخ) | |
| ددوئ د استوګنې ځائې دوزخ دې | | اودا ډير خراب ځائې دې | | |

---

[1] صحیح بخاری کتاب اللباس باب ارداف الرجل خلفه الرجل:٥٩٦٧، صحیح مسلم:٣٠، احمد:٢٤٢/٥، ابن حبان:٣٦٢.
[2] صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿انما قولنالشیئ إذاأردناه﴾:٧٤٥٩، صحیح مسلم:١٩٢٠،ابوداود:٢٤٨٤، ترمذی:٢١٧٧.
[3] مسندابی یعلی:٢٠٧٨.

Scanned with Ca

قوله تعالى:- وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

**دَ خيرِ دَ اعمالو ترغيب:**-الله ﷻ خپلو ايماندارو بنديګانوته صرف دخپل عبادت حکم ورکوی چه هم د هغه د پاره مونځونه کوئی اودهغه بنديګانوسره احسان اوښه سلوك کوئی.دضعيفانو مسکينانو فقيرانو خيال ساتنه کوئی.دمال نه دالله ﷻحق يعنی زکوة اوباسئی.په هرکارکښې دالله ﷻ د رسولﷺ تابعداری کوئی.دکوم امر چه تاسو ته حکم کوی هغه په ځایٔ راوړئی اود کوم نه چه مو منع کوی هغې نه منع شئی.يقين اوکړئی چه دالله ﷻ درحمت حاصلولوهم دغه طريقه ده.يوبل آيت کښې دی ﴿اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ۝﴾ ([1]) هم دغه خلق دی په چا چه د الله ﷻ رحمت خامخانازليږی اې نبی! دا ګمان مه کوه چه ستاتکذيب کونکی اوستا نه منونکی به په مونږ باندې غالب راشی يابه اخوا ديخوااوتختی او زمونږ دبې حسابه عذابونونه به اوتختی.مونږ خود هغوی اصلی ځایٔ په دوزخ کښې مقررکړې دې چه ډيرخراب ځایٔ دې د اوسيدو په اعتبارسره هم او د واپسئی په اعتبارسره هم.

يَٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ

اے هغه کسانو چی ايمان موراوړی دې | خامخا داجازت غواړی ستاسو نه | هغه کسان |

ائې مسلمانانو ! ستاسو(خادمان) مريانوله اوهغې ماشومانو له چې د عقل حد ته رسيدلی نه دی

مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ

چی مالکان شوی دی دهغویٔ| ښی لاسونه ستاسو |او هغه کسان| چی نهٔ دی رسيدلی | حد دعقل ته

پکار دی | چې په دې درې وختونو کښې ستاسونه (کورونوته د درتلو) اجازت اوغواړی (يو)

مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ؕ مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ

ستاسو نه | درې ځله | مخکښې دمانځه | دصبانه |او په هغه وخت کښی |

دسحر دمونځ نه وړاندې |او (بل) څه وخت چې تاسو دغرمې خپلې جامې اوباسئ

تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ؕ ۛ

چی ږدیٔ تاسو | جامې خپلې | دغرمې | او روستو | دمانځه دماسختن نه |

او(بل) د ماسخوتن د مونځ نه روستو |دا ددرې وختونه ستاسو دپردې وختونه دی

ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ؕ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ

درې دپردې وختونه دی |ستاسو دپاره | نشته په تاسو باندې| اونهٔ په هغویٔ باندې| څه ګناه |

ددې در يو وختونو نه سوا (ددویٔ داجازت نه بغير تګ راتګ کښې ) نه په تاسو څه ګناه شته

بَعْدَهُنَّ ؕ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ

روستو ددې وختونو نه | بار بار تلونکی راتلونکی دی | په تاسو باندې | خينی له تاسو نه |

اونه په دویٔ چې (کار دپاره تاسو) يوبل له ځئ راځئ ..........

([1]) ۹/التوبة:۷۱.

Scanned with Ca

عَلَى بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

په ځينو باندې| دارنګې | بيانوی الله | دپاره ستاسو | ايتونه (داحکامو) | او الله | ښه عالم دې |

دغه شان الله ﷻ تاسو ته خپل حکمونه ښکاره اوروی | او الله ﷻ ډير ښهٔ پوهه

حَكِيمٌ ﴿٥٨﴾ وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ

او دحکمت خاوند دې | او کله چې | اورسي هلکان | ستاسرنه | حد دعقل ته |

او د صاحب دحکمت دې |اوهر کله چې ستاسو هلکان بالغان شي انو پکار دی چې هغوئ هم

فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ

نو په کاردی اجازت غواړی دراتلو |لکه څنګه چې |اجازت غواړی |هغه بالغان|چې مخکښې ددوئ نه وؤ

اجازت اوغواړی |لکه چې وړاندې (ذکر شوو) خلقو ته داجازت غوښتلو حکم شوې دې

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾

دراتګې | بيانوی الله | تاسو ته ايتونه خپل | او الله | ښه پوهه دې | دحکمت خاوند دې |

دغه شان الله تاسو دپاره خپل حکمونه په وضاحت سره بيانوی |او الله په هرڅه پوهه صاحب د حکمت

وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ

او ناستې | دښځو نه | هغه | چې اميد نهٔ لری | دنکاح کولو | پس نشته | په هغوئ باندې

دې |او زړې بوډئ ګانې ښځې چې د نکاح اميد ئې پاتې نه وی په هغوئ هيڅ ګناه نشته که

جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ

څه ګناه | چې کيږدی | جامې خپلې (يعنی څادرې لوپټې) |په دې حال کښې چې ښکاره کونکې نهٔ وی

خپلې زياتې جامې (لکه پړونئ او لوپټهٔ) کوزه کړی |خوداسې نه چې خپل ډول سنګار ښائی

بِزِينَةٍ ۖ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ ۗ وَاللَّهُ

دښائيست خپل | او چې ځان اوساتی (دڅادر کيښودلونه هم) | دا بهتره ده | دپاره دهغوئ | او الله |

اوکه ( ددې نه هم) احتياط اوکړی |نو دا د هغوی دپاره غوره ده| اوالله هر څه اوری په هرڅه

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾

اوريدونکې | او ښه پوهه دې |

باندې پوهه دې |

**قوله تعالى:-** يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ

**بغيراجازت کورونوته تلل منع دی:-** پدې آيت کښې نيزدې خپلوانوته هم حکم کولې شی چه هغوی دې هم اجازت اخلی نوراځی دې.ددې نه وړاندې چه ددې سورت په شروع کښې کوم حکم ووهغه دپردوخلقو د پاره وو.نوفرمائی چه په دريووختونوکښې غلامان بلکه نابالغ هلکانوله هم اجازت اخستل پکار دی. د سحردمانځه نه وړاندې خکه چه دغه د اوده کيدووخت وی اودغرمې کله چه انسان دڅه وخت دپاره د آرام حاصلولود پاره په عام توګه په کورکښې پورته کپړې اوباسی سملی اودماسخوتن دمانځه نه پس ځکه چه دغه هم دبال بچ سره داوده کيدووخت وی.نوپه دې دريو وختونو کښې نه ده معلومه چه انسان

Scanned with Ca

پخپل کور کښې په کوم حالت کښې وی؟ددې دپاره دکوروینځې غلامان واړه هلکان دې هم بغیر خبر کولوپدې وختونوکښې چپ چاپ نه ننوځی. اوددې خاص وختونونه علاوه دهغوی له دراتلواجازت غوښتلوضرورت نشته ځکه چه ددوی تګ راتګ خو ضروری دی اوباربارتلونکی راتلونکی دی دهروخت اجازت غوښتل به ستاسودپاره اونورد هغوی د پاره هم د زحمت ځیز شی. یوحدیث کښې دی پشوپلیته نه ده هغه خوستاسوپه کورونوکښې تاسوسره ګرځی راګرځی(۱)حکم خوهم دغه دې ولې عمل په دې ډیرکم دې.

**دا درې ایتونه منسوخ نه دی خوخلقو پرې عمل پریخود ې دې:**-ابن عباس رضی الله عنه فرمائی په دریوآیاتونو باندې په عام توګه خلقو عمل پریخې دې. یوخوهم دغه آیت اوبل دسورت نساء آیت ﴿وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا﴾ (۲) اویودسورت حجرات آیت ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾(۳)شیطان په خلقوراخورشواوهغوی په دې آیاتونو باندې دعمل کولونه غافل کړل لکه چه پدې هډوایمان نه وی.ماخوخپلې دې وینځې ته هم وئیلی دی چه پدې دریووختونوکښې بې اجازته هیڅ کله مه راځه(۴) په اولنی آیت کښې خوپدې دریوارووختونوکښې دوینځې غلامانو اونابالغ ماشومانودپاره هم د اجازت اخستو حکم دې. په دویم آیت کښې د وراثت دتقسیم په وخت کښې چه کوم خپلوان یتیمان اومسکینان راشی هغوی ته دالله ﷻ په نوم څه ورکول اوهغوی سره په نرمئ سره د خبروکولوحکم دې. او په دریم آیت کښې په حسب نسب باندې فخر نه کولوبلکه د عزت قابل د الله ﷻ نه د ویریدلوذکر دې.

د حضرت شعبی نه چا تپوس اوکړوچه آیادا آیت منسوخ شوې دې؟ هغوی اوفرمائیل هیڅ کله نه. هغه وئیل نوبیاخلقو په دې باندې عمل ولې پریخې دې؟ وئې فرمائیل دالله ﷻ نه توفیق غوښتل پکاردی (۵) ابن عباس رضی الله عنه فرمائی په دې آیت د عمل پریخودولویه وجه مالداری اوفراخی ده. اول خو به خلقو سره دومره هم نه ووچه په خپلو دروازوباندې پردې زوړند کړې وې یاچرته کولاوکوردجداجدا کمرو وې نو اکثر به وینځې غلامان په بې خبرې کښې راتلل اوښځه خاوندبه مشغول وو نوراتلونکې به هم شرمیدلواوپه کوروالا باندې به هم سخت لګیدل.اوس چه الله ﷻ مسلمانانوته وسعت ورکړو جدا کمرې جوړې شوې باقاعده دروازې اولګیدلې اوپه دروازو کښې پردې اولګیدلې نومحفوظ شو اود الله ﷻ د حکم مصلحت پوره شو په دې وجه د اجازت پابندی اوچته شوه اوخلقو په دې کښې سستی اوغفلت شروع کړو. (۶)

**دې درې و وختونو کښې د اجازت غوښتلو حکمت:**-سدی فرمائی چه هم دادرې وختونه داسې دی چه انسان لږ شان اوزګاروی په کور کښې وی الله ﷻ ته معلومه ده چه په کوم حالت کښې دې د دې د پاره نی وینځې غلامان هم د اجازت اخستلو پابندکړل ځکه چه په دغه وخت کښې عموماً خلق خپلو کور ودانو سره ملاویږی دې دپاره چه غسل وغیره اوکړی اوپه آرام دکورنه راوځی اوپه مونځونو کښې شامل شی.دا هم یوروایت دې چه یوانصاری رضی الله عنه د حضور ﷺ د پاره څه خوراك پوخ کړو خلق بغیر د

---

(۱) ابوداؤد كتاب الطهارة باب سؤر المرة:٧٥-٧٦وسنده صحيح، ترمذی:٩٢، نسائی:٦٨،ابن ماجة:٣٦٧،احمد:٥/٣٠٢، ابن حبان:١٢٩٩، حاكم:١/١٦٠.

(۲) ٤/النساء:٨.

(۳) ٤٩/الحجرات:١٣.الخ.

(۴) ابوداؤد كتاب الادب باب فی الاستئذان فی العورات الثلاث:٥١٩١.

(۵) الطبری:١٩/٢١٣.

(۶) ابوداؤد كتاب الادب باب فی الاستئذان فی العورات الثلاث:٥١٩٢وهوحسن.

Scanned with Ca

اجازت نه دهغه کورته لاړل.حضرت اسماء اوفرمائيل يارسول الله ﷺ داخوډيره خرابه خبره ده چه غلام بې اجازته کورته راشی ممکن دی چه ښځه خاوند هم په یوه کپړا کښې وی نوداآیت نازل شو (١) د دې آیت په نه منسوخ کیدو باندې د دې آیت آخری الفاظ هم دلالت کوی چه دغه شان الله ﷻ خپل آیاتونه بیانوی او الله ﷻ علیم اوحکیم دې.

**نابالغ په دريو وختونو کښې او بالغ به هر وخت اجازت غواړي:** -اوچه کله بچې بالغ کیدو ته اورسی نوبیا دوی له ددې دریواړو وختونونه علاوه هم په نوروووختونوکښې اجازت اخستل پکاردی.دوړوهلکانو کور کښې مور پلارله د راتلوپه وخت کښې دې دریواړو وختونوکښې چه پورته تیرشو اجازت غوښتل ضروری دی.ولې دبالغ کیدونه پس خو هروخت خبردارې کولوسره راتلل پکاردی لکه چه څنګه نور لوئ خلق اجازت اخلی راځی که خپل وی که پره دی.

**دبوډئی ګانو دپاره حکم:** -کومې بوډې ګانې ښځې چه کله دې عمرته اورسی چه نه دهغوی دسړی خواهش وی نه د نکاح طمع حیض ئې بندشی عمرئی تیر شي نو په هغوی باندې دپردې هغه پابندی نشته کومه چه په عامو ښځو باندې وی.ابن عباس ؓ فرمائی آیت ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُو۟لِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (٢) نه دا آیت مستثنی دې(٣)دابن مسعود ؓ نه روایت دې چه داسې ښځوته اجازت دې چه هغوی برقه او څادرکوزکړی صرف په لوپټه اوقمیص پرتوګ کښې اوسی(٤) دهغوی قراءت هم (ان يضعن من ثيابهن)دې دې نه مراد د لوپټې د پاسه بل څادردې. نوچه کله بوډې ګانوښځو پیړ څادریالوپټه اچولې وی نوهغوی له ددې د پاسه بل څادر اچول ضروری نه دی. خودې نه هم مقصدد زینت ښکاره کول نه دی. حضرت عائشه صديقه k نه چه کله ښځوددې قسم سوالونه کول نوهغوی وئیل چه بیشکه ستاسودپاره بناؤ سنګارکول حلال اوطيب دی خودپردوسړو د سترګو یخولودپاره نه. د حضرت حذيفه بن يمان ؓ بی بی چه کله بالکل بوډئی او زړه شوه نوهغې د خپل غلام د لاسه په خپل سر باندې نکریزې اولګولې کله چه د هغې نه د دې باره کښې سوال اوکړې شو نوونئی فرمائیل چه د هغه بوډې ګانوښځو نه یم د چاچه خواهش پاتې نه شو. آخرکښې اوفرمائیل چه څادر اخستل د داسې بوډې ګانوښځود پاره جائزدې خوغوره هم دادی چه په څادر اوبرقوکښې وی الله تعالی اوریدونکې او پیژندونکې دې.

| | | | |
|---|---|---|---|
| لَيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ | حَرَجٌ | وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ | |
| نشته په ړوند باندې | څه ګناه | اونۀ په ګوډ باندې | |
| نه په ړوند سړی څه ملامتیا شته | | اونه په ګډ سړی څه ملامته شته | |
| حَرَجٌ | وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ | حَرَجٌ | وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ |
| څه ګناه | اونۀ په مریض باندې | څه ګناه | اونۀ په ځانونو ستاسو باند |
| او نه په ناروغه څه ګناه شته | | اونه پخپله په تاسو څه ګناه شته | |

(١) دا روایت مرسل دي.
(٢) ٢٤/النور:٣١.
(٣) ابوداؤد کتاب اللباس باب فی قوله تعالی ﴿وقل للمؤمنات يغضضن من أبصارهن﴾:٤١١١وسنده حسن.
(٤) الطبری:٢١٧/١٩.

Scanned with Ca

أَنْ تَأْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ أَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ أَوْ بُيُوْتِ أُمَّهٰتِكُمْ

چې اوخورئ تاسو | دکورونو ستاسو نه | یا د کورونو دپلارانو ستاسو نه | یا دکورونو دمیندو ستاسو نه

که تاسو دخپلو کورونو نه خوراک خورئ | یا دپلارانو دکورونو نه | یا د میندو دکورونو نه

أَوْ بُيُوْتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوْتِ أَخَوٰتِكُمْ أَوْ بُيُوْتِ أَعْمَامِكُمْ

یا د کورونو رونړو ستاسو نه | یا دکورونو دخویندو ستاسو نه | یا دکورونو دترونو ستاسو نه |

یا د رونړو دکورونو | یاد خویندو د کورونو نه | یا د ترونو دکورونو نه | یا دپلار د خویندو (تروریانو)

أَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ أَوْ بُيُوْتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ

یا دکورونو دپلاردخویندو ستاسو نه | یا دکورونو دماماګانو ستاسو نه | یادکورونو دمور دخویندو ستاسو نه

دکورونو نه |................ یادماماګانو دکورونو نه | یا دمور د خویندو (تروریانې) د کورونو نه

أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ أَوْ صَدِيْقِكُمْ ؕ لَيْسَ

یا دغه کررونو | چې مالکان یئ تاسو | دکنجیانو دهغې | یا ددوستانو ستاسو نه | نشته

یا (دهغه کورونو نه) چې دهغې کنجیانې ستاسو په اختیار کښې وی | یادخپلو دوستانو دکورونو نه

عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوْا جَمِيْعًا أَوْ أَشْتَاتًا ؕ فَإِذَا

په تاسو باندې | ګناه | چې خوراك کوئ تاسو | یو ځائې شریك | جدا جدا | نو هرکله

په دې کښې هیڅ ګناه نشته | که په شریکه خوراک کوئ | او که جدا جدا کوئ

دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً

چې ننوزئ تاسو | کورونو ته | نو سلام اچوئ | په خلقو خپلو باندې | یعنې دخیردعاپرې وایئ

خوچې کله دغې کورونو ته داخلیږئ |...................نو اول خپلو خلقو ته سلام کوئ

مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ

دطرفه دالله نه | برکتناکه | پاکه | دارنګې | بیانوی الله | تاسو ته | ایتونه |

چې ددعا په شان دالله ﷻ دطرفه مقرر دې | برکتی اوپاکیزه | د غه شان الله ﷻ تاسوته خپل حکمونه

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝٦١

دپاره ددې | چې تاسو دعقل نه کار واخلئ |

ښکاره اوروی | چې تاسو پرې ښه پوهه شئ |

**قوله تعالى:- لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ**

**د خپلوانو کورونه اود هغې متعلق آداب:-** ـپدې آیت کښې چه دکوم حرج نه کیدو ذکردې د هغې بابت کښې حضرت عطاء فرمائی چه دې نه مرادګوډشل ړوند په جهادکښې راتلل دی. لکه چه په سورت فتح کښې چه دی نوکه داخلق په جهادکښې شامل نه وی نو په دوی باندې د خپلې شرعی معقول وجه څه نقصان نشته. سورت براءت کښې دی ﴿لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ

وَرَسُولِهِۦ ۚ مَا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿[1]﴾ بوداګناه نوباندي لويو اوبيمارانو مفلسانوباندي چه هغوی دزړه د ژوروالي نه دالله ﷻ اود هغه درسول ﷺ خيرخواه وي هيڅ نقصان نشته دنيکانوخلقو هيڅ رټنه نشته الله ﷻ بښونکي اومهربان دي.په هغوی باندې هم دغه شان څه حرج نشته چاسره چه سورلی نه وي اوتاله راځي اوتاسره هم د هغوی د پاره سورلی نه شي ملاويدلي الخ.

**د ايت شان نزول**:-سعيدفرمائي چه خلق ړندوګوډو شلواوبيمارانوسره خوراك كولوكښې حرج ګڼړلو ووچه داسې نه وی هغوی‌اونه خوړلې شی اومونږ ډيره اوخورو يا ښه ښه اوخورو نوپه دې آيت كښې هغوی ته اجازت ملاوشوچه په دې كښې په تاسو باندې هيڅ نقصان نشته([2])بعضې خلق كركه كوی اوهغوی سره خوراك ته نه كيناستل.شريعت دا جاهلانه عادت اوچت كړو.دمجاهد نه روايت دې چه خلقو به داسې خلق د خپل پلار رورخور وغيره رشته درانوكره رسول چه دوی هلته اوخوری دې خلقوبه شرم كولو چه مونږ نورو خلقو كره بوځې په دې باندې دا آيت نازل شو.دسدی قول دې انسان چه كله دخپل رورخوركورته ځي هغوی به نه وواو ښځو به هغوی ته څه خوراك پيش كولونو دوی به نه خوړلو چه سړی خوئی شته نه اونه د هغوی اجازت دې نو الله ﷻ د دې د خوراك رخصت وركړو. داچه اوفرمائيلي شوچه‌له په تاسوباندې هم څه نقصان نشته داخوښكاره وو خود دې بيان نی ځكه اوكړوچه دنورڅيز په دې باندې عطف اوكړی اود دې نه پس بيان په دې حكم كښې برابروی. دخامنود كورونوهم داحكم دې سره د دې چه په الفاظوكښې بيان رانغلوخوضمناً دې بلكه د دې آيت نه استدلال كولوسره بعضووئيلی دی چه د ځوئ مال په شان د پلار د مال دې. په مسنداوسنن كښې څو سندونو سره حديث دې حضورﷺ اوفرمائيل ته اوستامال ستاد پلاردې([3])اونورچه دكوموخلقونومونه راغلی دی دې نه استدلال كولوسره بعضوونيلی دی چه د خپلوانو خوراك څښاك د بعضې په بعضوواجب دې لكه چه دامام ابوحنيفه اوامام مالك رحهم الله دمذهب مشهور قول دې دچاكنجيانې چه ستاسوپه ملكيت كښې وی دې نه مراد غلام اوداروغه دې چه هغوی دخپل آقا د مال نه دضرورت اودستور مطابق خوړلې څكلې شی.

### غلام د خپل مالك د مال نه د ضرورت مطابق خوراك كولې شي

**مسلك حنفي**:-كه په رواج او عرف كښې د كومو رشته دارانو د كورونو نه په خوراك كولو سره هغوی خفه كيږی نه بلكه خوشحاليږی نو د داسې رشته دارو د كورونو نه د هغوی د اجازت نه بغير خوراك كول جائز دی اوكه په عرف كښې داسې كول بد ګڼړلې شی نو بيا خوراك حرام دې جائز او مباح نه دې (معارف القرآن تاليف مفتی محمد شفيع (۴۵۱/۲)-

د حضرت عائشه بيان دې كله چه به رسول الله ﷺ جنګ ته تلونود هريوبه داخوښه وه چه مونږ هم هغوی سره لاړشو. د تلوپه وخت كښې به ئی خپلې كنجيانې خپلو خاص دوستانوته وركولې اوهغوی‌ته به ئی وئيل د كوم څيز چه د خوراك تاسو ته ضرورت وی تاسو ته اجازت دې. خودې خلقو به خپل ځان امين ګڼړلو اوپه دې خيال چه هسې نه دې خلقو د زړه په نه غوښتلو سره اجازت كړې وی د خوراك څښاك څه څيز له د لاس نه اوړلو. په دې باندې داحكم نازل شو.

بيافرمائي چه ستاسود دوستانو په كورونوكښې په خوراك باندې څه نيول نشته چه تاسو ته پته وی چه هغوی په دې بد نه ګڼړی اوپه دوی باندې دا ګران نه پريوځی. قتاده فرمائي چه ته كله خپل دوست له

---

[1]) ۹/التوبة: ۹۱.

[2]) الطبری: ۲۲۱/۱۹.

[3]) ابوداؤد كتاب البيوع باب الرجل ياكل من مال ولده: ۳۵۳۰ وسنده حسن، ابن ماجة: ۲۲۹۲، احمد: ۱۷۹/۲.

Scanned with Ca

لاړشي نود هغه د اجازت نه بغیرتاته د خوراك رخصت دې. بیافرمائي چه تاسو باندې په یوځائ ناسته او په جدا جدا ناسته په خوراك کولوکښې هم څه ګناه نشته. ابن عباس ﷺ فرمائي چه کله آیت ﴿يَآأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۚ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا﴾ [1] نازل شویعنی ایماندارو د یوبل مال ناحقه مه خورئی نوصحابه کرامو رضوان الله اجمعین په خپل مینځ کښې اووئیل چه د خوراك څښاك څیزونه هم مال دې نومونږ له داهم حلال نه دی چه د یوبل سره خوراك اوکړو. نوهغوی د دې نه هم منع شو په دې باندې دا آیت نازل شو. [2]

**ځان له خوراک کول**:-دغه شان د ځان له خوراك کولونه به ئې کرکه کوله ترکومې چه به ورسره څوك نه وو خوراك به ئې نه کولو. د دې د پاره الله ﷻ په دې خبره کښې د دواړو خبرواجازت ورکړویعنی نورو خلقو سره دخوراك اود ځان له خوراك.دقبیله بنوکنانه خلقو په خاص توګه دې مرض کښې اخته وو د ولږې به مړه کیده خوچه څوك به ورسره نه ووخوراك به ئې نه کولو. په سورلئې به سوریدل خود خوراك ملګرې به ئې ځان له لټولو. نوپه دې آیت کښې الله ﷻ د ځان له خوراك کولو رخصت ورکولوسره د جاهلیت دغه سخت رسم ختم کړو [3] په دې آیت کښې خود ځان له خوړلو رخصت دې خو دا یاد ساتئی چه خلقوسره خوراك کول افضل دی اوډېر برکت هم پدې کښې دې.مسنداحمد کښې دی یوسړې راغلو وئې وئیل یارسول الله ﷺ مونږ خوراك خو کووولې مړېږونه.حضور ﷺ اوفرمائیل چه کیدې شی تاسو جداجداخوراك کوئی که یوځائ راجمع کیدل کیناستل اود الله ﷻ نوم اخستلوسره خوراك کولونو تاسو ته به برکت درکولې شی [4] ابن ماجه وغیره کښې دی حضور ﷺ اوفرمائیل په یوځائ راجمع کیږئی خوراك کوئی ځان له خوراك مه کوئی برکت په یوځائ کیناستوکښې دې. [5]

**چې کور ته ځئ نو سلام کوئی**:-بیاتعلیم اوشوچه کورونوته چه ورځئی نوسلام کوئی. د حضرت جابر ﷺ فرمان دې کله چه تاسوکورونوته ځئی نو د الله ﷻ خودلې د برکت نه ډك ښه سلام وائې ما خو ازمینبت کړې داسراسر برکت دې. ابن طاؤس فرمائي چه په تاسو کښې څوك کورته داخل شی نو په کور والاباندې دې سلام وائی [6] دحضرت عطاء نه تپوس اوشوداواجب دی؟وئې فرمائیل چه ماته خویادنه دی چه څوك د دې د وجوب قائل وی خوزما دا ډېر خوښ دی چه کله هم کورته لاړشم نوسلام وئیلو سره ورځم. زه خودا کله هم نه پرېږدم اودایوه بله خبره ده چه هیرشی.

**جماعت کښې د سلام حکم**:-مجاهد فرمائي چه کله جمات ته لاړشئی نو وائې (السلام علی رسول الله) او چه کله خپل کورته لاړشئی نوخپل بال بچ ته سلام وائې اوچه کله یوداسې کورته لاړشئی چه هلته څوك هم نه وی نوداسې سلام وائې.(السلام علینا وعلی عبادالله الصالحین)قتاده m فرمائي چه خپل کوروالا ته سلام کوه نوځه اوغیرآبادکورته په تلوکښې داسې سلام وایه(السلام علینا وعلی عبادالله الصالحین) هم داحکم ورکولې شی.په داسې وخت کښې ستاسو دسلام جواب د الله ﷻ فرښتې درکوی.

**دپنځو خبرو نصیحت**:-انس ﷺ فرمائي چه ماته نبی ﷺ د پنځوخبرووصیت کړې دې. فرمائیلې اې انس کامل اودس کوه نوستا عمربه زیاتیږی.زماچه څوك امتی ملاوشی سلام ورته کوه ستانیکئی به

---

[1] ٤/النساء:٢٩.
[2] الطبری:١٩/٢٢٤.
[3] الطبری:١٩/٢٢٤.
[4] ابوداوٗد کتاب الاطعمة باب ل الاجماع علی الطعام:٣٧٦٣، ابن ماجة:٢٣٨٦، احمد:٣/٥٠١، ابن حبان:٥٢٢٤.
[5] ابن ماجة کتاب الاطعمة باب الاجماع علی الطعام:٣٢٨٧وهوحسن.
[6] الطبری:١٩/٢٢٥.

زیاتیږی. کورته چه لاړشې سلام کوه په کورکښې خیرت زیاتیږی. دضحی مونځ کوه تاسونه وړاندې خلق چه دالله والاجوړشوی وو دهغوی هم دغه طریقه وه. اې انس په ماشومانوباندې رحم کوه اود لویوعزت کوه نو د قیامت په ورځ به زما ملګرې ئې. بیافرمائی دا د خیردعاده چه د الله ﷻ د طرف نه تاسو ته درکړې شوې ده. د برکت والا ده ښکلې ده. ابن عباس ﷺ فرمائی ماخوالتحیات هم د قرآن نه زده کړې ده داسې ده. (التحیات المبارکات الصلوات الطیبت لله اشهدان لا اله الا الله واشهدان محمداً عبده ورسوله السلام علیك ایهاالنبی ورحمة الله وبرکاته السلام علینا وعلی عبادالله الصالحین) ددې لوستلوسره مونځ ګذارله دځان د پاره دعاکول پکاردی بیادې سلام اوګرځوی. هم د دې ابن عباس ﷺ نه مرفوعا په صحیح مسلم کښې د دې نه علاوه نور هم نقل دی([1]) د دې سورت د احکامو ذکر کولوسره بیافرمائی چه الله ﷻ دخپلو بندیګانو په وړاندې خپل واضحه احکام او فائده مند ارشادات کولاو کولاو داسې بیان فرمائی دې د پاره چه هغوی غوراوفکر اوکړی سوچ اوکړی ځان پوهه کړی اوعقل مندی حاصله کړی.

<table>
<tr><td>اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ</td></tr>
<tr><td>ابیشکه مومنان | په اصل کښې هغه کسان دی |</td></tr>
<tr><td>امومنان خو بس هغه خلق دی چې الله ﷻ اوددهٔ په رسول</td></tr>
<tr><td>اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰۤى اَمْرٍ جَامِعٍ</td></tr>
<tr><td>چې ایمان راوړی| په الله | او په رسول دهغه | او کله چې | وی هغوئ | دهغه سره |په یو کار راجمع کونکی باند</td></tr>
<tr><td>باندې ایمان راوړی | او کله چې درسول ملګرتیا ته په یوداسې کار پسې راټول شوی وی</td></tr>
<tr><td>لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ</td></tr>
<tr><td>نونهٔ ځی هغوئ | تر هغې پورې | چې اجازت اوغواړی دهغه نه | بیشکه هغه کسان | چې اجازت غواړی ستا نه</td></tr>
<tr><td>چې دهغې دپاره ټولنه شوی وی| نوترڅو چې اجازت وانخلی ترهغې واپس نه ځی | (اې پیغمبره) څوک</td></tr>
<tr><td>اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ</td></tr>
<tr><td>هم دغه کسان | هغه کسان دی | چې ایمان راوړی | په الله او په رسول دهغه| نوکله چې اجازت اوغواړی ستانه</td></tr>
<tr><td>چې ستانه اجازت اخلی نوهم دا هغه خلق چې په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان ساتی| هرکله چې دوئ</td></tr>
<tr><td>لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ</td></tr>
<tr><td>دپاره دځینو کارونو خپلو | نو اجازت ورکړه | هغه چاته | چې غواړې ته | دهغوئ نه |</td></tr>
<tr><td>دخپل څه کار دپاره ستانه اجازت غواړی |نو په دوئ کښې چې ته چاته غواړی اجازت ورکړه</td></tr>
<tr><td>وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۶۲﴾ لَا تَجْعَلُوْا</td></tr>
<tr><td>او ښنانه اوغواړه دپاره دهغوئ | دالله نه | بیشکه الله | ښښونکې | مهربانه دې | مهٔ ګنړئ |</td></tr>
<tr><td>اوددوئ دپاره دالله ﷻ نه ښښنه غواړه | بیشکه الله ﷻ ښښونکې مهربان دې | (مومنانو) امه ګرځوئ</td></tr>
</table>

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب التشهدفی الصلاة: ۴۰۳. والله اعلم.

Scanned with Ca

| دُعَآءَ الرَّسُوْلِ | بَيْنَكُمْ | كَدُعَآءِ | بَعْضِكُمْ | بَعْضًا ط |
|---|---|---|---|---|
| بلنه درسول | په منځ ستاسو کښې | پشان دبلنې | دخينې ستاسو | خينو لره |
| تاسو درسول بلنه داسې معمولي مه ګڼرئ خنګه چې تاسو خپل مينځ کښې يوبل رابلئ يقينى ده چه | | | | |

| قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ | الَّذِيْنَ | يَتَسَلَّلُوْنَ | مِنْكُمْ | لِوَاذًا ۚ | فَلْيَحْذَرِ |
|---|---|---|---|---|---|
| ښه پيژنى الله | هغه خلق | چې غلي غلي اوځي | ستاسو نه | ديوبل نه پناه پناه | پس اويريږى |
| الله ﷻ هغه خلق ښه پيژني اچې کوم يو اړخ ته شي انو (غلي غوندې) اوکشيږى انو څوک چې دالله ﷻ | | | | | |

| الَّذِيْنَ | يُخَالِفُوْنَ | عَنْ اَمْرِهٖٓ | اَنْ تُصِيْبَهُمْ | فِتْنَةٌ |
|---|---|---|---|---|
| هغه کسان | چې مخالفت کوى | دحکم دهغه | چې اورسيږى هغوئ ته | فتنه په دنيا کښى |
| دحکم نه مخالفت کوى اهغوى دې د دې نه اويريږى چې (دنيا کښې) پرې څه آفت راشي ايا دردناک | | | | |

| اَوْ يُصِيْبَهُمْ | عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ |
|---|---|
| يا اورسيږى هغوئ ته | عذاب دردناک |
| عذاب ئې (په اخرت) کښې راونيسى | |

**قوله تعالى:-** وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ط

**د مجلس اداب:-** الله ﷻ خپلو مؤمنانو ښد يګانو ته يو آدب بل هم ښائى لکه چه څنګه د راتلو په وخت کښې اجازت غوښتلو سره راځى دغه شان دتلو په وخت کښې هم زما د نبى ﷺ نه اجازت اخلئى نوځئ. خاص کر په داسې وخت کښې چه کله ګڼړه وى او په څه ضرورى خبره باندې مجلس شوې وى مثلاً د جمعه مونځ يا داختر مونځ يا څه ډله ده يا څه مجلس شورى ده وغيره وغيره نو په داسې موقعو باندې ترکومې چه د حضور ﷺ نه اجازت نه وى اخستې اخوا ديخوا مه ځئى د کامل مؤمن يوه نښه دا هم ده. بيانى خپل نبى ﷺ ته اوفرمائيل کله چه دوى تا نه د څه ضرورى کار د پاره اجازت اوغواړى نو تاسو چه په دوى کښې چا ته غواړې اجازت ورکوه او د هغوى د پاره د ښښنې دعاګانې هم غواړه. ابوداوٗد وغيره کښې دى کله چه په تاسو کښې څوك يو مجلس ته لاړشى نو اهل مجلس ته سلام کوئى اوچه کله د هغه ځائ نه تلل غواړئى نو بيا هم سلام کوئى. د آخرى ځل سلام د اول ځل سلام نه څه کم نه دې. دا حديث په ترمذى (١) کښې هم دې او امام صاحب دا حسن ګرځولې دې.

**د رسول الله ﷺ احترام:-** خلقو چه به حضور ﷺ کله راغوښتلو نو د حضور ﷺ نوم يا کنيت به ئې په معمولي توګه باندې لکه څنګه چه خپل مينځ کښې يو بل راغواړى آواز به ئې کولو نو الله ﷻ د دې بې ادبئ نه منع اوفرمائيله چه نوم مه اخلئى بلکه يا نبى ﷺ يا رسول الله ﷺ وائې چه د هغوى د بزرګئى عزت او ادب خيال اوساتلې شى (٢) هم ددې په شان آيت ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا ط وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ (٣) او هم ددې په شان آيت ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۞ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

---

(١) ابوداوٗد کتاب الادب باب فى السلام اذا قام من المجلس:٥٢٠٨ وسنده حسن، ترمذى:٢٧٠٦، احمد:٢/٢٨٧، الادب المفرد : ١٠٠٨، ابن حبان:٤٩٤.

(٢) الطبرى:١٩/٢٣٠.

(٣) ٢/البقرة:١٠٤.

﴿تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ﴾([1]) دې يعنې د ايمان والاخپل آوازونه دنبي ﷺ په آواز باندې مه اوچتوئ دحضور ﷺ په وړاندې په اوچتواوچتو آوازونو سره خبرې مه کوئ لکه چه څنګه په آزادئ سره خپل مينځ کښې يوبل سره کوئ. که داسې مو اوکړه نو ټول عملونه به مو غرق شي اوپته به هم درته اونه لګي الخ. تردې پورې اوفرمائيل چه کوم خلق تاته د حجرې نه شاته چغې وهي نو په هغوی کښې اکثربې عقل دي که چرې هغوی صبر کولې ترهغه وخت پورې چه تاسو پخپله هغوی له راشئ نودا د هغوی د پاره بهتر وه. نودا ټول آداب ورته اوخودلې شو چه حضور ﷺ ته څنګه خطاب کوې. حضور ﷺ سره به خبرې اترې څنګه کوې. دهغوی په وړاندې به څنګه خبرې کوې. بلکه اول خو حضور ﷺ سره په غوږ کښې دخبرې کولودپاره صدقه ورکول وو. يومطلب خود دې آيت دا شو دويم داچه درسول الله ﷺ دعا تاسو دخپلې دعا په شان مه ګڼړئ دحضور ﷺ دعاخو مقبوله اومستجابه ده. خبردار کله هم زمونږ نبي ﷺ ته تکليف ورنه کړئ هسې نه چه دهغوی دخُلې مبارکې نه کلمه اونه څي ګنې تباه برباد به شئ([2]) ددې نه د وړاندې جملې په تفسيرکښې مقاتل بن حيان m فرمائي د جمعه په ورځ په خطبه کښې کيناستل په منافقانو باندې ډير سخت تيريدل جمات ته په راتلواو خطبه شروع کيدو نه پس هيڅ څوك به د نبي کريم ﷺ د اجازت نه بغير نه تلوځوچه کله به داسې څه ضرورت وو نو په اشاره باندې به ئې دحضور ﷺ نه اجازت اخستلواوحضور ﷺ به اجازت ورکولوځکه چه د خطبه دوران کښې خبرې کولوسره جمعه باطل کيږي نودامنافقان به په ترخ ترخ کښې سترګې بچ کولې اوخوئيدل به.([3]) سدي m فرمائي چه کله به دامنافقان په جمع کښې وو نود يوبل نه به ئې ځان پناه کولو اوتختيدل به. دالله ﷻ دپيغمبراودهغه دکتاب نه به اخواکيدل. دصف نه به وتل اوپه خلاف باندې به تياريدل. کوم خلق چه د رسول الله ﷺ دامردسنتودرسول ﷺ د حکم اود هغوی د طريقې اود رسول الله ﷺ د شرع خلاف اوکړي هغوی به سزا کولې شي. انسانانوله خپل اقوال افعال د رسول الله ﷺ سنتواو احاديثوسره ملاوول پکاردي چه څوك موافق وي ښه دی چه برابر نه وي نو مردود دی.([4]) په ظاهره ياباطنه څوك هم دشريعت محمدی ﷺ نه خلاف اوکړيد هغه په زړه کښې کفر اونفاق د بدعت اوبدئ تخم کرلې شي ياهغه ته سخت عذاب ورکړې کيدې شي ياخوپه دنياکښې دقتل حد قيد وغيره سره يا په آخرت کښې عذاب. مسنداحمد کښې حديث دې چه حضور ﷺ فرمائي زمااوستاسومثال داسې دې لکه چه يوسړی اُور بل کړې وی کله چه هغه ښه بل شو نودپتنګانو يوه ګڼړه جوړه شوه اوهغه په دې بې واره راپريوځي اوس که دې هغوی هرڅومره منع کوی ولې هغوی دی چه په شوق سره په دې کښې راپريوځي. اود دې سړی په منع کولوسره نه منع کيږي. هم دغه حالت زمااوستاسو دې تاسو په اُور کښې ورداخليږئ او زه تاسو نه غيږې ډکوم دې نه مو منع کوم چه په اُورکښې مه ننوځئ د اُور نه بچ شئ خوتاسو زما نه منئ اوپه دې اُور کښې ورننوځئ. داحديث په بخاری اومسلم کښې هم دې.([5])

---

[1] ٤٩/الحجرات:٢.

[2] الطبری:١٩٢٣٠.

[3] الدرالمنثور:٦/٢٣١.

[4] صحيح مسلم كتاب الاقضية باب نقض الاحكام الباطلة وردمحدثات الامور:١٧١٨، صحيح بخاری:٢٦٩٧، ابوداؤد:٤٦٠٦، ابن ماجة:١٤، احمد:٦/٢٤٠، ابن حبان:٢٦ بلفظ مختلف.

[5] صحيح بخاری كتاب الرقاق باب الانتهاء عن المعاصی:٦٤٨٣، صحيح مسلم: ٢٢٨٤، احمد:٢/٣١٢، ترمذی:٢٨٧٤

Scanned with Ca

| |
|---|
| اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا |
| خبردار شه \| چې الله لره دی \| هغه ټول \| |
| ایاد ساتئ چې په اسمانونو او په زمکه کښې |
| فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ |
| چې په اسمانونو کښې دي \| او په زمکه کښې دي \| معلوم دي الله ته \| هغه حالت \| چې تاسو |
| چې هرڅه دي \|هغه ټول دالله ﷻ دي \|هغه ته ستاسو دا موجوده حالت |
| عَلَيْهِ ؕ وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ |
| په هغې باند يئ \| او په کومه ورځ \| چې واپس روان شي خلق \| هغه ته \| نو خبر به ورکړي هغوئ ته |
| هم ښه معلوم دي \|اوپه کومه ورځ چې خلق هغه ته واپس کړې شي \|نو هغه بهٔ ورته هغه ټول |
| بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ |
| دهغه هر څه \| چې کړي دی هغوئ \| او الله \| په هر څه باند \| ښهٔ علم لرونکې دي |
| عملونه په ګوته کړي کوم چه هغوی کړي وی \|او الله ﷻ په هر څه پوهه دي |

**قوله تعالى:- قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ**

**د هريو هر حركت هغه پيژني:**-دزمكې اوآسمان مالك دغيب اوحاضرعالم دبنديګانوپټ اوښكاره عملونه پيژندونكې هم هغه الله ﷻ دي. ﴿قَدْ يَعْلَمُ﴾ كښې ﴿قَدْ﴾د تحقيق دپاره دي لكه دي نه وارندې آيت ﴿قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ (١) كښې او آيت ﴿قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝﴾ (٢)كښې اولكه آيت ﴿قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝﴾ (٣)كښې اولكه چه﴿قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ۝﴾ (٤) اولكه چه ﴿ قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۠ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۭ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۭ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ۝﴾ (٥)كښې اوڅنګه چه آذان كونكې وائي (قد قامت الصلوة) نوفرمائي چه په كوم حال باندې تاسوئې دكومواعمالواوعقيدو سره ئې تاسو ئې الله ﷻ ته ښه معلوم ئې. دآسمان اوزمكې يوه ذره هم دالله ﷻ نه پټه نه ده.كوم عمل چه تاسو كوئې په كوم عمل چه تاسو ئې الله ﷻ ته ښكاره دي. هيڅ يوه ذره د الله ﷻ نه پټه نه ده او هرلوئ وړوكې په كتاب مبين كښې محفوظ دي. دبنديګانود ټول خير اوشر هغه عالم دي. كېږوكښې پټ شه كه هرڅومره پټ څه اوكړې هريوپټ څيز او ښكاره څيزهغه ته يوشان ښكاره دي. كه په غوږكښې خبرې كوې كه په اوچت آوازسره دهغه په غوږونوكښې دي. د ټولوساه لرونكې رزق رسونكې هم هغه دي. د هريوساه لرونكى د

---

(١) ٢٤/النور:٦٣.

(٢) ٣٣/الاحزاب:١٨.

(٣) ٥٨/المجادلة:١.

(٤) ٦/الانعام:٣٣.

(٥) ٢/البقرة:١٤٤.

Scanned with Ca

هربوحال نه هم هغه خبر دې. هرڅه د اول نه په لوح محفوظ کښې درج دی. دغیبوکنجانې هم هغه سره دی کومې چه دهغه نه بغیرڅوك هم نه پیژني. داوچې او لمدې هربوڅیز هم هغه پیژني. د یوې پاڼې رژیدل دهغه دعلم نه بهرنه دی. د زمکې دننه په تیاروکښې پرته دانه اوهیڅ اوچ اولوندڅیزداسې نه دې چه په کتاب مبین کښې نه وی. ددې مضمون نورهم ډیر آیاتونه او احادیث دی. کله چه مخلوق د الله ﷻ طرف ته واپس راوګرځولې شی هغه وخت به د هغوی په وړاندې د هغوی د وړې نه وړه نیکی اوبدی پیش کولې شی.ټول وړاندې روستو اعمال به اوګوری. عمل نامه به په ویره سره ګوری او خپل د عمر ټول حالات چه په دې کښې اووینی په حیرانتیاسره به وائی چه دا څنګه کتاب دې چه ده خود لوئ نه لوئ څیز څهٔ چه د وړوکی نه وړوکې څیز هم نه دې پریخې. چاچه څه کړې وی هم هلته به ئې موجود مومی. ستاد رب ذات د ظلم نه پاك دې. په آخرکښې اوفرمائیل الله ﷻ ډیر هوښیاردې هربوڅیز د هغه په علم کښې دې.

﴿الحمدلله﴾ د سورت نور تفسیر هم خیراوعافیت سره ختم شو.

..........................

| ایاتونه | سورة الفرقان مكية وهي سبع وسبعون اٰية وست ركوعات | رکوع ګاني |
| --- | --- | --- |
| | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | |
| ۷۷ | شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان     زیات رحم کونکې دې | ۶ |

تَبٰرَكَ الَّذِىۡ نَزَّلَ الۡفُرۡقَانَ عَلٰى عَبۡدِهٖ لِيَكُوۡنَ

ډیر برکت والا دې | هغه ذات | چې نازل ئې کړو | دا فرقان | په بنده خپل باند | دپاره ددې چې شی

هغه الله ﷻ ډیر د برکت خاوند دې اچاچې خپل بنده (محمد ﷺ)باندې قرآن نازل کړې دې اچې دټولو

لِلۡعٰلَمِيۡنَ نَذِيۡرَا ۙ ① الَّذِىۡ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

دپاره دټول جهان والو | یرونکې | هغه ذات | چې هغه لره ده | بادشاهي داسمانونو | او دزمکې

جهانونو دپاره (دعذاب) نه ویرونکې دې اصرف هغه ذات دې چې په آسمانونو اوپه زمکه کښې

وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدًا وَّلَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ شَرِيۡكٌ فِى الۡمُلۡكِ وَخَلَقَ

اوندئې دې نیولې | څوئې | او نشته هغه لره | شریك | په بادشاهئ کښې | او پیدا ئې کړو |

دهغه بادشاهی ده |اوهغه هیڅوک په څویتوب سره نیولې نه دی | نه ورسره په بادشاهئ کښې څوک شریک شته دې

كُلَّ شَىۡءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقۡدِيۡرًا ②

هرڅیز | پس په اندازه ئې کړو هغه | په اندازه کولو سره |

اوهغه هرڅیزپیدا کړې دی| بیائې دهرڅیزدپاره جدا جدا اندازه مقرر کړې ده

قوله تعالى:- تَبٰرَكَ الَّذِىۡ نَزَّلَ الۡفُرۡقَانَ عَلٰى عَبۡدِهٖ

**د الله جل جلاله ذات اقدس بابرکت دې** :-الله ﷻ دخپل رحمت بیان فرمائی چه په خلقوباندې دهغه بزرګی ښکاره شی چه هغه داپاك کلامْ په خپل بنده محمد ﷺ باندې نازل کړې دې.دسورتِ کهف په شروع کښې ئې هم خپل حمد په دې صفت سره بیان کړې دې. دلته خپل ځان دبرکت خاوند ګیدل بیانوی.اوهم

Scanned with Ca

دا صفت نی بیان کړو دلته نی لفظ ﴿نزل﴾ اوفرمائیلودکوم نه چه باربارپه کثرت سره نازلیدل ثابتیږی لکه چه ارشاددي ﴿وَالْكِتٰبِ الَّذِیْ نَزَّلَ عَلٰی رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِیْۤ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ یَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓىِٕكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِیْدًا﴾(۱) رومبنی کتابونه نی په لفظ ﴿ اَنْزَلَ ﴾ سره اوداآخری کتاب نی په لفظ ﴿ نَزَّلَ ﴾ اوفرمائیلوځکه چه اولنی کتابونه په یوځل نازل شوی اوقرآن کریم لږ لږ د ضرورت مطابق نازلیدلو. کله څه آیاتونه کله څه سورت اوکله څه احکام. په دې کښې یولوئ حکمت داهم وو چه خلقو ته په دې باندې عمل ګران نه وی اوښه یادشی اود منلود پاره نی زړه کولاوشی لکه څنګه نی چه په دې سورت کښې فرمائیلی دی چه د کافرانویواعتراض داهم دې چه دا قرآن کریم په دې نبی ﷺ باندې په یوځل ولې نازل نه شو؟ جواب ورکړې شو چه داسې ځکه نازل کړې شو چه دې سره ستا زړه لګیدلې وی او په آرام آرام نازل کړو دوی چه کومه خبره هم جوړوی مونږ به د هغې پوره او صحیح جواب ورکووچه ښه د تفصیل والا دې.(۲) هم داوجه ده چه دلته د دې نوم فرقان کیخودلې شوځکه چه دا په حق اوباطل کښې هدایت اوګمراهئی کښې فرق کونکې دې. په دې سره په نیکئی او بدئی حلال اوحرام کښې فرق کیږی. د قرآن کریم داپاك صفت بیانولوسره په چاچه قرآن نازل شود هغه یوپاك صفت بیان کړې شوچه هغه خاص هم د هغه په عبادت کښې اوسیدونکې دې. د هغه مخلص بنده دې داصفت د ټولونه اوچت صفت دې. د دې د پاره د لویولویونعمتونود بیان په موقعه باندې د نبی‌کریم ﷺ هم دا صفت بیان کړې شوې دې لکه دمعراج په موقعه باندې ﴿سُبْحٰنَ الَّذِیْۤ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ﴾(۳) اولکه چه دخپل خاص عبادت جمعه دمانځه په موقعه اوفرمائیلې شو ﴿وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ یَدْعُوْهُ كَادُوْا یَكُوْنُوْنَ عَلَیْهِ لِبَدًا﴾(۴) اوچه کله دالله ﷻ بنده یعنی حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ د عبادت دپاره اودریږی الخ. هم داصفت د قرآن کریم د نازلیدلو اوحضور ﷺ له د مقربې فرښتې د راتللود اکرام د بیان په موقعه بیان کړې شو. بیاارشاد اوشو چه د دې پاك کتاب د حضور ﷺ طرف ته نازلیدل ددې د پاره دی چه حضور ﷺ د ټول جهان د پاره خبرورکونکې جوړ شی داسې کتاب چه ټول حکمت اوهدایت والا دې کوم چه پوره تفصیل اوچت ښکاره اومحکم دې کوم له چه خوالاه هم باطل نه شی راتلې کوم چه د حکیم اوحمید الله ﷻ د طرف نه نازل شوې دې. چه نبی کریم ﷺ دې تبلیغ په ټوله دنیاکښې اوکړی. هریوسور سپین لرې اونیزدې د الله ﷻ د عذابونونه اوویروی. کوم هم چه د آسمان لاندې اود زمکې د پاسه دې د هغه طرف ته د حضور ﷺ رسالت دې لکه څنګه چه پخپله د رسول الله ﷺ ارشاد دې زه د ټولو سرو اوسپینو انسانانوطرف ته رالیګلې شوې یم(۵) بل ارشاددې ماته پنځه خبرې داسې راکړې شوی دی چه مانه وړاندې یونبی ته هم نه دی ورکړې شوی په دې کښې یوه دا ده چه هر یو نبی به خپل خپل قوم ته لیګلې شو خوزه د ټولې دنیاطرف ته لیګلې شوې یم (۶) پخپله قرآن پاك فرمائی ﴿قُلْ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْكُمْ جَمِیْعَا الَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ ۪ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الَّذِیْ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾(۷) اې نبی اعلان اوکړه چه اې ددنیاخلقوزه ستاسو ټول طرف ته د الله ﷻ پیغمبریم بیافرمائی چه زه رسول جوړونکې اورالیګونکې اوپه ماباندې داکتاب نازلونکې هم هغه الله ﷻ دې چه دآسمان اوزمکې یوازې مالك

(۱) ٤/النساء:۱۳٦.
(۲) ۲۵/الفرقان:۳۲-۳۳.
(۳) ۱۷/الاسراء:۱.
(۴) ۷۲/الجن:۱۹.
(۵) صحیح مسلم کتاب المساجد باب المساجد ومواضع الصلاة:۵۲۱، احمد:٤/٤۱٦، مجمع الزوائد۸/۲۵۸.
(٦) صحیح بخاری کتاب التیمم باب نمبر۱، حدیث:۳۳۵، احمد:۳/۳۰٤، ابن حبان:٦۳۹۸.
(۷) ۷/الاعراف:۱۵۸.

Scanned with Ca

نازلونکې هم هغه الله ﷻ دې چه داسمان اوزمکې یوازې مالك دې. کوم کارچه کول غواړی هغې ته وائی چه اوشه نوهغه هم هغه وخت کیږی هم هغه وژل کوی اوهم هغه ژوندی کول کوی نه د هغه څوك اولادشته اونه د هغه څوك شريك. هریوڅیز د هغه مخلوق اود هغه د پالنې لاندې دې د ټولوخالق مالك رازق اومعبود هم هغه رب دې چه د هریوڅیز اندازه مقررونکې اوتدبیرکونکې هم هغه دې.

| |
|---|
| وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً |
| \| اواونیول خلقو \| بې دهغه نه \| نور خدایان |
| \|او (دې مشرکانو) د الله ﷻ |
| لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ |
| چې نهٔ پیدا کوی \| هیڅ څیز \| بلکه هغوئ \| پیدا کړې کیږی \| اونهٔ لرى اختیارهغوئ \| |
| نه علاوه نور داسې خدایان جوړ کړی دی \| چې هیڅ څیز پیدا کولې نشی \|بلکه دوئ په خپله جوړ کړې |
| لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً |
| دپاره دځانونو خپلو \| دنقصان \| اونهٔ دنفعې \| اونهٔ لرى اختيار \| دمرګ \| اونهٔ دژوند \| |
| شوی دی \|\|ودوئ دخپل ځان دپاره د نفعې او د نقصان څه اختیار نه لری \|\|ونه د چا دمرګ او نه |
| وَّلَا نُشُوْرًا۝ |
| اونهٔ دپورته کولو دقبرنه |
| دژوند اختیار لری\| |

**قوله تعالی:- وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا**

**بې اختیاره معبود څنګه؟**:-دمشرکانوجهالت بیانولې شی چه هغه خالقْ مالك قادر مختار بادشاه پریږدی اودهغوی عبادتونه کوی چه څوك دمچ یووزر هم نه شی جوړولې بلکه هغوی پخپله د الله ﷻ جوړ شوی دی اوهم دهغه پیداکړې شوی دی هغوی خپل ځان ته هم څه نفع نقصان رسولومالکان نه دی چه لانورو سره به څه ښیګړه اوکړی یابه نوروته څه نقصان اورسوی یادویمه څه خبره به اوکړې شی هغوی یا خو د خپل مرګ او ژوندیاد بیا راژوندی کیدوهم اختیارنه لری بیادخپل ځان عبادت کونکی اوددې څیزونو مالکان به څنګه شی؟ خبره هم داده چه ددې ټولوکارونومالك هم الله ﷻ دې هم هغه کوی اوهم هغه وژل کوی هم هغه به ټول مخلوق د قیامت په ورځ د نوی سر نه راژوندی کوی په هغه باندې دا کارګران نه دې دیوپیداکول اود ټولوپیداکول یود مرګ نه پس ژوندې کول او ټول راژوندی کول هغه ته یوشان او برابردی. د سترګې په رپ کښې د هغه حکم پوره کیږی صرف په یوآواز سره به ټول مړ شوې مخلوق به راژوندې شی اود هغه په وړاندې به په یوارت کولاومیدان کښې ولاړوی. بل آیت کښې فرمائیلی دی صرف دیوځل به هم یوآواز وی چه ټول مخلوق به زموږ په وړاندې حاضر شی[۱] هم هغه معبود برحق دې دهغه نه بغیربل څوك رب نشته نه د عبادت لائق څوك شته د هغه غوښتلې شوې کیږی د هغه دخوښې نه بغیرهیڅ هم نه کیږی هغه د هلکانوجینکونه عدیل اوبدیل نه وزیراونظیرنه شریك او سهیم نه پاك دې هغه واحد دې صمددې هغه لم یلد دې هغه لم یولد دې د هغه برابر هیڅ څوك نشته.

---

(۱) ۳۶/یس:۵۳.

Scanned with Ca

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ

او ووائی | هغه کسان | چی انکار ئې کړې دې | چی نه دې دا فرقان | مګر

او کافران وائی چې دا (قرآن) خو بس تش

اِفْكُ اِفْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ

دروغ دی | چې دخانه ئې جوړ کړې دې | او امداد کړې دې دده سره | په دې کار باندې | خلقو نورو

دروغ دی | چې دې سړی دخان نه را جوړ کړی دی | او نورو خلقو ورسره ددې جوړولو کښې مدد کړی دی

فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۞ وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ

پس راتلل کړی دی دې خلقو | په ظلم | او په دروغ سره | او ووائی دوئ | چې دا قیصې دی پخوانو خلقو

خلقو ډیر زیاتې او کړو | او غټ دروغ ئې او وئیل | او دوئ وائی چې دا د پخوانو خلقو

اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۞

چې لیکلی ئې دې په بل چا | او هم دغه لیکل | او وړولې کیږی | په ده باندې | صبا | او بیګاه

قیصې دی | چې دې سړی په چا لیکلی دی | او هم دغه لیک ورته صبا بیګاه آوروله شی

قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِيْ يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ

ورته او وایه | چې نازل کړې دې دا فرقان | هغه چا | چې پوهیږی | په هر پټ راز | چې په آسمانونو

ته ورته او وایه چې دا (قرآن) هغه ذات نازل کړې دې | چې هغه ته دزمکې او آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۞

او زمکه کښی دې | بیشکه چی الله | دې | بښونکې | مهربانه |

هر یو راز معلوم دې | بیشکه هغه بښونکې مهربان دې |

قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ

**د کافرانو په رسول الله ﷺ باندې دروغ او دهغه جواب:**-د مشرکانو یو جهالت پورته آیاتونو کښې بیان کړې شو کوم چه د الله ﷻ د ذات باره کښې وو دلته دویم جهالت بیانولې شی چه د رسول الله ﷺ ذات مبارك سره دې هغوی وائی چه دا قرآن پاك خو هغه د نورو په امداد سره هم پخپله د ځان نه جوړ کړې دې الله ﷻ فرمائی چه دادې د هغوی ظلم او دروغ د کوم دباطل کیدو چه هغوی ته پخپله هم علم دې وائی خو پخپله دخپلو معلوماتو هم خلاف وائی کله بکواسونه کوی چه دوړاندې کتابونو قصې ده لیکلې دی هم هغه سحر او ماښام په خپل مجلس کښې لولی.دا دروغ هم هغه دی په کوموکښې چه د چاهم څه شك نشته ځکه چه صرف اهل مکه نه بلکه دنیا پیژنی چه زمونږ نبی ﷺ امی وو نه نی لیکل پیژندل او نه لوستل.

**د څلویښتو کالو پورې درسول علیه السلام حالت:**-دڅلویښتو کالو په اولنی ژوند کښې یو ساعت هم داسې نه وو په کوم باندې چه څوك ګوته اوچته کړې شی.دحضور ﷺ یو یو صفت داسې وو په کوم چه زمانه ګواه وه په کوم چه اهل مکه فخر کولو دحضور ﷺ عام مقبولیت او محبوبیت اوچت اخلاق دمعاملې په ښه

Scanned with Ca

طريقه كول دومره زيات شوې وو چه په هرپوزره كښې د حضورﷺ مقام وو عامو ژبوبه هغوى ته محمدآمين په ښكلي خطاب سره يادولو. دنيا به د حضورﷺ په قدمونوكښې خپلې سترګې غوړولې كوم يوزړه وو چه د حضرت محمدﷺ كورنه وو؟ كومه يوه سترګه به وى چه په هغې كښې د احمد عزت نه وى؟ كومه يوه ګنړه وه چه په هغې كښې به دحضور ﷺ د خيرذكر نه وى؟ كوم يوهغه سرې وو چه د حضورﷺ دبزرګئى صداقت امانت نيكئى اوښيګړې قائل نه وو؟

**د نبوت نه پس حالت:**-بيا چه كله د الله ﷻ د ټولونه په اوچت عزت سره حضورﷺ عزت داركړې شو د آسمانى وحى حضورﷺ امين جوړكړې شو نوصرف دپلار نيكه طريقې ختميدوسره ليدو باندې نودا بې وقوفان دبې كونې باډولى په شان راګرګړې شودتالى دبيګن په شان اخواديخواشو.خودخبرو جوړولو او عيبونه لټولوخود دروغو پښې چرته وى؟ كله به ئې حضورﷺ ته شاعر وئيل كله ساحر كله مجنون او كله كاذب. حيران وو چه څه ورته اووايو؟ اوځنګه دا خپل جاهلانه طريقه ژوندې پاتې كړو اود خپلو باطلومعبودانو جهنډا څنګه پرينوځى؟ اوځنګه دتيارودكه دنيا د الله ﷻ په نورسره روښانه نه كړې شى هغوى ته جواب ملاويږى چه د قرآن رښتونې مطابق واقع حق خبرې د الله ﷻ وركړې شوى دى كوم چه دغيبوعالم دې د چانه چه يوه ذره پټه نه ده چه دتيروشوو بيان په دې كښې دې حق دې دراتلونكې وخت بيان په دې كښې دې رښتيادې د الله ﷻ په وړاندې شوې دې اوكيدونكې خبرې يوشان دى هغه غيب هم داسې پيژنى لكه چه ښكاره.دې نه پس خپل د غفاريت شان اود رحم اوكرم شان بيان فرمانى دې د پاره چه خراب خلق هم د هغه نه نااميده نه شى كه هرڅه ئې كړى وى خوچه اوس خو هغه ته ټيټ شى توبه اوكړى او په خپلو كړو باندې پښيمانه شى اود رب رضا اوغواړى د رحيم د رحمت نه قربان شم چه داسې سركشه اود الله ﷻ دښمنان اود رسول الله ﷺ داسې بهتان تړونكى دومره سزاګانې وركونكى خلقو ته هم د خپل عام رحمت دعوت وركوى اود خپل كرم طرف ته هغوى راغواړى. كه هغوى الله ﷻ ته بدوانى كه رسول الله ﷺ ته بدوانى په كلام الله پورې خبرې كوى او الله ﷻ د هغوى د خپل رحمت طرف ته لارخودنه كوى دخپل فضل اوكرم طرف ته دعوت وركړى اسلام اوهدايت په هغوى باندې پيش كړى خپلې ښكلې خبرې هغوىته ښې كړى اوپوهه ئې كړى. په يوبل آيت كښې د عيسايانود تثليث پرستئى (ددريوخدايانو) ذكركولوسره دهغوى دسزاګانوبيان كولوسره فرمائى ﴿فَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ ([1])داخلق ولې الله ﷻ ته توبه نه كوى؟ ولې دهغه طرف ته نه ټيټيږى اود هغه نه د خپلو ګناهونو معافى ولې نه غواړى؟ هغه خوډير زيات ښنونكې اومهربان دې. مؤمنان تنګونكى هغوى په فتنه كښې اچونكوذكر كولوسره په سورت بروج كښې فرمائى چه كه داسې خلق هم توبه اوكړى د خپلو خرابوكارونونه اخواشى نوزه به هم د هغوى نه خپل عذاب اخواكړم او رحمتونوكښې به ئې داخل كړم. امام حسن بصرى څومره ښكلې اومزيداره خبره بيان كړې ده هغوى فرمائى چه د الله ﷻ رحم اوكرم ته اوګوره چه دا خلق د هغه ګران اوقدردان بنديګان تنګوى وهى ټكوى قتل كوى اوهغه دوى د توبه طرف ته اود خپل رحم اوكرم طرف ته راغواړى. فسبحانه اعظم شانه.

| |
|---|
| وَقَالُوْا |
| او وائى دوئ |
| اودوئ وائى |

---

([1]) ۵/المائدة: ۷۴.

Scanned with Ca

مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ط لَوْلَآ اُنْزِلَ

څه دي دې رسول لره | اچې خوري | طعام | او ګرزي | په بازارونو کښې اولې رااونه لیږلې شوه

دا لا څنګه رسول دی چې خوراکونه کوي| او په بازارونو کښې ګرځي |ده ته څوک فرښته

اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا ۙ اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ

ده ته | یوه فرښته | چې وي | دهغه سره | یرونکی | یا چې راغورزولې شوې وي | ده ته |

ولې را ونه لیږلې شوه |چې هغه ورسره د ویرولو دپاره ملګرې وې ایا ورته د غیبو

كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّأْكُلُ مِنْهَا ط وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ

یوه خزانه | یا چې وي | ده لره | یو باغ | چې خوراك ئې کولې | دهغې نه | اووائي ظالمان

خزانه ورکړې شوې وې |ایا ورسره باغ وې |اچې دهغې نه ئې خوړلې |اودا ظالمان وائي

اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ⑧ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا

نهٔ یئ روان تاسو | مګر | په یو سړي پسې | اچې جادو پرشوېدې |او ګوره اے نبی| څرنګې بیانوی دوئ

چې تاسو خلق خو په داسې سړي پسې روان یئ اچې جادو پرې شوې دې |ائې نبیﷺ ! اوګوره کنه

لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ⑨ ع

تالره | مثالونه | پس دوئ بې لارې شوي دي | پس دوئ طاقت نهٔ لري | دلارې موندلو

دوئ ستاپه حقله څنګه عجیبه عجیبه خبرې کوي |دوئ ګمراه شول نوځکه دوئ سمه لار موندلې نشي

تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا

ډیر برکت والا دې | هغه ذات | که اوغواړي | نو اوبه ګرځوي (دربه کړي) | تالره | بهتره

هغه ذات ډیر د برکت خاونددې |که اوغواړي نو تاته بهٔ ددې نه هم بهتر څیز درکړي

مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ

ددې څیزونو نه | ډیر باغونه (بهٔ وي) | چې بهیږي به | لاندې (دونو) دهغې نه | نهرونه

(یعنې) باغونه چې دهغې (دونو) لاندې به ولې بهیږي |او ستا دپاره به

وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ⑩ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ قف وَاَعْتَدْنَا

او جوړ به کړي تالره | محلونه | بلکه دروغ ګنړلې دوئ | قیامت | او تیار کړي دي مونږه

محلونه جوړ کړي| خبره داده چې دا خلق د قیامت نه منکر دي |او څوک چې د قیامت نه

لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ⑪ ج اِذَا رَاَتْهُمْ

دپاره دهغه چا | چې دروغ ګنړي | قیامت | دلمبووور | کله چې | اووینې دوئ هغه وور

منکر وي |نو مونږ هغوئ دپاره دوزخ تیار کړې دې |څه وخت چې هغه (خلق)

مِّنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ⑫ وَاِذَآ

دخاني لرې نه | واوبه وري دوئ | دغه اور لره | غصه | او اوازونه | او کله چې

دوزخ د لرې نه اووینې |.........نو دوئ به دهغه غصه او اوازونه واوري |اوهر کله چې

Scanned with Ca

| اُلْقُوْا | مِنْهَا | مَكَانًا | ضَيِّقًا | مُّقَرَّنِيْنَ | دَعَوْا | هُنَا لِكَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اوغورزولې شي دوئ | ددوزخ نه | خائې | تنګ ته | تړلې شوی | اوازونه به اوکړي | هلته |

دوئ ددوزخ په یو تنګ خائې زنځیرونو کښې تړلې شو یاوغورزولې شی انو هلته به دمرګ دعاګانې

| ثُبُوْرًا ۝ | لَا تَدْعُوا | الْيَوْمَ | ثُبُوْرًا | وَّاحِدًا | وَّادْعُوْا | ثُبُوْرًا | كَثِيْرًا ۝ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هلاکت ته | مه رابلئ تاسو | نن ورځ | مرګ (هلاکت) | یو | اوراوبلئ | مرګ | ډیر |

اوغواړی | (ورته بهٔ او وئیلې شی) چې نن مرګ مه غواړئ ابلکه ډیرډیر مرګونه غواړئې

**قوله تعالى:- وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ**

**دنبوت مقام اودجاهلانواعتراضونه:**-دې بې وقوفتوب ته ګوره درسول الله ﷺ درسالت نه د انکارو جه بیانوی چه دې دخوراك څښاك ولې محتاج دې اوبازارونوته دتجارت اولین دین د پاره ولې ځی راځی؟ ده سره یوفرښته ولې نازله نه کړې شو؟چه هغې دده د دعوې تصدیق کړې وواوخلق ئی دده ددین طرف ته رابللې او دالله ﷻ دعذاب نه ئی خبرولې. فرعون هم دا وئیلې ووچه ﴿فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْجَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ۝﴾[1] ده ته د سرو زرو بنګړی ولې نه دی اچولې شوی یاد ده د امداد دپاره دآسمان نه فرښتې ولې نه نازلیږی؟ ددې کافرانوزړونه یو شان دی دحضورﷺ دزمانې کافرانوهم داسې وئیلې ووچه ښه ده که داسې نه وی نوده ته یوه خزانه ولې نه شی ورکولې چه ته پخپله په آرام باندې خپل ژوندتیرکړې وې اونورخلقو ته ئی هم ورکولې یاده سره چرته یوګرځیدونکې باغ وې چه د خپل خوراك څښاك نه خو بې فکره وو بیشکه دا هرڅه په الله ﷻ باندې آسان دی. خو زرداڅیزونه نه ورکولوکښې هم حکمت دې دا ظالمان مسلمانان هم دهوکه وی اووائی چه تاسو یو داسې سړی پسې لګیدلې ئی په کوم چه چاجادوکړې دې.ګوره خوځنګه بې بنیاده خبرې کوی؟چرته په یوه خبره هډواودریږی نه اخوا دیخوا اوړی راوړی. کله ئی ورته جادوګراووئیل نو کله ئی په ده باندې دجادوکیدلواووئیل لکه ئی ورته شاعر اووئیل اوکله ئی ورته دچاخودلې اووئیل کله ئی ورته کذاب اوکله مجنون اووئیل سره د دې چه دا ټولوخبرې فضول بکواس دې اود دې غلط کیدل ددې نه هم ثابت دی چه پخپله په دوی کښې اختلاف اوتضاددې. په یوه خبره پخپله ددې کافرانو اعتماد نه پیداکیږی.کله ئی پریږدی اوکله ئی بیا کوی.کله ئی بدلوی په یوه صحیح خبره هډواودریږی نه. کوم طرف ته چه متوجه کیږی لارهیروی ټکرې خوری حق خو یوه خبره ده په دې کښې مخالفت اواعتراض نه شی کیدلې.ناممکن دی چه داخلق د دې ګډوډو خبرونه اووتلې شی بې شکه که رب اوغواړی نوداکافران چه څه وائی د دې نه ډیر بهتر خپل نبی ﷺ ته په دنیاکښې ورکړی هغه د ډیروبرکتونو والا دې د کانړو نه جوړشوی کورته عرب قصروائی که هغه لوئ وی اوکه وړوکې([2])حضورﷺ ته خود الله ﷻ د طرف نه وئیلې شوی وو که تاسو غواړئی نود زمکې خزانې اود هغې کنجیانې تاته درکړې شی اوددنیابه دومره مالك کړې شي چه بل چاته به دومره نه وی ملاوشوې.دې سره به ستاد آخرت انعامونه ځنګه چه دی هم هغه شان به باقی وی خورسول الله ﷺ دا خوښ نه کړل اوجواب ئی ورکړو چه زمادپاره داټول هم په آخرت کښې جمع کړه.

**دکافرانو د جوابونووجه او دوئ ته جوابونه:**-بیافرمائی داڅه چه دوی وائی داصرف په تکبر دښمنئی ضد د وجه نه وائی.دا نه دی چه ددوی وئیلې شوې ویناډبه اوشی نودوی به مسلمانان شی.هغه وخت به بیا څه بل څه بهانه جوړه کړی ددوی په زړه کښې خودا خیال دې چه قیامت نه کیدونکې دې خودداسې

---

[1] ) ۴۳/الزخرف:۵۳.
[2] ) الطبری:۱۹/۳۴۳.

Scanned with Ca

خلقو دپاره مونږ هم دردناك عذاب تيار كړې دې كوم چه دهغوى د برداشت نه بهر دې چه لمبې وهونكې سوركيدونكې اوسوزونكې تيزأوردې. اوس به لادوزخ د دوى نه د سلوكالو په فاصله وى چه كله د هغوى نظر په دوزخ اود دوزخ نظر په دوى باندې پريوځى نو هغه دوزخ به تاويږى راتاويږى او په جوش اوتيزنى سره به آوازونه راوباسى كوم چه به دابدنصيب اورى اودهغوى واربه خطاكيږى هوش به ترې خى واربه ئى خطاكيږى دوزخ به په دې بدكارانو باندې غاښونه چيچى او په غصه كښې به تاويږى او شوربه كوى چه كله به ددې كافرانو يوه نواله جوړه كړى اركله به د دې ظالمانونه بدله واخلم؟

**دوزخ دپاره سترګې هم شته خطرناك اوازونه به كوى:**-سورت تبارك كښې دى كله چه داخلق په دې كښې واچولې شى نود لرې نه به د دې ويرونكى آوازونه اورى اوهغه به داسې لمبې وهى چه هم اوس به د جوش د وجه نه اوشليږى([1])ابن ابى حاتم كښې دى رسول الله ﷺ اوفرمائيل كوم سړې چه زمانوم واخلى اوزماپه ذمه هغه خبره اوكړى كومه چه مانه وى كړې اوكوم سړې چه دخپل موريلارنه بغيرپل چاته موريلار اوښائى اوكوم غلام چه دخپل آقانه بغير بل طرف ته د خپلې غلامئى نسبت اوكړى هغه دې د دوزخ د دواړو سترګوپه مينځ كښې خپل ځاى جوړكړى. خلقو ونيل يارسول الله ﷺ د دوزخ هم سترګې دى؟حضورﷺ اوفرمائيل او ولې تاسود الله ﷻ د كلام داآيت نه دې اوريدلې ﴿إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا﴾([2])يوځل حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ حضرت ربيع m وغيره ځان سره اخستې وو چرته روان وو په لاركښې دلوهاردكان راغلوهغوى هلته اودريدل اوكومه اوسپنه چه په اُور كښې ګرميدله هغه ئى اوكتله. د حضرت ربيع خو ډير خراب حال شو د الله ﷻ د عذاب نقشه ئې د سترګو په وړاندې راتيره شوه نيزدې وه چه بې هوشه شوې راپريوتلې وو.دې نه پس هغه د فرات غاړې له لاړو هلته ئى تندور اوليدلوچه دهغې په بيخ كښې اُورشغلې وهلې ناڅاپى دهغوى د ژبې نه دا آيت اووتلودې اوريدوسره حضرت ربيع بې هوشه شو راپريوتلو په كټ ئې واچولو كورته ئې راورسولو. د سحرنه واخله ترغرمې پورې حضرت عبدالله بن مسعودﷺ هغه سره ناست وو او خيال ئې كولو خو حضرت ربيع ته هوش رانغلو. د حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دې كله چه دوزخيان د دوزخ طرف ته راښكلې شى دوزخ به چغې كړى اوداسې غرارې به شروع كړى چه ټول اهل محشر به اوويريږى. بل روايت كښې دى بعضې خلق چه كله دوزخ ته بوتلې شى دوزخ به راغونډشى الله ﷻ چه مالك رحمن دې دده نه تپوس اوكړى داڅه خبره ده؟ هغه به جواب وركړى ياالله ده خو به په خپلو دعاګانوكښې د دوزخ نه پناه غوښتله نن هم پناه غواړى. الله ﷻ ته به رحم راشى حكم به اوشى چه دې پريږده. څه نور خلق به بوځى هغوى به وائى اې پروردګار زمونږ خو ستانه داګمان نه وو الله ﷻ به فرمائى تاسو څه ګنړل؟ هغوى به وائى هم دا چه ستا رحمت به مونږ پټ كړى ستاكرم به زمونږ سره شامل حال شى ستا خور رحمت به مونږ په خپله لمن كښې واخلى. الله ﷻ به د هغوى خواهش هم پوره كړى او حكم به اوكړى چه زما دابنديګان هم پريږده. څه نور خلق به راښكونكې راولى د دوى په كتلو سره به دوزخ شور جوړكړى اود هغوى طرف ته به وراوړاندې شى اوداسې غرمبارې به شروع كړى چه ټول اهل محشر به اوويريږى. حضرت عبيدبن عميرفرمائى كله چه دوزخ د غصې په وجه رچيږى اوشور چغې صورې جوش اوخروش شروع كړى هغه وخت به ټولې مقربې فرښتې اوعزت داره اود درجو پيغمبران به رچيږى تردې چه حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ به هم په زنګونونوباندې راپريوځى اووائى به چه اې الله زه نن تانه صرف د خپل ځان بچاؤغواړم نور هيڅ نه غواړم. داخلق به داسې په تنګو اوتيارو مكانونوكښې وراوټونبلې شى لكه چه نيزه په يوه سوړه كښې وى.په بل روايت كښې دحضورﷺ ددې

---

[1]) ۶۷/الملك:۷-۸.
[2]) ۲۵/الفرقان:۱۲.الطبرى:۱۹/۲۴۴.

Scanned with Ca

شی لکه چه نیزه په یوه سوړه کښې وی.په بل روایت کښې دحضورﷺ ددې ایت متعلق سوال کیدلوسره د حضورﷺ دا فرمائیل نقل دی لکه چه میخ په دیوال کښې په سختئ سره ټکوهلې شی دغه شان به دا دوزخیان ورخښولې شی دوی به هغه وخت ښه راګیر کړې شوی وی،وینښته وینښته به نی تړلې وی. هلته به هغوی مرګ ته مرګ اوهلاکت ته به حسرت وانی هغوی ته به وئیلې شی چه یومرګ ولې راغواړئی؟ ولې په سوونوزرګونومرګ نه راوغواړئی؟ مسند احمد کښې دی د ټولونونه اول به ابلیس ته د دوزخ لباس واغوستلې شی دې به دا په خپل تندی باندې کیږدی د روستونه به نی راکاړی اوخپل اولاد به روستولګولوسره به مرګ او هلاکت ته چغې وهی او منډې به وهی. ده سره به د ده اولاد هم ټول ارمان اوافسوس مرګ او غرقیدل راغواړی هغه وخت به هغوی ته دا وئیلې شی (۱) د ثبور نه مراد مرګ هلاکت ویل حسرت خساره بربادی وغیره دی. لکه چه موسی ﷺ فرعون ته وئیلې وو ﴿وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا﴾(۲)فرعون زه دا ګنړم چه ته به ختمیږی بربادیږې به.شاعر هم لفظ ثبور د هلاکت او بربادئی په معنی کښې راوړی.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قُلۡ | أَذَٰلِكَ | خَيۡرٌ | أَمۡ جَنَّةُ ٱلۡخُلۡدِ ٱلَّتِي | | وُعِدَ | |
| ورته اووایه | آیا دا انجام | بهتر دی | یا جنت دهمیشوالی | هغه | چی وعده شوی ده (دهغې) | |
| تپوس تری نه اوکړه چی دا(دوزخ) غوره دی ایا همیشه جنت کوم چی د نیکانو خلقو | | | | | | |
| ٱلۡمُتَّقُونَۚ | كَانَتۡ | لَهُمۡ | جَزَآءٗ | وَمَصِيرٗا ۝١٥ | لَهُمۡ | |
| دپرهیزګارانو سره | وی به (دا) | دپاره دهغوئ | بدله | او ځائې دورتلو | وی به دپاره دهغوئ | |
| سره وعده شوې ده | هغه ددوئ دپاره بدله او د واپس راتلو ځائې دې | هلته چه دوئ څه | | | | |
| فِيهَا | مَا | يَشَآءُونَ | خَٰلِدِينَۚ | كَانَ | عَلَىٰ رَبِّكَ | |
| په هغې کښی | هغه څه | چی غواړی هغوئ | همیشه به وی په هغې کښی | داده | په رب ستا باند | |
| غواړی هغه بهٔ موجود وی | همیشه به په کښې اوسیږی | دایوه وعده ده | ستاسو درب | | | |
| وَعۡدٗا | مَّسۡـُٔولٗا ۝١٦ | | | | | |
| وعده | غوښتلې شوی (خامخا پوره کونکی) | | | | | |
| په ذمه دغوښتلو قابله | | | | | | |

**قوله تعالى:-** قُلۡ أَذَٰلِكَ خَيۡرٌ أَمۡ جَنَّةُ ٱلۡخُلۡدِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۚ

**جنت او جنتیان:-** پورته بیان اوفرمائیلې شو چه دابدکاران به پړمخې په ذلت اوخواریدوسره د دوزخ طرف ته راښکلې شی او سرښکته به هلته غورزولې شی. بنداوتړلې شوې به وی او تنګ تیاره ځائ به وی نه خلاصیدې شی نه حرکت کولې شی نه تختیدې اونه وتې شی. بیافرمائی چه اوښایه دا ښه دی که هغه کوم چه په دنیاکښې دګناهونونه بچ کیدل د الله ﷻ ویره نی په زړه کښې وه اونن د هغې په بدله کښې خپل اصلی ځائ ته اورسیدل یعنی جنت ته کوم ځائ چه د خپلې خوښې نعمتونه دی د همیشه خوندونه دې دهمیشه خوشحالئی دی چه د هغوی د پاره موجود دی، ښکلې خوراکونه ښکلې اسبابونه بسترې مزیدارې سورلئی ښائسته لباسونه ډیر ښکلی کورونه جوړشوی ښائسته کړې شوی پاکې صفا

---

(۱) احمد:۳/۱۵۲ مصنف ابن ابي شية :۷/۵۵
(۲) ۱۷/الاسراء:۱۰۲

Scanned with Ca

حورې خوندورکونکې نظارې د هغوی د پاره موجود دی چرته چه د چا نظر خوځه چه خیال نی هم نه شی رسیدلې اونه ددې مزو بیان د چا غوږ اوریدلې. بیا د دې د کمیدو یا خرابیدو ماتیدو ختمیدو هم څه خطره نشته نه به د هغه ځایٔ نه ویستې شی اونه به دغه نعمتونه کم شی. نه ختمیدونکې بهترین ژوندد مدام رحمت اودهمیشه دولت به دوی ته ملاوشو اوهم د دوی شو.دا درب احسان او انعام دې چه په هغوی باندې اوشو اودکوم چه دوی، حقدار وو.درب تعالی عزوجل وعده ده چه هغه په خپله ذمه کړې ده.کوم چه به کیږی دکومې نه کیدل چه ناممکن دی اودکوم چه غلط کیدل محال دی.دهغه نه دهغه د وعدې دپوره کولو سوال کوئی دهغه نه جنت غواړئی هغه ته خپله وعده وریاده کړئی داهم د هغه فضل دې چه د هغه فرښتې د هغه نه دعا کوی چه اې رب العالمین ستا بندیگانوسره چه ستا کومه وعده ده هغه پوره کړه دوی جنت عدن ته بوځه. د قیامت په ورځ به مؤمن وائی چه اې زمونږ پروردګارا ستا وعده مونږ وړاندې کیخودې وه اوعمل مو کولو نن ته خپله وعده پوره کړه. دلته اول د دوزخیانو ذکر اوشوبیاد سوال کولونه پس د جنتیانوذکر اوشو. په سورت صافات کښې اول د جنتیانو ذکر اوشو اود سوال نه پس بیا د دوزخیانوذکر اوشو چه آیا دغه بهتر دی که د زقوم ونه؟ کوم چه مونږ د ظالمانو د پاره فتنه اوازمیښت جوړکړې دې. کومه چه د دوزخ د بیخ نه راوخی د کومې میوې چه دومره بدرنګه دی لکه د مار ځجه. دوزخیان به دا خوری اوپه دې به خیټه ډکوی بیابه خوټکیدلې اوبه وینې نوونه وغیره ګډودې کړې شوې اوبه دوی‌ته څکلوله ورکوی اوبیا به دوی په دوزخ کښې وی. هغوی خپل پلاران نیکونه ګمراه اولیدل اوډیر زیات ئی هغوی پسې ټوپونه شروع کړه. (۱)

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ
| او هغه ورځ | چې راجمع کړی الله دوئ لره |
او په کومه ورځ چې الله ﷻ دوئ راجمع کړی | او ورسره

وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنْتُمْ
او هغه معبودان | چې عبادت ئې کوی دوئ | بې دالله نه | نو اوبه وائی الله دوئ ته | ایا تاسو |
هغه معبودان هم چې دوئ به ئې د الله ﷻ نه بغیر عبادت کولو | نو بیا به ورته اووائی چې

أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ ۝ قَالُوا
بې لارې کړی وؤ | بندګان زما | دا کسان | یابې لارې شوی وؤ پخپله | دنیغې لارې نه | اوبه وائی هغوئ
ایا تاسو زما دا بندګان ګمراه کړی وو؟ ایا دوئ پخپله دلارې نه بې لارې شوی وو؟

سُبْحَانَكَ مَا كَانَ يَنْبَغِي لَنَا أَنْ نَتَّخِذَ مِنْ دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاءَ
پاکی ده تالره | نه ښائی مونږ لره | چې اونیسو مونږ | بې ستا نه | څوك دوستان |
هغوئ بهٔ اووائی ستا دپاره پاکی ده | مونږ دپاره دا خبره مناسب نه وه | چې ستا نه بغیر مو بل مددګار نیولې

وَلَٰكِنْ مَتَّعْتَهُمْ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا الذِّكْرَ
ولیکن نفع ورکړه تادوئ ته | او پلارانو ددوئ ته | تر دې پورې | چې هیر کړو دوئ نصیحت |
لیکن (حقیقت دادې) چې هم تا هغوئ او دهغوئ پلارانوته خوشحالی ورکړې ده | تردې چې ستایادول

(۱) ۳۷/الصافات:٦٢-۷۰.

Scanned with Ca

وَكَانُوا قَوْمًا بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوكُمْ

او وو دوی | یو قوم | هلاك شوي | پس دغه شان به دروغژن کړي هغه معبودان تاسو لره | ـ

ئې هیر کړل او هلاک شول | نو (دغه فرضي معبودانو) ستاسو خبري پخپله دروغژني کړي انو اوس نه

بِمَا تَقُولُونَ لا فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا

په هغه خبره کښې | چې وايئ تاسو | نونهٔ به لرئ طاقت تاسو | دارولو دعذاب (دخان نه) |

خو تاسو په خپله دا (عذاب) بندولي شئ او نه دچا نه مدد

وَلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ

اونهٔ دمدد کولو دیو بل سره | او هغه څوك | چې ظلم ئې اوکړو | ستاسو نه | او به څکوو هغه ته |

اخستلې شئ او چاچې په تاسو کښې (په ځان ظلم) اوکړو نو مونږ بهٔ پرې دغټ عذاب

عَذَابًا كَبِيرًا ﴿١٩﴾

عذاب لوئ |

مزه څکوو |

قوله تعالى:- وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

**مشرکان اوده هغوی معبودان د الله ﷻ په عدالت کښې** :- بیان کولې شی چه مشرکانو د الله ﷻ نه بغیر د چاچا عبادتونه کول دقیامت په ورځ به هغه په دوی باندې سره دعذابه زباني رټنې دپاره هم راوستلې شی دې دپاره چه هغوی پښیمانه شی. حضرت عیسی ﷺ حضرت عزیر ﷺ اوفرښتې د کومو کومو چه دوی عبادتونه کړې وو([1]) ټول به موجود وی اوعبادت کونکی هم اوټول به په دې ګټره کښې حاضر وی. هغه وخت به الله ﷻ ددې معبودانو نه تپوس اوکړی چه آیاتاسو زمادې بندیګانوته دخپل عبادت کولو وئیلې وو یادوی پخپله داسې کول؟په بل آیت کښې دی چه دحضرت عیسی ﷺ نه به هم داسې سوال کولې شی؟دکومې چه به هغوی داجواب ورکړی ما هیڅ کله دوی ته داسې تعلیم نه دې ورکړې لکه څنګه چه تاته ښه معلومه ده. ماخودوی ته هم هغه وئیلې وو کوم چه تاماته خودلې وو چه د عبادت لائق صرف هم یو الله ﷻ دې([2])دا ټول معبودان چه د الله ﷻ نه علاوه وو اودالله ﷻ رښتوني بندیګان وو دشرك نه ویزاره وو جواب به ورکړی چه یومخلوق ته مونږ ته یا دوی ته دا لائق نه وو چه ثانه بغیرد بل چا عبادت اوکړو. مونږ چرې هم دوی ته د شرك تعلیم نه وو ورکړې.هم پخپله دوی د خپلې خوشحالنې نه دنورو عبادت کول شروع کړی وو.مونږ د دوی نه او ددوی دعبادتونونه ویزاره وو.مونږ د دوی ددې شرك نه خلاص یومونږخو پخپله ستا عبادت کونکی یو بیاداڅنګه ممکن وه چه د معبودیت په منصب باندې راشو؟ داخو مونږ له هډو جائز نه وه. ستا ذات د دې نه پاك اوډیراوچت دې چه ستا دې څوك شریك وی.یوبل آیت کښې صرف دفرښتو نه ددې سوال کیدل بیان شوی دی.(نَتَّخِذَ)دویم قراءت (نُتَّخَذَ) هم دې یعنی دا هیڅ شان سره نه شو کیدې نه زمونږ دپاره دالائق ووچه خلق دې زمونږ عبادت اوکړی اوستاعبادت دې پریږدی.څکه چه مونږ خوپخپله ستا بندیګان یو اوستاد درسوالکریو. په دواړو صورتونوکښې مطلب نیزدې نیزدې هم یو دې. د هغوی د دهوکه کیدو وجه خو زمونږ په عقل

[1]) الطبری:۱۹/۲۴۷.
[2]) الطبری:۱۹/۲۴۷.

Scanned with Ca

صرف داراخې چه دوی ته عمرونه ملاو شوخوراك څښاك ورته ملاو شوبدمستئی کښې وړاندې شو
تردې چه دمعرفت کوم نصیحت درسولانو په ذریعه رسیدلې وو هغه ئې هیرکړوستا د عبادت نه او
ربښتونی توحید نه اخوا شو.داخلق وو هم بې خبرد هلاکت په کنده کښې پریوتل اوتباه برباد شول.﴿بورا﴾
نه مطلب هلاکت والا دی([1]) لکه څنګه چه ابن زبعری m په خپل شعرکښې دالفظ هم په دې معنی
کښې تړلې دې.اوس به الله ﷻ دې مشرکانو ته اوفرمائي ګورئی اوس خوستاسو دمعبودان پخپله تاسو
دروغژن ګڼړی تاسو خودوی خپل ګڼړلې وو اوداخیال مو کولو چه دوی به تاسو الله ﷻ ته ورنیزدې کړی
د هغوی عبادتونه موکول نن دوی تاسو نه په میلونوتختی تاسو نه ځان له کیږی اوویزاری درنه ښکاره
کوی.لکه چه ارشاد دې ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗۤ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ۝ وَاِذَا حُشِرَ
النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ۝﴾([2])یعنی ددې نه به زیات ګمراه څوك وی چه دالله ﷻ نه بغیرداسې
نورو ته آواز کوی چه د قیامت پورې د هغوی خوښه نه شی پوره کولې بلکه هغوی خود دوی د دعا نه
غافل دی اودمحشر په ورځ به دا ټول د دغه ټولو دښمنان وی اودهغوی دعبادتونو به صفا منکران
شی. نو دقیامت په ورځ به دا مشرکان نه د خپلو خانونونه د الله ﷻ عذاب اخواکړې شی اونه به خپل
امداد اوکړې شی اونه به څوك خپل امدادیان اومومی.په تاسو کښې چه څوك هم الله ﷻ چه واحد ذات
دې سره شرك اوکړی مونږ به هغوی ته زبردست اوسخت عذاب ورکوو.

| |
|---|
| وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ |
| او اے نبی \| نۀ ووه لیږلی مونږ \| مخکښې ستانه \| درسولانونه \| مګر ووۀ هغوی |
| اومونږ چې ستانه وړاندې هر څومره پیغبران لیږلی دی انوټولو به |
| لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِى الْاَسْوَاقِ ؕ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ |
| چې خوړولو به ئې طعام \| او ګرزیدل به \| په بازارونو کښې \| او ګرزولی دی مونږ \| خینې دتاسو \| |
| خوراکونه هم کول \| اوپه بازارونو کښې به هم ګرځیدل \| اومونږ تاسو دیوبل دپاره د |
| لِبَعْضٍ فِتْنَةً ؕ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا۝ |
| دپاره دخینو نورو \| ازمیښت \| ایا تاسو صبر کوئ \| او دې رب ستا \| ښۀ لیدونکې \| |
| د امتحان ذریعه هم ګرځولی یئ انواوس هم صبر کوئی(که نه) اوستارب ډیر ښه وینی ګوری |

**قوله تعالی:- وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ**

**داهریو څه هم دنبوت منافی نه دی:-** کافرانوچه به داکوم اعتراض کولوچه دنبی خوراك څښاك او تجارت
اوبیوپارسره څه کاردې؟ددې جواب ورکولې شی چه وړاند ینوټولوپیغمبرانو انسانی ضرورتونه لرل
خوراك څښاك هغوی سره هم لګیدلې وو.تجارت سوداګری کارکسب هغوی هم کول.دا څیزونه د نبوت
خلاف نه دی.او الله ﷻ هغوی ته د خپل خاص پیرزونې نه هغه پاك اوصاف نیك خصلتونه ښکلې اقوال
اختیارمنداقوال ښکاره دلیلونه اوچتې معجزې ورکړې وې چه دکامل عقل خاوند هوښیاراوبینا په دې
مجبورکیدل چه دهغوی نبوت اومنی اودهغوی صداقت اومنی. هم ددې آیت په شان بل آیت ﴿اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

[1]) الطبری:۱۹/۲٤۸.
[2]) ٤٦/الاحقاف:٥-٦.

Scanned with Ca

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ۝﴾ (۱) یعنې تانه وړاندې چه هم څومره انبیاء علیهم السلام راغلي تول په ښاریوکښې اوسیدونکي انسانان وو. بل آیت کښې دی ﴿وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوْا خٰلِدِيْنَ۝﴾ (۲) مونږ دهغې داسې بدنونه نه ووجوړ کړي چه د خوراك څښاك نه آزاد وی. مونږ خو په تاسو کښې د یویو ازمیښت په بل بل سره کوو دې د پاره چه حکم منونکی او حکم نه منونکی ښکاره شي. صبر کونکې اونه صبرکونکې معلوم شی. ستا رب چه الله ﷻ دې بینا او هوښیاردې. ښه پیژندونکې دې چه د نبوت حقدار څوك دې؟ لکه چه فرمائی ﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ۝﴾ (۳) د رسالت د منصب اهلیت په چا کښې دې؟ هغه هم الله ﷻ پیژنی اوهم هغه ته د دې هم علم دې چه د هدایت مستحق څوك دې اوڅوك نه دې. د الله ﷻ اراده دبندیګانود امتحان داخستلو ده ددې دپاره انبیاء کرام علیهم السلام په معمولی حالت کښې ساتی ګنی که هغوی ته په کثرت سره دنیاورکړې شوې وه نود هغوی د مال په لالچ کښې به ډیر زیات خلق هغوی سره ملګری شوی وو نوبیا به دروغژن اورښتونی یوځائ شوې وو. په صحیح مسلم شریف کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه الله ﷻ فرمانیلی دی چه زه پخپله تا اوستا په ذریعه باندې نورخلق ازمیښت کونکې یم (۴) مسندکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی که ما غوښتل نوماسره به د سرو زرو او سپینوزرو غرونه ګرځیدل (۵) اوپه صحیح حدیث شریف کښې دی چه حضورﷺ ته په نبی اوبادشاه جوړیدوکښې اونبی اوبنده جوړیدوکښې اختیارورکړې شونو حضورﷺ بنده اونبی جوړیدل خوښ کړل. (۶) ﴿فصلوات الله وسلامه علیه وعلی اله واصحابه اجمعین﴾

﴿الحمدلله﴾ اتلسمې سپارې تفسیر مکمل شو.

..............................

..................

..........

---

(۱) ۱۲/یوسف:۱۰۹. الخ

(۲) ۲۱/الانبیاء:۸.

(۳) ۶/الانعام:۱۲۴.

(۴) صحیح مسلم کتاب الجنة باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیا اهل الجنة واهل النار:۲۸۶۵.

(۵) مسندابی یعلی:۴۹۲۰.

(۶) احمد:۲/۲۳۱،ابن ابی حبان:۶۳۳۱وسنده صحیح.

Scanned with Ca

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا

او وائی | هغه کسان | چې امید نۀ لري | دملاقات زمونږ | ولې نۀ رالیږلې کیږي | مونږ ته

اوکوم خلق چې مونږ سره دملاقات امید نه ساتي |هغوئ اووئیل چې په مونږ باندې

الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

فرښتې | یا ولې نه وینو مونږ | رب زمونږ | په تحقیق سره ډیر تکبر اوکړو دوئ | په زړونو خپلو کښې

فرشتې ولې نه نازلیږي|یا مونږ خپل رب لیدلې وې | دوئ خپل ځان ډیر لوئې ګڼرلې دې

وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ

او دحد نه واوړیدل | په اوړیدو | لویو سره | په کومه ورځ | چې اووینې دوئ | فرښتې |

اود حدنه ډیر لرې تلی دی | په کومه ورځ چې دوئ فرشتې اووینی| نو هغه ورځ به

لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا

نه به وی خوشحالی | په دغه ورځ | دپاره دمجرمانو | اووائی به هغوئ | پناه غواړو |

دمجرمانو دپاره دخوشحالئ ورځ نه وی | او دابه وائی چې پناه غواړو پناه |

مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾ وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ

پناه تینګه په الله پورې | او راواړاند به شو مونږه | هغې ته چې کړی دی هغوئ | دعمل نه |

اومونږ به ددوئ دعملونو طرفته توجه اوکړو| نوهغه به ورله داسې کړو

فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ

پس اوبه ګرزوؤ مونږ هغه | دوړه | الوزولې شوی | ملګری د جنت به | په دغه ورځ | بهتره وی

چې هغه به الوتونکی خاورې اوګرځوو(چه هیڅ حیثیت به یئ نه وی)دجنت خاوندان به په دغه ورځ

مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾

په لحاظ دځائې دقرار سره | او ډیر ښه به وی | په لحاظ دآرام دغرمې |

په ښو ځایونو اوښائسته خواب ګاهونو کښې په آرام وی|

**قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا**

**دکافرانویوه عجیبه مطالبه** کافرانوبه دنبوت دانکاریوه بهانه داهم جوړوله چه کۀ الله ﷻ څوک رسول رالیږلې نویوه فرشته نې ولې نه رالیږله.لکه چه په بل آیت کښې دی چه هغوی به یوه بهانه داهم کوله چه ﴿لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ﴾ یعنی چه ترڅو پورې پخپله مونږته هغه رانکړې شی کوم چه رسولانوته ورکړې شوې دې مونږبه بالکل ایمان رانۀ وړو،،مطلب دادې چه لکه څنګه پیغمبرانوته د الله ﷻ دطرفه فرشته وحی راوړی.مونږته دې هم راځی،اوداهم کیدې شی چه دهغوی مطالبه داوی چه فرشتې اووینی،په خپله فرشتې راشی مونږ پوهه کړی اودنبی کریم ﷺ د نبوت تصدیق اوکړی نومونږبه تاسولره نبی اومنو.لکه څنګه چه بل آیت کښې دی چه کافرانواووئیل.﴿اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا﴾ یعنی ته الله پاك راوله، فرشتې په ښکاره مونږته راوله،،ددې پوره تفسیربه **سورة سبحان الذی اسری یابنی اسرائیل** کښې

Scanned with Ca

تیرشوي دي.دلته هم دهغوی دامطلب بیان شوی دي چه یاخومونږته فرښتي راکوزي شي یامونږخپل رب اووینو.داخبره ځکه دهغوی دخُلي نه اووتله چه دوی به خپل ځانونه ډیراوچت ګنړل.اودهغوی غرور دحدنه زیات شوي وو.ددوی دایمان راوړلونیت نه وو.لکه چه فرمان دي﴿وَلَوۡ أَنَّنَا نَزَّلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ﴾ یعنی که مونږپه دوی باندې فرښتې هم نازل کړې وې اودوی سره مړو خبرې کړې وې نورهم ټول څیزونه مونږ دوی ته مخامخ کړې وې بیابه هم دوی ته ایمان راوړل نه وو نصیب شوي،الله ﷻ فرمائي فرښتې به دوی اووینې لیکن هغه وخت به دوی دپاره دهغوی لیدل څه ښهٔ نه وي.ددې نه مراد مرګ دزنګدن وخت دي.چه کله فرښتې کافرانوته راځي اود الله ﷻ دغضب اودجهنم هغوی ته خبرورکوي.او وائي چه اې پلیت نفسه چه په پلیت اوناپاك بدن کښې وې ګرم هواګانو او ګرمواوبو طرف ته او ګرم سوروطرف ته روان شه.هغه د راوتلونه ځان بندوی اوپه بدن کښې پټیږي.

په دې باندې فرښتې هغوی لره په مخونواوپه شاګانوباندې وهي.لکه چه فرمان دي ﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ﴾یعني اِرمان چه تاظالمانولره دهغوی دزنګدن په وخت لیدلې چه کله فرښتې دهغوی د وهلودپاره لاسونه وړاندې کوي.اووائي به،چه خپل روحونه راوباسئ نن به تاسودذلت عذاب ځکئ ځکه چه تاسوبه په الله ﷻ پورې ناحق الزامونه لګول.اودهغهٔ دآیاتونونه به تاسو تکبرکولو.د مؤمنانوحال به دهغوی نه بالکل په عکس وي.هغوی دخپل مرګ په وخت خوشخبرئ (زیری) ورکوي.اود همیشه خوشحالو زیری ورکوي.لکه چه فرمان دي.﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ﴾ چاچه الله ﷻ ته خپل رب اووئیل اووې منلو،بیاپه دې باندې کلك پاتي شول.هغوی ته زمونږ فرښتې راځي.اووائي چه تاسومه ویریږئ بلکه هغه جنتونوته دتلو خوشحالي کوئ.دکومې چه به تاسوته وعده درکولې شوه.مونږستاسو مددګاروو په دنیاوي ژوندکښې هم اوپه آخرت کښې هم،تاسوچه څه غواړئ هغه به بیاموميئ اودکوم څیزچه خواهش کوئ هغه به راموجود شي.دابه ستاسوملمستیاوی دبخښونکی مهربان الله ﷻ دطرفه،په صحیح حدیث کښې دي چه فرښتې دمؤمن روح ته وائي اې پاك روح چه په پاك بدن کښې وې ته دالله ﷻ رحم او رحمت طرف ته روان شه.چه هغه ستانه ناراضه نه دي.([1])د سورة ابراهیم آیت﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ﴾په تفسیرکښې داټول حدیثونه په تفصیل سره بیان شوی دی.بعضو وئیلی دی چه مراد ددې نه دقیامت په ورځ فرښتې لیدل دی.کیدې شي چه په دواړوموقعو باندې دفرښتو لیدل مرادوی په دې کښې دیوقول دبل سره منافات نشته.ځکه چه په دواړوموقعوباندې به هرنیك اوبدفرښتولره ویني.دمؤمنانوبه درحمت او رضامندئ زیری سره دفرښتو دیدارکیږي اودکافرانوبه دلعنت اوغصې اودعذاب آوازونوسره، فرښتې به هغه وخت دې کافرانوته صفا اووائي چه اوس کامیابي اوخوشحالي په تاسوباندې حرام ده.د﴿ حِجۡرٗا﴾ لفظي معنی بندول دی.لکه چه قاضي کله څوك د غریبئ یا کم عقل توب یاد ماشوموالي په وجه دمال دتصرف نه بندکړي نو وائي((حَجَرَ الۡقَاضِي عَلَىٰ فُلَانٍ))حطیم ته هم حجروائي ځکه چه هغه طواف کونکي خپل دننه دطواف کولونه بندوي.بلکه ددې نه بهر طواف کولې شي.عقل ته هم په عربئ کښې حجر وائي. ځکه چه داهم انسان دغلطو کارونونه بندوي.

﴿وَيَقُولُونَ﴾دامقوله دچا ده؟:-پس فرښتې هغوی ته وائي چه کوم زیری چه مؤمنانوته دې وخت ملاویږي ددې نه تاسومحروم یئ.دامعنی خوپه دې وجه ده چه داجمله دفرښتوقول اومنلې شي.دویم قول دادې چه دا مقوله به هغه وخت دکافرانووي([2]).هغوی چه فرښتې اووینې نووائي به،چه الله دې اوکړي تاسوزمونږنه په پرده کښې اوسئ تاسوته زمونږخواته راتګ ملاؤ نه شي.اګرچه دامعنی هم کیدې شي خود لرې والي

---

[1] نسائي كتاب الجنائز باب ما يلقى به المومن من الكرامة عند خروج نفسه : ١٨٣٤، وهو صحيح ابن ماجه: ٤٢٦٢.

[2] الطبري : ٢٥٤/١٩.

Scanned with Ca

معنی ده خاصکر هغه وخت کله چه ددې خلاف هغه تفسير کوم چه مونږ پورته بيان کړو ،دسلفونه نقل دي.البته دحضرت مجاهدنه يوقول داسې نقل دې ليکن ددوی نه صراحت سره داهم نقل دی.چه دا قول به د فرشتووی.والله اعلم.

**قيامت کښې د کفاروټول أعمال برباد**:-بيابه دقيامت په ورځ داعمالودحساب په وخت ددوی عملونه عبث اوبې کاره شي. دوی چه به څه دخپل نجات ذريعه ګنړله هغه به بې کاره شي.ځکه چه ياخوهغه خلوص والانه وو،يادسنت مطابق نه وو.اوکوم عمل چه ددې دواړونه ياپه دې کښې ديوڅيزنه خالي وی هغه دالله ﷻ په نزد دقبليدوقابل نه دې.په دې وجه دکافرانونيک عملونه هم مردود دی مونږدهغوی عملونه اوکتل اوهغه مود خوروشوو ذرو پشان کړل.چه دنمرهغه شعاګانې کومې چه په يو سری کښې دننه راځي اوپه هغې کښې په نظر راځي.ليکن که څوك هغه رانيول اوغواړی نوپه لاس نه راځي([1]).لکه څنګه چه اوبهٔ په زمکه اوبهيولې شی هغه بياپه لاس نه راځي.يا کومې دوړې چه په لاس نه راځي ياد ونو دپاڼړو چړی شوی بسری کوم چه په هواکښې والوځي يا ايره يا دوړه کوم چه الوځي دغه شان ددوی عملونه دی.چه دا بالکل بيکاره دی ددې هيڅ ثواب به هغوی ته نه ملاويږی.ځکه چه ياخوپه دوی کښې خلوص نه وو،يادشريعت مطابق نه وو،يا دواړه صفتونه پکښې نه وو.پس کله چه داد عالم او عادل حقيقی حاکم په مخکښې پيش شول نوبالکل بيکاره ثابت شول.په دې وجه نې هغې د ردی اوپه لاس نه راتلوڅيزسره تشبيه ورکړې شوه.لکه څنګه چه بل ځائې کښې دی.﴿مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ﴾ دکافرانودعملونومثال د ايرې پشان دې چه هغې لره تيزه هوا والوځوی.د انسان نيکئ بعضې ګناهونو سره هم ضائع کيږی.لکه صدقه اوخيرات چه داپه احسان کولواوتکليف رسولوسره ضائع کيږی.لکه چه فرمان دې﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ﴾پس ددوی د عملونو نه نن دوی په هيڅ عمل باندې قادرنه دی.اوپه آيت کښې ددوی دعملونومثال دشګې هغه ډهيری سره ورکړې شو کوم چه د لرې نه د درياب دچپوپه شان ښکاری چه دهغې په ليدلو تږې سړې هغې لره اوبه ګنړی.ليکن چه نزدې ورشی نو أميد نې مات شی ددې تفصيل هم دالله په فضل تيرشوې دې.

**دمؤمنانو حالت**:-بيانې اوفرمائيل چه ددوی په مقابله کښې دجنتيانوهم واورئ ځکه چه دادواړه ډلې برابرنه دی.جنتيان خوبه په اوچتو درجوکښې په اوچتوبالاخانوکښې په امن اوامان،راحت اوآرام سره په عيش اوعشرت کښې وی.ښهٔ مقام،زړهٔ خوشحالونکې منظر،هرراحت به موجودوی،زړهٔ خوشحالونکې هر څيزبه مخې ته وی،ښهٔ ځائې، ښائسته مکان، مبارك منزل،داوده کيدوپاسيدو اود اوسيدلوآرام به وی.ددې په خلاف جهنمی دې چه ددوزخ لاندې طبقوکښې به په زنځيرونوکښې بند وی، لاندې باندې ښی اوګس طرف ته به اور وی. غم، افسوس،تکليف، سوزيدل،بې آرامی،زړهٔ سوزيدل، بدمقام، لوئې منزل،ويرونکې منظر،سخت عذاب به وی،دنيکانوخلقو دکوموچه په زړهٔ کښې ايمان وودهغوی عملونه به قبول کړې شی، ثوابونه به ورکړې شی، بدلې به ملاؤشی،دجهنم نه به بچ شی،دجنت وارث اومالك به جوړشی.پس دوی چه ټولې ښيګړې نې حاصلې کړې اوهغه کوم چه دهر خيرنه محروم شول آيابرابر کيدې شی؟پس دنيکانونيك بختی نې بيان کړله اود بدانو بدبختئ باندې نې تنبيه اوفرمائيله. دابن عباس ﷺ نه نقل دی چه څهٔ ساعت به داسې هم وی چه جنتيان به خپلو حورو سره د ورځې دغرمې آرام کوی اوجهنميان به شيطانانوسره تړلې شوی دغرمې ويريږی.

سعيدبن جبير رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ به نيمه ورځ کښې دبندګانو دحساب نه فارغ شي.پس د جنتيانود غرمې د اودهٔ کيدو وخت به جنت کښې وی.اودجهنميانوبه په جهنم کښې.حضرت عکرمه رضي الله عنه فرمائی

---

[1]) الطبری : ۲۵٤/۱۹.

Scanned with Ca

ماته معلومه شوې ده چه کوم وخت به جنتیان جنت ته ځي اوجهنمیان به جهنم ته،دابه هغه وخت وی کوم چه دلته په دنیاکښې د غرمې په وخت وی چه خلق خپلوکوروته د دوږکهنتو دآرام حاصلولوپه غرض سره واپس کیږی.دجنتیانودا قیلوله به جنت کښې وی.دکب د زره خوراك به پرې خوړلې شی.

دحضرت ابن مسعودؓ بیان دې چه دنیمې ورځې نه به مخکښې مخکښې جنتیان په جنت کښې او جهنمیان په جهنم کښې قیلوله کوی.بیاهغوی هم دا آیت اولوستلو،او آیت﴿ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴾ ئې هم اولوستلو.جنت ته تلونکی به صرف یوځل دالله ﷻ په وړاندې پیش کیږی هم داآسانتیا سره حساب اخستل دی.بیابه دوی جنت لاړشی دغرمې آرام به کوی.لکه چه دالله ﷻ فرمان دې ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰ أَهْلِهِ مَسْرُورًا ۝ ﴾یعنی کوم کس ته چه عملنامه په ښی لاس کښې ورکړې شی دهغه نه به ډیرآسان حساب اخستلې شی اوهغه به خپل خپلوانو طرف ته په خوشحالئ راواپس کیږی.دهغه داوسیدو ځائې اومنزل ښه دې.

**دیوبادشاه اودیو غریب حساب:**-صفوان بن محرز رحمة الله علیه فرمائی.چه دقیامت په ورځ به دوه سړی راوستلې شی.یوخوهغه چه دټولې دنیا بادشاه وو.دهغهٔ نه به حساب اخستلې شی.نودهغهٔ په ټول عمرکښې به یوه نیکی هم نه وی.پس هغهٔ ته به جهنم ته د داخلیدوحکم ملاؤشی.بیابه دویم سړې راشی چه هغه په یوکمبل کښې ژوندتیرکړې وو .کله چه دهغهٔ نه حساب اخستلې شی الله ﷻ به اوفرمائی دا ربنتونې دې،دې پریږدئ اوجنت ته به د تللو اجازت ورکړې شی.بیابه څه وخت پس دواړه راوبللې شی نوجهنمی بادشاه خوبه د سوزیدلې سکاروپشان شوې وی.دهغهٔ نه به تپوس اوشی چه په څهٔ حال کښې یې؟ دې به اووائی ډیرپه بدحال کښې یم، اوډیرپه خراب ځائې کښې یم.بیابه جنتی راوبللې شی دهغهٔ مخ به د څوارلسمې شپې د سپوږمئ په شان پرقیږی.دهغهٔ نه به تپوس اوشی چه وخت څنګه تیریږی؟ هغه به او وائی.الحمدلله ډیر ښه،او ډیرپه ښه ځائې کښې، الله ﷻ به اوفرمائی.ځئ خپل ځائې ته واپس لاړشئ. د صعید صواف بیان دې.چه په مؤمن خوبه دقیامت ورځ داسې وړه شی.لکه د مازیګرنه ترماښام پورې وخت،دې به دجنت ګلونوته اورسولې شی تردې چه دنورمخلوق حساب اوشی.پس جنتی به د ښه رهائش والا اوښه ځائې والاوی.

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ
|او په دغه ورځ | به اوچوی |
|او په ورځو کښې به یوه ورځ

السَّمَاءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلَائِكَةُ تَنزِيلًا ۝ الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ
آسمان | په وریځ سره | او نازلې به کړې شی | فرښتې | په نازلولو سره | بادشاهی به | په دغه ورځ
آسمان اوچوی |اوډیرې فرښتې (به قطارونو کښې) راکوزیږی| په دغه ورځ به

الْحَقُّ لِلرَّحْمَٰنِ ۚ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكَافِرِينَ عَسِيرًا ۝ وَيَوْمَ
حقه | رحمن لره وی | اووی به | دغه ورځ | په کافرانو باند| ډیره سخته | اوپه دغه ورځ به
ربنتینې بادشاهی درحمان وی |اودغه به په کافرانو ډیره سخته ورځ وی |او په دغه ورځ

يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي
چکونه لګوی | ظالم سړې | په دواړو لاسونو خپلو باندې | اووائی به | اے کاش چې وې زهٔ |
به ظالم خپل لاسونه (ګوتې) چیچی |ادابه وائی چې ائې کاش زه دپیغمبر په نیغه لار

Scanned with Ca

| |
|---|
| اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ﴿۲۷﴾ يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِىْ لَمْ اَتَّخِذْ |
| چې نيولې وې ما \| درسول سره \| لاره \| اے افسوس \| افسوس دې مالره \| چې نۀ وې نيولې ما |
| روان شوې وې \| هانې زما بده نصيبۀ افسوس چې فلانې بنده مې ملګرې کړې نه وې |
| فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿۲۸﴾ لَقَدْ اَضَلَّنِىْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِىْ ط |
| فلانې سړې \| دوست \| خامخا هغه بې لارې کړم زۀ \| دذکر نه \| روستو دهغې نه کله \| چې راغې ماته |
| دغه ملګرى خو زه د هغې نه پس ګمراه کړم \| چې نصيحت راته (کور ته) راغلې ووا \| او |
| وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴿۲۹﴾ |
| اوديې شيطان \| دپاره دانسان \| (ډير بې وفا) پوازې پرېښودونکې \| |
| شيطان (دهميشه نه) دانسان رسواکونکې دې \| |

**قوله تعالىٰ:-** وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ

**قيامت کښې د اسمان چودلو کيفيت اود فرشتو راکوزيدل:** دقيامت په ورځ چه به کوم ويرونکى کارونه وى دهغې نه يو آسمان چودل او نورانى وريخ ښکاره کيدل هم دى.چه دهغې درنړانه به سترګې اوبريښيږى، بيا به فرشتې راکوزيږى اوپه ميدان حشرکښې به ټول انسانان راګيرکړى.بيابه الله ﷻ په خپلو بندګانو کښې فيصلې دپاره لکه چه فرمان دې ﴿هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِىْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ﴾ يعنى آيا دوى ددې خبرې په انتظارکښې دى چه الله ﷻ اودهغه فرشتې په وريځوکښې راشى.ابن عباس رضى الله عنه فرمائى چه الله ﷻ به خپل ټول مخلوق، ټول انسانان اوټول جنات (پيريان) په يوميدان کښې راجمع کړى.ټول ځناور، مارغان وغيره اوټول مخلوق به هلته وى.بيابه رومبې آسمان اوچوى اودهغې فرشتې به راکوزشى.چه هغوى به ټول مخلوق دڅلورو طرفونه راګيرکړى اودهغوى دشميرنه به ډيرزيات وى.بيابه دويم آسمان اوچوى دهغې فرشتې به راشى چه هغوى د زمکې اود رومبى آسمان دټول مخلوق نه هم زيات وى. بيابه دريم آسمان اوچوى.دهغې فرشتې به د دواړوآسمانونو دفرشتو اود زمکې دمخلوق نه هم زيات وى.داټول به راګيرکړى اوبه دريږى.بيابه دغه شان څلورم،بيا پنځم، بيا شپږم، بيا اووم، بيابه زمونږ الله ﷻ د وريځې په سورى کښې ددې نه ګيرچاپيره به بزرګې اوپاکې فرشتې وى.چه دا به د اووه آسمانونواواووه زمکو دټول مخلوق نه زيات وى.په هغوى به د ښکروپه شان نخښې وى.هغوى به دالله دعرش لاندې دالله تسبيح او تهليل اوپاکى بيانوى.دهغوى دتلې نه واخله ترګيټې پورې فاصله به پنځه سوه کاله لاره وى.اود ګيټې نه تر کونډئ پورې به هم دغه هومره وى،اود کونډئ نه تر نامه پورې به هم دومره فاصله وى اود نامه نه ترمرئ پورې به هم دومره فاصله وى.اود مرئ نه ترد غوږ نرمئ پورې به هم دومره فاصله وى.اوددې نه پورته سرپورې به هم دومره فاصله وى.دابن عباس رضى الله عنه فرمان دې چه د قيامت نوم ﴿يوم التلاق﴾ ځکه دې چه په دې کښې به زمکې اوآسمانونووالا ملاويږى.ددې په ليدلوبه مخکښې خوحشر والا پوهه شى چه زمونږ الله ﷻ راغې.

**قيامت کښې د الله ﷻ راتلل:-** خودابه اوونيلې شى چه هغه راتلونکې تراوسه پورې نه دې نازل شوې.بيا کله چه آسمانونووالا فرشتې راشى الله ﷻ به په خپل عرش باندې چه دابه اته فرشتو اوچت کړى وى. چه ددې دګيټې نه ترکونډئ پورې داوياکالو لاره ده.اودپتون او پنډئ په مينځ کښې هم داوياکالولاره ده.هره فرشته دبلې نه بيله اوجداده.دهريو ځنه سينې سره لګيدلې ده اوپه ژبه ئې ﴿سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ﴾ وظيفه ده.دهغوى په سرونوباندې يوخورشوې شان څيزدې.لکه چه تمبو(ترپال) په هغوى باندې عرش

Scanned with Ca

وی.په دې کښې راوی علی بن زیدبن جدعان دې چه داضعیف دی.اوپه دې حدیث کښې ډیر نکات دی.د صورپه مشهورحدیث کښې دې ته نژدې نژدې نقل دی.والله اعلم.([1])

او په آیت کښې دی چه هم په دغه ورځ به او آسمان به ټکړې ټکړې شی.او ددې په غاړوبه فرښتې وی.اوهم په دغه ورځ به چې څه کیږی هغه به داسې اوشی. ستادرب عرش اته فرښتو راوچت کړې وی.

شهر بن حوشب ﷺ فرمائی چه په هغوی کښې دڅلوروتسبیح به داوی﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَكَ الْحَمْدُ عَلٰى حِلْمِكَ بَعْدَ عِلْمِكَ﴾ اې الله ﷻ ته پاك يې ته قابل دثنااوتعریف يې.سره دعلم بیاهم صبرکول ستا صفت دې. چه پدې باندې مونږستا تعریف بیانوو.اود څلورو تسبیح به داوی﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَكَ الْحَمْدُ عَلٰى عَفْوِكَ بَعْدَ قُدْرَتِكَ﴾ اې الله ته پاك يې اوخپلوتعریفونو سره يې هم ستادپاره اوس هم تعریف دې چه ته باوجود د قدرت معاف کوې.ابوبکربن عبدالله رحمه الله فرمائی چه عرش راکوزیدونکې لیدلوسره به دمحشروالو سترګې اوشلیږی.بدن به په رپیدوشی زړونه به اوخوږی.عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائی چه کوم وخت به الله ﷻ مخلوق طرف ته راکوزیږی نوپه مینځ کښې به اویا زره پردې وی.بعضې به د نوراو بعضې به د تیاروی.ددې تیارونه به یوداسې آواز راوځی چه هغې سره به زړونه ټکړې ټکړې شی.کیدې شی چه دا روایت ددوی ددوو تهیلونه اخستې شوې وی.والله اعلم.

**قیامت کښې د الله ﷻ اعلان**:-په دغه ورځ به صرف دالله ﷻ بادشاهت وی لکه چه فرمان دې﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾ نن بادشاهی دچا دپاره ده؟ صرف الله غالب اوقهار دپاره، په صحیح حدیث کښې دی چه الله ﷻ به آسمانونه په خپل ښی لاس کښې راټول کړی او زمکې به په خپل دویم لاس کښې واخلی بیابه اوفرمائی چه زۀ مالك یم، زۀ دیان یم دزمکې بادشاهان چرته دی؟ تکبرکونکی چرته دی؟([2]) دغه ورځ به کافرانو باندې ډیره سخته وی.ددې بیان بل ځائې هم دې.چه په کافرانوبه داورځ ډیره سخته تیریږی البته مؤمنانوته به په دغه ورځ هسې ویره یا پریشانی وی.نبی کریم ﷺ ته اووئیلې شوچه اې دالله رسوله ﷺ! پنځوس زره کاله ورځ خوبه ډیره ګرانه وی. نبی ﷺ اوفرمائیل په هغه ذات قسم دچاپه قبضه کښې چه زما ساه ده چه په مؤمن خوبه دغه ورځ د یووخت دفرض مونځ نه هم سپکه او آسانه وی ([3]).

**د قیامت په ورځ دقرآن د پرېښودونکی حشر** :-دپیغمبر ﷺ د طریقې نه اودنبی ﷺ دراوړلی شوی ښکاره حق نه اود رسول الله ﷺ دلارې نه بغیر په نورو لاروباندې تلونکی به په هغه ورځ ډیر پښیمانه وی او حسرت اوافسوس سره به خپل لاسونه خوری اګرچه ددې نزول دعقبه ابن ابی معیط باره کښې وی یا د بل چا باره کښې وی لیکن دحکم په اعتبارسره داهر داسې ظالم ته شامل دې لکه چه فرمان دې.﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ﴾ پوره دوؤ آیاتونو پورې،پس هرظالم به دقیامت په ورځ افسوس کوی خپل لاسونه به خوری او ژړا اوفریاد به کوی چه ارمان دې ما دنبی ﷺ لاره خپله کړې وې، ارمان چه مادفلانی سره مینه نه وې کړې چه هغۀ زه دحق لارې نه بې لارې کړم.دامیه بن خلف اودهغۀ د ورور به هم داحال وی.او ددوی نه سوا دداسې خلقوبه هم داحال وی.وائی به چه دۀ زۀ د ذکرنه یعنی دقرآن نه بې لارې کړم. حالاتکه دا ماته رارسیدلی وو. الله ﷻ فرمائی شیطان انسان لره رسواکونکې دې هغه دۀ لره ناحق طرف ته رابلی اودحق نه نې لرې کوی.

---

[1]) سنن ابن ماجه : ٤٠٧٧

[2]) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین باب صفة القیامة والجنة والنار: ۲۷۸۷، ابوداود : ٤٧٣٢.

[3]) احمد: ۷۵/۳.

Scanned with Ca

وَقَالَ الرَّسُوْلُ

| اواوبه وائی رسول |

| او پیغمبر ﷺ به اووائی

يٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿٣٠﴾

اے ربه زما | بې شکه چی | قوم زما | نیولې وو | دا قران | (یوه توټه) پریښودې شوي |

چې ائي زما ربه ! زما قوم دا قران پاک پریښودي وو (اوعمل ئې پرې نه وو کړې)

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ۭ وَكَفٰى

او دارنګې | جوړ کړی دی مونږ | دپاره دهر نبی | دشمنان | دمجرمانونه | او کافی دې

او دغه شان مونږ دهر پیغمبر دپاره د ګناهګارانو نه دښمنان جوړ کړی دی | او ستا رب

بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ﴿٣١﴾

رب ستا | دپاره دلار ښودلو | او دپاره دامداد کولو |

لاره خودونکې او مددګار کافی دې |

قوله تعالى:-وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ

**د الله په عدالت کښې د آقا ﷺ شکایت د قران پریخودونکوخلاف**"دقیامت په ورځ به دالله ربښتوني رسول ﷺ دخپل امت شکایت د الله ﷻ په دربارکښې کوی.چه نه به دې خلقوقرآن طرف ته توجه کوله اونۀ به ئې په شوق سره قبولیت سره اوریدلو.بلکه نورخلق به ئې هم ددې داوریدلونه منع کول.لکه څنګه چه د کافرانو وینا په خپله قرآن کښې ده چه هغوی به وئیل.﴿لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ﴾ دا قرآن مه اورئ او ددې د لوستلو په وخت شورشغب کوئ.هم دا ددوی پریښودل وو ،نه به ئې په دې باندې ایمان راوړلو،نه به ئې په دې باندې دپوهیدلوکوشش کولو.نه به ئې په دې باندې عمل کولو.نه به ئې ددې احکام پوره کول.نه به ددې دمنع کړې شووکارونونه منع کیدل.بلکه ددې نه سواپه نورو کارونوکښې به مشغول اوسیدل.لکه شعرونه، غزلې،باجې، ګانې،ټنګ ټکور دغه شان به ئې دنوروخلقو خبروسره شوق لرلو. او په هغې به ئې عمل کولو.هم دا ددې پریښودل وو.زمونږ دعاده چه الله ﷻ کریم اومنان چه هغه په هر څیز باندې قادردې.چه مونږته توفیق راکړی چه مونږدهغۀ د ناراضۍ دکارونونه منع شو.اودهغۀ خوښ کارونوطرف ته متوجه شو.هغه مونږته دخپل کلام پوهه راکړی.اوشپه ورځ دې په دې باندې دعمل کولو هدایت راکړی.چه په هغې سره هغه خوشحاله وی هغه کریم او وهاب دې.

بیانې اوفرمائیل.لکه څنګه چه اې نبی ﷺ! ستاسوپه قوم کښې قرآن پریښودونکی خلق دی.دغه شان په تیروشوؤامتونوکښې همداسې خلق وو.چه هغوی به پخپله کفرکولونورخلق به ئې خپل کفرکښې شریکول.اودخپلې ګمراهۍ دخورولوپه فکرکښې به مشغول اوسیدل.لکه چه فرمان دې ﴿وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا﴾ یعنی دغه شان مونږ دهرنبی ﷺ دشمنان شیطانان اوانسانان جوړکړی دی.بیانې اوفرمائیل څوك چه درسول الله ﷺ تابعداری اوکړی په کتابُ الله باندې ایمان راوړی،دالله په وحی باندې یقین اوکړی، دهغه هادی اوناصر(مددګار) په خپله الله ﷻ دې.دمشرکانوکوم ناکاره صفت چه پورته بیان شو.دهغې نه دهغوی غرض داوو.چه خلق په هدایت باندې رانه شی.اوهغوی په مسلمانانو باندې غالب وی.په دې وجه قرآن فیصله اوکړله چه هم دوی به نامراده وی. الله ﷻ به خپلو نیکانوبندګانوته په خپله هدایت کوی.اودمسلمانانوبه په خپله مددکوی.دا معامله او دداسې خلقومقابله صرف تاسوسره نه

Scanned with Ca

ده، ټولوتيروشوؤ نبيانوسره هم دغه شان کيدل.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

| اووائي هغه كسان | چې دحق نه ئې انكار اوكړو

| ...................اودا كافران وائي چې

لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ

ولې نازل نهٔ كړې شو | په دهٔ باند | دا قران | په يو خل | درانګې لړ لړ نازل شو |

په دې سرې باندې(ټول) قرآن پاک په يو خل ولې نازل نشو | ..................داځکه

لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ

دپاره ددې چې مونږه محكم كړواپه دې سره | زړهٔ ستا | او لږلږ په ارام سره لوستلې دې مونږه دا قران

(لږلږراغلو) چې ددې په ذريعه مونږ ستا زړه مضبوط كړوا اومونږ داكتاب

تَرْتِيْلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ

په ارام ارام لوستلو سره | اونهٔ راوړى دوئ تاته | يوه نوې خبره | مګر | دركوؤ مونږ تاته | حق جواب

په ارام سره لولو | اودا خلق چې ستانه څنګه عجيبه سوال كوى | ...........نومونږ به

وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴿٣٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ

اوښهٔ بيان | هغه خلق | چې جمع كولې كيږى به | په مخونو خپلو باند |

به تاته د هغې سم ښه او تفصيلي جواب ښايو | داهغه خلق دى چې پرمخ به دوزخ ته جمع كړې شى

اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٣٤﴾

دوزخ ته | دغه كسان چې دى | په لحاظ دځائې سره | بد دى | او ډير بې لارې دى | په لحاظ دلارې سره

ددوئ ځائې ډير خراب دې | اود لارې نه ډير بې لارې روان دى |

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ اَخَاهُ

او خامخا وركړو مونږ | موسى ته | كتاب | او مقرر كړو مونږ | دهغه سره | رور دهغه |

اومونږ حضرت موسى عليه السلام ته كتاب (تورات) وركړې وو | اودهغه سره مو دهغه رور

هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا اذْهَبَآ اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

هارون | يو مددګار(وزير) | نو اووئيل مونږه | چې لاړ شئ دواړه | هغه قوم ته | چې دروغ ئې ګڼړلې دى

هارون مددګار جوړ كړې وو | نومونږ ورته اووئيل چې تاسو دواړه هغه خلقو ته ورشئ

بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا

ايتونه زمونږ | نو هلاك كړل مونږ هغوئ | په هلاكولو سره | او دغسې قوم دنوح عليه السلام | كله چې |

چې زمونږخبرې ئې دروغژنې ګڼړلې دى | بيا مونږ داكافران هلاک كړل | اومونږ د نوح عليه السلام قوم هم هلاک كړو

Scanned with Ca

كَذَّبُوا الرُّسُلَ أَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ

دروغ اوګڼړل هغوئ | رسولان | نو ډوب كړل مونږ هغوئ | او جوړ كړل مونږه هغوئ | دپاره دخلقو |

څه وخت چي هغوئ پيغمبران درغژن اوګڼړل | نو مونږ ډوب كړل | او دخلقو دپاره مود (عبرت)

اٰيَةً ۭ وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا (٣٧) وَّعَادًا

يوه نښه دعبرت | اوتيار كړي دي مونږه | دپاره دظالمانو | عذاب دردناك | (او هلاك كړل مونږه) عاديان

نښه اوګرځوله | اومونږ ظالمانو دپاره دردناک عذاب تيار كړي دي | اودغه شان مو عاد

وَّثَمُوْدَا۟ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًۢا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا (٣٨) وَكُلًّا

او ثموديان | او كوهي والا | او (نور) قومونه | په منځ ددې كښې | ډير | او هر يو چي وو

اوثمود او د كوهي خلق او ددوئ ترمينځه نور ډير قومونه (تباه كړل) | اومونږ هر يو ته

ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ۡ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا (٣٩)

بيان كړل مونږه | هغه ته | مثالونه (دتباه شوؤ خلقو) | او هريو | تباه كړو مونږه | په تباه كولو سره

عجيبه مثالونه بيان كړل | او (بيا) هريومو (دانكار په وجه) بالكل برباد كړل

وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ۭ

او په تحقيق سره تير شوي دي هغوئ | په هغه كلي باندي | چي ورولي شوي وؤ پر | باران بد

اوداخلق د هغې كلي په زمكه تګ راتګ كوي چي (دكاڼو) خراب باران پري شوي وو

اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا (٤٠)

ايا نه وؤ هغوئ | چي ليدلې نې وې دغه كلې | بلكه دي هغوئ | چي اميد نه لري | ددوباره ژوند

نوايا داخلق دغې كلي ته نه ګوري | (نا) بلكه داخلق د دوباره ژوندي كيدو اميد نه ساتي

قوله تعالى:- وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

**په قران باندې دكافرانو يواعتراض** "دكافرانو يواعتراض داهم وو.چه لكه څنګه تورات،انجيل او زبور وغيره په يوځل پيغمبرانو باندې نازل شوي وو.دا قرآن په يوځل نبي كريمﷺ باندې ولې نازل نه شو. الله ﷻ ددې په جواب كښې اوفرمائيل.چه آو واقعي داپه لږه لږه نازل شوې دې.په دريويشت كاله كښې نازل شوې دې.چه څومره به ضرورت راتلو،چه كوم واقعات به كيدل احكام به نازليدل چه دمؤمنانو زړه كلك وي.په وقفه وقفه احكام نازل شول چه په يوځل عمل مشكل نه شي.وضاحت سره بيان كړې شي اوپه پوهه كښې راشي.تفسيرهم ورسره ورسره اوشي. مونږبه ددوی د ټولو اعتراضونو صحيح او رښتياجواب وركوو.چه دابه ددوی دبيان نه هم زيات واضح وي.كومه كمي چه دوی بيان كړی.مونږبه ددوی تسلي كوو.سحرماښام، شپه ورځ،په سفراوحضركښې به باربارددې نبيﷺ عزت اودخپلوخاصو بندګانودهدايت دپاره زمونږكلام زمونږ دنبيﷺ پوره ژوند پورې نازليږي.چه ددې نه دنبيﷺ بزرګی او فضيلت هم ښكاره شی.په نورو پيغمبرانو باندې په يوځل ټول كلام نازل شو.اودې غوره نبيﷺ ته باربار الله ﷻ خطاب كولو.اوددې قرآن عظمت هم ښكاره شی.چه داپه دومره اوږده موده كښې نازل شو.پس نبيﷺ په نبيانوكښې اعلی او قرآن هم په ټولوكلامونوكښې لوئې شان والا،اود عظمت خبره داده چه قرآن ته دواړه بزرګئ ملاؤ شوې.داپه يوځل د لوح محفوظ نه ملاء اعلی ته نازل شو.دلوح محفوظ نه ټول په ټوله آسمان ددنيا ته نازل شو.بيا دضرورت مناسب په لږه لږه نازليدلو.

Scanned with Ca

**د قرآن پاک مجموعه نزول په ليلة القدر شوي ده:-** ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه ټول قرآن په يوځل په ليلة القدر کښي آسمان دنياته نازل شو.بيا شلوکالو پورې زمکې ته نازليدلو.بيا دد ې په ثبوت کښې هغوی رضي الله عنه ﴿لَا يَأْتُونَكَ﴾ او آيت ﴿وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ﴾ تلاوت اوفرمائيلو[1] ددې نه پس چه دکافرانو کوم حالت دقيامت په ورځ کيدونکې دې.دهغې بيان ئې اوفرمائيلو.چه په ډيربدحالت اوډيرناکاره ذلت کښې به ددوی حشر جهنم طرف ته وی.دوی به پرمخې رابنکلی شی.هم داخراب ځائې والا اودټولو نه زيات بې لارې دی. يو سړی دنبی کريم صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړوچه دکافرانو حشربه پرمخې څنګه وی.نبی عليه السلام اوفرمائيل.کوم ذات چه هغوی لره په خپو باندې چلولی دی هغه به په سرباندې چلولوباندې هم قادردې.[2]

**د انبياؤدشمن قومونه تباه اوبرباد شول:-** الله تعالى مشرکان اودنبی کريم صلى الله عليه وسلم مخالفين دخپلوعذابونونه ويروی چه ستاسونه مخکښې چه کومو خلقوزمادنبيانوخبره اونه منله.دهغوی سره ئې دشمنی اوکړله، د هغوی مخالفت ئې اوکړو.ماتباه اوبرباد کړل.د فرعونيانوحال تاسو اوريدلې دې چه موسی عليه السلام اوهارون عليه السلام هغوی طرف ته پيغمبران اوليږلی شول.ليکن هغوی اونه منل.چه ددې په وجه دالله عذاب راغې.اوټول هلاک کړې شول.د نوح عليه السلام قوم ته اوګورئ هغوی هم زمونږ رسول دروغژن اوګڼړلو.

**د يو رسول تکذيب د ټولو رسولان تکذيب دې:-** او چونکه د يورسول دروغژن ګڼړل دټولو نبيانو دروغژن ګڼړل دی.په دې وجه دلته رُسُل جمع اووئيلې شو. اوداپه دې معنی سره هم چه کۀ بالفرض هغوی طرف ته ټول رسولان هم ليږلې شوې وې.نوبيابه هم هغوی دټولوسره هغه سلوک کولو.کوم ئې چه نوح عليه السلام سره اوکړلو.دامطلب نه دې چه دوی طرف ته ډير رسولان ليږلی شوی وو.هغوی ته صرف حضرت نوح عليه السلام راغلې وو.چه هغه نهنيم سوه کاله په هغوی کښې وو.په هره طريقه ئې هغوی پوهه کړل،ليکن د يو څوکسانونه سواچاهم ايمان رانۀ وړلو.په دې وجه الله تعالى ټول غرق کړل.سوادهغه کسانونه کوم چه حضرت نوح عليه السلام سره په کشتئ کښې سوارۀ وُو.يوبنيادم په زمکه باندې بچ پاتې نه شو.خلقودپاره د هغوی هلاکت عبرت جوړکړې شو.لکه چه فرمان دې.چه داوبو دتيزو چپوپه وخت مونږ تاسوپه کشتئ کښې سوارۀ کړئ.تردې چه تاسودې لره خپل ځان دپاره عبرت جوړکړئ.اوکشتئ مونږتاسو دپاره ددې طوفان نه دنجات درکولو اود اوږد اوږد سفرکولو ذريعه جوړه کړله.چه تاسودالله نعمت يادکړئ.چه هغۀ دډير لوئې طوفان نه تاسو بچ کړئ.او ايماندار اود ايماندارو په اولادکښې ئې اوساتلئ:د عاديانو اوثموديانو قصه خوډيرځل بيان شوې ده.لکه چه په سورۀ اعراف وغيره کښې ﴿وَأَصْحَابَ الرَّسِّ﴾ باره کښې دابن عباس رضي الله عنه قول دې چه دا دثموديانو ديوکلی والاوو.[3]

عکرمه رحمه الله فرمائي چه داد فلج (يمامه) والاوو چه ددوی ذکرپه سورۀ يسين کښې دې.دابن عباس رضي الله عنه نه داهم نقل دی چه دآزربائيجان يوکوهی سره ددوی کلې وو.عکرمه رحمه الله فرمائي هغوی ته کوهی والاځکه وائي چه هغوی خپل پيغمبرپه کوهی کښې غورزولې وو.ابن اسحاق دمحمدبن کعب رحمه الله نه نقل کوی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه يوتورغلام به دټولونه ړومبی جنت ته ځی الله تعالى يوکلی والوته خپل نبی ليږلې وو.ليکن هغه کلی والوکښې سوادهغۀ نه چاهم ايمان رانۀ وړلو.بلکه هغوی دالله نبی په يو غير آباد کوهی کښې په وُران ميدان کښې اوغورزولو.اودهغۀ په خُله باندې ئې يوغټ ګټ کيخوده. چه دې هم هلته مړشی.داغلام به ځنګل ته تلو.لرګی به ئې پريکول او راوړل.اوهغه به ئې په بازارکښې خرڅول. او روټئ وغيره به ئې اخستله اوکوهی ته به راتلو.اوهغه کاڼړې به ئې لرې کول چه هغه به ډيرو سړوهم نه شو لرې کولې.ليکن الله تعالى به دهغۀ په لاسونوهغه لرې کول.دۀ به يوه رسئ زوړندوله، روټئ او اوبۀ

---

[1] حاکم : ۳۶۸/۲. وسنده حسن.
[2] صحيح بخاری کتاب التفسير سورة الفرقان باب قوله تعالی ﴿ الذين يحشرون علی وجوههم الی جهنم...﴾: ۴۷۶۰.
[3] الطبری : ۲۶۹/۱۹.

Scanned with Ca

به نې هغه پیغمبر ته رسول.چه هغهٔ به داخوراك څكاك كولو.ترموده پورې هم داسې كيدل.يوځل دې لاړهٔ لرګی ئې كټ كړل جمع ئې كړل،پنډئې اوتړلو.چه په دې كښې پرې دخوب غلبه اوشوه او اوده شو. الله ﷻ په هغهٔ داسې خوب راوستلوچه اووهٔ كالوپورې هغه اوده وو.اووهٔ كاله پس ئې بيا سترګې كهلاو شوې.نوهغهٔ د خپلو لرګو پنډ اوچت كړو.اوښار طرف ته روان شو.دهغهٔ هم داخيال وو.چه لږ وخت دپاره اوده شوې ووم.ښارته راغې لرګی ئې خرڅ كړل.دعادت مطابق ئې خوراك ، اخستلو،اوهلته اورسيدلو. څه ګوری چه كوهې هلته نشته، ډيرئې تلاش كړوخوملاؤ نه شو.دلته دا شوی ووچه دقوم زړونه ايمان طرف ته مائل شو.هغوی لاړل خپل نبی ئې دكوهی نه راويستلو ټول په ټوله ايمان راوړلو.بيا نبی په خپل مرګ مړشو.نبی هم پخپل ژوند كښې داحبشی غلام تلاش كولو.ليكن دهغهٔ پته اونه لګيده.بيا د هغهٔ نبی دمرګ نه پس دا سړې دخپل خوب نه راپاسولې شو.نبی كريم ﷺ فرمائی.پس داحبشی غلام دې چه دابه دټولونه مخكښې جنت ته ځی([1]).دا روايت مرسل دې اوپه دې كښې غرابت اونكارت دې او شايد ادراج هم دې والله اعلم.

دا روايت په هغه اصحاب رس باندې هم نه شولګولې.ځكه چه دلته خوذكردی چه هغوی هلاك كړې شو.البته دايوه توجيه كيدې شی چه داخلق خوتباه كړې شول.بيا ددوی نسلونه صحيح شول.اوهغوی ته دايمان توفيق ملاوشو.دامام بن جرير رحمه الله فرمان دې.چه اصحاب رس هم هغه دی دكوموذكرچه په سورة بروج كښې دې چاچه خندقونه كنستلی وو.والله اعلم.بيائې اوفرمائيل چه نورهم ددوی په مينځ كښې ډيرامتونه راغلل چه هغوی هلاك كړې شول.مونږدهغوی ټولومخكښې خپل كلام بيان كړې وو.دليلونه مونږيش كړی وو.معجزې مو ورته خودلې وې.عذرونه مو ورله ختم كړی وو.بيامو ټول تباه اوبربادكړل. لكه چه فرمان دې.چه دنوح عليه السلام نه پس هم ډيركلی مونږتباه كړل.

**قرن څومره مودې ته وائی؟**:-قرن وائی اُمت ته، لكه چه فرمان دې چه ددوی نه پس مونږډير قرن يعنی اُمتونه پيداكړل.دقرن موده دبعضوپه نزد يوسل شل كاله ده.څوك وائی سل كاله،څوك وائی اتيا كاله ، څوك وائی څلويښت كاله،نورهم ډيراقوال شته.زياته واضحه خبره داده چه ديوې زمانې والايوقرن دی. كله چه هغوی ټول مړهٔ شی. نو دويم قرن شروع كيږی.لكه چه دبخاری اومسلم په حديث كښې دی چه د ټولونه غوره زمانه زما زمانه ده.([2])

**د سدوم كلی تذكره**:-بيا فرمائی چه سدوم نومې كلې سره خودا عرب مُسلسل تيريږی.هم دلته لوطی آباد وو.چه په هغوی باندې زمكه اُلټه كړې شوه.اودآسمان نه پرې كاڼړی اُورولې شو.او ډير باران پرې اوشوچه هغه دسختوكاڼړو وو.دوی شپه ورځ په دغه ځائې تګ راتګ كوی.بيا هم دعقلمندئ نه كارنه اخلی.داكلی خوستاسو دتيريدو ځايونه دی.ددوی واقعات مشهور دی.آيا تاسودوی نه ګورئ؟يقيناً چه ګورئ ليكن ستاسودعبرت سترګې نشته،چه پوهه شئ اوغور اوكړئ.چه دهغوی دخپل نالائق توب په وجه هغوی دالله په عذابونوكښې راګير شول.د بوسوپه شان والوزولې شول.بيا نشانه كړې شو.د جرړې نه ختم كړې شول لكه چې په پوكی والوزولې شو. چه په دې سوچ اوكړی نوهغه څوك چه قيامت منی. څه به عبرت حاصل كړی چه دسره دقيامت منكردی دوباره ژوند ناممكن ګڼړی.

| وَاِذَا | رَاَوْكَ | اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ | اِلَّا | هُزُوًا | اَهٰذَا الَّذِيْ |
|---|---|---|---|---|---|
| او هر كله چی | اووينی دا خلق تا | نو نه نيسی دوئ تا | مګر | په ټوقو سره | ايا دا هغه سړی دی |
| اوهركله چې دا خلق تاته اوګوری نوتا پورې ټوقې كوی اچې ايا دا هغه سړې دې چې | | | | | |

---

[1]) الطبری :۲۷۱/۱۹،

[2]) صحيح بخاری كتاب فضائل اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم : ۳٦٥۱. صحيح مسلم: ۲٥۳٥.

Scanned with Ca

بَعَثَ اللّٰهُ | رَسُوْلًا ﴿۴۱﴾ | اِنْ كَادَ | لَيُضِلُّنَا | عَنْ اٰلِهَتِنَا

چه رالیږلی دی الله | په حیثیت درسول | قریبه وه چې ده | گمراهه کړي وي مونږه | دخدایانو زمونږ نه

الله ﷺ پیغمبر رالیږلی دی | دی سړی خو به مونږ دخپلو معبودانو نه اړولی وو

لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا | عَلَيْهَا ط | وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ | حِيْنَ يَرَوْنَ

که چرې صبر نهٔ وې کړې مونږ | په هغې باندې | او زر به معلوم شي دوئ ته | کله چې اووینی

که مونږ پرې کلک ولاړ نه وې | اوهرکله چې دوئ عذاب اووینی انودوئ ته به معلومه

الْعَذَابَ | مَنْ اَضَلُّ | سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ | اَرَءَيْتَ | مَنِ

عذاب | چې څوك ډیر ورك کونکي دي | لارې لره | آیا تا غور کړې دې | په حال دهغه چا

شي اچې څوک دلارې نه بې لارې ووا ............آیا تا هغه سړې لیدلی دې اکوم چې

اتَّخَذَ | اِلٰهَهٗ | هَوٰىهُ ط | اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ | عَلَيْهِ

چې نیولي ئې دي | خدائي خپل | خواهشاتو خپلو لره | آیا پس ته به شې | په هغه باندې

دخپل خواهش نه خپل معبود ﷺ جوړ کړې دې انو آیا ته دهغه ذمه واری اخستې شې ؟

وَكِيْلًا ﴿۴۳﴾ لا | اَمْ تَحْسَبُ | اَنَّ اَكْثَرَهُمْ

ساتونکې )چې منع ئې کړې دخواهشاتونه) | یا گمان کوې تهٔ | چې بیشکه ډیر خلق ددوئ

آیا ستا دا خیال دې چې په دوئ کښې زیات کسان (سمه خبره) آوری

يَسْمَعُوْنَ | اَوْ يَعْقِلُوْنَ ط | اِنْ هُمْ | اِلَّا | كَالْاَنْعَامِ | بَلْ هُمْ

(گنی) اوری خبره | یا دعقل نه کار اخلی | نهٔ دی دوئ | مگر دی | پشان دځناور | بلکه دوئ

یا پوهیږی | دوئ خو د څاروؤ په شان دی | بلکه دڅاروؤ نه هم

اَضَلُّ | سَبِيْلًا ﴿۴۴﴾ ع | اَلَمْ تَرَ | اِلٰى رَبِّكَ | كَيْفَ | مَدَّ

زیات ورك کونکی دی | نیغې لارې لره | آیا نهٔ گورې تهٔ | رب خپل ته | چې څرنگې ئې | خور کړې دې

زیات بې لارې دی | آیا ته دخپل رب (کارونو) ته نه گورې | چې هغه څنگه سیورې

الظِّلَّ ج | وَلَوْ شَآءَ | لَجَعَلَهٗ | سَاكِنًا ج | ثُمَّ

سورې | او که غوښتلې هغه | نو گرزولي به ئې وو دغه سورې | ولاړ په یو ځائې | بیا |

راخور کړې دې | اکه هغه غوښتلې نو دغه سیوری به ئې په ځائې ایسار کړې وې | بیا

جَعَلْنَا الشَّمْسَ | عَلَيْهِ | دَلِيْلًا ﴿۴۵﴾ لا | ثُمَّ قَبَضْنٰهُ

جوړ کړو مونږه نمر | په هغې باند | دلیل (چې معلومیږي) | بیا راغونډوؤ مونږ دا سورې |

مونږ نمر په دغه سیوری باندې یوه نښه مقرر کړه | بیا دا سیوری

Scanned with Ca

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اِلَيۡنَا | قَبۡضًا | يَّسِيۡرًا۝ | وَهُوَ الَّذِىۡ | جَعَلَ |
| خان خپل ته | په راغونډولو | آسانو سره | او هغه (الله) هغه ذات دې | چې جوړه ئې کړه |
| مونږ خپل طرفته راټولوو ........ او الله ﷻ هغه ذات دې چې ستاسو دپاره ئې شپه د پردې | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَكُمُ | الَّيۡلَ | لِبَاسًا | وَّالنَّوۡمَ | سُبَاتًا | وَّجَعَلَ النَّهَارَ | نُشُوۡرًا۝ |
| ستاسو دپاره | شپه | جامه | او خوب | ذريعه دارام | او جوړه ئې کړه ورځ | وخت دپاسيدو |
| څيز او خوب دارام ذريعه او ورځ د ګرځيدو دپاره جوړه کړې ده | | | | | | |

قوله تعالى:- وَإِذَا رَأَوۡكَ إِنۡ يَّتَّخِذُوۡنَكَ إِلَّا هُزُوًا

**د ناعاقبت انديشو اقاپورې ټوقې**"کافرانو به دالله ﷻ غوره او افضل پيغمبر احمد مُجتبىٰ محمد ﷺ په ليدلو خندا او ټوقې کولې.عيبونه به ئې پکښې لټول.او په نبي ﷺ کښې به ئې نقصانونه ښودل.هم دا حالت دهريوې زمانې دکافرانو خپلو نبيانو سره شوې دې.لکه چه فرمان دې.﴿وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ﴾ ستانه مخکښې رسولانو پورې هم ټوقې کړې شوې، او ونيلې شوچه مونږ کلك شوګنې دې رسول ﷺ خو زمونږ په دهوکه کولو کښې هيڅ کمې پرې نخودله.ښه ده دوې ته به ډيرزر معلومه شي چه په هدايت باندې دوې څومره پورې وو؟دعذاب په کتلو به ددوې سترګې کُهلاؤ شي.اصل دادې چه دې خلقو خواهش پرستي شروع کړې ده.نفس او شيطان چه کوم څيزښه ښکاره کوې.دوې هم داښه ګنړي.نو ددې ذمه دارته څنګه ګرځيدلې شي؟

**په عربو کښې د کانړو عبادت**:-دحضرت ابن عباس رضي الله عنه بيان دې چه په جاهليت کښې دعربو داحالت وو. چه چرته به ئې څه سپين ګول غونډې کانړې اوليدلو دهغې عبادت به ئې شروع کړو.چه دهغې نه به بل يوښه په نظر راغې هغې ته به ئې سجدې کولې او ړومبې به ئې پريښودلو[1].بيافرمائي داخو د څناورونه هم بدتردي.نه ددوې غوږونه شته، نه ئې زړهٔ شته،څناورخو خير قدرتًا آزاددي ليکن دوې چه دعبادت دپاره پيداکړې شوې وو.دوې دهغوې نه هم زيات بې لارې شول.بلکه دالله نه سوائې دنورو عبادت شروع کړلو.اود حجت قائميدونه پس د رسولانو رسيدلو نه پس هم الله ته سجده نه کوې.دهغهٔ توحيد او د رسول ﷺ رسالت نه منې.

**دالله د وجود او قدرت دليلونه**"د الله ﷻ په وجود اودهغه په قدرت باندې دليلونه بيانيږي چه مختلف او متضادڅيزونه هغه پيداکوي.سورې هغه اوږدهٔ وي.وائې چه دا وخت دصباصادق نه واخله ترنمر راختلو پورې دې.که چرې هغهٔ غوښتلې نودابه ئې په يو حالت باندې ساتلې وې.لکه چه فرمان دې.چه کهٔ هغه صرف شپه اوساتي نوڅوك ورځ کولې نه شي،اوکه هغه صرف ورځ اوساتي نوڅوك شپه نه شي راوستلې.که نمرنه راوتلې نودسورې حال به هم نه معلوميدلې.هرڅيز په خپل ضدسره پيژندلې شي.د سورې نه شاته نمر،د نمرنه شاته سورې داهم دقدرت انتظام دې.بيا په مزه مزه مونږداسورې يا نمرخپل طرف ته راټولوو.يو راټوليږي او بل اوږديږي.اودا انقلاب په تيزئ سره کيږي.هيڅ يوځائې سورې والا باقي نه پاتې کيږي.صرف دکورونو دچهتونو اود ونولاندې سورې پاتې کيږي.اوپه هغې هم دپاسه نمر ښکاره وي.په مزه مزه په لږه لږه مونږداخپل طرف ته راټولوو.هم هغهٔ شپه ستاسودپاره جامه جوړه کړې ده.چه داستاسو په وجودباندې راخوريږي.اوداپټوي.لکه چه فرمان دې،قسم دې دشپې کله چه پټ کړي،هم هغهٔ خوب لره سبب دراحت اوآرام جوړکړې دې.چه دغه وخت حرکت اودريږي.اودټولې ورځې کاروبارسره چه کوم ستړې والې سورشوې وو.هغه دې آرام سره ښکته کيږي.اوبدن او روح ته راحت

---

[1] الدرالمنثور:۶/۲۶۰.

Scanned with Ca

حاصلیږی بیادورځې پاسیدوسره خوارهٔ شئ او د روزئ په تلاش کښې لګیاکیږئ.لکه چه فرمان دې چه هغهٔ خپل قدرت سره شپه او ورځ مقررکړې ده.چه تاسو سکون اوآرام هم حاصل کړئ.اوخپلې روزئ هم تلاش کړئ.

| |
|---|
| وَهُوَ الَّذِيٓ اَرۡسَلَ الرِّيٰحَ بُشۡرًاۢ بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهٖ ۚ وَاَنۡزَلۡنَا |
| او الله هغه ذات دې \| چې رالیږی هواګانې \| زیرې \| وړاندې \| درحمت خپل نه \| او نازلوؤ مونږه |
| او الله هغه ذات دې چې هواګانې دخپل رحمت (یعنی باران) نه وړاندې دزیرې په طور رالیږی |
| مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوۡرًا ﴿۴۸﴾ لِّنُحۡیِۦَ بِهٖ بَلۡدَةً |
| داسمان نه \| اوبه \| پاکې \| دپاره ددې چې ژوندې کړو مونږه \| په دې اوبو سره \| ښار |
| اومونږ د اسمان نه پاکیزه اوبهٔ راوُروو| چې ددې په ذریعه یو مړه شوې (اوچ بنجر) زمکه |
| مَّيۡتًا وَّنُسۡقِيَهٗ مِمَّا خَلَقۡنَاۤ اَنۡعَامًا وَّاَنَاسِيَّ |
| مړ \| او چې اوڅکوؤ مونږ دا اوبهٔ \| په هغوئ باندې \| چې پیدا کړی دی مونږه \| څناور \| او انسانان |
| بیا راژوندئ کړو \|او دخپل پیدا کړی مخلوق نه ډیر څاروی او بنیادم پرې خړوب |
| كَثِيۡرًا ﴿۴۹﴾ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنٰهُ بَيۡنَهُمۡ لِيَذَّكَّرُوۡا ۖ |
| ډیر \| او بار بار کوؤ مونږ دا کار \| په منځ ددوئ کښې \| دپاره ددې چې سبق حاصل کړی \| |
| کړو او مونږ دا (اوبه) په دوئ کښې په مختلفو طریقو سره تقسیمووادې دپاره چه دوئ غور اوکړی |
| فَاَبٰۤى اَكۡثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوۡرًا ﴿۵۰﴾ |
| نو انکار اوکړو (دصحیح لارې اختیارولونه) \| زیاتو خلقو \| مګر وې نهٔ کړو انکار د کفر او ناشکرئ نه |
| خو بیا هم زیات خلق د ناشکرئ کولو نه بغیر نه پاتې کیږی \| |

قوله تعالى:- وَهُوَ الَّذِيٓ اَرۡسَلَ الرِّيٰحَ بُشۡرًاۢ بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهٖ

**هواګانې د باران زیرې دی اود هواګانو مختلف خاصیتونه**:الله جَلَّ جَلَالُهُ خپل یوبل قدرت بیانوی.چه هغه د باران نه مخکښې دباران زیری ورکونکی هواګانې چلوی.په دې هواګانوکښې رب ډیر خاصیتونه ایښودې دی.بعض هواګانې وریځو لره جداکوی،بعضې دې لره اوچتوی، بعضې دې لره روانوی. بعضې ډکې اوخې اولوندې روانیږی خلق درحمت باران طرف ته متوجه کوی.بعضې ددې نه مخکښې زمکه تیاروی.بعضې وریځولره د اوبونه ډکوی.اودا درنوی.دآسمان نه په مونږپاک صفا باران راوروی.چه دا دپاکوالی آله جوړه شی.دلته طهورداسې دې.لکه سحور او جور وغیره.بعضو وئیلی دی چه دافعول په معنی دفاعل دې یادا دمبالغې دپاره مبنی دې یاد متعدی دپاره دې.داټول اقوال دلغت اوحکم په اعتبارسره مشکل دی.دامقام دپوره تفصیل مناسب نه دې.والله اعلم

دحضرت ثابت بنانی رحمه الله بیان دې.چه زهٔ دحضرت ابوالعالیه رحمه الله سره دباران په زمانه کښې اووتلم.د بصرې لارې دغه وخت ډیرې ګنده وې.هغوی په داسې لاره باندې مونځ اداکړو.ماهغوی متوجه کړل.نوهغوی اوفرمائیل.دې لره دآسمان پاکو اوبو پاک کړی دی.الله فرمائی چه مونږدآسمان نه پاکې اوبه راوروؤ.حضرت سعیدبن مسیب رحمه الله فرمائی.چه الله دې لره پاکې نازلې کړی دی، دې لره هیڅ نه ناپاکه کوی.

Scanned with Ca

حضرت ابوسعید خدری ﷺ فرمائی. چه درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو. چه د بئربضاعه نه اودس اوکړو؟ دایوکوهې دې چه په دې کښې به ګندګی اود سپو غوښې غورزولې شوې. نبی ﷺ اوفرمائیل اوبه پاکې دی دې لره څه څیزنه ناپاکه کوی.(۱) امام شافعی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله دا روایت کړې دې. ابوداوُد رحمه الله اوامام ترمذی رحمه الله دې ته صحیح وئیلی دی. په نسائی کښې هم داروایت شته. د عبدالملك بن مروان په دربارکښې یوځل داوبو ذکرشروع شو. نوخالدبن برید رحمه الله اووئیل. بعضې اوبه دآسمان وی. بعضې اوبه هغه وی. چه هغې لره وریځې دسمندرنه څکی. اوهغې لره ګرزاری، او بریښنا خوږې کوی. لیکن هغې سره په زمکه کښې پیداوارنه کیږی. او آسمانی اوبوسره پیداوار راخیژی.

عکرمه ﷺ فرمائی. چه د آسمان هریو څاڅکی سره واښه، ګیا وغیره پیداکیږی یاپه سمندرکښې سیپۍ اوملغلرې پیداکیږی. یعنی ﴿فِى الْبَرِّ وَفِى الْبَحْرِ دُرٌّ﴾ په زمکه کښې غنم اوپه سمندرکښې ملغلرې، بیائې اوفرمائیل چه هم په دې سره مونږ په غیرآباده، بنجر اوچه زمکه ژوندۍ کوو. دا را زرغونه شی او شنه تازه شی. لکه چه فرمان دې. ﴿فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ﴾ علاوه د مړې زمکې د ژوندی کیدونه دا اوبه دځناوروا وانسانانو څکلودپاره استعمالیږی ددوی فصلونو اوباغونوته ورکولې شی. لکه چه فرمان دې چه داالله هغه دې چه دخلقو دپوره نااُمیدۍ نه پس په دوی باندې باران راوروی. اوپه آیت کښې دی چه دالله درحمت آثاروته اوګورئ. چه څنګه مړه زمکه ژوندۍ کوی. بیا فرمائی دې سره زما دقدرت یونظاره داهم اوګورئ چه وریځ راوچتیږی، ګرزیږی لیکن چرته چه زۀ غواړم وریږی په دې کښې حکمت اوحُجت دې. ابن عباس ﷺ قول دې چه هیڅ یوکال دبل کال نه کم اوزیات دباران نه دې لیکن الله تعالی چه چرته اوغواړی ورروی. دکوم ځائې نه چه اوغواړی لرې کوی ئې.(۲) پس پکاروه چه ددې نشاناتوپه لیدلوسره، د الله ددې زبردست حکمتونو او دقدرتونومخې ته ایخودو سره ئې داهم خبره منلې، چه بیشکه مونږ به دوباره ژوندی کیږو. اوپه دې هم پوهه شوی وو چه بارانونه زمونږ دګناهونو دسپیرۀ توب نه بندولې شی. نومونږ ګناه پریږدو. لیکن دې خلقو داسې اونه کړل. بلکه زمونږ په نعمتونو باندې ئې نوره هم ناشکری اوکړله.

یومرسل حدیث په ابن ابی حاتم کښې دې. چه رسول الله ﷺ حضرت جبرئیل ﷺ ته اووئیل چه زۀ د وریځ باره کښې څه تپوس کول غواړم. حضرت جبرئیل ﷺ اوفرمائیل په وریځوچه کومه فرشته مقرر ده هغه داده. تاسوددې نه چه څه غواړئ معلوم کړئ. هغه اووئیل اې دالله رسوله ﷺ! مونږته خودالله حکم راځی چه په فلانی فلانی ښارکښې دومره دومره څاڅکی او وروه. مونږد ارشاد تابعداری کوودباران دنعمت په وخت د اکثروخلقو د کُفر یوه طریقه داهم ده. چه هغوی وائی چه په مونږباندې دفلانی فلانی ستوری په وجه دا باران او ورولې شو. لکه چه په صحیح حدیث کښې دی چه یوځل دباران وریدلونه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اې خلقو! پوهه شوئ ستاسورب څه اوفرمائیل؟ هغوی اووئیل الله او دهغهٔ رسول ښه پوهیږی. نبی ﷺ اوفرمائیل. واورئ! الله فرمائیلی دی. زما دبندګانونه ډیر په ما مؤمنان شول. او ډیر کافران شول. چاچه اووئیل چه صرف دالله په فضل اوکرم سره دا باران په مونږ باندې وریدلې دې. هغوی خوپه ما ایمان لرونکی اوپه ستورو کفر کونکی شول. او چاچه اووئیل چه په مونږ دفلانی فلانی ستوری په اثرسره باران اوورولې شو. هغوی په ماکافران اوپه ستورو مؤمنان شول.(۳)

---

۱) احمد: ۳/۱٥، ابوداود: کتاب الطهارة باب ماجاء فی بئر بضاعة: ٦٦. وسنده حسن.

۲) الطبری: ۱۹/۲۸۰. وسنده صحیح.

۳) صحیح بخاری کتاب الاذان باب یستقبل الامام الناس اذا سلم: ۸٤٦، صحیح مسلم: ۷۱.

Scanned with Ca

وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيْرًا ۖ فَلَا تُطِعِ

او که غوښتلي مونږ | نو لیږلي به وي مونږ | په هر کلي کښې | یو یرونکي | نو مه منه خبره |

او که مونږ غوښتلي نو په هر یو کلي کښې به مو یو یرونکي لیږلي وو | نو ته د کافرانو

الْكٰفِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا ۞ وَهُوَ

د کافرانو | او جهاد کوه ددوئ سره | په ذریعه ددې قران | جهاد | لوئ | او هغه

خلقو خبرې هیڅرې مه منه || او دقران پاک په ذریعه هغوئ سره ښه کلکه مقابله او کړه

الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا

هغه ذات دې | چې روان کړي ئې دی | دوه دریابونه | دا یو خوږ مزیدار دې || او دا بل

او الله هغه ذات دې | چې دوه دریابونه ئې یوځائې روان کړي دی | چې یو خوږ دې تنده وژنې

مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا

تریو او تریخ دې || او جوړه کړې ئې ده | په منځ ددواړو کښې | پرده | او بند |

او یو مالګین دې | چې د دواړو ترمینځه ئې یوه پرده او یو مضبوط بند پیدا کړې دې

مَّحْجُوْرًا ۞ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا

منع کونکې یو بل لره د ګډوډیدونه | او هغه هغه ذات دې | چې پیدا ئې کړو داوبو نه | انسان |

او الله ﷻ هغه ذات دې | چې داوبو (دڅاڅکې) نه ئې انسان پیدا کړو | بیا ئې

فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ۭ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ۞

پس جوړ ئې کړو هغه | نسب والا | او سخر ګنئ والا | او دې رب ستا | قدرت والا |

هغه دخپلې کورنئ او سخرګنئ خاوند کړو | او ستا رب (په هره خبره) قادر دې

قوله تعالى:- وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا

**د رسول کریم ﷺ نبوت ټولې دنیا دپاره دې** "که رب غوښتلې نوهرهرکلی ته به ئې یو یو نبی لیږلې. لیکن هغهٔ ټولې دنیاطرف ته یونبی لیږلې دې. اوبیانې هغهٔ ته حکم ورکړې دې. چه ددې قرآن وعظ ټولوته واوروه. لکه چه فرمان دې. چه زه په دې قرآن سره تالره اوچاچاته چه دا اورسیږی هوښیاروم. اوپه دې ټولوډلو کښې چه څوك هم ددې نه کفراوکړی. دهغهٔ دوعدې ځائې جهنم دې. اوفرمان دې. چه ته مکې والا اودڅلور واړه طرفوخلق خبرکړه. په بل آیت کښې دی چه اې نبیﷺ! تاسو اووایئ چه اې ټولوخلقو! زهٔ تاسوټولوطرف ته رسول الله جوړشوې راغلې یم.([1]) دبخاری اومسلم په حدیث کښې دی. چه زه سور او تورټولوطرف ته رالیږلې شوې یم.([2]) دبخاری اومسلم په بل حدیث کښې دی. چه ټول نبیان خپل خپل قوم طرف ته لیږلې شول. اوزهٔ عاموخلقوطرف ته لیږلې شوې یم. بیانې اوفرمائیل دکافرانوخبره مه منئ. اوددې قرآن په ملګرتیاکښې هغوی سره ډیر لوئې جهاد اوکړئ. لکه چه ارشاد دې ﴿ يَاۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ ﴾ یعنی اې نبی! کافرانو اومنافقانوسره جهاد کوه. هم دې رب اوبه دوه قسمه کړی دی خوږې او

[1]) صحیح مسلم: کتاب المساجد باب المساجدومواضع الصلاة: ۵۲۱.

[2]) صحیح بخاری کتاب التیمم باب :۱ حدیث : ۳۳۵. صحیح مسلم: ۵۲۱.

Scanned with Ca

ترخې،د نهرونو، چینو او کوهیانو اوبه عام طورباندې خوږې صفا اوښهٔ خوند والا وی.د بعضې ولاړ سمندرونو اوبه ترخې او بې مزې وی.د الله ﷻ په دې نعمت باندې هم شکر کول پکاردی.چه هغه خوږې اوبه څلور طرفوته خورې کړی دی.چه خلقوته په لامبلو وینځلو اوخپلو پټو اوباغونوته اوبه ورکولوکښې آسانی وی.مشرقونو اومغربونو لره راګیرونکی سمندرونه ئې د ترخو اوبه جاری کړی دی.چه هغه ولاړ دی. یوځوا بل خوانه بهیږی.لیکن چپې وهی.حرکت کوی بعضې ښکته پورته کیږی.دهر میاشتې په شروع تاریخونوکښې خوپه دې کښې زیاتوالې او تیزوالې راځی.بیا دسپوږمۍ کمیدوسره داهم کمیږی .تردې چه په آخرکښې خپل حالت ته راځی.بیاکله چه سپوږمۍ غټیږی داهم زیاتیږی.څوارلسم تاریخه پورې برابر سپوږمۍ سره زیاتیږی.بیا کمیدل شروع کیږی.داټول سمندرونه هم دې الله پیداکړی دی. هغه پوره اوزبردست قدرت والادې.ترخې اوګرمې اوبه اګرچه دڅکلوپه کارنه راځی.لیکن هواګانې صفا کوی.چه په دې سره انسانی ژوندپه هلاکت کښې نه پریوځی.په دې کښې چه کوم ځناور مړهٔ کیږی. دهغې بدبوئی دنیاوالوته تکلیف نه رسوی.اود ترخو اوبوپه وجه دهغې هوا صحت ورکونکې او مزه ئې پاکه اوښه وی.

دنبی کریمﷺ نه چه کله دسمندر داوبوباره کښې تپوس اوشو.چه آیا مونږددې نه اودس کوو؟ نونبیﷺ اوفرمائیل ددې اوبه پاکې دی.اوددې مړشوې حلال دې([1]).مالک رحمه الله، شافعی رحمه الله اواهل سنن دا روایت کړې دې.او اسنادئې هم صحیح دې.بیادهغهٔ دې قدرت ته اوګورئ چه خاص په خپل طاقت سره اوپه خپل حکم سره ئې یودبل نه جداساتلې دې.چه نه ترخې په خوږوکښې ملاویږی اونه خوږې په ترخوکښې ملاویږی.لکه چه فرمان دې.﴿مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ۙ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ۚ﴾هغه دواړه سمندرونه جاری کړی دی چه دواړه یوځائې دی اوددې دواړوپه مینځ کښې یوه پرده قائم کړې ده.چه دحدنه وانهٔ وړی. بیا تاسو د خپل رب دکوم نعمت نه انکار کوئ؟په بل آیت کښې دی څوك دې هغه چه زمکه ئې ځائې د اوسیدو جوړه کړې ده اوپه دې کښې ئې ځائې په ځائې دریابونه جاری کړی دی.په دې ئې غرونه قایم کړی دی. اود دوؤ سمندرونوپه مینځ کښې ئې پرده جوړه کړې ده.آیادالله سره بل څوك معبود هم شته؟ خبره داده چه ددې مشرکانواکثرخلق بې علمه دی.هغه انسان دکمزورې نطفې نه پیداکړې دې.بیادې ټهیك ټهاك اوبرابرجوړکړې دې.اوپه ښهٔ پیدانش کښې ئې پیداکړې دې بیائې دې سړې یاښځه جوړ کړې دې.بیائې ددهٔ دپاره دنسب رشته دارجوړکړی دی.بیائې څه موده پس د سخرګنئ رشتې قائم کړی دی.ددومرهٔ لوئې قدرت والا الله قدرتونه ستاسوپه وړاندې دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَيَعْبُدُونَ | | مِنْ دُونِ اللّٰهِ | مَا | لَا يَنْفَعُهُمْ |
| او عبادت کوی دا خلق | بې | دالله نه | دهغه څیزونو | چې نفع نهٔ شي رسولې هغوئ ته |
| اودوئ دالله ﷻ نه سوا د هغه چا عبادت کوی | | | | چې نه ورته نفع رسولې شي |
| وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ | وَكَانَ | الْكَافِرُ | عَلٰى | رَبِّهٖ |
| اونهٔ ضرر رسولې شي هغوئ ته | او دې | کافر | په مقابله | درب خپل کښې |
| اونه زیان | اوکافرانو هسې هم دخپل رب قدرتونو ته شاکړې ده | | | |

[1]) ابوداود کتاب الطهارة باب الوضوء بماء البحر: ۸۳.

ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾ وَمَآ أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ

مدد ګار (دهر باغی) | اونه نې لیږلې مونږ ته | مګر | زیرې ورکونکې | او یرونکې | ورته اووایه

او مونږ خو ته خوشخبری رسوونکې اوویرونکې لیږلې ئې | ته ورته اووایه

مَآ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَآءَ أَنْ يَّتَّخِذَ

نه غوارم زه ستاسو نه | په دې کار باندې | څه اجر | مګر دا | چې څوک غواړی | چې اونیسی |

زه تاسو نه په دې تبلیغ څه اجر نه غوارم | مګر صرف هغه څوک غواړی | هغه دې خپل

إِلٰى رَبِّهٖ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ

طرف درب خپل نه | لاره | او توکل اوکړه | په هغه ژوندی الله باندې | چې نه مری |

رب ته نیغه لارا اونیسی | او ته په هغې ژوندی (الله ﷻ) باندې باور کوه | چې هیچرې نه مری

وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ۚ وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوبِ عِبَادِهٖ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾

او تسبیح وایه | د حمد دهغه سره | او کافی دې هغه | په ګناهونو دبندګانو خپلو باند | ښه خبردار |

دهغه په تعریف کښې تسبیح لوله | او هغه دخپلو بندګانو دګناه نه ښه خبر دې

الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

هغه الله | چې پیدا ئې کړل | اسمانونه | او زمکه | او هغه چې په منځ ددې دواړو کښې دی

(الله) هغه ذات دې چې آسمانونه او زمکه او د دې په مینځ کښې چه څه دی هغه ئې په

فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ الرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ

په شپږو ورځو کښې | بیا برابرشو په عرش باندې | رحمان | پس تپوس اوکړه | ددهٔ دشان |

په شپږو ورځو کښې پیدا کړل | بیا هغه په عرش باندې قائم شو | او هم هغه رحمان دې انو دهغه په حق

خَبِيرًا ﴿٥٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوا

دپوهه سړی نه | او کله چې | اووئیلې شی | دوئ ته | چې سجده اوکړئ | دې رحمان ته | نو وائی |

دچا پوهه نه پوښتنه اوکړه | او هر کله چې دوئ ته اووئیلې شی چې تاسو رحمان ته سجده اوکړئ | نو دوئ وائی

وَمَا الرَّحْمٰنُ ق أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ

اوڅه دې رحمان | آیا مونږ به سجده کوو | هغه ته | چې ته حکم کوی مونږ ته | او زیات کړل دې حکم دوئ لره

چې رحمان څوک دې ؟ | آیا مونږ هغه چاته سجده او کړو | چاد پاره چه ته مونږ ته د سجدې حکم راکوې

نُفُورًا ﴿٦٠﴾ ع

په لحاظ دنفرت سره |

اودوئ په نفرت کښې زیاتوی |

**قوله تعالی:- وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ**

**دمشرکانو دجهالت اوضد بیان:** دمشرکانو جهالت بیانیږی چه هغوی بُت پرستی کوی او بې دلیل او بې حُجته هغې ته سجدې لګوی.چه هغه نه دنفع مالك دی او نه دنقصان،صرف دپلانیکونو په لیدلو

Scanned with Ca

نفساني خواهشاتوسره ني دهغي محبت اوعظمت په زړه کښې کينولې دې.او الله ﷻ ارسول ﷺ سره دشمني اومخالفت کوي.په شيطاني لښکرکښې شامل شوی دی.اودالله دلښکرمخالف شوی دی. ليکن ياد ساتئ چه آخرانجام غلبه به دالله والووی.دوی په دې اميد کښې دی.چه دا باطل معبودان به د دوی مددکوی.حالانکه دابالکل غلطه ده.دوی هسې بيسه دهغوی دطرفه زورلګوی.آخرانجام به خاص د مؤمنانوپه لاس کښې وی.په دنيا او آخرت کښې به دهغوی پرودرګار دهغوی امداکوی.دې کافرانو لره خوشيطان صرف دالله په مخالفت باندې راپورته کوی نورهيڅ نشته.د ربنتونی الله دشمنی ددوی په زړونوکښې اچوی.دشرك محبت پکښې کينوی.دوی دالله دحکمونونه مخ اړوی.بيا الله ﷻ رسول ﷺ ته خطاب دوی فرمانی چه مونږ تالره مؤمنانوته خوشخبری اوروونکی اوکافرانو لره ويرونکې جوړ کړې ليږلی يې.چه تابعداری کونکوته دجنت زيرې ورکړئ اونافرمان دجهنم د عذابونونه خبر کړئ . په خلقوکښې عام طورباندې اعلان اوکړئ.چه زه دخپل تبليغ بدله دخپل وعظ مزدوری ستاسونه نه غواړم.زما اراده په دې سره سوا د الله ﷻ درضامندئ دلټولونه هيڅ نه ده.زه صرف دا غواړم چه په تاسو کښې څوك په صحيح لاره راتلل غواړی. هغه ته صحيح لاره اوښايم.اې پيغمبره! په خپلو ټولو کارونو کښې په هغه الله باندې أميد ساته.چه هغه هميشه او دوام والادې.چه هغه دمرګ او وفات کيدونه پاك دې.چه هغه داول او آخر، ښکاره اوپټ اوپه هرڅيزعالم دې.چه هغه دائم، باقی سرمدی، ابدی حي قيوم دې. چه هغه دهرڅيزمالك او رب دې.هغهٔ لره خپل ماوی او ملجا اوګرځوئ.هم دهغه ذات داسې دې چه په هغه باندې توکل اوکړې شی.په هره ويره کښې هغهٔ طرف ته متوجه شئ.هم هغه کافی دې هغه ناصر دې. هم هغه مؤيد اومظفردی.لکه چه فرمان دې﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ﴾اې نبی! کوم څه چه ستا طرف ته ستادرب دطرفه نازل شوی دی هغه اورسوه.که تا دا اونه منل نوتا درسالت حق ادانکړو.تاسو بې فکره اوسئ الله به تاسولره دخلقو دبدې ارادې نه اوساتی.

په يومرسل حديث کښې دی چه دمدينې طيبې په يوه کوڅه کښې حضرت سلمان رض رسول الله ﷺ ته سجده اوکړله نوهغوی ﷺ اوفرمانيل.اې سلمان! سجده مه کوه دسجدې لائق هغه دې چه هغه هميشه ژوندوالادې.چه په هغه کله هم مرګ نه راځی (ابن ابی حاتم) اودهغهٔ تسبيح اوحمد بيانوه.پس نبی کريم ﷺ به ددې په تعميل کښې فرمانيل.((سُبۡحَانَكَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمۡدِكَ)) [1]مراد ددې نه دادې چه عبادت خاص دالله کوه،توکل صرف دهغهٔ په ذات کوه، لکه چه فرمان دې چه دمشرق اومغرب رب خاص هغه دې دهغهٔ نه سواڅوك معبود نشته. ته خاص هغهٔ لره خپل کارساز اوګڼړه.بل ځاې دی. ﴿فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِ﴾ خاص دهغهٔ عبادت کوه،هم په هغه أميد ساته.په بل آيت کښې دی.چه اعلان اوکړه چه هم ددې رحمن مونږ بندګان يو،اوهم په ده باندې زمونږکامل اعتماد دې.په هغه باندې دبندګانو چلونه ښکاره دی.هيڅ يوه ذره دهغهٔ نه پټه نه ده.هيڅ د رازخبره هم دهغهٔ نه پټه نه ده.خاص هغه دټولوڅيزونوخالق، مالك او قابض دې.هم هغه دهرساه لرونکی روزی رسان دې.هغه په خپل قدرت اوعظمت سره آسمانونه او زمکې اوددې پشان زبردست مخلوق په شپږو ورځوکښې پيداکړې دې.بياپه عرش باندې قايم شو. د کارونودتدبيرونوانجام همدهغهٔ دطرفه دې اوخاص دهغهٔ په حکم اوتدبيرسره دی.دهغهٔ فيصله ربنتوني اوښهٔ وی.څوك چه دالله په ذات عالم وی څوك چه دالله په صفاتو خبروی .نو دداسې نه دهغه شان معلوم کړئ.داښکاره ده چه دالله دذات پوره خبرداری لرونکې،دهغهٔ د ذات نه پوره خبردار نبی کريم ﷺ وو.چه هغه د آدم عليه السلام دټول اولاد علی الاطلاق سرداروو.چه هغهٔ به يوه خبره هم دخپل طرفه نه کوله.بلکه چه څه به ئې فرمانيل هغه فرمان به د الله ﷻ وو.هغهٔ چه کوم صفتونه د الله ﷻ بيان کړی

[1]) صحيح بخاری کتاب الاذان باب الدعاء فى الرکوع: ۷۹۴، صحيح مسلم: ۴۸۴.

Scanned with Ca

دی تول حق دی.نبی کریمﷺ چه کوم خبرونه ورکړی دی تول رښتیادی.رښتوني امام خاص رسول اللهﷺ دي.دټولوجهګړو فیصله خاص درسول اللهﷺ په حکم سره کولې شي.څوك چه د رسول اللهﷺ خبره بیان کړی هغه رښتوني دي.څوك چه د رسول اللهﷺ خلاف خبره اوکړی هغه مردود دې که هغه څوك هم وی. د الله فرمان واجب الاعلان عام طورباندې صادرشوې دې:-

﴿فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ﴾که تاسوپه څه څیزکښې جهګړه اوکړئ نوهغه الله او دهغه رسولﷺ طرف ته یوسئ. او فرمان دې﴿وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ﴾ تاسوچه په کوم څیزکښې هم اختلاف اوکړئ دهغې فیصله دالله دطرفه ده.اوفرمان دی.﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا﴾ستادرب خبرې پوره شوې هغه په خبرو کښې رښتیا اوپه حکم اوممانعت کښې دعدل دی داهم نقل دی.چه مراد ددې نه قرآن دې.مشرکانو به دالله نه سوا نوروته سجده کوله.هغوی ته چه به کله رحمن ته دسجدې کولو اووئیلی شو.نوهغوی به وئیل چه مونږ رحمن نه پیژنو.هغوی دهغۀ نه منکروو.دالله نوم رحمن دې.لکه چه دحدیبیه په کال رسول اللهﷺ دصلح نامې لیکونکی ته اوفرمائیل:-

﴿ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴾ اولیکه.نومشرکانو اووئیل نه مونږ رحمن پیژنو نه رحیم.زمونږ د رواج مطابق ،،بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ،، اولیکه.ددې په جواب کښې داآیت نازل شو.﴿ قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَٰنَ ﴾ اووایه چه الله رابلئ یا رحمن! په کوم نوم سره چه غواړئ هغه رابلئ دهغۀ ډیر ښائسته نومونه دی.هم هغه الله دې هغه رحمن دې.پس مشرکانوبه وئیل.چه آیا صرف ستاپه وینا باندې مونږ داسې اوکړو.غرض داچه هغوی نور هم په نفرت کښې زیات شول.په خلاف د مؤمنانو،چه دوی دالله عبادت کوی.کوم چه رحمن اورحیم دې هم هغه دعبادت لائق ګڼړی.اوهم هغۀ ته سجدې کوی.دعالمانو ﷺ اتفاق دې.چه د سورۂ فرقان ددې آیت په لوستونکی او اوریدونکی باندې سجده واجب ده.لکه چه ددې په ځائې کښې ددې تفصیل موجود دي.وَاللهُ سُبحانَه وَتَعَالٰی اَعلَم.

تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا

| ډیر برکت والا دې | هغه ذات | چې جوړ نې کړل | په اسمان کښې | برجونه |

| نود برکت خاونددې هغه ذات | چې اسمانونو کښې نې ستوری جوړ کړل

وَّجَعَلَ فِیْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِیْرًا ﴿۶۱﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

او پیدا نې کړه | په هغې کښې ډیوه (نمر) | او سپوږمۍ | روښانه | او هغه | هغه ذات دې |

او په هغې کښې ئې یوه ډیوه (نمر) اوروښانه سپوږمۍ جوړه کړه | اوهم هغه ذات دې

جَعَلَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ

چې وې ګرزول | شپه | او ورځ | یو بل پسې راتلو نکې | دپاره دهغه چا | چې اراده لری |

چې شپه او ورځ ئې په یوبل پسې نائبان ګرځولی دی | (دانځښې) دهغه چا دپاره دی

اَنْ یَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿۶۲﴾

چې نصیحت واخلی | یا اراده لری | دشکر ایستلو |

چې نصیحت حاصلول غواړی |

قوله تعالی:- تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا

**د نمر اوسپوږمۍ شپه ورځ ګردش** " دالله لوئی،عظمت،قدرت اولوئې شان ته اوګورئ چه هغه په آسمان کښې برجونه جوړ کړل. ددې نه مراد یاخو لوئې لوئې ستوری دی یاد څوکیدارئ برجونه دی.ړومبې

Scanned with Ca

قول زیات واضح دي.اوکیدي شي چه د لویولویو ستوررونه مراد هم دا برجونه وی.په بل ایت کښې دی
چه آسمان ددُنیا مونږ ستوروسره ښائسته جوړکړې دې.د سراج نه مراد نمردې.چه دا پړقیږی.اوپه شان
د ډیوې دې.لکه چه فرمان دې.﴿ وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴾ اومونږ روښانه ډیوه یعنی نمر جوړ کړو.او سپوږمۍ
موجوړه کړله چه دا روښانه او رڼا ورکونکې ده.د نورو رڼا ورکونکونه کوم چه دنمرنه علاوه دی.لکه
چه فرمان دې.چه هغه نمرلره روښانه جوړکړو او سپوږمۍ ئې نورجوړه کړله.حضرت نوح ﷺ خپل قوم
ته اوفرمائیل.﴿ اَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ﴾ آیا تاسونه ګورئ چه الله ﷻ لاندې باندې اووۀ آسمانونه
پیدا کړل اوپه دې کښې ئې سپوږمۍ نورجوړه کړله او نمرئې ډیوه جوړه کړله.شپه ورځ یوبل پسې
تلونکی راتلونکی دی.دادهغۀ دقدرت نظام دې.چه یولاړشی بل راځی، دیو تلل دبل راتلل دی.لکه چه
فرمان دې.هغه تاسو دپاره نمرسپوږمۍ پرله پسې تلونکی راتلونکی جوړکړی دی.بل ځائې کښې دی.
شپه ورځ لره پټوي،اوپه جلتۍ جلتۍ دې لره طلب کونکې راځی.نه نمر دسپوږمۍ نه مخکښې کیږی نه
شپه د ورځې نه وړاندې کیږی. ددې نه دهغۀ دعبادتونو وختونه دهغۀ بندګانوته معلومیږی.چه دشپې
پاتې شوې عمل په ورځ کښې پوره کړی اود ورځې پاتې شوې عمل دشپې اداکړی.په صحیح حدیث
کښې دی. الله ﷻ دشپې خپل لاس خوره وی.چه د ورځې ګناهګارتوبه اوکړی.اود ورځې لاس خوره وی
چه دشپې ګنهګار توبه اوکړی.[1]
حضرت عمرفاروق رضی الله عنه یوه ورځ دساخت په مونځ کښې ډیروخت اولګولو.په تپوس ئې اوفرمائیل چه
دشپې زماځه وظیفه پاتې شوې وه.نوما اوغوښتل چه هغه پوره یا قضا اوکړم.بیاهغوی دا آیت تلاوت
کړو.د﴿خلفة﴾یومطلب داهم دې چه مختلف،یعنی ورځ رڼا شپه تیاره،پدې رڼا په هغې کښې تیاره دا
نورانی هغه ظلماتی.[2]

| |
|---|
| وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ |
| \| او بندګان درحمان \| هغه دی \| |
| \| او دالله ﷻ (ریښتونی)بندګان هغه دی \| چې په |
| يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ |
| چی ګرځی \| په زمکه باندې\| په نرمۍ سره \| او کله چی \| خبری کوی دهغوئ سره \| جاهلان خلق \| |
| عاجزئ سره په زمکه ګرځی \| اوچې کله جاهلان ورسره خبرې کوی \| نو ورته وائی |
| قَالُوْا سَلٰمًا﴿٦٣﴾ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا |
| نو وائی(په جواب کښی ) \| سلام \| او هغه کسان دی \| چی شپې تیروی \| رب خپل ته \| سجده کونکی |
| چې زمونږ سلام دې \|اوهغه کسان چې شپه خپل رب ته په سجده او قیام کښې تیروی |
| وَّقِيَامًا﴿٦٤﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ |
| او قیام کونکی \|او هغه کسان دی \| چی وائی \| اے ربه زمونږه \| اوګرزوه \| زمونږ نه \| عذاب |
| اوهغه کسان چې دا دعا غواړی \| چې ائې زمونږه ربه ! ددوزخ |

[1]) صحیح مسلم کتاب التوبة باب قبول التوبة من الذنوب وان تکررت الذنوب والتوبة: ۲۷۵۸. ابن ماجه: ۱۹۵.
[2]) الطبری : ۱۹/۲۹۰.

Scanned with Ca

| |
|---|
| جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَاءَتْ |
| ددوزخ \| بیشکه عذاب ددوزخ \| دي \| لازم همیشه \| بیشکه دا دوزخ \| ډیر خراب دي \| |
| دعذاب نه مونږ بچ کړه \| بیشکه چي دغه عذاب ډیره سمه تباهي ده \| یقني ده چې هغه |
| مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُوا |
| په لحاظ دځاني دقرار \| او داستوګنې \| او هغه کسان دي \| کله چي خرچ کوي هغوئ \| |
| خرابه ټکانه اوخراب ځائې دي \| ............اوهغه کسان چې څه وخت خرچ کوي |
| لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ |
| نوننه اسراف کوي \| اونه کموالي کوي \| اووي په منځ ددې کښې \| قائم په اعتدال \| |
| نو نه خو مال بې ځایه خرچ کوي \| او نه شومتیا کوي \| او د ده خرچ درمیانه وي \| |

قوله تعالى:- وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا

**د مومنانو صفات** "د الله ﷻ دمؤمنانو بندګانو صفات بیانیږي. چه هغوی په زمکه باندې په قلاره او آرام سره تواضع اوعاجزئ، مسکینئ او عاجزئ سره ګرځي. تکبر، زبردستي، فساد اوظلم ستم نه کوي. لکه حضرت لقمان ﷺ چه خپل خوی ته فرمائیلي وو. چه تکبرسره مه ګرځه. دا مطلب بالکل نه دې. چه عاجزئ او ریاکارئ سره ملا ټیټه کړه دبیمارانوپه شان قدم په قدم ګرځه. داخود ریاکارو کاردې. چه هغوی خپل ځان خلقوته دخودلو دپاره اود دنیا نظرونه ځان طرف ته اوچتولو دپاره داسې کوي. دنبي کریم ﷺ عادت مبارك ددې نه بالکل خلاف وو.

دنبي ﷺ چالداسې ووچه نبي ﷺ ګویا داوچت ځائې نه راکوزیږي[1] اوګویاچه زمکه نبي ﷺ دپاره راټولیږي[2] سلف صالحینو دبیمارانوپه شان تکلیف والاچال مکروه فرمائیلي دې. عمر فاروق ﷺ یو خوان اولیدلوچه هغه ډیرپه مزه مزه روان وو. هغوی دهغه نه تپوس اوکړوچه آیا ته څه بیمارېې؟ هغه اوونیل نه. هغوی اوفرمائیل بیا داڅه چال دې؟ خبردارځوك چه اوس داسې خی کوړې به خوری. طاقت سره زرزرځه. پس دلته مراد آرام او سکون سره شریفانه اندازباندې تلل دی دکمزورئ او بیمار په شان نه. لکه چه یوحدیث کښې دی چه کله مانځه دپاره راځئ نوپه منډه مه راځئ بلکه په آرام راځئ څه چه جماعت سره ملاؤشي اداکړئ اوکوم چه فوت شي هغه پوره کړئ.[3] حسن بصري رحمه الله علیه ددې آیت په تفسیرکښې ډیره ښائسته خبره ارشاد فرمائیلي ده. چه دمؤمنانو سترګې او ددوی غوږونه او ددوی اندامونه ټیټ او بندوی. تردې چه کم عقل اوبیوقوف خلق دوی لره بیمارګنړي. حالانکه هغوی بیماران نه وی. بلکه دالله د ویرې نه ټیټ وی. هسې پوره تندرست وی. لیکن زړه ئې دالله د ویرې نه ډك وی. د آخرت علم ددنیا طلب کولونه او ددې دښائست نه هغوی لره منع کړی دی. دوی به دقیامت په ورځ وائي چه دالله شکردې چه هغه زمونږنه غم لرې کړو. ددې نه دې ځوك دا اونه ګنړی چه دوی ته په دنیاکښې دخوراك څکاك وغیره غم لګیدلي وو. نه نه په الله قسم! ددنیا هیڅ غم دوی ته نزدې هم نه راتلو. البته دوی ته به دآخرت ویره هروخت لګیدلې وه. دجنت هیڅ یوکاربه دوی دروند نه ګنړلو. البته دجهنم ویرې به دوی لره ژړول. ځوك چه دالله ویرې ورکولوسره هم نه ویریږي. دهغه نفس د حسرتونو مالك دې. ځوك چه صرف خوراك څکاك دالله نعمت اوګنړی هغه کم علم دې. اوپه عذابونوکښې ګیر

[1]) ترمذی کتاب المناقب باب وصف علی النبي صلی الله علیه وسلم: ۳٦۳۷، وهو حسن احمد: ۱٤٤/۲.
[2]) ترمذی کتاب المناقب قول ابي هريرة رضی الله عنه ما رایت شیئا احسن......:۳٦٤۸ وهو صحیح.
[3]) صحیح بخاری کتاب الاذان باب لا یسعی الی الصلاة ولیاتها بالسکینة والوقار: ٦۳٦.

Scanned with Ca

شوې دې.بيانې دخپلونيکانوبندګانو صفت بيان کړلو.چه کله چه جاهل خلق دوی سره دجهالت خبرې کوی نودوی هم دهغوی په شان جهالت باندې نه راځی بلکه صبر کوی اومعاف کوی.او سوا دښه خبرې نه په ګنده خبروسره خپله ژبه نه خرابوی.لکه څنګه چه د رسول اللهﷺ عادت مبارک وو.چه کله به څوک په نبیﷺ باندې تیزشول.هغوی به هغومره نرمیدل.هم دا صفت دقرآن کریم په دې آیت کښې بیان شوېدې.﴿وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ﴾مؤمنان خلق ګنده خبرو اوریدوسره مخ اړوی.په یوحسن سندسره مسند احمدکښې روایت دې چه درسول اللهﷺ په مخکښې یوسړی بل کس ته بدرد اووئیل. لیکن هغه مخامخ جواب ورکړوچه په تادې سلام وی.نبی کریمﷺ اوفرمائیل.ستاسو دواړو په مینځ کښې فرشته موجود وه.کوم کس چه به کنځل کول فرشتې به وئیل دې نه بلکه ته، اوکله چه به تاوئیل چه په تادې سلام وی نو فرشتې به وئیل په ده باندې نه،بلکه په تا باندې، ته دسلامتیا پوره حقداریې(۱).پس فرمان دې چه دوی خپله ژبه نه ګنده کوی.بد ویونکوته بدنه وائی.د ژبې نه دښه کلمې نه بغیربل څه لفظ نه اوباسی.

حسن بصریؒ فرمائی.چه بل څوک په دوی باندې ظلم اوکړی.دې صلح اوبرداشت کوی.ورځې دالله بندګانوسره داسې تیروی چه دهغوی ترخې سپورې اوری.اوشپې چه په کوم حالت کښې تیروی دهغې بیان په راتلونکی آیت کښې دې فرمائی چه شپه دالله په عبادت اودهغه په اطاعت کښې تیریږی.ډیرکم اوده کیږی دسحر استغفارکوی، اړخونه د بسترونه جدا ساتی.په زړه کښې ئې دالله ویره وی.د رحمت امیدساتی اود شپې وختونه دالله په عبادت کښې تیروی دعاګانې غواړی چه ای الله! دجهنم عذاب زمونږنه لرې کړې هغه خوهمیشه او لازمی عذاب دې.لکه چه یوشاعرد الله ﷻ شان بیان کړې دې.﴿إِنْ يُعَذِّبْ يَكُنْ غَرَامًا وَإِنْ يُعْطِ جَزِيلًا فَإِنَّهُ لَا يُبَالِي﴾یعنی دهغه عذاب هم سخت او لازمی او ابدی، او د هغه عطاء اوانعام هم ډیره زیاته بې شمیره اوبې حسابه ده.کوم څیزچه راشی اوختم شی داغرام نه دې.غرام هغه دې چه هغه دراتلونه پس دختمیدو اولرې کیدونوم نه اخلی(۲)دامعنی هم شوې ده چه دجهنم عذاب تاوان دې چه دابه کفران دنعمت سره اخستلې شی.چه دوی د الله ﷻ ورکړې شوې نعمت دهغه په لاره کښې اونه لګولو.لهذاني به دهغې تاوان دا ورکولې شی.چه جهنم ډک کړی.هغه ډیر فراخه ځائې دې بدمنظردې،تکلیف ورکونکې دې، مصیبت ناک دې.

**د دوزخ خطرناک کیفیت**:-دمالك بن حارثؓ بیان دې.چه کله دوزخی په دوزخ کښې اوغورزولې شی الله ته علم دې چه څومره مودې پورې به هغه لاندې ښکته روان وی.ددې نه پس به دجهنم په یو دروازه باندې هغه لره اودرولې شی ورته به اووئیلې شی.چه ته به ډیر تږې شوې یې.واخله یوجام خو اوڅکه.په دې وئیلوسره به په هغه د تورمارانو اود زهریله لړمانو د زهرو یوه پیاله اوڅکولې شی.چه دهغې په څکلو به دهغه څرمن جداشی،وینښته به ئې جداشی،رګونه به ئې جداجداشی.عُبیدابن عمیرؒ فرمائی چه په جهنم کښې دکوهیانوپه شان کندې دی.په هغې کښې ماران داسې دی لکه بختی اوښان،او لړمان داسې دی لکه خچر،کله چه یو جهنمی په جهنم کښې اوغورزولې شی.نودا راوځی او هغه لره راګیروی په شونډو باندې، په سرباندې،اود بدن په اندامونو ورته ټکونه ورکوی اوچیچی.چه پدې سره دهغه په ټول بدن کښې زهرخوارۀ شی.او خوټکیږی دټول سرڅرمن ئې اوسوزی او اوغورزیږی.بیا هغه ماران لاړشی.

**د یو ګناهګار جهنمی تذکره**:-رسول اللهﷺ فرمائی چه جهنمی به زرکاله پورې په جهنم کښې چغې وهی چه ﴿يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ﴾ بیابه الله ﷻ حضرت جبرئیلؑ ته اوفرمائی لاړشه اوګوره چه دې څه وائی.چه هغه

---

(۱) احمد: ۴۴۵/۵..

(۲) الطبری: ۲۹۷/۱۹.

Scanned with Ca

راشی اوبه ګوری چه ټول جهنمیان په بدحال کښې سرښکته کړې ژړا اوفریادکوی.هغه به لاړشی د الله ﷻ په دربارکښې به خبرورکړی. الله ﷻ به اوفرمائی بیا لاړشه په فلانی فلانی خانې کښې دا سړې دې لاړشه اوهغه راوله.هغه به دالله په حکم لاړشی اوهغه به راولی دالله په مخکښې به ئې اودروی. الله ﷻ به دهغه نه تپوس کوی چه ته په څنګه خانې کښې وې؟ هغه به جواب ورکړی چه اې الله! د اوسیدوهم خراب خانې اود اودهٔ کیدو پاسیدوهم بدترین خانې دې. الله ﷻ به اوفرمائی بنه اوس دې خپل خانې ته واپس کړه.نو هغه به په چغو ژاړی عرض به اوکړی چه اې زما ارحم الراحمین ربه! اې الله! چه تازهٔ ددې نه بهر راویستلم نوستا ذات داسې نه دې چه بیا ما هغې ته داخل کړې.زماخوستا درحم اوکرم امید دې.اې الله! بس اوس په ماباندې کرم اوکړه.کله چه تازهٔ دجهنم نه راویستلم نوزهٔ خوشحاله شوم.چه اوس به مې ته ورته نه اچوې.دې مالك اورحمان رحیم رب ته به هم رحم ورشی اوبه فرمائی چه زما بنده پریږده.(1)بیا دهغهٔ یوبل صفت بیانیږی چه نه خوهغه اسراف کونکې دې نه بخیل دې نه بې ځایه خرج کونکې دې،نه په ضروری اخراجاتوکښې کمی کوی.بلکه د میانه روئ نه کار اخلی.نه داسې کوی چه خپل خلق اواهل وعیال هم تنګ کړی.اونه داسې کوی چه څه ورسره وی لوټ ئې کړی.هم ددې حکم الله ﷻ فرمائیلې دې﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً﴾یعنی نه خوته خپل لاس خپل سټ پورې تړه،اونه دا بالکل پریږده. په مسند احمد کښې د رسول الله ﷺ فمان دې چه په خپلو خرچوکښې میانه روی کول دانسان د هوښیار توب دلیل دې.(2) اوپه حدیث کښې دی چه څوك د افراط تفریط نه خان ساتی هغه کله هم فقیر او محتاج کیږی نه (3)،د بزارپه حدیث کښې دی چه په مالداریٔ کښې، غریبیٔ کښې، عبادت کښې میانه روی ډیر غوره اوافضل څیزدې(4).حسن بصری رحمه الله فرمائی.چه دالله په لاره کښې چه څومره غوارې ورکړه ددې نوم اسراف نه دې.حضرت ایاس بن معاویه رحمه الله فرمائی.چرته چه ته د الله ﷻ دحکم نه زیاتې اوکړې هغه اسراف دې.اود بزرګانوقول دې.چه د الله ﷻ په نافرمانیٔ کښې خرچ کول اسراف دې.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ | مَعَ اللّٰهِ | اِلٰهًا اٰخَرَ | وَلَا يَقْتُلُوْنَ | النَّفْسَ الَّتِيْ | حَرَّمَ اللّٰهُ | |
| اوهغه کسان دی چی نهٔ رابلئ | دالله سره | معبود بل | اونهٔ وژنی | نفس هغه | چی حرام کړې وی الله | |
| اودا هغه خلق دی چې دالله ﷻ سره بل معبود نه رابلی\|اودکوم نفس وژل چې الله ﷻ حرام کړی دی | | | | | | |
| اِلَّا | بِالْحَقِّ | وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ | وَمَنْ يَّفْعَلْ | ذٰلِكَ | يَلْقَ | اَثَامًا ۝٦٨ |
| مگر | په حقه سره | اونهٔ زنا کوی | او هغه څوك چې کوی | دا کار | بدله به مومی | دګناه خپلې |
| هغه نه وژنی \| مگر په حق \|اوهغوئ زنا نه کوی \| اوچا چې داسې اوکړل انو دګناه سزا به بیامومی | | | | | | |
| يُّضٰعَفْ | لَهُ | الْعَذَابُ | يَوْمَ الْقِيٰمَةِ | وَيَخْلُدْ | فِيْهٖ | |
| دوچندبه کړې شی | هغه لره | عذاب | په ورځ دقیامت | او همیشه به وی | په هغې کښی | |
| دقیامت په ورځ به دهغه عذاب زیاتولې شی\|اوهغه به په کښې همیشه خوارذلیله پروت وی | | | | | | |

(1) احمد: ۲۳۰/۳ ، مسندابی یعلی : ۴۲۱۰. مجمع الزوائد: ۳۸۴/۱۰. شعب الایمان: ۳۲۰.
(2) احمد : ۱۹۴/۵،.
(3) احمد :۴۴۷/۱.
(4) مسند البزار: ۲۹۴۶، مجمع الزوائد: ۲۵۲/۱۰.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مُهَانًا | اِلَّا | مَنْ | تَابَ | وَاٰمَنَ | وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا |
| خوار ذليله | مګر | هغه څوك | چي توبه ئي اوويستله | او ايمان ئي راوړو | او وئ كړو عمل نيك |

مګر څوك چي توبه اوباسي | او ايمان راوړي | اودنيكئ كارونه كوى | نو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَاُولٰٓئِكَ | يُبَدِّلُ اللّٰهُ | سَيِّاٰتِهِمْ | حَسَنٰتٍ | وَكَانَ اللّٰهُ | غَفُوْرًا |
| نو هغوئ چي دى | بدل به كړى الله | ګناهونه دهغوئ | په نيكو سره | او دي الله | بښونكي |

د دوى ګناهونه به الله ﷻ په نيكو بدل كړى | او الله ﷻ بښونكي مهربان دي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رَّحِيْمًا | وَمَنْ | تَابَ | وَعَمِلَ صَالِحًا | فَاِنَّهٗ | يَتُوْبُ |
| مهربانه | اوهغه چاچي | توبه اوويستله | او عمل ئي شروع كړو نيك | نو بيشكه هغه | رجوع كوي |

اوڅوك چي توبه اوباسي | اودنيكئ كارونه كوي | نوهغه خاص الله ﷻ ته رجوع

| | |
|---|---|
| اِلَى اللّٰهِ | مَتَابًا |
| الله ته | په رجوع كولو سره |

او كړه |

قوله تعالى:-وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ

**عباد الرحمان** درسول الله ﷺ نه حضرت عبدالله بن مسعود ﷜ تپوس اوكړوچه دټولونه لويه ګناه كومه ده؟ نبى ﷺ اوفرمائيل ستا رب سره شرك كول،حالانكه هغه يواځي ته پيداكړي يي.تپوس ئي اوكړو. ددي نه كمه؟ وي فرمائيل خپل اولاد په دي و يره وژل چه ته به هغۀ ته خوراك دكوم ځائي نه وركوي؟ تپوس ئي اوكړوددي نه پس؟ وي فرمائيل ستا د ګاونډى ښځي سره بدكارى كول.پس ددي په تصديق كښي الله ﷻ دا آياتونه نازل كړو.([1])داحديث په بخارى اومسلم وغيره كښي موجود دئ.په بل روايت كښي دى چه نبى ﷺ بهرته لاړلو،يواځي وو.زۀ هم ورسره شوم.نبى ﷺ په يواوچت ځائي باندي كيناستلو.زۀ دنبى ﷺ نه ښكته كيناستم.ماد يواځي والي دا موقعه غنيمت اوګڼړله اودنبى ﷺ نه مي هغه تپوسونه اوكړل كوم چه پورته ذكرشول.په حجة الوداع كښي نبى ﷺ اوفرمائيل. دڅلوروګناهونونه ځان ساتئ! ❶ الله سره شرك ❷ ديوحرمت والا نفس قتلول ❸ زناكارى ❹ غلا.([2])

په مسنداحمدكښي دى چه نبى كريم ﷺ دخپلو اصحابو ﷡ نه تپوس اوكړوچه د زنا باره كښي تاسوڅه وايئ؟هغوى جواب وركړوچه داحرام ده.اوقيامته پوري حرام ده.نبى ﷺ اوفرمائيل ښه واورئ! دانسان د خپل ګاونډۀ ښځي سره زنا كول دنورو لسو ښځوسره د زنانه هم بدتردى.بيا نبى ﷺ اوفرمائيل.دغلا باره كښي څه وايئ؟ هغوى هم دغه جواب وركړوچه دا حرام ده الله او رسول دي لره حرام ګرځولي ده. نبى ﷺ اوفرمائيل واورئ! لس ځائي غلا كول هم دومره لوئي نه دى لكه دګاونډۀ د يوځائي غلا([3]) . د نبى كريم ﷺ فرمان دي چه دشرك نه پس ددي نه لويه ګناه هيڅ يوه نشته چه انسان خپله نطفه په هغه رحم كښي واچوى چه هغه ددۀ دپاره حلال نه ده. داهم نقل دى چه بعضي مشركان نبى ﷺ ته راغلل .او وي ونيل حضرت! ستاسودعوت ښۀ دي رښتيا دي.ليكن مونږشرك هم كړي دي.قتل موهم كړي دي زناكارئ موهم كړى دى.اوداټول كارونه موډيرزيات كړى دى.تاسو اوفرمايئ چه مونږ دپاره څۀ حكم

---

[1]) صحيح بخارى كتاب التفسير سورة الفرقان باب قوله تعالى ( والذين يدعون مع الله الها اخر........): ٤٧٦١.

[2]) احمد: ٣٣٩/٤.

[3]) احمد: ٨/٦ وسنده حسن .

دي؟ په دي باندې دا آيت نازل شو.اوآيت ﴿قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ﴾ هم نازل شو.([1])
رسول اللهﷺ فرمائيلي دي چه الله ﷻ تاسوددې نه منع کوي چه تاسوخالق پريږدئ دمخلوق عبادت اوکړئ.اوددې نه هم منع کوي چه خپل سپي خوساتئ!اوخپل بچي قتل کړئ.اوددې نه هم منع کوي چه خپلې ګاونډئ سره بدکاري اوکړئ.([2])اثام دجهنم د يوې کندې نوم دې ([3]).هم داهغه کندې دی.چه په هغې کښې به زناکونکوته عذاب ورکولې شي ([4]).ددې معنی دعذاب اوسزاهم راځي.دحضرت لقمان حکيم رحمه الله په نصيحتونوکښې دی.چه اې بچيه! د زناکارئ نه ځان ساته.ددې په شروع کښې ويره ده او ددې انجام پښيمانتيا اوافسوس دې.داهم نقل دی چه غی اواثام د دوزخ دوه کوهيان دی.الله دې مونږ محفوظ اوساتي.داثام معنی د بدلې هم نقل شوې ده.اوهم دظاهر آيت مشابه هم ده.اوګويا ددی نه پس آيت ددې بدلې او سزاتفسيردې.چه هغۀ ته به باربار عذاب ورکولې شي.او سختي به ورسره کولې شي. اوذلت په هميشه عذابونوکښې به راګيرولې شي.((اَللّٰهُمَّ احۡفَظۡنَا﴾ددې کارونو دکونکي سزاخوبيان شوه. خوددې سزانه به هغه څوك بچ شي څوك چه په دنياکښې ددې نه توبه کړي.الله به دهغوی توبه قبول کړي.ددې نه معلوميږي چه دقاتل توبه هم قبول ده.کوم چه دسورۀ نساء په آيت کښې دی.﴿وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا﴾هغه ددې خلاف نه دې اګرچه هغه مدنی آيت دې ليکن هغه مطلق دې نوهغه به محمول کولې شي په هغه قاتلانو باندې چه هغوی دخپل دې فعل نه توبه نه کړي.اودا آيت دهغه قاتلانو باره کښې دی.چه توبه اوباسي.
بيانې دمشرکانو دبخښنې نه کيدوبيان فرمائيلې دې.اودصحيح احاديثونه هم دقاتل د توبې مقبوليت ثابت دي.لکه دهغه سړی قصه چه هغه سل قتلونه کړی وو.بيائې توبه ويستله اودهغۀ توبه قبوله شوه وغيره ([5]).داهغه خلق دی.چه دهغوی ګناهونه الله ﷻ په نيکوسره بدلوی.دابن عباسؓ نه روايت دې چه داهغه خلق دی چه هغوی داسلام قبلولونه مخکښې دګناه کارونه کړی وو.په اسلام کښې د راتلونه پس ئې نيکئ اوکړلې.نو الله ﷻ دهغه ګناهونوپه بدله کښې دنيکوتوفيق ورکړو.ددې آيت تلاوت په وخت هغوی يوعربي شعر وئيلو.چه په هغې کښې داحوالو د بدليدوبيان دې.لکه د ګرمئ نه يخنی، عطاء بن ابی رباح رحمه الله فرمائی دا ددنيا ذکردې.چه د انسان خراب صفت الله ﷻ په خپلې مهربانئ سره په نيك عادت بدلوی.دسعيد بن جبير رحمه الله بيان دې.چه د بُتانودعبادت په بدله کښې د الله ﷻ دعبادت توفيق هغوی ته ملاوشو.مؤمنانوسره دجنګ کولوپه ځائې ئې کافرانوسره جهاد اوکړو.د مشرکوښځو سره دنکاح په ځائې ئې مؤمنانوښځو سره نکاح اوکړله. حسن بصری رحمه الله فرمائی.چه د ګناه په بدله کښې ئې دثواب عمل اوکړو.دشرك په بدله کښې توحيد اواخلاص ملاوشو.د بدکارئ په بدله کښې پاکدامنی حاصله شوه.دکفر بدله کښې اسلام ملاوشو.يوه معنی خوددې آيت دا شوه.
دويمه معنی داده چه اخلاص سره هغوی کومه توبه اوکړله.دهغې نه الله ﷻ خوشحاله شو.اودهغوی ګناهونه ئې په نيکوسره بدل کړل.داځکه چه دتوبې نه پس چه به کله هم هغوی ته خپل تيرشوی ګناهونه ياديدل.نوهغوی به پښيمانه کيدل.خفه کيدل او شرميدل به.او استغفاربه ئې کولو.په دې وجه دهغوی ګناهونه اطاعت سره بدل کړې شول.اګرچه دادهغوی په اعمال ناموکښې دګناه په طورليکلی شوی وو.ليکن دقيامت په ورځ به هغه ټولې نيکئ جوړې شي.لکه څنګه چه په احاديثو اواثاروکښې ثابته ده

---

[1]) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة الزمر باب قوله تعالی﴿ ياعبادی الذين اسرفوا........﴾: ٤٨١٠.
[2]) داروايت مرسل دې.
[3]) الطبری : ۲۰۸/۱۹.
[4]) الطبری : ۳۰۸/۱۹.
[5]) صحيح بخاری کتاب احاديث الانبياء باب نمبر٥٤ حديث : ٣٤٧٠.

Scanned with Ca

**دجهنم د ټولو نه اخر کښې راوتونکې خلق:**- نبي کريمﷺ فرمائي. چه زه هغه سړې پيژنم چه هغه به د ټولونه آخر کښې دجهنم نه راوځي. او د ټولونه آخر کښې به جنت ته ځي. دا به هغه سړې وي. چه هغه به الله ﷻ ته مخامخ راوستلې شي. الله ﷻ به اوفرمائي. دده لوئې لوئې ګناهونه پريږدئ دده د وړو وړو ګناهونو باره کښې دده نه تپوسونه اوکړئ. نو د هغه نه به تپوس اوشي. چه په فلانئ ورځ تا فلانې کارکړې وو؟ په فلانئ ورځ دې فلانئ ګناه کړې وه؟ دې به د يوې نه هم انکار نه شي کولې. اقرار به کوي. په آخر کښې به وئيلې شي. چه تاته مونږ دهر يوې ګناه په بدله کښې نيکي درکړله. اوس خو به هغه ډيرزيات خوشحاله شي. او او به وائي چه اې زماپروردګاره! ماخو نورهم ډيرزيات عملونه کړي وو. چه هغه دلته نه بيامومم. په دې فرمانيلوسره نبيﷺ دومره اوخندل چه دنبي کريمﷺ وړې ښکاره شوې. (^١^)(مسلم) نبيﷺ فرمائي چه کله انسان اوده وي. نو فرشته شيطان ته وائي ماته خپله صحيفه چه په هغې کښې دده ګناهونه ليکلې شوي دي راکړه. هغه ئې ورکړي نود يوې يوې نيکئ په بدله کښې لس لس نيکئ هغه دهغه د صحيفې نه ورانوي. او په هغې نيکئ ليکي. پس په تاسو کښې چه ځوك هم د اوده کيدو اراده اوکړي. هغه دې درې ديرش ځله الله اکبر او څلور ديرش ځله الحمدلله وائي. او درې ديرش ځله سبحان الله وائي. چه دا يوخانې کړې نوسل ځله شول(^٢^). (ابن ابي الدنيا)

حضرت سلمانﷺ فرمائي. چه انسان ته به دقيامت په ورځ اعمال نامه ورکولې شي. هغه به ئې لوستل شروع کړي. نو پورته به دهغه ګناهونه ليکلې شوي وي. دهغې په وئيلو به هغه څه نااُميده شان شي. هم دغه وخت به دهغه نظرښکته طرف ته پريوځي. نوخپلې نيکئ به ليکلې شوې بيامومي. چه په هغې سره به ئې څه اُميد جوړشي. اوس به دوباره پورته طرف ته اوګوري. نوهغه ګناهونه به هم په نيکوسره بدل شوي بيامومي. حضرت ابوهريرهﷺ فرمائي. چه ډيرخلق به الله ﷻ ته مخکښې راشي. چه هغوی سره به ډيرزيات ګناهونه وي. تپوس اوشوچه هغوی به کوم خلق وي. نبيﷺ اوفرمائيل. چه هغه خلق به وي چه دهغوی ګناهونه به الله ﷻ په نيکوسره بدل کړي.

**جنت ته څلور قسمه تلونکې خلق:**- حضرت معاذبن جبلﷺ فرمائي. چه جنتيان به جنت ته څلورقسمه ځي. ﴿متقين﴾ يعني پرهيزګاري کونکي، بيا ﴿شاکرين﴾ يعني دالله شکر کونکي، بيا ﴿خائفين﴾ يعني دالله نه ويره لرونکي، بيا ﴿اصحاب يمين﴾ چه هغوی ته به په ښي لاس کښې اعمال نامه ملاويږي. تپوس اوشوچه هغوی ته اصحاب يمين ولې وئيلې شي؟ جواب ئې ورکړوځکه چه هغوی نيکئ اوبدئ هرڅه کړي وو. هغوی ته اعمال نامې په ښي لاس کښې ملاوشوې. دخپلو ګناهونو يو يو حرف ونيلوسره هغوی اووئيل چه اې الله زمونږ نيکئ چرته دي؟ دلته خوټول ګناهونه ليکلې شوي دي. دغه وخت به الله ﷻ هغه ګناهونه وران کړي. او دهغې بدله کښې به نيکئ اوليکي. دهغې په لوستلو به خوشحاله شي اونوروخلقوته به وائي چه راشئ زمونږ اعمال نامې اوګورئ. دجنتيانو اکثرخلق به دغه وي. امام علي بن حسين زين العابدينﷺ فرمائي. چه ګناهونه په نيکوسره بدليدل به په آخرت کښې وي. مکحولﷺ فرمائي. چه الله ﷻ به دهغوی ګناهونه اوبخښي. اوهغوی ته به نيکئ ورکړي.

**د يو ګناهګار بوډا تذکره:**- حضرت مکحولﷺ يوځل حديث بيان کړو. چه يو ډير زيات بوډا کمزورې سړې چه دهغه وروځې په سترګو راپريوتې وې. درسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضرشو. او عرض ئې اوکړو چه اې دالله رسولهﷺ! زه يوداسې سړې يم. چه ماهيڅ يوه غداري، څه ګناه، څه بدکاري باقي نه ده پريښودې. زما ګناهونه دومره زيات شوي دي. چه که په ټولوانسانانو باندې تقسيم کړې شي. نوټول

---

^١^) صحيح مسلم کتاب الايمان باب ادنی اهل الجنة منزلة فيها: ۱۹۰. ترمذی : ۲۵۹۶.

^٢^) مجمع الزوائد: ۱۰/۱۲٤. المعجم الکبير: ۳٤۵۱.

Scanned with Ca

په تېوله به دالله په غضب کښې گرفتارشي.ایا زما دبخښنې هم څه صورت شته؟ ایا زما توبه هم قبلیدلې شي؟ نبی کریمﷺ اوفرمائیل.چه ته مسلمان شه.هغهٔ کلمه اوونیله چه ((**اشهدان لااله الاالله وحده لا شریك له واشهد ان محمدا عبده ورسوله**)) نونبیﷺ اوفرمائیل.چه الله ﷻ به ستا ټول گناهونه اوبدکارئ هرڅه معاف کړی.بلکه چه ترڅو پورې ته په دې قائم اوسې. الله ﷻ به ستاگناهونه نیکوسره بدلوی.هغهٔ بیا تپوس اوکړو.اې دالله رسولهﷺ! آیا زما واړه اوغټ گناهونه ټول به صفاشي؟ نبیﷺ اوفرمائیل آو ټول په ټوله،بیاخوهغه سړې خوشحاله خوشحاله واپس لاړهٔ.اوتکبیر او تهلیل ویونکې واپس شو([1]).(ابن جریر)حضرت ابوطویل رضی الله عنه دنبیﷺ په خدمت کښې حاضرشو.عرض ئې اوکړوچه که یوسړی ټول گناهونه کړی وی څه چه په زړهٔ کښې راغلی وی پوره کړی ئې وی.آیا دداسې سړی توبه هم قبلیدلې شي؟ نبیﷺ اوفرمائیل.ته مسلمان شوې یې؟ هغهٔ اوونیل آوجی.نبیﷺ اوفرمائیل.اوس نیکئ کوه دگناهونونه ځان ساته.نو الله ﷻ به ستاگناهونه هم نیکئ جوړې کړی.هغهٔ اوونیل زما غدارئ او بدکارئ هم؟ نبیﷺ اوفرمائیل آو،اوس هغه الله اکبر ویونکې واپس لاړهٔ.([2])(طبرانی)

**د یوبد کارې توبه**:-وه ښځه حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته راغله اوتپوس ئې اوکړوچه زما نه بدکاری اوشوه د هغې نه ماشوم پیداشو.ماهغه مړکړو.آیا زما توبه قلیدلې شي؟ هغوی رضی الله عنه اوفرمائیل چه اوس نه ستا سترگې یخیدې شي،نه الله ﷻ سره ستا بزرگی کیدې شي.ستا دپاره توبه بالکل نشته.هغه په ژړا انگولا واپس شوه.ماد سحرمونځ نبی کریمﷺ سره اوکړو.اودا واقعه مې بیان کړله.نونبیﷺ اوفرمائیل چه تاهغې ته ډیره لویه خبره کړې ده.ته دا آیاتونه په قرآن کښې نه لولې.﴿ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ ﴾ نه ترد ﴿ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ ﴾ پورې.زهٔ ډیرزیات خفه شوم.اوزهٔ واپس شوم هغه ښځې ته ورغلم.اوهغې ته مې دا آیاتونه واورول.هغه خوشحاله شوه.اوهم په هغه وخت سجده کښې پریوتله.اووې وئیل چه د الله ﷻ شکردې.چه هغهٔ زما دخلاصی صورت پیداکړو([3]).(طبرانی) په بل روایت کښې دی.چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه رومبئ فتوې اوریدوسره هغه نااُمیدئ او افسوس سره په دې وینا واپس لاړله،چه هائې هائې دابښه صورت څه دجهنم دپاره جوړکړې شوې وو؟ په هغې کښې داهم دی چه کله حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته دخپلې غلطئ علم اوشو.نو دهغه ښځې په تلاش کښې اووتلو.ټوله مدینه او یوه یوه کوڅه ئې اولټوله.لیکن چرته ئې پته اونه لگیده.اتفاق سره دشپې هغه ښځه واپس راغله.نو بیا ورته حضرت ابوهریره رضی الله عنه صحیح مسئله اوښودله.په هغې کښې داهم دی.چه هغې دالله تعریف اوکړو.اووې وئیل چه هغهٔ زما دخلاصی صورت جوړکړو.اوزما توبه ئې قبوله کړله. په دې وئیلوسره چه هغې سره کومه وینځه وه هغه ئې آزاده کړله.دهغه وینځې یوه لورهم وه.اوپه رښتونی زړهٔ سره ئې توبه کړله.

بیا فرمائی اودخپل عامې مهربانئ اود کرم وفضل او رحم خبر ورکوی.چه څوك هم الله ﷻ طرف ته متوجه شي.اوپه خپلوگناهونوباندې پښیمانه شي توبه اوباسي. الله ﷻ دهغهٔ اوری او قبلوی.اوهغهٔ لره بخښی.لکه چه ارشاد دې ﴿ وَمَن يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ﴾ څوك چه بدعمل اوکړی یاپه خپل ځان باندې ظلم اوکړی بیا د الله ﷻ نه بخښنه اوغواړی.هغه به الله ﷻ بخښونکې اومهربان بیامومی.بل ځائې ارشاد دې ﴿ أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ ﴾ آیا دوی ته داهم معلومه نه ده چه الله ﷻ توبه قبلونکې دې.په بل آیت کښې دی ﴿ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ ﴾ زماهغه بندگانوته چه گناهگاران دی اووایه چه هغوی دې زما درحمت نه نهٔ نااُمیده کیږی.یعنی توبه کونکې محروم نه دې.

---

[1]) الدرالمنثور: ۲۸۱/۶.

[2]) طبرانی : ۷۲۳۵ مجمع الزوائد: ۲۰۲/۱۰.

[3]) الطبری : ۳۰۷/۱۹.

Scanned with Ca

| |
|---|
| وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ۙ |
| \| او درحمان بندګان هغه دي \| چي ګواهي نه کوي \| ددروغو |
| \| او هغه خلق چې د دروغو ګواهي نه ورکوي \| او کله چې په بیو |
| وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ۝ وَالَّذِيْنَ |
| او کله چې \| تیریږي \| په فضول کارونو باندي \| نو تیریږي \| په شرافت سره \| او هغه کسان دي \| |
| فضول مجلس باندې تیریږي \| نو په عزت سره تیریږي \| او هغوئ داسې خلق دي \| |
| اِذَا ذُكِّرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا |
| کله چي \| نصیحت اوکړې شي هغوئ ته \| په آیتونو \| درب خپل سره \| نو نۀ پاتي کیږي \| په هغې باندې |
| چې څه وخت ورته دخپل رب د آیتونو په ذریعه نصیحت اوشي \| نو هغوئ رانده کاڼړه |
| صُمًّا وَّعُمْيَانًا ۝ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا |
| کاڼړه \| او ړانده \| او هغه کسان دي \| چي وائي \| اے ربه زمونږه \| راکړه \| مونږ ته \| |
| نه غورزیږي \| او هغه داسې کسان دي چې دا دعا کوي \| ائې زمونږه ربه! زمونږ دپاره زمونږ |
| مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ |
| دښځو زمونږ نه \| او داولاد زمونږ نه \| یخوالې \| دسترګو \| او جوړ کړه مونږه \| دپاره دمتقیانو \| |
| ښځې او بال بچ د سترګو د ښخوالي ذریعه اوګرځوه \| او مونږ د پرهیزګارانو |
| اِمَامًا ۝ |
| امامان \| |
| مشران کړه |

قوله تعالی:- وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ

**د نیک صفته خلقو نور علامات** "دعبادالرحمن نیک صفتونه بیانیږي. چه هغوی ددروغو ګواهي نه ورکوی. یعني شرك نه کوی، د بُت پرستئ نه ځان ساتی، دروغ نه وائی، فسق وفجور نه کوی، د کُفر نه جدا اوسی، د فضول اوباطل کارونو نه پرهیزکوی، ګانې نه اوری، دمشرکانو خوشحالئ نه کوی، خیانت نه کوی، د ګناه په مجلسونوکښې نه کینی، شرابونه نه څکی، شراب خانوته نه ځی، ددې شوق نه ساتی.

په حدیث کښې هم دی چه رښتونی مؤمن له پکاردی چه په هغه دسترخوان باندې نه کینی چه په هغې کښې شراب څکلې شی. اوددامطلب هم دې چه دروغ ګواهی نه ورکوی(۱) په صحیحین کښې دی نبیﷺ

(۱) ترمذی کتاب الادب باب ماجاء فی دخول الحمام: ۲۸۰۱. وسنده ضعیف.

Scanned with Ca

اوفرمائیل.آیا زۀ تاسوته دلوئونه لویه ګناه اوښایم.درې ځل ئې دا اوفرمائیل.صحابوﷺ اوونیل آواې د الله رسوله! نبیﷺ اوفرمائیل الله ﷻ سره شرك كول، دموریلار نافرمانی كول،دې وخته پورې نبیﷺ ډډه وهلې ناست وو.اوس دهغې نه جدا شو،وې فرمائیل واورئ! او دروغ خبره كول، واورئ! او دروغ ګواهي وركول.دابه ئې باربار فرمائیل.تردې چه مونږ په خپل زړه كښې اوونیل چه ارمان رسول اللهﷺ اوس چپ شي(۱).په زیات واضحه الفاظوكښې خوداده چه هغوی دروغ ته نزدې نه ورځي.ځكه ئې وړاندې بیان اوكړوچه كه اتفاقاً تیرشی نودې دهغې سره څه شوق نه ساتي.مخ اړوی اوځي.یوځل عبدالله بن مسعودﷺ دیوې لوبې سره تیرشو.نومخ ئې واړولو،اوبغیر اودریدلو لاړلو.د الله ﷻ په نزد عزت مندشو(۲).

د الله ﷻ ددې بزرګو بندګانو یوصفت داهم دې چه دقرآن آیاتونو اوریدوسره دهغوی زړه رپیږي.دهغوی ایمان او توكل زیاتیږي.په خلاف دكافرانوچه په هغوی باندې د الله ﷻ دكلام اثرنه كیږي.هغوی دخپلو بدوعملونونه نۀ منع كیږي.نه خپل كفر پریږدی نه د سركشئ،ظلم،اوجهالت اوګمراهئ نه منع كیږي.د ایمان والوایمان زیاتیږي اود بیمارو زړونو والو ګندګی زیاتیږي.پس كافران د الله ﷻ دآیاتونونه كانړه او ړانده كیږي.ددې مؤمنانو حالت دهغوی نه خلاف دې.نه دوی دحق نه كانړه دی نه دحق نه ړانده دی. آوري، پوهیږي،نفع حاصلوی،خپله اصلاح كوی.داسې ډیرزیات خلق دی چه هغوی لولی خو ړوند توب اوكونړتوب نه پریږدی.دشعبیﷺ نه تپوس اوشوچه یوسړې راځی اوهغه نورولره په سجده كښې بیا مومی.لیكن هغۀ ته معلومه نه وی چه دكوم آیت په لوستلوئې سجده كړې ده؟ نوآیا هغه هم دهغوی سره سجده اوكړی؟نونبی كریمﷺ هم داآیت اولوستلو.یعنی سجده دې نه كوی ځكه چه هغه نه دسجدې آیت لوستلې دې، نه ئې اوریدلې دې،نه ئې سوچ كړې دې.نو مؤمن له هیڅ یوكارپه ړوندتوب كښې نه دی كول پكار.چه ترڅو پورې دهغۀ مخې ته دڅه څیزحقیقت نه وی هغه له شاملیدل پكارنه دی.بیا ددې بزرګانو بندګانو یوه دعابیانیږي چه هغوی د الله ﷻ نه طلب كوی چه ددوی اولادهم ددوی په شان درب فرمانبردار،عبادت ګزار،مؤحد وی اومشركان نه وی.چه په دنیاكښې هم دې نیك اولادسره د دوی زړونه یخ وی اوپه آخرت كښې هم دوی هغوی لره په ښه حالت كښې اووینی او خوشحاله شی. په دې دعاسره ددوی غرض ښائست اوجمال نه دې.بلكه نیكی اوښه اخلاق دی.دمسلمان رښتونې خوشحالی په دې كښې ده.چه هغه خپل اهل وعیال، دوستان رشته داران د الله ﷻ فرمانبردار اووینی. چه هغوی ظالمان نه وی، بدكاره نه وی،رښتونې مسلمانان وی.

**د قدرت نه باهر د څه ارزو نه ده پكار**:-دحضرت مقدادﷺ په لیدوباندې یوصاحب اوفرمائیل.دا سترګې دې مباركې وی. چه دې دالله د پیغمبرﷺ زیارت كړې دې.ارمان چه مونږه هم رسول اللهﷺ لیدلې وې.او ستاسو په شان مودصُحبت فیض حاصل كړې وې.په دې باندې حضرت مقدادﷺ خفه شو.نو نفیروائی

(۱) صحیح بخاری كتاب الشهادات باب ما قیل فی شهادة الزور : ۲۶۵۴. صحیح مسلم: ۸۷.
(۲) الدرالمنثور: ۱۴۸/۵..

Scanned with Ca

زه حیران شوم چه په دې خبره کښې خوشحه بدی نشته.بیادې خفه ولې شو؟پدې کښې حضرت مقداد رضي الله عنه اوفرمائیل.په خلقوځه شوی دی چه دهغه ځیز آرزوکوی.کوم چه قدرت هغوی ته نه دې ورکړې. الله ﷻ ته علم دې چه که دوی هغه وخت وې نوددوی به څه حال وو؟ والله هغه خلق هم درسول الله ﷺ په زمانه کښې وو.چه هغوی نه درسول الله ﷺ تصدیق اوکړو،نه ئې تابعداری اوکړله،او پړمخې جهنم ته لاړل.تاسود الله ﷻ دا احسان نه منئ چه الله ﷻ تاسوپه اسلام کښې او د مسلمانانو په کورنوکښې پیدا کړئ.پیداکیدو سره ستاسوپه غوږونوکښې د الله ﷻ توحید او د حضرت محمد ﷺ رسالت پریوتلو. او د هغه مصیبتونونه تاسو اوساتلی شوئ.کوم چه ستاسونه مخکښې خلقو باندې راغلی وو.نبی ﷺ خوپه داسې زمانه کښې رالیږلې شوې وو.چه هغه وخت ددنیاګمراهی خپلې انتهاته رسیدلې وه.هغه وخت ددنیا والوپه نزد دبُت پرستئ نه غوره څه مذهب نه وو.هغوی قرآن راوړلو،په حق اوباطل کښې ئې فرق اوښودلو.پلار اوځوې جداشول.مسلمان به خپل پلار نیکونه، خامن، نوسی، دوستان رشته داران په کفر باندې لیدل.دهغهٔ به هغوی سره هیڅ محبت او مینه نه وه.بلکه پوهیدل چه داجهنمیان دی.خکه به هغوی دعاګانې کولې.چه مونږته زمونږ داولاد اوښځونه دسترګو یخوالې رانصیب کړې.خکه چه د کافرانو په لیدلو دهغوی سترګې نه یخیدلې[1].ددې دعاآخر دادې چه مونږدخلقو رهبرجوړکړې.چه مونږ هغوی ته دنیکئ تعلیم ورکړو.خلق په نیکوکښې زمونږ اقتدا اوکړی[2].زمونږاولاد زمونږپه لاره روان شی.چه ثواب موزیات شی.او ددوی دنیکوسبب هم مونږه جوړشو.رسول الله ﷺ فرمائی.چه د انسان مړکیدوسره دهغهٔ عملونه ختمیږی.خو درې ځیزونه یو نیک اولادچه دهغهٔ دپاره دعا اوکړی،یا علم چه په دې سره ددې نه پس نفع حاصله کړی،یا صدقه جاریه[3]

<table>
<tr><td>أُولَٰٓئِكَ</td><td>يُجْزَوْنَ</td><td>الْغُرْفَةَ</td><td>بِمَا</td></tr>
<tr><td>دا کسان چې دی</td><td>بدله ورکړې کیږی دوئ ته</td><td>دنګه مانړئ</td><td>په سبب دهغې</td></tr>
<tr><td colspan="4">| هم دې کسانو ته بهٔ( جنت کښې )بالاخانې ورکولې شی | دا هرڅه د دوی</td></tr>
</table>

<table>
<tr><td>صَبَرُوا</td><td>وَيُلَقَّوْنَ</td><td>فِيهَا</td><td>تَحِيَّةً</td><td>وَسَلَٰمًا</td></tr>
<tr><td>چې صبر اوکړو دوئ</td><td>او استقبال به کیږی ددوئ</td><td>په هغې کښې</td><td>په دعا سره</td><td>او په سلام سره</td></tr>
<tr><td colspan="5">د صبر په وجه ورکولې شی|او هلته بهٔ ورته دعا او سلام کولې شی</td></tr>
</table>

<table>
<tr><td>خَٰلِدِينَ</td><td>فِيهَا</td><td>حَسُنَتْ</td><td>مُسْتَقَرًّا</td><td>وَمُقَامًا</td><td>قُلْ</td></tr>
<tr><td>همیشه به وسی</td><td>په هغې کښې</td><td>ښهٔ دې</td><td>ځائې دقرار</td><td>او ځائې داستوګنې</td><td>ورته اووایه</td></tr>
<tr><td colspan="6">همیشه به په هغې کښې وی|ځنګه ښهٔ ځائې داوسیدو دې | اوځومره ښه مقام دې| ته اووایه</td></tr>
</table>

[1] احمد: ۳/۶ ، وسنده صحیح.

[2] الطبری : ۳۱۹/۱۹.

[3] صحیح مسلم کتاب الوصیة باب ما یلحق الانسان من الثواب بعد وفاته: ۱۶۳۱، ابوداود: ۲۸۸۰. ترمذی: ۱۳۷۶.

Scanned with Ca

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَا يَعۡبَؤُا | بِكُمۡ | رَبِّيۡ | لَوۡلَا | دُعَآؤُكُمۡ | فَقَدۡ |
| چې نهٔ کوي هيڅ پروا | ستاسو | رب زما | که چرې | نهٔ وي آواز ستاسو هغه ته | پس په تحقيق سره |

(ائې پيغمبره) ............چې زما رب ستاسو يوه ذره بر پرواه هم نه کوي | که تاسو عبادت نه کوئی

| | | | |
|---|---|---|---|
| كَذَّبۡتُمۡ | فَسَوۡفَ | يَكُوۡنُ | لِزَامًا ﴿۷۷﴾ |
| دروغ ګنړلې دې تاسو (قرآن) | پس زر دې | چې وي به | (دا عذاب) لازم (ستاسو سره) |

يقينا تاسو دهغه حکمونه درغ اوګنړل ااوس به ددې سزا ضروري وي

**دا پاکبازه ډله جنتيان دي**"دمؤمنانو پاك صفتونه ددوی ښهٔ خبرې اوښه کارونه ئې بيان کړل اوس دهغې بدله بيانيږي.چه هغوی ته به جنت ملاويږي چه دا ډيراوچت خانې دې.ځکه چه دوی په دې صفتونو باندې کلك پاتي شول.هلته به ددوی عزت وی،اکرام به وی،ادب اوتعظيم به وی،احترام اوعزت به وی. هغوی دپاره سلامتی ده،په دوی باندې سلامتی ده،دجنت هريوې دروازې نه به فرشتې په خدمت کښې حاضريږي اوسلام کوی اووائی چه ستا انجام به ښه وی.ځکه چه ته صبرکونکې وې.دوی به هلته هميشه اوسيږي نه به راوځی اونه به راويستلې شی.نه به نعمتونه کميږي نه به راحتونه فناکيږي،دا نيك بخت دی په جنتونو کښې به هميشه اوسيږي.ددوی داوسيدو اود راحت اوآرام ځانې ډيرښانسته صفا ستُهره اوپاکيزه دې.په کتلوکښې ښانسته منظروالا،په اوسيدوکښې آرام دې،الله ﷻ خپل مخلوق دخپل عبادت اوتسبيح اوتهليل دپاره پيداکړې دې.که مخلوق دا اونکړي نودوی د الله ﷻ په نزد ډيرزيات سپك دی.دايمان نه بغير انسان بالکل ناکاره دې.که الله ﷻ غوښتلې.نوهغه به کافران هم عبادت طرف ته مائل کړې وې.ليکن د الله ﷻ په نزد دوی په هيڅ شميرکښې نه دی.کافرانو! تاسو دروغژن اوګرځولو.اوس تاسومه پوهيږئ بس معامله ختم شوه.ددې وبال تاسو سره سره دې.په دنيا اوآخرت کښې تاسو برباد شوئ.د الله ﷻ عذاب تاسوسره لګيدلې دې.هم ددې سلسلې يوه کړئ دبدرپه ورځ دکافرانو ذلت او شکست وو.لکه چه دحضرت ابن مسعودؓ وغيره نه نقل دی[1].دقيامت د ورځې سزاهم باقی ده.

﴿الحمدلله﴾ د سورهٔ فرقان تفسيرپوره شو.

..........................

............

[1]) الطبری: ۳۲٤/۱۹.

Scanned with Ca